تسهیلات

پښتو شرح

مشکوٰة

تالیف مولانا شاه فیصل

فاضل دار العلوم اسلامیه چارسده و امداد العلوم پشاور

د اوویشت (۲۷) خصوصیاتو سره چې یولس (۱۱) په کښې دا دي

۱. پېښوري پښتو سره بین القوسین د قندهاري پښتو د ټکرانو ټکو اضافه
۲. د مشکاة د عربي او اردو متداولو ټولو شروحاتو مجموعه
۳. په ترجمه کښې بین القوسین د مرقاة المفاتیح د اضافي قیوداتو ترجمه
۴. د حدیث هرې جملې او د هغې ترجمې ته د آسانتیا د پاره نمبرې ورکول
۵. د فقهي اختلافي مسئلو دلائلو آسان حل
۶. د اوږدو احادیثو د متن او ترجمې تقسیم
۷. د هر حدیث د صحاح ستة [illegible] تخریج
۸. د حل اللغات په عنوان سره د مرقاة المفاتیح [illegible] د مشکلو لغاتو حل
۹. دقوله په عنوان سره د [illegible] مشکلې جملې تشریح
۱۰. د هر باب په اول کښې [illegible] خلاصه
۱۱. د کتاب په اول کښې [illegible] مقدمه

تسهیلات

تسهیلات

پښتو شرح

مشکواة

تالیف:- مولانا شاه فیصل فاضل دارالعلوم اسلامیه چارسده

نهم جلد (۹)

د شلو (۲۰) خصوصیاتو سره چې لس (۱۰) په کښې دا دی

① پېښوري پښتو سره بین القوسین د قندهاري پښتو د ګرانو ټکو اضافه

② د مشکاة د عربي او اردو متداولو ټولو شروحاتو مجموعه

③ په ترجمه کښې بین القوسین د مرقاة المفاتیح داضافي قیوداتو ترجمه

④ دحدیث هرې جملې ته اود هغې ترجمې د آسانتیا دپاره نمبرې ورکول

④ په فهقي اختلافي مسئلو کښې مدلل او آسان مباحث

⑤ د اوږدو احادیثو د متن او ترجمې تقسیم

⑥ د هر حدیث د صحاح سته وغیره څخه تخریج

⑦ د حل اللغات په عنوان سره د مرقاة المفاتیح څخه د مشکلو لغات حل

⑧ دقوله په عنوان سره دحدیث د هرې مشکلې جملې تشریح

⑨ د هر باب په اول کښې دهغې د احادیثو خلاصه

⑩ د کتاب په اول کښې د علوم الحدیث مفیده مقدمه

خورنکی

فیصل کتب خانه محله جنګی پېښور

موبائل ۰۳۱۵-۹۵۹۵۷۱۷

اجمالی فہرست

د احادیثو د عنواناتو فهرست

فهرست اختلاف مذاهب

[۲۰] كِتَابُ الصَّيْدِ وَالذَّبَائِحِ

دَ ښكار او ذبيحو بيان

خلاصة الباب:

فيه ثلاثة و ثلاثون حديثاً مشتملة على ثلاث عشر مسئلة:

① بيان كيفية الاصطياد وأحكام الصيد: ۱، ۲، ۳، ۴، ۵، ۱۹، ۲۰، ۳۱۔

② حكم اللحم الذى لا يعلم تسمية الله عليه عند الذبح: ذكر عليه اسم الله ۶۔

③ حرمة الذبح لغير الله تعالى: ۷۔

④ ما يجوز به الذبح ولا يجوز: ۸، ۹، ۱۸، ۳۲۔

⑤ آداب الذبح أمراً ونهياً: ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۲۵، ۲۶، ۲۷۔

⑥ حكم الذبح الإضطرارى: ۸، ۱۸۔

⑦ طريق وسم الحيوان أمراً ونهياً: ۱۴، ۱۵، ۱۶، ۱۷۔

⑧ النهي عن صيد كلاب المجوس: ۲۲۔

⑨ حكم استعمال أواني الكفرة وأطعمتهم: ۳، ۲۳، ۲۴۔

⑩ طريق ذبح الجنين: ۲۸، ۲۹۔

⑪ حكم ذبح الحيوان للأكل: ۳۰۔

⑫ حكم ما يقطع من الحيوان: ۳۱۔

⑬ حكم دواب البحر: ۳۳۔

د صيد لغوى معنى: صيد مصدردي داكله دَ اصطيادپه معنى كښې هم راځي يعنى ښكار كول اوكله دَاسم مفعول المصيدپه معنى كښې راځي يعنى ښكارشوې څيز.

دښكار د ممانعت صورتونه: په عاموحالاتواومكاناتوكښې ښكاركول مباح اوجائز دى البته بعضې حالاتوكښې ښكار كول جائز نه دى هغه دا دى.

① په حرم مكى كښې ښكار كول

② دَ احرام په حالت كښې په حرم اوغيرحرم كښې ښكار كول

دښكار حكم: ① د كتاب الله اوسنت رسول الله اوپه اجماع امت سره دَ ښكارا باحت ثابت دي

② امام مالك فرمائى كه يوسړې صرف دَلهولعب اولوبوتوقودَپاره ښكاركوى نودامكروه دي

په عهد رسالت كښې ښكار: نبى كريم پخپله ښكارنه دې كړې البته ښكار ئى جائز ګرځولي دې اودائى خوړلې هم دې ښكارى ئى په ښكاركولوسره ليدلې دې دَ صحابه كرامو په

طبقه کښې د تولونه زیات د ښکار د مسئلو عدی بن حاتم تپوس کړی دی او دې ښکاری هم وو بیا ابوثعلبه خشنی رضی الله عنه پوښتنه کړې ده دې هم ښکاری وو څه نورو صحابه کرامو هم ښکار کړې دې لکه ابوقتاده او سلمه بن اکوع رضی الله عنهما وغیره

قوله: ذبائح:

د ذبائح لغوی معنی: ذبائح جمعې دا ذبیحة جمع ده د ذبح کولو عمل ته وائی

د کتاب الصید والذبائح معنی: د ذبائح د لفظ سره دا دویم مفهوم زیات مناسب دې مطلب به داشی چه د ښکار او مذبوحه څیزونو بیان

د ذبیحه دوه قسمونه: ① **ذبحه اختیاری**: په دې کښې دا ضروری دی چه د حلقوم اکثر رګونه پرې کړې شی او بسم الله ورسره وی

② **ذبحه اضطراری**: په دې کښې د څناور یا د مرغئی په کومه حصه چه زخم اولګی هغه د ذبح د پاره کافی ده په دې شرط چه د ویشتلو په وخت ئی بسم الله او تکبیر وئیلې وی

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۴۰۳] د سپی او غشی په ذریعه د کړې شوی ښکار مسئله

۴۰۳-[۱] ()[۱]«عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] قَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا أَرْسَلْتَ كَلْبَكَ فَاذْكُرِ اسْمَ اللّٰهِ، [۳] فَإِنْ أَمْسَكَ عَلَيْكَ فَأَدْرَكْتَهُ حَيًّا فَاذْبَحْهُ، [۴] وَإِنْ أَدْرَكْتَهُ قَدْ قَتَلَ [۵] وَلَمْ يَأْكُلْ مِنْهُ فَكُلْهُ، [۶] وَإِنْ أَكَلَ فَلَا تَأْكُلْ، [۷] فَإِنَّمَا أَمْسَكَ عَلَى نَفْسِهِ، [۸] فَإِنْ وَجَدْتَ مَعَ كَلْبِكَ كَلْبًا غَيْرَهُ [۹] وَقَدْ قَتَلَ فَلَا تَأْكُلْ، [۱۰] فَإِنَّكَ لَا تَدْرِي أَيُّهُمَا قَتَلَ.

ترجمه: [۱] حضرت عدي ابن حاتم رضی الله عنه وايي چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل هر كله چې ته خپل سپي پريږدي، نو د الله جل جلاله نوم ذكر كوه [يعني كله چې ته د خپل تربيت يافته سپي د پريخودلو اراده وكړي، نوهغه په الله اكبر بسم الله ويلو سره پريږده] [۲] بيا كه هغه سپي تا دپاره ښكار نيولي وي، او هغه ښكار ته ژوندي بيا مومي نوهغه ذبح كړه [كه هغه قصداً ذبح نه كړي، نو د هغې خوړل به حرام وي، ځكه چې په دې صورت كې به هغه مردار وي] [۴] او كه ته هغه ښكار په داسې حالت كې پيدا كړې، چې سپي هغه وژلي دې، [۵] ليكن د هغې نه يې څه نه دي خوړلي، نو ته هغه (ښكار) خوره، [۶] ليكن كه هغه سپي د هغې نه څه خوړلي وي، نو بيا ته هغه مه خوره، [۷] ځكه چې په دې صورت كې اد دې نه علاوه نور هيڅ

---

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب الذبائح والصید/باب الصید إذا غاب عنه یومین أو ثلاثة (رقم-۵۴۸۴)ومسلم فی کتاب الصید/باب الصید بالکلاب المعلمة (رقم-۶ - (۱۹۲۹) والترمذی فی کتاب الصید عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الکلب یأکل من الصید (رقم-۱۴۷۰) والنسائی فی کتاب الصید والذبائح/باب إذا وجد مع کلبه کلبا غیره (رقم-۴۲۶۹)واحمد فی المسند: والترمذی فی/۴۵۶

نشي ونيل كيدي چې] سپي به هغه ښکار د خان د پاره نيولي وي [کوم چي د دې خبرې علامه به وي چې سپي تربيت يافته نه دي، حالانکه د هغه سپي نيولي ښکار حلال دی. کوم چې تربيت يافته وی] ⑧ او که تا د ښکار سره د خپل سپي سره د بل چا سپي هم وليدلو، ⑨ په داسې حالت کې چې په هغه دواړو کې يو سپي هغه ښکار وژلي وی، نو [په دې صورت کې هم] هغه ښکار مه خوره، ⑩ ځکه چې دا نه ده معلومه چې هغه ښکار په هغه دواړو کې کوم سپي وژلي دي. [نو کيدي شي چې هغه تربيت يافته (تړيند) نه وي، يا د هغې پريخودنکي د پريخودلو په وخت کښې بسم الله نه وي ويلي. يا داسې سړي پريښي وي، چې د هغه د لاس ذبيحه حلاله نه وي (لکه مجوسي يا بت پرست وغيره)]

① وَإِذَا رَمَيْتَ بِسَهْمِكَ ② فَاذْكُرِ اسْمَ اللَّهِ، ③ فَإِنْ غَابَ عَنْكَ يَوْمًا ④ فَلَمْ تَجِدْ فِيهِ إِلَّا أَثَرَ سَهْمِكَ فَكُلْ إِنْ شِئْتَ، ⑤ وَإِنْ وَجَدْتَهُ غَرِيقًا فِي الْمَاءِ فَلَا تَأْكُلْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او هر کله چې ته په يو ښکار خپل غشي اوولې، ② نو هغه وخت د الله ﷻ نوم ذکر کوه [يعني په بسم الله ويلو سره غشي چلوه] ③ او بيا که هغه ښکار تر يوې ورځې ستا د نظر نه غائب وي، ④ او د دې نه پس تاته معلومه شي، نو که ته غواړې، نو هغه وخوره په شرط د دې چې ته په هغه ښکار کې د خپل غشي د نښي نه علاوه بله څه نښه بيا نه مومې، ⑤ او که ښکار تاته په اوبو کې ډوب ملاو شي، [او په هغې کې ستا د غشي نښه هم موجود وي] نو ته هغه مه خوره [ځکه ممکنه ده چې هغه ستا په غشي سره نه وي مړ شوې، بلکې په اوبو کې په ډوبيدو سره مړ شوې وي] بخاري مسلم.

حل اللغات: ① لِأَنْ أَمْسَكَ: که ايسار ئې کړو تاله، وې ساتلو ستا د پاره، ② رَمَيْتَ: اولې ته، ورخوشې کړې ته،

تسهيلات:

عدي بن حاتم طائي مختصر تعارف: د حديث د راوی حضرت عدي بن حاتم طائي رضي الله عنه نوم عدی. د پلار نوم ئې طائي وو. د عدی خاندان سره تعلق ساتلو. د ظهور اسلام په وخت کښې د قبيلې طی سردار وو. خو چه د اسلامی فتوحاتو سيلاب کله د ده قبيلې طرف ته هم متوجه شو نو دې پريشانه شو او د اسلامی لښکر مقابلې توان او طاقت په کښې نه وو د دې وجهې د خپل خاندان سره شام طرف ته لاړل (۳).

د اسلام قبلول: حاتم طائي سره د ټول خاندانه شام ته لاړل خو لور ترې نه پاتې شوه او هغه د مسلمانانو په قيديانو کښې راغله هغې د نبی کريم ﷺ په خدمت کښې عرض اوکړو چه ما د فديې ورکولو دپاره څوک نشته ته په ما باندې احسان اوکړه او ما پرېږده نبی کريم ﷺ ترې تپوس اوکړو ته د چا څه ئې؟ دې ورته اووئيل حضرت زه د عدي لور يم کوم چه د طي قبيلې سردار وو او شام ته اوتختيدل نبی کريم ﷺ د دوی د آزادئ اعلان اوکړواو ډير

په اکرام اوعزت سره ئې د څو صحابه کرامو سره کړه او شام ته ئې اوليږله کله چه هلته اورسيده نوحاتم طائی ته حاضرل نو هغه د خپلې لور نه تپوس اوکړو نه يوه پيغله جينئ ئې محمد او دده ملګرو ستا عزت خو نه دې اخستې هغې ورته اووئيل اې زما پلار حضرت محمد چه زما د عزت ناموس کوم حفاظت کړې دې هغه به تاسو هم زما نه وی کړې اوپه دې سفر کښې چه د هغه صحابؤ زما د عزت کوم حفاظت کړې دې دغه شان حفاظت به زما ورونړو هم زما د عزت نه وی کړې په دې اوريدو سره او د نبی کريم ﷺ د حسن اخلاقو نه ډيرمتاثر شواو واپس راغلل په د نبی کريم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او ايمان ئې راوړل په دوی کښې حضرت عدی هم وو نبی کريم ﷺ دوی دخپلې قبيلې سردار جوړ کړل د نبی کريم ﷺ د وفات نه پس چه کله د عربو مختلفې قبيلې د اسلام نه بيرته واوړيدې نو په دغه نازک وخت کښې هم دحضرت عدی په کوشش سره د دوی د قبيلې خلق د ارتداد نه محفوظ وو او په خپل ايمان باندې قائم وو.

عبادت: هميشه دپاره به په اودس کښې اوسيدو او د مانځه په وخت کښې به ورته د اودس کولو ضرورت نه پښيدل

وفات: په آخری وخت کښې هم په کوفه کښې اوسيدل او په کوفه کښې په ۲۷ هجری کښې وفات شو

روايات: د دوی نه ۲۲ روايات مروی دی په دې کښې ۲ متفق عليه دی او په ۳ کښې بخاری اوپه ۲ کښې مسلم منفرد دې

تسهيلات:

قوله: إِذَا أَرْسَلْتَ كَلْبَكَ:

د ښکاروړ تربيت يافته کيدو درې شرطونه: فقهاؤ دَ ښکاور دَ تعليم يافته کيدودپاره درې شرطونه بيان کړی دی.

① اول شرط چه کله په ښکارپسې پريخودې شی نو چه ښه منډه وهی

② دويم شرط دا چه دَمنډې په وخت چه کله واپس راؤ غوښتې شی نوچه فوراً راواپس شی

③ دريم شرط دا چه ښکار اونيسی مالك له ئې راوړی پخپله ئې بالکل اونه خوری دغه شان تعليم يافته کيږی دَده دَ پريخودو په وخت بسم الله وئيلوسره ښکار حلاليږی دَ هغه په وژلوسره ذبح مکمل کيږی اوکه ښکار تردغه وخته پورې ژوندې وی نوبيا دَهغه ذبح کول ضروری دی.

د مرغانود تربيت يافته کيدو دوه شرطونه:

① کله چه په ښکار بازوغيره پريخودې شی نوچه ښه الوتوسره منډه کړی.

② چه کله واپس راؤغوښتې شي نوچه ښه الوتوسره واپس راشي ښکار نه خوړل دَ مرغو دَپاره شرط نه دي

د ښکاري سپي د ښکار د خوړلو نه پس د ښکار په حکم کښې ۲ مذاهب:

①که چرې سپي اوخوړلو اوښکار مړشو امام مالك رحمه الله اوامام اوزاعی شام رحمه الله فرمائی چه دغه شان ښکار حلال دې دَدې خوراك هم حلال دې

② جمهور ائمه فرمائی چه دَداسې ښکارخوړل حرام دی.

داول فريق دليل: په سنن ابی داؤد کښې روايت دې چې الفاظ ئې دا دی «اذاأرسلت كلبك وذكرت اسم الله عليه فكل وان أكل منه» [ابوداؤد ۳۸/۳] يعنی کله چې تا ښکاری سپې (په ښکار پسې) خوشې کړلو او د الله تعالی نوم دې واخستلو نو هغه خوره اګر که سپی د هغې څخه خوراک کړی وی.

د اول فريق د دليل درې جوابونه: ① دَ امام مالك رحمه الله دَ مستدل په مقابله کښې دا حديث الباب اقویٰ اومضبوط دې. نو هغه د دې مقابله نشی کولې

② دَ قرآن آيت «مِمَّآ أَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ» کښې په واضحه توګه دَ حلال کيدودَپاره دَ ښکار نه خوړل بلکه امساك شرط دې. په دې وجه دَ امام مالك رحمه الله مستدل به پريخودلې کيږی.

③ دريم جواب دادې "فلاتأكل"کښې نهی ده اومقابله دَ حل او دَحرمت کښې ترجيح حرمت ته ورکولې کيږی.

د دويم فريق دليل: ① جمهورو دَزير بحث حديث "وان أكل فلاتأكل" نه استدلال کړې دې

قوله: فَإِنْ وَجَدْتَ مَعَ كَلْبِكَ كَلْبًا غَيْرَهُ:

دکلب معلم سره د غيرمعلم کلب دښکارحکم: په دې حديث کښې دا دويمه مسئله ده دَدې تشريح داسې ده که ښکاری سپی سره دَ يوسرى بل سپې شامل شو اوهغه ښکار اووژلو نو په دې حديث کښې دی چه دغه ښکار مه خورئ

د ممانعت اکل دوه وجوهات: څکه چه اصل خبره دَ بسم الله وئيلو اونه وئيلو ده اودا دويم سپې شامل شو په ده کښې دوه خبرې مشکوك دی

① دا نه ده معلومه چه دغه سپې معلم دې که نه، ډير ممکن ده چه هغه غيرمعلم وی

② دا چه نه ده معلومه چه دَ سپی پريخودو وخت کښې دَ الله تعالی نوم اخستوسره بسم الله وئيلې شوې ده که نه په دې وجه نبی کريم فرمائيلی دی چه دا مه خورئ.

قوله: فَاذْكُرِ اسْمَ اللهِ:

د متروک التسميه ذبيحې په حکم کښې ۲ مذاهب:

دَ سپی پريخودو په وخت يا غشی ويشتو په وخت يا په ذبح اختياری کښې که چرې چا په

قصد سره بسم الله ونیل پریخودل نو ددې ذبیحې په حلت او حرمت کښې دَفقهاؤاختلاف دې
① دَ امام شافعی رحمه الله په نیزکه چرې چا بسم الله عمداً په قصد سره پریخوده یا ئې په هیره سره پریخوده په هرحالت کښې ښکار حلال دې دَ حنابلو هم یو ضعیف قول داشان دې
② داؤد ظاهری او امام شعبی رحمه الله وائی چه په هرحالت کښې ښکار حرام دې
③ امام ابوحنیفه رحمه الله اوامام مالك رحمه الله اوامام احمدبن حنبل رحمه الله جمهور فرمائی چه که چا تسمیه عمداً ترك کړه نوښکارحرام دې اوکه په هیره بسم الله پاتې شوه نوښکارحلال دې

د اول فریق دلیل: په قرآن اوحدیث کښې دَ بسم الله کوم ذکر دې هغه عام دې که غواړې په ژبه سره اووائی اوکه غواړی په زړه کښې دې اووائی اودَمسلمان په زړه کښې بسم الله او دَ الله تعالی نوم هروخت موجود دې لهذا متروکه التسمیه ذبیحه حلاله ده

د دویم فریق دلیل: دَ قرآن پاك آیت ﴿وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَإِنَّهُ لَفِسْقٌ﴾ [سورة انعام: ۱۱۲] عام اومطلق دې که تسمیه په هیره سره پاتې شی یا قصداً پریخودې شی ذبیحه حرام ده

د دریم فریق دلائل: ① په آیت کښې ﴿وَإِنَّهُ لَفِسْقٌ﴾ وئیلی شوی دی چه دَ بسم الله پریخودل فسق دې اوفسق هغه فعل ته وائی په کوم کښې چه قصد او اراده وی که چرې په فعل کښې قصد اواراده نه وی هغه فسق نه دې.لهذا عمداً تسمیه ترك کولوسره ذبیحه حرام ده او په هیره پریخودو سره به ذبیحه حرام نه وی ځکه چه حدیث ((رفع عن أمتي الخطأء والنسيان)) یوه ضابطه ده

② جمهورو دَدې باب تړولو احادیثوځخه هم استدلال کړې دې په کوم کښې چه دَ تسمیه شرط ذکردې.

دښکار د حلت شرطونه: ① دَ ښکارحلال کیدواول شرط دادې چه ښکارکونکې دې مسلمان وی دکافر ښکار اوذبیحه حرام ده.
② چه دَ سپی وغیره دَ پریخودو وخت کښې ښکاری دَ الله نوم اخستې وی قصداً که تسمیه چرته پریخودې شی نوښکار به حلال نه وی.
③ چه ښکاری سپې ښکاری سرې پریخودې وی دا دویم شرط دې که خپل پخپله سپی ښکار اونیولو حاضر ئې کړو نو هغه حلال نه دې
④ تعلیم یافته سپی هم که چرته ښکارکولونه پس ښکار اوخوړلو نودَ باقی پاتې استعمالول دَ سړی دَپاره حرام دی
⑤ دکوم ځناور یا مرغئی په ذریعه چه ښکار کولې شی هغه دې معلم اوغیرمعلم ښکار دَ ذبح نه بغیر حرام دې.
⑥ که چرې ښکار اورك شی اودَ سخاکیدونه مخکښې ملاؤ شی نودَهغې خوړل حلال دی

اوکه چرې سخاشی یا په اوبو کښې پریوتلو سره ډوب شی او مړ شی نو دهغې خوړل حلال نه دی
⑥ دتعلیم یافته سپی دښکار حلال کیدو دپاره شپږم شرط دادې چه سپی په ښکار زخم لګولې وی که چرې بغیرد زخم نه ښکار مړشی نو دې استعمال حرام دې

[۴۰٦٥] د توپک د ګولئ د ښکار حکم

۴۰٦۵—[۲] (۱) ① وَعَنْهُ، قَالَ: «قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ! ② إِنَّا نُرْسِلُ الْكِلَابَ الْمُعَلَّمَةَ؟ ③ قَالَ: "كُلْ مَا أَمْسَكْنَ عَلَيْكَ" ④ قُلْتُ: وَإِنْ قَتَلْنَ؟ ⑤ قَالَ: "وَإِنْ قَتَلْنَ" ⑥ قُلْتُ: إِنَّا نَرْمِي بِالْمِعْرَاضِ. ⑦ قَالَ: "كُلْ مَا خَزَقَ، ⑧ وَمَا أَصَابَ بِعَرْضِهِ فَقَتَلَ ⑨ فَإِنَّهُ وَقِيذٌ فَلَا تَأْكُلْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت عدي رضي الله عنه وايي چې ما عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ ② مونږ تربيت يافته سپي په ښکار پسي پريږدو، ③ حضور ﷺ وفرمايل چې ستاسو سپي چې تاسو د پاره کوم ښکار نيولو سره وساتي، هغه خورئ، ④ ما عرض وکړو اګر که هغه سپي ښکار ووژني، ⑤ حضور ﷺ وفرمايل اګر که وي وژني، ⑥ بيا ما عرض وکړو چې مونږ په ښکار بغير د (وزرو) غشي چلوؤ [او د هغې په ذريعه ښکار کوؤ؟ نو آيا هغه ښکار خوړل صحيح دي]؟ ⑦ حضور ﷺ وفرمايل کوم ښکار چې غشي زخمي کړي [يعني که هغه غشي په سيده تلو سره د څوکي د جانب نه ښکار ته ولګيږي او هغه مړ شي] نو هغه خورئ، ⑧ او که هغه غشي (د څوکي دجانب نه نه) بلکي د عرض يعنى د پلنوالي د جانب نه په هغه ښکار داسې ولګيږي، [چې هغه ښکار زخمي نه کړي] او هغه مړ شي. ⑨ نو هغه وقيذ دي، هغه مه خورئ. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① الْمُعَلَّمَةَ: تعليم يافته، تربيت يافته، ② الْمِعْرَاضِ: پلنوالي، ③ خَزَقَ: چه زخمی نې کړی ④ بِعَرْضِهِ: پلنوالی سره، ⑤ وَقِيذٌ: زورلې شوې (بې هوشه)

تسهيلات:

قوله: إِنَّا نَرْمِي بِالْمِعْرَاضِ:

په پلنوالی د ښکار شوی څیز حکم: يعنى كله مونږ ښكارباندې غشي ورپريږدو هغه لاړشي اوبه پلنوالی کښې اولګی دهغې څه حکم دې؟ نبی کریم په جواب کښې فرمائیلی دی "کل ماخزق" خزق ورننوتلو او نافذ کیدوته وائی په څوکه او تیره طرف باندې زخمی کول مراد دی. معراض هغه غشي دې چه په پلنوباندې ښکارباندې اولګی په تیره طرف په طرف باندې اونه لګی دادوقیذ په حکم کښې دې ښکارحلال نه دې ددې نه دهرهغه دروند څیز

(۱) اخرجه البخاری فی كتاب الذبائح والصيد/باب ما أصاب المعراض بعرضه (رقم-۵٤۷۷) ومسلم فی كتاب الصيد/باب الصيد بالكلاب المعلمة (رقم-۱ - (۱۹۲۹) وابوداود فی كتاب الصيد/باب فی الصيد (رقم-۲۸٤۷) والنسائی فی كتاب الصيد والذبائح/باب صيد المعراض (رقم-٤۳۰۵) وابن ماجه فی كتاب الصيد/باب صيد المعراض (رقم-۳۲۱٤) واحمد فی المسند:والترمذی فی/۳۸۰

ضابطه راؤځی په کوم کښې چه تیره طرف نه وی بلکه خپل بوج، زور او دباؤ سره ښکار اوشلوی

په پس ځیز د ښکار شوی صید په حکم کښې ۲ مذاهب:

دغیرتیره مخ والاځیزباندې که ښکار اوشی

① نودَ امام مکحول او اوازعی شامی رحمهما الله او دَ نورو څه علماؤ رائې داده چه دَ تیږیك په ګولئی سره کړې شوې ښکارحلال دې.

② دَ جمهور علماؤ رائې داده چه دَ تیره مخ نه علاوه او زخم لګیدونه بغیردَ دباؤ په ذریعه ویشتلې شوې ښکار حلال نه دې. لهذادَ تیږیك په ګولئی سره ښکار حلال نه دې چه ښکاره ژوندې وی اوذبح اختیاری اوشی نوحلال دې.

داول فریق دلیل: دَ قرآن کریم په آیت [مِمَّآ أَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ] [سورة مائده: ۴۵]. کښې دَ زخم ذکر نشته دې. آیت مطلق دې دا زخم سره مقیدکولې نه شی.لهذا غیرتیزمخ والاځیزسره ښکار جائز دې.

داول فریق د دلیل جواب: جواب دا دې چه [مِمَّآ أَمْسَكْنَ] کښې امساك قیددَ عدم اکل دَپاره دې چه ستاسو دَ پاره ئی رامنع کړی اودَ ځان دَپاره ئی رامنع نه کړی. دَدې آیت دَ زخم لګیدو یا نه لګیدو سره هیڅ تعلق نشته بلکه امساك اوزخم دواړه یوځائی کیدې هم شی.

د دویم فریق دلیل: جمهور دَ مذکوره حدیث نه استدلال کوی چه نبی کریم دَمعراض ښکار وقیذ ګرځولې دې اودَ خزق شرط ئی اولګولو چه په تیزمخ سره زخم لګیدلې وی اووینه بهیدلې وی نوبیا حلال دې ګنی نه دې.

د ذبحې دوه طریقې: په دې سلسله کښې مولانا خالد سیف الله رحمانی لیکل کړی دی چې خلاصه ئې دا ده.. دَ ذبح دوه طریقې دی

① یودَ هغه ځناور دَ ذبح طریقه چه دَ سړی په قابوکښې وی دې ته دَ فقهې په اصطلاح کښې ذبح اختیاری وائی.

② دویم صورت دَ داسې ځناور دَ ذبح کولودې چه دَ سړی په قابوکښې نه وی مثلاً دَ ښکارځناور کوم ته چه دَ لرې نه ننبه اخلی او دَ ویشتلو کوشش ئی کیږی. دَهغې دَ ذبح طریقه دَ هغه ځناورو نه لږه مختلف ده کوم چه دَ انسان په قابوکښې وی. اودې ته دَ فقهې په اصطلاح کښې ذبح اضطراری وائی.

په ذبح اضطراری کښې دَ حلق خاص رګونه پرې کول ضروری نه دی بلکه دومره اندازه باندې کافی دی چه کوم ځیزدَ ښکاردَپاره استعمال کړې شی چه هغه ښکار زخمی کړی اودَ زخمی کولونه پس که چرې ښکار کونکی ښکار په ژوندی حالت کښې اونیولو نواوس

په دغه حلق رګونه پرې کول کیږی او که دغه د رسیدونه مخکښې ځناور مړشوې وو نود هغه زخمي کیدل کافي دی او اوس هغه حلال دې د ښکار په معامله کښې دا خصوصی سهولت د قرآن اوحدیث د تصریحاتو نه ماخوذ دې

د ټوپک په ګولۍ لګیدلی ښکار حکم: ښکاری ځناور د ټوپك په ګولئی سره د ویشتلو په صورت کښې که ټوپك چلونکې مسلمان وی او د ګولئی د چلولوپه وخت بسم الله الله اکبر اووائی اوهغه باندې ښکار اولګی او د هغه مرګ واقع شی نودا ښکار به حلال وی که حرام د هدایه او د فقهې د نورو کتابونود تصریح نه معلومیږی که چرې د دې خبرې یقین اوشی چه د ځناور مرګ د زخم نه شوې دې نو هغه بیشکه حلال دې اوکه یقین وی چه په ګذار سره شوې نو بیشکه حرام دې د هدایه عبارت دادې "والأصل فی هذه المسائل أن الموت إن کان مضافاً الی الجراح بیقین کان حلالا وان کان مضافاً الی الثقل بیقین کان حراماً وان وقع الشك ولا یدري مات بالجرح او بالثقل کان حراماً احتیاطاً".

د مفتی محمود صاحب د ټوپک د ښکار په حکم کښې استفتاء: مولانا مفتی محمود صاحب نومبر ۱۹۵۶ء په مطابق ربیع الاول ۱۳۷۶ھمولانا مفتی رشیداحمدلدهیانوی چه هغه وخت په دارالعلوم کراچئی کښې مفتی اومدرس وو ته یو خط اولیکلو دې مسئله (د ټوپك په ګولئی سره ښکار) کښې احقرته پخپله تردد دې. په لاندینو دلائلوباندې تاسو نظر واچوئی او په خپله رائې خبردارې راکړئی او د نفس دلائل لاندې "فانظر الی ما قال ولا تنظر الی من قال" په موجب رائې قائمه کړئی.

دې نه پس مولانا مفتی محمود صاحب رحمه الله په حلت او حرمت باندې دلالت کونکی ډیر روایات ذکرکولوسره خپله رائې لیکلې ده هغه په ذکرشوی خط کښې لیکی او اوس د کوترې نه واخله ترد هوسئی پورې ښکارهم په ټوپك سره کیږی "قدرت علی الذکاة الاختیاریة" شاذ اوهم نادر ملاویدې شی. اخراج الدم هم کامل وی. نو په دې ضرورت شدیده کښې باوجود د تمیز الدم المسفوح باکمل وجه وهوالمقصود د حرام ګرځولو معنی به دا شی چه د دې زمانې خلق دې د الله تعالی د رخصت نه متمتع نه وی. مولانا مفتی محمودرحمه الله د خپلې رائې په اظهارکښې څومره احتیاط نه کار اخلی د دې اندازه د دې خبرې نه لګولې شی چه د دواړو قسمه دلائلو ذکرکولو باوجود ډیر په احتیاط سره خپله رائې لیکی اود دې د وجهې طرف ته هم اشاره کوی.

دا صحیح ده چه بغیرد څه وجهې د جدید آلات او جدید زمانې سره په احکامو کښې ترامیم کول الحاد او زندقه دی او د فقهاء کرامو رحمهم الله عبارتونو اواشاراتو خلاف څه حکم نافذ کول هم د فتنه نه خالی نه دی. لیکن د شرعی دلائلو په موجودګئی کښې د فقهاء کرامو د مقررکړې شوې اصولو لاندې په یوه مسئله باندې غور نه کول به هم

دَملامتیا قابل وی جدید آلات او ضروریات زمانه باندې غور اوفکر نه کول اودَ ټوپك ګولئی په بندوقهٔ طین باندې قیاس کولوسره خان خلاصول دَ علماؤ دَ شان سره ښه نه دی اوبیا ټوپك کښې صرف په ګولئی او په چهرو سره خو ښکار نه کیږی بلکه دَ څوکیدارې ګولئی کارتوس خودَ معراض دَ څوکې نه کم نه وی. ټول په یوحکم کښې راوړل به څنګه صحیح شی.

د مفتی رشید احمد صاحب د ټوپک د ښکار په باره کښې فتوی: مولانا رشید احمد لدهیانوی دَ فقهاء کرامو ډیرو عبارتونو حواله ورکړې ده اودَ عقلی دلائلونه ئی هم امداد اخستې دې. لیکن په آخره کښې دَ مولانامفتی محمود رحمه الله دَدې قول "بلکه دَ نوکدارې ګولئی څوکه خو دَمعراض دَڅوکې نه کمه نه وی"لاندې لیکی. اقول دَ داسې ګولئی دَ ښکار په حلت کښې هیڅ شك نشته اونه په دې کښې دَ څه قسم اختلاف ګنجائش دې. امدادالمفتیین کښې هم دَداسې ښکار دَحلت فتوی درج ده.البته که داسې څه ګولئ دومره وړوکی څناور اوویشتلو چه دَ ګولئی دَدروندوالی طاقت نه شی لرلې. یعنی که چرې ګولئی تیره څوکداره نه وه نوبیاهم په ثقل اودروندوالی سره څناور مړکیدې شو نودا څناور به حلال نه وی.

د مولانا محمد ایوب جان بنوری رائې: مولانا محمدایوب جان صاحب بنوری رحمه الله دَ حضرت مفتی محمودصاحب دَ مؤقف وضاحت داسې کوی چه حضرت مفتی صاحب ډیرزیات دلائل پیش کړی دی. په هغې کښې یودلیل داهم وو چه په ټوپك باندې کله ډز کیږی نوهغه وخت دَدې نه داسې اور راوځی اوهغه زخمی کیږی او په اور سره فقهاء ذبیحه حلال ګرځوی په دې وجه دا حلال دې.

[۲۰۲۱] دَاهل کتابو په لوښو کښې د خوراك کولو حکم

> ۲۰۲۱ـ[۳] (١) ①«وَعَنْ أَبِي ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ② قُلْتُ: يَا نَبِيَّ اللّٰهِ! إِنَّا بِأَرْضِ قَوْمٍ أَهْلِ الْكِتَابِ. ③ أَفَنَأْكُلُ فِي آنِيَتِهِمْ.④ وَبِأَرْضِ صَيْدٍ⑤ أَصِيدُ بِقَوْسِي وَبِكَلْبِي الَّذِي لَيْسَ بِمُعَلَّمٍ⑥ وَبِكَلْبِي الْمُعَلَّمِ،⑦ فَمَا يَصْلُحُ لِي؟⑧ قَالَ: أَمَّا مَا ذَكَرْتَ مِنْ آنِيَةِ أَهْلِ الْكِتَابِ،⑨ فَإِنْ وَجَدْتُمْ غَيْرَهَا فَلَا تَأْكُلُوا فِيهَا،⑩ وَإِنْ لَمْ تَجِدُوا فَاغْسِلُوا وَكُلُوا فِيهَا،

ترجمه: ① او حضرت ابو ثعلبه خشني رضي الله عنه وايي ② چې ما عرض وکړو چې اې د الله نبي! مونږ د يو داسې قوم په منځ کې وسيږو چې اهلِ کتاب دي.③ نو آيا مونږ د هغوئ په لوښو کې خوراک خښناك کولې شو؟④ او مونږ په داسې علاقه کې اوسيږو چې هلته ښکار ډير دي.⑤ زه د خپلې ليندې (غشی) او د غير تربيت يافته سپي په ذريعه هم ښکار کوم، ⑥

---

¹) اخرجه البخاری فی کتاب الذبائح والصید/باب صید القوس (رقم-۵۴۷۸) ومسلم فی کتاب الصید/باب الصید بالکلاب المعلمة(رقم-۸ - (۱۹۳۰) وابوداود فی کتاب الصید/باب فی الصید (رقم-۲۸۵۵) والنسائی فی کتاب الصید والذبائح/باب صید الکلب الذی لیس بمعلم (رقم-۴۲۶۶)

او په تربيت يافته سپي سره هم ښکار کوم [۷] نو زما د پاره کوم څيز درست دې؟ [۸] حضور ﷺ وفرمايل تر څو چې د هغه شي تعلق دې چې تا د اهلِ کتابو د لوښو باره کې پوښتنه کړې ده، [۹] نو، د هغې متعلق دا حکم دې چه که، د هغه لوښو نه علاوه بل لوښي بيا مومې، نو بيا د هغوئ په لوښو کې يې مه خورئ [اومه څکئ] [۱۰] او که بل لوښي بيا نه مومې. نو مخکې هغه ښه اوينځئ بيا په هغه کې خوراک څښاک کوئ

حل اللغات: ① قَوْسِي: قوس ليندې ته وائي مراد ترې غشي دې

> [۱] وَمَا صِدْتَ بِقَوْسِكَ [۲] فَذَكَرْتَ اسْمَ اللّٰهِ فَكُلْ، [۳] وَمَا صِدْتَ بِكَلْبِكَ الْمُعَلَّمِ [۴] فَذَكَرْتَ اسْمَ اللّٰهِ فَكُلْ، [۵] وَمَا صِدْتَ بِكَلْبِكَ غَيْرِ مُعَلَّمٍ [٦] فَأَدْرَكْتَ ذَكَاتَهُ فَكُلْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] پاتې شوه د ښکار خبره نو کوم حيوان چې تا په خپل غشي سره ښکار کړې دې [۲] او د غشي د پريخودلو په وخت کښې [دې د الله ﷻ نوم اخستې دې، نو هغه هم خوره، [۳] دغه شان کوم حيوان چې تا د تربيت يافته سپي په ذريعه ښکار کړې دې [۴] او، د هغه سپي د پريخودلو په وخت کښې دې، د الله ﷻ نوم اخستې دې. نو هغه هم خوره، [۵] او کوم ښکار چې تا د غير تربيت يافته سپي په ذريعه ونيولو، [٦] او هغه دې د ذبح کولو قابل (يعني ژوندې) بيامونده، او بيا دې ذبح کړو، نو هغه هم خوړلې شې. ، بخاري مسلم؛

حل اللغات: ② ذَكَاتَهُ: ذبح کول دهغې

تسهيلات:

قوله: أَفَنَأْكُلُ فِي آنِيَتِهِمْ:

د کافرانو لوښو د استعمال صورتونه اوحکمونه: ① که چرې هغوی دَ خنزير غوښه کيخودې وی يا دَ شرابو دپاره استعمال شوې وی نوکه په دې صورت کښې بل څه لوښي ملاويدې شی نوددې لوښو استعمال قطعاً جائز نه دی

② په مذکوره صورت کښې که بل څه لوښي نه ملاويږی نودَ هغې وينځلو سره استعمالول جائز دی مجبوری ده

③ که دَ اهل کتابو دا لوښی په شرابو وغيره کښې نه دی استعمال شوی نوبيا صرف وينځلوسره استعمالول جائز دی سره ددې چه خپل لوښی موجود وی

دحديث مقصود: اسلام غواړی چه په مسلمانانوکښې اسلامی غيرت او حميت باقی وی خکه چه زيات گډوډ کيدلوسره په مزه مزه سرې دَ غيرمسلمو په معاشره کښې ورکيږی بداخلاقی جائز نه ده ليکن دَ اخلاقو هم يومقام وی اخلاق دَ دې نوم نه دې چه دَ الله تعالی دښمن سره دَزړه مينه پيدا شی. دَزير بحث حديث اشاره هم دغه ده چه که چرې خپل لوښی موجود وی نودَ کافرانو لوښی مه استعمالوئ

[۳۰۶۷] د بدبويه غوښو حکم

۳۰۶۷-[۴] (۱) [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: [۲] قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "«إِذَا رَمَيْتَ بِسَهْمِكَ [۳] فَغَابَ عَنْكَ [۴] فَأَدْرَكْتَهُ فَكُلْ مَا لَمْ يُنْتِنْ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] حضرت ابو ثعلبه خشني رضي الله عنه وايي [۲] چې رسول الله ﷺ وفرمايل که ته د الله ﷻ د نوم په اخستو سره په يو ښکار خپل غشى وچلوې، [۳] او بيا هغه ښکار غشى خوړلو سره ستا د نظر نه غائب شى [يعني په يو داسې ځاي کې مړ شي چې هغه وخت تا ته ملاو نشوا [۴] او بيا هغه ستا لاس ته راشي [او ته په هغه کې د خپل غشى نښه ليدو سره يقين وکړې، چې دا ستا د هغه غشى د لګيدو نه مړ شوي دي] نو ته هغه خوړلى شى، تر څو چې د هغې په بوي کې تغير پيدا نشي، (مسلم)

حل اللغات: ① بِسَهْمِكَ: په غشى خپل سره، ② مَا لَمْ يُنْتِنْ: چه بد بويه شوې نه وى، خراب شوې نه وى

تسهيلات:

قوله: فَكُلْ مَا لَمْ يُنْتِنْ:

د بدبو داره ښکار د خوړلو حکم: مثلاً يوسړى مرغئى وغيره ښکاره کړه ليکن هغه راپريوتله او په ځنګل کښې ورکه شوه. اوس دَ دغه ورك شوى ښکار څه حکم دې. په دې حديث کښې خودلې شوى دى چه ترکومې پورې دغه ښکار سخا شوې نه وى اوبدبوئى نه وى کړې دَهغه وخته پورې دَدې خوړل جائزدى.

د مذکوره ښکار د خوړلودوه شرطونه: ① شرط دادې چه دغه ښکاردَ بل څه وجهې نه وى مړشوې بلکه دَ ښکارى سړى په غشى وغيره سره مړشوې وى
② دَ ويشتلو په وخت ئى بسم الله الله اکبر وئيلې وى.

د بدبو داره ښکار خوړلو طبى نقصان: ښکار په معمولى بدبوئى راتلوسره حراميږى نه سره دَدې چه دَ صحت دَپاره نقصانى وى خوبيا هم په ښکارى باندې لازم دى چه هغه دغه ښکار ترممکن حده پورې اولتوى. په راتلونکى حديث کښې دى چه دريوورځونه پس هم ملاؤ شى بياهم جائزدې.

[۳۰۶۸] درې ورځې پس د موندلې شوى ښکار حکم

۳۰۶۸-[۵] (۲) [۱] وَعَنْهُ [۲] «عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي الَّذِي يُدْرِكُ صَيْدَهُ بَعْدَ ثَلَاثٍ: [۳] "فَكُلْهُ مَا لَمْ يُنْتِنْ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

---

[۱] اخرجه مسلم فى كتاب الصيد/باب إذا غاب عنه الصيد ثم وجده (رقم-۹ - (۱۹۳۱) وابوداود فى كتاب الصيد/باب فى اتباع الصيد (رقم-۲۸۶۱) واحمد فى المسند: ۴/ ۱۹۴

[۲] اخرجه مسلم فى كتاب الصيد/باب إذا غاب عنه الصيد ثم وجده -۱۰ - (۱۹۳۱) والنسائى فى كتاب الصيد والذبائح/باب الصيد إذا أنتن (رقم-۴۳۰۴)

ترجمه: [۱] او حضرت ابوثعلبه خشني ﷺ وايي [۲] چې نبي كريم ﷺ د هغه ښكاري په حق كې اچې خپل ښكار درې ورځې وروسته اوموميا وفرمايل [۳] چې هغه خوره. تر څو چې په هغه كې بدبويي نه وي پيدا شوي، «مسلم»

[۴۰۴۳] د مشتبه ذبيحې حكم

۴۰۴۳-[۲] ()[۱]«وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: [۲] قَالُوا: يَارَسُولَ اللّٰهِ! إِنَّ هُنَا أَقْوَامًا [۳] حَدِيثٌ عَهْدُهُمْ بِشِرْكٍ [۴] يَأْتُونَنَا بِلُحْمَانٍ [۵] لَا نَدْرِي أَيَذْكُرُونَ اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهَا أَمْ لَا؟ [۶] قَالَ: "اذْكُرُوا أَنْتُمُ اسْمَ اللّٰهِ وَكُلُوا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه صديقه ﷺ فرمايي [۲] اچې يو خل صحابه ؤ عرض وكړو| چې يا رسول الله ﷺ دلته څه خلق داسې هم دي [۳] چې د هغوئ د شرك زمانه ډيره نزدې ده (يعني هغه نوى مسلمانان دي چې هغوئ اسلامي احكام او ديني مسائل پوره پوره لا نه دي زده كړي) [۴] هغه خلق مونږ ته غوښه راوړي، [۵] او مونږ ته د دې علم نه وي. چې آيا هغوئ د ذبحې په وخت پرې د الله ﷻ نوم اخستى دي كه نه؟ [نو آيا د هغوئ راوړې غوښه مونږ خوړلې شو كه نه؟] [۶] حضور ﷺ وفرمايل چې تاسو د الله ﷻ نوم ورباندې اخلئ او هغه خورئ، «بخاري»

حل اللغات: ① حَدِيثٌ عَهْدُهُمْ: نوى مسلمانان دى، د شرک زمانه ئې نزدې ده. د اسلام زمنه ئې نوې ده ② بِلُحْمَانٍ: غوښه راوړونكى دى.

تسهیلات: قوله: اذْكُرُوا أَنْتُمُ اسْمَ اللّٰهِ:

په اسلامى معاشره كښې په غوښه د بسم الله د تحقيق كولوحكم: صحابه كرامو دَدې مسئلې تپوس كړې دې چه دَ مختلفو اطرافونه مختلفې غوښې راځى معلومه نه ده چه دَدې ذبيحه دَ كوم قسم ده دَدې خوړل څنګه دى؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل شك مه كونى بسم الله وايئى او خورئى ئى دَدې حديث مطلب دا نه دې چه دَ څاروى دَ ذبح په وخت كښې بسم الله نه ده وئيلې شوې نواوس دَمرګ نه پس بسم الله اووايه اوخورئى ئى بلكه مطلب دا دې چه ذبحه كونكې كه چرې قابل دَ ذبح وى اودَ كومو اطرافونه غوښې راغلې وى هغه مسلمانان وى نودَ تحقيق، تفتيش او تشكيك اوتلبيس نه بغيريه مسلمانانوباندې دَ ښه ګمان په بنياد بسم الله وئيلوسره خوړل پكاردى

په غيراسلامى ملكونوكښې د تحقيق ضرورت: البته كه سړې په غيراسلامى ملك كښې

---

(۱) اخرجه البخارى فى كتاب الذبائح والصيد/باب ذبيحة الأعراب ونحوهم (رقم-۵۵۰۷) وابوداود فى كتاب لضحايا/باب ما جاء فى أكل اللحم لا يدرى أذكر اسم الله عليه أم لا؟ (رقم-۲۸۲۹) والنسائى فى كتاب الضحايا/باب ذبيحة من لم يعرف (رقم-۴۴۳۶) وابن ماجه فى كتاب الذبائح/باب التسمية عند الذبح (رقم-۳۱۷۴) كتاب الذبائح/باب ما جاء فى التسمية على الذبيحة (رقم-۱)

اوسيږی نوهلته د حلالو څيزونوپه غوښه کښې هم احتياط پکار دې ځکه چې پته نه لګی چې دا ذبحه په چا کړی وی ددې وجهې هلته د غوښې څخه علاوه نور څيزونه خوړل پکار دی مثلاً روژې، دال او مختلف سبزيانې

د وسوسې سد باب: حضرت مولانا شاه انورشاه کشميری رحمه الله فرمانی په دې حديث سره نبی کريم دَ وسوسې دَ لرې کولودپاره داسې بيان اوفرمائيلو چه وسواسی مه جوړيږئی بسم الله واينی اوخورئی ئی. بسم الله وئيلوسره به ستاسو وسوسه ختمه شی. دامطلب ئی نه دې چه حرام غوښه باندې بسم الله وئيلوسره حلاليږی

[۴۰۷۰] دغيرالله د نوم د ذبيحې حرمت

۴۰۷۰-[۷] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ، قَالَ: «سُئِلَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: [۲] هَلْ خَصَّكُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَيْءٍ؟ [۳] فَقَالَ: مَا خَصَّنَا بِشَيْءٍ لَمْ يَعُمَّ بِهِ النَّاسَ [۴] إِلَّا مَا فِي قِرَابِ سَيْفِي هَذَا [۵] فَأَخْرَجَ صَحِيفَةً فِيهَا: [۶] "لَعَنَ اللَّهُ مَنْ ذَبَحَ لِغَيْرِ اللَّهِ، [۷] وَلَعَنَ اللَّهُ مَنْ سَرَقَ مَنَارَ الْأَرْضِ" -[۸] وَفِي رِوَايَةٍ: [۹] "مَنْ غَيَّرَ مَنَارَ الْأَرْضِ [۱۰] وَلَعَنَ اللَّهُ مَنْ لَعَنَ وَالِدَهُ [۱۱] وَلَعَنَ اللَّهُ مَنْ آوَى مُحْدِثًا» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] حضرت ابوطفيل وايي چې د حضرت علي (رض) نه دا پوښتنه وشوه [۲] چې آيا رسول الله ﷺ تاسو (اهل بيت) ته د څه شي په ذريعه خصوصيت او امتياز ورکړې دې؟ [يعنی آيا دا صحيح ده چې حضور ﷺ تاسو خلقو ته چې اهلِ بيت رسول الله ﷺ دی، څه داسې احکام درکړي دي، کوم چې نورو خلقو ته يې نه دي ورکړي؟] [۳] حضرت علي رضي الله عنه وفرمايل چې نه، حضور ﷺ زمونږ دپاره يو داسې څيز نه دي مخصوص کړي، کوم چې يې د نورو د پاره عام کړي نه وی، [۴] علاوه د دې څيز نه چې زما د توري په تيکي کې [د څو احکامو د مجموعي په صورت کی] موجود دې، [ليکن د دې احکامو باره کې هم ماته دا نه ده معلومه، چې دا احکام آيا خاص زمونږ د اهل بيتو د پاره خاص دي. يا د دې تعلق په عمومي طور سره د پوره امت سره دی] [۵] بيا حضرت علي د خپلي توري د تيکي نه يو کاغذ راوخکلو، په هغې کې دا احکام درج وو، [۶] چه په هغه سړي دي د الله ﷻ لعنت وي، چې د غير الله په نوم څه شي ذبح کړي، [۷] په هغه سړي دي د الله ﷻ لعنت وي، چې د زمکي نښه پټه کړي، [۸] او په يو روايت کې د الفاظ دي [۹] په هغه سړي دي د الله ﷻ لعنت وي، چې د زمکي په نښه کې تغير اوتبدل وکړي، [۱۰] په هغه سړي دي د الله ﷻ لعنت وي، کوم چې په خپل پلار لعنت وکړي، [۱۱] او په هغه سړی دي د الله لعنت وي چې يو بدعتي ته ځای (پناه) ورکړي. (مسلم)

---

(۱) اخرجه مسلم فی کتاب الأضاحی/باب تحريم الذبح لغير الله تعالی ولعن فاعله (رقم-٤٥ - (۱۹۷۸) والنسائی فی کتاب الضحايا/باب من ذبح لغير الله عز وجل (رقم-٤٤٢٢)

حل اللغات: ① قِرَابٌ: د توري قاش، تيكي، ② صَحِيفَةٌ: ليكلي شوي كاغذ، مخطوطه، ③ مَنَارٌ: د زمكي ننبه، علامتي كانړي، ④ آوَى: ⑤ مُحْدِثًا: په دين كښي نوي خبره پيدا كونكي، بدعتي.

تسهيلات: قوله: مَا خَصَّنَا بِشَيْءٍ لَمْ يَعُمَّ بِهِ النَّاسَ إِلَّا مَا فِي قِرَابِ سَيْفِي هٰذَا

على رضى الله عنه سره د خاص وصيت عدم وجود: دا پروپيګنډه ډېره وخت نه ترننه پورې جاري ده چه حضرت على ﷺ ته نبى كريم څه خصوصي وصيتونه كړي وو صحابه كرامو بار بار دحضرت على ﷺ نه دې پوښتنه اوكړه اوحضرت على ﷺ مسلسل انكار كړې دې ترننه پورې روافض په خپلو اذانونو كښې د على وصى رسول الله الفاظ يادوى اود حضرت على ﷺ خبره دروغ ګڼړي

قوله: لَعَنَ اللّٰهُ مَنْ ذَبَحَ لِغَيْرِ اللّٰهِ:

دغيرالله په نوم د ذبح كولو صورتونه: دالله تعالى د نوم نه بغيرد غيرالله په نوم باندې ځناور ذبح كول داسې دى لكه چه دحضرت عيسى عليه السلام په نوم باندې يا دحضرت عزير عليه السلام په نوم باندې يا د شيخ عبدالقادر جيلانى رحمه الله په نوم باندې يا دحضرت حسن ﷺ او حسين ﷺ په نوم باندې يا د يوفقير په نوم باندې ځناور په نامه كولې شى چه دا د فلانكى د نوم ځناور دې بيا دا ذبح كړى. د ذبح په وخت بعضې بې دين خود غيرالله نوم اخلى اوبعضې بې دين نوم خود الله تعالى اخلى مګر ساه دبل چا دپاره اوباسى. د غيرالله په نوم باندې د نامه كولو نه پس د ذبح په وخت بسم الله سره څه كيږى كله چه دغه نذر اونياز د غيرالله په نوم دې

قوله: وَلَعَنَ اللّٰهُ مَنْ سَرَقَ مَنَارَ الْأَرْضِ:

په زمكه كښې د خيانت كولوسزا: دزمكې ننبې ته منار وئيلې شوى دى ددغه ننبې نه مراد علامتى كانړې وغيره دى چه د دوو شريكو ملګرو د زمكې په حدودوكښې لګولې شى دهغې پټولو يا د بدلولو سره هغه د بل سړى زمكه راګيرول غواړى كله داسې هم كيږى چه دغه ننبه د يوځاى نه اوچته كړې شى بل طرف ته اوړلې شى او اصل مالك ته پته نه وى دا هم راګيرول دى. او نن صبا په ډيرو زمكوكښې د تولونه زيات بدلون د پټواريانو په لاس كښې دې ددې حديث اولنې مصداق پټواريان دى چه دزمكې په نقشه او خادر (لتها) كښې او په فردنمبركښې ګړبړكوى او بيا په صحيح كولوباندې ډيرې پيسې اخلى. پخپله ئې خراب كړى بيا پيسې اخلى

قوله: لَعَنَ اللّٰهُ مَنْ لَعَنَ وَالِدَهٗ:

خپلې موربانډې د لعنت وئيلو صورت: يعنى دموريلار نافرمانى كوى او هغوى د تنقيدنشانه جوړوى ياد بل سړى موريلارته كنځلې كوى اوهغه د ده موريلارته كنځلې اوكړې. دغه شان دې پخپله د دغه كنځلو ذريعه جوړشو.

قوله. وَلَعَنَ اللّٰهُ مَنْ آوَى مُحْدِثًا:

بدعتی ته پناه ورکونکی باندې لعنت: دې نه بدعتی مراد دی داسې سړی ته خانی ورکول پټول، سنبالول مدینه یا مکه وغیره کښې ساتل هغوی سره مالی تعاون کول ذهغوی رائې له ترجیح ورکول ذهغوی تعظیم اوتوقیر کول هغوی پیر اومرشد جوړول داټول ذ لعنت سبب دی

[۲۰۷] په تیره څیز د ذبح کولو حکم

۴۰۰۰-[۸] ()۱ «وَعَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ۲ قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! إِنَّا لَاقُوا الْعَدُوِّ غَدًا، ۳ وَلَيْسَتْ مَعَنَا مُدًى ۴ أَفَنَذْبَحُ بِالْقَصَبِ؟ ۵ قَالَ: "مَا أَنْهَرَ الدَّمَ وَذُكِرَ اسْمُ اللّٰهِ، فَكُلْ ۶ لَيْسَ السِّنَّ وَالظُّفُرَ، ۷ وَسَأُحَدِّثُكَ عَنْهُ: ۸ أَمَّا السِّنُّ فَعَظْمٌ، ۹ وَأَمَّا الظُّفُرُ فَمُدَى الْحَبَشِ" ۱۰ وَأَصَبْنَا نَهْبَ إِبِلٍ وَغَنَمٍ ۱۱ فَنَدَّ مِنْهَا بَعِيرٌ، ۱۲ فَرَمَاهُ رَجُلٌ بِسَهْمٍ فَحَبَسَهُ»

ترجمه: ۱ او حضرت رافع رضی الله عنه بن خدیج وايي ۲ چې ما عرض وکړو يا رسول الله ﷺ صبا ته د دښمن (يعني د کفارو) سره زمونږ مقابله کيدونکي ده. ۳ او زمونږ سره چړې نشته (يعني کيدي شي چې د جنګي هنګامو په وجه زمونږ سره چړې موجودې پاتې نشي او مونږ ته د حيوان د ذبح کولو ضرورت پيښ شي) ۴ نو په دې صورت کې آيا مونږ په کړکي (بانس) سره ذبح کولي شو؟ ۵ حضور ﷺ وفرمايل په کوم څيز سره چې وينه وبهيږي. او په هغې د الله جل جلاله نوم واخستل شي، نو هغه خوړلي شې، (يعنی د هغه حيوان خوړل جائز دي، چې په داسې څيز سره ذبح شوي وي، چې په هغې سره وينه وبهيږي. که هغه اوسپنه وي، يا يو بل څيز وي) ۶ خو د غاښ او د نوك په ذريعه ذبح کول جائز نه دي، ۷ اوزه تا ته ددې دواړو باره کې وايم (چې ددې په ذريعه ذبح کول ولې جائز نه دي نو واوره) ۸ چې غاښ خو هډوکې دي، ۹ او هر چې نوك دې، نو هغه د حبشو چاړه ده. ۱۰ (حضرت رافع رضی الله عنه وايي) چې د دښمن څه اوښان او بزې (چيلۍ) په لوټ کې زمونږ لاس ته راغلې. ۱۱ په هغې کې يو اوښ ورانيدو سره وتښتيدو، ۱۲ ليکن په مونږ کې يو سړي هغه په غشي ويشتلو سره هلاك کړو (يعني هغه غشي خوړلو سره په زمکه راغورځيدلو سره يخ شوا،

حل اللغات: ① إِنَّا لَاقُوا: مونږ مخامخ کيږو. مقابله کونکی يو. ② مُدًى: ذ مدية جمع ده چاړې ته وائی. ③ الْقَصَبِ: د بانړه تيره غاړه، ④ أَنْهَرَ: اوبهيوی، ⑤ السِّنَّ: غاښ، ⑥ الظُّفُرَ: نوکان، ⑦ عَظْمٌ: هډوکې. ⑧ مُدَى الْحَبَشِ: د حبشيانو چاړې، ⑨ نَهْبَ: د لوټ مال، ⑩ فَنَدَّ: نواوتختيدو،

---

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب الذبائح والصيد/باب ما ند من البهائم فهو بمنزلة الوحش (رقم-۵۵۰۹) ومسلم فی کتاب الأضاحی/باب جواز الذبح بکل ما أنهر الدم. إلا السن. والظفر. وسائر العظام (رقم-۲۰ - (۱۹۶۸) وابوداود فی کتاب الضحايا/باب فی الذبيحة بالمروة (رقم-۲۸۲۱) والترمذی فی کتاب الأحکام والفوائد/باب ما جاء فی البعير والبقر والغنم إذا ند فصار وحشيا يرمی بسهم أم لا؟ (رقم-۱۴۹۲) والنسائی فی کتاب الصيد والذبائح/باب الإنسية تستوحش (رقم-۴۲۹۷) وابن ماجه فی کتاب الذبائح/باب ذکاة الناد. من البهائم (رقم-۳۱۸۳)واحمد فی المسند:وابوداود فی/۴۶۳

[۱] فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] إِنَّ لِهٰذِهِ الْإِبِلِ أَوَابِدَ [۳] كَأَوَابِدِ الْوَحْشِ، [۴] فَإِذَا غَلَبَكُمْ مِنْهَا شَيْءٌ [۵] فَافْعَلُوا بِهِ هٰكَذَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حضور ﷺ (دا ليدو سره) وفرمايل [۲] چې په دې اوښانو کې بعضې هم دغه شان د انسانانو سخه تريږي، [۳] لکه څرنګه چې جنګلي ځناور د انسانانو سخه تريږي. [۴] نو په دې اوښانو کښې که يو اوښ ستاسو د قبضې نه په وتلو سره وتښتي، [۵] نو د هغې سره دغه شان معامله کوئ (بخاري ومسلم)

حل اللغات: (۱) أَوَابِدَ: دَدې مفرد آبدة دې تختيدونکې او غصه شوی وحشی ځناور (۲) اَلْوَحْش: ځنګلی، ويريدونکې

تسهيلات:

قوله: أَفَنَذْبَحُ بِالْقَصَبِ:

د مذکوره تپوس مطلب: مطلب دا چه مونږ له به دَ ځاروی دَ ذبح کولو ضرورت پيښيږی د تنګئی حالت وی دَ جهاد سفردې که چرې چاړه ملاؤنه شی نوآيا مونږ «نل» باندې ځناور ذبح کولې شو؟

قوله: أَمَّا السِّنُّ فَعَظْمٌ:

په هډوکی د ذبح کولو ممانعت: يعنی دَ اوښ غاښ خو هډوکې دې او په هډوکی باندې ذبح صحيح نه ده لهذا په غاښ سره ذبح کول صحيح نه دی.

قوله: وَأَمَّا الظُّفُرُ فَمُدَى الْحَبَشِ:

په نوکونو ذبح کولو ممانعت: يعنی نوکونه خودَ اهل حبش چاړې دی هغوی دا استعمالوی لهذا مسلمانانوله دکافرانو طريقه نه دی خپلول پکار په هرتيره مخ والاخيزيه کوم سره چه وينه روانه شی ذبح کول جائز دی

په نوک باندې د ذبح په حکم کښې ۲ مذاهب:

غاښ او نوکونه چه بدن سره لګيدلې وی نو په اتفاق سره په دې ذبح ناجائز ده ليکن که جدا راوتلې وی نو په دې سره ذبح کولوکښې دَ فقهاؤ اختلاف دې

(۱) دَجمهور فقهاؤ په نيزيه غاښ او نوکونوسره ذبح مطلقاً ناجائز ده که دَ بدن نه جدا وی اوکه لګيدلې وی.

(۲) دَ احنافو په نيزکه غاښ او نوک دَ بدن سره لګيدلې وی نوذبح ناجائز ده ليکن که جدا وی او په استعمال سره وينه جاری شی نوذبح کراهت سره جائز ده

داول فريق دليل: جمهورو دَمذکوره حديث نه استدلال کړې دې

داول فريق د دليل جوابونه: (۱) دا حديث په غيرمقلوع غاښ اوغير مقلوع نوک باندې حمل دې

ځکه چه دَ حبش خلقو به ځناوردا سې ذبح کول

④ دَ زير بحث حديث ممانعت دَ کراهت په درجه کښې دې هغه دَ احنافو په نيزهم مکروه دې ليکن ذبيحه حلاله ده دَ احنافو استدلال کمزورې دې

د دويم فريق دلائل: دَ فصل ثاني دَعدى بن حاتم حديث نمبر ١٨ کښې دا الفاظ دى "أمر الدم بما شئت" يعنى په کوم څيزسره چه غواړئ وينه اوبهيوئى دا حديث عام دې غابنو او نوکونو ته هم شامل دې اصل مقصد وينه بهيول دى که چرې په مقلوع غابن او نوک سره دباؤ نه پريوځى اوينه بهيږى نو ذبيحه حلال کيدل پکار دى البته په فعل کښې کراهت دې

④ راتلونکى حديث نمبر(٤٠٨١) کښې دَ احنافو دليل دې ځکه چه غابن او تيره هډوکې هم يو څيزدې.

[٤٠٧٢] په تيره کاڼي د ذبح کولو حکم

٤٠٧٢-[٩] ()١ «وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ،٢ أَنَّهُ كَانَتْ لَهُ غَنَمٌ٣ تَرْعَى بِسَلْعٍ،٤ فَأَبْصَرَتْ جَارِيَةٌ لَنَا بِشَاةٍ مِنْ غَنَمِنَا مَوْتًا،٥ فَكَسَرَتْ حَجَرًا فَذَبَحَتْهَا بِهِ،٥ فَسَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ،٦ فَأَمَرَهُ بِأَكْلِهَا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ١ او د حضرت کعب ابن مالک رضي الله عنه نه روايت دې ٢ چې د کعب رضي الله عنه سره د بزو يوه رمه وه، ٣ چې د مديني په يوې غونډئ سلع يې څروله،٤ يوه ورځ زمونږ يوې وينځې يوه بزه (چيلۍ) وليده، چې هغه مري،٤ نو هغې د کاڼي ټکړه ماته کړه، او د هغه ټوټې په ذريعه يې هغې بزه (چيلۍ) ذبح کړه،٥ بيا کعب رضي الله عنه د نبي کريم صلی الله علیه وسلم نه مسئله وپوښتله، (چې په دې صورت کې د هغه بزې (چيلۍ) غوښه خوړل حلال دی که نه؟)٦ حضور صلی الله علیه وسلم د هغه بزې (چيلۍ) د غوښو خوړلو حکم ورکړو. (بخاري)

تسهيلات:

قوله: فَكَسَرَتْ حَجَرًا فَذَبَحَتْهَا بِهِ:

په اضطراري حالت کښې په کاڼي د ذبح کولو جواز: مطلب دا دې چه په رمه کښې يو بيزه اچانک مړه کيدله او چاقو، چاړه هم موجود نه وو نو هغې شپونکې وينزې يو تيره کاڼې راوغستلو او هغه بيزه ئې زبحه کړه نو ددې نه دا معلومه شوه چه ده ښځې ذبيحه (حلاله) کول هم درست او صحيح دى.

---

١) اخرجه البخارى فى كتاب الإجارة/باب إذا أبصر الراعى أو الوكيل شاة تموت. أو شيئا يفسد. ذبح وأصلح ما يخاف عليه الفساد(رقم-٢٣٠٤) وابن ماجه فى كتاب الذبائح/باب ذبيحة المرأة (رقم-٣١٨٢).

[۴۰۷۳] په ذبح کولو کښي د نرمي کولو تعلیم

۴۰۷۳-[۱۰] (۱) ① وَعَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ، عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ② قَالَ: «إِنَّ اللّٰهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى كَتَبَ الْإِحْسَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ، ③ فَإِذَا قَتَلْتُمْ فَأَحْسِنُوا الْقِتْلَةَ، ④ وَإِذَا ذَبَحْتُمْ فَأَحْسِنُوا الذَّبْحَ، ⑤ وَلْيُحِدَّ أَحَدُكُمْ شَفْرَتَهُ ⑥ وَلْيُرِحْ ذَبِيحَتَهُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت شداد ابن اوس رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه نقل کوي ② چې حضور ﷺ وفرمايل الله تعالى په هر شي احسان کول لازم کړي دي [يعنى د حق تعالى د طرف نه هر کار په حسن او خوبي او نرمي سره د انجام کولو حکم ورکول شوي دي، تر دي چې سزا په طور خوك قتلولو يا د ځناورو په ذبح کولو کې هم مهرباني، نرم دلي او د خوبي او نرمي طريقه اختيارول لازم دي] ③ هر کله چې تاسو يو سړي د قصاص يا حد په طور قتلوئ، نو هغه په نرمئ او خوبئ سره يې قتلوئ، [چې هغه ته تکليف نه وي، [الکه تيره، توره استعمالوئ، او په قتل کولو کې جلتي کوئ] ④ او هر کله چې تاسو يو حيوان ذبح کوئ. نو په خوبي او نرمي سره يې ذبح کوئ، [نو دا ضروري ده، چې په تاسو کې کوم سړي يو حيوان ذبح کول غواړي] ⑤ نو خپله چاړه دي ښه تيره کړي، ⑥ او ذبح کيدونکي حيوان ته دي آرام ورکړي. (مسلم)

حل اللغات: ① الْإِحْسَانَ: ښه سلوک، ② الْقِتْلَةَ: په قتلولو کښي، ③ الذَّبْحَ: حلالول. ④ وَلْيُحِدَّ: تيره دي کړي، ⑤ شَفْرَتَهُ: تيره اړخ د چاړې، ⑥ وَلْيُرِحْ: او آرام دي اورسوی،

تسهيلات:

قوله: فَإِذَا قَتَلْتُمْ فَأَحْسِنُوا الْقِتْلَةَ:

په قتلولو کښي د نرمي حکم: مطلب داچه په ميدان جهاد کښي يا قصاص کښي څوك وژل وی نو په دغه قتل کښي هم سليقه اختيارکړئ چه تکليف ورنه کړي اوشکل وران نه کړي شی ټکړي ټکړي کولوسره مه قتل کوئ.

قوله: وَإِذَا ذَبَحْتُمْ فَأَحْسِنُوا الذَّبْحَ،

په ذبح کولو کښي د نرمي حکم: دغه شان په ذبح کښي هم سليقه اختيارکړئ چه دَ ضرورت نه زيات ښت مه پرې کوئ، چاړه ښه تيره کړئ اسلام دَ احسان او سليقې حکم ورکوی ليکن نن صباخلق بې سليقه راغلی دی چه دَ اسلام سليقه ته سليقې نه وائی

[1]) اخرجه مسلم فى كتاب الصيد/باب الأمر بإحسان الذبح والقتل. وتحديد الشفرة (رقم-۵۷ - (۱۹۵۵) وابوداود فى كتاب الضحايا/باب فى النهى أن تصبر البهائم. والرفق بالذبيحة (رقم۲۸۱۵) والترمذى فى كتاب الديات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى النهى عن المثلة (رقم-۱٤۰۹) والنسائى فى كتاب الضحايا/باب حسن الذبح (رقم-٤٤۱۲) وابن ماجه فى كتاب الذبائح/باب إذا ذبحتم. فأحسنوا الذبح (رقم-۳۱۷۰)واحمد فى المسند: والترمذى فى/۱۲۳

[۳۰۷۳] څناور لره د نښه جوړولو ممانعت

۳۰۷۳ـ[۱۱] (¹) ۱ «وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. ۲ يَنْهَى أَنْ تُصْبَرَ بَهِيمَةٌ، أَوْغَيْرُهَا لِلْقَتْلِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابن عمر رضي الله عنهما وايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي ۲ چې حضور ﷺ د دې خبري نه منع فرمايله، چې يو چوپايه دي ۳ يا بل څه حيوان [اوتړلې شى ،نښه كړل شي] د وژلو دپاره، (بخاري ومسلم)

حل اللغات: ① أَنْ تُصْبَرَ: چه اوتړلې شى، ② بَهِيمَةٌ: څاروې.

تسهيلات:

قوله: يَنْهَى أَنْ تُصْبَرَ بَهِيمَةٌ، أَوْغَيْرُهَا لِلْقَتْلِ:

د تصبر په مفهوم كښې دوه ا قوال: ① چه څناور ئى دَ نښې دَپاره اوتړلو اوبيائى په هغه باندې غشى ورول شروع كړه يا ګولئى چلول ئى شروع كړه دې دَپاره چه مزه اوخوند هم واخلى اونښه ئى پخه شى داسخت منع دى څكه چه په دې كښې څناور ته تكليف وركول دى چه په ذبح كولوباندې يوزياتى سزا ده. دا مطلب راتلونكى رواياتوسره زيات مناسب دې په كوم كښې چه دَ صبراً په ځائى غرضاً لفظ راغلې دې.

② چه څناور ئى اوتړلو او خوراك څښاك ئى پرې بند كړو دې دَپاره چه مړشى تردې چه هغه له مرګ راغلو په دې صورت كښې به "للقتل" كښې لام اجليه وى "أى لأجل القتل" يعنى دَقتل دَپاره ئى اوتړلو.

[۳۰۷۵] ذى روح څيز لره نښه جوړونكى باندې لعنت

۳۰۷۵ـ[۱۲] (²) ۱ وَعَنْهُ، ۲ «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَعَنَ ۳ مَنِ اتَّخَذَ شَيْئًا فِيهِ الرُّوحُ غَرَضًا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابن عمر رضي الله عنهما وايي ۲ چې نبي كريم ﷺ په هغه سړي لعنت ويلي دي ۳ چې د يو جاندار (ساه لرونكى) شي لره په تړلو سره هغه نښه كړي (بخارى مسلم)

حل اللغات: ① غَرَضًا: نښه.

تسهيلات:

قوله: لَعَنَ مَنِ اتَّخَذَ شَيْئًا فِيهِ الرُّوحُ غَرَضًا:

(¹) اخرجه البخارى فى كتاب الذبائح والصيد/باب ما يكره من المثلة والمصبورة والمجثمة (رقم-۵۵۱۴) واحمد فى المسند: ۹۴/۲

(²) اخرجه البخارى فى كتاب الذبائح والصيد/باب ما يكره من المثلة والمصبورة والمجثمة(رقم-۵۵۱۵) ومسلم فى كتاب الصيد/باب النهى عن صبر البهائم (رقم-۵۹ - (۱۹۵۸) والنسائى فى كتاب الضحايا/باب النهى عن المجثمة (رقم-۴۴۴۱) واحمد فى المسند: ۸۶/۲

ذی روح څيز لره نښه جوړولو حرمت: امام نووی رحمه الله فرمائی چه دا ممانعت د تحريم دپاره دې ځکه چه نبی کريم ﷺ وفرمائيل چه کوم کس داسې وکړل نو په هغه د الله تعالی لعنت وی او د ممانعت وجه دا هم ده چه په دې فعل سره صرف يو ذی روح ته تکليف ورکول نه دی بلکه مال ضائع کول هم دی

[۴۰۷۶] د ذی روح څيز نښه جوړولو څخه ممانعت

۴۰۷۶- [۱۳] (۱) [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [۲] "«لَا تَتَّخِذُوا شَيْئًا فِيهِ الرُّوحُ غَرَضًا»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس رضی الله عنه وايي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل [۲] يو ساه لرونکي څيز (په ترلو سره) په مه نښه کوئ (مسلم)

تسهيلات: قوله: لَا تَتَّخِذُوا شَيْئًا فِيهِ الرُّوحُ غَرَضًا:

په نښه جوړولو کښې څلور قباحتونه امام نووی رحمه الله فرمائی چه دا نهی تحريمی ده. ځکه چه بل ځائی کښې ارشاد دې "لعن الله من فعل هذا". او په دغه طريقې سره ځناور ويشتلو کښې څلور قسمه قباحتونه دی.

① د مال ضائع کول ② عذاب ورکول.

③ إتلاف النفس (يعنی يو جان نفس هلاک کول)

④ که هغه ځناور حلال وو نو د شرعی حکم نه بغير ذبحه کول هلاک کول دی او که هغه ځناور حلال نه وو نو په دې صورت کښې دهغې د منافعو نه محروم کيدل لازم دی (مرقاة)

[۴۰۷۷] په مخ د وهلو او داغلو ممانعت

۴۰۷۷- [۱۴] (۲) [۱] وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الضَّرْبِ فِي الْوَجْهِ [۳] وَعَنِ الْوَسْمِ فِي الْوَجْهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر رضی الله عنه وايي [۲] چې رسول الله ﷺ په مخ د وهلو نه منع فرمائيلې ده [۳] او په مخ د داغلو نه ئې منع فرمايلې ده. [يعنی يو سړي يا حيوان په مخ په څپيړه يا په دره وغيره دې نه وهل کيږی. او نه دې چاته په مخ داغ ورکول کيږی] (مسلم)

حل اللغات: ① الْوَسْم: داغ

---

(۱) اخرجه مسلم فی کتاب الصيد/باب النهی عن صبر البهائم (رقم-۱۹۵۸) والنسائی فی کتاب الضحايا/باب النهی عن المجثمة (رقم-۴۴۴۳) وابن ماجه فی کتاب الذبائح/باب النهی عن صبر البهائم. وعن المثلة (رقم-۳۱۸۷) واحمد فی المسند: اخرجه البخاری فی ۲۱۶/

(۲) اخرجه مسلم فی کتاب الأشربة/باب النهی عن ضرب الحيوان فی وجهه ووسمه فيه (رقم-۱۰۶ - (۲۱۱۶) والترمذی فی کتاب الجهاد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی کراهية التحريش بين البهائم والضرب والوسم فی الوجه (رقم-۱۷۱۰) واحمد فی المسند: ۳۱۸/۳

تسهيلات:

قوله: عَنِ الضَّرْبِ فِي الْوَجْهِ:

په جهاد كښې په مخ د وهلو اجازت: يعنى يو انسان لره په مخ باندې د وهلو نه منع شوى ده خو د جنګ په وخت كښې كافر په مخ وهل جائز دى

په مخ باندې داغ لګولو كښې مختلف روايات ① بعضې روايتونو نه نهى معلوميږى ② بعضې روايتونو نه جواز علوميږى

نبى كريم ﷺ حضرت ابى ابن كعب رضي الله عنه ته داغ لګولې وو او هم دغه شان حضرت سعد بن عباده رضي الله عنه او حضرت اسعد بن زراه رضي الله عنه ته ني هم د داغ لګولو اجازت وركړې وو.

نوټ: د داغ لګولو په باره كښې تفصيل د حديث نمبر (۴۵۱۶) په شرح كښې تيرشوې دې

[۴۰۷۸] د څناورو په مخ د داغ لګولو حرمت

۴۰۷۸–[۱۵] (۱) ① وَعَنْهُ، ② «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَيْهِ حِمَارٌ ③ وَقَدْ وُسِمَ فِي وَجْهِهِ، ④ قَالَ: "لَعَنَ اللَّهُ الَّذِي وَسَمَهُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت جابر رضي الله عنه وايي ② چې [يوه ورځ] د نبي كريم ﷺ مخې ته يو خر تير شو، ③ چې هغه ته په مخ داغ وركول شوې وو، ④ حضور ﷺ (د هغه په ليدو سره) وفرمايل په هغه سړي دې لعنت وي چا چې دې داغلي دي. (مسلم)

تسهيلات: قوله: لَعَنَ اللَّهُ الَّذِي وَسَمَهُ:

په مخ د داغ لګولو حرمت: دَ ساه لرونكى په مخ او خله باندې داغ لګول منع دى كه هغه انسان وى او كه څناور.

دَ مخ اوخلې نه علاوه دَ بدن په نورو حصوباندې داغ وركول جائزدى څكه چه دَ راتلونكو رواياتو نه ثابت دى.البته دَ انسان بدن داغلونه په بعضو رواياتوكښې مطلقًا ممانعت راغلې دې

د داغ لګولو د ممانعت دوه وجوهات: ① دا نهى شفقةً ده چه حضور پاك په نورو اسبابوسره دَ علاج ترغيب وركړې دې څكه چه په اور سره داغلوكښې سخت تكليف كيږى اوكله چه نور علاج ناكام شى نو په آخرى مجبورئى سره داغ وركول صحيح دى لكه چه وئيلى شوى دى "آخرالداء الكئ" بلكه كه مجبورى وى نو په مخ باندې هم داغ لګول جائزدى

② اهل جاهليت به داغ وركول يو كرشماتى او قطعى يقينى علاج ګڼړلو لكه چه داغ وركول دَ هغوى دَ وهم پرستئى يوه حصه وه په دې وجه مسلمانان منع كړې شو

[۱] اخرجه مسلم فى كتاب الأشربة/باب النهى عن ضرب الحيوان فى وجهه ووسمه فيه(رقم-۱۰۷ - (۲۱۱۷) وابوداود فى كتاب الجهاد . باب النهى عن الوسم فى الوجه والضرب فى الوجه (رقم - ۲۵۶٤) واحمد فى المسند:وابوداود فى/۲۹۷

[۴۰۷۹] د ضرورت په وجه د حيوان د داغولو اجازت

۴۰۷۹-[۱۶] ()[1] [۱] «وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] غَدَوْتُ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ [۳] لِيُحَنِّكَهُ، [۴] فَوَافَيْتُهُ فِي يَدِهِ الْمِيسَمُ [۵] يَسِمُ إِبِلَ الصَّدَقَةِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس ﷺ وايي [۲] چې يوه ورځ ما د سحر په وخت کې عبدالله ابن ابي طلحه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر کړو، [۳] چې حضور ﷺ کجور ژوولو سره د هغه په تالو کې ولګوي، [۴] نو هغه وخت ما حضور ﷺ په داسې حالت کې وليدو چې په لاس مبارک کې يې د داغلو آله وه، [۵] چې د هغې په ذريعه يې د زکوة اوښان داغل (بخاري ومسلم)

حل اللغات: ① لِيُحَنِّكَهُ: دتحنيک نه دي، کجوره جونيلو سره د ماشوم په تالو کښې ايخودل ② الْمِيسَمُ: د داغ لګولو آله، لکه چه سيخ وغيره شو.

تسهيلات:

قوله: غَدَوْتُ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ بِعَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ لِيُحَنِّكَهُ:

دتحنيک طريقه: دَ تحنيک عمل دادې چه سړې په خپله خله کښې کهجورې او چيوى اولعاب جوړکړې اوبيا هغه دَ نوى راپيدا شوى ماشوم په تالوپورې اولګوى په هغه اوختى دې دَپاره چه دَ نيک سړى مبارک لعاب دَ ماشوم خوراک جوړشى.

[۴۰۸۰] چيلئ په غوږ داغول

۴۰۸۰-[۱۷] ()[2] [۱] وَعَنْ هِشَامِ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، [۲] قَالَ: «دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [۳] وَهُوَ فِي مِرْبَدٍ [۴] فَرَأَيْتُهُ يَسِمُ شَاءً، [۵] حَسِبْتُهُ قَالَ: [۶] فِي آذَانِهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت هشام ابن زيد د حضرت انس ﷺ نه روايت کوى، [۲] هغه وايي چې يوه ورځ زه د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر شوم، [۳] هغه وخت حضور ﷺ د څناورو په سرايى (پنډ غال) کې وو، [۴] ما وليدو چې حضور ﷺ د بزو وغيره په اندامونو داغ لګوى، [۵] [هشام وايي] چې زما ګمان دې چه حضرت انس ﷺ دا بيان کړي دي، [۶] چې حضور ﷺ د هغه بزو وغيره په غوږونو داغ لګولو. (بخاري ومسلم)

[1] اخرجه البخاري في كتاب الزكاة/باب وسم الإمام إبل الصدقة بيده (رقم-۱۵۰۲) ومسلم في كتاب الأشربة/باب جواز وسم الحيوان غير الآدمي في غير الوجه، وندبه في نعم الزكاة والجزية (رقم-۱۰۹ - (۲۱۱۹)

[2] اخرجه البخاري في كتاب الذبائح والصيد/باب الوسم والعلم في الصورة (رقم-۵۵۴۲) ومسلم في كتاب الأشربة/باب جواز وسم الحيوان غير الآدمي في غير الوجه، وندبه في نعم الزكاة والجزية (رقم-۱۱۱ - (۲۱۱۹) وابوداود في كتاب الجهاد/باب في وسم الدواب (رقم-۲۵۶۳)

تسهیلات:

قوله: وَهُوَ فِي مِرْبَدٍ:

د مربد په تشریح کښې پنځه اقوال:

① هغه ځائ کوم کښې چه اوښان او غواګانې تړلې شي.

② امام طیبی رحمه الله فرمائي چه "مربد" د اوښانو باړ ته وائي

③ بعضو حضراتو وئیلی دی چه کوم ځائی کښې اوښان او ګډی بیزی تړلې شی هغې ته "مربد" وئیلې شی.

د غوږ د مخ څخه خارج کیدو دلیل: دا رنګ دې حدیث نه دا خبره معلومیږی چه غوګ په مخ کښې شامل نه دې ځکه چه په مخ باندې د داغ لګولو نه منع فرمائیلی شوې ده او که د غوګ تعلق مخ سره وې نو نبی کریم ﷺ به په غوګ باندې داغ نه لګولې. نو لهذا دا معلومه شوه چه د ځناور په غوګ باندې داغ لګول جائز دی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۴۰۸] په تیره څیز سره د ذبح کولو جواز

۴۰۸-[۱۸] ()[1] ①«عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ② قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! أَرَأَيْتَ ③ أَحَدُنَا أَصَابَ صَيْدًا ④ وَلَيْسَ مَعَهُ سِكِّينٌ ⑤ أَيَذْبَحُ بِالْمَرْوَةِ ⑥ وَشِقَّةِ الْعَصَا؟ ⑦ فَقَالَ: "أَمْرِرِ الدَّمَ بِمَ شِئْتَ، ⑧ وَاذْكُرِ اسْمَ اللّٰهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① او د حضرت عدي ابن حاتم رضی الله عنه نه روایت دي ② چې هغه عرض وکړو یا رسول الله ﷺ ماته دا اووایه ③ چه که په مونږ کې یو سړي د [یو حیوان] ښکار ونیولو. ④ او هغه وخت د هغه سره چاړه نه وي، ⑤ نو آیا هغه د یو کاڼي په ټکړې سره هغه ښکار ذبح کولي شي؟ ⑥ یا د یو لرګي په دره [یا نل سره] ئې ذبح کولې شی؟ ⑦ حضور ﷺ وفرمایل ته چې په کوم څیز سره غواړې وینه یې وبهیوه ⑧ او بسم الله اووایه. (ابوداؤد نسائي)

حل اللغات: ① سِكِّينٌ: چاړه، ② الْمَرْوَةِ: تیره کاڼړې، ③ شِقَّةِ الْعَصَا: د لرګی یا نل تیره غاړه، ④ أَمْرِرِ الدَّمَ: تویه کړه وینه.

تسهیلات:

قوله: أَمْرِرِ الدَّمَ بِمَ شِئْتَ:

وینه بهونکی څیزباندې د ذبح جواز: یعنی وینه تویه کړه په هر څیزسره چه وی. دَحدیث دې

[1]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الضحایا/باب فی الذبیحة بالمروة (رقم-۲۸۲۴) والنسائی فی کتاب الصید والذبائح/باب الصید إذا أنتن (رقم-۴۳۰۴) وابن ماجه فی کتاب الذبائح/باب ما یذکی به (رقم-۳۱۷۷) واحمد فی المسند: والترمذی فی/۲۵۶

عموم نه احنافو د جدا شوی غابس او جدا شوی نوك په ذریعې سره د ذبح په جواز بندي استدلال کړي دي يعنى بسم الله اووايه او وينه توئى کړه

[۴۰۸۳] د ذبح اضطراری حکم

۴۰۸۳-[۱۹] (۱) [۱] «وَعَنْ أَبِي الْعُشَرَاءِ عَنْ أَبِيهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، أَنَّهُ قَالَ: [۲] يَا رَسُولَ اللّٰهِ! أَمَا تَكُونُ الذَّكَاةُ إِلَّا فِي الْحَلْقِ وَاللَّبَّةِ؟ [۳] فَقَالَ: "لَوْ طَعَنْتَ فِي فَخِذِهَا لَأَجْزَأَ عَنْكَ». [۴] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ، [۵] وَقَالَ أَبُو دَاوُدَ: وَهٰذِهِ ذَكَاةُ الْمُتَرَدِّي. [۶] وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا فِي الضَّرُورَةِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوالعشراء د خپل پلار محترم نه نقل کوي چې هغه عرض وکړو [۲] يا رسول الله ﷺ آيا د شرعي ذبح تعلق د حلق او سيني د سر درميانه حصي سره دی؟ يعنى آيا په شرعى طور سره ذبح دې ته ونيل کيدي شى، چې د حيوان د حلق او د سينى د سر درميان نه په جراحت سره وينه وبهيول شي؟ [۳] حضور ﷺ وفرمايل که ته د ښکار په ورنونو کې هم جراحت (زخم) ورسوي، نو ستا د پاره به کافي وي. [۴] ترمذي، ابوداؤد، نسائي، ابن ماجه، دارمي، [۵] امام ابوداود رحمه الله فرمايي [چې په دې حديث کې د مذکوره ذبح اجازت ورکولے] د هغه حيوان سره متعلق دي چې په کوهي کې لويدلي وي. يعنى دا د ذبح اضطراري د صورت حکم دي، [۶] او امام ترمذي رحمه الله ويلي دي چې د ضرورت د حالت حکم دي.

حل اللغات: ① الذَّكَاةُ: شرعى ذبح او حلالې ته زکات وائى ② الْحَلْقِ: مرئ، حلق. ③ اللَّبَّةِ: دحلق او سينې د سر مينځنئ حصه ④ لَوْ طَعَنْتَ: که ته زخم کړې،

تسهیلات:

قوله: أَمَا تَكُونُ الذَّكَاةُ إِلَّا فِي الْحَلْقِ وَاللَّبَّةِ؟:

په اضطراری حالت کښې دمطلق زخم کفایت: يعنى آيا ذبح صرف د سينې او حلق په مينځ کښې وی بل ځائى نه وی؟ په دې جمله کښې استفهام دې ددې په جواب کښې نبى کريم د ذبح اضطرارى عموم اوخودلو چه اضطرارى ذبح کښې چرته هم زخم اولګولې شى مکمل به وى مرئى سره خاص نه ده البته اختيارى ذبح هم په مرئى کښې وى

[۴۰۸۴] د تربيت شوى سپى ښکار که مرشى؟

۴۰۸۴-[۲۰] (۲) [۱] وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [۲] "«مَا عَلَّمْتَ

---

(۱) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الضحايا/باب ما جاء فى ذبيحة المتردية (رقم-۲۸۲۵) والترمذى فى كتاب الأطعمة/باب ما جاء فى الذكاة فى الحلق واللبة (رقم-۱۴۸۱) والنسائى فى كتاب الضحايا/باب ذكر المتردية فى البئر التى لا يوصل إلى حلقها (رقم-۴۴۰۸) وابن ماجه فى كتاب الذبائح/باب ذكاة الناد. من البهائم (رقم-۳۱۸۴)واحمد فى المسند: والترمذى فى/۲۳۴

(۲) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الصيد/باب فى الصيد (رقم-۲۸۵۱)

مِنْ كَلْبٍ، أَوْ بَازٍ، ۳ ثُمَّ أَرْسَلْتَهُ، ۴ وَذَكَرْتَ اسْمَ اللَّهِ ۵ فَكُلْ مِمَّا أَمْسَكَ عَلَيْكَ". ۶ قُلْتُ: وَإِنْ قَتَلَ؟ ۷ قَالَ: إِذَا قَتَلَهُ وَلَمْ يَأْكُلْ مِنْهُ شَيْئًا ۹ فَإِنَّمَا أَمْسَكَهُ عَلَيْكَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ اوحضرت عدى ابن حاتم رضی الله عنه روايت كوي چې نبي كريم صلی الله علیه وسلم وفرمايل ۲ كوم حيوان چې تا تربيت يافته كړو، كه هغه سپي وي يا باز. ۳ او بيا تا هغه په يو ښكار پسې پريخودو، ۴ او د پريخودلو په وخت دې د الله جل جلاله نوم واخستو. ۵ نو ته هغه ښكار خوره، چې هغه [سپي يا باز] ستا د پاره نيولي دي، ۶ ما عرض وكړو كه چيرى هغه، هغه ښكار وژلي وي؟ ۷ حضور صلی الله علیه وسلم وفرمايل هر كله چې هغه [سپي يا باز] ښكار مړ كړي، اوخپله د هغې نه څه ونه خوري، ۹ نو [ددې مطلب د دې نه سوا نور هيڅ نشي كيدي چې] هغه هغه ښكار ستا د پاره نيولي دي. (ابوداؤد)

نوټ: د ترجمې څخه مطلب واضح دې.د مزيدتفصيل ضرورت نشته.

[۴۰۸۳] په يوشرط سره د مړ شوي ښكار حلت

۴۰۸۳-[۲۱] (۱) ۱ وَعَنْهُ، قَالَ: «قُلْتُ: ۲ يَا رَسُولَ اللَّهِ! أَرْمِي الصَّيْدَ ۳ فَأَجِدُ فِيهِ مِنَ الْغَدِ سَهْمِي. ۴ قَالَ: " إِذَا عَلِمْتَ أَنَّ سَهْمَكَ قَتَلَهُ ۵ وَلَمْ تَرَ فِيهِ أَثَرَ سَبُعٍ فَكُلْ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ او حضرت عدي ابن حاتم رضی الله عنه وايي چې ما عرض وكړو ۲ يا رسول الله صلی الله علیه وسلم زه په ښكار خپل غشى چلوم، ۳ او بيا په بله ورځ چې په هغه كې خپل غشى اوموم [آيا هغه ښكار خوړې شم؟] ۴ حضور صلی الله علیه وسلم وفرمايل چې په دې صورت كې كه ته په دې پوهه شي. چې هغه ښكار ستا غشى وژلي دې، ۵ او په هغه ښكار كې ته د يو درنده نښه بيا نه مومي، نو هغه خوړې شي، [اوكه په هغه ښكار كې د يو درنده د غاښ يا پنچې وغيره څه نښه بيا مومې، يا د بل چا د غشى علامت بيا مومي، نو په هغه صورت كې هغه مه خوره] (ابوداؤد)

تسهيلات:

قوله: إِذَا عَلِمْتَ أَنَّ سَهْمَكَ قَتَلَهُ وَلَمْ تَرَ فِيهِ أَثَرَ سَبُعٍ فَكُلْ:

دمشكوك ښكارعدم حلت: كه ورک شوې ښكار ملاوشى او د څه بلې وجهې نه دمړكيدو احتمال په كښې موجود وى نو بيا به دا ښكار بلكل نه شى خوړلې. مثلاً په اوبو كښې ډوب ملاوشو نو چونكه معلومات نشته چه دا په اوبو كښې دننه مړ شوې دې او كه د اوبو نه بهر مړ شوې دې لهذا داسى مشكوک ښكار خوړل جائز نه دى.

---

[1] اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأطعمة/باب فى كراهية التقذر للطعام (رقم-۳۷۸٤) والنسائى فى كتاب الصيد والذبائح/باب فى الذى يرمى الصيد فيغيب عنه (رقم-۴۳۰۰)

[٤٠٨٥] دمجوسی د سپی د ښکار حرمت

٤٠٨٥ـ [٢٢] (١) [١] وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [٢] «نُهِينَا عَنْ صَيْدِ كَلْبِ الْمَجُوسِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] او حضرت جابر رضي الله عنه وايي [٢] چې مونږ د مجوسيانو د سپي د نيولي ښکار د خوړلو نه منع کړې شوي يو (ترمذي)

تسهيلات: **قوله:** نُهِينَا عَنْ صَيْدِ كَلْبِ الْمَجُوسِ: که چرې ځناور ژوندې وی اومسلمان هغه ذبح کړی نوحلال به شی. سره ددې چه دمجوسی سپی نيولې وی ليکن که مړ شو نوحرام دې

دمجوسی د ښکار مختلف صورتونه ① مجوسی چه کوم ځناور ښکار کړی، خواه که هغه د خپل سپی په ذريعه وی او که دمسلمان د سپي په ذريعه وی نو ددې ښکار خوړل جائز نه دی ② که د مجوسی ښکار ژوندې ونيولې شی او بيا ئی مسلمان ذبح کړی نو ددې خوړل حلال دی، ③ که د مجوسی او د مسلمان سپي په شريکه يو ښکار وکړو نو دا هم حلال نه دې.④که د مجوسی او د مسلمان سپي په شريکه يو ښکار وکړو نو که ژوندې وو نو په ذبح کولو سره حلال دې

لهذا دا حديث په دې خبره دليل دې چه ځنګه د غير مسلم ذبيحه حلال نه ده نو هم دغه شان د غير مسلم د سپي وغيره ښکار هم حلال نه دې.

[٤٠٨٦] دغير مسلم د لوښی داستعمال حکم

٤٠٨٦ـ [٢٣] (٢) [١] «وَعَنْ أَبِي ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قُلْتُ: [٢] يَا رَسُولَ اللّٰهِ! إِنَّا أَهْلُ سَفَرٍ [٣] نَمُرُّ بِالْيَهُودِ وَالنَّصَارَى وَالْمَجُوسِ، [٤] فَلَا نَجِدُ غَيْرَ آنِيَتِهِمْ. [٥] قَالَ: "فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا غَيْرَهَا [٦] فَاغْسِلُوهَا بِالْمَاءِ، [٧] ثُمَّ كُلُوا فِيهَا وَاشْرَبُوا»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] او حضرت ابو ثعلبه خشني رضي الله عنه وايي چې ما عرض وکړو [٢] چې يا رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ زيات د سفر کونکی خلق يو، [٣] د يهوديانو. عيسائيانو اومجوسيانو په آباديو زمونږ تيريدل کيږي. [٤] هغه وخت د هغوئ د لوښونه علاوه بل لوښي مونږ سره نه وي (نو آيا مونږ د هغوئ په لوښو کې خوړلې او څکلې شو؟) [٥] حضور صلی الله علیه وسلم وفرمايل که تاسو د هغوئ د لوښو نه علاوه بل لوښي بيا نه مومئ، [٦] نو د هغوئ لوښې په اوبو سره ښه وينځئ. [٧] او بيا په هغې کې خورئ اوڅکئ (ترمذي)

[١] اخرجه الترمذي في السنن كتاب الصيد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في صيد كلب المجوس (رقم-١٤٦٦) وابن ماجه في كتاب الصيد/باب صيد كلب المجوس. والكلب الأسود البهيم (رقم-٣٢٠٩)

[٢] اخرجه الترمذي في السنن كتاب الصيد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء ما يؤكل من صيد الكلب وما لا يؤكل (رقم-١٤٦٤) واحمد في المسند: ١٩٣/٤

تسهيلات:

نوټ: ددې باب حديث نمبر (۴۰۶۶) كښې دَ زير بحث حديث د مضمون تفصيل تيرشوې دې

[۴۰۸۴] غيرمسلمو سره د خوراك حكم

۴۰۸۴–[۲۳] (۱) وَعَنْ قَبِيصَةَ بْنِ هُلْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، [۲] قَالَ: «سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ طَعَامِ النَّصَارَى [۳] وَفِي رِوَايَةٍ: سَأَلَهُ رَجُلٌ [۴] فَقَالَ: إِنَّ مِنَ الطَّعَامِ طَعَامًا أَتَحَرَّجُ مِنْهُ [۵] فَقَالَ: "لَا يَتَخَلَّجَنَّ فِي صَدْرِكَ شَيْءٌ [۶] ضَارَعْتَ فِيهِ النَّصْرَانِيَّةَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] اوحضرت قبيصه بن هلب رحمه الله د خپل پلار نه روايت كوي [۲] چې هغه اوويل چې ما د رسول الله ﷺ نه د عيسائيانو د طعامونو باره كې پوښتنه وكړه [چې مونږ خلق يې وخورو كه نه؟] [۳] او په يو روايت كې داسې دي چې په دې باره كې يو سړي د حضور ﷺ نه مسئله وپوښتله، [۴] هغه عرض وكړو چې په طعامونو كې يو طعام [يعني د يهوديانو او د عيسايانو طعام] داسې دې، چې د هغې نه زه پرهيز كوم، [۵] حضور ﷺ ورته وفرمايل چې ستا په زړه كې د څه شي [يعني د شك وشبهې] انديښنه پيدا كيدل نه دي پكار، [۶] [ګنې] تا د خپل دې عمل په ذريعه د عيسائيت مشابهت اختيار كړي دې. (ترمذي ابوداؤد)

حل اللغات: ① أَتَحَرَّجُ: زه حرج محسوسوم اوبياډډه كوم. ② لَا يَتَخَلَّجَنَّ: دادَ خلجان نه دې يعني ستا په زړه كښې څه خلجان اويره نه ده تيريدل پكار. ③ ضَارَعْتَ: دا دَ مضارعت نه دَمشابهت په معنى كښې دې.

تسهيلات:

قوله: لَا يَتَخَلَّجَنَّ فِي صَدْرِكَ شَيْءٌ ضَارَعْتَ فِيهِ النَّصْرَانِيَّةَ:

بې ځايه د شك كولو ممانعت: مسلمانانو له پكاردى چه تركومې پورې دَحرمت يقين نه وى صرف دَ شك په بنياد باندې دې څه څيز نه حراموى.

قوله: ضَارَعْتَ فِيهِ النَّصْرَانِيَّةَ:

دنصرانيت د ذكر كولووجه: سوال كونكې چونكه عدى بن حاتم وو چه اول عيسائى وو په دې وجه نبى كريم دَ نصاراؤ ذكر اوفرمائيلو. او ورته ئې اوفرمائيل په دې طرز عمل سره تادَ نصاراؤ مشابهت اختيار كړو ځكه چه هغوى په خپل ځان باندې ډيره سختى كوى او لږ شان شك راتلو سره په خپل ځان باندې حلال خوراك حراموى.

---

[۱] اخرجه ابو داود فى السنن كتاب الأطعمة/باب فى كراهية التقذر للطعام (رقم-۳۷۸٤) والترمذى فى كتاب السير عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى طعام المشركين (رقم-۱۵۶۵) وابن ماجه فى كتاب الجهاد/باب الأكل فى قدور المشركين (رقم-۲۸۳۰)

[۴۰۸۸] په نښه ويشتلو سره د مړشوي حيوان د خوراک حکم

۴۰۸۸-[۲۶] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَكْلِ الْمُجَثَّمَةِ [۳] وَهِيَ الَّتِي تُصْبَرُ بِالنَّبْلِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابودرداء رضي الله عنه وايي [۲] چې رسول الله ﷺ د مجثمه خوړلو نه منع فرمايلې ده. [۳] او مجثمه هغه حيوان ته وايي چې هغه په تړلو سره د نښې په مثال ودرول شي. او بيا په غشو ويشتلو سره قتل کړل شي (ترمذي)

حل اللغات: ① الْمُجَثَّمَةِ: هِيَ الَّتِي تُصْبَرُ بِالنَّبْلِ: هغه ځاروې چه د نښې په طور غشي ويشتلو دپاره اوتړلې شي ② تُصْبَرُ: چه اوتړلې شي. ③ النَّبْلِ: غشي،

تسهيلات: **نوټ**: د حديث نمبر (۴۰۷۴) په تسهيل کښې ددې مضمون وضاحت تيرشوې دې هغې ته رجوع اوکړئ

[۴۰۸۹] د بعضې محرماتو بيان

۴۰۸۹-[۲۶] (۲) [۱] وَعَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ [۲] «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى يَوْمَ خَيْبَرَ [۳] عَنْ كُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ، [۴] وَعَنْ كُلِّ ذِي مِخْلَبٍ مِنَ الطَّيْرِ، [۵] وَعَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ، [۶] وَعَنِ الْمُجَثَّمَةِ، وَعَنِ الْخَلِيسَةِ، [۷] وَأَنْ تُوطَأَ الْحَبَالَى [۸] حَتَّى يَضَعْنَ مَا فِي بُطُونِهِنَّ».

ترجمه: [۱] او حضرت عرباض ابن ساريه رضي الله عنه وايي [۲] چې رسول الله ﷺ د خيبر په ورځ د دې ځناورو د خوړلو نه منع وفرمايله، [۳] داړه ور درنده، [۴] پنجه ور مرغان. [۵] د کورني خرونو غوښه [۶] مجثمه اوخليسه. [۷] او [حضور ﷺ په جهاد کې نيول شوي] د هغه ښځو سره د جماع کولو نه هم منع وفرمايله، کومې چې حاملې وي، [۸] تر څو چې هغه کوشنې پيدا نشي. کوم چې د هغوئ په خيټه کې وي،

حل اللغات: ① السِّبَاعِ: په غاښونو سره ښکار کونکي ځناور. ② ذِي مِخْلَبٍ: په پنجه سره ښکار کونکي مارغان. ③ الْمُجَثَّمَةِ: هغه ځاروې چه د نښې په طور غشي ويشتلو دپاره اوتړلې شي ④ الْخَلِيسَةِ: د شرمښ يا بل درنده نه اخستلې حيوان چه ذبحې نه مخکښې مړ شي، ⑤ تُوطَأَ: چه وطی کړې ⑥ الْحَبَالَى: حامله ښځه ⑦ يَضَعْنَ: ماشوم زيګوي .

[۱] قَالَ: مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى: [۲] سُئِلَ أَبُو عَاصِمٍ عَنِ الْمُجَثَّمَةِ، [۳] فَقَالَ: أَنْ يُنْصَبَ الطَّيْرُ، أَوِ الشَّيْءُ [۴] فَيُرْمَى [۵] وَسُئِلَ عَنِ الْخَلِيسَةِ، [۶] فَقَالَ: الذِّئْبُ، أَوِ السَّبُعُ [۷] يُدْرِكُهُ الرَّجُلُ فَيَأْخُذُ مِنْهُ [۸] فَيَمُوتُ فِي يَدِهِ قَبْلَ أَنْ يُذَكِّيَهَا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

---

(۱) اخرجه الترمذي في السنن كتاب الأطعمة/باب ما جاء في كراهية أكل المصبورة (رقم-۱۴۷۳)

(۲) اخرجه الترمذي في السنن كتاب الأطعمة/باب ما جاء في كراهية أكل المصبورة (رقم-۱۴۷۴) واحمد في المسند: ۱۲۷/۴

ترجمه: [۱] حضرت محمد ابن يحيي اچې د امام ترمذي رحمه الله شيخ او استاذ دې او د حديث د راويانو نه يو راوي دې) وايي[۲] چې زما د شيخ او استاذ حضرت ابو عاصم نه د مجثمي د معني پوښتنه وشوه،[۳] نو هغه وفرمايل اچې د مجثمه مطلب دا دې) چې يو مارغه يا مرغۍ (الوتونكي يا ځريدونكي) ترلو سره ودرول شي.[۴] او بيا هغه په غشو ويشتلو سره قتل كړل شي،[۵] دغه شان (دحضرت ابو عاصم نه) د خليسه د معني پوښتنه وشوه،[۶] نو وي فرمايل چې د دې مطلب دا دې چې شرمښ يا بل درنده (شلونكي) يو حيوان ونيولو) [۷] او بيا يو سړې د هغه درندې نه هغه حيوان په زور واخلي.[۸] او هغه حيوان د ذبح كيدو نه مخكې د هغه سړي په لاس كې مړ شي (ترمذي)

تسهيلات:

قوله: ذِي مِخْلَبٍ:

د ذى مخلب ځناور دښكار حكم: يعني كومه مرغئى چه په پنجو باندې شلول كوى لكه باز، شكره تيپوس چرغ او ګدهـ دَ پنجو په ذريعه نورې مرغئى شلوى اوخورى يعنى ذى ناب اوذى مخلب په دې صورت كښې حرام دى چه هغوى په ناب او مخلب سره ښكار كوى كه چرې ښكار نه كوى نو هغه حرام نه دې لكه اوښ ذى ناب دې مګرپه ناب سره ښكار نه كوى

قوله: وَعَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ:

دحمر دوه قسمونه: ① دې نه كورنى ساتلې شوى خره مراد دى ددې غوښه حرامه ده.
② ځنګلى خره حلال دى كوم ته چه زيبرا وائى دا د افريقه په ځنګلونو كښې په كثرت سره ملاويږى.

قوله: وَعَنِ الْخَلِيسَةِ:

دخليسه د ښكار حكم: يعنى ازمرى يا ليوه چه چيلئى ښكار كړه اويوانسان هغه راخلاصه كړه مګر هغه چيلئى مړه شوې وه دې ته خليسه وائى دا چونكه مرداره شوې ده په دې وجه دَ مسلمان دَپاره دَدې خوړل حرام دى.

قوله: **قوله:** وَأَنْ تُوطَأَ الْحَبَالَى حَتَّى يَضَعْنَ مَا فِي بُطُونِهِنَّ:

د حاملې وينزې سره دجماع كولو حرمت: يعنى دَ چا لاس ته وينځه راغله چه حامله ده نو وضع حمل پورې دې سره جماع كول جائز نه دى دې نه منكوحه حامله ښځه مراد نه ده. كه چرې وينځه حامله نه وى نودَ يوحيض راتلو پورې انتظار ضرورى دې دا په جهاد كښې په لاس راتلونكې دَ وينځې خبره ده.

[۴۰۰] د شريطه د خوراک حرمت

۴۰۰ـ[۲۷] (۱) ۱ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ، ۲ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «نَهَى عَنْ شَرِيطَةِ الشَّيْطَانِ. ۳ زَادَ ابْنُ عِيسَى: ۴ هِيَ الذَّبِيحَةُ يُقْطَعُ مِنْهَا الْجِلْدُ ۵ وَلَا تُفْرَى الْأَوْدَاجُ، ۶ ثُمَّ تُتْرَكُ حَتَّى تَمُوتَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ حضرت ابن عباس ﷜ او حضرت ابوهريره ﷜ راويان دي ۲ چې رسول الله ﷺ د شريطه د خوړلو نه منع فرمايلي ده. ۳ ابن عيسى [د حديث يو راوي] دا مزيد بيان وكړو ۴ چې شريطه د شيطان دا ده چې د خناور [د حلق د پاسه] چمړه كټ كړي شي. ۵ او د هغه پوره رګونه كټ نه كړل شي، ۶ او بيا هغه پريخودل شي. تر دي چې هغه مړ شي (ابوداؤد)

حل اللغات: ① شَرِيطَةِ: چې د خناورو د حلق د پاسه چمړه كټ كړي شي، او دهغه پوره رګونه كټ نه كړل شي. او بيا سغه پريخودل شي، تر دي چې هغه مړ شي، ② الْجِلْدُ: څرمن. ③ وَلَا تُفْرَي: اوكټ نه كړي شي، ④ الْأَوْدَاجُ: رګونه دحلق.

تسهيلات: قوله: شَرِيطَةِ الشَّيْطَانِ:

دشريطه وضاحت: داد جاهليت د ناجائز ذبائح نه يوه وه هغه داسې چه خناور به ئې په مرئې كښې لږشان پرې كړو او ننبه به ئې پرې اولګوله او بيا به ئې پريخودو. پوره رګونه به ئې نه وو پرې شوى او په ترقيدو ترقيدوسره به مړشو داد شيطان ننبه ده كومه چه ناجائزده ځكه چه په دې كښې ډيرزيات ظلم هم دي اود رګونونه مسفوح وينه هم نه خارجيږى نوحرام مردار دي

قوله: وَلَا تُفْرَى الْأَوْدَاجُ

د ذبحې سره متعلق دمرئ څلور رګونه: ① حلقوم: دې دې سره دساه تعلق دې درمختار كښې دا راجح او صحيح ګرځولې شوې دي

② مرئ دې كوم سره چه دخوراك څښاك تعلق دي

③-④ باقي دوو ته ودجان وائي چه دمرئي په مخامخ حصه كښې وى حلقوم اومرى ددې په مينځ كښې وى دې ته شه رګ هم وائى

د رګونو په كټ كولو كښې شرعى ضابطه: په دې څلورو واړو كښې چه كوم درې پرې شى شرعى ذبح به مكمل شى په حديث كښې د أوداج لفظ د څلورو واړو رګونودپاره ونيلې شوي دي كه چرې دوه رګونه كټ شى اوباقى دوه پاتې شى نو ذبح به نه كيږى

) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الضحايا/باب فى المبالغة فى الذبح (رقم-۲۸۲۶) واحمد فى المسند: اخرجه البخارى فى ۲۸۹/

[۲۰۹] د ذبيحه د خيټې د بچي حکم

۲۰۹-[۲۸] (١) ① وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ② " «ذَكَاةُ الْجَنِينِ ذَكَاةُ أُمِّهِ» " رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت جابر ﷺ راوي دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل ② د مور ذبح کول د خيټې د بچي هم ذبح کول دي، (ابوداؤد دارمي) ترمذی دا روايت د حضرت ابو سعيد نه نقل کړې دي

حل اللغات: ① ذَکَاةُ: شرعی ذبحه، ② اَلْجَنِين: د حمل ماشوم بچې.

تسهيلات:

قوله: ذَكَاةُ الْجَنِينِ ذَكَاةُ أُمِّهِ "يعنی دَ مور ذبح دَهغې په خيټه کښې دَ بچی ذبحه ده

د مور د ذبحې څخه پس د بچې دوه صورتونه: تفصيل داسې دې چه چرته حامله څناور ذبحه کړې شی اودَ ذبح نه پس دَهغې دَ خيټې نه دَهغې بچی راؤوتلو نودَدې دوه صورتونه دی

① که بچې ژوندې وی يا به مړوی. که چرې ژوندې راؤوتلو نواتفاقًا دَ هغه ذبح ضروری ده دَ ذبح نه بغيريه حلال نه وی.

② که چرې بچې مړ شوې دې نوپه هغې کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې.

په دويم صورت کښې ۲ مذاهب:

① دَ جمهورو او صاحبينو په نيزذبح کيدو نه بغير هغه بچې حلال طيب دې دَمور ذبح کيدل دَ هغې دَ بچی دَ ذبح دَپاره کافی دی په دې شرط چه د بچی اندامونه پوره وی اودَ هغه په بدن باندې ويښته راغلې وی

② امام ابوحنيفه ﷺ فرمائی دغه شان بچې مردار دې اودَهغې خوړل حرام دی

د اول فريق دلائل: ① مذکوره حديث دَ جمهورو دليل دې هغوی "ذکاة أمه"مرفوع گرځوی دَ کوم نه چه هغوی استدلال کوی يعنی دَجنين ذبح هم دغه ده چه دَهغه مور ذبح شی

د اول فريق د دليل جواب: د حديث مفهوم هغه نه دې کوم چې تاسو اخستې دې بلکه دا حديث په تشبيه باندې محمول دې يعنی "ذکاة الجنين کذکاة أمه" دَدې مطلب واضح دې چه څنګه مو مور ذبح کړې ده دغه شان دَهغې بچې هم ذبح کړئی ذبح کولو طريقه هم يوشان ده په دغه بچی باندې ترس خوړلوسره بغيردَ ذبح مه پريږدئی بل دا خيال اونه کړئی چه دومره وړوکې بچې به ذبح سره حلال نه شی لکه څنګه چه بعضې خلق دا حلال نه ګڼړی. دَدې مطلب تائيد حديث کښې "ذکاة امه" منصوب لوستلو سره هم کيږی چه منصوب بنزع

(١) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الضحايا/باب ما جاء فی ذكاة الجنين (رقم-۲۸۲۷) والدارمی فی السنن رقم الحديث ۲۰۷۹

الخافض دي "اى كذكاة أمه" اودَدي مطلب تائيد راتلونكى حديث نمبر (٣٠٣) سره هم كيږي په كوم كښې چه صحابه كرامو د جنين غوړزولو اونه خوړلو يا دخوړلو سوال كړي دي په دي وجه دا حديث دجمهورو د مطلب نه دي

داول فريق دويم دليل: دوى قياس كوى چه ګوره په ساه اخستو كښې دَ خيټې بچې دَ مور تابع دي خرخولو او اخستلوكښي دَمور تابع دي خوراك څښاك مرګ او ژوندكښې دا بچې دَ مور تابع دي لهذا په ذبح كښې هم دا دمور تابع كيدل پكاردى څكه چه دا بچې دمور جزء متصل دي دَ جدا ذبح كولو ضرورت نشته دي

د دويم فريق دليل: كه چرې دا بچې دَ مور دَ ذبح زياتى دى اودَ هغې دَمرګ نه مخكښې مړشوې وى نودا "ميتة" دَ مردار په حكم كښې دي اوكه چرې دَ مور دَ مرګ نه پس ساه بنديدوسره مړشوې وى نودا "منخنقة" دَ ساه بنديدو والا حيوان په حكم كښې دي اودا دواړه حرام دى لهذا جنين حرام دي

د دويم فريق د دليل دوه جوابونه: ①دَ بچى دَ ذبح معامله په بيع وشراء وغيره باندې قياس كول جائز نه دى څكه چه په ذبح كښې انهار الدم وى. دا په خرخولو او اخستلو باندې قياس كول قياس مع الفارق دي

② بل دا معامله دَ مبيح او دَ محرم ده په داسې صورت كښې ترجيح محرم ته وركولې شى

[٣٠٣]د مورذبح د جنين ذبح ده

٣٠٣-[٢٩]()[١]«وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: [٢]قُلْنَا: يَارَسُولَ اللهِ! نَنْحَرُ النَّاقَةَ،[٣]وَنَذْبَحُ الْبَقَرَةَ وَالشَّاةَ،[٤]فَنَجِدُ فِي بَطْنِهَا الْجَنِينَ،[٥]أَنُلْقِيهِ أَمْ نَأْكُلُهُ؟[٦] قَالَ: "كُلُوهُ إِنْ شِئْتُمْ،[٧]فَإِنَّ ذَكَاتَهُ ذَكَاةُ أُمِّهِ» .رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١]اوحضرت ابوسعيد خدري ﷺ وايي[٢] چې مونږ عرض وكړو يا رسول الله ﷺ كوم وخت چې مونږ اوښه نحر كوو[٣] يا غوا يا بزه (چيلئ) ذبح كوو.[٤] نو بيا خله مونږ د هغه ذبيحې په خيټه كې مړ بچې بيا مومو.[٥] آيا مونږ هغه بچې وغورځوو، يا يې اوخورو؟ [٦] حضور ﷺ وفرمايل كه غواړئ نو وى خورئ.[٧] څكه چې د هغې د مور ذبح كول د هغه بچي هم ذبح كول دي (ابوداؤد ابن ماجه)

تسهيلات:

دنحر په ځائي دذبح كولو حكم: په دي حديث كښې د نحر او ذبح ذكر دي چه د اوښ نحر مسنون دي او د نورو څناورو متعلق ذبحه كولو حكم دي د ذبحه په صورت كښې چه د

() اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الضحايا/باب ما جاء فى ذكاة الجنين (رقم-٢٨٢٧) وابن ماجة رقم الحديث ٣١٩٩ واحمد فى المسند ٣/ ٣١

مرئ (حلق) کوم رګونه کټ کولې شی هغه ځلور دی، چه د کوم ذکر مخکې وشو. اوس که د ذبحه کونکو ځناورو نحر وکړې شی نو دا هم سره د کراهت جائز دې

قوله: أَنُلْقِيهِ أَمْ نَأْكُلُهُ؟

د غورځولو دوه وجوهات: ① چه دا مونږ اوغورځوو ددې وجهې چه دا مړ شی

② یا دا مونږ ددې وجهې دا اوغورځوو چه دا مردار دې

قوله: أَمْ نَأْكُلُهُ؟

دا کل په مفهوم کښې دوه اقوال: ①یعنی دا مونږه مستقل طور ذبحه کړو او وئې خورو

②ددې د مور په ذبحه باندې اکتفا وکړو، او د مور ذبحه ددې د حلالیدو دپاره کافی ده

دصحابؤد تپوس وجه: هرکله چې بچې سره د وړوکوالی د وجهې شفقت او محبت وی. نو ددې وجهې صحابه کرامو ته ردد وو چه ذبح ئی کړو که نه؟ نو نبی کریم ﷺ ورته مذکوره جواب ورکړو

[۴۰۳] بلا مقصده د حیوان د قتلولو ممانعت

۴۰۳ــ[۳۰] (¹) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، [۲] أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [۳] «مَنْ قَتَلَ عُصْفُورًا فَمَا فَوْقَهَا بِغَيْرِ حَقِّهَا، [۴] سَأَلَهُ اللّٰهُ عَنْ قَتْلِهِ» [۵] قِيلَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! وَمَا حَقُّهَا؟ [۶] قَالَ: «أَنْ يَذْبَحَهَا فَيَأْكُلَهَا، [۷] وَلَا يَقْطَعَ رَأْسَهَا فَيَرْمِيَ بِهَا». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالنَّسَائِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] اودحضرت عبدالله ابن عمرو ابن العاص نه روایت دې[۲] چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۳] که څوك مرغۍ یا د دې نه وړوکي [یا] لوي یو بل حیوان یا مارغه ناحقه ووژني. [۴] نو الله تعالی به د هغه نه د ناحق وژلو باره کې پوښتنه کوي.[۵] عرض وشو چې یا رسول الله! ﷺ د هغه مرغۍ وغیره حق څه دي؟[۶] حضور ﷺ وفرمایل دا چې هغه ذبح شي، [په بله طریقه دي هغه نه وژل کیږي]، او بیا دې هغه وخوړلې شي.[۷] دا نه چې د هغې سر کټ کولو سره وغور ځول شي. (احمد نسائي دارمي)

حل اللغات: ①عُصْفُورًا: چنچنړه، مرغۍ

تسهیلات:

قوله: مَنْ قَتَلَ عُصْفُورًا فَمَا فَوْقَهَا بِغَيْرِ حَقِّهَا، سَأَلَهُ اللّٰهُ عَنْ قَتْلِهِ:

د جائز مقصد دپاره د حیوان د قتلولو جواز: دَ یوځناور وژل ډیره لویه خبره ده او لویه حادثه ده. د جائزمقاصدنه علاوه په دې باندې اقدام نه دی کول پکار جائزمقصددادې چه دا ذبح کړې شی اواوخوړلې شی دا نه چه دَ لوبو توقویه غرض اووژلې شی او په استعمال کښې رانه وستلې شی. دَ ضرر لرې کولو دَپاره وژل هم جائزمقاصد کښې شامل دی.

---

¹) اخرجه النسائی فی السنن کتاب الضحایا/باب من قتل عصفورا بغیر حقها(رقم ـ۴۴۴۵)واحمد فی المسند:ومسلم فی /۶۶:

اشكال:

په دې حديث كښې عصفور طرف ته يو خل دَمؤنث ضمير راګرځولې شوې دې او په دويم خل دَمذكر ضمير راګرځولې شوې دې كوم چې د نحود قواعدو خلاف دې

داشكال درې جوابونه: ① علامه طيبي رحمه الله فرمائي چه دَ جنس په اعتبارسره دَ مؤنث ضمير راګرځولې شوې دې اودَ لفظ په اعتبارسره دَمذكرضمير راګرځولې شوې دې

② يا دَ مرغئي نه وركوټې ځناور وى اودَ غټوالي طرف ته هم اشاره كيدې شي چه مرغئي وى يادَ مرغئي نه غټ وى. [الكاشف:۸/۱۰۸]

③ په دې كښې دَ "زيدٌهاهو"قاعده خپله كړې شوې ده چه مؤنث په اعتبار دَ كلمة دې اومذكر په اعتباردَ لفظ دې "فمافوقها" دَ تحقيردپاره هم كيدې شي چه مرغئي وى

[۴۰۹۵] دژوندى حيوان دبدن څخه دكټ شوى اندام حكم

> ۴۰۹۵-[۳۱] (١) ① وَعَنْ أَبِي وَاقِدٍ اللَّيْثِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ② «قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ ③ وَهُمْ يَجُبُّونَ أَسْنِمَةَ الْإِبِلِ، ④ وَيَقْطَعُونَ أَلْيَاتِ الْغَنَمِ. ⑤ فَقَالَ: "مَا يُقْطَعُ مِنَ الْبَهِيمَةِ وَهِيَ حَيَّةٌ ⑥ فَهِيَ مَيْتَةٌ لَا تُؤْكَلُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُودَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت ابو واقد ليثي رضي الله عنه وايي ② كوم وخت چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم د مكې نه هجرت كولو سره مدينې ته تشريف راوړو، ③ نو هغه وخت د مدينې خلقو داسې كول چې د اوښ د قُب به ئې پرېكولو ④ او د پسه د لم بوټۍ به يې كټ كولې [او بيا به يې هغه خوړلو] ⑤ حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې كوم څيز د داسې حيوان د بدن نه كټ شي چې ژوندي وي، ⑥ نو هغه كټ شوې څيز مردار دې، هغه دې نه خوړل كيږي. (ترمذي ابوداؤد)

حل اللغات: ① يَجُبُّونَ: جَبَّ يَجُبُّ دَ پرې كولو په معنى كښې دې. ② أَسْنِمَةَ: دَ سنام جمع ده دَ اوښ او غوئي وغيره قب ته وائي ③ أَلْيَاتِ: دَ ألية جمع ده دَ ګډ لكئ او لم ته وئيلې شي

تسهيلات:

قوله: مَا يُقْطَعُ مِنَ الْبَهِيمَةِ وَهِيَ حَيَّةٌ فَهِيَ مَيْتَةٌ لَا تُؤْكَلُ.

دجاهليت د يورسم حرمت: دَجاهليت په دوركښې چه به كله عربو ته دَ غوښې ضرورت پيښ شو نودَ پوره ځناور دَ بچ كولو په غرض به ئې دَ ژوندى اوښ قب اودَ ژوندى ګډ لم پرې كولو اوغوښه به ئې استعمالوله. اسلام دَدې ظالمانه كار نه منع اوكړه اودغه شان جدا كړې شوې غوښه ئې حرامه اوګرځوله ځكه چه په دې كښې دم مسفوح شامل دې.

(١) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الصيد/باب كتاب الصيد/باب فى صيد قطع منه قطعة (رقم-٢٨٥٨) والترمذى فى كتاب الأطعمة/باب ما قطع من الحى فهو ميت (رقم-١٤٨٠) واحمد فى المسند: ٥/٢١٨

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۴۰۹۲] په اضطراري ذبحه کښې د مطلق وینې بهول

۴۰۹۲ - [۳۲] (١) ۱ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، «عَنْ رَجُلٍ مِنْ بَنِي حَارِثَةَ، ۲ أَنَّهُ كَانَ يَرْعَى لِقْحَةً ۳ بِشِعْبٍ مِنْ شِعَابِ أُحُدٍ، ۴ فَرَأَى بِهَا الْمَوْتَ، ۵ فَلَمْ يَجِدْ مَا يَنْحَرُهَا بِهِ، ۶ فَأَخَذَ وَتِدًا ۷ فَوَجَأَ بِهِ فِي لَبَّتِهَا ۸ حَتَّى أَهْرَاقَ دَمَهَا، ۹ ثُمَّ أَخْبَرَ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۱۰ فَأَمَرَهُ بِأَكْلِهَا». ۱۱ رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَمَالِكٌ. وَفِي رِوَايَةٍ: قَالَ فَذَكَّاهَا بِشِظَاظٍ.

ترجمه: ۱ حضرت عطاء ابن یسار د قبیلهٔ بن حارثه د یو سړي نه روایت کوي ۲ چې هغه [یوه ورځ] یوه اوښه چې لنګیدو ته نژدې وه، ۳ د احد د غره په یوه دره کې څروله، ۴ چه په هغې کې یې د مرګ اثار ولیدل، [یعنی هغه ولیدل چې اوښه په څه وجه مري] ۵ هغه وخت د هغه څه داسې څیز اونه موندو [چې دهغې په ذریعه هغه اوښه یې نحر کړي وي] ۶ آخر هغه یو میخ اوچت کړو ۷ او د هغې د څوکې د طرف نه د هغې اوښې په سینه کې یې ننه ایسته، ۸ تر دې چې د هغې وینه یې وبهیوله، ۹ بیا هغه دا واقعه رسول الله ﷺ ته بیان کړه، [او د هغې د غوښې باره کې یې پوښتنه وکړه چې په داسې صورت کې د هغې غوښه خوړل څرنګه دي؟] ۱۰ حضور ﷺ ورته د هغې د غوښې د خوړلو اجازت ورکړو ۱۱ ابوداؤد، مالك، او په یو روایت کې دا الفاظ دي چې آخر هغه په یو تیره [یعنی د څوکې والا لرګي سره ذبح کړله.

حل اللغات: ① يَرْعَى: څروله، ② لِقْحَةً: حامله اوښه چه لنګیدو ته نژدې وی. ③ بِشِعْبٍ: په یوه دره کښې، د غره په سر، ④ وَتِدًا: میخ، ⑤ فَوَجَأَ: نو ویتومبله، ⑥ لَبَّتِهَا: په مرئ دهغې کښې، ⑦ أَهْرَاقَ: اوښې بهیوله. ⑧ فَذَكَّاهَا: نو ذبحه ئې کړه، ⑨ شِظَاظٍ: تیره لرګي،

تسهیلات:

نوټ: د ګرانو لغاتو حل اوشو اود حدیث مطلب د تشریحی ترجمې څخه واضح دي

[۴۰۹۳] په دریابي ځناورو کې یواځې ماهی حلال دي

۴۰۹۳ - [۳۳] (٢) ۱ وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ " «مَا مِنْ دَابَّةٍ فِي الْبَحْرِ ۳ إِلَّا وَقَدْ ذَكَّاهَا اللَّهُ لِبَنِي آدَمَ» ". رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ.

ترجمه: ۱ او حضرت جابر رضی الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ د اوبو یو داسې حیوان نشته ۳ چې الله تعالی د بني آدم د پاره ذبح کړي نه وی. (دارقطني)

[1] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الضحایا/باب فی الذبیحة بالمروة (رقم-۲۸۲۳)

[2] اخرجه الدارقطنی فی السنن رقم الحدیث ٤ من کتاب الصید والذبائح

تسهيلات: يعنى په درياب كښې چه څومره ځناوردى الله تعالى هغه ذبح كړى دى او هغه دانسان دپاره حلال دى د دغه دريابى ځناورونه مراد كبان دى ځكه چه هرقسم كب د ذبح نه بغيرحلال دې

د كب نحخه علاوه د نورو دريابى ځناورو په حلت او حرمت كښې مذهبين:

① د كب نه علاوه نورسمندرى ځناور د جمهورو په نيز حلال دى نود هغوى په نيزدا حديث د ټولو دريابى ځناورو دپاره دې

② احناف صرف كب ته حلال وائى نودهغوى په نيز داحديث صرف د كب دپاره دې دا اختلاف مخكښې تير شوې دې

[۱]بَابُ ذِكْرِ الْكَلْبِ

دسپى متعلق داحكامو بيان

خلاصة الباب:

فيه ستة أحاديث مشتملة على أربع مسائل:

① شناعة إقتناء الكلب: ۱، ۲، ۵-

② ما يجوز إقتناءه من الكلاب ولا يقتل: ۱، ۲، ۵،۴-

③ حكم قتل الكلاب : ۳، ۴، ۵-

④ النهي عن تحريش الكلاب: ۶-

په مذكوره باب كښې د سپو درې قسمه احكام:

① دكوم قسم سپى ساتل جائزدى

② د كوم قسم سپو ساتل ناجائزدى.

③كوم قسم سپې وژل جائزدى.

په ابتداء د اسلام كښې د سپو د وژلو وجه:په جاهليت اولى كښې دخلقو په زړونوكښې د سپو دپاره ډير زيات محبت وو لكه نن صباچه دې. دذې محبت ختمولودپاره د اسلام په شروع كښې ډير زيات د سپو د وژلومهم شروع شوې وو كله چه د خلقو په زړونوكښې نفرت پيدا شو نوبيا د يوڅو قسم سپو ساتلو اجازت ملاؤشو اود شوقيه سپى ساتلو ممانعت راغلو

د څلورقسمه سپوساتلواجازت:د ټولو احاديثواود فقهاؤ د اقوالو څخه معلوميږى چه څلور قسمه سپى ساتل جائزدى

① د ځناورو د حفاظت په غرض. ② دښكاردپاره

③ د فصل دحفاظت دپاره ④ دكورد څوكيدارئى سپې هم شامل كړې دې.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۴۰۹۸] بلا ضرورته د سپي په ساتلو د ثواب کمیدل

۴۰۹۸-[۱] ()[۱] ۱ عَنِ ابْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا-قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ وَمَنِ اقْتَنَى كَلْبًا ۳ إِلَّا كَلْبَ مَاشِيَةٍ أَوْضَارٍ ۴ نَقَصَ مِنْ عَمَلِهِ كُلَّ يَوْمٍ قِيرَاطَانِ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ حضرت ابن عمر وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ کوم سړي چې سپي ساتي ۳ د خناورو د حفاظت کونکی سپي اود ښکاري سپي نه علاوه، ۴ نو د هغه د اعمالو په ثواب کې هره ورځ د دوو قيراطو په برابر کمي کيږي. (بخاري ومسلم)

حل اللغات: ① اقْتَنَى: اوني ساتلو، اوني پاللو، ② مَاشِيَةٍ: د چيلو رمه، ③ ضَارٍ: ښکاری سپي، ④ قِيرَاطَانِ: دا تشنيه ده دَدي مفرد قيراط دي قيراط دَ يو وزن نوم دي.

تسهیلات:

قوله: إِلَّا كَلْبَ مَاشِيَةٍ أَوْضَارٍ:

دکلب ضار نه مراد: دا هغه ښکاری سپی ته وائی چه دَ ښکار دومره شوق لری لکه چه ښکار دَهغه طبيعت ثانيه جوړشوي دي.

په روایاتو کښې د ضار مختلف الفاظ:

① بعضو کښې ضاری راغلي دي

② بعضې رواياتو کښې دا لفظ "ضارياً" راغلي دي

③ بعضوکښې ضار راغلي دي دټولو نه مراد ښکاری سپي دي.

قوله: قِيرَاطَانِ:

د قیراط په وزن کښې مختلف اقوال:

① دا دَ دينار دَ لسمې حصې دَنيمې برابر وی.

② دا نصف دانګ دي.

③ دا دَ اوربشو دَ پنځو دانوبرابر وی.

④ دا دَ دينارڅلورمه حصه ده.

⑤ دا سپکوالی په توګه دَ وړوکی شان څيزدَپاره هم يادولې شي

---

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب الأطعمة/باب الشواء (رقم-۵٤۰۰) ومسلم فی کتاب المساقاة/باب الأمر بقتل الكلاب، وبيان نسخه، وبيان تحريم اقتنائها إلا لصيد، أو زرع، أو ماشية ونحو ذلک (رقم-۵۰ - (۱۵۷٤) کتاب الأحکام والفوائد/باب ما جاء من أمسک کلبا ما ينقص من أجره (رقم-۱٤۸۷) والنسائی فی کتاب الصيد والذبائح/باب الرخصة فی إمساک الكلب للصيد (رقم-٤۲۸٦) ومالک فی الموطا کتاب الاستئذان/باب ما جاء فی أمر الكلاب (رقم-۱۳) واحمد فی المسند: ۸/۲

دشوقيه سپي په ساتلو د ثواب د کميدو دوه وجوهات:

① د رحمت فرښتې هغه کور ته نه راځي نو ثواب متاثره کيږي

② سپې خلقو ته تکليف ورکوي چيچې ئې غاپې ويرول کوي نو د ثواب نقصان کيږي

د قيراط په مقدار کښې تعارض: بعضې احاديثو کښې د يو قيراط د ثواب کميدو ذکر دې اوبعضو کښې د دوو قيراطو د کمې ذکر دې کوم چه په ظاهره تعارض دې

د تعارض څلور جوابونه: ① اول د يو قيراط وحي راغلې وه اوبيا د دوو قيراطو وحي راغله څه خاص تعارض نشته دې

① دا اختلاف د ځائې، ذمانې او د سپو د تکليف رسولو او د نه رسولو په اعتبار سره دې

② يا دا فرق د ځائې او د مقام د وجهې نه دې، لکه څوک چه په مکه مکرمه او مدينه منوره کښې سپي ساتي نو دوه قيراط او په نورو ښارونو کښې ئې ساتي نو يو قيراط. يا څوک چه په ښار کښې سپی ساتي نو دوه قيراط او چه په کلي. بانده کښې ئې ساتي نو يو قيراط

③ په شروع کښې د يو قيراط دکميدلو وعيد راغلې وونو بيا ئې د خلقو په زړونو کښې د نوږ قباحت زياتولو دپاره د دوه قيراط کيمدلو وعيد بيان کړو.

④ کله چه خلقو د سپو سره ډير محبت ساتلو نو د دوه قيراط کميدلو حکم راغې او کله چه د خلقو محبت سپو سره ختم شو نو د يو قيراط د کميدلو حکم راغلو والله أعلم

[۲۰۳] دشوقي سپي په ساتلو روزانه د يو قيراط اجر کميدل

۴۰۰۹-[۲] (۱) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② «مَنِ اتَّخَذَ كَلْبًا ③ إِلَّا كَلْبَ مَاشِيَةٍ أَوْ صَيْدٍ أَوْ زَرْعٍ، انْتَقَصَ مِنْ أَجْرِهِ كُلَّ يَوْمٍ قِيرَاطًا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② کوم سړي چې سپي ساتي ③ د څناورو حفاظت کونکي، ښکار نيونکي او د پټي د درمن څوکيداري کونکي سپي نه علاوه، ④ نو دهغه دثواب نه روزانه د يو قيراط برابر کمې کيږي (بخاري ومسلم)

تسهيلات:

نوټ: د دې حديث د مضمون تشريح ددې څخه وړاندې حديث نمبر (۴۰۹۸) په تشريح کښې تيره شوه

(۱) اخرجه البخاري في كتاب الإجارة/باب اقتناء الكلب للحرث (رقم-۲۳۲۲) ومسلم في كتاب المساقاة/باب الأمر بقتل الكلاب. وبيان نسخه. وبيان تحريم اقتنائها إلا لصيد. أو زرع. أو ماشية ونحو ذلك (رقم-۵۸ - (۱۵۷۵) والنسائي في كتاب الصيد والذبائح/باب الرخصة في إمساك الكلب للحرث (رقم-۴۲۸۹) وابن ماجه في كتاب الصيد/باب النهي عن اقتناء الكلب. إلا كلب صيد. أو حرث. أو ماشية (رقم-۳۲۰۴) واحمد في المسند: ومسلم في /۲۶۷

[۳۱۰۰] د سپو د وژلو حکم

۳۱۰۰-[۳] (¹) ⓵ وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - قَالَ: ⓶ «أَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِقَتْلِ الْكِلَابِ، ⓷ حَتَّى إِنَّ الْمَرْأَةَ تَقْدَمُ مِنَ الْبَادِيَةِ بِكَلْبِهَا فَنَقْتُلُهُ، ⓸ ثُمَّ نَهَى رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ قَتْلِهَا، ⓹ وَقَالَ: "عَلَيْكُمْ بِالْأَسْوَدِ الْبَهِيمِ ذِي النُّقْطَتَيْنِ ⓺ فَإِنَّهُ شَيْطَانٌ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ⓵ او حضرت جابر ﷺ وايي ⓶ چې رسول الله ﷺ مونږ ته (د مديني) د سپو د وژلو حکم وکړو انومونږ به د مديني او اطرافو سپي وژل ⓷ تر دي چې کومه ښځه به د ځنګل نه راتله او د هغې سره به سپي وو، نو مونږ به هغه سپي هم وژلو. ⓸ بيا وروسته حضور ﷺ دعامو سپو د وژلو نه منع وفرمايله. ⓹ اودا حکم يي وکړوچې خالص تور سپي چې ددوه نقطو والاوي وژل ستاسودپاره ضروري دي. ⓺ ځکه چې هغه شيطان دي (مسلم)

حل اللغات: ① الْبَادِيَةِ: کلي، ځنګل، ② بِالْأَسْوَدِ الْبَهِيمِ: تک تور سپي. ③ ذِي النُّقْطَتَيْنِ: دوه نقطو والا. دوه داغ لرونکی،

تسهيلات:

قوله: أَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِقَتْلِ الْكِلَابِ:

د سپو د وژلو د حکم وجه: اول دعاموسپو د وژلوحکم راغلو دې دپاره چه په زړونوکښې نفرت اوکرکه پيداشي. بيا د شوقيه او د اسودبهيم نه علاوه د سپو اجازت اوشو.

قوله: عَلَيْكُمْ بِالْأَسْوَدِ الْبَهِيمِ:

د بهيم اسود سپي د قتلولووجه: يعنی داسې تك تور سپي د کوم د سترګودپاسه چه دوه سپين ټاکي اوداغونه وی دا ډير زيات شرير وی. د تکليف سبب وی اود فائدې نه خالی وی په دې وجه دې ته شيطان اووئيلې شو.

[۳۱۰۱] د دري قسمه سپو د قتلولو نه استثناء

۳۱۰۱-[۴] (²) ⓵ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، ⓶ «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَمَرَ بِقَتْلِ الْكِلَابِ ⓷ إِلَّا كَلْبَ صَيْدٍ أَوْ كَلْبَ غَنَمٍ أَوْ مَاشِيَةٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ⓵ او د حضرت ابن عمر ﷺ نه روايت دي ⓶ چې نبي کريم ﷺ مونږ ته (د ټولو سپو يا د مديني) د سپو د وژلو حکم وکړو ⓷ ليکن ښکاري سپي او د بزو حفاظت کونکي سپي او د څناورو حفاظت کونکي سپي يي مستثني کړل (بخاري ومسلم)

(¹) اخرجه مسلم فی كتاب المساقاة/باب الأمر بقتل الكلاب، وبيان نسخه، وبيان تحريم اقتنائها إلا لصيد، أو زرع، أو ماشية ونحو ذلک (رقم-۴۷ - (۱۵۷۲) والترمذی فی كتاب الأحكام والفوائد/باب ما جاء فی قتل الكلاب (رقم-۱۴۸۶)

(²) اخرجه مسلم فی كتاب المساقاة/باب الأمر بقتل الكلاب، وبيان نسخه، وبيان تحريم اقتنائها إلا لصيد، أو زرع، أو ماشية ونحو ذلک (رقم-۴۶ - (۱۵۷۱)

تسهیلات: قوله: أَوْكَلْبَ غَنَمٍ أَوْمَاشِيَةٍ:

د کلب ماشیة مصداق: یعنی دَ چیلو دَ رمې دَ حفاظت دَپاره یا دَ څاروو دَ حفاظت دَپاره وی نودا جمله تعمیم بعد تخصیص دَپاره ده یا او دَ شك دَپاره دې چه راوی ته شك شوې دې چه نبی کریم کوم یو لفظ استعمال کړې وو. غنم او ماشیة هم یوځیز دي

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۱۳] د ټولو سپود نه قتلولو وجه

۴۱۰۲-[۵] (۱) [۱] عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مُغَفَّلٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] قَالَ: "«لَوْلَا أَنَّ الْكِلَابَ أُمَّةٌ مِنَ الْأُمَمِ [۳] لَأَمَرْتُ بِقَتْلِهَا كُلِّهَا [۴] فَاقْتُلُوا مِنْهَا كُلَّ أَسْوَدَ بَهِيمٍ». [۵] رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالدَّارِمِيُّ. [۶] وَزَادَ التِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ: [۷] "«وَمَا مِنْ أَهْلِ بَيْتٍ يَرْتَبِطُونَ كَلْبًا [۸] إِلَّا نَقَصَ مِنْ عَمَلِهِمْ كُلَّ يَوْمٍ قِيرَاطٌ [۹] إِلَّا كَلْبَ صَيْدٍ أَوْ كَلْبَ حَرْثٍ أَوْ كَلْبَ غَنَمٍ».

ترجمه: [۱] حضرت عبدالله ابن مغفل رضی الله عنه د نبي کریم ﷺ نه روایت کوي [۲] چې حضور ﷺ وفرمایل که دا خبره نه وي چې سپي هم د ډلونه یوه ډله ده، [۳] نو ما به یقیناً دا حکم کړې وو. چې دا ټول سپي دې ووژلي شي، [۴] نو په دوي کې چې کوم سپي د خالص تور رنګ وي، هغه ووژلي شي [۵] (ابوداود ، دارمی) [۶] او ترمذي رحمه الله او نسائي رحمه الله مزید دا عبارت نقل کړې دې [۷] او کوم کور والاچې بلا ضرورته سپي ساتي، [۸] د هغوئ د عمل [د ثواب نه] روزانه د یو قیراط په قدر کمیږي، [۹] ښکاري سپي او د پټي حفاظت کونکي او د رمې چوکیداري کونکي سپي د دې نه مستثني دي.

حل اللغات: ① أُمَّةٌ: أمت. یو جدا مخلوق، ② أَسْوَدَ بَهِيمٍ: تک تور سپې، ③ يَرْتَبِطُونَ: ساتی او پالنه ئې کوی.

تسهیلات: قوله: لَوْلَا أَنَّ الْكِلَابَ أُمَّةٌ مِنَ الْأُمَمِ لَأَمَرْتُ بِقَتْلِهَا كُلِّهَا:

د سپو د قتلِ عام د ممانعت وجه: لکه څنګه چه انسان الله تعالی دَ یوخاص مصلحت لاندې پیدا کړې دې او دَ هغه نسل ئې باقی اوساتلو هم دغه شان الله تعالی ځناور هم دَ حکمت او مصلحت لاندې پیداکړل لهذا دا باقی ساتل هم دَحکمت تقاضا ده هم دَدې طرف ته په دې حدیث کښې اشاره ده که چرې سپی مستقل امت نه وې نوما به دَ ټولو دَختمولو حکم ورکولو. دَ نوح علیه السلام په کشتئی کښې چه کوم انسان اوحیوان داخل شو دَهغې نسل به باقی پاتې کیږی په دې وجه دَ چا نسل دَ بیخه ختمول ممکن نه دی

---

(۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الصید/باب فی اتخاذ الکلب للصید وغیره (رقم-۲۸۴۵) والترمذی فی کتاب الأحکام والفوائد/باب ما جاء من أمسک کلبا ما ینقص من أجره (رقم-۱۴۸۹) والنسائی فی کتاب الصید والذبائح/باب صفة الکلاب التی أمر بقتلها (رقم-۴۲۸۰) وابن ماجه فی کتاب الصید/باب النهی عن اقتناء الکلب. إلا کلب صید. أو حرث. أو ماشیة (رقم-۳۲۰۵) واحمد فی المسند: ۵/۵۴

[۴۱۰۳] د ځناورو د جنګولو ممانعت

۴۱۰۳-[۲] (۱) ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ ② «نَهَى رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنِ التَّحْرِيشِ بَيْنَ الْبَهَائِمِ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وايي ② چې رسول الله ﷺ د ځناورو د يو بل سره د جنګولو نه منع فرمايلې ده. (ترمذی ابوداؤد)

حل اللغات: ① التَّحْرِيشِ: ځناور د يو بل سره جنګول.

تسهيلات:

قوله: عَنِ التَّحْرِيشِ بَيْنَ الْبَهَائِمِ:

د حيواناتو د جنګولو حرمت: مطلب دا دې چه اوښان هاتيان ګډان غوايان ميخې سپي چرګان اومرزان جنګول سخت منع دی. که په شرط وی اوکه بغيرد شرط نه وی کله چه د ځناورو جنګول منع دی نو انسانان ناحق جنګول به څومره لويه ګناه وی.

وَهٰذَا الْبَابُ خَالٍ عَنِ الْفَصْلِ الثَّالِثِ

(په دې باب کښې فصل الثالث نشته)

[۲] بَابُ مَا يَحِلُّ أَكْلُهُ وَمَا يَحْرُمُ

د کومو ځناورو خوړل حلال دی او د کومو حرام دی

خلاصة الباب:

فيه أربعة وأربعون حديثاً مشتملة على ست مسائل:

① ما يحرم أكله: ۱، ۲، ۳، ۴، ۲۲، ۲۳، ۲۴، ۲۵، ۲۶، ۲۷، ۲۸، ۲۹- ② ما يحل أكله: ۴، ۵، ۶، ۷، ۸، ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۲- - المشروب الذى وقع فيه الذباب: ۱۲، ۳۹، ۴۰. حكم ما وقع فيه الفارة: ۱۳، ۲۰، ۲۱، ۲۸، ۲۹، ۳۰، ۴۳.

③ جواز قتل بعض الموذيات وعدم قتل بعضها: ۱۴، ۱۵، ۱۶، ۱۷، ۱۸، ۳۳، ۳۴، ۳۵، ۳۶، ۳۷، ۳۸، ۴۱، ۴۴.

④ النهي عن تحريق النمل: ۱۹.

⑤ النهي عن تذليل بعض الحيوانات: ۳۱، ۳۲.

⑥ إتباع الكتاب والسنة فى التحليل و التحريم: ۴۲.

---

(۱) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الجهاد/باب فى التحريش بين البهائم (رقم-۲۵۶۲) والترمذى فى كتاب الجهاد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى كراهية التحريش بين البهائم والضرب والوسم فى الوجه (رقم-۱۷۰۸)

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۳۰۳] د ذی ناب ځناور حرمت

۳۰۳ـ[۱] (۱) [۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «كُلُّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ فَأَكْلُهُ حَرَامٌ» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] حضرت ابوهریره رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] په د رندګانو کې چې کوم داړه ور وي. ایعنی چې په غاښ سره خپل ښکار نیسي لکه زمري او شرمښ وغیره]
[۳] د هغې خوړل حرام دي (مسلم)

تسهیلات:

نوټ: د ذي ناب ځناور تفصیل کتاب الصید حدیث ۴۰۸۹ په تسهیل کښې تیرشوي دي

[۳۰۵] په پنجه ښکار کونکی مارغه د غوښې حرمت

۳۰۵ـ[۲] (۲) [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - قَالَ: [۲] «نَهَى رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ كُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ [۳] وَكُلِّ ذِي مِخْلَبٍ مِنَ الطَّيْرِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما وايي [۲] چې رسول الله ﷺ د هر هغه درنده د غوښې خوړلو نه منع فرمایلي ده. چې داړه ور وي. [۳] او د هر هغه مارغه د غوښې خوړلو نه یې منع فرمایلي ده. کوم چې پنجه ور وي. [یعنی چې په خپلې پنجې سره ښکار کوي. لکه باز وغیره] (مسلم)

حل اللغات: ① ذي مخلب: په پنجه سره شلونکی مارغان.

تسهیلات:

نوټ: د ذي مخلب ځناور تفصیل کتاب الصید حدیث ۴۰۸۹ په تسهیل کښې تیرشوي دي

---

[1]) اخرجه مسلم فی کتاب العید/باب تحريم أكل كل ذی ناب من السباع. وكل ذی مخلب من الطير(رقم-۱۵ - ۱۹۳۳) والترمذی فی کتاب الأطعمة/باب ما جاء فی كراهية كل ذی ناب وذی مخلب (رقم-۱٤۷۹) والنسائی فی کتاب الصيد والذبائح/باب تحريم أكل السباع (رقم ٤۳۲٤) وابن ماجه فی کتاب الصيد/باب أكل. كل ذی ناب من السباع (رقم-۳۲۳۳) ومالک فی الموطا كتاب الصيد /باب تحريم أكل كل ذی ناب من السباع (رقم-۱٤)واحمد فی المسند: ٤۱۸/۲

[2]) اخرجه مسلم فی کتاب الصيد/باب تحريم أكل كل ذی ناب من السباع. وكل ذی مخلب من الطير(رقم-۱۶ - ۱۹۳٤) وابوداود فی کتاب الأطعمة/باب النهی عن أكل السباع (رقم-۳۸۰۳) وابن ماجه فی کتاب الصيد/باب ما ينهى. عن قتله (رقم-۳۲۲٤)واحمد فی المسند: ۳۷۳/۱

[۴۱۰۶] د کورنی خر د غوښو حرمت

۴۱۰۶—[۳] ()[۱] وَعَنْ أَبِي ثَعْلَبَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «حَرَّمَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لُحُومَ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] اوحضرت ابوثعلبه ﷛ وايي [۲] چې رسول الله ﷺ د کورني خرونو غوښه حرامه کړي ده، (بخاري مسلم)

نوټ: دحمر اهلي د حرمت بيان د حديث نمبر (۴۰۸۹) په تشريح کښې تيرشوې دې.

[۴۱۰۷] د آس د غوښې حلت

۴۱۰۷—[۴] ()[۱] وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ -[۲] أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - «نَهَى يَوْمَ خَيْبَرَ عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ، [۳] وَأَذِنَ فِي لُحُومِ الْخَيْلِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] اوحضرت جابر ﷛ راوي دي چې رسول الله ﷺ د خيبر په ورځ د کورني خرونو د غوښې د خوړلو نه ممانعت جاري کړي وو، [۳] او د آسونو د غوښې خوړلو اجازت يې ورکړي وو. (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: أَذِنَ فِي لُحُومِ الْخَيْلِ:

د اس د نسل دوه صورتونه: ① اس که دَخردَ نسل نه وی نودَهغه غوښه په اتفاق سره حرام ده ② که چرې په اس کښې دَ خردَ نسل ګډوډوالې نه وی نوآيا دَهغې غوښه حلال ده که حرام؟ دې کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې.

په دويم صورت کښې ۲ مذاهب:

① دَامام شافعی ﷬ امام احمدبن حنبل ﷬ اودَ صاحبينوحضراتو په نيز دَ اس غوښه حلال طيب ده.

② امام مالك ﷬ او امام ابوحنيفه ﷬ فرمائی چه دَ اس غوښه خوړل مکروه ده يا مکروه تحريمی ده يا مکروه تنزيهی ده.

د جمهورو دليل: حديث الباب کښې په صراحت سره راغلی دی چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم د اسونو د غوښې خوړلو اجازت ورکړې وو نو د اس غوښه حلاله شوه.

---

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب الذبائح والصيد/باب لحوم الحمر الإنسية (رقم-۵۵۲۷) ومسلم فی کتاب الصيد/باب فی أكل لحوم الخيل (رقم-۲۳ - (۱۹۳۶)

[۲]) اخرجه البخاری فی کتاب الذبائح والصيد/باب لحوم الحمر الإنسية (رقم-۵۵۲۴) ومسلم فی کتاب الصيد/باب فی أكل لحوم الخيل (رقم-۳۶ - (۱۹۴۱) وابوداود فی کتاب الأطعمة/باب فی أكل لحوم الحمر الأهلية (رقم-۳۸۰۸) والنسائی فی کتاب الصيد والذبائح/باب إباحة أكل لحوم حمر الوحش (رقم-۴۳۴۳)

جوابونه: ① مذکوره حدیث جائز مع الکراهیة باندي محمول دي دي دپاره چه په دواړو احادیثوکښي تعارض پاتې نه شی

② دا مسئله دَ محرم اومبیح ده په کوم کښې چه محرم ته ترجیح ورکولې شي

دامام ابوحنیفه اوامام مالک دلائل: ① دَ قرآن آیت ﴿وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةً﴾ [سورة النحل:٨] دلیل دي طریقه دَ استدلال داسې دې چه الله تعالی په اسونوکښې اهم فائده په هغې باندې سورلی کول او "رکوب" گرځولې دي که چرې دَدې غوښه خوړل جائز وې نو الله تعالی به ضرور ارشاد فرمائیلو ځکه چه دَ رکوب نه خوړل زیات اهم وو اوالله تعالی اهم ذکر کوی

② اس دَ جهاد آله ده که چرې دا دغه شان ذبح کړې شي نودَ جهادمیدان به کمزورې شي

③ دَحضرت خالد ﷛ حدیث نمبر (٣٣٠) دلیل دې دکوم الفاظ چه دادی «عن خالد بن الولید ﷛ ان رسول ﷺ نهی عن اکل لحوم الخیل والبغال والحمیر» (ابوداؤد نسائی)

دامام ابوحنیفه دخپل قول څخه رجوع: بهرحال دَ احنافوکتاب کفایت المنتهی کښې لیکلی دی چه امام ابوحنیفه ؒ دَ خپل انتقال نه درې ورځې مخکښې دَ دې قول نه دَ صاحبینو اودَ جمهورو دَ قول طرف ته رجوع کړې وه او هم په دې باندې فتویٰ ده په درمختارکښې هم داسې لیکلی دی چه امام صاحب دَ خپل قول نه رجوع کړې ده اوهم په دې باندې فتویٰ ده

[٣٠٨] د ځنګلي خر د غوښې حلت

٣٠٨-[٥] (¹) [١] «وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- [٢] أَنَّهُ رَأَى حِمَارًا وَحْشِيًّا [٣] فَعَقَرَهُ، [٤] فَقَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "هَلْ مَعَكُمْ مِنْ لَحْمِهِ شَيْءٌ؟" [٥] قَالَ: مَعَنَا رِجْلُهُ، [٦] فَأَخَذَهَا فَأَكَلَهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او د حضرت ابو قتاده ﷛ نه روایت دي [٢] چې هغه ګور خر [ځنګلي خر] ولیدلو، [٣] او هغه یې ووژلو، [بیا یې د رسول الله ﷺ نه د هغې د غوښو خوړلو د مسئلې پوښتنه وکړه] [٤] نو نبي کریم ﷺ پوښتنه ورنه وکړه چې تا سره د هغې د غوښې نه څه موجود دي؟ [٥] ابو قتاده ﷛ اوویل چې زمونږ سره د هغې پښې موجودي دي. [٦] نو حضور ﷺ هغه پښې واخستې او هغه یې وخوړلې (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① حِمَارًا وَحْشِيًّا: ځنګلي خر. ② فَعَقَرَهُ: په خپو نې اوویشتله

تسهیلات:

قوله: فَأَخَذَهَا فَأَكَلَهَا

د نبی علیه السلام د ځنګلی خر غوښه خوړل: ددې مطلب دا دې چه ابو قتاده وحشی خر ښکار

(¹) اخرجه البخاری فی کتاب الذبائح والصید/باب ما جاء فی التصید (رقم-٥٤٩٠) ومسلم فی کتاب الحج /باب تحریم الصید للمحرم (رقم-٦٣ - (١١٩٦) والنسائی فی کتاب الصید والذبائح/باب إباحة أکل لحوم حمر الوحش (رقم-٤٣٤٥) واحمد فی المسند: والنسائی فی/٣٠٨

کړو او د نبی کریم ﷺ نه ئې ددې د حلت متعلق تپوس وکړو نو نبی کریم ﷺ خپله وخوړلو او د حلت جواب یې په عملی توګه باندې ورکړو.

[۳۰۹] د سوي د غوښې حلت

۳۰۹-[۲۱] ( )[1] [۱] «وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - قَالَ: [۲] أَنْفَجْنَا أَرْنَبًا بِمَرِّ الظَّهْرَانِ، [۳] فَأَخَذْتُهَا فَأَتَيْتُ بِهَا أَبَا طَلْحَةَ [۴] فَذَبَحَهَا وَبَعَثَ إِلَى رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِوَرِكِهَا وَفَخِذَيْهَا [۵] فَقَبِلَهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضي الله عنه وايي [۲] چې يوه ورځ مونږ په مقام مر الظهران کې د ښکار کولو د پاره په يو سوئې (خرګوش) پسې ولګيدو، [۳] نو ما څغليدو سره هغه ونيوله. بيا مې ابو طلحه رضي الله عنه ته راوړه، [۴] ابو طلحه رضي الله عنه هغه ذبح کړه، او د هغې يو کوناټې او دواړه ورنونه يې رسول الله ﷺ ته وليږل، [۵] حضور ﷺ هغه قبول کړل. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① أَنْفَجْنَا: د إنفاج څخه دې په معنی د راپارولو، اوويرولو په تيخته مجبور کول. را پارول او ويرولوسره ② أَرْنَبًا: خرګوش، سويه، ③ مَرِّ الظَّهْرَانِ: د يوې علاقې نوم دې. ④ بِوَرِكِهَا: ورك پيړ پتون او کوناټی ته وائی.

تسهيلات:

قوله: بِمَرِّ الظَّهْرَانِ:

د مرالظهران محل وقوع: دا يو ځائی دَ مکې او مدينې په مينځ کښې يوې زرې لارې سره نيزدې دَ مکې نه شمال طرف ته تقريبًا ۱۲ ميل فاصله باندې واقع دې. اويو د باغونو والا علاقه ده کوم ځائ کښې چه ډيره آبادی هم ده مکې معظمې ته تازه سبزيانې او دَ بوټو ځيزونه هم دَ دې ځائ نه رسولې شی. دَ مکې خلق دلته دَ سيل دَ پاره هم راځی نن صبا دغه ځائ ته وادی فاطمه هم وائی خودا نسبت دَ حضرت فاطمة الزهری رضي الله عنها طرف ته نه دې بلکه پنځه ويش کم دوه سوه کاله وړاندې دَترکودَ زمانې فاطمې نومې يوې مالدارې ښځې طرف ته منسوب دې

قوله: بِوَرِكِهَا وَفَخِذَيْهَا:

د روايتونو په الفاظو کښې اختلاف: ① د ترمذی په روايت کښې په شك سره داسې نقل دې. ((بفخذها او بوركها))

② د مسلم په روايت کښې په فبعث بوركها أو فخذيها واقع شوې

[1] اخرجه البخاری فی کتاب الهبة وفضلها والتحريض عليها/باب قبول هدية الصيد (رقم-۲۵۷۲) ومسلم فی کتاب الصيد/باب إباحة الأرنب (رقم-۵۳ - (۱۹۵۳) والترمذی فی کتاب الأطعمة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی أكل الأرنب (رقم-۱۷۸۹) والنسائی فی کتاب الصيد والذبائح/باب الأرنب (رقم-۴۳۱۲) وابن ماجه فی کتاب الأحكام/ باب الرجلان يدعيان فی خص (رقم-۲۳۴۳) واحمد فی المسند: ۱۷۱/۳

③ د نسائی په روایت کښې فبعثنی بفخذیها ووركها واقع شوي دي.
د روایاتو د اختلاف حل: حضرت ګنګوهی رحمه الله فرمائی ممکن دی چه فخذ او ورک دواړه ئې لیږلي شوي وی اوراوی په بعضې روایتونوکښې د ورک او په بعضې کښې د فخذ ذکر کړي دي لکه څنګه چې د نسائی په روایت کښې ((فبعثنی بفخذیها ووركها)) الفاظ راغلی دی
قوله: فَقَبِلَهُ :
د سوي د خوښې د قبلولو مقصد: نبی علیه السلام چې سوه قبوله کړه نو د دوی دا قبلول د خوراک دپاره وو د بل څه مقصد دپاره نه وو ددې څخه معلومه شوه چې د سوې غوښه خوړل حلال دی.

د سوي په حلت اوحرمت کښې ۲ مذاهب:

① د عمرو بن العاص رضی الله عنه وغیره په نیزد سوې غوښه خوړل مکروه ده امام رافعی د امام ابوحنیفه رحمه الله نه یوروایت دحرمت نقل کړي دي خوعلامه عینی رحمه الله فرمائی دا غلط دی زمونږ په احنافوکښې د چانه هم عدم جواز مروی نه دي او امام نووی رحمه الله هم د امام اعظم رحمه الله نه د حرمت روایت نقل کړي دي. خو امام کرخی رحمه الله فرمائی لم یروا جمیعًا بأسا بأكل الأرنب
② د جمهورو په نیزد سوې غوښه خوړل حلال دی
داول فریق دلائل: ① د حضرت خزیمه رضی الله عنه بن جزروایت د دوی مستدل دي ((قلت یارسول الله ماتقول فی الأرنب قال لا آكله ولا أحرمه. قلت لم یارسول الله قال إنی أحسب أنها تدمی وفی روایة نبئت أنها تدمی. (أخرجه ابن ماجه) د کوم حاصل چه دا دي چه د حضوراکرم صلی الله علیه وسلم نه چه کله راوی تپوس اوکړو نورسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه نه ئې زه خورم اونه ئې حرام ګرځوم
② د عبدالله بن عمرو رضی الله عنه روایت د کوم چه داسې الفاظ دی جیئی بها الی رسول الله صلی الله علیه وسلم وأنا جالس فلم یأكلها ولم ینه عن أكلها وزعم أنها تحیض.
③ د عبدالله بن مغفل رضی الله عنه روایت د کوم الفاظ دی چه لا آكلها ولا أحرمها. (أخرجه الطبرانی)
④ سأل جریر بن انس رضی الله عنه النبی صلی الله علیه و سلم عن الأرنب فقال لا آكلها أنبئت أنها تحیض (اخرجه عبدالرزاق)
⑤ وقال حسن بن حسن بن علی رضی الله عنه اذا عافها ولا أحرمها علی المسلمین (كذا فی العینی)
⑥ عن عكرمه رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم أنه أتی بأرنب فقیل له إنها تحیض فكرهها (عینی)
د دې روایتونونه ثابتیږی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د خرګوش غوښه خوړل حرام خو نه دی ګرځولی خو پخپله ئې خوړلې هم نه ده بلکه دکراهت اظهار ئې کړي دي لهذا د خرګوش غوښه به مکروه وی.
د اول فریق د دلائلو مجموعی جوابونه: ① په دې کښې اکثر روایات متکلم فیه دی لکه څنګه

چه عيني او ابن حجر عسقلاني اوداسې نورو شراحو تصريح کړې ده.

④ دا روايتونه په حلت باندې دال دی ځکه چه دَ حضور پاک فرمان لا أحرمه عين دليل دَ حلت دې.

③ پورته پيش کړې شوی روايتونوکښې صراحةً وارد شوې دې لم ينه عنها وأمر بأكلها. رسول الله ﷺ منع نه ده فرمائيلې بلکه صحابه کرامو ﷺ ته دَ ئ خوړلو حکم ورکړې دې.

④ دَحديث مبارک شراح فرمائی دَ رسول الله ﷺ په هديه کښې خرګوش قبلول بل د حضرت عائشه ﷺ دَ پاره دَ هغې دَ غوښې څه حصه کيخودل او په هغې باندې خوړل اودَ دې متعلق دَ سوال په جواب کښې لاباس به فرمائيل دَ دې په حلال کيدو باندې دال دې

د حيض دوجه دکراهت دوه جوابونه: ① حضرت ګنګوهی ﷫ فرمائی ښکاره خبره ده چه دا دَ عجيبه او حيرانونکی حالت خبر دې دَ حرمت علت نه دې. ځکه چه دَ حيض راتلل شرعًا دَ اسبابو حرمت نه نه دی. قسطلانی ﷫ دَ بخاری شريف په شرح کښې دَ بعضې حضراتو نه نقل کړی دی چه اوښې باندې هم سره دَ نورو ځناورو حيض راځی حالانکه اوښه حلال اوخوړلې شی هم دغه وجه ده چه کله کلي والوخلقو رسول الله ﷺ ته اووئيل إني رأيت بها دمًا نو رسول الله ﷺ او فرمائيل لاباس به او دويم روايت کښې دي فأمرنا بأكلها أو لم يأكل. وارد شوي دي

أخرجه ابويعلى والطبراني والبيهقي من حديث عمار وابي ذر وابي الدرداء وابي عمر كذا في العيني.

② حضرت ګنګوهی ﷫ فرمائی چه دلته دَ أدماء معنی حيض نه ده بلکه إسالت دم ده. او مطلب دا چه دَ دې غوښه خو سراسر وينه ده ځکه چه که هر څو ځل دا اووينځې نو دَ دې نه هم وينه راوځی تردې چه په وينځلو وينځلو دا ختمه هم شی نو لکه دا دَ دم مسفوح په شان شوه سره دَ دې چه شريعت دا وينه نه ده تسليم کړې بلکه دَ عرف په اعتبار سره ئی دا غوښه ګرځولې ده. نور فرمائی که چرې دَ إدماء معنی سيلان دم (حيض) واخستلې شی نودې سره دَ اکل يعنی خوړلو جواز نور هم راجح کيږی ځکه چه کله فاسد وينه دَ دې نه خارج شوه نو دَ دې غوښه به نوره هم فائده منده شی. اوس پاتې شو دَ رسول الله ﷺ پخپله نه خوړل نوممکن دی چه دَ طبيعي کراهت په وجه وی او دَ إدماء خبر تنبيه ده په علت کراهية طبيعه باندې نه چه په کراهيت شرعيه باندې

د دويم فريق دلائل: ① روايت الباب په کوم کښې چه حضرت انس ﷺ دَ رسول الله ﷺ باره کښې په صراحت سره فرمائيلی دی چه رسول الله ﷺ دَ خرګوش هديه قبوله کړله نوښکاره خبره ده چه دَ قبلولو اعلی مفاد خوړل دی نوپه چا باندې دَ خوړلو دَ پاره به ئی هديه قبوله کړې وی.

② حديث جابر بن عبدالله ﷺ أن رجلا من قومه صاد أرنبًا أو ثنتين فذبحها بمروة فقطعها حتى لقي رسول الله صلى الله عليه وسلم فسأله فأمره بأكلها (أخرجه الترمذي)

③ دَ محمد رضي الله عنه بن صيفي روايت قال أتيت النبي صلى الله عليه وسلم بأرنبين فذبحهما بمروة فأمرني بأكلها (أخرجه ابوداؤدوابن ماجه).

④ حديث عمار رضي الله عنه قال كنا مع رسول الله صلى الله عليه وسلم فأهدي اليه رجل من الأعراب أرنبًا فأكلناه فقال الأعرابي إني رأيت بها دمًا فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم لا بأس (أخرجه أبي شيبه بإسناد جيد)

⑤ حديث ابن عباس رضي الله عنهما عن عائشة قالت أهدي إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم أرنب وأنا نائمة فخبأ لي منها العجز فلما قمت أطعمني (أخرجه الدارقطني)

⑥ عن إبراهيم رضي الله عنه أن رجلا سأل عبدالله بن عمر عن الأرنب فقال لا بأس بها قال إنها تحيض قال إن الذي يعلم حيضها يعلم طهرها الخ. (أخرجه ابن أبي شيبه)

⑦ عن ابن المسيب عن سعد أنه كان يأكلها قيل لسعد ما تقول قال كنت أكلها (عيني)

⑧ عن عبيد رضي الله عنه بن سعد أن بلالا رأي أرنبًا فذبحها فأكلها (عيني)

⑨ عن الحسن إنه كان لا يري بأكلها بأسًا (عيني)

⑩ قال طاؤس رحمه الله الأرنب حلال (عيني)

⑪ صح من حديث أبي هريرة رضي الله عنه أنه عليه السلام أتي بأرنب مشوية فلم يأكل منها وأمر القوم بأكلها (عيني)

دَ دې مذكوره مفصل رواياتواو آثارونه دا واضحه كيږي چه دَ خرګوش غوښه خوړل جائز دي اودَ دې په خوړلو كښې هيڅ قسم كراهت نشته دې.

[۳۰] د سمسرې د غوښې حكم

۳۰[۷] (¹) ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا-قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "الضَّبُّ لَسْتُ آكُلُهُ وَلَا أُحَرِّمُهُ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① اوحضرت ابن عمر رضي الله عنهما وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② سمساره زه نه خورم. او نه يې حرامه ګرځوم (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① الضَّبُّ: سمساره، ګوه.

تسهيلات:

قوله: الضَّبُّ لَسْتُ آكُلُهُ وَلَا أُحَرِّمُهُ

دسمسارې عجائبات: ① شارحينو ليكلي دي چه دګوه (سمساره) دوه ذكره وي

② اووه سوا كالو پورې دَدې عمر وي

③ اوبو ته نيزدې نه ورځي صرف په پرخه باندې ګذاره كوي

¹) اخرجه البخاري في كتاب الذبائح والصيد/باب الضب (رقم-۵۵۳۶) ومسلم في كتاب الصيد/باب إباحة الضب (رقم-۴۰ - (۱۹۴۳) والترمذي في كتاب الأطعمة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في أكل الضب (رقم-۱۷۹۰) وابن ماجه في كتاب الصيد/باب الضب (رقم-۳۲۴۲) كتاب الاستئذان/باب ما جاء في أكل الضب (رقم-۱۱)

④ خلوبنست ورځې پس يوځاځکې متيازې کوي
⑤ کله هم دَدې غابنونه نه پريوځي.

د سماري دخوړنې په حکم کښې ۲ مذاهب:

① ائمه ثلاثه، اسحاق بن راهويه او ظاهريه دَ جواز قائل دي
② احناف حضرات دا مکروه ګرځوي.

① داول فريق دلائل:

① دَ حديثِ الباب ((قَالَ رَسُولُ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الضَّبُّ لَسْتُ آكُلُهُ وَلَا أُحَرِّمُهُ)) نه معلوميږي چه رسول الله ﷺ ضب نه دې حرام کړې

② عن ابن عباس رضي الله عنهما عن خالد بن الوليد أنه دخل مع رسول الله صلى الله عليه وسلم بيت ميمونة رضي الله عنها فأتي بضب محنوذ فأهوى إليه رسول الله صلى الله عليه وسلم بيده فقال بعض النسوة أخبروا رسول الله صلى الله عليه وسلم بما يريد أن يأكل فقالوا هو ضب يا رسول الله صلى الله عليه وسلم فرفع يده فقلت أحرام هو يا رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال لا ولكن لم يكن بأرض قومي فأجدني أعافه قال خالد فاجتززته فأكلته ورسول الله صلى الله عليه وسلم ينظر (أخرجه البخاري)

③ عن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه مرفوعًا أن الله غضب على سبط من بني إسرائيل فمسخهم دواب يدبون في الأرض فلا أدري لعل هذا منها فلست آكلها ولا أنهى عنها قال ابوسعيد فلما كان بعد ذلك قال عمر رضي الله عنه إن الله عز وجل ينفع به غير واحد وإنه لطعام عامة الرعاة ولو كان عندي لطعمته (أخرجه مسلم)

④ عن ابن عمر رضي الله عنه قال كان أناس من أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم منهم سعد فذهبوا يأكلون فنادتهم إمرأة أنه لحم ضب فأمسكوا فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم كلوا وأطعموا فانه حلال اوقال لا بأس ولكنه ليس من طعامي (أخره البخاري ومسلم)

⑤ عن أبي هريرة رضي الله عنه أن النبي صلى الله عليه وسلم أتي بصحفة فيها ضباب فقال كلوا فإني عائفه (أخرجه الطحاوي)

⑥ عن خزيمه بن جزء رضي الله عنه قال قلت يا رسول الله جئتك لأسئلك عن أحناش الأرض ماتقول في الضب قال لا آكله ولا أحرمه (الحديث) (ابن ماجه)

⑦ نورهغه روايات دي په کوم کښې چه لا آكله ولا أحرمه وارد شوي دي يا دَ رسول الله ﷺ په وړاندې دسترخوان باندې دَ ضب ذکر دې لکه چه امام ترمذي رحمه الله دَ ابن عباس رضي الله عنه نه نقل کړي دي.

استدلال: دَ دې ټولو مذکوره رواياتو څخه معلوميږي چه رسول الله ﷺ پخپله خو ضب نه دې خوړلې مګر دَ خوړلو اجازت ئې ورکړې دې دَ رسول الله ﷺ په وړاندې نورو خلقو په دسترخوان باندې خوړلې دې نومعلومه شوه چه دَ دې خوراک جائز دې.

داول فريق د دلائلو مجموعي جواب: په دې روايتونو کښې اکثر متکلم فيه دي

② حضرت گنگوهی رحمه الله فرمائی چه په رسول الله ﷺ په شروع کښې د دې باره کښې څه حکم نازل شوې نه وونود دې باره کښې نې خاموشی اختیار کړه لأن الأصل فی الأشیاء الإباحة او پخپله ئې د طبیعت په وجه د دې نه کراهت اوفرمائیلود رسول الله ﷺ وطن مالوف مکه معظمه کښې خود سر نه د دې وجود نه ووخود دې نه پس کله چه حرمت نازل شونورسول الله ﷺ ډیر په سختئی سره منع اوفرمائیله اوکتوئی ئې هم اولتهه کړې کما هومفادحدیث عبدالرحمن بن شبل وحدیث عبدالرحمن بن حسنة حاصل داچه د جواز د روایاتومحمل د شروع زمانه ده اود کراهت د روایاتو عمل آخرزمانه ده په دې وجه دغه د اتباع قابل دی

د دویم فریق دلائل: ① د حضرت عائشه رضی الله عنها روایت إنه أهدي للنبي صلى الله عليه وسلم ضب فلم يأكله فقام عليه سائل فأرادت عائشة رضی الله عنها أن تعطيه فقال لها أتعطيه مالا تأكلين (أخرجه الطحاوي)

حضرت امام محمد رحمه الله د دې روایت نه استدلال کوی او فرمائی چه د روایت نه معلومیږی چه رسول الله ﷺ د خپل ځان د پاره اود نورود پاره د ضب خوړل مکروه ګڼړلی دی

② حدیث عبدالرحمن رضی الله عنه بن حسنة قال نزلنا أرضا كثيرة الضباب فأصابتنا مجاعة فطبخنا منها وان القدور لتغلي بها إذ جاء رسول الله صلى الله عليه وسلم (الحديث) وفيه أنهم طبخوا منها فقال النبي صلى الله عليه وسلم إن أمة من بني إسرائيل مسخت دواب في الأرض فأخشى أن تكون هذه فأكفوها قال الحافظ سنده على شرط الشيخين (أخرجه أبوداؤد وابن حبان والطحاوي وأحمد).

③ حدیث عبدالرحمن بن شبل رضی الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم نهى عن أكل الضب ، دا روایت په کراهت د اکل کښې صریح دې

④ حدیث ابوسعید رضی الله عنه أتيت به رسول الله صلى الله عليه وسلم فأخذ عودا فعد به أصابعه ثم قال إن أمة من بني اسرائيل مسخت دواب في الأرض (الحديث)

⑤ حدیث ابن عمر رضی الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم وددت أن عندي خبزة بيضاء من برة سمراء ملبقة بسمن ولبن فقام رجل من القوم فاتخذه فجاء به فقال في أي شئ كان هذا قال في عكة ضب قال ارفعه. (أخرجه ابوداؤد وابن ماجه)

استدلال: د دې پورته ذکرشوو روایاتونه معلومه شوه چه نبی کریم ﷺ د ضب غوښه خوړلونه منع فرمائیلې ده او د نفرت د اظهار د پاره کتوئی هم التهه کړی که چرې ضب حلال وې نورسول الله ﷺ به د دې باره کښې دومره سختی نه کوله

⑥ فقهاء کرامو حضراتو فرمائیلی دی چه د یو قوم د یو ځناور په شکل باندې مسخ کیدل د هغه ځناور د خباثت علامت دې حضرت شاه ولی الله محدث دهلوی رحمه الله فرمائی چه د ځناورود حرمت باره کښې داهم کتل پکاردی چه آیا د دې په صورت کښې چرته یو قوم مسخ شوې دې که نه لکه چه بیزوګان اوخنزیران دی. سره د دې چه د مسخ شوی قوم نسل

باقي نه وي (کماورد فی الحدیث) مګر دَ دغه ځناور په شکل مسخ کیدل بهرحال دَ هغې دَ خبث علامت دي.

⑥ دَ ضب دَ خوراک باره کښې دواړه قسم روایات وارد شوی دی په بعضو سره حلال والې او بعضوسره حرام والې ثابتیږی دَ فقهاؤ دَ تصریح مطابق کله چه دَ حلت او د حرمت په روایاتوکښې تعارض وی نواحتیاطًا دَ حرمت روایاتو ته ترجیح ورکولې شی نودلته به هم حرمت راجح وی.

دنبی علیه السلام د نه خوړلو وجه: نبی کریم دَ طبعی کراهت دَ وجهې دا نه ده خوړلې او په نورو باندې ئې حرام کړې نه ده. چنانچه دَ امام شافعی رحمه الله اوامام احمد رحمه الله په نیز دَدې غوښه حلال ده. لیکن امام ابوحنیفه رحمه الله د دې روایت څخه استدلال کوی

وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ شِبْلٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- «نَهَى عَنْ أَكْلِ لَحْمِ الضَّبِّ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ. امام ابوحنیفه رحمه الله په دې روایت سره دَ حلت روایات منسوخ ګرځوی.

[۳۸] د نبی علیه السلام د سمسارې خوړلو څخه طبعی کرکه

۳۸-[۸] (۱) ① «وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا: أَنَّ خَالِدَ بْنَ الْوَلِيدِ أَخْبَرَهُ ② أَنَّهُ دَخَلَ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَلَى مَيْمُونَةَ ③ وَهِيَ خَالَتُهُ وَخَالَةُ ابْنِ عَبَّاسٍ، ④ فَوَجَدَ عِنْدَهَا ضَبًّا مَحْنُوذًا، ⑤ فَقَدَّمَتِ الضَّبَّ لِرَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ⑥ فَرَفَعَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَدَهُ عَنِ الضَّبِّ.

ترجمه: ① او د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت دي چې حضرت خالد بن ولید رضي الله عنه هغه ته بیان وکړو ② چې یوه ورځ حضرت خالد رضي الله عنه د رسول الله ﷺ سره د بي بي میموني رضي الله عنها کور ته ورغلو، ③ چې د حضرت خالد رضي الله عنه خاله (د مور خور) هم وه، او د ابن عباس رضي الله عنهما هم خاله وه ④ هلته د هغې سره هغوئ (یعني حضور ﷺ او حضرت خالد رضي الله عنه) یوه پخ کړې سمساره ولیدله، ⑤ بي بي میموني هغه سمساره د رسول الله ﷺ په مخکې پیش کړه، ⑥ لیکن رسول الله ﷺ د هغې سمسارې نه خپل لاس مبارك رابنکل

حل اللغات: ① مَحْنُوذًا: وریت کړې شوې، پوخ کړې شوې. ⑥ - فَرَفَعَ: لاس ئې رابنکلو (د خوړلو د هغې نه).

① فَقَالَ خَالِدٌ: أَحَرَامٌ الضَّبُّ يَا رَسُولَ اللّٰهِ؟ ② قَالَ: "لَا، وَلٰكِنْ لَمْ يَكُنْ بِأَرْضِ قَوْمِي، ③ فَأَجِدُنِي أَعَافُهُ" ④ قَالَ خَالِدٌ: فَاجْتَرَرْتُهُ فَأَكَلْتُهُ ⑤ وَرَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَنْظُرُ إِلَيَّ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① په دې لیدو سره حضرت خالد رضي الله عنه پوښتنه وکړه، یا رسول الله ﷺ! آیا سمساره حرامه ده؟ ② حضور ﷺ وفرمایل چې نا، بلکې دا زما د قوم په زمکه [حجاز] کې نه

[1] اخرجه البخاری فی کتاب الذبائح والصید /باب الضب (رقم-۵۵۳۷) ومسلم فی کتاب الصید /باب إباحة الضب (رقم-۴۴ - (۱۹۴۶) والنسائی فی کتاب الصید والذبائح /باب الضب (رقم-۴۳۱۷) واحمد فی المسند: والترمذی فی/۳۹۴

وی، [۳] خکه زه د دې نه [طبعي كراهت] محسوسوم، [۴] د حضرت خالد ﷺ بیان دی. په دې اوریدو سره ما هغه سمساره د خان طرف ته راښکله، او ومې خوړله، [۵] او حضور ﷺ زما طرف ته کتل. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ③أَعَافُهُ: کرکه ددې ④فَاجْتَرَرْتُهُ: دا مې خپل خان طرف ته راښکله.

تسهيلات:

نوټ: ددې حدیث د مضمون پوره تفصیل د مذاهب د بیان سره ددې ځخه وړاندې حدیث نمبر (۴۱۱۰) په تشریح کښې تیرشو.

[۴۳] د چرګ د غوښې حلت

۴۳—[۹] (۱) [۱] «وَعَنْ أَبِي مُوسَى -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَأْكُلُ لَحْمَ الدَّجَاجِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: [۱] او حضرت ابوموسی ﷺ وايي [۲] چې ما رسول الله ﷺ د چرګ په غوښه خوړلو لیدلي دي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ①الدَّجَاجِ: چرګ.

تسهيلات:

قوله: يَأْكُلُ لَحْمَ الدَّجَاجِ

دَ لفظ دجاج تحقيق: الدجاج اسم جنس مثلثة الدال ضبط کړې شوې دې لکه چه دمشقی، ابن مالک اومنذری وغیره نقل کړی دی خوعلامه نووی صرف دَ دال فتح اوکسره بیان کړې دې دَ ده واحد دجاجة هم مثلثة الدال دې اومذکر اومؤنث دواړو دَ پاره استعمالیږی خوعلامه حربی په غریب الحدیث کښې فرمائی چه دجاج بالکسر فقط دَ مذکر دَ پاره استعمالیږی اودَ دې واحد من غیر لفظه دیک دې او دجاج بالفتح مؤنث دَ پاره او دَ دې واحد دجاجة دې

د دجاج وجه تسميه: علامه ابن سیده وائی چه دجاجه د دج یدج نه ماخوذ دې دَ کوم معنی چه بار بار په تیزئی سره تلل راتلل دی چرګه هم بار بار خی راخی په دې وجه دې ته هم دجاجه وئیلی شی

دچرګې کنيت: دَ دې کنیت ام الولید، ام حفصه، ام جعفر، ام عقبه، ام احدی و عشرین، ام

[۱]) اخرجه البخارى فى كتاب الذبائح والصيد/باب لحم الدجاج (رقم-۵۵۱۷) ومسلم فى كتاب الأيمان/باب ندب من حلف يمينا فراى غيرها خيرا منها. أن يأتى الذى هو خير. ويكفر عن يمينه (رقم-۹ - (۱۶۴۹) ومسلم فى كتاب الصيد/باب إباحة الجراد (رقم-۵۲ - (۱۹۵۲) والترمذى فى كتاب الأطعمة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى أكل الدجاج (رقم-۱۸۲۷) والنسائى فى كتاب الصيد والذبائح/باب إباحة أكل لحوم الدجاج (رقم-۴۳۴۸) واحمد فى المسند: والترمذى فى/۳۹۴

قوب او ام نافع دي

دَ چرگې دَ غوښې شرعي حکم: دَ چرگې غوښه په اتفاق سره جائز ده که چرگه ساتلې شوې وی او که وحشيه يعنی ځنګلی وي

دَ چرگې بعضې خواص: ① چرگه دَ بزدلئی په وجه قليل النوم او سريع الانتباه دي

② په عام توگه باندې په اوچت ځائي اوده کيږی

③دَ نمر ډوبيدو سره په دې دَ خوب غلبه راځی

④ دَ دې بچې دَهګئی نه پشمين (د پشم په شان نرم) اوښائسته پيدا کيږی اوتيونګې وهلوباندې پوهيږی سريع الحرکت وی

⑤ چې څومره چه ورځې تيريږی په دې کښې حماقت او دَ حسن کمې پيدا کيږی تردې چه په آخره کښې بدشکله چرگه ترې جوړه شی

⑥ دَ چرگې بعضې هغه قسمونه دی چه په يوه ورځ کښې دوه هګئی اچوی او بعض هغه دی چه دَ ېخنئی دؤو مياشتو نه علاوه ټول کال هګئی اچوی

⑦ علامه قزوينی وائی چه دَ چرگې په ججوره کښې يو کانړی وی که دا مرگی والا سره اوتړې نو شفابه ئی اوشی

⑧ په غاړه کښې ئ زوړندول دَ قوت باه دَ پاره مفيد دی

⑨ اودَ بدنظر نه دَ حفاظت ذريعه ده اوکه دَ يوماشوم دَ سرلاندې کيخودې شی نو هغه به په ⑩ خوب کښې نه ويريږی

[۳۱۳] د ملخ د خوراک حکم

۳۱۳ـ[۱۰] ( )[۱] «وَعَنِ ابْنِ أَبِي أَوْفَى -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- قَالَ: [۲] غَزَوْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- سَبْعَ غَزَوَاتٍ [۳] كُنَّا نَأْكُلُ مَعَهُ الْجَرَادَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] اوحضرت ابن ابي اوفي وايي ،[۲] چې مونږ د رسول الله ﷺ په ملګرتيا کښ اووه جهادونه کړی دی، [۳] مونږ په [هغه موقع] د رسول الله ﷺ سره ملخان خوړل (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① الْجَرَادَ: ملخان،جراد په فتح دَ جيم اوتخفيف دَ راء سره دي واحد ئی جرادة دې اودَ حمامه په شان دا هم دَ مذکر اومؤنث دواړودَ پاره استعماليږی

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب الذبائح والصيد/باب أكل الجراد (رقم-٤٥٩٥) ومسلم فی کتاب الصيد/باب إباحة ميتات البحر (رقم-١٧ - (١٩٣٥) وابوداود فی کتاب الأطعمة/باب فی أكل الجراد (رقم-٣٨١٢) والترمذی فی کتاب الأطعمة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی أكل الجراد (رقم-١٨٢٢) والنسائی فی کتاب الصيد والذبائح/باب الجراد (رقم-٤٣٥٦)واحمد فی المسند: والترمذی فی/٣٨٠

تسهیلات:

قوله: كُنَّا نَأْكُلُ مَعَهُ الْجَرَادَ:

د ملخ قسمونه او رنگونه: بعضې د لويو بدنونوالا دی بعضې واړه دی او دَ دوی رنګونه هم مختلف دی بعضې سره بعضې زيړ او بعضې سپين دی

د ملخ د کب د انټوشی څخه پيدا کيدل: دَ بعضې حضراتو رائی داده چه دا د کب د انتروشی نه پيدا شوی دی هم په دې وجه دَ کب په شان بغيردَ ذبح دَ دې خوړل حلال دی

دليل: دَدې تائيد په يوضعيف روايت سره هم کيږی دکوم تخريج چه ابن ماجه مرفوعًا دَ حضرت انس رضي الله عنه نه کړې دې ان الجرادة نثرة حوت من البحر دغه شان دَ حضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت كلوه فانه من صيد البحر (اخرجه ابوداؤد والترمذی وابن ماجه) هم دَ دې مؤيد دی كنيت ئ ابوعوف او ام عوف دې.

دَ ملخ خواص:

① ملخ په ځنګل کښې هګئی اچوی اودَهغې دَ اوچيدو پورې هغه پريږدی.

② هميشه خپل مشر سره الوزی په کوم فصل چه ورشی هغه برباد کوی.

③ که يو سړی ته متيازو کښې تکليف وی نو هغه ته دَ لوئ ملخ په لوګی کولو سره به فائده اوشی

④ دَ اوږدې غړانګې والا ملخ چه دَ مريض په غاړه کښې واچولې شی نو هرڅلورمه ورځ باندې راتلونکې تبې دَ پاره فائده مند دې

⑤ ابن سينا ونيلی دی چه دَ دولسو ملخانو خپې لاسونه او سر دَ کشمالی دَ بوټی پوستکی سره ملاوول او څکل دَ استسقاء په مرض کښې فائده ورکوی

⑥ که دَ دې دَ هګومرهم دَ مخ په دانوباندې اولګولې شی نوداغونه به ئی ختم شی

دَملخ شرعی حکم: د ملخانودوه قسمونه.

① بحري ملخان: دَ بحری ملخانو خوراک په اتفاق سره حرام دې

② بري ملخان: د دې په خوراک کښې اختلاف دې

د بری ملخانو په خوراک کښې دوه مذاهب:

① بعضې شافعيه ضميری وغيره فرمائی چه دَ دې خوراک مکروه دې اودَ حضرات مالکيه باره کښې مشهور دی چه هغوی دَ دې دَ جواز دَپاره دَ ذبح شرط لګوی.

② د جمهور علماؤ په دې خبره اتفاق دې چه د دې خوراک جائز دې

③ د ملخ د حلت دپاره د مالکيانومختلف اقوال

① بعضې مالکیه وائی چه دَ دې سر پریکول کافی دی
② بعضې وائی چه دَ دې په کټونی یااُور کښې اچول کافی دی.
③ ابن وهب مالکی فرمائیلی دی چه دَ دې رانیول به هم ذبح شمیرلې کیږی
④ مطرف مالکی فرمائی چه دَ ذبح هیڅ حاجت نشته خکه چه ابن عمر رضی الله عنهما

د څلورم قول دلیل: دَ نبی کریم ﷺ نه مرفوعًا نقل کړی دی أحلت لنا ميتتان ودمان السمك والجراد والكبد والطحال (أخرجه أحمد والطبراني والدارقطني) معلومه شوه چه دَ ذبح هیڅ حاجت نشته اودا روایت سره دَ دې چه په اصح قول باندې موقوف دې خو دَ مرفوع په حکم کښې دې

د اول فریق اول دلیل: ① رسول الله ﷺ دَ دې دَ خوراک نه کرکه فرمائیلې ده لکه څنګه چه دَ ضب دَ خوراک نه ئې کرکه فرمائیلې ده او دَ استدلال په توګه ئې دَ سلمان فارسی رضی الله عنه هغه روایت پیش کړې دې دَ کوم تخریج چه امام بخاری کړې دې إنه رسول الله صلى الله عليه وسلم سئل عن الجراد فقال لا آكله ولا أحرمه.

د اول فریق د اول دلیل جواب: دا روایت مرسل دې دَ کوم تفصیل چه امام ابوداؤد فرمائیلې دې.

د اول فریق دویم دلیل: ② دغه شان ابن عبدی دَ ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت انه سئل عن الضب فقال لا آكله ولا أحرمه وسئل عن الجراد فقال مثل ذلك نقل کړې دې. نومعلومه شوه چه دَ ملخ خوراک مکروه دې

د اول فریق د دویم دلیل جواب: دا روایت ضعیف دې په دې کښې ثابت بن زبیر راوی ضعیف دې كما قال النسائي.

د دویم فریق دلائل: ① روایت الباب په کوم کښې چه راوی دَ رسول الله ﷺ سره دَ جهاد په موقع باندې دَ ملخ دَ خوړلو بیان کړې دې دَ ترمذی د روایت نه معه في الأكل صراحةً نه معلومیږی خو په بعضې روایاتو کښې راغلی دی نأكل معه الجراد اودَ ابونعیم په روایت کښې دَ بأكل معنا لفظ صراحةً دَ رسول الله ﷺ په خوړلو باندې دلالت کوی اګر چه اکثر روایاتو د معه د لفظ نه خالی دی نوبیابه دا تاویل کولې شی چه دَ رسول الله ی ﷺ په وړاندې چه کله صحابه کرامو ملخان اوخوړل نو حبیب پاک خاموش پاتې شونوتقریراً جواز ثابت شو

② حديث أنس رضي الله عنه كن أزواج النبي صلى الله عليه وسلم يتهادين الجراد في الطباق (رواه ابن ماجه
③ عن ابن عمران عمر سئل عن الجراد فقال وددت لو أن عندي قفعةً فأكل منه (موطا)
④ عن ابي امامة ان النبي صلى الله عليه وسلم قال ان مريم بنت عمران سألت ربها ان يطعمها لحما لا دم له فأطعمها الجراد (رواه البيهقي).
⑤ حديث ابن عمر رضي الله عنهما احلت لنا ميتتان السمك والجراد والكبد والطحال.

دَ دې دلائلو په رڼا کښې جمهور حضرات بغیر د کراهت نه دَ ملخ خوراک ته جائز وائی دا رنګ علامه نووی رحمه الله دَ مخ دَ خوړلو په جواز باندې دَ علماؤ اجماع نقل کړې ده.(۱)

د معه لفظ اضافه او کمی: دَ حدیث په اکثر روایاتو کښې معه لفظ نشته دې اوچرته چه دا لفظ شته نودَ دې مطلب دادې چه دَ نبی کریم په موجودګئی کښې صحابه کرامو ملخ خوړلې دې. پخپله نبی کریم چرته ملخ نه دې خوړلې اونه ئې په نورو حرام کړې دې.

[۲۳] د دریابی کب د خوراک واقعه

۲۳-[۱۱] ()[۱] «وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] غَزَوْتُ جَيْشَ الْخَبَطِ،[۳] وَأُمِّرَ عَلَيْنَا أَبُو عُبَيْدَةَ [۴] فَجُعْنَا جُوعًا شَدِيدًا،[۵] فَأَلْقَى الْبَحْرُ حُوتًا مَيِّتًا لَمْ نَرَ مِثْلَهُ،[۶] يُقَالُ لَهُ: الْعَنْبَرُ [۷] فَأَكَلْنَا مِنْهُ نِصْفَ شَهْرٍ،[۸] فَأَخَذَ أَبُو عُبَيْدَةَ عَظْمًا مِنْ عِظَامِهِ [۹] فَمَرَّ الرَّاكِبُ تَحْتَهُ،

ترجمه: [۱] او حضرت جابر رضی الله عنه وايي [۲] چې په جيش الخبط [يعنی د پاڼي خنډلو خوړونکي لښکر] سره په جهاد کې تلونکي کې زه هم شريك وم،[۳] حضرت ابوعبيده د هغه لښکر مشر (سالار) جوړ شوي وو،[۴] موږ سخت اوږي شو،[۵] نو سمندر يو مهئ غاړي ته را اوغورځولو، موږ داسي غټ مهئ هيڅ کله نه وو ليدلي،[۶] دې قسم مهئ ته يې عنبر ويلی،[۷] موږ د هغه نه د تر نيمي مياشتي ډير په فراخي سره اوخوړلو،[۸] بيا حضرت ابوعبيده رضی الله عنه د هغه د هډوکو نه يو هډوکي [يعنی د هغه پښتي ودروله][۹] نو د هغه لاندې يو په اوښ سپور په ډيره آساني سره تير شو،

حل اللغات: ① جَيْشَ: لښکر، ② الْخَبَطِ: خبط دَ ونو پاڼرو ته وائی. ③ فَجُعْنَا: نو موږ اوږی شو، ④ حُوتًا: غټ کب. منې. ⑤ الْعَنْبَرُ: يو قسم کب دې،

[۱] فَلَمَّا قَدِمْنَا ذَكَرْنَا ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] فَقَالَ: "كُلُوا رِزْقًا أَخْرَجَهُ اللّٰهُ إِلَيْكُمْ [۳] وَأَطْعِمُونَا إِنْ كَانَ مَعَكُمْ" [۴] قَالَ: فَأَرْسَلْنَا إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- مِنْهُ فَأَكَلَهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] د دې نه پس چې موږ مديني ته راغلو، نو موږ د نبي کريم صلی الله علیه وسلم په مخکې د دې واقعي ذکر وکړو[۲] حضور صلی الله علیه وسلم وفرمايل کوم رزق چې الله تعالی تاسو ته رسولي دي، هغه خوري. [يعنی تاسو ښه وکړه چې هغه ماهی مو وخوړلو، ځکه چې الله تعالی هغه ستاسو رزق جوړولو سره تاسو ته رسولي وو، يا دا چې د هغه يو بل رزق پيدا کړي، نو هغه خوري]

(۱) لكن فصل ابن العربى فى شرح الترمذى بين جراد الحجازى وبين جراد الأندلس. فقال فى جراد الأندلس لايؤكل لأنه ضرر محض لأن فيه سميته محضة. ۱۲

(۱) اخرجه البخارى فى كتاب المغازى/باب غزوة سيف البحر. وهم يتلقون عيرا لقريش. واميرهم أبو عبيدة بن الجراح رضى الله عنه (رقم-۴۳۶۲)ومسلم فى صحيح رقم الحديث ۱۷/ ۱۹۳۵ وابوداود فى كتاب الأطعمة/باب فى دواب البحر (رقم-۳۸۴۰)والنسائى فى كتاب الصيد والذبائح/باب ميتة البحر (رقم-۴۳۵۲) وابن ماجه فى كتاب الزهد/باب معيشة أصحاب النبى صلى الله عليه وسلم (رقم-۴۱۵۹) ومالك فى الموطا كتاب صفة النبى صلى الله عليه وسلم/ جامع ما جاء فى الطعام والشراب (رقم-۲۴) واحمد فى المسند:۳۷۸/۳

[۳] او كه په هغه كې څه حصه تاسو سره پاتې وي، نو په مونږ يې هم وخوري [دا خبره ګويا حضور ﷺ د هغوئ د خوش دلي د پاره او د هغه ماهي د حلال كيدو حكم مؤكد كولو په غرض وفرمايله، چې د هغه خلقو په زړه كې دا خيال پيدا نشي، چې هغه ماهي په اصل كې خو جائز نه وو، خو زمونږ د اضطراري حالت پيش نظر هغه زمونږ د پاره حلال كړل شوي دي][۴] حضرت جابر ﷺ وايي چې مونږ د هغه ماهي څه حصه د رسول الله ﷺ په خدمت كې وليږه، او حضور ﷺ د هغه نه وخوړله. (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: غَزَوْتُ جَيْشَ الْخَبَطِ:

د سرية الخبط وجه تسميه:خبط دَ ونو پاڼږو ته وائي. چونكه په دې غزوه كښې اسلامي لښكر دَ ونوپاڼږې راشوكولې اوخوړلې. تردې چه شني پاڼږې هم ختمې شوې په دې وجه دَدې نوم سرية الخبط او جيش الخبط شو. دې ته سرية سيف البحر هم وائي. يعنې دَ سمندر دَ غاړې لښكر.

دحديث پس منظر:دَمديني منورې نه دا ځائې دَ پنځو شپو په فاصله باندې دَ سمندرپه غاړه واقع دې. درې سوا صحابه كرام په دې چهاپه مار جنګ كښې شريك شوى وو دكوم امير چه حضرت ابوعبيده بن الجراح وو. په كال ۸ھ كښې دَ صلح حديبيه نه مخكښې دا واقعه پيښه شوې ده. دَ ونو پاڼږې خوړلوسره دَ صحابه كرامو شونډې اوشليدلې اوخلې ئې زخمي شوې او قضاء حاجت به ئې دَ پچو په شان كيدلو. په آخره كښې الله تعالى امداد اوكړو او يو اژدها وهيل كب سمندر بهر راغوزاركړو

قوله: فَأَلْقَى الْبَحْرُ حُوتًا مَيِّتًا لَمْ نَرَ مِثْلَهُ:

د كب غټ والې: دكوم نوم چه عنبر وو. دَ غټوالى په وجه دا دَ دابة په لفظ سره هم ياد كړې شوې دې ګنې دا كب وو لكه څنګه چه په زيربحث دَبخارى اومسلم حديث كښې دې ته حوت وئيلې شوې دې دريو سوو مجاهدينو يوې مياشت پورې دا خوړلو صحابه كرامو دَدې نه په زيات مقدار كښې تيل هم حاصل كړل په كشتوكښې ئې هم استعمال كړل او په بدنونو باندې ئې هم اومږل. دَ كب دَ سترګې په كنده كښې ۹كسان كيناستل اوښكاريدل به نه. دَ پوښتئې دَ هډوكى لاندې په اوښ باندې سور سړې تيركړې شو

په رواياتوكښې تعارض:بعضې رواياتوكښ ۱۵ ورځو او بعضو كښې ۱۸ ورځو پورې دَ خوړلو ذكر دې

د تعارض حل:په دې كښې هيڅ تعارض نشته دې ځكه چه چاڅومره ورځې خوړلې دې هم دَهغې ذكرئې كړې دې. پوره لښكر ۱۵ ورځې خوړلې دې بيا چه چاسره څومره غوښه پاتې شوه هغوى هم هغومره ورځې اوخوړله چا ۱۸ ورځې او چا ۳۰ورځې خوړلې ده.

د نبی علیه السلام د حوت خوړلو وجوهات:

① چونکه دا یو برکتی کب وو د دې وجهې نبی کریم هم خوړلې ده

② په دې خوراک کښې د نبی علیه السلام د طرفه دَ صحابه کرامو خاطرداری مقصود وه

③ په دې خوراک کولو سره نبی علیه السلام عملی طور د دې کب د خوراک فتوی ورکړه

[۳۱۵] په طعام کښې د مچ په غورزیدو د هغې حکم

۳۱۵—[۱۲] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] "«إِذَا وَقَعَ الذُّبَابُ فِي إِنَاءِ أَحَدِكُمْ [۳] فَلْيَغْمِسْهُ كُلَّهُ ثُمَّ لِيَطْرَحْهُ ; [۴] فَإِنَّ فِي أَحَدِ جَنَاحَيْهِ شِفَاءً وَفِي الْآخَرِ دَاءً» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] هر کله چې په تاسو کې د یو سړي په لوښي کې اچې په هغې کې د خوراك څښاك څیز ویا مچ پریوځی.[۳] نو هغه ته پکار دي، چې پوره مچ ته غوټه [غوپه] ورکړي. او بیا یې په را اوباسی او وئ غورځوي،[۴] ځکه چې د هغه [مچ] د دواړو وزرو نه په یو وزر کی شفاء ده. او په دویم کې بیماري ده (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① الذُّبَابُ: مچ ، ② فَلْيَغْمِسْهُ: نو غوپه دې ورکړی. اودې تومبی. ③ لِيَطْرَحْهُ: بیا دې اوغورزوی.

تسهیلات: قوله: إِذَا وَقَعَ الذُّبَابُ فِي إِنَاءِ أَحَدِ:

د څیزونودوه قسمونه: ① یوګرم اوبوخ شوې څیز وی لکه چائې که مچ په چائیو یا ګرمه ترکاری کښې پریوځی اوبوخ شی نودې دَ خوراك څښاك تذکره په دې حدیث کښې نشته دې هغه خو په طبعی اوعرفی توګه باندې دَ استعمال قابله نه دې

② که د خوراک څیز یخ وی لکه پیٹی لسی شربت اویا یخه ترکاری،نوکه مچ په داسې یخ څیزونو کښې پریوځی نوپه دې حدیث کښې هم دَ داسې صورت باره کښې نبی کریم ارشاد فرمائیلې دې چه مچ په دې کښې وردوب کړه اوبیا راویستو سره بهر اوغورزوه

قوله: فَلْيَغْمِسْهُ كُلَّهُ ثُمَّ لِيَطْرَحْهُ:

دمچ د دوبولو وجه: دَ دوبولو وجه نی دا خودلې ده چه دَ مچ په یو وزر کښې زهر اوبیماری ده او دویم کښې دَدې علاج اوشفاء ده. وراندې دَ فصل ثانی په حدیث نمبر (۳۳۳)،(۳۳۴) کښې دا تفصیل دې چه مچ دَ شفاء والا وزر دَ دوبولونه ساتی دې دَپاره چه صرف بیماری او

(۱) اخرجه البخاری فی کتاب الطب/باب إذا وقع الذباب فی الإناء (رقم-۵۷۸۲) وابوداود فی کتاب الأطعمة/باب فی الذباب يقع فی الطعام (رقم-۳۸٤٤) وابن ماجه فی کتاب الطب/باب يقع الذ کتاب الطب/باب فی الإناء (رقم-۳۵۰۵) واحمد فی المسند:۲۲۹/۲

جرائيم په انسان کښې داخل شي لهذا تاسو پوره مچ ورډوب کړئ چه شفاء هم حاصله شي. دَ مچ په کَس وزر کښې بیماری ده په بنی کښې شفاء ده

قوله: فَإِنَّ فِي أَحَدِ جَنَاحَيْهِ شِفَاءً وَفِي الْآخَرِ دَاءً

په یو څیز کښې متضاد صفات جمع کیدل: دَ تجربې نه معلومه ده چه مچ په ډیر مهارت سره یو وزر پورته طرف ته اوچت ساتي په دې کښې هیڅ استبعاد نشته دې چه هم په یوحیوان کښې متضاد صفات جمع وی. دَ شاتو په مچنی کښې شات هم دی اوزهر هم دَ لړم ځرمن دَ زهرو دَ پاره شفاء ده نوزهر هم دی او شفاء هم ورسره ده

[۳۴] په غوړو کښې د مرې د پريوتو حکم

۳۴-[۱۳] ()[۱] وَعَنْ مَيْمُونَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا -[۲] «أَنَّ فَأْرَةً وَقَعَتْ فِي سَمْنٍ، فَمَاتَتْ،[۳] فَسُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -[۴] فَقَالَ: "أَلْقُوهَا وَمَا حَوْلَهَا وَكُلُوهُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او د بي بي ميمونه رضی الله عنها نه روايت دې[۲] چې يوه مږه په غوړوکي ولويده، او مړه شوه،[۳] د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وشوه [چې د غوړو سره بايد څه وشي؟][۴] نو حضور ﷺ وفرمايل چې هغه مږه او شا وخوا غوړي په اوخکلو سره وغورځوئ، او پاتې غوړي خورئ (بخاري)

حل اللغات: ① فَأْرَةً: مږه ، ② سَمْنٍ: غوړی.

د حضرت ام المومنين ميمونه تعارف: نوم ئې ميمونه وه اودَ قريشوخاندان سره ئې تعلق وو. دَ پلار نوم ئې حارث اودَ مورنوم هندبنت عوف وو. دَحضرت ميمونې اوله نکاح مسعودبن عمرو بن عمير ثقفي سره اوشوه بيا ابورهم سره نکاح اوشوه. په ۷ھ کښې دَ ابورهم دَ وفات نه پس دَ حضور ﷺ سره ئې نکاح اوشوه کله چه حضور ﷺ عمرې له تشريف اوړلونوهم په ۷ھ کښې احرام کښې ئې دې سره نکاح اوشوه. دا دَ حضوراکرم ﷺ آخري نکاح وه نودادَ ټولونه آخري بی بی وه. دَ دوی باره کښې حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائي ((انها كانت اتقانالله واوصلناللرحم)) (۲) ميمونه مونږ ټولوکښې دَ الله تعالى نه ډيره ويريده اوصله رحمی به ئې کوله.

وفات: داعجيبه اتفاق دې چه په کوم ځائ يعنى مقام باندې دَ سرف کښې نکاح اوشوه هم په هغه ځائ کښې وفات شوه.

مرويات: دې نه دَ رواياتوشمير ۴۶ دې.

---

(۱) اخرجه البخاری فی کتاب الذبائح والصيد/باب إذا وقعت الفأرة فی السمن الجامد أو الذائب(رقم-۵۵۳۸) والترمذی فی کتاب الأطعمة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الفأرة تموت فی السمن (رقم-۱۷۹۸) واحمد فی المسند: ۳۲۹/۶

(۲) اصابة).(۲) اخرجه البخاری فی الهبة باب الهدية للمشركين ومسلم فی الزكاة باب فضل النفقة والصدقة علی الاقربين واحمد وابوداود (۲۶۹۸۱۱۱۰) وابن حبان (۴۵۰)_

تسهيلات:

قوله: "أَلْقُوهَا وَمَا حَوْلَهَا وَكُلُوهُ":

د غوړو دوه قسمونه: ① غوړي دغه شان نورد خوراک څيزونه که مانع وي لکه شهد، پي، د خوروا (سالن) ترکاري

② غوړي بغير خوروا (سالن) وچه ترکاري که څخه څيز په کښې پريوځي نو چې په کوم ځاى کښې هم هلته وي ګيرچاپيره سرايت نه کوي.

په مانع څيز کښې د نجاست د پريوتو په حکم کښې ۲ مذاهب

تمهيد

① که په مانع غوړو کښې چې نرم نه وي مږه پريوځي او مړه شي نو امام اوزاعي رحمه الله اوزهري رحمه الله او بعضې ظاهريه وائي چه دا مږه او دې سره خواؤشا غوړي اوباسه که غوړي کلک وي اوکه بهيدونکې نوباقي پاک دي اودَ دې په استعمال کښې څه بدى نشته دَ امام بخاري رحمه الله دَ تبويب نه هم دغه فهم ته راځي چه هغه هم دَ دې قائل دې ځکه چه هغه په خپل صحيح کښې " باب إذا وقعت الفارة في السمن الجامد والذائب" عنوان قايم کړې دې اودَ حضرت ميمونه رضي الله عنها روايت الباب يې ذکر يې کړې دې. او په کلک او ويلي شوؤ کښې ئې څه فرق نه دې کړې.

② جمهور علماؤ دَ غوړو په کلکو او ويلي کړې شوي په مينځ کښې دَ فرق قائل دي په کلکوکښې خو مږه اودَ دې سره ماحول اوويسلتلي شي باقي پاک وي خوويلي کړې غوړي به دَ مږې په پريوتو ټول ناپاکه شي.

داول فريق دليل: دَ رواياتو ظاهرڅخه استدلال کوي. په کوموکښې چه دَ کلکواو ويلې کړو په مينځ کښې څه تفصيل نه دې بيان کړې شوي.

داول فريق د دليل جواب: څنګه چې د قرآن پاک بعضې تفصيلي آياتونه د اجمالي آياتونو تفسير کوي نودغه شان بعضې تفصيلي احاديث د اجمالي احاديث تشريح کوي په کومو احاديثو کښې چې مطلقاً د غوړو د خوړلو حکم دې نويه نورو کښې ورسره د جامد او مانع په حکم کښې فرق هم ذکرشوي دې ددې وجهې به په تشريحي اوتفصيلي رواياتوباندې عمل کولى شي، چې په هغې عمل اوشي نو په اجمالي اوتفصيلي دواړه قسمه احاديثو عمل اوشو

د دويم فريق دلائل: ① دَ روايت الباب نه چه په دې کښې رسول الله ﷺ فرمائيلى دى مږه ودَدې ماحول راؤباسي اوبيا دا خورئى ابن عربى وائى چه په لفظ ماحول سره دا په پوهه کښې راځي چه دا حکم دَ کلکو غوړو دې ځکه چه که چرې غوړي بهيدونکى وى نودَ دې

خو ماحول نه جوړيږي نو معلومه شوه چه په کلکواو ويلی کړو کښې فرق شته

④ په صحيح بخاری کښې دَ امام زهری رحمه الله باره کښې نقل دی چه دَ هغه نه سوال اوکړې شو لفظه حدثنا عبدان قال أخبرنا عبد الله عن يونس عن الزهري سئل عن الدابة تموت في السمن وهو جامد أو غير جامد الفأرة وغيرها قال بلغنا ان رسول الله صلى الله عليه وسلم أمر بفارة ماتت في السمن فأمر بما قرب منها فطرح ثم أكل

⑤ دريم هغه روايت دَ کوم تخريج چه امام ابوداؤد رحمه الله په طريق دَ معمر عن الزهري عن سعيد بن المسيب عن أبي هريرة رضي الله عنه کړې دې لفظه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا وقعت الفأرة في السمن فإن كان جامدا فألقوه وما حولها فان كان مائعًا فلاتقربوه هم دغه روايت په طريق دَ معمر عن الزهري عن عبيد الله بن عبد الله ابن عباس رضي الله عنهما عن ميمونة رضي الله عنها عن النبي صلى الله عليه وسلم هم مروی دې صاحب منتقی دَ دې اسناد ابوداؤد او نسائی طرف ته کړی دی علامه شوکانی رحمه الله وانی دَ دې تصحيح ابن حبان وغيره کړې ده. دغه شان روايت صحيح على شرط الشيخين دې بهرحال په دې روايت کښې صراحةً د جامد او د مائع تفصيل موجود دې

د نورو مائعاتو حکم: جمهور علماؤ په غوړو قياس کولو د وجه نه جامداتو او مائعاتو حکم هم دا بيان کړې دې چنانچه د شاتو او د شيرې وغيره په حکم کښې هم دغه تفصيل سره فقهي په کتابونو کښې واضح ذکر دې ليکن امام احمد نه د نورو مائعاتو په باره کښې مختلف روايات نقل دی.

د نجس مائع څيزد خرڅولو حکم: دَ ناپاکه غوړو يا تيلو خرڅول اخستل اودَ دې نه فائده اخستل جائز دی که نه په دې سلسله کښې حسن بن صالح ظاهريه اوامام احمد رحمه الله فرمائی لايباع ولا ينتفع بشئ منه كمالا يؤكل. يعنی دَ دوی په نيز هيڅ قسم فائده اوچتول بالکل جائز نه دی او سفيان ثوری رحمه الله امام مالک رحمه الله او امام شافعی رحمه الله فرمائی چه دَدې خرڅول اخستل او خوړل جائز نه دی خو امام ابوحنيفه رحمه الله اودَ هغه شاګردان او دغه شان ليث رحمه الله فرمائی چه دَ خوراک نه علاوه دَ نورو فائدو اجازت دې مثلا په ډيوه کښې سوزول. دَ کشتئی په رسو باندې لګول او صابن وغيره کښې استعمالول جائز دی دَ امام شافعی رحمه الله ظاهر قول هم دغه دې بل دَ احنافو په نيز دَ دې خرڅول او اخستل هم جائز دی په دې شرط چه دَ دې ناپاکه کيدل اوښائی. وكذا روي عن ابی موسی انه قال بيعوه وبينوا لمن تبيعونه منه ولا تبيعوه من مسلم.

[۳۷۰] د مار د وژلو حکم

۳۷۰-[۱۴] (۱) [۱] «وعن ابن عمر -رضي الله عنهما- أنه سمع النبي -صلى الله عليه وسلم- يقول: [۲] "اقتلوا الحيات، [۳] واقتلوا ذا الطفيتين [۴] والأبتر [۵] فإنهما يطمسان البصر [۶] ويستسقطان الحبل" [۷] قال عبد الله: فبينا أنا أطارد حية أقتلها [۸] ناداني أبو لبابة: لا تقتلها.

ترجمه: [۱] او د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي چې هغه د نبي كريم ﷺ نه واوريدل. [۲] چې وئيل يې چه [عموماً ټول] ماران وژنئ، [۳] او خصوصاً هغي مار چې د هغه په شا دوه توري كرښي وي، [۴] او هغه مار چې ابتر ورته وايي [دا وژنئ] [۵] خکه چې دا دوه قسمه ماران بينايي زائل كوي، [يعنى محض د هغوئ په ليدوسره سړي ړوند كيږي او د دې سبب د هغه زهرو خاصيت دې، كوم چې په دې مارانو كې وي] [۶] دغه شان دا دواړه ماران حمل غورځوي. [يعنى حامله ښځه چې ورته وګوري، نو د هغه د زهرو د خصيت په سبب يا د خوف او د دهشت په وجه د هغې حمل غورځي] [۷] حضرت عبد الله ابن عمر رضي الله عنهما وايي چې يوه ورځ زه په يو مار حمله كولو سره د هغه په وژلو پسې لګياوم. [۸] [يو صحابي] ابولبابه انصاري رضي الله عنه ماته آواز راكړو چې دې مه وژنه.

حل اللغات: ① الْحَيَّاتِ: ماران. ② ذَا الطُّفْيَتَيْنِ: په شا دوه تورو كرښو والا ③ الْأَبْتَرَ: هغه مار چه لکئ ني وړه وى. ④ يَطْمِسَانِ: زائل كوى، ختموى. ⑤ وَيَسْتَسْقِطَانِ: دا دواړه ساقط كوى. غورزوى. ⑥ الْحَبَلَ: حمل. ⑦ أُطَارِدُ: شړله مې، حمله مې كوله، د وژلو كوشش مې كولو.

[۱] فقلت: إن رسول الله -صلى الله عليه وسلم- أمر بقتل الحيات. [۲] فقال: إنه نهى بعد ذلك عن ذوات البيوت [۳] وهن العوامر». متفق عليه.

ترجمه: [۱] ما اوويل چې رسول الله ﷺ د ټولو مارانو د وژلو حكم كړې دې، [۲] حضرت ابو لبابه رضي الله عنه اوويل چې هو ليكن حضور ﷺ د دې عام حكم نه پس په كور كې د اوسيدونكو مارانو د وژلو نه منع فرمايلې ده، [۳] خكه چې هغه كور آبادونكي دي بخاري مسلم

حل اللغات: ⑧ ذَوَاتِ الْبُيُوتِ: كور كښې اوسيدونكي، ⑨ الْعَوَامِرُ: دا د عامرة جمع ده يعنى دا ماران په كورونو كښې اوسيږى او كورونه آبادوى ددوى عمرونه زيات وى په دې وجه دې ته عوامر اووئيلې شو

تسهيلات:

قوله: وَاقْتُلُوا ذَا الطُّفْيَتَيْنِ وَالْأَبْتَرَ

دابتر مار پيژندګلو: دا هغه مار ته وئيلې شى د كوم لكئى چه بالكل وړه وى په ګلګت شتيال كښې دا مار ليدلې شوې دې د يو ليشت نه لږ شان اوږد وى لكئى ئى د نشت برابره وى

(۱) اخرجه البخاري في كتاب بدء الخلق/باب قول الله تعالى: ﴿وبث فيها من كل دابة﴾ [البقرة: ۱۶۴] (رقم-۳۲۹۷) ومسلم في كتاب السلام/باب قتل الحيات وغيرها (رقم-۱۲۸ - ۲۲۳۳) وابوداود في كتاب الأدب/باب في قتل الحيات(رقم-۵۲۵۲) وابن ماجه في كتاب الطب/باب قتل ذى الطفيتين (رقم-۳۵۳۵) واحمد في المسند:۲/۱۲۱

دهغه خاني خلقو وئيل چه که دې مار چاته تك ورکړو نوسړې په هغه دم باندې مرى دا دواړه قسمه ماران ډير زيات زهريلا وى که حامله ښځه دا ويني نوددې د زهرو په اثر سره د ښځې حمل پريوځي اوکه څوك سړې دا ويني نود هغه سړي نظر خي داد دې د زهرو خاصيت دې په دې وجه ددې د وژلو ډير زيات تاکيد ورکړې شوې دې

قوله إِنَّهُ نَهَى بَعْدَ ذَلِكَ عَنْ ذَوَاتِ الْبُيُوتِ، وَهُنَّ الْعَوَامِرُ:

په کورونو کښې اوسيدونکى ماران: علامه توريشتي رحمه الله فرماني چه دا جنات دى د عوامر اطلاق په جناتو باندې کيږى مطلب دادې چه په کورونو کښې اکثرکوم ماران اوسيږى هغه په حقيقت کښې جنات وى چه دمار شکل ئې اختيار کړې وى په دې وجه ددې په قتل کښې احتياط کول پکار دى هسې نه چه هغه چرته جن وى دکوم نه چه د نقصان کيدلو توى خطره پيدا کيږى ددې حديث نور تفصيل او اوږده قصه روستو راځي

[۳۱۸] دکورونه دپيريانو دتختولوطريقه

۳۱۸-[۱۵] ()[1] ① وَعَنْ أَبِي السَّائِبِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ② «دَخَلْنَا عَلَى أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، ③ فَبَيْنَمَا نَحْنُ جُلُوسٌ، ④ إِذْ سَمِعْنَا تَحْتَ سَرِيرِهِ حَرَكَةً ⑤ فَنَظَرْنَا، فَإِذَا فِيهِ حَيَّةٌ، ⑥ فَوَثَبْتُ لِأَقْتُلَهَا وَأَبُو سَعِيدٍ يُصَلِّي، ⑦ فَأَشَارَ إِلَيَّ أَنِ اجْلِسْ، فَجَلَسْتُ، ⑧ فَلَمَّا انْصَرَفَ، أَشَارَ إِلَى بَيْتٍ فِي الدَّارِ، فَقَالَ: ⑨ أَتَرَى هَذَا الْبَيْتَ؟ ⑩ فَقُلْتُ: نَعَمْ. ⑪ فَقَالَ: كَانَ فِيهِ فَتًى مِنَّا حَدِيثُ عَهْدٍ بِعُرْسٍ، ⑫ قَالَ: فَخَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْخَنْدَقِ،

ترجمه: ① او حضرت سائب رضي الله عنه [چې د حضرت هشام ابن زهره رضي الله عنه آزاد کړې غلام وو. او تابعي هم دي] هغه وايي ② چې يوه ورځ مونږ د حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه کور ته ورغلو. ③ مونږ هلته ناست وو، ④ چې ناڅاپه مونږ دابوسعيد رضي الله عنه د تخت لاندې کښهاري واوريدو. ⑤ مونږ وليدل چې هلته يو مار وو. ⑥ د هغه د وژلو د پاره زه ور ولاړ شوم. خو ابو سعيد رضي الله عنه چې مونځ يي کولو. ⑦ ماته يي اشاره وکړله، چې زه کينم. نو زه کينا ستم. ⑧ هر کله چې ابو سعيد رضي الله عنه د مانځه نه فارغه شو، نو هغه د مکان يوې کوټې طرف ته اشاري کولو سره ووئيل ⑨ چې ته دا کوټه وينې؟ ⑩ ماوويل چې هو. ⑪ بيا ابوسعيد رضي الله عنه اوويل په دې کوټه کې زمونږ د خاندان يو ځلمې اوسيدو. هغه نوې واده کړې وو. ⑫ ابو سعيد رضي الله عنه اوويل چې مونږ ټول خلق [يعنى هغه ځلمې هم] د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره غزوه خندق ته لاړو. چې د هغې محاذ د مدينې په مضافات کې قائم شوې وو.

حل اللغات: ① سَرِيرِهِ: سرير کټ ته وائي. ② فَوَثَبْتُ: حملې دپاره تيار شوم. ③ فَتًى: ځوان هلک. ④ حَدِيثُ عَهْدٍ: نوې نوې، اوس اوس. ⑤ بِعُرْسٍ: واده کړې.

[1]) اخرجه مسلم في كتاب السلام/باب قتل الحيات وغيرها (رقم-١٤٠ - (٢٢٣٦) والترمذى فى كتاب الأحكام والفوائد/باب ما جاء فى قتل الحيات (رقم-١٤٨٤)

[۱] فَكَانَ ذَلِكَ الْفَتَى يَسْتَأْذِنُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِأَنْصَافِ النَّهَارِ [۲] فَيَرْجِعُ إِلَى أَهْلِهِ، [۳] فَاسْتَأْذَنَهُ يَوْمًا، [۴] فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - خُذْ عَلَيْكَ سِلَاحَكَ [۵] فَإِنِّي أَخْشَى " عَلَيْكَ قُرَيْظَةَ " [۶] فَأَخَذَ الرَّجُلُ سِلَاحَهُ، ثُمَّ رَجَعَ [۷] فَإِذَا امْرَأَتُهُ بَيْنَ الْبَابَيْنِ قَائِمَةٌ، [۸] فَأَهْوَى إِلَيْهَا بِالرُّمْحِ لِيَطْعَنَهَا بِهِ، [۹] وَأَصَابَتْهُ غَيْرَةٌ.

ترجمه: [۱] هغه خلمي به روزانه غرمه وخت د رسول الله ﷺ نه كور ته د تلو اجازت غوښتلو اخكه چې د ناوي محبت هغه په دي مجبوره كړي ووا [۲] نو اجازت اخستوسره به هغه خپل اهل خانه ته ورتلو. [او شپه به كور كې په تيرولو سره سحر وخت به بيا راتلو سره په مجاهدينو كې شامليدو] [۳] يوه ورځ حسب معمول هغه د رسول الله ﷺ نه اجازت طلب كړو. [۴] حضور ﷺ اجازت وركولو سره ورته وفرمايل چې خپله وسله د خان سره واخله. [۵] خكه چې ما سره ويره ده چيرته بنو قريظه په تا حمله ونه كړي [بني قريظه په مدينه كې د يهوديانو يوه قبيله وه، چې په دي موقع د مكي د قريشو حليف جوړيدو سره د مسلمانانو خلاف په جنګ كې شريك شوي ووا] [۶] هغه خلمي وسله واخسته او خپل كور ته روان شو. كوم وخت چې هغه د خپل كور مخې ته ورسيدو، [۷] نو ځه ګوري چې د هغه ښځه ناوي د كور ددوارو دروازو [يعنى دننه او بهر دروازې] په منځ كښې ولاړه ده، [۸] خلمي د ښځې د وژلو د پاره د هغې طرف ته نيزه اوچته كړه، [۹] خكه [چې هغه دا ليدو سره چې د هغه ښځه بهر ولاړه ده] هغه ته ډير غيرت راغي

حل اللغات: ①- أَنْصَافِ النَّهَارِ: نيمه ورځ، غرمه، ⑤ فَأَهْوَى: نو قصد ئې اوكړو، ⑧ الرُّمْحِ: نيزه، ⑨ لِيَطْعَنَهَا: چه اوئې وژي، مړه ئې كړي،

[۱] فَقَالَتْ لَهُ: اكْفُفْ عَلَيْكَ رُمْحَكَ [۲] وَادْخُلِ الْبَيْتَ حَتَّى تَنْظُرَ مَا الَّذِي أَخْرَجَنِي [۳] فَدَخَلَ فَإِذَا بِحَيَّةٍ عَظِيمَةٍ [۴] مُنْطَوِيَةٍ عَلَى الْفِرَاشِ [۵] فَأَهْوَى إِلَيْهَا بِالرُّمْحِ [۶] فَانْتَظَمَهَا بِهِ [۷] ثُمَّ خَرَجَ فَرَكَزَهُ فِي الدَّارِ [۸] فَاضْطَرَبَتْ عَلَيْهِ [۹] فَمَا يُدْرَى أَيُّهُمَا كَانَ أَسْرَعَ مَوْتًا: [۱۰] الْحَيَّةُ أَمِ الْفَتَى؟ [۱۱] قَالَ: فَجِئْنَا رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَذَكَرْنَا ذَلِكَ لَهُ،

ترجمه: [۱] ليكن ښځې ورته اوويل چې خپله نيزه د خان سره ايساره كړه، [۲] لږ كور ته راننوځه. چې څه شي زما بهر ته د راوتلو سبب شوي دي. [۳] په دي اوريدو سره هغه خلمي په كور كې داخل شو. هلته سمدستي د هغه نظر په يو لوئ مار پريوتلو. [۴] چې په بستره راتاو شوي پروت وو. [۵] خلمي په هغه نيزي سره په مار حمله وكړه. [۶] او هغه يې په نيزه كې وپيلي. [۷] بيا د دننه نه بهر راووتلو. اونيزه يې د كور په انګړ كې ښخه كړه. [۸] مار زخمي كيدو سره په خلمي حمله وكړه. [۹] بيا دا معلومه نه شوه. چې په دوارو كې كوم مخكې مړ شو. [۱۰] مار يا خلمي [يعنى دواړه داسي يو خاي مړه شو، چې دا معلومات هم ونه شو، چې مخكې دچا مرګ واقع شوا] [۱۱] حضرت ابوسعيد ﷺ وايي چې د دي واقعي نه پس مونږ د

رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضرشو. اود حضور ﷺ په مخکې مو توله واقعه بیان کړله

حل اللغات: ⑩ اَکُفُّ: بنده کړه، ایساره کړه. ⑪ مُنْطَوِيَةً: خان نې راتاو کړې وو. ⑫ فَانْتَظَمَهَا: ورخبه نې کړه یکښې. ⑬ فَرَكَزَهُ: ښخه نې کړه.

[۱] وَقُلْنَا: ادْعُ اللَّهَ يُحْيِيهِ لَنَا. [۲] فَقَالَ: "اسْتَغْفِرُوا لِصَاحِبِكُمْ" [۳] ثُمَّ قَالَ: "إِنَّ لِهَذِهِ الْبُيُوتِ عَوَامِرَ [۴] فَإِذَا رَأَيْتُمْ مِنْهَا شَيْئًا فَحَرِّجُوا عَلَيْهَا ثَلَاثًا [۵] فَإِذَا ذَهَبَ وَإِلَّا فَاقْتُلُوهُ [۶] فَإِنَّهُ كَافِرٌ" [۷] وَقَالَ لَهُمْ: "اذْهَبُوا فَادْفِنُوا صَاحِبَكُمْ". [۸] وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ: [۹] "إِنَّ بِالْمَدِينَةِ جِنًّا قَدْ أَسْلَمُوا [۱۰] فَإِذَا رَأَيْتُمْ مِنْهُمْ شَيْئًا فَآذِنُوهُ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ [۱۱] فَإِنْ بَدَا لَكُمْ بَعْدَ ذَلِكَ فَاقْتُلُوهُ [۱۲] فَإِنَّمَا هُوَ شَيْطَانٌ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او عرض مو اوکړو چې ته ﷺ د الله تعالی نه دعا وغواړه، چې دا خلمی زمونږ د پاره ژوندي کړي، [۲] حضور ﷺ وفرمایل چې د خپل ملګري د پاره مغفرت طلب کړئ. [۳] بیا یې وفرمایل چې د مدینې په دې کورونو کې عوامر[یعنی جنات (پیریان)] اوسیږي. [چې په هغوئ کې مؤمنان هم دي، او کافران هم]، [۴] نو تاسو چې په هغوئ کې څوك [د مار په صورت کې] ووینئ، نو درې خلې یا درې ورځې په هغې تنګي اختیار کړئ. [۵] بیا که هغه لاړ شي، نو ډېره ښه ده، ګینې بیا یې ووژنئ، [۶] ځکه چې په دې صورت کې به د ګیل کیږی چې هغه په جناتو کې کافر دي، [۷] بیا حضور ﷺ انصارو ته وفرمایل چې ورشئ د خپل ورور کفن دفن وکړئ، [۸] په یو روایت کې دا الفاظ دي چې حضور ﷺ وفرمایل [۹] په مدینه کې څه جنات (پیریان) دي، [او په هغوئ کې هغه هم دي] کوم چې مسلمان شوي دي. [۱۰] په هغوئ کې چې تاسو څوك [د مار په صورت کې] ووینئ، نو درې خلې هغه خبردار کړئ. [۱۱] بیا د درېو ورځو نه پس هم که هغه ښکاره شي، نو هغه ووژنئ [۱۲] ځکه چې هغه شیطان دي (مسلم)

حل اللغات: ⑭ عَوَامِرَ: د مارانو په شکل کښې جنات دی کوم چه په کورونو کښې آباد دی. ⑮ فَحَرِّجُوا: نو تنګی اختیار کړئ. ⑯ فَآذِنُوهُ: خبردار نې کړئ.

تسهیلات: قوله: ادْعُ اللَّهَ يُحْيِيهِ لَنَا

د ژوندی کولو مطالبې وجه: دَ صحابه کرامودا درخواست دَدې دَ پاره نه وو چه مړشوې صحابی دې ژوندې شی بلکه دَهغوی خیال وو چه کیدې شی چه دا ژوندې وی دَ مار د زهرود وجهې بې هوشه شوې وی نبی کریم اوفرمائیل داخبرې پریږدئی هغه مړشوې دې دَده دَپاره استغفار اوکړئی

قوله: فَحَرِّجُوا عَلَيْهَا

مارته د کور څخه د وتلو حکم: یعنی ده ته اووایئی چه اوس ته په تنګئی او ګیره کښې نی اوس دَ وتلوکوشش مه کوه. که بیا راؤوتلو نو مونږ به په تاباندې حمله اوکړو قتل به دې کړو اوس ستاخوښه ده اوسیږې اوکه ځې.

مارته د مخاطبې الفاظ: په يو روايت كښې نبي كريم فرمائيلي چه كله په كور كښې مار ښكاره شي نو هغه ته دا اووايئ "أنشدكم بالعهد الذي أخذ عليكم سليمان بن داؤد لاتؤذونا ولاتظهروا لنا" يعني زه تاسو ته هغه وعده يادوم كومه چې حضرت سليمان عليه السلام ستاسو څخه اخستې وه چې تاسو مونږ ته ضرر مه رارسوئ او تاسو مونږ ته مه ښكاره كيږئ

د درې ورځو څخه ورستو د قتل جواز: درې ورځو پورې داعمل اوكړئ كه چرې هغه مسلمان جن وي نو لاړبه شي اوكه لاړو نو معلومه شوه چه داكافر جن دې اوس د هغه مار اووژلو خكه چه اوس دې شيطان جوړشوي دې چه په حقيقت كښې ابليس دې يا په حقيقت كښې ماردې يا كافر جن دې ددې تولو وژل جائز دي

[۳۳] د چرمخكې د وژلو حكم

۴۰۳۹—[۱۲] (　) ۱ وَعَنْ أُمِّ شَرِيكٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهَا: ۲ أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- «أَمَرَ بِقَتْلِ الْوَزَغِ ۳ وَقَالَ: "كَانَ يَنْفُخُ عَلَى إِبْرَاهِيمَ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او د بي بي ام شريك رضي الله عنها نه روايت دې ۲ چې رسول الله ﷺ د كركټ د وژلو حكم وكړو ۳ او وي فرمايل كركټ به په حضرت ابراهيم عليه السلام اور پوكولو بخاري مسلم

حل اللغات: ① الْوَزَغِ: كربوري، كركټ ② يَنْفُخُ: پوكې به ئي وهلو

د حضرت ام شريک رضی الله عنها مختصر تعارف: نوم عزية خو دې ته به عزيلة ونيلي كيدل كنيت ام شريک، خيني وائي چه ددې تعلق قبيله عامريه سره وو يا دوسية يا انصارية ددوی احاديث بخاري، مسلم، ترمذي، نسائي او ابن ماجه وغيره كښې موجود دي

تسهيلات:

قوله: أَمَرَ بِقَتْلِ الْوَزَغِ:

د وزغ لغوی تحقيق: ① ددې جمع أوزاغ ده چمچوركنی ته وائی مصباح اللغات كښې هم ددې ترجمه چمچوركنی ليكلې ده

② منجدچه كوم تصوير وركړې دې هغه هم د چمچوركنی دې

③ مظاهرحق ددې ترجمه كركټ كربوری سره كړې ده كومه چې تيک نه ده

قوله: كَانَ يَنْفُخُ عَلَى إِبْرَاهِيمَ

د چرمخكې د ابراهيم عليه السلام اور ته پوكې وركول: دې هم د دغه طبعي شرارت او بدنيتئ د اظهار په توګه د حضرت ابراهيم عليه السلام دپاره لګيدلې د نمرود اور ته پوكې وركولو كنی ددې په پوكی سره به څه اثر پريوتلې وې صرف د عداوت اظهارنی اوكړو

[۱] اخرجه البخاری فی كتاب الانبيا/ باب قول الله (واتخذ الله ابراهيم خليلا) رقم الحديث ۳۳۵۹ ومسلم فی كتاب السلام/ باب استحباب قتل الوزغ... رقم الحديث ۵۹۷۹

د چرمخکۍ په وژلو ثواب ملاویدل:دا یو ضرري خناور دې په دې وجه په اسلام کښې ددې په وژلو باندې دا انعام ملاویږی چه که په یو وار دې اووژله نود یوصاع د صدقې ثواب ملاویږی اوکه په زیاتو گذارونو مړه شوه نود نصف صاع د صدقې ثواب ملاویږی دا اکثر په یو وار کښې نه مری اود دې دپاره لنده بهترین وسله ده فوری مړه کیږی حضرت عائشه ﷺ به ددې د وژلودپاره په کورکښې دوه ډنډې کیخودلې یوه به نی د کوړپه صحن کښې او بله به نی کوټه کښې کیخودله

چرمخکۍ ډیر زهریلا حیوان دې که چرته په خوراك کښې پریوتله نو په دې سره به تول خوراك کونکی مړه شی دا شاذ ونادر په چا باندې چك لگوی لیکن چك لگولو سره سړې مړکیږی دا په طبعی توگه باندې شرارتی وی سره ددې چه خاموشه ښکاری په مالگه کښې بوکې وهی یا په دې کښې لوغړیږی دې دپاره چه دغه مالگې په استعمال سره انسان د برگی مرض بیمار جوړ شی د هگئی د پوستکی کیخودو د وجهې چرمخکۍ تختی

دثواب په مقدارکښې د تعارض تطبیق:دې پسې چه کوم حدیث دې په هغې کښې هم د چرمخکۍ د وژلو حکم بیان کړې شوې دې اودې نه پس حدیث نمبر(۴۱۲۱) کښې ددې په وژلو باندې د سلو نیکو ثواب ملاویدو بیان دې په دې شرط چه وژونکې اول پوزیشن حاصل کړی دویم نمبر سړی ته به ۵۰ او دریم ته به ۲۰ درجې ثواب حاصلیږی

[۳۳۰] چرمخکۍ باندې د فویسقه اطلاق

٤١٣٠-[١٧]()① وَعَنْ سَعْدِبْنِ أَبِي وَقَّاصٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-② أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- «أَمَرَ بِقَتْلِ الْوَزَغِ③ وَسَمَّاهُ فُوَيْسِقًا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او د حضرت سعد ابن ابي وقاص ﷺ نه روایت دې ② چې رسول الله ﷺ د گرگټ وژلو حکم وکړو③ او د هغه نوم یې فویسق کیخودو (مسلم)

حل اللغات: ①الْوَزَغ: گرگټ. کربوړې، ②فُوَيْسِقًا: تصغیر دې، مړه

تسهیلات: **قوله**: وَسَمَّاهُ فُوَيْسِقًا

چرمخکۍ ته د فویسقه وئیلو وجه:دا په اصل کښې د فاسق تصغیر دې چه معنی ئې ده وړوکې فاسق ده، نو کربوړی ته هم وړوکې فاسق ددې وجهې نه وئیلې شی چه دا هم د فواسق خمسه نه دې یعنی د هغه پنځو خناورو نه دې، چه د کومو په هر حال کښې وژل جائز دی خواه که هغه په حدود د حرم کښې وی او که بهر وی هم دغه شان کربوړې خپله نفع حاصلولو نه بغیر انسانانو ته نقصان ورکوی او دا هم د حق لارې نه اوړی، ددې وجهې نه ورته فاسق وئیل کیږی .

() اخرجه مسلم فی کتاب السلام/ باب استحباب قتل الوزغ... رقم الحدیث ۵۹۸۱

[۳۳۱] د چرمخکي په وژلو د ثواب ملاویدل

۳۳۱—[۱۸] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] «مَنْ قَتَلَ وَزَغًا فِي أَوَّلِ ضَرْبَةٍ [۳] كُتِبَتْ لَهُ مِائَةُ حَسَنَةٍ، [۴] وَفِي الثَّانِيَةِ دُونَ ذَلِكَ، [۵] وَفِي الثَّالِثَةِ دُونَ ذَلِكَ» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او د حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: [۲] کوم سړي چې ګرګټ په یو وار کې ووژني، [۳] د هغه د پاره سل نیکۍ لیکل کیږي، [۴] په دوهم وار کې د هغې نه کم [۵] او په دریم وار کې د هغې نه هم کم نیکۍ لیکل کیږي (مسلم)

تسهیلات:

نوټ: د چرمخکي د قتلولو وضاحت دې څخه وړاندې د حدیث نمبر (۴۱۲۰) په تشریح کښې تیرشوي دي

[۳۳۲] د میږي د وژلو حکم

۳۳۲—[۱۹] (۲) [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] «قَرَصَتْ نَمْلَةٌ نَبِيًّا مِنَ الأَنْبِيَاءِ، [۳] فَأَمَرَ بِقَرْيَةِ النَّمْلِ فَأُحْرِقَتْ، [۴] فَأَوْحَى اللهُ تَعَالَى إِلَيْهِ: [۵] أَنْ قَرَصَتْكَ نَمْلَةٌ أَحْرَقْتَ أُمَّةً مِنَ الأُمَمِ [۶] تُسَبِّحُ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او د حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] د الله تعالی کوم انبیاء علیهم السلام چې مخکې تیر شوي دي، په هغوئ کې د یو نبي واقعه ده. چې یو ورځ هغه یو میږي وچیچلو، [۳] نو هغه د میږو د سوړې باره کې حکم وکړو چې هغه دې وسوزول شي. نو وسوزول شوه، [۴] بیا الله تعالی په هغه وحي نازله کړه، [۵] چې ته یو میږي چیچلې وې. او تا د جماعتونو نه یو جماعت وسوزولو، [۶] چې په تسبیح (یعني د الله تعالی په پاکي بیانولو) کې مشغول وو (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① قَرَصَتْ: وني چیچلو.

تسهیلات:

قوله: قَرَصَتْ نَمْلَةٌ نَبِيًّا مِنَ الأَنْبِيَاءِ:

د نبي په مصداق کښې دوه اقوال: ① بعضو وئیلي دي چه دا حضرت موسی علیه السلام وو او بعضو د حضرت داؤد علیه السلام نوم لیکلي دي (مرقات)

---

(۱) اخرجه مسلم في كتاب السلام... رقم الحديث ۵۹۸۴

(۲) اخرجه البخاري في كتاب الجهاد والسير/باب: إذا حرق المشرك المسلم هل يحرق (رقم-۳۰۱۹) وابوداود في كتاب الأدب/باب في قتل الذر (رقم-۵۲۶۶) ومسلم في كتاب الصيد والذبائح/باب قتل النمل (رقم-۴۳۵۸) وابن ماجه في كتاب الصيد/باب ما ينهى عن قتله (رقم-۳۲۲۵) واحمد في المسند: ۲/۴۰۲

د مثال په رڼا کښې د پیغمبر په حول: په مرقات کښې لیکلی دی چه دې نبی دَ الله تعالی نه سوال اوکړو چه یا الله په یوقوم کښې نیك او بد هرقسم خلق وی خوچه کله ستا عذاب راځی نو نیکان او بدان ټول راګیره وی حالانکه ټول مجرمان نه وی الله تعالی دَ یومثال په ذریعه هغه پوهه کول غوښتل نوهغه نبی دَ ونې لاندې اوده شو هغه یو میږی اوچیچلو نو هغه دَ ټولو سوړه اوسوزوله الله تعالی دَ زورنې په توګه تپوس اوکړو چه ټول دې اوسوزول حالانکه هم یو چیچلې وې. په دې کښې اشاره وه چه کله امتیاز مشکل وی نوټول وژلې کیږی. دَ دغه نبی په سوزولو باندې زورنه اونه کړې شوه بلکه دَ ټولو په وژلو سره زورنه اوشوه

قوله: فَأَمَرَ بِقَرْيَةِ النَّمْلِ فَأُحْرِقَتْ:

په شریعت محمدی کښې د میږو د سوزولو ممانعت: دا سوزول دَهغوی شریعت وو زمونږ په شریعت کښې میږې کتمل سپږې وغیره سوزول جائز نه دی په بل څه طریقه باندې وژل پکاردی. چه کوم میږی تکلیف درکړې وی نودَ سزا په توګه هغه وژل جائز دی. مګر سوزول یا ټول وژل جائز نه دی.

دکور څخه د میږو شړلودپاره عمل: دَ میږو دَشړلودَپاره په مرقات کښې یو عمل لیکلې شوې دې سرې دې په کرسئی باندې کینی او میږی دې مخاطب کړی اودَ الله تعالی دَ حمد اوثنا نه پس دې دا وظیفه اووائی "إِنِّيْ أُحَرِّجُ عَلَيْكُنَّ إِلاَّ خَرَجْتُنَّ مِنْ دَارِيْ فَإِنِّيْ أَكْرَهُ أَنْ تُقْتَلْنَ فِيْ دَارِيْ" یعنی زه تاسوته په سختئ سره وایم چې زما د کور څخه لاړشئ اوکه تاسو لاړئ نوتاسو به مجبوراً زما په کورکښې قتل کړې شئ.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۳۳]په غوړو کې د مږې د لویدو مسئله

۲۳۳-[۲۰] (۱)[۱]وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«إِذَا وَقَعَتِ الْفَأْرَةُ فِي السَّمْنِ[۳] فَإِنْ كَانَ جَامِدًا[۴] فَأَلْقُوهَا وَمَا حَوْلَهَا[۵] وَإِنْ كَانَ مَائِعًا فَلَا تَقْرَبُوهُ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] که په غوړو کې مږه ولویږي [اوهغه مړه شي] ،[۳] او هغه غوړي جم شوی (ناګه) وي،[۴] نو هغه مږه او د هغې څلور طرف ته غوړي اوخکلو سره وغورځوئ، [او باقي غوړي د خوراك په مصرف کې راولئ] ،[۵] او که هغه غوړي ویلي شوي وي، نو بیا هغې ته نژدې هم مه ورځئ، [یعنی هغه مطلقًا مه خورئ (احمد ابوداؤ)

حل اللغات: ① الْفَأْرَةُ: مږه. ② جَامِدًا: کلک، ټینګ، ③ مَائِعًا: بهیدونکې

---

(۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأطعمة /باب فی الفأرة تقع فی السمن (رقم-۳۸٤۲) واحمد فی المسند ۲/ ۲۳۲

۴۱۳۴-[۱] وَرَوَاهُ الدَّارِمِيُّ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ.

ترجمه [۱] او دارمي رحمه الله دا روايت د ابن عباس رضي الله عنه نه نقل کړي دي

تسهيلات:

نوټ: په غورو کښې د مرې پريوتو مثله ددې څخه وړاندې د حديث نمبر(۴۱۱۴) په تشريح کښې تفصيل سره تيره شوې ده

[۴۱۳۵] د ډينګ د غوښې حلال والي

۴۱۳۵-[۲۱] ( ) [۱] وَعَنْ سَفِينَةَ، قَالَ: [۲] «أَكَلْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَحْمَ حُبَارَى» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت سفينه رضي الله عنه وايي [۲] چې ما د رسول الله ﷺ سره د حبارى (سرخاب) غوښه خوړلې ده (ابوداؤد)

حل اللغات: ① حُبَارَى: سرخاب، ډينګ.

تسهيلات:

قوله: أَكَلْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لَحْمَ حُبَارَى:

دحبارى لغوى تحقيق: بضم الحاء وفتح الراء جوهرى فرمائى چه دا د يو مشهور مارغه نوم دې کوم ته چه ډينګ ونيلې شي، دا اسم جنس دې، او ددې اطلاق په مذکر و مونث دواړو باندې کيږي او د واحد، جمع دپاره يو لفظ استعماليږي نحوى اعتبار سره په حبارى کښې الف نه د تانيث دې او نه د إلحاق دې چونکه د کلمې بنياد په دې ايخودلې شوې دې او ددې وجهې دا دکلمې جز جوړشوې دې حبارى معرفه او نکره دواړو حالتونو کښې غير منصرف دې

د ګناهونوپه وجه د ډينګ هلاکت: حضرت ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دې چه إنه سمع رجلا يقول إن الظالم لا يضر إلا نفسه، چه يو کس نه ئى دا خبره واريدله چه د ظلم نقصان پخپله صرف ظالم ته ضرور ملاويږى نو حضرت ابو هريره رضي الله عنه دا خبره رد کړه او وفرمائيل چه په هغه ذات دې زما قسم وى دچا په قبضه کښې چه زما خان دې چه ډينګ د بنى آدم د ګناهونو د وجهې هلاک کيږى يعنى کله چه په زمکه کښې ګناه ډيره شي نو الله تعالى بارانونه بند کړى نو ددې د وجهې غلې پيداوار کم اوشى نو دا مارغه د ولګى او تندى د وجهې نه هلاک شى(کذا في البيهقى)

د ډينګ دغوښې حلت: ددې حديث نه دا خبره معلومه شوه چه ددې غوښه خوړل جائز دى او نبى کريم ﷺ هم ددې غوښه خوړلې ده ددې غوښه معتدل مزاج وى

( ) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الاطعمة/ باب في اكل لحم الحبارى... رقم الحديث ۳۷۹۹

د ډینګ کم عقلیی: ددې مارغه متعلق دا مشهوره ده چه دا احمق ترین، او کم عقل ترین مارغه دې او ددې د وجهې د یو کم عقل کس مثال حباری سره ورکړې کیږی حضرت عثمان رضی الله عنه فرمائی چه هر ځناور خپل اولاد سره محبت کوی تر دې چه ډینګ هم چه په حماقت کښې یو ضرب المثل دې هغه د حماقت باوجود د نورو ځناور په شان د خپل اولاد سره محبت کوی

[۳۳۴] د ګندګی خوړونکی حیوان د غوښې حرمت

۴۰۳۲-[۲۲] ()[۱]وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا-قَالَ:[۲]«نَهَى رَسُولُ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-عَنْ أَكْلِ الْجَلَّالَةِ وَأَلْبَانِهَا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.[۳] وَفِي رِوَايَةِ أَبِي دَاوُدَ: قَالَ: «نَهَى عَنْ رُكُوبِ الْجَلَّالَةِ».

ترجمه: [۱]او حضرت ابن عمر رضی الله عنهما وايي[۲] چې رسول الله ﷺ د جلاله د غوښې د خوړلو او د هغې د شيدو د څکلو نه منع فرمايلي ده، ترمذي.[۳] او د ابوداؤد رحمه الله په روايت کې داسې دي چه حضرت ابن عمر رضی الله عنهما اوويل چه حضور ﷺ په جلاله د سوريدو نه منع فرمايلي ده.

حل اللغات: ① الْجَلَّالَةِ: ګندګی خوړونکې، ② أَلْبَانِهَا: د لبن جمع ده، پی.

تسهيلات:

قوله: نَهَى رَسُولُ اللهِ عَنْ أَكْلِ الْجَلَّالَةِ وَأَلْبَانِهَا:

د جلاله لغوی معنی: جلالة بفتح الجيم وتشديد اللام دَ مبالغې دَ اوزانو نه دې ماخوذ من الجله بفتح الجيم يعنى بعرة وفى القاموس الجلة مثلثة البعر أو البعرة دَ دې جمع جلالات او جوان راخی وئیلې شی

د جلاله شرعی تعریف: جلاله شرعًا هغه ځناورته وائی دَ کوم چه غالب ګپ ګندګی غول او مرداری وی چه دَهغې په غوښه پئیو خوله وغیره کښې دَ نجاست اثرمعلوم شی تردې چه دَ هغې نه بدبوئی محسوس شی

شوافعو وغیره حضرات هم دغه تعریف کړې دې وهکذا فی العالمګیریه نوکه دَ دې غالب[۱] ګیا پاکه وی اودَ هغې په غوښه وغیره کښې دَ نجاست اثر محسوس نه شی نوهغې ته به جلاله نشی وئیلې کذامصرح فی کتاب الفقه

امام رافعی فرمائیلی دی چه دَ کثرت هیڅ اعتبارنشته بلکه مدار بدبوئی محسوس کیدو باندې دې که چرې یو ځناور ګندګی اومرداری خوری او د هغې په غوښه وغیره کښې تغیراوشی نوهغې ته به جلاله وئیلی شی که دَ هغې غالب ګیا پاکه ولې نه وی هکذاقاله النووي في الروضة تبعًا للرافعي كذافى النيل

[۱]) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب الاطعمة/ باب ما جا فی اكل لحوم الجلالة والبانها... رقم الحديث ۱۹۳۹

د جلاله د غوښې په حکم کښې مذاهب:

① امام مالک لیث بن سعد حسن بصری فرمائی چه د جلاله ځناور غوښه، پئی وغیره استعمالول بغیرد کراهت نه جائز دی دغه شان اسحاق بن راهویه فرمائی لابأس أن يأكل لحمها بعد أن يغسل غسلاً جيدًا

②جمهور علماء احناف اود شافعیه یوجماعت امام الحرمین قفال ابواسحاق مروزی علامه بغوی اوعلامه غزالی رحمهم الله دکراهت تحریمی قول فرمائیلې دې هم دغه د حنابله قول دې علامه ابن دقیق العید هم دا راجح او صحیح ګرځولې دې بل د جلاله هګئی هم دې حضراتو د جلاله د غوښې سره لاحق کړی دی مکروه تحریمی ئې ګرځولې دی

د اول فریق دلیل: کوم ځناورچې شریعت جائز ګرځولی دی نوهغه به په اصلاً جائز وی البته حدیث کښې ممانعت د طبعی کرکې په وجه دې

د اول فریق د دلیل جواب: جلاله ځناور په کوم کښې چه نجاست دومره اثر کړې وی چه هغه د سرنه واخله ترخپوپورې پلیت شوې وی نوهغه به څنګه جائز شی او البته هغه ځناور د کوموحرمت چه په قطعی نصوصو سره ثابت شوې وی هغې ته به حرام وئیلی شی اود جلاله د حرمت وجه د هغې پلیتی ده او نصوص چې اخبار آحادی دی هم ظنیه دی په وجه به ئې حرمت لغیره وی نودا به مکروه تحریمی ګرځولې شی

د دویم فریق دلائل: ① د ابن عمر رضی الله عنه حدیث الباب د دوی مستدل دې

② حديث ابن عباس رضي الله عنهما أخرجه الترمذي وصححه وكذا أخرجه أبو داؤد والنسائي بطريق قتادة عن عكرمه عن ابن عباس رضي الله عنهما وهو أصح مافي الباب قال الحافظ في الفتح هو على شرط البخاري في رجاله إلا أن أيوب رواه عن عكرمة فقال عن ابي هريرة رضي الله عنه.

③ حديث أبي هريرة رضي الله عنه أخرجه البيهقي والبزار من وجه آخر. نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن الجلالة وعن شرب ألبانها وأكلها وركوبها

④ حديث جابر رضي الله عنه نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن الجلالة أن يؤكل لحمها أو شرب البنها أخرجه ابن أبي شيبه بسند حسن

⑤ حديث عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم يوم خيبر عن لحوم الحمر الأهلية وعن الجلالة عن ركوبها وأكل لحمها أخرجه ابوداؤد والنسائي سنده حسن

د دې مذکوره روایاتو نه په صراحت سره د جلاله ځناور د استعمال ممانعت ثابتیږی وهوالمدعٰی

په بندولوسره د جلاله په حکم کښې تبدیلی راتلل: فقهاء حضرات فرمائی چه که جلاله بند کړې شی چه د هغې خوله نجاست ته اونه رسی یا هغې باندې پاک خوراک اوکړې شی تردې چه د هغې بوئی ختم شی نود هغې خوراک جائز دې

د بندولو مودې په تعين کښې اقوال: ① دامام ابوحنيفه رحمه الله نه په دې باره کښې توقف مروی دې وئی فرمائيل ماته نه دی معلوم چه په څومره ورځو کښې به دَهغې غوښه پاکه صفا شي
② علامه سرخسی رحمه الله فرمائی دَ دې دَ پاره هيڅ موده مقرر نه ده حضرت گنگوهی رحمه الله هم دغه فرمائی چه اصل د نجاست دَ اثر زوال دې هغه چه کله هم متحقق شی وهوالصحيح
③ تجنيس کښې ليکلی دی چرگه دې درې ورځې چيلئی څلور ورځې اوښ غوا دې لس ورځې وتړلې شی وهوالمختارعلی الظاهر
④ بعضې حضرات فرمائی اوښ غوا وغيره څلويښت ورځې چيلئی اووه ورځې او چرگه دريو ورځو پورې بند کړې شی. هوالمختارفی التهذيب والتحرير
د حبس د مودې دلائل: دَ حبس د مودې په سلسله کښې څه موقوفه آثار هم مروی دی مثلاً ما اخرجه البيهقی بسند فيه نظر عن عبدالله بن عمرو مرفوعًا انها لاتؤكل حتى تعلف اربعين يومًا دغه شان ما اخرجه ابن ابی شيبه بسند صحيح عن ابن عمر انه كان يحبس الدجاجة الجلالة ثلاثًا (فتح الباری) وروي عن ابن عمر انه كان لا يأكلها حتى يقصرها أيامًا وروي عنه أيضًا أنه كان إذا أراد أن يأكل بيض الدجاجة قصرها ثلاثة أيام أخرجه الطبرانی

[۳۳۷] د سمسارې غوښه خوړل حرام دې

۳۳۷ــ[۲۳] (١) ① وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ شِبْلٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: ② أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- «نَهَى عَنْ أَكْلِ لَحْمِ الضَّبِّ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او د حضرت عبدالرحمن ابن شبل رضی الله عنه نه روايت دې ② چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم د سمسارې د غوښې د خوړلو نه منع فرمايلې ده. (ابوداؤد)

تسهيلات:

قوله: نَهَى عَنْ أَكْلِ لَحْمِ الضَّبِّ:

د سمسارې د غوښې په حکم کښې ۲ مذاهب:

د ضب لغوی معنی: ضَبّ بفتح الضاد المعجمة وتشديد الباء دَ اوچې خناورديې دَ مؤنث دَ پاره ضبة راځی اوجمع ضباب او أضب راځی صاحب محيط اعظم وائی چه دې ته په فارسی کښې سوس مار او په هندئ کښې گوه وائی دا په قد کښې دَ پيشونه وروکې خناوردې دَ دې لکې ډيره وړوه وی اودَ دې رنگ زيړ او تور بخن په مينځ کښې وی او په ديارعرب کښې دا خناورډيردی
① ائمه ثلاثه، اسحاق بن راهويه او ظاهريه دَ جواز قائل دی
② د احنافو په نيزد دې غوښه مکروه تحريمی ده.

(١) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الأطعمة /باب فی اكل الضب... رقم الحديث ۳۷۹۸

دَ قائلین جواز دلائل: ① عن ابن عباس رضي الله عنهما عن خالد بن الوليد أنه دخل مع رسول الله صلى الله عليه وسلم بيت ميمونة رضي الله عنها فأتي بضب محنوذ فأهوى إليه رسول الله صلى الله عليه وسلم بيده فقال بعض النسوة أخبروا رسول الله صلى الله عليه وسلم بما يريد أن يأكل فقالوا هو ضب يا رسول الله صلى الله عليه وسلم فرفع يده فقلت أحرام هو يا رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال لا ولكن لم يكن بأرض قومي فأجدني أعافه قال خالد فاحتززته فأكلته ورسول الله صلى الله عليه وسلم ينظر (أخرجه البخاري)

② عن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه مرفوعًا أن الله غضب على سبط من بني إسرائيل فمسخهم دواب يدبون في الأرض فلا أدري لعل هذا منها فلست آكلها ولا أنهى عنها قال ابوسعيد فلما كان بعد ذلك قال عمر رضي الله عنه إن الله عز وجل ينفع به غير واحد وإنه لطعام عامة الرعاة ولو كان عندي لطعمته (أخرجه مسلم)

③ عن ابن عمر رضي الله عنه قال كان أناس من أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم منهم سعد فذهبوا يأكلون فناداهم امرأة أنه لحم ضب فأمسكوا فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم كلوا وأطعموا فانه حلال او قال لا بأس ولكنه ليس من طعامي (أخرجه البخاري ومسلم)

④ عن أبي هريرة رضي الله عنه أن النبي صلى الله عليه وسلم أتي بصحفة فيها ضباب فقال كلوا فإني عائفه (أخرجه الطحاوي)

⑤ عن خزيمه بن جزء رضي الله عنه قال قلت يا رسول الله جئتك لأسئلك عن أحناش الأرض ماتقول في الضب قال لا آكله ولا أحرمه (الحديث) (ابن ماجه)

⑥ نورهغه روایات دي په کوم کښې چه لا أكله ولا أحرمه وارد شوی دی یا دَ رسول الله ﷺ په وړاندې دسترخوان باندې دَ ضب ذکر دې لکه چه امام ترمذي رحمه الله دَ ابن عباس رضي الله عنه نه نقل کړې دی.

⑦ د هغه ټولو روایاتو څخه معلومیږی چه رسول الله ﷺ پخپله خو ضب نه دې خوړلې مګر دَ خوړلو اجازت ئې ورکړې دې دَ رسول الله ﷺ په وړاندې نورو خلقو په دسترخوان باندې خوړلې دې نومعلومه شوه چه دَ دې خوراک جائز دې

داول فریق د دلائلو مجموعی جواب: حضرت ګنګوهی رحمه الله فرمائی چه په رسول الله ﷺ په شروع کښې دَ دې باره کښې څه حکم نازل شوې نه وونودَ دې باره کښې ئې خاموشی اختیار کړه لأن الأصل فی الأشیاء الاباحة او پخپله ئې دَ طبیعت په وجه دَ دې نه کراهت اوفرمانیلودَ رسول الله ﷺ وطن مالوف مکه معظمه کښې خودَ سر نه دَ دې وجود نه ووخودَ دې نه پس کله چه حرمت نازل شونورسول الله ﷺ ډیر په سختنئی سره منع اوفرمائیله اوکتیونی ئې هم اولتیه کړې کما هومفادحدیث عبدالرحمن بن شبل وحدیث عبدالرحمن بن حسنة حاصل داچه دَ جواز دَ روایاتومحمل دَ شروع زمانه ده اودَ کراهت دَ روایاتو عمل آخرزمانه ده په دې وجه دغه دَ اتباع قابل دی

د دویم فریق دلائل: ① دَحضرت عائشه رضي الله عنها روایت إنه أهدي للنبي صلى الله عليه وسلم ضب فلم يأكله فقام عليه سائل فأرادت عائشة رضي الله عنها أن تعطيه فقال لها أتعطيه مالا تأكلين (أخرجه الطحاوي).

حضرت امام محمد رحمه الله د دې روايت نه استدلال کوی او فرمائی چه د روایت نه معلومیږی چه رسول الله ﷺ د خپل خان د پاره اود نورود پاره د ضب خوړل مکروه ګڼړلی دی

④ حدیث عبدالرحمن رضي الله عنه بن حسنة قال نزلنا أرضا كثيرة الضباب فأصابتنا مجاعة فطبخنا منها وان القدور لتغلي بها إذ جاء رسول الله صلى الله عليه وسلم (الحديث) وفيه أنهم طبخوا منها فقال النبي صلى الله عليه وسلم إن أمة من بني إسرائيل مسخت دواب في الأرض فأخشى أن تكون هذه فاكفوها قال الحافظ سنده على شرط الشيخين (أخرجه أبوداؤد وابن حبان والطحاوي وأحمد)

③ حديث عبدالرحمن بن شبل رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم نهى عن أكل الضب دا روایت په کراهت د اکل کښې صریح دې،

④ حديث ابوسعيد رضي الله عنه أتيت به رسول الله صلى الله عليه وسلم فأخذ عوداً فعد به أصابعه ثم قال إن أمة من بني إسرائيل مسخت دواب في الأرض (الحديث)

⑤ حديث ابن عمر رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم وددت أن عندي خبزة بيضاء من برة سمراء ملبقة بسمن ولبن فقام رجل من القوم فاتخذه فجاء به فقال في أي شئ كان هذا قال في عكة ضب قال ارفعه. (أخرجه ابوداؤد وابن ماجه).

د دې پورته ذکرشوو روایاتونه معلومه شوه چه نبی کریم ﷺ د ضب غوښه خوړلونه منع فرمائیلي ده او د نفرت د اظهار د پاره کتوئی هم التبه کړی. که چرې ضب حلال وې نورسول الله ﷺ به د دې باره کښې دومره سختی نه کوله.

⑥ فقهاء کرامو حضراتو فرمائیلی دی چه د یو قوم د یو ځناور په شکل باندې مسخ کیدل د هغه ځناور د خباثت علامت دې. حضرت شاه ولی الله محدث دهلوی رحمه الله فرمائی چه د ځناورود حرمت باره کښې داهم کتل پکاردی چه آیا د دې په صورت کښې چرته یو قوم مسخ شوې دې که نه لکه چه بیزوګان اوخنزیران دی. سره د دې چه د مسخ شوی قوم نسل باقی نه وی (کماوردفی الحدیث) مګرد دغه ځناور په شکل مسخ کیدل بهرحال د هغې د خبث علامت دې د پورتنو روایتونونه معلومه شوه چه د ضب په شکل باندې د بنی اسرائیلو یوقوم مسخ شوې دې نویقیناً داخبیث ځناوردې اوهغه د حشرات الارض نه د کیدو په وجه هم خبیث دې او د قرآن په نص ﴿يُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبٰٓئِثَ﴾ خادمئی حرام کیدل پکاردی

⑦ د ضب د خوراک باره کښې دواړه قسم روایات واردشوی دی په بعضو سره حلال والې او بعضوسره حرام والې ثابتیږی. د فقهاؤ د تصریح مطابق کله چه د حلت او د حرمت په روایاتوکښې تعارض وی نواحتیاطاً د حرمت روایاتو ته ترجیح ورکولې شی نودلته به هم حرمت راجح وی.

[٢٣٨] پيشو حرامه ده

٢٣٨—[٢٤] (١) [١] وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- [٢] أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- «نَهَى عَنْ أَكْلِ الْهِرَّةِ وَأَكْلِ ثَمَنِهَا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] او د حضرت جابر رضي الله عنه نه روايت دي [٢] چې نبي كريم ﷺ د پيشو د غوښې او د هغې د قيمت د خوړلو نه منع فرمايلې ده (ابوداؤد ، ترمذي)

تسهيلات:

قوله: نَهَى عَنْ أَكْلِ الْهِرَّةِ:

د پيشو د غوښې حرمت: دَ پيشو غوښه خوړل دَ ټولو په نيز حرام ده دَ چين خلق دَ ځنګلي وغيره پيشوګانو غوښه خوري دكوم په وجه چه هغوى ته دَ نمونيا غوندې وبائي امراضو راتلل كيږي البته پيشو خرڅول اودَ دې پيسې استعمالول دَ احنافو په نيز جائز دي مګر مكروه دي ځكه چه دايوه خرابه پيشه ده. دَمسلمان دَپاره دَ خرابې پيشې نه ځان ساتل مناسب دي

[٢٣٩] د كورني خر د غوښې حرمت

٢٣٩—[٢٥] (٢) [١] وَعَنْهُ، قَالَ: [٢] «حَرَّمَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَعْنِي يَوْمَ خَيْبَرَ- [٣] الْحُمُرَ الْإِنْسِيَّةَ، [٤] وَلُحُومَ الْبِغَالِ، [٥] وَكُلَّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ، [٦] وَكُلَّ ذِي مِخْلَبٍ مِنَ الطَّيْرِ». [٧] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [١] اوحضرت جابر رضي الله عنه وايي [٢] چې رسول الله ﷺ د خيبر په ورځ غوښه خوړل حرامه ګرځولې وه [٣] د كورني خرونو. [٤] د قچر [٥] اود هر داړه ور درنده [٦] او په پنجو سره د ښكار كونكو مرغانو. [٧] امام ترمذي رحمه الله دا روايت نقل كړي دي او ويلې يې دي چې دا حديث غريب دي

حل اللغات: ① الْحُمُرَ الْإِنْسِيَّةَ: كورني خره. ② الْبِغَالِ: قچر. ③ السِّبَاعِ: په غاښونو شلونكي ځناور. ④ ذِي مِخْلَبٍ: په نوكانو شلونكي مارغان

تسهيلات:

نوټ: دَ دې باب ځناور تفصيل كتاب الصيد حديث ٤٠٨٩ په تسهيل كښې تيرشوې دي

(١) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأطعمة/باب في النهي عن اكل السباع... رقم الحديث ٣٨٠٩

(٢) اخرجه الترمذي في السنن كتاب الصيد والذبائح/باب ما جا في كراهية كل ذي ناب وذي مخلب... رقم الحديث ١٥٥٣

[ ] د اس د غوښو د خوړلو ممانعت

۴۰۳۰ - [۲۶] ( )[1] ① وَعَنْ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: ② أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - «نَهَى عَنْ أَكْلِ لُحُومِ الْخَيْلِ وَالْبِغَالِ وَالْحَمِيرِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① او د حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه نه روايت دې ② چې رسول الله ﷺ د اس، قچر او د خرونو د غوښو د خوړلو نه منع فرمايلې ده (ابوداؤد، نسائي)

حل اللغات: ① الْبِغَالِ: قچر، ② الْحَمِيرِ: خرونه،

د حضرت خالد بن وليد مختصر تعارف:

نوم: خالد، ابو سليمان كنيت، سيف الله لقب، دوی د ام المومنين حضرت ميمونه رضي الله عنها نزدې رشته دار وو. دخالد خاندان زمانه جاهليت كښې ډير مغروره ګڼړلې كيدو غزوه احد كښې ئې مسلمانانو سره ډير په شجاعت سره اوجنګيدو چه دمسلمانانو وار خطا شو

اسلام: دخينو په قول د شپږمې او اتمې هجرئ ميخ كښې ئې اسلام قبول كړې وو (مسند احمد ۴۱۹/۴). اسلام قبلولو نه پس ئې اول جنګ كښې شركت اوكړو او دا وو جنګ موته هم دې كښې ددوی رضي الله عنه دلاسه نهه تورې ماتې شوې. هم دې كښې دوی رضي الله عنه ته حضرت نبی كريم ﷺ د سيف ا لله لقب وركړو. بيا دې نه پس فتح مكه، غزوه حنين، غزوه طائف، تبوک، سره بنو خزيمه، سريه نجران، سريه يمن، او سريه عزی نه علاوه نورو ډيرو جنګونو كښې ئې شركت اوكړو.

حضرت عمر فاروق رضي الله عنه دوی په ۱۷ هجرئ كښې معزول كړی وو چه هسې نه د خلقو دا خيال پيدا شي چه داسلام فتوحاتو دارو مداريه خالد رضي الله عنه دې.اودا حضرت عمر فاروق رضي الله عنه نه خوښول (ابن كثير ۴۱۹/۲). ددې نه سوانور هم وجوهات وو، حضرت عمر فاروق رضي الله عنه دوی دحران او موته ګورنر جوړ كړل، خودوی پخپله يو كال پس پريخودل. د دوی رضي الله عنه حضرت نبی كريم ﷺ سره ډيره زياته مينه وه، دوی رضي الله عنه يو ټوپۍ جوړه كړې وه چه هغې كښې د حضرت نبی كريم ﷺ ويښته مبارک ئې ايخودی وو. دجنګ ميدان كښې به هم دا په سروله. ديرموک جنګ كښې دا وركه شوه ډير تلاش كولو نه پس د املاؤ شوه (اصابه ۹۹/۲).

وفات: مدينه منوره كښې په كال ۲۲ هجرئ كښې وفات شو خينې دوفات ځائې ئې حمص خودلې دې خو اول قول راجح دې. دحضرت عمرفاروق رضي الله عنه جنازه كښې شريک وو. (اصابه: ۹۹/۲)).

---

[1] اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الأطعمة/باب فی أكل لحوم الخيل (رقم-۳۷۹۰) والنسائی فی كتاب الصيد والذبائح/باب تحريم أكل لحوم الخيل (رقم-۴۳۳۱) وابن ماجه فی كتاب الصيد/باب ما ينهی، عن قتله (رقم-۳۲۲۵) ۸۹/۴

مرويات: دوی نه اتلس روايات منقول دی چه په هغې کښې دوه بخاری شريف کښې او مسلم دواړو کښې دی

دنورو حالاتو دپاره اوګورئ: ۱، استيعاب ۱/۱۵۷،۲، طبقات ابن سعد ۳، اسد الغابه ۲ ۱۰۳،۴، زرقانی ۳/۸۲،۵، تاريخ الخلفاء للسيوطی ۷۲ ۲، تاريخ ابن خلدون ۲ ۷،۷۹، طبری ۴/۲۲۲ وغيره

تسهيلات:

نوټ د دې حديث مضمون سره متعلق بحث وړاندې د حديث نمبر ۴۱۰۷، په شرح کښې تيرشوې دې زير بحث حديث دَ امام ابوحنيفه رحمه الله دَمسلك موافق دې دَامام مالك رحمه الله مسلك هم دغه دې

[۳۳] د معاهد د مال حکم

۳۳-[۲۷] (۱) [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: [۲] «غَزَوْتُ مَعَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَوْمَ خَيْبَرَ، [۳] فَأَتَتِ الْيَهُودُ، فَشَكَوْا [۴] أَنَّ النَّاسَ قَدْ أَسْرَعُوا إِلَى حَظَائِرِهِمْ، [۵] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَلَا [۶] لَا يَحِلُّ أَمْوَالُ الْمُعَاهَدِينَ [۷] إِلَّا بِحَقِّهَا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه وايي [۲] چې زه د نبي کريم صلی الله علیه وسلم سره د خيبر په ورځ په جهاد کې شريك وم. [۳] په يوه موقع يهوديان د حضور صلی الله علیه وسلم په خدمت کې راغلل، او د شکايت يې وکړو [۴] چې خلقو د هغوئ کجورو طرف ته جلتي اختيار کړې ده، ايعنې مسلمانانو زمونږ د کجورو د ونو نه ميوې شوکولې دي، حال دا چې مونږ معاهدين يو. [۵] رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل چې خبردار! [۶] د هغه خلقو مال حلال نه دې، د چا سره چې عهدو پيمان (لوظ واقرار) شوې دې، [۷] علاوه د هغه حق نه چې د دغې مال سره متعلق دې. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① حَظَائِرِهِمْ: دَ کهجورو هغه باغ ته وائی دکوم په کچه کهجوروکښې چه شين رنګ خورشوې وی يعنی پخيدوته نيزدې وی په دې وجه دا لفظ دَ خضرة دَمادې نه جوړکړې شوې دې ② الْمُعَاهَدِينَ: جمع د معاهد ده. هغه کافرچه په اسلامی ملک کښې د اوسيدوعهد، لوظ ورسره شوې وی. چې هغه به د اسلامی حکومت قوانين منی او تابعداری به نې کوی اوحکومت به د هغه د مال او جان حفاظت کوی

تسهيلات:

قوله: أَلَا لَا يَحِلُّ أَمْوَالُ الْمُعَاهَدِينَ إِلَّا بِحَقِّهَا:

د معاهدې د مال د حرمت وجه: ① که چرې معاهد ذمی دې نو په هغه باندې جزيه ده دَ حق

(۱) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الأطعمة/باب النهی عن أكل السباع (رقم-۳۸۰۶) واحمد فی المسند: ۸۹/۴

جزيې نه علاوه دَهغه مال قبضه كول حرام دى.

④ كه چرې معاهد مستأمن دې نودَهغه دَ تجارت دَمال نه چه كوم دَ لارې ټيكس اخستې شى هغې ته عشر وائى دَدې نه علاوه دَ هغه نه څه اخستل ظلم دې

[۳۳۲] ماهي، ملخ، اينه او تورې حلال دې

۴۳۳۲-[۲۸] (¹) [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«أُحِلَّتْ لَنَا مَيْتَتَانِ وَدَمَانِ. [۳] الْمَيْتَتَانِ: الْحُوتُ وَالْجَرَادُ، [۴] وَالدَّمَانِ: الْكَبِدُ وَالطِّحَالُ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارَقُطْنِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عمر رضي الله عنهما وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] مونږ د پاره دوه [بغير د ذبح] مړه شوي څيزونه او دوه وينې حلالې دي، [۳] دوه [بغير د ذبح] مړه شوي څيزونه خو ماهى او ملخ دي، [۴] او دوه وينې اينه او تورې دي. [چې دا دواړه په اصل كې جم شوي وينه ده، نه چې غوښه] (احمد ابن ماجه دارقطني)

حل اللغات: ① الْحُوتُ: كب، مهى، ② الْجَرَادُ: ملخ، ③ الْكَبِدُ: اينه، ④ الطِّحَالُ: تورې.

تسهيلات:

قوله: الْمَيْتَتَانِ:

د ميتتان د اطلاق وجه: يعنى دَ ذبح نه بغيرحلال دي هم په دې اعتبارسره دې ته ميتتان اووئيلې شو

قوله: وَالدَّمَانِ: الْكَبِدُ وَالطِّحَالُ:

د دمان څخه مراد: دَدوو وينونه مراد كليجى او ينبته ورګې دې كه په دې باندې زوراوكړې شى او په ګوتوكښې اومړلې شى نودا خالص وينه جوړېږى ليكن دا دواړه وينې حلال دى باقى ټولې حرام دى.

[۳۳۳] د سمک طافی حکم

۴۳۳۳-[۲۹] (²) [۱] وَعَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «مَا أَلْقَاهُ الْبَحْرُ [۳] أَوْ جَزَرَ عَنْهُ الْمَاءُ فَكُلُوهُ. [۴] وَمَا مَاتَ فِيهِ وَطَفَا فَلَا تَأْكُلُوهُ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ. [۵] وَقَالَ مُحْيِي السُّنَّةِ: الْأَكْثَرُونَ عَلَى أَنَّهُ مَوْقُوفٌ عَلَى جَابِرٍ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابو الزبير د حضرت جابر رضي الله عنه نه روايت كوي چې رسول الله ﷺ

(¹) اخرجه ابن ماجه فى السنن كتاب الأطعمة/باب الكبد والطحال (رقم-۳۳۱٤) والدارقطنى فى السنن رقم الحديث ۲۵ من كتاب الصيد، واحمد فى المسند: ۹۷/۲

(²) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأطعمة/باب فى أكل الطافى من السمک (رقم-۳۸۱۵) وابن ماجه فى كتاب الصيد/باب الطافي . من صيد البحر (رقم-۳۲٤۷)

وفرمایل [۲] کوم [ماهی] چې دریاب غاړې ته غورځولې وي. [۳] یا د اوبو نه هغه جدا شوې وي. [یعنی د دریاب اوبه بالکل وچې شوې وي. یا یو بل طرف ته تلې وي]. نو هغه مه خورئ. [۴] اوکوم ماهی چې په دریاب کې په مړ کیدو سره د اوبو د پاسه راشي. نو هغه مه خورئ. ابوداؤد ابن ماجه، [۵] اومحی السنة ویلی دي چه اکثره محدثین د دې خبرې قائل دي چې دا حدیث په حضرت جابر ﷺ موقوف دي. [یعنی د هغوی په نزد دا د حضور ﷺ ارشاد نه دي بلکه د حضرت جابر ﷺ خپل قول دی]

حل اللغات: ① جَزَرَ: جدا شوې وی. ② طَفَا: د اوبو سر ته راختلې وی

تسهیلات: أوجزرعنه الماء

د کب د مړ کیدو صورتونه: ① که سمندر وغیره اوبو کښې دَ څه تکراؤ یا څه آفت دَ وجهې کب مړشی اومړ کیدوسره دَ اوبوسرله راشي

② دَ سمندر په غاړه باندې راؤغورزولې شی یا ډیرو اوبوسره یومقام ته کب ن راشي اواوبه واپس لاړې شی کب په اوچه پاتې شی اومړشی په دې دواړو دَ جمهورو په نیزدا کب حلال دې

③ که په سمندر یا اوبوکښې دننه کب پخپله مړشي دَ څه خارجی سبب سره نه وی مړشوې اوالټه کیدوسره دَ اوبوسر له راشی دې ته سمک طافی وائی

په دریم صورت کښې ۲ مذاهب:

① دَ شوافع اومالکیه په نیزسمک طافی حلال دې که په هرڅه وجه مړشوې وی

② احناف دا سمک طافی حرام ګرځوی

داول فریق اول دلیل: ① ددوی مستدل د ترمذی وغیره حدیث دې په کوم کښې چې نبی علیه السلام د سمندر د خناورو په باره کښې فرمائی ((الحل میتته)) نوسمک طافی هم د سمندر میته ده نودا به هم حلال وی

د اول فریق د اول دلیل دوه جوابونه: ① د ((الحل میتة)) څخه غیرمذبوح مراد نه دې بلکه مالیس له نفس سائله ترې ماد دې بلکه چه احلت لناالمیتتان کښې دمیتة څخه هم دامراد دې او د احنافو مستدل مذکوره په بناء که داسې اوونیلې شی چه سمك طافی دینه مستثنی دې نوبیاهم بعیدنه دې

② حضرت شیخ الهندمحمود الحسن ﷫ د قول مطالب د الحل څخه مراد حلال نه دې بلکه طاهردې

داول فریق دویم دلیل: ② حدیث العنبرهم د دوی مستدل دې. په هغې کښې دی چې صحابه فرمائی ډیره زمانه یو سمندرې خناورخوړلو چه دهغې نوم عنبروو باب عزوة سیف البحرکښې دبخاری شریف په دې روایت کښې الفاظ دادی ((فالقی لناالبحردابة یقال له العنبرفاکلنامنه نصف شهرځ)) دې روایت کښې لفظ دابة دا ښائی چه داخناور دسمك نه علاوه څه بل څیزوو.

داول فريق د دويم دليل جواب: دحديث دعنبرجواب دادې چه ددې دطافی كيدوتصريح نشته طافی صرف هغه ماهی ته وائی چه كوم دخارجی سبب نه بغيرپخپله په اوبوكښې مرشی اوالته شی.

داول فريق دريم دليل: دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه يو اثر مروی دې په كوم كښې چې سمك طافی حلال ګرځولې شوې دې (كذا، سنن بيهقی والدارقطنی).

داول فريق د دريم دليل درې جوابونه: ① اول خو په دې روايت كښې شديد اضطراب دې دويم ② كه باالفرض دا صحيح اومنلې شی هم نودا د يوصحابی اجتهاددې چه دمرفوع حديث مقابله نه شی كولې

③ دا هم ممكن ده چه دې كښې دميتة ماهی نه هغه سمك مراد وی چه داسباب خارجيو په بناء مړشوې وی.

د دويم فريق دلائل: د دويم فريق اول دليل: ① دحضرت جابربن عبدالله رضي الله عنه روايت دې ((قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ماالقى البحر اوجزر عنه فكلوه وما مات فيه وطفا فلاتأكلوه)) كذا في ابی داود وابن ماجه.

اشكال: امام ابوداؤد داروايت مرفوعًا وموقوفًا په دواړو طريقو روايت كړې دې . بيانې طريق موقوف صحيح ګرځولې دې

داشكال جواب: حقيقت دادې . چه مرفوع روايت هم ټولوثقاتو نه مروی دی.او د ثقه زيادت مقبول وی.ددې وجې ددې په مرفوع منلوكښې هيڅ اشكال نشته .اوكه موقوف طريق هم صحيح اومنلې شی نو بياهم چه مسئله غيرمدرك بالقياس ده . نوحديث به دمرفوع په حكم كښې وی

[۳۳۳] د ملخ حكم

۳۳۳-[۳۰] (¹) ① وَعَنْ سَلْمَانَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: ② «سُئِلَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَنِ الْجَرَادِ، ③ فَقَالَ: "أَكْثَرُ جُنُودِ اللَّهِ، ④ لَا آكُلُهُ وَلَا أُحَرِّمُهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَقَالَ مُحْيِي السُّنَّةِ ضَعِيفٌ.

ترجمه: ① اوحضرت سلمان رضي الله عنه وايي ② چې د نبي كريم صلى الله عليه وسلم نه د ملخ [د خوړلو او د هغې د حقيقت] باره كې پوښتنه وشوه، ③ نو حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې ملخان د الله جل جلاله [په وزر لرونكو كې] د ټولونه لوئ لښكر دي، ④ نه خو زه دا خورم [ځكه چې طبعًا ماته كراهت محسوسيږي] او نه [په نورو] شرعًا دا حراموم، [ځكه چې دا د الله تعالى د طرف نه حلال شوي دي. څرنګه چې مخكې دا حديث تير شوې دې چې أحلت لنا ميتتان] . (ابوداؤد، اومحى السنة وېلي دي چې دا حديث ضعيف دي

حل اللغات: ① الْجَرَادِ: ملخان

تسهيلات: قوله: لَا آكُلُهُ وَلَا أُحَرِّمُهُ:

د ملخ د خوراک حلالوالې: دَ الله تعالى په الوتونكى مخلوق كښې دَټولونه زيات مخلوق

(¹) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأطعمة /باب في اكل الجراد... رقم الحديث ۳۸۱۵

ملخان دی او دَدې لښکر دَ ټولونه لوئی دې او دَقیامت نه وړاندې دَ دې ورکیدل دَ قیامت دَ علاماتونه دی. بعضې ملکونوکښې لوئی لوئی ملخان وی په دې وجه که څوک ئې صفاکوی او خوری ئې نوخوړل ئې جائزدی سره دَدې چه نبی کریم نه دی خوړلی

[۲۳۵] چرګ ته د بد ونیلو ممانعت

۲۳۵–[۳۱] (۱) ۞ وَعَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ ۞ «نَهَى رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَنْ سَبِّ الدِّيكِ ۞ وَقَالَ: إِنَّهُ يُؤَذِّنُ لِلصَّلَاةِ». رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه: ۱ او حضرت زید ابن خالد رضی الله عنه وایي ۲ چې رسول الله ﷺ چرګ ته د بد ویلو نه منع فرمایلي ده، ۳ او حضور ﷺ وفرمایل چې بلا شبه چرګ د مانځه د پاره آ ګاهي کوي. (شرح السنة)

حل اللغات: ① الدِّيكِ: چرګ.

تسهیلات:

قوله: نَهَى رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَنْ سَبِّ الدِّيكِ:

چرګ ته د کنځلوکولو ممانعت وجه: چرګ آسمانی نظام سره ړلې اوسیږی پورته چه کله فرښتې متحرك کیږی نوده غه ځائی سره دَچرګ رابطه قائمیږی. بیا اذان ورکوی په دې وجه ده ته کنځل کول یوپاکیزه نظام ته دکنځلوکولو په شان دی لهذا منع دی. شیخ سعدی بابا وئیلی دی:

اے مرغ سحر عشق زپروانہ بیاموز ... کاں سوختہ راجاں شدآواز نیامد

اې دَ سحر چرګه دَ پتنګ نه عشق زده کړه فضول شور کوې اوچغې وهې ګوره پتنګ په چپه خله خپل ځان بیللو.

وَقَالَ: إِنَّهُ يُؤَذِّنُ لِلصَّلَاةِ:

د چرګ د بانګونو وختونه: دَ سحر په وخت خلق اوده وی په تنګ کورکښې چه کله چرګ دَسحر اذان کوی نوکوروالا بعضې وخت پریشان شی او کنځلې کوی ښکه چه چرګ نیمه شپه کښې دَ اذان یو دور چلوی بیا دَ پیشمنی په وخت دویم دور چلوی اوخلق دَ پیشمنی او تهجد دَپاره پاسوی بیا په آخری دورکښې دَسحردَ مونځ دَپاره ئې پاسوی

د فارمی چرګ بانګ: یاد لرئی چه دَدې چرګ نه دَ نن صبا فارمی چرګان مراد نه دی کوم ته چه دَ آذان ورکولو وخت هم نه دې معلوم. دَمابنام او ماسخوتن نه پس اذان ورکوی ښکه چه دَ انسان مصنوعی لاس دَده په تخلیق کښې شامل شو چرګ ته دَ وخت پته نه لګی او چرګې ته دَ بچی راویستو پته نه لګی.

۱) واحمد فی المسند:۵/۱۹۲

[۳۳۶] د مانځه دپاره د چرګ با نګ ورکول

۳۳۶-[۳۲] (¹) ۱ وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ «لَا تَسُبُّوا الدِّيكَ ۳ فَإِنَّهُ يُوقِظُ لِلصَّلَاةِ» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

ترجمه: ۱ اوحضرت زید ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ چرګ ته بد مه وايئ، ۳ ځکه چې هغه د مانځه د پاره بيدارول کوی. (ابوداود)

تسهيلات:

قوله: إِنَّهُ يُوقِظُ لِلصَّلَاةِ:

په دې حديث کښې د مطلق مونځ ذکر دې، بعضې حضراتو فرمائيلی دی چه د دې نه مراد د سحر مونځ دې ځکه چه په دی وخت کښې د خوب غلبه وی.

د نبی عليه السلام چرګ: شيخ طبری رحمه الله يو روايت نقل کړې دې چه د نبی کريم ﷺ يو سپين رنګ چرګ وو، او صحابه کرامو به هغه ځان سره اوړو، ددې دپاره چه د مونځونو وختونو علم وشی.

د الله تعالی د چرګ تسبيحات: د معجم طبرانی په يو روايت کښې ذکر دی چه د الله تعالی سره يو سپين رنګ چرګ دې چه دهغی وزرې په ياقوت او زبرجد سره مزين دی او يو وزر ئی مشرق پوری او بل وزر ئی مغرب پوری خور دې او سر ئې عرش نه لاندی دې او ښپې ئې په هوا کښې دی او روزانه د تهجد په وخت کښې دا کلمات وائي سبحانك ما أعظم شأنك او په بل روايت کښې دی چه دا کلمات وائی سبوح قدوس، او ددې آواز د انسانانو او جناتو نه علاوه هر يو مخلوق اوری. د زمکې والا چرګان ددې آواز جواب ورکوی کله چه به د قيامت ورځ نزدی شی نو الله تعالی به ورته حکم وکړی چه خپلې وزری راغونډې کړه او آواز دې پست (کمزوری) کړه نو کله چه ددې آواز رانشی نو د دنيا والا چرګان به هم جواب ورنه کړی نو انسانانو او جناتو نه علاوه به هر يو ځيز ته علم وشی چه قيامت راتلونکې دې (مرقات)

[۳۳۷] په کور کښې د مار، د ښکاره کيدو صورت کښې مسنون عمل

۳۳۷-[۳۳] (²) ۱ وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، قَالَ: قَالَ أَبُو لَيْلَى: ۲ قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۳ «إِذَا ظَهَرَتِ الْحَيَّةُ فِي الْمَسْكَنِ ۴ فَقُولُوا لَهَا: إِنَّا نَسْأَلُكِ بِعَهْدِ نُوحٍ وَبِعَهْدِ سُلَيْمَانَ بْنِ دَاوُدَ ۵ أَنْ لَا تُؤْذِينَا، ۶ فَإِنْ عَادَتْ فَاقْتُلُوهَا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ اوحضرت عبدالرحمن ابن ابي ليلي ﷺ وايي ۲ چې ابو ليلي بيان اوکړو چه

(¹) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب ما جاء فی الديک والبهائم (رقم-۵۱۰۱) واحمد فی السند: ۱۹۳/۵

(²) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب فی قتل الحيات (رقم-۵۲۶۰) والترمذی فی کتاب الأحکام والفوائد/باب ما جاء فی قتل الحيات (رقم-۱۴۸۵)

رسول الله ﷺ وفرمايل [۳] كله چې په يو كور كې مار راووځي، [۴] نو د هغه مخكې دې اوويل شي چې مونږ تا ته د حضرت نوح علیه السلام د عهد او د حضرت سليمان ابن داؤد علیه السلام د عهد (اقرار) واسطه دركولو سره دا غواړو [۵] چې ته مونږ ته ضرر مه رسوه، كه د دې نه پس هغه بيا په نظر راشي، نو هغه وژنئ. (ترمذي ابوداؤد)

حل اللغات: ① الْحَيَّةُ: مار، ② فَإِنْ عَادَتْ: كه بيا راواپس شي، ښكاره شي

تسهيلات:

قوله: إِنَّا نَسْأَلُكِ بِعَهْدِ نُوحٍ وَبِعَهْدِ سُلَيْمَانَ بْنِ دَاوُدَ أَنْ لَا تُؤْذِينَا:

د كورنى مارلري كولو د پاره مسنون عمل: دا يوقسم وظيفه ده اومار ته يوه وعده وريادول هم دي خكه چه حضرت نوح علیه السلام مار په كشتئى كښې سوركړو نو د مارانو نسل باقي پاتې شو كنى ختم شوى به وو. او د سليمان علیه السلام وعده خكه چه د هغوى خو په مارانو باندې هم حكومت وو هغوى سره به ئې خبرې كيدلې.

[۳۳۸] دا انتقام د ويرې د مار په نه قتلولو باندې زور نه

> ۳۳۸-- [۳۴] (۱) [۱] وَعَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا- قَالَ: [۲] لَا أَعْلَمُهُ إِلَّا رَفَعَ الْحَدِيثَ: [۳] أَنَّهُ «كَانَ يَأْمُرُ بِقَتْلِ الْحَيَّاتِ، [۴] وَقَالَ: مَنْ تَرَكَهُنَّ خَشْيَةَ ثَائِرٍ [۵] فَلَيْسَ مِنَّا». رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ"

ترجمه: [۱] او حضرت عكرمه رحمه الله د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه په نقل كولو سره وايي [۲] چې زه د دې نه علاوه څه نه پيژنم، چې [حضرت ابن عباس رضي الله عنهما] بطريق مرفوع دا حديث بيان كړي دي. [۳] چې نبي كريم ﷺ به د مارانو د وژلو حكم كولو [۴] او فرمايل به يې كوم سړې چې د بدلې (انتقام) د ويرى نه د دې مارانو وژل پريږدي، [۵] نو هغه [د يو موذي نه وژلو او په قضاء وقدر الهي د باور نه كولو په سبب] زمونږ نه نه دې. [يعنى زمونږ په لاره تلونكې نه دې] (شرح السنة)

حل اللغات: ① الْحَيَّاتِ: د حية جمع ده، ماران، ② ثَائِرٍ: انتقام ته وائي يعنى د انتقام او بدلې د ويرې نه مار مه وژنئ.

تسهيلات:

قوله: مَنْ تَرَكَهُنَّ خَشْيَةَ ثَائِرٍ فَلَيْسَ مِنَّا

د جاهليت د عقيدې ترديد: د عربو د جاهليت په وخت كښې يوه غلطه عقيده وه هغه دا چه كه يوسړى مار مړكړو نو د هغه ملګرې به خامخا راځي او د دغه مړكونكې نه به انتقام اخلي فرض كړه كه نر ئې وژلې وى نو ماده به د انتقام د پاره راځي او كه چرې ماده ئې وژلې وى نو نر به د انتقام اخستلو د پاره راځي چونكه دا غلطه عقيده په وهم باندې بنا وه په دې وجه

(۱) اخرجه شرح السنة كتاب الطب والرقى/ باب قتل الوزغ ۶/ ۱۴۶

نبي كريم دَدې نه منع اوفرمائيله چه څوك داسې عقيده لرى هغه سړې زمونږ نه نه دي يعنى سره دَدې چه هغه باقى په اسلام باندې قائم دي ليكن په دې خاص شعبه كښې هغه د اسلام په طريقه نه دي دامطلب نه دې چه دغه سړې كافرشو

[۴۳۹] د ماراو انسان دشمنى

۴۳۹—[۳۵] (¹) ﴿۱﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ﴿۲﴾ "«مَا سَالَمْنَاهُمْ مُنْذُ حَارَبْنَاهُمْ، ﴿۳﴾ وَمَنْ تَرَكَ شَيْئًا مِنْهُمْ خِيفَةً فَلَيْسَ مِنَّا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ﴿۱﴾ اوحضرت ابوهريره ﷛ وايي چې رسول ﷺ وفرمايل ﴿۲﴾ د څه وخت نه چې مونږ د مارانو سره جنګ شروع كړې دې، د هغه وخت نه مونږ ورسره مصالحت نه دي كړې. ﴿۳﴾ نو كوم سړي چې يو مار د ويرى په وجه د وژلو نه منع شي، [چې خپله هغه مار ب د هغه جوړه به ورته نقصان ورسوي، او بدله به واخلي]، نو هغه زمونږ نه نه دي. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① سَالَمْنَاهُمْ: مونږ دوى سره مصالحت كړې دې، ② خِيفَةً: ويره.

تسهيلات:

قوله: مَا سَالَمْنَاهُمْ مُنْذُ حَارَبْنَاهُمْ:

د مار او انسان طبعي دشمني: يعنى طبعًا دواړه دَ يوبل دښمنان دى. دَ ماردا خيال دې چه م كله هم انسان وينى سربه راله چخنړى كوى لهذا دا زمادښمن دې. انسان سوچ كوى چه كله مې هم په مارخپه كيخوده هغه به ټك راكوى ترقوى به مې. په دې وجه دَدواړو طرفونه پخه دښمنى ده اودكله نه چه دښمنى شروع شوې ده هيڅ كله صلح نه ده شوې په ضعيف رواياتو كښې دى چه دَ ابليس دَ جنت نه دَ وتلونه پس دوباره دننه بوتلونكې هم مار وو بي ابليس وسوسه واچوله اوحضرت آدم ئى دَ جنت نه اوويستلو كه چرې داسې وى نويقينًا دا يو پوخ جنګ دې.

[۴۴۰] د مارد قتلولو څخه د ويرې كولومذمت

۴۴۰—[۳۶] (²) ﴿۱﴾ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " ﴿۲﴾ «اقْتُلُوا الْحَيَّاتِ كُلَّهُنَّ، ﴿۳﴾ فَمَنْ خَافَ ثَأْرَهُنَّ فَلَيْسَ مِنِّي» " رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ

ترجمه: ﴿۱﴾ او حضرت ابن مسعود ﷛ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ﴿۲﴾ ټول ماران قتلوئ، ﴿۳﴾ كه يو سړي د هغوى د انتقام (بدل) نه خوف زده شو نو هغه زما نه نه دي، (ابوداؤد نسائي)

(¹) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الادب/باب فى قتل الحيات... رقم الحديث ۵۶۵۰

(²) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الادب... رقم الحديث ۵۲۵۱

تسهیلات:

نوټ د انتقام د ویرې د وجهې د مار نه قتلولو وضاحت وړاندې د حدیث نمبر (۴۱۳۸) په تشریح کښې شوې دې

[۴۴] دَ زمزم په کوهي کښې مار

۴۴۱—[۳۷] (¹) [۱] وَعَنِ الْعَبَّاسِ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] «يَارَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّا نُرِيْدُ أَنْ نَكْنُسَ زَمْزَمَ [۳] وَإِنَّ فِيهَا مِنْ هٰذِهِ الْجِنَّانِ -يَعْنِي: الْحَيَّاتِ الصِّغَارِ- [۴] فَأَمَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِقَتْلِهِنَّ» رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او د حضرت عباس رضی الله عنه نه روایت دې چې هغه یوه ورځ عرض وکړو [۲] چې یا رسول الله ﷺ مونږ د زمزم د اوبو صفایي کول غواړو، [۳] لیکن په هغې کې وړوکي ماران دي، [۴] نو رسول الله ﷺ د هغه مارانو د وژلو حکم وکړو (ابوداؤد)

حل اللغات: ① نَكْنُسَ: صفائی کوو مونږ، ② الْجِنَّانِ: -يَعْنِي الْحَيَّاتِ الصِّغَارِ: واړه ماران

تسهیلات:

قوله: فَأَمَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِقَتْلِهِنَّ:

د ضرورت په وجه د آبادۍ د کوهی سره نږدې د مار د قتلولو حکم: چونکه دَ زمزم دَابود کوهی صفائی ضروری وه او کرانه دا پیښیدله چه هلته واړه واړه ماران وودَهغې دَ وژلو خطره وه نبی کریم اوفرمائیل چه وئی وژنئ اوس مجبوری ده خکه چه دَدې نه بغیر صفائی ممکن نه ده نودَدې حدیث دَ عوامرنه وژلو والاحدیث سره څه تعارض نشته دې

[۴۴] د وړوکي سپین مار د وژلو ممانعت

۴۴۲—[۳۸] (²) [۱] وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ [۲] «اُقْتُلُوا الْحَيَّاتِ كُلَّهَا [۳] إِلَّا الْجَانَّ الْأَبْيَضَ [۴] الَّذِي كَأَنَّهُ قَضِيْبُ فِضَّةٍ» رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دې چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] ټول ماران وژنئ. [۳] علاوه د جان ابیض ایعنی د سپینو ورو مارانو[نه. [۴] چې د سپینو زرود نل په شان وي (ابوداؤد)

حل اللغات: ① الْجَانَّ: سپین واړه ماران. ② قَضِيْبُ: نل. بانړس

تسهیلات:

قوله: إِلَّا الْجَانَّ الْأَبْيَضَ الَّذِي كَأَنَّهُ قَضِيْبُ فِضَّةٍ:

د وړوکی سپین مار د نه وژلو وجه: دا مار ډیر نقصان ورکونکې نه وو خکه ئې د قتل نه منع وکړې شوه بلکه دا چه په دې مار کښې زهر هم نه وی. او د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت

(¹) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب /باب فی قتل الحيات (رقم-۵۲۵۱)
(²) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب /باب فی قتل الحيات (رقم-۵۲۶۱)

دي چه مار د جناتو په شکل کښې بدل شوي دي (يعنى مسخ شوي دي) لکه څنګه چه بنی اسرائيل دبيزوګانو په شکل کښې مسخ شوی وو په دې خبره کښې د علماء کرامو اختلاف دې چه دا ماران به درې ورځو پورې ويرولې شى او که درې خل به ويرولى شى، نو علماء کرام فرمائى چه اول دير راجح دې.

[۴۳۳] د خوراک په څيز کښې د مچ د پريوتلو حکم

۴۳۳-[۳۹] (¹) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «إِذَا وَقَعَ الذُّبَابُ فِي إِنَاءِ أَحَدِكُمْ [۳] فَامْقُلُوهُ [۴] فَإِنَّ فِي أَحَدِ جَنَاحَيْهِ دَاءً [۵] وَفِي الْآخَرِ شِفَاءً [۶] فَإِنَّهُ يَتَّقِي بِجَنَاحِهِ الَّذِي فِيهِ الدَّاءُ [۷] فَلْيَغْمِسْهُ كُلَّهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] هر کله چې په تاسو کې د چا په لو ښى کي [چې په هغې کې د خوراك څښاك څه څيز وي] مچ ولويږي. [۳] نو هغې ته غوپه ورکړئ، [۴] څکه چې د هغه په يو وزر کې بيماري ده. [۵] او په دويم وزر کې يې شفاء ده، [۶] او مچ په يو شي کې اول خپل هغه وزر اچوي چې په هغې کې بيماري ده، نو پوره مچ ته غوپه ورکول پکار دي، [چې د شفاء والا په وزر سره هغه جراثيم لرې شي. چې د بيماري والا وزر په وجه د خوراك څښاك څيز ته رسيدلي دي] ، (ابوداؤد)

حل اللغات: ① الذُّبَابُ: مچ، ② فَامْقُلُوهُ: نو غوپه ورکئ، ③ فَلْيَغْمِسْهُ: نو ور ډوب (ورغوپه) نې کړئ.

تسهيلات:

نوټ: د خوراک په څيزکښې د مچ غوپه کولوتفصيل وړاندې د حديث نمبر(۴۱۱۵) په تشريح کښې تيرشوې دې. هغې ته رجوع اوکړئ.

[۴۳۴] د خوراک په څيز کښې د ماشى د غورځيدو حکم

۴۳۴-[۴۰] (²) [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] قَالَ «إِذَا وَقَعَ الذُّبَابُ فِي الطَّعَامِ [۳] فَامْقُلُوهُ [۴] فَإِنَّ فِي أَحَدِ جَنَاحَيْهِ سَمًّا [۵] وَفِي الْآخَرِ شِفَاءً [۶] وَإِنَّهُ يُقَدِّمُ السَّمَّ [۷] وَيُؤَخِّرُ الشِّفَاءَ». رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوسعيد خدري رضی الله عنه د نبي کريم ﷺ نه نقل کوي [۲] چې حضور ﷺ وفرمايل هر کله چې په طعام کې مچ ولويږي، [۳] نو هغه ته غو ته (غوپه) پکى ورکړئ، [۴] څکه چې د هغه په يو وزر کې زهر دي، [۵] او په دويم وزر کې شفاء ده، [۶] او مچ خپل د زهرو والا وزر مخکې اچوي [۷] او هغه بل وروسته کوي. (شرح السنة)

حل اللغات: ① الذُّبَابُ: مچ، ② فَامْقُلُوهُ: نو غوپه ورکئ، ③ سَمًّا: زهر، ④ فَلْيَغْمِسْهُ: نو ور ډوب نې کړئ.

(¹) اخرجه ابوداود فى السنن رقم الحديث ۳۸۴۴، واحمد فى المسند ۳/ ۶۷

(²) اخرجه ابن ماجة فى السنن رقم الحديث ۳۵۰۴ واحمد فى المسند ۳/ ۶۷

تسهیلات:

قوله: إِذَا وَقَعَ الذُّبَابُ فِي الطَّعَامِ:

مچان په جهنم کښې: ملا علی قاری رحمه الله فرمائی چه نبی کریم ﷺ وفرمائیل چه د مچ عمر څلویښت شپې وی او د شاتو د مچې نه علاوه ټول مچان به په جهنم کښې وی ددې حدیث په تشریح کښې محدثین حضرات فرمائی چه د مچانو جهنم ته داخلیدل به د عذاب دپاره نه وی بلکه اهل جهنم ته د عذاب ورکولو دپاره به وی او دا مچان به اهل جهنم ته اذیت او تکلیف رسوی

نوټ: د خوراک په څیزکښې د مچ غوپه کولوتفصیل وړاندې د حدیث نمبر۴۱۱۵ په تشریح کښې تیرشوې دې هغې ته رجوع اوکړئ

[۳۳۵] د څلورقسمه حیواناتو دوژلو ممانعت

> ۳۳۵-[۳۱] (۱) ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - قَالَ: ② «نَهَى رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ قَتْلِ أَرْبَعٍ مِنَ الدَّوَابِّ: ③ النَّمْلَةُ، وَالنَّحْلَةُ، وَالْهُدْهُدُ، وَالصُّرَدُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما وایي ② چې رسول الله ﷺ د دې څلورو ځناورو د وژلو نه منع فرمایلي ده ③ ① میږي ② د شاتو مچۍ ③ ملا چرګك ④ او صرد، لنوړا چې د کوترې غوندې دے، چې مرغۍ ښکار کوی] (ابوداؤد دارمي)

حل اللغات: ① النَّمْلَةُ: میږي. ② النَّحْلَةُ: د شاتو مچۍ. ③ الْهُدْهُدُ: ملاچرګک. ④ الصُّرَدُ: لنوړا، شین تڼرې، باخه

قوله: وَالنَّحْلَةُ:

د شهدو د مچې د وژلود ممانعت وجه: د شاتومچئی یومبارك حیوان دې اومبارك شات تیاروی نوددې په قتلولوکښې کښې دوی ته تکلیف رسول هم دی اود انسانانود فندې اختلوسبب هم ختمیږی ځکه نبی علیه السلام ددې د وژلوڅخه منع اوفرمائیله

قوله: الْهُدْهُدُ:

د هدهد دوژلود ممانعت وجه: دا یوه مرغئی ده دې ته په اکثرو ژبوکښې هدهدوانی کهتې برهنی ورته هم وانی ملاچرچك او ملاچرګك ورته هم وانی او کلی مکرکنړی ورته هم وانی چونکه دا مردار بدبودار دې ددې خوړل جائزنه دی نوددفضول وژلونه ئی منع کړې شوه مضرهم نه دې

---

(۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب فی قتل الذر (رقم-۵۲۶۷) وابن ماجه فی السنن کتاب الصید/باب ما ینهی عن قتله (رقم-۳۲۲۴) واحمد فی المسند:۱/۳۲۲

قوله: وَالصُّرَدُ

د صرد په مصداق کښې علماء اقوال: ① په منجد کښې دي صرد يوه مرغئ ده د کومې سرچه لوئي وی اوږدې اوږدې وزرې ئې وی اوږده مښوکه ئې وی نيم سپين اونيم تور وی د مرغو ښکار کوی دا د منجد تحقيق دې

② مولانا فضل محمد صاحب په توضيحات کښې فرمائيلی دی زما دا خيال دې چې دا شين تغ دې يعنی په پښتو کښې ورته شين تغ وائی په اوبو کښې ورغوپه کيږی او د کبانو ښکار کوی اوممکن ده چه وړوکې مرغئ هم ښکار کوی

③ د مظاهر حق والا د دې مرغئ نوم کلچړی ليکلې دې

④ مصباح اللغات د دې نوم لتورا ليکلې دې

دا بې ضرر مرغئ ده د دې وژل منع دی والله أعلم

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۳۶] انسان سره د تحليل اوتحريم عدم اختيار

۳۳۶-[۳۲] (¹) ①عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: ②كَانَ أَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ يَأْكُلُونَ أَشْيَاءَ ③وَيَتْرُكُونَ أَشْيَاءَ تَقَذُّرًا، ④فَبَعَثَ اللّٰهُ نَبِيَّهُ، ⑤وَأَنْزَلَ كِتَابَهُ ⑥وَأَحَلَّ حَلَالَهُ، وَحَرَّمَ حَرَامَهُ ⑦فَمَا أَحَلَّ فَهُوَ حَلَالٌ، ⑧وَمَا حَرَّمَ فَهُوَ حَرَامٌ، ⑨وَمَا سَكَتَ عَنْهُ فَهُوَ عَفْوٌ، ⑩وَتَلَا ﴿قُلْ لَا أَجِدُ فِي مَا أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا ⑪عَلَى طَاعِمٍ يَطْعَمُهُ ⑫إِلَّا أَنْ يَكُونَ مَيْتَةً﴾ [الأنعام: ۱۴۵] الْآيَةَ رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: ① حضرت ابن عباس رضی الله عنهما وايي چې په زمانه د جاهليت کې به خلقو [د خپل خواهش مطابق] څه څيزونه خوړل، ② او څه څيزونه به يي پريخودل. [يعنی د کومو څيزونو چې يي نفرت وو هغه به يي نه خوړل] ، ③ نو الله تعالی جل جلاله خپل نبي صلی الله علیه وسلم راوليږلو. ④ او [په هغه نبي صلی الله علیه وسلم او د هغه په ذريعه د هغه په امت يي] خپل کتاب نازل کړو. ⑤ او خپل حلال څيزونه يي حلال وګرځول، او خپل حرام څيزونه يي حرام وګرځول. [يعنی دا يي بيان کړل چې فلاني شي حلال دي او فلاني شي حرام دي] . ⑦ او الله تعالی جل جلاله چې کوم څيز حلال کړي دي. هغه حلال دي، [د هغې نه علاوه حلال نه دي] . ⑧ او کوم څيز چې يي حرام کړي دي، هغه حرام دي. ⑨ او د کوم څيز نه يي چې سکوت اختيار کړي دي، [يعنی د کوم څيز باره کې چې يي دا نه دی ښودلی چې دا حلال دي يا حرام] ، نو هغه شي معاف دي، [په هغه څه مؤاخذه نشته] . ⑩ او بيا حضرت ابن عباس رضی الله عنهما دا آيت ووېلو اي محمده! (صلی الله علیه وسلم) دوي ته اووايه چې کوم احکام د وحي په ذريعه ماته راغلي دي، په هغې

¹) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأطعمة/باب ما لم يذكر تحريمه (رقم-۳۸۰۰)

کې خو زه څه حرامه غذا نه بيا مومم.⑪ د چا خوړونکي د پاره چې هغه وخوري.⑫ خو دا چې هغه مردار وي، يا وينه الخ (ابوداؤد)

حل اللغات: ①تَقَذُّرًا: کرکه به نې کوله، نفرت به نې کولو.

تسهيلات:

قوله: فَمَا أَحَلَّ فَهُوَ حَلَالٌ، وَمَا حَرَّمَ فَهُوَ حَرَامٌ:

په تحليل اوتحريم کښې د خلقوتره ډېد: په دې حديث سره د قرآن مجيد هغه ايت مبارک طرف ته اشاره مقصود ده کوم چه په سوره انعام کښې دې قل لاأجدفيماأوحي إلى محرما ـــ الاية (الأنعام:۳) دا ايت حضرت ابن عباس رضي الله عنه د هغه خلقو په ترديد کښې وئيلې وو کومو چه به د خپل نفساني خواهشاتو په بنياد د حلت او حرمت فيصلې کولې کوموڅيزونه طرف ته چه به ئې طبيعت راغب شو هغه به ئې حلال ګنړل او کومو څيزونه طرف ته چه طبيعت راغب نه وو هغه به ئې حرام ګنړل، نو حضرت ابن عباس رضي الله عنه په دې ايت سره ددوي خلقو خبره رد کړه او وئې فرمائيل چه حلال هغه دې کوم چه الله تعالى حلال کړې دې او حرام هغه دې کوم چه الله تعالى حرام کړې دې حاصل دا چه د حلت او حرمت تعلق نفساني خواهشاتو سره نه دې بلکه د شارع د حکم سره دې.

[۴۳۷] د خره د غوښو حرمت

۴۳۷-[۴۳] ()[۱] ①وَعَنْ زَاهِرٍ الْأَسْلَمِيِّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: ②«إِنِّي لَأُوقِدُ تَحْتَ الْقُدُورِ بِلُحُومِ الْحُمُرِ ③ إِذْ نَادَى مُنَادِي رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ④ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَنْهَاكُمْ عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ»، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت زاهر اسلمي رضي الله عنه وايي ② چې [يوه ورځ] ما تر هغه کټوئ لاندې اور بلولو چې په هغې کې د خره غوښه د پخيدو د پاره ايخودل شوي وه. ③ چې ناڅاپه د رسول الله ﷺ د طرف نه يو اعلانچي دا اعلان وکړو ④ چې رسول الله ﷺ تاسو د خره د غوښو خوړلو نه منع کړې يي . (بخاري)

حل اللغات: ①لَأُوقِدُ: اور مې بلولو. ②الْقُدُورِ: کټوئ.

تسهيلات: قوله: يَنْهَاكُمْ عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ:

دخره غوښې د حرمت حکم: په ابتدا د اسلام کښې د خر غوښه خوړل حلال وو بيا د غزوه خيبر په موقع چه کله د خر غوښه پخيدله نو حرمت نې نازل شو او نبی کريم ﷺ د خر غوښې د خوړلو نه منع وفرمائيله نو صحابه کرامو خپلې کټوئی التا کړې او هغه غوښه ئې اوغورځوله او د قيامت پورې د خر غوښه خوړل حرام شو.

[۱] اخرجه البخاري في كتاب المغازي/باب غزوة الحديبية (رقم-۴۱۷۳)

[۳۳۸] دَ جناتو قسمونه

۴۱۳۸-[۴۴] ()[۱] وَعَنْ أَبِي ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ، رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، يَرْفَعُهُ "[۲]«الْجِنُّ ثَلَاثَةُ أَصْنَافٍ:[۳] صِنْفٌ لَهُمْ أَجْنِحَةٌ يَطِيرُونَ فِي الْهَوَاءِ،[۴] وَصِنْفٌ حَيَّاتٌ وَكِلَابٌ،[۵] وَصِنْفٌ يَحُلُّونَ وَيَظْعَنُونَ»، رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

توجمه: [۱] او حضرت ابو ثعلبه خشني ﷺ بطریق مرفوع نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمایل [۲] د جناتو (پیریانو) دري قسمو نه دي،[۳] یو خو هغه دي چې د هغوی (وزرې) وي او هغه په هوا کې الوخي،[۴] او دویم هغه دي چې د مارانو او د سپو [په شکل کې] په نظر راځي،[۵] او دریم قسم هغه دي چې په منزل خکته کیږي اوکوچ کوي.[یعنی تلونکی او راتلونکی وی] (شرح السنة)

حل اللغات: ① أَصْنَاف: جمع د صِنْفٌ ده. قسم، ② أَجْنِحَةٌ: د جناحة جمع ده. وزر ته وائی. ③ حَيَّاتٌ: دحية جمع ده، ماران. ④ يَحُلُّونَ: راکوزیږی، دیره کیږی، ⑤ يَظْعَنُونَ: خی راځی.

تسهیلات:

قوله: الْجِنُّ ثَلَاثَةُ أَصْنَافٍ:

د جناتو درې قسمونه:

① بعضې جنات دَ مرغوپه شان الوزی.

② بعضې جنات دَ مارانو په شان توخیږی.

③ بعضې جنات په کورونو کښې راکوزیږی راځی.

دشرارت په اعتبار سره د جناتو درجات: جنات دَ اورنه پیداشوې مخلوق دې دَدوی په طبیعت او خته کښې شرارت پروت دې.

① په جناتو کښې چه کله شرارت او سرکشی دَحدنه زیاته شی نودوی شیطانان جوړیږی او دیوان شی.

② که دَدوی شرارت زیات نرم شی اودَ طبیعت نه زیاتی شیطانت ختم شی نو دوی بناپیری شی.

③که چرې شرارت ئی اعتدال سره وی نودا جنات دی.

[۱] لم اجده

[۳]بَابُ الْعَقِيقَةِ

دعقيقې بيان

خلاصة الباب:

فيه عشرة أحاديث مشتملة على خمس مسائل:

① الأمر بإماطة الأذى عن الصبي: ۱، ۵، ۶، ۱۰.

② التحنيك للصبيان: ۲، ۳.

③ مقدار العقيقة: ۴، ۶، ۷، ۸، ۱۰.

④ وقت العقيقة: ۵.

⑤ الأذان والإقامة في أذن الولد: ۹.

قوله: العقيقة

د عقيقه لغوي معنى: دا د عق يعق عقا نصر ينصر نه په معنى دَشق يشق شقًا شلولو په معنى کښې دي چونکه دَ نوي پيداشوی ماشوم دَ سر ويښته په لا زمی توګه باندې خريلو سره اخواکولې شی په دې وجه دَ دغه ويښتو صفاکولو اوپه اوومه ورځ نوم کيخودو اويوه چيلئی ذبح کولونوم عقيقه کيخودې شوې دې.

د عقيقې په حکم کښې ۲ مذاهب:

① دَ ابن حزم او دَ اهل ظواهر په نيز او د امام احمدبن حنبل رحمه الله دَ يوقول مطابق عقيقه واجب ده

② دجمهور علماؤ په نيزعقيقه سنت ده په دې شرط چه په اووه ورځو کښې دننه دننه وی داول فريق دليل

داول فريق دليل: اهل ظواهراو امام احمدرحمه الله دَ عقيقې د وجوب دَپاره اهريقوا وغيره دَامر صيغوته دَ وجهې دَوجوب قول کړې دې

داول فريق د دليل جواب: دا منو چې اهريقوا د امر صيغه ده خوامر په هرځائې کښې د وجوب په معنى نه وی قرآن کښې الله تعالى فرمائى (وَإِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوا) يعنى کله چې تاسو د احرام څخه حلال شئ نو ښکار کوئ اوس په دې ځائې کښې د حلاليدو څخه روسته ښکارکول د چا په نيز هم واجب نه دې حالانکه د امر صيغه ده دغه شان دلته هم ((اهريقوا)) د وجوب دپاره نه دې بلکه د نورو رواياتو په رڼا کښې دا امر د سنتيت دپاره دې

دوهم فريق دليل: جمهور فقهاء فرمائى چه په اکثرواحاديثوکښې دَعقيقې دَپاره دَ سنت لفظ ونيلې شوې دې لهذا سنت دی واجب نه دی

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۴۳۹] د ماشوم څخه د خیرې لرې کولو حکم

۴۳۹-[۱] (۱)[۱] عَنْ سَلْمَانَ بْنِ عَامِرٍ الضَّبِّيِّ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [۳] «مَعَ الْغُلَامِ عَقِيقَةٌ [۴] فَأَهْرِيقُوا عَنْهُ دَمًا، [۵] وَأَمِيطُوا عَنْهُ الْأَذَى»، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت سلمان ابن عامر ضبي رضي الله عنه وايي، [۲] چې ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل، [۳] چه د هلك په پيدا كيدو عقيقه كول (مسنون يامستحب) دي، [۴] نو د هغه د طرف نه څاروي ذبح كوئ، [۵] او د هغه نه تكليف (يعني د هغه د سر ويښتان اوخيرې) لرې كړئ (بخاري)

حل اللغات: ① عَقِيقَةٌ: دماشوم د پيدائش په اوومه ورځ څاروې ذبح كول. ② فَأَهْرِيقُوا: نو تويې كړئ. وبهيوئ. ③ وَأَمِيطُوا: إماتت دَ ازالې معنى كښې دې، لرې كړئ. ④ الْأَذَى: تكليف. خيرې

تسهيلات:

قوله: أَمِيطُوا عَنْهُ الْأَذَى:

د اذى څخه مراد: إماتت دَ ازالې معنى كښې دې اودَ اذىٰ نه مراد خيرى وغيره دى چه دَ پيدائش دَ وخت نه دَ سر په ويښتو كښې وى بلكه دغه ويښته پخپله خيرې دې

[۴۴۰] تحنيك مسنون عمل دې

۴۴۰-[۲] (۲)[۱] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا: [۲] «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ يُؤْتَى بِالصِّبْيَانِ [۳] فَيُبَرِّكُ عَلَيْهِمْ، [۴] وَيُحَنِّكُهُمْ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او د بي بي عائشي رضي الله عنها نه روايت دې [۲] چې نبي كريم ﷺ ته به (نوزيږيدلى) كوشنيه [ماشومان] راوستل شو، [۳] حضور ﷺ به د هغوى د پاره د بركت دعا كوله (يعني د هغوى په مخكې به يې فرمايل بَارَكَ اللّٰهُ عَلَيْكَ الله تعالى دي په تا بركت او رحمت نازل كړي) [۴] او د هغوى تحنيك به يې كولو (مسلم)

حل اللغات: ① فَيُبَرِّكُ: د بركت دعا به ئې كوله. ② وَيُحَنِّكُهُمْ: دتحنيک نه دې، كجوره جوئيل اوبيا هغه د ماشوم په خوله كښې وركول

---

(۱) اخرجه البخاري في كتاب العقيقة/باب إماطة الأذى عن الصبي في العقيقة (رقم-۵۴۷۱) وابوداود في كتاب الضحايا/باب في العقيقة (رقم-۲۸۳۹) والترمذي في كتاب الأضاحي عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب الأذان في أذن المولود (رقم-۱۵۱۵) والنسائي في كتاب العقيقة/باب العقيقة عن الغلام (رقم-۴۲۱۴)

(۲) اخرجه مسلم في كتاب الطهارة/باب حكم بول الطفل الرضيع وكيفية غسله (رقم-۱۰۱ - (۲۸۶) وابوداود في كتاب الأدب/باب في الصبي يولد فيؤذن في أذنه (رقم-۵۱۰۶)

تسهيلات: قوله: وَيُحَنِّكُهُمْ:

د تحنيک شرعي تعريف: دَ هغه عمل نوم دې چه يوعالم يا نيك سړې كهجوره په خله كښې ښه اوچپوى اوبيا دغه لعاب دَ هغه نوى پيداشوى ماشوم په خله كښې تالوسره اولگوى ماشوم به دا تيركړى

دتحنيک څيزونه: كهجوره خوږ څيزهم دې او مباركه ميوه هم ده په دې وجه دَدې انتخاب اوكړې شو په شاتوسره هم داعمل كيدې شى نوې پيداشوې ماشوم دَ بې خودنى په حالت كښې وى دَ هغه دَ بدن حواس او مشاعر په خوږ څيزسره رابيداريږى

دتحنيک فائده: كله چې د يو ماشوم خيټې ته ړومبې خوراك دَ يوعالم يا صالح سړى لعاب رسيدلوسره بركت هم راځي. اوكله چه نبى دَ چاتحنيك اوكړى دَ هغې به څه وائى اوچه سيد الاولين وآلآخرين وى نوبياخوبه دَتحنيك شان څه بل رنګ وى

[۳۱۵۱] دهجرت څخه روسته په مدينه كښې اولنى پيدا شوې ماشوم

٣١٥١ - [٣] (١) [١] «وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا؛ [٢] أَنَّهَا حَمَلَتْ بِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ بِمَكَّةَ، [٣] قَالَتْ: فَوَلَدْتُ بِقُبَاءَ، [٤] ثُمَّ أَتَيْتُ بِهِ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٥] فَوَضَعْتُهُ فِي حِجْرِهِ، [٦] ثُمَّ دَعَا بِتَمْرَةٍ فَمَضَغَهَا، [٧] ثُمَّ تَفَلَ فِي فِيهِ، [٨] ثُمَّ حَنَّكَهُ، [٩] ثُمَّ دَعَا لَهُ وَبَارَكَ عَلَيْهِ، [١٠] فَكَانَ أَوَّلَ مَوْلُودٍ وُلِدَ فِي الْإِسْلَامِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] د بي بي اسماء بنت ابي بكر ﷺ نه روايت دې [٢] چې په مكه كې عبدالله ابن زبير ﷺ د هغې په خيټه وو، [٣] بي بي اسماء ﷺ وايي چې د قباء په مقام زما اولاد [عبدالله] پيدا شو. [٤] نو د عبدالله په اخستو سره زه د حضور ﷺ په خدمت كې حاضره شوم. [٥] او هغه مي د حضور ﷺ په غيږه مباركه كې وركړو [٦] او نبى عليه السلام خورما [قجوره] راوغوښته، هغه يي وژووله. [٧] بيا د خُلې مباركي لاړي يي د هغه په خُله كې واچولې. [يعنى حضور ﷺ هغه كجور چې د حضور ﷺ لاړو مباركو سره يو خاي شوي وه. د عبدالله په خُله كې واچوله] . [٨] او بيا هغه خورما يي د هغه د تالو سره اولګوله. [٩] د دې نه پس حضور ﷺ د هغه د پاره دبركت دعا وكړله. [يعنى داسې يي وفرمايل چې الله تعالى دې په ده بركت نازل كړي] . [١٠] نو عبدالله ابن زبير ﷺ په مهاجرينو كې اولني ماشوم وو چې د اسلام په عهد كې پيدا شو (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① حَمَلَتْ: راوچت كړي وو. ② حِجْرِهِ: په غيږه كښې. ③ فَمَضَغَهَا: اوني جويله. ④ تَفَلَ: اوني توكلي. ⑤ فِيهِ: په خوله دهغه كښې. ⑥ حَنَّكَهُ: تحنيک ئي اوكړو هغه ته.

(١) اخرجه البخاري فى كتاب العقيقة/باب تسمية المولود غداة يولد. لمن لم يعق عنه. وتحنيكه (رقم-٥٤٦٩) ومسلم فى كتاب الآداب/باب استحباب تحنيک المولود عند ولادته وحمله إلى صالح يحنكه. وجواز تسميته يوم ولادته. واستحباب التسمية بعبد الله وإبراهيم وسائر أسماء الأنبياء عليهم السلام (رقم-٢٦ - (٢١٤٦)) واحمد فى المسند:٣٤٧/٦

تسهيلات:

قوله: فَكَانَ أَوَّلَ مَوْلُودٍ وُلِدَ فِي الْإِسْلَامِ:

دهجرت څخه روسته اولني پيدا شوي مهاجراوانصارماشومان: يعني دَ هجرت نه پس په مهاجرينوكښې چه كوم رومبي بچې پيدا شوې وو هغه عبدالله بن زبيروو او په انصار مدينه كښې دَ اسلام نه پس چه كوم رومبي بچي پيدا شوي وو هغه نعمان بن بشير انصاري وو

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۴۱۵۲] د عقيقې د چېلو تعداد

۴۱۵۲—[۴] (۱) [۱] عَنْ أُمِّ كُرْزٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا - قَالَتْ: [۲] سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [۳] "«أَقِرُّوا الطَّيْرَ عَلَى مَكِنَاتِهَا» " [۴] قَالَتْ؟ وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ [۵] " عَنِ الْغُلَامِ شَاتَانِ، وَعَنِ الْجَارِيَةِ شَاةٌ [۶] وَلَا يَضُرُّكُمْ ذُكْرَانًا كُنَّ أَوْ إِنَاثًا»، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، [۷] وَالنَّسَائِيُّ مِنْ قَوْلِهِ: يَقُولُ " عَنِ الْغُلَامِ إِلَى آخِرِهِ [۸] وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ.

ترجمه: [۱] بي بي ام كرز رضي الله عنها وايي [۲] چې ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل [۳] چې مرغان د مغوی په جالو كې پريږدئ، [۴] ام كرز رضي الله عنها وايي چې ما د حضور ﷺ نه دا هم واوريدل [۵] چې په عقيقه كې د هلك د طرف نه دوه چيلۍ او د جنۍ د طرف نه يوه چيلۍ ده. [۶] او په دې كې ستاسو د پاره څه نقصان نشته، چې هغه نر وي يا ښځه وي، [يعني د دې خبرې لحاظ ضروري نه دي، چې د هلك په عقيقه كې دې چيلي ذبح كړل شي او د جينۍ په عقيقه كښې دې چيلۍ ذبح كړل شي] ، (ابوداؤ د ترمذي) [۷] د نسائي رحمه الله په روايت كې د يقول عن الغلام نه تر آخره پوري دي، [۸] او ترمذي رحمه الله ويلي دي چې دا حديث صحيح دي

حل اللغات : ① أَقِرُّوا : دَ امر صيغه ده برقرار اوساتئ، ② مَكِنَاتِهَا : دَمكنة جمع ده، د مرغئ د اوسيدوجاله (كور)

تسهيلات:

قوله: أَقِرُّوا الطَّيْرَ عَلَى مَكِنَاتِهَا

د مذكوره جملې پس منظر: دَ عربوعادت ووچه دَ يو كاردَپاره دَ تللو په وخت به ئې دَ جالو نه مرغئې الوزولې او پاره كولې به ئې دې دَپاره چه په دې سره دَ كار دَ انجام دَ كاميابئې يا ناكامئې اندازه اوشي. كه چرې مرغئې به دَ جالې نه ښي طرف ته تلله نوعرب به ډير خوشخاليدل اوسفربه ئې جارى ساتلو اوكه چرې مرغئې به كس طرف ته الوتله نوعربوبه

(۱) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الضحايا/باب في العقيقة (رقم-۲۸۳۵) والترمذي في كتاب الأضاحي عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب الأذان في أذن المولود (رقم-۱۵۱۶) والنسائي في كتاب العقيقة/كم يعق عن الجارية (رقم-۴۲۱۷) وابن ماجه في كتاب الذبائح/باب العقيقة (رقم-۳۱۶۲)واحمد في المسند: ۳۸۱/۶

دَدې نه بدفالي نیوله سفربه ئې ختمولو او واپس به راتلل دا تول وهم پرستی وه په دې وجه نبی کریم دَدې نه ممانعت اوفرمائیل

قوله: وَلَا يَضُرُّكُمْ ذُكْرَانًا كُنَّ أَوْإِنَاثًا:

په عقیقه کښې د نر او ښځې چیلې برابری: یعنی په دې کښې هیڅ حرج نشته دې چه په دوو چیلوکښې نر وی که ماده وی دا ضروری نه دی چه د هلك دَ طرف نه نر وی اود جینئی د طرف نه ماده وی

[۴۱۵۳] د عقیقې اهمیت

۴۱۵۳ — [۵] ( )[۱] وَعَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲]«الْغُلَامُ مُرْتَهَنٌ بِعَقِيقَتِهِ [۳] تُذْبَحُ عَنْهُ يَوْمَ السَّابِعِ، وَيُسَمَّى، وَيُحْلَقُ رَأْسُهُ» " رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ [۴] لَكِنْ فِي رِوَايَتِهِمَا " رَهِينَةٌ " بَدَلَ مُرْتَهَنٍ [۵] وَفِي رِوَايَةٍ لِأَحْمَدَ وَأَبِي دَاوُدَ وَيُدْمَى مَكَانَ " وَيُسَمَّى " [۶] وَقَالَ أَبُو دَاوُدَ وَيُسَمَّى أَصَحُّ.

ترجمه: [۱] اوحسن بصري د حضرت سمره رضی الله عنه نه نقل کوي چې رسول الله ﷺ فرمايي [۲] هر کوشني د خپلي عقیقې په بدله کې ګروی [ګانړه] دي، [۳] [د هغه د پیدا ښن] په اوومه ورځ دي د هغه د عقیقې د پاره يو پسه ذبح کړل شي، په اوومه ورځ دي نوم کيخودل شي، او سر دي وخريل شي، دا روايت احمد، ترمذي، ابوداؤد، او نسائي نقل کړي دي. [۴] ليکن د ابوداؤد رحمه الله اونسائي رحمه الله په روايت کې د مُرْتَهَنٌ په ځاىٔ د رَهِينَةٌ لفظ دي، [۵] اودامام احمد رحمه الله او دابوداؤد رحمه الله په يوروايت کې د يُسَمَّى په ځاىٔ وَيُدَمَّى دي. [۶] او ابوداؤد رحمه الله وايلي دي چې لفظ يسمي زيات صحيح دي

حل اللغات: ① مُرْتَهَنٌ: ګانړه، ګروی، ② رَهِينَةٌ: ګانړه، ګروی، ③ يُدْمَى: دا دَ تدمية نه دي په وينه کښې ککړکول

تسهیلات:

قوله: الْغُلَامُ مُرْتَهَنٌ بِعَقِيقَتِهِ

د مرتهن بعقیقته په مفهوم کښې دوه اقوال: ① یعنی دَ ماشوم صحت اودَ هغه پالنه اودَ آفاتو نه حفاظت په عقیقه باندې موقوف دې

② که چرې عقیقه ئې اونه کړه او ماشوم مړشو نوهغه به په قیامت کښې دَ مورپلار شفاعت نه کوی نو شفاعت موقوف اومحبوس دې په عقیقه باندې

---

[۱]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الضحايا/باب فی العقيقة (رقم-۲۸۳۷) والترمذی فی کتاب الأضاحی/باب من العقيقة (رقم-۱۵۲۲) والنسائی فی کتاب العقيقة/باب متی يعق؟ (رقم-۴۲۲۰) وابن ماجه فی کتاب الذبائح/باب العقيقة (رقم ۳۱۶۵) واحمد فی المسند: ۱۹۶۹

قوله: لَكِنْ فِي رِوَايَتِهِمَا "رَهِينَةٌ" بَدَلَ مُرْتَهَنٍ:

د لفظ مرتهن عدمِ صحت: "مرتهن"هغه سړی ته وائي چاسره چه دَ چا رهن کيخودې شوې وی دامطلب دلته صحيح نه جوړيږی نوکه چرې دَمرتهن په ځائې "الغلام مرهون" اسم مفعول واخستې شی نومعنی به صحيح شی ليکن په رواياتوکښې داسې لفظ نه ملاويږی، نو داسې معلوميږی چې دلته مرتهن وئيلوسره دَيو راوی نه سهو شوې ده او صحيح لفظ هم هغه "رهينة"دې کوم چه ابوداؤد او نسائی کښې ذکرکړې شوې دې.

قوله: وَفِي رِوَايَةٍ لِأَحْمَدَ وَأَبِي دَاوُدَ وَيُدْمَى مَكَانَ "وَيُسَمَّى"

د يُدمَى مفهوم: په دې روايت کښې لفظ "يدمى"هم نقل دې کوم چه امام احمد رحمه الله په مسنداحمد کښې ذکرکړې دې. دا دَ تدمية نه دې چه په وينه کښې دَ ککړکولو په معنی کښې دې. ماشوم به دَ عقيقې په وينه کښې ککړکولې شی

قوله: وَقَالَ أَبُو دَاوُدَ وَيُسَمَّى أَصَحُّ.

د يدمى د روايت عدمِ صحت: دا دَ جاهليت طريقه وه لهذا په دې لفظ کښې هم دَ يو راوی دَطرفه تصرف شوې دې. اصل لفظ يُسَمّى" دې يعنی دَ ماشوم نوم به کيخودې شی ابوداؤد داصحيح گرخولې دې.

[۴۱۵۴] د هلک په عقيقه کښې يوه چيلۍ ذبح کول

۴۱۵۴-[۲] (¹) ١ وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيِّ بْنِ حُسَيْنٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- ٢ قَالَ: «عَقَّ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَنِ الْحَسَنِ بِشَاةٍ ٣ وَقَالَ: يَا فَاطِمَةُ احْلِقِي رَأْسَهُ ٤ وَتَصَدَّقِي بِزِنَةِ شَعْرِهِ فِضَّةً " ٥ فَوَزَنَاهُ فَكَانَ وَزْنُهُ دِرْهَمًا أَوْ بَعْضَ دِرْهَمٍ» .٦ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، ٧ وَإِسْنَادُهُ لَيْسَ بِمُتَّصِلٍ، ٨ لِأَنَّ مُحَمَّدَ بْنَ عَلِيِّ بْنِ حُسَيْنٍ لَمْ يُدْرِكْ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ.

ترجمه: ١ حضرت محمد ابن علي ابن حسين رضي الله عنه [يعنی حضرت امام محمد باقر ابن امام زين العابدين ابن امام حسين شهيد رضي الله عنه] د حضرت علي ابن ابي طالب رضي الله عنه نه روايت کوي ٢ چې هغه وفرمايل چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د[خپل لمسي او زما د زوي] حسن رضي الله عنه په عقيقه کې يوه (چيلۍ) ذبح کړي وه،٣ او وې فرمايل چې اي فاطمه! (رضي الله عنها) د ده (حسن رضي الله عنه) سر وخروه،٤ او د هغه د وېښتانو په وزن سپين زر صدقه کړه،٥ نو مونږ د هغه وېښتان وزن کړل، نو هغه د يو درهم يا د يو درهم نه د کم وزن وو، ٦ ترمذي رحمه الله دا روايت نقل کړي دي او ويلي يي دي چې دا حديث حسن غريب دي،٧ او ددې اسناد متصل [يعنی مسلسل] نه دي،٨ ځکه چې محمد ابن علي ابن حسين رضي الله عنه د حضرت علي بن ابي طالب رضي الله عنه زمانه نه ده ليدله.

حل اللغات: ① عَقَّ: عقيقه ئې اوکړه، ② بِزِنَةِ: په برابر،

---

¹) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب الأضاحی/عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب العقيقة بشاة (رقم-۱۵۱۹)

تسهیلات:

قوله: عَقَّ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَنِ الْحَسَنِ بِشَاةٍ:

د تعارض اشکال: ① په زیربحث حدیث کښې دَ یوې چیلئ دَ ذبح بیان دې سنن ابوداؤد کښې هم دغه شان دي

② په سنن نسائی کښې دَ دوو کبش ذکر دي

③ دې څخه مخکښې حدیث نمبر (۴۱۵۲) کښې دَ عقیقې دا ضابطه بیان کړې شوې ده چه دَ هلك دَ طرف نه دوه چیلئ یا چیلئ اودَ جینئ دَ طرف نه یو ذکردې په ظاهره روایاتو کښې تعارض دې

دا شکال درې جوابونه: اصل ضابطه خوهم هغه ده چه په عقیقه کښې دَ هلك دَ طرف نه دوه اودَ جینئ دَ طرف نه یو چیلې یا چیلئ ده. دلته دَ حضرت حسن رضی الله عنه په عقیقه کښې چه دَ یوې چیلئ دَ ذبح کولو ذکر دې نو په دې کښې به تاویل کولې شي.

① زیر بحث روایت غیرمتصل دې په دې کښې انقطاع ده لهذا دَدې په ځائ دَ دوو چیلو والا روایت اولی بالقبول دې.

② یوه چیلئ دَ حضوراك دَ طرف نه وه اودویمه دَحضرت علی رضی الله عنه یا حضرت فاطمې رضی الله عنها دَ طرف نه وه

③ ممکن دی چه دَ ولادت په وخت نی یوګډ ذبح کړې وی اودَ عقیقې په وخت نی بل ذبح کړې وی نودې ته یویو کبش هم ونیلې کیدې شی اودوه هم ونیلی شی

[۳۵۵] دحسنینو په عقیقه کښې یو یو ګډ ذبحه کول

۳۵۵-[۷]([1]) ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: ② أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- «عَقَّ عَنِ الْحَسَنِ وَالْحُسَيْنِ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا- كَبْشًا كَبْشًا». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ، ③ وَعِنْدَ النَّسَائِيِّ: كَبْشَيْنِ كَبْشَيْنِ.

ترجمه: ① او د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دي ② چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د امام حسن رضی الله عنه او د امام حسین رضی الله عنه په عقیقه کې یو یو پسه ذبح کړ (ابوداؤد) ③ او نسائي دوه دوه پسونه نقل کړي دي

حل اللغات: ① عَقَّ: عقیقه ئي اوکړه. ② كَبْشًا: ګډ.

تسهیلات:

قوله: عَقَّ عَنِ الْحَسَنِ وَالْحُسَيْنِ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا- كَبْشًا كَبْشًا:

د تعارض اشکال: وړاندې په حدیث نمبر (۴۱۵۲) کښې یوه ضابطه ده چه دَهلك دَ طرفه دوه

[1]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الضحایا/باب فی العقیقة (رقم-۲۸۴۱) والنسائی فی کتاب العقیقة/کم یعق عن الجاریة (رقم-۴۲۱۹)

چیلی او دَ جینئی دَ طرفه د یوې چیلۍ عقیقه ده اودلته په دې حدیث کښې دی چې نبی علیه السلام په حسنینو کښې د هریو د طرفه یو یو ګډ ذبح کړې وو دا ښکاره تعارض دې

د تعارض جواب: اصل څیز ضابطه شوه اوپه دې حدیث کښې چې د یو یو ګډ ذکر دې په دې کښې هغه احتمالات موجود دی د کومو ذکرچې دحدیث نمبر (۴۱۵۴) په شرح کښې شوې دې

[۴۱۵۶] د بچی څخه د عقیقه کولو محبوبیت

۴۱۵۶—[۸] (¹) [۱] وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ [۲] قَالَ: «سُئِلَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنِ الْعَقِيقَةِ. [۳] فَقَالَ " لَا يُحِبُّ اللّٰهُ الْعُقُوقَ " [۴] كَأَنَّهُ كَرِهَ الِاسْمَ [۵] وَقَالَ " مَنْ وُلِدَ لَهُ وَلَدٌ [۶] فَأَحَبَّ أَنْ يَنْسُكَ عَنْهُ فَلْيَنْسُكْ. [۷] عَنِ الْغُلَامِ شَاتَيْنِ، [۸] وَعَنِ الْجَارِيَةِ شَاةً» " رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت عمرو بن شعیب د خپل پلار نه او هغه د خپل نیکه نه روایت کوي [۲] چې هغه اوویل چه د رسول الله ﷺ نه د عقیقه باره کې پوښتنه وشوه. [۳] نو هغه ﷺ وفرمایل الله تعالی ﷻ عقوق نه خوښوي، [۴] ګویا آنحضرت ﷺ دا فعل په لفظ عقیقه سره موسوم کول (نومول) خوښ نه کړو، [۵] او بیا یې وفرمایل د کوم سړي چې زوي پیدا شي، [۶] هغه ته پکاردي، چې هغه د هغه دطرفه ذبح اوکړي [۷] هلك د طرف نه دوه بزې (چیلۍ) ، [۸] او د جنیۍ د طرف نه یوه بزه (چیلۍ)- (ابوداؤد نسائي)

حل اللغات: ① الْعُقُوقَ : نافرماني، ② أَنْ يَنْسُكَ: چه قرباني کړی، ذبح کړي، ③ الْجَارِيَةِ: جینئ،

تسهیلات:

قوله: فَقَالَ " لَا يُحِبُّ اللّٰهُ الْعُقُوقَ":

د مذکوره جملې ظاهری مطلب: دَدې حدیث په ظاهره مطلب دادې چه کله دَ نبی کریم نه دَعقیقې باره کښې پوښتنه اوکړې شوه نونبی کریم اوفرمائیل الله تعالی عقوق یعنی نافرمانی نه خوښوی لهذا دَ چا چه عقیقه اوشوه هغه دَعقوق نه بچ شو لکه چه دا دَعقیقې کولوترغیب دې

قوله: كَأَنَّهُ كَرِهَ الِاسْمَ:

د راوی د ګمان تغلیط: دا مذکوره الفاظ دَیو راوی دَ طرفه تفسیر دې هغه دا ګڼړلی چه نبی کریم لفظ عقوق نه خوښولو حالانکه حقیقت داسې نه دې نبی کریم اسم پخپله استعمال کړې دې

¹) والنسائی فی کتاب العقیقة (رقم-۴۲۱۲) واحمد فی المسند: ۱۸۲/۲

[۳۱۸۷] د ماشوم غوږ کښې اذان کول

۴۱۵۷-(۹) (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي رَافِعٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] «رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَذَّنَ فِي أُذُنِ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- [۳] حِينَ وَلَدَتْهُ فَاطِمَةُ بِالصَّلَاةِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ. [۴] وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ

ترجمه: [۱] او حضرت ابو رافع رضي الله عنه وايي [۲] چې ما رسول الله ﷺ وليدلو چې د حسن ابن علي رضي الله عنه په غوږ کې يې اذان وکړو [۳] کوم وخت چې د بي بي فاطمي رضي الله عنها نه هغه پيدا شو. او هغه اذان د مانځه د اذان په شان وو. (ترمذي ابوداؤد) [۴] او ترمذي رحمه الله ويلي دي چې دا حديث حسن صحيح دی.

تسهيلات: قوله: أَذَّنَ فِي أُذُنِ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا-:

د ماشوم په غوږ کښې اذان کول: دې حديث نه دا خبره معلومه شوه چه د ماشوم په غوږ کښې آذان کول مسنون دي.

په ښي غوږ کښې اذان او ګس کښې اقامت کول: د شرح السنه په يو روايت کښې دي چه نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چه د کوم کس په کور کښې ماشوم پيدا شي او دې د هغه په ښي غوږ کښې آذان اوکړی شي او په ګس غوږ کښې ئي تکبير اووائی نو هغه ماشوم ته به د ام الصبيان بيماری نه لګی.

دماشوم په غوږ کښې دتعوذ کلمات ويل: امام نووی رحمه الله نه دا الفاظ منقول دي چه د ماشوم په غوږ کښې دا الفاظ ويل مستحب دي "إني أعيذها بك وذريتها من الشيطان الرجيم"

د اذان کولو په حکمت کښې دوه اقوال: ① ملا علی قاری رحمه الله فرمائي چه د ماشوم په غوږ د آذان کولو حکمت دا دي چه د ماشوم په غوږ کښې د ټولو نه اول د الله تعالی د ذکر اطلاع دعوت إلى الإيمان والصلوه په طور ورسيږي ځکه چه دا دي بنيادی رکن مونځ دي (مرقات)

② ما د يوعالم ځخه اوريدلي وومعلومه نه ده چې هغوی به دا خبره د کوم کتاب ځخه کړی وی چې د ماشوم په ښي غوږ کښې اذان اوګس غوږ کښې اقامت کولوکښې دې طرف ته اشاره ده چې اې ماشومه لکه څومره وخت چې د اذان او اقامت په مينځ کښې وی دغه شان ستا دنيا ته راتګ او ددې ځخه د واپس تلو وخت ډيرکم اومعمولی دې په دې کښې دآخرت دپاره نيک اعمال اوکړه او د دنيا په تماشو مه نيازيږه

لکه څنګه چې حافظ صاحب فرمائيلی دي

□ د دنيآ په تماشو چې څوک نيازيږی ... دا هم نن ني تماشه ده صبا نه ده

(۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب فی الصبي يولد فيؤذن فی أذنه (رقم-۵۱۰۵) والترمذی فی کتاب الأضاحی عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب الأذان فی أذن المولود (رقم-۱۵۱۴) واحمد فی المسند: ۹/۶

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۴۱۸۸] په اوومه ورځ عقيقه كول

۴۱۵۸-[۱۰] (۱) [۱] «عَنْ بُرَيْدَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] كُنَّا فِي الْجَاهِلِيَّةِ إِذَا وُلِدَ لِأَحَدِنَا غُلَامٌ [۳] ذَبَحَ شَاةً وَلَطَخَ رَأْسَهُ بِدَمِهَا، [۴] فَلَمَّا جَاءَ الْإِسْلَامُ [۵] كُنَّا نَذْبَحُ الشَّاةَ يَوْمَ السَّابِعِ، [۶] وَنَحْلِقُ رَأْسَهُ [۷] وَنَلْطَخُهُ بِزَعْفَرَانٍ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ، [۸] وَزَادَ رَزِينٌ: وَنُسَمِّيهِ.

ترجمه: [۱] حضرت بريده ﷺ وايي چې په زمانه د جاهليت كې دا دستور وو، چې په مونږ كې به د چا هلك پيدا شو، [۲] نو هغه به بزه (چيلئ) ذبح كوله، او د هغه بزې وينه به يې د هغه هلك په سر مږله [۴] خو كوم وخت چې د اسلام زمانه راغله، [۵] نو مونږ به [د وړوكي د پيدائش] په اوومه ورځ بزه (چيلئ) ذبح كوله، [۶] د هغه سر به مو خرولو، [۷] او د هغه په سر به مونږ زعفران لګول، (ابوداؤد) [۸] او د رزين ﷫ په روايت كې دا الفاظ هم دي چې مونږ به په اوومه ورځ د هغه نوم كيخو دلو.

حل اللغات: (۱) لَطَخَ: مږلې به ئې، ككړ كولې به ئې،

تسهيلات:

قوله: وَلَطَخَ رَأْسَهُ بِدَمِهَا:

دجاهليت د زمانې رسم: په جاهليت كښې به خلقوماشوم دَ عقيقې دَ ځناور په وينوكښې ككړكولو. په دې سره به دَ ماشوم په طبيعت كښې ځناورتوب راتلو.

قوله: وَنَلْطَخُهُ بِزَعْفَرَانٍ:

په ماشوم باندې زعفران لګول: اسلام د ماشوم په بدن د وينې لګولو په ځائې دَ زعفرانو لګولو حكم ورکړو دې دَپاره چه ماشوم مشك او زعفران جوړشي. په دې وجه علماؤ ليكلى دى چه دَعقيقې خوراك سره لږه شيريني هم كيدل پكاردى چه دَماشوم اخلاق خواږه شي.

اسلام دَ جاهليت طريقه موقوف كړه اوخپله مباركه طريقه ئې جارى كړه په دې وجه مسلمانانوله دَ اسلام طريقه خپلول پكاردى.

---

(۱) اخرجه ابوداود في السنن رقم الحديث ۲۸۴۳

[۲۱] كِتَابُ الْأَطْعِمَةِ

دَخوراکونوبیان

خلاصة الباب:

فيه تسعة وسبعون أحاديث مشتملة على خمس عشرة مسئلة:

① أداب الأكل قولا وفعلا: ۱، ۲، ۳، ۴، ۵، ۶، ۷، ۸، ۹، ۱۰، ۲۶، ۲۷، ۴۰، ۴۱، ۴۲، ۴۸، ۴۹، ۵۵، ۷۰، ۷۴، ۷۷، ۷۹.

② ضيق المعيشة في زمن النبي ﷺ: ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۳۱، ۳۲، ۳۳، ۳۴.

③ عدم الانكار على العيب في الطعام: ۱۴.

④ قباحة كثرة الطعام: ۱۵، ۷۵.

⑤ المواساة في الطعام: ۱۶، ۱۷.

⑥ فضائل بعض الأطعمة: ۱۸، ۱۹، ۲۱، ۲۲، ۲۳، ۲۵، ۲۸، ۲۹، ۳۰، ۵۴، ۵۷، ۵۸، ۵۹، ۶۱، ۶۶، ۶۹، ۷۱، ۷۲، ۷۶، ۷۸.

⑦ حكم الأكل بالسكين والسن: ۲۰، ۵۱، ۵۲، ۶۴، ۷۳.

⑧ حكم الجمع بين الطعامين: ۲۴، ۶۰، ۶۳.

⑨ كراهة بعض الأطعمة: ۳۵، ۳۶، ۶۷، ۶۸.

⑩ جواز الكيل في الطعام: ۳۷.

⑪ التحميد عند فراغ الأكل: ۳۸، ۳۹، ۴۳، ۴۴، ۴۵.

⑫ غسل اليدين قبل الأكل وبعده وتركه أحيانا: ۴۶، ۴۷، ۵۰، ۶۶.

⑬ الاجتناب عن بعض الأطعمة للمريض: ۵۳.

⑭ تصفية الطعام من السوس (السوس دود يقع في التمر): ۶۳.

⑮ تفصيل الحلال والحرام: ۶۵.

د طعام په تعریف کښې درې اقوال: ① أطعمة د طعام جمع ده علامه جوهري رحمه الله وائی الطعام مايؤكل یعنی کوم څيز چه خوړلې شی او کله د دې اطلاق د غنمو سره خاص وی

② طعام هغه خوراک ته هم وائی کوم چه پوخ کړې شوې تیار شی

③ طعام هغه خوراک ته وائی چه د اولګې لرې کولو د پاره تیارولې شی او یو قول دا هم دې چه هغه خوراک په کوم چه خیټه ډکه شی هغې ته طعام ونیلې شی

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۴۱۵۹] په کښېنږه کښې د خوراک کولو درې آداب

۴۱۵۹-[۱] (۱)① «عَنْ عُمَرَبْنِ أَبِي سَلَمَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: ② كُنْتُ غُلَامًا فِي حِجْرِ رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ③ وَكَانَتْ يَدِي تَطِيشُ فِي الصَّحْفَةِ. ④ فَقَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "سَمِّ اللّٰهَ ⑤ وَكُلْ بِيَمِينِكَ، ⑥ وَكُلْ مِمَّا يَلِيكَ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① حضرت عمر ابن ابي سلمه ﷺ وايي چې زه وړوکي وم، او د رسول اللهﷺ په پرورش اوتربيت کې وم، ③ او زما لاس به په لوښي کې جلتئ جلتئ سره تاويدلو يعنى څرنګه چې د وړوو عادت وي، ما به د خپل مخې نه د خوړلو په ځای اخوا ديخوا ته لاس وهلو ④ نو رسول اللهﷺ ماته وفرمايل چې بسم الله وايه ⑤ او په ښي لاس سره يې خوره، ⑥ او د هغه جانب نه يې خوره کوم چې تاته نزدې دې [يعني د خپلې مخې نه يې خوره] بخاري مسلم.

حل اللغات: ① حِجْر: غيره، پرورش، تربيت.

حضرت عمرو بن ابى سلمه مختصر تعارف: دې دَ حضرت ام المؤمنين حضرت ام سلمه ﷺ خوئ دې چه دَ هغې دَ ړومبى خاوند ابوسلمهﷺ نه وو. دَ هجرت نه دوه کاله پس پيداشوې وو. کله چه ام سلمه ﷺ او ابوسلمه ﷺ په حبشه کښې وو. په خپلو خوئيندو ږونړو کښې دَ ټولونه مشر وو. کله چه دَ حضوراکرم ﷺ نکاح ام سلمه ﷺ سره اوشوه هغه وخت دې ماشوم وو. دې نه پس هغه دَ نبى کريم ﷺ په پالنه کښې راغلو. دوى دحضوراکرم ﷺ نه هم روايت کوى اودَ خپلې مور بى بى ام سلمه ﷺ نه هم روايتونه نقل کوى.(۳) دَ عبدالملک بن مروان په زمانه کښې وفات شو.(۴). ابن الاثير فرمائى چه دَ هغوى انتقال په ۸۳ هـ کښې شوې. (۵)

تسهيلات:

قوله: كُنْتُ غُلَامًا فِي حِجْرِ رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

دحجر رسول الله مفهوم: عمرو بن سلمه دَ ام سلمه ﷺ دَ مخکينى خاوندخوئى دې ام سلمه ﷺ چه کله دَ نبى کريم په نکاح کښې راغله نو عمرو بن سلمه هغې سره دَ نبى کريم په تربيت کښې راغلو هم دې طرف ته "فى حجررسول الله ﷺ" سره اشاره کړې شوې

قوله: وَكَانَتْ يَدِي تَطِيشُ فِي الصَّحْفَةِ.

په شريکه د روټې خوراک کولو درې آداب: ده"تطيش"يعنى لاس ئې اخواديخوا په رکيبئ کښې

(۱) اخرجه البخارى فى كتاب الأطعمة/باب التسمية على الطعام... رقم الحديث ۵۳۷۶ ومسلم فى كتاب الأشربة/باب آداب الطعام والشراب... رقم الحديث ۵۳۸۸

تاویدلو کله به نی د دیخوا نه خوړلو اوکله د اخوا نه لکه چه د ماشومانو عادت وی رسول الله ﷺ هغه ته دري آداب اوخودل

① بسم الله ونیلوسره خوراك شروع کول

② په ښی لاس باندي خوراك کول

③ د خپلي مخي څخه خوراک کول. دلته د دريو آدابو بيان دي

[۳۰] د خوراک په وخت کښې د بسم الله ویلو اهمیت

۳۰-[۲]([1])① وَعَنْ حُذَيْفَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② «إِنَّ الشَّيْطَانَ يَسْتَحِلُّ الطَّعَامَ أَنْ لَا يُذْكَرَ اسْمُ اللّٰهِ عَلَيْهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① حضرت حذیفه رضی الله عنه وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل ② په کوم طعام چي د الله جل جلاله نوم وانخستل شي، نو هغه شيطان ځان د پاره حلال کني. (مسلم)

حل اللغات: ① يَسْتَحِلُّ: حلال گنړی.

تسهیلات:

قوله: إِنَّ الشَّيْطَانَ يَسْتَحِلُّ الطَّعَامَ:

په بسم الله نه ويلو سره په خوراک کښې د شیطان شرکت: يعنی د شيطان کوشش وی چه په يوطريقه مسلمان په غفلت سره خوراك شروع کړی دي د پاره چه شيطان ته موقع ملاؤشی اوهغه هم ورسره شی. بسم الله لوستلوسره دا خبيث تختي.

[۳۱] په بسم الله سره د شیطان د شرکت څخه حفاظت

۳۱-[۳]([2])① وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② «إِذَا دَخَلَ الرَّجُلُ بَيْتَهُ ③ فَذَكَرَ اللّٰهَ عِنْدَ دُخُولِهِ ④ وَعِنْدَ طَعَامِهِ. ⑤ قَالَ الشَّيْطَانُ: لَا مَبِيتَ لَكُمْ وَلَا عَشَاءَ. ⑥ وَإِذَا دَخَلَ فَلَمْ يَذْكُرِ اللّٰهَ عِنْدَ دُخُولِهِ؛ ⑦ قَالَ الشَّيْطَانُ: أَدْرَكْتُمُ الْمَبِيتَ ⑧ وَإِذَا لَمْ يَذْكُرِ اللّٰهَ عِنْدَ طَعَامِهِ ⑨ قَالَ: أَدْرَكْتُمُ الْمَبِيتَ وَالْعَشَاءَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت جابر رضی الله عنه وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل ② هرکله چي سړي په خپل کور کي [يعنی د خوب په ځاي کي] داخليږي، ③ او د داخليدو په وخت کي د الله جل جلاله نوم واخلي، [يعنی بسم الله ويلو سره په خواب گاه کي داخليږي] ④ او د خوراك په وخت هم

---

[1]) اخرجه مسلم فی کتاب الأشربة/باب آداب الطعام والشراب واحکامهما (رقم-۱۰۲ - (۲۰۱۷) وابوداود فی کتاب الأطعمة/باب التسمية على الطعام (رقم-۳۷۶۶) واحمد فی المسند:۳۸۳/۵

[2]) اخرجه مسلم فی کتاب الأشربة/باب آداب الطعام والشراب واحکامهما(رقم-۱۰۳ - (۲۰۱۸) وابوداود فی کتاب الأطعمة/باب التسمية على الطعام (رقم-۳۷۶۵)وابن ماجه فی کتاب إقامة الصلاة/باب ما جاء فی کم یکبر الإمام فی صلاة العيدين (رقم-۱۲۷۹) واحمد فی المسند: ۳۸۳/۳

د الله ﷻ نوم واخلي.۵ نو شیطان [خپلو تابعدارو ته] وایي چې په دي کور کې نه ستاسو د پاره ځه ځای شته، او نه طعام شته.۶ او کله چې سړي په کور (خواب گاه) کې د داخلیدو په وخت د الله ﷻ نوم نه اخلي.۷ نو شیطان خپلو تابعدارو ته وایي، چې په دي کور کې تاسو ته ځای ملاؤ شو.۸ او هر کله چې سړي د طعام خوړلو په وخت د الله ﷻ نوم نه اخلي.۹ نو شیطان خپلو تابعدارو ته وایي چې په دي کور کې تاسو ته ځای هم ملاؤ شو او طعام هم . (مسلم)

حل اللغات: ۱مَبِیتَ: دشپې تیرولو ځائي.۲عَشَاءَ: دماښام روټئ.

تسهیلات:

قوله: لَامَبِيتَ لَكُمْ وَلَاعَشَاءَ:

د بسم الله په وجه د شیطانانو نه د کور حفاظت: کورته دَ راتلوپه وخت اوبیا دَ خوراك کولوپه وخت کله سړي بسم الله وائی نودَ شیطانانودَ جماعت امیر هغوی ته وائی دلته نه خوراك شته اونه دَ شپې تیرولو گنجائش شته.

قوله: أَدْرَكْتُمُ الْمَبِيتَ وَالْعَشَاءَ:

د بسم الله نه ویلو په وجه په خوراک او جماع کښې د شیطان شرکت: اوکه یوسړي کورته دَ راتلو په وخت بسم الله نه وائی نوهم دغه شیطان وائی خوشحاله شئی رونړو خوراك او شپه تیرول دواړه ملاؤشو. علماء لیکلی دی چه بیا ابلیس دي سړی سره په جماع کښې هم شریکیږی. دَ نن صبا دروکښې دَ جهالت په وجه دا وباء عام شوې ده. ماډرن طبقه دَ بسم الله نه لرې ده.

[۳۳] په ښی لاس د خوراک څکاک کولو مسنونیت

۳۳-(۳)(۱) ۱ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ:-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-۲«إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَأْكُلْ بِيَمِينِهِ،۳وَإِذَا شَرِبَ فَلْيَشْرَبْ بِيَمِينِهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱او حضرت ابن عمر ﷠ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل۲ هر کله چې په تاسو کې یو سړي طعام خوري، نو په ښي لاس سره دي خوري،۳ او هر کله چې څه شي څکي نو په ښي لاس سره دي څکي. [یعنی د اوبو وغیره لوښې دې په ښي لاس سره نیسي] (مسلم)

تسهیلات:

قوله: إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَأْكُلْ بِيَمِينِهِ:

په ښی لاس د خوراک کولو حکم: شریعت دَ انسان هرځائی رهنمائی کړې ده لهذا دَ شریعت

---

(۱) اخرجه مسلم فی كتاب الأشربة/باب آداب الطعام والشراب واحكامهما(رقم-۱۰۳ - (۲۰۱۸) وابوداود فی كتاب الأطعمة/باب التسمية على الطعام (رقم-۳۷۶۵)وابن ماجه فی كتاب إقامة الصلاة/باب ما جاء فی كم يكبر الإمام فی صلاة العيدين (رقم-۱۲۷۹) واحمد فی المسند: ۳۸۳/۳

حکم دې چه خوراك په ښی لاس کوئی او ډك اودس ماتې په ګس لاس باندې صفاکونی اوس که یوسړې د دې الته چلیږی او په ګس لاس باندې خوراك کوی نود شریعت نافرمانئی سره سره به دده خوراك هم بې مزې شی خکه چه کله ده ته یادیږی چه اوس لږساعت وړاندې ئی په ګس لاس باندې خان صفاکړې دې او اوس هم هغه لاس په خله کښې ورکوی او ځتی ئی نودده به کرکه پیدا کیږی او خوراك به ئی بې مزې شی

[۴۳۳]په ګس لاس سره د خوراك څښناك کولو ممانعت

۴۳۳-[۵]( )[۱]وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-:[۲]«لَا يَأْكُلَنَّ أَحَدُكُمْ بِشِمَالِهِ[۳]وَلَا يَشْرَبَنَّ بِهَا».[۴] فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَأْكُلُ بِشِمَالِهِ وَيَشْرَبُ بِهَا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱]اوحضرت ابن عمر رضی الله عنهما وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل[۲]په تاسو کې دې يو سړي په چپ [ګس] لاس سره طعام نه خوري،[۳] او نه دې په چپ لاس سره [يو شي] ځکي،[۴]خکه چې دا د شيطان طريقه ده، چې هغه په چپ لاس سره خوري او په چپ لاس سره ځکي (مسلم)

تسهیلات: قوله: لَا يَأْكُلَنَّ أَحَدُكُمْ بِشِمَالِهِ وَلَا يَشْرَبَنَّ بِهَا:

ددې حدیث نه معلومه شوه چه کوم خلق په ګس لاس باندې خوراك څښناك کوی دوی په حقیقت کښې شیطانان جوړشوی دی سره ددې چه شکل ئی د انسان دې شیطان د انسان دښمن دې مکربنکاری نه او داخبره ده چه د ده کار اوکردار ښکاری نوکوم کس چه د شیطان کردارخپلوی نوښه پوهه شه چه دې د شیطان دوست او پخپله پوخ شیطان دې

[۴۳۴]په دریو ګوتو د خوراك کولو مسنونیت

۴۳۴-[۶]( )[۱] وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲]«كَانَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَأْكُلُ بِثَلَاثَةِ أَصَابِعَ[۳]وَيَلْعَقُ يَدَهُ قَبْلَ أَنْ يَمْسَحَهَا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه:[۱]او کعب ابن مالك رضی الله عنه وايي [۲] چې رسول الله ﷺ به په په دريو ګوتو (يعني په مته. د شهادت په ګوته او د منځ په ګوته) طعام خوړلو.[۳] او د طعام د فارغيدو نه پس به يې خپل لاس (په رومال وغيره سره) د اوچولو (يا د وينځلو) نه مخکې ځټلو (مسلم)

حل اللغات: ①يَلْعَقُ: ځټلو به ني. ②أَنْ يَمْسَحَهَا: چه اوچ نې کړی

[1]) اخرجه مسلم فی کتاب الأشربة/باب آداب الطعام والشراب وأحكامهما (رقم-۱۰۶ - (۲۰۲۰) وابوداود فی کتاب الأطعمة/باب الأكل باليمين (رقم-۳۷۷۶)والترمذی فی کتاب الأطعمة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی النهی عن الأكل والشرب بالشمال(رقم-۱۷۹۹) کتاب صفة النبی صلى الله عليه وسلم/باب النهی عن الأكل بالشمال (رقم-۶) واحمد فی المسند: ۳۳/۲

[2]) اخرجه مسلم فی کتاب الأشربة/باب استحباب لعق الأصابع والقصعة. وأكل اللقمة الساقطة بعد مسح ما يصيبها من أذى، وكراهة مسح اليد قبل لعقها (رقم-۱۳۱ - (۲۰۳۲) واحمد فی المسند:وابوداود فی/۴۵۴

تسهيلات:

قوله: يَأْكُلُ بِثَلَاثَةِ أَصَابِعَ:

په درې گوتو خوراک کول: انسان له پکار دی چه په خوراك كښې دکم نه کمې گوتې استعمال کړی دَ نوړئی اوچتولو دپاره کم نه کم دَ دریو گوتو ضرورت وی بیاد پلیټ څټل هم دَ برکت سبب دې او لاس وینخلونه یا صفاکولونه وړاندې دَ گوتو څټل هم سنت دی په دې کښې برکت دې او په دې کښې دَ خوراك خوند دې بعضې وخت دَ ضرورت دَ وجهې دَ دریوگوتونه زیات هم نبی کریم په خوراك کولوکښې استعمال کړی دی په کوم سره چه دَ جوازطرف ته اشاره اوشوه

قوله: وَيَلْعَقُ يَدَهُ قَبْلَ أَنْ يَمْسَحَهَا

د تعليق اومسح په مصداق كښې درې اقوال: ① دَ صفا کولومطلب داهم کیدې شی چه په کپړه سره صفاکړې شی

② د صفا کولو مطلب دا هم کیدې چه دَ خپوپه گیتو او تلو باندې اومږلې شی لکه چه دَ صحابه کرامو عادت وو

③ دَمسح څخه وینځل هم مراد اخستې شی.

[۳۳۸] د گوتواوکاسې د څټلوحکم

۴۱۶۵-[۷]( ) [۱] وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: [۲] أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- «أَمَرَ بِلَعْقِ الْأَصَابِعِ وَالصَّحْفَةِ، [۳] وَقَالَ: "إِنَّكُمْ لَا تَدْرُونَ: فِي أَيِّهِ الْبَرَكَةُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او د حضرت جابر نه روایت دی[۲] چې نبي کریم ﷺ د گوتو او پلیټ څټلو حکم ورکولو.[۳] او وي فرمایل چې تاسو ته نه ده معلومه. چې په کومو گوتو یا نوړۍ کې برکت دي. (مسلم)

حل اللغات: ① لَعْق: څټل. ② الْأَصَابِع: گوتې. ③ الصَّحْفَة: پلیټ، کاسه.

تسهيلات:

قوله: فِي أَيِّهِ الْبَرَكَةُ:

د "أَيِّهِ" په مفهوم كښې دوه اقوال: ① "أية" کښې تاء د تانیث ده ددې وجهې نه ترجمه ئې په گوتو یَا په نمرۍ سره کولې شی

② بعضو نسخو کښې دا لفظ ه په ضمیر سره هم دې نو په دې صورت کښې به معنی دا شي چه تاسو نه پوهیږې چه کوم خوراک کښې برکت دې ایا هغه کوم چه تاسو وخوړلو په

( ) اخرجه مسلم في كتاب الأشربة/باب استحباب لعق الأصابع والقصعة، وأكل اللقمة الساقطة بعد مسح ما يصيبها من أذى، وكراهة مسح اليد قبل لعقها(رقم-۱۳۳ - (۲۰۳۳) واحمد في المسند:۳/۱۵٤

هغی کښې برکت دي او که په هغه خوراک کښې کوم چه تاسو په ګوتو سره اوڅټلو په هغی کښې برکت دي، اوددې خبری تائید په دې حدیث کښې دي "فإنه لايدرى فى أى طعام تكون البركة".

قوله: فِي أَيِّهِ الْبَرَكَةُ:

د برکت لغوی معنی: په عربی ژبه کښې د برك البعير معنی ده اوښ په یوځائی کښې مضبوط اودریدل، او په عربی کښې برکة حوض ته وائي ځکه چه په حوض کښې هم اوبه ډیر وخت پوري ولاړي وي

د برکت په مفهوم کښې درې اقوال: ① خیر کثیریعنی په دې خوړلو کښې ډیر لوئې خیردې کیدې شی د ګوتو سره چې د خوراک کوم اجزاء اونخلی اوهغه تیرې شی په هغې کښې الله تعالی دده دپاره شفاء کیخودې وی خو دده ځخه نې پته کړې وی.

② ډیریدل او زیاتیدل یعنی په سره به د ده طعام ډیرشی اوبرکت به په کښې پیدا شی

③ دوام او پائیداري به ترې مراد وی لکه ځنګه چه دورد شریف کښې راخی "بارك على محمد".

ددې په تشریح کښې علماء فرمائي چه "أى أثبت له وأدم ما أعطيته من التشريف والكرامة"

[۴۳۳]د روټي نه پس د ګوتو څټل

۴۳۳-[۸] ()[1] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] " «إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ [۳] فَلَا يَمْسَحْ يَدَهُ حَتَّى يَلْعَقَهَا أَوْ يُلْعِقَهَا» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل [۲] هر کله چې په تاسو کې یو سړي طعام وخوري، [۳] نو هغه دې لاس تر هغه وخته په څه څیز سره نه وچوي (او نه دي وینځي) تر څو چې د لاس ګوتي پخپله یا په بل چا ونه څټي (بخاری مسلم)

حل اللغات: ① يَلْعَقَهَا: په خپله به ني څټلې. ② يُلْعِقَهَا: په بل به ني څټلې.

تسهیلات:

قوله: حَتَّى يَلْعَقَهَا أَوْ يُلْعِقَهَا:

د ګوتو څټلو مسنونیت: یعنی پخپله نی اوڅټنی یائی په بل باندې اوڅټنی څټل کونکي دي داسې کس وی چه هغه له ددې د ګوتونه کرکه نه ورځی مثلاً خوئی لور ده واړه بچی دی یا خادم طالب اوغلام دې إلعاق د باب افعال نه په بل باندې د څټلو په معنی کښې دې ماشومانو باندې ګوتې څټلو باندې ما خپل مشران لیدلی دی

---

[1] اخرجه البخاری فی کتاب الأطعمة/باب لعق الأصابع ومصها قبل أن تمسح بالمنديل(رقم-۵۴۵۶) ومسلم فی کتاب الأشربة/باب استحباب لعق الأصابع والقصعة. وأكل اللقمة الساقطة بعد مسح ما يصيبها من أذى. وكراهة مسح اليد قبل لعقها(رقم-۱۲۹ - (۲۰۳۱) وابوداود فى كتاب الأطعمة/باب فى المنديل (رقم-۳۸۴۷) وابن ماجه فى كتاب الأطعمة/باب لعق الأصابع (رقم-۳۲۶۹)

[۴۲۸۷]د پريوتلي نمرۍ حكم

۴۲۸۷-[۹] (١) ①وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ② "«إِنَّ الشَّيْطَانَ يَحْضُرُ أَحَدَكُمْ عِنْدَ كُلِّ شَيْءٍ مِنْ شَأْنِهِ" ③حَتَّى يَحْضُرَهُ عِنْدَ طَعَامِهِ، ④فَإِذَا سَقَطَتْ مِنْ أَحَدِكُمُ اللُّقْمَةُ ⑤ فَلْيُمِطْ مَا كَانَ بِهَا مِنْ أَذًى، ⑥ ثُمَّ لِيَأْكُلْهَا وَلَا يَدَعْهَا لِلشَّيْطَانِ، ⑦ فَإِذَا فَرَغَ فَلْيَلْعَقْ أَصَابِعَهُ، ⑧ فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي: فِي أَيِّ طَعَامِهِ يَكُونُ الْبَرَكَةُ؟». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت جابر ﷺ وايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل② چې شيطان ستاسو د هر كار په وخت كې حاضريږي، ③ تر دې چې ستاسو د طعام خوړلو په وخت هم درسره موجود وي، ④ لهذا په تاسو كې چې د كوم سړي نه نوړۍ ولويږي، ⑤ نو پكار دي چې هغه را پورته كړي او كوم څيز [خاورې وغيره] چه دهغې سره لګيدلي وي هغه دې صفا كړی ⑥ اودې خوري، هغه دې د شيطان د پاره نه پريږدي، ⑦ او كله چې طعام وخوري، نو پكار دي چې خپلي ګوتي وڅټي، ⑧ ځكه چې هغه ته نه ده معلومه چې د هغه په كوم طعام كې (يعني د خوراك په كومه حصه كې) بركت دي. (مسلم)

حل اللغات: ① سَقَطَتْ: اوغورزيږي، ② اللُّقْمَةُ: نمرۍ، ③ فَلْيُمِطْ: لرې دې كړی، ④ أَذًى: تكليف (دلته ترې خاوره وغيره مراد دی)، ⑤ يَدَعْهَا: پريږدي دا. ⑥ فَرَغَ: چه فارغ شي. ⑦ فَلْيَلْعَقْ: نو اودې څټی

تسهيلات:

قوله: فَلْيُمِطْ مَا كَانَ بِهَا مِنْ أَذًى:

د پريوتلي نمرۍ دوه صورتونه: ① كه د پريوتلي نمرۍ صفا كول ممكن وی نو كه هغې سره دكې وغيره يا خاوره لګيدلي وی اوصفاكول ممكن وی نودَ خپل وس حده پورې دې صفاكړی اودې خوری اودكبرژنو خلقو په شان دې په زمكه يا په دسترخوان باندې نه پريږدې ځكه چه شيطان راځی او داخوری يادَدې په ضائع كولوباندې خوشحاليږی. نوشيطان له دَ خوشحالئی موقع مه وركوئی هغه خو ستاسو دښمن دې

② كه د پريوتلي نمرۍ صفاكول ممكن نه وی نودا سپی يا پيشوباندې اوخوروئی دې دپاره چه دَ الله تعالی رزق ضائع نه شی. كله چه دَ خوراك نه فارغ شې نو په تواضع او عاجزۍ سره دَ الله تعالی شكراداكړه او ګوتې اوڅټه په دې كښې بركت دې اودَ نظام هضم دپاره ډيرفائده مند دی.

(١) اخرجه مسلم فی كتاب الأشربة/باب استحباب لعق الأصابع والقصعة، وأكل اللقمة الساقطة بعد مسح ما يصيبها من أذی، وكراهة مسح اليد قبل لعقها(رقم-۱۳۵ - (۲۰۳۳)

[۳۰۲۸] په ډډه لګولو سره د خوراک کولو کراهت

۳۰۲۸-[۱۰] (۱) وَعَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (۲) "«لَا آكُلُ مُتَّكِئًا» رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: (۱) او حضرت ابوجحیفه رضی الله عنه وایي چې نبي کریم ﷺ وفرمايل (۲) زه په تکیه وهلو سره طعام نه خورم . (بخاري)

حل اللغات: ① مُتَّكِئًا: چه ډډه ئې وهلې وی

تسهیلات: قوله: متکئا: یعنی زه تکیه او ډډه لګولوسره په بې پرواهئی او تکبرسره خوراك نه خورم نوزما امت له هم داسې خوراك نه دی کول پکار داسې کبرژن خلق کوی

تسهیلات:

قوله: لَا آكُلُ مُتَّكِئًا:

په ډډه لګولوسره د خوراک کولو څلور صورتونه: ① په زمکه اړخ لګول او کیناستل

② د پرلت په حالت کښې کیناستل

③ په یو لاس په ذمکه ډډه وهل او په بل لاس خوراک کول

④ دیوال یا بل څیز سره تکیه لګولو په حالت کښې خوراک کول.

د مذکوره صورتونو د کراهت وجه: دا ټول صورتونه مذموم دي ځکه چه دا د متکبرینو عادت دي او بنده له پکار دي چه د الله تعالى دنعمتونه خوړلو په وخت کښې تواضع اختیار کړي

د عاجزی دري صورتونه ① دواړه ځپې ادرولو په حالت کیناستل

② دواړه پتونان خورول او په قدمونو کیناستل (یعنی االتحیات په شکل)

③ یو ځپه اودرول او بلې ځپې په قدم باندې کیناستل

په کوم صورت کښې چه تواضع ظاهریږي هغه صورت اختیارول پکار دي

مسئله: د تکیه لګولو په صورت کښې د خوراک څخاک څه حکم دي؟

په ډډه لګولوسره د خورك کولوپه حکم کښې مذاهب:

① د صحابه کرامو او تابعینو یو جماعت د "اکل متکئا" د جواز قائل دي

② د امام مالک، امام شافعي، امام احمد بن حنبل، او د جمهور علماؤ په نیز د تکیه لګولو په حالت کښې خوراک کول مکروه دي اوخلاف اولی دي دا د جمهورو مذهب دي

د اول فریق دلیل: دعبدالله بن السائب بن خباب عن ابیه عن جده روایت د دوی مستدل دی

(۱) اخرجه البخاري في كتاب الأطعمة/باب الأكل متكئا (رقم-۵۳۹۹) وابوداود في كتاب الأطعمة/باب ما جاء في الأكل متكئا (رقم-۳۷۶۹) وابن ماجه في كتاب الأطعمة/باب الأكل متكئا (رقم-۳۲۶۲)

د هغې روايت حاصل دا دې چې مونږ نبی علیه السلام په تکیه وهلوحالت کښې خوراک کولوباندې ليدلې وو.

داول فريق د دليل جواب: خودا روايت محدثينوباطل گرځولي دې (كما في العيني)

د دويم فريق دليل: زيربحث حديث د دوی مستدل دې په دې كښې نبی علیه السلام فرمائی چې زه په ډډه وهلو سره خوراک نه کوم.

[٣٣٣]په ميز او چوکۍ د خوراک کولو حکم

٣٣٣-[١] ( )[١]وَعَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: [٢]«مَا أَكَلَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَلَى خِوَانٍ،[٣] وَلَا فِي سُكُرَّجَةٍ[٤] وَلَا خُبِزَ لَهُ مُرَقَّقٌ. [٥] قِيلَ لِقَتَادَةَ: عَلَامَ يَأْكُلُونَ؟ قَالَ: عَلَى السُّفَرِ» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١]اوحضرت قتاده د حضرت انس ﷺ نه روايت كوي [٢]چې نبي كريم ﷺ هيڅ كله په خوان (مراد چوکۍ يا ميز) طعام نه دي خوړلي،[٣] او نه يې په وړوكي لوښي كې خوړلي دي،[٤] او نه د حضور ﷺ د پاره چپاتي پخ شوي دی،[٥] د حضرت قتاده نه پوښتنه وشوه چې هغه ﷺ به په كوم ځيز طعام خوړلو؟ [٦] هغه اوويل چې په دستر خوان (بخاري)

حل اللغات: ①خِوَانٍ: ميز، چوكۍ، ②سُكُرَّجَةٍ: وړوكې لوخې، پليټ وغيره. ③خُبِزَ: روټئ. ④مُرَقَّقٌ: د ميده اوړو روټئ، ⑤السُّفَرِ: دَ سفرة جمع ده دسترخوان.

تسهيلات:

قوله: مَا أَكَلَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَلَى خِوَانٍ:

دَ خوان د لفظ ضبط: خوان بكسرالخاء وبضمها او دريم لغت اخوان بكسر الهمزه وسكون الخاء دې اودَ دې جمع قلت أخونة او جمع كثرت خُوَن ده.

د خوان په تعريف كښې مختلف اقوال: ① قاضى عياض رحمه الله فرمائى دَ دې معنى داسې دسترخوان دې چه په كوم باندې خوراک نه وی.

② مولانا گنگوهی رحمه الله دَ دې تفسير داسې ځيز سره کړې دې په کوم کښې چه لوئ لوئ خپې لګيدلې وی

③ علامه عينی رحمه الله فرمائی چه دَ پيتل وغيره نه جوړشوې لوئ تال کوم ته چه لاندې دَ پيتل وغيره خپې هم لګيدلې وی دَ کوم طول چه يو ذراع وی دا لوښي به دومره لوئ وو چه دابه دوو کسانو يا دَ دې نه زياتو اوچتولو اوَ لوئی سرې مخې ته به کيخودلې شو.

) اخرجه البخاري في كتاب الأطعمة/باب الخبز المرقق والأكل على الخوان والسفرة (رقم-٥٣٨٦) والترمذي في كتاب الأطعمة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء علام كان يأكل رسول الله صلى الله عليه وسلم (رقم-١٧٨٨) وابن ماجه في كتاب الأطعمة/باب الأكل على الخوان والسفرة (رقم-٣٢٩٢) واحمد في المسند: ١٣٠/٣

③ په عرف کښې دَ دې اطلاق په هر هغه څيز باندې کيږي کوم چه دَ زمکې نه اوچت وی او خپې ورته لګيدلې وی
دَ متکبرينو داعادت وو چه هغوی به دا مخامخ کيخودو اوخوراک به ئی کولو دې دَ پاره چه سرښکته نه کړی لکه څنګه چه دَ حديث شراحو بيان کړې دې راوی فرمائيلی دی چه رسول الله ﷺ دَ متکبرينو دا مکروه عادت اختيار نه کړو

په خوان باندې دَ خوراک کيخودلو شرعی حکم: حضرت ګنګوهی رحمه الله فرمائی چه دَ رسول الله ﷺ په خوان باندې خوراک نه کول خوقصداً دی يا اتفاقاً که قصداً وی نو په خوان او ميز د باندې خوراک کيخودل او د خوړلو کراهت ثابتيږی اوکه اتفاقا وی نوبيابه هم کراهت وی څکه چه دادَ متکبرينوطريقه ده. بهرحال په دواړو صورتونوکښې کراهت شته

په اوچت او ښکته څيزد خوراک کولونقصانات اوفائدې: ① کله چه دې سر اوچت وی نو خوراک به زيات کولې شی په کوم سره چه دَ خيټې د غټيدلو انديښنه ده دَ دې په مقابله کښې لاندې ناسته باندې خوراک کولو کښې په اندازه دَ ضرورت به خوراک خوړلې شی په کوم سره چه په خيټه غټيږی نه. بلکه په داسې طريقه سره خوراک کولوسره مسکنت او تواضع هم پيدا کيږی.

② خوراک دَ الله تعالی يوعظيم نعمت دې دغه شان خوراک کولوکښې به دَ هغې طرف ته پوره خيال او توجه وی څکه چه په دې کښې دَ نعمت قدرهم دې کوم چه دَخيراوبرکت موجب دې

البته په دې زمانه کښې کله چه دَ لاندې ناستې او خوراک کولو انتظام نشی کيدلې نو ضرورةً او د سفريه حالت کښې په کرسو ميزونو باندې دَ خوراک کولو اجازت ورکولې شی خوحتی الامکان احتراز ترينه بهتر دې.

د لفظِ سکرجة ضبط: سکرجه په ضمې دَ سين او د کاف او راء مشقلة ده د هغې نه پس جيم مفتوحه دغه شان ونيلې دې ددې په اعراب کښې نور اقوال هم شته

دسکرجة په تعريف کښې اقوال: ① دا يوداسې وړوکې لوښې يا پيالې په کوم کښې چه دَ ترکارئی وغيره استعمال وی.

② بعض حضرات فرمائی چې يوه وړوکې غوندې رکيبئی په کوم کښې چه جوارشات چټنی او نوردَ هاضمې څيزونه وغيره دَ خونداومزې دَ پاره استعمالولې شی

③ علامه داؤدی دَ دې معنی وړوکې پيالې په کوم چه روغن کړې شوې وی بيان کړې ده علامه ابن قرقول بيان کوی چه بعضې حضراتو دَ دې معنی کړې ده چه دَ لرګی داسې پياله کوم کښې چه خپې لګيدلې وی

د نبی عليه السلام په سکرجة کښې د خوراک نه کولووجوهات: ① په هغه زمانه کښې دا نه وو يا

رسول الله ﷺ دَ دې لوښود ورو کوالی په وجه دې ته هلو اهميت ورنکړو ځکه چه په هغه زمانه کښې به ټولو خلقو په يوځای خوراک کولو او دَ غټو لوښوضرورت به پيښيدلو.
② په عامه توګه به په ورو پليټونوکښې دَ خوراک هضم کونکی څيزونه استعمالولې شو. او صحابه کرامو حضراتو خوبه دومره خوراک کولو چه دَ هاضمې والا دَ څيزونو دَ استعمال ضرورت به نه وو.
③ دَ ورو کو پليټونو دَ استعمال ضرورت به هله وی کله چه دَ مختلف قسمونو خوراکونه وی او دَ صحابه کرامو دور خودَ تنګدستئی دور وو دَ خوراک دادومره څيزونه به چرته وو.

قوله: وَلَاخُبِزَلَهُمُرَقَّقٌ:

د مرقق مصداق: دَ رسول الله ﷺ دَ پاره نرئی نرمه روټئی نه ده پخ کړې شوې قاضی عياض رحمه الله وائی دَ مرقق نه مراد دَ ميدې وغيره روټئ يا چپاتې دې.

د مرقق نه د نه خوړلو وجوهات: ① علامه ابن اثير رحمه الله هم دا بيان کړی دی ځکه چه ميده دَ غنمو وی او غنم په هغه زمانه کښې کم وو.
② دَ اوړو چهانړولو دَ پاره چهانړونه هم نه وو. په يو روايت کښې دی يو صحابی رضي الله عنه فرمائی چه مونږ به دَ اوربشو په اوړو کښې داسې پوکې وهلواوهم داسې به مو اغيږل مونږ سره چهانړونه نه وو.
③ علامه ابن التين رحمه الله فرمائی چه دې نه مراد پراټې ياکيک دې خو چونکه په دغه زمانه کښې دَ سره دومره وسعت نه وو بل دا چه دا به دَ مالدارانو په خوراکونوکښې استعماليدل. بله دا چه داڅيزونه دَ إکثار طعام هم سبب دې په دې وجه رسول الله ﷺ دې نه پرهيز فرمائيلې دې.

قوله: قِيلَ لِقَتَادَةَ: عَلَامَ يَأْكُلُونَ؟:

د قيل د قائل مصداق: دَ ترمذی په روايت کښې د دې تپوس کولو قائل يونس ذکر شوې دې.

د سائل د تپوس کولو وجه: يعنی چه کله راوی دا بيان اوکړو چه رسول الله ﷺ به په ميز وغيره باندې خوراک نه خوړلو. ښکاره خبره ده چه خوراک معظم څيزدې دا خوبه زمکه باندې نشی کيخودې نوبيابه ئی په څه څيز باندې کيخودلو اوخوړلو به ئی؟

قوله: قَالَ: عَلَى السُّفَرِ:

د سُفر مصداق: سُفر هغه خوراک کوم چه مسافر دَ خپل خان سره دَ لارې دَ پاره په يوخلور ګوټه څرمن وغيره کښې راغونډه کړی بيا دا دَ څرمنې دسترخوانودَ پاره استعمال کړې شوه دې نه پس به بيا مطلق دسترخوان دَ پاره استعماليدلو که دَ څرمن به وو اوکه دَ بل څه څيز به وو.

د سائل د سوال جواب: دَهغوی خوراک به دَ عام څرمنې په دسترخوانونو باندې کيخودلې شو کوم چه عام خلق استعمالوی نه چه دَبادشاهانو اواميرانو په شان په اوچت څيز باندې

[۴۱۷۰] د نبی علیه السلام پراته روټی نه خوړل

۴۱۷۰-[۱۲] ([1]) [۱] وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] «مَا أَعْلَمُ النَّبِيَّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- رَأَى رَغِيفًا مُرَقَّقًا [۳] حَتَّى لَحِقَ بِاللهِ، [۴] وَلَا رَأَى شَاةً سَمِيطًا بِعَيْنِهِ قَطُّ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضی الله عنه وايي [۲] چې ماته نه ده معلومه چې نبي كريم ﷺ چيرته نرمه روټۍ يعنی چپاتي ليدلي هم وی، [۳] تر دي چې د خپل رب سره يې ملاقات وكړو ايعني حضور ﷺ په خپل ټول عمر كې چيرته د چپاتي صورت ليدلي هم نه وو، چيری دهغې خوړل[[۴] اونه يې هيڅ كله وريته چيلۍ په خپلو ستركو ليدلې ده (بخاري).

حل اللغات: ① رَغِيفًا: نرمه روټۍ، ② مُرَقَّقًا: د اوړو روټۍ، ③ سَمِيطًا: وريته شوي، كباب شوي.

تسهيلات:

قوله: وَلَا رَأَى شَاةً سَمِيطًا:

د وريتې شوي غوښې خوراك: په هغه زمانه كښې دَ چين په خلقو كښې داسې رواج وو چه دَ چيلئى دَ څرمن نه به ئې ويښته اخواكړل اودَ څرمن سره به ئې چيلئى دَ كرمو اوبو په براس باندې كيخودله. دا چائنيز خوراكونه به چينيانوخلقو جوړول. دې نه پس عام عياش خلقو دا طريقې خپلې كړې نبی كريم خودا ليدلې هم نه وې.

[۴۱۷۱] نبی كريم ﷺ د ميدې تيار كړې شوی هيڅ شې نه دې خوړلې

۴۱۷۱-[۱۳] ([2]) [۱] وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] «مَا رَأَى رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- النَّقِيَّ مِنْ حِينِ ابْتَعَثَهُ اللهُ [۳] حَتَّى قَبَضَهُ اللهُ. [۴] وَقَالَ: مَا رَأَى رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- مُنْخُلًا مِنْ حِينَ ابْتَعَثَهُ اللهُ [۵] حَتَّى قَبَضَهُ اللهُ، [۶] قِيلَ: كَيْفَ كُنْتُمْ تَأْكُلُونَ الشَّعِيرَ غَيْرَ مَنْخُولٍ؟، [۷] قَالَ كُنَّا نَطْحَنُهُ وَنَنْفُخُهُ [۸] فَيَطِيرُ مَا طَارَ، [۹] وَمَا بَقِيَ ثَرَّيْنَاهُ فَأَكَلْنَاهُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت سهل ابن سعد رضی الله عنه وايي [۲] چه الله تعالى ﷻ چې رسول الله ﷺ د څه وخت نه رسول جوړ كړو، حضور ﷺ د هغه وخت نه ميده هيڅ كله ليدلي نه وه. [۳] تر دي چې الله تعالى ﷻ يې روح قبض كړو، [يعنی حضور ﷺ په مرتبهٔ رسالت باندې د فائز كيدو د وخت نه د خپل ژوند تر آخري لمحي پورې د ميدې تيار كړي څه شي نه ده خوړلې] روټۍ هيڅ كله نه ده ليدلې، تر دی چې الله تعالى ﷻ وفات كړوا [۴] وفرمائی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم غلبيل (د اوړو چڼولولوښې) نه وو ليدلې د

---

[1]) اخرجه البخاري فی كتاب الأطعمة/باب الخبز المرقق والأكل على الخوان والسفرة (رقم-۵۳۸۵) وابن ماجه فی كتاب الأطعمة/باب الشواء (رقم-۳۳۰۹) واحمد فی المسند: ۱۲۸/۳

[2]) اخرجه البخاري فی كتاب الأطعمة/باب ما كان النبي صلى الله عليه وسلم وأصحابه يأكلون(رقم-۵۴۱۳) وابن ماجه فی كتاب الأطعمة/باب الحواري (رقم-۳۳۳۵) واحمد فی المسند: ۳۳۲/۵

کوم وخت څخه چې الله تعالی هغوی پیغمبر جوړ کړې وو [۵] تر دې چې الله تعالی ﷻ یې روح قبض کړو،[٦] د حضرت سهل رضي الله عنه نه پوښتنه وشوه چې بیا تاسو خلقو د وربشو د اوړو روټۍ د چڼلو بغیر څرنګه خوړله؟[۷] حضرت سهل اوویل چې مونږ به وربشې د ټکولو نه پس هغه پوکلې،[۸] هغې نه به څه څیز چې الوتونکې وو، [یعنې بوس] هغه به والوتل،[۹] او کوم څیز چې به باقې پاتې شو (یعنې وړه) هغه به مو په اوبو کې واغیړل (او بیا د هغې نه روټۍ پخولو سره) به مو خوړل. (بخاري)

حل اللغات: ①النَّقِيَّ: دَ سپینې میدې اوړو ته نقی وائی دَهغې روټۍ مراد ده. ②قَبَضَهُ: چه وائې خستلو، وفات شو. ③مُنْخُلًا: دَ اوړو چهاڼ ته منخل وائی. په دې سره چهاڼ کړې شوې اوړو ته منخل اومنخول وائی. ④الشَّعِيرَ: اوربشې. ⑤فَيَطِيرُ: نو وابه لوتل. ⑥ثَرَّيْنَاهُ: هغه به مو واغګل.

تسهيلات:

قوله: كَيْفَ كُنْتُمْ تَأْكُلُونَ الشَّعِيرَ غَيْرَ مَنْخُولٍ:

د مذکوره تپوس وجه: یعنی دَ اوربشو په اوړو کښې خو ډیر بوڅری وی هغه دَ ازغوپه شان وی دَچهاڼ کولو نه بغیر به ئې څنګه خوړل؟ فرمائی پوکې به مو ورکولوچه کوم غټ بوڅری به وو هغه به الوتل باقی به مو په اوبو کښې لمدول او پخول به مو اوخوړل به مو "ثرینا" لمدول

[۴۱۷۲] خوراک ته د بدو ویلو ممانعت

۴۱۷۲- [۱۴] (۱)[۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ:[۲] «مَا عَابَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - طَعَامًا قَطُّ،[۳] إِنِ اشْتَهَاهُ أَكَلَهُ[۴] وَإِنْ كَرِهَهُ تَرَكَهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره رضي الله عنه وایي[۲] چې رسول الله ﷺ به هیڅ کله یو طعام ته بد نه ویل.[۳] که حضور ﷺ ته به رغبت وو [یعنې مینه به یې ورته کیدله] نو هغه به یې خوړلو، [۴] او که خوښ به یې نه وو، نو هغه به یې پریخودلو. (بخاري ، مسلم)

حل اللغات: ①عَابَ: عیب او بد ئې نه وو ونیلی، ②قَطُّ: هیچرې، هیڅکله هم،

تسهيلات:

قوله: مَا عَابَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - طَعَامًا قَطُّ:

دخوراک باره کښې د نبی علیه السلام عادت مبارک: په حديث الباب کښې دَحبيب پاک عادت مبارک بيان کړې شوې دې چه په يومباح او حلال خوراک کښې به ئې عيب نه راويستلو

(۱) اخرجه البخاري في كتاب الأطعمة/باب ما عاب النبي صلى الله عليه وسلم طعاما (رقم-٥٤٠٩) ومسلم في كتاب الأشربة/باب لا يعيب الطعام (رقم-١٨٧ - (٢٠٦٤) وابوداود في كتاب الأطعمة/باب في كراهية ذم الطعام (رقم-٣٧٦٣) والترمذي في كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في ترك العيب للنعمة(رقم-٢٠٣١) وابن ماجه في كتاب الأطعمة/باب النهي أن يعاب الطعام (رقم-٣٢٥٩) واحمد في المسند: ٢/٤٢٧

بلکه دَخواهش مطابق به ئې خوړلو ګنې پریخودلو به ئې خو خوراک ته به ئې خراب نه وېل

په خوراک کښې دعیب دوه قسمونه: ① **دَ خلقت په اعتبار:** یو سړی د یو حلال خوراک کښې دَخلقت به اعتبار سره عیب لګوی نودا بالکل ناجائز دی خکه چه الله تعالی کوم خیزونه حلال پیدا کړی دی په هغې کښې عیب نشته بلکه سراسر فائده ده په دې وجه یو حلال خیز باندې خلقةً عیب لګول په الله تعالی باندې اعتراض کولو لره مستلزم دی کوم چه نه جائز دې

② **دَ صنعت یعنی د جوړولو په اعتبار:** که دَ صنعت یعنی جوړولو یا دَ هغې په پخولو کښې عیب بیان کړې شی مثلاً چه داسې اووائی مالګه په کښې زیاته شوې ده مرچکې زیاتې شوې دي یا روټئی کچه ده نودَ دې ګنجائش شته

تحقیقی خبره: خو حافظ رحمه الله فرمائی چه دَ روایت نه دَعیب لګولو ممانعت عام معلومیږی نه په اعتبار دَ خلقت عیب لګول صحیح دی او نه په اعتبار دَ صنعت خکه چه په دې صورت کښې دَ جوړونکی او پخونکی زړه ماتیدل لازمیږی او بنکاره خبره ده چه دا هم جائز نه دی

د علامه نووی رحمه الله رائې: علامه نووی رحمه الله فرمائی دَ طعام په آداب مؤکده کښې دا هم دی چه په حلال خوراک باندې دَ هیڅ قسم عیب نه دی لګول پکار مثلاً چه مالګه زیاته ده یا کمه ده البته که دَ پخونکی تنبیه یا د هغه اصلاح او تربیت مقصود وی نو بیا بدی نشته بلکه دیانةً ضروری دی. خاص کر په هغه خوراکونو کښې چه دَ ډیرو خلقو دَ پاره پخولې شی چه داسې خبره اوکړی چه په کومې سره چه زړه هم مات نشی بهرحال د روایت عموم مستفاد کیږی په دې وجه بهترهم دغه دی چه په خوراک کښې هیڅ قسم عیب او نه لګولې شی

[۲۱۷۳] مؤمن په یوې کولمې سره او کافر په اوو کولمو سره خوري

۲۱۷۳—[۱۵] ()[۱] [۲] [۲] «أَنَّ رَجُلًا كَانَ يَأْكُلُ أَكْلًا كَثِيرًا، [۳] فَأَسْلَمَ، فَكَانَ يَأْكُلُ قَلِيلًا، [۴] فَذُكِرَ ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: [۵] "إِنَّ الْمُؤْمِنَ يَأْكُلُ فِي مِعًى وَاحِدٍ، [۶] وَالْكَافِرُ يَأْكُلُ فِي سَبْعَةِ أَمْعَاءٍ» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې [۲] چې یو سړي وو چې مخکې به یې ډیر زیات طعام خوړلو. [۳] خو کله چې مسلمان شو، نو کم خوړل یې شروع کړل. [۴] د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په مخکې د هغه ذکر وشو، نو حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل [۵] حقیقت دا دې چې مؤمن په یوه کولمه سره خوراک کوی. [۶] او کافر یې په اوو کولمو سره خوري (بخاري)

حل اللغات: ① أَكْلًا: خوراک، ② مِعًى: ددې جمع أَمْعَاء راخی. کلمې ته وانی

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الأطعمة /باب: المؤمن یأکل فی معی واحد فیه أبو هریرة، عن النبی صلی الله علیه وسلم (رقم-۵۳۹۶) وابن ماجه فی کتاب الأطعمة /باب المؤمن یأکل فی معی واحد. والکافر یأکل فی سبعة أمعاء (رقم-۳۲۵۶)

٤١٧٥-(١) [١] وَرَوَى مُسْلِمٌ عَنْ أَبِي مُوسَى، وَابْنِ عُمَرَ [٢] الْمُسْنَدَ مِنْهُ فَقَطْ.

ترجمه: [١] او مسلم دا روايت د حضرت ابوموسي رضي الله عنه او حضرت ابن عمر رضي الله عنه نه نقل كړي دي. [٢] چې په هغې كې دا واقعه مذكور نه ده [٣] بلكې محض د حضور ﷺ ارشاد مذكور دي.

٤١٧٦-(٢) [١] وَفِي أُخْرَى لَهُ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - [٢] أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ضَافَهُ ضَيْفٌ وَهُوَ كَافِرٌ، [٣] فَأَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِشَاةٍ فَحُلِبَتْ، [٤] فَشَرِبَ حِلَابَهَا، [٥] ثُمَّ أُخْرَى فَشَرِبَهُ، [٦] ثُمَّ أُخْرَى فَشَرِبَهُ [٧] حَتَّى شَرِبَ حِلَابَ سَبْعِ شِيَاهٍ، [٨] ثُمَّ إِنَّهُ أَصْبَحَ فَأَسْلَمَ، [٩] فَأَمَرَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ بِشَاةٍ فَحُلِبَتْ، [١٠] فَشَرِبَ حِلَابَهَا،

ترجمه: [١] ليكن مسلم رحمه الله د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه يو بل روايت نقل كړي دي. [په هغې كې داسې دي] [٢] چې [يوه ورځ] رسول الله ﷺ ته يو ميلمه راغې، چې كافر وو، [٣] رسول الله ﷺ د هغه د پاره د يوې بزې (چيلۍ) د لوشلو حكم وكړو. بزه (چيلۍ) ولوشل شوه، [٤] هغه كافر هغه شو ده اوڅكل، [٥] بيا د حضور ﷺ په حكم سره دويمه بزه (چيلۍ) ولوشل شوه، هغه شوده يې هم اوڅكل، [٦] بيا د حضور ﷺ په حكم سره دريمه بزه (چيلۍ) ولوشل شوه [٧] تردې چې اووه بزې (چيلۍ) ولوشل شوې هغه يې هم اوڅكل [٨] بيا چې سحر شو. نو هغه مسلمان شو، [٩] رسول الله ﷺ هغه وخت هم د هغه د پاره د يوې بزې (چيلۍ) د لوشلو حكم وكړو بزه (چيلۍ) ولوشل شوه، [١٠] هغه شوده اوڅكل

[١] ثُمَّ أَمَرَ بِأُخْرَى، [٢] فَلَمْ يَسْتَتِمَّهَا، [٣] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الْمُؤْمِنُ يَشْرَبُ فِي مِعًى وَاحِدٍ [٤] وَالْكَافِرُ يَشْرَبُ فِي سَبْعَةِ أَمْعَاءٍ".

ترجمه: [١] بيا حضور ﷺ د دويمې بزې (چيلۍ) د لوشلو حكم وكړو [بزه (چيلۍ) ولوشل شوه] [٢] هغه اوس د هغې پوره شوده ونه څكلې شو، [٣] نو رسول الله ﷺ وفرمايل مؤمن يې په يوه كولمه كې څكي [٤] او كافر يې اووه كولمو كې

حل اللغات: ① ضَيْفٌ: ميلمه، ② فَحُلِبَتْ: نو اولوشلې شوه، ③ فَلَمْ يَسْتَتِمَّهَا: نو پوره نې اونه څكلې شو

تسهيلات:

قوله: إِنَّ الْمُؤْمِنَ يَأْكُلُ فِي مِعًى وَاحِدٍ:

---

[١] اخرجه مسلم فى كتاب الأشربة /باب المؤمن يأكل فى معى واحد. والكافر يأكل فى سبعة أمعاء (رقم-١٨٤ - (٢٠٦١) والترمذى فى كتاب الأطعمة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء أن المؤمن يأكل فى معى واحد. والكافر يأكل فى سبعة أمعاء (رقم-١٨١٨)

[٢] اخرجه مسلم فى كتاب الأشربة /باب المؤمن يأكل فى معى واحد. والكافر يأكل فى سبعة أمعاء (رقم-١٨٥ (٢٠٦٢) وابن ماجه فى كتاب الأطعمة /باب المؤمن يأكل فى معى واحد. والكافر يأكل فى سبعة أمعاء (رقم-٣٢٥٨)

[٣] اخرجه مسلم فى كتاب الأشربة /باب المؤمن يأكل فى معى واحد. والكافر يأكل فى سبعة أمعاء (رقم-١٨٦ (٢٠٦٣) والترمذى فى كتاب الأطعمة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء أن المؤمن يأكل فى معى واحد. والكافر يأكل فى سبعة أمعاء (رقم-١٨١٩)

دَ لفظ معنیٰ تحقیق: حافظ فرمائی چه دا په کسري دَ میم سره مقصوراً دي او هم دغه معنیٰ مشهوردي دي کښې نول لغات هم شته د اختصار په هغه پریږدو

د حدیث په مفهوم کښې لس اقوال: حافظ ابن حجر فرمائی چه دا روایت بلاتفاق په خپل ظاهر معنی نه دي حمل خکه چه ډیر کافران دَ مسلمانانو په مقابله کښې دَ کوم خوراک ښه ک کونکی دی علامه زرقانی فرمائی علماؤ دَ دې روایت دَ لسو نه زیات توجیهات بیان کړی دی

① داحدیث دَغالب احوالو په اعتبارسره دې اودَ شمیر تعین مقصود نه دې بلکه مراد دَ مؤمن کم خوراک کول اودکافر زیات خوراک کول بیانول دی کماقال تعالی ﴿وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا يَتَمَتَّعُوْنَ وَيَأْكُلُوْنَ كَمَا تَأْكُلُ الْأَنْعَامُ وَالنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ﴾ او په روایت کښې دَ اووه عدد صرف دَ تکثیر دَ پاره دي کما فی قوله تعالی ﴿وَالْبَحْرُ يَمُدُّهٗ مِنْۢ بَعْدِهٖ سَبْعَةُ اَبْحُرٍ مَّا نَفِدَتْ كَلِمٰتُ اللّٰهِ ۗ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ﴾

حاصل دا چه دَ مومن شان په خوراک ښاک کښې کمي اختیارول پکاردی خکه چه هغه په عبادت کښې ډیر مشغول وی اودَهغه خوراک کول هم صرف دَ اولګي بندولو اودَ عبادت دَ پاره د امداد حاصلولو دَ پاره وی. بل دَ ده دا ویره وی چه که زیات اوخوری نو حساب به زیات ورکول وی. په خلاف دَ کافر چه هغه زیات خوراک کوی خکه چه دَ هغه مقصد جدا دي. علامه قرطبی وائی چه دا قول ارجح الاقوال دي

② علامه نووی رحمه الله فرمائی چه دَ روایت مطلب دادي چه کافر خودَ خواهش نفسانی په وجه خوراک کوی اوترکومې چه اووه وارِه کولمې ډکې شوی نه وی نو خوراک کوی دَ دې په خلاف مومن په اندازه دَ ضرورت خوری چه صرف دَ یوې کولمې په ډکیدو باندې مړیږی

③ مومن دَ الله تعالی نوم اخلی اوخوراک ښاک کوی نو شیطان هغه سره نه شریکیږی نودَهغه دَ پاره هم لږ خوراک کافی شی اوکافردَ الله تعالی نوم نه اخلی نو شیطان هغه سره په خوراک کښې شریک شی بیا په دې کښې برکت هم نه وی زیات خوراک کوی چنانچه په روایاتوکښې وارد شوی دی أن الشيطان يستحل الطعام إن لم يذكر اسم الله تعالى عليه أخرجه مسلم نور هم روایات دی کوم چه په دې مضمون باندې دلالت کوی

④ په روایت کښې دَ مسلم نه مراد کامل اسلام والا مسلمان دې. خکه چه دَ چا ایمان اواسلام مکمل وی نوهغه به یقیناً مرګ ا ودَ مرګ نه پس حالاتو طرف ته مائل وی چه سخته ویره او ډیر فکر او خپل نفس دَ شهواتو نه رامنع کولو کښې لګیا وی نو لامحاله دَ ده په خوراک کښې به کمې وی

كما ورد في الحديث عن أبي أمامة رضي الله عنه مرفوعًا من كثر تفكره قل طعامه ومن قل تفكره وكثر طعامه وقسا قلبه يعني چه كوم سړي زيات فكرمندوى دَ هغه خوراک به كم وي اوڅوک كم فكرمندوى دَهغه خوراک به زيات وى اودَهغه زړه به سخت وى دَ ابوسعيدالخدرى رضي الله عنه نه هم روايت دې إن هذه المال حلوة حضرة فمن أخذه بإشراف نفس كان كالذي يأكل ولا يشبع

⑤ دَ روايت معنى دا ده چه مسلمان صرف حلال خوراک كوى اوكافرحرام خورى اوښكاره خبره ده چه حلال په نسبت دَ حرام كم وى نقله ابن التين

⑥ په اصل كښې په روايت كښې مؤمن ته دَ كم خوراک كولو ترغيب وركول دى خكه چه كله مومن ته دامعلومه وى چه كافر زيات خوراک كوى نوښكاره خبره ده چه هغه به دَ كافردَ دې خراب صفت نه پرهيزكوى.

⑦ علامه طيبى رحمه الله فرمائى چه دَ طعام شهوات اووه دى شهوت طبع، شهوت نفس. شهوت عين، شهوت فم، شهوت اذن، شهوت انف او شهوت جوع (۱) داآخرى شهوت جوع ضرورى دې. مؤمن هم دَ دې خواهش په وجه خوراک كوى په خلاف دَ كافرسړى چه دَ اووه واړو شهوتونو او خواهشونو په وجه خوراک كوى.

⑧ حافظ ابن عربى فرمائى چه اووه كولمې كنايه ده حواس خمس او د شهوت او د حاجت نه مطلب دا دې چه كافر حواس خمس شهوت او حاجات ټول اووه واړه په خيال كښې ساتى نو خورى په خلاف دَ مومن چه هغه صرف يو حاجت ملحوظ ساتلو سره خوراك كوى

⑨ په اصل كښې دا حديث دَ مخصوص كسانو باره كښې فرمائيلې شوې دې لكه چه په راتلونكى روايت كښې صراحةً مذكور دى نو په الكافر باندې الف لام دغه شان په المؤمن باندې عهدى دې نه چه جنسى به جزم ابن عبدالبر.

---

(۱) اختلفوا في حدالجوع على رانين ذكر هما في الاحياء احدهما ان يشتهى الخبز وحده نمتى طلب الادم فليس بجائع ثانيهما انه اذا وقع ريقه على الارض لم يقع عليه الذباب وكذر ايضا مراتاب الجوع نحوعلى سبعة الاول مايقوم به الحياة الثاني ان يزيد حتى يصلى قائما ويصوم وهذا ان واجبان الثالث ان يزيدحتى يقوى على اداء النفل الرابع ان يزيدحتي يقدرعلى الكسب وهذا ان مستحبان الخامس ان يملاء الثلث وهذا جائز. السادس ان يزيدبه يثل البدن ويكثر النوم وهذا مكروه السابع ان يزيدحتى يتضرر وهذا احرام ۱۲ اوجز.

قال ابن التين ان الناس في الاكل على ثلث طبقات. طائفة تاكل كل مطعوم من حاجة وبغيرحاجة وهذا فعل اهل الجهول وطائفة تاكل عندالجوع بقدر مايسدالجوع حسب وطائفة يجوعون انفسهم يقصدون بذالک قمع شهوة الانفس واذااكلوا كلواما سدالرمق ۱۲ فتح.

قول ابونضرة في التحفه اماحديث ابى نصرة فلم اقف عليه اعلم ان قدوقع فى النسخ الحاضرة عن ابى نضرة بالنون والضاد المعجمه ولم اقف هوحميل بالحاء المهمله مثل حميدلكن فى آخره لام وقيل بفتح اوله وقيل بالجيم ابن بصرة بفتح الموحده ابن وقاص ابوبصرة الغفارى صحابى سكن مصرومات بها انتهى وقدروى عنه ما يتعلق بالباب ففى مسنداحمدعن ابى بصرة الغفارى قال اتيت النبى صلى الله عليه وسلم لما هاجرت وذالک قبل ان اسلم فحلب لى شويهة كان يحلبها لاهله فشربتها فلما اصبحت اسلمت. الحديث وفيه ان الكافر ياكل فى سبعة معاء. الخ ۱۲.

⑩ حافظ ابن حجر عسقلاني يوبل قول هم نقل كړي دي چه دراصل په رواياتوكښي د مؤمن اوكافر د دواړو مثال بيانول مقصود دى چه دمؤمن حال په دنياكښي د زهد دې اود كافر حال دحرص دې يعني مؤمن دنيا په اندازه د ضرورت اختيارروى اود ده د دنياسره اود دنيا متاع سره په اندازه د ضرورت تعلق وى اود كافر دنيا اود دنيا د متاع حرص وى چه د دې طرف ته هروخت مائل وى نو ظاهر دا دى چه دا قول مستقل نه دې بلكه هم د اول قول خلاصه ده دغه شان نور اقوال هم متقارب المعنى دى چه د بعضو تداخل په بعضوكښي كيدې شي والله أعلم وعلمه أتم وأكمل

[۴۱۷۷] د لږ خوراك د زياتو كسانو دپاره كفايت

۴۱۷۷—[۱۶] (۱) ① وَعَنْهُ قَالَ، قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«طَعَامُ الِاثْنَيْنِ كَافِي الثَّلَاثَةِ، ③ وَطَعَامُ الثَّلَاثَةِ كَافِي الْأَرْبَعَةِ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل ② چې د دوو كسانوخوراك دريوته كافي كيږى ③ اود دريو خوراك څلوروته كافي كيږى (بخاري، مسلم)

تسهيلات:

نوټ: د دې حديث د مضمون وضاحت په راروان حديث نمبر (۴۱۷۸) كښې اوګورئ

[۴۱۷۸] د ضرورت په وخت د يو كس خوراك د دوو دپاره كافى كيدل

۴۱۷۸—[۱۷] (۲) ① وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ② «طَعَامُ الْوَاحِدِ يَكْفِي الِاثْنَيْنِ، ③ وَطَعَامُ الِاثْنَيْنِ يَكْفِي الْأَرْبَعَةَ، ④ وَطَعَامُ الْأَرْبَعَةِ يَكْفِي الثَّمَانِيَةَ» ⑤. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① حضرت جابر ﷺ وايي ② چې ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي ③ چې د يو سړي خوراك دوو لره كافي كيږى. ④ او د دوو خوراك څلورو لره كافي كيږى. ⑤ او د څلورو خوراك اتو كسانو لره كافي كيږى (مسلم)

تسهيلات:

قوله: طَعَامُ الْوَاحِدِ يَكْفِي الِاثْنَيْنِ:

[۱]) اخرجه البخارى فى كتاب الأطعمة/باب: طعام الواحد يكفى الاثنين (رقم-۵۳۹۲) ومسلم فى كتاب الأشربة/باب فضيلة المواساة فى الطعام القليل، وأن طعام الاثنين يكفى الثلاثة ونحو ذلك (رقم-۱۷۸ - (۲۰۵۸) والترمذى فى كتاب الأطعمة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى طعام الواحد يكفى الاثنين (رقم-۱۸۲۰)

[۲]) اخرجه مسلم فى كتاب الأشربة/باب فضيلة المواساة فى الطعام القليل، وأن طعام الاثنين يكفى الثلاثة ونحو ذلك(رقم-۱۷۹ - (۲۰۵۹) والترمذى فى كتاب الأطعمة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى طعام الواحد يكفى الاثنين (رقم-۱۸۲۰) وابن ماجه فى كتاب الأطعمة/باب طعام الواحد. يكفى الاثنين (رقم-۳۲۵۴) واحمد فى المسند:۳/۳۰۱

د مذكوره جملې په مفهوم كښې څلور اقوال:

① په شرح السنه كښې اسحاق بن راهويه دَ جرير نه دَ روايت تاويل دا نقل كړې دې چه دَ يو سړي په مړ كيده خوراک دَ دووكسانودَ پاره كافي دې دغه شان دَ دوو كسانو خوراک دَ څلور و دپاره او دَ څلورو خوراک دَ اتو دپاره كافي كيږي

② عبدالله بن عمر ﷺ وائي چه دَ دې روايت تفسير هغه دې كوم چه عمر فاروق ﷺ فرمائيلې دې چه زما اراده داده چه دَ هر كور والا په ذمه دومره كسان نور زيات كړم څومره چه په دې كور كښې دی ځكه چه سړې په خپل نيم خوراک كولو باندې هلاک كيدې نشي

③ علامه نووي رحمه الله فرمائي په دې روايت كښې هم دَ خوراک په سلسله كښې دَ يوبل سره دَ همدردئي ترغيب وركولې شي. كه خوراک هر څومره كم وي خوچه دَ همدردئي په نيت سره اوخوړلې شي نوكفايت مقصوده به حاصل شي اوپه دې خوراک كښې به داسې بركت نازل شي چه دَ ټولو حاضرينو دَ پاره به كافي شي.

④ حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه دَحضرت ابن عمر ﷺ روايت هم په دې باندې دلالت كوي كوم طرف ته چه ترمذي اشاره كړې ده. دَ هغې الفاظ دادي كلوا جميعا ولاتفرقوا فان طعام الواحد يكفي الاثنين (الحديث) يعني په يوځائ خوړئي جدا جدا مه خوړئي نولږ خوراک به دَ ډيرو كسانو د پاره د اجتماع په بركت كفايت اوكړي. معلومه شوه چه منشاء د كفايت بركت د اجتماع دې نوچه ګنړه څومره زياته وي نوبركتونه به هم دومره زيات وي

دحديث د ظاهري مطلب عدم صحت: دَ حديث مطلب دانه دې چه دَ دوو كسانو خوراك به دَ دريو كسانودپاره په ډكه خېټه كافي شي بلكه مطلب دادې چه كه د قناعت نه كار واخستې شي نو هغه خوراك دَ دريودپاره په توګه دكفايت پوره كيږي اودَ څلورو خوراك دَ اتو دپاره په توګه دكفايت كافي كيږي. لكه چه راتلونكي روايت كښې دَ دوچند خبره كړې شوې ده چه دَ څلورو خوراك دَ اتو دپاره په توګه دكفايت او قناعت كافي كيږي په نيمه خېټه خوراك سره سړې نه مري او دويم پرې ژوندې پاتې كيږي په دې دواړو حديثو كښې په يوځائي دَ خوراك كولو ترغيب وركړې شوې دې

[۳۱۷۹] د تلبينه فوائد

۳۱۷۹–[۱۸] ([1]) [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا"- قَالَتْ: [۲] سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: [۳] "«التَّلْبِينَةُ مُجِمَّةٌ لِفُؤَادِ الْمَرِيضِ، [۴] تَذْهَبُ بِبَعْضِ الْحُزْنِ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه صديقه ﷺ وايي [۲] چي ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل [۳] چي

[1]) اخرجه البخاري في كتاب الأطعمة/باب التلبينة (رقم-۵۴۱۷) ومسلم في كتاب السلام/باب التلبينة مجمة لفؤاد المريض (رقم-۹۰ - (۲۲۱۶) واحمد في المسند: ۸۰/۶

تلبينه دبيمار زړه ته تسكين او قوت وركوي .[۳] او بعضې غمونه لرې كوي .بخاري مسلم.

حل اللغات: ① التَّلْبِينَةُ: د اوړو او پيو حلوه. ② مُجِمَّةٌ: أي مريحة مفرحة" خوشحالي وركونكې اوراحت وركونكې. ③ الحَزَن: غم

تسهيلات:

قوله: التَّلْبِينَةُ مُجِمَّةٌ لِفُؤَادِ الْمَرِيضِ:

د تلبينه پيژندګلو: دا د هغه حريرې نوم دې چه د اوړو او پيونه جوړولې شی چونکه د پيو مقدار په کښې زيات وی په دې وجه دې ته تلبينه اوونيلې شو دکوم ماده چه لبن دې په دې کښې شات وغيره خواږه هم يوځائی کولې شی نرم وی څکلې شی د پيئومينځې کومې چه په اخترونوکښې وی داهم دغه شان وی او شيرخرمه هم د دې مصداق دې

د مجمة وضاحت: د مجمة معنى ده خوشحالي وركونكې اوراحت وركونكې په كوم سره چه زړه خوشحاله شی او مضبوط شی هم د دې بيان په وړاندې جمله كښې راغلې دې لكه چه هغه د دې د پاره بيان دې

[۴۱۸۰] د نبی علیه السلام کدو لره خوښول

> ۴۱۸۰—[۱۹] ()[۱] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: "[۲]«أَنَّ خَيَّاطًا دَعَا النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لِطَعَامٍ صَنَعَهُ[۳] فَذَهَبْتُ مَعَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -[۴] فَقَرَّبَ خُبْزَ شَعِيرٍ وَمَرَقًا[۵] فِيهِ دُبَّاءٌ وَقَدِيدٌ[۶] (قَالَ أَنَسٌ - رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُ -): فَرَأَيْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -[۷] يَتَتَبَّعُ الدُّبَّاءَ مِنْ حَوَالَيِ الْقَصْعَةِ[۸] فَلَمْ أَزَلْ أُحِبُّ الدُّبَّاءَ بَعْدَ يَوْمِئِذٍ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] اوحضرت انس ﷺ وايي [۲] چې يوه ورځ يو درزي په خپل تيار كړې طعام نبي كريم ﷺ ته دعوت وركړو[۳] د نبي كريم ﷺ سره زه هم ورغلم.[۴] هغه د وربشو روټې او ښوروا راوړلو سره (په دستر خوان) كيخودل.[۵] چې په هغې كې كدو او وچه (غوښه) وه.[۶] [انس ﷺ وائي چې] ما وليدل چې حضور ﷺ [۷] د كاسې د غاړو كښې كدو لټولو سره خوړلو.[۸] په دې وجه د هغې ورځې نه پس زه هم كدو ډير خوښوم. اخكه چې هغه د حضور ﷺ ډير خوښ وو) (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① خَيَّاطًا: درزى. ② خُبْزَ: روټى. ③ شَعِيرٍ: اوربشې. ④ مَرَقًا: خوروا . ⑤ دُبَّاءٌ: كدو . ⑥ قَدِيدٌ: اوچه غوښه. ⑦ يَتَتَبَّعُ: لټولو او تلاش كولو به نې. ⑧ حَوَالَيِ: غاړې. ⑨ الْقَصْعَةِ: كاسه.

() اخرجه البخاری فی كتاب الأطعمة/باب من تتبع حوالى القصعة مع صاحبه. إذا لم يعرف منه كراهية (رقم-۵۳۷۹) ومسلم فی كتاب الأشربة/باب جواز أكل المرق. واستحباب أكل اليقطين. وإيثار أهل المائدة بعضهم بعضا وإن كانوا ضيفانا إذا لم يكره ذلک صاحب الطعام (رقم-۱۴۴ - (۲۰۴۱) وابوداود فی كتاب الأطعمة/باب فی أكل الدباء (رقم-۳۷۸۲) والترمذی فی كتاب الأطعمة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی أكل الدباء (رقم-۱۸۵۰)

تسهیلات:

قوله: يَتَتَبَّعُ الدُّبَّاءَ مِنْ حَوَالَيِ الْقَصْعَةِ:

اشکال: دَ دي روایت نه معلومه شوه چه دَ نبی علیه السلام په پیالې کښې لاس وهل دَ کدو دَ ټکړو دَ لټون دَ پاره وو په دې باندې اشکال دادې چه رسول الله ﷺ خوصحابی ته فرمائیلی وو کل مما یلیك چه دَ خپلې مخې نه خوره نوبیا رسول الله ﷺ پخپله په پیاله کښې ولې لاس تاؤ کړو؟

د اشکال دوه جوابونه: ① دَ رسول الله ﷺ په پیالې کښې دَلاس تاوولونه مراد دادې چه حبیب پاک هم خپلې مخې ته دَ کدو ډکړې لټولې

② هغوی دَ پیالې په ټولو طرفونو کښې دکدو ټکړې لټولې اوپاتې شو دَ ممانعت والا روایت نو دَ هغې محمل دې وخت کښې دادې چه کله دَ نورو خلقو کرکه وی اوبنکاره خبره ده چه دَ حضورپاک نه به دَ چاکرکه کیدې شی که یا داسې اووئیلې شی چه نهې هله ده کوم وخت کښې چه خوراک په شریکه وی اودلته به حضورپاک سره څوک شریک نه وی.

[۳۸] په چړې سره د غوښې کټ کول

۴۱۸۰—[۲۰] () ① وَعَنْ عَمْرِو بْنِ أُمَيَّةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - ② «أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ③ يَحْتَزُّ مِنْ كَتِفِ شَاةٍ فِي يَدِهِ، ④ فَدُعِيَ إِلَى الصَّلَاةِ، ⑤ فَأَلْقَاهَا وَالسِّكِّينَ الَّتِي يَحْتَزُّ بِهَا، ⑥ ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى، ⑦ وَلَمْ يَتَوَضَّأْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او د حضرت عمرو بن امیه ﷺ نه روایت دې ② چې هغه نبي کریم ﷺ ولیدلو. ③ چې حضور ﷺ د بزي (چیلئ) ورون چې د حضور ﷺ په لاس کې وو، په چاړې سره یې کټ کولو. ④ بیا په دې دوران کې حضور ﷺ د مانځه د پاره وبلل شو. ⑤ نو حضور ﷺ ورون او هغه چاړه چې په هغې سره یې ورون پریکولو، هلته پریخودل ⑥ او پاڅیدو او مونځ یې وکړو ⑦ حضور ﷺ هغه وخت اودس ونه کړو. [ځکه چې حضور ﷺ اودس کړي وو] (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① يَحْتَزُّ: پریکول نې ② السِّكِّينَ چاړه

تسهیلات:

قوله: يَحْتَزُّ مِنْ كَتِفِ شَاةٍ فِي يَدِهِ:

په چاړې سره د غوښې کټ کول او خوړل: دَ روایت نه معلومه شوه چه غوښه په چاړه ئ سره پرې

) اخرجه البخاری فی کتاب الأطعمة/باب إذا حضر العشاء فلا یعجل عن عشائه (رقم-۵۴۶۲) ومسلم فی کتاب الحیض/باب نسخ الوضوء مما مست النار(رقم-۹۳ - (۳۵۵) والترمذی فی کتاب الأطعمة عن رسول الله صلى الله علیه وسلم/باب ما جاء عن النبی صلى الله علیه وسلم من الرخصة فی قطع اللحم بالسکین (رقم-۱۸۳۶) واحمد فی المسند:۲۸۸/۵

کولې او خوړلې شی علامه ابن حزم وائی غوښه او روټئی په چاړه سره پرې کول اوخوړل جائز دی په دې کښې د هیڅ قسم ممانعت نشته ځکه چه د ممانعت متعلق هیڅ یوصریح نص وارد شوې نه دې

دوؤ روایاتونو سره د تعارض اشکال: ① د ابن عباس رضی الله عنهما او ام سلمه رضی الله عنها څخه روایت دې «انه قال علیه السلام لاتقطعوا الخبز بالسکین کما تقطعه الأعاجم واذا أرادان یأکل أحدکم اللحم فلا یقطعه بالسکین ولکن لیأخذ بیده فینهسه بفیه فإن أهنا وأمرا» کذا فی الطبرانی)

② د عائشه څخه روایت دې «قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لا تقطعوا اللحم بالسکین فأنه من صنیع الأعاجم فانهسوه فإنه أهنا وأمرا» د دې روایاتو نه صراحةً روټئی او غوښه په چاړه پرې کولو سره خوړلو نه ممانعت راغلې دې؟ (ابوداؤد)

د اشکال درې جوابونه: ① اول د طبرانی په روایت کښې ابومعشر راوی باره کښې امام نسائی فرمئیلی دی چه هغه منکرروایات نقل کوی ابن عدی وائی د ابومعشر هیڅ څوک متابع نشته

② په روایاتو کښې ممانعت په هغه کس باندې محمول دې چه په چاړه سره د پرې کولو اوخوړلو عادت جوړکړی البته که غوښه ښه نه وی پخه شوې او اتفاقاً ئی په چړه پرې کوی او خوری ئ نود ده د پاره اجازت دې

③ د ممانعت والا روایات په عدم فرصت باندې محمول دی یعنی که وخت نه وی او تندی وی نو بیا دې په غاښونو باندې راشوکولو سره زر زر اوخوری چه فارغ شی اوکه وخت وی نو په تسلئی سره دې په چاړه سره پرې کړی او خوری دې. فلاتعارض

قوله: ثم مضیٰ الی الصلوة ولم یتوضأ:

د مما مست النارپه خوړلوسره د اودس عدم نقض: بیا حضورپاک بغیر د اودس کولو د مانځه د پاره تشریف یوړلو دا یوه مستقله مسئله ده چه مامسته النار سره به اودس کولې شی که نه جمهور په اتفاق سره د عدم توضی قائل دی سره د دې چه په سلفو کښې د دې باره کښې اختلاف دې مګر آخرالامرین ترک وضومامسته النار دی

[۲۸۳] د نبی علیه السلام خوږ څیز لره خوښول

۴۱۹۳–[۲۱] (۱) وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا - قَالَتْ: «كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُحِبُّ الْحَلْوَاءَ وَالْعَسَلَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

(۱) اخرجه البخاری فی کتاب الأطعمة باب الحلواء والعسل (رقم ۵٤۳۱) ومسلم فی کتاب الطلاق باب وجوب الکفارة علی من حرم امرأته. ولم ینو الطلاق (رقم ۲۱ - ۱٤۷٤) وابوداود فی کتاب الأشربة باب فی شراب العسل (رقم ۳۷۱۵) والترمذی فی کتاب الأطعمة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم باب ما جاء فی حب النبی صلی الله علیه وسلم الحلواء والعسل (رقم ۱۸۳۱) وابن ماجه فی کتاب الأطعمة باب الحلواء (رقم ۳۳۲۳) واحمد فی المسند: ۵۹/۶

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها وايي[۲] چې حضور ﷺ به خوږ شي او شات ډير خوښول (بخاري)

تسهيلات:

قوله: يُحِبُّ الْحَلْوَاءَ وَالْعَسَلَ:

د حلوا د خوښولو مطلب: علامه خطابی فرمائی دَ رسول الله ﷺ دَحلوا خوښول دَ كثرت خواهش په وجه باندې نه ووچه الله تعالى دې نه كړى گنى دَ رسول الله ﷺ دَ زياتې حلوا خوړلو شوق اوخواهش وو اوهغوی دا پخوله اوخوړله ئ بلكه مطلب دادې چه كله به دَ هغوی مخې ته حلوا پیش كولې شوه نو حضورپاک به دا خوښوله او په ښه شان سره به ئی خوړله

دَحلواء په مصداق كښې درې اقوال: ① علامه نووی رحمه الله وائی دلته دَ حلوا نه هرخوږ ځيز دې اودَ شاتو تذكره شرافةً اوكرامةً ده لكه دا ذكر الخاص بعد العام دَ قبيلې نه دې

② حافظ فرمائی چه په كتاب ثعالبی كښې دی چه رسول الله ﷺ چه به كومه حلوا خوښوله هغه به مجيع علی وزن عظيم وه چه كهجورې به نرې نرې پرې كړې شوې او په پئيوكښې به ئی واچولی شی او جوړولی به ئی

③ بعض فرمائی دَ دې نه مراد فالوده ده بعضې خلقود حلوا نور تعريفونه هم كړی دی خو هغه صحيح نه دی

قوله: يُحِبُّ.... الْعَسَلَ:

په شاتو كښې شفاء: العسل په د معنی شاتو. په قرآن كريم كښې هم دَ شاتو تعريف شوې دې اوفرمائيلې شو ﴿فِيهِ شِفَاءٌ لِلنَّاسِ﴾ شات كه يوطرف ته طاقتور خوراک دې اودَ خوند ذريعه ده نوبل طرف ته دَ بيمارو دَ پاره دَ شفاء نسخه هم ده. څكه چه الله تعالى په جړو بوټو كښې دَ شفاء او د داء سامان كيخودې دې په نودَ دې جواهر او عرق كښې به كوم چه دَ شاتو مچنی راكاږی شفا به ولې نه وی. په بلغمی بيمارو كښې شات بلاواسطه شافی دی او په نورو بيماروكښې نورو ځيزونو سره يوځائ كول اودَ دارو په توگه استعمالول ډير فائده مند دی.

دشاتوخصوصيات: ① طبيبان په معجوناتو كښې په خاص توگه شات استعمالوی دَ دې يوخاصيت داهم دې چه پخپله خرابيږی هم نه او دَ نورو ځيزونوتراوږدې مودې پورې حفاظت كوی هم دغه وجه ده چه طبيبان دَ زرگونوكالونونه دَ الكوهل په ځائ دَ شاتو استعمال كوی

② شات مسهل هم دی او دَ خيټې نه فاسد مادې ويستلو دَ پاره ډير مفيد دی په ترمذی كښې روايت دې چه كله يوصحابی دَ خپل رور دَ خيټې دَ بيمارئی ذكر اوكړو نو رسول الله

ﷺ د شاتو د استعمال مشوره ورکړه هغه بیا هم شکایت ورکړو نو رسول الله ﷺ بیا هم هغه مشوره ورکړه په دریمه ورځ چه هغه اوونیل چه هیڅ فرق رانغلو نورسول الله ﷺ اوفرمائیل صدق الله وکذب بطن اخیك دَ الله تعالی قول بې شکه رښتوني دي اوستا دَ رور خیټه دروغژنه ده مراد دادې چه دَ دوائی څه قصور نشته بلکه دَ مریض دَ خاص مزاج په وجه زر اثر ښکاره نه شو دې نه پس ئې پرې بیا اوڅکل نو بیمار جوړشو که یقین محکم او مضبوط وی نوبیا دَ هرمرض د پاره شات کافی دی تردې چه دَ پولو دانو او د سترګي او د بدن دَ نورو بیمارو علاج هم په شاتوسره اوکړې شی نو شفابه ملاؤ شی دَحضرت ابن عمر ﷺ متعلق په روایاتو کښې دی چه که دَهغه په بدن به چرته پولئی راوتله نو په هغې به ئی هم شات لګول کله چه بعضې خلقو دَ هغه نه دَ دې دَ وجې تپوس اوکړو نو په جواب کښې ئی اوفرمائیل ولې په قرآن پاک الله تعالی کښ دَدې متعلق ﴿فِيهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ﴾ نه دی فرمائیلی

[۳۱۸۳] سرکه باندې دغوره ترکاری اطلاق

۴۱۸۳ - [۲۲] (¹) [۱] وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - سَأَلَ أَهْلَهُ الْأُدُمَ، [۳] فَقَالُوا: مَا عِنْدَنَا إِلَّا خَلٌّ، [۴] فَدَعَا بِهِ، [۵] فَجَعَلَ يَأْكُلُ بِهِ [۶] وَيَقُولُ: نِعْمَ الْإِدَامُ الْخَلُّ، [۷] نِعْمَ الْإِدَامُ الْخَلُّ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: [۱] او د حضرت جابر ﷺ نه روایت دې [۲] چې یوه ورځ نبي کریم ﷺ خپل کور والو نه سالن وغوښتلو. [۳] کور والو اوویل چې زمونږ سره سالن نشته البته سرکه شته [۴] نو حضور ﷺ هغه سرکه وغوښتله. [۵] او د هغې سره یې روټی خوړل شروع کړل. [۶] او وې فرمایل چې سرکه بهترین سالن دي [۷] سرکه بهترین سالن دي. (مسلم)

حل اللغات: ① الْأُدُمَ: سالن. ② خَلٌّ: سرکه.

تسهیلات:

قوله: نِعْمَ الْإِدَامُ الْخَلُّ:

دَ لفظ ادام تحقیق: علامه نووی ﷫ فرمائی ادام بکسر الهمزه مایؤتدم به هغه څیز چه دَ سالن په توګه اَستعمال کړې شی وئیلی شی

سرکې ته د نعم الإدام وئیلو مطلب: علامه نووی وائی چه علامه خطابی او قاضی عیاض دواړو دَ روایت معنی دا بیان کړې ده چه رسول الله ﷺ په ماکولاتوکښې دَ اختصارتعریف

---

¹ (اخرجه مسلم فی کتاب الأشربة/باب فضیلة الخل والتأدم به (رقم-۱۶۶ - (۲۰۵۲) وابوداود فی کتاب الأطعمة/باب فی الخل (رقم-۳۸۲۰) والترمذی فی کتاب الأطعمة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الخل (رقم ۱۸۳۹) واحمد فی المسند: ۴۰۰/۳

فرمانيلي دي اودَ خوندورو خوراكونو طرف ته دَ نفس مائل كيدلو نه ئ ممانعت فرمانيلي دي اومطلب دادي چه سركه اودَ دي په شان معمولي څيزونوسره روټئي خوړئي دَ شهواتو او لذائذو طرف ته مائل كيږئي مه خكه چه شهوات د دين دَ پاره دَ فساد ذريعه اودَ بدن دَ پاره دَ بيمارو يوه لار ده چونكه ښكاره خبره ده چه خوندور خوراك به ډير خوړلي شي په كوم سره به چه په اعمالوكښې سستي وي كوم چه دَ دين دَ تباهئي ذريعه ده اوبيا زيات خوراك كولوسره بيماري پيداكيږي كوم چه دَ بدن دَ خرابوالي ذريعه ده

لكه څنگه چه علامه نووي فرمائي چه په روايت كښې دَ سركې تعريف دي فقط پټې شو په خوراكونو كښې اختصار او دَ شهواتو پريخودل نودا دَ نورو روايتونونه هم معلومه شوې ده

امت ته د زهد تعليم: حضرت گنگوهي رحمه الله فرمائي په روايت كښې امت ته دَ زهد تعليم وركړې شوې دې چه په مباحاتو كښې هم ډير ځان مه راگيروئي سركه چه عرفاً او شرعاً سالن نه دې خوبيا هم دَ روټئي سره دَ خوړلو دَ پاره كافي ده اوداهم داسې دى لكه چه رسول الله ﷺ په يوه موقع باندې اوفرمائيل دَ غنمو روټئي د خپل سالن سره ده يعني دَ غنمو روټئي دَ پاره دَ سالن ضرورت نشته لكه چه دَ اُوربشو وغيره دَ روټئي دَ پاره دَ سالن ضرورت وي

په يمين كښې په سركه باندې د ادام د اطلاق حكم: كله چه دَ روايت مطلب دَ زهد تعليم وركول دى اودَ سركې سالن ثابتول مقصود نه دى نو دَ دې روايت نه په سركه باندې شرعاً دَ سالن كيدو استدلال نشي كولې په خاص توگه باندې په باب الأيمان كښې خكه چه دَ أيمان مبني په عرف اولغت باندې دې اودَ رسول الله ﷺ مقصد عرف اولغت بيانول نه د ى بلكه شرعي احكام بيانول مقصود دى

[۴۲۳] د خريړي فضيلت او خاصيت

۴۱۸۳-[۲۳] ()[۱] وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[۲]«الْكَمْأَةُ مِنَ الْمَنِّ[۳] وَمَاؤُهَا شِفَاءٌ لِلْعَيْنِ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.[۴] وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: " «مِنَ الْمَنِّ الَّذِي أَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى عَلَى مُوسَى - عَلَيْهِ السَّلَامُ» - ".

ترجمه: [۱] او حضرت سعيد ابن زيد وايي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل [۲] خريړي د مَن [يو قسم بوټئ چه د وازګئ په شان وى او اكثر په باران كښ پخپله پيدا كيږي، په عربي كې حشم الارض [د زمكې وازګه] هم ورته وايي] يو قسم دي.[۳] او د دې اوبه د سترګو د پاره شفاء ده.(بخاري مسلم) [۴] او د مسلم رحمه الله په يو روايت كې دي چې خريړي د هغه من نه

[1]) اخرجه البخارى فى كتاب الطب/باب: المن شفاء للعين (رقم-۵۷۰۸) ومسلم فى كتاب الأشربة/باب فضل الكمأة ومداواة العين بها (رقم-۱۵۷ - (۲۰۴۹) والترمذى فى كتاب الطب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الكمأة والعجوة (رقم-۲۰۶۷) وابن ماجه فى كتاب الطب/باب الكمأة والعجوة (رقم-۳۴۵۳) واحمد فى المسند: ۲۰۳/۱

دي کوم چې الله تعالى په حضرت موسى علیہ السلام نازل کړې وو

حل اللغات: ① اَلْكَمْأَةُ ددې جمع اَکْمُوٌّ ده خرېړی، کهمبی، ② اَلْمَنّ: مرزان.

تسهيلات:

قوله اَلْكَمْأَةُ مِنَ الْمَنِّ:

د "الكمأة" لغوي وضاحت: په زمکه اوغرکښې سخاشوی لرګی اودبعضو ونوجرړو سره دا بوټې پیدا کیږی ددې ډیر قسمونه دی زمونږ خاٸی کښې دوه مشهور دی دې ته په اردو کښې کهمبی او زمونږ ژبه کښې خرېړی وائی داد پشکال په موسم کښې وی نبی کریم ارشاد اوفرمائیلو چه دا د سترګو دپاره شفاء ده دې ته شحم الأرض هم وائی خکه چه دا د وازګې په شان يود زمکې بوټې دې پینو یا اوبو کښې پخولې شی دا د نبې غوښې په شان مزیدار وی

په خرېړی باندې د "من" د اطلاق وجوهات: ① دا د الله تعالى داسې نعمت دې چه هغه په بنیادمو باندې نازل کړې دې چه بغیرد مشقت اوتکلیف نه حاصلیږی لکه ځنګه چه بنی اسرائیلو ته من بغیرد مشقت نه حاصلیدل. قاله ابوعبيد وجماعة

② خرېړی په اصل کښې د دغه من نه دی کوم چه په بنی اسرائیلو باندې نازل شوې وو چه په بناخونو باندې به لکه د پرخې په شکل کښې راپریوتل کوم چه به جمع کولې شو او خوړلې به شو دلته هم دغه مقصود دې لکه ځنګه چه به بنی اسرائیلو ته بغیرد مشقت نه من حاصلیدل دغه شان کمأة هم د من د قبیل نه دی چه د البغدادی د حاصلیدلو د پاره مشقت نشی کولې

③ عبداللطيف البغدادی اود هغوی تابعدارانو فرمائیلی دی چه په اصل کښې کوم من په بنی اسرائیلو باندې نازل کړې شوې وو د هغې مختلف صورتونه ووبعض د پرخې په شکل بعض د سبزیانو په شکل کښې بعض د بنکار په شکل کښې دغه شان خرېړی هم دی کوم چه د معهود من نه یوقسم دې کوم چه د من په صورت کښې په دوی نازل کړې شوې وو

قوله: وَمَاؤُهَا شِفَاءٌ لِلْعَيْنِ

د خرېړی اوبوته د سترګو شفا وئیلو کښې اقوال: علامه ابن قیم رحمہ اللہ فرمائی چه د دې باره کښې مختلف اقوال دی

① د خرېړی اوبه نورو دوایانوسره ملاول دسترګود مرضونودپاره شافي دی. ذکره ابوعبيده

② یاد دې معنی داده چه د خرېړی اوبه په اُور پخې کړی په سترګو کښې واچولې شی نو د سترګو د پاره فائده مند دی. د اُور په ذریعه د دې فضلات او نقصانی ماده او تول موذی رطوبات ختمیږی او د پخیدونه پس به نفع ورکونکې شی.

③ د بعض حضراتو رائی داده د دي د اوبونه مراد د باران هغه اولني څاڅکي دي کوم چه په دي باندي راپريوځي نو اوس اضافت، اضافت اقتران به وی نه چه اضافت الى الجزء

④ ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی شرح مسلم للنووی کښي دی چه دې نه مراد یا خود خرپړی خالص اوبه دی یا پورتنی مرکب بالادویه بعض فرمائی که په سترګوکښي ګرمی وی نو صرف اوبه مفید او شافی دی اوکه په بله وجه په سترګوکښي تکلیف وی نو نورو دوایانو سره ملاوول مفید دی

فائده:

په سترګوکښي د خرپړی اوبو اچولوسره متضاد نتائج راوتل: ① ابراهیم حربی رحمه الله د صالح رحمه الله او احمد بن حنبل رحمه الله نه نقل کړی دی چه هغوی خرپړی نچوړ کړل او درد منو سترګو باندي اولګولي نو په سترګوکښي ئې تکلیف زیات شو

② ابن عبدالباقی نه نقل کړی دی چه بعض خلقو د خرپړی اوبه په سترګوکښي د رانجو په ځای استعمال کړي دی، نود هغوی نظر ختم شو د دې په مقابله کښي د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه نقل کوی چه هغه د ړندي وینځي په سترګوکښي دا اوبه استعمال کړي نو سترګي ئې تیک شوي

③ ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی چه مونږ مشاهده کړي ده د بعض خلقو نظر بالکل ختم شوي وو خود خالص اوبو په لګولو سره ئې نظر واپس راغلو

د نتائجو د تضاد په مینځ کښي تطبیق: علماء کرام فرمائی چه اصل مدار په عقیده او نیت باندي دي بعض فرمائی چه د خرپړو مختلف قسمونه دی بعض فائده مند او بعض نقصانی دی بهر حال د طبیب تجویز ضروری دې چه د طب نبوی ﷺ د پاره عقیده هم پاکه پکارده او بدن هم پاک ﴿وَالطَّيِّبٰتُ لِلطَّيِّبِيْنَ وَالطَّيِّبُوْنَ لِلطَّيِّبٰتِ﴾

[۴۱۸۵] بادرنګ او قجوري یوځاي خوړل

۴۱۸۵–[۲۳] ( ) [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ جَعْفَرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: [۲] «رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَأْكُلُ الرُّطَبَ بِالْقِثَّاءِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت عبدالله بن جعفر رضی الله عنهما وايي [۲] چي ما رسول الله ﷺ وليدلو چي تازه قجوري ئې د بادرنګ سره یوځاي خوړلې (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① الرُّطَب: کجوري. ② الْقِثَّاء: بادرنګ.

( ) اخرجه البخاري في كتاب الأطعمة/باب الرطب بالقثاء (رقم ۵۴۴۰) ومسلم في ۱۴۷ (۲۰۴۳) وابوداود في كتاب الأشربة/باب في إيكاء الآنية (رقم-۳۷۳۵) وابن ماجه في كتاب الأطعمة/باب القثاء والرطب. يجمعان (رقم-۳۳۲۵) واحمد في المسند ۲۰۳/۱

تسهيلات:

قوله يَأْكُلُ الرُّطَبَ بِالْقِثَّاءِ:

د قجور او د بادرنگ يوځاى خوړلو فائده: بادرنگ ته واني دا يو قسم سلاط دى اکثرني خلق د خوند دپاره د روټي په دوران کښې خورى چونکه قجورې ګرمې وى او بادرنګ يخ وى دغه شان دواړه يوځاى کولوسره اعتدال پيدا کيږى په قجورسره د بادرنګ يخوالې او په بادرنګ سره د قجورې ګرموالې ختم شى او په غذا کښې اعتدال پيدا شى

[۳۱۸۶] د کارکوندى خوراک

۴۰۸۰ -[۲۵] ( )[۱] وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِمَرِّ الظَّهْرَانِ [۳] نَجْنِي الْكَبَاثَ [۴] فَقَالَ: عَلَيْكُمْ بِالْأَسْوَدِ مِنْهُ [۵] لِأَنَّهُ أَطْيَبُ" [۶] فَقِيلَ: أَكُنْتَ تَرْعَى الْغَنَمَ؟ [۷] قَالَ: نَعَمْ، وَهَلْ مِنْ نَبِيٍّ إِلَّا رَعَاهَا؟»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر رضي الله عنه وايي [۲] چې په يوه موقع مونږ د رسول الله ﷺ سره په مقام مر الظهران کې وو، اچې مکې ته نژدې يو ځائ دي[۳] او کارکندي پخې پخې ميوې مو جمع کوني. [۴] چې حضور ﷺ وفرمايل د دې چې کومه ميوه توره وي، هغه اخلئ. [۵] ځکه چې هغه ښه وي (او فائده هم رسوي)، [۶] مونږ عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ آيا تاسو بزې څرولي دي؟ [۷] حضور ﷺ وفرمايل چې هو، داسې يو نبي نه دي تير شوي چې هغه بزې نه وي څرولي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① بمرّ الظهران: مکې سره نيژدې د يومقام نوم دې. هم په دغه ځائ کښې د فتح مکې په موقع سې کريه ډيره اچولې وه ② نجنى: اي النضيج من ثمرالاراك: د راغونډولو او راشکولو په معنى کښې دې ③ الكباث: د کارکوندى پخې ميوې ته واني

تسهيلات:

قوله وَهَلْ مِنْ نَبِيٍّ:

د صحابه کرامو قياس: صحابه کرامو چه د نبى کريم ﷺ نه دا واوريده چه د کارکوندنى د ميونه تورې خورنى هغه ډيرې مزيدارې وى نو په دې باندې صحابه کرامو دا اندازه اولګوله چه دا معلومات صرف هغه خلقوته وى څوك چه په صحرا کښې ګډې څره وى په دې وجه صحابه کرامو تپوس هم اوکړو چه آيا تاسو چيلئى څرولې دى؟

د ګډو په څرولو کښې حکمت: نبى کريم د يوې ضابطې طرف ته اشاره اوکړه چه هريونبى ګډې څرولې دى په دې کښې داحکمت وى چه ګډې يوعاجزاوکمزورې ځناوردې خو په طبعى

) اخرجه البخاري في كتاب الأطعمة /باب الكباث، وهو ثمر الأراك (رقم-٥٤٥٣)ومسلم في كتاب الأشربة /باب فضيلة الأسود من الكباث (رقم-١٦٣-(٢٠٥٠) ومالك في الموطا كتاب الاستئذان /باب ما جاء في أمر الغنم (رقم-١٨)

توګه باندې په ځرن کښې متحرك وي د وني يوه پانړه د يوځائي نه خوږې او د سترګو په رپ کښې بل ځائي ته رسيدلې وي که په معمولي کانړې باندې اوويشتلې شي نو ګوره مړه کيږي په ځنګل کښې د ګډې دښمنان هم ډيرزيات وي ځکه چه لومبړه هم دا ښکار کولې شي په دې وجه د ګډو څرونکي په مزاج کښې عاجزي اعتدال اود سخت برداشت ماده پيداکيږي او هم دغه څيزونه دي د کوم چه انبياء کراموته ضرورت وي دې دپاره چه په راتلونکي وخت کښې عوامو له لارښې په ارته سينه اويخو دماغو سره هغوي پوهه کړي چيلو څرولوسره په نظم وضبط کښې هم مهارت حاصليږي په کوم سره چه انسانان منظم کول اود هغوي ګرمې نرمې برداشت کول آسانيږي

فائده: موسی علیه السلام ته د نبوت ملاویدو یوه وجه: ملاعلي قاري رحمه الله په مرقات کښې ليکلي دي چه دحضرت موسی عليه السلام نه الله تعالی تپوس اوکړو تاته پته ده چه ما تاته ولې نبوت درکړو؟ حضرت موسی په نفي کښې جواب ورکړو نو الله تعالی اوفرمائيل يوځل تاچيلئي څرولې يوه چيلئي اوتختيده تا هغې پسې بنې منډې اووهلې اوستړې شوې مګر تاهغه چيلئي اونيوله اوهغې ته دې اوونيلې اې غريبې تاخو ځپل ځان هم په مصيبت کښې واچولو اوزه دې هم. ما چه کله اوکتل چه يوځناور سره ستا دومره شفقت دې نوته ما د انسانانودپاره نبي جوړکړې اوومې ليږلې

[۴۱۸۰] د ګجورو خوړلو مسنون طريقه

> ۴۱۸۰ـ[۲۶] ()[۱] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲]«رَأَيْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مُقْعِيًا يَأْكُلُ تَمْرًا». [۳]وَفِي رِوَايَةٍ: «يَأْكُلُ مِنْهُ أَكْلًا ذَرِيعًا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضی الله عنه وايي [۲] چې ما حضور صلی الله علیه وسلم په کوناټو ناست کوندې اوچتونکي حالت کښې په ناستې په کجورو خوړلو ليدلې دې.[۳] او په يو روايت کې دا دي چې حضور صلی الله علیه وسلم کجورې زر زر خوړلې، (مسلم)

حل اللغات: ①مُقْعِيًا: د إقعاء نه دې، چه سرې په کوناټو باندې کيني او زنګونان اودروی دا يومتواضع صورت دې ②أَكْلًا ذَرِيعًا: زر زر ئې خوراك کولو کيدې شي چه د څه وجهې ئې تادي وه.

تسهيلات:

نوټ: د ګرانو الفاظووضاحت په حل اللغات کښې اوشو باقي د حديث مضمون آسان دې

---

(۱) اخرجه مسلم في كتاب الأشربة/باب استحباب تواضع الآكل، وصفة قعوده (رقم-۱۴۸ - (۲۰۴۴))واحمد في المسند:۳/۲۰۳

[۳۸۸] په ګډه ناسته کښې د دوه دوه قجورو د خوړلو حکم

۴۰۸۸-[۲۷] (۱)[۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - قَالَ: [۲] «نَهَى رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنْ يَقْرِنَ الرَّجُلُ بَيْنَ التَّمْرَتَيْنِ[۳] حَتَّى يَسْتَأْذِنَ أَصْحَابَهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما وايي[۲] چې رسول الله ﷺ منع فرمايلي ده چې يو سړي دوه کجوري جمع کړي. ايعنى په يو ځاى دوه دوه کجوري اوخوري[۳] خو دا چې د خپلو ملګرو نه اجازت واخلي. ،بخاري مسلم،

حل اللغات: ①أَنْ يَقْرِنَ: د ضرب او نصر دواړونه راځي قران دوه کهجورې يوځائې کول اويه يوځائې خوړلوته وئيلې شوى دى

تسهيلات: قوله: أَنْ يَقْرِنَ الرَّجُلُ بَيْنَ التَّمْرَتَيْنِ:

د اقتران بين التمرتين د حکم نسخ: علامه سيوطي رحمه الله فرمائي دا د هغه وخت خبره ده کوم وخت چه په خوراك کښې سخته تنګى وه بيا چه کله وسعت راغلو نودا حکم موقوف او منسوخ شو اوس دوه کهجورې يوځائې خوړلې شي

استحبابي خبره: د ادب تقاضا هم دغه ده چه ملګرو سره په محفل کښې يوه يوه قجوره خوړل مستحب دى اوکه څوك ئې ځان له خورى نوهغه درې درې هم يوځائې خوړلې شي اوکه د مجلس ټول ملګرى اجازت ورکړى بې اهم دوه يوځائې خوړلې شى لکه څنګه چه په دې حديث کښې ذکر دى

[۳۸۹] د قجورو فضيلت

۴۰۸۹-[۲۸] (۱)[۱] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهَا - أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «لَا يَجُوعُ أَهْلُ بَيْتٍ عِنْدَهُمُ التَّمْرُ». [۳] وَفِي رِوَايَةٍ: قَالَ: [۴] «يَا عَائِشَةُ بَيْتٌ لَا تَمْرَ فِيهِ[۵] جِيَاعٌ أَهْلُهُ» [۶] قَالَهَا مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او د بي بي عائشې رضي الله عنها نه روايت دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل [۲] د هغه کور خلق اوږي نشي پاتې کيدي. په کوم کور کې چې کجوري وى.[۳] او په يو روايت کې داسې دي چې حضور ﷺ وفرمايل[۴] چې اې عائشې رضي الله عنها په کوم کور کى چې کجوري نه وي.[۵] دهغه کوراوسيدونکي اوږي دي.[۶] حضور ﷺ دا الفاظ دوه يادري خلي وفرمايل. ،مسلم،

حل اللغات: ①لَا يَجُوعُ: اوږي نه پاتې کيږى.

---

۱) اخرجه البخاري في كتاب الإجارة/باب القران في التمر بين [ص:۱۳۹] الشركاء حتى يستأذن أصحابه ومسلم في كتاب الأشربة/باب نهي الأكل مع جماعة عن قران تمرتين ونحوهما في لقمة إلا بإذن أصحابه (رقم-۲۴۸۹)

۱) اخرجه مسلم في كتاب الأشربة/باب في ادخار التمر ونحوه من الأقوات للعيال (رقم-۱۵۱ (۲۰۴۵) - ۱۵۳ (۲۰۴۶)) وابوداود في كتاب الأشربة/باب في إيكاء الآنية (رقم-۳۷۳۱) والترمذي في كتاب الأطعمة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في استحباب التمر (رقم ۱۸۱۵) وابن ماجه في كتاب الأطعمة/باب التمر (رقم-۳۳۲۷)

تسهيلات: قوله: لَايَجُوعُ أَهْلُ بَيْتٍ عِنْدَهُمُ التَّمْرُ:

دحديث پس منظر: داحديث دَهغه خلقوسره متعلق دي كوم چه په مدينه منوره كښې آباد وو دَ هغوی گذاره به صرف په كهجوروباندې وه يعنی نودهغوی دتسلی دپاره نبی عليه السلام دا حديث اوفرمائيل كه تاسو سره قجورې وی نوكه بل څه نه وی هم تاسو غريبانان او فقيران نه يې

د حديث فوائد: ① په دې حديث كښې دَ كهجورو دَ فضيلت بيان دې چه په كوركښې دكهجوروموجودكيدل دَ بركت سبب دې

② كه كهجورې په كوركښې ذخيره كول جائزدی اوداهم معلومه شوه چه كه صرف كهجورې وی نوبياهم سړی له داشكايت جائزنه دې چه په كوركښې دَ خوراك دپاره هيڅ نشته دې

[۳۰]دعجوه كجورو تاثير

[۲۹]( )① وَعَنْ سَعْدٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-يَقُولُ:② «مَنْ تَصَبَّحَ بِسَبْعِ تَمَرَاتٍ عَجْوَةٍ③ لَمْ يَضُرَّهُ ذٰلِكَ الْيَوْمَ سَمٌّ وَلَاسِحْرٌ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت سعد رضي الله عنه وايي② چې ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل ③ چه كوم سړي چې د سحر په وخت كې د څه بل شي د خوړلو نه مخكې اووه عجوه كجورې وخوري ④ نو هغه ته په هغه ورځ زهر او جادو هيڅ نقصان نشي رسولي، (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① عَجْوَة: دَمدينې منورې اعلی او ښه كهجورې دی، ② سَمٌّ: زهر، ③ سِحْرٌ: جادو

تسهيلات:

قوله: مَنْ تَصَبَّحَ بِسَبْعِ تَمَرَاتٍ عَجْوَةٍ لَمْ يَضُرَّهُ ذٰلِكَ الْيَوْمَ سَمٌّ وَلَاسِحْرٌ:

دعجوه پيژندگلو: عجوه دَمدينې منورې دَ ښه كهجورونه ده دَ تور رنګ وی اوپه خوړوالی كښې دومره خوږه نه وی بلكه معتدل وی دَ دې هډوكې گول وی دانه نی هم گول وی ډيرې قيمتی وی په يوه زمانه كښې به په سل ريال باندې يوكلو خرڅيدې

دسحرپه وخت د عجوه د خوړلو فائده: په دې كښې الله تعالی يوخاصيت كيخودې دې چه د سحرپه وخت كښې دَدې اووه دانې په نهاره خوړلو سره سړې دَ زهر اوسحر نه بچ كيږی نبی كريم كيدې شی چه دَعجوه دَ پاره دعا غوښتې وی چه په عجوه كښې دې دا تاثيروی دَ اووه دَشمير خبره دَ الله تعالی په علم باندې ده چه په دې كښې څه حكمت دې وړاندې دَ عجوه نور تفصيل راځی

[1]) اخرجه البخاري في كتاب الأطعمة/باب العجوة (رقم-٥٤٤٥) ومسلم في كتاب الأشربة/باب فضل تمر المدينة (رقم ١٥٥ - (٢٠٤٧) وابوداود في كتاب الطب/باب في تمرة العجوة (رقم-٣٨٧٦)

[۳۸] د عجوه قجورې فضیلت

۳۹—[۳۰] (۱) [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا - أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] "«إِنَّ فِي عَجْوَةِ الْعَالِيَةِ شِفَاءً، [۳] وَإِنَّهَا تِرْيَاقٌ [۴] أَوَّلَ الْبُكْرَةِ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او د بي بي عائشې رضي الله عنها نه روایت دې چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] د عالیه عجوه په کجورو کې شفاء ده. [۳] او هغه اد زهرو وغیره د پاره(د تریاق (یعنی د زهرو اثر لرې کولو د دارو) خاصیت لري. [۴] هر کله چې هغه د ورځې په ابتدایي حصه کې (یعني په نهاره خیټه) وخوړل شي. (مسلم)

حل اللغات: ① اَلْعَالِیَةِ: دمدینې منورې اطرافو علاقوته عوالي واني ② تِرْیَاقٌ: زهر مهره یعنی د زهرو اثر لرې کولو دارو ③ اَلْبُکْرَةِ: ابتدائی حصه.

تسهیلات:

نوټ: دحدیث مطلب واضح دې باقی د ګرانو ټکو وضاحت په حل اللغات کښې اوشو

[۳۹] یوې میاشتې پورې کټوئ نه پخول

۴۰—[۳۱] (۲) [۱] وَعَنْهَا، قَالَتْ: [۲] «كَانَ يَأْتِي عَلَيْنَا الشَّهْرُ [۳] مَا نُوقِدُ فِيهِ نَارًا، [۴] إِنَّمَا هُوَ التَّمْرُ وَالْمَاءُ [۵] إِلَّا أَنْ يُؤْتَى بِاللُّحَيْمِ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي [۲] چې بعضې میاشتې به په مونږ داسې تیریدی. [۳] چې مونږ به په هغې کې اورنه بلولو (یعني بعضې میاشتې به کله کله داسې پوره پوره تیریدی. چې زمونږ په کور کې به د خوراك سامان د نشوالي په وجه په نغري کې اور نه بلیدو) [۴] او په دې موده کې به زمونږ د غذا انحصار یواځې په کجورو او اوبو وو. [۵] خو دا چې چیرته به لږ شان غوښه راغله. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① نُوقِدُ: اور بلوو مونږ. ② اَللُّحَیْمِ: لږه شان غوښه.

تسهیلات:

قوله: [إِلَّا أَنْ يُؤْتَى بِاللُّحَيْمِ]

د نبی علیه السلام زهد: دادلحم تصغیردې د تقلیل دپاره دې یعنی چه د بهرنه به کله چاتحفه رالیږله نوبیابه مونږ غوښه خوړله ګنی په کهجوروواوبه اوبوباندې به مونږ وخت تیرولو

(۱) اخرجه مسلم فی کتاب الأشربة/باب فضل تمر المدینة (رقم-۱۵٦ - (۲۰٤۸) واحمد فی المسند: ٦/۱۰۵
(۲) اخرجه البخاري فی کتاب الرقاق/باب: کیف کان عیش النبی صلی الله علیه وسلم وأصحابه. وتخلیهم من الدنیا (رقم ٦٤۵۸) والترمذی فی کتاب صفة القیامة والرقائق والورع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۲٤۷۱) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب معیشة آل محمد صلی الله علیه وسلم (رقم-٤١٤٤) واحمد فی المسند: ٦/۱۰۸

د نبی علیه السلام د لوړې حيثيت: يادلرئی چه دَ نبی کريم دا اولګې اختياری وې داد سرم موجب نه دی بلکه دَ فخرسبب دې دې دپاره چه دَ نبی کريم په ذات کښې دَ ټولو پيغمبرانو خوبئ نې راشی

حسن يوسف دم عيسیٰ يد بيضا داری   آنچه خوباں ہمہ دارند تو تنہا داری

دَ رسول الله ﷺ دَ فقيرئی په شان کښې شان قيصری وو سلام دې وی په هغوی چه په بادشاهئی کښې فقيری اختيارکړې

[۳۳] د نبی علیه السلام فقيری

۳۲-۳ (۱) [۱] وَعَنْهَا، قَالَتْ: «مَا شَبِعَ آلُ مُحَمَّدٍ يَوْمَيْنِ مِنْ خُبْزِ بُرٍّ [۳] إِلَّا وَأَحَدُهُمَا تَمْرٌ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه: [۱] او بې بې عائشه رضي الله عنها وايي [۲] چې دا سې هيڅ کله نه دي شوي. چې د حضور ﷺ کور والئو دوه ورځې په ډك نس (خيټه) د غنمو روټئ خوړلې وي. [۳] او په هغه دوو ورځو کې د يوې ورځې غذا کجورنه وي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① شَبِعَ: په مړه خيټه روټئ خوړل، مړيدل. ② خُبْز: روټئ. ③ بُرّ: غنم

تسهيلات:

قوله: مَا شَبِعَ آلُ مُحَمَّدٍ يَوْمَيْنِ مِنْ خُبْزِ بُرٍّ:

د غنمو روټئ نه ملاويدل: يعنی دَ غنمو په روټئ سره ئی خيټه نه ده مړه شوې په اوربشو سره به مړه شوې وی نبی کريم دَ فقر وفاقې اودنيا دَترك کولوپاره کښې يوه ضبطه دَ خپل ذات دَ پاره مقررکړې وه اودويمه ضابطه دَاهل بيت دپاره وه اودريمه ضابطه دعدم امت دپاره وه دخپل خان دَ پاره ئی خالص فقر وو دَ اهل بيت دپاره دَ لږ څه سائلو اجازت وو اودَ امت دپاره ئی آسانتئ وسائله

[۳۴] په اوبواوكهجورولی چرته خيټه نه ده مړه شوې

۳۳-۳ (۲) [۱] وَعَنْهَا قَالَتْ: [۲] «تُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۳] وَمَا شَبِعْنَا مِنَ الْأَسْوَدَيْنِ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

ترجمه: [۱] بي بي عائشه رضي الله عنها وايي [۲] چې رسول الله ﷺ د دنيا نه تشريف يووړو [۳] او مونږ هيڅ کله (د هغه ﷺ په ژوند کې) د دوو تورو څيزونو. (يعنی د کجورو او اوبو) نه خيټه ډکه نه کړله (بخاری مسلم)

حل اللغات: ① الْأَسْوَدَيْن: دوه تورڅيزونونه مراد اوبه اوكهجورې دی

(۱) اخرجه البخاری فی کتاب الرقاق /باب: کیف کان عیش النبی صلی الله علیه وسلم وأصحابه، وتخلیهم من الدنیا (رقم ۶۴۵۵) وابن ماجه فی کتاب الأطعمة /باب خبز البر (رقم-۳۳۴۴) واحمد فی المسند: ۱۰۸/۶

(۲) اخرجه البخاری فی کتاب الأطعمة /باب من أکل حتی شبع (رقم-۵۳۸۳) ومسلم فی کتاب الزهد والرقائق (رقم-۳۱ - ۲۹۷۵) واحمد فی المسند: ۱۵۸/۶

تسهیلات:

قوله: وَمَا شَبِعْنَا مِنَ الْأَسْوَدَيْنِ

داسودین څخه مراد: اسودین د اسود تثنیه ده تورته وائی دلته ترې مراد قجوری او اوبه دی یعنی تروفاته پورې نبی علیه السلام او د دوی اهل په قجورو او اوبه باندې ماړه شوی نه وو او دلته د اسودین لفظ په توګه د تغلیب دې ګنی اوبه تورې نه وی

اشکال او د هغې جواب: د اوبو ملاویدل څه ګران وو چه په دې سره نی هم خیټه نه ده مړه شوې؟

د دې جواب دا دې چې سړې په نهاره خیټه اوبه نه شی څکلې کله چه په خیټه کښې کهجورې وغیره څه خوراك نه وی نو په نهاره باندې اوبه هم نه شی استعمالیدې په دې وجه د کهجورو نه ملاویدلې لکه چه اوبه هم نه ملاویدې چه خیټه مړه کړې شی

[۳۴۵] د نبی علیه السلام د فقیری بیان کول

۵۰۰۰ ــ [۳۴] ( ) [۱] وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: [۲] «أَلَسْتُمْ فِي طَعَامٍ وَشَرَابٍ مَا شِئْتُمْ؟ [۳] لَقَدْ رَأَيْتُ نَبِيَّكُمْ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۴] وَمَا يَجِدُ مِنَ الدَّقَلِ [۵] مَا يَمْلَأُ بَطْنَهُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت نعمان ابن بشیر رضی الله عنه نه روایت دې چې هغه په یوه موقع وفرمایل [۲] چې آیا تاسو خلق په خپل خوراك او څښاك کې چې څرنګه غواړئ عیش نه کوئ ایعنی تاسو د خپل خوراك او څښاك په څیزونو کې د خپل خواهش مطابق وسعت او افراط اختیارولو سره د عیش او راحت ژوند تیر وئ! [۳] حال دا چې ما ستاسو نبي صلی الله علیه وسلم په داسې حال کې لیدلې وو. [۴] چې حضور صلی الله علیه وسلم ته چیری ردې (ناکاره) کجورې هم دومره نه وې ملاوشوې. [۵] چې په مړه خیټه یې خوړلې وی (مسلم)

حل اللغات: ① الدَّقَلِ: ردی بې کاره کهجورې. ② يَمْلَأُ: چه خیټه پرې ډکه کړی، مورشی

تسهیلات:

قوله: وَمَا يَجِدُ مِنَ الدَّقَلِ مَا يَمْلَأُ بَطْنَهُ

دحدیث پس منظر: نعمان بن بشیر رضی الله عنه یاداکلام د نبی کریم د وصال نه پس صحابه کرامو ته کړې دې یانې تابعینو ته کړې دې نبی کریم دې فانی جهان ته دعیش اوعشرت دپاره نه وو راغلې هم په دې وجه نبی کریم د دنیا د خوندونونه ډډه اوکړه څه چه به ورسره وو هغه به نې په نورو باندې قربانی کول اوپخپله به نې فقر اوفاقې برداشت کولې دااختیاری فقر

---

[۱] اخرجه مسلم فی کتاب الزهد والرقائق(رقم- ۳۴ - (۲۹۷۷)والترمذی فی کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی معیشة أصحاب النبی صلی الله علیه وسلم (رقم-۲۳۷۲) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب معیشة آل محمد صلی الله علیه وسلم (رقم-۴۱۴۶) واحمد فی المسند: ۲۶۸/۴

وو چنانچه په بعضو روایاتو کښې دی چه نبی کریم به صرف په کهجورو باندې ګذاره کوله بل هیڅ خوراك به نه وو. بیا په یوحدیث کښې دی چه کهجورې به هم په ډیر لږ مقدار کښې وې. بیانې اوفرمائیل چه هغه کهجورې به هم دَ ردی قسم وې. نبی کریم دَ زهداوقناعت ژوند تیرولو سره امت ته دَترك دنیا تعلیم اوتربیت نمونه ورکړه.

[۳۴۳] د اوږې د خوراك څخه پرهیز کول

۳۴۳-[۳۵] ([1]) ① وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: ② «كَانَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِذَا أُتِيَ بِطَعَامٍ ③ أَكَلَ مِنْهُ وَبَعَثَ بِفَضْلِهِ إِلَيَّ، ④ وَإِنَّهُ بَعَثَ إِلَيَّ يَوْمًا بِقَصْعَةٍ ⑤ لَمْ يَأْكُلْ مِنْهَا لِأَنَّ فِيهِ ثُومًا، ⑥ فَسَأَلْتُهُ: أَحَرَامٌ هُوَ؟ ⑦ قَالَ: لَا، وَلَكِنْ أَكْرَهُهُ مِنْ أَجْلِ رِيحِهِ"، قَالَ: فَإِنِّي أَكْرَهُ مَا كَرِهْتَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت ابو ایوب انصاري رضی الله عنه وايي ② چې نبي کريم ﷺ ته چې به طعام راوړل شو، ③ نو حضور ﷺ به د هغې نه اوخوړل. او پاتې شوي به يې ماته راليږل. ④ يوه ورځ حضور ﷺ ماته يوه داسې پياله (کاسه) راوليږله، [چې په هغې کې طعام وو]، ⑤ او د هغې نه يې هيڅ نه وو خوړلي، ځکه چې په هغه کې اوږه وه، ⑥ ما پوښتنه وکړه چې آيا اوږه حرامه ده؟ ⑦ حضور ﷺ وفرمايل چې نا، بلکې د دې د بوئ په سبب د دې خوړل نه خوښوم، ⑧ حضرت ابو ايوب رضی الله عنه عرض وکړو چې بيا ازه هم هغه طعام نه خورم. ځکه چه کوم طعام تاسو ﷺ ناخوښه کړو، زه هم هغه طعام نه خوښوم (مسلم)

حل اللغات: ① قَصْعَةٍ: کاسه. ② ثُومًا: اوږه.

د حضرت ابو ایوب خالدبن زید مختصر تعارف: نوم خالد کنیت ابوایوب قبیله خزرج او دَ نجارخاندان سره ئې تعلق لرلو. پوره سلسله نسب دا دې. خالد بن زید بن کلیب بن ثعلبه بن عبد عوف خزرجی. په بیعت العقبه کښې مسلمانیدونکو کښې وو. مدینې منورې ته دَ راتلونه پس حضوراکرم ﷺ دَ هغوی په کور کښې قیام کړې وو. نبی کریم ﷺ سره همیشه په غزواتوکښې شریك شوې وو. په صحابه کرامو رضی الله عنهم کښې فقهاؤ صحابه کرامو کښې شمیر وو. دَ خپل مینځ دَ اختلاف په صورت کښې صحابه کرامو به هم دَهغوی طرف ته رجوع کوله. (۲)

په هغوی کښې درې خبرې ښکاره وې. ① دَ رسول الله ﷺ محبت ② دَ ایمان جوش ③ حق وینا کول. په دې سلسله کښې ډیر زیات واقعات دَهغوی په ژوند کښې ملاویږی. حیا اوشرم په کښې ډیر زیات وو. دَ بخاری په روایت کښې راځی چه کله به هغوی په کوهی باندې غسل کولو نو څلورو واړو طرفوته به ئې کپړا زورندوله.

[1]) اخرجه مسلم فی کتاب الأشربة/باب إباحة أكل الثوم. وأنه ينبغى لمن أراد خطاب الكبار تركه، وكذا ما فى معناه (رقم-۱۷۰ - (۲۰۵۳) والترمذى فى كتاب الأطعمة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى كراهية أكل الثوم والبصل (رقم-۱۸۰۷) واحمد فى المسند:۱۰۳/۵

وفات: قسطنطنيه (ترکی) باندې دَحملې دَ پاره ۵۳ھ کښې دَ يزيدبن معاويه په مشرئی کښې تشريف اوړلو. په سفرکښې عام وبا خوره شوه ډير خلق شهيدان شول په هغوی کښې دوی هم وفات شو. هغه دَ قسطنطنيه ديوال سره نيزدې خښ کړې شو چه ترننه پورې دَ خلقو زيارت گاه دې.

مرويات: دَ هغوی نه ۱۵۰ روايات نقل دی په ۷ باندې دَ بخاری اومسلم اتفاق دې. بخاری کښې يو او مسلم شريف کښې هم يو ځان له ځان له دې.

تسهيلات:

فائده: د تبع بادشاه په مدينه کښې کور جوړول: دَ يمن بادشاه تبع په مدينه باندې حمله اوکړه په کوم کښې چه دَهغه خونی اووژلې شو. هغه مدينې منورې دَ ورانولوقسم اوخوړلو دَ مدينې بعضې يهوديانو عالمانو هغه ته اووئيل داسې مه کوه ځکه چه دادَ نبی آخرزمان دَ هجرت ځائی دې هغه به دَمکې نه هجرت کوی او دلته به راځی بادشاه توبه اوکړه او يومکان ئې جوړکړو چه کله هغه مدينې ته راشی نو دې مکان کښې به اوسيږی. هغه يوه رقعه هم اوليکله په کوم کښې چه يوڅو اشعار وو دوه شعرونه دادی

شهدت على أحمد أنه — رسول من الله باري النسم
فلومد عمري الى عمره — لكنت وزيرا له وابن عم

د حديث پس منظر: حضرت ابوايوب انصاری رضی الله عنه هم دَدغه بادشاه دَ خاندان نه وو او اتفاق سره هم په دغه مکان کښې اوسيدلو. حضور پاک چه کله مدينې منورې ته تشريف راوړو نو هريوانصاری غوښتل چه نبی کريم دې دَهغه په کورکښې حصار شی نبی کريم اوفرمائيل زما اوښه آزاده پريږدئی دا چه چرته کيناسته زه به هم هلته حصاريږم نواوښه راغله اودَ حضرت ابوايوب انصاری رضی الله عنه دکور مخې ته کيناسته

قوله: إِذَا أُتِيَ بِطَعَامٍ: دَمدينې انصارو چه به کله دعوت کولو نوخوراك پخولو سره به ئې هم دغه مکان ته راوړلو اونبی کريم به خپلو صحابه کرامو سره خوړلو هم دې طرف ته په دې حديث کښې اشاره ده چه "إذا أتي بطعام" يعنی کله چه به خوراك راوړلې شو

قوله: لَا، وَلَكِنْ أَكْرَهُهُ مِنْ أَجْلِ رِيحِهِ:

د اوګې نه خوړلو وجه: دَ اوګې دَ وجهې نبی کريم خوراك قبول نه کړو اوپه ملګروباندې ئې اوخوړلو معلومه شوه چه کچه اوګه خوړل حرام نه دی البته مکروه دې

[۳۸۴] د بدبو داره څيز د خوړلو په وجه جمات ته د تلو ممانعت

۴۱۸۴-[۳۶] ()[۱] وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّ النَّبِيَّ قَالَ: - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] «مَنْ أَكَلَ ثُومًا أَوْ بَصَلًا [۳] فَلْيَعْتَزِلْنَا، [۴] أَوْ قَالَ: فَلْيَعْتَزِلْ مَسْجِدَنَا. [۵] أَوْ لِيَقْعُدْ فِي بَيْتِهِ» ". [۶] «وَإِنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أُتِيَ بِقِدْرٍ [۷] فِيهِ خَضِرَاتٌ مِنْ بُقُولٍ [۸] فَوَجَدَ لَهَا رِيحًا، [۹] فَقَالَ: "قَرِّبُوهَا إِلَى بَعْضِ أَصْحَابِهِ - [۱۰] وَقَالَ: " كُلْ، فَإِنِّي أُنَاجِي مَنْ لَا تُنَاجِي» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او د حضرت جابر ﷺ نه روايت دي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل [۲] كوم سړي چې اوږه يا [اوم] پياز خوړلي وي، [۳] هغه ته پكار دي چې زمونږ نه جدا وسيږي. [يعنى زمونږ مجلسونوته دي نه راځي] [۴] يا دا يي وفرمايل چې هغه ته پكار دي چې هغه دي زمونږ د مسجد نه لرې اوسيږي. [يعنى زمونږ مسجد ته دي نه راځي] [۵] يا دا يي وفرمايل چې هغه ته پكار دي چې (چيرته د تلو په ځاى) دى په خپل كور كې ناست وسي [۶] او د يوې ورځې واقعه ده، چې) نبي كريم ﷺ ته يوه كټوئ راوړل شوه. [۷] په هغې كې هر قسم تركاريانى سبزيانى وي [يعني اوږه، پياز او ګندنه وغيره] [۸] حضور ﷺ ته د هغې بوئ محسوس شو، [۹] نو [په خپلو صحابه ؤ ﷺ كې يو سړي ته اشاره كولو سره يو خادم ته يې] وفرمايل چې دا هغه فلاني سړي ته يوسه، [۱۰] او بيا هغه سړي ته مخاطب كولو سره يې وفرمايل چې دا ته وخوره، زه يې نه خورم، ځكه چې زه د كوم ذات سره سرګوشئ (كې خبرې) كوم، د هغه سره ته سرګوشي نه كوي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① ثُومًا: اوږه، ② بَصَلًا: پياز، ③ قِدْرٍ: كټورې، كټوئ، ④ خَضِرَاتٌ: قسم قسم سبزياني. ⑤ بُقُولٍ: د بقل جمع ده، سبزى، تركارى، ⑥ أُنَاجِي: ملاقات كوم، مناجات (پټې خبرې) كوم

تسهيلات:

راوى ته په روايت كښې شك: راوى ته دَ روايت بيانولو كښې دوو ځايونو كښې شك شوې په دې وجه ئې أو ذكر كړې دې كوم چه دَ شك دَپاره راځي هرهغه سړې چاچه كچه پياز يا اوږه يا ګندنه يا تمباكو استعمال كړې وى اودَ خلې نه ئې بدبوئې راوځى يا هسې دَ بيمارئې دَ وجهې دَهغه دَ خولې نه بدبوئى راځى نودَداسې سړى جمات ته تلل مكروه دى تركومې چه بدبوئى ختمه شوې نه وى. دَ جمات نه علاوه دَعامو خلقو مجمع كښې ورداخليدل هم مكروه دى

[۱]) اخرجه البخاري في كتاب صلاة الجماعة والإمامة/باب ما جاء في الثوم النئ والبصل والكراث (رقم-۸۵۵) ومسلم في كتاب المساجد/باب نهى من أكل ثوما أو بصلا أو كراثا أو نحوها (رقم-۷۳ - (۵۶۴) وابوداود في كتاب الأشربة/باب في الشرب من ثلمة القدح (رقم-۳۷۲۲) والترمذي في كتاب الأطعمة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في كراهية أكل الثوم والبصل (رقم-۱۸۰۶)

قوله: مَنْ أَكَلَ ثُومًا أَوْ بَصَلًا، فَلْيَعْتَزِلْنَا:

د بوكې خوړلو مشروط ممانعت: دَ"قربوا" او "كل" په الفاظو كښې تعارض نشته جدا جدا مخاطب كيدې شي جمع هم او مفرد هم. په دې حديث كښې نبى كريم پخپله دَ نه خوړلو علت دابيان كړي دې چه زما ملاقات دَ فرښتوسره كيږى په دې وجه احتياط كوم ستاسو معامله داسې نه ده تاسو ئې خورئې.

[۳۹۸] د خوراک خيزولو كښې په تللو سره بركت پيدا كيدل

۳۹۸-[۳۷] (١) وَعَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِي كَرِبَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ٢ "«كِيلُوا طَعَامَكُمْ ٣ يُبَارَكْ لَكُمْ فِيهِ»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ١ او حضرت مقدام ابن معديكرب ﷛ د نبي كريم ﷺ نه روايت كوي چې حضور ﷺ وفرمايل ٢ د خوراك څښاك څيزونه ناپ او تول كوئ، ٣ تاسو د پاره به په دې كې بركت وركړې كيږي. (بخاري)

حل اللغات: ① كِيلُوا: ناپ تول كوئ. دَ كيل نه دې دَ پيمانې په معنى كښې دې.

تسهيلات:

قوله: كِيلُوا: چه كوم څيز پيمانه كيږى هغه غله وى او غله خوړلې شى. په دې وجه په اطعمه كښې ذكركړې شو گنى دادَ كتاب البيوع مسئله ده هلته ليكلې شوې ده.

قوله: كيلوا طعامكم، مطلب دا دې چه خريد وفروخت او قرض وركولو او اخستلو په وخت كښې كيلى او د وزنى څيزونو ناپ تول ضرور كوئ، دې دپاره چه كمى بيشى رانشى او د يو په ذمه د بل حق پاتې نه شى ، او هم دغه شان خوراک هم په ناپ سره پخوئ چه كم يا ذيات نه نشى.

اشكال: ملا على قارى رحمه الله هم د امام مظهر رحمه الله نه داسې خبره نقل كړې ده كه دا سوال وكړې شي چه په دې حديث كښې او د حضرت عائشه رضي الله عنها په حديث كښې تطبيق څنگه ممكن دې چه په دې حديث كښې نبى كريم ﷺ فرمائيلى دې چه د خوراک د څيزونو ناپ تول كوې او د حضرت عائشه رضي الله عنها په حديث كښې دې چه كله نبى كريم ﷺ وفات شو نو ما سره هيڅ څه نه وو مگر صرف يو خائى كښې وربشې وې كوم نه چه به ما لږ لږ راغستل خوراک به مې تري كولو نو ډير وخته پورې ما تري نه خوراک راخستلو او هغه نه ختميدلو ليكن كله چه ما هغه خوراک وزن كړو نو د هغې بركت ختم شو.

---

(١) اخرجه البخارى فى كتاب البيوع/باب ما يستحب من الكيل (رقم-٢١٢٨) وابن ماجه فى كتاب التجارات/ باب ما يرجى فى كيل الطعام من البركة (رقم-٢٢٣٢) واحمد فى المسند: ١٣١/٤

اشكال جواب: د ناپ تول حکم د خريد وفروخت په وخت کښې دې دپاره چه ميانه روی او مساوات راشي او په دي کښې برکت وی. البته د نفلی صدقه او خيرات په وخت کښې ناپ تول يا شمير کول د بخل علامه ده او ددې نه ئې منع فرمائيلی ده چه برکت په کښې ختم نشي په يو بل روايت کښې دي چه نبی کريم ﷺ حکم وکړو چه اې بلال ته خرچ کوه، صاحب عرش نه د کميدو ويره مه لره (التعليق الصبيح ج۴، ص۳۶۹)

[۳۳] د خوراک نه پس د الله تعالی ﷻ حمد ويل

۴۱۹۹-[۳۸]()[۱]وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - [۲]«أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ إِذَا رَفَعَ مَائِدَتَهُ [۳]قَالَ: "الْحَمْدُ لِلَّهِ حَمْدًا كَثِيرًا[۴] طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ،[۵] غَيْرَ مَكْفِيٍّ[۶] وَلَا مُوَدَّعٍ[۷] وَلَا مُسْتَغْنًى عَنْهُ رَبَّنَا» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه: [۱]او د حضرت ابو امامه نه روايت دي [۲] چې د نبي کريم ﷺ د مخې نه چې به دسترخوان پورته شو. [يعنی هر کله چې به حضور ﷺ د طعام د خوړو نه فارغه شوا[۳] نو د الله تعالی ﷻ په حمد او ثناء کې به يې داسې فرمايل: ټول تعريفونه الله ﷻ لره دي. داسې تعريف چې ډير دي،[۴] او پاکيزه (يعني د ظاهر داري او د ښودني نه خالي دي) چې په هغه کې برکت اچول شوي دي،[يعنی هغه داسې بابرکته حمد دې چې هميشه جاري او قائم وي][۵] او هيڅ کله منقطع نه وي،[۶]نه د هغه نه کفايت کړل شوي وي.[۷] او نه د هغه نه بې پروايي وي اې زمونږ ربه!، (بخاري)

حل اللغات: ① مَائِدَتَهُ: دسترخوان، ② غَيْرَ مَكْفِيٍّ: هيڅ کله منقطع نه وي،③ وَلَا مُوَدَّعٍ: نه دهغه نه کفايت کړل شوې وي.④ لَا مُسْتَغْنًى: نه د هغه نه بې پروايي وي.

تسهيلات:

قوله: غَيْرَ مَكْفِيٍّ وَلَا مُوَدَّعٍ وَلَا مُسْتَغْنًى عَنْهُ رَبَّنَا:

په دعا کښې په موصوف کښې دوه احتمالات: ددې لفظ نه واخله تر آخره پورې ټولې جملې او پوره کلام دَ حمد صفت هم جوړولې شی او دَ طعام صفت هم جوړيدې شی په دواړو صورتونو کښې به په مطلب کښې فرق راځی

د حمد لره د موصوف کرځولو په صورت کښې ترجمه: ((غَيْرَ مَكْفِيٍّ))چه دا حمد به مونږ هميشه دَ الله تعالی دَ پاره قائم اودائم ساتو په يوه مرحله به مونږ دا کافی نه ګڼرو بلکه مسلسل به ئې جاری ساتو ((وَلَا مُوَدَّعٍ))يعنی دا تعريف به مونږ ترک کولو سره نه پريږدو بلکه مسلسل به

() اخرجه البخاري في كتاب الأطعمة /باب ما يقول إذا فرغ من طعامه (رقم-٥٤٥٨) وابوداود في كتاب الأطعمة /باب ما يقول الرجل إذا طعم (رقم-٣٨٤٩) والترمذي في كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما يقول إذا فرغ من الطعام (رقم-٣٤٥٦) وابن ماجه في كتاب الأطعمة /باب ما يقال. إذا فرغ من الطعام (رقم-٣٢٨٤)

نې جاري ساتو «وَلَامُسْتَغْنًى عَنْهُ» اونه مونږ دَدې حمد نه مستغنی کيدې شو بلکه دَدې طرف ته به مونږ هروخت محتاج يو خلاصه دا چه داحمدبه په يوحدباندې کافی نه شی ګڼړلې نه به دا ترک کولې شی اونه به دَدې نه بې پروائی کولې شی

د طعام لره د موصوف ګرځولو په صورت کښې ترجمه: که چرې دا جملې دَ طعام اوخوراك صفت جوړکړې شی نوبيابه دَدې جملومطلب داسې شی «غَيْرَمَكْفِيٍّ» يعنی خوراك دَ الله تعالی نعمت دې يووخت به دا کافی نه شی ګڼړلې بلکه هروخت دَدې طرف ته حاجت ساتل پکاردی «وَلَامُوَدَّعٍ» يعنی نه به دَدې لټون اوطلب ترك كولې شی اونه به دَدې نه استغنا اختيارولې شی

[۳۲۰] په شکرکولو سره د الله تعالی راضی کيدل

۴۲۰۰-[۳۹] (١) وَعَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (٢) «إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى لَيَرْضَى عَنِ الْعَبْدِ (٣) أَنْ يَأْكُلَ الْأَكْلَةَ فَيَحْمَدَهُ عَلَيْهَا، (٤) أَوْ يَشْرَبَ الشَّرْبَةَ فَيَحْمَدَهُ عَلَيْهَا» . رَوَاهُ مُسْلِمٌ. (٥) وَسَنَذْكُرُ حَدِيثَيْ عَائِشَةَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: (٦) "مَا شَبِعَ آلُ مُحَمَّدٍ، (٧) وَخَرَجَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِنَ الدُّنْيَا فِي "بَابُ فَضْلِ الْفُقَرَاءِ"، إِنْ شَاءَ اللَّهُ تَعَالَى.

ترجمه: (١) او د حضرت انس رضي الله عنه نه روايت دې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل (٢) الله تعالی د بنده ددې خبرې نه راضي او خوشحاليږي، (٣) چې هغه يوه نوړۍ وخوري. او په هغې د الله جل جلاله حمد او شکر اداء کړي، (٤) يا يو ګوټ اوبه وڅکي او په هغې د الله جل جلاله حمد او ثناء اووائي. (مسلم) (٥) او دوه روايتونه چې په هغې کې يو روايت د بي بي عائشي رضي الله عنها دې (٦) ماشبع آل محمد صلی الله علیه وسلم الخ (٧) او دويم روايت خرج النبي صلی الله علیه وسلم الخ. د حضرت ابوهريره رضي الله عنه دي. دا دواړه روايتونه به مونږ انشاء الله باب فضل الفقراء کې نقل کړو. [يعنی دا دواړه روايتونه صاحب د مصابيح په کتاب الاطعمه کې نقل کړي وو. ليکن مونږ هغه په باب فضل الفقراء کې نقل کړي دي]

حل اللغات: ① الْأَكْلَةَ: نوړۍ.

تسهيلات:

قوله: أَنْ يَأْكُلَ الْأَكْلَةَ:

د همزې په اعراب کښې دوه احتمالات: ① که په اکلة کښې د همزې په زبر سره شي نو معنی به نې دا شي چه کله لږ خوراک هم وکړي نو هم د الله تعالی حمد کوي

② که په اکلة کښې د همزې په پيش سره شی نو معنی به نې دا وی ، يوه نوړۍ نو مطلب نې دا شو چه په هره نوړۍ باندې د الله تعالی حمد کوی

(١) اخرجه مسلم فی کتاب الذکر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب استحباب حمد الله تعالی بعد الأکل والشرب(رقم-۸۹ (۲۷۳٤)

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۳۲۰] په بسم الله سره په طعام كښې بركت

۴۲۰۰-[۳۰] ( )[۱] وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -[۳] فَقُرِّبَ طَعَامٌ،[۴] فَلَمْ أَرَ طَعَامًا كَانَ أَعْظَمَ بَرَكَةً مِنْهُ أَوَّلَ مَا أَكَلْنَا،[۵] وَلَا أَقَلَّ بَرَكَةً فِي آخِرِهِ،[۶] قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ! كَيْفَ هَذَا؟[۷] قَالَ: "إِنَّا ذَكَرْنَا اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهِ حِينَ أَكَلْنَا،[۸] ثُمَّ قَعَدَ مَنْ أَكَلَ[۹] وَلَمْ يُسَمِّ اللَّهَ فَأَكَلَ مَعَهُ الشَّيْطَانُ» ". رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ".

توجمه: [۱] حضرت ابو ایوب انصاري رضي الله عنه وايي[۲] چې يوه ورځ مونږ خلق د نبي كريم ﷺ سره وو[۳] چې طعام مخې ته راوړل شو [د خوراك په دوران كې ما محسوس كړه چې][۴] ما په هغه طعام كې هغه وخت يو لوئ بركت وليدلو، هر كله چې مونږ خوړل شروع كړي وو، داسې بركت ما په بل طعام كې نه وو ليدلي،[۵] او د هغه طعام په آخر كې چې ما كومه بې بركتي وليدله، [داسې بې بركتي مې هم په بل طعام كې نه وه ليدلې]،[۶] مونږ عرض وكړو چې يا رسول الله! ﷺ د دې سبب څه وو؟ [چې د هغه طعام په شروع كې خو دومره زيات بركت وليدل شو، او په آخر كې دومره بې بركتي په نظر راغله][۷] حضور ﷺ وفرمايل چې په حقيقت كې د طعام په شروع كې مونږ د الله جل جلاله نوم اخستي وو.[۸] ليكن وروسته يو سړي راغې، كېنا ستو چې هغه طعام وخوړلو،[۹] خو د الله جل جلاله نوم يې وانخستلو، نو د هغه سره شيطان هم طعام وخوړلو [په دې سبب په آخر كې بې بركتي راغله] شرح السنة

حل اللغات: ① قُرِّبَ: نزدې كړې شو راوړلې شو

تسهيلات:

قوله: إِنَّا ذَكَرْنَا اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهِ:

د پوره بسم الله ونيل: د الله نوم اخستلونه مراد پوره بسم الله الرحمن الرحيم ونيل دي او صرف بسم الله ونيل كافي نه دي او په حالت د جنابت كښې يا د حيض په حالت كښې مستحب دا دي چه د تلاوت نيت دي ونه كړي بلكه د ذكر نيت دي وكړي. گنې د حرامو مرتكب به شي

د حرامو څيزونو په خوړلو د بسم الله ونيلو حرمت: دارنگ د كومو څيزونو خوراک چه په شريعت كښې حرام دي نو ددې خوړلو په وخت كښې بسم الله ونيل هم حرام دي او كه يو كس د شراب څكلو په وخت كښې بسم الله ووائي نو دا به كافر شي (مرقات)

[۱] اخرجه البغوي في شرح السنة رقم الحديث ۲۸۴۴

[۴۲۰۲] د خوراک په اول او مينځ کښې بسم الله ونيل

۴۲۰۲—[۳۱] (۱) ۱ وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا- قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ ((إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ ۳ فَنَسِيَ أَنْ يَذْكُرَ اللّٰهَ عَلَى طَعَامِهِ; ۴ فَلْيَقُلْ: بِسْمِ اللّٰهِ أَوَّلَهُ وَآخِرَهُ)). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ هر کله چې په تاسو کې يو سړي طعام خوړلو ته کيني، ۳ او په شروع کې په خپل طعام د الله ﷻ نوم ورنه هير شي، (او د خوړلو په مينځ کې ورته را ياد شي) ۴ نو هغه ته پکار دي چې هغه دا اووائي بِسْمِ اللّٰهِ أَوَّلَهُ وَآخِرَهُ (ترمذي ابوداؤد)

تسهيلات:

قوله: بِسْمِ اللّٰهِ أَوَّلَهُ وَآخِرَهُ:

مذکوره جمله منصوب لوستلو کښې درې احتمالات: ① ظرف کيدلو د وجهې نه منصوب دي نو عبارت به دا شي "أي في أوله وآخره"۔

② منصوب بنزع الخافض "أي على أوله وآخره"

③ دواړه اسمونه د فعل محذوف د مفعول کيدو د وجهې نه منصوب دي نو عبارت به دا شي "أي أكلت أوله وآكل آخره مستعينا بالله"۔

د بسم الله أوله وآخره مطلب: د"أوله" څخه مراد د خوراک نصف اول دي او "آخره" نه مراد د خوراک نصف اخر دي نو استقصاء واستيعاب حاصل دي او د کلام حاصل دا شو چه کوم کس نه د ډوډۍ په شروع کښې بسم الله ونيل هير شو نو هغه له پکار دي چه په مينځ کې "بسم الله أوله وآخره" ووائي

په اودس کښې د بسم الله د هيريدلو حکم: او په محيط کښې دا ليکلي شوي دي چه کوم کس نه د اودس په شروع کښې بسم الله ونيل هير شو نو په مينځ کښې بسم الله ونيلو سره سنت نه ادا کيږي په خلاف د خوراک چه که چرې د خوراک په مينځ کښې چا بسم الله اوونيله نو دا به ورله کافي شي.

[۴۲۰۳] د بسم الله په ونيلو سره د شيطان طعام لره اولټې کول

۴۲۰۳—[۳۲] (۲) ۱ وَعَنْ أُمَيَّةَ بْنِ مَخْشِيٍّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: ۲ ((كَانَ رَجُلٌ يَأْكُلُ ۳ فَلَمْ يُسَمِّ ۴ حَتَّى لَمْ يَبْقَ مِنْ طَعَامِهِ إِلَّا لُقْمَةٌ ۵ فَلَمَّا رَفَعَهَا إِلَى فِيهِ ۶ قَالَ: بِسْمِ اللّٰهِ أَوَّلَهُ وَآخِرَهُ ۷ فَضَحِكَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ثُمَّ قَالَ: ۸ "مَا زَالَ الشَّيْطَانُ يَأْكُلُ مَعَهُ، ۹ فَلَمَّا ذَكَرَ اسْمَ اللّٰهِ ۱۰ اسْتَقَاءَ مَا فِي بَطْنِهِ")). رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

[1] اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأطعمة/باب التسمية على الطعام (رقم-۳۷٦۷) والترمذي في كتاب الأطعمة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في التسمية على الطعام (رقم-۱۸۵۸) واحمد في المسند: ۲۰۸/٦
[2] اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأطعمة/باب التسمية على الطعام (رقم-۳۷٦۸) واحمد في المسند: ۳۳٦/٤

ترجمه: [۱] اوحضرت امیه ابن مخشي رضي الله عنه وايي[۲] چې يوه ورځ يو سړي طعام ته کیناستو. [۳] او د الله جل جلاله نوم يي وانه خستو ايعني د بسم الله ويلو نه بغير يي خوراك شروع کړوا [۴] تر دي چې په هغه طعام کې سوا د يوي نوړۍ نه څه باقي پاتې نه شو. [۵] کله نې چه دغه يوه نوړۍ خلې ته اوچته کړه انو هغه ته ياد شو چې د طعام د شروع کولو په وخت زما نه بسم الله هيره شوي وه ا[۶] نو هغه په دغه وخت بسم الله اوله وآخره وويل. [۷] په دي ليدو سره رسول الله ﷺ په خندلو سره وفرمايل [۸] چې شيطان د دې سړي سره برابر طعام خوړلو، [۹] خو ده چې د الله جل جلاله نوم واخستلو. [۱۰] نو شيطان هغه هر څه قې کړل، کوم چې د هغه په خيټه کې وو ‹ابوداؤد›

حل اللغات: ① لُقْمَةٌ: نمړۍ، ② اسْتَقَاءَ: څه چه نې په خيټه کښې وو هغه نې قې کړل

تسهيلات:

قوله: فَلَمَّا ذَكَرَ اسْمَ اللهِ اسْتَقَاءَ مَا فِي بَطْنِهِ:

د شيطان په التي کولو کښې دوه احتمالات: ① د شيطان خوراک اولتيې (قيئ) کول په حقيقت باندې محمول دي

② د التې څخه مراد دا دي چه کوم برکت د بسم الله په نه وئيلو سره ختم شوي وو هغه د بسم الله په وئيلو سره واپس راغلو، نو ګويا چه دا برکت د شيطان په خيټه کښې د امانت په طور باندې وو نو کله چه هغه کس بسم الله ووئيله نو په خوراک کښې برکت هم واپس راغلو.

[۴۲۰۳] د خوراک څخه روسته د حمد مسنون کلمات

۴۲۰۳ – [۲۳] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا فَرَغَ مِنْ طَعَامِهِ قَالَ: [۳] " الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي [۴] أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا [۵] وَجَعَلَنَا مُسْلِمِينَ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] وحضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه وايي[۲] چې رسول الله چې به دطعام نه فارغه شو. نو فرمايل به يي[۳] هر قسم تعريف هغه الله لره لائق دي. [۴] چې هغه مونږ ته د خوړلو د پاره راکړل. مونږ ته ئ دڅکلودپاره راکړل. [۵] اومونږ يي مسلمانان جوړ کړو ‹ترمذي ابوداؤد ابن ماجه›

(۱) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأطعمة /باب ما يقول الرجل إذا طعم (رقم-۳۸۵۰) والترمذى فى كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما يقول إذا فرغ من الطعام (رقم-۳۴۵۷) وابن ماجه فى كتاب الأطعمة /باب ما يقال. إذا فرغ من الطعام (رقم-۳۲۸۳) واحمد فى المسند: ۳۲/۳

تسهیلات:

قوله: الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مُسْلِمِينَ:

په جسماني او روحاني نعمت د الله تعريف كول: د حديث حاصل دا دي چه انسان له پكارى دي چه د خوراك څخه روسته د الله تعالى حمد وشكر وكړى

دارنګ چه په جسماني نعمتونه خوراك څخاك باندې د شكر تعليم دي نو روحاني نعمتونو په اسلام وايمان باندې به په طريق اولى د شكر وحمد تعليم دي، او په قرآن كريم كښې ذكر دي چه په شكر سره نعمت زياتيږى لئن شكرتم لازيدنكم.

[۴۲۰۵] د مالدارشكرګذار د روژې په تكليف صبر كونكى سره برابرى

۴۲۰۵—[۳۳] (¹) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "[۳] «الطَّاعِمُ الشَّاكِرُ [۴] كَالصَّائِمِ الصَّابِرِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي [۲] چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۳] په طعام خوړلو سره د الله تعالى شكر اداء كونكي [۴] د صابر روژه دار په شان دي. (ترمذي)

۴۲۰۶—(²) [۱] وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ، عَنْ سِنَانِ بْنِ سَنَّةَ، عَنْ أَبِيهِ.

ترجمه: [۱] ابن ماجه رحمه الله او دارمي رحمه الله دا روايت د سنان بن سنه نه او هغه د خپل پلار نه نقل كړي دي

تسهیلات:

قوله: الطَّاعِمُ الشَّاكِرُ كَالصَّائِمِ الصَّابِرِ:

د شكر درې درجات: ① قولي شكر دا دي چه بسم الله سره خوراك شروع كړي شي او په الحمد الله سره ختم كړي شي او دا د شكر كمه درجه ده،

② عملي شكر دا دي چه د الله تعالى نعمتونه خوړلو نه پس د هغه عبادت اوكړى

③ د نعمتونو په وجه انسان د الله تعالى څخه غافله كيږى او ګناهونه كوى نوچې يو كس د نعمتونو په وجود كښې د الله تعالى د نافرماني څخه خان اوساتى، دا د شكر اعلى درجه ده

د روژه دار درې درجات: ① د روژه دار كمه درجه صبر دا دي چه كومو څيزونو سره روژه ماتيږي د هغې نه خان اوساتى.

② درمياني درجه صبر دا دي چه كومو څيزونو سره روژه مكروه كيږي د هغې نه خان اوساتى،

¹) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى تعجيل اسم المولود (رقم-۲۸۳۲) واحمد فى المسند:۲/۲۸۳

²) اخرجه ابن ماجه فى السنن كتاب الجهاد/باب الاستعانة بالمشركين (رقم-۲۸۳۲) واحمد فى المسند: ۲/۲۸۳

③ اعلی درجه صبر دا دي چه کومو څیزونو سره روژه غیر مقبول کړی د هغې نه ځان اوساتي یعني سر نه واخلي تر خپو پورې د ټولو اعضا روژه پکار ده

د شکرگذار د روژه دار سره د برابرۍ وجه: د ایمان دوه ارکان دي ① شکر ② صبر نیم ایمان شکر دي او نیم ایمان صبر دي

صوفیاء کرام فرمائي چه صبر کونکې روژه دار په ترک د خوراک څخاک سره صبر کوي او خوړنکې شکر گزار په خوراک سره حاصل شده طاقت په ناجائز ځائي کښې نه خرچ کولو سره صبر کوي، هم دغه شان شاکر هم بالواسطه صابر دي

[۴۲۰۷] دڅکاک څخه روسته مسنون کلمات وئیل

۴۲۰۷–[۳۵] ()[١] وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [٢]«كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا أَكَلَ أَوْشَرِبَ[٣]قَالَ: "الْحَمْدُ لِلَّهِ[٤]الَّذِي أَطْعَمَ وَسَقَى،[٥]وَسَوَّغَهُ،[٦] وَجَعَلَ لَهُ مَخْرَجًا» ". رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [١] او حضرت ابو ایوب ﷺ وايي[٢] رسول الله ﷺ چې به خوړل او څکل، [٣] نو فرمایل به یې چې هر قسم تعریف الله ﷻ لره لائق دي،[٤] چې هغه راباندې وخوړل او اوڅکل،[٥] او د هغه خوراك څکاك څیز یې په اسانۍ سره د حلق نه ښکته کړو،[٦] او د هغې د وتلو لار یې پیدا کړه (ابوادؤد)

حل اللغات: ① سَوَّغَهُ: او د هغه خوراك څکاك څیز یې په اساني سره د حلق نه ښکته کړو

تسهیلات:

قوله: أَطْعَمَ وَسَقَى، وَسَوَّغَهُ:

د خوراک څخه طاقت حاصلولو کښې د مختلفو اندامونو کردار: هغه ذات په مونږ باندې خوراک او څخاک وکړلو، او په اسانی سره ئي بدن ته ښکته کړلو، نو مطلب ئي دا شو

① چه د خوراک میدا کولو دپاره ئي په خوله کښې غابښونه راکړي دي او خوراک لوندولو دپاره ئي په خوله کښې توکانړی راکړي دی

② د خوراک اړولو راړولو دپاره ئي ژبه راکړي ده

③ خیټې ته خوراک تللو دپاره ئي حلق راکړي دي

④ معده ئي د خوراک خزانه جوړه کړي ده او مثانه ئي د اوبو خزانه جوړه کړي ده

⑤ اود فضلاتو خارجیدو دپاره ئي کولمې او مقعد پیدا کړی دی

[١] اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأطعمة /باب ما يقول الرجل إذا طعم (رقم-٣٨٥١)

[۴۲۰۸] د خوراک څخه وړاندې او روسته د لاسونه وينځل

۴۲۰۸—[۳۶] (¹) [۱] وَعَنْ سَلْمَانَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «قَرَأْتُ فِي التَّوْرَاةِ [۳] أَنَّ بَرَكَةَ الطَّعَامِ الْوُضُوءُ بَعْدَهُ، [۴] فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -. [۵] فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۶] "بَرَكَةُ الطَّعَامِ الْوُضُوءُ قَبْلَهُ وَالْوُضُوءُ بَعْدَهُ» " رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت سلمان ﷺ وايي [۲] چې ما د اسلام د قبلولو نه مخکې په تورات کې لوستلې وو، [۳] چې په طعام کې د برکت ذريعه د خوراك نه پس اودس کول دي. [۴] د اسلام د قبوليت نه پس يوه ورخ ما د نبي کريم ﷺ په مخکې (د تورات دا مضمون، ذکر کړو [۵] نو رسول الله ﷺ وفرمايل [۶] په طعام کې د برکت ذريعه د خوړلو نه مخکې اودس کول دي، او د خوړلو نه پس اودس کول دي (ترمذی ابوداؤد)

حل اللغات: ① الْوُضُوءُ: اودس، (دلته ترې لاسونه وينځل مراد دی).

تسهيلات:

قوله: قَرَأْتُ فِي التَّوْرَاةِ أَنَّ بَرَكَةَ الطَّعَامِ:

د خوراک څخه وروسته د لاس وينځل: په تورات کښې دَ خوراك نه پس دَ لاسونو وينځل او په خله کښې غرغرې کولو بيان وو. صحابی هغه لوستلې وو نودَ نبی کريم په وړاندې ئی تذکره اوکړه.

قوله: الْوُضُوءُ بَعْدَهُ:

د وضوء څخه مراد: دلته دَ وضونه اصطلاحی دَ مونځ والاوضو يعنی اودس مراد نه دې بلکه دې نه لغوی وضو مراد دې چه صرف لاس وينځل او خله کښې اوبه اچول دی اوهم دغه وضو "مامست النار" دَپاره دې جلد اول کتاب الطهارة کښې دا مسئله په تفصيل سره ليکلې شوې ده

دخوراک څخه وړاندې د لاس وينځل: نبی کريم اوفرمائيل چه دَ خوراك نه مخکښې هم لاس وينځل دی اودَ خوراك نه پس هم دواړه دَ برکت سبب دی لکه چه نبی کريم اشاره اوکړه چه شريعت محمديه کامل مکمل بلکه اکمل دين دې په دې وجه دَ تکميلِ شريعت تقاضا ده چه دَ خوراك نه مخکښې هم لاس وينځل دی او روستو هم لاس وينځل دی

(¹) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأطعمة/باب ما يقول الرجل إذا طعم (رقم-۳۸۵۱) والترمذی فی کتاب الأطعمة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الوضوء قبل الطعام وبعده (رقم-۱۸۴۶) واحمد فی السند: والنسائی فی ۱/۴۴۱

[٤٢٠٩] د خوراك څخه وړاندې د شرعي اودس عدم مسنونيت

٤٢٠٩–[٤٧] (١) [١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - [٢] «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - خَرَجَ مِنَ الخَلَاءِ، [٣] فَقُدِّمَ إِلَيْهِ طَعَامٌ، [٤] فَقَالُوا: أَلَا نَأْتِيكَ بِوَضُوءٍ؟ [٥] قَالَ: "إِنَّمَا أُمِرْتُ بِالْوُضُوءِ إِذَا قُمْتُ إِلَى الصَّلَاةِ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُودَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [١] او د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي [٢] چې ايوه ورځ نبي کريم ﷺ د بيت الخلاء نه واپس راغې، [٣] نو د حضور ﷺ مخې ته طعام راوړل شو. [٤] بعضو صحابه و رضي الله عنهم عرض وکړو چې آيا مونږ تاسو ته د اودس اوبه راوړو؟ [٥] حضور ﷺ وفرمايل چې ماته (د حدث نه پس) د اوداسه کولو حکم (په طريق د وجوب) په دې صورت کښې راکول شوي دي، کله چې زه د مانځه د پاره د ودريدو اراده وکړم (ترمذي ابوداؤد نسائي)

حل اللغات: ① الْخَلَاءِ: بيت الخلاء.

٤٢١٠–(٢) [١] وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ.

ترجمه: [١] او ابن ماجه رحمه الله دا روايت د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه نقل کړې دي

تسهيلات:

قوله: إِنَّمَا أُمِرْتُ بِالْوُضُوءِ إِذَا قُمْتُ إِلَى الصَّلَاةِ:

خوراک څخه وړاندې د شرعي اودس حکم: يعنې اصطلاحي شرعي اودس خو هغه وخت کيږي کله چه سړې د مونځ د پاره اودريږي او اودس ئې نه وي نو دغه وخت اودس فرض دې د خوراك کولو د پاره اصطلاحي اودس لازم نه دې.

اشکال: نبي کريم ﷺ اوفرمائيل چه د اودس حکم صرف د مونځ د پاره دې حالانکه د سجدهٔ تلاوت، د قرآن مسح کولو او طواف وغيره د پاره هم اودس ضروري دې

د اشکال دوه جوابونه: ① د نبي کريم ﷺ دا فرمان د اغلب او اکثر په اعتبار سره دې، قاعده کليه په توګه ئې نه دې فرمائيلې چه صرف مونځ د پاره به اودس کولې شي

② صحابه کرامو به د روټي نه مخکې (وضو شرعي) اودس شرعي ته د وجوب درجه ورکوله نو نبي کريم ﷺ د صحابه کرامو د دې اعتقاد رد کولو په وجه دا ارشاد وفرمائيلو چه روټي خوړلو د پاره د وضو شرعي (اودس شرعي) ضرورت نشته بلکه د وضو عرفي (اودس عرفي) حکم هم استحبابي دې

[1] اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأطعمة/باب في غسل اليدين عند الطعام (رقم-٣٧٦٠) والترمذي في كتاب الأطعمة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في كراهية البيتوتة وفي يده ريح غمر(رقم ١٨٥٩) والترمذي في كتاب الأطعمة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب في ترك الوضوء قبل الطعام (رقم-١٨٤٧) والنسائي في كتاب الطهارة/باب الوضوء لكل صلاة (رقم-١٣٢) واحمد في المسند:٢٨٢/١

[2] اخرجه ابن ماجه في السنن كتاب الأضاحي/باب الذبح بالمصلى (رقم-٣١٦١)

[۳۳] د کاسې د طرفونو څخه خوراک کول

۳۳—[۳۸] ()[۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «أَنَّهُ أُتِيَ بِقَصْعَةٍ مِنْ ثَرِيدٍ. [۳] فَقَالَ: "كُلُوا مِنْ جَوَانِبِهَا [۴] وَلَا تَأْكُلُوا مِنْ وَسَطِهَا: [۵] فَإِنَّ الْبَرَكَةَ تَنْزِلُ فِي وَسَطِهَا»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَه، وَالدَّارِمِيُّ، [۶] وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما د نبي کريم ﷺ نه نقل کوي [۲] چې ايوه ورځ د حضور ﷺ په خدمت کې د ثريد يوه پياله (کاسه) راوړل شوه. [۳] حضور ﷺ (په مجلس کې موجود صحابه و رضی الله عنهم ته) وفرمايل چې د دې پيالې د غاړو نه خورئ. [۴] د دې د مينځ نه يې مه خورئ. [۵] ځکه چې برکت د دې په مينځ کې نازليږي (ترمذي، ابن ماجه، دارمي [۶] ترمذي رحمه الله ويلي دي چې دا حديث حسن صحيح دي.

[۱] وَفِي رِوَايَةِ أَبِي دَاوُدَ، قَالَ: [۲] "«إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ طَعَامًا [۳] فَلَا يَأْكُلْ مِنْ أَعْلَى الصَّحْفَةِ، [۴] وَلَكِنْ يَأْكُلْ مِنْ أَسْفَلِهَا; [۵] فَإِنَّ الْبَرَكَةَ تَنْزِلُ مِنْ أَعْلَاهَا»".

ترجمه: [۱] ود ابوداؤد رحمه الله په روايت کې داسې دي چې حضور ﷺ وفرمايل [۲] هر کله چې په تاسو کې يو سړي طعام خولو ته کيني، [۳] نو هغه ته پکار دي، چې د پيالې د سر نه يې نه خوري. [۴] البته د پيالې د لاندې نه دې خوري. [۵] ځکه چې برکت د پاسه حصه کې نازليږي

حل اللغات: ① قَصْعَةٍ: کاسه. ② ثَرِيدٍ: په خوروا کښې ماته کړې روټۍ. ③ الصَّحْفَةِ: دپاسه حصه

تسهيلات:

قوله: كُلُوا مِنْ جَوَانِبِهَا:

د کاسې د طرفونو څخه خوراک کول: دَ تالی اوپليټ په مينځ کښې دَخوراك زياته حصه وی برکت او دَ طعام ادب دادې چه دَ دغه لوښی حصې دَ اطرافو او جوانبو نه خوراك اوکړې شی دانه چه دَخوراك شروع هم دَ مينځ نه اوکړی اوهغه راؤغورزوی په دې کښې شاړتوب اوشډلتوب اودَ برکت دپاره نقصان هم دې

قوله: فَلَا يَأْكُلْ مِنْ أَعْلَى الصَّحْفَةِ، وَلَكِنْ يَأْكُلْ مِنْ أَسْفَلِهَا:

د اعلی او اسفل صحفه مراد: دَ اعلی رکيبی نه هم دغه پورتنئی حصه مراد ده اودَ اسفل رکيبئی نه دغه لاندينئی حصه او اطراف مراد دی

() اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الأطعمة/باب ما جاء فی الأكل من أعلى الصحفة (رقم-۳۷۷۲) والترمذی فی كتاب الأطعمة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی كراهية الأكل من وسط الطعام (رقم-۱۸۰۵) وابن ماجه فی كتاب الأطعمة/باب النهي عن الأكل من ذروة الثريد (رقم-۳۲۷۷) واحمد فی المسند: ۳۴۳/۱

[۲۲۳] په تکیه وهلو سره د خوراک نه کول

۴۲۲۳—[۴۹] (۱) ① وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: ② «مَا رُئِيَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَأْكُلُ مُتَّكِئًا قَطُّ، ③ وَلَا يَطَأُ عَقِبَهُ رَجُلَانِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت عبدالله ابن عمرو ﷛ وايي ② چې رسول الله ﷺ هیڅ کله په تکیه لګولو سره په طعام خوړلو نه دي لیدل شوي، ③ او حضور ﷺ پسې به دوه سړي هم نه تلل [یعنی څوکیداران یی نه ګرځول] (ابوداود)

تسهیلات: مُتَّكِئًا: ددې لګولوسره خوراك کول دمتکبرینو او متجبرینو عادت دي چه خوراك هم کوی او بې احتیاجی هم ښکاره کوی لکه چه دوی د الله تعالی او د هغه د رزق نه بالکل بې پرواه دي.

قوله: وَلَا يَطَأُ عَقِبَهُ رَجُلَانِ:

د مذکوره جملې مفهوم: یعنی نبی کریم به په خلقونه وړاندې وړاندې ملګرو سره نه تللو بلکه په مینځ کښې به وو کله کله به داسې کیدل چه نبی کریم به بالکل په آخره کښې وو او دوه کسان به هم دهغوی نه شاته نه وو د زیاتوخو څه خبره نه وه او که چرته یوکس به وو نودهغې نفی نه ده لکه چه حضرت انس ﷛ به خان له وو. بهرحال عام معمول او ضابطه نه ده بلکه کله به یوصورت وو اوکله به بل صورت. عقب: پوندې ته وائی مرادترې نه شاته کیدل دی.

[۲۲۴] په جمات کښې د خوراک څکاک حکم

۴۲۲۴—[۵۰] (۲) ① وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ جَزْءٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: ② «أُتِيَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِخُبْزٍ وَلَحْمٍ ③ وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ، ④ فَأَكَلَ وَأَكَلْنَا مَعَهُ، ⑤ ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى، وَصَلَّيْنَا مَعَهُ، ⑥ وَلَمْ نَزِدْ عَلَى أَنْ مَسَحْنَا أَيْدِيَنَا بِالْحَصْبَاءِ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او حضرت عبدالله بن حارث بن جزء وايي ② چې [یوه ورځ] د رسول الله ﷺ په خدمت کې په روټۍ او غوښه مشتمل طعام راوړل شو، ③ کوم وخت چې حضور ﷺ په مسجد کې تشریف فرما وو، ④ د حضور ﷺ سره مونږ هم هغه طعام وخوړلو، ⑤ بیا حضور علیه السلام ودریدلو، او حضور ﷺ مونځ وکړو او مونږ هم ورسره مونځ اداء کړو ⑥ او د دې نه زیات مونږ هیڅ ونه کړل، چې د طعام د فارغیدو نه پس خپل لاس مو په هغه کنکرو (وړو شګو) سره اوچ کړل، کوم چې په مسجد کې پرتې وی (ابن ماجه)

حل اللغات: ① مَسَحْنَا: اومږل مونږ، اوچ مو کړل، ② الْحَصْبَاءِ: نرۍ واړه واړه کانړی

(۱) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأطعمة /باب ما جاء في الأكل متكئا (رقم-۳۷۷۰)
(۲) اخرجه ابن ماجه في السنن كتاب الأطعمة /باب الأكل في المسجد (رقم-۳۳۰۰)

تسهيلات:

قوله: بِخُبْزٍ وَلَحْمٍ وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ، فَأَكَلَ وَأَكَلْنَا مَعَهُ:

په جمات كښې د خوراک د جواز صورتونه: په عاموحالاتوكښې په جمات كښې خوراک كول تيک نه دى البته په بعضې صورتونو كښې جواز لرى خودا هم په دې شرط چه په جمات كښې څه گندگى وغيره خوريدلو احتمال نه وى كه گندگى خوريږى نو بيا خوراك كول حرام يا مكروه دى

① كه چرې مجبورى اوضرورت وى نو په جمات كښې خوراك څښاك جائز دې
② څوك مسافر دې د هغه څه خانى وغيره نشته دې
③ دينى طالبان دى يا د محلې يوسړې دې خو په كوركښې ئى خانى تنگ دې اوهغه مجرد دې يعنى ناواده كړې دې
④ څوك معتكف دې نو د دې خلقو د پاره په جمات كښې خوراك كول جائز دى

[۴۳۳] په غابښو نو سره د غوښې د شوكولو حكم

۴۳۳—[۵۱] (١) [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [٢] «أُتِيَ رَسُولُ اللَّهِ بِلَحْمٍ، [٣] فَرُفِعَ إِلَيْهِ الذِّرَاعُ [۴] وَكَانَتْ تُعْجِبُهُ، [۵] فَنَهَسَ مِنْهَا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوهريره ﷺ وايي [٢] چې [يوه ورځ] د رسول الله ﷺ په خدمت كې پخه يا وريته شوى غوښه راوړل شوه. [٣] د هغې نه حضور ﷺ ته د ليچى غوښه وركړې شوه. [۴] څكه چې د ليچى (لاس) غوښه يې ډيره خوښه وه. [۵] حضور ﷺ د هغې نه په غابښونو سره شوكولو شوكولو سره وخوړله. (ترمذى ابن ماجه)

حل اللغات: ① الذِّرَاعُ : لاس (د چيلئ دمخكښې خپې د پتون غوښه مراد ده) ② فَنَهَسَ : په غابښونوسره ئې رابنكل او وې خوړل

تسهيلات:

قوله: فَرُفِعَ إِلَيْهِ الذِّرَاعُ وَكَانَتْ تُعْجِبُهُ، فَنَهَسَ مِنْهَا

د رسول الله صلى الله عليه وسلم خوښه غوښه: رسول الله ﷺ د دې باوجود چه د مختلفو خايونو غوښه خوړلې ده لكه څنگه چه د وړاندينى روايت نه هم معلوميږى خود روايت الباب نه معلومه شوه چه د رسول الله ﷺ د ټولو نه خوښه غوښه د مټ وه څكه چه په دې كښې مختلف حكمتونه او مصالح وى

---

(١) اخرجه البخارى فى كتاب تفسير القرآن/باب ﴿ذرية من حملنا مع نوح إنه كان عبدا شكورا﴾ [الإسراء: ٣] (رقم-٤٧٠٢) ومسلم فى كتاب الإيمان/باب أدنى أهل الجنة منزلة فيها (رقم-٣٢٧ - (١٩٤)) والترمذى فى كتاب الأطعمة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى أى اللحم كان أحب إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم (رقم-١٨٣٧) وابن ماجه فى كتاب الأطعمة/باب أطايب اللحم (رقم-٣٣٠٧)

دَ مېړ دَ غوښې دَ خوښولو وجوهات: ① دَ مېړ غوښه زر پخيږي اوهغه ثقيل يعني درنه نه وي په دې وجه هضميږي هم کومه چه دَ صحت دَ پاره ډيره مفيده ده اودَ کوم په وجه چه په طبيعت کښې تازه والي او آرام پيدا کيدو سره دَ طاعاتواو عباداتو ډيره موقع ملاويږي
② دا غوښه ډيره ښانسته مزيداره اوښکلې خوندوالا وي رسول الله ﷺ ته به دَ غوښې خوړلو موقع کله ناکله چرته ملاويدله نوچه کله به هم ملاو شوه نوهغه به زر پخه شوه او مخې ته به کړې شوه په دې وجه طبعًا به ئې دَ دې طرف ته رغبت کيدلو
③ دَ دې په خوراک کښې تواضع هم ده ځکه چه دا دَ اعضاء رئيسه نه نه دي اودَ نجاست دَ مواقع نه هم لرې دي دَ دې وجوهاتو په وجه دَ رسول الله ﷺ دَ مېړ غوښه خوښه وه

[۴۲۱۵] په چاړې سره د غوښې کټ کول اوخوړل

۴۲۱۵-[۵۲] (¹)[۱] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهَا - قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«لَا تَقْطَعُوا اللَّحْمَ بِالسِّكِّينِ ;[۳] فَإِنَّهُ مِنْ صُنْعِ الْأَعَاجِمِ،[۴] وَانْهَسُوهُ[۵] فَإِنَّهُ أَهْنَأُ وَأَمْرَأُ» ".[۶] رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ" وَقَالَا: لَيْسَ هُوَ بِالْقَوِيِّ.

ترجمه:[۱] او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل[۲] په چاړې سره غوښه مه پريکوئ. [يعنی په چاړه کټ کولو کټ کولو سره يې مه خورئ][۳] ځکه چې دا د عجميانو طريقه ده،[۴] بلکه غوښه په غاښونو سره شوکولو شوکولو سره خورئ.[۵] ځکه چې غاښونو سره شوکولو سره خوړل زيات لذت ورکونکې او زيات خوش ګوار دي.[۶] دا روايت ابوداؤد رحمه الله او بيهقي رحمه الله په شعب الايمان کې نقل کړې دي، او دواړو ويلي دي چې دا حديث د سند په اعتبار سره قوي نه دي [بلکه ضعيف دي]

حل اللغات: ① صُنْعِ الْأَعَاجِمِ: د عجمی خلقو طريقه، ② انْهَسُوهُ: په غاښونو ئې شوکوئ. ③ أَهْنَأُ: آسان. خوشګوار، ④ وَأَمْرَأُ: خوند کونکې، مزيدار،

تسهيلات:

نوټ: ددې حديث سره متعلقه تشريح دحديث نمبر (۴۱۸۱) په وضاحت کښې تيره شوې ده.

[۴۲۱۶] په بيمارۍ کښې د پرهيز اهميت

۴۲۱۶-[۵۳] (²)[۱] وَعَنْ أُمِّ الْمُنْذِرِ - رَضِيَ اللهُ عَنْهَا - قَالَتْ: [۲] «دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَمَعَهُ عَلِيٌّ [۳] وَلَنَا دَوَالٍ مُعَلَّقَةٌ،[۴] فَجَعَلَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَأْكُلُ وَعَلِيٌّ مَعَهُ يَأْكُلُ،[۵] فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لِعَلِيٍّ:[۶] "مَهْ يَا عَلِيُّ، فَإِنَّكَ نَاقِهٌ "،[۷] قَالَتْ: فَجَعَلْتُ لَهُمْ سِلْقًا وَشَعِيرًا،[۸]

¹) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأطعمة /باب في أكل اللحم (رقم-۳۷۷۸)
²) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الطب /باب في الحمية (رقم-۳۸۵۶) والترمذي في كتاب الطب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء في الحمية (رقم-۲۰۳۷) وابن ماجه في كتاب الأطعمة /باب الخبز الملبق بالسمن (رقم-۳۳۴۲)

فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا عَلِيُّ! مِنْ هَذَا فَأَصِبْ ;[۹] فَإِنَّهُ أَوْفَقُ لَكَ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او بي بي ام منذر انصاريه ﷺ وايي[۲] چې [يوه ورځ] رسول الله ﷺ مونږ کره تشريف راوړو، حضرت علي هم ورسره وو.[۳] هغه وخت زمونږ په کور کې د کجورو وږي زوړند وو.[۴] رسول الله ﷺ د هغې نه خوړل شروع کړل، او حضرت علي هم ورسره خوړل، [۵] رسول الله ﷺ حضرت علي ته وفرمايل[۶] چې اي علي! ته د دې کجورو د خوړلو نه پرهيز وکړه، ځکه چې تاته کمزوري رسيدلي ده، [يعنې ته اوس اوس د بيمارۍ نه راپورته شوی یې، او په تا د ضعف اثر غالب دی، ځکه ستا د پاره پرهيز ضروري دی][۷] بي بي ام منذر ﷺ وايي چې ما د حضور ﷺ او د هغه د ملګرو د پاره چقندر او وربشې تياري کړې وې.[۸] نو رسول الله ﷺ وفرمايل چې اي علي! ته د دې نه خوره.[۹] ځکه چې دا ستا د پاره ډير مفيد او موافق دی. (احمد ترمذي ابن ماجه)

حل اللغات: ① دَوَالٍ: دَدې مفرددالية دې دَ كهجورو كچه او نيم پخته غونچې، ② مَهْ: مه خوره. مه كوه ③ نَاقِهٌ: كمزوری، ④ سِلْقًا: چقندر

تسهيلات:

قوله: فَجَعَلْتُ لَهُمْ سِلْقًا وَشَعِيرًا:

دچقندرو خواص سلقاً په کسرې سره معنی ئې چقندرده دا دَ يوقسم وبنو جرړه ده مشهوره ترکاری ده زمونږ په ملک پاکستان کښې ترې په وافرمقدار سره چينې هم جوړيږی.

داخوړ وی د پيچس او دَ قولنج درد پيداکوی. دَدې مصلح غوښه اومسور دی جلا پيدا کوی دَ پرسوب او بادو دَ پاره محلل دې دَ طبيعت دَ پاره ملين، بلغمی ماده پخه وی نفخ پيدا کوی قليل الغذاء دې پوخ شوې محرک باه دې دَ ګردې درد ګهټيا او رړج دَ پاره نافع دې.

قوله: فَإِنَّهُ أَوْفَقُ لَكَ:

د موافقت وجه: يعنی دا سبزی (چقندر) ستادَ پاره زيات مناسب دی دااستعمالوه. ته اوسه پورې بيمارو پې او صحت ياب شوې كمزوری باقی ده او كهجور ثقيل دی ممكن دی چه هغه نقصانی ثابت شی.

په بيمارۍ کښې د پرهيزکولومسنونيت: د روايت نه معلومه شوه چه حضورپاک دَ پرهيزيه توګه دَ کهجورو استعمال منع فرمائيلې دې او دَ چقندردَ خوړلو حکم ئې کړې دې نوپرهيزکول ثابت شو اوهم دَ دې مقصد دَ پاره امام ترمذی ترجمة الباب قايم کړې دې.

[۴۳۱۷] د نبي عليه السلام د كټونې لاندينۍ تركارۍ خوښول

۴۳۱۷—[۵۴] (¹) ١ وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: ٢ «كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُعْجِبُهُ الثُّفْلُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: ١ او حضرت انس رضي الله عنه وايي ٢ چې د حضور صلى الله عليه وسلم كوبلې (د ديګ په ويخ كې پاتې طعام) ډيرخوښ وو (ترمذي بيهقي)

حل اللغات: ① يُعْجِبُهُ: خوښ ئې وو، ② الثُّفْلُ: دكټوې په ويخ كښې پاتې شوې طعام.

تسهيلات: قوله: يُعْجِبُهُ الثُّفْلُ:

د ثفل خوښولو وجه: په اصل كښې ،،ثفل،، دَ كټوئې په بيخ كښې دَ لګيدلې ځيزنوم دې كوم ته چه ته ديګې هم وائې په هغې كښې دَ سوزيدو معمولې شان اثر هم وي دا مزيدار وي اودَې په خوراك كښې تواضع اوانكسارى هم ده. كبرژن خلق دې ته لاس نه لګوي اودا ته ديګې زيات دَ روژو پخولو كښې كيږي.

[۴۳۱۸] د خوراک نه پس پيالې او پليټ صفا کول د مغفرت او بخشش ذريعه ده

۴۳۱۸—[۵۵] (²) ١ وَعَنْ نُبَيْشَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - عَنْ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ٢ "مَنْ أَكَلَ فِي قَصْعَةٍ فَلَحَسَهَا ٣ اسْتَغْفَرَتْ لَهُ الْقَصْعَةُ". ٤ رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَه، وَالدَّارِمِيُّ. وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ١ او حضرت نبيشه رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه روايت كوي ٢ چې حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل كوم سړي چې د پيالې [يا غاب نه] وخوري او بيا هغه په ګوتو سره وڅټي، ٣ نو هغه پيالې د هغه د پاره استغفار كوي، ٤ (احمد، ترمذي، ابن ماجه، دارمي) او ترمذي رحمه الله ويلي دي دا حديث غريب دي.

حل اللغات: ① قَصْعَةٍ: كاسه، ② فَلَحَسَهَا: په ګوتوسره ئې لوښې اوڅټلو او لوښې ئې صفا كړو.

تسهيلات:

قوله: مَنْ أَكَلَ فِي قَصْعَةٍ فَلَحَسَهَا:

د خوراک نه روسته دلوښي څټل: په كسر ي دَ حاء دَ سمع يسمع نه دَ كوم معنى چه څټل دى دلته مراد پياله څټل اوصفا كول د ى. په دې روايت كښې حبيب پاک عليه الصلوة و السلام دَ خوراک دَ لوښى متعلق يو اهم خبره خودلې ده چه كوم سړې خوراک اوكړي اولوښې بنه صفا كوى نوهغه لوښې دَهغه دَ پاره دَمغفرت دعاكوى.

(¹) اخرجه احمدفى المسند: ٣/ ٢٢٠
(²) اخرجه الترمذى فى كتاب الأطعمة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى اللقمة تسقط (رقم-١٨٠٤) وابن ماجه فى كتاب الأطعمة/باب تنقية الصحفة (رقم-٣٢٧١)

قوله: اسْتَغْفَرَتْ لَهُ الْقَصْعَةُ:

په کاسې په استغفار ویلو کښې دوه اقوال: ① د کاسې استغفار په حقیقت باندې محمول دی
خکه چه داخبره ثابته ده چه هرڅیز د الله تعالی تسبیح بیانوی کما قال تعالی ﴿وَإِنْ مِنْ
شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِ وَلَٰكِنْ لَا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ ۗ إِنَّهُ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا﴾ علامه عینی رحمه الله فرمائی ممکن
دی چه الله تعالی په پیاله کښې داسې تمیز او نطق پیداکړی په کوم سره چه دا د خپلې
صفائی کونکی د پاره مغفرت غواړی بل په بعضې آثار کښې وارد شوی دی چه پیاله
وائی أجرك الله كما أجرتني من الشيطان

② د استغفار نسبت قصعه طرف ته مجازی وی علامه توربشتی رحمه الله اوملاعلی قاری
فرمائی د پیالئی څټل د تواضع علامت او د مغفرت سبب دې نو په دې وجه چه کوم سړې
متواضع وی هغه به د کبر نه لرې وی اوداالله تعالی په نیز به مغفور وی لهذا لحس قصعه
د د د مغفرت سبب دې

[۴۳] د خوب څخه وړاندې د لاس دغوړوالی صفا کولو ترغیب

۴۳—[۵۲] (١) ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ۲ "«مَنْ بَاتَ وَفِي يَدِهِ غَمَرٌ لَمْ يَغْسِلْهُ ۳ فَأَصَابَهُ شَيْءٌ فَلَا يَلُومَنَّ إِلَّا نَفْسَهُ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ کوم سړي چې په
داسې حالت کې شپه تیره کړي، چې د هغه په لاس غوړوالي وي. ۳ چې د خوراک نه پس
هغه نه وي وینځلي. ۴ او بیا هغه ته یو ضرر ورسیږي. ایعنی ضرر رسونکي حیوان چې د
خوراك بوئ یا غوړوالي ته راځي، او هغه ورته ضرر ورسوي) نو هغه دې خپل ځان پخپله
ملامت کړي. اځکه چې غوړ لاس سره اوده کیدل، هغه د دې ضرر سبب پخپله جوړ شوي
دي) ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجه.

حل اللغات: ①بَاتَ شپه تیره کړی. ② غَمَرٌ غوړ والي. ③ فَلَا يَلُومَنَّ نو نه دې ملامته کوی

تسهیلات:

قوله وَفِي يَدِهِ غَمَرٌ لَمْ يَغْسِلْهُ

د خوب څخه وړاندې د لاسولو د وینځلو فائده: رسول الله ﷺ په دې روایت کښې د خوراک کولو
یو بل ادب بیان اوفرمائیلو چه د خوراک کولونه پس د اوده کیدونه وړاندې لاسونه وینځل
پکاردی خکه چه په لاسونو پورې د خوراک بوئ غوړوالې وغیره لګیدلې وی په کوم سره

---

۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأطعمة باب فی غسل الید من الطعام (رقم ۳۸۵۲) والترمذی فی کتاب الأطعمة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم باب ما جاء فی کراهیة البیتوتة وفی یده ریح غمر (رقم-۱۸۶۰) وابن ماجه فی کتاب الأطعمة باب من بات وفی یده ریح غمر (رقم-۳۲۹۷)

چه د موذی ځناور د چیچلو خطره وی

وبدن پاک ساتلو اهتمام: د آداب معاشرت تقاضا هم دغه ده چه لاسونه اووینځلي شی او خله پاکه کړی ځکه چه خلقو سره به ملاقات په وخت کښي مصافحه او ناسته پاسته وغیره کیږی نوچه کله د لاس اوخلې نه بوئی راځی نوخلقوته به تکلیف وی بل د پاکوالی او طهارت تقاضا هم دغه ده

دلاس نه وینځلوکښې د برګی خطره: په طبی لحاظ سره هم خله اولاس وینځل پکاردی چنانچه بعض روایاتوکښي دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه د لاس نه وینځلو په صورت کښي د برص یعنی برګی مرض اندیښنه ده دا روایت امام طبرانی د ابوسعیدخدری رضی الله عنه نه نقل کړي دې دکوم الفاظ چه دادی من بات وفی یده ریح غمر فأصابه وضح أي برص الخ(الحدیث)

قوله: فَأَصَابَهُ شَيْءٌ:

د شي په مصداق کښې اقوال: ① دځیز ځخه مراد ضرری ځناور دې یعنی که دې د لاس وینځلوځخه بغیراوده شی نو کیدې شی چې موذی ځناور به ئې لاس اوچیچی

② دځیزځخه پیریان مراد دی. ځکه چې په روایت کښي شیطان ته حساس لحاس وئیلي شوې دې نودا په حقیقت باندې محمول دی یا مطلب دادې چه هغه موذی ځناور په چیچلو راپاره کوی

قوله: فَلَا يَلُومَنَّ إِلَّا نَفْسَهُ::

دخپل ځان ملامته کولو وجه: ځکه چه کله هغه لاس اونه وینځلو اوچرته ځناور هغه اوچیچلو نودا کوتاهی هم د هغه پخپله ده په دې وجه دې هغه خپل ځان پخپله ملامته کړی

[۴۲۲۰]ثرید د نبی کریم ﷺ ډیر خوښ وو

۴۲۲۰-[۵۷]( )① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: ②«كَانَ أَحَبَّ الطَّعَامِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الثَّرِيدُ مِنَ الْخُبْزِ، وَالثَّرِيدُ مِنَ الْحَيْسِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ①او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما وایي② چه د رسول الله ﷺ د روټئ ثرید او د حیس ثرید د ټولو نه زیات خوښ وو (ابوداؤد)

حل اللغات: ①الثَّرِيدُ: په خوروا کښي ماته کړې روټئ، ②الْحَيْسِ: چواري، غوړی او پنیر نه پخ کړې حلوا.

تسهیلات:

قوله: الثَّرِيدُ مِنَ الْخُبْزِ، وَالثَّرِيدُ مِنَ الْحَيْسِ:

د ثرید دوه قسمونه: ① د روټئ اوخوروا ثرید دې د دې طریقه دا ده چې د روټئ ټکړې په

( ) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأطعمة/باب فی أکل الثرید (رقم-۳۷۸۳)

خوروا کښې ماته کړی او ثرید جوړ کړی او بیا ئې اوخوری

۲ دحیس په نوم ثرید وی دا هغه خوراك ته وائی په کوم کښې چې چوارې غوړی او پنیر وغیره ملاؤ کړی ډیوخانی کولو په شان ئې جوړه کړی

د ثرید د خوبنولو وجوهات:

۱ نبی ﷺ دا خکه خولوچې دواړه زر هضمیدونکی مزیدار اوډ کمې خرچې والا دی.

۲ ما شاه فیصل په کور کښې دا د خوروا ثرید خوړلوځخه روسته دا خبره اوکړه چې ماته شوې روتۍ یعنی کښې خوند زیات وی خکه به نبی کریم ﷺ دا خوښوله نود ژوند ملګرې راته دا خبره هم اوکړه چې کله زه ثرید یعنی ماته شوې روتۍ اوخورم نو زر مړیږم ددې څخه دا هم معلومه شوه چې په دې کښې طاقت زیات وی تاسو به کتلی وی چې طاقت واله څیز سرې زیات نشی خوړې بلکه زر مړیږی.د سیب په خوراک سره د ګډ د غوښې په خوراک سره مړیدل زر کیږی.

[۲۳۳] د زیتون فضیلت

۲۳۳ــ[۵۸] ()۱ وَعَنْ أَبِي أَسِيدٍ الْأَنْصَارِيِّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَـ۲«كُلُوا الزَّيْتَ وَادَّهِنُوا بِهِ; ۳ فَإِنَّهُ مِنْ شَجَرَةٍ مُبَارَكَةٍ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ۱ وحضرت ابو اسید انصاري ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ روغنِ زيتون خورئ، او بدن پرې مالش کوئ، ۳ خکه چې دا د يوې برکت ناکې ونې (زيتون) تيل دي (ترمذي، ابن ماجه، دارمي)

حل اللغات: ۱ الزَّيْتَ: زيتون خوړلې هم شی او په بدن باندې دډې ډ تیلو مالش هم کولې شی

تسهیلات:

قوله: كُلُوا الزَّيْتَ وَادَّهِنُوا بِهِ; فَإِنَّهُ مِنْ شَجَرَةٍ مُبَارَكَةٍ:

د زیتون د ونې برکت: الزیت ډ دې معنی روغنِ زیتون ډ زیتون ونه تر زرو کالوپورې وی دې ته په قرآن کریم اواحادیثو کښې مبارکه ونه ونیلې شوې ده ډ الله تعالی ارشاد دې ﴿يُوقَدُ مِنْ شَجَرَةٍ مُبَارَكَةٍ زَيْتُونَةٍ لَا شَرْقِيَّةٍ وَلَا غَرْبِيَّةٍ﴾ [سورة نور: ۳۵] په حدیث کښې هم دې آیت طرف ته اشاره ده خکه چه دا ډیر منافع لری اوالله تعالی دا په داسې زمکه باندې پیدا کړې ده په کومه کښې چه الله تعالی ډ ټول عالم ډ پاره برکت ایخودې دې یعنی ډ شام ملک خکه چه هلته لوئ لوئ پیغمبران علیهم السلام مثلاً ابراهیم علیه السلام غوندې حضرات مبعوث شوی دی اوهغوی ډ دې ونې څخه فائده اخستې ده

---

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الأطعمة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی أکل الزیت (رقم-۱۸۵۲) واحمد فی المسند: ۴۹۷/۳

دَزیتون دَ استعمال ترغیب ورکولووجه: رسول الله ﷺ د روټنی سره د خوړلو او په بدن باندې دَ استعمالولو ترغیب دَ دې دَ پاره ورکړو چه دا دَ برکتی کیدو سره سره ډیر مزیدار تیل هم دی په بدن کښې طاقت او خوشبوپیداکوی بل دې سره په بدن کښې غوړوالې پیداکیږی او دَ ډیرو بیمارو دَ پاره شافی دی کلوالزیت دې نه مراد روټنی سره خوړل دی ادهنوا به ماخوذ من الادهان صیغه دَ امر ده دَ کوم معنی چه استعمال دهن دې یعنی دا استعمالونی هم

د زیتون خواص: ① حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی په زیتون کښې ډیرې فائدې دی دَ دې تیل په چراغونوکښې بلولې شی

② دادَ ترکارئی په ځای کارورکوی

③ دَ دې تیل په بدن باندې مږلې شی

④ دَ دباغت په کارکښې هم دا په کارراوستلې شی

⑤ دَ دې لرګی او پوستکی هم سوزولې شی.

په زیتون کښې یوداسې څیز نشته چې په کاربه نه راځی تردې چه دَ دې په ایرې سره ریښم وینځلې شی

⑥ په دنیاکښې دَ ټولونه ړومبې راټوکیدلې ده

⑦ دَ طوفان نوح نه پس په دنیاکښې دا ونه دَ ټولونه اول په وجود کښې راغلې ده

⑧دَ انبیاء علیهم السلام په منازل او مقدس زمکوکښې دا په کثرت سره راټوکیږی

⑨ اویا پیغمبرانو علیهم السلام دَ دې پاره دعاکړې ده تردې چه حضرت ابراهیم علیه السلام اونبی کریم ﷺ هم دَ دې دَ پاره دعاکړې ده رسول الله ﷺ فرمائیلی دی اللهم بارك في الزيت والزيتون

⑩ دا د میوه یعنی دَتفکه په توګه خوړلې شی

⑪ دا داسې تیل دی چه دَ دې دَ ویستلودَ پاره دَ مشین یا څرخئ وغیره ضرورت نه وی پخپله دَ دې دَ میوې نه راؤځی

⑫ زیتون په بدن کښې ګرمی پیداکوی

⑬ زیتون متیازې راولی کانړې ماتوی او راؤباسی ئ

⑭ زیتون دَ خُلې د اوری اونورو اندامونه مضبوطوی

⑮ زیتون خوله جاری کوی کوم چه دَ بدن دَ پاره مفید دی

[۴۲۲۲] د سرکي فضیلت

۴۲۲۲-[۵۹] ()[۱] وَعَنْ أُمِّ هَانِئٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: [۲]«دَخَلَ عَلَيَّ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -[۳] فَقَالَ: "أَعِنْدَكِ شَيْءٌ؟" [۴]قُلْتُ: لَا، إِلَّا خُبْزٌ يَابِسٌ وَخَلٌّ. [۵]فَقَالَ: "هَاتِي [۶]" مَا أَقْفَرَ بَيْتٌ مِنْ أُدْمٍ فِيهِ خَلٌّ» ". [۷]رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱]او بي بي ام هاني رضي الله عنها (د ابو طالب لور او د حضرت علي خور) وايي[۲] چې ايو ورځ نبي كريم ﷺ زما كور ته تشريف راوړو،[۳] حضور ﷺ زما نه پوښتنه وكړه چه د خوراك د پاره تا سره څه شته؟[۴] ما اوويل د وچې روټۍ او سركي نه علاوه نور هيڅ نشته. [۵] حضور ﷺ وفرمايل چې هغه راوړه، [۶] هغه كور د سالن نه خالي نه دي چې په هغې كې سركه وي.[۷] امام ترمذي رحمه الله دا روايت نقل كړي دي او وېلي يې دی چې دا حديث حسن غريب دي

حل اللغات: ① مَا أَقْفَرَ: محتاجه نه دی ② أُدْمٍ: سالن، ③ خَلٌّ: سركه

تسهيلات:

قوله: مَا أَقْفَرَ بَيْتٌ مِنْ أُدْمٍ فِيهِ خَلٌّ:

د ما اقفر لغوى تحقيق: قفار هغه زمكې ته هم وائی چه خالی وی اوپه هغې كښې واښه او اوبه وغيره نه وى فيه خل دا دَ بيت صفت دي اومعنى ده اي ماخلامن الادام ولاعدم اهله الادام

لفظى اشكال: دلته يو لفظى اشكال دادي چه لفظ بيت موصوف دي اوفيه خل صفت دي حالانكه دَموصوف اوصفت په مينځ كښې من ادم دَ اجنبى فصل راغلي دي كوم چه ناجائز دي

داشكال درې جوابونه:

① ملاعلى قارى فرمائى چه ممكن دى چه دا اووئيلې شى چه فيه خل حال دي صفت نه دي

② دَموصوف او صفت په مينځ كښې فصل جائز دي.

③ حافظ ابن حجر رحمه الله دا جواب وركړي دي چه من أدم په هراعتبارسره اجنبى نه دي خكه چه څنګه اقفر په بيت كښې عامل دي دغه شان دَ دي په صفت كښې هم عامل دي اودَ دي په منيځ كښې په من ادم كښې هم عامل دي. نودَ اقفر دريواړه معمول دى نوهغه اجنبى پاتې نه شو

د حديث فوائد: ① رشته دارانواو دوستانوكره تلل راتلل پكار دى

② رشته دارانواو دوستانو ته بې تكلفه دَضرورت اظهار كول معلوم شو كوم چه جائز امر دي

③ رشته دارانواو دوستانو له پكاردى چه كوم څيز حاضر وى بې تكلف ميلمه په اجازت وراندې دې پيش كړي

() اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الأطعمة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الخل (رقم-۱۸۴۱)

④ سرکه د ترکاري قائم مقام ده

⑤ په کوم کور کښې سرکه وی نو هغې ته به دانه شی وئیلې چه دغه کور دَ سالن نه خالی دې

نوټ: د سرکې سره متعلق مزید بحث د حدیث نمبر (۴۱۸۳) په شرح کښې تیرشوې دې.

[۳۲۲۳] قجورې د ترکارۍ په ځاې

۴۲۲۳—[۲۰] ()① وَعَنْ يُوسُفَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَلَامٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: ②«رَأَيْتُ النَّبِيَّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَخَذَ كِسْرَةً مِنْ خُبْزِ الشَّعِيرِ، ③فَوَضَعَ عَلَيْهَا تَمْرَةً، فَقَالَ: ④ "هَذِهِ إِدَامُ هَذِهِ" وَأَكَلَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت یوسف بن عبدالله ابن سلام ﷺ وایي② چی (یوه ورځ) نبي کریم ﷺ د وریشو د روټۍ یوه ټکړه واخسته③ او په هغې یې کجوره ایخودلو سره وفرمایل ④چې دا کجوره د دې روټۍ د ټکړې سالن دي، اوهغه ئې اوخوړله (ابوداؤد)

حل اللغات: ① كِسْرَةً: ټکړه، حصه.

تسهیلات:

قوله: أَخَذَ كِسْرَةً مِنْ خُبْزِ الشَّعِيرِ، فَوَضَعَ عَلَيْهَا تَمْرَةً

دنبی علیه السلام کفایت شعاری: ددې حدیث څخه معلومه شوه چې نبی کریم ﷺ په دنیا کښې د زهد اوغریبۍ ژوند تیر کړې دې چې څه به هم ورته ملاؤ شو په هغې به ئې شکر ویستلو، اوپه خپل عمل سره ئې خپل امت ته هم د کفایت شعارۍ تعلیم ورکړو چې تاسو ته په هر وخت کښې دالله تعالی څخه راضی اوسیدل پکار دی په تنعم اودنیاوی لذاتو کښې مه مشغوله کیږئ.

[۳۲۲۴] د غیر مسلم داکټر څخه دعلاج کولو جواز

۴۲۲۴—[۲۱] ()① وَعَنْ سَعْدٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: ②«مَرِضْتُ مَرَضًا أَتَانِي النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَعُودُنِي، ③فَوَضَعَ يَدَهُ بَيْنَ ثَدْيَيَّ ④حَتَّى وَجَدْتُ بَرْدَهَا عَلَى فُؤَادِي، ⑤وَقَالَ: "إِنَّكَ رَجُلٌ مَفْئُودٌ، ⑥ ائْتِ الْحَارِثَ بْنَ كَلَدَةَ أَخَا ثَقِيفٍ ⑦ فَإِنَّهُ رَجُلٌ يَتَطَبَّبُ، ⑧فَلْيَأْخُذْ سَبْعَ تَمَرَاتٍ مِنْ عَجْوَةِ الْمَدِينَةِ، ⑨فَلْيَجَأْهُنَّ بِنَوَاهُنَّ، ⑩ثُمَّ لِيَلُدَّكَ بِهِنَّ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت سعد ﷺ وایي② چې یو خل زه ډیر سخت بیمار شوم، نو نبي کریم ﷺ زما پوښتنې ته تشریف راوړو، ③ حضور ﷺ [هغه وخت] زما د دواړو تینو په منځ کې (یعني په سینه) خپل لاس مبارک کیخودو، ④ چې د هغې یخوالي ما په خپل زړه کې محسوس کړو، ⑤ بیا حضور ﷺ وفرمایل چې ته یو داسې سړي یې چې د زړه په درد کې

---

[۱] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأطعمة /باب فی التمر (رقم-۳۸۳۰)

[۲] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الطب /باب فی تمرة العجوة (رقم-۳۸۷۵)

مبتلا یې ایعني ته د زړه مریض یې[٦] نو ته حارث بن کلده ته ورشه، چې د قبیلهٔ ثقیف سره تعلق لري.[٧] ځکه چې هغه سړي طب (علاج او معالجه کول) پیژني.[٨] هغه ته پکار دي، چې هغه د مدینې د تولونه اعلې قسم عجوه کجورو نه اووه کجوري واخلي.[٩] بیا هغه د هډوکو سره وټکوي[١٠] او د دې نه پس هغه (د دوا په صورت کې) ستا په خُله کې واچوی (ابوداؤد)

حل اللغات: ① مَفْئُودٌ: دا دَ فؤادنه دې دَ زړه مریض ته وائی. لکه چه نبی کریم صحیح تشخیص اوکړلو چه ته دَ زړه مریض نې ② یَتَطَبَّبُ: هغه دَ طبابت په کارکښې ماهر دی ③ فَلْیَجَأْهُنَّ: وجا دَ یوجاء نه دې ماتولو او ټکولو په معنی کښې دې ④ بِنَوَاهُنَّ: دَ نواة جمع ده دکهجورې هډوکی ته وائی ⑤ لِیَلُدَّكَ: دَنصر ینصرنه لدوداً هغه دوائی ته وئیلې شی چه دَ په خلې په ذریعه په مریض باندې خوړلې شی.

تسهیلات:

قوله: اَلْحَارِثُ بْنُ كَلَدَةَ:

د حارث تعارف: دا دَ عربو مشهور حکیم وو دَ کوم تعلق چه بنو ثقیف سره وو.

قوله: فَإِنَّهُ رَجُلٌ يَتَطَبَّبُ:

د غیر مسلم ډاکټر څخه د علاج حکم: دَدې حدیث نه دا معلومه شوه چه دَ غیرمسلم حکیم او ډاکټر نه علاج کول او هغه له تلل جائزدی. په دې حدیث کښې دَ فلیأخذ نه تر آخره پورې دَ غائب ټول ضمائر دَ طبیب طرف ته راګرځی

قوله: فَلْيَأْخُذْ سَبْعَ تَمَرَاتٍ مِنْ عَجْوَةِ الْمَدِينَةِ:

اشکال: نبی علیه السلام حضرت سعد رضی الله عنه ته اول دَ حکیم تللو مشوره اوکړه او بیائی پخپله دوائی تجویز کړه او بیائی دَنسخې جوړولو کار حکیم ته حواله کړو داسې ئی ولې اوکړه؟

د اشکال جواب: نبی کریم صلی الله علیه وسلم اول حضرت سعد رضی الله عنه ته حکیم له دَتللو مشوره ورکړه لیکن بیا نبی کریم ته دَ نسخې علم اوشوچه دَ زړه دَ بیماردپاره دانسخه آسانه او فائده ورکونکې ده نونبی کریم نسخه ورتجویز کړه، د دې دَ پاره چه حکیم هغه دَ ډیرو زیاتو جررو بوټو په چکر کښې وانه چوی. بیا نبی کریم دَنسخې ترکیب او معجون جوړولو کار په حکیم باندې پریخودو ځکه چه هغه په دې کښې ماهروو او دَهغه پیشه وه

تنبیه: عَجْوَةِ الْمَدِينَةِ: معلومه شوه چه دَدې نسخې دپاره دَمدینې عجوه ضروری ده.

په مذکوره نسخه د زړه د مریض علاج: په اخباراتو. بعضې کتابونو او فیس بک وغیره کښې د دې نسخې تشهیرهم شوې دې او چا چې دا استعمال کړې ده هغوی د خپلې تجربې په بنیاد ددې نسخې افادیت خودلې دې نو که څوک د زړه بیمار وی هغه دې دا نسخه استعمال کړی انشاء الله د زړه بند رګونه به ئې الله تعالی خلاص کړی

[۴۲۲۵] خربوزه د کجورو سره خوړل

۴۲۲۵-[۶۲] (¹)[۱] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا -[۲] «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ يَأْكُلُ الْبِطِّيخَ بِالرُّطَبِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. [۳] وَزَادَ أَبُو دَاوُدَ: وَيَقُولُ: [۵] "«يُكْسَرُ حَرُّ هَذَا بِبَرْدِ هَذَا [۶] وَبَرْدُ هَذَا بِحَرِّ هَذَا»". وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] او د بي بي عائشه رضي الله عنها نه روايت دي[۲] چې نبي كريم ﷺ به خربوزه د تازه كجورو سره خوړله (ترمذي)[۳] او ابوداؤد رحمه الله په دې روايت كې دا الفاظ هم نقل كړي دي، او حضور ﷺ به دا هم فرمايل [۵] چې د كجورې ګرمي د خربوزې يخوالې ماتوى،[۶] او د خربوزې يخوالې د كجورو ګرمي ماتوى او ترمذي رحمه الله ويلي دي چې دا حديث حسن غريب دي.

حل اللغات: ① الْبِطِّيخَ: تربوز. ② الرُّطَب: تازه كجوره. ③ يُكْسَرُ: ماتوى، ختموى.

تسهيلات:

قوله: كَانَ يَأْكُلُ الْبِطِّيخَ بِالرُّطَبِ:

د بطيخ په تفسير كښې دوه اقوال: ① معنى د خربوزه، حضرت ګنګوهى رحمه الله دا راجح ګرځولې ده اوفرمائى چه كوموخلقو دَ بطيخ تفسير په تربوز سره كړې دې هغه غلط دې اوكيدې شى چه دَ غلطئى منشاء دا وى چه دَ ابوداؤد په روايت كښې دا اقع شوى دى چه دَ دې په يخوالى سره به دَ كهجورې ګرمى ختمه شى اوتربوز يخ وى نه چه خربوزه حالانكه په روايت كښې دا مراد نه دې نوچه څنګه تربوز يخ وى دغه شان خربوزه هم يخه وى

② دَ ملاعلى قارى ميلان په شرح شمائل كښې دادې چه دَ بطيخ نه دلته مراد تربوز دې اودَ نورو شراحو ميلان هم دې طرف ته دې. خوحافظ دَ بطيخ تفسير په خربوزه سره كړې دې لكه څنګه چه دَ ګنګوهى رحمه الله رائې ده دَ اهل لغت موافقت هم په دې كښې دې صاحب دَ محيط اعظم هم دَ بطيخ تفسير په خربوزه سره كړې دې.

د خربوزې خواص: ① خربوزه دَ ګردې دَ پاره مصلح دَ متيازو راوستونكې مولدلين دې دَ كانړى دَ پاره نافع

② خربوزه دَ زيړى دَ پاره دافع دې. غوټې كولاووى دَ دې دَ پوستكو ليپ (اوبو وغيره كښې اچول او په مك مږل) دَ مخ ګونجى لرې كوى

③ خربوزه د ګرمى تيزى، صفراء وينې اودَ تندې دَ پاره دَ آرام سبب دې. متيازې راوستونكې دي

¹) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأطعمة/باب فى الجمع بين لونين فى الأكل (رقم-۳۸۳۶) والترمذى فى كتاب الأطعمة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى أكل البطيخ بالرطب (رقم-۱۸۴۳)

④ دَ گرمئی دَ تبې دَ پاره نافع دې او دَ دې او به دَ گرم مزاج والا دَ پاره نافع دی
⑤ دیروخت پس هضمیږی په کومه ورځ چه اوریږي او خوري په هغه ورځ خربوزه مه خوره خکه چه مضر دې.

دَ خربوزې او لوندې (تازه) قجورې یوځائې خوړلوحکمت: نبی کریم ﷺ کهجورې او تربوز دواړه یوځائې خوړلی دی. خکه چه دواړه یوځائې کړې شی نوخوږیږی او دَ خربوزې پیکه والې ختمیږی. بل خربوزه یخه او کهجوره گرمه وی دَ دواړو ملاوولوسره معتدل شی چه دَ گرم مزاج دَ پاره مفید دی. امام طبرانی او ابونعیم دَ رسول الله ﷺ کهجوره او خربوزې خوړلو کیفیت دَ حضرت انس رضی الله عنه نه نقل کړې دې چه ما رسول الله ﷺ اوکتلو چه کهجوره او خربوزه ئی په یوځائې کړې او خوړلې ئی.

یوه طبی ضابطه: علامه خطابی فرمائی دې روایت سره دَ طب اوعلاج هم ثبوت کیږی او داهم معلومه شوه چه دَ مضار څیز مقابله دې دَ هغې په ضد سره اوکړې شی دې دَ پاره چه اعتدال پیداشی. طبیبان حضرات چه کله معجون جوړوی نو دَ هغې دَ مفرداتو جدا جدا خواص وی خوچه کله دا یوځائې کړې شی نوهغه دَ یوبل دَ پاره مصلح جوړیږی او یو خاص قسم معجون په اعتدال سره تیار شی کوم چه دَ امراضو دَ پاره ډیر فائده ورکونکې وی. نو لکه چه دَ روایت نه دَ معجون جوړولو ثبوت هم معلوم شو.

[۴۲۳۳] د قجورو وغیره څیزو نود ننه حصه لټولو مسنونیت

۴۲۳۳—[۲۳] (¹) ① وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: ② «أُتِيَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِتَمْرٍ عَتِيقٍ ③ فَجَعَلَ يُفَتِّشُهُ وَيُخْرِجُ السُّوسَ مِنْهُ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت انس رضی الله عنه وایې ② چې یوه ورځ د نبي کریم ﷺ په خدمت کې پخواني (زړې) کجورې راوړل شوې (چې هغې چینجي کړي وو) ③ حضور ﷺ به هغه شلولې او د هغې نه به یې چینجي غورځول (ابوداؤد).

حل اللغات: ① عَتِيقٍ: زړې کهجورې. ② يُفَتِّشُهُ: تفتیش به ئې کولو، لټولې به ئې، ③ السُّوسَ: چینجی (کوم چه په میوو یا سبزیانو کښې کیږی).

تسهیلات:

قوله: وَيُخْرِجُ السُّوسَ مِنْهُ

د قجورومینځ لټول: په میوو کښې بعضې وخت چینجی کیږی او په خوراك کښې سرې ته پته نه لگی. دَنبی کریم په یو حدیث کښې دی چه "دودالثمرکالثمر" دا دَدې خبرې طرف ته اشاره ده

¹) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأطعمة/باب فی تفتیش التمر السوس عند الأکل (رقم-۳۸۳۲) وابن ماجه فی کتاب الأطعمة/باب تفتیش التمر (رقم-۳۳۳۳)

چه میوه نجس کیږي نه لهذا که چا په غفلت کښې د چینجي سره میوه اوخوړله نو حرج نشته دې

دچینجي لور خوړلو څخه پس دهغې د خوراک جواز: په زیربحث حدیث کښې دومره خبره ده چه نبي کریم د کهجورونه چینجي صفا کړل او کهجورې ئې استعمال کړې دی د کوم نه چه دَدې قسم کهجورو دَ استعمال جواز معلومیږي

[۴۲۲۷] د پنیر (چُسته) د خوراک حلت

۴۲۲۷-[۶۳] (¹) [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: [۲] «أُتِيَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِجُبْنَةٍ فِي تَبُوكَ، [۳] فَدَعَا بِالسِّكِّينِ، فَسَمَّى وَقَطَعَ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عمر رضي الله عنهما وايي [۲] چې د غزوهٔ تبوک په دوران کې (په يوه موقعه) د نبي کريم ﷺ په خدمت کې د پنير يوه ټکړه راوړل شوه. [۳] نو حضور ﷺ چاړه را وغوښته او په بسم الله ويلو سره يې هغه پريکړله (ابوداؤد)

حل اللغات: ① جُبْنَةٍ: دَ پنیرټکړې ته وائی په نون باندې شد هم لوستلې شوې دې او بغیر دَ شد نه هم دې

تسهیلات:

قوله: فَسَمَّى وَقَطَعَ:

د لرې د پاکوالی دلیل: علامه مظهر رحمه الله فرمائي چه دا حدیث په دې دلالت کوي چه چسته یعني اوبښ یا بیزې د بچي لرې پاک دې خکه چه که چرې لرې ناپاک وی نو پنیر به هم ناپاک وې او ددې نه بغیر پنیر نه جوړیږي

[۴۲۲۸] په څیزونو کښې د اصل په اعتبار سره حلت

۴۲۲۸-[۶۵] (²) [۱] وَعَنْ سَلْمَانَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «سُئِلَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنِ السَّمْنِ وَالْجُبْنِ وَالْفِرَاءِ، [۳] فَقَالَ: "الْحَلَالُ مَا أَحَلَّ اللّٰهُ فِي كِتَابِهِ، [۴] وَالْحَرَامُ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ فِي كِتَابِهِ، [۵] وَمَا سَكَتَ عَنْهُ فَهُوَ مِمَّا عَفَا عَنْهُ» ". [۶] رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. وَمَوْقُوفٌ عَلَى الْأَصَحِّ.

ترجمه: [۱] او حضرت سلمان رضي الله عنه وايي [۲] چې د رسول الله ﷺ نه د غوړو، پنير او پوستين اخرمن(ايا ګور خر (خنګلي خره) باره کې پوښتنه وشوه (چې دا څيزونه حلال دي که حرام دي؟) [۳] نو حضور ﷺ وفرمايل چې (د حلت او حرمت په سلسله کې دا اصول په نظر کښې ساتئ) حلال هغه شي دي، کوم چې الله تعالی په خپل کتاب کې حلال ګرځولي دي [يعني

¹) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأطعمة /باب أكل الجبن (رقم-۳۸۱۹)
²) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب اللباس عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی لبس الفراء (رقم-۱۷۲۶) وابن ماجه فی كتاب الأشربة /باب النهی عن الخليطين (رقم-۳۳۹۷)

د هغه حلال كيدل په قرآن كريم كی بيان شوي وي[۴] او حرام هغه شي دي چې الله تعالیٰ په خپل كتاب كې حرام كړي دي.[۵] او د كوم څيز نه يې چې سكوت (خاموشي) فرمايلې ده ايعني كوم څيز يې چې نه حلال فرمايلي دي او نه حرام] هغه د دې قسم نه دې چې معاف شوي دي. [يعنی د هغې استعمالول يې مباح كړي دي][٦] دا روايت ابن ماجه رحمه‌الله او ترمذي رحمه‌الله نقل كړي دي، او ترمذي رحمه‌الله ويلي دي چې دا حديث غريب دې. ليكن زياته صحيح خبره دا ده چې دا حديث موقوف دي

حل اللغات: ① السَّمن: غوړی. ② الجُبْن: پنير. ③ الفِرَاء: ځنګلی خر. يا څرمن

تسهيلات: **قوله:** الْفِرَاءِ:

د فراء په مصداق كښې دوه اقوال: ① بعضې شارحينو الفراء دَ فرو جمع ګرځولې ده كوم چه پوستين په معنى كښې دې. په دې صورت كښې سوال څكه اوكړې شو چه دَ څرمن نه به كافرانو پوستين تيارولو نوكيدې شی چه دَمردارې څرمن وی

② عامو شارحينو ليكلى دى چه الفراء دَ فاء په كسرې اومد سره جمع دې اوالفراء دَ ف فتحې سره مفرد دې. ځنګلی خر حمار وحشى زيبرا ته وائى دَدې دَ حلال اوحرام كيدو باره كښې دَ سوال ضرورت وو.

قوله: وَمَا سَكَتَ عَنْهُ فَهُوَ مِمَّا عَفَا عَنْهُ:

په څيزونو كښې د اباحت اصليت: نبى كريم صحابه دَ زياتو سوالونو كولو او تجسس اولټون نه منع كولو سره اوفرمائيل دَ حرام څيزونو اوحلال څيزونو تذكره په قرآن اوحديث كښې راغلې ده لكه چه ﴿وَمَآ اٰتٰىكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰىكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا﴾ [سورة الحشر: ٦] اودكومو څيزونو نه چه قرآن اوحديث خاموش دې هغه مباح دى. دَدې حديث نه فقهاؤ دا ضابطه راويستې ده چه په څيزونو كښې اصل اباحت دې دَ حرمت او دَحلت حكم ثانوى امر دې

[۳۳۳۹] د بنده د خوراك خواهش كولو جواز

> ۳۳۳۹-[٦٦] ([1]) [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] «وَدِدْتُ أَنَّ عِنْدِي خُبْزَةً بَيْضَاءَ سَمْرَاءَ [۳] مُلَبَّقَةً بِسَمْنٍ وَلَبَنٍ" [۴] فَقَامَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ فَاتَّخَذَهُ، فَجَاءَ بِهِ [۵] فَقَالَ: "فِي أَيِّ شَيْءٍ كَانَ هَذَا؟" [٦] قَالَ: فِي عُكَّةِ ضَبٍّ. [۷] قَالَ: "ارْفَعْهُ». [۸] رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ. وَقَالَ أَبُو دَاوُدَ: هَذَا حَدِيثٌ مُنْكَرٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عمر رضي الله عنه وايي چې [يوه ورځ] نبي كريم صلى الله عليه وسلم [په مجلس كې] وفرمايل [۲] زه خوښوم چې زما په مخې ته سپين رنګ د غنمو روټی وي،[۳] چې هغه په غوړو او شودو كې لونده شوي وي [۴] (په دې اوريدو سره) د جماعت نه يو سړي پاڅيدو، او

[1] اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الأطعمة/باب فی الجمع بين لونين من الطعام (رقم-۳۸۱۸) وابن ماجه فی كتاب الأطعمة/باب الخبز الملبق بالسمن (رقم-۳۳٤۱)

لاړلو او مذکوره روټئ یې تیاروللو سره راوړله.[۵] حضور ﷺ د هغه په لیدو سره وفرمایل چې دا روټئ چې غوړې ورته لګیدلي دي، په کوم لوښي کې وو؟[۶] هغه اوویل چې د سمساري د څمڼ په کیپي کې وو.[۷] حضور ﷺ وفرمایل چې زه دا نه خورم. دا زما د مخې نه لرې کړه [۸] ابوداؤد ابن ماجه، او ابوداؤد رحمه الله ویلي دي چې دا حدیث منکر دي

حل اللغات: ①وَدِدْتُ: خوښوم ②خُبْزَةٌ بَيْضَاءُ: سپینه روټئ. ③سَمْرَاءُ: غنم. ④مُلَبَّقَةٌ: د باب تفعیل نه د اسم مفعول صیغه ده ګډ وډکول او نرم جوړول. ⑤سَمْنٌ: غوړي. ⑥ عُكَّةٌ: دڅرمن کوپئ، لوښي. ⑦ضَبٌّ: سمساره.

تسهیلات: قوله:خُبْزَةٌ بَيْضَاءُ

د خبزه بیضاء معنی: یعنی د سرو غنمو سپینه روټئ وی په پینواو غوړو کښې خوشته وی د نه سرو غنمو اوړه سپین وی خلق نن صبا په اشتهارونوکښې لیکی د سرو په شان غنم او د چندنی په شان اوړه

قوله: قَالَ: "ارْفَعْهُ:

دحدیث مفهوم: سیدنا ابن عمر رضی الله عنهما فرمائی چه رسول الله ﷺ یو ورځ دا خواهش ښکاره کړو چه که ما سره د سپینو اوربشو ډوډئ وې په پیواو غوړو کښې ګډه شوې نو څومره به ښه وې، په دې باندې یو صحابی رضی الله عنه اودریدلو او هم د دې قسم یو ډوډئ ئې راوړله رسول الله ﷺ اوفرمائیل دا کوم غوړی چه په دې پورې دی دا په څه کښې وو؟ (قال فی عكة ضب) هغه جواب ورکړو چه د ضب په څرمن کښې رسول الله ﷺ اوفرمائیل دا ډوډئ زما د مخې نه اوچته کړئ او هغه ئې نه او نه خوړله

د سمسارې حرمت: په بذل کښې د حضرت ګنګوهی رحمه الله د تقریر نه نقل کړې دی چه د دې حدیث نه د سمسارې عدم جواز په فهم کښې راځی ځکه چه که هغه حلال وې نو رسول الله ﷺ به د هغه خوراک د خوړلو نه انکار نه کولو او که څوک دا سې اوائی د شوافعو د طرف نه چه هغوی داسې د طبعی تنفر د وجهې اوکړل نه د عدم حل د ضب د وجهې نو د هغه جواب دا دې چه دا توجیه صحیح نه ده ځکه چه د ضب د څرمنې هیڅ اثر په غوړو کښې نه وو (والحدیث اخرجه ابن ماجه، قاله المنذری)

[۴۲۳۰] د کچه اوږې د خوړلو ممانعت

۴۲۳۰-[۱۴] (۱)[۱] وَعَنْ عَلِيٍّ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲]«نَهَى رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَنْ أَكْلِ الثُّومِ[۳] إِلَّا مَطْبُوخًا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

---

(۱) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الأطعمة/باب فی أكل الثوم (رقم-۳۸۲۸) والترمذی فی كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب أنس بن مالك رضی الله عنه (رقم-۳۸۲۸)

ترجمه: [۱] او د حضرت علي رضي الله عنه نه روايت دي [۲] چې رسول الله ﷺ د اوږې د خوړلو نه منع وفرمايله، [۳] خو هغه وخت جائز ده چې پخه شوې وي. (ترمذي ابوداؤد)

حل اللغات: ① الثُّوم: اوږه

تسهيلات: **قوله:** عَنْ أَكْلِ الثُّومِ إِلَّا مَطْبُوخًا:

داوږې (لهسن) د خوراک په حکم کښې مذاهب:

① علامه عيني د ظاهريه نه ددې سبزيانو مطلقًا حرمت نقل کړې دې.

② جمهور علماء فرمائي چه جمات ته د داخليدو په وخت اوږه پياز او داسې نورې سبزې په کوم کښې چه بوئي راځي د هغې خوړل مکروه تحريمي دی.

خو داسې (۱) مريض د چا د پاره چه د پياز استعمال ضروري وی د هغه په حق کښې د پيازو استعمال بغير د کراهته صحيح دې.

داول فريق دلائل: اول فريق په خپله مدعا باندې د هغه مختلفو رواياتونه استدلال کړې دې په کوم کښې چه حضورپاک ﷺ د اوږې او پيازو خوړونکی جمات ته د راتلو نه منع فرمائيلې دې د رواياتو مختلف الفاظ داسې مروی دی فلا يقربنا مسجدنا أخرجه البخاري ومسلم والترمذي ولايصلين معنا. أخرجه البخاري ومسلم لايغشانا في مسجدنا أخرجه مسلم والبخاري فلاياتين المساجد أخرجه مسلم

د استدلال طريقه: وجه داده چه کله د جمع مونځ د هغوی په نيز فرض عين دې اوکوم څيز د فرض د ترک ذريعه وی هغه يقينًا واجب الترک او حرام دې. په دې وجه د دې سبزيانو خوړل حرام کيدل پکار دی.

داول فريق د دلائلو جوابونه: ① د ظاهريه د پيش کړې شوو روايتونو نه خود دې څيزونو د خوراک جواز ثابتيږی نه چه حرمت اکل کمايدل عليه قوله من اکل الخ البته په جمات کښې د حاضرئ ممانعت هم معلوميږی اوجمهور حضرات هم د دې قائل دی چه په داسې حالت کښې جمات کښې حاضريدل مکروه تحريمی دی.

② د دې روايتونونه د جمات د ادب وجوب اودډې د نظامت خاص اهتمام معلوميږی فقهاء حضرات فرمائی چه دا تاکيدی صيغې د ادب په وجوب باندې محمول دی.

③ د رواياتونه معلوميږی چه د ممانعت اصل وجه تأذی بنی آدم وملائکه (انسانانو او فرښتو ته تکليف رسول) دې او دا په اجتماعی شکل کښې موندلې کيږی. د دې څيزونو د خوړلو د حرمت د دې روايتونوسره څه تعلق دې؟

(۱) کماروی ابن حبان في صحيحه عن المغيرة بن شعبة انتهيت الى رسول الله صلى الله عليه وسلم فوجدمني ريح الثوم فقال من أكل الثوم قال فأخذت يده فادخلتها فوجد صدری معصوبا قال إن لک عذرا وفی الطبرانی فلم يعنفه صلى الله عليه وسلم. ۱۲ فتح الملهم.

④ په دې روایتونوسره دَ مذکوره څیزونو حرمت قطعاً نه ثابتیږي ځکه چه دَ ډیرو مباح امورو په وجه دَ جماعت دَ ترک کولو اجازت دې. مثلاً که دَ وږي کس مخی له خوراک راشی نوحکم دې که زیاته اولګه وي نواول خوراک اوکړه اوجمع ترک کړه

⑤ علامه ابن حزم ظاهري دَ دې څیزونو دَ حلال کیدو قائل دې سره دَ دې چه هغه هم جمع نه فرض عین وائی

⑥ دَ جمهورو حضراتو په مذهب باندې دا ټول روایات منطبق کیږي چه دَ ممانعت دَ روایاتو محمل هغه سړې دې چه دا څیزونه اوخوری او زر جمات کښې داخل شی اودَ اجازت روایات په هغه سړی باندې محمول دی چه جمات ته زر لاړنه شی یا دَ دې بوئی پخولوسره یا په څه بله طریقه ختم کړی ونی خوری.

د دویم فریق دلائل: ① دَ حضرت ابوسعید الخدری ﷛ روایت دَ کوم تخریج چه امام مسلم ﷫ کړې دې کله چه رسول الله ﷺ دَ دې ونې نه خوړونکی ته فلایقربنا المساجد اوفرمائیل نوخلقو ونیل حرمت حرمت نو دا خبره رسول الله ﷺ ته معلومه شوه نوونی فرمائیل أیها الناس إنه لیس بی تحریم ما أحل الله لی ولکنها شجرة أکره ریحها. دا روایت په عدم حرمت په صراحت سره دال دې

② دَ ابوایوب انصاري ﷛ روایت دَ کوم تخریج چه امام ترمذی ﷫ کړې دې کله چه رسول الله ﷺ ته عرض اوکړې شو چه احرام وی نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل لاولکنی أکرهه من أجل ریحه دا روایت هم په عدم حرمت باندې صراحت سره دلالت کوی اودکراهت وجه دَدې بوئی دې

③ هم حضوراکرم ﷺ یوصحابی ﷛ ته اوفرمائیل کل فانی اناجی من لاتناجی یعنی ونی فرمائیل چه ته نی خوره زه نی په دې وجه نه خورم ځکه چه څه داسې مخلوق یعنی فرښتوسره خبرې کوم چاسره چه ته خبرې نه کوې اودَ دې په بوئی سره فرښتوته تکلیف وی. دَ دې روایت نه هم معلومه شوه چه اوږه او پیاز وغیره حرام نه دی ګنی رسول الله ﷺ به صحابی ته دَخوراک حکم ولې ورکولو

④ باب الرخصة فی أکل الثوم مطبوخًا لاندې امام ترمذی ﷫ په مرفوع روایت سره دَ حضرت علی ﷛ اثرهم ذکر کړې دې په کوم سره چه دَ اکل الثوم مطبوخًا اجازت معلومیږی

⑤ امام موصوف دَ حضرت ابوالعالیه مقوله هم ذکرکړې ده چه هغوی فرمائی الثوم من طیبات الرزق اوږه دَ حلال اوښو خوراکونو نه ده.

⑥ دَ حضرت قره ﷛ روایت دَ کوم تخریج چه امام ابوداؤد کړې دې ان النبی صلی الله علیه وسلم نهی عن هاتین الشجرتین وقال من أکلهما فلایقربنا مسجدنا وقال ان کنتم لابد أکلهما فأمیتوهما طبخًا. دَ دې روایت نه هم دَ اوږې او پیاز دَ خوړلو اجازت معلومیږی.

[۴۲۳۱] د پیاز خوړلو حکم

۴۲۳۱–[۶۸] ()[۱] وَعَنْ أَبِي زِيَادٍ، قَالَ: [۲] «سُئِلَتْ عَائِشَةُ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا - عَنِ الْبَصَلِ. [۳] فَقَالَتْ: إِنَّ آخِرَ طَعَامٍ أَكَلَهُ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - طَعَامٌ [۴] فِيهِ بَصَلٌ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابو زیاد وایي [۲] چې د بي بي عائشي رضی الله عنها نه د [پخ کړي] پیاز متعلق پوښتنه وشوه (چې د دې خوړل څرنګه دي؟) [۳] هغې وفرمایل چې رسول الله ﷺ (په خپل ژوند کې) چې د ټولونه آخري کوم طعام خوړلي وو. [۴] په هغې کې (پخکړي) پیاز وو (ابوداؤد)

حل اللغات: ① اَلْبَصَلِ: پیاز.

تسهیلات: قوله: إِنَّ آخِرَ طَعَامٍ أَكَلَهُ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - طَعَامٌ فِيهِ بَصَلٌ

د تعارض اشکال: دنورواحادیثو څخه د پیاز خوړلو کراهت معلومیږی او په دې حدیث کښې نقل دی چې نبی علیه السلام د خپل ژوند په آخری طعام کښې پیاز خوړلي وو نودا ښکاره تعارض دي.

د تعارض دوه جوابونه: ① دا حدیث که دَ پیازودَ خوړلوپه جواز باندې حمل کړې شی او دَ ممانعت احادیث په مکروه تنزیهی باندې حمل کړې شی نوهیڅ تعارض به پاتې نه شی ځکه چه دَمکروه تنزیهی مطلب خلاف اولی دي.

② دَ زیربحث حدیث تعلق پوخ کړې شوی پیاز سره دې نوښکاره خبره ده چه دَدې اجازت دي

[۴۲۳۲] د نبی علیه السلام کُجُولره خوښول

۴۲۳۲–[۶۹] ()[۱] وَعَنِ ابْنَيْ بُسْرٍ السُّلَمِيَّيْنِ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - [۲] قَالَا: «دَخَلَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۳] فَقَدَّمْنَا زُبْدًا وَتَمْرًا، [۴] وَكَانَ يُحِبُّ الزُّبْدَ وَالتَّمْرَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او د بسر دواړو ځامنو (حضرت عبدالله او حضرت عطیه) چې اسلمیان او صحابیان دي، د هغوئ نه روایت دي، [۲] دواړو اوویل چې یوه ورځ رسول الله ﷺ زمونږ کور ته تشریف راوړو. [۳] نو مونږ ورته کُج او کجوري پیش کړي، [حضور ﷺ وخوړلي]، [۴] د حضور ﷺ کُج او کجوري خوښي وي. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① اَلسُّلَمِيَّيْنِ: سلم قبیلې ته منسوب دوه کسان ② فَقَدَّمْنَا: نو مونږ ورته پیش کړل ③ زُبْدًا: کُج

تسهیلات:

نوټ: دحدیث مفهوم واضح دي د مزید وضاحت څخه خاص ضرورت نشته.

() اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأطعمة /باب فی أكل الثوم (رقم-۳۸۲۹) واحمد فی المسند: ۵۹/۶

() اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأطعمة /باب فی الجمع بین لونین فی الأكل (رقم-۳۸۳۷) وابن ماجه فی کتاب الأطعمة /باب التمر بالزبد (رقم-۳۳۳۴)

[۳۳۳] په كټوره كښې د دوه قسمه خوراكونو جدا جدا طريقه

۳۳۳-[۴۰] (۱) ① وَعَنْ عِكْرَاشِ بْنِ ذُؤَيْبٍ، قَالَ: ② «أُتِينَا بِجَفْنَةٍ كَثِيرَةِ الثَّرِيدِ ③ وَالْوَذْرِ ④ فَخَبَطْتُ بِيَدِي فِي نَوَاحِيهَا ⑤ وَأَكَلَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ ⑥ فَقَبَضَ بِيَدِهِ الْيُسْرَى عَلَى يَدِي الْيُمْنَى ⑦ ثُمَّ قَالَ: "يَا عِكْرَاشُ! كُلْ مِنْ مَوْضِعٍ وَاحِدٍ ⑧ فَإِنَّهُ طَعَامٌ وَاحِدٌ" ⑨ ثُمَّ أُتِينَا بِطَبَقٍ فِيهِ أَلْوَانُ التَّمْرِ ⑩ فَجَعَلْتُ آكُلُ مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ ⑪ وَجَالَتْ يَدُ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي الطَّبَقِ،

ترجمه: ① او حضرت عكراش بن ذويب ﷛ وايي ② چې په يوه موقع زمونږ مخې ته يوه لويه پياله راوړل شوه، چې په هغې كې ډير ثريد وو [يعني په ښوروا كې روټۍ ماته كړې وه] ③ او د غوښې پوټې وو، ④ د خوراك په دوران كې ما خپل لاس د پيالې هر طرف ته زغلولو [يعني د خپل طرف نه د نمړۍ پورته كولو په ځاى هر طرف ته مې لاس اچوي] ⑤ او رسول الله ﷺ د خپلې مخې نه طعام خوړلو، ⑥ نو حضور ﷺ خپل چپ لاس سره زما ښي لاس ونيولو، ⑦ او وي فرمايل چې اي عكراشه! د خپلې مخې نه يې خوره. ⑧ ځكه چې دا يو قسم طعام دي، ⑨ بيا زمونږ مخې ته يو طباق راوړل شو، چې په هغې كې قسم قسم كجوري وې، ⑩ ما د حضور ﷺ د هدايت مطابق د خپل مخې نه كجورې خوړل شروع كړل. ⑪ ليكن اوس د رسول الله ﷺ لاس د طباق (تالي) هر طرف ته گردش كولو. [يعنى د خپلې خوښې مطابق د تالي د هرې غاړې نه يې كجوري خوړلې. او د دې مقصد خلقو ته دا ظاهرول وو چې كه هغوى غواړي، نو هر د طرف نه كجوري خوړلې شي] .

حل اللغات: ① جَفْنَةٍ: كاسه. غټه پيالۍ. ② وَالْوَذْرِ: دَ وذرة جمع ده دَ غوښې هغه ټكړې په كوم كښې چه هډوكي نه وى. ③ فَخَبَطْتُ: نو ما لاس وهل شروع كړل. ④ طَبَقٍ: تال، غټ لوخې. ⑤ جَالَتْ: گردش كولو. تاويدلو.

① قَالَ: "يَا عِكْرَاشُ! كُلْ مِنْ حَيْثُ شِئْتَ; ② فَإِنَّهُ غَيْرُ لَوْنٍ وَاحِدٍ" ③ ثُمَّ أُتِينَا بِمَاءٍ فَغَسَلَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَدَيْهِ ④ وَمَسَحَ بِبَلَلِ كَفَّيْهِ وَجْهَهُ وَذِرَاعَيْهِ وَرَأْسَهُ، ⑤ وَقَالَ: "يَا عِكْرَاشُ! هَذَا الْوُضُوءُ مِمَّا غَيَّرَتِ النَّارُ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① بيا حضور ﷺ [محض د دې خپل فعل په ذريعه بيان ونه كړو، بلكې د خپل قول په ذريعه يې هم تعليم وركړو وي] فرمايل چې اي عكراشه! اوس چې د كوم طرف نه غواړې خوره، ② ځكه چې دا كجوري د يو قسم نه دي، ③ د دې نه پس مونږ ته اوبه راوړل شوې، رسول الله ﷺ خپل دواړه لاسونه وينځل ④ او د خپل لاسونو لوندوالې يې په خپل مخ او تر څنگلو په لاسونو او په سر ومږلو، ⑤ او وي فرمايل چې اي عكراشه! دا د هغه طعام نه پس

(۱) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الأطعمة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء فى أى اللحم كان احب إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم (رقم-۱۸۳۸) وابن ماجه فى كتاب الأطعمة /باب الأكل مما يليك (رقم-۳۲۷۴)

دا اودس دي، چې اور متغير کړي وي ايعني لاو خله وينځل چې هغه ته د طعام اودس وئيل کيږي، د دې طعام په وجه دي، کوم چې په اور پوخ شوي دي! ترمذي.

حل اللغات: ⑨ بَلَلٍ: لوندوالي

تسهيلات: قوله: فَخَبَطْتُ بِيَدِي فِي نَوَاحِيهَا:

په يوقسم خوراک کښې د خپلې مخې څخه خوراک کول: يعنې ما دَ پيالئى په هرطرف کښې لاس اچول شروع کړه نبى کريم زما لاس اونيولواو وئى فرمائيل دا يوقسم خوراك دې لهذا دَخپلې مخې نه خوره

قوله: ثُمَّ أُتِيْنَا بِطَبَقٍ فِي أَلْوَانِ التَّمْرِ:

په مختلفو خوراکونو کښې د بل د مخې د څخه راخستلو جواز: راوى فرمائى د دې نه پس دَ مختلفو قسمونو کهجورو يو تال راوړلې شو ما دَخپلې مخې نه کهجورې اوچتولې اونبى کريم دَمختلفو ځايونو نه دَ لاس په تاوولوسره اوچتولې. نبى کريم اوفرمائيل چه دا دَ کوم ځائى نه غوارې نوخوره ځکه چه دا يوقسم څيزنه دې. بلکه په جدا جدا رنګونو باندې مشتمل دى

قوله: ثُمَّ أُتِيْنَا بِمَاءٍ فَغَسَلَ رَسُولُ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د روټې خوراک څخه روسته لغوى اودس کول: بيا دې نه پس اوبه راوړلې شوې نبى کريم مخ لاس اووينځل او بيائى اوفرمائيل عکراش؛ دَمامست النار سره چه دَ کوم اودس حکم دې هغه هم دغه لاس وينځل او خله کښې اوبه اچول دى. يعنى لغوى اودس مراد دې

دَحديث فوائد: ① دَ بزرګانو په خدمت کښې حاضريدل پکاردى.

② ميلمه سره دې حسن سلوک اوکړې شى

③ هغه دې خپل خان سره کينولې شى او خوراک دې پرې اوکړې شى

④ کبيرله دَ صغيرد تربيت خيال ساتل پکاردى

⑤ دَ خوراک نه پس دَ تفکه په توګه نور څيزونه ميوې وغيره خوړلې شى اودا په ترغه کښې داخل نه دى

⑥ دَ خوراک نه پس خله او لاس وينځل پکاردى لکه څنګه چه دَ دې تاکيد په راتلونکى روايت کښې مذکوردې

[۴۲۲۳]د حريري فائدي

۴۲۲۳-[۱۷](¹)① وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهَا- قَالَتْ: ②«كَانَ رَسُولُ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِذَا أَخَذَ أَهْلَهُ الْوَعْكُ③ أَمَرَ بِالْحَسَاءِ فَصُنِعَ،④ ثُمَّ أَمَرَهُمْ فَحَسَوْا مِنْهُ،⑤ وَكَانَ يَقُولُ: " إِنَّهُ لَيَرْتُو فُؤَادَ الْحَزِينِ،⑥ وَيَسْرُو

¹) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الطب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء ما يطعم المريض (رقم-۲۰۳۹)؛ وابن ماجه فى السنن رقم الحديث ۳۴۴۵

عَنْ فُؤَادِ السَّقِيمِ[۷] كَمَا تَسْرُو إِحْدَاكُنَّ الْوَسَخَ بِالْمَاءِ عَنْ وَجْهِهَا» ". [۸] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي[۲] چې د رسول الله ﷺ كوروالؤ ته چې به تبه راغله.[۳] نو حضور ﷺ به د حريرې د تيارولو حكم كولو، هغه به تياره شوه.[۴] بيا به حضور ﷺ هغه مريضانو ته د حريره څكلو حكم كوي، چې هغه مريض به څښله. [۵] حضور ﷺ به فرمايل چې په حقيقت كې حريره غم زپلي زړه ته طاقت وركوي.[۶] او د بيمار د زړه نه غم او تكليف داسې لرې كوي،[۷] لكه څرنگه چې په تاسو ښځو كې څوك د خپل مخ نه خيري په اوبو سره صفا كوي.[۸] ترمذي رحمه الله دا روايت نقل كړي دي او ويلي يې دي چې دا حديث حسن صحيح دي.

حل اللغات: ① الْوَعْكُ: سخته تبه. ② الْحَسَاءِ: نرمه شيره، د اوړو او غوړونه جوړه شوې نرمه حلوا، ③ يُرِتُّو: "رتي يرتو" "اى يقوى القلب" يعنى دَ غمگين زړه قوى كوى ④ فَحَسَوْا: خلقو هغه اوڅكله، دادَ جمع صيغه ده ⑤ فُؤَادُ الْحَزِينِ: د غمگين زړه، ⑥ وَيَسْرُو: (يسرويكشف ويرفع) معنى كښې دې يعنى بوج لرې كوى ⑦ فُؤَادِ السَّقِيمِ: د بيمار زړه، ⑧ الْوَسَخَ: خيرې،

تسهيلات:

قوله: إِنَّهُ لَيُرِتُّو فُؤَادُ الْحَزِينِ، وَيَسْرُو عَنْ فُؤَادِ السَّقِيمِ

دحريرې فوائد:

① حريره دا زړه قوى كوى

② خيرې لرې كوى

[۴۲۳۵] د خرېرې اوبه د سترګو شفاء

۴۲۳۵ - [۴۲] (١) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «الْعَجْوَةُ مِنَ الْجَنَّةِ، [۳] وَفِيهَا شِفَاءٌ مِنَ السُّمِّ، [۴] وَالْكَمْأَةُ مِنَ الْمَنِّ، [۵] وَمَاؤُهَا شِفَاءٌ لِلْعَيْنِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل[۲] عجوه (چې د كجوروو د ټولونه ښه قسم دي) د جنت كجور ده.[۳] او په دې كې د زهرو نه شفاء ده.[۴] او خرېرې (د من دقسم) نه دي. [۵] د دې اوبه د سترګو د پاره شفاء ده (ترمذي)

حل اللغات: ① الْعَجْوَةُ: د مديني اعلى ښه كجورې، ② السُّمّ: زهر، ③ الْكَمْأَةُ: خرېرې، ④ الْمَنّ: مرزان

تسهيلات:

قوله: الْعَجْوَةُ مِنَ الْجَنَّةِ:

---

(١) اخرجه الترمذي في السنن كتاب الطب عن رسول الله كتاب الطب/باب التلبينة (رقم-۳۴۴۵) صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في الكمأة والعجوة (رقم-۲۰۶۶)

د مذکوره جملې په مفهوم کښې اقوال: ① حضرت آدم علیہ السلام دَ جنت نه دنیا ته راولیګلې شو نو هغه سره دَ دنیا دَ میوو زر قسمه تخمونه وو په جمع الفوائد کښې په روایت دَ بزار ابوموسی اشعری نه مرفوعًا روایت دې لما اخرج آدم من الجنة زوده من ثمار الجنة وعلمه صفة كل شئ فثمارکم هذه من ثمار الجنة غیر ان هذه تتغیر وتلك لم تتغیر

دَ دې مطلب دادې لکه څنګه چه دَ عجوه کهجورې اصل مقام جنت دې دغه شان دَ ټولو میوو اصل هم دَ جنت نه دې نو ښکاره خبره ده چه دې ته به څه خاص اهمیت نه وی اوکه چرې دا اوونیلې شی په ټولو میوو کښې دنیا ته دَ راتلونه پس بدلون راغلې دې او په دې کښې کم بدلون شوې دې نودَ عجوه فضیلت بیانول به مقصود شی

② علامه صاوی رحمہ اللہ فرمائی دَدې مطلب دادې چه عجوه کهجوره دَجنت دَعجوه کهجورې په رنګ او شکل کښې مشابهت دې نه چه په خوند او مزه کښې علماء فرمائی چه مقصود دَ دې نه دَ دې کهجورې فضیلت دې څکه چه په حجاز کښې ټولې کهجورې فائده مندې دی خودا کهجورې آلَذ وآطیب او آلیَن شمیر کړې شوی دی اودا دَ بدن طاقت زیاتوی.

قوله: وَفِيهَا شِفَاءٌ مِنَ السُّمِّ:

په عجوه کښې د زهرو څخه د شفاء وجه: ① په عجوه کښې دَ زهرو اثر لرې کیدو دا اثر الله تعالی پخپله پیدا کړی دی

② په عجوه کښې دَ زهرو اثر لرې کیدو دا اثر د نبی کریم ﷺ په دعا سره پیدا شوې دی

③ په عجوه کښې دَ زهرو اثر لرې کیدوپه دې وجه وه چې نبی کریم ﷺ په خپل لاس مبارک باندې دا لګولې وه په دې وجه الله تعالی په دې کښې دا برکت کیخودې دې

نوټ: خربزې سره متعلق بحث د حدیث نمبر ۴۱۸۴ په تسهیل کښې تیرشوې دې هغې ته مراجعت اوکړی

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۴۲۳۶] په چارې سره د غوښې د کټ کولو او خوړلو جواز

۴۲۳۶—[۴۳] (¹) ① عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: ② «ضِفْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ذَاتَ لَيْلَةٍ، ③ فَأَمَرَ بِجَنْبٍ فَشُوِيَ، ④ ثُمَّ أَخَذَ الشَّفْرَةَ فَجَعَلَ يَحُزُّ لِي بِهَا مِنْهُ، ⑤ فَجَاءَ بِلَالٌ يُؤْذِنُهُ بِالصَّلَاةِ، ⑥ فَأَلْقَى الشَّفْرَةَ، ⑦ فَقَالَ: "مَا لَهُ تَرِبَتْ يَدَاهُ؟" ⑧ قَالَ: وَكَانَ شَارِبُهُ وَفَاءً. ⑨ فَقَالَ لِي: "أَقُصُّهُ لَكَ عَلَى سِوَاكٍ؟" ⑩ أَوْ- "قُصَّهُ عَلَى سِوَاكٍ"» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

¹) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الطهارة/باب في ترك الوضوء مما مست النار(رقم-۱۸۸) واحمد في المسند:والترمذي في/۲۵۲

ترجمه: [۱] حضرت مغيره بن شعبه رضي الله عنه وايي [۲] چې يوه شپه زه د رسول الله ﷺ سره د يو سړي ميلمه شوم، [هغه زمونږ د پاره] يوه بزه (چيلۍ) ذبح کړه [۳] او رسول الله ﷺ د هغه بزې (چيلۍ) د يو اړخ (ورون) د وريتولو حکم وکړو کوم وخت چې هغه وريت شو، [۴] نو حضور ﷺ يوه چاړه واخسته بيا د هغه په ذريعه د هغه اړخ نه يې زما د پاره ټکړې [پوټې] کټ کول شروع کړل، [۵] په دې کې حضرت بلال رضي الله عنه حضور ﷺ ته د مانځه اطلاع ورکولو د پاره راغې، [۶] نو حضور ﷺ چاړه کېخودله، [۷] او (بطريق تعجب يې) وفرمايل چې بلال رضي الله عنه ته څه وشو (چې داسې وخت بللوله راغې) د هغه دواړه لاسونه دې په خاورو ککړ شي، [۸] حضرت مغيره رضي الله عنه وايي چې هغه وخت د هغه شونډې يعنې بريت اوږده شوي وو، [۹] حضور ﷺ وفرمايل چې زه تا دپاره ستا شونډې (بريت) په مسواک کوشنى [واړه] کړم، [۱۰] يا يې وفرمايل چې شونډې (بريت) په مسواک اېښودلو سره پرېکړه، (ترمذي)

حل اللغات: ① ضِفْتُ: ميلمه شوم. ② جَنْبٍ: اړخ (ورون مراد دې). ③ فَشُوِيَ: نو وريت کړې شو. پوخ کړې شو، ④ الشَّفْرَةَ: چاړه، ⑤ يَحُزُّ: پرېکوله ئې، ⑥ تَرِبَتْ يَدَاهُ؟: ککړ دې شي دواړه لاسونه دده، ⑦ شَارِبُهُ وَفَاءٌ: بريت ئې اوږده شوی وو. ⑧ أَقُصُّهُ: آيا پرېکړم، کم کړم

تسهيلات:

دحديث د مختلفو جملو وضاحت:

① يَحُزُّ: په چاړه سره دَ غوښې پرې کولو په معنى کښې دې. کله چه غوښه سخته وى نو دَ چاړې استعمال جائز دې ګنى دا طريقه دَ اعاجم اهل فارس ده.

② يُؤْذِنُهُ: دا دَ ايذان نه دې دَ خبردارى ورکولوپه معنى کښې دې يعنى حضرت بلال رضي الله عنه رسول الله ﷺ ته اطلاع ورکوله چه دَ مونځ وخت شو

③ شَارِبُهُ وَفَاءٌ: يعنى دَ مغيره بن شعبه رضي الله عنه بريت غټ شوې وو په دې کښې مغيره بن شعبه رضي الله عنه دَ شاربى په ځائى شاربه ونيلې دې دا التفات دې

قوله: أَقُصُّهُ لَكَ عَلَى سِوَاكٍ؟:

دمذکوره جملې مطلب: يعنى زه به ستا بريت په مسواک سره پرې کړم يائى ته پخپله په مسواک باندې کېخودو سره پرې کړه

په مسواک سره د بريت کټ کولو دوه مفهومه: ① يعنى چه په شونډو باندې مسواک وى او هغې سره برابر کړې شى او دَ بريتو وېښته په قېنچئى سره پرې کړې شى دې دپاره چه په يو کرښه کښې پرې کړې شى

② يعنى چه قېنچى نه وى بلکه په مسواک باندې وېښته برابر کړې شى او په چاړه يا چاقو سره پرې کړې شى.

[۴۲۳۴] د بسم الله نه ویلو په وجه د شیطان په خوراک کښې شرکت

۴۲۳۴—[۴۳] (١) [١] وَعَنْ حُذَيْفَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: [٢] «كُنَّا إِذَا حَضَرْنَا مَعَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - طَعَامًا [٣] لَمْ نَضَعْ أَيْدِيَنَا حَتَّى يَبْدَأَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٤] فَيَضَعُ يَدَهُ، [٥] وَإِنَّا حَضَرْنَا مَعَهُ مَرَّةً طَعَامًا، [٦] فَجَاءَتْ جَارِيَةٌ كَأَنَّهَا تُدْفَعُ، [٧] فَذَهَبَتْ لِتَضَعَ يَدَهَا فِي الطَّعَامِ، [٨] فَأَخَذَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِيَدِهَا،

ترجمه: [١] او حضرت حذیفه رضي الله عنه وایي [٢] کله چې به مونږ رسول الله ﷺ سره په یو طعام کښې شریک [حاضرا] وو، [٣] نو مونږ به تر هغه وخته د طعام طرف ته لاس نه مخکې کولی، تر څو چې رسول الله ﷺ به شروع نه وه کړې، [٤] حضور ﷺ به طعام ته لاس مبارک ورمخکې کړو [نو د هغه نه پس به مونږ خپل لاس ورمخکې کووا] [٥] د یو ځل واقعه ده، چې مونږ د رسول الله ﷺ سره یو طعام ته کیناستلو، [٦] په دې کې یوه جنۍ طعام ته داسې راغله، ګویاچې را دیکه کول کیږي، [یعنې هغه د لوږې د شدت نه بې اختیاره کیدو سره په طعام داسې راغله لکه چې چا د شا د خوانه دیکه کړې وي]، [٧] بیا کله چې هغې دا وغوښتل چې [د بسم الله ویلو نه بغیر] طعام ته لاس کړې، [٨] نو رسول الله ﷺ د هغې لاس ونیولو،

[١] ثُمَّ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ كَأَنَّمَا يُدْفَعُ، [٢] فَأَخَذَهُ بِيَدِهِ. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٣] [٣] إِنَّ الشَّيْطَانَ يَسْتَحِلُّ الطَّعَامَ أَنْ لَا يُذْكَرَ اسْمُ اللهِ عَلَيْهِ، [٤] وَإِنَّهُ جَاءَ بِهَذِهِ الْجَارِيَةِ لِيَسْتَحِلَّ بِهَا، [٥] فَأَخَذْتُ بِيَدِهَا، [٦] فَجَاءَ بِهَذَا الْأَعْرَابِيِّ لِيَسْتَحِلَّ بِهِ، [٧] فَأَخَذْتُ بِيَدِهِ، [٨] وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، [٩] إِنَّ يَدَهُ فِي يَدِي مَعَ يَدِهَا». [١٠] زَادَ فِي رِوَايَةٍ: "«ثُمَّ ذَكَرَ اسْمَ اللهِ وَأَكَلَ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] بیا یو بانډچي (کلیوال) هم دغه شان په بې تابۍ سره راغې ګویا چې هغه هم طعام ته رادیکه کول کیږي، [او هغه هم د بسم الله ویلو نه بغیر طعام ته لاس کولو]، [٢] حضور ﷺ د هغه لاس هم ونیولو، بیا رسول الله ﷺ وفرمایل [٣] حقیقت دا دې چې شیطان هغه طعام خان د پاره حلالولي، [او د هغې په خوړلو قادر کیږي] په کوم چې د الله تعالی نوم نشي اخستې. [٤] شیطان هغه جنۍ راوستله چې د هغې بسم الله نه ویلو په سبب هغه طعام خان د پاره حلال کړي. [٥] لیکن ما د هغې لاس ونیولو. [٦] بیا شیطان دا بانډچي (کلیوال) راوستو چې د ده په ذریعه طعام خان د پاره حلال کړي. [٧] خو ما د ده لاس هم ونیولو. [٨] قسم دې په هغه ذات پاك چې د هغه په لاس کې زما ساه ده. [٩] بلا شبه دا وخت د شیطان لاس د دې جنۍ د لاس سره زما په لاس کې دې. [١٠] په یو روایت کې (حذیفه یا مسلم)

---

(١) اخرجه مسلم فی کتاب الأشربة/باب آداب الطعام والشراب واحکامهما(رقم-١٠٢ - (٢٠١٧) وابوداود فی کتاب الأطعمة/باب التسمیة علی الطعام(رقم-٣٧۶۶) واحمد فی السند: ٥/٣٨٣

را الفاظ هم نقل کړي دي چې د هغې نه پس حضور ﷺ د الله ﷻ نوم واخستلو، [یعنی بسم الله يي ووبله] او طعام يي وخوړلو، (مسلم)

حل اللغات: ① يَسْتَحِلُّ: حلال گنړی، ② الاعرابیُ: کلی وال، د باندې اوسیدونکې.

تسهيلات:

قوله: فَجَاءَتْ جَارِيَةٌ كَأَنَّهَا تُدْفَعُ

د مذکوره جملې مطلب: د شړلوپه معنی کښې دې لکه چه هغه وینځه او بانډچی چاپه دیکو دیکوسره د خوراک دپاره حاضرول

قوله: إِنَّ الشَّيْطَانَ يَسْتَحِلُّ الطَّعَامَ أَنْ لَا يُذْكَرَ اسْمُ اللهِ عَلَيْهِ:

د مشرځغه وړاندې په خوراک شروع نه کول: ددې حدیث د کړه (اجتماعی) خوراک کولو متعلق دا ادب معلومیږي چه کله د خوراک په موقع یو معزز او قابل احترام کس موجود وی نو تر هغې پورې دې باقی کسان خوراک نه شروع کوی تر څو پورې چه هغه کس خوراک شروع کړی نه وی.

قوله: إِنَّ يَدَهُ فِي يَدِي مَعَ يَدِهِمَا

تعارض: په دې روایت کښې د «يدها» لفظ دې او بعضی روایاتو کښې "معیدهما" الفاظ ذکر دي دا په ظاهره تعارض ښکاری.

د تعارض دوه جوابونه: ① يد مفرد دی او ددې اطلاق په جنس باندې کیږی. په یو. دوه یا زیاتو باندې هم کیږی

② نبی کریم ﷺ د هغه بانډچی لاس ئی هم نیولی وو او د هغه جینی لاس هم نیولی وو.

په دويم جواب باندې اعتراض: کله چه نبی علیه السلام ددې د واړو لاسونه نیولی وو نو "مع يدها" په ځائی معيدهما" پکار وو.

د اعتراض جواب: هغه جینی اول راغلی وه نو ځکه د هغې ذکر يې جدا "معیدها" سره وکړو.

دحديث دوه فائدې: ① که خوراک کونکو په جماعت کښې که یو کس هم بغیر د بسم الله نه شریک شي نو شیطان په دې خوراک کښې شریک کیږی.

② که ورکوټې ماشوم که بسم الله ونیلی شي نو ضرور بسم الله دې وائي او که بسم الله ونه وائي نو شیطان په خوراک کښې شریک کیږی

[۴۲۳۸] د زیات خوراک په وجه غلام واپس کول

۴۲۳۸-[۴۵] (۱) ① وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهَا- ② «أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَرَادَ أَنْ يَشْتَرِيَ غُلَامًا ③ فَأَلْقَى بَيْنَ يَدَيْهِ تَمْرًا ④ فَأَكَلَ الْغُلَامُ، فَأَكْثَرَ، ⑤ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "إِنَّ كَثْرَةَ

[1] اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ۵۶۶۱

الْأَكْلِ شُؤْمٌ" ⑥ وَأَمَرَ بِرَدِّهِ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: ① او د بي بي عائشه ﷞ نه روايت دي ② چي يو خل رسول الله ﷺ د يو غلام اخستلو اراده وفرمايله.③ نو [د ازمائش په طور يې] د هغه په مخکې کجوري کېخودلي. ④ نو هغه غلام (د خوراك نه) ډيري زياتي كجوري وخوړلي.⑤ رسول الله ﷺ [په دي ليدو سره] وفرمايل چي زيات خوړل د بي برکتئ سبب او د بي برکتئ علامه ده.⑥ بيا حضور ﷺ د هغه غلام د واپس کولو حکم وکړو (بيهقي)

حل اللغات: ① شُؤْمٌ: بې برکتي،

تسهيلات:

قوله: وَأَمَرَ بِرَدِّهِ:

د واپس كولو د علت دوه صورتونه: ① د حديث مطلب دا دي چه نبي كريم ﷺ غلام اخستلي وو. او كثرت اكل په دي غلام كښې عيب وو، نو نبي كريم ﷺ د خيار عيب په وجه هغه غلام واپس كړو،

② نبي كريم ﷺ غلام لا اخستلي نه وو، بلكه د اخستو په نيت ئي خپل خوا ته راغوښتلي وو. او دهغه نه يې د امتحان اخستلو طريقه دا اختيار كړه چه د هغي مخكې ئي خوراك كېښودلو. نو هغه ډير خوراك اوكړو، نو نبي كريم ﷺ ته معلومه شوه چه دا ډير خوراك كونكي دي او كوم كس چه ډير خوراك كوي نو هغه هيڅ كار نشي كولى نو په دي وجه ئي د واپس كولو حكم وكړو

د ډير خوراک څخه مراد: د ډير خوراک کولو څخه مراد دا دي چه د اعتدال نه ډير زيات خوراک كول. او ډير خوراک كول چونكه د كافرانو علامه ده، نبي كريم ﷺ فرمائيلي دي چه كافر په اووه كولمو سره خوراک كوي او په مومن كښې د كفر علامت (ډير خوراک كول) موجوديدل نحوست دي.او ددي وجهې نه نبي كريم ﷺ دهغي غلام د واپس كولو حكم وكړو

[۴۲۳۹] مالګه بهترينه ترکاري دي

۴۲۳۹-[۴۶] (¹) ① وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② «سَيِّدُ إِدَامِكُمُ الْمِلْحُ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او حضرت انس بن مالك ﷛ وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل② ستاسو په سالنونو كي بهترين سالن مالګه ده (ابن ماجه)

حل اللغات: ① سَيِّدٌ: سردار، بهترين. ② إِدَامِكُمْ: اِدام سالن ته وائي. ③ الْمِلْحُ: مالګه.

¹) اخرجه ابن ما جه في السنن كتاب الأطعمة/باب الملح (رقم-۳۳۱۵)

تسهيلات: **قوله**: سَيِّدُ إِدَامِكُمُ الْمِلْحُ:

مالگې ته د غوره ترکارۍ وئیلو دوه توجیهات: ① شیخ فضل محمد صاحب په توضیحات کښې ددې حدیث مطلب دا بیان کړې دې مثلاً په کورکښې سالن نشته دې مګرمالګه موجودده نودجوارو یا دَ غنمو روټئی په مالګه کښې ککړ کولو سره په بهترین طریقه خوړلې شی دَ ښکار په موقع خلق په ځنګلوکښې هم دغه شان روټئی خوری ډیره مزه کوی.
② زما احقر شاه فیصل په نیز د حدیث مطلب دا دې چې په ترکارۍ کښې مالګه نه وی نو د هغې هډو خوند نه وی اوچې مالګه په کښې وی نو مزیداره وی لګه څنګه چې د یو قوم سردار نه وی نو هغه قوم بې اتفاقه وی.اوکمزورې وی اوچې د یوقوم سردار او مشروی نو هغه قوم په معاشره کښې عزتمند وی دا مفهوم زما په خیال زیات واضح دې ځکه چې په دې کښې تشبیه د سید سره ورکړې شوې ده

[۴۲۳۰] ښپلو سره د خوراک کولو کراهت

۴۲۳۰-[۴۷] ( )[۱] ① وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② («إِذَا وُضِعَ الطَّعَامُ فَاخْلَعُوا نِعَالَكُمْ. ③ فَإِنَّهُ أَرْوَحُ لِأَقْدَامِكُمْ»).

ترجمه: ① او حضرت انس بن مالک ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② هر کله چې ستاسو په مخکې طعام کیخودل شي (او تاسو خوراك ته کینئ) نو خپلې څپلی (پیزار) اوباسئ. ③ ځکه چې څپلی اوخکل د پښو د پاره ډیر راحت رسونکی دي.

حل اللغات: ① فَاخْلَعُوا: اوباسئ. ② نِعَالَكُمْ: پیزار، ③ أَرْوَحُ: آرام او راحت رسونکې.

تسهیلات:

قوله: إِذَا وُضِعَ الطَّعَامُ فَاخْلَعُوا نِعَالَكُمْ. فَإِنَّهُ أَرْوَحُ لِأَقْدَامِكُمْ:

د روټۍ په وخت کښې د څپلو ویستلو فائده: کله چه سړې روټئی خوری نودَ بدن ټولو اندامونوته لذت حاصلیږی تردې چه ښپو ته هم راحت رسیږی. که ښپې په څپلوکښې محبوس اوبندې وی نوهغه دَ راحت نه محروم پاتې کیږی په کوم سره چه د پوره بدن لذت مکدر کیږی

[۴۲۳۱] په یخ طعام کښې برکت

۴۲۳۱-[۴۸] ( )[۲] ① «وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: ② أَنَّهَا كَانَتْ إِذَا أُتِيَتْ بِثَرِيدٍ ③ أَمَرَتْ بِهِ فَغُطِّيَ ④ حَتَّى تَذْهَبَ فَوْرَةُ دُخَانِهِ، ⑤ وَتَقُولُ: إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ⑥ هُوَ أَعْظَمُ لِلْبَرَكَةِ». رَوَاهُمَا الدَّارِمِيُّ.

[۱]) اخرجه الدارمی فی السنن رقم الحديث ۲۰۸۰
[۲]) اخرجه الدارمی فی السنن رقم الحديث ۲۰۴۷

ترجمه: [۱] او د بي بي اسماء بنت ابي بكر رضي الله عنها باره کې روايت دي [۲] هر کله چې د هغې مخې ته به ثريد راوړل شو، [۳] نو د هغې د پټولو حکم به یې کولو، نو هغه به پټولو سره کیخودل شو، [۴] تر دې چې د هغې لوګي او جوش به ووتلو (یعني د هغې د ګرمۍ شدت به ختم شو، [د هغې نه پس به یې هغه خوړلوا] [۵] او هغې به فرمایل چې ما د نبي کريم ﷺ نه اوريدلي دي چې [۶] طعام نه د ګرمۍ وتل د برکت د زیاتوالي موجب دي. (دا دواړه روايتونه دارمي رحمه الله نقل کړي دي)

حل اللغات: ① فَغُطِّيَ: نو پټ به کړې شو، ② فَوْرَةُ: جوش او ګرمي، ③ دُخَانِهِ: د لوګی دهغې

تسهيلات:

قوله: هُوَ أَعْظَمُ لِلْبَرَكَةِ:

په ګرم طعام کښې عدمِ برکت: یعنی کوم بهړاس او لوګي چه دَ ګرمئی دَ وجهې اوچتيږی دَ هغې دَ يخولودپاره دَ پاسه سر کیخودې شی دې دپاره چه خوراك لږ شان يخ شی اوبيا اوخوړلې شی ځکه چه په زيات ګرم خوراك کولوسره خله هم سوزيږی اودَ کولمودپاره هم مضر دی. لږ شان انتظار کوی او کیږی له دم ورکولوسره خوراك فائده مند او خونده ور کیږی او په دې کښې برکت هم راځی. په جامع صغير کښې ليکلی دی "أبردوا بالطعام فإن الحار لا بركة فيه"

[۳۳۲] د کاسې د خپل صفا کونکی دپاره دعا

۴۲۳۲-[۷۹] (۱) [۱] وَعَنْ نُبَيْشَةَ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «مَنْ أَكَلَ فِي قَصْعَةٍ [۳] ثُمَّ لَحِسَهَا [۴] تَقُولُ لَهُ الْقَصْعَةُ: "أَعْتَقَكَ اللهُ مِنَ النَّارِ [۵] كَمَا أَعْتَقْتَنِي مِنَ الشَّيْطَانِ» ". رَوَاهُ رَزِينٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت نبيشه رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړي چې د پيالۍ [ايا غاب وغيره] نه څه وخوري، [۳] او بيا هغه [په ګوتو سره] وځټي. [۴] نو هغه پيالي [په زبان حال سره يا زيات صحيح دا دي چې په زبانِ قال سره] هغه سړي ته وايي چې الله تعالى دې دغه شان تاته د دوزخ د اور نه نجات درکړی، [۵] څرنګه چې تا د شيطان [د خوړلو نه يا د هغه د خوشحالولو] نه ماته نجات راکړو (رزين)

حل اللغات: ① قَصْعَةٍ: کاسه، ② لَحِسَهَا: اوځټی هغه.

تسهيلات:

قوله: كَمَا أَعْتَقْتَنِي مِنَ الشَّيْطَانِ:

کاسه څټل د شيطان څخه حفاظت: د حديث مطلب دادې چه دَ خوراك لوښي دعاهم کوی

---

[۱] اخرجه رزين.

اوبد دعاهم کوی ځکه چه کله دالوبنې ګنده پروت وی نو شیطان راخی اودا ځتی دغه وخت لوبنې بددعا کوی چه زه دې د شیطان دپاره ولې پریخودم اوکه ځتلو نه ئی اووینځلو نولوبنې دعاکوی چه زه دې د شیطان د تسلط نه بچ کړم.

[۱] بَابُ الضِّيَافَةِ

د میلمستیا بیان

خلاصة الباب:

فيه سبعة عشر حديثاً مشتملة على تسع مسائل:

① التاكيد بإكرام الضيف: ۱، ۲، ۶، ۱۷-

② جواز أخذ الضيف حقه من المضيف عند الضرورة: ۳، ۵-

③ جواز التماس الضيافة عند الضرورة: ۴، ۱۱-

④ دعاء الضيف للمضيف: ۷-

⑤ فضيلة ضيافة الأتقياء: ۸-

⑥ الأكل مع الأضياف جمعا: ۹، ۱۰، ۱۵-

⑦ آداب الأكل مع الضيف : ۱۲، ۱۳ -

⑧ التحذير للجائع عن الكذب: ۱۴ـ

⑨ فضيلة المشي مع الضيف: ۱۶ـ

دضيافت لغوی معنی: ضاف يضيف ضيفا وضيافة اصل معنی د مائل کیدوده. میلمه هم یوطرف ته مائل کیږی ضيف میلمه ته وائی اومضيف کوربه ته د وئیلی شی اوضیافت میلمستیاته وائی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۴۲۴۳] میلمستیا او کمال ایمان

۴۲۴۳—[۱] (۱) ۱ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ «مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۳ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ، ۴ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ، ۵ فَلَا يُؤْذِ جَارَهُ، ۶ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۷ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ". ۸ وَفِي رِوَايَةٍ بَدَلَ: (الْجَارِ): وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۹ فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[۱] اخرجه البخاري في كتاب الأدب/باب: من كان يؤمن بالله واليوم الآخر فلا يؤذ جاره (رقم-۶۰۱۸) ومسلم في كتاب اللقطة/باب الضيافة ونحوها (رقم-۷۵ - (۴۷) والترمذی فی السنن رقم الحديث ۲۵۰۰ واحمد في المسند: ۲/ ۲۶۷

ترجمه: [۱] حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] كوم سړي چې په الله جل جلاله او د قيامت په ورځ ايمان لري، [۳] هغه ته پكار دي چې دخپل ميلمه اكرام اوعزت وكړي . [۴] اوكوم سړي چې په الله جل جلاله او د قيامت په ورځ ايمان لري، [۵] هغه ته پكار دي چې خپل ګاونډي ته تكليف ونه رسوي، [۶] او كوم سړي چې په الله جل جلاله او د قيامت په ورځ ايمان لري، [۷] هغه ته پكار دي چې نيكه خبره كوي، يا چپ اوسي، [۸] او د بخاري رحمه الله په يو روايت كې د ګاونډي د ذكر كولو په ځاى دا دي چې كوم سړي چې په الله جل جلاله او د قيامت په ورځ ايمان لري، [۹] هغه ته پكار دي چې خپلوالي باقي وساتي[يعنى د خپلو عزيزانو سره حسن سلوك او د احسان معامله دى كوي] (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① الْجَار: ګاونډى، ② فَلْيَصِلْ: جوړ دې ساتى، ③ رَحِمَهُ: رشته دارى خپله

تسهيلات:

قوله: مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ:

ايمان سره د تعليق په مفهوم كښې دوه اقوال: ① دا دَ ترغيب يو انداز دې اودَ دغه خصلتونو په خپلولو باندې راتيزول مقصود دى. لكه څنګه چه يوسړې خپل ځوئى ته وائى "إن كنت ابني فأطعمني" دادَ خوراك وركولو ترغيب دې.

② په دې كښې دكامل مؤمن خبره كړې شوې ده چه كامل مؤمن هم هغه دې په چاكښې چه دا درې خصلتونه موجود وى.

قوله: فَلَا يُؤْذِ جَارَهُ:

د تكليف نه وركولو د تخصيص وجه: په اصل كښې دَ شريعت خوداحكم دې چه دَ ګاونډى دَ تولو حقوقو خيال اوساتلې شى څكه چه "فليكرم جاره فليحسن جاره" الفاظ په حديث كښې دى ليكن كه يوسړې دَ حقوقو خيال نه ساتى نوكم نه كم ګاونډى ته خودې تكليف نه وركوى

[۴۲۴۳] كوربه سره د درې ورځو څخه زيات د ايساريدو ممانعت

۴۲۴۳-[۲] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي شُرَيْحٍ الْكَعْبِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] "«مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ [۳] فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ، [۴] جَائِزَتُهُ يَوْمٌ وَلَيْلَةٌ، [۵] وَالضِّيَافَةُ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ [۶] فَمَا بَعْدَ ذٰلِكَ فَهُوَ صَدَقَةٌ، [۷] وَلَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يَثْوِيَ عِنْدَهُ [۸] حَتّٰى يُحْرِجَهُ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او د حضرت شريح كعبي رضي الله عنه نه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] كوم

---

(۱) اخرجه البخاري في كتاب الأدب/باب: من كان يؤمن بالله واليوم الآخر فلا يؤذ جاره (رقم-۶۰۱۹) ومسلم في كتاب اللقطة/باب الضيافة ونحوها (رقم-۱۵ - (۴۸) وابوداود في كتاب الأطعمة/باب في المنديل (رقم-۳۸۴۸) والترمذي في كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في الضيافة كم هي (رقم-۱۹۶۷) وابن ماجه في كتاب الأدب/باب حق الضيف (رقم-۳۶۷۵) ومالك في الموطا في كتاب الادب (رقم-۲۲ واحمد في المسند: ۳۷۵/۶)

سړي چې په الله ﷻ اود قيامت په ورځ ايمان لري،[۳] هغه ته پکار دي چې د خپل ميلمه تعظيم او خاطر داري وکړي،[۴] د ميلمه سره د [تکلف او] د احسان کولو زمانه يوه ورځ او يوه شپه ده،[۵] او د ميلستيا کولو زمانه دري ورځي ده،[۶] د دې [دريو ورځوا] نه پس چې څه ورکول شي، هغه به هديه او خيرات وي،[۷] اود ميلمه د پاره دا جائز نه دي، چې هغه د کوربه سره [د دريو ورځو نه پس د هغه د استدعا کولونه بغيرا] ايسارشي،[۸] چه هغه په تنګئ کې مبتلا کړي (بخاري، مسلم)

حل اللغات : ① جَائِزَتُهُ: "أي عطيته" انعام يا د سفر خرچ، ② الضِّيَافَةُ : ميلمستيا ، ③ أَنْ يَثْوِيَ : چه اوسيږي دهغه سره ، ④ يُحْرِجَهُ: چه په تنګئ کښې ئې مبتلا کړی

تسهيلات:

قوله: جَائِزَتُهُ يَوْمٌ وَلَيْلَةٌ:

د جائزته په اعراب کښې څلور اقوال:

① جائزته منصوب دې د فليکرم مفعول ثاني کيدو په وجه

② جائزته منصوب دې چې دا په معنی د مصدر دې

③ جائزته منصوب دې چې دا ظرف شي

④ جائزته منصوب دې بنزع الخافض دې. أي ما جائزته؟ قال يوم وليلة أي جائزته يوم وليلة

قوله: يَوْمٌ وَلَيْلَةٌ:

د يوم وليلة په تشريح کښې دوه اقوال: ① حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی ددې روايت مطلب دابيان کړې دې چه په اوله ورځ خو دې په تکلف سره خوراک پيش کړی او باقی دوه ورځې ماحضر يعنی چه څه موجود وی اوچه کوم وخت ځی نو يوه ورځ اوشپې دَ پاره دې جائزه ورکړی يعنی دومره خوراک دې ورکړی چه ترخپل ځائ پورې اورسی په لارکښې ده ته پريشانی نه وی لکه د بل روايت أجيزوا الوفد بنحو ما أجيزهم نه معلوميږی ددې قول په بنياد د جائزته يوم وليلة تعلق دَ دريو ورځو دَ ضيافت نه روستو دې

② علامه خطابی فرمائی چه دَ روايت معنی داده چه ميلمستيا درې ورځې ده اوله ورځ دَ وس او طاقت مطابق دَتکلف خوراک پيش کول باقی دوه ورځې چه څه حاضر وی اوچه کله درې ورځې شپې تيرې شی نودَ ميلمستيا سره حدپوره شواوس په ده باندې خرچ کول صدقه کښې داخل دی. ددې قول په بنياد جائزته نه مراد دَ اولې ورځ دَتکلف خوراک دې خان له دَ تحفې په توګه څه ورکول مراد نه دی

د ميلمستيا په حکم کښې (۳) مذاهب:

① ليث بن سعد او شوکانی دَ مطلق ضيافت دَ وجوب قائل دی

② امام احمدبن حنبل فرمائی چه په کلی والو باندې میلمستیا واجب ده ځکه چه میلمه دَ خوراک انتظام په کلی کښې نشی کولې په خلاف دَ ښار چه هلته هوټل وغیره وی میلمه دَ پاره انتظام ممکن دې
③ جمهورحضرات مالکیه، شوافع دَ ضیافت د سنت مؤکده کیدو قائل دی
داول او دویم فریق دلائل: ① ابوداؤد وغیره کښې مرفوعًا دَ ابوکریمه څخه نقل دی ليلة الضيف حق على كل مسلم فمن أصبح بفنائه فهو عليه دين إن شاء اقتضى وان شاء ترك
② په بل مرفوع روایت کښې دی أيما رجل أضاف قوما فأصبح الضيف محرومًا فان نصره حق على كل مسلم حتى يأخذ بقري ليلة من زرعه وماله
③ په بخاری شریف کښې دی عن عقبة بن عامر قلنا للنبي ﷺ إنك تبعثنا فننزل بقوم لا يقروننا فما ترى فيه فقال لنا رسول الله ﷺ إن نزلتم بقوم فأمروا لكم بما ينبغي للضيف فاقبلوا فان لم يفعلوا فخذوا منهم حق الضيف الذي ينبغي لهم وغیره.
حافظ فرمائی چه دې روایاتونه دَحقِ ضیافت وجوب ثابتیږی اوداهم معلومیږی چه که یوسړې ضیافت اونه کړی نو په زبردستئی دَ هغه نه دَ ضیافت حق وصولولې شی
داول فریق د دلائلو تاویلات: ① دَ مذکوره روایاتو محمل دَمیلمه حالت اضطراری دې یعنی که یوسړې حد اضطرار ته اورسی او کلی وال هغه باندې خوراک اونه کړی نو دَ هغه دَ پاره جائز دی چه په زور باندې دَ هغوی نه په اندازه دَ ضرورت خوراک واخلی
البته دا اختلاف شته چه دَ دې عوض واجب دې که نه نو دواړه اقوال دی.
② دَ دې روایاتو محمل دَ اسلام په شروع کښې دی چه دَ تنګئی وخت وو دې نه پس چه کله فتوحات اوشو نودا حکم منسوخ شو.
③ دا روایات دَهغه عمالو په حق کښې دی چه دَ صدقاتو وصولولو دَ پاره د حاکم دَ طرف نه لیږلې شوی وی او اصحاب صدقات هغوی سره ښه سلوک نه کوی تردې چه په هغوی باندې خوراک نه کوی نوهغوی له دَ ضیافت حق په زور بقدر ضرورت اخستل جائز دی.
④ دا روایات دَ اهل ذمه په حق کښې دی چه دَهغوی نه حق ضیافت په زور سره وصول کولې شی.
⑤ د خذوا: معنی طعام اخستل نه دی بلکه هغوی ته په ژبه باند بدې رد ونیل دی یعنی په خلقو کښې د دوی داخراب کار بیانول مراد دی.
د دویم فریق دلیل: داول فریق دلائل هم د دویم فریق فریق دلائل دی ځکه چې دویم فریق خو هم د ضیافت د ښه والی اومسنونیت څخه انکار نه کوی.البته د وجوب څخه ئې انکار کوی اودعدم وجوب دپاره جوابونه د تاویلاتوپه صورت کښې ذکرشول.

[۴۲۳۵] د میلمستیا وجوب

۴۲۳۵-[۳] () [۱] وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «قُلْتُ لِلنَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّكَ تَبْعَثُنَا [۳] فَنَنْزِلُ بِقَوْمٍ لَا يَقْرُونَنَا [۴] فَمَا تَرَى؟ [۵] فَقَالَ لَنَا: "إِنْ نَزَلْتُمْ بِقَوْمٍ [۶] فَأَمَرُوا لَكُمْ بِمَا يَنْبَغِي لِلضَّيْفِ فَاقْبَلُوا [۷] فَإِنْ لَمْ يَفْعَلُوا [۸] فَخُذُوا مِنْهُمْ حَقَّ الضَّيْفِ [۹] الَّذِي يَنْبَغِي لَهُمْ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت عقبه ابن عامر ﷺ وايي [۲] چې ما نبي کريم ﷺ ته عرض وکړو چې کله تاسو ﷺ مونږ [جهاد يا د يو بل کار د پاره] ليږئ، [۳] نو داسې هم کيږي، چې د داسې خلقو سره زمونږ قيام کول راځي، کوم چې زمونږ ميلمستيا نه کوي، [۴] په داسې صورت کې تاسو ﷺ څه حکم کوئ؟ (آيا مونږ په هغوئ په زبردستي خپله مهمان نوازي کولې شو يا نه؟) [۵] حضور ﷺ مونږ ته وفرمايل که تاسو [د خپل سفر په دوران کې] د يو قوم سره قيام کوئ، [۶] او هغوی تاسو ته هغه څيزونه درکړي، کوم چې يو ميلمه ته د ورکولو لائق دي، نو تاسو هغه قبول کړئ، [۷] او که هغوی داسې ونه کړي [يعنی د مهمان نوازي حق اداء نه کړي] [۸] نو تاسو د هغوئ نه د مهمان نوازي هغه حق اخستې شئ، [۹] کوم چې د يو ميلمه لائق دي (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① لَا يَقْرُونَنَا: دا د قرا نه جوړدې ميلمستياته وائي ② فَمَا تَرَى؟: نو ستاسو څه رائې ده

تسهيلات: قوله: لَا يَقْرُونَنَا:

د ميلمستيا د وجوب دليل: د دې حديث مطلب دادې چه کله کوربه د ميلمستيا حقوق ادا نه کړي نوميلمه د هغه نه خپل حق په زور اخستې شي. دا حديث د هغه حضراتو دليل دې چه د يوې ورځې ميلمستيا ته واجب وائي.

نوټ: د دې حديث څخه وړاندې د حديث نمبر (۴۲۴۴) په تشريح کښې د دې جواب تيرشوې دې

[۴۲۳۶] قابل اعتماد کورته د غير مدعو بوتلو جواز

۴۲۳۶-[۴] () [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «خَرَجَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ذَاتَ يَوْمٍ أَوْ لَيْلَةٍ [۳] فَإِذَا هُوَ بِأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ فَقَالَ: [۴] "مَا أَخْرَجَكُمَا مِنْ بُيُوتِكُمَا هَذِهِ السَّاعَةَ؟ [۵]! قَالَا: الْجُوعُ. [۶] قَالَ: "وَأَنَا وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَأَخْرَجَنِي الَّذِي أَخْرَجَكُمَا [۷] قُومُوا"، فَقَامُوا مَعَهُ [۸] فَأَتَى رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ، [۹] فَإِذَا هُوَ لَيْسَ فِي بَيْتِهِ [۱۰] فَلَمَّا رَأَتْهُ الْمَرْأَةُ، قَالَتْ: مَرْحَبًا وَأَهْلًا.

---

[1] اخرجه البخاري فى كتاب الإجارة/باب قصاص المظلوم إذا وجد مال ظالمه (رقم-۲۴۶۱) ومسلم فى كتاب اللقطة/باب الضيافة ونحوها (رقم-۱۷ - (۱۷۲۷) وابوداود فى كتاب الأطعمة/باب ما جاء فى الضيافة (رقم-۳۷۵۲) والترمذي فى كتاب السير عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما يحل من أموال أهل الذمة (رقم-۱۵۸۹) وابن ماجه فى كتاب الأدب/باب الاطلاء بالنورة (رقم-۳۷۵۲)

[2] اخرجه مسلم فى كتاب الأشربة/باب جواز استتباعه غيره إلى دار من يثق برضاه بذلك. وبتحققه تحققا تاما. واستحباب الاجتماع على الطعام (رقم-۱۴۰ - (۲۰۳۸) وابن ماجه فى كتاب الذبائح/باب النهى عن ذبح ذوات الدر (رقم-۳۱۸۱)

ترجمه: [١] او حضرت ابوهريره ﷺ وايي [٢] چې [يو ځل] رسول الله ﷺ د ورځې يا د شپې د كور نه ووتلو، [٣] ناڅاپه د حضرت ابوبكر صديق ﷺ او د حضرت عمر فاروق ﷺ سره يې ملاقات وشو، حضور ﷺ پوښتنه ورنه وكړه [٤] څه شي تاسو د كورونو نه را ويستلي يئ؟ [يعني دا وخت چې ستاسو د كور نه د وتلو عادت نه دي، نو داسې كوم ضرورت پيښ شو، چې ستاسو د كور نه د راوتلو باعث شوي دي؟] [٥] دواړو عرض وكړو چې لوږې مونږ د كور نه په وتلو مجبوره كړي يو [يعني مونږ د لوږې د شدت نه بيتابه كيدو سره د كور نه راوتلي يو] [٦] حضور ﷺ ورته وفرمايل چې زما دي هم په هغه ذات قسم وي چې د هغه په لاس كې زما ساه ده، هغه شي د كور نه زه هم را ويستلي يم، كوم چې تاسو د كور نه را ويستلي يئ، [يعنی زه هم د لوږې د وجې نه د كور نه راوتلي يم] ، [٧] راځئ، زما سره ځئ، نو هغه راولاړ شو، د حضور ﷺ سره ملګري شو، [٨] بيا حضور ﷺ د يو انصاري كور ته ورسيدلو، [چې د هغه نوم ابو الهيثم ﷺ وو] ، [٩] خو هغه په كور كې موجود نه وو، [١٠] د هغه ښځې چې حضور ﷺ وليدلو، نو هغې ورته په خير راغلي (خوش آمديد) اوويل چې تاسو خپلو خلقو ته راغلي يې، ستاسو تشريف راوړل دې مبارك وي.

حل اللغات: ① الْجُوعُ: لوږه، ② مَرْحَبًا وَأَهْلًا: پخيرراغلې ته هم خپل كورته راغلې دزمكې دا ټكړه دې ستاد پاره هواره او خوشګواره وي.

[١] قَالَ لَهَا رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَيْنَ فُلَانٌ؟" [٢] "، قَالَتْ: ذَهَبَ يَسْتَعْذِبُ لَنَا مِنَ الْمَاءِ. [٣] إِذْ جَاءَ الْأَنْصَارِيُّ، [٤] فَنَظَرَ إِلَى رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَصَاحِبَيْهِ، [٥] ثُمَّ قَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ، [٦] مَا أَحَدٌ الْيَوْمَ أَكْرَمَ أَضْيَافًا مِنِّي، [٧] قَالَ: فَانْطَلَقَ فَجَاءَ بِعِذْقٍ [٨] فِيهِ بُسْرٌ وَتَمْرٌ وَرُطَبٌ، [٩] فَقَالَ: كُلُوا مِنْ هَذِهِ، [١٠] وَأَخَذَ الْمُدْيَةَ،

ترجمه: [١] حضور ﷺ ورته وفرمايل چې ستا خاوند چيرته دي؟ [٢] هغې عرض وكړو چې هغه زمونږ د پاره د خوږو ابو راوړلو د پاره تللي دي، [٣] په دې كې هغه انصاري (يعني كوربه) هم راغي، [٤] هغه چې رسول الله ﷺ او دوه صحابه ﷺ [حضرت ابوبكر صديق ﷺ او حضرت عمر فاروق ﷺ] په خپل كور كې وليدل، [نو د خپلې خوش بختۍ نه په جامو كې نه ځايدو، يعنی ډير خوشحاله شو] ، [٥] او هغه اوويل چې الحمد لله د الله ﷻ شكر دي، [٦] د بزرګترو ميلمنو په اعتبار سره نن ورځ زما نه زيات خوش نصيبه څوك نشته، [يعنی نن ورځ زما ميلمانه د نورو خلقو د ميلمنو نه زيات بزرګ تر او معزز دي] ،
[٧] راوي [يعنی حضرت ابوهريره ﷺ] وايي چې د دې نه پس هغه انصاري [دا حضرات خپل باغ ته بوتلل، هلته د هغوئ د پاره يو تغر (وغيره) خورلو سره هغوئ يې په هغې كينول، او خپله د كجورو و نو ته] ورغلي، او د هغه ميلمنو د پاره د كجوروو يو وږى (غنچك) يې راوړو، [٨] چې په هغې كې نيم پخته او ترو تازه هر قسم كجورې وې، [٩] بيا

هغه ورته اوويل چې تاسو دا خورئ ۱۰ د دې نه پس هغه يوه چاړه واخسته، [او يوه بزه (چيلۍ) يې ذبح کول غوښتل]،

حل اللغات: ③يَسْتَعْذِبُ: خوږې اوبه راوړي، ④عِذْقٍ: دکجورو غونچکه، ⑤الْمُدْيَةَ: چاړه،

> ۱ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِيَّاكَ وَالْحَلُوبَ" ۲ فَذَبَحَ لَهُمْ، ۳ فَأَكَلُوا مِنَ الشَّاةِ ۴ وَمِنْ ذٰلِكَ الْعِذْقِ، وَشَرِبُوا، ۵ فَلَمَّا أَنْ شَبِعُوا وَرَوُوا ۶ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لِأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ: " ۷ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ ۸ لَتُسْأَلُنَّ عَنْ هٰذَا النَّعِيمِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، ۹ أَخْرَجَكُمْ مِنْ بُيُوتِكُمُ الْجُوعُ، ۱۰ ثُمَّ لَمْ تَرْجِعُوا حَتّٰى أَصَابَكُمْ هٰذَا النَّعِيمُ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ. ۱۱ وَذُكِرَ حَدِيثُ ابْنِ مَسْعُودٍ: "كَانَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ.." فِي " بَابِ الْوَلِيمَةِ ".

ترجمه: ۱ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل د شيدو والا د بزې د ذبح کولو نه پرهيز کوه. ۲ آخر هغه د حضور ﷺ او د صحابه ؓ د پاره يوه بزه (چيلۍ) ذبح کړه، [کوم وخت چې د هغه غوښه پخه شوه] ، ۳ نو ټولو د هغه بزې (چيلۍ) غوښې وخوړلې. ۴ د هغه غنچك نه يې کجورې وخوړلې، او اوبه يې اوڅکلې، ۵ دغه شان چه کله په خوراك څکاك ماړه شو. ۶ نو رسول الله ﷺ حضرت ابوبکر ؓ او حضرت عمر ؓ ته وفرمايل ۷ چې په هغه ذات مې دې قسم وي چې د هغه په لاس کې زما ساه ده، ۸ د قيامت په ورځ به ستاسو نه د دې نعمتونو باره کې پوښتنه کيږي. ۹ لوږې تاسو د خپلو کورونو نه را ويستلي وئ. ۱۰ ليکن تاسو خپلو کورونو ته لا تللی هم نه وئ، چې د الله ﷻ د طرف نه تاسو ته دا نعمتونه ملاؤ شوه. (مسلم) ۱۱ اوحديث دابومسعود انصاري ؓ کان رجل من الانصار الخ په باب الوليمه کې ذکر شوي دي

حل اللغات: ⑥الْحَلُوبَ: پئيو والا چيلۍ ⑦رَوُوا: خړوب شو.

تسهيلات:

قوله: مَرْحَبًا وَأَهْلًا

د ميلمستيا بعضې آداب: ①قابل اعتماد ملګرى اودوست له بغيرد بللونه پخپله هم سرې تلې شي اوخپل ملګرى هم بوتلې شي لکه څنګه چه نبی کريم بوتلل

② دَ خپلې خوښې څيز غوښتل او کوربه دَ ښه څيز ورکولونه منع کول جائزدی لکه څنګه چه نبی کريم منع کړل

③ د خپلې اولګې تندې اوتکليف په پښانتي اظهارکول خپلو دوستانوته جائزدی لکه څنګه چه نبی کريم صديق اکبر اوعمر فاروق ؓ اوکړل

④ دَدنياوي نعمتونونه خوند اخستلو باندې به په قيامت کښې دَ دغه نعمتونوباره کښې سوال کيږي.

⑤ دَمیلمه نه پوښتنه کول چه ته به خوراك کوې که نه مناسب نه دی بلکه زر پرې دَ څه خوړلو فکر کول پکاردی لکه څنګه چه دې انصاری صحابی اوکړه چه کهجورې ئی مخې ته کیخودې اودَ چیلئی ذبح کولودپاره ئی ورمنډه کړه.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[٤٢٤٧] د میلمستیا اهمیت

٤٢٤٧-[٥] (١) [١] عَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِي كَرِبَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- سَمِعَ النَّبِيَّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: "[٢] «أَيُّمَا مُسْلِمٍ ضَافَ قَوْمًا، [٢] فَأَصْبَحَ الضَّيْفُ مَحْرُومًا؟ [٣] كَانَ حَقًّا عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ نَصْرُهُ [٤] حَتَّى يَأْخُذَ لَهُ بِقِرَاهُ مِنْ مَالِهِ وَزَرْعِهِ» ". رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ. [٥] وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ: "«وَأَيُّمَا رَجُلٍ ضَافَ قَوْمًا فَلَمْ يَقْرُوهُ [٦] كَانَ لَهُ أَنْ يُعْقِبَهُمْ بِمِثْلِ قِرَاهُ» ".

ترجمه: [١] د حضرت مقدام ابن معدیکرب رضی الله عنه نه روایت دې چه هغه د نبي کریم ﷺ نه واوریدل [٢] کوم سړې چې په يو قوم کې [د چا سره] میلمه شو، [٢] او هغه د محرومۍ په حالت کې صبا کړو (یعني کوربه د شپې د هغه میلمستیا ونه کړه) [٣] نو د هغه به په هر مسلمان دا حق وي، چې د هغه مدد وکړي، [٤] تر دې چې هغه [د کوم سړي میلمه شوې دې]، د هغه د مال او د هغه د باغ باړې نه د مهمان نوازۍ په قدر (یعني د يو میلمه د خوراك څښاك په قدر) وصول کړي (دارمي ابوداؤد) [٥] او د ابوداؤد رحمه الله په يو بل روایت کې دا دي چې کوم سړې په يو قوم کې میلمه شو، او هغه خلقو د هغه مهمان نوازي ونه کړه، [٦] نو هغه ته به دا حق حاصل وي، چې هغه خلقو پسې ولګیږي، او د هغوئ د مال او اسباب نه د خپلې مهمان نوازۍ په قدر وصول کړي

حل اللغات: ① ضَافَ: میلمه شو، ② مَحْرُومًا: هیڅ خیال ئې پرې اونه ساتلو ③ بِقِرَاهُ: په برابرۍ د میلمستیا، ④ زَرْعِهِ: دپټي یا باغ دهغه نه، ⑤ يُعْقِبَهُمْ: چه تعاقب اوکړی دهغوی، یعنی دهغوی نه خپل حق واخلی

تسهیلات:

نوټ: ددې حدیث ښخه وړاندې دحدیث نمبر (۴۲۴۴) په تشریح کښې ددې جواب تیرشوې دې

[۴۲۴۸] بےملمستیا نه ورکولکی ته هم میلمستیا ورکول

۴۲۴۸-[۶] (٢) [١] وَعَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ الْجُشَمِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: [٢] قُلْتُ: «يَا رَسُولَ اللهِ! أَرَأَيْتَ إِنْ مَرَرْتُ بِرَجُلٍ [٣] فَلَمْ يَقْرِنِي وَلَمْ يُضِفْنِي، [٤] ثُمَّ مَرَّ بِي بَعْدَ ذَلِكَ، [٥] أَأَقْرِيهِ أَمْ أَجْزِيهِ؟ [٦] قَالَ: "بَلْ اقْرِهِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

[١] اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأطعمة/باب ما جاء في الضيافة (رقم-٣٧٥١) واحمد في المسند: ٤/١٣١

[٢] اخرجه الترمذي في السنن كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في الإحسان والعفو (رقم-٢٠٠٦) واحمد في المسند: ٣/٤٧٣

ترجمه: [۱] او حضرت ابو الاحوص جشمي ﷺ د خپل پلار (حضرت مالك ابن فضله صحابي ﷺ) نه روايت كوي،[۲] هغه اوويل چې ما يوه ورځ عرض وكړو چې يا رسول الله ﷺ كه زه په چا تيريږم، [يعنې د چا ميلمه شم] [۳] او هغه زما مهمان نوازي ونه كړي، او نه زما د مهمان نوازئ حق ادا كړي،[۴] بيا د دې نه پس هغه زما ميلمه شي،[۵] نو آيا زه د هغه مهمان نوازي وكړم؟ يا د هغه نه بدله واخلم؟ [يعنې زه هم د هغه سره هغه سلوك وكړم كوم چې هغه زما سره كړي دي؟] [٦] حضور ﷺ وفرمايل چې (نه د هغه نه بدله مه اخله) بلكې د هغه مهمان نوازي وكړه (ترمذي)

حل اللغات: ① فَلَمْ يَقْرِنِي: نو ميلمستيا اونه كړې زما ② وَلَمْ يَقْضِنِي: او حق ادا نه كړې د ميلمستيا زما، ③ أَأَقْرِيهِ: آيا ميلمستيا اوكړم دهغه، ④ أَجْزِيهِ؟: آيا بدل واخلم دهغه نه

نوټ: ددې حديث شخه وړاندې دحديث نمبر(۴۲۴۴) په تشريح كښې ددې جواب تيرشوې دې

[۳۳۹] د اجازت نه ملاويدو په صورت كښې د كور شخه واپس كيدل

۴۳۳—[۷] ()[۱] وَعَنْ أَنَسٍ - أَوْ غَيْرِهِ - [۲] «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - اسْتَأْذَنَ عَلَى سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ؛ [۳] فَقَالَ: "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ" [۴] فَقَالَ سَعْدٌ: وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللَّهِ، [۵] وَلَمْ يُسْمِعِ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٦] حَتَّى سَلَّمَ ثَلَاثًا، وَرَدَّ عَلَيْهِ سَعْدٌ ثَلَاثًا، وَلَمْ يُسْمِعْهُ، [۷] فَرَجَعَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَاتَّبَعَهُ سَعْدٌ،

ترجمه: [۱] حضرت انس ﷺ يا د هغه نه سوا د يو بل صحابي نه روايت دې[۲] چې [يوه ورځ نبي كريم ﷺ د حضرت سعد ابن عباده ﷺ [كور ته رسيدو سره] د كور دننه ورتلو اجازت طلب كړو.[۳] نو حضور ﷺ (په دروازه ودريدو سره) اوفرمايل السلام عليكم ورحمة الله په تاسو دې د الله ﷻ سلامتيا او رحمت نازل شي [آيا زه دننه درتلې شم؟][۴] حضرت سعد ﷺ د كور نه جواب وركړو وعليكم السلام ورحمة الله، او په تاسو ﷺ دې د الله ﷻ سلامتيا او د هغه رحمت نازل وي،[۵] ليكن هغه نبي كريم ﷺ ته دا جواب وانه ورولو.[٦] تر دې چې حضور درې خلې سلام وكړو او حضرت سعد ﷺ هم حضور ﷺ ته درې خلې جواب وركړو ليكن حضور ﷺ ته يې وانه ورولو، يعنې حضرت سعد ﷺ د حضور ﷺ د سلام جواب درې خلې قصداً په ډير قلار آواز كې وركړو.[۷] حضور ﷺ [د هغه جواب نه اوريدو سره] واپس لاړو، حضرت سعد ﷺ [چې وليدل چې كوم څيز ما په حصول سعادت كې د زياتوالي ذريعه جوړول غوښتل، هغه زما د پاره د محرومئ باعث جوړ نه شي، او د سوء ادب شكل اختيار نه كړي، نو سمدستي د كور نه راووتلو، او] په حضور ﷺ پسې راغې،

() اخرجه احمد فى المسند: ۱۳۸/۳

[١] فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ! بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي،[٢] مَا سَلَّمْتَ تَسْلِيمَةً إِلَّا هِيَ بِأُذُنِي،[٣] وَلَقَدْ رَدَدْتُ عَلَيْكَ وَلَمْ أُسْمِعْكَ،[٤] أَحْبَبْتُ أَنْ أَسْتَكْثِرَ مِنْ سَلَامِكَ وَمِنَ الْبَرَكَةِ،[٥] ثُمَّ دَخَلُوا الْبَيْتَ،[٦] فَقَرَّبَ لَهُ زَبِيبًا، فَأَكَلَ نَبِيُّ اللهِ ـ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ـ[٧] فَلَمَّا فَرَغَ قَالَ:[٨] "أَكَلَ طَعَامَكُمُ الْأَبْرَارُ،[٩] وَصَلَّتْ عَلَيْكُمُ الْمَلَائِكَةُ،[١٠] وَأَفْطَرَ عِنْدَكُمُ الصَّائِمُونَ». رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ".

ترجمه: [١] او عرض يې وكړو يا رسول الله ﷺ زما مور پلار دې په تاسو ﷺ قربان شي. [٢] تاسو ﷺ چې څومره خله سلام وكړو زما دواړو غوږونو واوريدو. [٣] حقيقت دا دې چې ما به [هر خل] جواب هم دركولو، البته ما به دا جواب ستاسو ﷺ غوږونو ته نه رسولو. [٤] خكه چه ما دا خوښه كړه چې تاسو ﷺ څومره زيات سلام وكړئ، زما په حق كې به د زيات حصولِ بركت او سعادت ذريعه وي [د حضرت سعد رضي الله عنه د طرف نه د دې اظهارِ حقيقت او عذر خواهئ نه پس] [٥] حضور ﷺ او حضرت سعد رضي الله عنه په كور كې دا خل شو. [٦] حضرت سعد رضي الله عنه د حضور ﷺ د پاره وُچكې پيش كړې، چې نبي كريم ﷺ وخوړلې. [٧] كوم وخت چې حضور ﷺ فارغه شو [نو د حضرت سعد رضي الله عنه په حق كې دعاء كولو سره يې] وفرمايل [٨] د الله ﷻ نيك بندګان دې ستاسو طعام وخوري، [٩] ملائكې دې ستا د پاره استغفار وكړي، [١٠] او روژه دار دې تاسو سره روژه ماتې وكړي. (شرح السنة)

حل اللغات: ① بِأُذُنِي: ما په غوږونو واوريدو. ② وَلَمْ أُسْمِعْكَ: ستاسو غوږونو ته به مې آواز نه در رسولو. ③ فَقَرَّبَ: نو پيش ئې كړې، وړاندې ئې كړې. ④ زَبِيبًا: وُچكې. ⑤ الْأَبْرَارُ: نيكان

تسهيلات:

دحديث د بعضې جملو وضاحت:

① أَكَلَ طَعَامَكُمُ الْأَبْرَارُ دادَ ماضي صيغه ده مګر دَانشاء اودعادَپاره په توګه دَاستقبال استعمال كړې شوې ده. يعنې دَالله تعالى نيكان بنديګان دې ستاسو خوراك اوخورى.

② وَصَلَّتْ عَلَيْكُمُ الْمَلَائِكَةُ داهم دَدعاپه توګه ده يعنى فرښتې دې ستادَپاره استغفار اوكړى

③ وَأَفْطَرَ عِنْدَكُمُ الصَّائِمُونَ صائمون نه مراد هغه خلق دى چه خوراك ئې نه دې كړې كه دَ اول نه ئې روژه وى اوكه نه وى داجمله هم دَدعاپه توګه ده. يعنى روژه داردې تاسوسره روژې ماتې اوكړى. دَ خوراك نه پس دادعاګانې زبانى وى څه خلق لاس اوچتولو سره دعاكوى معلومه نه ده چه هغوى دَچرته نه داثابتوى

دَخوراك نه پس دا دعاهم نقل ده.

[۳۲۵۰] پرهيزګارانو با ندې خوراک کول

۳۲۵۰—[۸] ( )[۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-عَنِ النَّبِيِّ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-قَالَ: [۲] "«مَثَلُ الْمُؤْمِنِ وَمَثَلُ الْإِيمَانِ كَمَثَلِ الْفَرَسِ[۳] فِي آخِيَّتِهِ يَجُولُ،[۴] ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَى آخِيَّتِهِ،[۵] وَإِنَّ الْمُؤْمِنَ يَسْهُو،[۶] ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَى الْإِيمَانِ،[۷] فَأَطْعِمُوا طَعَامَكُمُ الْأَتْقِيَاءَ،[۸] وَأَوْلُوا مَعْرُوفَكُمُ الْمُؤْمِنِينَ» ".[۹] رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ" وَأَبُو نُعَيْمٍ فِي "الْحِلْيَةِ".

ترجمه: [۱] حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه د نبي کريم ﷺ نه روايت کوي،[۲] چې حضور ﷺ وفرمايل د مؤمن او د ايمان مثال د هغه اس په شان دي،[۳] چې په خپله رسئ سره تړل شوي وي، او شا وخوا ګرځي،[۴] او بيا خپلې رسئ ته راځي.[۵] او [دغه شان] مؤمن غفلت او کوتاهي کوي،[۶] ليکن بيا د ايمان طرف ته راځي.[۷] نو تاسو خپل طعام په متقي او پرهيز ګارو خلقو خورئ[۸] او په خپلو ورکړو سره ټول مسلمانان برخمن کوئ. [يعنې هغوی ته حصه ورکوئ] [۹] دا روايت بيهقي رحمه الله په شعب الايمان کې او ابونعيم رحمه الله په حليه کې نقل کړی دی.

حل اللغات: ① آخِيَّتِهِ: ميخ، کونډه، ② يَجُولُ: ګرځي راګرځي، ③ يَسْهُو: غفلت او کوتاهي کوی. ④ الْأَتْقِيَاءَ: پرهيزګار او متقيان خلق، ⑤ الْحِلْيَةِ: دکتاب نوم دې.

تسهيلات:

قوله: مَثَلُ الْمُؤْمِنِ وَمَثَلُ الْإِيمَانِ كَمَثَلِ الْفَرَسِ فِي آخِيَّتِهِ يَجُولُ:

د آخيته مصداق: دَدې آسانه ترجمه رسئی اوکونډه ده ليکن په اصل کښې دَ اخية بهترين مصداق دَ خناورو په باړه کښې چه کوم دَ سائيکل ټائر په زمکه کښې خښولې شی اوهغې سره رسئی اوتړی او خناور وريورې تړلې شی هم دغه دې، دې ته کړئی هم وائی

دحديث مطلب: مؤمن خپل دَايمان مرکز سره تړلې شوې دې خناور خوددغه کړئی نه ډير لرې هم ځی ليکن رسئی موجود وی او په آخره کښې واپس بيا کړئی ته راځی هم دغه شان مثال دَ مؤمن دې چه دَ ايمان کړئی سره تړلې شوې دې که دَ ګناه طرف ته په غلطئی سره لاړشی نوبيادَخپل ايمان مرکزطرف ته واپس راګرځی دَ مسلمان مرکز ايمان اوقرآن دې، بيت الله اودَ رسول الله ﷺ مدينه ده مساجد مدارس اوعلماء دی ګمراه شوې مسلمان هم دَدغه مقاماتونه هدايت حاصلولې شی.

قوله: فَأَطْعِمُوا طَعَامَكُمُ الْأَتْقِيَاءَ:

د مذکوره جملې مطلب: دافاء جزائيه ده دَدې شرط محذوف دې يعنی کله چه دَ مسلمانانو مرکزيو دې نوپه دغه مرکزباندې ټولوله جمع کيدل پکاردی. لهذا دغه مرکز مضبوط

[۱] اخرجه احمد في المسند: ۵۵/۳

کړئ. دې صورت به داوی چه دیوبل میلمستیاکونی محبت او اتحاد پیداکړئ. په پرهيزګارانو باندې د خوړلوتخصيص د دې دپاره اوکړې شو چه کله هغوی خوراك کوی نو عبادت به کوی اوچه عبادت کوی نو تاسوته به دعاګانې کوی اود هغوی دعاګانې قبليږی.

قوله: وَأَوْلُوامَعْرُوفَكُمُ الْمُؤْمِنِينَ:

مسلمانانوته د هديو ورکولو ترغيب: دادَ ایلاء نه دې د والی اومتولی جوړولو په معنی کښې دې يعنی مسلمانان خپلې عطا سره خاص کړئ د کافرانواو منافقانو په چکرکښې مه پريوځئ

[۳۲۵۱] په خوراك کښې د تشهد په شکل کيناستل

۴۲۲۶-[۹] ()[۱] عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ بُسْرٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: [۲]«كَانَ لِلنَّبِيِّ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-قَصْعَةٌ، [۳]يَحْمِلُهَا أَرْبَعَةُ رِجَالٍ،[۴]يُقَالُ لَهَا: الْغَرَّاءُ،[۵] فَلَمَّا أَضْحَوْا[۶] وَسَجَدُوا الضُّحَى،[۷] أُتِيَ بِتِلْكَ الْقَصْعَةِ وَقَدْ ثُرِدَ فِيهَا،[۸]فَالْتَفُّوا عَلَيْهَا،[۹]فَلَمَّا كَثُرُوا، جَثَا رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-[۱۰]فَقَالَ أَعرابِيٌّ: مَا هٰذِهِ الْجِلْسَةُ؟

ترجمه: [۱] حضرت عبدالله ابن بسر رضی الله عنه وايي[۲] چې د رسول الله ﷺ سره يو لوئ چوبي خانك (لوی دلرګي لوښی) وو،[۳] چې څلورو کسانو به پورته کولو، [يعنی هر کله چې به هغه کې به طعام کيخودل شو، نو هغه به دومره دروند شو، چې څلورو سړو به اوچتولو. يا هغه خالي دومره لوئ يا د روند وو، چې د څلورو سړو نه بغير نه شو اوچتيدلو. لوي خانك ته غرّا ونيل کيږي] .[۵] هر کله چې به د څاښت وخت شو،[۶] او خلقو به د څاښت مونځ وکړو [۷] نو هغه لوئ خانك راوړل شو، په هغه کې ثريد تياريدلو،[۸] بيا به خلق په جمع کيدو سره د هغې نه چاپيره کينا ستل.[۹] تر دې چې د خلقو تعداد به ډير زيات شو (او د ناستې ځاي به تنګ شو) نو رسول الله ﷺ په زنګونو کيناستو،[۱۰] (يوه ورځ حضور ﷺ د غه شان ناست وو. چې يو باندچي (کليوال وليدلو) نو هغه اوويل چې دا څرنګه ناسته ده؟ [يعنی داسې ناسته ستاسو د شان سره مناسب نه ده]

حل اللغات: ① قَصْعَةٌ: د لرګی کاسه. ② الغَرّاءُ: روښانه، د لرګی لوښي خانک. ③ أَضْحَوْا: د ساخت وخت شو. ④ ثُرِدَ: ثريد جوړ کړئ شوې وه. ⑤ فَالْتَفُّوا: خلق تاو راتاؤ چاپيره کيناستل ⑥ جَثَا: په زنګونو باندې کيناستوته وانی

[۱] فَقَالَ النَّبِيُّ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-:[۲]"إِنَّ اللّٰهَ جَعَلَنِي عَبْدًا كَرِيمًا،[۳]وَلَمْ يَجْعَلْنِي جَبَّارًا عَنِيدًا"[۴]ثُمَّ قَالَ: "كُلُوا مِنْ جَوَانِبِهَا،[۵]وَدَعُوا ذِرْوَتَهَا يُبَارَكْ فِيهَا»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] په دې اوريدو سره نبي کريم ﷺ وفرمايل[۲] حقيقت دا دې چې الله تعالى ﷻ زه

() اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأطعمة/باب ما جاء في الأكل من أعلى الصحفة (رقم-۳۷۷۳) وابن ماجه في كتاب الأطعمة/باب الأكل متكئا (رقم-۳۲۶۳)

تواضع او انکساری کونکي جوړ کړي یم، [۲] سرکشه او ضدي یې نه یم جوړ کړي (او داسې ناسته د تواضع او انکساري اختیارولو نژدې لاره ده) [۴] بیا حضور ﷺ [تول مخاطب کولو سره] وفرمایل چې د دې لوښي خانك د غاړو نه [یعنی د خپلې مخې نه یې] خورئ. [۵] د دې بلندي پریږدئ، یعنی درمیاني حصه خوړلو ته مخکې لاس مه اچوئ. ستاسو د پاره به په دې کې برکت ورکړې کیږي (ابوداؤد)

حل اللغات: ⑦جَبَّارًا: سرکش، زورآور، ⑧عَنِيدًا: ضدی، ⑨ذِرْوَتَهَا: د خوراک منځ یا پورته حصه.

تسهيلات:

قوله: قَصْعَةٌ، يَحْمِلُهَا أَرْبَعَةُ رِجَالٍ، يُقَالُ لَهَا: الْغَرَّاءُ:

د نبی علیه السلام د صحابؤ سره په غټ لوښی کښې خوراک کول: یعنی رسول الله ﷺ او د هغوی صحابه کرامو ﷺ چه به په کوم لوښی کښې خوراک فرمائیلو هغه یو لویه پیاله وه کومه چه به څلورو کسانو راوړله او په هغې کښې به ترید اچولې شوې وو د دې پیالې نوم غرّاء وو، پس چه کله به د څاښت وخت شو او صحابه کرامو ﷺ به د څاښت مونځ اوکړو نو دا پیاله به راوړلې شوه ټول حضرات به د هغې نه چاپیره د حلقې په شکل کښې کیناستل

قوله: جَثَا رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

باندیچې ته د نبی علیه السلام جواب: یوکرت چه کله خوراک کونکی زیات شو نو رسول الله ﷺ راغونډ په دواړو کونډو باندې کیناستلو (ښکاره خبره ده چه دا ډیر د تواضع هیئت دې هم په دې وجه) یو اعرابی اووې دا د ناستې څنګه هیئت دې؟ په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائیل (إِنَّ اللّٰهَ جَعَلَنِي عَبْدًا كَرِيمًا وَلَمْ يَجْعَلْنِي جَبَّارًا عَنِيدًا) چه الله پاک زه شریف الطبع انسان پیدا کړې یم. او متکبر او سخت خونی والائې نه یم جوړ کړې بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل د دې پیالې د څلورو واړو طرفونو نه خوراک کوئ، او د دې د مینځ حصه پریږدئ چه په دې کښې برکت نازلیږی.

د نبی علیه السلام دوه قسمه غټې پیالې: په شمائل ترمذی کښې د رسول الله ﷺ د قدح ذکر هم راغې چه په هغې باندې امام ترمذی ﷫ مستقل باب تړلې دې چه په هغې کښې دا دی (عن ثابت قال اخرج الینا انس بن مالك ﷜ قدح خشب غلیظ مضبا بحدید الحدیث) یعنی د رسول الله ﷺ د لرګی یو پیاله وه چه په هغې کښې د اوسپنې پترې لګیدلې وو. چه د هغې په باره کښې انس ﷜ دا هم فرمائی چه رسول الله ﷺ به د څکلو ټول څیزونه په دې پیاله باندې څکل (الماء والنبیذ والعسل واللبن) او دا غراء د کوم چه په حدیث الباب کښې ذکر دې د یو لوئې لوښی نوم دې چه په هغې کښې به رسول الله ﷺ او صحابه کرامو ﷺ یو ځائې ترید خوړلو. والحدیث اخرجه ابن ماجه، قاله المنذری.

[۴۲۵۲] په شریکه خوراک کولو کښې برکت

۴۲۵۲-[۱۰] (۱) [۱] وَعَنْ وَحْشِيِّ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، [۲] «أَنَّ أَصْحَابَ رَسُولِ اللَّهِ- صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ! [۳] إِنَّا نَأْكُلُ وَلَا نَشْبَعُ. [۴] قَالَ: "فَلَعَلَّكُمْ تَفْتَرِقُونَ؟ [۵]" قَالُوا: نَعَمْ. [۶] قَالَ: "فَاجْتَمِعُوا عَلَى طَعَامِكُمْ، [۷] وَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ يُبَارَكْ لَكُمْ فِيهِ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] حضرت وحشي ابن حرب رضی الله عنه د خپل پلار نه او هغه (د خپل پلار او) د وحشي د نیکه نه نقل کوي، [۲] چې حضور ﷺ ته څه صحابه ؤ رضی الله عنهم [ایوه ورځ] عرض وکړو چې یا رسول الله! ﷺ [۳] مونږ [اګرچه خه ډیرا طعام خورو، لیکن مونږ نه مړیږو، [حالانکه مونږ غواړو چې یا خو دي زمونږ نس (خیټه) ډك شي، چې مونږ ته د عبادت او طاعت طاقت حاصل شي، یا مونږ ته د قناعت دولت حاصل شي] [۴] حضور ﷺ وفرمایل [په خاص مقدار کې د طعام خوړلو باوجود د نس د نه ډکیدو ظاهري وجه دا معلومیږي، چې] تاسو بې شاید جدا جدا خورئ، [۵] هغوئ عرض وکړو چې هو، [۶] حضور ﷺ وفرمایل چې بیا تاسو خپل طعام په جمع کیدو سره خورئ، [۷] او په هغې د الله جل جلاله نوم اخلئ (بسم الله وایئ) ستاسو د پاره به په هغه طعام کې برکت درکول کیږي. (ابوداود)

حل اللغات: ① تَفْتَرِقُونَ: تاسو به جدا جدا خورئ.

د حضرت وحشي بن حرب رضی الله عنه مختصر تعارف: نوم وحشي، کنیت ابودسمه، دحضرت جبیر بن مطعم غلام وو. په جنګ بدرکښې حضرت حمزه رضی الله عنه دَ جبیر بن مطعم تره طعیمه بن عدی قتل کړې وو په دې وجه جبیرته دهغه دَ بدلې ډیر زیات فکروو. دَاحد په جنګ کښې جبیروحشي ته اووئیل که تا حضرت حمزه رضی الله عنه شهید کړې نوآزاد ئې. نو وحشي حضرت حمزه رضی الله عنه داسې په نیزه اووهلو چه دَ نوم نه ئې پورې راپورې اووتله او هم په هغه ځائ شهیدشو (بخاری کتاب المغازی)

دَمکې دَفتح نه پس مدینه منوره کښې حاضرشو اومسلمان شو. حضور ﷺ اوفرمائیل وحشي تاته په کتو سره ماته خپل تره حضرت حمزه رضی الله عنه رایادیږی. دَحضرت حمزه رضی الله عنه قتل دَ وحشي په زړه باندې یوداسې زخم وو دَ کوم چه هغه تلافي کول غوښتله. نوچه کله مسیلمه کذاب سره جنګ اوشونووحشي هم هغه نیزه واخسته په کومه چه ئې حضرت حمزه رضی الله عنه شهید کړې ووپه هغه نیزه باندې ئې دَ مسیلمه کذاب په سینه باندې داسې واراوکړو چه دَ سینې نه ئې پورې راپورې اووتلو.

وفات: حمص کښې وفات شو.

مرویات: بعضې وائي چه ۸ اودَ بعضوپه نیزدَ هغه نه څلور روایتونه نقل دی.

(۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأطعمة/باب فی الاجتماع علی الطعام (رقم-۳۷٦٤) وابن ماجه فی کتاب الأطعمة/باب الاجتماع علی الطعام (رقم-۳۲۸٦) واحمد فی المسند: ۳/ ۵۰۱

تسهيلات:

قوله: فَاجْتَمِعُوا عَلَى طَعَامِكُمْ:

دحديث مناسب محمل: په ظاهره داسې معلومیږي چه په يوځاى كيناستل او په يولوښي كښې خوړلوته يوځاى خوراك ونيلي شوى دى. كيدې شي چه په يو دسترخوان باندې كيناستل او په جدا جدا پليټونوكښې خوړلوسره به دا شرط پوره نه شي عرب خلق لس لس كسان په يوځاى كينى اوس هم په قبانلوكښې هم دغه شان رواج دې

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۴۲۵۴] دا نسان ضروريات اصليه

۴۲۵۴—[۱۱] () عَنْ أَبِي عَسِيبٍ، قَالَ: [۲] "«خَرَجَ رَسُولُ اللهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لَيْلًا، [۳] فَمَرَّ بِي فَدَعَانِي، [۴] فَخَرَجْتُ إِلَيْهِ، [۵] ثُمَّ مَرَّ بِأَبِي بَكْرٍ فَدَعَاهُ، فَخَرَجَ إِلَيْهِ، [۶] ثُمَّ مَرَّ بِعُمَرَ فَدَعَاهُ، فَخَرَجَ إِلَيْهِ، [۷] فَانْطَلَقَ حَتَّى دَخَلَ حَائِطًا لِبَعْضِ الْأَنْصَارِ، [۸] فَقَالَ لِصَاحِبِ الْحَائِطِ: "أَطْعِمْنَا بُسْرًا" [۹] فَجَاءَ بِعِذْقٍ، فَوَضَعَهُ، [۱۰] فَأَكَلَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَأَصْحَابُهُ، [۱۱] ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ بَارِدٍ، فَشَرِبَ، [۱۲] فَقَالَ: "لَتُسْأَلُنَّ عَنْ هٰذَا النَّعِيمِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ"،

ترجمه: [۱] حضرت ابو عسيب رضي الله عنه وايي چې [۲] [د يو ځل واقعه ده] چه د شپې په وخت رسول الله ﷺ د كور نه بهر راووتلو، [۳] او زما كره يې تشريف را وړو. او زه يې وبللم. [۴] زه راوتلو سره د حضور ﷺ سره ملګري شوم، [۵] بيا د حضرت ابوبكر رضي الله عنه كره يې تشريف يوړو. او هغه يې وبللو، هغه هم د كورنه راوتلو سره د حضور ﷺ سره شو. [۶] بيا حضور ﷺ د حضرت عمر رضي الله عنه كره تشريف يوړلو، هغه يې وبللو، هغه هم د كور نه را وتلو سره د حضور ﷺ سره شو. [۷] بيا حضور ﷺ [مونږ تولو سره] روان شو. تر دې چې يو باغ ته ورسيدو. چې د يو انصاري صحابي وو. [۸] حضور ﷺ د باغ مالك ته وفرمايل چې په مونږ كجوري وخوره. [۹] د باغ مالك د كجورو يو غنچك راوړلو سره زمونږ مخې ته كيخودو. [۱۰] د هغې نه رسول الله ﷺ هم وخوړلې او د هغه صحابه رضي الله عنهم [يعنى مونږ خلقو] هم وخوړلې. [۱۱] بيا حضور ﷺ يخې اوبه وغوښتلې. چې حضور ﷺ [او مونږ] اوڅكلې. [۱۲] د هغې نه پس حضور ﷺ وفرمايل چې يقيناً د قيامت په ورځ به ستاسو نه د دې نعمت باره كې پوښتنه كيږي.

حل اللغات: ① حَائِطًا: باغ. ② بُسْرًا: نيم پخته كجورې. ③ بِعِذْقٍ: د كجورو غونچک.

[۱] قَالَ: فَأَخَذَ عُمَرُ الْعِذْقَ فَضَرَبَ بِهِ الْأَرْضَ [۲] حَتَّى تَنَاثَرَ الْبُسْرُ قِبَلَ رَسُولِ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۳] ثُمَّ قَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! إِنَّا لَمَسْئُولُونَ عَنْ هٰذَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟ [۴] قَالَ: "نَعَمْ، إِلَّا مِنْ ثَلَاثٍ: [۵] خِرْقَةٍ لَفَّ بِهَا الرَّجُلُ عَوْرَتَهُ، [۶] أَوْ كِسْرَةٍ سَدَّ بِهَا جَوْعَتَهُ، [۷] أَوْ جُحْرٍ تَدْخُلُ فِيهِ مِنَ الْحَرِّ وَالْقُرِّ» " رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي " شُعَبِ

() اخرجه احمد في المسند: ۸۱/۵

الْإِيمَانِ" "مُرْسَلاً".

ترجمه: [۱] راوي وايي چې (د دې اوریدو سره) حضرت عمر رضی الله عنه د کجورو غنچك اوچت کړو او په زمکه یې وویشتلو، [۲] تر دې چې د هغې کچه کجوري د رسول الله ﷺ مخې ته وباشل [خورې ورې] شوې، [۳] بیا هغه عرض وکړو چې یا رسول الله ﷺ آیا د قیامت په ورځ به زمونږ نه په دې باره کې پوښتنه کیږي؟ [۴] حضور ﷺ وفرمایل چې د هر نعمت باره کې به پوښتنه کیږي، که هغه کم وي که زیات، البته د دریو څیزونو باره کې به پوښتنه نه کیږي، [۵] یو خو هغې جامه چې په هغه سره سړي بدن پټ کړي، [۶] دویم د روټۍ ټکړه چې د هغه په ذریعه خپله لوږه لرې کړي، [۷] او دریم کور (مکان) چې هغه ته د ګرمۍ او یخنۍ نه د ساتنې د پاره ورننوځي. (احمد بیهقي)

حل اللغات: ③تَنَاثَرَ: اوښې شیندلي، ⑤خِرْقَةٍ: جامه، ⑥لَفَّ: پټ کړي، ⑥كِسْرَةٍ: د روټۍ ټکړه، حصه. ⑧سَدَّ: بند کړي، لرې کړي، ⑨جُحْرٍ: کور، ⑩الْقَرّ: یخنۍ

تسهیلات:

نوټ: د حدیث د ګرانو لغاتو حل او شوباقی د حدیث مضمون آسان دي.

[۴۲۵۳] په جمع خوراك کولو کښې د وراندې بس کولو څخه ممانعت

۴۲۵۳-[۱۳] (۱) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] «إِذَا وُضِعَتِ الْمَائِدَةُ [۳] فَلَا يَقُومُ رَجُلٌ حَتَّى تُرْفَعَ الْمَائِدَةُ [۴] وَلَا يَرْفَعْ يَدَهُ وَإِنْ شَبِعَ [۵] حَتَّى يَفْرُغَ الْقَوْمُ [۶] وَلْيُعْذِرْ [۷] [۷] فَإِنَّ ذٰلِكَ يُخْجِلُ جَلِيسَهُ [۸] فَيَقْبِضُ يَدَهُ [۹] وَعَسَى أَنْ يَكُونَ لَهُ فِي الطَّعَامِ حَاجَةٌ» ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عمر رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] هر کله چې دسترخوان وغوړیږي، [او خلق د خوراك د پاره کیني] [۳] نو یو سړي دې تر هغه وخته پورې نه پاخیږي، تر څو چې څیزونه پورته نه شي، [۴] او د طعام نه دې تر هغه وخته پورې لاس نه نیسي، اګرکه چیرې هغه موړ شوي وي، [۵] تر څو چې ټول خلق د خوراك نه فارغه نشي. [۶] او [که د څه عذر په بناء د دسترخوان نه مخکې پاڅیدل ضروري وي. یا د نورو خلقو د خوراك نه فارغیدو نه مخکې خپل لاس نیول وي نو] پکار دي چې هغه عذر بیان کړي ایعني معذرت طلب کولو سره دې د دسترخوان نه ولاړ شي. یا دې خپل لاس ونیسي] [۷] ځکه چې په دې [صورت کې د طعام نه خپل لاس رانیول، هر کله چې نور خلق په خوراك کې مشغول وي] ، خپل ناست ملګري شرمنده کول دي. [۸] چنانچه [هر کله چې یو سړي د

(۱) اخرجه ابن ماجه في السنن كتاب الأطعمة/باب النهى أن يقام عن الطعام. حتى يرفع. وأن يكف يده. حتى يفرغ القوم (رقم-۳۲۹۵)

ويني، چې د هغه ملګرو خوړل پرېښي وي] ، نو د شرم په وجه هغه به هم خپل لاس ونيسي.۹ حالانکه ډيره ممکنه ده چې هغه لااوس د نور خوراك خواهش لري. [يعنی هغه لانه وي موړ سوي] (ابن ماجه بيهقي)

حل اللغات: ① وَلْيُعْذِرْ: عذر دې اوکړي. ② يَخْجَلُ: شرمنده کوی.

تسهيلات:

قوله: إِذَاوُضِعَتِ الْمَائِدَةُ فَلَا يَقُومُ رَجُلٌ حَتَّى تُرْفَعَ الْمَائِدَةُ:

په جمع کښې د مخکې پاسيدو ممانعت: په حديث کښې يو ادب دا خودلې شوې دې که څوک موړ هم شی نو د ملګرو څخه دې نه پاسيږی چې دوی داسې پرېږدی اودې ترې پاسی په دې کښې به هغوی ته شرم محسوس شی چې په مونږ باندې به د زياتی خوړو ګمان اوکړی نو کيدې شی هغوی هم د شرم د وجهې پاسی.

قوله: وَلَا يَرْفَعْ يَدَهُ وَإِنْ شَبِعَ حَتَّى يَفْرُغَ الْقَوْمُ:

د ملګرو څخه وړاندې د بس کولو څخه ممانعت: په اجتماعی خوراك کښې يوسړې دَبل دوست نه وړاندې دَخوراك نه لاس رانه کاږی بلکه دآخره پورې دې هسې شغل کوی دې دَپاره چه دَ شرم دَ وجهې نور هم خوراك پرېنږدی.

قوله: وَلْيُعْذِرْ:

د مخکې پاسيدو په صورت کښې ملګروته عذر وړاندې کول: يعنی که يوسړې زر پاسی ياځه مجبوری وی نوهغه دې خپلو ملګروته معذرت اوکړی او اودې وائی چه رونړو تاسو خورئی ما مخکښې خوړلې ده. زه په تادئی کښې يم چرته روان يم. دا ځکه چه نورو ملګروته ئی دَ شرم وجهې په خوراك کښې مشکل نه وی. چه لاتردغه وخت پورې دَهغوی دَ خوراك طلب باقی دې مګر دَنورو دَ لاس راښکلودَ وجهې هغه هم لاس راکاږی.

[۴۲۵۵] نبی عليه السلام او د ټولو څخه روسته بس کول

۴۲۵۵-[۱۳] (¹)① وَعَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: ②«كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا أَكَلَ مَعَ قَوْمٍ③ كَانَ آخِرَهُمْ أَكْلًا». ④ رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ" مُرْسَلًا.

ترجمه: ① او امام جعفر صادق ابن محمد رحمه الله د خپل پلار يعنی د امام محمد باقر رحمه الله نه روايت کوي، هغه اوويل② رسول الله ﷺ چې به د خلقو سره طعام خوړلو.③ نو حضور ﷺ به د ټولو نه آخر سړی وو، چې له خوراك نه به يې لاس اخستلو.④ دا روايت بيهقي رحمه الله په شعب الايمان کې بطور ارسال نقل کړي دي .

¹) اخرجه البيهقی فی شعب الايمان رقم الحديث ۶۰۳۷

تسهیلات:

قوله: إِذَا أَكَلَ مَعَ قَوْمٍ كَانَ آخِرَهُمْ أَكْلًا:

د مقتدا دپاره په ملګرو کښې روسته بس کول: د دې حدیث په شان ماقبل کښې هم یو حدیث تیر شو، چه نبی کریم ﷺ به په دسترخوان باندې موجود خلقو نه مخکې خپل لاس مبارک نه ورستو کول بلکه اخر پورې به ئې خوراک کولو. او نبی کریم ﷺ به کم خوراک کولو او په دمه دمه به ئې کولو، هم دغه شان تر آخر پورې به ټولو سره ناست وو. ځکه چه نور خلق د شرم او حیا دوجهې نه خوراک پرېنږدي.

[۳۲۵۶] د لوږې باوجود د طعام خوړلو نه تکلفًا انکار کول د دروغ ویلو برابر دي

۳۲۵۶ـ[۱۴] (۱) [۱] وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهَا - قَالَتْ: [۲] «أُتِيَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِطَعَامٍ [۳] فَعَرَضَ عَلَيْنَا [۴] فَقُلْنَا: لَا نَشْتَهِيهِ. [۵] قَالَ: "لَا تَجْتَمِعْنَ جُوعًا وَكَذِبًا» ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او بي بي اسماء بنت یزید رضي الله عنها وایي [۲] چې یوه ورځ نبي کریم ﷺ ته طعام راوړل شو، [۳] او بیا یې هغه طعام زمونږ مخې ته کیخودو [مونږ اګر چې اوږي وو. او د خوړلو خواهش مو وو، خو ځرنګه چې عادت دي محض تکلفًا] [۴] مونږ اوویل چې مونږ ته د خوړلو خواهش نشته، [۵] حضور ﷺ (د دې په اوریدو سره) وفرمایل لوږه او دروغ دواړه مه جمع کوئ. (ابن ماجه)

تسهیلات: قوله: فَقُلْنَا: لَا نَشْتَهِيهِ: یعنی زمونږ خوراك ته زړه نه کیږي حالانکه زړه ئې وو مطلب دا چه اوګې دې خو په تکلف سره وائی چه اوګې نه یم نو په دې کښې دَدوو څیزونونقصان دې یو خو دَدنیا چه خوراك نی اونه کړو بل دَ آخرت چه دروغ نی اووئیل دادَ امت دَ داسې کسانو دَپاره تنبیه ده څوك چه داسې کوی

[۳۲۵۷] په جمع طعام خوړل د برکت باعث دي

۳۲۵۷ـ[۱۵] (۲) [۱] وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " [۲] «كُلُوا جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا، [۳] فَإِنَّ الْبَرَكَةَ مَعَ الْجَمَاعَةِ» ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او حضرت عمر ابن خطاب رضي الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] طعام په جمع خورئ، جدا جدا یې مه خورئ، [۳] ځکه چې برکت د جماعت سره وي. (ابن ماجه)

[۱] اخرجه ابن ماجه فی السنن کتاب الأطعمة/باب عرض الطعام (رقم-۳۲۹۸)
[۲] اخرجه ابن ماجه فی السنن کتاب الأطعمة/باب الاجتماع علی الطعام (رقم-۳۲۸۷)

[۳۳۵۸] ميلمه سره تر كور دروازې پورې تلل

۳۳۵۸-[۱۶] (۱) ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ "«مِنَ السُّنَّةِ أَنْ يَخْرُجَ الرَّجُلُ مَعَ ضَيْفِهِ إِلَى بَابِ الدَّارِ»". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ دا سنت دي چې سړي د خپل ميلمه [د استقبال كولو يا د رخصتولو] د پاره د كور د دروازې نه تر بهر راووځي (ابن ماجه)

۳۳۵۹- ۱ وَرَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ" عَنْهُ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، ۲ وَقَالَ فِي إِسْنَادِهِ ضَعْفٌ.

ترجمه: ۱ او بيهقي رحمه الله په شعب الايمان كې دا روايت د حضرت ابوهريره رضي الله عنه او حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه نقل كړي دي ۲ او بيهقي رحمه الله ويلي دي چې د دې په سلسلۀ سند كې ضعف دي.

تسهيلات:

قوله: مِنَ السُّنَّةِ أَنْ يَخْرُجَ الرَّجُلُ مَعَ ضَيْفِهِ إِلَى بَابِ الدَّارِ

ميلمه دروازې پورې تلل: مطلب دادې چه دَميلمه دَ رخصت كولويه وخت هغه سره دَدروازې پورې تلل دَ پخوانې زمانې يوعادت دې چه دَتهذيب او ښه والي يو حصه ده يامطلب دادې چه نبي كريم فرمائي چه داعمل زمادَ طريقې مطابق دې.

[۳۳۶۰] د سخاوت والا كورته د خير راتلل

۳۳۶۰-[۱۷] (۲) ۱ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ («الْخَيْرُ أَسْرَعُ إِلَى الْبَيْتِ الَّذِي يُؤْكَلُ فِيهِ ۳ مِنَ الشَّفْرَةِ إِلَى سَنَامِ الْبَعِيرِ»). رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابن عباس رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ په كوم كور كې چې [په ميلمنو] طعام خوړل كيږي، هلته خير [يعنى رزق، بركت او ښيګړه] دومره په تيزئ سره رسيږي، ۳ چې په دومره تيزي سره چاړه هم د اوښ قُب [بوك] ته نشي رسيدي، (ابن ماجه)

حل اللغات: ① الشَّفْرَةِ: چاړه، ② سَنَامِ: قُب، ③ الْبَعِيرِ: اوښ

تسهيلات:

قوله: الْخَيْرُ أَسْرَعُ إِلَى الْبَيْتِ الَّذِي يُؤْكَلُ فِيهِ مِنَ الشَّفْرَةِ إِلَى سَنَامِ الْبَعِيرِ

د اوس قب سره د تشبيه وركولو وجه: اوښ چه كله ذبح كولې شي نودَ ذبح نه پس دَ ټولونه اول زر زر دَهغه دَ قب نه غوښه پرې كولې او پخولې شي او په شوق سره خوړلې شي. په دې

(۱) اخرجه ابن ماجه في السنن كتاب الأطعمة/باب الضيافة (رقم-۳۳۵۸)
(۲) اخرجه ابن ماجه في السنن كتاب الأطعمة/باب الضيافة (رقم-۳۳۵۷)

حديث كښې ئې فرمائيلي دي چه دکوم سړی په کورکښې په ميلمه باندې خوراك اوكړې شو دهغه کورطرف ته خير اوبرکت ددې نه هم زيات زر راځي لکه څنګه چه چاړه د ذبح شوی اوښ د قب طرف په تادئی سره راځي.

[۲] بَابٌ فِي مَتَى يَكُونُ الْمَرْءُ مُضْطَرًّا الْتَحِلَّ لَهُ الْمَيْتَةُ

سړي کله اضطراری حالت ته رسيږی چې دده دپاره مرداره جائز کيږی

وَهٰذَا الْبَابُ خَالٍ عَنِ الْفَصْلِ الْأَوَّلِ وَالثَّالِثِ

په دې باب کې فصل اول او فصل دويم نشته

خلاصة الباب:

فيه حديثان كل واحد منهما مشتملان على حكم حالة الإضطرار

په اصل مشکاة کښې د باب د عدم عنوان وجه: ددې باب لاندې صاحب مشكوة هيڅ عنوان نه دې ترلې لکه چه داباب د سابقه باب د لواحقاتو څخې دې.

د فصل اول اوثالث د عدم وجود وجه: بله خبره دا چه په دې باب کښې فصل اول او فصل لثالث دواړه غيب دی صرف فصل ثانی ذکردې. چونکه صاحب مشكوة د مصابيح پيروی کوی اوصاحب مصابيح ته ددې متعلق څه حديث نه دې ملاؤ شوې. لهذا فصل اول ئې نه دې لګولې باقی فصل ثالث راوړل د صاحب مصابيح په نيزنشته دې په دې وجه د دې دنفی کولوضرورت نه وو

د مضطرعنوان ور کولکی: که چرې دا باب نه هم وونوځه بنه به وه. دا احاديث به د سابقه باب په فصل ثانی کښې درج کيدل ليکن چونکه دمضامينو په اعتبارسره دا احاديث بالكل مختلف دی په دې وجه علامه طيبی رحمه الله اوملاعلی قاری رحمه الله دباب المضطر عنوان ورکړوکوم چه ډيربنه دې

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۴۲۳۱] په حالت اضطراری کښې د مرداري د خوړلو حکم

۴۲۳۱-[۱] (۱) [۱] «عَنِ الْفُجَيْعِ الْعَامِرِيِّ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - أَنَّهُ أَتَى النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] فَقَالَ مَا يَحِلُّ لَنَا مِنَ الْمَيْتَةِ؟ [۳] قَالَ: "مَا طَعَامُكُمْ؟ [۴] قَالَ: نَغْتَبِقُ وَنَصْطَبِحُ". [۵] قَالَ أَبُو نُعَيْمٍ: فَسَّرَهُ لِي عُقْبَةُ: [۶] قَدَحٌ غُدْوَةً، وَقَدَحٌ عَشِيَّةً. [۷] قَالَ: "ذَاكَ وَأَبِي الْجُوعُ" [۸] فَأَحَلَّ لَهُمُ الْمَيْتَةَ عَلَى هٰذِهِ الْحَالِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] د حضرت فجيع عامري رضي الله عنه نه روايت دې چې هغه [يوه ورځ] د حضور صلى الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شو. [۲] او عرض يې وکړو چه دا ارائه اووايه په چې زمونږ د پاره په مرداره

---

(۱) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأطعمة/باب في المضطر إلى الميتة (رقم-۳۸۱۷)

کې څه حلال دي؟ [۳] حضور ﷺ وفرمایل (مخکې دا راته اووایه چې) تاسو خلقو ته طعام په کوم مقدار کې ملاویږي؟ [۴] ما عرض وکړ مونږ ته یوه پیاله شوده په ماښام کې او یوه پیاله شوده په سحر کې ملاویږي [۵] (د حدیث راوي) ابونعیم وایي (زما استاذ او شیخ) حضرت عقبه (د نغتبق اونصطبح) دا وضاحت کړي دي، [۶] چې یوه پیاله شوده په سحر کې او یوه پیاله شوده په ماښام کې [۷] ابهر حال رسول الله ﷺ د فجیع ؓ جواب اوریدو سره] وفرمایل د طعام دا مقدار په خپل پلار قسم! لوږه واجبوي، ایعنی سحر او ماښام محض یوه یوه پیاله شو ده حاصلیدل د لوږې د ختمولو او د انساني ژوند د بقاء ذریعه نشي جوړیدي] ، [۸] حضور ﷺ په دې صورت کې د هغوی د پاره مرداره حلاله کړله (ابوداؤد)

حل اللغات: ① نَغْتَبِقُ: أي قَدَحٌ غُدْوَةً: مونږ ته د پښو یوه پیالۍ سحر ملاویږي ② وَنَصْطَبِحُ: أي وَقَدَحٌ عَشِيَّةً: اومونږ ته د پښو یوه پیالۍ ماښام ملاویږي ③ قَدَحٌ: پیالۍ، ④ غُدْوَةً: سحر، ⑤ عَشِيَّةً: ماښام ⑥ وَأَبِي الْجُوعُ: په الله تعالی قسم دا خو خالص اولګه ده.

تسهیلات:

قوله: نَغْتَبِقُ وَنَصْطَبِحُ

دمذکوره جملې مطلب: دَحدیث راوی ابونعیم وائی زما استاذ عقبه دَدې دواړو کلماتو داسې مطلب بیان کړې دې چه دَ پیئو یوه پیالئی سحر او یوماښام ملاویدله صبوح سحر او غبوق ماښام ته وائی.

قوله: ذَاكَ وَأَبِي الْجُوعُ

د مذکوره جملې مفهوم: ذاك مبتداء ده او الجوع دَدې خبردې او وأبي په مینځ کښې جمله معترضه قسمیه ده علامه طیبی ؒ فرمائی "وأبي جملة قسمية معترضة بين المبتدأ والخبر" (طیبی) یعنی په الله تعالی قسم داخوخالص اولګه ده یعنی حالت دَ اضطرار دې لهذا مرداره اوخوره اوخان بچ کړه

د اضطرار په تعریف کښې ۲ مذاهب:

① امام مالك ؒ امام احمدبن حنبل ؒ او په یوقول کښې دَ امام شافعی ؒ په نیزکه یوسړې دَخپل طبعی خواهش مطابق دومره خوراك نه مومی په کوم سره چه هغه موړشی نودې سړی له مرداره خوړل جائزدی دَمردارې خوړلو اودَ اضطراری تحقیق باره کښې دَدې حضراتو په نیزډیر وسعت دې

② امام ابوحنیفه ؒ او په یوقول کښې دَ امام شافعی ؒ په نیز اضطراری حالت به هغه وخت متحقق کیږی چه سړی ته دَ اولګې دَ وجهې دَ هلاکت خطره وی نوبیادې مرداره دومره اوخوری چه ژوندې باقی پاتې شی صرف دَ قوت لایموت اورسد رمق دَحده پورې

دي اوخوري [الکاشف: ۸/۱۹۲]

داول فريق دليل: جمهورو دَ زير بحث حديث نه استدلال کړي دي. په دي کښي صبا بيګاه يوه پيالئ پيو ملاويدو ته هم حالت اضطرار وئيلي شوي دي

داول فريق د دليل جواب: دايوه پيالئي دَ پوره قوم دَپاره وه نودا عين اضطرار دي. خکه چې ټول قوم په يوه پيالئ چرته مړيدې شو.

د دويم فريق دليل: دَ حضرت ابوواقد ليثي رضي الله عنه حديث د احنافو دليل دي په کوم کښي چې راوي د حديث د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د ارشاد مطلب دا بيانوي که تاسو ټوله ورځ او ټوله شپه د خوراك څکاك څه شي بيا نه مومي، دغه شان تاسو ته د سبزي د قسم نه هم څه شي (تر دي چې وابنه او د ونې پاڼي هم) ميسر نشي، چې تاسو يې خوړي شي (او خپل ځان وساتلي شئ) نو په دي صورت کې به مردار ستاسو د پاره حلال وي.

[۳۳۳] د مخمصه په حالت کښې د مرداري د خوړلو حکم

۳۳۳– [۲] ()[۱] وَعَنْ أَبِي وَاقِدٍ اللَّيْثِيِّ[۲] «أَنَّ رَجُلًا قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ! [۳] إِنَّا نَكُونُ بِأَرْضٍ فَتُصِيبُنَا بِهَا الْمَخْمَصَةُ[۴] فَمَتَى يَحِلُّ لَنَا الْمَيْتَةُ؟[۵] قَالَ: "مَا لَمْ تَصْطَبِحُوا أَوْ تَغْتَبِقُوا[۶] أَوْ تَحْتَفِئُوا بِهَا بَقْلًا[۷] فَشَأْنُكُمْ بِهَا"[۸] مَعْنَاهُ: إِذَا لَمْ تَجِدُوا صَبُوحًا أَوْ غَبُوقًا[۹] وَلَمْ تَجِدُوا بَقْلَةً تَأْكُلُونَهَا[۱۰] حَلَّتْ لَكُمُ الْمَيْتَةُ». رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابو واقد ليثي رضي الله عنه وايي[۲] چې يو سړي عرض وکړو چې يا رسول الله صلی الله علیه وسلم [۳] مونږ کله داسي زمکه [يعني داسي ځاى] ته رسو، چې [هلته مونږ ته د خوراك د پاره هيڅ نه ملاويږي. چې د هغه په وجه] مونږ د مخمصه (لوږي) په حالت کې مبتلا کيږو. [۴] په دي صورت کې مردار خوړل زمونږ د پاره کله حلاليږي؟[۵] حضور صلی الله علیه وسلم وفرمايل هر کله چې تاسو تر سحر يا تر ماښامه د خوراك څکاك څه شي بيا نه مومئ، [په هغه زمکي يعنې په هغه ځاي کې کوم ځاي چې تاسو يئ][۶] د سبزئ د قسم نه هم څه شي تاسو ته ملاو نشي. [حاصل دا چې تاسو ته څه داسي شي ميسر نشي، چې لوږه ختمونکي يا نس (خيټه) ته سحره ورکونکي وي][۷]. نو ستاسو حالت به د مرداري سره متعلق وي، [يعنې په داسي صورت پيش راتلو به مرداره خوړل ستاسو د پاره حلال وي] .[اوس د دي نه پس راوي د حديث ماحصل بيانوي چې][۸] د دي ارشاد ګرامي مطلب دا دي که تاسو ټوله ورځ او ټوله شپه د خوراك څکاك څه شي بيا نه مومئ،[۹] دغه شان تاسو ته د سبزئ د قسم نه هم څه شي [تر دي چې وابنه او د ونې پاڼي هم] ميسر نشي، چې تاسو يې خوړي شي (او خپل ځان وساتلي شئ)[۱۰] نو په دي صورت کې به مردار ستاسو د پاره حلال وي. (دارمي)

[۱] اخرجه الدارمی فی السنن رقم الحديث ۱۹۹۶ واحمد فی المسند ۲۱۱/۵

حل اللغات: ① الْمَخْمَصَةُ: دلوږي حالت، اضطراری حالت، ② مَا تَصْطَبِحُوا: تر سحره پورې، ③ أَوْتَغْتَبِقُوا: يا تر مابنامه پورې، ④ أَوْتَحْتَفِئُوا: يا حاصل نه شي تاسو ته، ⑤ بَقْلًا: سبزي، ⑥ فَشَأْنُكُمْ بِهَا: نو ستاسو حالت به ددې په شان وی، حالت اضطراری به وی، ⑦ صَبُوحًا: سحروخت، ⑧ غَبُوقًا: مابنام وخت، ⑨ بَقْلَةً: سبزیانې

تسهیلات:

قوله: إِنَّا نَكُونُ بِأَرْضٍ فَتُصِيبُنَا بِهَا الْمَخْمَصَةُ:

د اضطرار څو صورتونه دي. ① د ولږې د وجهې مرګ ته نژدې کیدل.

② يو ظالم کس بل کس نه اووائی که دا حرام څيز دې اونه خوړلو نو قتل کوم دې

③ يوظالم کس بل کس نه اووائی که دا حرام څيز دې اونه خوړلو نوستا مور پلار قتل کوم دې

د اجازت ملاويدو څخه پس د دوو څيزونوو جوب:

① نه به په مرداره خوند اخلی

② نه به د ضرورت څخه زياته خوری.

ددې نه دا معلومه شوه چه حرمت بحاله باقی وی صرف د عارضی اضطرار په وجه مباح کړې شوې دې.

د مقدار دوه صورتونه:باقی په څومره مقدار کښې خوړل جائز دي نو په دې کښې دوه صورتونه دی ① دومره خوراک کول پکار دی چه د مرګ نه بچ پاتي شي او ولږه ختمه نشي

② دومره خوراک کول پکاردي چه ولږه ختمه شی دولږې نه زيات دې هرګز ونه خوړلې شی

دحديثونو په مينځ کښې تعارض: په دې حديث کښې او په ماقبل حديث کښې تعارض دې.

څکه چه په دې حديث کښې ذکر دي چه تر کومه پورې ستا ګزاره په ګياه ‹وابنوه› باندې کيږې نو مرداره مه خوره، او په ماقبل حديث کښې ذکر دی چه د پيو يو پياله سحر او مابنام ملاويږې نو دا اضطراری حالت دې او مرداره خوړل جائز دي، نو په دواړه احاديثو کښې تعارض دې؟

دتعارض جواب: په دې حديث کښې چه کوم ذکر دې هغه د اضطرار يو حد دې چه ګياه ملاويږی نو ګياه د خوری او مرداره دې نه خوری.

او د ماقبل حديث جواب دا دې چه هلته يوه پياله ټول قوم ته څنګه رسيدله، يعنی يو يو ګوټ هم نه رسيدلو، نو هلته د اضطرار حالت موجود وو، لهذا په دواړو رواياتو کښې هيڅ تعارض نشته.

[۳] بَابُ الأَشْرِبَةِ

دَ څکلودَ څيزونوبيان

خلاصة الباب:

فيه ثلاثة وعشرون حديثاً مشتملة على عشر مسائل:

① حكم التنفس فى الشراب: ۱، ۶.
② حكم الشرب من فم السقاء: ۲، ۳، ۱۹.
③ النهي عن الشرب قائما: ۴، ۵.
④ جواز الشرب في بعض الأوقات قائماً: ۶، ۷، ۱۳، ۱۴.
⑤ شرب الماء المخلوط بالحليب: ۸، ۱۱.
⑥ النهي عن الشرب فى آنية الفضة والذهب: ۹، ۱۰، ۲۳.
⑦ إعطاء الإناء لصاحب اليمين في السقاية: ۱۱، ۱۲.
⑧ النهي عن التنفس فى الإناء : ۱۵، ۱۶، ۱۷، ۱۸.
⑨ أحب الماء إلى رسول الله الحلو البارد: ۸، ۲۰، ۲۲.
⑩ فضيلة شرب اللبن: ۲۱.

د باب ماقبل سره ربط: مشروب چونکه دَطعام تابع وی په دې وجه دکتاب الاطعمه په ذيل کښې ئې تابع ذکرکړو اولباس دَ طعام تابع نه وو په دې وجه ئې هغه دَ جدا کتاب په عنوان کښې ذکرکړو

قوله: أشْرِبَة

داشربة لغوى معنى: دَ شراب جمع ده اوشراب دَمشروب په معنى کښې دې. مشروب هر يو دَ څکلو څيزته وئيلې شى که هغه اوبه وى که نبيذ وى شربت وى يا جوس وى

په دې باب کښې د مشروباتو احكام حلال اوحرام جواز اوکراهت وغيره بيان کولې شى

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۴۲۶۳] اوبه په درې ساګانو څکل

۴۲۶۳ ـ [۱] (١) ① عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: ② «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَتَنَفَّسُ فِي الشَّرَابِ ثَلَاثًا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. ③ وَزَادَ مُسْلِمٌ فِي رِوَايَتَيْنِ ④ وَيَقُولُ: "إِنَّهُ أَرْوَى وَأَبْرَأُ وَأَمْرَأُ"».

[1]) اخرجه البخارى فى كتاب الأشربة /باب الكرع فى الحوض (رقم-۵۶۲۱) ومسلم فى كتاب الأشربة /باب كراهة التنفس فى نفس الإناء، واستحباب التنفس ثلاثا خارج الإناء (رقم-۱۲۳ - (۲۰۲۸) وابوداود فى كتاب الأطعمة/باب فى أكل الثوم(رقم-۳۸۲۷) والترمذى فى كتاب الأشربة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الرخصة فى الشرب قائما (رقم-۱۸۸۳) واحمد فى المسند:۲۱۱/۳

ترجمه: [۱] حضرت انس ﷺ وايي [۲] چې رسول الله ﷺ به د اوبو د څکلو په مينځ کې درې خلې ساه اخستله (بخاري ، مسلم) [۳] او مسلم رحمه الله په يو روايت کې دا الفاظ هم نقل کړي دي. [۴] او حضور ﷺ به فرمايل چې داسې [په څو ساه کې اوبه څکل] په ښه شان خړوب کوی، او تنده وژني، بدن ته صحت بخښي، او ښه هضميږي. او معدې ته په ډيرې اسانۍ سره ځي

حل اللغات: ① يَتَنَفَّسُ: ساه به يې اخستله. ② أَرْوَىٰ: په ښه شان سره خړوب کوی ③ أَبْرَأُ: تنده وژنی، بدن ته سحت ورکوی ④ أَمْرَأُ: "أي اقوى هضماً" په آسانه هضميږي. معدې ته په آسانه رسيږي

تسهيلات:

قوله: يَتَنَفَّسُ فِي الشَّرَابِ ثَلَاثًا:

د ساه اخستلو دوه طريقې: ① په درې ساګانو باندې اوبه څکل سنت دی لکه څنګه چې په دې حديث کښې ذکر دی خو دا دَغالب احوالو خبره ده

② په دوو ساګانو باندې اوبه څکل هم منقول دی په دې کښې څه کراهت نشته بلکه سنت دې دَ ترمذی شريف په يو روايت کښې په دوو ساګانو باندې دَ څکلو خبره هم ملاويږی دغه هم کله کله شوی دی

په يوبل حديث کښې دی چه اوبه دَ اوښ په شان مه څکئی بلکه په دوو ساګنو يا په دريو ساګانو باندې څکئی په دې کښې هم دَ دوو ساګانو ذکر دې (مرقات)

قوله: هُوَ أَمْرَأُ وَأَرْوَىٰ:

د مذکوره کلماتو لغوی معنی: دَ هو مرجع يا خو تعددنفس دې ياتثليث دې أمرأ مرالطعام څخه ماخوذ دې کله چه خوراک دَ معدې موافقت اوکړی يعنی په ښه شان سره هضم شی په فارسی کښې دَ دې معنی ګواره تر دې اروی ری نه ماخوذ دې دَ کوم معنی چه تنده زياته ماتونکې په فارسی کښې دَ دې معنی ده زياده سيراب کننده

دحديث مفهوم: دَحديث شريف معنی داشی دغه شان په دريو ساګانو کښې څکل ډير مزيدار او مرض عطش نه براءت اوسلامتيا ذريعه ده يعنی دَ تندې دَ پاره ډير دافع او دَ هضم دَ پاره ډير معين اومددګاردې دَ معدې دَ پاره دَ ضعف علامت هم نه دې اودَ معدې دَ حرارت دَ پاره نافع هم دې افعل التفضيل صيغه په دې باندې دال دې داخصوصيات دَ تعددنفس او د تثليث نتيجه ده لهذا په يو ساه څکل به خړوبوالې هم نه کوی اومزيدار به هم نه وی اودَ معدې دَ پاره مضردی

په درې ساګانو اوبو څکلو کښې فائدې: ① دَ رسول الله ﷺ په دې عمل سره دَ اوبوڅکلو طريقه اوادب معلوم شو چه کله اوبه څکل وی نو په دريو ساګانو څکل پکار دی

۞ درې ساګانو باندې اوبه څکلوسره به اوبه بنه هم معلومېږي او مريدل به هم كيږي كه ز دې په مقابله كښې په يوه ساه اوبه اوڅكلې شي نواول خو حضور پاک دَ داسې څکلونه ممانعت فرمائيلې دې چه دغه شان څکلو کښې څاروو سره تشبه ده بل دَ ابن عباس ﷺ په قول دا دَ شيطان طريقه هم ده.

۞ په يوه ساه اوبه څكلوپه وجه دَ خلو معده دوجه دَ نقصان قوى انديښنه ده چه كله ز معدې په سخت حرارت په وخت كښې يودم اوبه معدې ته اورسى نودَ معدې دَ پاره به ډيرنقصاني وى.

۞ په مرني كښې اوبه اينختلې شى په كوم سره چه دَ مرګ قوى ويره ده بل دا چه په يوه ساه اوبه څكلوسره داهم امكان دې چه دَ ضرورت نه زياتې اوبه اوڅكلې شى نوهغه به يقيناً نقصاني وى.

په يوه ساه د اوبو څکلو حکم: جمهور علماء كرام په يوه ساه اوبه څكل مكروه تنزيهي او خلاف اولى ګرځوى او امام مالک، ابن المسيب، عطاء بن ابى رباح، عمر بن عبدالعزيز دَ جواز بلاكراهت قائل دى. بهرحال دواړه قسم روايات وارد دى مثلاً دَ زيد ابن ارقم روايت كان يشرب صلى الله عليه وسلم بنفس واحد رواه ابو الشيخ وكذا حديث قتادة مرفوعًا اذا شرب أحدكم فليشرب بنفس واحد رواه الحاكم وصححه وغيره وغيره.

[۴۴۳] د مشک د خلې څخه د اوبو څکلو ممانعت

۴۴۳-[۲] (۱) ۞ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: ۞ «نَهَى رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَنِ الشُّرْبِ مِنْ فِي السِّقَاءِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۞ او حضرت ابن عباس ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ د مشك د خُلي نه د اوبو د څكلو نه منع فرمايلي ده. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ۞ فِي السِّقَاءِ: "اى من فم القربة" دَمشكيزې خلې سره خله لګول اودَهغې نه اوبه څكل

تسهيلات:

قوله: مِنْ فِي السِّقَاءِ:

د مشكيزې څخه په خُله د اوبو څکلو نقصانات: ۞ فى لفظ مشدد دې اصل كښې دَ فوه نه دې كوم چه دَ فم په معنى كښې دې "اى من فم القربة" دَمشكيزې خلې سره خله لګول اودَهغې نه اوبه څكل دې څخه منع كړې شوې ده. څكه چه ممكن دى چه دَمشكيزې خله كښې څه ګند

(۱) اخرجه البخارى فى كتاب الأشربة/باب الشرب من فم السقاء (رقم-۵۶۲۹) وابوداود فى كتاب الأشربة/باب الشراب من فى السقاء (رقم-۳۷۱۹) والنسائى فى كتاب الضحايا/باب النهى عن لبن الجلالة (رقم-۴۴۴۸) وابن ماجه فى كتاب الأشربة/باب الشرب من فى السقاء (رقم-۳۴۲۱) واحمد فى المسند: ۲۲۶/۱

يا موذي څيز يا چينجي وغيره پټ پروت وي يا دننه په اوبو کښې څه لال بيګ يا ګندګي وي
② په پټو سترګو باندې څکلو سره هغه خلې ته لاړشي بل دا چه اوبه دَمشکيزې دَ تيارې نه دَ خيتې تيارې ته يودم وراړولو سره دَ معدې دَ خرابيدو خطره هم ده
③ په يوه ساه سره اوبه وراړولو کښې ګيس دننه لاړشي چه دَ صحت دَپاره مضر کيدې شي.
④ دغه شان څکلوسره اکثر په کپړو باندې اوبه تونيږي ږيره لمديږي
⑤ کله کله دَخلې نه دَ خوراك ذرې دَ اوبو په لوښي کښې وړېږي کوم چه دَ نظافت خلاف دي

⑥ نبي کريم دَ دې نه منع فرمائيلې ده اوداد مسنون طريقې خلاف دي دَمشکيزې په شان داحکم دَ لوټې هم دې تهيلئي نلکې بوتل يا دَ هرهغه لوښي هم دې دکوم دَ دننه حالت چه علم نه وي دې پسې حديث تشريح او توضيح هم دغه شان ده
اشکال: هم دَدې باب راتلونکې حديث نمبر (۴۲۸۱) کښې حضرت کبشه رضي الله عنها فرمائي چه نبي کريم دَ مشکيزې دَ خلې نه پخپله اوبه څکلي دي نودَدې تعارض څه جواب دې؟
د اشکال دوې جوابونه: ① چې يوه وړه مشکيزه وي يوه لويه وي. دَ وړې نه نبي کريم اوبه څکلي دي په کوم کښې چه په يقيني توګه دَ څه موذي حشراتو دَ وجهې نه خطره نه وه
② په وخت دَ ضرورت او مجبورئ داسې کول جائز دي ګني نه.
③ عام عادت جوړول ممنوع دي دَيوخل نيم څکلو ګنجائش شته دې.

[۴۲۷۵] د مشک د خُلې را تاوولو سره د اوبو څکلو مما نعت

۴۲۷۵—[۳] (¹) ① وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ②«نَهَى رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنِ اخْتِنَاثِ الْأَسْقِيَةِ» ③ زَادَ فِي رِوَايَةٍ: "وَاخْتِنَاثُهَا": ④ أَنْ يُقْلَبَ رَأْسُهَا، ثُمَّ يُشْرَبَ مِنْهُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه وايي② چې رسول الله ﷺ د مشك د خُلي تاؤلو سره د اوبو د څکلو نه منع فرمايلي ده.③ او راوي په يو روايت کې دا الفاظ هم نقل کړي دي چې د مشك د خُلي د تاؤلو نه مطلب دا دي ④ چې د هغه مشك سر (يعني خُله) راتاؤ کړل شي. او بيا د هغې نه اوبه اوڅکل شي (بخاري مسلم)
حل اللغات: ① اخْتِنَاثِ: دا دَخنث نه دي د مشکيزې خوله راتاوولو سره اوبه څکل ② الْأَسْقِيَة: مشکيزې.

¹) اخرجه البخاري في كتاب الأشربة/باب اختناث الأسقية (رقم-۵۶۲۵) ومسلم في كتاب الأشربة/باب آداب الطعام والشراب وأحكامهما (رقم-۱۱۱ - (۲۰۲۳) وابوداود في كتاب الأشربة/باب في اختناث الأسقية (رقم-۳۷۲۰) والنسائي في كتاب الأشربة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في النهي عن اختناث الأسقية (رقم-۱۸۹۰) وابن ماجه في كتاب الأشربة/باب اختناث الأسقية (رقم-۳۴۱۸) واحمد في المسند: ۶۷/۳

تسهیلات:

قوله عَنِ اخْتِنَاثِ الْأَسْقِيَةِ:

نوټ: په مشک باندې خُله لګولوسره د اوبوڅکلو نقصانات د وړاندې حدیث نمبر (۴۲۴۴) په وضاحت کښې تیرشو

[۴۲۶۶] په ولاړه د اوبو څکلو حکم

۴۲۶۶ـ[۴] ( ) ① وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ② «أَنَّهُ نَهَى أَنْ يَشْرَبَ الرَّجُلُ قَائِمًا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت انس رضي الله عنه د نبي کریم ﷺ نه نقل کوي ② چې حضور ﷺ د دې نه منع فرمایلې ده، چې یو سړې دې په ولاړه اوبه وڅکي. (مسلم)

تسهیلات:

قوله: أَنَّهُ نَهَى أَنْ يَشْرَبَ الرَّجُلُ قَائِمًا:

په ولاړه د اوبو څکلو کراهت: په دې حدیث کښې په ولاړ باندې دَ اوبوڅکلودَممانعت ذکردې اودې سره روایت کښې دی چه که چا په هیره سره داسې اوکړه نوهغه له پکاردی چه اوبه دې قې کړی ددې په شان دَاحادیثوتعلق دَ اصل او دَ قاعدې سره دې چه دَ شریعت قاعده هم دغه ده چه اوبه په ناستې اوڅکلې شی اوهم دغه دَنبی کریم عادت شریف هم وو اودَامت محمدی عمل هم په دې باندې دې.

په احادیثو کښې تعارض: د مشکاة په فصل ثانی کښې دَحضرت ابن عمر رضي الله عنه حدیث نمبر (۴۲۷۵) کښې په ولاړه دَ ابوڅکلو ذکرموجوددې

د تعارض اووه جوابونه: ① قاضی عیاض فرمائی چه په ولاړه د اوبو څکلو ممانعت د اولی او د بهتر طریقې د تعلیم او ددې په خلاف کولو باندې د تادیب او د تنبیه په توګه دې نهی تحریمی نه ده

② شرب قائماً والا روایات ضعیف دې

③ بعضی حضراتو فرمائیلی دې چه د نهی والا احادیث د جواز په احادیثو سره منسوخ شوي دي. یعنی اول په ولاړه اوبو څکلو ممانعت وو نو ورستو بیا دا ممانعت منسوخ شو

④ جواز والا احادیثو لره به په نهی والا احادیثو باندې ترجیح حاصل وي، ځکه چه د جواز احادیث د نهی د احادیثو په مقابله کښې أقوی او أثبت دي

( ) اخرجه مسلم فی کتاب الأشربة/باب کراهیة الشرب قائما (رقم-۱۱۳ - (۲۰۲٤)) وابوداود فی کتاب الأشربة/باب فی الشرب قائما (رقم-۳۷۱۷) والترمذی فی کتاب الأشربة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی النهی عن الشرب قائما (رقم-۱۸۷۹) وابن ماجه فی کتاب الصید/باب ما ینهی عن قتله (رقم-۳۲۲٤) واحمد فی المسند: ۱۹۹/۳

⑤ بعضې حضراتو فرمائیلی دي چه احادیث نهی نه نهی تنزیهی مراد ده کوم چه د جواز منافی هم نه ده

⑥ بعضی حضراتو فرمائیلی دي چه احادیث نهی په طبی نقصان او احادیث جواز په اباحت شرعی باندې محمول دي

⑦ په ولاړه اوبه څکل ممنوع دي لیکن دوه قسمه اوبه ترینه مستثنی دي

(الف) د زمزم اوبه (ب) د اودس نه پاتي شوي اوبه

اشکال: په ترمذی کښې د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دي

عَنْ نَافِعٍ عَنْ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كُنَّا نَأْكُلُ عَلَى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ نَمْشِي وَنَشْرَبُ وَنَحْنُ قِيَامٌ

په دې حدیث کښې خو په ولاړه او په روانه د اوبو څکلو ثبوت دې اوپه حدیث الباب کښې په ولاړه د اوبو څکلو ممانعت دې دا ښکاره تعارض دې دغه علامه ابن نجیم او علامه شامی رحمه الله تصریح کړې ده چه په لارو کوڅو کښې دَ خلقو په وړاندې په ښکاره خوراک څښ‌ک کول دَ قلت مروت په وجه مسقط شهادت دی نو بیا دَ صحابه کرامو حضراتو نه دا عمل څنګه اومنډلي شو. علماء کرامو دَ دې مختلف جوابونه ورکړی دی

داشکال جوابونه: ① ممکن دی چه دادَ سفردَحالت واقعه وی علماء کرامو حضراتو دَ تُندئی اودَ سفرپه وجه باندې په لارو کښې دَ خوراک اجازت ورکړې دې

② دراصل مسقط شهادت هغه اموردی چه دَ مروت مخل وی او بې مروت سړې دَ دروغو شهادت ورکولو کښې متهم بالکذب وی او صحابه کرام رضی الله عنهم په امتثال دَ اوامرو په اجتناب د نواهی کښې دَ ټولونه وړاندیوالې کونکی وو دَهغوی عدالت دَمسلمات نه وو په هغوی باندې نور خلق نه شی قیاس کولې

③ حضرت ګنګوهی رحمه الله فرمائی چه مسقط شهادت خو په بازارونو کښې خوراک کول دی او دلته په روایت کښې دَ دې تصریح نشته

④ بعضو فرمائیلی دی چه که یوسړې په بازارونو او سړکونو کښې خوراک کوی خو قاضی دَ هغه باره کښې معلومات لری چه دې دروغ نه وائی اودَ هغه شهادت قبول کړی نو څه بدیت نشته څکه چه دَ قاضی علم دَ ده دظاهر حال دَ پاره دافع کیدې شی بهرحال صحابه کرام حضرات دَ سرنه واخله ترخپو پورې عدول دی کماقال النبی صلی الله علیه وسلم الصحابة کلهم عدول دَهغوی شهات ماشیًا وقائمًا په خوراک سره نه ساقطیږی.

[۴۲۶۷] په ولاړه د څښلې شوې اوبو د التي کولو حکم

۴۲۶۷-[۵] (١) ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ «لَا يَشْرَبَنَّ أَحَدٌ مِنْكُمْ قَائِمًا، ۳ فَمَنْ نَسِيَ مِنْكُمْ فَلْيَسْتَقِئْ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ په تاسو کې دې هيڅوك په ولاړه اوبه نه څکي، ۳ که چا په هيره په ولاړه اوبه اوڅکلې، نو هغه ته پکار دي چې هغه قي کړي، (مسلم)

حل اللغات: ① فَلْيَسْتَقِئْ: هغه دې قې کړی.

تسهيلات:

نوټ: په ولاړه د اوبو څکلو پوره تفصيل ددې څخه وړاندې دحديث نمبر (۴۲۶۷) په تشريح کښې تيرشو

[۴۲۶۸] نبي کريم ﷺ د زمزم اوبه په ولاړه اوڅکلې

۴۲۶۸-[۶] (٢) ۱ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا- قَالَ: ۲ «أَتَيْتُ النَّبِيَّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِدَلْوٍ مِنْ مَاءِ زَمْزَمَ، ۳ فَشَرِبَ وَهُوَ قَائِمٌ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابن عباس ﷺ ويلي دي ۲ چې ما د نبي کريم ﷺ په خدمت کې د زمزم د اوبو يوه ډولچه راوړه، ۳ حضور ﷺ هغه په داسې حالت کې اوڅکلې چې هغه ولاړ وو. (بخاري ومسلم)

تسهيلات:

قوله: بِدَلْوٍ مِنْ مَاءِ زَمْزَمَ، فَشَرِبَ وَهُوَ قَائِمٌ:

تعارض: په ډيرو رواياتو کښې په ولاړه د اوبو څکلو نه ممانعت راغلی دي او په دې حديث کښې جواز معلوميږي؟

دتعارض پنځه جوابونه: ① په ولاړه د اوبو څکلو نه د زمزم او د اودس نه پاتي شوي اوبه مستثنی دي

② د نبی کريم ﷺ په ولاړه زمزم څکل تبرک دپاره وو

③ د نبی کريم ﷺ په ولاړه زمزم څکل د عذر په وجه وو او هغه عذر اژدهام او رش وو

④ نبی کريم ﷺ چه کوم ځاي کښې زمزم څکل هغه ځاي کښې ختې وغيره وې نو څکه

(١) اخرجه مسلم فی کتاب الأشربة/باب کراهية الشرب قائما (رقم-١١٦ - (٢٠٢٦)

(٢) اخرجه البخاری فی کتاب الأشربة/باب الشرب قائما (رقم-٥٦١٧) ومسلم فی کتاب الأشربة/ باب فی الشرب من زمزم قائما (رقم-١٢٠ - (٢٠٢٧) والترمذی فی کتاب الأشربة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الرخصة فی الشرب قائما (رقم-١٨٨٢) وابن ماجه فی کتاب الأشربة/باب الشرب، من فی السقاء (رقم-٣٤٢١)

ني په ولاړه او څکلي

⑤ نبی کریم ﷺ د جواز بیان دپاره په ولاړه اوبه او څکلي

دزمزم د څکلو طريقه او آداب: د دې متعلق د علماء کرامو مختلف اقوال دي

① د بعضې حضراتو په نیز زمزم د عام اوبو په شان په ناسته څکل پکار دي او دا هم طريقه افضله ده او نبی کریم ﷺ چه په ولاړه څکلي وي د هغې توجيهات بيان شول

② بعضې حضرات فرمائي چه په ولاړه او په ناسته څکل دواړه برابر دی

③ د اکثر علماو په نيز زمزم په ولاړه څکل افضل دي

④ د زمزم څکلو په وخت مخ قبلې طرف ته کول پکار دی

⑤ اوبه په درې ساګانو سره څکل، او هر خل په شروع کښې بسم الله ونیل او په اخر کښې الحمد لله ونیل

⑥ خه په مړه خيټه (ډيرې) څکل او زمزم هميشه په ولاړه څکل لازم ګنړل غلط دی

زمزم د دعا د قبليدو او شفاء دپاره: د زمزم څکلو يو مجرب عمل دا دې چه زمزم څکلو په وخت کښې چه کومه دعا وکړلی شي هغه قبليږي. او د بعضی علماو په نيز دا عمل هم مجرب دې چه زمزم څکلو په وخت کښې چه د کومې بيماری نه د شفاء نيت وکړي شي نو الله تعالى د هغې بيماری نه شفاء ورکوي.

دزمزم څکلو دعا: "اللهم انی أسئلك علما نافعا ورزقا واسعا وشفاء من كل داء".

[۴۲۳] د اودس نه پاتې شوې اوبه په ولاړه څکل

۴۲۳ ـ[۷] (¹) ⟨۱⟩ وَعَنْ عَلِيٍّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: ⟨۲⟩ «أَنَّهُ صَلَّى الظُّهْرَ ⟨۳⟩ ثُمَّ قَعَدَ فِي حَوَائِجِ النَّاسِ فِي رَحَبَةِ الْكُوفَةِ ⟨۴⟩ حَتَّى حَضَرَتْ صَلَاةُ الْعَصْرِ ⟨۵⟩ ثُمَّ أُتِيَ بِمَاءٍ، فَشَرِبَ ⟨۶⟩ وَغَسَلَ وَجْهَهُ وَيَدَيْهِ ⟨۷⟩ وَذَكَرَ رَأْسَهُ وَرِجْلَيْهِ ⟨۸⟩ ثُمَّ قَامَ فَشَرِبَ فَضْلَهُ وَهُوَ قَائِمٌ ⟨۹⟩ ثُمَّ قَالَ: إِنَّ أُنَاسًا يَكْرَهُونَ الشُّرْبَ قَائِمًا ⟨۱۰⟩ وَإِنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - صَنَعَ مِثْلَ مَا صَنَعْتُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه: ⟨۱⟩ او د حضرت علي ﷺ نه روايت دې ⟨۲⟩ چې ايوه ورځ) هغه د ماسپښين مونځ وکړو ⟨۳⟩ بيا د خلقو د معاملاتو او د مقدماتو د فيصله کولو د پاره د کوفې په يو بلند او کشاده خاې خپل مجلس قائم کړو (او د هغه خلقو جګړې او معاملې اوريدو اوريدو سره يې فيصلې کولې) ⟨۴⟩ تر دې چې د مازيګر وخت راغې ⟨۵⟩ هر کله چې د اودس د پاره اوبه راوړل شوې، نو هغه اوبو نه يې او څکلې ⟨۶⟩ او بيا يې د اودس د پاره خپل مخ او لاسونه اوينځل ⟨۷⟩ او راوي دا ذکر وکړو چې هغه د خپل سر مسح وکړله، او خپلې پښې يې اوينځلې ⟨۸⟩ د دې نه پس حضرت علي ﷺ ودريدلو او د اودس نه پاتې شوې اوبه يې په

¹) اخرجه البخاری فی کتاب الأشربة/باب الشرب قائما (رقم-۵۶۱۶)

داسې حالت کې اوڅکلي چې ولاړ وو. [۹] بیا یې وفرمایل چې بعضې خلق په ولاړه اوبه څکل په کراهت محمول کوي. ایعنی دا ګڼي چې په ولاړه اوبه څکل مکروه دي[۱۰] حالانکه حقیقت دا دي چې نبي کریم ﷺ داسې کړي دي څرنګه چې اوس ماوکړل (بخاري

حل اللغات: ① رَحَبَة: اوچت فراخه خاني

تسهیلات:

قوله: صَنَعَ مِثْلَ مَا صَنَعْتُ:

دوه قسمه اوبه په ولاړه د څکلو جواز: حضرت علی ﷺ داخودل غواړي چه ماځنګه دا ودس نه پاتې شوي اوبه اوڅکلې هم داسې عمل نبی کریم ﷺ کړي وو بهرحال ددې نه عام اوبه په ولاړه دَ څکلودَ جواز خبره نه ثابتیږي ځکه چه دزمزم اودَ اودس دَ اوبوصورت خو استثنائی صورتونونه دي.

[۴۲۷۰] په مشک کښې دشپه تیره کړې اوبو څکل

۴۲۷۰ـــ[۸] ()[۱] وَعَنْ جَابِرٍ، «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - دَخَلَ عَلَى رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ، [۲] وَمَعَهُ صَاحِبٌ لَهُ، [۳] فَسَلَّمَ فَرَدَّ الرَّجُلُ وَهُوَ يُحَوِّلُ الْمَاءَ فِي حَائِطٍ، [۴] فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنْ كَانَ عِنْدَكَ مَاءٌ بَاتَ فِي شَنَّةٍ [۵] وَإِلَّا كَرَعْنَا؟" [۶] فَقَالَ: عِنْدِي مَاءٌ بَاتَ فِي شَنٍّ، [۷] فَانْطَلَقَ إِلَى الْعَرِيشِ [۸] فَسَكَبَ فِي قَدَحٍ مَاءً.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر ﷺ راوي دي چې [ایوه ورځ] نبي کریم ﷺ د یو انصاري یعني د ابو الهیثم ﷺ چې د هغه ذکر مخکې هم تیر شوی دی، باغ ته تشریف یوړلو. [۲] د حضور ﷺ سره یو صحابي [حضرت ابوبکر صدیق ﷺ] هم ملګري وو. [۳] حضور ﷺ باغ ته رسیدو سره سلام علیك وکړو هغه انصاري چې هغه باغ یې اوبه کولو. د حضور ﷺ سلام جواب یې ورکړو [۴] نبي کریم ﷺ هغه ته وفرمایل که تا سره په پخواني مشك کې اوبه وي چې شپه پرې تیره شوي وي. انو رایې وړه. چې مونږ یې وڅښو] [۵] او که تا سره داسې اوبه نه وي نو بیا به مونږ په روانو اوبو خله لګولو سره اوبه وڅښو. [۶] هغه عرض وکړو چې هو. زما په دي پخواني مشك کې داسې اوبه موجودي دي. چه شپه پرې تیره شوې ده [۷] نو هغه جونګړي ته لاړلو. اچې هغه یې په باغ کې جوړه کړې وه]. [۸] او پیالي کې یې اوبه واچولې

حل اللغات: ① يُحَوِّلُ الْمَاءَ: اوبه خور نې کولو. باغ ته نې اوبه ورکولې. ② بَاتَ: چه شپه پرې تیره شوې وی ③ شَنَّةٍ: زړه مشکیزه ④ كَرَعْنَا: تالاب یا نهر سره خله لګولوباندې اوبه څکل ⑤ الْعَرِيش: جونګړه، سپر. ⑥ فَسَكَبَ: وانې چولې. ⑦ قَدَح: پیالې.

---

(۱) اخرجه البخاری فی کتاب الأشربة /باب شوب اللبن بالماء (رقم ۵۶۱۳) وابوداود کتاب الأشربة /باب فی الكرع (رقم ۳۷۲۴) واحمد فی المسند: ۳/۳۲۵.

[۱] ثُمَّ حَلَبَ عَلَيْهِ مِنْ دَاجِنٍ [۲] فَشَرِبَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۳] ثُمَّ أَعَادَ فَشَرِبَ الرَّجُلُ الَّذِي جَاءَ مَعَهُ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ).

ترجمه: [۱] او بیا په هغه پیالي کې یې د کور د ساتلي بزي (چیلۍ) شوده (پی) ولوشل، او هغه پیاله یې د حضور ﷺ په خدمت کې پیش کړه، [۲] چې نبي کریم ﷺ اوڅکلې. [۳] د دې نه پس هغه انصاري د مخکښې په شان یوه بله پیاله راوړله، چې هغه صاحب اوڅکله کوم چې د نبي کریم ﷺ سره ملګري راغلي وو (بخاري)

حل اللغات: ⑧ حَلَبَ: اوئې لوشله، ⑨ دَاجِن: په کور کښې ساتلې شوې چیلۍ

تسهیلات:

قوله: وَمَعَهُ صَاحِبٌ لَهُ:

د رجل په مصداق کښې دوه احتمالات: ① شارحین حضرات لیکی چه دَ دې نه حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه مراد دي ځکه چه هغوی الله تعالی دَ صاحب په لقب سره یاد کړې دې (اِذْيَقُوْلُ لِصَاحِبِه)

② حافظ فضل محمد صاحب فرمائی: دَ شارحینو قول په سرسترګو باندې قبول دې لیکن ماچه په خپل زړه او دماغو باندې څومره زور ورکړو هم دومره دماغوانکار اوکړو چه دا سړې صدیق اکبر رضی الله عنه وی ځکه چه دَدې حدیث په آخره کښې "فشرب الرجل الذی جاء معه" داسې الفاظ دَصدیق اکبر رضی الله عنه دَپاره څنګه استعمالیدې شی دا خودَ یوغیرمعروف اجنبی سړی دَ استعمال الفاظ دی والله اعلم

قوله: إِنْ كَانَ عِنْدَكَ مَاءٌ بَاتَ فِي شَنَّةٍ وَإِلَّا كَرَعْنَا:

د نبی علیه السلام په مشک کښې شپه تیره کړې اوبه خوښول: یوکرت رسول الله ﷺ سره د یو صحابی د یو انصاری باغ ته لاړو چه هغه خپل باغ ته اوبه ورکولې نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل که تا سره د شپې زړې اوبه په مشک کښې پرتې وی (نو راوړه) ګینې مونږ به په دې ګودر باندې خوله اولګوو او اوبه به اوڅکو هغوی عرض اوکړو چه او یا رسول الله ﷺ ما سره د شپې په مشک کښې پرتې اوبه موجود دی

دحدیث دوه فوائد: ① په دې واقعه کښې اګر چه د کرع ضرورت نه دې راغلې خو دا ده چه رسول الله ﷺ د هغې اراده اوفرمائیله،

② رسول الله ﷺ به په مشک یا لوښو کښې د شپې پرتې زړې اوبه خوښولې

د ابود اود په کتاب الاشربه د آخری باب په آخری حدیث کښې دا حدیث دې ((کان یستعذب))

[۴۲۷۱] د سرو سپينو زرو په لوښي کښې د څکلو حرمت

۴۲۷۱-[۹] (۱) [۱] وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا - أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] "«الَّذِي يَشْرَبُ فِي آنِيَةِ الْفِضَّةِ [۳] إِنَّمَا يُجَرْجِرُ فِي بَطْنِهِ نَارَ جَهَنَّمَ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
[۴] وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: "إِنَّ الَّذِي يَأْكُلُ وَيَشْرَبُ فِي آنِيَةِ الْفِضَّةِ وَالذَّهَبِ".

ترجمه: [۱] او د بي بي ام سلمه رضي الله عنها نه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل[۲] کوم سړي چې د سپينو زرو په لوښي کې د څکلو يو شی څکي، [۳] نو (د هغه دا څکل علاوه د دې نه بله څه نتيجه نه پيدا کوي) چې هغه په خپل نس (خيټه) کې د دوزخ اور غټ غټ ځکته کوي. بخاري مسلم، [۴] او د مسلم رحمه الله په يو روايت کې دي چې کوم سړي د سپينو او سرو زرو په لوښي کې خوري او څکي (د هغه حشر به هم دا وي.)

حل اللغات: ① يُجَرْجِرُ: په غرپ غرپ باندې څکل.

تسهيلات:

قوله: الَّذِي يَشْرَبُ فِي آنِيَةِ الْفِضَّةِ:

د سرو او سپينو زورو د لوښود استعمالولو حرمت: دَ پوره امت په دې باندې اتفاق دې چه دَهر سړی اوښځې دَپاره دَ سرو او سپينو زرو لوښی استعمالول په هرحال کښې ناجائز او حرام دی که هغه په خوراک څښاک کښې استعماليږی يا دَ بل څه مقصد دَپاره وی.

قوله: إِنَّمَا يُجَرْجِرُ فِي بَطْنِهِ نَارَ جَهَنَّمَ:

د مذکوره جملې ترکيب: راجح واضح او آسان ترکيب هم دغه دې چه "نارجهنم" دکلمې "يجرجر" دَپاره مفعول به دې "اى يجرجر نار جهنم فى بطنه" يعنى يو شان دَ دوزخ اور په خيټه کښې ورد کوی.

[۴۲۷۲] سره او سپين زر د کافرانو دپاره

۴۲۷۲-[۱۰] (۲) [۱] وَعَنْ حُذَيْفَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: " [۲] «لَا تَلْبَسُوا الْحَرِيرَ وَلَا الدِّيبَاجَ، [۳] وَلَا تَشْرَبُوا فِي آنِيَةِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ، [۴] وَلَا تَأْكُلُوا فِي صِحَافِهَا، [۵] فَإِنَّهَا لَهُمْ فِي

[1]) اخرجه البخارى فى كتاب الأشربة/باب آنية الفضة (رقم-۵۶۳۴) ومسلم فى كتاب الأشربة/باب تحريم استعمال أوانى الذهب والفضة فى الشرب وغيره على الرجال والنساء (رقم-۱ - (۲۰۶۵) وابن ماجه فى كتاب الأشربة/باب الشرب فى آنية الفضة (رقم-۳۴۱۳) ومالک فى الموطا كتاب صفة النبى صلى الله عليه وسلم/باب النهى عن الشراب فى آنية الفضة. والنفخ فى الشراب (رقم-۱۱)واحمد فى المسند: ۳۰۶/۶

[2]) اخرجه البخارى فى كتاب الأشربة/باب آنية الفضة (رقم-۵۶۳۳) ومسلم فى كتاب الأشربة/باب تحريم استعمال إناء الذهب والفضة على الرجال والنساء. وخاتم الذهب والحرير على الرجل. وإباحته للنساء. وإباحة العلم ونحوه للرجل ما لم يزد على أربع أصابع (رقم-۴ - (۲۰۶۷) وابوداود فى كتاب الأشربة/باب فى الشرب فى آنية الذهب والفضة (رقم-۳۷۲۳) والترمذى فى كتاب الأشربة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى كراهية الشرب فى آنية الذهب والفضة (رقم-۱۸۷۸) وابن ماجه فى كتاب الأشربة/باب الشرب فى آنية الفضة (رقم-۳۴۱۴) واحمد فى المسند:۴۰۸/۵

الدُّنْيَا وَهِيَ لَكُمْ فِي الْآخِرَةِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت حذيفه رضي الله عنه وايي چي ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل [۲] چي ريښمي كپړه مه اغوندئ، او نه ديباج اغوندئ (چي يو قسم ريښمي كپړه ده) [۳] دغه شان د سپينو زرو او سرو زرو په لوښي كي د څكلو څه شي مه څكئ. [۴] او نه د سرو زرو او سپينو زرو په ركيبو او پيالو كې خوراك او څښاك كوئ، [۵] ځكه چي دا ټول څيزونه په دنيا كي د كافرانو د پاره دي او ستاسو د پاره په آخرت كې دي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① الْحَرِيرَ: نرى ريښم، ② الدِّيبَاجَ: پير ريښم، ③ صِحَافِهَا: ركيبئ د دي (سپينو او سرو زرو)

تسهيلات:

قوله: لَا تَلْبَسُوا الْحَرِيرَ:

د ريښمو د استعمال حرمت: ريښمي كپړې مه اچوی، ددې حكم نه د څلورو ګوتو په اندازه كپړا مستثنی ده كومه چه د نورو كپړو په غاړه كښې استعماليږي او دا په دې شرط چه د څلورو ګوتو د اندازې نه زياته نه وی.

قوله: وَلَا تَأْكُلُوا فِي صِحَافِهَا:

د صحافها د ضمير په مرجع كښې دوه احتمالات: ① ددې ضمير د "فضة" طرف ته د نزديكت يا كثرت استعمال د وجهې راجع دی. ځكه چه سرو زرو په مقابل كښې سپين زر ډيره استعماليږي او د ذهب حكم په فضه باندې د قياس كولو نه معلوميږي

② د ها ضمير په تاويل د مذكورات .مذكورات ته راجع كيږي، او دا ددې ايت په شان دی "والذين يكنزون الذهب والفضة ولا ينفقونها" (التوبہ: ۳۴)

قوله: فَإِنَّهَا لَهُمْ فِي الدُّنْيَا:

د ,,ها,, په مرجع كښې دوه احتمالات: ددې ضمير مؤنث په مرجع كښې دوه احتمالات دی

① يا خو "صحافها" طرف ته راجع كيږي.

② يا ماقبل كښې اشياء ثلاثه (حرير، آنيه، صحفه) ته راجع كيږی

[۴۲۷۳] په تقسيم كښې د ښی طرف څخه شروع كول

۴۲۷۳ - [۱۱] (۱) [۱] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «حُلِبَتْ لِرَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - شَاةٌ دَاجِنٌ، [۳] وَشِيبَ لَبَنُهَا بِمَاءٍ مِنَ الْبِئْرِ [۴] الَّتِي فِي دَارِ أَنَسٍ، [۵] فَأُعْطِيَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الْقَدَحَ،

(۱) اخرجه البخاري في كتاب المساقاة/باب في الشرب. ومن رأى صدقة الماء وهبته ووصيته جائزة، مقسوما كان أو غير مقسوم (رقم-۲۳۵۲) ومسلم في كتاب الأشربة/باب استحباب إدارة الماء واللبن ونحوهما عن يمين المبتدئ (رقم-۱۲۵-۲۰۲۹) وابوداود في كتاب الأشربة/باب في الساقي متى يشرب (رقم-۳۷۲۶) والترمذي في كتاب الأشربة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء أن الأيمنين أحق بالشرب (رقم-۱۸۹۳) وابن ماجه في كتاب الأشربة/باب إذا شرب، أعطى الأيمن. فالأيمن (رقم-۳۴۲۵)

فَشَرِبَ[٦] وَعَلَى يَسَارِهِ أَبُوبَكْرٍ، وَعَنْ يَمِينِهِ أَعرابِيٌّ[٧] فَقَالَ عُمَرُ: أَعْطِ أَبَابَكْرٍ يَارَسُولَ اللهِ! [٨] فَأَعْطَى الْأَعرابِيَّ الَّذِي عَنْ يَمِينِهِ[٩] ثُمَّ قَالَ: "الْأَيْمَنُ فَالْأَيْمَنُ "[١٠] وَفِي رِوَايَةٍ: "الْأَيْمَنُونَ الْأَيْمَنُونَ،[١١] أَلَا فَيَمِّنُوا» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او حضرت انس ﷺ وايي چې ايوه ورځ نبي کريم ﷺ زمونږ کور ته تشريف راوړو نو] [٢] د حضور ﷺ د پاره د کورنۍ بزي (چيلۍ) شوده (پۍ) ولوشل شو.[٣] او هغه شوده د هغه کوهي د اوبو سره يو خاي کړې شو،[٤] کوم چې د انس ﷺ په کور کې وو.[٥] بيا د هغه شيدو پياله د حضور ﷺ په خدمت کې پيش کړل شوه. چې د هغې نه حضور ﷺ څه شوده اوڅکل.[٦] هغه وخت د حضور ﷺ چپ طرف ته حضرت ابوبکر صديق ﷺ ناست وو، او ښي طرف ته يو بانډچي (کليوال) ناست وو.[٧] حضرت عمر ﷺ عرض وکړو چې يا رسول الله! ﷺ پاتې شوي شوده حضرت ابوبکر صديق ﷺ ته ورکړئ.[٨] ليکن حضور ﷺ هغه بانډچي (کليوال) ته عطا کړه، کوم چې د حضور ﷺ ښي طرف ته ناست وو،[٩] بيا يې وفرمايل چې ښي مقدم دي، [او بيا چپ، گس][١٠] او په يو روايت کې دا دي چې حضور ﷺ په هغه موقع دا وفرمايل چې ياد ساتئ د ښي طرف والا زيات حقدار دي. د ښي طرف والا زيات حقدار دي،[١١] نو ښي طرف والو ته يې ورکوئ، [يعنى هر کله چې دا معلومه شوه، چې ښي طرف والا زيات حقدار دي، نو تاسو هم د ښي طرف والو زيات رعايت کوئ، چې په ورکولو کې هغوئ نه ابتداء کوئ]. (بخاري ، مسلم)

حل اللغات: ① دَاجِنٌ: په کور کښې ساتلې شوي چيلۍ ② شِيبَ: يوځاي کړې شو، ③ الْقَدَحَ: پيالې.
④ الْأَيْمَنُونَ الْأَيْمَنُونَ: ښي طرف والا زيات حقدار دي.

تسهيلات:

قوله: ثُمَّ قَالَ الْأَيْمَنُ فَالْأَيْمَنُ:

په تقسيم کښې د ښي طرف استحقاق: يعنى ښيْ لاس مقدم دي او د ښيْ لاس مطلب دا دې چه ښيْ طرف ته چه څوک ناست وی نو اول دي هغوي ته ورکړې شي او بيا چه کوم هغه ته نيزدې ناست وي نو بيا دي هغوي ته ورکړې شي او که گس طرف ته لوي مرتبى والا څوک ناست وي نو بيا به هم ښيْ طرف مقدم کولی شي ليکن که ښيْ طرف والا اجازت وکړی چه اول دې گس طرف والا ته ورکړې شی کو چه زما نه اعلى دې او بيا ما ته راکړه نو دا هم صحيح ده او هم ددې وجهې نه نبی کريم ﷺ هغه بانډيچی لره په حضرت ابوبکر صديق ﷺ باندې مقدم کړو ځکه چه هغه ښيْ طرف ته وو، نو گويا چه دا حديث د نبی کريم ﷺ په کمال عدل وانصاف باندې دلالت کوی.

[۳۷۳] د نبي طرف والا په اجازت سره كس طرف واله له وركول

۳۷۳-[۱۲] (۱)[۱]وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ:[۲]«أُتِيَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِقَدَحٍ، فَشَرِبَ مِنْهُ[۳] وَعَنْ يَمِينِهِ غُلَامٌ أَصْغَرُ الْقَوْمِ[۴] وَالْأَشْيَاخُ عَنْ يَسَارِهِ.[۵] فَقَالَ: "يَا غُلَامُ! أَتَأْذَنُ أَنْ أُعْطِيَهُ الْأَشْيَاخَ؟"[۶] فَقَالَ: مَا كُنْتُ لِأُوثِرَ بِفَضْلٍ مِنْكَ أَحَدًا يَا رَسُولَ اللَّهِ![۷] فَأَعْطَاهُ إِيَّاهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[۸] وَحَدِيثُ أَبِي قَتَادَةَ سَنَذْكُرُهُ فِي "بَابِ الْمُعْجِزَاتِ" إِنْ شَاءَ اللَّهُ تَعَالَى.

ترجمه: [۱] او د حضرت سهل ابن سعد ﷺ نه روايت دي[۲] چې [يو ځل] د نبي كريم ﷺ په خدمت كې (د اوبو يا د شيدو) يوه پياله راوړل شوه، چې د هغې نه حضور ﷺ اوڅكل.[۳] هغه وخت د حضور ﷺ ښي طرف ته يو نو عمر هلك وو (چې د مجلس په حاضرينو كې) د ټولونه كوچني وو (يعني حضرت ابن عباس ﷺ)[۴] او كوم چې ډير سپين ږيرى خلق وو، هغه ګس طرف ته وو.[۵] حضور ﷺ وفرمايل چې اي هلكه! آيا ته اجازت راكوي، چې زه دا (باقي مانده شوده يا اوبه) دي بوډاګانو ته وركړم؟[۶] هغه نو عمره اوويل چې (نه) يا رسول الله! ﷺ زه ستاسو پاتې شوي (شوده يا د اوبو) د وركولو په سلسله كې په خان بل چا ته ترجيح نشم وركولي،[۷] نو حضور ﷺ هغه پاتې شوي شوده يا اوبه هغه نو عمره ته وركړې (بخاري مسلم)[۸] او د حضرت ابوقتاده ﷺ روايت (چې د مصابيح صاحب دلته نقل كړې وو) مونږ به يې انشاء الله په باب المعجزات كې نقل كړو.

حل اللغات: ① قَدَحٍ: پيالۍ، ② الْأَشْيَاخُ: مشران، سپين ږيري، ③ لِأُوثِرَ: چه ترجيح وركړم

تسهيلات:

قوله: وَعَنْ يَمِينِهِ غُلَامٌ:

د غلام مصداق: دَ غلام نه حضرت ابن عباس ﷺ مراد دې دې ښى طرف ته ناست وو

قوله: فَقَالَ: مَا كُنْتُ لِأُوثِرَ بِفَضْلٍ مِنْكَ أَحَدًا يَا رَسُولَ اللَّهِ!:

د نبي عليه السلام جوټه بل چاته نه وركول: يعنى زه ستاسونه پاتې شوې اوبه يا پيئويه وركولو كښې په خپل خان باندې بل چاته ترجيح نه شم وركولې

د ايثار بالطاعات مطلب: دَدې حديث نه ايثار بالطاعات مسئله واضح كيږي.دَ ايثار بالطاعات مطلب دادې چه يوسړې ته نيكى ملاويږې اوهغه خپل خان پريږدى او بل ته موقع وركړې دې دَپاره چه دغه نيكى هغه ته ملاؤشى

د ايثار دوه قسمونه: ① ايثارفى الطاعات بل چاته د طاعت او عبادت موقع وركول اوخپله

---

(۱) اخرجه البخارى فى كتاب الإجارة/باب إثم من منع ابن السبيل من الماء (رقم-۲۳۵۸)ومسلم فى كتاب الأشربة/باب استحباب إدارة الماء واللبن ونحوهما عن يمين المبتدئ (رقم-۱۲۷ - (۲۰۳۰) ومالك فى الموطا كتاب صفة النبى صلى الله عليه وسلم/ السنة فى الشرب ومناولته عن اليمين (رقم-۱۸)واحمد فى المسند: ۳۳۸/۵

روسته کیدل دي ته في الطاعات واني مثلاً دَ جمعې په ورځ ېې صف کښې یو سړې ولاړ دې او روستوصف ته یومشر راشي نوهغه سړې شاته شي اوهغه مشر ته دَ اول صف دَ ثواب موقع ورکړې دې ته ایثاربالطاعات واني ایثاربالطاعات که په واجباتوکښې وي نودا ناجائز دی اوکه طاعات غیرواجبه کښې وي نو مکروه دی

② ایثارفي امورالدنیا په دنیاوي امور کښې ایثار کول مستحب دي مثلاً دَ سفر په دوران کښې ئې خپل سیټ بل چاته پریخودلو او دې اودریدلو یاخپل نمبرئې بل ته ورکړو په خپل ځائې باندې ئې بل کینولو نو په دې کښې دَ ادب ثواب ملاویږي

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[٤٢٧٥] په ولاړه او روانه د خوراک کولو حکم

٤٢٧٥—[١٣] (١) [١] عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: [٢] «كُنَّا نَأْكُلُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَنَحْنُ نَمْشِي [٣] وَنَشْرَبُ وَنَحْنُ قِيَامٌ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَه، وَالدَّارِمِيُّ. [٤] وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [١] حضرت ابن عمر رضي الله عنهما وايي [٢] چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې به داسې هم کیدل. چې مونږ به په تلو تلو طعام خوړلو، [٣] او د ولاړې په حالت کې به مونږ اوبه څکلې ترمذي ابن ماجه دارمي [٤] او ترمذي رحمه الله ویلي دي چې دا حدیث حسن صحیح غریب دي

تسهیلات:

نوټ: ددې حدیث د مضمون تفصیل وړاندې د حدیث نمبر(۴۲۶۶) په شرح کښې تیرشوي دي

[٤٢٧٦] د نبی علیه السلام په ولاړه څکاک کول

٤٢٧٦—[١٤] (٢) [١] وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، [٢] قَالَ: «رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَشْرَبُ قَائِمًا وَقَاعِدًا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] او حضرت عمرو ابن شعیب د خپل پلار نه او هغه د خپل نیکه نه نقل کوي، [٢] هغه اوویل چې ما رسول الله ﷺ په ولاړه او په ناسته هم په اوبو څکلو لیدلي دي (ترمذي)

تسهیلات:

نوټ: ددې حدیث د مضمون تفصیل وړاندې د حدیث نمبر(۴۲۶۶) په شرح کښې تیرشوي دي

(١) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الأشربة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی النهی عن الشرب قائما (رقم-۱۸۸۰) وابن ماجه فی کتاب الأطعمة/باب الأکل قائما (رقم-۳۳۰۱) واحمد فی المسند: ۲۰/۱ ۲

(٢) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الأشربة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الرخصة فی الشرب قائما(رقم-۱۸۸۳) واحمد فی المسند:۱۷۴/۲

[۳۲۷۷] د څښلو په وخت په لوښي کښې د ساه اخستلو ممانعت

۳۲۷۷—[۱۵] (۱) [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: [۲] «نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنْ يُتَنَفَّسَ فِي الْإِنَاءِ، [۳] أَوْ يُنْفَخَ فِيهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وايي [۲] چې رسول الله ﷺ د دې نه منع فرمايلې ده چې د اوبو وغيره د څښلو په وخت، په لوښي کې ساوې واخستل شي. [۳] يا پکې پوکړل شي ﴿ابوداود، ابن ماجه﴾

تسهيلات:

قوله: أَنْ يُتَنَفَّسَ فِي الْإِنَاءِ، أَوْ يُنْفَخَ فِيهِ

په لوښي کښې د ساه اخستلو نقصانات: ① کيدې شي چې د خلې څخه توکانړې يا نوڅه په اوبو کښې پريوځي او طبيعت خراب شي

② کيدې شي دَسرې په خله کښې بدبوئي وي او هغه اوبوته لاړه شي نود ا مضرصحت هم دي او په طبيعت هم بنه نه لګي

③ په اوبوکښې دننه ساه اخستل دَ خناورو عادت دې لهذا انسان له دَ ساه اخستلو په وخت خله دَ لوښي نه جدا کول پکاردي.

دوه مسئلې: ① دَ ګرم څيز دَ يخولو دَپاره پوکې وهل هم منع دي

② دَڅکلو په څيزونوکښې که چرته ډکې وغيره وي نوهغه دَ پوکي په ذريعه سره اخوا کول هم منع دي

[۳۲۷۸] د څکاک بعضې آداب

۳۲۷۸—[۱۶] (۲) [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] " «لَا تَشْرَبُوا وَاحِدًا كَشُرْبِ الْبَعِيرِ، [۳] وَلَكِنِ اشْرَبُوا مَثْنَى وَثُلَاثَ، [۴] وَسَمُّوا إِذَا أَنْتُمْ شَرِبْتُمْ، [۵] وَاحْمَدُوا إِذَا أَنْتُمْ رَفَعْتُمْ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې نبي کريم صلي الله عليه وسلم فرمايي [۲] تاسو په يوه ساه کې اوبه مه څکئ، لکه څرنګه چې يې اوبښ څکي. [۳] بلکه په دوو يا دريو ساګانو کې يې څکئ. [۴] او هر کله چې اوبه څکئ، نو بسم الله وايئ. [۵] او هر کله چې لوښي د څکلو نه پس د خُلې نه لرې کړئ، نو حمد وايئ ﴿يعني په هر خل کې يا په آخري خل کې﴾ ترمذي

حل اللغات: ① سَمُّوا: په شروع کښې بسم الله وايئ ② وَاحْمَدُوا: اوپه آخره کښې حمد اوښا وايئ

(۱) اخرجه ابو داود فى السنن كتاب الأشربة/باب فى النفخ فى الشراب والتنفس فيه (رقم-۳۷۲۸) والترمذى فى كتاب الأشربة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى كراهية النفخ فى الشراب (رقم-۱۸۸۸)

(۲) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الأشربة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى التنفس فى الإناء (رقم-۱۸۸۵)

تسهيلات:

نوټ: په لوښي کښې د ساه اخستلو تشريح ددې ځخه وړاندې حديث نمبر (۴۲۷۷) په شرح کښې ياد ساتئ.

[۴۲۷۹] په لوښي کښې د پوکي وهلو ممانعت

۴۲۷۹ـ[۱۷] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - نَهَى عَنِ النَّفْخِ فِي الشَّرَابِ. [۳] فَقَالَ رَجُلٌ: الْقَذَاةُ أَرَاهَا فِي الْإِنَاءِ. [۴] قَالَ: "أَهْرِقْهَا". [۵] قَالَ: فَإِنِّي لَا أَرْوَى مِنْ نَفَسٍ وَاحِدٍ. [۶] قَالَ: "فَأَبِنِ الْقَدَحَ عَنْ فِيكَ، ثُمَّ تَنَفَّسْ"». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

توجمه: [۱] او د حضرت ابوسعيد خدري رضی الله عنه نه روايت دې [۲] چې نبي کريم ﷺ په اوبو کې د پوکلو نه منع فرمايلي ده. [۳] يو سړي (دا ممانعت او ريدو سره) عرض وکړو چه که په اوبو کې خاشي بيشي پريوتي وينم (نو څه وکړم، که يې پوک نه کړم، نو هغه خاشي بيشي به خرنګه وځي؟) [۴] حضور ﷺ ورته وفرمايل ته هغه توي کړه. [يعنی د بره نه لږ شان اوبه توي کړه، چې هغه خاشي ماشي وغيره ووځي (او هغه سړي به د پوکلو ممانعت نه په دې هم پوهه شوي وي، چې په دې سره دا خبره هم ضروري شوه، چې د اوبو د څکلو په وخت مينځ کې دې ساه نشي اخستي، بلکې په يوه ساه کې دې اوڅکل شي. څکه) [۵] هغه عرض وکړو چې زه په يو دم يعنی په يوه ساه کې د څکلو سره نه مړيږم. [۶] حضور ﷺ ورته وفرمايل چې [داسې اوبه څکه چې مخکې لږ شان وڅکه بيا] پياله د خلې نه لرې کړه (او د لوښي نه بهر) ساه واخله. [او بيا دغه شان په دويمه او دريمه ساه کې باقي اوبه وڅکه] (ترمذي دارمي)

حل اللغات: ① الْقَذَاةُ: دکې. بخرې. ② أَهْرِقْهَا: توي نې کړه ③ فَأَبِنِ: پس لرې کړه ④ الْقَدَحَ: پيالې؛

تسهيلات:

قوله: الْقَذَاةُ أَرَاهَا فِي الْإِنَاءِ..

د رجل د تپوس کولو وجه: چونکه په حديث کښې دې نه منع کړې شوې ده چه په لوښي کښې ساه واخستلې شي يا پوکې اووهلې شي نودې سړی کيدې شی داسې ګنړلې وی چه اوبه هم په يوه ساه څکل پکاردی په دې وجه هغه سوال اوکړو "فاني لا أروى" يعنی زه خو په يوه ساه کښې نه مړيږم

(۱) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب الأشربة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی کراهية النفخ فی الشراب (رقم-۱۸۸۷) ومالک فی الموطا كتاب صفة النبی صلى الله عليه وسلم/باب النهی عن الشراب فی آنية الفضة. والنفخ فی الشراب (رقم-۱۲)

قوله: قَالَ: "فَأَبِنِ الْقَدَحَ عَنْ فِيكَ، ثُمَّ تَنَفَّسْ":

خُله د لوښي څخه د اخوا کولو حکم: نبي کريم اوفرمائيل لوښي دَ خلې نه اخوا کړه اوساه واخله. دغه سړي اول دا سوال کړې وو چه زه کله دَ اوبو په لوښي وغيره کښې څه ډکې وينم نوهغه به څنګه اخوا کوم؟ نبي کريم اوفرمائيل چه اوبو دَ پورته نه راؤغورزوه ډکې به اول پريوځي. علماؤ ليکلي دي چه دَ ډکې اخوا کولو طريقه داهم ده چه په څه بل لرګي وغيره سره دې ډکې اخواکړې شي.

[۴۲۸۰] په مات شوی ځائې د څله لګولو ممانعت

۴۲۸۰- [۱۸] ( ) [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: [۲] «نَهَى رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَنِ الشُّرْبِ مِنْ ثُلْمَةِ الْقَدَحِ [۳] وَأَنْ يُنْفَخَ فِي الشَّرَابِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ د پيالۍ د کنډم خايي نه د اوبو څکلو نه منع وفرمايله.[۳] او حضور ﷺ په اوبو کې د پوکلو نه هم منع وفرمايله. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① ثُلْمَةِ الْقَدَحِ: د پيالۍ مات طرف.

تسهیلات: عَنِ الشُّرْبِ مِنْ ثُلْمَةِ الْقَدَحِ

د پيالۍ د مات ځائې څخه د څکاک کولو نقصان: دَ پيالئی مات ځائی ته ثُلْمَةٌ وائی کوم ته چه دَ پيالئی سورې هم وائی. هغه وخت به دَ لرګی لوښی وو دَهغه پيالوغاړې به اکثرماتې وې په داسې ځائی دَ اوبو څکلو ممانعت دَدې وجهې ووچه داځائی خيرن خيچن پاتې کيږی او په خله کښې سم راځی هم نه، نو اوبه وغيره په کپړو باندې پريوځی. اوهسې هم دادَ تهذيب نه خلاف دی. دَ دې حديث مطلب دانه دې چه کهٔ دَ لوښی يوه حصه ماته وی نوهغه لوښې مه استعمالونی بلکه مطلب دادې چه دغه مات ځائی مه استعمالونی

[۴۲۸۱] کله کله د مشک وغيره د خُلې نه په اوبو څکلو کې څه حرج نشته

۴۲۸۱- [۱۹] ( ) [۱] وَعَنْ كَبْشَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهَا- قَالَتْ: [۲] «دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۳] فَشَرِبَ مِنْ فِي قِرْبَةٍ مُعَلَّقَةٍ قَائِمًا، [۴] فَقُمْتُ إِلَى فِيهَا فَقَطَعْتُهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ. [۵] وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ.

ترجمه: [۱] او بي بي کبشه [صحابيه رضي الله عنها] وايي چې [۲] [يوه ورځ] رسول الله ﷺ زما کره تشريف راوړو.[۳] نو حضور ﷺ په ولاړه ولاړه د زوړند شوی مشک د خلي نه اوبه اوڅکلي.[۴] زه د مشک خلي ته ورولاړه شوم، او هغه مي [د تبرک په غرض] کټ کړه، [اولی

( ) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأشربة /باب فی الشرب من ثلمة القدح (رقم-۳۷۲۲) واحمد فی المسند: ۸۰/۳

( ) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الأشربة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم /باب ما جاء فی الرخصة فی ذلک (رقم-۱۸۹۲) واحمد فی المسند: ۸۰/۳

چې رسول الله صلى الله عليه وسلم خُله ورباندې ايښې وه] ، (ترمذي ابن ماجه) [۵] او ترمذي رحمه الله ويلي دي چې دا حديث حسن غريب صحيح دي.

حل اللغات: ① قِرْبَة: مشکیزه.

تسهيلات:

قوله: فَشَرِبَ مِنْ فِي قِرْبَةٍ مُعَلَّقَةٍ قَائِمًا:

نوټ: په مشک باندې خُله لګولوسره د اوبوڅکلو نقصانات د وړاندې حديث نمبر (۴۱۴۶) په وضاحت کښې تيرشو.

قوله: فَقُمْتُ إِلَى فِيهَا فَقَطَعْتُهُ:

د مشک د خلې کټ کولو دوه وجوهات:

① دَبرکت دَ حاصلولودَپاره ئې دا حصه پرې کړه اوخپل ځان سره ئې کيخوده.

② داهم وئيلې کيدې شي چه حضرت ام سلمه رضي الله عنها دا حصه پرې کړه چه په دې ځائې دَ چا خله اونه لګی کوم ځائې چه نبی عليه السلام شونډې مبارکې لګيدلې وې.

[۴۲۸۳] د خوږاويخ مشروب خوښول

۴۲۸۳ — [۲۰] (١) [١] وَعَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: [٢] «كَانَ أَحَبُّ الشَّرَابِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الْحُلْوَ الْبَارِدَ». [٣] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: وَالصَّحِيحُ مَا رُوِيَ عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مُرْسَلًا.

ترجمه: [١] او حضرت زهري د حضرت عروه نه او هغه د بي بي عائشې صديقې رضي الله عنها نه نقل کوې چې هغې اوويل [٢] چې د رسول الله ﷺ په نزد د څکلو په څيزونو کې يخ خوږ شې ډېر زيات محبوب وو. [٣] دا روايت ترمذي رحمه الله نقل کړې دې او ويلې يې دې چې هغه روايت صحيح دې چې بحوالهٔ زهري د حضور ﷺ نه بطريق ارسال نقل شوې دې

حل اللغات: ① الْحُلْو: خوږ. ② الْبَارِد: يخ

تسهيلات:

نوټ: د دې حديث سره متعلقه تشريح د حديث نمبر (۴۱۷۲) په وضاحت کښې تيره شوې ده

(١) اخرجه الترمذي في السنن كتاب الأشربة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء أي الشراب كان أحب الى رسول الله صلى الله عليه وسلم (رقم-١٨٩٥) واحمد في المسند:٣٨/٦

[۳۲۸۳] په مشروباتو كښې د پيو فضيلت

۳۲۸۳-[۲۱] (¹) [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ طَعَامًا فَلْيَقُلْ: [۳] اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ، وَأَطْعِمْنَا خَيْرًا مِنْهُ. [۴] وَإِذَا سُقِيَ لَبَنًا فَلْيَقُلْ: [۵] اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ، وَزِدْنَا مِنْهُ، [۶] فَإِنَّهُ لَيْسَ شَيْءٌ يُجْزِءُ مِنَ الطَّعَامِ وَالشَّرَابِ إِلَّا اللَّبَنُ» "، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] هر كله چې په تاسو كې يو سړي طعام وخوري، نو دا دعا دي وكړي [۳] اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيْهِ وَأَطْعِمْنَا خَيْرًا مِنْهُ. اي الله! مونږ ته په دې طعام كې بركت راكړي، او د دې نه هم ښه طعام راكړي. [۴] او هر كله چې په تاسو كې يو سړي شوده وڅكي نو دا دعا دي وكړي [۵] اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيْهِ وَزِدْنَا مِنْهُ. اي الله! مونږ ته په دې شيدو كې بركت راكړي، او (د دې نه زيات د څكلو د پاره راكړي. [او د شيدو څكلو په دعا كې، د دې نه ښه د څكلو د پاره راكړي. الفاظ دې نه وايي]. [۶] ځكه چې د شيدو نه ښه هيڅ شي نشته، [چې د الله ﷻ نه وغوښتل شي. او د دې وجه دا ده، چې داسې شي نشته] چې د خوراك څښاك بدل جوړ شي، علاوه د شيدو نه، [چې هغه د نس (خيټه) ډكولو خاصيت هم لري، او د خړوب كولو هم]. (ترمذي ابوداؤد)

تسهيلات:

قوله: فَإِنَّهُ لَيْسَ شَيْءٌ يُجْزِءُ مِنَ الطَّعَامِ وَالشَّرَابِ إِلَّا اللَّبَنُ:

پئ په يوځت مشروب او مطعوم: يعنى دَ پيئو متعلق دانه شى وئيلې كيدې چه په مشروباتو كښې دَدې نه بهتر څه څيز كيدې شى ځكه چه پيئى دَ تندې ختمولو دَپاره دَ اوبو كار هم كوى اودَ اولګې دَ لرې كولو دَپاره دَ خوراك كار هم كوى. په دې وجه په دعا كښې "زدنا" وئيل پكار دى خيراً نه دى وئيل پكار "يجزئ" "أي يكفي" كافى كيدل.

[۳۲۸۴] د نبى عليه السلام دپاره د خوږو اوبو راوړل

۳۲۸۴-[۲۲] (²) [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهَا - قَالَتْ: [۲] «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُسْتَعْذَبُ لَهُ الْمَاءُ مِنَ السُّقْيَا. [۳] قِيلَ: هِيَ عَيْنٌ بَيْنَهَا وَبَيْنَ الْمَدِينَةِ يَوْمَانِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او بى بى عائشه رضي الله عنها فرمايى. [۲] چې د نبى كريم ﷺ د پاره به خوږې اوبه د سقيا نه راوړل كيدې. [۳] بعضى حضراتو بيان وكړو چې سقيا د يوې چينى نوم دى، چې د مدينى نه په دوه منزله فاصله واقع وه. (ابوداود)

---

¹) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأشربة/باب ما يقول إذا شرب اللبن (رقم-۳۷۳۰) والترمذي في كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما يقول إذا أكل طعاما (رقم-۳٤۵۵) وابن ماجه في كتاب الأطعمة/باب الزيت (رقم-۳۳۲۲) واحمد في المسند: ۶/۱۰۰

²) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأشربة/باب في إيكاء الآنية (رقم-۳۷۳۵) واحمد في المسند: ۶/۱۰۰

حل اللغات: ① يُسْتَعْذَبُ: خوږې اوبه به راوړلې شوې ② السُّقْيَا: د مدينې نه په دوه منزله فاصله کښې يوه چينه وه.

تسهيلات:

قوله: يُسْتَعْذَبُ لَهُ الْمَاءُ:

د خوږو اوبو څخه مراد: "وهو الطيب الذي لا ملوحة فيه" خوږې اوبه. چونکه په مدينه منوره کښې خوږې اوبه کمې وې نو ددې وجهې نه نبي کريم ﷺ له به اوبه د سقيا نه راوړې شوې او سقيا د يوې چينې نوم دې کومه چه د مدينې منورې نه د دوه ورځو په مسافت باندې واقع ده

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۴۲۸۵] د سرو او سپينو زرو په لوښو کښې د څکاک ممانعت

۴۲۸۵— [۲۳] (¹) [۱] عَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] "«مَنْ شَرِبَ فِي إِنَاءِ ذَهَبٍ أَوْ فِضَّةٍ، [۳] أَوْ إِنَاءٍ فِيهِ شَيْءٌ مِنْ ذَلِكَ، [۴] فَإِنَّمَا يُجَرْجِرُ فِي بَطْنِهِ نَارَ جَهَنَّمَ»" ، رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ.

ترجمه: [۱] د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې، چې نبي کريم ﷺ وفرمايل. [۲] کوم سړې چې د سرو يا سپينو زرو په لوښې کې څکل کوي، [۳] يا په يو داسې لوښي کې څکل کوي (چې کليةً د سرو سپينو زرو نه وي) خو په هغې کې د سرو يا سپينو زرو څه حصه وي، [۴] نو (د هغه څکل د دې نه علاوه نور هيڅ نتيجه نه پيدا کوي چې) هغه په خپل نس (خيټه) به د دوزخ اور غټ غټ سره خکته کوي. (دار قطني)

حل اللغات: ① يُجَرْجِرُ: په غرپ غرپ باندې څکل

¹) اخرجه الدارقطني في السنن رقم الحديث ۱ من كتاب الطهارة

[۴] بَابُ النَّقِيعِ وَالْأَنْبِذَةِ

دَ نقيع اودَ نبيذونو بيان

خلاصة الباب:

فيه ثمانية أحاديث مشتملة على أربع مسائل:

① شرب النبيذ : ۱، ۲، ۳.

② ظروف النبيذ: ۳، ۴، ۵، ۸.

③ مفهوم النهي عن استعمال الظروف التي يتخذ فيها الخمر: ۶.

④ تبديل إسم الخمر: ۷.

د نقيع تعريف: چې انګور یاکهجورې په اوبو کښې اچولوسره صرف لمدولې شي اودَځه وخت دَپاره پريخودلې شي دې دَپاره چه په اوبوكښې خوږوالې راشي بس هم دغه نقيع دې دَدې ځکل جائز اودَ بدن او نظام هضم دَپاره مفيد دی

د نبيذ لغوی معنی:

أنبذة د نبيذ جمع ده په معنی دَ منبوذ يعنی غورزولې شوی ځيزته وائی

د نبيذ جوړولو طريقه: دَدې دَ جوړولوطريقه داده چه کهجورې په اوبوکښې واچولې شي او دَډيروخت دَپاره په اوبوکښې پريخودلې شي چه په اوبوکښې معمولی شان تيزوالې راشی خوچه دومره تيزی او بدلون رانه شي چه مُسکرجوړشی دا نبيذ دې دَدې ځکل جائز اوحلال دی خوکه چرې مسکرجوړشي نو حرام دی

د نبيذ درې قسمونه: ① که کهجورې اوانګور په اوبوکښې واچولې شي اودَ خوږوالی راتلونه وړاندې وړاندې استعمال کړې شي نوداهم دَ اوبوپه حکم کښې دی دَ ټولو په نيزپه دې سره اودس کول هم جائزدی اوعام استعمال ئې هم جائزدې

② که کهجورې اوانګوروغيره ئې په اوبوکښې واچول اودَ ډير وخته پورې پريخودوسره په اوبوکښې سکر راغلويا ئې په اورباندې پاخه کړل او په اوبوکښې جوش اوسکر راغلو نودادَ ټولو په نيزحرام دی نه په دې سره اودس کول جائز دی اونه دا په عام استعمال کښې راوستلې شي

③ که په اوبوکښې کهجورې اوانګور وغيره واچولې شي په اوبوکښې معمولی شان خوږوالې راغلو جوش هم رانغلو او مزبدهم نه شوې

د نبيذ په دريم قسم کښې اختلاف: ① دَ جمهورو او صاحبينو په نيز دا دريم قسم استعمالول جائزنه دی

② دَامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزدَدې عام استعمال هم جائز دې اودَ اودس دَپاره استعمال هم

جائزدي

نوټ: دَ وفات نه لږه موده وړاندې امام ابوحنيفه رحمه الله دَ صاحبينو او دَ جمهور قول ته رجوع اوکړه چه په دې سره اودس کول ناجائزدی دا مسئله وړاندې په كتاب الطهارة كښې په پوره تفصيل سره تيره شوې ده

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۴۲۸۶]د حضرت انس رضي الله عنه پياله

۴۲۸۶—[۱]( )[۱] عَنْ أَنَسٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: [۲]«لَقَدْ سَقَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-بِقَدَحِي هَذَا الشَّرَابَ كُلَّهُ: [۳]الْعَسَلَ، وَالنَّبِيذَ، وَالْمَاءَ وَاللَّبَنَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] د حضرت انس رضي الله عنه نه روايت دې [۲] چې ما په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې په خپلې دې پيالئ کې د څکلو ټول څيزونه څکولي دي، [۳] لکه شات نبيذ اوبه او شوده (مسلم)

تسهيلات:

قوله: لَقَدْ سَقَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-بِقَدَحِي هَذَا الشَّرَابَ كُلَّهُ:

په اته لاکهه روپۍ د مذکوره پيالې خرڅيدل: حضرت انس رضي الله عنه چه په نبي کريم باندې په کومه پيالئ دا څيزونه څکلې وو هغه پيالئ هغه سره وه. بيادا د حضرت نضر بن انس رضي الله عنه څخه په اته لاکهه درهم باندې اخستې شوې وه.

دامام بخاري په مذکوره پيالې کښې څکاک کول: حضرت امام بخاري رحمه الله په بصره کښې دا پيالئ ليدلې وه اودَ دوی دَ خوش قسمتئ به څه وايئ دوی ته په دغه مبارکه پيالئ باندې دَ اوبو څکلو سعادت هم حاصل شوې وو.

[۴۲۸۷]د نبی کریم صلى الله عليه وسلم د پاره د نبيذو جوړول

۴۲۸۷—[۲]( )[۱]وَعَنْ عَائِشَةَ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا-قَالَتْ: [۲]«كُنَّا نَنْبِذُ لِرَسُولِ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-فِي سِقَاءٍ يُوكَأُ أَعْلَاهُ، [۳]وَلَهُ عَزْلَاءُ، [۴]نَنْبِذُهُ غُدْوَةً، فَيَشْرَبُهُ عِشَاءً، [۵]وَنَنْبِذُهُ عِشَاءً فَيَشْرَبُهُ غُدْوَةً» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي [۲] چه مونږ به د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د پاره په يو مشك کې نبيذ جوړول. چې هغه به د پورته نه (ترلو سره) بندول کيدو، [۳] او د هغې په لاندې حصه کې به د هغې خله وه، [۴] مونږ به په دې مشك کې کجوري وغيره د سحر په وخت کې اچولې، نو حضور صلى الله عليه وسلم به د شپې په وخت هغه څکلې، [۵] اوکه په هغې کې به مو کجوري وغيره د شپې

[۱] واخرجه مسلم فى كتاب الأشربة/باب إباحة النبيذ الذى لم يشتد ولم يصر مسكرا (رقم-۸۹ - (۲۰۰۸)

[۲] اخرجه مسلم فى كتاب الأشربة/باب إباحة النبيذ الذى لم يشتد ولم يصر مسكرا (رقم-۸۵ - (۲۰۰۵) وابوداود فى كتاب الأشربة/باب فى صفة النبيذ (رقم-۳۷۱۱) والترمذى فى كتاب الأشربة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الانتباذ فى السقاء (رقم-۱۸۷۱) واحمد فى المسند: ۲۴۰/۱

واچولي، نو حضور ﷺ به هغه د سحر په وخت کې څکلې (مسلم)

حل اللغات: ① نَنْبِذُ، نبیذ دَ جوړولوپه معنی کښې دې يعنی موږ به نبیذ جوړولو ②سِقَاء: مشکیزه ③يُوكَأُ: په تسمې سره به تړلې شوه، ④عَزْلَاءُ: د مشکیزې لاندينۍ خوله ⑤نَنْبِذُهُ: موږ به پکښې نبيذ جوړول

تسهيلات:

قوله: كُنَّا نَنْبِذُ لِرَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي سِقَاءٍ يُوكَأُ أَعْلَاهُ:

د مذکوره جملې مطلب: داسې ګنړل پکاردی چه دَ مشکیزې پورته حصې طرف ته یوه خله وی اوداپه هره یوه مشکیزه کښې وی لیکن دَدې مشکیزې یوه خله لاندې طرف ته هم وه چه نسبتًا وړه وه. دَ پورته خله به تړلې شوه لاندې خلې نه به نبیذ څکلې شو دا دَدې حدیث مطلب دې.

د موسم په اعتبار سره د نبیذ جوړولو طریقې: ① حافظ فضل محمد صاحب لیکلی دی چې دَ نبیذ جوړولو داطریقه کیدې شی چه په ګرمئی کښې وه. په کوم کښې چه سحراوماښام نبیذ تیاریدې شی

② دَ یخنئی په موسم کښې کله یوه ورځ اوکله درې ورځې هم لګیدلې لکه څنګه چه په نورو احادیثوکښې دَدې ذکردې.

[۴۲۸۸] په نبیذ باندې د وخت تیریدو په وجه نه څکل

> ۴۲۸۸-[۳] (١) ۱ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - قَالَ: ۲ «كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُنْبَذُ لَهُ أَوَّلَ اللَّيْلِ، ۳ فَيَشْرَبُهُ إِذَا أَصْبَحَ يَوْمَهُ ذَلِكَ، ۴ وَاللَّيْلَةَ الَّتِي تَجِيءُ ۵ وَالْغَدَ، وَاللَّيْلَةَ الْأُخْرَى، ۶ وَالْغَدَ إِلَى الْعَصْرِ ۷ فَإِنْ بَقِيَ شَيْءٌ سَقَاهُ الْخَادِمَ، ۸ أَوْ أَمَرَ بِهِ فَصُبَّ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما وايي ۲ چې د رسول الله ﷺ د پاره چې کوم نبيذ به د شپې په ابتدايي حصه کې اچول کيدو، ۳ هغه به يي د راتلونکې ورځ په سحر کې څکل، ۴ بيا به يي په راتلونکې شپه کې څکل، ۵ بيا په دويمه ورځ او دويمه شپه به يي څکل، ۶ بيا د هغې نه پس راتلونکې (يعنی دريمه) ورځ به يي د مازيګر تر وخته به يي څکل، ۷ او که د هغې نه پس به هم په هغې کې څه باقي پاتې شو، نو په خادم به يي څکل ۸ يا د تويولو حکم به يي ورکولو، نو هغه به توی کړې شو (مسلم)

حل اللغات: ① فَصُبَّ: نو تونې به کړې شو، اړولې به شو

---

[1] اخرجه مسلم فی کتاب الأشربة/باب إباحة النبيذ الذی لم يشتد ولم يصر مسكرا(رقم-۷۹ - (۲۰۰۴) واحمد فی المسند: ۲٤۰/۱

تسهيلات:

قوله: فَإِنْ بَقِيَ شَيْءٌ سَقَاهُ الْخَادِمَ، أَوْ أَمَرَ بِهِ فَصُبَّ:

په دريمه ورځ د نبيذ دوه صورتونه: ① دا أوشك دپاره نه بلكه د تنويع دپاره دي يعنى نبي كريم ته به دريو ورځو پورې جوړشوې نبيذ وركولې شو په دريمه ورځ د مازيګر نه پس به چونكه د نبيذ هغه بيخ پاتې كيدلو په دې وجه به هغه په خادم باندې څكولې شو خو دا باندې به هله څكولې شو كه په هغې كښې په نشه نه وه پيدا شوې يعنى مسكر به نه وو
② كه په دريمه ورځ د مازيګرڅخه پس به په هغې كښې د نشې پيدا كولو صفت پيدا شوې وو نوبيا به هغه ضائع كولې شو.

په لوښى كښې د نبيذ ساتلو آخرى حد: معلومه شوه چه د دريو ورځو پورې نبيذ ساتل آخرى حد دې علماء ليكى چه په دې حديث سره دا خبره په پوهه كښې راغله چه غلام او خادم ته د خوراك څښاك باقى پاتې وركولې شى او دا عمل هم جائز دې كوم چه په حديث كښې دې

په احاديثو كښې تعارض: دلته د روايت الباب نه په ظاهره دا اشكال معلوميږى چه حبيب پاک به د سحر نبيذ ماښام او د ماښام نبيذ سحر څكلو اودې نه زيات به ئې نه حصار ولو حالانكه د ابن عباس رضي الله عنهما روايت د كوم تخريج چه ابوداؤد مسلم نسائى او ابن ماجه كړې دې د هغې نه معلوميږى چه رسول الله ﷺ به د مشكيزې نبيذ دريو ورځو پورې څكلو او د دريمې ورځ ماښام به ئې اوڅكلو او باقى پاتې به ئې توئى كړو په ظاهره په دواړو روايتونو كښې تعارض دې؟

د تعارض درې جوابونه: ① د حضرت عائشه رضي الله عنها په روايت كښې هم د دغه ورځ ذكر دې دې سره د راتلونكې ورځ او دريمې ورځ څكلو نفى لازم نه راځى ځكه چه ذكر شئ نفى عما عداه نه مستلزم لره دې
② د ابن عباس رضي الله عنهما د روايت محمل هغه زمانه ده په كوم كښې چه به په دريو ورځو كښې هيڅ تغير نه كيدلو موسم به يخ وو او د حضرت عائشه رضي الله عنها د روايت محمل د ګرمئ موسم دې په دې كښې به فساد او سكر زر راتلو
③ د حضرت عائشه رضي الله عنها د روايت محمل قليل نبيذ دې چه هم په يوځل كښې به ختميدلو او د ابن عباس رضي الله عنهما د روايت محمل هغه صورت دې چه هغه به په زيات مقدار كښې وو

[۴۲۸۹] د كانړى په لوښى كښې نبيذ جوړول

۴۲۸۹—[۳] (۱) ① وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «كَانَ يُنْبَذُ لِرَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي

(۱) اخرجه مسلم فى كتاب الأشربة/باب النهى عن الانتباذ فى المزفت والدباء والحنتم والنقير. وبيان أنه منسوخ. وأنه اليوم حلال ما لم يصر مسكرا (رقم ۶۲ - (۱۹۹۹) وابوداود فى كتاب الأشربة/باب فى الأوعية (رقم-۳۷۰۲) والنسائى فى كتاب الأشربة/باب الإذن فى الانتباذ التى خصها بعض الروايات التى أتينا على ذكرها الإذن فيما كان فى الأسقية منها (رقم-۵۶۴۸) وابن ماجه فى كتاب الأشربة/باب صفة النبيذ وشربه (رقم-۳۴۰۰) واحمد فى المسند: ۳/۳۰۴

سِقَائِهِ، ﴿٣﴾ فَإِذَا لَمْ يَجِدُوا سِقَاءً ﴿٤﴾ يُنْبَذُ لَهُ فِي تَوْرٍ مِنْ حِجَارَةٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ﴿١﴾ او حضرت جابر رضي الله عنه وايي ﴿٢﴾ چې رسول الله ﷺ د پاره به په مشک کې نبيذ جوړولې شو ﴿٣﴾ که څه وخت به مشک ملاو نه شو، ﴿٤﴾ نو بيا به د حضور ﷺ د پاره د کاڼي په لوښي کې نبيذ جوړولې شو (مسلم)

حل اللغات: ①تَوْرٍ: د کاڼړي يا د پيتل لوښي

تسهيلات:

نوټ: د حديث په مفهوم کښې څخه مشکل نشته.

[۳۴۰] د نبيذ جوړولو د پاره ممنوعه لوښي

۳۴۰—[۵] ( ) ﴿١﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا -: ﴿٢﴾ «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - نَهَى عَنِ الدُّبَّاءِ ﴿٣﴾ وَالْحَنْتَمِ، ﴿٤﴾ وَالْمُزَفَّتِ، ﴿٥﴾ وَالنَّقِيرِ، ﴿٦﴾ وَأَمَرَ أَنْ يُنْبَذَ فِي أَسْقِيَةِ الْأَدَمِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ﴿١﴾ او د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي ﴿٢﴾ چې رسول الله ﷺ د ډډ کدو په لوښي کې [د نبيذ جوړولو نه] منع وفرمايله، ﴿٣﴾ په غټ شين منګي کې ﴿٤﴾ او په رنګ شوي [روغن مرلي شوې] کټوئ کې ﴿٥﴾ اود ډډ لرګي په لوښي کې [د نبيذ جوړولونه]. ﴿٦﴾ او دا حکم يې وکړو چې د چمړې په مشک کې دې نبيذ جوړول شي (مسلم)

حل اللغات: ①الدُّبَّاءِ: اوچ ډډ کدو، ②الْحَنْتَمِ: چاټي، منګې، ③الْمُزَفَّتِ: روغن مرلي شوې کټوئ. ④النَّقِيرِ: ډډ تراشلي شوې د لرګي لوښي، ⑤الْأَدَمِ: د څرمني مشکيزه

تسهيلات: **قوله:** نَهَى عَنِ الدُّبَّاءِ الخ

په مذکوره لوښو د نبيذ جوړولو کښې د ممانعت نسخ: نبي عليه السلام د اسلام د شروع په ورځو کښې په دې قسم لوښو کښې د نبيذ جوړلو ممانعت فرمائيلې وو دې د پاره چه لوښو ته په کتلوسره دوباره د شرابو رغبت پيدانه شي. بل د دغه لوښو په خاص تاثيرسره نبيذ په شرابو کښې بدل نه شي. کله چه د شرابو نفرت په زړونو کښې کيناستو او په مسکر او غيرمسکر کښې فرق کول آسان شو نو حضور پاك په هرقسم لوښو کښې د نبيذ جوړولو اجازت ورکړو لکه څنګه چه دې پسې روايت کښې د دې ذکر دې

قوله: وَأَمَرَ أَنْ يُنْبَذَ فِي أَسْقِيَةِ الْأَدَمِ

د أدَم څخه مراد: دالفظ مفرد دې په همزه او دال باندې فتحه ده څرمن ته وائي مراد د څرمن نه جوړه شوې مشکيزه ده

نوټ: د دې حديث تفصيل په کتاب الايمان کښې تيرشوې دې

( ) اخرجه مسلم في كتاب الأشربة /باب النهي عن الانتباذ في المزفت والدباء والحنتم والنقير. وبيان أنه منسوخ. وأنه اليوم حلال ما لم يصر مسكرا (رقم-٤٦ - (١٩٩٧)

[۴۲۹] د نبیذ دپاره د بعضې لوښو د حرمت نسخ

۴۲۹۰-[۱۶] (¹) [۱] وَعَنْ بُرَيْدَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] "«نَهَيْتُكُمْ عَنِ الظُّرُوفِ [۳] فَإِنَّ ظَرْفًا لَا يُحِلُّ شَيْئًا وَلَا يُحَرِّمُهُ [۴] وَكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ". [۵] وَفِي رِوَايَةٍ: قَالَ: "نَهَيْتُكُمْ عَنِ الْأَشْرِبَةِ إِلَّا فِي ظُرُوفِ الْأَدَمِ [۶] فَاشْرَبُوا فِي كُلِّ وِعَاءٍ [۷] غَيْرَ أَنْ لَا تَشْرَبُوا مُسْكِرًا»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او د حضرت بریده ﷛ نه روایت دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] ما تاسو (په مذکوره بالا) بعضو لوښو کې [د نبیذ جوړولونه] منع کړي وئ، [او تاسو دا ګمان کړي وو، چې د حلت او حرمت حکم د لوښو سره تعلق لري، حالانکه داسې نه ده] [۳] بلکه حقیقت دا دي چې کوم څیز حرام دي، هغه هیڅ لوښي حلالولي نشي، او کوم څیز چې حلال دي، هغه هیڅ لوښي نه حراموی، [۴] اصل حکم خو دا دي چې کوم څیز نشه پیدا کړي، هغه حرام دي [که هغه په هر لوښي کې هم اوڅکل شي او کوم چې نشه نه پیدا کوی، هغه حلال دي، خوا که هغه په هر قسم لوښي کې وي)، [۵] او په یو روایت کې داسې دي چې حضور ﷺ وفرمایل ما (په مذکوره بالا لوښو کې) تاسو [د نبیذ جوړولو او] څکلو نه منع کړي وئ، علاوه د چمړې د لوښو نه [لیکن اوس زه هغه حکم منسوخ ګرځولو سره په هر قسم لوښي کې نبیذ جوړول او څکل مباح ګرځوم] [۶] نو تاسو په هر قسم لوښي کې څکلي شي، [۷] لیکن کوم څیز چې نشه پیدا کونکي وي هغه هیڅ کله مه څکئ (مسلم)

حل اللغات: ① الظُّرُوف: د ظرف جمع ده لوښی، ② الْأَدَمِ: د څرمن لوښي (مشکیزه)، ③ وِعَاءٍ: لوښي.

تسهیلات:

قوله: فَإِنَّ ظَرْفًا لَا يُحِلُّ شَيْئًا وَلَا يُحَرِّمُهُ:

په مذکوره لوښوکښې د نبیذجوړولود ممانعت وجه: دَ اسلام په شروع کښې په مدینه منوره کښې چه کله دَ شرابو دَحرمت حکم راغلو نومسلمانانو له دَ شرابو نه دَ نفرت پیداکولوپه غرض نبی کریم دَدغه لوښو دَ ماتولو او دَ نه استعمالولو حکم ورکړو کله چه دَ شرابو حرمت په زړونوکښې کیناستو نونبی کریم دَهرقسم لوښودَ استعمالولو اجازت ورکړو اووئ فرمائیل چه لوښي یوڅیز حلال یا حراموی نه اوس هرقسم لوښی استعمالوئ لیکن دَمسکراتو نه خان اوساتئ.

---

¹) اخرجه مسلم في كتاب الأشربة/باب النهي عن الانتباذ في المزفت والدباء والحنتم والنقير، وبيان أنه منسوخ، وأنه اليوم حلال ما لم يصر مسكرا (رقم-) ٦٤ - (١٩٩٩) والترمذي في كتاب الأشربة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في الرخصة أن ينبذ في الظروف (رقم-١٨٦٩) واحمد في المسند؛ والنسائي في/٣٥٩

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۳۲۳] د هر نشه راوستونكي مشروب حرمت

۳۲۳ــ[۷] (۱) [۱] عَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: [۲] "«لَيَشْرَبَنَّ نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي الْخَمْرَ، [۳] يُسَمُّونَهَا بِغَيْرِ اسْمِهَا»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] د حضرت ابو مالك اشعري نه روايت دي چې هغه د رسول الله ﷺ نه واوريدل [۲] (داسې زمانه راتلونكې ده) چې زما د امت بعضې خلق به شراب څكي. [۳] او د هغې نوم به د شرابو په ځاي بل څه ايږدي. (ابوداود ، ابن ماجه)

تسهيلات:

قوله: يُسَمُّونَهَا بِغَيْرِ اسْمِهَا:

دحديث مصداق: نبي عليه السلام د راروانې زمانې د خلقو پيشن ګونی كوی چې زما په امت كښې به بعضې خلق شراب څكی خوپه دې كښې به تاويل كوی چې دا شراب نه دی بلكه نور نومونه به وركوی. زما په خيال كه نظر اوكړې شی نو اصل علت خود شرابو په حرمت كښې سكر او نشه ده. نوكه د نشې صفت په هرڅخه كښې وی كه هغه مشروب وی اوكه غير مشروب نوهغه به د شرابو په حكم كښې وی نود دې قاعدې په رڼا كښې په موجوده وخت كښې پوډر، آنس (دا يوه نوې نشه راوتې ده) وغيره د نشې څيزونه هم د دې حديث مصداق دې والله تعالى اعلم

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۲۴] په شين منګې كې د جوړشوې نبيذ د څكلو ممانعت

۳۲۴ــ[۸] (۲) [۱] عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] «نَهَى رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَنْ نَبِيذِ الْجَرِّ الْأَخْضَرِ [۳] قُلْتُ: أَنَشْرَبُ فِي الْأَبْيَضِ؟ قَالَ: لَا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت عبدالله ابن ابي اوفي رضي الله عنه وايي [۲] چې رسول الله ﷺ په شين منګي كې د جوړ شوي نبيذ د څكلو نه منع اوفرمايله. [۳] نو ما عرض وكړو چې آيا مونږ په سپين منګوټي كې جوړ شوي نبيذ څكلي شو ؟ حضور ﷺ وفرمايل چې نه. (بخاري)

حل اللغات: ① الْجَرِّ الْأَخْضَرِ: شنه چاټي، شين منګې

(۱) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأشربة/باب في الداذي (رقم-۳۶۸۸) وابن ماجه في كتاب الفتن/باب العقوبات (رقم-۴۰۲۰) واحمد في المسند: ۳۴۲/۵

(۲) اخرجه البخاري في صحيحه رقم الحديث ۵۵۹۶. واحمد في المسند ۴/ ۳۵۳

تسهیلات:

قوله: عَنْ نَبِيذِ الْجَرِّ الْأَخْضَرِ:

په حدیث کښې د اخضره قید نوعیت: یعنی شنه کندولونه اوخُم. دَ لوښی دَپاره شین کیدل څه قید احترازی نه وو بلکه دَزماني په لحاظ سره دا قید اتفاقي ووځکه چه عموماً هغه وخت به دَ شرابو لوښی شنه اومرغن وو. حضرت عبدالله بن ابی اوفی رضی الله عنه دا قید احترازی اوګنړلو نوسوال ئی اوکړو چه په سپین لوښی کښې جوړشوې نبیذ څکلې شو؟ نبی کریم جواب ورکړو چه نه. چونکه هغه وخت دا ټول لوښی دَ نبیذ وغیره دَاستعمال دَپاره هم ممنوع ګرځولې شوې وو په دې وجه نبی کریم سپین لوښی هم منع کړل بیا دا ممانعت منسوخ شو.

[۵] بَابُ تَغْطِيَةِ الْأَوَانِي

دَ لوښو دپټولو بیان

خلاصة الباب:

فيه ستة أحاديث مشتملة على مسئلتين:

① الأمر بالتغطية: ۱، ۲، ۵.

② الحكم بإطفاء النار عند المنام: ۳، ۴، ۶.

دباب مقصد: رسول کریم ﷺ دنیا ته احکام شرع رسولو دَپاره مبعوث شوې وو خوددې سره سره دَ معاشرت آداب هم نبی کریم ﷺ ښه په تفصیل سره بیان فرمائیلی دی. دې دَپاره چه دَهغوی ﷺ منونکی مسلمانان خپل ژوندپه ښه طریقه اوپه آرام اوسکون سره تیرکړی شی په دې باب کښې رسول الله ﷺ دَ اوده کیدو دَ وخت څه آداب بیان کړی دی.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۳۳۳] دشپی د داخلیدو بعضې آداب

۳۳۳-[۱] (۱) [۱] عَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «إِذَا كَانَ جُنْحُ اللَّيْلِ أَوْ أَمْسَيْتُمْ [۳] فَكُفُّوا صِبْيَانَكُمْ، [۴] فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَنْتَشِرُ حِينَئِذٍ، [۵] فَإِذَا ذَهَبَ سَاعَةٌ مِنَ اللَّيْلِ فَخَلُّوهُمْ [۶] وَأَغْلِقُوا الْأَبْوَابَ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللهِ، [۷] فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لَا يَفْتَحُ بَابًا مُغْلَقًا، [۸] وَأَوْكُوا قِرَبَكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللهِ، [۹] وَخَمِّرُوا آنِيَتَكُمْ، وَاذْكُرُوا اسْمَ اللهِ، [۱۰] وَلَوْ أَنْ تَعْرُضُوا عَلَيْهِ شَيْئًا، [۱۱] وَأَطْفِئُوا مَصَابِيحَكُمْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

---

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب بدء الخلق/باب صفة إبليس وجنوده (رقم-۳۲۸۰) ومسلم فی كتاب الأشربة/باب الأمر بتغطية الإناء وإيكاء السقاء، وإغلاق الأبواب، وذكر اسم الله عليها، وإطفاء السراج والنار عند النوم، وكف الصبيان والمواشي بعد المغرب (رقم-۹۷ - (۲۰۱۲) وابوداود فی کتاب الأطعمة/باب فی التمر (رقم-۳۸۳۱) واحمد فی المسند: ۳۰۶/۳

ترجمه: [۱] حضرت جابر رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمایل[۲] هر کله چې د شپې تیاره خوره شي، یا داسې یې وفرمایل هر کله چې ماښام شي،[۳] نو خپل کوشنیان [د کور نه د وتلو نه او په لارو کوڅو کې د ګرځیدو نه] منع کړئ،[۴] ځکه چې دا وخت شیطان، [یعنی جنات ځلور طرف ته] خورېږي،[۵] بیا چې د شپې یو ساعت تیر شي، نو کوشنیان چیرته د تلو راتلو د پاره په پریخودلو کې څه حرج نشته،[۶] او د الله ﷻ نوم اخستو سره [یعنی بسم الله ویلو سره] دروازې بندې کړئ،[۷] ځکه [بسم الله ویلو سره] بندې کړې دروازې شیطان نه شي خلاصولې [باوجود د دې چې شیاطین او جناتو ته په دې قدرت حاصل دې چې هغوی په دروازو او په دیوالونو کې کیني، لیکن د الله ﷻ د ذکر په سبب هغوی د ناستې مجال نه لري][۸] او د الله ﷻ نوم اخستو سره د هغه مشکیزو خلې بندې کړې [چې په هغې کې اوبه موجودې وي، چې په هغې کې چینجي او پتنګان وغیره دننه نشي،[۹] او د الله ﷻ نوم اخستو سره خپل لوښي پټوئ (سر پرې ایږدئ)[۱۰] خواه که په لوښو عرضاً یو شی کیږدئ، [یعنی که د لوښو د پټولو د پاره داسې شي موجود نه وي، چې په هغې سره د هغه لوښي خله پوره پټه شي، نو په هغې عرضاً په پلنوالي څه لرګي وغیره ایږدئ، اګر که په دې صورت کې لوښي پوره طور سره پټ نشي، لیکن داسې کم نه کم کراهت خو به ختم شي، او د دې حکم له برکته به په لوښي کې موجود د خوراك څکاك څیز د هغه ضرر او نقصان نه وساتل شي چې د لوښي بالکل خلاصیدو په صورت کې یقیني وي، لکه د شیطان تصرف] [۱۱] او [اوده کیدو په وخت] خپل چراغونه (ډیوې) مړې کوئ. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① جِنْحُ اللَّيْلِ: د شپې تیاره، دَ شپې رومبې حصه، ② أَوْأَمْسَيْتُمْ: یا ماښام شی، ③ فَكُفُّوا: نو ایسار کړئ، منع کړئ، ④ فَخَلُّوهُمْ: نو پرېږدئ نې، ⑤ أَوْكُوا: إيكاء نه دې دَ تسمې په ذریعه تړل، ⑥ قِرَبَكُمْ: مشکیزې خپلې، ⑦ وَخَمِّرُوا: او پټوئ (لوخی)، ⑧ وَأَطْفِئُوا: او مړه کوئ، ⑨ مَصَابِيحَكُمْ: ډیوې خپلې

تسهیلات:

دنبی علیه السلام امت ته معاشرتی هدایات: رسول کریم ﷺ دنیا ته احکام شرع رسولو دَ پاره مبعوث شوې دې خودې سره سره دَ معاشرت آداب هم حبیب پاک ﷺ ښه په تفصیل سره بیان فرمائیلی دی دې دَ پاره چه دَهغوی ﷺ منونکی مسلمانان خپل ژوند په ښه طریقه اوپه آرام اوسکون سره تیر کړی شی په دې روایت کښې رسول الله ﷺ دَ اوده کیدو دَ وخت څه آداب بیان کړی دی

د مذکوره احکامو شرعی حکم: علامه قرطبی رحمه الله فرمائی چه په دې روایت کښې کوم اوامر واقع شوی دی هغه ټول ارشادی دی ایجابی نه دی نودَ دې نه په دَ زیات نه زیات استحباب او ندب ثابتیږی نه چه وجوب.

قوله: فَكُفُّوا صِبْيَانَكُمْ، فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَنْتَشِرُ حِينَئِذٍ:
د شپې په داخليدو د ماشومانو بهر نه له پريښودلو وجه: يعنې ماښام وخت کښې شيطانان او جنات خورېږي هغه وخت هغه په ماشومانو باندې اثر کولو سره نقصان رسولې شي. دغه شان څناورو ته هم نقصان رسولې شي. په دې وجه تياره خوريدو سره ماشومان او څناور بهرته دَ څه ساعت دَپاره مه پرېږدئ.
په موجوده زمانه کښې ددې مسئلې حکم: زما په خيال دا حکم د هغه زمانې سره وو چې آباديانې کمې وې نن صبا په ښارونو کښې خلق ترناوخته پورې ويخ وی او ګرځي راګرځي نو د شيطانانو د حملې کولو ويره نه وی نو که ماشومان په ښارونو کښې او د ګڼړې آبادۍ پ ځايونو کښې بهرته راوځي څه خطره به نه وی البته په باندو او کلو کښې دا حکم اوس هم برقرار دې والله اعلم بالصواب
قوله: وَأَغْلِقُوا الْأَبْوَابَ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ، فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لَا يَفْتَحُ بَابًا مُغْلَقًا:
داوده کيدو په وخت دروازه بندول. دلته دا بيان دې چې دَاوده کيدو په وخت کښې دروازه بنده کړئ. اودَ مسلم په روايت کښې واذکرواسم الله هم واقع شوې دې. يعنې دَ الله تعالى نوم هم واخلئ.
د دروازې په بندولو کښې فوائد: علامه ابن دقيق العيد وائي چه دَ رسول الله ﷺ په دې حکم کښې دنياوی او دينی دواړه مصالح دی.
① د دروازې په بندولو کښې دَ شيطان نه ځان او مال وغيره محفوظ کيږي. ځکه چه شيطان بندې دروازې نه شی کولاوولې
② اهل شروفساد هم په بندو دروازو کښې په آسانه داخليدې نشی
د شيطان په مصداق کښې دوه اقوال: ① علامه ابن مالک وائي دَ بعض علماؤ رائې داده چه دَ شيطان څخه انسی شيطان مراد دې ② څه عالمان فرمائی چه د شيطان څخه مطلقاً جنس شيطان مراد دې که انسی وی او که جنی وی
د بندولو په وخت کښې دوه اقوال: ① داحکم عام دې که شپه وی او که ورځ کله هم چه دَ کور خلق اوده کيږي يا څه په داسې کارکښې مشغول وی چه دَ کور دَ سامان نه ئې خيال بدل شی نوپه داسې موقعو باندې دې دروازه بنده کړی اودَ الله تعالى نوم واخلئ.
دَ علامه باجی رائې هم دغه ده
② امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښې ليل ملحوظ ساتلې دې ځکه چه په رواياتو کښې هم دَ ليل لفظ واقع دې خودَ مفهوم روايات نه داحکم عام دَ شپې ورځې دواړو دَپاره معلوميږي او احتياط هم په دې کښې دې

قوله: وَأَوْكُوا قِرَبَكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ:

د مشکیزې خُله بندول: یوادب دا بیان کړې شو چه دَ مشکیزې خُله بنده کړئ. بعض روایاتو کښې «وَأَوْكِئُوا السِّقَاءَ» لفظ هم وارد شوې دې كما في الترمذي

د مشکیزې خُله بندولو کښې فائده: دَ مشکیزې خُله بند ساتلو حکم نې په دې وجه اوکړو چه قعقاع بن حکیم د جابر ﷺ نه روایت کوی چه په پوره کال کښې یوه شپه داسې وی په کومه کښې چه دَ آسمان نه مصیبت نازلیږی او په کولو لوښو او مشکیزوکښې هغه بلا داخلیږی نوکه چرې خُله ئې بنده وی نو دَ دې څخه به حفاظت وی دې نه علاوه دَ زهریلا ځناور دَ داخلیدو نه به هم په حفاظت کښې وی

قوله: وَخَمِّرُوا آنِيَتَكُمْ، وَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ، وَلَوْ أَنْ تَعْرُضُوا عَلَيْهِ شَيْئًا:

دوه قسمه لوښی اودهریوه پټولو طریقه: یو ادب نې دا اوخودلو چه لوښی اولته کوئې یا لوښی پټوئې

① کوم لوښې چې خالی وی نودا دې التهٔ کړې شی

② کوم لوښې چې ډک وی نودا دې پټ کړې شی. که بل څخه نه وی نو دې سره دې یرې ډکې کیخودې شی دا هم کافي کیږی د لوښی ټول سر پټول ضروری نه دی د «وَلَوْ أَنْ تَعْرُضُوا عَلَيْهِ شَيْئًا» مطلب هم دا دې.

د لوښو د پټولو فائدې: علامه نووی ﷫ فرمائی چه دَ لوښو د پټولو کښې علماؤ ډیرې فائدې خودلې دی

① دَ شیطانانو نه حفاظت. ② دَ وبا نه صیانت.

③ دَ گندگو او پلیتو حفاظت ④ دَ حشراتو او زهریلا څیزونو څخه حفاظت

قوله: وَأَطْفِئُوا مَصَابِيحَكُمْ:

د ډیوې مړه کول: بل ادب نې دا بیان اوفرمائیلوچه کله اوده کیږئی نو ډیوه مړه کوئی

د ډیوې مړه کولو فائده: داحکم رسول الله ﷺ ځکه اوفرمائیلو چه بعضې وخت دَ اُور نه نقصان پیداکیږی پخپله ډیوه هم التهٔ کیدیشی او رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه اکثر مږې هم باتیې راکاږی او اوری ئ او په کپړو باندې ئ غورزوی

نبی علیه السلام ته د ډیوې واقعې پیښیدل: ځکه چه حضورپاک ﷺ سره داسې واقعه شوې وه چه دَ رسول الله ﷺ مصله دَ مږې باتئی رابنکلوسره په اندازه دَ درهم سوزیدلې وه حافظ ابن حجر وائی چه دا حکم هم عام دې چه کله دَ انسان یووخت په غفلت کښې وی نوهغه وخت ډیوه مړه کول پکاردی

بلبوله د ډیوې په حکم کښې: علامه قرطبی ﷫ وائی که یوسرې په کورکښې خان له اوده وی

نو هغه له پکاردی چه ډیوه دې مړه کړی یادې په داسې طریقه سره اوده شي چه د نقصان نه کیدو تسلی ئې وی دې نه پس په دې پوهه ئ چه که یوه ډله په یو کور کښې اوده کیږی نو د کور د دروازې د بندولو وغیره حکم به آخری کس ته وی. په دې زمانه کښې د ډیوو په ځائې بلبونه او راډونه دی دا هم د بندولونه پس اوده کیدل پکاردی ځکه چه په دې باندې هم د چینجووغیره د پاره چمچورکنی اکثر وختونو کښې رادانګی اوپخپله د چینجو وغیره نه هم نقصان کیدیشي

نوټ: د ګرانوټکووضاحت په حل اللغات کښې اوشو اود حدیث د مضمون پوره تشریح د حدیث نمبر (۴۲۹۵) په شرح کښې شوې ده.

۴۲۹۵ — (۱) [۱] وَفِي رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيِّ، قَالَ: " [۲] «خَمِّرُوا الْآنِيَةَ، [۳] وَأَوْكُوا الْأَسْقِيَةَ، [۴] وَأَجِيفُوا الْأَبْوَابَ، [۵] وَاكْفِتُوا صِبْيَانَكُمْ عِنْدَ الْمَسَاءِ، [۶] فَإِنَّ لِلْجِنِّ انْتِشَارًا وَخَطْفَةً، [۷] وَأَطْفِئُوا الْمَصَابِيحَ عِنْدَ الرُّقَادِ: [۸] فَإِنَّ الْفُوَيْسِقَةَ رُبَّمَا اجْتَرَّتِ الْفَتِيلَةَ [۹] فَأَحْرَقَتْ أَهْلَ الْبَيْتِ» ".

ترجمه: [۱] [اومذکوره بالا روایات خو په یو شان الفاظو کې په بخاري او مسلم کې منقول دي. لیکن مضمون په مختلفو الفاظو سره بخاري او مسلم جدا جدا هم نقل کړي دي] د بخاري په یو روایت کې داسې دي چه حضور ﷺ وفرمایل [۲] لوښې پټوئ [یعنی سرونه پرې ایږدئ] [۳] د مشکیزو خلې تړئ، [۴] دروازې بندوئ [۵] او خپل کوشنیان د خان سره ناست ساتئ. [هغه اخوا دیخوا یې مه پریږدئ] کله چې ماښام شي. [۶] ځکه چې هغه وخت جنات خلور طرف ته خوریږي. او تښتوي یې. [۷] او د اوده کیدو په وخت چراغونه مړه کوئ. [۸] ځکه اچې اکثره یا په بعضو وختونو کې داسې کیږي، چې ا مږکان باتئ راکاږي. [۹] او کور والا سوزوي

حل اللغات: ① خَمِّرُوا: پټوئ (لوخې). ② أَوْكُوا: إيکاء نه دي د تسمې په ذریعه تړل. ③ الْأَسْقِيَةَ: د سقاء جمع ده. مشکیزه. ④ أَجِيفُوا: بندوئ (دروازه). ⑤ وَاكْفِتُوا: د باب إفعال نه إکفات خپل خان سره کینول او بندول اوخان سره جوختول. ⑥ الْمَسَاءِ: ماښام. ⑦ انْتِشَارًا: خوریږی. ⑧ وَخَطْفَةً: او تختول کوی. ⑨ وَأَطْفِئُوا: مړه کوئ (ډیوه). ⑩ الْمَصَابِيحَ: ډیوه. ⑪ الرُّقَادِ: د اوده کیدو په وخت. ⑫ الْفُوَيْسِقَةَ: د فاسقه تصغیر دې مراد مږه ده. ⑬ اجْتَرَّتِ: د اجترار نه دې رابنکل. ⑭ الْفَتِيلَةَ: باتئ.

نوټ: د ګرانوټکووضاحت په حل اللغات کښې اوشو اود حدیث د مضمون پوره تشریح د حدیث نمبر (۴۲۹۴) په شرح کښې شوې ده

(۱) اخرجه البخاری فی کتاب بدء الخلق/باب: خمس من الدواب فواسق. یقتلن فی الحرم (رقم-۳۳۱۶) وابوداود فی کتاب الأشربة/باب فی إيكاء الآنية (رقم-۳۷۳۳) والترمذی فی کتاب الأدب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۲۸۵۷) واحمد فی المسند: ۳۸۸/۳

۴۲۹۵ ـ (۱) [۱] وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ، قَالَ: [۲] "«غَطُّوا الْإِنَاءَ [۳] وَأَوْكُوا السِّقَاءَ [۴] وَأَغْلِقُوا الْأَبْوَابَ [۵] وَأَطْفِئُوا السِّرَاجَ [۶] فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لَا يَحُلُّ سِقَاءً [۷] وَلَا يَفْتَحُ بَابًا [۸] وَلَا يَكْشِفُ إِنَاءً [۹] فَإِنْ لَمْ يَجِدْ أَحَدُكُمْ إِلَّا أَنْ يَعْرُضَ عَلَى إِنَائِهِ عُودًا [۱۰] وَيَذْكُرَ اسْمَ اللهِ فَلْيَفْعَلْ. [۱۱] فَإِنَّ الْفُوَيْسِقَةَ تُضْرِمُ عَلَى أَهْلِ بَيْتِهِمْ»".

ترجمه: [۱] او د مسلم په یو روایت کې داسې دي چې حضور ﷺ وفرمایل [۲] لوښي پټوئ، (سرونه پرې ایږدئ) [۳] د مشکیزو خلې بند وئ. [۴] دروازې بندوئ. [۵] ډیوې مړې کوئ. [۶] ځکه چې د الله جل جلاله نوم اخستو په وجه شیطان بند مشکیزې نه خلاصوي. [۷] او نه (بندې) دروازې خلاصوي. [۸] او نه پټ شوي (سرپوښ د) لوښي خلاصوی. [۸] که په تاسو کې چاته د پټولو د پاره څه شي ملاو نشي، او د لوښي په خله عرضاً څه لرګي ایخودلی شئ. [۱۰] د الله جل جلاله نوم اخستو سره نو داسې وکړئ. [یعنی بسم الله ویلو سره د لوښي په خله یو لرګي کیږدي، او د اوده کیدو په وخت چراغ (ډیوه) ځکه مړه کوئ. چې] [۱۱] منږك (د مږې مذکر) د ډیوې باتۍ راخکلو سره په کور والو د هغوئ کور سوزوي [یعني منږك د ډیوې باتۍ اخستو سره په یو داسې ځای کې غورځوي، چیرته چې په یو شي کې اور ونګیږي او بیا ټول کور وسوزي].

حل اللغات: ① غَطُّوا : پټوئ (لوخی). ② أَوْكُوا : ایکاء نه دي د تسمې په ذریعه تړل. ③ السِّقَاءَ: مشکیزه ④ أَطْفِئُوا : مړه کوئ (ډیوه). ⑤ السِّرَاجَ : ډیوه. ⑥ لَا يَحُلُّ : نه خلاصوی. ⑦ عُودًا ډکې، لرګي. ⑧ الْفُوَيْسِقَةَ: د فاسقه تصغیر دي مراد مږه ده. ⑨ تُضْرِمُ: د باب إفعال نه دي اور لګول

نوټ: د ګرانو ټکو وضاحت په حل اللغات کښې اوشو اود حدیث د مضمون پوره تشریح د حدیث نمبر (۴۲۹۴) په شرح کښې شوې ده.

۴۲۹۶ ـ (۲) [۱] وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ، قَالَ: [۲] "«لَا تُرْسِلُوا مَوَاشِيَكُمْ وَصِبْيَانَكُمْ إِذَا غَابَتِ الشَّمْسُ. [۳] حَتَّى تَذْهَبَ فَحْمَةُ الْعِشَاءِ، فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يُبْعَثُ إِذَا غَابَتِ الشَّمْسُ حَتَّى تَذْهَبَ فَحْمَةُ الْعِشَاءِ»"

ترجمه: [۱] اود مسلم په یو بل روایت کې داسې دي چې حضور ﷺ وفرمایل [۲] هر کله چې نمر ډوب شي. نو خپل څاروي او ماشومان د کور نه وتلو ته مه پریږدئ. [۳] تردې چې د شپې د ابتدایي حصې تیارې لاړې شي. [یعنی څه شپه تیره شي]. [۴] ځکه د نمر ډوبیدونه پس د شپې د ابتدایي حصې د تیریدو تر وخته پورې شیطان (جنات) خوریږي.

حل اللغات: ① مَوَاشِيَكُمْ: د ماشیة جمع ده، څاروی. ② فَحْمَةُ: د شپې د تیارې ابتدائی حصه. ③ يُبْعَثُ: د مجهول صیغه ده یعنی شیطانان خورولې شي یا خوریږي

(۱) اخرجه مسلم فی کتاب الأشربة/باب الأمر بتغطیة الإناء وإیکاء السقاء، وإغلاق الأبواب، وذکر اسم الله علیها، وإطفاء السراج والنار عند النوم، وکف الصبیان والمواشي بعد المغرب (رقم-۹۶ - (۲۰۱۲) واحمد فی المسند: ۳/۳۸۶

(۲) اخرجه مسلم فی کتاب الأشربة/باب الأمر بتغطیة الإناء وإیکاء السقاء، وإغلاق الأبواب، وذکر اسم الله علیها، وإطفاء السراج والنار عند النوم، وکف الصبیان والمواشي بعد المغرب (رقم-۹۸ - (۲۰۱۳) واحمد فی المسند: ۳/۳۹۵

نوټ: د ګرانوټکو وضاحت په حل اللغات کښې اوشو اود حديث د مضمون پوره تشريح د حديث نمبر (۴۲۹۴) په شرح کښې شوې ده

۴۲۹۸—(۱) [۱] وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ، قَالَ: [۲] «غَطُّوا الْإِنَاءَ، [۳] وَأَوْكُوا السِّقَاءَ; [۴] فَإِنَّ فِي السَّنَةِ لَيْلَةً يَنْزِلُ فِيهَا وَبَاءٌ [۵] لَا يَمُرُّ بِإِنَاءٍ لَيْسَ عَلَيْهِ غِطَاءٌ [۶] أَوْ سِقَاءٍ لَيْسَ عَلَيْهِ وِكَاءٌ [۷] إِلَّا نَزَلَ فِيهِ مِنْ ذَلِكَ الْوَبَاءِ».

ترجمه: [۱] او د مسلم په يو بل روايت کې داسې دي چې حضور ﷺ وفرمايل [۲] لوښې پټوئ، [يعنی سر پرې ايږدئ] [۳] د مشکيزې خله تړئ، [۴] ځکه چې په کال کې يوه شپه داسې راځی چې په هغې کې وبا نا زليږي، [۵] او کوم لوښې چې خلاص وي، [۶] يا د کومې مشکيزې خله بنده نه وي، [۷] د هغه وبا څه حصه په هغې کې داخليږي

تسهيلات:

نوټ: د ګرانوټکو وضاحت په حل اللغات کښې اوشو اود حديث د مضمون پوره تشريح د حديث نمبر (۴۲۹۴) په شرح کښې شوې ده.

[۴۲۹۹] په کوم لوښي کې چې د خوراک څکاک څه شې وي هغه د سرپوښ کولو سره ورې راوړې

۴۲۹۹—[۲] (۲) [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: [۲] «جَاءَ أَبُو حُمَيْدٍ - رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ - مِنَ النَّقِيعِ بِإِنَاءٍ مِنْ لَبَنٍ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۳] فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَلَا خَمَّرْتَهُ وَلَوْ أَنْ تَعْرُضَ عَلَيْهِ عُودًا"». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر رضي الله عنه وايي [۲] چې [يوه ورځ] ابو حميد رضي الله عنه چې يو انصاري سړې وو، د نبي کريم ﷺ په خدمت کې د مقام نقيع نه د شودو يو ډک لوښې اخستو سره راغې.
[۳] حضور ﷺ چې هغه لوښې خلاص وليدلو، نو وې فرمايل چې تا دا لوښې پټ ولې نه کړو. اګرکه دپټولو دا صورت وې چې تاپه دې لوښې عرضًا يو لرګې ايښې وې. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① النَّقِيع: مدينې منورې سره نيزدې د يوځائی نوم دې ② خَمَّرْتَهُ: دا د تخمير نه دې د پټولو په معنی کښې دې ③ عُودًا: وروکی لرګې ډکې،

نوټ: د ګرانوټکو وضاحت په حل اللغات کښې اوشو اود حديث د مضمون پوره تشريح د حديث نمبر (۴۲۹۴) په شرح کښې شوې ده

---

[1]) اخرجه مسلم فی کتاب الأشربة /باب الأمر بتغطية الإناء وإيكاء السقاء. وإغلاق الأبواب. وذكر اسم الله عليها. وإطفاء السراج والنار عند النوم. وكف الصبيان والمواشي بعد المغرب (رقم-۹۹ - (۲۰۱٤)
[2]) اخرجه البخاری فی کتاب الأشربة /باب شرب اللبن (رقم-۵۶۰۵) ومسلم فی کتاب الأشربة /باب فی شرب النبيذ وتخمير الإناء (رقم-۹۵(۲۰۱۱) وابوداود فی کتاب الأشربة /باب فی إيكاء الآنية (رقم-۳۷۳٤) واحمد فی المسند: ۳/۳۱٤

[۳۳۰۰] داوده کيدو په وخت داور مړه کول

۴۳۰۰-[۳] (۱) ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② «لَا تَتْرُكُوا النَّارَ فِي بُيُوتِكُمْ حِينَ تَنَامُونَ» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ".

ترجمه: ① او حضرت ابن عمر ﷺ د نبي کريم ﷺ نه نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمايل ② هر کله چې تاسو اوده کيږئ، نو په کورونو کې (بل) اور مه پريږدئ (بخاري ، مسلم)

تسهيلات:

قوله: لَا تَتْرُكُوا النَّارَ فِي بُيُوتِكُمْ حِينَ تَنَامُونَ:

د اورمړه کولو د حکم عموم: دَ اور نه مراد داسې اور دې په کوم سره چه دَ يوځيز دَ سوزيدو خطره وی لکه ډيوه نغرې يا لګيدلې ګيس سلينډر په کوم سره چه په زرګونو خلق مړه شوی دی. دې نه هغه اور مراد نه دې چه دَ بجلئی دبلب په صورت کښې وی يا په فانوس کښې دننه وی په کوم کښې چه خطره نه وی.

[۳۳۰۱] د خوب په وخت کښې اور مړ کول

۴۳۰۱-[۴] (۲) ① وَعَنْ أَبِي مُوسَى، قَالَ: ② «احْتَرَقَ بَيْتٌ بِالْمَدِينَةِ عَلَى أَهْلِهِ مِنَ اللَّيْلِ، ③ فَحُدِّثَ بِشَأْنِهِ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ④ "إِنَّ هَذِهِ النَّارَ إِنَّمَا هِيَ عَدُوٌّ لَكُمْ، ⑤ فَإِذَا نِمْتُمْ فَأَطْفِئُوهَا عَنْكُمْ» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ".

ترجمه: ① او حضرت ابو موسی ﷺ وايي ② چې يوه شپه داسې وشو چې په مدينه کې د يو سړي کور وسوزيدو، [او په کور والو کور راپريوتلو] . ③ په دې باره کې د نبي کريم ﷺ په مخکې ذکر وشو، نو حضور ﷺ وفرمايل ④ چې دا اور [د دی نه علاوه نور هيڅ نه دي. چې دا] ستاسو په حق کې يو دښمن دي [چې جان ومال سوزوي] ⑤ کله چې تاسو اوده کيږئ. نو دا مړ کوئ، [او د دې د ضرر نه ځان محفوظ ساتی] (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: احْتَرَقَ بَيْتٌ بِالْمَدِينَةِ عَلَى أَهْلِهِ مِنَ اللَّيْلِ:

د "على أهله" په ترکيب کښې دوه احتمالات:

① دا حال دې نو عبارت به داسې شي "أى ساقطا عليهم".

---

[1] اخرجه البخاری فی کتاب الاستئذان/باب: لا تترک النار فی البيت عند النوم (رقم-۶۲۹۳) ومسلم فی کتاب الأشربة/باب الأمر بتغطية الإناء وإيكاء السقاء. وإغلاق الأبواب. وذكر اسم الله عليها. وإطفاء السراج والنار عند النوم. وكف الصبيان والمواشی بعد المغرب (رقم-۱۰۰ - (۲۰۱۵) وابوداود فی كتاب الأدب/باب فی إطفاء النار بالليل (رقم-۵۲۴۶) والترمذی فی كتاب الأطعمة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی تخمير الإناء. وإطفاء السراج. والنار عند المنام (رقم-۱۸۱۳) وابن ماجه فی كتاب الأدب/باب إطفاء النار عند المبيت (رقم-۳۷۶۹) واحمد فی المسند: ۷۰/۲

[2] اخرجه البخاری فی كتاب الاستئذان/باب: لا تترک النار فی البيت عند النوم (رقم-۶۲۹۴) ومسلم فی كتاب الأشربة/باب الأمر بتغطية الإناء وإيكاء السقاء. وإغلاق الأبواب. وذكر اسم الله عليها. وإطفاء السراج والنار عند النوم. وكف الصبيان والمواشی بعد المغرب (رقم-۱۰۱ - (۲۰۱۶) وابن ماجه فی كتاب الأدب/باب إطفاء النار عند المبيت (رقم-۳۷۷۰) واحمد فی المسند: ۳۹۹/۴

② دا د "احترق" متعلق دې نو په دې صورت کښې به عبارت داسې شي "أي ضرره عليهم"

قوله: إِنَّ هَذِهِ النَّارَ:

د نار په مصداق کښې دوه اقوال: ① د نار څخه مراد مخصوص نار دې، د کوم د خوریدو چې ویره وی

② ددې څخه جنس نار مراد دې

قوله: إِنَّمَا هِيَ عَدُوٌّ لَكُمْ:

اور ته دشمن ویلووجه: او ددې د دښمن کیدو مطلب دا دې چه هغه زمونږ د مال وجان منافی دې اګر چه په دې کښې داسې منافع هم موجود دې کوم چه د اور نه بغیر نه حاصلیږی او اور ته دښمن وئیل دا مبالغه فی التحذیر په توګه دې چه په دې کښې فوائد هم شته مګر مخصوص اوقاتو کښې او ددې نقصانات ډیر دی نو ددې وجهې نه د اور نه ویرولی شو (مرقات)

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۴۳۰۲] د سپي او خر آواز اوریدو سره د تعوذ حکم

۴۳۰۲ - [۵] (۱) [۱] عَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] سَمِعْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [۳] «إِذَا سَمِعْتُمْ نُبَاحَ الْكِلَابِ [۴] وَنَهِيقَ الْحَمِيرِ مِنَ اللَّيْلِ [۵] فَتَعَوَّذُوا بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ، [۶] فَإِنَّهُنَّ يَرَيْنَ مَا لَا تَرَوْنَ. [۷] وَأَقِلُّوا الْخُرُوجَ إِذَا هَدَأَتِ الْأَرْجُلُ: [۸] فَإِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ يَبُثُّ مِنْ خَلْقِهِ فِي لَيْلَتِهِ مَا يَشَاءُ.

ترجمه: [۱] حضرت جابر رضی الله عنه وايي [۲] چې ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل. [۳] کله چې تاسو د سپو غپا [۴] او د خرونو آواز واورئ د شپې په وخت کې. [۵] نو د شیطان مردود نه د الله تعالی ﷻ پناه غوارئ. [۶] ځکه چې سپي او خره چې کوم څيزويني. (یعنی شیطان اود هغه ذریات) هغه تاسو نه وينئ. [۷] او هر کله چې د خلقو ګرځیدل بند شي. نو هغه وخت تاسو هم (د کورنه) کم ووځئ. [۸] ځکه چې (هغه وخت) په شپه کې چې الله عز وجل په خپل مخلوقاتو کې څوک غواړي (یعني جنات او شیاطین او موذي حیوانات وغیره) هغه خلور طرف ته خوروي

حل اللغات: ① نُبَاح: د سپي آواز. غپ غپ کول. ② نَهِيق: د خر آواز. ③ هَدَأَتِ الْأَرْجُلُ: کله چه قدم په آرام شي یعنی دخلقو تګ راتګ بند شي ④ يَبُثُّ: لیږی. خوروی.

[۱] وَأَجِيفُوا الْأَبْوَابَ، [۲] وَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهِ، [۳] فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لَا يَفْتَحُ بَابًا إِذَا أُجِيفَ [۴] وَذُكِرَ اسْمُ اللّٰهِ عَلَيْهِ. [۵] وَغَطُّوا الْجِرَارَ [۶] وَأَكْفِئُوا الْآنِيَةَ [۷] وَأَوْكُوا الْقِرَبَ». رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ".

[۱] اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأدب/باب ما جاء في الديك والبهائم (رقم-۵۱۰۳) واحمد في المسند: ۳/۳۰۶

ترجمه: [۱] او خپلې دروازې بندوئ [۲] د الله ﷻ نوم اخستو سره. [یعنی په بسم الله ویلو سره ئې بندوئ] [۳] ځکه چې کومه دروازه بندول کیږي، شیطان د هغې په کهولاوولو نه قادره کیږي، [۴] چه هغه د الله ﷻ په نوم اخستو سره بنده کړې شوې وی [۵] او هغه لوښې سرپوښ کوي [چې په هغې کې د خوراك څکاك څه وي] [۶] او په کومو لوښو کې چې هیڅ نه وي، [یعنی هغه خالي وي] هغه نسکوروئ [۷] او د مشکیزو خلې بندوئ. (شرح السنة)

حل اللغات: ⑤ أجيفُوا: بندوئ (دروازې) ⑥ غَطُّوا: پټوئ، سرپوښ ږدئ. ⑦ الجرار: کټوئ. ⑨ أكفِئوا: الټه اړولی ږدئ، ⑨ أوكُوا: ایکاء نه دې د تسمې په ذریعه تړل. ⑩ القِرَب: مشکیزه.

تسهیلات: **قوله:** **إذا سمعتم نباح الكلاب الخ:**

د سپي اوخر د شیطان سره تعلق: د سپي او خر شیطان سره نیغ په نیغه رابطه ده دوی چه کله شیطان ګوری نو د خوشحالئ نه توپونه وهي اوغاپي او هنړیږي

[۴۳۰۳] د مږې په ذریعه د اور خوریدل

۴۳۰۳—[۶] ()[۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: [۲] «جَاءَتْ فَأْرَةٌ تَجُرُّ الْفَتِيلَةَ، [۳] فَأَلْقَتْهَا بَيْنَ يَدَيْ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَلَى الْخُمْرَةِ [۴] الَّتِي كَانَ قَاعِدًا عَلَيْهَا، [۵] فَأَحْرَقَتْ مِنْهَا مِثْلَ مَوْضِعِ الدِّرْهَمِ. [۶] فَقَالَ: "إِذَا نِمْتُمْ فَأَطْفِئُوا سُرُجَكُمْ، [۷] فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَدُلُّ مِثْلَ هَذِهِ عَلَى هَذَا، [۸] فَيُحْرِقُكُمْ"» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما وايي [۲] چې [د يوې ورځې واقعه ده چه] یوې مږې د چراغ (ډیوې) بله باتۍ راخستي وه [۳] او هغه یي د رسول الله ﷺ په مخکې په هغه چیټ یي (پوزي، پوړ) وغورځوله، [۴] په کوم چې حضور ﷺ ناست وو. [۵] نو د یو درهم په قدر هغه چټائي وسوزوله. [۶] حضور ﷺ (د دې په لیدو سره) وفرمایل هر کله چې تاسو اوده کیږئ. نو چراغ (ډیوه) مړه کوئ. [۷] ځکه چې شیطان د مږې په شان موذي ځیزونه په داسې حرکت باندې اماده کوي. [۸] او [په دې صورت کې ګویا] هغه شیطان تاسو سوزوي. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① فَأْرَةٌ: مږه. ② الفَتِيلَةَ: باتۍ. ③ الخُمْرَة: پوزکې، پوړ، درۍ. ④ سُرُجَكُمْ: د سراج نه دې ډیوې ته وائي. ⑤ يَدُلُّ: اماده کوي، راضي کوي

تسهیلات: **قوله:** جَاءَتْ فَأْرَةٌ تَجُرُّ الْفَتِيلَةَ د مږې شرارت ته اوګورئ چه د نبی کریم په پوزي یعنی مصلی باندې ئی اور واچولو او اوتختیده د یودرهم برابر پوزي ئی اوسوزولو نبی کریم د دې نه پس خپل امت د حفاظتی تدابیرو نه خبر کړلو

وَهَذَا الْبَابُ خَالٍ عَنِ الْفَصْلِ الثَّالِثِ

دا باب د دریم فصل څخه خالي دي

() اخرجه ابوداود في السنن كتاب الخراج والإمارة والفيء/ باب في إقطاع الأرضين (رقم-۳۰۶۰)

[۲۲] کِتَابُ اللِّبَاسِ

دَ لباس بیان

خلاصة الباب:

فیه ثلاثة وسبعون حدیثاً مشتملة علی عشر مسائل:

① أحب الثیاب إلی رسول الله : ۱، ۲۱، ۲۹، ۶۲، ۷۳۔

② ذکر لباس النبی ﷺ وفراشه ووسادته : ۲، ۳، ۴، ۵، ۱۸، ۵۰، ۵۱، ۵۲، ۵۴، ۵۵۔

③ کیفیة لبس النبی ﷺ الثیاب وأصحابه: ۶، ۲۲، ۲۸، ۲۹، ۳۰، ۳۱، ۳۲، ۵۶، ۵۷، ۵۸، ۶۱۔

④ اللبسة الممنوعة : ۸، ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۲۴، ۲۷، ۳۹، ۵۹، ۶۰۔

⑤ اللباس والفراش الممنوعان للرجال أوالنساء: ۷، ۱۳، ۱۴، ۱۵، ۱۶، ۱۷، ۲۰، ۲۳، ۳۸،۴۴، ۴۵، ۴۶، ۴۷، ۴۸، ۴۹، ۵۳، ۶۳، ۶۶، ۶۹۔

⑥ الرخصة فی استعمال اللباس الممنوع لعذر: ۱۹۔

⑦ البدایة بالیمین فی اللبس: ۲۳۔

⑧ الدعاء بعد لبس الجدید: ۳۴، ۳۵، ۶۳، ۶۵۔

⑨ فضیلة التواضع فی الثیاب : ۳۶، ۳۷، ۴۰، ۶۷۔

⑩ الترغیب فی إظهار النعمة: ۴۱، ۴۲، ۴۳، ۷۰، ۷۱، ۷۲۔

دباب د مضامینو تعارف: په کتاب اللباس کښې هغه احادیث جمع دی په کوم کښې چه دَ جائز اوناجائز تعین کړې شوې دې دَ لباس اغوستل او کوزول دَ آداب اوکیفیاتو بیان دې دَدې په ضمن کښې د لونبوسره متعلق هم څه تذکره ده

د لباس لغوی معنی: لباس مصدر په معنی دَ ملبوس دې لکه کتاب په معنی دَ مکتوب استعمالیږی دسمع یسمع نه دې ددې اصل مصدر لُبساً دې په لام باندې پیش دې که چرې په لام باندې زبراولوستلې شی نوهغه دَالتباس اوګډوډ کیدو په معنی کښې دې

د سړو او ښځوپه مینځ کښې لباسی امتیازات: ① هرسړې او ښځه اسلام ددې پابند جوړ کړی دی چه د هغوی په لباس کښې د غیرمسلم اقوام شعارسره څه خاص مشابهت نه وی

② د سړو اوښځو دَ لباس په رنګ کښې فرق کیدل پکاردی

③ دَمسلمانانو لباس داسې کولاؤ او آسان کیدل پکاردی په کوم کښې چه دَ بدن دَ اندامونو نمانش نه وی یعنی داسې دَ پردې والا دې وی چه ددې دَ اغوستلو نه پس دَ جدا جدا اندام پته اونه لګی

④ دَ بدن اندامونه پټولوکښې دَسړو اوښځو په لباس کښې فرق دې دَ سړو لباس دې دَ

ګېټونه ښکته نه وی او د ښخودي د ګيټونه پورته نه وی

د لباس څلور درجې:

حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله په خپلو ملفوظاتو وغیره کښې د لباس يوځو درجات بيان کړی دی فرمائی د لباس څلور درجات دی

① د ضرورت درجه دې داهغه لباس دې چه دواجب په درجه کښې دې اودا هغه لباس دې چه د بدن دستر والاندامونه پټ کړی

② د آمان اوحفاظت درجه ده دا هغه لباس دې چه انسان د ګرمئ او يخنئ نه بچ کړی

③ د زيب وزينت درجه ده داهغه درجه ده په کوم سره چه زيب اوزينت حصل وی قرآن کريم کښې هم دې ته ريشاً ونيلی شوی دی

④ د نمائش درجه يعنی په کوم کښې چه تفاخراو خان خودل مقصودوی

د څلوروواړه درجو حکم: ړومبې دوه درجې خو بې دوړو او بې کلام دی د دريمې درجې لباس په توګه د تحديث نعمت مستحب دې او د خوند او خوشحالئ په توګه مباح دی او د فخر اوتکبر په توګه حرام دې او د څلورمې درجې لباس مطلقاً ناجائزدې

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۴۳۰۴] حبری کپړه د نبی کریم ﷺ خوښه کپړه وه

۴۳۰۴-[۱]( )① عَنْ أَنَسٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: ② "«كَانَ أَحَبَّ الثِّيَابِ إِلَى النَّبِيِّ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-أَنْ يَلْبَسَهَا-الْحِبَرَةُ»" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① حضرت انس رضي الله عنه وايي ② چې د نبي کريم ﷺ په ټولو کپړو کې د اغوستلو د پاره انه چې د يو بل ضرورت، لکه په بستره د اچولو يا چا ته د ورکولو وغيره د پاره ا حبری څادر د ټولو نه زيات خوښ وو (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① الْحِبَرَةُ: يعنی نقشدار څادر

تسهيلات:

قوله: أَنْ يَلْبَسَهَا-الْحِبَرَةُ:

د حبره تعارف: حبره يعنی برد يمانی يعنی څادر کوم چه د کتان يا د قطن وی. (سميت حبرة لانها محبرة ای مزينة والتحبير التزيين والتحسين) بذل، او په تحفة الاخوذی ۵ ۲ ۴۰ کښې دی چه

( ) اخرجه البخاری فی کتاب اللباس /باب البرود والحبرة والشملة (رقم ۵۸۱۳) وابوداود فی کتاب اللباس /باب فی لبس الحبرة (رقم-۴۰۶۰) ومسلم فی کتاب الأشربة /باب فضل لباس ثياب الحبرة (رقم ۳۲ (۲۰۷۹) والترمذی فی کتاب اللباس عن رسول الله صلی الله عليه وسلم /باب ما جاء فی أحب الثياب إلی رسول الله صلی الله عليه وسلم (رقم-۱۷۸۷) والنسائی فی کتاب الجهاد /باب: عدة الحامل المتوفی عنها زوجها (رقم ۳۵۱۵) واحمد فی المسند: ۳/۱۳۴

حبره د برود یمن یو قسم دې چه په هغې کښې سرې کرښې وی، او کله شنې یا اسمانی رنګ، دا د عربو په نزد اشرف الثیاب دې خکه چه دا د تار څخه جوړولې شی. او یا په دې وجه چه د شین رنګ وی کوم چه د اهل جنت جامه ده پس په یو روایت کښې دی ((کان احب الالوان الیه الخضرة، علی ما رواه الطبرانی فی الاوسط وابن السنی وابونعیم فی الطب، والتعبیر التحسین)) او بعضو وجه د محبت دا لیکلې ده چه په دې کښې سادګی ده زیات زینت نشته. او دا هم چه داسې کپړه زر خیرنیږی نه آهـ

په احادیثوکښې تعارض: راتلونکې حدیث نمبر(۳۰۲۵) کښې ام سلمه رضی الله عنها فرمائی چه نبی کریم ته په ټولو کپړوکښې قمیص زیات خوښ وو دلته دَ یمنی څادرد خوښوالی خبره ده دا په ظاهره تعارض دې

د تعارض جواب: دَ په سرکولو څادرونو قسمونوکښې یمنی څادردَ ټولو نه زیات خوښ وو او اغوستونکو څیزونوکښې دَ قمیص نوع دَټولو نه زیات محبوب وو هیڅ تعارض نشته دې

[۴۳۰۵] د نبی کریم ﷺ نقش دار څادر

۴۳۰۵–[۴] ()[۱] وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - "[۲]«أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لَبِسَ جُبَّةً رُومِيَّةً[۳] ضَيِّقَةَ الْكُمَّيْنِ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ودحضرت مغیره ابن شعبه نه روایت دې[۲] چې نبي کریم ﷺ یوه رومي جُبّه واغوسته،[۳] چې د هغې لستوني تنګ وو. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① جُبَّةً: چوغه، ② الْكُمَّيْنِ: لستونړی،

تسهیلات:

قوله: لَبِسَ جُبَّةً رُومِيَّةً ضَيِّقَةَ الْكُمَّيْنِ:

د تنګو او کولاؤ لستونړو چُغه اغوستل: په سفر کښې نبی کریم دَ تنګو لستونړو والا جبه اچولې ده اوپه حضرکښې ئې دَ کولاؤ لستونړو والا استعمال کړې ده دواړه جائز دی دَ حالاتو مطابق چه کوم مناسب وو هغه ئې اچولې دې

نوټ دلته صاحب د مظاهرحق دحدیث نمبر(۴۲۰۵) سره دَ حضرت عائشه رضی الله عنها یوحدیث په غلطئی سره نقل کړې دې هغه حدیث باب مناقب اهل البیت مشکوة صفحه ۵۶۸ باندې دې کتاب اللباس کښې نه دې اګرچه مصابیح کښې دلته ذکردې طیبی رحمه الله هم نقل کړې دې شیخ عبدالحق په دې باندې مکمل بحث کړې دی (تدبر)

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب اللباس/باب من لبس جبة ضيقة الكمين فی السفر (رقم-۵۷۹۸) ومسلم فی کتاب الطهارة/باب المسح علی الخفين (رقم-۷۷ - (۲۷٤)) والترمذی فی کتاب اللباس عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی لبس الجبة والخفين (رقم-۱۷۶۸) واحمد فی المسند: ٤/۲۵۵

[۳۳۰۶]د نبی علیه السلام د وفات په وخت دوه جامې

۳۳۰۶-[۳]() ١ وَعَنْ أَبِي بُرْدَةَ، قَالَ: ٢ «أَخْرَجَتْ إِلَيْنَا عَائِشَةُ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا- كِسَاءً مُلَبَّدًا وَإِزَارًا غَلِيظًا، ٣ فَقَالَتْ: قُبِضَ رُوحُ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي هَذَيْنِ»، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ او حضرت ابو برده رضي الله عنه وايي ٢ چې ايوه ورځ] بي بي عائشي رضي الله عنها مونږ ته د خودلو د پاره يو پيوند لګيدلي څادر او يو غټ لنګ راويستلو. ٣ او وې فرمايل کله چې د رسول الله ﷺ روح قبض شو، نو حضور ﷺ په دې دوو کپړو کې وو (بخاري . مسلم)

حل اللغات: ①كِسَاءً: څادر، ②مُلَبَّدًا: دَ تلبيد نه دې پيوند لګيدلې څادر. ③غَلِيظًا: پير، غټ.

تسهيلات:

قوله: إقُبِضَ رُوحُ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي هَذَيْنِ:

خپل امت ته دسادګۍ عملي تعليم اپير لنګ. دَدې حديث نه امت ته دا تعليم ملاويږي چه دَ دنيا دَ زيب اوزينت نه ځان ساتل دَ پاکيزه ژوندون حصه ده. سردارِ دوجهان ﷺ دَدنيانه دَ رخصت کيدو په وخت دَخپل امت مخې ته چه کومه نمونه پريخودې تلې دې امت له يکاردې چه کم نه کم دَ لباس په معامله کنبې دَ اسراف اوتبذير نه ډډه اوکړی دَترک دنيا او تقوی په بنياد باندې نبی کريم دَ ښکلې مزيدارې کپړې عادت نه دې جوړکړې سره ددې چه بعضې وخت دَ لږ ساعت دَپاره په توګه دَ تحديثِ نعمت به ئې ښکلې لباس اغوستې وی نوداسې جائز دې.

[۳۳۰۷]د نبی کریم ﷺ بستره

۳۳۰۷-[۴]() ١ وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا- قَالَتْ: ٢ «كَانَ فِرَاشُ رسول الله -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- الَّذِي يَنَامُ عَلَيْهِ ٣ أَدَمًا، حَشْوُهُ لِيفٌ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ او بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي ٢ چې د رسول الله ﷺ فرش چې په هغې به حضور ﷺ اوده کيدو. ٣ د چمړې وو، او په هغې کې د مالوچو په ځاي د کجورو پوستکي وو (بخاري مسلم)

[1]) اخرجه البخاري في كتاب فرض الخمس/باب ما ذكر من درع النبي صلى الله عليه وسلم.(رقم-٣١٠٨) ومسلم في كتاب الأشربة/باب التواضع في اللباس. والاقتصار على الغليظ منه واليسير في اللباس والفراش وغيرهما. وجواز لبس الثوب الشعر. وما فيه أعلام (رقم ٣٤ - (٢٠٨٠) والترمذي في كتاب اللباس عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في لبس الصوف (رقم-١٧٣٣) واحمد في المسند:٣٢/٦

[2]) اخرجه البخاري في كتاب الأدب/باب قول النبي صلى الله عليه وسلم: «تربت يمينك. وعقرى حلقى»ومسلم في كتاب الأشربة/باب التواضع في اللباس. والاقتصار على الغليظ منه واليسير في اللباس والفراش وغيرهما. وجواز لبس الثوب الشعر. وما فيه أعلام (رقم-٣٨ - (٢٠٨٢) (رقم-٦١٥٦) وابوداود في كتاب اللباس/باب في الفرش (رقم-٤١٤٧) وابن ماجه في كتاب الزهد/باب ضجاع آل محمد صلى الله عليه وسلم (رقم-٤١٥١) واحمد في المسند: ٢٠٧/٦

حل اللغات: ① فِرَاش: بستره، ② أَدَمًا: اديم او آدم هغه څرمن چه رنګ کړې شوې وی ③ حَشْوُهُ: په بستره کښې دننه دمالوچو په مثل اچولې شوې څيز، ④ لِيفٌ: دَ کهجورو پوستکی،

تسهيلات:

په حديثونو کښې تعارض: په شمائل ترمذی کښې دَ حضرت حفصه رضي الله عنها نه روايت دې چه دَ نبی کريم توشک دَ ټاټ وو په ظاهره په دواړو روايتونو کښې تضاد دې

دتعارض دوه جوابونه:

① دَ اوده کيدو توشک به نی دَ څرمنې وی او دکيناستو دَ کهجورو دَ پوستکو

② يوه زمانه کښې ټاټ وو په بله زمانه کښې بل قسم وو

[۴۳۰۸] د نبی کريم ﷺ تکيه (بالښت)

۴۳۰۸ــ[۵] (¹) ① وَعَنْهَا، قَالَتْ: ②«كَانَ وِسَادُ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الَّذِي يَتَّكِئُ عَلَيْهِ ③ مِنْ أَدَمٍ، حَشْوُهُ لِيفٌ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او بی بی عائشه رضي الله عنها فرمائي ② چې د رسول الله ﷺ تکيه چې په هغې به حضور ﷺ تکيه لګوله، ③ د څرمې وه، او هغه د کجوروو د پوستکو نه ډکه وه. مسلم

تسهيلات: په دې حديث سره دَ تکيه ثبوت او دَدې استعمال ثابتيږی

قوله: الَّذِي يَتَّكِئُ عَلَيْهِ:

د بالښت او تکيه استعمال: يعنی د ناستی په وخت کښې به نې په دې باندې تکيه لګوله او د اوده کيدو په وخت کښې به نې د سر لاندې ايږدله ددې رواياتو نه دا معلومه شوه چه د اوده کيدلو او د آرام دپاره بستره او تکيه جوړول مستحب دی، په دې شرط چه عيش وعشرت او اسراف په کښې نه وی. او نبی کريم ﷺ به تکيه خوښوله او د اوده کيدلو په وخت کښې به نې د سر لاندې ايږدله او د ناستی په وخت کښې به نې پرې ډډه لګوله. او نبی کريم ﷺ به فرمائيل چه څوک تاسو ته تکيه او خوشبو درکړی نو ددې د قبلولو څخه انکار مه کوئ

[۴۳۰۹] په څادر کښې سر پټول

۴۳۰۹ــ[۶] (²) ① وَعَنْهَا، قَالَتْ: ②«بَيْنَمَا نَحْنُ جُلُوسٌ فِي بَيْتِنَا فِي حَرِّ الظَّهِيرَةِ، ③ قَالَ قَائِلٌ لِأَبِي بَكْرٍ: هَذَا رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مُقْبِلًا ④ مُتَقَنِّعًا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

¹) اخرجه مسلم فی كتاب الأشربة/باب التواضع فی اللباس. والاقتصار علی الغليظ منه واليسير فی اللباس والفراش وغيرهما. وجواز لبس الثوب الشعر. وما فيه أعلام (رقم ـ ۳۷ ـ (۲۰۸۲)وابوداود فی كتاب اللباس/باب فی الفرش (رقم ـ ۴۱۴۶) والترمذی فی كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب (رقم ـ ۲۴۶۹)

²) اخرجه البخاری فی كتاب اللباس/باب التقنع (رقم ـ ۵۸۰۷) وابوداود فی كتاب اللباس/باب فی التقنع (رقم ـ ۴۰۸۳) واحمد فی المسند: ۱۹۸/۶

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي [۲] چې [د هجرت نه مخکې يوه ورځ چې] مونږ د غرمې په ګرمئ کې په خپل کور کې ناست وو. [۳] يو ويونکي حضرت ابوبکر رضي الله عنه ته اوويل چې ګوره هغه دي رسول الله صلى الله عليه وسلم تشريف راوړو. [۴] چې په څادر سره يې خپل سر مبارک پټ کړی دي (بخاري)

حل اللغات: ① مُقْبِلًا: مخامخ راروان دي، ② مُتَقَنِّعًا: دَ څادر په پلو باندې مخ پټ کړې دي.

تسهيلات:

قوله: مُقْبِلًا مُتَقَنِّعًا:

دحديث پس منظر: دا واقعه کومه چه په دې حديث کښې ذکر ده قبل الهجرة د مکې مکرمې ده، سيده عائشه صديقه رضي الله عنها فرمائی چه مونږ په خپل کور کښې عين د غرمې په وخت کښې ناست وو نو يو ويونکي راغلو او والد صاحب (ابوبکرصديق رضي الله عنه) ته نې خبر ورکړو چه رسول الله صلى الله عليه وسلم دلته تشريف راوړی په سر باندې کپړه اچولې. عائشه رضي الله عنها فرمائی چه هغه وخت د رسول الله صلى الله عليه وسلم تشريف راوړل د عادت مبارک خلاف وؤ. يعنی عين د غرمې په وخت کښې چه کله رسول الله صلى الله عليه وسلم دروازې ته راورسيدلو نو هغوی اجازت طلب کړو. په اجازت ملاويدو باندې دننه راغلل. دا اوږد حديث دې د هجرت د قصې متعلق کومه چه په بخاری کښې ذکر ده ، امام بخاری رحمه الله دا د کتاب المناقب په اخير کښې د کتاب المغازی نه مخکښې ذکر فرمائيلې ده،

دبخاری روايت: د بخاری په روايت کښې داسې دی ((فِي سَاعَةٍ لَمْ يَكُنْ يَأْتِينَا فِيهَا - فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ فِدَاءٌ لَهُ أَبِي وَأُمِّي وَاللَّهِ مَا جَاءَ بِهِ فِي هَذِهِ السَّاعَةِ إِلَّا أَمْرٌ قَالَتْ فَجَاءَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم فَاسْتَأْذَنَ فَأُذِنَ لَهُ فَدَخَلَ فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم لِأَبِي بَكْرٍ أَخْرِجْ مَنْ عِنْدَكَ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ إِنَّمَا هُمْ أَهْلُكَ بِأَبِي أَنْتَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ فَإِنِّي قَدْ أُذِنَ لِي فِي الْخُرُوجِ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ الصَّحَابَةُ بِأَبِي أَنْتَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: نَعَمْ قَالَ أَبُو بَكْرٍ فَخُذْ بِأَبِي أَنْتَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِحْدَى رَاحِلَتَيَّ هَاتَيْنِ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: بِالثَّمَنِ الحديث))

يعنی کله چه صديق اکبر رضي الله عنه ته اونيلې شو چه رسول الله صلى الله عليه وسلم تشريف راوړی نو وې فرمائيل چه په تاسو دې زما مور او پلار قربان وی قسم په الله چه تاسو لره د دې وخت د معمول خلاف يو لوئې څيز راوستلې يئ، دننه د تشريف راوړلو نه پس رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چه غير متعلق کسان د دې خانې نه لرې کړه، هغوی عرض اوکړو چه يا رسول الله صلى الله عليه وسلم په تاسو باندې دې زما مور او پلار قربان وی دلته خو ټول ستاسو د کور خلق دی څوک هم پردی نشته. رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل (ښه زه دا وايم) چه ماته د مکې مکرمې نه د خروج اجازت کړې شوې دې په دې باندې هغوی عرض اوکړو يا رسول الله صلى الله عليه وسلم زما مور او پلار دې په تاسو قربان وی ما هم ځان سره کړئ، رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل بالکل ضرور بيا هغوی عرض اوکړو يا رسول الله صلى الله عليه وسلم زما مور پلار دې په تاسو قربان وی زما په دې دوه سورلو

کښې يو تاسو واخلئ. په دې باندې رسول اللهﷺ او فرمائیل صحیح ده خو په قیمت (يعني هسې نه) ددې نه پس په بخاری کښې په اوږد حدیث کښې د هجرت پوره واقعه ذکر ده.

په مخ پټولو کښې دوه احتمالات: ① یعنی نبی کریم د څادر په پلو باندې مخ پټ کړې راروان دې نبی کریم د نمر د ګرمئ نه مخ پټ کړې وو چه نن صبا د سعودی د اوسیدونکو دپاره د رومال او د عقال د استعمال زبردست دلیل دې.

② نبی کریم د دښمن نه مخ پټولو دپاره داسې اوکړه کوم چه د مجاهدینو دپاره دلیل دې

[۳۳۰] په کور کښې د بسترو ساتلو حکم

۴۳۳۰—[۷] (١) ١ وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- ٢ «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ لَهُ: ٣ "فِرَاشٌ لِلرَّجُلِ، وَفِرَاشٌ لِامْرَأَتِهِ، ٤ وَالثَّالِثُ لِلضَّيْفِ، وَالرَّابِعُ لِلشَّيْطَانِ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ او د حضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دې ٢ چې رسول اللهﷺ هغه ته وفرمایل ٣ یو فرش د سړي د پاره، دویم فرش د هغه د ښځې د پاره، او دریم فرش د میلمه د پاره او څلورم فرش د شیطان د پاره وي. (مسلم)

تسهیلات:

قوله: فِرَاشٌ لِلرَّجُلِ، وَفِرَاشٌ لِامْرَأَتِهِ، وَالثَّالِثُ لِلضَّيْفِ، وَالرَّابِعُ لِلشَّيْطَانِ.

په کور کښې د بسترو تعداد: یعنی رسول اللهﷺ او فرمائیل چه درې بسترې په کور کښې کیدل کافي دي يو د خان دپاره او يو د ښځې دپاره، او يو د میلمه دپاره، د دې نه مراد جنس فراش دې. یعنی د میلمنو د ضرورت دپاره اوس چه هر څومره ضرورت وی د هغې اعتبار به کولې شي. او څلورمه د شیطان دپاره، یعنی کومه چه د ضرورت نه زیاتې وی، چه دا د دنیا د سازوسامان تکثیر دې کوم چه د شیطان د طرف نه دې.

[۳۳۱] د تکبر په وجه د پرتوګ د ګیټو څخه لاندې ساتلو وعید

۴۳۳۱—[۸] (٢) ١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ٢ "«لَا يَنْظُرُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَى مَنْ ٣ جَرَّ إِزَارَهُ بَطَرًا» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ او د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چې رسول اللهﷺ وفرمایل ٢ الله

---

(١) اخرجه مسلم فى كتاب الأشربة/باب كراهة ما زاد على الحاجة من الفراش واللباس (رقم-٤١ - (٢٠٨٤) وابوداود فى كتاب اللباس/باب فى الفرش (رقم-٤١٤٢) والنسائى فى كتاب الجهاد/باب الفرش (رقم-٣٣٨٥) واحمد فى المسند: ٢٩٣/٣

(٢) اخرجه البخارى فى كتاب اللباس/باب من جر ثوبه من الخيلاء (رقم-٥٧٨٨) كتاب الأشربة/باب تحريم جر الثوب خيلاء، وبيان حد ما يجوز إرخاؤه إليه وما يستحب (رقم-٤٨ - (٢٠٨٧) وابن ماجه فى كتاب اللباس، باب من جر ثوبه من الخيلاء (رقم-٣٥٧١) ومالك فى الموطا كتاب اللباس/باب ما جاء فى إسبال الرجل ثوبه (رقم-١٠) واحمد فى المسند: ٤٧٩/٢

تعالى ﷻ به د قيامت په ورځ هغه سړي ته [د رحمت په نظر] ونه ګوري، ③ چې د غرور او تکبر دوجې خپل پرتوګ (لنګ وغيره) د پنړکو نه لاندې زوړندوي. (بخاري ومسلم)

حل اللغات: ① جَرَّ: راښکل، بَطَرًا: غرور، تکبر

تسهيلات:

قوله: لَا يَنْظُرُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَى الخ:

د عدم نظر په توجيه کښې درې اقوال: ① د "نظر" نه مراد رحمت دې چه الله تعالى هغه ته د رحمت په نظر نه ګوري،

② دا حديث په هغه کس باندې محمول دې کوم چه د تکبر په وجه خپل څادر او پړدول حلال ګڼړي، ③ دا حديث په زجر او توبيخ باندې محمول دې

قوله: مَنْ جَرَّ إِزَارَهُ بَطَرًا:

د بطر په مصداق کښې دوه اقوال: ① ددې څخه تکبر مراد دې

② ددې څخه د غنا په وجه پيدا کيدونکې طغيان او خوشحالي مراد ده

د پرتوګ لاندې ساتلو حکم: پرتوګ او لنګ د ګيټو نه لاندې ساتل حرام دي او کوم کس چه د غرور او تکبر په وجه دا لاندې ساتي نودا په درجهٔ اولى سره حرام دې

[۳۳۳] د تکبر په وجه د جامو په زمکه د راښکلو حرمت

۴۳۳۳—[۹] (¹) ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا-أَنَّ النَّبِيَّ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-قَالَ: ② «مَنْ جَرَّ ثَوْبَهُ خُيَلَاءَ ③ لَمْ يَنْظُرِ اللهُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابن عمر ﷺ د نبي کريم ﷺ نه روايت کوي چې حضور ﷺ وفرمايل ② کوم سړي چې د غرور او تکبر په طور د خپل [بدن] کپړې په زمکه راخکلو سره ګرځي ③ د قيامت په ورځ به الله تعالى ﷻ هغه ته [د رحمت په نظر] ونه ګوري (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① خُيَلَاءَ: غرور، تکبر

تسهيلات:

قوله: مَنْ جَرَّ ثَوْبَهُ خُيَلَاءَ لَمْ يَنْظُرِ اللهُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ:

د خيلاء قيد اتفاقي کيدل: په حديث کښې د "خيلاء" قيد اتفاقي دې احترازى نه دې

¹) اخرجه البخاري في كتاب اللباس/باب من جر إزاره من غير خيلاء (رقم-٥٧٨٤) ومسلم في كتاب الأشربة/باب تحريم جر الثوب خيلاء، وبيان حد ما يجوز إرخاؤه إليه وما يستحب (رقم-٤٤ - (٢٠٨٥) وابوداود في كتاب اللباس/باب من كرهه (رقم-٤٠٥٠) والنسائي في كتاب الزينة/باب التغليظ في جر الإزار (رقم-٥٣٢٨) وابن ماجه في كتاب اللباس، باب من جر ثوبه من الخيلاء (رقم-٣٥٦٩) ومالک في الموطا كتاب اللباس/باب ما جاء في إسبال الرجل ثوبه (رقم-١١) واحمد في المسند: ١٠٠/٢

مجبوري اوشرعي عذر جدا خيز دي. په حقيقت كښې پرتوګ ښكته كول اوددَ دي وضع او دَدي كيفيت اجازت اسلام نه وركوي. دَدې قيد مطلب دانه دې چه يوسړې دې پرتوګ زوړندوی اووائی دې چه زه نې دَ تكبر دَ وجهې كوم هغوی ته واضح كيدل پكاردي چه پرتوګ ښكته زوړندول پخپله تكبر او غرور دې. دَ صحابه كرامو په پوره جماعت كښې صرف صديق اكبر رضي الله عنه ته رخصت وركړې شوې دې باقي چاته هيڅ اجازت نه دې وركړې شوې

استثنائي صورت: دَتكبر په توګه كه داسې كوی. كه په غلطئ سره لاندې لاړشي او زر نې اوچت كړی غرور اوتكبر نه وی نوخيردې

[۴۳۳] دَ تكبر په وجه دَ لنګ راښكلو دَ نياوی سزا

۴۳۳-[۱۰] (۱)[۱] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] " «بَيْنَمَا رَجُلٌ يَجُرُّ إِزَارَهُ مِنَ الْخُيَلَاءِ [۳] خُسِفَ بِهِ، [۴] فَهُوَ يَتَجَلْجَلُ فِي الْأَرْضِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عمر رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل[۲] پخوا په يو وخت كښې يو سړي دَ غرور او تكبر په طور خپل لنګ (يا پرتوګ) په زمكه راخكلو سره روان وو. [۳] نو هغه په زمكه كې غرق كړل شو. [۴] هغه به اوس تر قيامته پورې په زمكه كې : غرقيدو سره خي (بخاري)

حل اللغات: ①خُسِفَ: غرق كړې شويه زمكه كښې. ②يَتَجَلْجَلُ: كنده په كنده به غرقيدو سره روان وی

تسهيلات:

قوله: فَهُوَ يَتَجَلْجَلُ فِي الْأَرْضِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ:

دَ مذكوره جملې په مفهوم كښې دوه اقوال: ① جلجلة آواز سره حركت ته وائی يعنی دَ يوې كندې نه بلې ته حركت كولوسره خي

② په زمكه كښې ورښښيږی خي "أي يخسف فيها ويسوخ فيها أبداً" داسې دَ قارون نه علاوه پخوانو امتونوكښې څوك سړې تيرشوې دي

[۴۳۴] دَ ګيټو څخه لاندې دَ لنګ ساتلومما نعت

۴۳۴-[۱۱] (۲)[۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] " «مَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ مِنَ الْإِزَارِ [۳] فِي النَّارِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] دَ پرتوګ (وغيره) كومه حصه چې دَ پنړكو نه خكته وي. [۳] هغه به په دوزخ كې اچول كيږي (بخاري)

---

(۱) اخرجه البخاري فى كتاب احاديث الأنبياء/باب حديث الغار (رقم-۳۴۸۵) والنسائى فى كتاب الزينة/باب التغليظ فى جر الإزار(رقم-۵۳۲۶) واحمد فى المسند: ۲/۶۶

(۲) اخرجه البخاري فى كتاب اللباس/باب ما أسفل من الكعبين فهو فى النار (رقم-۵۷۸۷)

تسهیلات:

قوله: مَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ مِنَ الْإِزَارِ فِي النَّارِ

دګیټو څخه لاندې په اور کښې د کیدو مطلب: یعنی کوم لنګ پرتوګ یا پاجامه څومره چه دَ ګیټونه ښکته خی هم دومره حصه دَخپې به دوزخ ته خی دَدې مطلب دانه دې چه سړې به بهر وی اودَ خپې څه حصه به ئې دوزخ ته خی بلکه دَدې قسم عبارت دامطلب وی چه داسړې به دوزخ ته خی داسې سړی ته مسبل ازار هم وائی دَچبارہ کښې چه سخت وعیدونه دی.

[۳۳۱۵] دجامو اغوستلو بعضې ممنوع صورتونه

۴۳۱۵-[۱۲] ( )[۱] وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲]«نَهَى رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنْ يَأْكُلَ الرَّجُلُ بِشِمَالِهِ،[۳] أَوْ يَمْشِيَ فِي نَعْلٍ وَاحِدَةٍ،[۴] وَأَنْ يَشْتَمِلَ الصَّمَّاءَ،[۵] أَوْ يَحْتَبِيَ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ[۶] كَاشِفًا عَنْ فَرْجِهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر رضی الله عنه وایي [۲] چې رسول الله ﷺ د دې نه منع فرمیلې ده. چې یو سړی په چپ لاس سره خوري،[۳] یا په یوه پښه کې څپلۍ اچولو سره ګرځي.[۴] او دا چې کپړه په بدن داسې راچاپیره کړي، چې دواړه لاسونه په کپړه کې دننه راشي.[۵] یا په بدن یوه کپړه چاپیره کولو سره داسې په کوناتو کیني،[۶] چې د هغه ستر خلاص [ښکاره] وي مسلم

حل اللغات: ① نَعْلٍ: څپلۍ، پیزار، ② يَشْتَمِلَ الصَّمَّاءَ: په بدن کپړه داسې راچاپیره کړي. چې دواړه لاسونه په کپړه کې دننه راشي، ③ يَحْتَبِيَ: خان نه لاسونه راتاوولو سره کیناستو ته احتباء وائی

تسهیلات:

قوله: أَوْ يَمْشِيَ فِي نَعْلٍ وَاحِدَةٍ

په یوه څپلۍ کښې د ګرځیدو ممانعت: یعنی په یوه خپه کښې څپلئی ده بله کښې نشته دې داسې تګ کول منع دی څکه چه په دې کښې دَتګ توازن هم خرابیږی اوسړې بد رنګه هم ښکاری یادې دواړه څپلئی وی یا دې خپې ابله خپې وی

قوله: وَأَنْ يَشْتَمِلَ الصَّمَّاءَ

داشتمال الصماء د ممانعت دوه وجوهات: ① که دَ جهاد ماحول اودَ دښمن خطره وی نوترکومې چه په څادر کښې انغښتلې شوې سړې بهر راوځی دښمن به هغه راګیرکړې او وژلې وی اودَ بچاؤ به هیڅ صورت نه وی په دې وجه دَاشتمال الصماء ممانعت راغلې دې.
② اشتمال الصماء والاسړې په معمولی حرکت کولوسره راغورزیږی اوچه کله راپریوځی

---

[۱] اخرجه مسلم فی کتاب الأشربة /باب اشتمال الصماء والاحتباء فی ثوب واحد (رقم-۷۰ - (۲۰۹۹))

نو غونډسكى جوړيدوسره به پوره راپريوځى په كوم كښې چه دَ پوزې وغيره ماتيدو خطره ده.

قوله: أَوْ يَحْتَبِيَ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ كَاشِفًا عَنْ فَرْجِهِ:

د احتباء دوه صورتونه: ① د دې يو صورت دا دې چه سړې داسې په كوناتو باندې كينى مګرځه كپړه دَملا پندو نه چاپيره اوتړى په دې صورت كښې دَ بدن ښكته حصه او سترښكاره وى په دې وجه دامنع كړې شو او كه ښكته په بدن باندې څه بل كپړه وى نوبيادَ احتباء اجازت دې لكه چه په جلسو اومحفلونوكښې بعضې حضرات دَ آرام په غرض څادر زاتاوهى كينى او تقرير اورى.

② ددې دويم صورت دا وى چه مثلاً يوسړې مقعدپه زمكه باندې كيږدى پنډئى اودروى اودواړه لاسونه دَزنګونونونه لړشان ښكته دَدې نه چاپيره اوتړى اوكينى نودا صورت ډير قبيح اوحرام دې ځكه چه په دې كښې پوره بدن بربنډوى اوپه دې كښې بالكل ستر عورت نشته دې.

[۳۳۴] دريښمو جامواغستونكى باندې آخرت كښې ددې حرمت

٤٣٤٠-٤٣١٧، ٤٣١٨، ٤٣١٩ — [۱۳] ([1]) [۱] وَعَنْ عُمَرَ وَأَنَسٍ وَابْنِ الزُّبَيْرِ، وَأَبِي أُمَامَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ - أَجْمَعِينَ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] "«مَنْ لَبِسَ الْحَرِيرَ فِي الدُّنْيَا، [۳] لَمْ يَلْبَسْهُ فِي الْآخِرَةِ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت عمر رضي الله عنه، حضرت انس رضي الله عنه، حضرت ابن زبير رضي الله عنه او حضرت ابو امامه رضي الله عنه (دا څلور صحابه كرام رضي الله عنهم) د نبي كريم صلى الله عليه وسلم نه نقل كوي چې حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل [۲] كوم سړي چې په دنيا كې (غير مشروع) ريښم واغوستل، [۳] هغه به په آخرت كې ريښم وانه غوندي (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: لَمْ يَلْبَسْهُ فِي الْآخِرَةِ:

د سړو دپاره د ريښمو د اغوستلو حكم: دَسړودپاره دَ ريښموكپړا استعمالول جائز نه دى دَ ښځودپاره جائز ده البته دَ څلورو ګوتو په اندازه پټئى دَ كپړو په غاړه وغيره كښې سړى

[1]) اخرجه البخارى فى كتاب اللباس/باب لبس الحرير وافتراشه للرجال، وقدر ما يجوز منه (رقم-٥٨٣٢)و كتاب اللباس/باب لبس الحرير وافتراشه للرجال. وقدر ما يجوز منه (رقم-٥٨٣٣) و كتاب اللباس/باب لبس الحرير وافتراشه للرجال، وقدر ما يجوز منه (رقم-٥٨٣٤) ومسلم فى كتاب الأشربة/باب تحريم استعمال إناء الذهب والفضة على الرجال والنساء. وخاتم الذهب والحرير على الرجل. وإباحته للنساء. وإباحة العلم ونحوه للرجل ما لم يزد على أربع أصابع (رقم-٢١ - (٢٠٧٣) و كتاب الأشربة/باب تحريم استعمال إناء الذهب والفضة على الرجال والنساء. وخاتم الذهب والحرير على الرجل. وإباحته للنساء. وإباحة العلم ونحوه للرجل ما لم يزد على أربع أصابع (رقم-١١ - (٢٠٦٩) كتاب الأشربة/باب تحريم استعمال إناء الذهب والفضة على الرجال والنساء. وخاتم الذهب والحرير على الرجل. وإباحته للنساء. وإباحة العلم ونحوه للرجل ما لم يزد على أربع أصابع (رقم-٢٢ - (٢٠٧٤)

هم استعمالولې شي. زير بحث حديث كښې دی چه كوم سړی په دنيا كښې ريښم استعمالوی په آخرت كښې به هغه ته نه ملاويږی.

اشكال: ريښم خو په جنت كښې ملاويږی نو آيا داسړې كافرشو چه جنت ته به كله هم نه ځی اودَ ريښمونه به محروم پاتې وی؟

داشكال څلور جوابونه: ① داحديث په تغليظ، تشديد اوزجراوتوبيخ باندې محمول دې.

② د دې حديث مصداق هغه سړې دې ددې دَ حرمت منكر نې نه وی اواغوندی ئې نودَهغه دَپاره به په جنت كښې دخول اولی سره ريښم حاصل نه وی بلكه اول به په دوزخ كښې سزا خوری بيا به جنت ته راځی اوريښم به استعمالوی

③ د دې حديث مصداق هغه سړې دې دَ ريښمودَ حرمت عقيده نه لری بلكه دا حرام حلال گنړی نو هغه به كافرشی او محروم به پاتې شی جنت ته به نه ځی

④ داسړې به سره دَدې چه جنت كښې داخل شی ليكن دَ سزا په توگه به دې دَ ريښمو نه محروم پاتې وی. دَ ده په زړه كښې به دَ ريښمو غوښتنه نه وی كله چه غوښتنه نه وی نومطالبه به څنگه وی نو ده ته به ريښم نه شی وركولې.

[٤٣٢٠] سړودپاره دريښمو داستعمال حرمت

٤٣٢٠ـــ [١٤] ()[١] ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②" «إِنَّمَا يَلْبَسُ الْحَرِيرَ فِي الدُّنْيَا ③ مَنْ لَا خَلَاقَ لَهُ فِي الْآخِرَةِ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابن عمر رضی الله عنهما وايي چی رسول الله ﷺ وفرمايل ② په دي كي هيڅ شك نشته چي په دنيا كی هغه سړي ريښمينه كپړه اغوندي، ③ چه د هغه د پاره به په آخرت كي څه حصه نه وي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① خَلَاقَ: حصه اونصيب ته خلاق ونيلي شوې دي.

تسهيلات:

نوټ: ددې حديث تشريح د حديث نمبر (۴۳۱۶) په تشريح كښې تيره شوې ده

[١] اخرجه البخارى فى كتاب اللباس/باب لبس الحرير وافتراشه للرجال. وقدر ما يجوز منه (رقم-٥٨٣٥)ومسلم فى كتاب الأشربة/باب تحريم استعمال إناء الذهب والفضة على الرجال والنساء، وخاتم الذهب والحرير على الرجل. وإباحته للنساء. وإباحة العلم ونحوه للرجل ما لم يزد على أربع أصابع (رقم-٧ - (٢٠٦٨) وابوداود فى كتاب الصلاة،باب اللبس للجمعة (رقم-١٠٧٦)

[۴۳۳۱] د سرو او سپينو زرو په لوښو كښې د څكاك كولو مما نعت

۴۳۳۱—[۱۵] (١) ① وَعَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: ② " «نَهَانَا رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنْ نَشْرَبَ فِي آنِيَةِ الْفِضَّةِ وَالذَّهَبِ ③ وَأَنْ نَأْكُلَ فِيهَا، ④ وَعَنْ لُبْسِ الْحَرِيرِ وَالدِّيبَاجِ، ⑤ وَأَنْ نَجْلِسَ عَلَيْهِ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت حذيفه رضي الله عنه وايي ② چې رسول الله ﷺ مونږ د دې نه منع كړي يو چې مونږ د سرو او سپينو زرو په لوښو كې وڅښو ③ او وخورو، ④ او حضور ﷺ د حرير او ديباج (يو قسم ريښمي كپړه) د اغوستلو نه ⑤ او په هغې د ناستې نه منع كړى يو (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① الدِّيبَاج: دَ ريښمو يو قسم دې، پيړو ريښم

تسهيلات:

قوله: وَأَنْ نَجْلِسَ عَلَيْهِ:

د ريښمو په څادر د كيناستو په حكم كښې مذهبين: دَ ريښمو لباس دَ سرو دَپاره دَ ټولو فقهاؤ په نيز حرام دي خو كه دَ ريښمو څادروغيره لاندې خوركړې شي نو په دې كښې اختلاف دې

① صاحبين فرمائى چه په دې باندې كيناستل هم هغه شان حرام دى لكه څنګه چه اغوستل حرام دى.

② امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائى چه كيناستل حرام نه دى بلكه مكروه دى اوداحديث په كراهت باندې محمول دې.

فائده: فتاوى قاضي خان كښې ليكلى دى لكه څنګه چه دَ ريښمو استعمال دَ سرو دَپاره حرام دې دغه شان دَ ورو هلكانودَپاره هم ناجائز دى او وراغوستونكى به ګناهګاران وى.

[۴۳۳۲] د ښځو دپاره د ريښمو د اغوستلو جواز

۴۳۳۲—[۱۶] (٢) ① وَعَنْ عَلِيٍّ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: ② " «أُهْدِيَتْ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُلَّةٌ سِيَرَاءُ ③ فَبَعَثَ بِهَا إِلَيَّ فَلَبِسْتُهَا، ④ فَعَرَفْتُ الْغَضَبَ فِي وَجْهِهِ، ⑤ فَقَالَ: إِنِّي لَمْ أَبْعَثْ بِهَا إِلَيْكَ لِتَلْبَسَهَا، ⑥ إِنَّمَا بَعَثْتُ بِهَا إِلَيْكَ لِتُشَقِّقَهَا خُمُرًا بَيْنَ النِّسَاءِ» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

(١) اخرجه البخارى فى كتاب اللباس/باب افتراش الحرير (رقم-٥٨٣٧) ومسلم فى كتاب الأشربة/باب تحريم استعمال إناء الذهب والفضة على الرجال والنساء. وخاتم الذهب والحرير على الرجل. وإباحته للنساء. وإباحة العلم ونحوه للرجل ما لم يزد على أربع أصابع (رقم-(رقم-٤ - (٢٠٦٧)وابوداود فى كتاب الأشربة/باب فى الساقى متى يشرب (رقم-٣٧٢٧) والترمذى فى كتاب الأشربة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى كراهية الشرب فى آنية الذهب والفضة (رقم-١٨٧٨) وابن ماجه فى كتاب الأشربة/باب الشرب فى آنية الفضة (رقم-٣٤١٤) واحمد فى المسند: ٣٩٧/٥

(٢) اخرجه البخارى فى كتاب الهبة وفضلها والتحريض عليها/باب هدية ما يكره لبسها (رقم-٢٦١٤) ومسلم فى كتاب الأشربة/باب تحريم استعمال إناء الذهب والفضة على الرجال والنساء. وخاتم الذهب والحرير على الرجل. وإباحته للنساء. وإباحة العلم ونحوه للرجل ما لم يزد على أربع أصابع (رقم-١٧ - (٢٠٧١) والنسائى فى كتاب الزينة/باب ذكر الرخصة للنساء فى لبس السيراء (رقم-٥٢٩٨) وابن ماجه فى كتاب اللباس. باب لبس الحرير والذهب للنساء (رقم-٣٥٩٦)

ترجمه: [۱] او حضرت علي (رض) فرمايي [۲] چې [يو ځل] د نبي كريم ﷺ په خدمت كې يو كرښيزه (ليكه داره) ريښمي جوړه (چې په لنګ او څادر مشتمله وه) په طور د هديې پيش كړې شوه.[۳] نو حضور ﷺ هغه ماته راوليږله. او ما هغه واغوستله.[۴] ليكن ما وليدل چې هغه جوړه زما په بدن ليدو سره د حضور ﷺ په مخ مبارك د غصې آثار پيدا شوي دي.[۵] نو حضور ﷺ وفرمايل ما دا جوړه تاته د دې د پاره نه وه درليږلې چې ته يې واغونده، [۶] بلكې دې د پاره مې درليږلې وه چې ته دا شلولو سره پړوني خنې جوړ كړه. او هغه پړوني په ښځو كې تقسيم كړې (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① حُلَّةً: ريښمي جوړه، ② سِيَرَاءَ: سره ريښم ③ تُشَقِّقْهَا: چه ته ني اوشلوې. ④ خُمُراً: د خمار جمع ده څادر ، لوپټه

تسهيلات:

قوله: حُلَّةٌ سِيَرَاءَ فَبَعَثَ بِهَا إِلَيَّ فَلَبِسْتُهَا:

د ريښمو جامو په اغوستلو باندې د نبي عليه السلام ناراضګي: په سين باندې كسره او ياء باندې زبر دې او په راء باندې هم زبر دې دې نه پس په الف باندې مد دې سرو ريښموته وائي هم دغه وجه ده چه په دې باندې د ديباج او سندس اطلاق هم كړې شوې دې

[۳۳۳] د څلورګوتو په اندازه د ريښمو د استعمال جواز

۳۳۳-[۱۷] ( ) [۱] وَعَنْ عُمَرَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- نَهَى عَنْ لُبْسِ الْحَرِيرِ [۳] إِلَّا هَكَذَا، وَرَفَعَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِصْبَعَيْنِ: [۴] الْوُسْطَى وَالسَّبَّابَةَ وَضَمَّهُمَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او د حضرت عمر رضي الله عنه نه روايت دې [۲] چې نبي كريم ﷺ ريښمني كپړې د اغوستلو نه منع فرمايلې ده.[۳] علاوه د دوو ګوتو د مقدار برابر نه. او حضور ﷺ دا ممانعت بيانولو سره د مذكوره مقدار د ظاهرولو د پاره دوه ګوتې اوچتې كړې [۴] خپله درميانه ګوته او د شهادت ګوته . او دواړه يې يو ځاي كړې. ايعنى حضور ﷺ هغه دواړه ګوتې يو ځاي كولو سره وخودل چې دومره قدر. يعنى د دوو ګوتو په قدر ريښمينه كپړه كه په لباس كې وي. نو مباح دي(. (بخاري مسلم)

) اخرجه البخاري في كتاب اللباس /باب لبس الحرير وافتراشه للرجال. وقدر ما يجوز منه (رقم-۵۸۲۹) ومسلم في كتاب الأشربة /باب تحريم استعمال إناء الذهب والفضة على الرجال والنساء. وخاتم الذهب والحرير على الرجل. وإباحته للنساء. وإباحة العلم ونحوه للرجل ما لم يزد على أربع أصابع (رقم-۱۲ - (۲۰۶۹)

٣٣٣٣ — (١) [١] وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: [٢] أَنَّهُ خَطَبَ بِالْجَابِيَةِ، فَقَالَ: [٣] «نَهَى رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ لُبْسِ الْحَرِيرِ [٤] إِلَّا مَوْضِعَ إِصْبَعَيْنِ أَوْ ثَلَاثٍ أَوْ أَرْبَعٍ».

توجمه: [١] او د مسلم رحمه الله په يو روايت كې دي [٢] چې حضرت عمر رضي الله عنه [د ملك شام په يو ښار] جابيه كې د خپلې خطبې په دوران كې دا وفرمايل [٣] چې رسول الله ﷺ د ريښمنې كپړې د اغوستلو نه منع فرمايلې ده، [٤] علاوه په قدر د دوو يا دريو يا څلورو ګوتو نه

تسهيلات:

قوله: نَهَى عَنْ لُبْسِ الْحَرِيرِ إِلَّا هٰكَذَا:

سرو دپاره د څلورو ګوتو په اندازه د ريښمو د استعمال جواز: دَ سرو دَپاره دَ ريښمو دَجواز شروع: دوو ګوتو په اندازه سره اوشوه او څلور ګوتې دَدې انتهاء ده دې نه زيات حرام دی داخبره ذهن کښې ساتل پکاردی چه دَ څلورو ګوتو په اندازه دَ ريښمو استعمال دَ نورو کپړو په ضمن کښې جائز دی مستقلاً نه دی.

قوله: أَنَّهُ خَطَبَ بِالْجَابِيَةِ

د جابيه محل وقوع: دَ شام دَ يوښار نوم دې. دَ بيت المقدس دَ فتح په موقع باندې حضرت عمر رضي الله عنه شام ته تشريف اوړلې وو. هلته جابيه کښې هغوی خطبه ورکړه

[٣٣٢٥] د نبی کريم ﷺ طيلسانی جبّه

٣٣٣٥ — [١٨] (١) [١] «وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: [٢] أَنَّهَا أَخْرَجَتْ جُبَّةَ طَيَالِسَةٍ كِسْرَوَانِيَّةً [٣] لَهَا لِبْنَةُ دِيبَاجٍ، [٤] وَفَرْجَيْهَا مَكْفُوفَيْنِ بِالدِّيبَاجِ، [٥] وَقَالَتْ: هَذِهِ جُبَّةُ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَتْ عِنْدَ عَائِشَةَ [٦] فَلَمَّا قُبِضَتْ قَبَضْتُهَا، [٧] وَكَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَلْبَسُهَا، [٨] فَنَحْنُ نَغْسِلُهَا لِلْمَرْضَى نَسْتَشْفِي بِهَا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

توجمه: [١] او د بي بي اسماء بنت ابي بكر رضي الله عنها نه روايت دې [٢] چې هغې د طيلسن كسرواني اد يو خاص قسم تور څادر چې د ورېښمو نه جوړېږي] جبه راويستله. [٣] د هغې څه پټی د نرو ريښمو وو [٤] او د هغې ګريوان کښې دواړو طرفونو ته د ريښمني کپړې ټکړه ګنډل شوې وه. [٥] بيا هغې وفرمايل چې دا د رسول الله ﷺ جبه ده. چې بي بي عائشې

---

١) اخرجه مسلم في كتاب الأشربة /باب تحريم استعمال إناء الذهب والفضة على الرجال والنساء. وخاتم الذهب والحرير على الرجل. وإباحته للنساء. وإباحة العلم ونحوه للرجل ما لم يزد على أربع أصابع (رقم -١٥ - (٢٠٦٩) وابوداود في كتاب اللباس /باب ما جاء في لبس الحرير (رقم ٤٠٤٢)

٢) اخرجه مسلم في كتاب الأشربة /باب تحريم استعمال إناء الذهب والفضة على الرجال والنساء. وخاتم الذهب والحرير على الرجل. وإباحته للنساء. وإباحة العلم ونحوه للرجل ما لم يزد على أربع أصابع (رقم-١٠ - (٢٠٦٩) وابوداود في السنن كتاب الأشربة /باب في الساقي متى يشرب (رقم-٣٧٢٥) وابوداود في كتاب اللباس /باب ما جاء في لبس الحرير (رقم-٤٠٤٢)

ﷺ سره وه.[٦] هر كله چې هغه وفات شوه. انو د بي بي عائشي ﷺ په ميراث كې چې زما خور وه.] زما په قبضه كې راغله.[٧] رسول الله ﷺ به كله كله هغه جبه اغوستله.[٨] مونږ هغه د بيمارانو د پاره وينځو ايعنى د هغې و وينځل شوى اوبه په بيمارانو څښو] چې د هغې په ذريعه شفاء حاصلوو (مسلم)

حل اللغات: ①جُبَّةً: چوغه. ②طَيَالِسَةٍ: دَ طيلسان جمع ده يوقسم تور رنګ څادر. ③كِسْرَوَانِيَّةٍ: د فارس بادشاه كسرى طرف ته منسوب چوغه. ④لِبْنَةُ: د ريښمو ټكړه پټئ چه په جيب باندې د ښانسته والى دپاره لګولې شوه ⑤دِيبَاجٍ: ريښم. ⑥فُرْجَيْهَا: ګريوان. د چوغې مخې ته شليدلې خانې. ⑦مَكْفُوفَيْنِ: ګنډلې شوې وه. ⑧نَغْسِلُهَا: مونږبه وينځله.

تسهيلات: قوله: أَنَّهَا أَخْرَجَتْ جُبَّةً طَيَالِسَةٍ

د طيالسة لغوى تحقيق: طيلسان په اصل كښې تالسان وو عجمى لفظ وو په عربى كښې طيلسان شو طيلسان به دَ توررنګ يوڅادر وو چه دَ وړنى نه به جوړوو دَنبى كريم جبه مباركه هم دَ دغه څادر نه جوړه شوې وه په دې وجه دَدې طرف ته نسبت اوكړې شو دَدې كلام نه مقصود داخودل دى چه جبة صوف سوداء يعنى دَ وړنى نه جوړه شوې توره جبه وه طيلسان دَدې تعبيردې

قوله: كِسْرَوَانِيَّةٍ

كسرى ته د نسبت وجه: دَ فارس بادشاه ته به ئى كسرىٰ وئيل داجبه چونكه دَهغه دَ شهرت دَ وجهې مشهوره شوې وه په دې وجه به دَهغه طرف ته منسوب كيدله يعنى دكسرى ستائل چغه وه لكه چه وائى جناح كيپ لياقت كيپ كسروانى جبه

قوله: وَفُرْجَيْهَا

د فرجيها څخه مراد: فاء باندې ضمه ده اوفتحه هم استعماليږى اى شقيها، دَ جبه وړاندې سينې طرف ته كولاؤوالې او شليدلې وى دې ته ګريوان وائى بعضې ملكونو كښې روستو شا طرف ته هم يوشليدلې خانى وى چه دَ شا ګريوان وى په دې حديث كښې دَ فرجيهانه مراد هم دغه دوه شليدلې خايونه دى

قوله: مَكْفُوفَيْنِ:

د مكفوفين په اعراب كښې دوه اقوال: شيخ عبدالحق رحمه الله په اشعة اللمعات كښې ليكى چه كفة دَيوڅيزغاړې ته وائى

①كه په كفة كښې كاف باندې پيش وى نودادَ مستطيل اوږد اوپلن څيزدَپاره راځى لكه ګريوان وغيره

② كه چرې كفة كښې كاف باندې زيروى نو مدور او ګول څيزدَپاره استعماليږى لكه چه دتلې چابړى ته كفة وائى

دحدیث مطلب: دَ دې حدیث مطلب داشو چه دَدې جبه په دواړو ګریوانونوباندې دَ سنجاف دیباج بوټې ټك وهلې شوې وولکه څنګه چه نن صبا په کپړوباندې بوټې وغیره کیږي. [اشعة اللمعات: ۳/۵۷۷]

قوله: فَنَحْنُ نَغْسِلُهَا لِلْمَرْضٰى نَسْتَشْفِي بِهَا:

دتبرک بالآثار الصالحین ثبوت: حضرت اسماء بنت ابی بکر رضی الله عنهما ته دا جبه دَحضرت عائشه رضی الله عنها دَ طرف نه حاصله شوې وه فرمائي چه نبی کریم به دا اغوستله اومونږ به دَ برکت په توګه دَبیمارانو دَ شفادَپاره وینځله اودَدې اوبه به مو په هغوی څکلې په دې سره تبرک بآثار الصالحین ثابتیږي مګر شرط دادې چه دَ دواړو طرفونه خلق صالحان وی دې دَپاره چه عقیده ئې خرابه نه شي.

[۴۳۳۳] دعذرپه وجه دریښمو داستعمال جواز

۴۳۳۳–[۱۹] ()[۱] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «رَخَّصَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لِلزُّبَيْرِ وَعَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ فِي لُبْسِ الْحَرِيرِ [۳] لِحِكَّةٍ بِهِمَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [۴] وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ قَالَ: «إِنَّهُمَا شَكَوَا الْقَمْلَ [۵] فَرَخَّصَ لَهُمَا فِي قُمُصِ الْحَرِيرِ».

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضی الله عنه وایي [۲] چې رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت زبیر رضی الله عنه او حضرت عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه ته د ریښمیني کپړي د اغوستلو اجازت ورکړي وو، [۳] څکه چې هغوی ته خارښ لګیدلي وو، دا خارښ د سپږو کیدو په وجه وو، څرنګه چې د وړاندې روایت نه معلومه شي (بخاري مسلم) [۴] او د مسلم رحمه الله په یوه روایت کې داسې دي چې حضرت انس رضی الله عنه بیان وکړو چې دي دواړو، یعنی حضرت زبیر رضی الله عنه او حضرت عبدالرحمن رضی الله عنه د سپږو د کیدو شکایت وکړو [۵] نو حضور صلی الله علیه وسلم هغوئ ته د ریښمني کپړي د اغوستلو اجازت ورکړو.

حل اللغات: ① حِكَّةٍ: خارښ. ② اَلْقَمْلَ: سپږه.

تسهیلات:

قوله: فِي لُبْسِ الْحَرِيرِ لِحِكَّةٍ بِهِمَا:

د خارښ په وجه د ریښمو دا ستعمال جواز: خارښ ته واني دَ ریښمو استعمال شرعی ضرورت اوعذر دَ وجهې جائز دی چنانچه دَ بدن دَخارښ دَ پاره یا په میدان جهاد کښې دَ توري دَ

() اخرجه البخاری فی کتاب اللباس/باب ما یرخص للرجال من الحریر للحکة (رقم-۵۸۳۹) ومسلم فی کتاب الأشربة/باب إباحة لبس الحریر للرجل إذا کان به حکة أو نحوها (رقم-۲۵ - (۲۰۷۶) وابوداود فی کتاب اللباس/باب فی لبس الحریر لعذر (رقم-۴۰۵۶) والترمذی فی کتاب اللباس عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الرخصة فی لبس الحریر فی الحرب (رقم-۱۷۲۲) والنسائی فی کتاب الزینة/باب الرخصة فی لبس الحریر (رقم-۵۳۱۰) وابن ماجه فی کتاب إقامة الصلاة،باب من نام عن الوتر أو نسیه (رقم-۱۱۸۸) واحمد فی المسند: ۱۲۲/۳

گذار نه د بچ کیدو دپاره یا د سپړو دختمولودپاره ددې استعمال د ضرورت په اندازه جائز دی ربنیم د اصل په اعتبارسره ګرم اومفرح دی په دې وجه د خارښ او سپړو خاتمه کیږي.

[۴۳۲۷]د رنګ شوو جامو د اغوستلو ممانعت

۴۳۲۷-[۲۰] ()[۱]«وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - قَالَ: [۲]رَأَى رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَلَيَّ ثَوْبَيْنِ مُعَصْفَرَيْنِ. [۳] فَقَالَ: "إِنَّ هَذِهِ مِنْ ثِيَابِ الْكُفَّارِ، فَلَا تَلْبَسْهُمَا" [۴]. وَفِي رِوَايَةٍ: قُلْتُ: أَغْسِلُهُمَا؟ قَالَ: "بَلْ أَحْرِقْهُمَا"». رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: [۱] او حضرت عبدالله ابن عمرو ﷺ ابن عاص وايي[۲] چې رسول الله ﷺ زه په سور رنګ شوي دوو کپړو کې وليدم،[۳] نو وي فرمايل چې دا د کافرانو لباس دي (چې نه هغوی د حرام او حلال تميز کوي، اونه د ښځي او سړي د لباس فرق کوي) نو ته دا مه اغونده،[۴] او په يو بل روايت کې داسې دي چې ما عرض وکړ آيا زه دا ووينځم؟ حضور ﷺ وفرمايل چې نه، بلکه وي سوزه. (مسلم)

حل اللغات: ① مُعَصْفَرَيْنِ: په کسم رنګ شوې، يو قسم سور رنګ چه د وونو بوټو نه حاصليږي.

تسهيلات:

قوله: رَأَى رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَلَيَّ ثَوْبَيْنِ مُعَصْفَرَيْنِ:

د سړو دپاره د سور رنګ جامو استعمال: کسم د يوسور رنګ نوم دې چه د يوبوټی نه حاصليږي د سړودپاره منع دې. احناف دا اودغه شان د سور رنګ کپړه د سړو دپاره مکروه تحريمي ګرځوي سره ددې چه د فقهاؤ نور اقوال هم دی.

قوله: بَلْ أَحْرِقْهُمَا:

د حرق څخه مراد: دې نه مراد ضائع کول او ختمول دی چاته ئی هبه کړه يائی خرڅ کړه يائی په څه طريقې سره ضائع کړه که هيڅ هم نه وی نو ونې سوزوه مګرخپل خان سره ئی مه ايږده.

[۱] وَسَنَذْكُرُ حَدِيثَ عَائِشَةَ: خَرَجَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ذَاتَ غَدَاةٍ فِي "بَابِ مَنَاقِبِ أَهْلِ بَيْتِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ترجمه: [۱] او د بي بي عائشي ﷺ دا روايت چه خرج النبي ﷺ ذات غداة الخ به انشاء الله مونږ د مناقب اهل بيت نبوي ﷺ په باب کې نقل کړو

قوله: وَسَنَذْكُرُ حَدِيثَ عَائِشَةَ الخ

ددې عبارت نه په واضحه توګه سره معلومه شوه چه صاحب مشکوة داحديث نه دې ذکر کړې خو په مظاهرحق کنبې شته مصابيح کنبې هم شته

---

[۱]) اخرجه مسلم فی کتاب الأشربة/باب النهی عن لبس الرجل الثوب المعصفر (رقم-۲۷) (۲۰۷۷) والنسائی فی کتاب الزينة/باب ذکر النهی عن لبس المعصفر (رقم-۵۳۱۶) واحمد فی المسند: ۱۶۲/۲

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۴۳۲۸] د قميص فضيلت

۴۳۲۸ — [۲۱] (۱) [۱] عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا - قَالَتْ: [۲] «كَانَ أَحَبَّ الثِّيَابِ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الْقَمِيصَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او بي بي ام سلمه رضي الله عنها فرمايي [۲] چې د رسول الله ﷺ په ټولو كپړو كې قميص د ټولو نه زيات خوښ وو (ترمذي ابوداؤد)

تسهيلات: **قوله:** اَلْقَمِيصَ:

څادر هروخت دَ اوړو نه راپريوځي. بل دَ مقابلې يا دكار په وخت دا سنبالول ډير مشكل وي. په دې وجه قميص افضل اوغوره ګرځولې شوې دې. په كوم كښې چه بې شميره فائدې او سهولتونه دي.

دعربو موجوده لباس: عرب خلق چه نن صبا كوم لباس استعمالوی هغه يوقيدخانه ده. دَدوی په اوږد توپ كښې نه سړې منډه وهلې شي نه په اوچت خانې ورختلې شى نه راكوزيدلې شى. نو په دې كښې دَ دښمن مقابله څنګه كيدې شى. (دغه شان مولانا فضل محمد صاحب فرمائيلى دى)

د پيښورد خلقو د لباس تعريف: دَ حرم شريف امام عبدالله بن سبيل محترم يوځل په درس كښې اوفرمائيل دَ دنيا په لباسونوكښې دَ ټولو نه دَ سهولت والالباس دَ پيښور دَخلقو دې پرتوګ قميص په هرلحاظ سره آرام ده اوښائسته لباس دې.

حقيقت دادې چه قميص بدن سره بدن جوړيږي اوسړې آزاد وی بل دا متواضع لباس هم دې سپك هم دې اوكم خرچ بالانشين هم دې.

[۴۳۲۹] د نبی كريم ﷺ د قميص دلستونو اوږد والې

۴۳۲۹ — [۲۲] (۲) [۱] وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا - قَالَتْ: [۲] «كَانَ كُمُّ قَمِيصِ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِلَى الرُّصْغِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، [۳] وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] او بي بي اسماء بنت يزيد رضي الله عنها وايي [۲] چې د رسول الله ﷺ د قميص لستوني تر مروندونو پورې وو (ترمذي. ابوداؤد) [۳] او ترمذي رحمه الله ويلي دي چې دا حديث حسن غريب دي

حل اللغات: ① كُمٌّ: لستوني. ② الرُّصْغ: مروندونه

(۱) اخرجه ابوداود فى السنن رقم الحديث ۴۰۲۵. والترمذى فى السنن رقم الحديث ۱۷۶۲

(۲) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأشربة/باب فى الساقى متى يشرب (رقم-۳۷۲۵) والترمذى فى كتاب اللباس عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى القمص (رقم-۱۷۶۵)

تسهیلات:

قوله: كَانَ كُمُّ قَمِيصِ رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِلَى الرُّسْغِ:

د قمیص د لستونړو اوږدوالی: دَ لاس دَ مړوند غوټو او پنجې ته رضع وائی کله به دَ ګوتو پورې هم اوږدوالي وو معلومه شوه چه مسنون قمیص هغه دي دکوم لستونړی چه دَ ګوتونه مخکښې نه وی اولمن دَ ګیټو پورې لاندې نه وی

[۴۳۳۰] د ښي طرفه د جامو اغستل

۴۳۳۰-[۲۳] ( )[۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِذَا لَبِسَ قَمِيصًا [۳] بَدَأَ بِمَيَامِنِهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وايي [۲] چې رسول الله ﷺ چې به قمیص اغوستو. [۳] نو د ښي طرف نه به يې اغوستل شروع کول. (ترمذي)

حل لغات: ① بِمَيَامِنِهِ: دَ میمنة جمع ده ښی طرف.

تسهیلات:

نوټ: د حدیث د ترجمې څخه مفهوم ښکاره دي.

[۴۳۳۱] لنګ او پرتوګ د پنډو د نیمې پورې ساتل

۴۳۳۱-[۲۴] ( )[۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: " «إِزْرَةُ الْمُؤْمِنِ إِلَى أَنْصَافِ سَاقَيْهِ، [۳] لَا جُنَاحَ عَلَيْهِ فِيمَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْكَعْبَيْنِ، [۴] مَا أَسْفَلَ مِنْ ذَلِكَ فَفِي النَّارِ [۵] " قَالَ ذَلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ " [۶] وَلَا يَنْظُرُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَى [۷] مَنْ جَرَّ إِزَارَهُ بَطَرًا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوسعید خدري رضی الله عنه وايي [۲] چې ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل چې د یو مؤمن د لنګ او پرتوګ د ټولو نه بهتر صورت خو دا دي چې هغه تر نیمو پنډو وي، [۳] او د نیمو پنډونه تر پنړکو پورې (په مینځ کې کیدو پورې) هم څه حرج نشته، [۴] لیکن د بجلکي (پړکوا) لاندې چې کومه حصه زوړنده وي، هغه به يې د دوزخ اورته بوځي، [۵] حضرت ابوسعید خدري رضی الله عنه وايي چه حضور ﷺ دا الفاظ دري ځلي وفرمایل. [۶] بیا یې

( ) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب اللباس/باب فی الانتعال (رقم - ٤١٤١) والترمذی فی کتاب اللباس عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی القمص (رقم-١٧٦٦) وابن ماجه فی کتاب الطهارة وسننها/باب التیمن فی الوضوء (رقم-٤٠٢)

( ) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب اللباس/باب فی قدر موضع الازار (رقم-٤٠٩٣) وابن ماجه فی کتاب اللباس . باب موضع الإزار أین هو (رقم-٣٥٧٣) ومالک فی الموطا کتاب اللباس/باب ما جاء فی إسبال الرجل ثوبه (رقم-١٢) واحمد فی المسند: ٩٧/٣

وفرمایل الله تعالی به د قیامت په ورځ هغه سړي ته [د رحمت په نظر] ونه ګوري، [۷] کوم چې د غرور او تکبر نه خپل لنګ او پرتوګ د پنړکو نه لاندې زوړندوی (ابوداود، ترمذي)

حل اللغات: ① إِزْرَةُ: داد إزار جمع ده تهبند ته وائی ② جَرَّ: چه راکاږی، ③ بَطَرًا: غرور، تکبر

تسهیلات:

قوله: إِزْرَةُ الْمُؤْمِنِ إِلَى أَنْصَافِ سَاقَيْهِ:

د پرتوګ ښکته ساتلو درې درجې: ① ازار د نصف پنډئی پورې افضل دې

② د ګیټو پورې جائز دې

③ د ګیټونه ښکته ناجائز دې.

د اسبال عموم: د دې حديث نه د اسبال عموم معلومیږی چه په لباس کښې د شرعی حد نه زیاتوالي د کوم نوم چه اسبال دې داصرف په پاجامه کښې نه دې لنګئی پاجامه د قمیص لمن د قمیص لستوړی د دې لمن پټکې اوخادر تولو کښې اسبال کیږی

نوټ: د حديث د باقی حصوتفصیل د حديث نمبر (۴۳۱۱) په تشریح کښې ذکرشوې دې

[۴۳۳۲] د لنګ، قمیص او پټکی د اوږد ساتلو ممانعت

۴۳۳۲ ـ[۲۵] ([۱]) [۱] وَعَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: " [۲] «الْإِسْبَالُ فِي الْإِزَارِ وَالْقَمِيصِ وَالْعِمَامَةِ، [۳] مَنْ جَرَّ مِنْهَا شَيْئًا خُيَلَاءَ [۴] لَمْ يَنْظُرِ اللَّهُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او حضرت سالم د خپل پلار (یعني حضرت عبدالله ابن عمر رضی الله عنهما) نه او هغه د نبي کریم ﷺ نه روایت کوي چې حضور ﷺ وفرمایل [۲] اسبال یعنی خوړندول په ازار، قمیص او په پټکی کې دي، [۳] کوم سړي چې د دې (کپړو) نه خوړندولو سره د غرور او تکبر نه کشوي [راکاږي]، [۴] نو د قیامت په ورځ به الله جل جلاله د هغه طرف ته [د کرم په نظر] ونه ګوري (أبو داود، والنسائي، وابن ماجة)

حل اللغات: ① الْإِسْبَالُ: رازوړندول، ② خُيَلَاءَ: غرور، تکبر

تسهیلات: قوله: قَالَ الْإِسْبَالُ فِي الْإِزَارِ:

د اسبال درې صورتونه: د إسبال ازار اصل معنی خوړندول او پټول ده او د دې مختلف صورتونه بیان کړې شوي دي نو د بعضو نه جواز معلومیږی او د بعضو نه عدم جواز معلومیږی

① کوم کس قصداً د تکبر دپاره خپل ازار د ګیټو نه لاندې ساتی نو دا حرام دی.

[۱]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب اللباس/باب ما جاء فی إسبال الإزار (رقم-۴۰۸۵) والنسائی فی کتاب الزينة/باب إسبال الإزار (رقم-۵۳۳۴) وابن ماجه فی کتاب اللباس، باب طول القمیص کم هو (رقم-۳۵۷۶)

② بغیر د قصد او ارادي نه که ازار لاندي شي نو په دي هیڅ گناه نشته
③ کوم کس قصداً خپل ازار د گیټو نه لاندي کوي او د تکبر اراده ئي هم نه وي نو د دې په حکم کښې اختلاف دې

په دريم صورت کښې ۲ مذاهب:

① دا صورت مکروه تحریمی دې یعنی ناجائز دې او د ابن حجر رحمه الله په فتح الباری کښې رجحان هم دې طرف ته دې

② دا صورت مکروه تنزیهی دې او په احنافو کښې د ابن الملک او د ملا علی قاری هم دا رائي ده.

داول فریق اول دلیل: ① ډیر احادیث دي کوم کښې چه د "من الخیلاء" قید مذکور دې او دا حضرات دا قید واقعی منی او دا قید ددې فعل مزید شناعت بیانولو دپاره دې لکه څنگه چه په قرآن کښې ذکر دی "ولاتکرهوافتیاتکم علی البغاءإن أردن تحصنا" چه ستاسو وینزې د پاک دامنی اراده وکړي نو تاسو ئي په بدکارۍ باندې مه مجبور کوئ، نو دلته "إن أردن تحصنا" قید واقعی دې. احترازی نه دې او مقصد ئي دا دې چه خپلو وینځو باندې په زبردستی جرم کول هم دوه چنده جرم دې، ځکه چه بدکاری فی نفسه یو جرم دې او زبردستي کول بل جرم دې

داول فریق د اول دلیل جواب: دا حدیث د غیر ارادی طور باندې محمول دې. د قصد، ارادې او د تکبر دي سره هیڅ تعلق نشته.

داول فریق دویم دلیل: ② د مشکاة په حدیث نمبر (۴۳۳۱) کښې داسې الفاظ دی "ما اسفل من الکعبین من الإزار فی النار" نو په دې حدیث کښې د خیلاء،تکبر وغیره قید مذکور نه دې

داول فریق د دویم دلیل جواب: د فقهی اصول دې چه کله دوه احکامو کښې یو مطلق وي او دویم مقید نو مطلق به په مقید باندې محمول کولی شي، یعنی مطلق کښې به د هغه قید لحاظ ساتلی شي کوم چه په مقید کښې وی

د دویم فریق دلیل: دا حضرات د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د واقعی نه استدلال کوي چه احادیثو کښې راځي چه حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه نبی کریم ﷺ ته عرض وکړو چه ای د الله رسول! زما لنگ هر وخت بی خیاله د گیټو نه ښکته کیږی مگر دا چه زه دا هر وخت ددې خیال اوساتم او دا برا اوساتم. او ظاهره ده چه دا خو ډیره مشکله ده نو نبی کریم ﷺ وفرمائیل "انك لست ممن یصنعه خیلاء" چه ته د هغه خلقونه نه ئي کوم چه د تکبر د وجهې لنگونه ښکته ساتی.

نو ددې نه دا معلومه شوه چه ممنوع هغه وخت کښې دې کله چه د تکبر د وجهې وی او که د تکبر د وجهې نه نه وی نو بیا ناجائز او ممنوع نه دې زیات نه زیات په کراهت تنزیهی باندې محمول دې او عادت جوړول ئي بلکل غلط دي.

قوله: وَالْعِمَامَةِ:

د پټکی د اوږد ساتلو حرمت: د پټکی شمله به د ملا نیمی حصې پورې وی ددې نه زیات مقدار ممنوع دې او د قمیص لمنه هم د ضرورت نه زیاته ښکته ساتل ممنوع دی د بعضی قومونو چوغه یا جبه د ګیټو نه ښکته وي نو دا هم حرام او ممنوع دي

[۴۳۳۳] د صحابه کرامو ټوپئ ګانې

۴۳۳۳—[۲۶] (۱) [۱] «وَعَنْ أَبِي كَبْشَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] كَانَ كِمَامُ أَصْحَابِ رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بُطْحًا». [۳] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ مُنْكَرٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوکبشه رضی الله عنه وایي [۲] چې د رسول الله ﷺ د صحابه و رضی الله عنهم خولیانې (ټوپئ) داسې وې چې هغه به د سرونو سره لګیدلي وې. [۳] ترمذي رحمه الله دا روایت نقل کړي دي او ویلي يې دي چې دا حدیث منکر دی.

حل اللغات: ① کِمَامٌ: دا د کُمَّةٌ جمع ده ګول قسم ټوپئ چه د پټکی لاندې به استعمالیدله ② بُطْحًا: ددې مفرد بطحاء دې هوارې کانړیزې زمکه، سر سره اینختې ټوپئ ترې مراد دی

تسهیلات:

قوله: كَانَ كِمَامُ أَصْحَابِ رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بُطْحًا

د حدیث په مفهوم کښې دوه اقوال: ① صحابه کرامو چه به کومې ټوپئ استعمالولې هغه به ګول او په سرونو باندې اینختې وې تنګې او اوچتې به نه وې لکه چه ترکی ایرانی او مصری ټوپئ وی

② کمام جمع د کم لستونړی مراد اخستې دی او بطح نه ئی ارتوالې مراد اخستې دې مطلب دا چه د صحابه کرامو لستونړی به ارت وو رومبې مفهوم زیات واضح دې صحابه کرامو زیات تر پټکی استعمال کړی دی بغیر د ټوپئ نه ئی کم استعمال کړی دی

[۴۳۳۴] د ښځو د پاره د پړتوګ وغیره لر اوږد ساتل

۴۳۳۴—[۲۷] (۲) [۱] وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا- [۲] «قَالَتْ لِرَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- حِينَ ذَكَرَ الْإِزَارَ: [۳] فَالْمَرْأَةُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ؟ [۴] قَالَ: "تُرْخِي شِبْرًا" [۵] فَقَالَتْ: إِذًا تَنْكَشِفُ عَنْهَا. [۶] قَالَ: "فَذِرَاعًا لَا تَزِيدُ عَلَيْهِ"» رَوَاهُ مَالِكٌ، وَأَبُودَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

---

(۱) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب اللباس عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب کیف کان کمام الصحابة؟ (رقم-۱۷۸۲)

(۲) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب اللباس /باب فی قدر الذیل (رقم-٤١١٧) والترمذی فی کتاب الأطعمة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب ما جاء فی حب النبی صلی الله علیه وسلم الحلواء والعسل (رقم-۱۸۳۱) والنسائی فی کتاب الزینة /باب ذیول النساء (رقم-۵۳۳۶) وابن ماجه فی کتاب اللباس . باب ذیل المرأة کم یکون (رقم-۳۵۸۰) ومالک فی الموطا کتاب اللباس /باب ما جاء فی إسبال المرأة ثوبها (رقم-۱۳) واحمد فی المسند: ۳۰۹/۶

ترجمه: [۱] او د بي بي ام سلمه رضي الله عنها نه روايت دي [۲] كوم وخت چې حضور ﷺ د ازار (لنګ او پرتوګ) حكم بيانولو (چې د دې خوړندول ممنوع دي)، نو هغې عرض وكړو [۳] چې يا رسول الله! ﷺ او د ښځې باره كې څه حكم دي؟ [يعنى كه هغه خپل ازار لاندې نه ساتي، نو د هغې پوره ستر نه پټيږي!] [۴] حضور ﷺ وفرمايل چې ښځه خپل لنګ يا پرتوګ د خپلو نيم پنډو [يا د بعضو د قول مطابق د خپلو پنړكو نه] يو لويشت لاندې خوړندولې شي. [۵] بي بي ام سلمه رضي الله عنها عرض وكړو په دې صورت كې به هم خلاص وي، [يعنى هغې مثلاً د هغه پنډې زياتې اوږدې وى او د هغه خپلو نيمو پنډيو نه يوه لويشت نور لاندې پورې خپل پرتوګ زوړند كړى، بيا هم د هغې د ستر د خلاصيديو احتمال به وي!] [۶] حضور ﷺ وفرمايل [كه په دى صورت هم د هغې ستر خلاصيدى شى نو] هغه دې يو ګز نور لاندې زوړند كړى [د ګز نه شرعي ګز يعنى يو لاس مراد دي او مطلب دا دي چې په دې صورت كې هغه خپل پرتوګ وغيره دومره لاندې خوړندولې شي، چې هغه زمكې ته ورسيږي، چې د هغه پښې پټې وي، او هغه د يوې لويشت په قدر زيات وي، يا د يو ذراع يعنى يو لاس چې تقريباً د نيم ګز په قدر دى، د دې نه پس حضور ﷺ د حد نه زيات خوړندولو ممانعت تاكيداً بيانولو د پاره دا وفرمايل چې يوه ښځه دې] د يو ګز نه زيات لاندې نه زوړندوى. (مالك، ابو داؤد، نسائي، ابن ماجه)

حل اللغات: ① تُرْخِي: زوړندولې شي. ② شِبْرًا: يوه لويشت.

۴۳۳۵ — () [۱] وَفِي رِوَايَةِ التِّرْمِذِيِّ، وَالنَّسَائِيِّ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - [۲] «فَقَالَتْ: إِذًا تَنْكَشِفُ أَقْدَامُهُنَّ، [۳] قَالَ: "فَيُرْخِينَ ذِرَاعًا لَا يَزِدْنَ عَلَيْهِ"».

ترجمه: [۱] او د ترمذي او نسائي په يو روايت كې دى چې حضرت ابن عمر رضي الله عنهما نه منقول دي داسې دي چې [۲] بي بي ام سلمه رضي الله عنها دا اوويل چې په دې صورت كې به د هغوئ پښې ښكاره وي، [۳] نو حضور ﷺ وفرمايل چې هغوى دې د يو لاس برابر نور لاندې زوړند كړى، اليكن د دې نه دى زيات نه زوړندوى!

حل اللغات: ① فَيُرْخِينَ: نو رازوړند دې كړى. ② ذِرَاعًا: د يو لاس برابر، يو ګز

تسهيلات:

قوله: "فَذِرَاعًا لَا تَزِيدُ عَلَيْهِ:

د ښځو د پاره اوږده جامه اغوستل: دې حديث نه معلومه شوه چه دَ ښځو لباس دَ سړو په نسبت زيات ډهيلا اوږد پلن كيدل پكاردى. خودَ نن صبا ښځو لره فاسق معاشرې تانيثې اونيم

(۱) اخرجه ابوداود في السنن كتاب اللباس/باب في قدر الذيل (رقم-۴۱۱۹) والترمذي في كتاب الأطعمة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في حب النبي صلى الله عليه وسلم الحلواء والعسل (رقم-۱۸۳۱) والنسائي في كتاب الزينة/باب ذيول النساء (رقم-۵۳۳۶)

بربنډ لباس اغوستلوسره دهغوی عظمت تار تار کړې دې نبي کريم حضرت ام سلمه ﷺ ته د ښخود لنګ باره کښي اوفرمائيل چه دومره اوږد وی چه د ښځې قدم اوخپه ښکاره نه شي. ددې نه زيات په زمکه باندې راښکل منع دی.

آزادی مارچ: ننن صبا په مغربی دنیآ کښې د ښځو د آزادۍ نعره لګيدلې ده. زمونږ د پاکستان بعضې خويندې هم د هغې څخه متاثره شوی دی.اود ښځو آزادی نې دا ګنړلې ده چې دا د کور څخه بهر راوځی او د سرو سره اوږه په اوږه کارونه کوی.اود بورقې وغيره د پابندۍ څخه آزاده وی.دا هم زمونږ مسلمانې خويندې دی د دوی د اصلاح کوشش پکار دې دوی د اسلامی تعليماتو څخه خبرول پکار دی.څکه چې هسې هم د مغربی تهذيب څخه متاثره دی که د دوی د غلطو حرکتونو په سختۍ سره تنقيد اوشی کيدې شی نورې هم په خپله ګمراهۍ کښې وربوختې شی.دا زما ذاتی رايه ده کيدې شی څوک ماسره په دې نرمۍ کښې موافق نه وی.اوهغوی ته سختی ښه ښکاريږی بهرحال که سختی وی اوکه نرمی چې نتيجه ئې ښه وی نوهغه طريقه دې اختيار کړې شی

[۴۳۳۶] د نبی کريم ﷺ په قميص کښې د ګريوان محل

۴۳۳۶-[۲۸] (¹)[۱] وَعَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ قُرَّةَ، عَنْ أَبِيهِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «أَتَيْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي رَهْطٍ مِنْ مُزَيْنَةَ، [۳] فَبَايَعُوهُ [۴] وَإِنَّهُ لَمُطْلَقُ الْأَزْرَارِ، [۵] فَأَدْخَلْتُ يَدِي فِي جَيْبِ قَمِيصِهِ، فَمَسِسْتُ الْخَاتَمَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت معاويه بن قره د خپل پلار نه نقل کوي چې هغه اوويل [۲] چه [يوه ورځ] زه د مزينه قوم د يو جماعت سره (چې اسلام قبلولو ته راغلي وو) د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر شوم. [۳] د هغه جماعت خلقو د حضور ﷺ سره په اسلام بيعت وکړو [۴] هغه وخت حضور ﷺ د خپل قميص تنې خلاصې کړې ناست وو، [۵] ما [موقع غنيمت وګڼله، او د حصولِ سعادت او د برکت د پاره] خپل لاس مې د حضور ﷺ د قميص په ګريوان کې دننه کولو سره په مهر نبوت مې لاس راتير کړو. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① رَهْطٍ: جماعت، ډله. ② مُزَيْنَةَ: يوه قبيله ده. ③ الْأَزْرَارِ: دَ زر جمع ده دکېړې نه جوړې شوې بټن. ④ جَيْبِ: ګريوان

تسهيلات:

قوله: وَإِنَّهُ لَمُطْلَقُ الْأَزْرَارِ:

د ازرار په مصداق کښې دوه اقوال: ① د ازرار دَ زر جمع ده دکېړې څخه جوړه شوې بټن ترې مراد ده کومه چې عام طور په د سينې دپاسه په قميض کښې لګيدلې وی

(¹) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب اللباس/باب فی حل الأزرار (رقم-۴۰۸۲) وابن ماجه فی کتاب اللباس . باب حل الأزرار (رقم-۳۵۷۸) واحمد فی المسند: ۱۹/۴

⑦ ملاعلي قاري رحمه الله فرمائي دلته دَ گريوان نه مرادهغه پټني (کالر) ده کومه چه په سټ راتاؤشوې وي (کوم ته چه کالروائي) مخې ته چه دَ گريوان بټنې کولاؤ وي نو دا پټني سسته شي. هم په دې سره معاويه بن قره پلار لاس داخل کړې دې که بټنې بندې وې نو لاس نه شو داخليدې.

د نبي عليه السلام د گريوان محل: علامه سيوطي رحمه الله فرمائي چه دَنبي کريم گريوان به مخې ته وو لهذا دَ څه خلقو داوينا کول غلط ثابت شوځوك چه وائي چه مخې طرف ته گريوان ساتل بدعت دې (په يوه زمانه کښې به خلقو دې ته بدعت ونيل). دَ بعضې قومونو گريوان به دَ سينې دَ پاسه بنې اړخ ته دَ اوګې طرف ته وو دلته هغه هم مرادنه دې.

قوله: فَمَسِسْتُ الْخَاتَمَ

د نبي عليه السلام په بدن کښې دمهر محل: دَمهرپه معنی کښې دې مراد مهردَ ختم نبوت دې چه دَ شا طرف ته دَ گسې اوګې دَهډوکي لاندې دَ تيتر دَ هګئي برابر راؤچته شوې غوښه وه په کوم چه تور نشان وو په هغې ليکلې شوې وو "توجه حيث شئت فانك منصور"

د مهر نبوت په حقله ناشنا خبره: مهريا پيدائشي وو يا دَ نبوت ملاويدوځخه روسته راغلې وو. وفات سره په بدن باندې دا راؤچته شوې حصه دننه لاړه اوغيبه شوه

[۴۳۳۴] د سپيني جامې فضيلت

۴۳۳۴-[۲۹] (١) ① وَعَنْ سَمُرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② "«الْبَسُوا الثِّيَابَ الْبِيضَ; ③ فَإِنَّهَا أَطْهَرُ وَأَطْيَبُ، ④ وَكَفِّنُوا فِيهَا مَوْتَاكُمْ» "رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او د حضرت سمره رضي الله عنه نه روايت دې چې نبي كريم ﷺ وفرمايل ② سپينې کپړې اغوندئ. ③ ځکه چې سپينه کپړه ډيره پاکه، زياته پاکيزه او خوش تره وي. ④ دغه شان خپلو مړو ته کفن هم د سپينو کپړو ورکوئ. (احمد، ترمذي، نسائي، ابن ماجه)

تسهيلات:

قوله: الْبَسُوا الثِّيَابَ الْبِيضَ; فَإِنَّهَا أَطْهَرُ:

د سپينو جامو د اطهر کيدو وجه: سپينه کپړا زر خيرنيږي نوزياته وينځلې کيږي لهذا اطهر اوپاکيزه تر وي. توره کپړا پوه مياشت نه شي وينځلې خيرنه وي مګر دَ خيرې پته نه لګي نواستعماليږي.

قوله: وَأَطْيَبُ:

د اطيب مفهوم: يعني دَهغې رنګ ګډوډ نه وي خالص سپين وي لهذا دَسليم الطبع خلقو دا

[1] اخرجه الترمذي في السنن كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء في لبس البياض (رقم-٢٨١٠) والنسائي في كتاب الجنائز /أي الكفن خير (رقم-١٨٩٦) وابن ماجه في كتاب اللباس . باب البياض من الثياب (رقم ٣٥٦٧) واحمد في المسند: ١٣/٥

خوبنه وی بل په سپین لباس باندې د ګرمئ اثر هم کم پریوځی.

قوله: وَكَفِّنُوا فِيهَا مَوْتَاكُمْ:

په سپینو جامو کښې د تدفین کولو وجه: مړی په سپین لباس کښې کفن کولو وجه دا ده چه هغه به په ژوند کښې د سپینو جامو انتخاب کړې وی نودې سره به مانوس وی اوقبرد وحشت خانې دې نود سپین کفن په وجه به ورته څه قدرې انس ملاؤ شی

[۳۳۲۸] د پټکي د شملې مسئله

۳۳۲۸-[۳۰] () ١ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: ٢ «كَانَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِذَا اعْتَمَّ ٣ سَدَلَ عِمَامَتَهُ بَيْنَ كَتِفَيْهِ». ٤ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ١ او حضرت ابن عمر ﷠ وایي ٢ چې رسول الله ﷺ چې به کله پټکی تړلو. ٣ نو د هغې شمله به یې د دواړو اوږو په مینځ کې زوړندوله. ٤ ترمذي ﷫ دا روایت نقل کړې دې او ویلي یې دي چې دا حدیث حسن غریب دې

حل اللغات: ① اعْتَمَّ: چه کله به ئې پټکې تړلو، ② سَدَلَ: رازړوندول به ئې.

تسهیلات:

قوله: إِذَا اعْتَمَّ سَدَلَ عِمَامَتَهُ بَيْنَ كَتِفَيْهِ:

د پټکی د شملې پریخودو مسنون طریقه: یعنی چه کله به نبی کریم پټکې تړلو نودهغې شمله به ئې د اوږو مبارکو په مینځ کښې ساتله. پټکې تړل د سنن زوائد څخه دی که یوسړې ئې د اتباع سنت په نیت باندې تړی نوثواب به ملاویږی کنی د قومی رسم اورواج د وجهې د پټکې په تړلوسره هیڅ ثواب نه ملاویږی. په زرګونو خلق د قومی لباس په بنیاد باندې پټکی تړی دا عادت دې سنت نه دې

د مونځ دپاره دپټکی د التزام حکم: بعضې روایاتوکښې د پټکی ډیر لوئی فضیلت راغلې دې په یوضعیف روایت کښې دی چه پټکی سره مونځ کول اویا درجې افضل دې خو په ټوپئی کښې هم مونځ کیږی هیڅ منع نه ده اونه پټکې د مونځ دپاره لازم دې کوم امامان حضرات چه صرف د مونځ په وخت پټکې استعمالوی اوبیائی په منبر باندې پریږدی او څی دا ډیره غلطه طریقه ده پټکې خو په عام وختونوکښې مسنون دې

د پټکی فائدې: ① د دماغو حفاظت کیږی

② پټکی ته د عربو تاج وئیلې شوې دې

③ پټکې د سید الاولین والاخرین سنت دې

④ پټکی سره د انسان دماغوته سکون رسیږی.

() اخرجه الترمذي في السنن كتاب اللباس عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب في سدل العمامة بين الكتفين (رقم-١٧٣٦)

⑤ دَ حادثې په وخت په سرباندې زخم لګيدونه سر محفوظ پاتې کيدې شي.
⑥ انسان دَ ناخوښه کارونو نه خان ساتي.
⑦ انسان ته دَ عزت مقام ورکوي.

د پټکي رنګونه: دَ پټکي په رنګونوکښې سپين تور او زيړ رنګ ملاويږي دَ شين رنګ دَ پټکي تذکره تردې وخته پورې نه ده ملاؤشوې. کيدې شي چه بريليانو حضراتو دَ نبي کريم دَ ګنبد دَ رنګ نه اخستې وی ليکن که دَ ګنبد رنګ بدل شو نوبيابه بريليان حضرات څه کوی؟

د پټکي اوږدوالې: دَ پټکي په اوږدوالی کښې دومره خبره ياد لرئی چه دَ نبي کريم دوه قسمه پټکی وو. وړوکې پټکې اووه ګزه وو اولوئی پټکې دولس ګزه وو شرعی ګز يولاس وی.

د پټکي شملې پريخودو طريقه: دَ پټکي دوه شملې وی يوه وړه او يوه اوږده که يوه هم وی نو بياهم خير دې که دواړه شملې دَ اوږو په مينځ کښې پريخودلې شی نوداهم جائز دی اوکه کله يوه شمله شاته او يوه شمله دَ ښی طرف ته مخې نه واچولې شی نوداهم جائز دی.

د مسلمانانو او سيکهانو په پټکو کښې فرق: دَدې آدابونه معلومه شوه چه اسلامی پټکی اودَ سکهانو پټکی کښې دَ زمکې اوآسمان فرق دې. دَپټکی دَپاره ټوپئی ضروری ده اوټوپئی کولاؤ او ښکاره په نظر راتلل پکاردی. مشرکانو به هم پټکې استعمالولو ليکن په هغې کښې به ټوپئی نه وه لکه څنګه چه نن صبا دَايران ذاکرين بغيردَ ټوپئی نه پټکې استعمالوی.اهل روافض په پټکی کښې شمله هم نه استعمالوی اودَ سکهانو هم دغه عادت دې.

[٤٣٣٩]مخې ته اوشاته شمله پريخودل

٤٣٣٩—[٣١] (¹) ① وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: ② «عَمَّمَنِي رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ③ فَسَدَلَهَا بَيْنَ يَدَيَّ وَمِنْ خَلْفِي». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه وايي ② چي ايوه ورځ] رسول الله ﷺ ماته پټکئ راوتړلو، ③ نو د هغې شمله يي زما مخکې او زما وروسته (دواړه طرفته) زوړنده کړه (ابوداؤد)

عَمَّمَنِي: پټکې اوتړلو ماته، ① فَسَدَلَهَا: نو رازوړنده ئې کړه

تسهيلات:

نوټ: ددې حديث تشريح ددې څخه وړاندې حديث نمبر (٤٣٣٨) په شرح کښې تيرشوې دې

¹) اخرجه ابوداود في السنن كتاب اللباس /باب في العمائم (رقم-٤٠٧٩)

[۳۳۳۰] پر ټوپۍ پټکۍ تړل د مسلمانانو امتیازي علامت دی

۴۳۳۰—[۳۲] (۱) ① وَعَنْ رُكَانَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② "«فَرْقُ مَا بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْمُشْرِكِينَ الْعَمَائِمُ عَلَى الْقَلَانِسِ» .③ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَإِسْنَادُهُ لَيْسَ بِالْقَائِمِ.

ترجمه: ① او حضرت رکانه رضی الله عنه د نبي کریم ﷺ نه نقل کوي چه حضور ﷺ وفرمایل ② زمونږ او د مشرکانو په مینځ کې [یو] فرق دا [هم] دي، چې مونږ په خولیو لنګوټې [پټکې] تړو. ③ ترمذي رحمه الله دا روایت نقل کړي دي او ویلي یې دي چې دا حدیث غریب دي او د دې اسناد درست نه دي.

حل اللغات: ① الْعَمَائِمُ: دعمامة جمع ده پټکی ته وائی، ② الْقَلَانِسِ: د قلنسوة جمع ده ټوپۍ ته وائی

تسهیلات: **قوله:** فَرْقُ مَا بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْمُشْرِكِينَ الْعَمَائِمُ عَلَى الْقَلَانِسِ:

پټکی په ټوپۍ باندې تړل: ددنیا دَ ټولو ملکونو په فوجونو باندې دَ ټوپئی استعمالول دَ هرملك قانونی ضابطه ده. ددې نه معلومه شوه چه کامل سړي هم هغه دي دَ چا په سرچه ټوپئی وی. په افریقی ملکونوکښې ټوپئی استعمالول دَ اسلام علامت وی. ددې نه معلومه شوه چه بربنډ سر ګرځیدل نه دَ اسلام تقاضاده اونه دَ کامل انسان تقاضا ده بلکه دَ حیوان انسان تقاضاده.

[۳۳۳۱] سره زر او ریښم د ښځو د پاره حلال او د سړو د پاره حرام دي

۴۳۳۱—[۳۳] (۲) ① وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: " ② «أُحِلَّ الذَّهَبُ وَالْحَرِيرُ لِلْإِنَاثِ مِنْ أُمَّتِي ③ وَحُرِّمَ عَلَى ذُكُورِهَا» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، ④ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

ترجمه: ① او د حضرت ابوموسي اشعري رضی الله عنه نه روایت دي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل ② زما د امت د ښځو د پاره سره زر او ریښم حلال کړي شوي دي، ③ او د امت په سړو حرام کړي شوي دي ترمذي نسائي، ④ او ترمذي رحمه الله ویلي دي چې دا حدیث حسن صحیح دي.

تسهیلات:

قوله: أُحِلَّ الذَّهَبُ وَالْحَرِيرُ لِلْإِنَاثِ مِنْ أُمَّتِي:

د حدیث حاصل دا دي چه سونا او ریښم ښځو دپاره حلال دي او ددې امت سړو دپاره په عام حالاتو کښې حرام دي.

---

(۱) اخرجه ابوداود فی السنن رقم الحديث ۴۰۷۸، والترمذی فی السنن رقم الحديث ۱۷۸۴

(۲) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب اللباس عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الحرير والذهب (رقم- ۱۷۲۰) واحمد فی المسند: ۴/۳۹۲

په بيمارۍ او جنګ کښې د ريښمو د استعمال په حکم کښې ۲ مذاهب:

① دامام شافعی، امام احمد بن حنبل اود صاحبينو په نيز د بيمارۍ او جنګ کښې د خالص ريښمو استعمالول جائز دي

② د امام ابو حنيفه او د امام مالک په نيز په هيڅ صورت کښې خالص حرير استعمالول جائز نه دی.

داول فريق دليل: دوی د عبدالرحمن بن عوف او د زبير بن العوام ﷺ د روايت څخه استدلال کوی، "قال رخص رسول الله صلى الله عليه وسلم للزبير وعبد الرحمن بن عوف فی لبس الحرير لحكة بهما" چه نبی کريم ﷺ دواړه صحابه کرامو ته د خارښ په وجه د ريښم استعمالولو اجازت ورکړې وو (كما مر في مشكواة رقم: ۴۳۲۶)

د دويم فريق دليل: دوي په دي حديث الباب باندې استدلال کوی "أحل الذهب والحرير للأناث من أمتي وحرم على ذكورها". (رواه الترمذی)

داول فريق د دليل دوه جوابونه: ① دا حديث په حالت د اضطرار باندې محمول دې د حالت اضطرار صورت د حديث د ظاهر نه معلوميږي چه دوي ته ئي د خارښ د وجهې نه ريښمو کپړې استعمالولو اجازت وکړې وو.

② دا حديث د دې دواړو حضراتو په خصوصيت باندې حمل دې.

قوله: وَحُرِّمَ عَلَى ذُكُورِهَا:

د ذکور څخه مراد: په حديث کښې "ذکور" نه مراد سړی او ماشومان دی او ماشومانو ته ريښمی کپړي اچولو والا هم ګناه ګار دي، او څنګه چه د سونې او چاندی والا لوښې سړو دپاره استعمالول حرام دی هم دغه شان ښځو دپاره هم ددې لوښو استعمال حرام دې

[۴۳۳۳] د نوې جامې د اغوستلو په وخت دعا

۴۳۳۳-[۳۴](¹) [١] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: [٢] «كَانَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِذَا اسْتَجَدَّ ثَوْبًا سَمَّاهُ بِاسْمِهِ [٣] عِمَامَةً أَوْ قَمِيصًا أَوْ رِدَاءً [٤] ثُمَّ يَقُولُ: "اللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ، كَمَا كَسَوْتَنِيهِ [٥] أَسْأَلُكَ خَيْرَهُ [٦] وَخَيْرَ مَا صُنِعَ لَهُ [٧] وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهِ وَشَرِّ مَا صُنِعَ لَهُ»، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوسعيد خدري ﷺ وايي [٢] چه رسول الله ﷺ چې به کوم وخت نوي جامه اغوستله، نو (د هغې چې به کوم نوم وو، نو) هغه نوم به يي اخستو [٣] يعنی پټکۍ يا قميص يا څادر، [٤] بيا به يي فرمايل اي الله! ستا د پاره تعريف دي، چې تا ماته دا جامه واغوندوله. [٥] اي الله! زه ستا نه د دې جامې د خير طلبګاريم، (چې دا جامه زما په بدن د عافيت سره پاتې شی، دي ته څه نقصان ونه رسيږي) [٦] او ستا نه د هغه شي خير غواړم،

---

¹) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب اللباس (رقم-۴۰۲۰) والترمذی فی السنن رقم الحديث ۱۷۶۷ واحمد فی المسند ۳/ ۳۰

چې د هغې د پړه دا جامه جوړه شوي ده، ايعنی دا چې دا جامه اغوستلو سره ستا ز
اطاعت وکړم، [۷] او زه د دې کپړې د بدئ نه او د هغه شي د بدئ نه چې د هغې د پاره د
جامه جوړه شوي ده، ستا پناه غواړم ،يعني دا چې زه دا جامه اغوستلو سره څه گناه ونه
کړم، ترمذي، ابوداؤد،

حل اللغات: ① اسْتَجَدَّ: "أي لبس ثوباً جديداً" چه کله به ئې نوې کپړې اغوستلې

تسهيلات:

قوله: إِذَا اسْتَجَدَّ ثَوْبًا سَمَّاهُ بِاسْمِهِ:

د سماه مفهوم: يعنې دَ شکريه په توگه دَ دعا کولونه مخکښې نبی کريم به دَ دغه کپړې نوم
کيخودو چه دا قميص دې دا پټکې دې وغيره بيابه ئې په دعاکښې دَهغې تذکره داسې
فرمائيله "اللهم لك الحمد كما كسوتني هذا القميص الخ"

[۴۳۴۳] دَ خوراک او جامو اغوستو څخه روسته د دعا فضيلت

۴۳۴۳—[۳۵] () [۱] وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [۲] "«مَنْ أَكَلَ طَعَامًا، ثُمَّ قَالَ: [۳] الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي أَطْعَمَنِي هٰذَا الطَّعَامَ [۴] وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِني وَلَا قُوَّةٍ، [۵] غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، [۶] وَزَادَ أَبُو دَاوُدَ: («وَمَنْ لَبِسَ ثَوْبًا فَقَالَ: [۷] الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي كَسَانِي هٰذَا [۸] وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِي وَلَا قُوَّةٍ، [۹] غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ».

ترجمه: [۱] او د حضرت معاذ ابن انس رضی الله عنه نه روايت دې چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم شخص چې روټۍ وخوري، او بيا دا دعا اووائي [۳] ټول ثناء او صفت هغه ذات لره دي، چې په ماېې دا طعام اوخوړلو، [۴] بغير زما د څه حيلې نه او بغير د څه قوت نه يې ماته راکړې دي، [۵] نو د ده ټول صغيره گناهونه بخښل کيږي ،ترمذي [۶] او ابوداؤد په خپل روايت کې دا الفاظ زيات کړي دي څوک چې جامې واچوي او دا دعا اووائي [۷] ټول تعريفونه هغه ذات لره دي چې ماته يې جامې راکړې دي، [۸] او رزق يې راکړې دي، زما بغير د څه حيلې نه او بغير د څه طاقت نه، [۹] نو ټول مخکښې او وروستنې صغيره گناهونه يې بخښل کيږي

تسهيلات:

قوله: غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ:

په حمد ويلو سره دگناهونو معاف کيدل: دا دوه دعاگانې کومې چه ذکر شوې چه په هغې کښې يو د خوراک نه پس ده او دويمه د جامو د اغوستلو په وخت. د دې دواړو په باره کښې رسول

() اخرجه ابوداود فی السنن كتاب اللباس (رقم-۴۰۲۳) والترمذي في كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما يقول إذا فرغ من الطعام (رقم-۳۴۵۸) وابن ماجه في كتاب الأطعمة/باب ما يقال. إذا فرغ من الطعام (رقم-۳۲۸۵) واحمد في المسند: ۴۳۹/۳

الله ﷻ فرمائي چه کوم سړي دا دعا اولولي د هغه به وړاندې روستو ټول گناهونه معاف شي، دا خبره خو مشهوره چه په دې قسم رواياتو کښې د گناهونو نه مراد صغائر دی، دلته به هم دا ونيلې شي،

په دې حديث کښې چه د کومو گناهونو نه د دومره زبردست معافي بشارت دې هغه په يو مختصر عمل سره د الله پاک په امت محمديه باندې ډيره زياته مهرباني معلوميږي، په دې کښې به د رسول الله ﷺ شان محبوبيت لره دخل وی، چه د هغې امت لره قدرداني کول پکار دی او د هغې نه فائده اوچتول پکار دی والله تعالى الموفق.

دابوداؤد د روايت په زيادت کښې دوه توجيهات: پورته د ابوداؤد په روايت کښې د ...وما تأخر زيادت دې

①په راروان ژوند کښې هغه کوم واړه گناهونه کوی نود واقع کيدو څخه وړاندې به هغه الله تعالى معاف کړې وی.

② هغه به د بيا دپاره د گناهونو نه محفوظ شي چه د بيا دپاره به د هغه نه د گناه وقوع نه کيږی.

دا دواړه احتماله شارحينو د اهل بدر په باره کښې هلته ليکلي دی کوم چه په حديث کښې راغلي دی (اعملوا ما شئتم فقد غفرت لكم)... لهذا دلته هم دا دواړه احتماله کيدې شی (بذل بتوضيح)

[۴۳۲۴] عائشې رضی الله عنها ته څو نصيحتونه

۴۳۴۴-[۳۶] (١) ① وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: ② قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "«يَا عَائِشَةُ ③ إِذَا أَرَدْتِ اللُّحُوقَ بِي ④ فَلْيَكْفِكِ مِنَ الدُّنْيَا كَزَادِ الرَّاكِبِ، ⑤ وَإِيَّاكِ وَمُجَالَسَةَ الْأَغْنِيَاءِ، ⑥ وَلَا تَسْتَخْلِقِي ثَوْبًا حَتَّى تُرَقِّعِيهِ» ". ⑦ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ ⑧ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ صَالِحِ بْنِ حَسَّانَ. ⑨ وَقَالَ مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ: صَالِحُ بْنُ حَسَّانَ مُنْكَرُ الْحَدِيثِ.

ترجمه: ① او د بي بي عائشې رضی الله عنها نه روايت دی ② چې ماته رسول الله ﷺ وفرمايل اې عائشې رضی الله عنها ③ که ته (دنيا او آخرت دواړه ځايه) زما سره (کامل) اتصال او تعلق غواړې. ④ نو د دنيا په څيزونو صرف دومره اکتفاء کوه، چې د سور (سفر کونکی) د زاد راه (توښې) برابر وي. ⑤ او د دولت مندو د هم نشيني اختيارولو نه پرهيز کوه. ⑥ او کپړه تر هغه وخته زړه گڼلو سره مه غورځوه، تر څو چې ته پيوند (گولو سره هغه د اغوستلو قابله کړې. ⑦ دا روايت ترمذي رحمه الله نقل کړی دی او ويلي يې دي چې دا حديث غريب دی. ⑧ او دا حديث مونږ ته د صالح ابن حسان د روايت نه علاوه په بل څه ذريعې سره نه

[1]) اخرجه الترمذي في السنن كتاب اللباس عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في ترقيع الثوب (رقم-۱۷۸۰)

دي رارسيدلي.⑨ او محمد بن اسماعيل رحمه الله (يعني امام بخاري رحمه الله) ويلي دي چې صالح ابن حسان منكر الحديث دي (يعني د هغه روايت منكر دي).

حل اللغات: ①اللُّحُوقَ: اتصال او تعلق، يوځاي كيدل ②زَادِ: توښه، ③وَلَاتَسْتَخْلِقِي: خلق د زړيدو په معنى كښې دې په دې صيغه كښې سين او تاء د حسبان د پاره دي يعني يوه كپړا زړه مه ګڼړه ④تُرَقِّعِيهِ: چه په دې كښې پيوند اولګوى.

تسهيلات:

قوله: فَلْيَكْفِكِ مِنَ الدُّنْيَا كَزَادِ الرَّاكِبِ:

د راكب سره د تشبيه وجه: يوه توښه د سور سړي وى او يوه د پيدل سړي وى. سور چونكه زر منزل ته رسيږى په دې وجه هغه ته دكم خرچ ضرورت پيښيږى. په دې وجه په حديث كښې د سور سړي د توښې ذكركړې شوې دې يعني ډيره كمه توښه

قوله: حَتَّى تُرَقِّعِيهِ:

د ترقيعه مطلب: يعني تركومې پورې چه په دې كښې پيوند اونه لګوى. ونيلى شي چه يوځل حضرت عمر رضي الله عنه خطبه وركړه كله چه اوكتلې شو نو د هغوى په لنګ كښې دولس پيوندونه لګيدلې وو كوم وخت چه هغوى اميرالمؤمنين وو (مرقات)

[۴۳۳۵] په لباس كښې سادګى د ايمان نښه

> ۴۳۳۵—[۲۷] ()① وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ إِيَاسِ بْنِ ثَعْلَبَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②" «أَلَا تَسْمَعُونَ؟ أَلَا تَسْمَعُونَ③ أَنَّ الْبَذَاذَةَ مِنَ الْإِيمَانِ،④ أَنَّ الْبَذَاذَةَ مِنَ الْإِيمَانِ»؟" رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

ترجمه: ① او حضرت ابوامامه رضي الله عنه اياس ابن ثعلبه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ② آيا تاسو نه اورئ، آيا تاسو نه اورئ، (يعني اې خلقو! په غور سره واورئ!). ③ د كپړې زوړوالي اوكهنګي (يعني د لباس سادګي) اختيارول او د دنيا زيب وزينت ترک كول، د حسن ايمان علامت دى. ④ د كپړې بوسيدګي او كهنګي اختيارول او د دنيا زيب وزينت ترک كول د حسن ايمان علامت دى (ابوداؤد)

حل اللغات: ①الْبَذَاذَةَ: په جامه كښې سادګى كول او زيب وزينت پريخودل

تسهيلات:

قوله: أَنَّ الْبَذَاذَةَ مِنَ الْإِيمَانِ

د سادګى اختيارولو ترغيب: ابوامامه انصارى رضي الله عنه فرمائى چه يوه ورځ بعض صحابه كرامو رضي الله عنهم د رسول الله صلى الله عليه وسلم مخكښې د دنيا تذكره اوكړه نو هغوى اوفرمائيل: خبردار واورئ په ښه طريقه! دوه كرته ئې اوفرمائيل... بيشكه سادګى او تواضع او ترک تكلف د ايمان

---

¹) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الترجل (رقم-۴۱۶۱) وابن ماجه في س كتاب الزهد باب من لا يؤبه له (رقم-۴۱۱۸)

حصه ده، يعنى د ايمان په خصلتونو كښې يو خصلت دې

د بذاذة تفسير: په ابوداؤد كښې د بذاذة تفسير داسې شوې دې "يَعْنِي التَّقَحُّلَ" دا د ابوداؤد د طرفه دې د تفحل معنى د انسان د بدن اوچيدل د حال د خرابيدو په وجه باندې. او كمزور او تپ كيدل، په بذل كښې مكتوب دى ﴿ وإنما كان البذاءة من الإيمان لأنه يودى إلى كسر النفس والتواضع﴾

[۴۳۳۳] د تكبر په غرض د ښو جامو اغوستلو وعيد

۴۳۳۳ - [۳۸] (۱) [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «مَنْ لَبِسَ ثَوْبَ شُهْرَةٍ فِي الدُّنْيَا [۳] أَلْبَسَهُ اللَّهُ ثَوْبَ مَذَلَّةٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُودَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عمر رضي الله عنهما وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] كوم سړي چې په دنيا كې د شهرت جامه اغوندي، [۳] د قيامت په ورځ به هغه ته د ذلت جامه اغوستل كيږي (احمد، ابوداؤد، ابن ماجه)

حل اللغات: ① مَذَلَّةٍ: د ذلت.

تسهيلات:

قوله: مَنْ لَبِسَ ثَوْبَ شُهْرَةٍ:

دحديث په مصداق كښې دوه اقوال: ① كوم سړي چې دَ شهرت حاصلولو دَپاره دَعلماؤ لباس اختياروى دَ صوفيانو لباس جبه او پټكې خپلوى اوپه دې سره خپل نوم اوچتول غواړى محض دَ شهرت بنده دې اودَ خپلې نامې دَ كټلو دَپاره شپه ورځ كوششونه كوى دَداسې سړى دَپاره وعيد دې.

② كوم سړي چه دَتكبر اوتجبر په توګه اودَفقيرانو اومسكينانو دَ ذليل كولو دَپاره يا مسخره جوړيدو سره دَ خلقو دَ خندولو دَپاره عجيبه شكلونه اختياروى دَداسې سړى دَپاره وعيد دې

[۴۳۳۴] د چا سره د مشابهت اختيارولو حكم

۴۳۳۴ - [۳۹] (۲) [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ» رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عمر رضي الله عنهما وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] كوم سړي چې د يو قوم سره مشابهت اختيار كړي، نو هغه به د هغه قوم نه شميرل كيږي، (احمد، ابوداود)

[1] اخرجه ابوداود فى السنن كتاب اللباس باب فى لبس الشهرة (رقم-۴۰۲۹) وابن ماجه فى كتاب اللباس، باب من لبس شهرة من الثياب (رقم-۳۶۰۶) واحمد فى المسند: ۱۳۹/۲

[2] اخرجه ابوداود فى السنن كتاب اللباس باب فى لبس الشهرة (رقم-۴۰۳۱) واحمد فى المسند: ۵۰/۲

تسهيلات:

قوله: مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ

د نيكانو او بدانو سره د مشابهت اثر: ① کوم سړي چه خپل ځان دَ علماؤ صلحاؤ او ديندارو خلقو په طرز باندې برابروي دَهغوي اعمال او اقوال خپلوي او هغوي سره محبت لري نو هغه سړي به په نيکوکښې دَ دغه نيک بختو په زمره کښې شميرلې کيږي.

② دَ يو غير مسلم قوم نقل او تقليد اختيارول دَمسلمان دَپاره حرام دي. دکافرانو اعمال او افعال دَهغوي اطوار او کردار او دَ هغوي اقدار او افکار به پريخودلې کيږي. که يو سړي دَ يو قوم مشابهت اختياروي دَهغوي په انداز خوراك کوي دَهغوي اخلاق خپلوي اودَهغوي او سيدل اودَهغوي ثقافت خپلې سينې سره لګوي نوداسړي دَ هغوي ډلې ته ځي او س دَ دغه کافرانو فاسقانو او فجارو په اعمالو باندې کومه سزا چه به هغوي ته ملاويږي هم هغه سزا به دغه تقالي تقليد کونکي ته هم ملاويږي.

دمشابهت څخه مراد: غير مسلمو سره دَ مشابهت دَممانعت چه کومه خبره ده هغه دَهغوي خصوصي امتيازي شعار او طريقه خپلولو کښې ده په عام حالاتو کښې دَانسان عمل دخل خودَ يو بيل په شان وي مثلاً ږيره خرول، کوټ پتلون او ټائي لګول دَ صليب تصوير ځائي په ځائي لګول دادَ يهوديانو او نصاراؤ خصوصي علامتونه دي په تندي باندې قشقه لګول وغيره دادَ هندوانو خصوصي علامت دې ږير تاوول اودَ زنې لاندې راغونډول دادَ سکهانو خصوصي علامت دې. دَدې نه ځان ساتل ضروري دي. دَدې نه علاوه په عام ژوند کښې دَ يو بيل مشابه کيدل مرادنه دي مثلاً ټول قومونه پيالئي کښې چائې اچوي او څکي ئې داځه شعار نه دې.

دجامو اچولو به شرعي ضابطه: دجامو اچولو به قاعده: جامه څنګه اغوستل پکار دي د دې قاعده داسې بيان شوې ده چه د کومې جامې مدح يا مذمت چه په حديث شريف کښې منصوص دې په دې کښې به خو د هغې اعتبار کولې شي د هغې نه علاوه دا ده چه د کومې زمانې د صلحاء کوم لباس وي هغه اختيارول پکار دي.

[۴۳۴۸] د دوو نيکو اعمالو فضيلت

> ۴۳۴۸—[۳۰] (١) [١] وَعَنْ سُوَيْدِ بْنِ وَهْبٍ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَبْنَاءِ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ أَبِيهِ، [٢] قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: «مَنْ تَرَكَ لُبْسَ ثَوْبِ جَمَالٍ [٣] وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَيْهِ " [٤] وَفِي رِوَايَةٍ تَوَاضُعًا، [٥] كَسَاهُ اللَّهُ حُلَّةَ الْكَرَامَةِ، [٦] وَمَنْ تَزَوَّجَ لِلَّهِ تَوَّجَهُ اللَّهُ تَاجَ الْمُلْكِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] او حضرت سويد ابن وهب د نبي کريم ﷺ د صحابؤ د زامنو نه او هغوي د خپل

١) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأدب/باب من كظم غيظا (رقم-٤٧٧٨)

پلار نه روایت کوي [۲] چې رسول الله ﷺ وفرمایل کوم سړي چې د زیب وزینت لباس اغوستل پرېږدي، [۳] باوجود د دې چې د هغې د اغوستلو استطاعت او طاقت لري. [۴] او په یو روایت کې د تواضعاً لفظ هم راغلي دي، ایعنی کوم سړي چې د زهد او تواضع او د کسر نفسي په سبب د زیب وزینت لباس اغوستل پرېږدي ا، [۵] هغه ته به الله تعالی د عزت او عظمت جوړه ور واغوندي، ایعنی الله تعالی به هغه ته د جنت لباس ورکړي، چې د هغه د رفعت او عظمت باعث به وي، یا دا چې الله تعالی به هغه ته په دنیا او آخرت دواړو ځایو کې عزت او عظمت ورکړي ځرنګه چې فرمایل شوي دي چې کوم سړي عاجزی [اخکته والي] اختیار وي، الله تعالی ﷻ د هغه مرتبه اوچتوي ا، [۶] او کوم سړي چې د الله تعالی د خوشنودئ د پاره نکاح اوکړی، هغه ته به الله تعالی د بادشاهت تاج ورکړي. ‹ابوداؤد›

حل اللغات: ① حُلَّةَ الْكَرَامَةِ: د عزت او عظمت جامې، ② تَوَّجَهُ اللّٰهُ: تاج به ورپسر کړي الله تعالی،

۴۳۳۱—(۱) [۱] وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ مِنْهُ عَنْ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ حَدِيثَ اللِّبَاسِ.

ترجمه: [۱] او ترمذي رحمه الله د دې روایت یواځې هغه حصه چې په هغې کې د لباس ذکر دي د حضرت معاذ ابن انس رضی الله عنه نه نقل کړي ده.

تسهیلات:

قوله: كَسَاهُ اللّٰهُ حُلَّةَ الْكَرَامَةِ:

دوس بلوجود دقیمتي جامو نه اغوستلو انعام: دَ طاقت باوجود زینت ترک کول لوئی کمال دې په دې سره سړې پریوځی نه بلکه اوچتیږی اوپه چاکښې چه طاقت نه وی نوهغه خو پخپله متواضع دې.

دعالم دپاره ښه لباس اچول: زمارائې دا ده چې عالمان چونکه د عوامو مقتدا وی او دوی سره علم تړلې دې نوچې دوی ښه لباس اوښه جامې اغوستې وې په دې سره به د خلقو په زړونو کښې دعلم وقار او عزت پیدا کیږی او د دغه عالم خبره به په توجه سره اوریدې شی اوکه د عالم جامې او لباس خیرن یا کم قیمته وی نود خلقو په زړونوکښې به د هغوی د خبرې څه خاص مقام نه وی. نوخبره به ئې هم اثرنه کوی او د نبی علیه السلام ارشاد هم دې چې ((لیُرى أثر نعمة الله علیك)) یعنی د الله تعالی د نعمت اثردې په تا باندې ښکاره وی. والله اعلم بالصواب.

قوله: وَمَنْ تَزَوَّجَ لِلّٰهِ تَوَّجَهُ اللّٰهُ تَاجَ الْمُلْكِ:

دحدیث مصداق: یعنی یو بې نومې او ورکه جینئی ده بې آثرې ده نه دَهغې څوك کفالت والا شته نه ئې خاندان شته. یوسړې هغې سره صرف ددې دپاره نکاح کوی چه دَ هغې ژوندجوړشی اوهغې ته اسره ملاؤشی داسې سړې ته به الله تعالی دَعظمت تاج وراغوندی.

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة القیامة والرقائق والورع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۲٤٨١)

[۴۳۵۰] د حق تعالی د عطاء کړي نعمتونو اظهار یو مطلوب عمل دی

۴۳۵۰-[۴۱] (۱) [۱] وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: [۲] قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ [۳] أَنْ يُرَى أَثَرُ نِعْمَتِهِ عَلَى عَبْدِهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت عمرو ابن شعیب د خپل پلار نه او هغه د خپل نیکه نه نقل کوي. [۲] چې رسول الله ﷺ وفرمایل بیشکه د الله تعالی دا خبره خوښه ده. [۳] چې د هغه د نعمت اثر د هغه په بنده ولیدل شي. (ترمذي)

تسهیلات:

قوله: إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ أَنْ يُرَى أَثَرُ نِعْمَتِهِ عَلَى عَبْدِهِ:

د شکریه په توګه د الله تعالی د نعمت اظهار کول: یعنی چه الله تعالی دنیاوی نعمت درکړي دي نو دَ شکریې په توګه دَ دغه نعمت اثر هم دَ انسان په بدن باندې ښکاره کیدل پکاردی دَ دې دا صورت دې چه چرته دې طاقت وی نوښه لباس په ذریعه سره دَ الله تعالی دَ نعمت عملی شکراداکول پکاردی. اوچرته چه دې طاقت نه وی نوهلته دَ سادګئی عملی مظاهره کول پکاردی اوکوم وخت چه تنګی وی نو قرض اخستو سره دَتکلف دَ لباس مظاهره اومفاخره کول سخت منع دی.

[۴۳۵۱] دبدن او لباس درستګي او صفایي خوښ شي دي

۴۳۵۱-[۴۲] (۲) [۱] وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «أَتَانَا رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - زَائِرًا، [۳] فَرَأَى رَجُلًا شَعِثًا [۴] قَدْ تَفَرَّقَ شَعْرُهُ [۵] فَقَالَ: أَمَا كَانَ يَجِدُ هَذَا مَا يُسَكِّنُ بِهِ رَأْسَهُ؟ [۶] وَرَأَى رَجُلًا عَلَيْهِ ثِيَابٌ وَسِخَةٌ [۷] فَقَالَ: أَمَا كَانَ يَجِدُ هَذَا مَا يَغْسِلُ بِهِ ثَوْبَهُ؟» رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر رضی الله عنه وایي چې [۲] یو ځل رسول الله ﷺ د ملاقات په غرض مونږ ته تشریف راوړو. [۳] نو هلته یې یو ببر سرې سړي ولیدلو. [۴] چې د هغه د سر ویښتان ګډوډ شوي وو. [۵] حضور ﷺ وفرمایل چې آیا دې سړي سره هغه څیز (یعني منګز وغیره) نشته. چې د هغې په ذریعه یې خپل ویښتان درست کړي وي. [۶] دغه شان حضور ﷺ یو بل سړي ولیدلو. چې د هغه په بدن خیریني خیچني کپړي وې. [۷] نو حضور ﷺ وفرمایل چې آیا دې سړي سره هغه څیز (یعني صابون یا اوبه) نشته. چې په هغې سره خپلې جامې ووینځي. (احمد. نسائي)

(۱) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الأدب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء إن الله تعالی یحب ان یری أثر نعمته علی عبده (رقم-۲۸۱۹) واحمد فی المسند: ۱۸۲/۲

(۲) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب اللباس/باب فی غسل الثوب وفی الخلقان (رقم-۴۰۶۲) والنسائی فی کتاب الزینة/باب تسکین الشعر (رقم-۵۲۳۶) واحمد فی المسند: ۳۵۷/۳

حل اللغات: ① زَائِرًا: د ملاقات او زیارت په غرض، ② شَعِثًا: بیر سرې چه د سر ویښته ئې ګډ وډ وی، ③ وَسِخَةٌ: خیرنې خیچنې، ④ مَا يُسَكِّنُ "ما عبارت دې دَ ګمنز نه یعنی دغه سړی ته ګمنزه نه ملاویږی دَ کوم په ذریعه چه ویښته جوړکړی او صحیح کړی.

تسهیلات:

قوله: أَتَانَا رَسُولُ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-زَائِرًا:

د سادګۍ باوجود د پاکۍ اهمیت: دَدې حدیث نه معلومه شوه چه بدن ښکلې ښانسته او په طریقه سره ساتل دَ نبی کریم خوښ وو اودَدې خلاف منظر دَ نبی کریم ناخوښه وو خکه چه اسلام یوترقی خوښونکې مهذب اومتمدن مذهب دې. هغه دَ انسان دَ دنیا اوآخرت دواړوکفالت او لارخودنه کوی. لهذا دا څیزونه دَ اسلامی تعلیماتو بالکل مطابق وو دَ کوم ترغیب چه نبی کریم ورکړو. اسلام اګرچه دَ سادګئی تعلیم ورکوی خوسادګی یوبل څیز دې او ګندګی یوبل څیزدې. دَ رحمان په نظام کښې تهذیب او صفائی ده اودَ شیطان په نظام کښې نجاست، او پلیتی ده. دَزیربحث حدیث دَدې تشریح نه معلومه شوه چه دې سره دَهغه حدیث تعارض نشته دې په کوم کښې چه "ان البذاذة من الایمان" فرمائیلې شوی دی خکه چه په دې حدیث کښې دَ سادګئی درس دې دَ نجاست پلیتئی اوبدتهذیبئی درس نه دې.

[۴۳۵۴] د حیثیت مطابق جامې اغوستل

۴۳۵۴-[۴۳] ( )[1] ① «وَعَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ، عَنْ أَبِيهِ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُ-قَالَ: ② أَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-وَعَلَيَّ ثَوْبٌ دُونٌ، ③ فَقَالَ لِي: "أَلَكَ مَالٌ؟" قُلْتُ: نَعَمْ. ④ قَالَ: مِنْ أَيِّ الْمَالِ؟" قُلْتُ: مِنْ كُلِّ الْمَالِ، ⑤ قَدْ أَعْطَانِي اللهُ مِنَ الْإِبِلِ وَالْبَقَرِ وَالْغَنَمِ وَالْخَيْلِ وَالرَّقِيقِ. ⑥ قَالَ: (فَإِذَا آتَاكَ اللهُ مَالًا ⑦ فَلْيُرَ أَثَرُ نِعْمَةِ اللهِ عَلَيْكَ وَكَرَامَتِهِ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالنَّسَائِيُّ ⑧ وَفِي شَرْحِ السُّنَّةِ بِلَفْظِ الْمَصَابِيحِ.

ترجمه: ① او ابو الاحوص د خپل پلار نه نقل کوي چي هغه اوویل ② چه [یوه ورځ] د رسول الله ﷺ په خدمت کښې زه په داسې حالت کې حاضر شوم، چې زما په بدن خرابې او بیکاره کپړې وې. ③ په دې، لیدو سره حضور ﷺ ماته وفرمایل آیا تا سره مال شته؟ ما عرض وکړو چې هو. ④ حضور ﷺ پوښتنه وکړه د کوم قسم مال دې؟ ما عرض وکړو هر قسم مال دې، ⑤ الله تعالی ماته اوښان، غوایان، بزې (چیلۍ) هم راکړي دي، او آسونه او غلامان یې هم راکړي دي، ⑥ حضور ﷺ وفرمایل هر کله چې الله تعالی ﷻ تاته دومره زیات مال درکړي دي، ⑦ نو [د هغې تقاضه خو دا ده چې] په تا د الله تعالی د درکړي نعمت اثر ظاهر شي، او الله تعالی ﷻ چې په کوم عزت او عظمت سره ته عزتمند کړي یې، هغه ښکاره

[1] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب اللباس/باب فی غسل الثوب وفی الخلقان (رقم-۴۰۶۳) والترمذی فی کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الإحسان والعفو (رقم-۲۰۰۶) والنسائی فی کتاب الزینة/باب باب ذکر ما یستحب من لبس الثیاب وما یکره منها (رقم-۵۲۹۴)

شي (احمد، نسائي) [۸] او په شرح السنه کې يې دا روايت د مصابيح د روايت نه په مختلفو الفاظو کې نقل کړي دي، عبارت خو د دواړو مختلف دي، ليکن د دواړو مضمون يو دي.

تسهيلات:

قوله: فَلْيُرَ أَثَرُ نِعْمَةِ اللهِ عَلَيْكَ وَكَرَامَتِهِ:

د وس مطابق لباس اغوستل: د حديث حاصل دا دي چه چا له الله تعالى د مال نعمت ورکړي وي نو هغوی له پکار دی چه د درميانه درجه لباس اغوندلو عادت جوړ کړي نه دي ډير ښه او نه دي ډير بيکاره لباس اغوندی، او کله کله د شکر دپاره دې ځه او ښکولی لباس اغوندی نه د فخر په توګه ځکه چه د الله تعالى د نعمت اظهار وکړي شي او انکساري عاجزي دپاره دي هم کله کله کمزوری لباس اغوندی.

حضرت شيخ عبدالحق محدث دهلوی رحمه الله فرماني چه د کپړي خريدل او په دي باندې پيوند لګول دا يو محبوب عمل دي او دا د ايمان نخښه دي، ليکن د استطاعت باوجود کم قيمته کپړی اغوندل د بخل په بناء قبيح او مذموم دی.

[۴۳۵۳] د سرو د پاره د سرې جامې د اغوستلو حرمت

۴۳۵۳-[۴۴] (¹) [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا- قَالَ: [۲] «مَرَّ رَجُلٌ، وَعَلَيْهِ ثَوْبَانِ أَحْمَرَانِ، [۳] فَسَلَّمَ عَلَى النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت عبدالله ابن عمرو رضي الله عنه وايي [۲] چې يوه ورځ يو سړي دوه سرې جامې اغوستې تير شو، [۳] او نبي کريم ﷺ ته يې سلام وکړو حضور ﷺ د هغه د سلام جواب ورنه کړو. (ترمذي ابوداؤد)

تسهيلات:

قوله: فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ:

د تنبيه په غرض د ګناهګار د سلام جواب نه ورکول: يعنی دغه سړی سور لباس اغوستې وو نبی کريم دَهغه دَ سلام جواب ورنه کړو. دې نه معلومه شوه چه سور رنګ والا لباس استعمالول منع دی. دَدې حديث نه داهم معلومه شوه چه دَ فاسق مجاهر دَ سلام جواب ورکول لازم نه دی او په هغوی باندې په سلام کښې روميې والې کول په طريقه اولی منع دی.

[۴۳۵۴] د نبی عليه السلام يو څو کارو نه نه کول

۴۳۵۴-[۴۵] (²) [۱] وَعَنْ «عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا- أَنَّ نَبِيَّ اللهِ قَالَ: [۲] لَا أَرْكَبُ الْأُرْجُوَانَ، [۳] وَلَا

(¹) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب اللباس/باب فی الحمرة (رقم-۴۰۶۹) والترمذی فی كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی كراهية لبس المعصفر للرجل والقسی (رقم-۲۸۰۷)

(²) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب اللباس/باب من كرهه (رقم-۴۰۴۸) واحمد فی المسند: ۴۴۲/۴

أَلْبَسُ الْمُعَصْفَرَ ۞ وَلَا أَلْبَسُ الْقَمِيصَ الْمُكَفَّفَ بِالْحَرِيرِ" ۞ وَقَالَ: " أَلَا وَطِيبُ الرِّجَالِ رِيحٌ لَا لَوْنَ لَهُ ۞ وَطِيبُ النِّسَاءِ لَوْنٌ لَا رِيحَ لَهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۞ او د حضرت عمران ابن حصين رضي الله عنه نه روايت دي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل ۞ زه په ارغواني (يعني د سور رنګ) زين پوښ نه سپريږم. ۞ نه زه د کُسم رنګ شوي جامه اچوم. ۞ او نه زه هغه قميص وغيره اچوم، چې په هغې ريښمني ګوټ او کناره لګيدلې وي. ۞ بيا يې وفرمايل چې ياد لرئ: سړي چې کومه خوشبو لګوي، هغه داسې کيدل پكار دي، چې د هغې خوشبو وي، خو رنګ يې نه وي (لکه ګلاب او عطر وغيره، چې رنګ دار خوشبو سره جامې رنګينې نشي) ۞ او ښځې چې کومه خوشبو لګوي، هغه دې داسې وي، چې په هغې کې رنګ خو وي خوشبو پکښې نه وي. (لکه زعفران او نکريزې وغيره، چې د هغې خوشبو بهر ته د وتلو سره د سړو د پاره د فتنې او ابتلاء سبب جوړ نشي) (ابوداؤد)

حل اللغات: ① الْأُرْجُوَانَ: زين پوش او ګدئ، چه دَ سور رنګ وي ② الْمُكَفَّفَ: ګنډلې شوې. ③ الْمُعَصْفَرَ په سور رنګ کښې رنګ شوې دَ سره جامه

تسهيلات:

قوله: لَا أَرْكَبُ الْأُرْجُوَانَ.

د ارجوان په تحقيق کښې درې اقوال: ① دا لفظ دَ أرغوان معرب دې ارغوانی رنګ سور وی. ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی چه دا وړه شان ګدئی وه چه دَ کيناستو دپاره به په زين باندې کيخودې شوه کوم ته چه زمين پوش وائی. مطلب داچه زه په داسې سورلئی بندې نه سوريږم دَ کوم زين پوش چه دَ سوررنګ وی.

② علامه خطابی رحمه الله فرمائی هم دې دا په نورو احاديثو کښې الميائرالحمر په نوم سره ياد کړې شوې دې چه په حقيقت کښې دَ ريښمواو ديباج نه تياروليې شو

③ بعضې اهل لغت أرغوان داسې ونه ګرځوی دَ کومې ګلونه چه سره وی. ډيرواهل لغت ارجوان سور رنګ ګرځولې دې

د ممانعت په وجه کښې دوه احتمالات: ① دا ممانعت يادَ سور رنګ دَ وجهې دې ملاعلی قاری رحمه الله سور رنګ راجح ګرځولې دې او وئی فرمائيل چه کله دَ سور رنګ په کپړه باندې کيناستل منع دی نودَې اغوستل به خومره سخت منع وی

② دا ممانعت دَ ريښمودَ وجهې دې

قوله: وَلَا أَلْبَسُ الْقَمِيصَ الْمُكَفَّفَ بِالْحَرِيرِ

په حديثونو کښې تعارض: يعنی په کوم کښې چه جالر او ريښمی غاړه لګيدلې وی. په دې

حديث كښې دَمكفف قميص اغوستلو ممانعت راغلې دې. دَدې نه وړاندې دَ حضرت اسماء حديث ١٨ كښې دَنبى كريم دَ جبې سره مكفوفين الفاظ مذكور دى. په دواړو احاديثو كښې په ظاهره تعارض دې.

د تعارض دوه جوابونه: ① دَ ځلوروګوتو برابر دَريښمو دَ پټئى اجازت دې دَدې نه دَزياتې نه دې. داحديث دَ ځلوروګوتو نه دَ زيات په ممانعت باندې محمول دې

② دَحضرت اسماء ﷞ حديث په فتوىٰ باندې محمول دې او زير بحث حديث په تقوىٰ باندې محمول دې

[۴۳۵۵] دلسو خبرو ممانعت

۴۳۵۵-[۳۶] ()۱ وَعَنْ أَبِي رَيْحَانَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: ۲ "«نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَنْ عَشْرٍ: ۳ عَنِ الْوَشْرِ، ۴ وَالْوَشْمِ، ۵ وَالنَّتْفِ، ۶ وَعَنْ مُكَامَعَةِ الرَّجُلِ الرَّجُلَ بِغَيْرِ شِعَارٍ، ۷ وَمُكَامَعَةِ الْمَرْأَةِ الْمَرْأَةَ بِغَيْرِ شِعَارٍ، ۸ وَأَنْ يَجْعَلَ الرَّجُلُ فِي أَسْفَلِ ثِيَابِهِ حَرِيرًا مِثْلَ الْأَعَاجِمِ، ۹ أَوْ يَجْعَلَ عَلَى مَنْكِبَيْهِ حَرِيرًا مِثْلَ الْأَعَاجِمِ، ۱۰ وَعَنِ النُّهْبَى، ۱۱ وَعَنْ رُكُوبِ النُّمُورِ، ۱۲ وَلُبُوسِ الْخَاتَمِ ۱۳ إِلَّا لِذِي سُلْطَانٍ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ۱ اوحضرت ابو ريحانه ﷜ وايي ۲ چې رسول الله ﷺ د لسو خبرو نه منع فرمايلي ده، ۳ د غاښونود تراشلو [تيره كولو] نه ۴ (د بدن په يوه حصه) د خال وهلو نه، ۵ وېښتانو د اوخكلو نه، ۶ د سړي د سړي سره د څملاستلو نه، په منځ كې څه جامه نه وي، ۷ د ښځې د ښځې سره د پريوتلو نه، په منځ كې يوه جامه حائله نه وي، ۸ او حضور ﷺ د دې نه هم منع وفرمايله، چې سړي د خپلې جامې لاندې د ريښمو استر اولګوي، څرنګه چې عجمي خلق يې لګوي، ۹ يا د عجمي خلقو په شان په اوږو د ريښمي جامه لګولو نه، ۱۰ او حضور ﷺ د چا مال لوټ كولو نه، ۱۱ او د شرمخ د څرمن په زين د سوريدو نه منع فرمايلي ده، ۱۲ او حضور ﷺ د دې نه منع فرمايلي ده، چې يو سړي د مُهر والاګوتمه په ګوته كړي، ۱۳ خو دا چې هغه صاحب حكومت وي (ابوداؤد نسائي)

حل اللغات: ① الْوَشْر: دغاښونو تراشل او نرى كول. ② الْوَشْم: خال لګول. ③ النَّتْف: وېښته ويستل. ④ مُكَامَعَةِ الرَّجُل: د سړو يو بل سره څملاستل. ⑤ بِغَيْرِشِعَار: بغير د غلاف او پردې نه. ⑥ رُكُوب: سوريدل. ⑦ النُّهْبَى: لوټ مار، غلا دهاكه. ⑧ النُّمُور: دَنمرة جمع ده دَ پړانګ اوشرمخ څرمن ته وائي.

() اخرجه ابوداود فى السنن كتاب اللباس/باب من كرهه (رقم-۴۰۴۹) والنسائى فى كتاب الزينة/باب النتف (رقم-۵۰۹۱) واحمد فى المسند: ۱۳۴/۴

تسهیلات:

قوله: اَلْوَشْرِ

د ښاپونو د تراشلو د ممانعت وجه: په عربو کښې زړو ښځو خوانانوجینکوسره په حسن کښې دَمشابهت دَپاره بدرنګه غاښونه دَ اطرافونه تراشل اوښکلې به ئې جوړول دَدې نه ممانعت راغلو ځکه چه په دې کښې په خلق الله کښې تغیر دې

قوله: وَالنَّتْفِ

د نتف دری مصداقات: ① دَښځودَپاره دَخپل تندی واړه ویښته راویستل منع دی چه هسې بې ځایه زیب اوزینت دې اودَتغییرخلق الله امکان هم دې

② یوسړې دَ سر یا دَ ږیرې نه سپین ویښته دَ ښائست اختیارولودَپاره راوباسی دا منع دی ځکه چه دا بې ځایه زینت اختیارول دی.

③ دَمصیبت په وخت دَ ویښتو شوکول مراد دی کوم چه منع دی.

قوله: وَعَنْ مُكَامَعَةِ الرَّجُلِ الرَّجُلَ بِغَيْرِ شِعَارٍ

د مکامعة صورت: یعنی بغیردَ څه پردې نه دوه سړی په یوځائی بربنډ سملاستونه منع کړې شوی دی دغه شان ښځې هم منع کړې شوی دې. دَ شعارمعنی بدن سره لګیدلې کپړه ده مرادحائل اوپرده ده.

قوله: أَوْ يَجْعَلَ عَلَى مَنْكِبَيْهِ حَرِيرًا مِثْلَ الْأَعَاجِمِ:

په جامو کښې د ریښمو د استعمال ممانعت: یعنی دَ عجمو په شان په کپړوکښې دَ څه قسم ریښمو پټئی لګول منع دی که هغه اوګه وی اوکه بل څه مقام وی په دې شرط چه دَ څلوروګوتونه زیاته وی.

قوله: النُّمُورِ

دشرمخ په څرمن دکیناستود ممانعت وجه: دَ پړانګ څرمن ته وائی. په دې باندې کیناستل دَ عجمیانو عادت وو اوس دَعربو عادت شوې دې. په دې سره تکبرهم راځی او کیدې شی چه دَ ښناورتوب اثر هم پیدا کیږی.

قوله: الْخَاتَمِ

د ګوتمې د استعمالولو حکم: دَ دول سینګار په غرض سره بغیردَ ضرورت نه ګوتمه استعمالولو ممانعت دې اوکه څوك بادشاه.قاضی وغیره حاکم وی نودَهغه دَپاره دَ ضرورت په وجه په محدود پیمانه باندې جائزده. وائی چه دَعوامودَپاره کوم کراهت وو هغه منسوخ شوې دې اوس دَ جائزحده پورې دَټولودَپاره جائزدی.

[۴۳۵۶] په سرو باندې د بعضې لباس حرمت

۴۳۵۶- [۳۷] (¹) [۱] وَعَنْ عَلِيٍّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] «نَهَانِي رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَنْ خَاتَمِ الذَّهَبِ، [۳] وَعَنْ لُبْسِ الْقَسِّيِّ [۴] وَالْمَيَاثِرِ.» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُودَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ. [۵] وَفِي رِوَايَةٍ لِأَبِي دَاوُدَ قَالَ: "«نَهَى عَنْ مَيَاثِرِ الْأُرْجُوَانِ».

ترجمه: [۱] او حضرت علي (رض) وايي چې حضور ﷺ زه منع کړم د سرو زرو د ګوتۍ نه [۲] او د قسّي اغوستلو نه [۳] او د میاثر د استعمالولو نه (ترمذي، ابوداؤد، نسائي، ابن ماجه) [۵] او د ابوداؤد رحمه الله په یو روایت کې داسې دي چې حضرت علي (رض) اوویل چه حضور ﷺ د ارغواني یعنی سرو میاثر استعمالولو نه منع وفرمایله.

حل اللغات: ① لُبْسِ الْقَسِّيِّ: قسی کپړه، ② الْقَسِّيِّ: د مصر د یو ښار نوم دي. ③ وَالْمَيَاثِرِ: د میثرة جمع ده، د سور رنګ زین پوښ اوګدۍ چه عام طور به ریښمی وو. ④ الْأُرْجُوَانِ: زین پوش او ګدۍ، چه دَ سور رنګ وی.

تسهیلات:

قوله: وَعَنْ لُبْسِ الْقَسِّيِّ:

د قسی وضاحت: (قسی) منسوب دي قس ته کوم چه په مصر کښ د یو ځائي نوم دي، په دې کپړه کښې ریښم ګډ وی، او یو قول په دې کښې دا دي چه قص په اصل کښ قز وو زْ په سین سره بدله کړې شوه، او قز وائی ریښمو ته.

قوله: وَعَنْ لُبْسِ.... الْمَيَاثِرِ:

د میثرة د حرمت دوه وجوهات: ① دا دَ میثرة جمع ده زین اوکتې ته وائی. علماؤ لیکلی دی چه چونکه دا به دَریښم وو په دې وجه ممنوع ګرځولې شوې دې.

② ملاعلی قاری رحمه الله دَ سور رنګ کیدو په وجه هم دې ته ممنوع وائی. نودا دَتکبر او خان خودلو دَ وجهې ممنوع دي. نوبیا به هره یوه سره کپړا لاندې باندې استعمالول خلاف اولی وی.

[۴۳۵۷] د ریښمو او شرمغ د څرمن په زین باندې دکیناستو ممانعت

۴۳۵۷- [۳۸] (²) [۱] وَعَنْ مُعَاوِيَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] «لَا تَرْكَبُوا الْخَزَّ وَلَا النِّمَارَ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت معاویه رضی الله عنه وایي چی رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] تاسو خلق د خزّ او د

(¹) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب اللباس /باب من کرهه (رقم-۴۰۵۱) والترمذی فی کتاب اللباس عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب ماجاء فی کراهیة خاتم الذهب(رقم-۱۷۳۷) والنسائی فی کتاب الزینة /باب خاتم الذهب(رقم۵۱۶۶)

(²) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب اللباس /باب فی جلود النمور والسباع (رقم-۴۱۲۹) وابن ماجه فی کتاب اللباس . باب رکوب النمور (رقم-۳۶۵۶) وابن ماجه فی کتاب اللباس ، باب المیاثر الحمر (رقم-۳۶۵۴) واحمد فی المسند: ۱۲۷/۱۰

شرمخ د څرمني په زين مه سوريږئ. (ابوداؤد نسائي)

حل اللغات: ① الْخَزَّ: د ورئ او ريښمونه جوړه شوي کپړه، ② النِّمَارَ: دَ نمرة جمع ده دَ شرمخ څرمن ته وائي.

تسهيلات:

قوله لَاتَرْكَبُواالْخَزَّ

د خز په مصداق کښې دوه اقوال: ① که چرې دَ خزنه خالص ريښم مراد وی نوبيابه دَدې استعمال حرام وی

② که دَ پخوانئ زمانې دَ ورئي سره مخلوط څه کپړه مرادوی نوبيابه په کراهت تنزيهی باندې دا حديث محمول وی.

[۴۳۵۸] د سور زين پوښ ممانعت

۴۳۵۸—[۴۹] () [۱] وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-: [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- نَهَى عَنِ الْمِيثَرَةِ الْحَمْرَاءِ». رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ".

ترجمه: [۱] او د حضرت براء ابن عازب ﷺ نه روايت دي [۲] چې نبي کريم ﷺ د سور زين پوښ نه منع فرمايلي ده. [شرح السنه]

حل اللغات: ① الْمِيثَرَةِ الْحَمْرَاءِ: زين پوش او ګدئ، چه دَ سور رنګ وی.

نوټ: د ميثرة وضاحت ددې څخه وړاندې حديث نمبر (۴۳۵۸) کښې تيرشو

[۴۳۵۹] د نبی کريم ﷺ د وېښتا نو سپينوالي

۴۳۵۹—[۵۰] () [۱] وَعَنْ أَبِي رِمْثَةَ التَّيْمِيِّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] «أَتَيْتُ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَعَلَيْهِ ثَوْبَانِ أَخْضَرَانِ [۳] وَلَهُ شَعْرٌ قَدْ عَلَاهُ الشَّيْبُ [۴] وَشَيْبُهُ أَحْمَرُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. [۵] وَفِي رِوَايَةٍ لِأَبِي دَاوُدَ: وَهُوَ ذُو وَفْرَةٍ وَبِهَا رَدْعٌ مِنْ حِنَّاءٍ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابورمثه تيمي ﷺ وايي [۲] چې زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شوم، نو هغه وخت د حضور ﷺ په بدن دوه شني جامي وي [يعني حضور ﷺ چې کومې دوه جامي اغوستې وي، هغه يا خو د خالص شين رنګ وي يا په هغې کې د شين رنګ کرښې وي] [۳] او د حضور ﷺ د سر او ږيرې په لږو وېښتانو د سپين ږيرې توب

[1] اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الترجل /باب فی الخضاب (رقم-۴۲۰۶) والترمذی فی كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الثوب الأخضر (رقم-۲۸۱۲)والنسائی فی كتاب الزينة/باب لبس الخضر من الثياب (رقم-۵۳۱۹) واحمد فی المسند: ۲۲۶/۲

[2] اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الترجل /باب فی الخضاب (رقم-۴۲۰۶) والترمذی فی كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الثوب الأخضر (رقم-۲۸۱۲)والنسائی فی كتاب الزينة/باب لبس الخضر من الثياب (رقم-۵۳۱۹) واحمد فی المسند: ۲۲۶/۲

(یعني د سپینوالي) غلبه وه.[۴] او د حضورﷺ سپین ویښتان سور رنګ ته مائل وو (ترمذي)[۵] او د ابوداؤد رحمه الله په یو روایت کې داسې دي چې حضورﷺ وفره والا وو (یعنی د حضور ﷺ د سر ویښتان د غوږونو تر نرمۍ وو) او په هغه ویښتانو کې د نکریزو رنګ وو.

حل اللغات: ① عَلَاةُ الشَّيْبُ: سپینوالي پرې راغلي وو، ① وَفْرَةٌ: د سر ویخته چه د غوږونو د نرمۍ پورې وی ② رَدْعٌ: رنګ، ③ حِنَّاءٌ: نکریزې.

تسهیلات:

قوله: وَعَلَيْهِ ثَوْبَانِ أَخْضَرَانِ:

د اخضران په مفهوم کښې دوه اقوال:

① دا بیخی شنه کپړا وه. دَنبی کریم شین رنګ خوښ وو.

② په هغې کښې شنې کرښې وې

قوله: رَدْعٌ مِنْ حِنَّاءٍ: حنانکریزوته وائی. او ردع دَهغې رنګ ته وئیلې شوې دې یعنی په هغه ویښتو کښې دَنکریزو رنګ وو.

اشکال: دَنبی کریم په سر او ږیره مبارکه کښې یو څو ویښته سپین وو چه دَ شلونه زیات نه وو. نوبیا په نکریزو باندې د ویښتو سره کولو څه ضرورت نه وو حالانکه دلته په حدیث کښې د ویختو د سره کولو ذکر دې.

د اشکال جوابونه: ① په یوڅو ویښتوکښې رنګ مراد وی

② دَ عطرو دَاستعمال دَ وجهې ویښته سره ښکاریدل

③ دا څه وقتی معامله وی. د نبی علیه السلام مستقله طریقه نه وه.

[۴۳۶۰] د نبی علیه السلام قطري څادراغوستل

۴۳۶۰—[۵۱] (¹)[۱] وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-: [۲]«أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- كَانَ شَاكِيًا، [۳] فَخَرَجَ يَتَوَكَّأُ عَلَى أُسَامَةَ، [۴] وَعَلَيْهِ ثَوْبٌ قِطْرٍ [۵] قَدْ تَوَشَّحَ بِهِ [۶] فَصَلَّى بِهِمْ». رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ".

ترجمه: [۱] او د حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دې [۲] چی نبي کریمﷺ کوم وخت بیمارووو[۳] نو په داسې حالت کې یې بهر (مسجد ته) تشریف راوړو، چې په اسامه رضی الله عنه یې سهاره کړې (ده لګولې) وه، [۴] او په بدن مبارك یې د قطر جامه وه، [۵] چې د ځان نه یې چاپیره کړې وه، [۶] بیا حضورﷺ صحابه و رضی الله عنهم ته مونځ ورکړو. (شرح السنه)

حل اللغات: ① شَاكِيًا: د شکایت نه دې، یعنی بیمار وو، ② يَتَوَكَّأُ: تکیه ئې لګولې وه، سهاره ئې اخستې وه، ③ قِطْرٍ: دَ بحرین په علاقه کښې دَ یوښار نوم وو. یا په یمن کښې قطر طرف ته نسبت

(¹) اخرجه احمد فی المسند: ۳/۲۱۲

دي، ۞تَوَشَّحَ: تَوَشُّحٌ: دَ بدن نه راتاوولوته توشح وائی. دَ وشاح په شان نی په سرکړې وو وشاح هار او امیل ته وائی.

تسهیلات:

قوله: وَعَلَيْهِ ثَوْبٌ قِطْرٍ.

د قطری په نسبت کښې دوه اقوال: ① یوقسم څادر ته وائی په کوم کښې چه به سرې کرښې وې او په یمن کښې به جوړیدلو

② قطری دَ قطرطرف ته چه دَ بحرین په علاقه کښې دَ یوښار نوم وو. هغې طرف ته نسبت دې. یعنی دا څادر دَ هغه خائی جوړوو. نن صباقطر دَ یوملك نوم دې

[۳۳۹] د نبی علیه السلام پیرې جامې اغوستل

۳۳۹—[۵۲] ()[۱] وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا- قَالَتْ: [۲]«كَانَ عَلَى النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ثَوْبَانِ [۳] قِطْرِيَّانِ غَلِيظَانِ، [۴] وَكَانَ إِذَا قَعَدَ فَعَرِقَ [۵] ثَقُلَا عَلَيْهِ، [۶] فَقَدِمَ بَزٌّ مِنَ الشَّامِ لِفُلَانٍ الْيَهُودِيِّ. [۷] فَقُلْتُ: لَوْ بَعَثْتَ إِلَيْهِ فَاشْتَرَيْتَ مِنْهُ ثَوْبَيْنِ [۸] إِلَى الْمَيْسَرَةِ. [۹] فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ، [۱۰] فَقَالَ: قَدْ عَلِمْتُ مَا تُرِيدُ، [۱۱] إِنَّمَا تُرِيدُ أَنْ تَذْهَبَ بِمَالِي.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه ﷺ وايي[۲] چې [په یوه زمانه کې] د نبي کریم ﷺ په بدن مبارك چې کومي دوه جامي وي، [۳] هغه قطري وي، او [ډیري] غټي (پیرى) وي، [۴] حضور ﷺ چې به [زیات وخت] کیناستو، او خوله به پرې راغله، [۵] نو هغه جامي به یې په بدن درني شوي، [چې د هغې په وجه به حضور ﷺ ته تکلیف وو]، [۶] آخر [یوه ورځ] کله چه د فلاني یهودي (چې د هغه نوم دلته نه دي ذکر شوي) د شام نه جامه راغله. [۷] نو ما عرض وکړو که تاسو ﷺ یو سړي هغه یهودي ته ولیږئ، چې د هغه نه دوه جامي واخلي، [نو ښه به وي، تاسو ﷺ به د دې تکلیف نه خلاص شئ، کوم چې د دې جامو په وجه تاسو پورته کوئ] [۸] په وعده د فراغت [یعني په دې وعده چې کله د یو خاي نه څه راشي نو قیمت به اداء کړل شي] [۹] حضور ﷺ [زما دا مشوره قبوله کړه، او] یو سړي یې په مذکوره وعده د جامي اخستلو د پاره هغه یهودي ته ولیږلو. [۱۰] [هغه سړي یهودي ته رسیدو سره چې کله جامه وغوښتله] نو هغه ورته اوویل ستا چې کومه اراده ده زه په هغې پوهه یم. [۱۱] ته د دې نه علاوه نور هیڅ نه غواړي، چې دا وخت ته په وعده زما جامه یوسي [بیا وروسته د قیمت د اداء کولو نه انکار وکړي، په ظاهره د دې الفاظو مخاطب هغه سړي وو، لیکن په حقیقت کې د هغې خطاب رسول الله ﷺ ته وو، بیا هغه سړي واپس راغلو، حضور ﷺ

() اخرجه الترمذی فی السنن کتاب البیوع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الرخصة فی الشراء إلی أجل (رقم-۱۲۱۳) والنسائی فی کتاب البیوع/باب البیع إلی الأجل المعلوم (رقم-۴۶۲۸) واحمد فی المسند: ۱۴۷/۶

ته يي د يهودي قول نقل كړو]

حل اللغات: ① قِطْرِيَّانِ: دوه قطرى څادرونه، دَ بحرين په علاقه كښې دَ يوښار نوم وو. يا په يمن كښې قطر طرف ته نسبت دي. ② غَلِيظَانِ: د غليظ تثنيه ده، پير، غټ. ③ فَعَرِقَ: خوله به شوې. ④ ثَقُلَا: درنې به شوې. ⑤ بَزٌّ: يو قسم كپړې.

> ① فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كَذَبَ، ② قَدْ عَلِمَ أَنِّي مِنْ أَتْقَاهُمْ ③ وَآدَاهُمْ لِلْأَمَانَةِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل چې هغه يهودى دروغ ويلي دي، ② او هغه په خپله هم پوهيږي [چې هغه بالكل د دروغ خبره د خپلې ژبې نه ويستلې ده، حقيقت دا دي چې هغه د تورات په ذريعه په دې خبره ښه پوهيږي] چې زه د ټولو خلقو نه زيات متقي او پرهيز ګاريم، ③ او د هغوئ نه زيات په ښه شان امانت اداء كونكې يم. ‹ترمذي نسائي

حل اللغات: ⑥ أَتْقَاهُمْ: ددوى دټولو نه زيات تقوى دار، ⑦ وَآدَاهُمْ: او ادا كونكې

تسهيلات:

قوله: لَوْ بَعَثْتَ إِلَيْهِ فَاشْتَرَيْتَ مِنْهُ ثَوْبَيْنِ إِلَى الْمَيْسَرَةِ.

د لو په تركيب كښې دوه احتمالات: ① لو شرطيه دي او دَ شرط جواب محذوف دي

② لو د تمنا دپاره دي. په دې صورت كښې محذوف ته څه ضرورت پاتې نشو.

قوله: أَنِّي مِنْ أَتْقَاهُمْ وَآدَاهُمْ لِلْأَمَانَةِ:

د نبى عليه السلام امانتداري: يعنى نبى كريم سړي وراوليږلو هغه په قرض باندې دَ اخستلو خبره اوكړه نوهغه بدبخت يهودى اوونيل چه اوجى ماته پته ده چه ته يا هغه به زما مال خوړل غواړنى كله چه دَ قاصد دَخبرې علم نبى كريم ته اوشو نونبى كريم اوفرمائيل چه يهودى دَ عناد په توګه دروغ ونيلى دى ګنى هغه دَ تورات په ذريعه ښه معلومه ده چه زه دَ ټولو انسانانونه زيات دَ الله تعالى نه ويريدونكې يم

[۲۳۳] د سرو دپاره دګلابى رنګه جامو ممانعت

> ۲۳۳ـ[۵۳] (¹) ① «وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: ② رَآنِي رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ③ وَعَلَيَّ ثَوْبٌ مَصْبُوغٌ بِعُصْفُرٍ مُوَرَّدًا، ④ فَقَالَ: " مَا هَذَا " ⑤ فَعَرَفْتُ مَا كَرِهَ، ⑥ فَانْطَلَقْتُ فَأَحْرَقْتُهُ. ⑦ فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا صَنَعْتَ بِثَوْبِكَ؟ ⑧ قُلْتُ: أَحْرَقْتُهُ. ⑨ قَالَ: " أَفَلَا كَسَوْتَهُ بَعْضَ أَهْلِكَ؟ ⑩ فَإِنَّهُ لَا بَأْسَ بِهِ لِلنِّسَاءِ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت عبد الله ابن عمرو ابن عاص رضي الله عنهما وايي ② چې [يوه ورځ] رسول الله ﷺ

---

¹) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب اللباس/باب فى الحمرة (رقم-۴۰۶۸) وابن ماجه فى كتاب اللباس، باب كراهية المعصفر للرجال (رقم-۳۶۰۳) واحمد فى المسند: ۱۹۶/۲

زه وليدم.[۳] چه په کسم رنگ شوي گلابي رنگ جامه مې اغوستې وه [۴] نو وي فرمايل چې دا څه دي؟[۵] زه پوهه شوم چې حضور ﷺ زما دې جامې ته د ناخوښۍ په نظر کتلي دي.[٦] نو سمدستي لاړم او هغه جامه مې وسوزوله.[۷] ابيا چې د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شوم)، نو پوښتنه يې وکړه تا د هغه جامې سره څه وکړو؟[۸] ما عرض وکړو چې ما هغه وسوزوله.[۹] حضور ﷺ وفرمايل تا هغه جامه خپلې يوې ښځې ته دې ولې نه ورکوله.[۱۰] ځکه چې د ښځو د پاره په دې قسم جامې کې څه حرج نشته (ابوداؤد).

حل اللغات: ① مَصْبُوغٌ: رنگ کړې شوې. ② بِعُصْفُرٍ: په کسم کښې رنگ شوې سره کپړه ③ مُوَرَّدًا: داد ورد نه دې گلابي رنگ ته وائي يعني په گلابي رنگ کښې رنگ کړې شوې سره کپړه

تسهيلات: قوله: وَعَلَيَّ ثَوْبٌ مَصْبُوغٌ بِعُصْفُرٍ مُوَرَّدًا:

د سړو دپاره د سور او زېړ رنگ په استعمال کښې تفصيل: د ائمه ثلاثه په نزد د سړي دپاره لباس احمر بغير د کراهت نه جائز دې او د احنافو اقوال په دې کښې مختلف دي د بعضو د کلام نه معلوميږي چه مکروه تحريمي او د بعضو بلکه د اکثرو د کلام نه مکروه تنزيهي وغيره وغيره تردې چه يو قول پکښې د استحباب هم دې په شامي کښې د دې پوره تفصيل دې د علامه شامي ميلان زيات نه زيات د کراهت طرف ته معلوميږي. او د سيد الطائفه حضرت اقدس گنگوهي د تقرير الکوکب الدري عبارت داسې دې (والمذهب في لبس الحمرة والصفرة ان المزعفر والمعصفر ممنوع عنه الرجال مطلقا والحمرة والصفرة غير ذلک، فالفتوى على جوازهما مطلقا لکن التقوى غير ذلک والله تعالى اعلم بالصواب واليه المرجع والمآب) يعني د سړو په حق کښې مزعفر او معصفر خو مطلقا ناجائز دي او حمرة او صفرة بيل څيز دې د هغې په باره کښې فتوى د جواز ده اگر چه د تقوى خلاف ده اهـ د دې حاصل هم دا شو چه احمر او اصفر دواړه د سړو په حق کښې خلاف اولى دي (ماخوذ از الدر المنضود)

[۳۳] د سور کربښېز څادر ذکر

۴۳۳۳–[۵۳] (۱)[۱] وَعَنْ هِلَالِ بْنِ عَامِرٍ، عَنْ أَبِيهِ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ:[۲] «رَأَيْتُ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِمِنًى[۳] يَخْطُبُ عَلَى بَغْلَةٍ[۴] وَعَلَيْهِ بُرْدٌ أَحْمَرُ[۵] وَعَلِيٌّ أَمَامَهُ يُعَبِّرُ عَنْهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت هلال ابن عامر د خپل پلار نه نقل کوي چې هغه اوويل[۲] چه ما رسول الله ﷺ په منى کې په خطبه ارشاد فرمايلو وليدلو.[۳] هغه وخت حضور ﷺ په خره سپور وو.[۴] او په بدن مبارك يې د سرو کربښو څادر وو.[۵] او حضرت علي (رض) يې مخې ته ولاړ وو چې د حضور ﷺ الفاظ يې خلقو ته رسول (ابوداؤد).

حل اللغات: ① بَغْلَةٍ: خره. ② بُرْدٌ: کربښو والا څادر. ③ يُعَبِّرُ: تعبير به نې کولو.

(۱) اخرجه ابوداود في السنن کتاب اللباس باب في الرخصة في ذلک (رقم-۴۰۷۳) واحمد في المسند: ۴۷۷/۳

تسهیلات:

قوله: وَعَلَيْهِ بُرْدٌ أَحْمَرُ:

دلته دَ برد احمرنه مراد هم هغه دَ کربښو والا څادر مراد دي خالص سره کپړه مرادنه ده.
لکه څنګه چې په قاموس کښې ليکلی دی "البرد بالضم ثوب مخلط" دَدې نه معلومه شوه چه برد کربښو والا کپړې ته وائي

قوله: وَعَلِيٌّ أَمَامَهُ يُعَبِّرُ عَنْهُ:

د آواز رسولو ضرورت وجه: چونکه دَحج موسم وو ګڼره زياته وه په دې وجه چه دَنبي کريم آواز مبارك ترکوم ځائي پورې رسيدلې شو دَهغه ځائي نه به وړاندې حضرت علي ﷺ دَنبي کريم قول رسولو په دې سره دَمکبرالصوت دَ استعمال قاعده حاصليږي يعني دَ لاؤډ سپيکر دَ استعمال جواز ملاويږي.

[۳۳۳] د نبي عليه السلام نفاست

۳۳۳-[۵۵] (¹) [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: [۲] «صُنِعَتْ لِلنَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بُرْدَةٌ سَوْدَاءُ، فَلَبِسَهَا، [۳] فَلَمَّا عَرِقَ فِيهَا وَجَدَ رِيحَ الصُّوفِ، [۴] فَقَذَفَهَا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه ﷺ فرمائي [۲] چې [يو ځل] د نبي کريم ﷺ د پاره تور څادر تيار کړل شو. کوم چې نبي عليه السلام استعمال کړو، [۳] خو چه کله د هغې په وجه پرې خوله راغله. او د هغې د اُون (وړئ) بوي وتل شروع شو، [۴] نو حضور ﷺ (د لطافت طبع او د ناګوارئ په بناء) هغه څادر وغورځولو (ابوداؤد).

حل اللغات: ① عَرِقَ: چه خوله شو، ② الصُّوفِ: وړئ، ③ فَقَذَفَهَا: نو اوئې غورزولو.

تسهيلات:

قوله: فَلَمَّا عَرِقَ فِيهَا وَجَدَ رِيحَ الصُّوفِ، فَقَذَفَهَا:

د وړئ جوړشوي څادر الوستل: دَ وړنې جوړشوې تور څادروو په دې کښې عمومًا خوله راځي دَ خولې او اوبو لګيدو سره دَ وړنې دَ کپړې نه يوقسم بدبوئي يعني سوړ بوئي راځي هم دَدغه بدبوئي دَ وجهې نبي کريم هغه کوزکړوځکه چه دَ نبي کريم معامله خود فرښتو سره وه

[۳۳۴] د نبي کريم ﷺ احتباء

۳۳۴-[۵۶] (²) [۱] وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «أَتَيْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۳] وَهُوَ مُحْتَبٍ بِشَمْلَةٍ [۴] قَدْ وَقَعَ هُدْبُهَا عَلَى قَدَمَيْهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

¹) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب اللباس/باب فى السواد (رقم-٤٠٧٤) واحمد فى المسند: ٢١٩/٦
٤٣٦٤ - (وعن عائشة قالت: صنعت) : بصيغة المجهول للنبى - صلى الله عليه وسلم - بردة) : نائب الفاعل (سوداء) : صفتها (فلبسها، فلما عرق فيها وجد ريح الصوف، فقذفها) : أى أخرجها وطرحها (رواه أبو داود) .
²) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب اللباس/باب فى الهدب (رقم-٤٠٧٥) واحمد فى المسند: ٦٣/٥

ترجمه: [۱] او حضرت جابر ﷺ وايي [۲] چې په يوه موقع زه د نبي كريم ﷺ په خدمت كې حاضر شوم.[۳] نو هغه وخت حضور ﷺ د يو څادر په ذريعه د احتباء په حالت كې ناست وو.[۴] او د هغه څادر غاړې د حضور ﷺ په قدمونو پرتې وې. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① مُحْتَبٍ: لاسونه راتاوولو سره كيناستل ② بِشَمْلَةٍ: څادر. ③ هُدْبُهَا: دهغې پلو. لمن.

تسهيلات:

قوله: وَهُوَ مُحْتَبٍ بِشَمْلَةٍ

دتعارض حل: وړاندې په حديث نمبر (۴۳۱۵) كښې د احتباء څخه منع راغلې وه اودلته نبي عليه السلام په خپله احتباء كړې ده هلته مونږ د احتباء دوه قسمونه بيان كړي وو په هغې كښې يو جائز وو. په دې حديث كښې دجائز صورت ذكر دې.

[۴۳۳۲] ښځې دپاره د شميس اچولو ثبوت

۴۳۳۲-[۵۴] (¹)[۱] وَعَنْ دِحْيَةَ بْنِ خَلِيفَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «أُتِيَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِقَبَاطِيَّ [۳] فَأَعْطَانِي مِنْهَا قُبْطِيَّةً [۴] فَقَالَ: "اصْدَعْهَا صَدْعَيْنِ [۵] فَاقْطَعْ أَحَدَهُمَا قَمِيصًا [۶] وَأَعْطِ الْآخَرَ امْرَأَتَكَ تَخْتَمِرُ بِهِ". [۷] فَلَمَّا أَدْبَرَ قَالَ: "[۸] وَأْمُرِ امْرَأَتَكَ أَنْ تَجْعَلَ تَحْتَهُ ثَوْبًا [۹] لَا يَصِفُهَا"». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت دحيه ابن خليفه ﷺ وايي[۲] چې [يو ځل] رسول الله ﷺ ته قبطي جامې راغلې.[۳] نو د هغې نه يې يوه قبطي جامه ماته راكړله.[۴] او وې فرمايل چې دا وشلوه دوه ټكړې يې كړه.[۵] په هغې كې د يوې نه ځان د پاره قميص جوړ كړه.[۶] او دويمه ټكړه خپلې ښځې ته وركړه، چې ځان د پاره څنې پړونې جوړ كړي.[۷] بيا چې دحيه ﷺ يعنى زه واپس تلم، نو حضور ﷺ وفرمايل[۸] او خپلې ښځې ته هدايت وكړه چې د دې قبطي جامې لاندې يوه بله كپړه ولګوي.[۹] چې [د دې جامې د باريك كيدو په وجه] د هغې ويښتان او بدن په نظر رانشي. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① بِقَبَاطِيَّ: دمصرى كپړې يوقسم. ② اصْدَعْهَا: دا اوشلوه او دوه ټكړې نې كړه ③ تَخْتَمِرُ: ددې نه لوپټه جوړه كړه ④ لَا يَصِفُهَا: معلوم نه شي، ښكاره نه شي

تسهيلات:

قوله: ثَوْبًا لَا يَصِفُهَا

د نرۍ جامې لاندې دشميس استعمال: يعنى كپړه دنرئ كيدو وجهې چه دبدن خط اوخال معلوم نه شي ښكاره نه شي. په دې وجه د دغه نرئ كپړې دلاندې دې څه بله كپړه واغوستلې شي دې دپاره چه بدن پټ شي اوكه يو كس دبدن بيان كول غواړي نو چه بيان اونه كړي. په دې وجه معلومه شوه چه دښځې دپاره نرئ كپړې اغوستل منع دي.

(¹) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب اللباس/باب فى لبس القباطى للنساء (رقم-۴۱۱۶) واحمد فى المسند: ۲۰۵/۵

[۳۳۶۷] د پروني په سر يو وَل ورکول کافي دي

۳۳۶۷ـ[۵۸] (¹) ١ «وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ ـ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا ـ ٢ أَنَّ النَّبِيَّ ـ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ـ دَخَلَ عَلَيْهَا ٣ وَهِيَ تَخْتَمِرُ ٤ فَقَالَ: "لَيَّةً ٥ لَا لَيَّتَيْنِ» ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه: ١ او د بي بي ام سلمه ﷺ نه روايت دي ٢ چې [يو خل] نبي کريم ﷺ د هغې کره تشريف راورو، ٣ هغه وخت هغې لوپټه په سر کړي وه. ٤ حضور ﷺ وفرمايل چې لوپټه به دې په سر يو وَل اچولې وه، ٥ د دويم ول ضرورت نه وو (ابوداؤد)

حل اللغات: ① تَخْتَمِرُ: لوپټه ئې په سرکړي وه، ② لَيَّةً: يو خل تاوول ③ لَيَّتَيْنِ: دوه خل تاوول.

تسهيلات:

قوله: فَقَالَ: "لَيَّةً لَا لَيَّتَيْنِ:

بلا ضرورته د زياتي جامې اغوستلو کراهت: يعنې په سرباندې دَ لوپټې يو پلؤ اچول دَ ستردَ پاره کافي دی په دووه پلؤونو اچولوکښې اسراف دې داسې نه ووکول. حضرت ام سلمة ﷺ لوپټه په سر باندې اينغښتې وه په کوم کښې چه دَ پټکی مشابهت هم وو اوداسې کول بې ضرورته هم وو په دې وجه نبی کريم منع کړه.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۳۶۸] د لنګ اوچت ساتلو حکم

۳۳۶۸ـ[۵۹] (²) ١ عَنِ ابْنِ عُمَرَ ـ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا ـ قَالَ: ٢ «مَرَرْتُ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ ـ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ـ ٣ وَفِي إِزَارِي اسْتِرْخَاءٌ. ٤ فَقَالَ: "يَا عَبْدَ اللّٰهِ! ارْفَعْ إِزَارَكَ" ٥ فَرَفَعْتُهُ، ثُمَّ قَالَ: "زِدْ" فَزِدْتُ. ٦ فَمَا زِلْتُ أَتَحَرَّاهَا بَعْدُ. ٧ فَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ: إِلٰى أَيْنَ؟ ٨ قَالَ: "إِلٰى أَنْصَافِ السَّاقَيْنِ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ حضرت ابن عمر ﷺ وايي ٢ چې [يوه ورځ] زه رسول الله ﷺ ته نزدې تير شوم. ٣ هغه وخت زما لنګ زوړند وو. ٤ حضور ﷺ وفرمايل چې اي عبدالله! خپل لنګ اوچت کړه. ٥ ما لږ شان اوچت کړو. حضور ﷺ وفرمايل چې لږ نور يې هم اوچت کړه، ما نور اوچت کړو ٦ ابيا ابن عمر ﷺ وويل] د حضور ﷺ د دې حکم نه پس زه برابر دې عمل [يعني د لنګ اوچت ساتلو] طرف ته متوجه يم. ٧ بعضې خلقو پوښتنه ورنه وکړه چې تاسو خپل لنګ څومره اوچت ساتې؟ ٨ وې فرمايل چې د پنډو تر نيمې (مسلم)

حل اللغات: ① اسْتِرْخَاءٌ: زوړند. ② أَتَحَرَّاهَا: ما به اوچت ساتلو. ③ أَنْصَافِ: نيمائی

¹) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب اللباس/باب فی الاختمار (رقم-۴۱۱۵) واحمد فی المسند: ۶/۲۹۶

²) اخرجه مسلم فی صحيحه رقم الحديث ۴۷/ ۲۰۸۶

تسهيلات:

قوله: فَمَازِلْتُ أَعْتَزُّهَا بَعْدُ

د نبي عليه السلام د حديث اهتمام: يعنى دَ دغه اندازې ما خيال ساتلو چه دَدې نه ازار ښكته لاړ نه شي خكه چه نبي كريم هم دغه خوښ كړې وو معلومه شوه چه دَ نصف ساق نه ازار پورته ساتل پكاردى آخرى حد دادې چه دَ ګيټونه پورته وى دې نه ښكته نه وى

نوټ: دَ ګيټونه ښكته لنګ يا پرتوګ ساتلو تفصيل وړاندې د حديث نمبر(۴۳۳۲) په شرح كښې تيرشوې دې

[۴۳۳۹] تر پنړكو لاندې دازار خوړندولو د حرمت اصل تكبر او غرور دې

۴۳۳۹-[۲۰]() ① وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ② "«مَنْ جَرَّ ثَوْبَهُ خُيَلَاءَ ③ لَمْ يَنْظُرِ اللَّهُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ". ④ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! إِزَارِي يَسْتَرْخِي ⑤ إِلَّا أَنْ أَتَعَاهَدَهُ. ⑥ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّكَ لَسْتَ مِمَّنْ يَفْعَلُهُ خُيَلَاءَ»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① او د حضرت ابن عمر ﵄ نه روايت دې چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② كوم سړي چې د تكبر له مخه خپل لنګ يا پرتوګ د پنړكو لاندې زوړندوي. ③ د قيامت په ورځ به الله تعالى هغه ته [د رحمت په نظر] ونه ګوري. ④ په دې اوريدو سره حضرت ابوبكر ﵁ عرض وكړو چې يا رسول الله! ﷺ [كله كله داسې كيږي چې زما د قصد او ارادې نه بغير] زما لنګ زوړند وي [او پنړكو ته يا د پنړكو لاندې ته رسيږي] ⑤ خو دا چې زه هر وخت د دې خيال ساتم [يعني كه زه هر وخت دې طرف ته متوجه يم، نو يقيناً زما لنګ لاندې نشي زوړنديدلي. ليكن د بعضې شرعي يا طبعي بنديزونو په وجه دې طرف ته هر وخت خيال ساتل ممكن نه دي. نو په داسې صورت كې زما د پاره څه حكم دې؟] ⑥ حضور ﷺ ورته وفرمايل ته په هغه خلقوكې نه يې چې د تكبرله مخه خپل لنګ يا پرتوګ زوړندوى (بخاري)

حل اللغات: ① خُيَلَاءَ: غرور، تكبر، ② يَسْتَرْخِي: رازوړنديږي

تسهيلات:

قوله: فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ:

د ابوبكر رضى الله په ژړه كښې دالله ويره: دَ لنګ زوړندولو وعيد چه كله ابوبكرصديق ﵁ واؤريدو نوهغوى پريشان شو اوعرض ئې اوكړو يارسول الله ﷺ زه ډيرزيات كوشش كوم چه لنګ راښكته نه شي ليكن دَ خيټې دَ غټوالى دَ وجهې كله كله راښكته كيږى نوآيا په دې كښې ګناه شته؟

() اخرجه البخاري في كتاب المناقب/باب قول النبي صلى الله عليه وسلم: «لو كنت متخذا خليلا» (رقم-۳۶۶۵) والنسائي في كتاب الزينة/باب إسبال الازار(رقم-۵۳۳۵)

نوټ: د کیتونه بنکته لنگ یا پرتوگ ساتلو تفصیل وړاندې د حدیث نمبر (۴۳۳۲) په شرح کښې تیر شوې دې.

[۴۳۷۰] د لنګ وهلو یوه مسنون طریقه

۴۳۷۰ - [۶۱] ( ) [۱] وَعَنْ عِكْرِمَةَ، قَالَ: [۲] «رَأَيْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - يَأْتَزِرُ [۳] فَيَضَعُ حَاشِيَةَ إِزَارِهِ مِنْ مُقَدَّمِهِ عَلَى ظَهْرِ قَدَمِهِ، [۴] وَيَرْفَعُ مِنْ مُؤَخَّرِهِ، [۵] قُلْتُ: لِمَ تَأْتَزِرُ هَذِهِ الْإِزْرَةَ؟ [۶] قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَأْتَزِرُهَا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

ترجمه: [۱] او حضرت عکرمه رحمه الله وایي [۲] چې ما حضرت ابن عباس رضي الله عنهما په لنګ اغوستو لیدلې وو [۳] چې د لنګ غاړه به ئې د خپلو قدمونو په شاه باندې کیخودله [۴] او د هغې شاتنئ غاړه به یې د پرکو نه اوچته ساتله [۵] نو ما حضرت ابن عباس رضي الله عنهما ته اوویل تاسو [کله کله] داسې لنګ ولې تړئ؟ [۶] وې فرمایل ما رسول الله ﷺ دغه شان لیدلې دې. چې حضور ﷺ به هم کله کله دغه شان لنګ تړلو. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① يَأْتَزِرُ: لنګ ئې تړلو، ② فَيَضَعُ: نو ساتل به ئې، ③ حَاشِيَةَ: غاړه، پلو.

تسهيلات:

قوله: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَأْتَزِرُهَا:

د لنګ وهلو یوه مسنون طریقه: په حدیث الباب کښې د لنګ وهلو یوه طریقه ذکر ده چه د مخکې حصې کناره (غاړه) دې لاندې وی او ورستی حصه دې بره وی، دارنګ د نبی کریم ﷺ نه کله کله لنګ وهل ثابت دی.

[۴۳۷۱] د پټکی تړلو حکم

۴۳۷۱ - [۶۲] ( ) [۱] وَعَنْ عُبَادَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«عَلَيْكُمْ بِالْعَمَائِمِ، [۳] فَإِنَّهَا سِيمَاءُ الْمَلَائِكَةِ، [۴] وَأَرْخُوهَا خَلْفَ ظُهُورِكُمْ»". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه: [۱] او حضرت عباده رضي الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] پټکئ تړل ضروري وګڼئ. [۳] ځکه چې پټکئ د فرښتو علامت دی (په دې طور چې د جنګ بدر په موقعه کومې فرښتې چې د مسلمانانو د مدد دپاره نازلې شوي وې، هغوئ پټکی تړلې وو. څرنګه چې الله تعالی فرمایي اَنْ يُّمِدَّكُمْ رَبُّكُمْ بِخَمْسَةِ اٰلَافٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُسَوِّمِيْنَ،) [۴] او د پټکی شمله په خپلې شا پریږدئ، ځکه چې ملائکې هم په دې هیئت سره راغلې وې (بیهقي في شعب الایمان)

حل اللغات: ① عَلَيْكُمْ: ضروری دی، لازم دی په تاسو، ② سِيمَاءُ: علامت، نښه، ③ وَأَرْخُوهَا: او پریږدئ.

( ) اخرجه ابوداود في السنن كتاب اللباس/باب في قدر موضع الازار (رقم-۴۰۹۶)
( ) اخرجه البيهقي في شعب الايمان رقم الحديث ۶۲۶۲

قوله: عَلَيْكُمْ بِالْعَمَائِمِ:

د حدیث مطلب: دا خبره مخکې تیره شوې ده چې پټکې وهل د لباس سنت دې.د مانځه سنت نه دې ددې وجې د پټکی اهتمام کول دې.اونبی علیه السلام هم د پټکی وهلو ترغیب ورکړې دې.

قوله: فَإِنَّهَا سِيمَاءُ الْمَلَائِكَةِ:

پټکی د فرشتوپه نښه کیدو کښې دوه اقوال: ① پټکې د فرښتو یو خاص علامت دې او ددې مطلب دا دې چه د رحمت فرښتی د خپل شان لائق نوری پټکې تړې،

② کله چه د رحمت فرښتی انسانی شکل کښې راخی نو پټکی سره راخی، لکه څنګه چه په رواياتو کښې راځي چه د غزوه بدر په موقع د مسلمانانو مدد دپاره چه کومی فرښتی راغلی وې نو هغوې زیړ رنګ پټکی وهلی وو او شملی ئې د دواړو ولو په مینځ کښې پرېښودلی وې

[۴۳۷۲]زنانو دپاره د نرو(باریکو) جامو کراهت

۴۳۷۲—[۲۳] (۱) ۱ وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا- ۲ «أَنَّ أَسْمَاءَ بِنْتَ أَبِي بَكْرٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- دَخَلَتْ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ۳ وَعَلَيْهَا ثِيَابٌ رِقَاقٌ، ۴ فَأَعْرَضَ عَنْهَا، ۵ وَقَالَ: "يَا أَسْمَاءُ! إِنَّ الْمَرْأَةَ إِذَا بَلَغَتِ الْمَحِيضَ ۶ لَنْ يَصْلُحَ أَنْ يُرَى مِنْهَا إِلَّا هَذَا وَهَذَا، ۷ وَأَشَارَ إِلَى وَجْهِهِ وَكَفَّيْهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ او د بي بي عائشه رضي الله عنها نه روایت دې ۲ چې [یوه ورځ] بي بي اسماء بنت ابي بكر رضي الله عنهما د رسول الله ﷺ په خدمت کې په داسې حالت کې راغله، ۳ چې د هغی په بدن باریکې جامې وې، ۴ حضور ﷺ په دې لیدو سره مخ ورنه واړولو، ۵ او وې فرمایل چې اې اسماء! (رضي الله عنها) ښځه چې د حیض حالت ته ورسیږي [یعني هر کله چې هغه بالغه شي] ۶ نو دا ورته هیڅ کله درست نه دې چې د هغې د بدن یوه حصه دې ولیدل شي، علاوه د دې نه او د دې نه ۷ دا ویلو سره حضور ﷺ د خپل مخ او د لاسونو طرف ته اشاره وکړه. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① رِقَاقٌ: نرئ، باریکې، ② أَعْرَضَ: مخ ئې واړولو، ③ بَلَغَتِ الْمَحِيضَ: اورسیږی حالت د حیض ته یعنی بالغه شی

تسهیلات:

قوله: أَنَّ أَسْمَاءَ بِنْتَ أَبِي بَكْرٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا:

د اسماء تعارف: اسماء بنت ابی بکر رضي الله عنهما دحضرت عائشه رضي الله عنها خور اود پیغمبر علیه السلام ښینې وه. د بالغ کیدونه پس هغې نرئی کپړې اچولې وې. نبی کریم منع کړه.

¹) اخرجه ابوداود في السنن كتاب اللباس/باب فيما تبدى المرأة من زينتها (رقم-٤١٠٤)

قوله: إِنَّ الْمَرْأَةَ إِذَا بَلَغَتِ الْمَحِيضَ

دمحيض څخه مراد: دې څخه مراد بلوغ دې څکه چه د حيض راتلل د بالغ کيدو علامت دې د دې حديث نه معلومه شوه چه کومې ښځې داسې نرئ کپړې اچولې وی چه د هغې لاندې د هغې بدن ښکاری نوهغه ښځه په حقيقت کښې د برېنډې ښځې په حکم کښې ده کومه چه د کاسيات عاريات مصداق ده.

قوله: وَأَشَارَ إِلَى وَجْهِهِ وَكَفَّيْهِ:

د ښځې دپاره د مخ د ښکاره کولوحکم: دې نه مراد د ښځې مخ او تلې دی په وجه د مجبورئ د ښځې دپاره دا ښکاره کول مجبوری ده. د دې مطلب دانه دې چه سړو له د دې طرف ته کتل جائزدی البته که د فتنې محل وی نود ښځې دپاره بغيرد څه وجهې مخ ښکاره کول منع کړې شوی دی.

[۴۳۷۴] د نوې جامو اغوستلو دعا

> ۴۳۷۴—[۲۳] ( )[۱] وَعَنْ أَبِي مَطَرٍ، قَالَ: [۲] «إِنَّ عَلِيًّا اشْتَرَى ثَوْبًا بِثَلَاثَةِ دَرَاهِمَ، [۳] فَلَمَّا لَبِسَهُ قَالَ: [۴] "الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي رَزَقَنِي مِنَ الرِّيَاشِ [۵] مَا أَتَجَمَّلُ بِهِ فِي النَّاسِ [۶] وَأُوَارِي بِهِ عَوْرَتِي " [۷] قَالَ: هَكَذَا سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابو مطر رضی الله عنه وايې [۲] چې يوه ورځ حضرت علي (رض) يوه جامه د درېو درهمو په عوض کې واغستله، [۳] چې هغه يې واغوسته، نو هغه اوويل [۴] چې ټول تعريفونه الله ﷻ لره دي چې هغه ماته د زينت والا د اسبابو نه هغه څيز عطا کړو، [۵] چې د هغې په ذريعه مونږ د خلقو مخکې آرائش هم کوو، [۶] او ستر هم پټوو، [۷] بيا حضرت علي (رض) اوويل چې دغه شان ما د رسول الله ﷺ نه هم د جامې د اغوستلو نه پس دا حمد وثنا ونيل اوريدلي دي (احمد)

حل اللغات: ① الرِّيَاشِ: د ريش جمع ده لباس ته وائی ② أَتَجَمَّلُ: زه پرې خان ښائسته کوم، ③ أُوَارِي: خان پټوم، ستر او عورت پټوم.

تسهيلات:

نوټ: دحديث مضمون آسان دې د مسنون دعا لوستل دی.

[1] اخرجه احمد فی المسند: ۱۵۷/۱

[۴۳۷۴]د نوي کپړو په اچولو مسنون دعا ویل

۴۳۷۴–[۶۵] ()[۱] وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲]«لَبِسَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - ثَوْبًا جَدِيدًا،[۳] فَقَالَ: الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي كَسَانِي مَا أُوَارِي بِهِ عَوْرَتِي[۴] وَأَتَجَمَّلُ بِهِ فِي حَيَاتِي،[۵] ثُمَّ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ:[۶] "مَنْ لَبِسَ ثَوْبًا جَدِيدًا فَقَالَ:[۷] الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي كَسَانِي مَا أُوَارِي بِهِ عَوْرَتِي،[۸] وَأَتَجَمَّلُ بِهِ فِي حَيَاتِي،

ترجمه: [۱] او حضرت ابو امامه رضي الله عنه وايي[۲] چې [یوه ورځ] حضرت عمر ابن خطاب رضي الله عنه نوي جامه واغوسته،[۳] نو دا يي اوويل چې ټول تعريفونه الله تعالیٰ لره دي چې ماته يي دا جامه د اغوستلو د پاره راکړله، چې د دې په ذريعه زه خپل ستر هم پټوم.[۴] او په خپل ژوند کې د خلقو په مخکې خپل آرائش هم کوم.[۵] بيا هغه اوويل چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا اوريدلي دي،[۶] چې کوم سړي د نوي جامې د اغوستلو نه پس داسې اووايي[۷] چې ټول تعريفونه الله تعالیٰ لره دي چې هغه ماته دا جامه د اغوستلو د پاره راکړله. چې د دې په ذريعه زه خپل ستر هم پټوم.[۸] او په خپل ژوند کې د خلقو په مخکې خپل آرائش هم کوم.

حل اللغات: ① أُوَارِي: خان پټوم، ستر او عورت پټوم،

ثُمَّ عَمَدَ إِلَى الثَّوْبِ الَّذِي أَخْلَقَ فَتَصَدَّقَ بِهِ، كَانَ فِي كَنَفِ اللّٰهِ، وَفِي حِفْظِ اللّٰهِ وَفِي سِتْرِ اللّٰهِ حَيًّا وَمَيِّتًا» "رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ. وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] او بيا هغه جامه چې زړه شوي ده (يعني کومه جامه چې هغه د خپل بدن نه خکته کړي ده) چاته د الله تعالیٰ د پاره ورکړي، نو هغه به خپل ژوند کې او د مرګ نه پس (يعني په دنيا کې هم او په آخرت کې هم) د الله تعالیٰ په پناه کې وي، د الله تعالیٰ په محافظت کې به وي. او د الله تعالیٰ د عفوي او مغفرت په پرده کې به وي (احمد ترمذي ابن ماجه، او ترمذي رحمه الله ويلي دي چې دا حديث غريب دي.

حل اللغات: ② أَخْلَقَ: چه زړه شوې ده ③ كَنَفِ اللّٰهِ: د الله په پناه کښې ④ سِتْرِ اللّٰهِ: په پرده (د مغفرت) دالله کښې،

تسهيلات:

نوټ: د ګرانو لغاتو حل په حل اللغات کښې اوشواودباقي حديث مضمون آسان دي چې د مسنون دعا لوستل دي.

---

[۱] اخرجه الترمذي في السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۳۵۶۰) وابن ماجه في كتاب اللباس . كتاب الطب/باب ما يقول الرجل إذا لبس ثوبا جديدا (رقم-۳۵۵۷) واحمد في المسند:۱/ ٤٤

[۴۳۷۵] د ښځو د پاره د باريکي جامي ممانعت

۴۳۷۵ – [۲٦] (¹) ۱ وَعَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ أَبِي عَلْقَمَةَ، عَنْ أُمِّهِ قَالَتْ: ۲ دَخَلَتْ حَفْصَةُ بِنْتُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَلَى عَائِشَةَ ۳ وَعَلَيْهَا خِمَارٌ رَقِيقٌ ۴ فَشَقَّتْهُ عَائِشَةُ ۵ وَكَسَتْهَا خِمَارًا كَثِيفًا. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت علقمه ابن ابي علقمه د خپل پلار نه روايت كوي، هغه بيان وكړو ۲ چې يوه ورځ د حضرت عبدالرحمن ابن ابي بكر رضي الله عنه لور حفصه رضي الله عنها بي بي عائشه رضي الله عنها ته په داسې حالت كې راغله، ۳ چې د هغې باريك پړوني په سر وو. ۴ بي بي عائشې رضي الله عنها ورته هغه باريك پړوني وشلوو، ۵ او يو غټ پړوني يې ور په سر كړو (مالك)

حل اللغات: ۱ رَقِيقٌ: نرې، باريک، ۲ فَشَقَّتْهُ: نو اونې شلولو. ۳ وَكَسَتْهَا: ورته نې په سر كړو. ۴ خِمَارًا: څادر، لوپټه، ۵ كَثِيفًا: پيړه، درنه

تسهيلات:

قوله: فَشَقَّتْهُ عَائِشَةُ وَكَسَتْهَا خِمَارًا كَثِيفًا.

دنرۍ لوپټې د اغوستلو ممانعت: چونكه د زنانو دپاره په شريعت كښې د پردې حكم دې. ددې وجې د دې لباس به داسې وى چې د دې بدن پټوى په دې حديث كښې عائشې رضى الله عنها د حفصه بنت عبدالرحمن د لور لوپټه نرۍ لوپټه اوشلوله او هغې ته ئې پيړه او دكه لوپټه وركړه د يو مسلمان په ملک كښې تصرف كول په عامو حالاتو كښې ټيک نه دى ليكن دلته حضرت عائشې رضى الله عنها دا تصرف د دې وجې اوكړو چې د هغوى په نظركښې د دې دا عمل د شريعت خلاف وو. ددې څخه زمونږ د زمانې نانۇ لره عبرت اخستل پكار دې چې د نورو جامو اولوپټو څخه خان اوساتى. نن صبا خو لوپټې دومره نرۍ دى چې د سر ويختہ ترې ښكارى اود ويښتو پټول ضرورى دې نود داسې لوپټو استعمالول حرام دى. دويمه دا كه په دغه لوپټه كښې مونځ كوى اوسر ئې ښكارى نو مونځ ئې هم نه كيږى. خكه چې په مانځه كښې د ستر پټول فرض دى اودفرض په پاتې كيدو باندې مونځ نه كيږى

[۴۳۷٦] په عهد رسالت كښې د عائشې رضي الله عنها فقر او زهد

۴۳۷٦–[۲۷] (²) ۱ وَعَنْ عَبْدِ الْوَاحِدِ بْنِ أَيْمَنَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: ۲ «دَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ ۳ وَعَلَيْهَا دِرْعٌ قِطْرِيٌّ ۴ ثَمَنُ خَمْسَةِ دَرَاهِمَ ۵ فَقَالَتْ: ارْفَعْ بَصَرَكَ إِلَى جَارِيَتِي، انْظُرْ إِلَيْهَا ٦ فَإِنَّهَا تُزْهَى أَنْ تَلْبَسَهُ فِي الْبَيْتِ ۷ وَكَانَ لِي مِنْهَا دِرْعٌ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۸ فَمَا كَانَتِ امْرَأَةٌ تُقَيَّنُ بِالْمَدِينَةِ ۹ إِلَّا أَرْسَلَتْ إِلَيَّ تَسْتَعِيرُهُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

¹) اخرجه مالک فی الموطا كتاب اللباس/باب ما يكره للنساء لبسه من الثياب (رقم-٦)
²) اخرجه البخاری فی كتاب الهبة وفضلها والتحريض عليها/باب الاستعارة للعروس عند البناء (رقم-۲٦۲۸)

ترجمه: ۱ او حضرت عبدالواحد ابن ايمن د خپل پلار نه نقل کوي چې هغه اوويل ۲ چه [يوه ورځ] زه د بي بي عائشي رضي الله عنها په خدمت کې حاضر شوم. ۳ هغه وخت د هغې په بدن (د مصر جوړه شوي) د قطري جامي قميص وو. ۴ چې د هغې قيمت پنځه درهمه وو. ۵ بي بي عائشي رضي الله عنها د خبرو په دوران کې ماته وفرمايل چې لږ زما دي وينزې ته خو وګوره. ۶ دا څومره غرور کوي، دا [په کور کې هم] د دې جامې اغوستلو ته تياره نه ده. [څه به يي بهر وا چوي] . ۷ حالانکې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې زما سره د دې قسم (يعني قطري) جامي يو قميص وو. ۸ او په مدينه کې چې به کومې ښځې (په خپل واده کې يا د بل چا د واده په وخت) خپل آرائش کول غوښتل. ۹ نو هغې به څوک راليږلو سره هغه قميص زما نه عاريتًا غوښتلو (بخاري)

حل اللغات: ① دِرْعٌ: قميص. ② قِطْرِيٌّ: دَ بحرين په علاقه کښې دَ يوښار نوم وو يا په يمن کښې قطر طرف ته نسبت دې. ③ تُزْهَى: سپک ګڼړي، خوشحاله نه دی. ④ تُقَيَّنُ: دَ تقيين نه دَ مجهول صيغه ده ډول سينګار ته وائي. يعني ښائسته کولې به شوه ⑤ تَسْتَعِيرُهُ: چه عاريتًا ئې غوښتلو

تسهيلات:

قوله: فَمَا كَانَتِ امْرَأَةٌ تُقَيَّنُ بِالْمَدِينَةِ إِلَّا أَرْسَلَتْ إِلَيَّ تَسْتَعِيرُهُ

د واده دپاره په عارية جامې غوښتل: چه کله دَ واده دَ شپې دَپاره ښځه ښائسته کولوسره په ډول سينګار باندې خاوند کره ليږلې شوه نوهغه ښځې به زما طرف ته قاصد راليږلو اودا قميص به ئې عارية غوښتلو دې دپاره چه په دغې سره زينت حاصل کړي په نن زمانه کښې دومره بدلون راغلو چه دَ شريف زاديانونه علاوه يوه وينزه په کورکښې دننه دَدې کپړې لباس اغوستلو دَپاره تياره نه ده

[۴۳۷۷] نبی کریم صلی الله علیه وسلم او ريښمي قباء

۴۳۷۷-[۲۸] (۱) ۱ وَعَنْ جَابِرٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: ۲ «لَبِسَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-يَوْمًا قَبَاءَ دِيبَاجٍ ۳ أُهْدِيَ لَهُ، ۴ ثُمَّ أَوْشَكَ أَنْ نَزَعَهُ، فَأَرْسَلَ بِهِ إِلَى عُمَرَ، ۵ فَقِيلَ: قَدْ أَوْشَكَ مَا انْتَزَعْتَهُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ ۶ فَقَالَ: "نَهَانِي عَنْهُ جِبْرَائِيلُ" ۷ فَجَاءَ عُمَرُ يَبْكِي، ۸ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَكَرِهْتَ أَمْرًا وَأَعْطَيْتَنِيهِ، ۹ فَمَا لِي؟ ۱۰ فَقَالَ: "إِنِّي لَمْ أُعْطِكَهُ تَلْبَسُهُ، ۱۱ إِنَّمَا أَعْطَيْتُكَهُ تَبِيعُهُ". ۱۲ فَبَاعَهُ بِأَلْفَيْ دِرْهَمٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت جابر رضي الله عنه وايي ۲ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم يوه ريښمي قباء واغوسته، ۳ چې د هديې په طور ورته راليږل شوي وه. ۴ ليکن سمدستي هغه قباء يې د بدن مبارك نه خکته کړه او حضرت عمر رضي الله عنه ته يې وليږله. ۵ صحابه ؤ رضي الله عنهم په دې ليدو سره عرض

(۱) اخرجه مسلم فی کتاب الأشربة /باب تحريم استعمال إناء الذهب والفضة على الرجال والنساء، وخاتم الذهب والحرير على الرجل. وإباحته للنساء. وإباحة العلم ونحوه للرجل ما لم يزد على أربع أصابع (رقم-۱۶ - (۲۰۷۰)

وکړو چې يا رسول الله! ﷺ تاسو دا قباء دومره زر ولې خکته کړه؟[۶] حضور ﷺ وفرمايل چې زه جبرائيل عليه السلام د دې د اغوستلو نه منع کړم، [د دې نه معلومه شوه، چې حضور ﷺ هغه قباء د ريښمي جامې د حرمت د نازليدو نه مخکې اچولې وه] ،[۷] بيا چې حضرت عمر رضي الله عنه ته دا واقعه معلومه شوه، نو هغه په ژړا سره حاضر شو[۸] او عرض يې وکړو چې يا رسول الله! ﷺ کوم څيز چې تاسو ﷺ ناخوښه کړې دې (يعني د هغه ريښمي قباء اغوستل) هغه مو ماته مرحمت کړې ده [چې زه يې واچوم][۹] [په دې صورت کې به] زما څه حال وي؟ [۱۰] حضور ﷺ ورته وفرمايل چې ما هغه قباء تا ته د دې د پاره نه وه درليږلې چې ته هغه واغونده،[۱۱] بلکه د دې د پاره مې درليږلې وه چې ته هغه خرڅه کړه،[۱۲] نو حضرت عمر رضي الله عنه هغه قباء په دوه زره درهمه خرڅه کړله. (مسلم)

حل اللغات: ① قَبَاءَ: چوغه، ② دِيبَاج: ريښم، ③ نَزَعَهُ: اوئې ويستله، ④ تَبِيعُهُ: چه ته ئې خرڅه کړې.

تسهيلات:

قوله: أَوْشَكَ أَنْ نَزَعَهُ:

د مذکوره جملې مفهوم: يعنی نبی کريم د يرزر دغه قبه دَ اچولونه پس اوويستله په دې باندې چا تپوس اوکړو (قدأوشك الخ) يعنی تاسو دا قبه دومره زر ولې اوويستله؟ نبی کريم اوفرمائيل چه هم اوس حضرت جبرائيل منع اوکړه. دَحرمت نه وړاندې نبی کريم اچولې وه بيا دَ حرمت حکم راتلوسره نبی کريم کوزه کړه اوحضرت عمر رضي الله عنه ته ئی هديه کړه

قوله: يَارَسُولَ اللهِ أَكْرِهْتَ أَمْرًا وَأَعْطَيْتَنِيهِ، فَمَالِي؟

دعمر رضی الله عنه د ژړا وجه: حضرت عمر رضي الله عنه په ژړا سره راغلوچه يوڅيز حرام وو نو ولې زه دَ دين په اعتبارسره دومره کمزورې يم چه حرام به استعمالوم؟ نبی کريم تسلی ورکړه چه دَاغوستلودَپاره نه بلکه دَخرخولودَپاره مې درکړې وه.

[۴۳۴۸] په تنړی کښې د ريښمو د لګولو اجازت

۴۳۴۸-(۲۹) (١) [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: [۲] «إِنَّمَا نَهَى رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَنْ ثَوْبِ [۳] الْمُصْمَتِ مِنَ الْحَرِيرِ، [۴] فَأَمَّا الْعَلَمُ وَسَدَى الثَّوْبِ [۵] فَلَا بَأْسَ بِهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس رضي الله عنه وايي[۱] چه په دې کې څه شك نشته چې رسول الله ﷺ د هغه جامې د اغوستلو نه منع فرمايلې ده،[۲] کومه چې د خالص ريښمو وي،[۳] البته د ريښمو ګوټ يا بيل [چې د څلور ګوتو نه زيات نه وي] او هغه جامه چې د هغې په لاندې حصه کې ريښم وي،[۵] د هغې په استعمالولو کې څه حرج نشته (ابوداؤد)

حل اللغات: ① الْمُصْمَت: د ريښموهغه جامې په اوږد والې او پلنوالی دواړه تارونه ئې د ريښمو وی.

(١) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب اللباس/باب الرخصة فی العلم وخيط الحرير (رقم-۴۰۵۵) واحمد فی المسند: ۲۱۸/۱

④ الْعَلَمُ: د جامو دپاسه گلونه او بوټي، ⑤ سَدَي: د كپړې په اوږدوالي كښې چې كوم تارونه اوستعماليږي هغې ته تانا وائي.

تسهيلات:

قوله: ثَوْبِ الْمُصْمَتِ

د مصمت لغوي تحقيق: دا هغه كپړې ته وائي چې تنسته (اوږد تار) او (پلن تار) اتيرن دواړه ئې د ريښمو وي

د اوږد اوپلن تار عربي نومونه: ① د كپړې په اوږدوالي كښې چه كوم تار استعماليږي هغې ته وائي سدي (تانا) وائي

② د كپړې په پلنوالي كښې چه كوم تار استعماليږي هغې ته لحمة (بانا) وائي

په كپړو كښې اصل: (يعنى تنسته او اتيرن ورته پوښتوكښې وائي) دَهرې يوې كپړې اصل بنياد لحمه وي سدى اصل نه دې لهذا كه فرض كړه لحمه دَ ريښم وي نو كپړه به ريښمي حسابيږي اوكه لحمه دَ سپنږسي وي نو كپړې ته به دَ سپنږسي وئيلې شي هم دغه اشاره په دې حديث كښې ده.

[۴۳۲۹] د الله تعالى د نعمت ښكاره كولو ترغيب

۴۳۲۹ - [۴۰] (١) ① وَعَنْ أَبِي رَجَاءٍ، قَالَ: ② «خَرَجَ عَلَيْنَا عِمْرَانُ بْنُ حُصَيْنٍ، ③ وَعَلَيْهِ مِطْرَفٌ مِنْ خَزٍّ، وَقَالَ: ④ إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "مَنْ أَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ نِعْمَةً، ⑤ فَإِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ أَنْ يَرَى أَثَرَ نِعْمَتِهِ عَلَى عَبْدِهِ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ① او حضرت ابو رجاء تابعي رحمه الله وايي ② چې [يوه ورځ] حضرت عمران ابن حصين رضي الله عنه د خپل كور نه د وتلو سره زمونږ خواته راغي، ③ نو هغه وخت د هغه په بدن د خزّ مطرف (شال) وو. هغه اوويل ④ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل الله تعالى جل جلاله چې كوم سړي په خپل نعمت سره سر فراز كړي، ⑤ نو الله تعالى جل جلاله دا خبره خوښوي چې د هغه په بنده د هغه د نعمت اثر وليدل شي. (احمد)

حل اللغات: ① مِطْرَفٌ: دَ خز يوخاص قسم كرښو والا څادر (شال)، ② خَزٌّ: د وړئ او ريښمونه جوړه شوې كپړه.

تسهيلات:

قوله: وَعَلَيْهِ مِطْرَفٌ مِنْ خَزٍّ:

اشكال: اوس دلته سوال دادې چه كله دَ مطرف په مفهوم كښې خز (ريښم) داخل وو نو بيا په حديث كښې دَ مِنْ خَزٍّ دَ ذكر كولو څه ضرورت وو؟

(١) اخرجه احمد في المسند: ۴/ ۴۳۸

د اشکال جواب: دلته دَخز نه مراد ريښم نه دی بلکه دَ خز اطلاق ښکه چه په خالص ريښم باندې کيږی دغه شان دَدې اطلاق دَ ريښمو او ورئی دواړو نه جوړې شوې کپړې باندې هم کيږی دلته هم دغه کپړه مراده ده او هم دَدې وجهې دَدې په استعمال کښې جواز راغلې دې بهرحال دلته دَمطرف نه يوخاص قسم ښائسته دَ ګلونو والا شال مراد دې. په کوم چه دَ جائزمقدار پورې دَ ريښمو ګلونه ټکوهلې شوې وو.

[۳۳۸۰] په مباحاتو کې چې څه غواړې خورئ او څکئ يې ليکن د اسراف او تکبر نه ځان ساتئ

۳۳۸۰—[۴۱] (١)[١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: [٢] كُلْ مَا شِئْتَ، وَالْبَسْ مَا شِئْتَ، [٣] مَا أَخْطَأَتْكَ اثْنَتَانِ: سَرَفٌ وَمَخِيلَةٌ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ فِي تَرْجَمَةِ بَابٍ.

ترجمه: [١] او د حضرت ابن عباس ﷺ نه روايت دې چې هغه وايي [٢] (د جائز او مباح څيزونو نه) چې څه غواړې خوره [او څکه] او اغونده يې، [٣] تر څو چې دا دوه څيزونه په تاسو کې سرايت ونه کړي، يعنى اسراف او تکبر (بخاري في ترجمه باب)

حل اللغات: ① سَرَفٌ: اصراف، ② وَمَخِيلَةٌ: غرور، تکبر.

تسهيلات:

قوله: مَا أَخْطَأَتْكَ اثْنَتَانِ: سَرَفٌ وَمَخِيلَةٌ:

په خوراک څکاک کښې د دوو څيزونو څخه ځان ساتل: يعنى تر کومې پورې چه په خوراك ښناك کښې دوه خصلتونه اسراف اوتکبر شامل نه وی ترهغه وخته پورې خوراك ښناك مباح دې کله چه اسراف راغلو يا تکبر راغلو نو اوس به په دغه مباح کښې کراهت راځی بيا به دَ دغه توسع ګنجائش نه پاتې کيږی.

[۳۳۸۱] د دوو څيزونو په وجه په خوراک څکاک کښې حرمت راتلل

۳۳۸۱—[۴۲] (٢)[١] وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " [٢] «كُلُوا، وَاشْرَبُوا [٣] وَتَصَدَّقُوا، [٤] وَالْبَسُوا [٥] مَا لَمْ يُخَالِطْهُ إِسْرَافٌ وَلَا مَخِيلَةٌ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] او حضرت عمرو بن شعيب د خپل پلار نه او هغه د خپل نيکه نه نقل کوي چې هغه اوويل چه رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] د خپل حاجت او ضرورت په قدر خورئ او څکئ يې، [٣] او [کوم څيز چې ستاسو د حاجت او ضرورت نه زائد وي، هغه د الله ﷻ په لار کې]

---

(١) اخرجه البخاري تعليقا فى كتاب اللباس/باب قول الله تعالى: ﴿قل من حرم زينة الله التى أخرج لعباده﴾ [الأعراف: ٣٢] وقال النبي صلى الله عليه وسلم: «كلوا واشربوا والبسوا وتصدقوا، فى غير إسراف ولا مخيلة» وقال ابن عباس: " كل ما شئت، والبس ما شئت [ص:١٤١]، ما أخطأتك اثنتان: سرف، أو مخيلة "

(٢) اخرجه النسائي فى السنن كتاب الزكاة/باب الاختيال فى الصدقة(رقم-٢٥٥٩) واحمد فى المسند:١٨١/٢

خرج کړئ،۴ او (د اغوستلو د مباح څیزونو نه چې څه غواړئ) اغوندي يې،۵ تر څو چې په هغې کې اسراف او تکبر نه وي. (احمد، نسائي، ابن ماجه)

حل اللغات: ① إِسْرَافٌ: د حد نه تجاوز کول، ② مَخِيلَةٌ: غرور، تکبر

نوټ: ددې حدیث مضمون وړاندې حدیث نمبر(۴۲۸۱) کښې تیرشو

[۴۳۸۲] جماتونودپاره د سپينوجامو استحباب

۴۳۸۲–[۴۳] ()۱ وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ "«إِنَّ أَحْسَنَ مَا زُرْتُمُ اللَّهَ فِي قُبُورِكُمْ وَمَسَاجِدِكُمُ الْبَيَاضُ»". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابودرداء رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل هغه بهترينه جامه چې د هغې په اغوستلو سره تاسو په خپلو قبرونو او په مسجدونو کې د الله تعالى جل جلاله سره ملاقات کوئ، سپينه جامه ده. (ابن ماجه)

تسهيلات: قوله: إِنَّ أَحْسَنَ مَا زُرْتُمُ اللَّهَ فِي قُبُورِكُمْ:

کفن دپاره سپینه جامه غوره ول: په قبرونوکښې په سپينوکپړوکښې دَ الله تعالى سره دَ زيارت کولو مطلب دادې چه سړې کله مرې نو بهتراو احسن دادی چه دَ ده کفن دې سپین وی اګرچه دَ مجبورئی په وجه بل رنګ هم جائزدې. په قبر کښې دَ سړی مخامخ کيدل خپل رب سره کيږی ځکه چه قبرصرف دَ یوکندې نوم نه دې بلکه عالم برزخ مراددې

قوله: وَمَسَاجِدِكُمْ:

جمات ته د تلو دپاره د سپينوجامو استحباب: سړې چه کله دَ مونځ کولودَپاره جمات ته ځی نو په مونځ کښې دَالله تعالى زيارت اوملاقات کيږی. په دغه وخت کښې هم سپين لباس کښې ملاقات بهتر او احسن دې. دَدې حديث نه دَ سپین لباس فضيلت ثابتيږی چه دَخپل رب دَ ملاقات دَپاره دَ تولونه ښکلې لباس هم دغه سپين لباس دې

۱) اخرجه ابن ما جه في السنن كتاب اللباس، باب البياض من الثياب (رقم-۳۵۶۸)

[۱] بَابُ الْخَاتَمِ

د ګوتمې د اچولو بيان

خلاصة الباب:

فيه ثلاثة وعشرون حديثاً مشتملة على ثماني مسائل:

① جواز لبس خاتم الفضة: ۴، ۱، ۵، ۶، ۱۳.

② موضع الخاتم من اليدين: ۱، ۶، ۹، ۱۰.

③ موضع الخاتم من الأصابع: ۱، ۷، ۸.

④ نقش خاتم النبي ﷺ: ۱، ۴.

⑤ فص الخاتم: ۱، ۵، ۶.

⑥ النهي عن تختم غير الفضة: ۱، ۲، ۳، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۱۴، ۱۸، ۱۹، ۲۰، ۲۱، ۲۲، ۲۳.

⑦ النهي عن الجرس: ۱۵، ۱۶ اورده طرداً.

⑧ جواز استعمال الذهب لعذر: ۷.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۴۳۸۳] سرو دپاره د سپينو زورد ګوتمې د اچولو جواز

۴۳۸۳-[۱] (۱) [۱] عَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- قَالَ: [۲] "«اتَّخَذَ النَّبِيُّ خَاتَمًا مِنْ ذَهَبٍ" [۳] وَفِي رِوَايَةٍ: وَجَعَلَهُ فِي يَدِهِ الْيُمْنٰى، ثُمَّ أَلْقَاهُ، [۴] ثُمَّ اتَّخَذَ خَاتَمًا مِنْ وَرِقٍ [۵] نُقِشَ فِيهِ: "مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللّٰهِ" [۶] وَقَالَ: "لَا يَنْقُشَنَّ أَحَدٌ عَلٰى نَقْشِ خَاتَمِي هٰذَا" [۷] وَكَانَ إِذَا لَبِسَهُ جَعَلَ فَصَّهُ مِمَّا يَلِي بَطْنَ كَفِّهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حضرت ابن عمر رضي الله عنهما وايي [۲] چې نبي كريم ﷺ د سرو زرو ګوتمۍ جوړه كړه، [۳] او په يو روايت كې دا هم دي چې ګوتمۍ يي په ښي لاس كړه. او بيا يي وغورځوله. [۴] بيا يي د سپينو زرو ګوتمۍ جوړه كړه. [۵] چې د محمد رسول الله ﷺ الفاظ يي وربانديې نقش كړل. [۶] او وي فرمايل چې يو شخص دې زما د دې مهر په شان الفاظ (په خپله ګوتمۍ كې) نه نقش كوي. [۷] دغه شان رسول الله ﷺ چې به كومه ګوتمې په ګوته كوله. نو غمې به يي د لاندې طرف ته ساتلو (بخاري و مسلم)

حل اللغات: ① وَرِقٍ: سپين زر. ② لَا يَنْقُشَنَّ: نقش دې نه جوړوي. ③ فَصَّهُ: غمې

[1]) اخرجه البخارى فى كتاب اللباس/باب: هل يجعل نقش الخاتم ثلاثة أسطر (رقم-۵۸۷۹) ومسلم فى كتاب الأشربة/باب طرح خاتم الذهب (رقم-۵۳ - (۲۰۹۱) والنسائى فى كتاب الزينة/باب صفة خاتم النبى صلى الله عليه وسلم ونقشه (رقم-۵۲۷۶) وابن ماجه فى كتاب اللباس . باب نقش الخاتم (رقم-۳۶۳۹)

تسهيلات:

قوله: ثُمَّ أَلْقَاهُ، ثُمَّ اتَّخَذَ خَاتَمًا مِنْ وَرِقٍ نُقِشَ فِيهِ: "مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ

د سرو زرو د چاندۍ ګوتمه استعمالول: رسول الله ﷺ دَ سرو زرو ګوتمه هغه وخت جوړه کړې او استعمال کړې وه کوم وخت چه دَ سرو دپاره دَ سرو زرو استعمالول حرام نه وو بيا کله چه دَ سرو زرو استعمال حرام شو نونبی کريم هغه اوغورزوله

د سړو دپاره د چاندۍ څخه علاوه ګوتمې د استعمال عدم جواز: امام محمد رحمه الله په موطا کښې ليکلی دی چه دَ سړو دَپاره څنګه چه دَ سرو زرو ګوتمه ناجائز ده دغه شان دَ اوسپنې، کانسی، پيتلو وغيره ګوتمه هم ناجائز ده لهذا دَ سړو دَپاره دَ چاندنی نه علاوه بل هيڅ قسم ګوتمه جائز نه ده.

د ښځو دپاره د چاندۍ ګوتمې د اچولو حکم: دَ ښځودَپاره دَ سرو زرو ګوتمه جائز ده اودَ چاندنی مکروه ده څکه چه په دې کښې دَ سړو سره مشابهت دې آوکه يوښځه دَ چاندنی په ګوتمه باندې څه شين رنګ اوخيژوی نودا به زيات بهتر وی

قوله: وَكَانَ إِذَا لَبِسَهُ جَعَلَ فَصَّهُ مِمَّا يَلِي بَطْنَ كَفِّهِ

د ګوتمې د اچولو طريقه: مناسب دی چه په ګس لاس کښې ئی واچوی اودَ ګوتمې غمې دې دَتلی طرف ته کړی. په ښی لاس کښې دَ ګوتمې اچولو احاديث موجود دی مګر دَ بعضې علماؤ په نيز هغه دَ سړو په حق کښې منسوخ دی. مګر په سفرالسعادة کښې ليکلی دی چه دواړه جائز دی.

صرف د يوې ګوتمې اجازت: علماؤ ليکلی دی چه دَ چاندنی مختلف قسم ګوتمې جوړول او په کورکښې ساتل خوجائز دی ليکن دَ استعمال دَپاره صرف دَ يوې ګوتمې استعمالول جائز دی دَدوو يا دريو په يوځائی دَ استعمالول جائز نه دی

بادشاهانوته د خطونو ليکلودپاره د ګوتمې جوړول: نبی کريم چه کله دَ صلح حديبيه نه پس عام بادشاهانوته خطونه ليکل نونبی کريم ته اووئيلې شو چه دبادشاهانو دا ضابطه ده چه مهرشوې خط پخپله کولاوولوسره لولی دَمهرنه بغيرخط نه قبلوی په دې وجه نبی کريم دَ چاندنی ګوتمه جوړه کړه او دَهغې په غمی کښې ئی دا عبارت نقش کړو "محمدرسول الله" لکه څنګه چه په راتلونکی حديث نمبر(۴۳۸۶)کښې تفصيل راځی

قوله: لَا يَنْقُشْ أَحَدٌ عَلَى نَقْشِ خَاتَمِي هَذَا:

د مهر د محفوظ کولو ليوت: يعنی هيڅوك دې زمادَ مهر په شان الفاظ نه نقش کوی ښکاره خبره ده چه دا يواصولی قاعده او ضابطه ده چه دَ مهر يوسرکاری حيثيت وی که دَهرسړی دَ مهر نقش دَنبی کريم دَمهر په شان کيدل نودَ نبی کريم دَ مهر خصوصی سرکاری حيثيت

په متاثر کیدو او دعامو بادشاهانو په نیز به د دې مهر خصوصیت مشتبه جوړیدو. په دې وجه نبی کریم منع اوفرمائیله. که چرې نبی کریم نه منع کول نوصحابه کرامو به دا سنت ګڼړلو سره خپلول او د رسول الله ﷺ په عمل باندې به ئې عمل کولو

[۴۳۸۴] د سرو د پاره د سروزرو ګوتمه د اچولو حرمت

۴۳۸۴-[۲] (۱) ⟨۱⟩ وَعَنْ عَلِيٍّ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: ⟨۲⟩ «نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ لُبْسِ الْقَسِّيِّ، وَالْمُعَصْفَرِ، ⟨۳⟩ وَعَنْ تَخَتُّمِ الذَّهَبِ، ⟨۴⟩ وَعَنْ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ فِي الرُّكُوعِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ⟨۱⟩ او حضرت علي (رض) وايي ⟨۲⟩ چې رسول الله ﷺ د قسي کپړو، په کسم کې د رنګ شوي کپړو، ⟨۳⟩ او د سرو د ګوتئ په ګوته کولو نه منع کړې ده، ⟨۴⟩ او حضور ﷺ په رکوع کې د قرآن ویلو نه هم منع فرمایلي ده. (مسلم)

حل اللغات: ① اَلْقَسِّيِّ: د قس طرف ته منسوب دې کوم چه د مصریو بنار دې د ریښمو یو قسم کپړه. ② اَلْمُعَصْفَرِ: په کسم رنګ شوې، یو قسم سور رنګ چه د وونو بوټو نه حاصلیږی. ③ تَخَتُّمِ: د ګوتمې په ګوته کول.

تسهیلات:

قوله: وَعَنْ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ فِي الرُّكُوعِ:

په رکوع کښې د قرآن نه لوستلو دوه مطلبونه: ① په رکوع او سجده کښې د تسبیحاتو په ځائی قرآن پاك مه لولئ. د الله تعالی عظیم کلام دې د دې د ادب تقاضا داده چه دا په قیام اوقعود کښې لولئ.

② قرآن په داسې تادئ او بې اطمینانئ سره مه لولئ چه څه حصه په قیام کښې اولوستلې شی او قراءت مکمل کولونه بغیر زر زر رکوع ته لاړشی اوڅه حصه په رکوع کښې اولولی دامطلب راجح دې.

[۴۳۸۵] د سروزرو ګوتمې اچولو باره کښې وعید

۴۳۸۵-[۳] (۲) ⟨۱⟩ وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - ⟨۲⟩ «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - رَأَى خَاتَمًا مِنْ ذَهَبٍ فِي يَدِ رَجُلٍ، ⟨۳⟩ فَنَزَعَهُ، فَطَرَحَهُ، فَقَالَ: ⟨۴⟩ "يَعْمِدُ أَحَدُكُمْ إِلَى جَمْرَةٍ مِنْ نَارٍ ⟨۵⟩ فَيَجْعَلُهَا فِي

---

[۱]) اخرجه مسلم فی کتاب الأشربة/باب النهی عن لبس الرجل الثوب المعصفر(رقم-۲۹ - (۲۰۷۸) وابوداود فی کتاب اللباس/باب من کرهه (رقم-۴۰۴۴) والترمذی فی کتاب اللباس عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی کراهیة خاتم الذهب (رقم-۱۷۳۷) والنسائی فی کتاب الزینة/باب النهی عن لبس خاتم الذهب (رقم-۵۲۶۷) واحمد فی المسند: ۴۱۱/۱

[۲]) اخرجه مسلم فی کتاب الأشربة/باب طرح خاتم الذهب (رقم-۵۲ - (۲۰۹۰)۴۳۸۵ - (وعن عبد الله بن عباس أن رسول الله - صلی الله علیه وسلم - رأی خاتما من ذهب فی ید رجل) : أی اصبعه (فنزعه) : أی فأخرجه (فطرحه) : وهذا أبلغ فی باب الإنکار ; ولذا قدمه - صلی الله علیه وسلم فی قوله: " «إذا رأی أحد منکم منکرا فلیغیره بیده» " الحدیث.

بِيَدِهِ؟[٦] فَقِيلَ لِلرَّجُلِ بَعْدَمَا ذَهَبَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٧] خُذْ خَاتَمَكَ انْتَفِعْ بِهِ.[٨] قَالَ: لَا وَاللَّهِ، لَا آخُذُهُ أَبَدًا[٩] وَقَدْ طَرَحَهُ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] او حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما وايي [٢] چې [يوه ورځ] رسول الله ﷺ د يو سړي په لاس کې د سرو ګوتۍ وليده.[٣] نو د هغه د لاس نه هغه ګوتۍ ځکته کوئو سره يې وي غورځوله، بيا يې وفرمايل[٤] چې اخومره د تعجب خبره ده چې] په تاسو کې يو سړی د دوزخ د اور سکروټه حاصلوي.[٥] او هغه په خپل لاس کې اچوي [يعنی کوم سړي چې په خپل لاس کې د سرو يو شي اچوي، د هغه لاس به د دوزخ په اور کې سوزول کيږي. په دې صورت کې د يو سړي د سرو ګوتۍ اچول ګويا په خپل لاس کې د دوزخ د اور سکروټه اچول دي].[٦] بيا چې رسول الله ﷺ دهغه ځاي نه تشريف يوړلو. نو هغه سړي ته اووييل شو [٧] چې خپله هغه ګوتۍ پورته کړه او د هغې نه فائده واخله. [يعنی پکار دي چې هغه خرڅه کړي او که غواړي خپلې ښځي ته يې ورکړه].[٨] ليکن هغه سړي اووييل چې نه. قسم په خداي زه دا نه پورته کوم،[٩] حالانکه رسول الله ﷺ دا غورځولې ده. مسلم

حل اللغات: ① فَنَزَعَهُ: نو اوئې ويستله. ② فَطَرَحَهُ: پس اوئې غورزونه. ③ جَمْرَةٍ: د اور سروټکه. سکروټه.

تسهيلات:

قوله: لَا وَاللَّهِ، لَا آخُذُهُ أَبَدًا وَقَدْ طَرَحَهُ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د صحابؓ نبی عليه السلام سره عشق: دکوم سړی دَ لاس نه چه نبی کريم ګوتمه کوزه کړې وه و غورزولې نی وه هغه ته چا اوونيل چه اوس خپله ګوتمه اوچته کړه اودا په څه فائده کښې راوله مثلاً خرڅه نی کړه يا نی ښځې ته ورکړه دغه وفادار عاشق رسول اوفرمائيل چه کوم څيز پخپله نبی کريم زمادَ لاس نه غورزولې دې کله به هم هغې ته لاس اونه لګوم

[۴۳۸۶] په مهر نبوت کښې درې کرښې

۴۳۸۶ - [۳] (۱)[١] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - [٢] «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَرَادَ أَنْ يَكْتُبَ إِلَى كِسْرَى وَقَيْصَرَ وَالنَّجَاشِيِّ،[٣] فَقِيلَ: إِنَّهُمْ لَا يَقْبَلُونَ كِتَابًا إِلَّا بِخَاتَمٍ،[٤] فَصَاغَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - خَاتَمًا حَلْقَةً فِضَّةٍ[٥] نُقِشَ فِيهِ: مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.[٦] وَفِي رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيِّ: كَانَ نَقْشُ الْخَاتَمِ ثَلَاثَةَ أَسْطُرٍ:[٧] (مُحَمَّدٌ) سَطْرٌ، وَ(رَسُولُ) سَطْرٌ، وَ(اللَّهِ) سَطْرٌ.

ترجمه: [١] او د حضرت انس رضي الله عنه نه روايت دي[٢] چې نبي کريم ﷺ [د صلح حديبيي نه پس

---

(١) اخرجه البخاري في كتاب اللباس/باب اتخاذ الخاتم ليختم به الشيء. أو ليكتب به إلى أهل الكتاب وغيرهم (رقم-٥٨٧٥) ومسلم في كتاب الأشربة/باب في اتخاذ النبي صلى الله عليه وسلم خاتما لما أراد أن يكتب إلى العجم (رقم-٥٨-٢٠٩٢) وابوداود في كتاب الترجل/باب ما جاء في اتخاذ الخاتم (رقم-٤٢١٤) والترمذي في كتاب اللباس عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في نقش الخاتم (رقم-١٧٤٨)

مدینې ته راتلو سره] کسرٰي (د فارس بادشاه) او قیصر (د روم بادشاه) او نجاشي [د حبشې بادشاه] ته [د اسلام د دعوت ورکولو د پاره] د خطونو لیږلو اراده وکړله، ۳ نو عرض ورته وشو، چې [د مروجه قاعدې مطابق] دا بادشاهان هغه خط قبلوي، [یعنی مستند یې ګڼي] په کوم چې مهر لګیدلې وي، ۴ نو رسول الله ﷺ د سپینوزرو حلقې والاګوتۍ جوړه کړله. ۵ چې په هغې کې محمد رسول الله الفاظ لیکل شوی وو (مسلم) ۶ او د بخاري رحمه الله په یو روایت کې دا منقول دي چې په هغه ګوتۍ کې کوم الفاظ کنده شوي وو، هغه په دریو کرښو کې وو، ۷ داسې چې په یوه کرښه کې [چې د ټولو نه لاندې وه] د محمد لفظ وو، په مینځ کرښه کې د رسول ﷺ لفظ وو، او [په یوه د ټولو د پاسه په] کرښه کې د الله لفظ وو.

حل اللغات: ① خَاتَمًا: ګوتمه، ② حَلْقَةَ فِضَّةٍ: تاؤ راتاؤ (رینګ) د سپینو زرو وو.

تسهیلات:

قوله: كَانَ نَقْشُ الْخَاتَمِ ثَلَاثَةَ أَسْطُرٍ:

د مهر نبوی درې کرښې: یعنی جدا څه غمې نه وو بلکه اصل چاندی پخپله دَدې غمې وو دَ خاتله غمی ګوتمې ذکر هم په احادیثو کښې راتلونکې دې. په مهرنبوی کښې چه کوم الفاظ نقش وو دَهغې نقش داسې جوړشوي وو.

الله

رسول

محمد

(الله پورته بیا لاندې رسول بیا محمد) هم دا امام بخاری رحمه الله جدا جدا درې کرښې ګرخولې دی چه محمد یوکرښه ده کوم چه دَ ټولو نه لاندې دې. دې نه پاس په دویمه کرښه کښې لفظ دَرسول دې اودَدې دَپاسه لفظ دَالله دې په دې کښې دَ مراتبِ ادب لحاظ ساتلې شوي دې.

[۴۳۸۴] د نبی کریم ﷺ د ګوتمې جوړښت

[۴۳۸۴-۵] () ۱ وَعَنْهُ ۲ «أَنَّ نَبِيَّ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ خَاتَمُهُ مِنْ فِضَّةٍ، ۳ وَكَانَ فَصُّهُ مِنْهُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱ او د حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دي ۲ چې د نبي کریم ﷺ ګوتۍ د سپینو زرو وه، ۳ او د هغې غمې هم د سپینو وو (بخاري)

حل اللغات: ① فَصُّهُ: غمې د ګوتمې،

() اخرجه البخاری فی کتاب اللباس/باب فص الخاتم (رقم-۵۸۷۰) وابوداود فی کتاب الترجل /باب ما جاء فی اتخاذ الخاتم (رقم-۴۲۱۷) والترمذی فی کتاب اللباس عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء ما یستحب فی فص الخاتم (رقم-۱۷۴۰) والنسائی فی کتاب الزینة/باب صفة خاتم النبی صلی الله علیه وسلم (رقم-۵۱۹۸) واحمد فی المسند: ۳/۲۶۶

تسهيلات:

قوله: كَانَ خَاتَمُهُ مِنْ فِضَّةٍ، وَكَانَ فَصُّهُ مِنْهُ

د مهر نيوى غمى: فص غمى ته وائى اومنه مطلب دادې چه غمې جدا دَ څه اوسپني نه وو بلکه پخپله هم دَ چاندئى يوه حصه غمې وو هم په دې باندې پورتنى عبارت نقش اوکنده وو.

[۴۳۸۸] په ښى لاس کښې د ګوتمې اچول

۴۳۸۸-[۲] ()[۱] وَعَنْهُ [۲] «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لَبِسَ خَاتَمَ فِضَّةٍ فِي يَمِينِهِ، [۳] فِيهِ فَصٌّ حَبَشِيٌّ [۴] كَانَ يَجْعَلُ فَصَّهُ مِمَّا يَلِي كَفَّهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او د حضرت انس رضي الله عنه نه دا هم روايت دې [۲] چې نبي كريم ﷺ د سپينو ګوتئ په خپل ښي لاس كې واچوله، [۳] چې د هغې غمې حبشي [يعنى عقيق وو] ، [۴] او د حضور ﷺ د ګوتئ غمې به د ورغوي طرف ته وو، [يعنى حضور ﷺ به خپله ګوتئ داسې اچوله چې د هغې غمې والاحلقه به د ورغوي جانب ته وه].

تسهيلات:

قوله: فِيهِ فَصٌّ حَبَشِيٌّ:

د غمې د حبشوځنه د کيدو مطلب: يعنى دَ ګوتمې غمې دَعقيق وو چونکه دَعقيق غريه حبشه كښې واقع دې په دې وجه دَ هغې طرف ته منسوب کولوسره حبشى اوونيلې شو يا حبشى ونيلوسره تور رنګ مراداخستې شوې دې چه دَ ګوتمې غمې تور وو.

دتعارض اشكال: دَدې روايت په ظاهره دَ مخکينى روايت سره تعارض دې په کوم کښې چه ونيلى شوى دى چه غمې جدا نه وو اوزير بحث روايت کښې دى چه غمې جدا دَعقيق جوړشوې وو؟

د تعارض جواب: دَدې جواب دادې چه دادَ يوې ګوتمې خبره نه ده بلکه دَ ډيرو ګوتمو قصه ده بعضو سره غمې وو بعضې کښې غمې دَ جدا اوسپنې وو.

قوله: كَانَ يَجْعَلُ فَصَّهُ مِمَّا يَلِي كَفَّهُ:

دلاس دتله طرف ته غمې ساتل: يعنى نبى كريم به دَ تواضع زهد تقوىٰ اوترکِ زينت دَ وجهې دَ ګوتمې غمې دَ تلى طرف ته ساتلو. دَ نبى كريم ګوتمه به دَ ګس لاس خنصر(کچه ګوته) کښې وه.

---

(۱) اخرجه مسلم فى كتاب الأشربة/باب فى خاتم الورق فصه حبشى (رقم-۶۲ - (۲۰۹٤)) وابوداود فى كتاب الترجل /باب ما جاء فى اتخاذ الخاتم (رقم-۴۲۱۶)والترمذى فى كتاب اللباس عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى خاتم الفضة (رقم-۱۷۳۹) والنسائى فى كتاب الزينة/باب تحريم الذهب على الرجال (رقم-۵۱۵۶) وابن ماجه فى كتاب اللباس . باب نقش الخاتم (رقم-۳۶٤۱) واحمد فى المسند:۲۰۹/۳

[۴۳۸۹] د ګس لاس په ګچه ګوته د ګوتمې اچول

۴۳۸۹—[۷] (۱) ۱ وَعَنْهُ قَالَ: ۲ «كَانَ خَاتَمُ النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي هٰذِهٖ، ۳ وَأَشَارَ إِلَى الْخِنْصِرِ مِنْ يَدِهِ الْيُسْرَى». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت انس ﷺ وايي ۲ چه د نبي کريم ﷺ ګوتئ په دي ګوته کې وه. ۳ حضرت انس ﷺ په دي ويلو سره د چپ لاس د خچني ګوتي طرف ته اشاره وکړه. (مسلم)

نوټ: د دي حديث مضمون ددې څخه وړاندې حديث نمبر ۴۳۸۸ په تشريح کښې تېر شو هلته ئې وضاحت اوګورئ.

[۴۳۹۰] په مينځنۍ اومسواکه ګوته کښې د ګوتمې د اچولو ممانعت

۴۳۹۰—[۸] (۲) ۱ وَعَنْ عَلِيٍّ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: ۲ «نَهَانِي رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَنْ أَتَخَتَّمَ فِي إِصْبَعِي هٰذِهٖ أَوْ هٰذِهٖ، ۳ قَالَ: فَأَوْمَأَ إِلَى الْوُسْطٰى وَالَّتِي تَلِيهَا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت علي (رض) وايي چې رسول الله ﷺ زه د دې نه منع کړي يم چې زه په خپله دي ګوته کې يا په دي ګوته کې ګوتئ واچوم، ۲ راوي وايي چه حضرت علي (رض) په دي ويلو سره مينځنۍ ګوتئ او هغې ته نژدې والا ګوتې، [يعنى د شهادت د ګوتې] طرف ته اشاره وکړله. (مسلم)

تسهيلات:

قوله: أَنْ أَتَخَتَّمَ فِي إِصْبَعِي هٰذِهٖ أَوْ هٰذِهٖ

په مينځنۍ او مسواکه ګوته د ګوتمې اچولو کراهت: دَ ګوتمې دَ اچولو مستحب طريقه داده چه دګس لاس په ګچه ګوته کښې واچولې شي په مينځنۍ او مسواکه کښې دَ اچولو ممانعت راغلي دې لکه څنګه چه په زير بحث حديث کښې دی لهذا دا مکروه تنزيهی دی څکه چه داسې اچول دَ نبی کريم نه ثابت نه دی نه دَ صحابه کرامو نه ثابت دی اونه دَ تابعينونه ثابت دی. دغه شان په غټه ګوته کښې اچول هم ثابت نه دی.

نوټ: دا پورتنی پابندی اوممانعت دَ سړو دَپاره دي دَ ښځودَپاره ممانعت نشته دې. هغوی چه دَدوارو لاسونو په کومه ګوته کښې هم اچوی تول جائزدی.

---

(۱) اخرجه مسلم فی كتاب الأشربة/باب فی لبس الخاتم فی الخنصر من اليد (رقم-۶۳ - (۲۰۹۵)

(۲) اخرجه مسلم فی كتاب الأشربة/باب فی النهی عن التختم فی الوسطی والتی تليها (رقم-۶۵ - (۲۰۹۵) والنسائی فی كتاب الزينة/باب النهی عن الخاتم فی السبابة (رقم-۵۲۱۰) وابن ماجه فی كتاب اللباس، باب التختم فی الإبهام (رقم-۳۶۴۸) واحمد فی المسند: ۱/۱۲۴

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۳۴۱] د نبي كريم ﷺ په خپل ښي لاس کښې ګوتمه اچول

۴۳۰—[۹] ( )[1] عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ جَعْفَرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَتَخَتَّمُ فِي يَمِينِهِ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] حضرت عبدالله ابن جعفر رضي الله عنه وايي [۲] چې نبي كريم ﷺ به ګوتۍ په خپل ښي لاس كې اچوله (ابن ماجه)

۴۳۱—( )[2] [۱] وَرَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ عَنْ عَلِيٍّ.

ترجمه: [۱] او ابوداؤد او نسايي دا روايت د حضرت علي رضي الله عنه نه نقل كړي دي

نوټ: د دې حديث شرح په راروان حديث نمبر (۴۳۹۳) کښې راروان دي

[۳۴۲] په كس لاس كښې ګوتمه اچول

۴۳۲—[۱۰] ( )[3] [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: [۲] «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَتَخَتَّمُ فِي يَسَارِهِ»، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عمر رضي الله عنهما وايي [۲] چه نبي كريم ﷺ به ګوتۍ په خپل چپ لاس كې اچوله (ابوداؤد)

تسهيلات: قوله: يَتَخَتَّمُ فِي يَمِينِهِ:

تعارض: په دې حديث او په تير حديث نمبر (۴۳۹۲) کښې په ظاهره تعارض معلوميږي؟

د تعارض جواب اول به نبي كريم ﷺ په ښي لاس کښې اچوله بيا ئې د ښي لاس په ځائې په ګس لاس کښې اچول شروع كړه او ګس لاس کښې اچول بهتر دی

[۳۴۳] سرو باندې د ريښمو او سرو زرو حرمت

۴۳۳—[۱۱] ( )[4] [۱] وَعَنْ عَلِيٍّ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَخَذَ حَرِيرًا فَجَعَلَهُ فِي يَمِينِهِ، [۳] وَأَخَذَ ذَهَبًا فَجَعَلَهُ فِي شِمَالِهِ، [۴] ثُمَّ قَالَ: "إِنَّ هَذَيْنِ حَرَامٌ عَلَى ذُكُورِ أُمَّتِي». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

---

[1] اخرجه الترمذي في السنن والنسائي في كتاب الزينة /باب موضع الخاتم من اليد ذكر حديث علي. وعبد الله بن جعفر (رقم-۵۲۰۴) وابن ماجه في كتاب اللباس . باب التختم باليمين (رقم-۳۶۴۷)

[2] اخرجه ابوداود في السنن كتاب الترجل /باب ما جاء في التختم في اليمين أو اليسار (رقم-۴۲۲۶) والنسائي في كتاب الزينة /باب موضع الخاتم من اليد ذكر حديث علي. وعبد الله بن جعفر (رقم-۵۲۰۳)

[3] اخرجه ابوداود في السنن كتاب الترجل /باب ما جاء في التختم في اليمين أو اليسار (رقم-۴۲۲۷)

[4] اخرجه ابوداود في السنن كتاب اللباس /باب في الحرير للنساء (رقم-۴۰۵۷) والنسائي في كتاب الزينة /باب تحريم الذهب على الرجال (رقم-۵۱۴۴) وابن ماجه في كتاب اللباس . باب لبس الحرير والذهب للنساء (رقم-۳۵۹۵) واحمد في المسند: ۹۶/۱

ترجمه: [۱] او حضرت علي (رض) فرمايي [۲] چې [يوه ورځ] نبي كريم ﷺ ريښمي جامه راواخسته او هغه يي په ښي لاس كې اونيوله، [۳] دغه شان سره زر يي راواخسته، اوهغه يي په خپل چپ لاس كې ونيول، [۴] بيا يي وفرمايل چې زما د امت د سړو د پاره دا دواړه څيزونه حرام دي. (احمد، ابو داود، نسائي)

تسهيلات:

قوله: إِنَّ هَذَيْنِ حَرَامٌ عَلَى ذُكُورِ أُمَّتِي:

په ځېنه ارته كښې د سروزرو ګوتمه اچول: زمونږ په علاقه هشتغر اوپېښور كښې دا رواج دې چې كله د يو هلک او جينۍ كوژدن اوشي. نواول د هلک د كور خلق د جينۍ كور ته لاړشي او جينۍ ناوې كړي اودهلک د كور خلقو باندې پيې (شيدو) اوڅكوي. اوهغوی ورته څه پيسې وركړي په عرف كښې دغې پيسو ته ګوټ وائي. اوددې روسته بيا د هلک د كور خلق د جينۍ كور ته لاړ شي هغوی د هلک دپاره د سرو زرو ګوتمه جوړه كړې وی هغه هلک ته په ګوته كښې واچوی. دې ته (څېپه ارته) وائي اوبيا ههلک هغه د سرو زرو ګوتمه استعمالوی دا رسم او رواج د احاديثو خلاف دې. زمونږ عالمانو ته پكار دی چې په دې غلطه طريقه باندې د احاديثو په رڼا كښې رد اوكړی. چې عوام خبر شي او د عالمانو غاړه هم خلاصه شي.

[۳۳۵] په كم مقدار كښې د سروزرو د استعمالولو جواز

۴۳۹۵ - [۱۲] (¹) [۱] وَعَنْ مُعَاوِيَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - [۲] «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - نَهَى عَنْ رُكُوبِ النُّمُورِ [۳] وَعَنْ لُبْسِ الذَّهَبِ إِلَّا مُقَطَّعًا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] او د حضرت معاويه رضي الله عنه نه روايت دې [۲] چې رسول الله ﷺ د شرمخ د څمړې په زين د سوريدو نه منع وفرمايله، [۳] دغه شان حضور ﷺ د سړو د پاره د سرو زرو د اچولو نه منع وفرمايله، خو دا چې هغه په ډير كم مقدار كې وي. (ابو داود، نسائي)

حل اللغات: ① النُّمُور: د شرمخ يا د پړانګ څرمن ② مُقَطَّعًا: ټكړې، ډير كم مقدار،

تسهيلات:

قوله: إِلَّا مُقَطَّعًا:

د كم مقدار سروزرو استعمال: دَ سرو زرو په تختو او ټكړو باندې دَ مقطع اطلاق كړې شوې دې مراد كم مقدار سره زر دی لكه څنګه چه د كم مقدار ريښمو اجازت دې دغه شان دَ ډير كم مقدار سرو زرو دَ استعمال هم اجازت دې لكه

---

¹) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الترجل /باب ما جاء فى الذهب للنساء (رقم-۴۲۳۹) والنسائى فى كتاب الزينة /باب تحريم الذهب على الرجال (رقم-۵۱۵۰) واحمد فى المسند: ۹۳/۴

د سروزرو دکم مقدار مثالونه: ① دَ ګهړئی په ډائل وغیره کښې دَ سرو زرو څه ذرات وی داقلیل مقدار حرام نه دې.
② دَ سرو زرو میخ ئی تکوهلې وی
③ چه دَ تورې په تویئی او لاسکی باندې وی
④ ګوتمه یا وسله وغیره له دَ سرو زرو اوبه ورکړې شوی وی
⑤ دَ سرو زرو معمولی شان تار په څه څیزکښې استعمال کړې شوی وی
هم دا دَ مقطعًا الفاظ سره مستثنٰی ګرځولې شوی دی.

[۳۳۴] دپیتلو او د اوسپنې د ګوتمې د استعمالولو ممانعت

۴۳۳۴-[۱۳] ( )① وَعَنْ بُرَيْدَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- ② «أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ لِرَجُلٍ عَلَيْهِ خَاتَمٌ مِنْ شَبَهٍ: ③ "مَالِي أَجِدُ مِنْكَ رِيحَ الْأَصْنَامِ؟" ④ فَطَرَحَهُ، ⑤ ثُمَّ جَاءَ، وَعَلَيْهِ خَاتَمٌ مِنْ حَدِيدٍ ⑥ فَقَالَ: "مَا لِي أَرَى عَلَيْكَ حِلْيَةَ أَهْلِ النَّارِ؟" ⑦ فَطَرَحَهُ. فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ! مِنْ أَيِّ شَيْءٍ أَتَّخِذُهُ؟ ⑧ قَالَ: "مِنْ وَرِقٍ وَلَا تُتِمَّهُ مِثْقَالًا»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① او د حضرت بریده ﷺ نه روایت دې ② چې [یوه ورځ] نبي کریم ﷺ یو سړي ته (چې د پیتل ګوتئ یې په ګوته کړې وه) وفرمایل ③ چې ماته څه شوي دي؟ چې زه په تا کې د بتانو بوي بیاموم [یعنی حضور ﷺ دا خبره د هغه سړي په مخکې په طور د تعریض وفرمایله، ځکه چې په عام طور سره به د پیتلو بتان جوړول کیدل]، ④ نو هغه سړي د حضور ﷺ دا ناګواري لیدو سره هغه ګوتئ اوځکلو سره وغورځوله، ⑤ بیا چې هغه سړي بیا راغې ، نو د اوسپنې ګوتئ یې اچولې وه، ⑥ حضور ﷺ هغه لیدو سره ورته وفرمایل چې ما له څه شوي دي؟ چې زه په تا د دوزخیانو زیور وینم [یعنی حضور ﷺ دا خبره هم بطورِ تعریض په دی بناء وفرمایله، چی په کفارو کې ځیني خلق په دنیا کې د اوسپنې ځیزونه اغوندي، یا د دې ارشاد نه دې طرف ته اشاره وه چې کافرانو ته به دوزخ کې چې کوم طوق او سلاسل اچول کیږي، هغه به د اوسپنې وي، ځکه د اوسپنې ګوتئ اچول د دوزخیانو مشابهت اختیارول دي] ⑦ نو هغه سړي هغه ګوتئ هم ځکته کولو سره وغورځوله، او عرض یې وکړو چې یا رسول الله ﷺ بیا زه د څه شي ګوتئ جوړه کړم؟ ⑧ حضور ﷺ ورته وفرمایل چې د سپینو زرو او هغه سپین زر هم چې پوره مثقال نه وي (ترمذي، ابوداؤد، نسایي)

حل اللغات: ① شَبَهٍ: پیتل، تانبه، ② رِيحَ: بوئی، ③ الْأَصْنَامِ: د صنم جمع ده، بت ته وائی. ④ فَطَرَحَهُ: نو اونې غورزوله، ⑤ حِلْيَةَ: کالی، ⑥ وَرِقٍ: سپین زر، چاندی.

[1] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الترجل /باب ما جاء فی خاتم الحدید (رقم-۴۲۲۳) والنسائی فی کتاب الزینة /باب مقدار ما یجعل فی الخاتم من الفضة (رقم-۵۱۹۵)

[۱] وَقَالَ مُحْيِي السُّنَّةِ -رَحِمَهُ اللهُ-: وَقَدْ صَحَّ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ فِي الصَّدَاقِ [۲] أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ لِرَجُلٍ: "«الْتَمِسْ وَلَوْ خَاتَمًا مِنْ حَدِيدٍ»"

ترجمه: [۱] محي السنه فرمايي چه د ښځي د مهر باره کې د حضرت سهل ابن سعد ﷺ صحيح روايت منقول دي [۲] نبي کريم ﷺ يو سړي ته وفرمايل (چې د نکاح کولو خواهشمند وو) چې د ښځي د مهر د پاره د مال د قِسم نه يو شي تلاش کړه، اگر که هغه د اوسپني گوتۍ وي.

حل اللغات: ⑥ الصَّدَاقِ: مهر،

تسهيلات:

قوله: مَا لِي أَجِدُ مِنْكَ رِيحَ الْأَصْنَامِ؟:

بتانوته د ريح د نسبت وجه: چونکه پيتل او تانبې نه عموماً بت جوړولي شي په دې وجه ئې د بوئي ذکر اوکړې شو.

قوله: مَا لِي أَرَى عَلَيْكَ حِلْيَةَ أَهْلِ النَّارِ؟:

د دوزخيانو کالي وليلو په توجيه کښې دوه اقوال: ① دَ اوسپنې گوتمې لره دَ دوزخيانو کالي او گرخولې شو خکه چه دوزخ والا دا په دنيا کښې استعمالوی

② دې طرف ته اشاره ده چه اهل نار کافرانوته به دوزخ کښې دَ اوسپنې طوق اچولې شی لهذاکوم خلق چه په دنيا کښې دَاوسپنې گوتمې اچوی هغه هم دَهغوی مشابهت اختياروی

قوله: وَقَالَ مُحْيِي السُّنَّةِ:

د محی السنه دين دقول نقل کولومقصد: دَ شوافع حضراتو په نيزچونکه دَ اوسپنې گوتمه استعمالول جائز دی. په دې وجه محی السنة ﷺ دَ زير بحث حديث دَپاره دَ يومقابل حديث حواله ورکړه په کوم کښې چه دَ مهر په عوض دَ اوسپنې گوتمه ورکول وئيلی شوی دی دکوم نه چه دَدې دَ جواز پته لگی

داحناف طرفه دوه جوابونه: ① دَحضرت سهل ﷺ روايت په هغه زمانه باندې محمول دې کوم وخت چه دَ اوسپنې دَ گوتمې دَ ممانعت او حرمت حکم نه وو راغلې لکه چه دا زير بحث حديث دَهغې دَپاره ناسخ دې

② دَدې نه دَ اوسپنې گوتمه هډو مراد نه ده بلکه خاتم حديد سره شئ قليل طرف ته اشاره ده چه مهر ورکړه که هغه هرڅه وی. کتاب النکاح کښې تفصيل دې

[۳۲۹٤] لسو څيزو نولره د نبی عليه السلام نه خوښول

۴۳۹٤-[۱۳] (۱) ① وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ②«كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَكْرَهُ عَشْرَ خِلَالٍ: ③ الصُّفْرَةَ - يَعْنِي: الْخَلُوقَ - ④ وَتَغْيِيرَ الشَّيْبِ، ⑤ وَجَرَّ الْإِزَارِ، ⑥ وَالتَّخَتُّمَ بِالذَّهَبِ، ⑦ وَالتَّبَرُّجَ بِالزِّينَةِ لِغَيْرِ مَحِلِّهَا، ⑧ وَالضَّرْبَ بِالْكِعَابِ، ⑨ وَالرُّقَى إِلَّا بِالْمُعَوِّذَاتِ، ⑩ وَعَقْدَ التَّمَائِمِ، ⑪ وَعَزْلَ الْمَاءِ لِغَيْرِ مَحِلِّهِ، ⑫ وَفَسَادَ الصَّبِيِّ غَيْرَ مُحَرِّمِهِ.» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت ابن مسعود ﷺ وايي ② چې نبي کريم ﷺ به لس څيزونه بد ګڼل، ③ يو خو زيړ رنګ لګول، يعنی د خلوق استعمالول، ④ دويم بوډاتوب (زوړتوب) بدلول، ⑤ دريم د پنړکو لاندې لنګ يا پرتوګ خوړندول، ⑥ څلورم د سرو د پاره د سرو ګوتمې اچول، ⑦ پنځم د ښځې بې محل (بې ځايه) زينت ظاهرول، ⑧ شپږم د نرد (چونسر) لوبه کول، ⑨ او وم بغير د معوذات نه علاوه دبل شي دم چف کول، ⑩ اتم کُنجکي مُنجکي (تمائم) تړل، ⑪ نهم بې موقع عزل [يعنی د ښځې د شرمګاه نه بهر مني تويول]، ⑫ او لسم کوشني (ماشوم) خرابول، اګر چه حضور ﷺ دې ته حرام نه فرمايل. (ابوداؤدنسائي)

حل اللغات: ① خِلَالٍ: عادتونه، خصلتونه، ② الصُّفْرَةَ: دايودَ زيړرنګ عطردی کوم چه ښخوسره خاص دی دَ سړودَپاره نه دی دې ته خلوق هم وائی ③ الْخَلُوقَ: يو قسم زيړ رنګ، ④ تَغْيِيرَ الشَّيْبِ: بدلول د بوډاتوب، ⑤ التَّبَرُّجَ: ښکاره کول د زينت ، ⑥ الضَّرْبَ: رازوړندول (د لنګ يا پرتوګ) ⑦ بِالْكِعَابِ: ګيټۍ، پړکې، (خو دلته ترې چونسر لوبه مراد ده) ⑧ الرُّقَى: دم چُف کول، ⑨ عَقْدَ: تړل، ⑩ التَّمَائِمِ: دادَ تميمة جمع ده کونجکې وغيره، ⑪ عَزْلَ: د جماع په وخت اوبه بې ځايه تويول ⑫ الْمَاءِ: اوبه (دلته ترې مني مراد ده)، ⑬ فَسَادَ: خرابول، ضايع کول.

تسهيلات:

قوله: وَتَغْيِيرَ الشَّيْبِ:

د سپينو ويښتو بدلولو په مفهوم کښې دوه اقوال: ① په سر او ږيره کښې سپين ويښته راغوندولوسره ويستل منع دی. دادَ بوډاوالی بدلولو په معنی کښې دی.

② په سپينو ويښتو باندې توره وسمه لګول مراد دی.

اشکال: دَدې حديث نه معلوميږی چه نکريزې استعمالول هم ناجائزدی حالانکه په احاديثو کښې دَدې ترغيب موجوددې؟

داشکال دوه جوابونه: ① نکريزې دَ وسمې تغير الشيب نه مستثنٰی دی په احاديثوکښې دَدې استثناء موجود ده لکه چه په شروع کښې دَ تغير الشيب مطلق ممانعت ووبيادَ نکريزودَ استعمال اجازت ملاؤشو.

(۱) اخرجه ابوداود في السنن والنسائي في کتاب الزينة /باب الخضاب بالصفرة (رقم-۵۰۸۸) واحمد في المسند:۱/ ۳۸۰

② ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی زیر بحث حدیث کښې دَ بوډاوالی تغیر اوتبدیلی نه دَدې پټول مراددی اوبوډاوالې یا په توره وسمې سره پټیړی یا دَ سپینو ویښتو په راویستوسره پټیړی خکه چه په دې سره اشتباه راځی
اوپاتې شو دَ نکریزو رنګ نو په دې سره دَ هیڅ التباس او اشتباه امکان نشته دې بلکه داد بوډاوالی اعلان او اظهاردې په دې وجه په دې حدیث کښې دَنکریزو دَ استعمال سره متعلق هیڅ بحث نشته دې نوځه اعتراض هم پاتې نه شو

قوله: وَالتَّبَرُّجِ بِالزِّينَةِ لِغَيْرِ مَحِلِّهَا

دغیرمحل وضاحت: یعنی بې موقع بې محل اوبې ځایه ډول سینګار کول ممنوع دی لکه چه دَ پردو سړو په وړاندې وی. باقی په موقع اومحل کښې ډول سینګارکول جائزدی لکه دَخاونداومحارمو په وړاندې

یوه غلطه طریقه: بعضې ښځې چې په کور کښې وی نو خیرنې خچنې وی خوچې کله چرته واده ښادی ته ځی نو بیا په ځان باندې ښه خواری کوی. اوس چې کوم ځائې ته ځی هلته غیرمحرمه وی نودا ډول سنګار کول حرام دی اوکه هلته هم ښځې وی نوبیا په کښې ځه ممانعت نشته. خوبیه خطره په کښې ده هغه دا که ددې جامې قیمتی وی نوچې نورې غریباناني زنانه دې ته اوګوری نودهغوی په زړونوکښې هم ددې خواهش پیدا شی اودخپلو خاوندانو ځخه مطالبې شروع کړی چې د فلانی په غاړه مې داسې جامې لیدلې وې ما دپاره هم هغه شان جامې واخله نوبه دې طریقه په دنیاوی خواهشاتوکښې د تسابق سلسله شروع شی

قوله: وَالضَّرْبِ بِالْكِعَابِ

د مذکوره جملې وضاحت: داد کعب جمع ده داد ګیټی او موهرې په معنی کښې دې کوم ته چه پانسې هم وائی اوکوم چه دَ خسنړی په شان غورزولوسره کوی. داد جوارئی یوقسم دې کوم چه ممنوع دې. داحنافو په نیز شطرنج کول هم مکروه دې

قوله: وَالرُّقَى إِلَّا بِالْمُعَوِّذَاتِ

په معوذاتوسره دم درود کول: یعنی دَ قرآن پاك په آخره کښې دَ دوو معوذتین په ذریعه که یوسړې ځه دم درود وغیره کوی نوهغه جائزدی. دغه شان په قرآن اوحدیث کښې چه کوم تعوذات دی هغه هم مراددی دکوم چه اجازت دې

قوله: وَعَقْدِ التَّمَائِمِ

دتعویذونو دممانعت وجه: په عربوکښې دَ مرو دانو او هډوکو یوځائی کولوسره دَ هار جوړولو او بیاد ماشومانو په غاړوکښې دَ اچولو رواج وودې دپاره چه ماشومان دَ نظره نه شی

دَاسلام پاکیزه نظام دامنع کړل.

غرض داچه کوم تعوذات مشرکانه مبتدعانه یا غیرمعروف الفاظو باندې مشتمل وی هغه منتردي ناجائزدی

جائزتعویذونه:لیکن کوم تعویذات او اوراد وظائف چه په قرآن اوحدیث کښې وی هغه جائزدی په دواړوکښې فرق کول ضروری دی دَ ټولو نفی کول مناسب نه دی.

یعنی د سیاق اوسباق لحاظ ساتل ضروری دی په کومو احادیثو کښې چې دتمائم منع راغلې ده دهغې څخه دجاهلیت د زمانې د غلطو عقیدو والا تعویذونه مراد دی نن صبا چې نیکان بندګان د مخلوق خدا د فائدې دپاره په مشروع اورادو باندې مشتمل تعویذونه لیکی.نود هغې دې سره څه تعلق نشته.څکه چې کومه منع راغلې ده دجاهلیت د دور په غلطو عقیدو باندې مشتمل وو،دهغې څخه منع راغلې ده او زمونږ په عالمانو کښې چې د تعویذونوکومه سلسله راروان ده.دا جدا څیزدې.

قوله:وَعَزْلَ الْمَاءِ:

د عزل تعریف:عزل دې ته وائی چې خاوندښځې سره مباشرت اوجماع کوی خوچې کله د انزال وخت راشی نوخپل خاص اندام بهرته راؤباسی اودننه په فرج کښې انزال اونکړی.نوپه حدیث کښې د دې عزل څخه منع راغلې ده.خوقید ورسره د بې محله لګولې شوې دې

د بې محله عزل صورت:چه خپلې بی بی سره په جماع کښې سرې دَ ښځې دَ مرضئی نه بغیر عزل اوکړی اوکه وینځې سره په جماع کښې سړې عزل کوی نوهغه په ځائی دې بې محل نه دې.

قوله:وَفَسَادَ الصَّبِيِّ:

د فساد الصبی وضاحت:دَدې جملې مطلب دادې چه دَ مور په غیږ کښې دَ پیئو رؤونکې بچې، دې خاوند ښځې سره جماع اوکړه دکوم په نتیجه کښې چه هغه حامله شوه په کوم سره چه دَ مور پیئی مضردَ صحت شو او په کوم سره چه پیئی رؤونکې ماشوم خرابیدې شی کوم ته چه داء الغیل وائی دَ کوم بیان چه په کتاب النکاح کښې شوې دې داعمل نبی کریم ناخوښه کړې وو.

قوله:غَيْرَمُحَرِّمِهِ:

دغیرمحله وضاحت:دادَ ېکره نه حال واقع دې کوم چه منصوب دې یعنی نبی کریم په داسې دوران کښې ښځې سره جماع کول ناخوښه ګنړل چې هغه ماشوم ته پی ورکوی خو جماع کول ئې حرام نه ګرځول بلکه صرف دا نقصان ئې ناخوښه ګنړلو.

[۴۲۴۸] په پښو کښې د ګنګرو د اچولو حرمت

۴۲۹۸ -[۱۵] (¹) [۱] وَعَنِ ابْنِ الزُّبَيْرِ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ -: [۲] «أَنَّ مَوْلَاةً لَهُمْ ذَهَبَتْ بِابْنَةِ الزُّبَيْرِ إِلَى عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ [۳] وَفِي رِجْلِهَا أَجْرَاسٌ، فَقَطَعَهَا عُمَرُ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - [۴] وَقَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ يَقُولُ: "مَعَ كُلِّ جَرَسٍ شَيْطَانٌ» ". رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او د حضرت ابن زبیر ﷺ نه روایت دي [۲] چې [یوه ورځ] د هغه آزادي کړې وینځې د حضرت زبیر ﷺ کوشنی د حضرت عمر ابن خطاب ﷺ په خدمت کې راوستلو، [۳] هغه وخت د کوشنۍ په پښو کې ګنګرو (شرنګریلو) وو، حضرت عمر ﷺ هغه ګونګرو [ګنګرو] وشکولو، [۴] او وې فرمایل چې ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلي دي چې د هر جرس [رغیدونکي شي، ګنګرو] سره شیطان وي. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① أَجْرَاسٌ: د جرس جمع ده، ګنګرو او کړنګیدونکي تلۍ ته وائي.

تسهیلات:

قوله: وَفِي رِجْلِهَا أَجْرَاسٌ، فَقَطَعَهَا عُمَرُ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ:

د ګنګروګانو د استعمال ممانعت: دَ ښځو په کالو پتروکښې که داسې ګنګروګان وی نو دَې استعمال داسې منع دې لکه جرس اوتلۍ وغیره تړل او غړول چه منع دی. دَ ورو ماشومانو، سپو او څناورو په خپو او غاړوکښې جرس وغیره تړل هم منع دی. تړونکې به ګناهګار وی ځکه چه ماشومان خو غیرمکلف دی.

[۴۲۴۹] د ګنګرو د استعمال کراهت

۴۲۹۹ -[۱۶] (²) [۱] وَعَنْ بُنَانَةَ مَوْلَاةِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ حَيَّانَ الْأَنْصَارِيِّ، [۲] «كَانَتْ عِنْدَ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا - إِذْ دُخِلَتْ عَلَيْهَا بِجَارِيَةٍ، [۳] وَعَلَيْهَا جَلَاجِلُ يُصَوِّتْنَ. [۴] فَقَالَتْ: لَا تُدْخِلْنَهَا عَلَيَّ إِلَّا أَنْ تُقَطِّعْنَ جَلَاجِلَهَا، [۵] سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: "لَا تَدْخُلُ الْمَلَائِكَةُ بَيْتًا فِيهِ جَرَسٌ» ". رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او د حضرت عبدالرحمن ابن حیان انصاري ﷺ د آزادی کړي وینځې بنانه ﷺ نه روایت دي [۲] چې یوه ورځ هغه د بي بي عائشې ﷺ سره وه چې د بي بي عائشې ﷺ په خدمت کې یوه کوچنۍ جنۍ راوستل شوه، [۳] چې ګونګرو یې اچولي وو، او هغه غریدل (شرنګیدل) [۴] بي بي عائشې ﷺ هغه جنۍ راوستونکي ښځې ته وفرمایل چې دا جنۍ هغه پورې ماته مه راوله، تر څو چې دا ګونګرو ګان کټ کولو سره ونه غورځول شي، [۵] ځکه چې ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلي دي چه په هغه کور کې د رحمت فرشتې نه داخلیږي، چې په هغې کې د باجې د قسم څه څیز وي. (ابوداؤد)

(¹) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الترجل /باب ما جاء فی الجلاجل (رقم-۴۲۳۰)

(²) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الترجل /باب ما جاء فی الجلاجل (رقم-۴۲۳۱) واحمد فی المسند: ۲۴۳/۶

حل اللغات: ① جَلَاجِلُ : دَ جلجل جمع ده کرنګیدونکی ګنګروګان مراددی. ② يُصَوِّتْنَ: آوازونه ئې کول، شرنګیدل، ③ جَرَسٌ: تلې، ګنګرو.

تسهیلات: قوله: لَاتَدْخُلُ الْمَلَائِكَةُ بَيْتًا فِيهِ جَرَسٌ:

دجرس دوه قسمونه: ① جرس (ګنګرې) په دوه قسمه دی، یو هغه دی کوم چه خناور ته د سفر په دوران کښې په غاړه اچولې کیږی دې دپاه چه سورلئ ددې دپاسه اوده هم وی نو چه د جرس د آواز د وجهې ورته معلومات کیږي چه خناور راون دې یا اودریدلې دې او په عام توګه هم داسی وی چه د چرس آواز راخی نو څاروې روان وی بله دا چه کله کله خناور د قافلې څخه وروستو یا یواځی پاتې شی نو په دې صورت کښې یا د قافله نه د خناور د ورکیدو په صورت کښې د څاروې د ګنګرو په وجه معلومات کیږی چه څاروې کوم ځائې کښې دی. لهذا ددې مقصد دپاره ګنګرود څاروی په غاړه کښې اچول جائز دی.

② دویم قسم هغه دې چه ښځی ئې زینت دپاره په لباس کښې استعمال وی او دا ناجائز دې.

[۴۴۰۰] د مجبوری په وجه د سروزرو د استعمال اجازت

۴۴۰۰-[۱۷] ()① وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ طَرَفَةَ، ②«أَنَّ جَدَّهُ عَرْفَجَةَ بْنَ أَسْعَدَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قُطِعَ أَنْفُهُ يَوْمَ الْكُلَابِ ③ فَاتَّخَذَ أَنْفًا مِنْ وَرِقٍ، فَأَنْتَنَ عَلَيْهِ ④ فَأَمَرَهُ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَنْ يَتَّخِذَ أَنْفًا مِنْ ذَهَبٍ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① او د حضرت عبدالرحمن ابن طرفه نه روایت دې چې د هغه د نیکه حضرت عرفجه ابن سعد ﷺ پوزه د کلاب په جنګ کې پرې شوې وه، ③ هغه د سپینو زرو پوزه جوړه کړه، لیکن په هغې کې بدبویې پیدا شوه، ④ نو رسول الله ﷺ هغه ته د سرو زرو د پوزې جوړولو حکم ورکړو (ترمذي، ابوداؤد، نسائي)

تسهیلات: قوله: أَنْ يَتَّخِذَ أَنْفًا مِنْ ذَهَبٍ:

دحدیث پس منظر: په کاف باندې پیښ دې کُلاب دَ یوځائی نوم دې یوم دَ جنګ په معنی کښې دې یعنی دَ کلاب په جنګ کښې دَ دغه صحابی پوزه پرې کړې شوې وه. هغه دَ سپینو زرو پوزه جوړه کړه لیکن په هغې کښې بدبوئی پیدا شوه. نبی کریم هغه ته دَ سرو زرو دَ پوزې لګولو اجازت ورکړو په سرو زرو سره زخم تیک کیږی. دَدې نه معلومه شوه چه دَ مجبورئی دَ وجهې سره زر استعمالول جائز دی. فقهاؤ دَ سرو زرو پوزه جوړول او په غاښونو باندې دَ چاندئی تاراستعمالول جائز لیکلی دی امام محمد ﷫ په غاښونو کښې دَ سرو زرو تار تړل هم جائز لیکلی دی.

[1] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الترجل /باب ما جاء فی ربط الأسنان بالذهب (رقم-۴۲۳۲) والنسائی فی کتاب الزینة/باب من أصيب أنفه هل يتخذ أنفا من ذهب (رقم-۵۱۶۱) واحمد فی المسند: ۲۳/۵

[۳۲۰] د سرو زرو په استعمال باندې وعيد

۳۲۰—[۱۸] (¹)[۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] «مَنْ أَحَبَّ أَنْ يُحَلِّقَ حَبِيبَهُ حَلْقَةً مِنْ نَارٍ [۳] فَلْيُحَلِّقْهُ حَلْقَةً مِنْ ذَهَبٍ، [۴] وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُطَوِّقَ حَبِيبَهُ طَوْقًا مِنْ نَارٍ [۵] فَلْيُطَوِّقْهُ طَوْقًا مِنْ ذَهَبٍ، [۶] وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُسَوِّرَ حَبِيبَهُ سِوَارًا مِنْ نَارٍ [۷] فَلْيُسَوِّرْهُ سِوَارًا مِنْ ذَهَبٍ، [۸] وَلَكِنْ عَلَيْكُمْ بِالْفِضَّةِ فَالْعَبُوا بِهَا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړي چې خپل عزيز، يعني ښځي يا اولاد وغيره ته (د هغه په پوزه يا په غوږ کې) د اور حلقه اچول خوښوي، [۳] نو هغه دی ورته د سرو زرو حلقه واچوی (يعني د سرو زرو د والئ وغيره اچولو سزا دا ده چې هغه ته به د اور والئ وغيره واچول شي) [۴] کوم سړي چې د خپل عزيز په غاړه کې د اور طوق اچول خوښوي، [۵] نو هغه دی ورته د سرو زرو ګلو بند واچوي، [۶] او کوم سړي چې خپل عزيز ته د اور بنګړي (دستينه) اچول خوښوي، [۷] نو هغه دي ورته د سرو زرو بنګړي واچوي، [۸] ليکن د سپينو زرو د استعمال تاسو ته اجازت دي چې تاسو يې په خپل استعمال او تصرف کې راوستلی شئ (ابوداؤد)

حل اللغات: ① أَنْ يُحَلِّقَ: چه هار ور واچوی، ② حَبِيبَهُ: خپل دوستان يا رشته داران وغيره، ③ حَلْقَةً: هار، امیل، ④ أَنْ يُطَوِّقَ: چه رازورند کړی، ⑤ طَوْقًا: هار، امیل، ⑥ أَنْ يُسَوِّرَ: چه بنګړی يا کړې جوړې کړی، ⑦ سِوَارًا: بنګړی، کړې، ⑧ فَالْعَبُوا: لعب په معنی دَ لوبو نه تصرف مراد دي.

تسهيلات: قوله: وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُحَلِّقَ حَبِيبَهُ:

په احاديثو کښې تعارض: دلته سوال دادې چه په دې حديث کښې دَ سرو زرودَ کالو استعمالولو باندې سخت وعيد اوروليې شوې دې حالانکه دې نه وړاندې په مختلفو احاديثوکښې دَ سرو زرو کالی دَ ښخودپاره جائز ګرځولی شوی دی دا واضح تعارض دې دَدې څه حل دې؟

د تعارض جواب: ① علامه خطابی رحمه الله فرمائی چه يوتاويل او جواب دادې چه دَاسلام په شروع کښې دَ سرو په شان دَښخودپاره هم دَ سرو زرو دکالو استعمالول ممنوع وو دَ زير بحث حديث تعلق هغه زمانې سره دې؟ بيادَ ښخودپاره دَسرو زرو دکالو استعمالول جائز اوګرځولې شو

② دَممانعت تعلق تکبر اوتفاخرسره دې. بهرحال ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی په دې جواب سره دَاحنافو هغه موقف واضح کيدوسره مخې ته راځی چه په کالوکښې زکوة راځی

③ دَ زير بحث حديث تعلق دَهغه ښخوکالويترو سره دې چه دَ دغه کالو زکوة نه ادا کوی

¹) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الترجل /باب ما جاء فی الذهب للنساء (رقم-۴۲۳۷) واحمد فی المسند: ۲/ ۳۳۴

سره ددي چه د سپينو زرو په کالوکښې زکوة هم وی ليکن د سره زر نی په کالوکښې د دي داهميت د وجهې ذکرکړې دی.

[۳۳۰۲] ښځو دپاره د سرو زرو په استعمال باندې وعيد

۳۳۰۲-[۱۹] ()[۱] وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] "«أَيُّمَا امْرَأَةٍ تَقَلَّدَتْ قِلَادَةً مِنْ ذَهَبٍ [۳] قُلِّدَتْ فِي عُنُقِهَا مِثْلَهَا مِنَ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ [۴] وَأَيُّمَا امْرَأَةٍ جَعَلَتْ فِي أُذُنِهَا خُرْصًا مِنْ ذَهَبٍ [۵] جَعَلَ اللَّهُ فِي أُذُنِهَا مِثْلَهُ مِنَ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] او د بي بي اسماء رضي الله عنها بنت يزيد نه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کومه ښځه چې د سرو زرو هار اچوي، [۳] د قيامت په ورځ به د هغې په غاړه کې هغسې د اور هار اچول کيږي، [۴] او کومه ښځه چې په خپل غوږ کې د سرو زرو والۍ اچوي، [۵] د قيامت په ورځ به الله تعالى جل جلاله د هغې په غوږ کې هغسې د اور والۍ واچوي. (ابوداؤد نسايي)

علامه خطابي فرمايي چې ددې حديثونودوه توجيهات کيدې شی ① چې داپه ابتداء داسلام کښې ووبيا د ښځو پحقله منسوخ شو ② دا چې داد هغه ښځوپه باره کښې دي چې ددي زيوراتو زکات نه باسي والله اعلم (مجيب)

حل اللغات: ① قِلَادَةً: غاړکۍ، د غاړې اميل، ② خُرْصًا: والۍ، د غوږونو کالي،

تسهيلات:

نوټ: په دې حديث کښې د ښځو دپاره د سرو زرو په استعمال باندې وعيد راغلې دي. ددې تفصيل دې مخکښې وړاندې حديث نمبر (۴۴۰۱) کښې تيرشو.

[۳۳۰۳] د نمائش دپاره د زيوراتو په استعمال باندې وعيد

۳۳۰۳-[۲۰] ()[۱] وَعَنْ أُخْتِ لِحُذَيْفَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] "«يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ أَمَا لَكُنَّ فِي الْفِضَّةِ مَا تُحَلَّيْنَ بِهِ؟ [۳] أَمَا إِنَّهُ لَيْسَ مِنْكُنَّ امْرَأَةٌ تُحَلَّى ذَهَبًا تُظْهِرُهُ [۴] إِلَّا عُذِّبَتْ بِهِ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] او د حضرت حذيفه رضي الله عنه د خور نه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] اي د ښځو ټولى! آيا ستاسو د پاره په سپينو زرو کې هغه خبره نشته چې تاسو د هغې زيور جوړ کړئ (يعني ستاسو د پاره د سپينو زرو زيور جوړول کافي دي) [۳] ياد ساتئ! په تاسو کې چې کومه ښځه د سرو زرو زيور جوړوي، او بيا د هغه زيور (بې ځايه او بې موقع) نمائش کوي، [۴] نو هغه به د دې عمل په بناء په عذاب کې مبتلا شي (ابوداؤد، نسايي)

---

[1] اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الترجل /باب ما جاء فى الذهب للنساء (رقم-۴۲۳۸) والنسائى فى كتاب الزينة /باب الكراهية للنساء فى إظهار الحلى والذهب (رقم-۵۱۳۹) واحمد فى المسند: ۶/۴۶۰

[2] اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الترجل /باب ما جاء فى الذهب للنساء (رقم-۴۲۳۷) والنسائى فى كتاب الزينة /باب الكراهية للنساء فى إظهار الحلى والذهب (رقم-۵۱۳۷) واحمد فى المسند: ۶/۳۵۷

حل اللغات: ① أَمَا لَكُنَّ: آیا ستاسو دَپاره داکافی نه دی چه ته دَ سپینو زرو کالی جوړکړئ واچوئ. ② تُحَلِّي: چه کالی جوړ کړی، ③ تُظْهِرُهُ: ښکاره کوی ئې، خلقو ته ئې ښائی،

تسهیلات:

قوله: تُظْهِرُهُ:

د تکبر دپاره د زیوراتو په استعمال وعید: یعنی دَ خپلو کالو بې ځایه او بې موقع نمائش کوی تفاخر او تکبر سره په نورو غریبانانو ښخوباندې خپله لوئی ښکاره کوی. دَدې علت دَ وجهې دَ سرو زرو دکالو دَممانعت خبره پخپله په پوهه کښې راځی او په احادیثو کښې تعارض نه پاتې کیږی دَ ممانعت تعلق کبر وغیره سره دې.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۴۴۰۴] د جنت د سرو زرو او ریښمو د حاصلولو طریقه

۴۴۰۴—[۲۱] (¹) [۱] وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- [۲] «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- كَانَ يَمْنَعُ أَهْلَهُ الْحِلْيَةَ وَالْحَرِيرَ، [۳] وَيَقُولُ: " إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ حِلْيَةَ الْجَنَّةِ وَحَرِيرَهَا [۴] فَلَا تَلْبَسُوهَا فِي الدُّنْيَا» ". رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] د حضرت عقبه ابن عامر رضی الله عنه نه روایت دې [۲] چې رسول الله ﷺ به خپل کوروالا د زیور او ریښمو نه منع کول (یعني د دې ښځونوپه کثرت سره د اچولو ممانعت به یې بیانولو) [۳] اوفرمایل به یې که تاسو د جنت د زیور او د جنت د ریښمو خواهش لرئ (چې په جنت کې دا ښځونه حاصل کړئ) [۴] نو په دنیا کې دا ښځونه مه اچوئ. (نسائي)

تسهیلات:

قوله: إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ حِلْيَةَ الْجَنَّةِ وَحَرِيرَهَا:

د حدیث مخاطبین: دَ سرودَپاره سره زر او ریښم حرام دی. دَحدیث تعلق سروسره دې او خطاب هم سرو ته دې ښځوته نه دې.

نوټ: په جنت کښې د سرو زرو او ریښمو څخه د محرومتیا په تاویل مختلف جوابونه تیرشوي دي.

[۴۴۰۵] د سرو زرو ګوتمه غورزول

۴۴۰۵—[۲۲] (²) [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- [۲] «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- اتَّخَذَ خَاتَمًا، فَلَبِسَهُ [۳] قَالَ: " شَغَلَنِي هَذَا عَنْكُمْ مُنْذُ الْيَوْمِ [۴] إِلَيْهِ نَظْرَةٌ، وَإِلَيْكُمْ نَظْرَةٌ " [۵] ثُمَّ أَلْقَاهُ». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

(¹) اخرجه النسائی فی کتاب الزینة/باب الکراهیة للنساء فی إظهار الحلی والذهب (رقم-۵۱۳۶)
(²) اخرجه النسائی فی السنن کتاب الزینة/باب طرح الخاتم وترک لبسه (رقم-۵۲۸۹)

ترجمه: ① او د حضرت ابن عباس ﷺ نه روایت دي② چې رسول الله ﷺ (دسرو یا د سپینو) یوه ګوتۍ جوړه کړه، او هغه یې واچوله③ (بیا حاضرین مخاطب کولو سره یې) وفرمایل چې نن ورځ دې ګوتۍ زه ستاسو د طرف نه مشغول وساتلم (یعني زه تاسو طرف ته متوجه نه شوم)④ ځکه چې کله دې ګوتۍ طرف ته ګورم، اوکله ستاسو طرف ته ګورم، ⑤ اوبه دي ویلو سره حضور ﷺ هغه ګوتۍ راوخکله او وي غورځوله (نسایي)

تسهیلات:قوله: شَغَلَنِي هَذَا عَنْكُمْ

د دنیا د زیب او زینت اثر: معلومه شوه چه دَ دنیا په زیب اوزینت سره هرسړې متاثرکیدې شي په دې وجه دَ هرمسلمان دَ پاره ترك زینت اودَ ډول سینګار نه ځان ساتل ډیرضروري دی ګنی دَدنیاپه سمندرکښې به ډوب شي.

قوله: ثُمَّ أَلْقَاهُ

د ګوتمې د غورزولووجه: داسې معلومیږي چه دا ګوتمه دَ سرو زرو وه. نبی کریم کیدې شي چه دَحرمت نه وړاندې دَ اباحت په وخت اچولې وه بیائي اوغورزوله.

[۴۳۰۶] ماشومانوته د سرو زرو د اچولو ممانعت

۴۳۰۶ــ[۲۳] ()① وَعَنْ مَالِكٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: ② أَنَا أَكْرَهُ أَنْ يَلْبَسَ الْغِلْمَانُ شَيْئًا مِنَ الذَّهَبِ؛ ③ لِأَنَّهُ بَلَغَنِي أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- «نَهَى عَنِ التَّخَتُّمِ بِالذَّهَبِ»؛ ④ فَأَنَا أَكْرَهُهُ لِلرِّجَالِ، الْكَبِيرِ مِنْهُمْ وَالصَّغِيرِ. رَوَاهُ فِي "الْمُوَطَّإِ".

ترجمه: ① او د حضرت امام مالك رحمه الله نه روایت دي دی وایي ② چې زه دا بد ګنم چې هلکانو ته دي د سرو زرو یو شي واچول شي، ③ ځکه چې ماته روایت رسیدلي دي چې رسول الله ﷺ د سرو زرو د ګوتۍ د استعمالولو نه [هم] منع فرمایلي ده، [او هر کله چې د ګوتۍ په شان شي هم ممنوع دي، نو نور څیزونه خو به بطریقِ اولي ممنوع وي] ④ نو زه د نارینه ؤ د پاره سره زر اچول بد ګنم، برابره ده که هغه لوئ وي یا کوشني (مؤطا)

حل اللغات: ① التَّخَتُّم: ګوتمه اچول،

تسهیلات: قوله: وَالصَّغِيرِ

ماشومانو ته د سرو زرو د اچولو حرمت: یعنی کوم لباس او کالی چه دَسړودَپاره منع دی هغه ماشومانوته اچول هم منع دی مثلاً ریښمین لباس وړوکو هلکانوته اچول هم منع دی دغه شان دَ سرو زور ګوتمې هلکانوته اچول هم منع دی دغه شان دَ سرو زرو تعویذونه یا نورکالي وړو هلکانوته اچول منع دی. که مشرانو ورته واچول نو هغوی به ګناهګاران وی. په زیربحث روایت کښې دَامام مالك دَدې فتوئ مطلب اومقصد هم دغه دي.

() اخرجه مالک في الموطا کتاب اللباس/باب ما جاء في لبس الثیاب المصبغة والذهب (رقم-۴)

[۲] بَابُ النِّعَالِ

د پیزار بیان

خلاصة الباب:

فيه أحد عشر حديثاً مشتملة على سبع مسائل:

① هيئة نعال النبي ﷺ: ۱، ۲، ۷.
② الترغيب في إتخاذ النعال: ۳.
③ طريق لبس النعل: ۴.
④ حكم المشي في نعل واحد: ۵، ۶، ۹.
⑤ النهي عن الانتعال قائماً: ۸.
⑥ خلع النعال وقت الجلوس: ۱۰.
⑦ كون لبس الخفين في حكم النعال: ۱۱.

قوله: نعال

د نعال جمع راوړلو وجه: په دې باب کښې دراصل دَنبی کریم دَ پیزار هیئت او صفت بیانول مقصود دی چه په هغه دورکښې په عربوکښې رائج وو. چونکه په هغه زمانه کښې به هم رائج خپلنې دَمختلف قسمونو وې په دې وجه دَ جمع صیغه نعال استعمال کړې شوې ده

د نعل تعریف: دَنعل جمع ده نعل هغه څیزته وائی دَ کوم په ذریعه چه خپې دَ زمکې نه بچ کړې شی په نورو الفاظوکښې دې ته پاپوش نوم ورکړې شوې دې په خپوکښې استعمالیدونکې خپلنې په هره زمانه کښې بدلیږی اودَهرقوم اوملك په دې کښې خان خنله رواج وی کله خپلنې کله بوټان کله پنړې وغیره وی په دې وجه دادَ جمع په عنوان سره ذکرکړې شوې دی

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۴۴۰۷] د نبی کریم ﷺ چپل (څپلی) مبارکې

۴۴۰۷-[۱] (۱)[۱] عَنِ ابْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا-قَالَ: [۲] «رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-يَلْبَسُ النِّعَالَ [۳] الَّتِي لَيْسَ فِيهَا شَعْرٌ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

---

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب اللباس/باب النعال السبتیة وغیرها (رقم-۵۸۵۱) ومسلم فی کتاب الحج/باب الإهلال من حیث تنبعث الراحلة (رقم-۲۵ - (۱۱۸۷)) و مالک فی الموطا کتاب الحج/باب العمل فی الاهلال (رقم-۳۱)

ترجمه: [۱] حضرت ابن عمر رضي الله عنه وايي [۲] چه ما رسول الله ﷺ په كوم چپل (پيزار) مبارك اچولو ليدلي دي، [۳] په هغې كې ويښتان نه وو (بخاري)

حل اللغات: ① النِّعَالَ: څپلئ، پيزار

تسهيلات:

قوله: يَلْبَسُ النِّعَالَ الَّتِي لَيْسَ فِيهَا شَعَرٌ

د نبی علیه السلام پيزار: څرمن له چه كله په ښه شان سره دباغت وركولې شي نوهغه صفا اوښكلې وي اودَ هغې تول ويښته دَ بيخه راؤخي ليكن كه څرمن مدبوغ او مصبوغ نه وي نوهغه اوچيرې اوويښته دَ هغې دَپاسه پاتې كيږي دې ته د موچيانو په اصطلا كښې (سابر) وائي دَدې قسم څرمن زياته ښكلې نه وي دَ زيربحث حديث مطلب هم دغه دې چه دَ نبی كريم په پيزار باندې ويښته نه وو يعنی دَ ښكلې څرمن نه جوړشوې وو

[۴۳۰۸] د نبی علیه السلام د څپلو دوه تسمې

۴۳۰۸—[۲] ( )[۱] وَعَنْ أَنَسٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: [۲] «إِنَّ نَعْلَ النَّبِيِّ كَانَ لَهَا قِبَالَانِ»، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضي الله عنه وايي [۲] چه د نبي كريم ﷺ په څپلئ مبارك كې دوه تسمې وې (بخاري)

حل اللغات: ① قِبَالَانِ: دا تثنيه ده دَدې مفرد قبال دې، د څپلئ تسمه

تسهيلات:

قوله: إِنَّ نَعْلَ النَّبِيِّ كَانَ لَهَا قِبَالَانِ:

د نبی علیه السلام په څپلو كښې دوه تسمې: حديث مطلب دادې چه دَ نبی كريم په څپلو كښې دوه تسمې وې چه مخامخ طرف ته به په گوتوكښې پيوست وې يوه تسمه خو به دَ غټې گوتې او دې سره گوتې په مينځ كښې وه لكه چه نن صبا هوائی چپل (دَ گوتمې چپړ ې) وی اودويمه تسمه غټې گوتې سره نيزدې مينځمې اودې سره بنصر گوتې په مينځ كښې وه په دې سره به څپلئی په خپه كښې مضبوطه وه اودا دَهغه زمانې په رواج كښې وو نن صبا دارواج عام نه دې اهل سيرت په زير بحث حديث كښې دَ مذكوره څپلئی نقشه ليكلې ده

[۱]) اخرجه البخاري في كتاب اللباس/باب قبالان في نعل. ومن رأى قبالا واحدا واسعا (رقم ۵۸۵۷) وابوداود فيكتاب اللباس/باب في (رقم-۴۱۳۴) والترمذي في كتاب اللباس عن رسول الله صلى الله عليه وسلم باب ما جاء في النهي عن جلود السباع (رقم- ۱۷۷۱) والنسائي في كتاب الزينة/باب صفة نعل رسول الله صلى الله عليه وسلم (رقم-۵۳۶۷) وابن ماجه في كتاب اللباس/باب صفة النعال (رقم-۳۶۱۵)

[۴۳۰۹] د پڼرو اچولو فائده

۴۳۰۹—[۳] (¹) [۱] وَعَنْ جَابِرٍ، قَالَ: [۲] «سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي غَزْوَةٍ غَزَاهَا يَقُولُ: [۳] "اسْتَكْثِرُوا مِنَ النِّعَالِ، [۴] فَإِنَّ الرَّجُلَ لَا يَزَالُ رَاكِبًا مَا انْتَعَلَ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر ﷜ وايي [۲] چه زه د يوي غزا په موقع چې په هغې کې جنګ وشو (يعني د يو جهاد د پاره) د روانيدو په وخت کښې مې د نبي کريم ﷺ نه دا واوريدل [۳] چې ډيرې پڼرې د ځان سره واخلئ، [۴] ځکه چې سړي تر څو پڼرې اچولي وي، نو د سپور په مثل وي. (مسلم)

تسهيلات:

قوله: فِي غَزْوَةٍ غَزَاهَا:

د غزوه څخه مراد: دَ پڼرو دَ اهميت په سلسله کښې په اهتمام سره دا اعلان دَغزوه تبوک په موقع باندې نبي کريم کړې وو. چونکه دَ سفر دور وو پيدل هم وو دَ سختې ګرمئ موسم وو په دې وجه دَ ځپلو ضرورت وو. لهذا نبي کريم دَ ځپلو دَاهميت طرف ته اشاره اوفرمائيله چه ترکومې پورې دَ سړی په ځپو کښې ځپلئ وی نو هغه سړې لکه دَ سور په شان دې ځکه چه ځپلو سره سړې تيز ځي ځپې نه زخمي کيږی اودګرمئ يخنئ او تندك وغيره نه محفوظ پاتې کيږی

[۴۳۱۰] په پيزار اچولو کښې د ښی طرف څخه شروع کول

۴۳۱۰—[۴] (²) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «إِذَا انْتَعَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَبْدَأْ بِالْيُمْنَى، [۳] وَإِذَا نَزَعَ فَلْيَبْدَأْ بِالشِّمَالِ، [۴] لِتَكُنِ الْيُمْنَى أَوَّلَهُمَا تُنْعَلُ [۵] وَآخِرَهُمَا تُنْزَعُ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره ﷜ وايي چه رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] هر کله چې په تاسو کې يو سړی ځپلی (پيزار) اچوي، نو هغه ته پکار دي چې د ښي پښي نه ابتداء وکړي [يعنی مخکې دي ښي پښه په ځپلی کې اچوي]. [۳] او کله چې ځپلی اوکاږي، نو پکار دي چې د چپي پښي نه شروع وکړي [يعنی مخکې دي چپه پښه د ځپلی نه اوباسي]. [۴] [حاصل دا چې] ښي پښه د اچولو په وخت کښې مقدم ساتل پکار دي، [۵] او د ويستلو په وخت مؤخر ساتل پکار دي. (بخاري مسلم)

¹) اخرجه مسلم فی کتاب الأشربة/باب ما جاء فی الانتعال والاستکثار من النعال (رقم-۶۶ - (۲۰۹۶) وابوداود فی کتاب اللباس/باب فی(رقم-۴۱۳۳)

²) اخرجه البخاری فی کتاب اللباس/باب لا يمشی فی نعل واحدة (رقم-۵۸۵۶) ومسلم فی کتاب الأشربة/باب إذا انتعل فليبدأ باليمين وإذا خلع فليبدأ بالشمال (رقم-۶۷ - (۲۰۹۷) وابوداود فی کتاب اللباس/باب فی (رقم-۴۱۳۹) والترمذی فی کتاب اللباس عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء بأی رجل يبدأ إذا انتعل (رقم-۱۷۷۹) وابن ماجه فی کتاب اللباس ، باب لبس النعال وخلعها (رقم-۳۶۱۶)

تسهيلات: قوله: فَلْيَبْدَأْ بِالْيُمْنَى:

د پیزار په اچولو او ویستلو کښې مسنون طریقه: په اسلام کښې ښی طرف ته یو اعزاز او اکرام حاصل دې. لهذا ښي خپه دَ ګسې خپې په نسبت زیاته دَ اکرام قابل ده. په دې کښې څپلئی اچول دَ څپلئی کوزولو په نسبت زیات دَ اکرام او اعزاز سبب دې. دَدې قاعدې په رڼا کښې په دې حدیث کښې مسلمانانو ته دا تعلیم ورکړې شوې دې چه کله څپلئی اچوئی نو شروع دَ ښی خپې څخه کوئی دې دَپاره چه دَاعزاز اندام ته اول اعزاز ملاؤ شی او کله چه څپلئی اوباسئی نو شروع دَ ګسې خپې نه کوئی چه دَ څپلئی اچولو اعزاز تر ډیر وخته پورې ښې خپې ته حاصل وی. لکه چه دَ دغه اعزاز ابتداء او انتهاء کښې دَ ښې خپې لحاظ ساتلې شوې دې. په دې سره «إن الله یحب التیامن الخ» حدیث باندې ښه عمل کیږی.

[٤٤١١] په یوه پښه پیزار اوبله خپه ایبله ساتلو کراهت

٤٣٠-[٥] ()[١] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] "«لَا يَمْشِي أَحَدُكُمْ فِي نَعْلٍ وَاحِدَةٍ، لِيُحْفِهِمَا جَمِيعًا، [٣] أَوْ لِيُنْعِلْهُمَا جَمِيعًا» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوهریره رضي الله عنه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل [٢] په تاسو کې دې یو سړي په یوه پښه کې څپلی اچولو سره نه ګرځي، [٣] دا ضروري ده چې یا خو دې دواړې پښې بربنډې وي، [٤] یا دې په دواړو پښو کې چپلۍ وي (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① لِيُحْفِهِمَا: دَ إحفاء نه دې، یعنی بربنډې دې کړی دواړه خپې، ② لِيُنْعِلْهُمَا: د إنعال نه دې، یعنی په دواړو کښې دې څپلۍ واچوی

تسهیلات: قوله: فِي نَعْلٍ وَاحِدَةٍ:

په یوه خپه کښې د پیزار د اچولو کراهت: په شمائل ترمذی کښې دَ نعل واحد یعنی یوه څپلئی اچولو کښې دَتګ روایت دې. راتلونکی حدیث نمبر(٤٣٦) کښې پوره تفصیل لیکلې شوې دې هلته اوګورئی. دلته دَحدیث مطلب دادې چه که چرې څپلئی اچول وی نو په دواړو خپو کښې اوکه نه اچول وی نو چه په دواړو خپو کښې وانچولې شی. په یوه خپه کښې څپلئی اچول او دویمه بربنډه ساتل مکروه تنزیهی دی ځکه چه داسې کول دَتهذیب او دَ ښه عادت خلاف دی چه ډیر بې طریقې او بدې لګی. بل په دې کښې تکلیف او پریشانی هم ده چه یوه خپه به دې اوچته وی او یوه دې ښکته وی په تګ کښې به هم مشکل وی او دَ راپریوتلو خطره به وی

[١] اخرجه البخاری فی کتاب اللباس/باب ینزع نعله الیسری (رقم-٥٨٥٥) ومسلم فی کتاب الأشربة/باب إذا انتعل فلیبدأ بالیمین وإذا خلع فلیبدأ بالشمال(رقم-٦٨ - (٢٠٩٧) وابوداود فی کتاب اللباس/باب فی (رقم- کتاب اللباس/باب فی (رقم-٤١٣٩) والترمذی فی کتاب اللباس عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی کراهیة المشی فی النعل الواحدة (رقم-١٧٧٤) وابن ماجه فی کتاب اللباس، باب لبس النعال وخلعها (رقم-٣٦١٦)

[۴۴۲] په يوه پنړه کښې د ګرځيدو ممانعت

۴۴۲ـ[۶] (¹) [۱] وَعَنْ جَابِرٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «إِذَا انْقَطَعَ شِسْعُ نَعْلِهِ [۳] فَلَا يَمْشِ فِي نَعْلٍ وَاحِدَةٍ [۴] حَتَّى يُصْلِحَ شِسْعَهُ، [۵] وَلَا يَمْشِ فِي خُفٍّ وَاحِدٍ، [۶] وَلَا يَأْكُلْ بِشِمَالِهِ، [۷] وَلَا يَحْتَبِي بِالثَّوْبِ الْوَاحِدِ، [۸] وَلَا يَلْتَحِفِ الصَّمَّاءَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] هر کله چې د يو سړي د څپلۍ (يعني چپل وغيره) تسمه وشليږي، [۳] نو په يوه څپلۍ کې دې نه ګرځي. [۴] بلکې د هغه څپلۍ تسمه دې درسته کړي، [۵] دغه شان په يوې موزې اچولو سره دې نه ګرځي، [۶] نه دې په چپ لاس سره طعام خوري، [۷] دغه شان نه دې په يوه جامه کې د کوناټو لګولو سره کيني (چې کله د هغه جامې څه حصه د هغه ستر پټ کړې نه وي) [۸] اونه دې يوه جامه په بدن داسې چاپيروي چې لاسونه هم دننه وي (او د لاس اوخکلو په وخت کښې ستر خلاص شي). (مسلم)

حل اللغات: ① شِسْعُ: د څپلۍ تسمه، ② نَعْلِهِ: څپلۍ، پيزار، ③ وَلَا يَحْتَبِي: لاسونه راتاوولو سره دې نه کيني ④ وَلَا يَلْتَحِفِ الصَّمَّاءَ: په بدن کپړه داسې راچاپيره کړي، چې دواړه لاسونه په کپړه کې دننه راشي.

تسهيلات:

نوټ: په يوه پنړه کښې د ګرځيدو وضاحت وړاندې د حديث نمبر (۴۳۱۵) په شرح کښې تير شوې دې.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۴۴۳] د نبي کريم ﷺ د پنړو تسمې

۴۴۳ـ[۷] (²) [۱] عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا-قَالَ: [۲] «كَانَ لِنَعْلِ رَسُولِ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-قِبَالَانِ، [۳] مُثَنًّى شِرَاكُهُمَا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وايي [۲] چې د رسول الله ﷺ په چوټو (پنړو) مبارکو کې دوه تسمې وې (چې په هغې کې به د پښو ګوتې وې) [۳] او په هغه دواړو کې هره تسمه غبرګه وه (چې د تسمې مضبوطي هم قائمه وي، او پښو کښ خخيږي هم نه. (ترمذي)

حل اللغات: ① قِبَالَانِ: دوه تسمې، ② مُثَنًّى: دوه، ③ شِرَاكُهُمَا: شراک تسمې ته وائي

(¹) اخرجه مسلم في كتاب الأشربة/باب اشتمال الصماء والاحتباء في ثوب واحد(رقم-۷۱ - (۲۰۹۹) وابوداود في كتاب اللباس/باب في (رقم-۴۱۳۷) واحمد في المسند:۳/۳۲۷

(²) اخرجه ابن ماجه في السنن كتاب اللباس/باب صفة النعال(رقم-۳۶۱۴)

تسهیلات: قوله: مُثَنًّى شِرَاكُهُمَا:

د نبی علیه السلام د پنړوتسمې: یعنی دَمخې تسمې غبرګې وې دې دَپاره چه خپه کښې نتوتو سره زخمی نه کړي. بل غبرګ کیدو سره مضبوطیا راځي دلته په دې حدیث کښې دَ مخامخ دوو تسمو ذکر دې ممکن ده چه په خپې په شا چه کومې تسمې وی هغه هم مراد وی ځکه چه دغه شان څپلئ استعمالیږی اودهغې تسمې غبرګولې شی دې دَپاره چه مضبوطې هم وی اودَ پلنیدو دَ وجهې په خپوکښې هم ورخښې نه شی.

[۴۴۳]په ولاړه د پنړو په پښو کولو ممانعت

۴۴۳—[ ] ()[۱] وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲]«نَهَى رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنْ يَنْتَعِلَ الرَّجُلُ قَائِمًا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱]او حضرت جابر ﷺ وايي[۲] چې رسول الله ﷺ په ولاړه د پیزار اچولو نه منع فرمايلي ده. (ابوداؤد)

حل اللغات: ①أَنْ يَنْتَعِلَ: چه پیزار په خپو کړی.

۴۴۵—()[۱]وَرَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ.

ترجمه: [۱]او ترمذي، او ابن ماجه دا روایت د ابوهریره ﷺ نه نقل کړي دي.

تسهیلات:

قوله: أَنْ يَنْتَعِلَ الرَّجُلُ قَائِمًا:

د ممانعت مصداق: داممانعت هغه وخت دې کوم وخت چه په ولاړه باندې څپلئ اچول سخت وی لکه چه بوټان وغیره څپلئ چه وی. دا په تسلئ سره اچولودَپاره کیناستل پکاردو دې دَپاره چه دَدې تسمې ښه اوتړلې شی اوکه په ولاړه ولاړه داسې کوی نوکله به پاسی کله به راغورزیږی پوره مشقت به کوی. دَ حدیث دا نهی ارشادی ده. بل داخبره چه دَ بعضې څپلودَپاره ده دَهرې یوې دَ پاره نه ده.

[۴۴۶]آیا نبی کریم ﷺ به په یوه پښه کې څپلۍ اچولو سره ګرځیدي

۴۴۶—[۹] ()[۱] وَعَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ - قَالَتْ: [۲]«رُبَّمَا مَشَى النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي نَعْلٍ وَاحِدَةٍ». [۳]وَفِي رِوَايَةٍ: أَنَّهَا مَشَتْ بِنَعْلٍ وَاحِدَةٍ. [۴]رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا أَصَحُّ.

() اخرجه ابوداود فی السنن کتاب اللباس/باب فی الانتعال (رقم-۴۱۳۵)

() اخرجه الترمذی فی السنن کتاب اللباس عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی کراهیة أن ینتعل الرجل وهو قائم (رقم-۱۷۷۵) وابن ماجه فی کتاب اللباس/باب الانتعال قائما (رقم-۳۶۱۸)

() اخرجه الترمذی فی السنن کتاب اللباس عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء من الرخصة فی المشی فی النعل الواحدة (رقم-۱۷۷۷، ۱۷۷۸)

ترجمه: [۱] او حضرت قاسم ابن محمد د بي بي عائشي رضي الله عنها نه نقل كوي، چه هغې اوويل [۲] چې نبي كريم ﷺ به بعضې وخت يو چپل اچولو سره گرځيدو، [۳] او په يوه روايت كې دا الفاظ دي چې بي بي عائشه رضي الله عنها په يوې چپلكي كې وگرځيده، [۴] ترمذي رحمه الله دا روايت نقل كړي دي او ويلي يې دي چه دا روايت د اسناد په اعتبار سره يا د مفهوم او معنې په اعتبار سره ډير صحيح دي.

تسهيلات:

قوله: بِنَعْلٍ وَاحِدَةٍ: يعنى شاذ او نادر به نبى كريم چرته په يوه څپلئي كښې دَ مجبورئى دَ وجهې په كور كښې دننه گرځيدلو.

تعارض: داحديث دَ مخكينو ټولو احاديثو معارض دې په كوم كښې چه په يوه څپلئى كښې گرځيدل منع كړې شوى دى. دَدې څه جواب دې؟

د تعارض شپږ جوابونه: ① داحديث صحيح نه دې يا كه چرې صحيح دې نو معمول به نه دې.

② دَ نبى كريم داعمل دَ نادر په درجه كښې وو اونادر دَمعدوم په حكم كښې وى. "والنادر كالمعدوم".

③ دا حديث دَ جواز دَبيانولو دَپاره دې چه يوه څپلئى اچولو سره تگ كول حرام نه دى.

④ په اصل كښې دادَ حضرت عائشې رضي الله عنها خپل عمل وو لكه څنگه چه په نورو روايتونو كښې دَ دې بيان دې اوترمذى هم دا روايت راجح گرځولې دې.

⑤ دا عمل په مكروه تنزيهى باندې محمول دې. لهذا باقى احاديث اودَدې حديث مآل اومرجع هم يو دې چه داسې كولوكښې كراهت تنزيهى دې. بيا نبى كريم دَ جواز دَ بيان دَپاره بعضې وخت په كراهت تنزيهى باندې عمل كړې دې چه دَ رسول الله ﷺ په حق كښې به مكروه نه وو بلكه دَ امت دَتعليم په بنياد به دَ ثواب كار جوړيدو.

⑥ دَدې تعلق دَ كور دننه سره دې عام تگ سره نه دې.

[۴۳۱۶] پنړه په ناسته ويستل

۴۳۱۶–[۱۰] (۱) [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- قَالَ: [۲] «مِنَ السُّنَّةِ إِذَا جَلَسَ الرَّجُلُ [۳] أَنْ يَخْلَعَ نَعْلَيْهِ فَيَضَعَهُمَا بِجَنْبِهِ». رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وايي [۲] چې دا خبره د سنتو نه ثابته ده چې هر كله يو سړي كيني، [۳] نو خپلې څپلې دې اوباسي، او هغه دې خپل اړخ سره كيږدي. (ابوداؤد)

(۱) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب اللباس/باب فى الانتعال (رقم-۴۱۳۸)

تسهيلات:

قوله: أَنْ يَخْلَعَ نَعْلَيْهِ فَيَضَعَهُمَا بِجَنْبِهِ:

دحديث مطلب: يعنى په مجلس كښې دَخپلوسره مه كيننى دادَ مجلس دَ آدابوهم خلاف دى اودَتهذيب اوښكلا هم خلاف دى خپلنى كوزولوسره به خپې هم په آرام شى اوسرې به هم په آرام شى بل خپلنى خپل ګس اړخ ته خان سره كيخودل پكاردى دې دپاره چه دَ ښى طرف تكريم باقى پاتې شى اومخې ته ئى هم مه ايږدئى خكه چه دَ قبلې طرف ته سرې مونځ كوى اوشاته ئى هم مه ايږدئى دَ غلا ويره وى.

[۴۳۱۸] د نبى كريم ﷺ دپاره د نجاشي د طرف نه د موزو هديه

۴۳۱۸—[۱۱] ()[۱] وَعَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، [۲] «أَنَّ النَّجَاشِيَّ أَهْدَى إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - خُفَّيْنِ أَسْوَدَيْنِ [۳] سَاذَجَيْنِ، فَلَبِسَهُمَا». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ. [۴] وَزَادَ التِّرْمِذِيُّ عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ: ثُمَّ تَوَضَّأَ وَمَسَحَ عَلَيْهِمَا.

ترجمه: [۱] اوحضرت ابن بريده رضي الله عنه د خپل پلار نه نقل كوي [۲] چې نجاشي (د حبشې بادشاه) د نبي كريم ﷺ په خدمت كې دوه توري موزي (يعنى د توري چمړي موزي) په طور د هديې اوليږلې، چې ساده [يعنى غير منقش] وي، حضور ﷺ هغه [په حالت د طهارت كې] واچولى (ابن ماجه)[۴] او ترمذي رحمه الله دا روايت د ابن بريده او هغه د خپل پلار نه نقل كړي دي او د هغه په روايت كې د دې الفاظو اضافه هم ده چې بيا حضور ﷺ اودس وكړو او په هغه موزو يې مسح وكړله.

حل اللغات: ①النَّجَاشِيَّ: د حبشې بادشاه لق دې، ②خُفَّيْنِ: دوه موزې، ③أَسْوَدَيْنِ: تور رنګ والا، د تورې څرمن. ④سَاذَجَيْنِ: ساده وې، ګلونه او نقش پرې نه وو.

تسهيلات:

قوله: أَنَّ النَّجَاشِيَّ أَهْدَى إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - خُفَّيْنِ

دنجاشى تعارف: نجاشى به دَ حبشې دَ بادشاه لقب وو دَهغه نوم اصحمه وو اودې مسلمان شوې وو دَ چادَ جنازې مونځ چه نبى كريم وركړې وو

قوله: فَلَبِسَهُمَا:

د بې ځايه تحقيق حكم: يعنى نبى كريم دا قبولې كړې. په دې باندې ئى مسح اوكړه اودې سره به ئى مونځ كولو. نبى كريم دَ دغه خفين باره كښې دا تحقيق نه دې كړې چه دا دَ كوم قسم څرمن نه جوړې شوې دى آيا دا څرمن دَ حلال ځناور وه كه دَ حرام ځناور وه؟ مدبوغ وه

[۱]) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الخف الأسود(رقم-۲۸۲۰)وابن ماجه فى كتاب الطهارة وسننها/باب ما جاء فى المسح على الخفين (رقم-۵٤۹) واحمد فى المسند:۳۵۲/۵

که غیر مدبوغ وه؟ هغوی صرف دا اوکتل چه دَ بره نه صفا وه. څه پلیتی نه بنکاری هم په دې باندې نبی کریم اکتفاء اوکړه دې نه معلومه شوه چه دَ غیرمسلم بهر دنیا نه چه کوم څیزونه راځی په هغې کښې دومره کتل کافی دی چه په ظاهری توګه وړیوري څه نجاست نشته دې.

(وَهٰذَا الْبَابُ خَالٍ عَنِ الْفَصْلِ الثَّالِثِ)

دا باب د دریم فصل څخه خالی دې

[۳] بَابُ التَّرَجُّلِ

د منګز کولو بیان

خلاصة الباب:

فيه ثمانية وستون حديثاً مشتملة على سبع عشرة مسئلة:

① أحكام الأشعار المختلفة على البدن: ۲، ۳، ۴، ۱۹، ۲۰، ۴۱، ۴۲، ۶۸.

② صبغ الشعر وأقسامه: ۵، ۶، ۳۲، ۳۴، ۳۵، ۳۶، ۳۷، ۴۵، ۵۸، ۵۹، ۶۰.

③ النهي عن بعض كيفيات الشعر: ۸، ۹، ۴۱، ۶۴.

④ النهي عن تشبه النساء بالرجال وبالعكس: ۱۰، ۱۱، ۴۹، ۵۰، ۶۱، ۶۵.

⑤ النهي عن وشم الشعر وصله: ۱۲، ۱۳، ۱۴، ۴۸.

⑥ صفات شعر النبي ﷺ: ۷، ۱۵، ۲۱، ۱۹، ۲۷، ۲۸، ۲۹، ۳۵. ۴۰، ۵۸، ۵۹، ۶۰

⑦ النهي عن استعمال الزعفران للرجال: ۱۶، ۲۲، ۲۳، ۲۴، ۴۸.

⑧ استعمال الطيب في الشعر وغيره: ۱۷، ۱۹، ۲۶، ۶۷.

⑨ الفرق بين طيب الرجال والنساء: ۲۵.

⑩ آداب الترجل والترغيب فيه: ۳۰، ۳۱، ۳۲، ۶۳، ۶۴.

⑪ فضيلة شيب الشعر: ۳۸، ۳۹، ۶۸.

⑫ حكم حلق الرأس: ۴۳، ۶۵.

⑬ حكم ختان المرأة والرجل: ۲، ۴۴، ۶۸.

⑭ حكم احتناء كف المرأة: ۴۶، ۴۷.

⑮ النهي عن استعمال الفضة للصبيان: ۵۱.

⑯ فضيلة الإكتحال: ۵۲، ۵۳.

⑰ حكم دخول الحمام: ۵۴، ۵۵، ۵۶، ۵۷.

قوله: الترجل

په ترجل او تسريح کښې فرق: په عربي ژبه کښې ترجل ګمنزولو ته وائي که هغه په سر کښې وي اوکه په ږيره کښې وي ليکن په عام توګه ترجل په سرکښې ګمنزي کولودپاره استعماليږي اوکه په ږيره کښې ګمنز کول وي نوداد تسريح په لفظ سره بيانولې شي

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۴۳۹] د حائضې خپل خاوند لره سر ګمنځول

۴۳۹—[۱] (١) [١] عَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهَا- قَالَتْ: [٢] «كُنْتُ أُرَجِّلُ رَأْسَ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَأَنَا حَائِضٌ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] بي بي عائشه رضي الله عنها فرمائي [٢] چې مابه د حيض په ورځو کې هم د حضور ﷺ سر مبارك منګز کولو. (بخاري ، مسلم)

حل اللغات: ① أُرَجِّلُ: مابه ګمنځول.

تسهيلات:

قوله: كُنْتُ أُرَجِّلُ رَأْسَ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَأَنَا حَائِضٌ:

په حالت حيض کښې د خاوند سر ګمنځول: دَدې حديث نه معلومه شوه چه دَ حائضې ښځې عام بدن داسې ناپاك نه وي کوم سره چه لاس لګول منع وي. حضرت عائشې صديقې رضي الله عنها به دَ حيض په حالت کښې دَ نبي کريم په سر مبارك کښې ګمنزکوله. ښکاره خبره ده چه دَ رسول الله ﷺ مبارك بدن سره به دَ حضرت عائشې صديقې رضي الله عنها لاس بار بار لګيدلې وي.

[۴۴۰] پنځه فطرتي څيزونه

۴۴۰—[۲] (٢) [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] "«الْفِطْرَةُ خَمْسٌ: [٣] الْخِتَانُ، [٤] وَالِاسْتِحْدَادُ، [٥] وَقَصُّ الشَّارِبِ، [٦] وَتَقْلِيمُ الْأَظْفَارِ، [٧] وَنَتْفُ الْإِبِطِ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] پنځه څيزونه په

---

(١) اخرجه البخاري في كتاب اللباس/باب ترجيل الحائض زوجها (رقم-٥٩٢٥) ومسلم في كتاب الحيض /باب جواز غسل الحائض رأس زوجها وترجيله وطهارة سؤرها والاتكاء في حجرها وقراءة القرآن فيه (رقم-٩ - (٢٩٧) وابوداود في كتاب الترجل /باب في أخذ الشارب (رقم-٤١٩٨) وابن ماجه في كتاب الطهارة وسننها/باب الحائض تتناول الشيء من المسجد (رقم-٦٣٣) ومالك في الموطا كتاب الطهارة: باب جامع الحيضة (رقم-١٠٢) واحمد في المسند:١٠٠/٦

(٢) اخرجه البخاري في كتاب اللباس/باب تقليم الأظفار (رقم-٥٨٩١) ومسلم في كتاب الطهارة/باب خصال الفطرة (رقم-٥٠ - (٢٥٧) والترمذي في كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في تقليم الأظفار(رقم-٢٧٥٦) والنسائي في كتاب الزينة/باب ذكر الفطرة (رقم-٥٢٢٥)وابن ماجه في كتاب الطهارة وسننها باب الفطرة (رقم-٢٩٢) ومالك في الموطا كتاب صفة النبي صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في السنة في الفطرة (رقم-٣)واحمد في المسند: ٤١٠/٢

فطرت کې داخل دي[۱] يو خو ختنه کول (سنتول) [۲] دويم د نامه نه لاندې ويښتان د صفا کولو (دپاره) د اوسپنې (چاړه وغيره) استعمالول [۵] دريم د شونډو ويښتان (بريتونه) کُشني کول [٦] څلورم نوکان کټ کول [۷] پنځم د بغل ويښتان صفا کول (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① الْفِطْرَةُ: فطرتي څيزونه، د انسان طبيعت سره موافق څيزونه، ② الْخِتَانُ: سنت کول ③ الِاسْتِحْدَادُ: اوسپني سره ويښته کټ کول، ④ قَصُّ: کمول، ⑤ الشَّارِبِ: بريت، د شونډو دپاسه ويښته، ⑥ تَقْلِيمُ: کټ کول، ⑦ الْأَظْفَارِ: نوکان، ⑧ نَتْفُ: ويستل، ⑨ الْإِبِطِ: ترخ، د ترخ ويښتان

تسهيلات: قوله: الْفِطْرَةُ: دَ فطرت نه دَ انبياء کرامو عليهم السلام سنت قديمه مراد دي لکه چه دا څيزونه خلقي جبلي او پيدائشي خصلتونه دي.

قوله: الْخِتَانُ:

د ختنې په حکم کښې ۲ مذاهب:

① دَ شوافع په نيز ختنه واجب دي ② دَ احناف په نيز سنت مؤکده دي

دوجوب دلائل: ① ختنه کول دَ شعائراسلام نه دی اوشعار واجب وی.

جواب: دَ شعائرلفظ دَ وجوب دَپاره يقيني نه دي په سنت کښې هم شعائرکيدې شي

② حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائی چه دَ تارکِ ختنه نه شهادت قبول دي نه ئې امامت قبول دي دا دليل دَ وجوب دي.

جواب: دَ ابن عباس رضي الله عنهما فتوىٰ دَهغه سړی باره کښې ده چه دَ ختنه کولونه انکار کوی يا دا سپک ګڼړی.

دعدم وجوب دلائل: ① په احاديثوکښې دَ فطرت لفظ راغلې دي کوم چه دَ سنت په معنی کښې دي

② دسنن المرسلين لفظ هم راغلې دي.

③ دغه شان په حديث کښې دی ((الختان سنة للرجال ومکرمة للنساء)) (رواه احمد)

د ملا علي قارئ په نيز د ختنې د وجوب رائې:

① ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی چه ممکن ده چه دَ احنافو په نيز هم ختنه کول واجب وی او دَ سنت اطلاق په دې وجه سره وی چه دا ثابت بالسنة دي پخپله واجب دي دَ ملاعلی قاری رحمه الله کلام دَ قواعدو مطابق دي چه ختنه کول واجب کيدل پکاردی ځکه چه ترننه پورې په دې باندې استمرار سره عمل کول جاری دي. چاترک کړي نه دي دادَ وجوب دليل دي

دختنې جزئيات:

① که چرې يوماشوم سنت کړې شوې راپيدا شي نودَهغه ختنه کول ضروری نه دی.

② دَ اوو نه ترلسوکالوپورې سنت کول پکاردی دا دَ سنت کولو بهترين وخت دي. سره

دَدې چه پیدائش سره هم کولې شي اوهغه آسان هم دي.
③که دَ چاسنت نه دې شوې یا نوې مسلمان دې نوروستو به سنت کولې شي.
دزنانوه ختنې حکم: دَښځوختنه په کرمو ملکونوکښې کیږی. فرج کښې دننه دَ وازګې په شان غوښه راؤچتیږی ماهرښځې هغه پرې کوی. دا اَلذللجماع ده هیڅ ضروری نه ده. دَ شوافع په نیز اوس هم په مصر وغیره کښې دَ ښځو سنت کول کیږی دعوت کیږی اومټهایانې تقسیمږی.
پیدائشې مختون شوی پیغمبران: دا لاندینی پیغمبران علیهم السلام سنت کړې شوی پیدا شوی دی

①حضرت آدم علیه السلام ②حضرت شیث علیه السلام ③حضرت نوح علیه السلام
④حضرت صالح علیه السلام ⑤حضرت شعیب علیه السلام ⑥حضرت یوسف علیه السلام
⑦حضرت موسیٰ علیه السلام ⑧حضرت سلیمان علیه السلام ⑨حضرت حنظله بن صفوان علیه السلام
⑩حضرت زکریا علیه السلام ⑪حضرت عیسیٰ علیه السلام ⑫حضرت محمد ﷺ

قوله: وَالِاسْتِحْدَادُ:
د زیرناف ویختو اخستل: دَحدید استعمالولوپه معنی کښې دې دَ سرو دَپاره دَ اوسپنې استعمالولوسره دَنامه نه لاندې ویښته صفاکول زیات بهتر دی اودَ قوت باه سبب دې. دَ ښځودَپاره بال صفا وغیره په نرمه طریقه سره لرې کول بهتر دی.
د زیرناف ویختو د اخستلو موده: دَ نامه لاندې ویښتو صفائی اووه ورځوکښې دننه بهتر ده کنی پنځلس ورځې پس اویا څلویښت ورځې دې د دې څخه روسته کولوکښې کراهت دې
قوله: تَقْلِيمُ الْأَظْفَارِ:
د نوکونو کټ کولو مستحبه طریقه: نوکونه پرې کول سنت دی دَدې مستحب طریقه داسې ده چه دَښی لاس دَ شهادت دَ ګوتې نه شروع کړی په غټه ګوته باندې ختم کړی اوبیا دَ ګس لاس دَ کچې ګوتې نه واخله په غټه ګوته باندې ختم کړی. په خپوکښې دا طریقه ده چه دَ ښې خپې دَ کچې ګوتې نه دې شروع کړی دَ ګسې خپې په غټه ګوته دې ختم کړی. نور تفصیل د تسهیلات په اول جلد کښې تیر شوې دې.
قوله: نَتْفُ الْإِبْطِ:
د ترخونو ویختو اخستل: نتف دَ بیخه راویستو اوراغونډولو په معنی کښې دې دَ ترخ دَ ویښتو اخستو ته وائی. په ګوتو کښې نیولوسره دا ویښته راویستل ښه وی که چاره پرې راښکلې شوه نودَویښتو خنګل به جوړشی. خوله جمع کیدوسره به ترخ نه بدبوئی راؤچتیږی.

د ترخو وېښته د اخستلو موده: په هغه کښې دې نتف وی ګنی په شلو ورځو کښې او يا په خلويښتو ورځو کښې دې وی زيات پريخودل مکروه دی تفصيل تيرشوې دې.

تعارض: په زيربحث حديث کښې دَ پنځوخصلتونو ذکر دې خو په باب السواك کښې دَ لسو خصائلو بيان دې دا تعارض دې؟

دتعارض جواب: دَ يوخو اهم خصائلو بيان دَموقع اومحل مطابق کړې شوې دې څه حصر مقصود نه دې. نه هلته په لسوکښې حصر مقصود دې بلکه دَ لسو نه زيات خصائل هم دی اونه دلته په پنځوکښې حصرمقصود دې څومره چه بيان کړې شو هغه اهم خصائل په خپل ځائی باندې دی. دې نه علاوه هم دی دکوم ذکرچه ضروری اونه ګنړلې شو لهذا هيڅ تعارض نشته دې.

[۴۳۳] دږيرې اوږدولو حکم

۴۳۳-[۳] ()[۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-:[۲] "«خَالِفُوا الْمُشْرِكِينَ:[۳] أَوْفِرُوا اللِّحَى، وَأَحْفُوا الشَّوَارِبَ» ".[۴] وَفِي رِوَايَةٍ: "«أَنْهِكُوا الشَّوَارِبَ، وَأَعْفُوا اللِّحَى» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عمر رضی الله عنهما وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د اهلِ شرك خلاف کوئ [يعني هغوی ږيرې لنډوي او بريت اوږده کوي] نو تاسو په دې طور د هغوئ نه ځان ممتاز ساتئ.[۳] چې تاسو ږيرې اوږدوئ او بريت سپکوئ (پريکوئ يې)[۴] او په يو روايت کې داسې دي چې تاسو بريت ډير سپکوئ او ږيرې پريږدئ. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① أَوْفِرُوا: دَ وفرنه دې زياتول، ② اللِّحَى: دَ لحية جمع ده د ژامې هډوکی ته وائی دلته ترې ږيره مراد ده ③ أَحْفُوا: کم کړئ، ④ الشَّوَارِبَ: بريت، د شونډو دپاسه ويښته، ⑤ أَنْهِكُوا: کم کړئ، ⑥ أَعْفُوا: معاف کړئ يعنی پريږدئ.

تسهيلات:

قوله: أَوْفِرُوا اللِّحَى:

د ږيرې د ساتلو وجوب: ږيره ساتل واجب دی دې ته سنت ځکه وائی چه دَ سنت نه ثابته اومسنون طريقه ده پاڼ باندې يولاکهه انبياء کرام او يونيم لاکهه صحابه کرامو کښې يوهم دوفرنه دې اودَزياتولو په معنی کښې دې. دَدې دپاره دَ "واعفوا" صيغه هم استعمال کړې ږيره نه ده خرولې دَ ږيرې لويولودَپاره "اوفروا" صيغه هم استعمال کړې شوې ده کوم چه

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب اللباس/باب إعفاء اللحی (رقم-۵۸۹۳) ومسلم فی کتاب الطهارة/باب خصال الفطرة (رقم-۵۲ - (۲۵۹) وابوداود فی کتاب الترجل /باب فی أخذ (رقم-۴۱۹۹) والترمذی فی کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب مناقب جعفر بن أبی طالب أخی علی رضی الله عنه (رقم-۳۷۶۳) والنسائی فی کتاب الزينة/باب إحفاء الشوارب، وإعفاء اللحية (رقم-۵۲۲۶) واحمد فی المسند: ۵۲/۲

شوي دي. یعنی ږیره معاف کړئی دا هم داسې پرېږدئی چه ښه لویه شي.

د ږیرې د اوږدولو مقدار: دَ ږیرې لویولو حکم په احادیثوکښې مذکور دې دَدې څه حد ښتته دې. البته علماؤ لیکلی دی چه که دَسړی مخ وړوکې وی او ږیره دومره اوږده اولویه شی چه متقی او پرهیزګار صلحاء اوعلماء دا مناسب نه ګڼړی. نودَ مخ په مناسبت ږیره دَ اطرافو نه اودَ اوږدوالی نه کمول جائز دی. دکمولوآخری حد دَحضرت ابن عمر رضی الله عنه نه نقل دې چه یوقبضه یعنی موټی پورې کمولې شی دې نه کمول جائزنه دی. اودَ فقهاؤ په دې باندې اتفاق دې. دَدین خبره هم دَدې حده پورې ده باقی دَعقل خبره ده چه دَهرعقل مند خپل خپل عقل دې هغه دین نه دې. د دې تفصیل د تسهیلات په اول جلد کښې تیر شوې دې.

بهرحال دَزیربحث حدیث داتعلیم دې چه ږیره اوږدول او بریت کټ کول دمؤمن مسلمان کار دې کوم چه دَ رحمان قانون دې اوږیره پرې کول او بریت اوږدول دَ کافراومشرک کاردې کوم چه دَ شیطان قانون دې.

[۴۴۳۳] د فطرتی څیزونو د کټ کولو زیاته موده

۴۴۳۳—[۴] (١) ۱ وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: ۲ «وُقِّتَ لَنَا فِي قَصِّ الشَّارِبِ ۳ وَتَقْلِيمِ الْأَظْفَارِ ۴ وَنَتْفِ الْإِبِطِ ۵ وَحَلْقِ الْعَانَةِ ۶ أَنْ لَا نَتْرُكَ أَكْثَرَ مِنْ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت انس رضی الله عنه وایي ۲ چې زمونږ د پاره موده مقرره شوي ده، د بریت تراشلو، ۳ د نوکانو د کټ کولو، ۴ د بغل دوینښتانو د صفا کولو ۵ او زیرناف (تر نامه لاندې) د وینښتانو د خرئیلو باره کې ۶ هغه دا ده چې مونږ هغه د څلویښتو ورځو نه زیات پرې نه ږدو. (مسلم)

حل اللغات: ددې حدیث مشکل الفاظ ددې څخه وړاندې دحدیث نمبر (۴۴۲۱) په حل اللغات کښې تیرشو.

تسهیلات:

قوله: أَنْ لَا نَتْرُكَ أَكْثَرَ مِنْ.

دَدې روایت څخه دغه مفهوم کیږی چه دَصفائی داټول کارونه په څلویښتو ورځوکښې دننه پوره کول پکاردی. دَدې نه زیاتې مودې پورې پریخودل دَ ګناه سبب دې.

د څلویښتو ورځو څخه کمه موده کښې د مذکوره څیزونوصفا کول: خو په نورو روایتونوکښې څه نور تفصیل هم ذکر دې. دَحضرت ابن عمر رضی الله عنه نه یوروایت نقل دې چه نبی کریم به نوکونه او سنت په هره جمع کټ کول. دَ نامه لاندې وینښته به ئی په شلو

(١) اخرجه مسلم فی كتاب الطهارة/باب خصال الفطرة (رقم-٥١ - (٢٥٨) والترمذی فی كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب فی التوقيت فی تقليم الأظفار وأخذ الشارب (رقم-٢٧٥٩) والنسائی فی كتاب الطهارة/باب التوقيت فی ذلك (رقم-١٤)وابن ماجه فی كتاب الطهارة وسننها باب الفطرة (رقم-٢٩٥)واحمد فی المسند: ٣/٢٥٠٥

ورخوكښې صفا كول اودَ ترخ وېښته به نې څلوېښت ورځې پس صفا كول.

تطبيقي قول: دَ فقې په يوكتاب قنيه كښې ليكلي دي چه غوره خبره داده چه دَ صفائي داتول كارونه په هفته كښې اوكړې شي كه په هفته كښې ممكن نه وي نو پنځلس ورځو كښې دې اوكړې شي اوكه په دې باندې عمل اونه كړې شو نو په څلوېښت ورځوكښې دې اوكړې. دَدې نه زياته موده پرېخودل به بې عذر ګنړلې شي يعنى غوره خو په هفته كښې دى متوسط پنځلس ورځې اوآخرى حد څلوېښت ورځې دى. دې نه پس مكروه اووعيددې بعضې علماؤ ليكلي دى چه نبى كريم به دَ ترخونو وېښته اودَنامه نه لاندې وېښته په څلوېښتو ورځوكښې صفاكول اودَ بعضې حضراتو دَ روايت مطابق به ئې په ديرش ورځوكښې صفاكول

دملا علي قاري رحمه الله تبصره: ملاعلى قارى رحمه الله فرمائى دَ ترخ او نامه لاندې وېښته په يوه هفته كښې نه شى كټ كيدې ځكه چه دادومره زر نه لوئيږى. دَدې دَپاره دَ ديرشو ورځو موده معتدل قول دې. دَملاعلى قارى رحمه الله دافيصله ډيره ښه ده باقى پاتې شو نوكونه او بريت نو هغه په هفته كښې صفاكولې شى.

[۴۴۴۳] د خضاب لګولو حكم

٤٤٤٣-[٥] (¹) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ② "«إِنَّ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى لَا يَصْبُغُونَ فَخَالِفُوهُمْ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې چې نبي كريم ﷺ وفرمايل ② يهود او عيسايان خضاب نه لګوي، نو تاسو د هغوئ برخلاف كوئ (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① لَا يَصْبُغُونَ: رنګ نه كوى، وېښتانو ته رنګ نه وركوى.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى لَا يَصْبُغُونَ فَخَالِفُوهُمْ:

داهل كتابو دمخالفت حكم: يعنى يهوداونصارى به دَ ږيرې په سپينو وېښتو كښې وسمه اودَ څه قسم رنګ نه لګولونو تاسو دَ هغوى په مخالفت كښې په ږيره كښې وسمه لګوئ.

¹) اخرجه البخارى فى كتاب اللباس/باب الخضاب (رقم-٥٨٩٩) ومسلم فى كتاب الأشربة/باب فى مخالفة اليهود فى الصبغ (رقم-٨٠ - (٢١٠٣) وابوداود فى كتاب الترجل /باب فى نتف الشيب (رقم-٤٢٠٢)والنسائى فى كتاب الزينة/باب الإذن بالخضاب (رقم-٥٠٧٢)وابن ماجه فى كتاب الطهارة وسننها باب- الفطرة (رقم-٢٩٥)واحمد فى المسند: ٢/٢٤٠

د خضاب په لګولو کښې ۲ مذاهب:

① امام نووی رحمه الله فرمائی چه زمونږ مذهب کښې د سرو او ښځو دواړو دپاره زیړ یا سور خضاب لګول مستحب دی ، خضاب سواد حرام دې د اصح قول په بناء باندې. (بذل)

② د بذل په حاشیه کښې دی چه د احنافو مذهب هم دا دې صرح به الشامی اذ قال : یستحب للرجل خضاب شعره ولحیته ولو فی غیر حرب، وبسط الاختلاف فی ذلک القاری فی شرح الشمائل، وقال حجة من احب ترک الخضاب الحدیث المذکور قبل (من شاب شیبة فی الاسلام الحدیث) اهـ

③ د امام احمد رحمه الله هم دا مسلک دې قال الموفق : ویستحب خضاب الشعر بغیر السواد. امام احمد رحمه الله فرمائی چه کله زه شیخ مخضوب ته ګورم نو په دې باندې خوشحالیږم.

د خضاب باره کښې د صحابؤ تعامل: حضرات شیخین ابوبکر او عمر رضی الله عنهما نه خضاب ثابت دې او د علی رضی الله عنه نه ترک خضاب، حافظ فرمائی چه د صحابه کرامو رضی الله عنهم یو جماعت خضاب اختیار کړې دې او یو جماعت ترک خضاب،

تطبیقی قول: د دې ترمینځه طبری رحمه الله تطبیق داسې کړې دې چه د چا دپاره چه څه مناسب او لائق وه هغه هم هغه شان اوکړل. د بعضو سپین ویښته په کتلو کښې بدې ښکاره کیدل او د بعضو غیر شنیع،

د خضاب افضلیت: حافظ فرمائی : لکن الخضاب مطلقا اولی لان فیه امتثال الامر فی مخالفة اهل الکتاب،وفیه صیانة الشعرعن تعلق الغبار وغیره،وړاندې فرمائی:مګرداچه د ښهر دخلقو عادت د ترک خضاب وی څکه چه په دې صورت کښې چه کوم سړې خضاب کوی هغه به په مقام د شهرت کښې وی په دې وجه دې صورت کښې د هغه په حق کښې به ترک خضاب اولی وی

د تور رنګ څخه ممانعت: دَ تولو نه مخکښې په دې خبره باندې پوهیدل پکاردی چه نبی کریم دَ اصباغ، رنګ او وسمې په حوالې سره دَنکریزو د یرزیات ترغیب ورکړې دې. دَ زیړ رنګ ئی هم اجازت ورکړې دې خودَ تور رنګ نه ئی په سختئی سره ممانعت کړې دې. دې پسې حدیث کښې "واجتنبوالسواد" جمله موجود ده کومه چه امام مسلم نقل کړې ده. کوم سړې چه د مسلم روایت ته موضوعی وائی هغه په غلطه دې څکه چه دَ بخاری اومسلم شریف دَ احادیثو په صحت باندې دَامت اجماع شوې ده. امام احمدبن حنبل رحمه الله په خپل سند کښې داحدیث نقل کړې دې."غیرواالشیب ولاتقربواالسوا" (رواه احمد)

د ویښتو په رنګ کولو کښې اقوال: ① ملاعلی قاری رحمه الله په حواله دَ نووی رحمه الله نقل کړی دی چه دَ وسمې باره کښې یوڅو اقوال دی صحیح قول دادې چه په ویښتوکښې هرقسم رنګ او وسمه کول مستحب دی که هغه سړې اوکړی اوکه ښځه ئی اوکړی البته دَ تور رنګ

خضاب او وسمه حرام ده.

④ امام محمد رحمه الله په خپل موطاکښي داسي ليکي. "لانرى بالخضاب بالوسمة والحناء والصفرة بأساً وان تركه أبيض فلا بأس به كل ذلك حسن"

يعنى امام محمد رحمه الله په موطا كښي فرمائى مونږ د وسمې نکريزو اوزيړرنګ باندي ويسته خضاب کولوباندي څه پرواه نه لرو اوكه ويښته ئي سپين پريخودل نوهم څه بده نه ده دا دواړه عملونه ښه دی.(ناجائز نه دی)

③ په شرح شرعة الاسلام كښي ليکلی دی چه: "الخضاب سنة ثبت قولاً وفعلاً أما قولاً فلحديث أبي هريرة السابق. وأما فعلاً فلما قال ابن عمران النبي ﷺ كان يصفر لحيته بالورس والزعفران"]

يعنى په شرعة الاسلام كښي دی چې د خضاب لګولو سنتيت قولاً اوفعلاً ثابت دي، قولاً خو د ابوهريره رضى الله عنه په سابقه حديث سره ثابت دي او فعلاً دابن عمر رضى الله عنهما په روايت سره ثابت دی چي نبی عليه السلام به خپله ږيره مبارکه په ورس اوزعفرانو سره رنګوله.

④ "وفي مجمع الفتاوى اختلفت الرواية في أن النبي ﷺ هل فعل الخضاب في عمره؟ والأصح أنه لم يفعل الخضاب في لحيته لعدم الحاجة اليه وأما خضاب رأسه بالحناء فهو مشهور وقيل كان فعله غير مرة لدفع الصداع والحرارة قلت ويؤيده ما ورد في الاختضاب من الأحاديث" "منها" "اختضبوا بالحناء فإنه يزيد في شبابكم وجمالكم ونكاحكم" (رواه البزاز)

ینی په مجمع الفتاوى كښي دی چي په دي باره كښي روايات مختلف دی چي نبی عليه السلام په خپل عمر كښي خضاب لګولی دی؟ نوصحيح خبره دا ده چي نبی عليه السلام ږيره به خضابو سره نه ده رنګ کړي څکه چي دي ته څه حاجت نه وو پيښ شوي (د نبی عليه السلام په ږيره كښي سپين ويښته نه وو) اود سرويښته په خضاب سره رنګول نودا مشهوردی.اودا هم ونيلي شوی دی چي نبی عليه السلام ډيرکرته د سردردی اوګرموالی د لري کولودپاره د خضابو استعمال کړي دي (صاحب دمجمع الفتاوى فرمائى) اوزه دا وايم چي ددي خبري تائيد په هغه احاديثو سره کيږی په کومو كښي چي د خضاب لګولو ثبوت دي په هغه احاديثو كښي دا حديث هم دي چي نبی عليه السلام فرمائيلی دی تاسو په نکريزو سره خضاب لګوئ څکه چي دا ستاسو په ځواني ،ښائست او د نکاح په مواقعو كښي زيادت پيدا کوی. "ومنها: اختضبوا وافرقوا وخالفوا اليهود" (رواه ابن عدی)

په دغه احاديثوكښي دا حديث هم دي چي نبی عليه السلام فرمائيلی دی تاسو خضاب استعمالوئ اوويښته اوږده کوئ اود يهوديانو مخالفت کوئ.

قال الغزالي في الإحياء الخضاب بالسواد خضاب الكفار ويقال أول من خضب بالسواد فرعون لعنه الله. (مرقات)

امام غزالی رحمه الله په احياء علوم الدين كښي فرمائيلی دی د تور رنګ سره خضاب د کافرانو خضاب دي.اودا ونيلي شوی دی چي د ټولوڅخه اول چي تور خضاب استعمال کړی دی نوهغه فرعون وو. لعنه الله

وعن ابن الدرداء رفعه قال عليه السلام من خضب بالسواد سود الله وجهه يوم القيامة. (رواه الطبراني)

د ابن الدرداء څخه مرفوع روایت دې چې نبی علیه السلام فرمائلی دی چا چې تور خضاب اولګولو نو الله تعالی به د قیامت په ورځ د هغه مخ تور کړی.

دَدې ټولو روایتونونه دا ثابتول مقصود دی چه په اسلام کښې خضاب کول جائز اومستحب دی البته دَ تور رنګ خضاب منع دې.

اشکال: اوس دلته سوال داپیدا کیږی چه کله خضاب کول دومره ضروری دی اودَ یهودو دَ مخالفت ذریعه ده نودې نه داثابت شو چه دَخضاب نه بغیرسپینه ږیره سپینه پریخودل منع دی حالانکه زیات مسلمانان رنګ نه کوی بلکه په طبعی حالت باندې ویښته سپین ساتی.

د اشکال جواب: دَحدیث مطلب دادې چه یهودیان هیڅ قسم رنګ اووسمه جائز نه ګنړی تاسو خضاب اووسمه ناجائز مه ګنړئی. دَ یهودومخالفت کولوسره دَجائز کیدو عقیده لرئی نوچه بیا خضاب اوکړئی نو هم جائز اوښه دی اوچه خضاب نه کوئی بلکه ږیره په خپل طبعی حالت پریږدئی داهم جائز اوښه دی. لکه چه دَامام محمدؒ فتویٰ ده دې نه مخکښې لیکلې شوې ده چه "وان ترکه أبیض فلا بأس به".

د تورې وسمې حکم: دَ ائمه احناف په نیزمکروه تحریمی دی اودَ شوافع په نیزمطلق حرام دی.

د تورې وسمې د حرمت دوه وجوهات: ① دَ شریعت په نظرکښې دَدې حرمت اصل منشاء داده چه په ځوان او بوډا کښې التباس رانه شی اوځوك چاته دهوکه ورنه کړې شی ځکه چه بوډا به دَ ډیرعمر سرې وی لیکن دَ خضاب دَ وجې به خپل ځان ځوان ښکاره کوی. دا دهوکه چونکه صرف په تورې وسمې سره کیږی په دې وجه دا منع کړې شو. دَ نورو رنګونو نه هرسړې پوهیدې شی چه بوډا دې په دې وجه ئی نکریزې لګولې دی نوالتباس به نه راځی.

② په توره وسمه کښې تغییر خلق الله هم دې. بهرحال دَ هغه سړی باره کښې په احادیثو کښې سخت وعیدې ځوك چه توره وسمه استعمالوی.

د بعضې کسانودپاره د تورې وسمې د استعمال جواز: ① دَ مجاهددَپاره ګنجائش شته دې دَپاره چه په دښمن باندې رعب وی

② دَداسې سړی دَپاره دَ چا واده چه ځوانې جینئی سره شوې وی اوهغه دَ خپلې ښځې دَ وجهې داسې کوی نوباوجود دَ خلاف اولی جائز دې.

③ یوسړې په داسې علاقه کښې اوسیږی چه هلته دَ هغه سړی نه سخت نفرت کیږی ځوك چه توره وسمه استعمال نه کړی. دَدې مجبورو دَ وجهې په درجه دَ مجبورئی توره وسمه استعمالول مجبوری ده ګنی توره وسمه کول څرته ضروری ده چه کله دې ملا تیته شی نوولې په وسمې سره به نیغه شی؟

[۴۴۲۴] د ابوبکر د پلار د ږیرې د خضاب کولو حکم

۴۴۲۴—[۶] (¹) [۱] وَعَنْ جَابِرٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: [۲] «أُتِيَ بِأَبِي قُحَافَةَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ [۳] وَرَأْسُهُ وَلِحْيَتُهُ كَالثَّغَامَةِ بَيَاضًا. [۴] فَقَالَ النَّبِيُّ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "غَيِّرُوا هَذَا بِشَيْءٍ [۵] وَاجْتَنِبُوا السَّوَادَ"». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر رضی الله عنه وايي [۲] چې د حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه پلار ابوقحافه رضی الله عنه د مکې د فتحې په ورځ راوستل شو [او په هغه ورځ هغه اسلام قبول کړو]، [۳] د هغه د سر او ږیرې ويښتان ثغامه وو [يعنی بالکل سپين وو]، [۴] نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل چې د دې ويښتانو سپينوالي د يو شي په ذريعه بدل کړئ، [۵] ليکن د تور رنګ نه پرهيز کوئ. يعنی تور خضاب مه استعمالوئ. (مسلم)

حل اللغات: ① اَلثَّغَامَةِ: د سپينو ګلونو والا بوټي دې. هغې سره تشبيه ده چې د دوی ږیره داسې سپينه شوې وه. ② غَيِّرُوا: بدل کړئ.

تسهيلات:

قوله: غَيِّرُوا هَذَا بِشَيْءٍ، وَاجْتَنِبُوا السَّوَادَ:

د حديث پس منظر: د حضرت ابوبکر رضی الله عنه د پلار نوم عثمان دې ابوقحافه د هغوی کنيت وو د فتح مکه په موقع باندې د ډير بوډاوالی په عمر کښې مشرف باسلام شو. کله چه نبی کريم له راوستلې شو نو د سر او ږیرې ويښته ئې د ثغامة ګل په شان تک سپينوالی د وجهې پرقيدل نبی کريم اوفرمائيل په دې باندې وسمه اولګوئ خو د تورې وسمې خان ساتئ؛ معلومه شوه چه توره وسمه استعمالول مکروه تحريمی يا حرام دی.

[۴۴۲۵] د سر په ويښتو کښې د لارې جوړول

۴۴۲۵—[۷] (²) [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا-قَالَ: [۲] «كَانَ النَّبِيُّ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-يُحِبُّ مُوَافَقَةَ أَهْلِ الْكِتَابِ [۳] فِيمَا لَمْ يُؤْمَرْ فِيهِ، [۴] وَكَانَ أَهْلُ الْكِتَابِ يَسْدِلُونَ أَشْعَارَهُمْ، [۵] وَكَانَ الْمُشْرِكُونَ يَفْرُقُونَ رُءُوسَهُمْ، [۶] فَسَدَلَ النَّبِيُّ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-نَاصِيَتَهُ، [۷] ثُمَّ فَرَقَ بَعْدُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما وايي [۲] چې نبي کريم ﷺ به د اهل کتابو په هغه څه کې موافقت خوښولو، [۳] چې په کومه معامله کې به د الله تعالی جل جلاله د طرف نه څه حکم نه

¹) اخرجه مسلم فی کتاب الأشربة/باب فی صبغ الشعر وتغيير الشيب (رقم-۷۹ - (۲۱۰۲) وابوداود فی کتاب الترجل /باب فی الخضاب (رقم-۴۲۰۴) والنسائی فی کتاب الزينة/باب الأمر بالخضاب (رقم-۵۲۴۲) وابن ماجه فی کتاب اللباس . باب الخضاب بالسواد (رقم-۳۶۲۴)

²) اخرجه البخاری فی کتاب اللباس/باب الفرق (رقم-۵۹۱۷) ومسلم فی کتاب الفضائل/باب فی سدل النبی صلى الله عليه وسلم شعره وفرقه (رقم-۹۰ - (۲۳۳۶) ومسلم فی کتاب الأشربة/باب کراهة القزع (رقم-۱۱۳ - (۲۱۲۰) وابوداود فی کتاب الترجل /باب ما جاء فی الفرق (رقم-۴۱۸۸) والنسائی فی کتاب الزينة/باب فرق الشعر (رقم-۵۲۳۸) وابن ماجه فی کتاب اللباس . باب اتخاذ الجمة والذوائب (رقم-۳۶۳۲)

وو شوي، ④ اهل کتابو به د خپل سر ويښتان دغه شان پريخودل [يعني هغوئ به کرښه (لاره) نه ويستله، بلکي خپل ويښتان به يي دغه شان پراته پريخودل] ، ⑤ او مشرکينو به په خپلو سرونو کې کرښه ويستل، ⑥ نو نبي کريم ﷺ به [د اهلِ کتابو د طريقي مطابق] د خپل تندي ويښتان دغه شان پريخودل ⑦ بيا وروسته يي کرښه وويستله (بخاري مسلم)

حل اللغات : ① يَسْدُلُونَ : رازوړند به ئې ساتل، ② يَفْرُقُونَ : منځ کښې به ئې کرښه ويستله. ③ نَاصِيَتَهُ: دخپل تندی

تسهیلات:

قوله: مُوَافَقَةَ أَهْلِ الْكِتَابِ:

د نبی علیه السلام رجحان: چونکه اهل کتاب سره آسمانی کتاب اوآسمانی مذهب وو په دې وجه چه ترکومې به په نبی کريم باندې دَ شريعت محمديه مطابق څه حکم نه نازليدو نبی کريم به دَاهل کتاب طورطريقې ته دَ اهل مکه دَ مشرکينو په طورطريقه باندې ترجيح ورکوله اهل مکه سره دَ حضرت ابراهيم عليه السلام څه معمولی شان آثار وو هم دَ دغه قاعدې مطابق نبی کريم دَ سدل او فرق په معامله کښې اول دَ اهل کتاب دَ سدل طريقې ته ترجيح ورکړه بيا په وحی سره معلومه شوه چه دَ حضرت ابراهيم عليه السلام طريقه دَ سدل نه بلکه دَ فرق اولارې ويستلو وه.

قوله: وَكَانَ أَهْلُ الْكِتَابِ يَسْدُلُونَ أَشْعَارَهُمْ:

دسدل اوفرق تعريف: دَ سر دَ ويښتو په څلورو واړو اطرافو کښې دَ رازوړندولو نوم سدل دې چې دَ سرويښته په دوو حصوکښې تقسيم کړې شی اود سر د ويختو په مينځ کښې ښط او ګس طرف ته لار اويستلې شی.نودې ته فرق،، وائی رسول الله ﷺ اول سدل اختيارکړو بيائی دَ يهوديانو طريقه پريخوده

د يهوديانوسره د مخالفت يو څو واقعات: ① نبی عليه السلام اول ئی سدل اوکړو بيائی مخالفت کولوسره فرق اختيار کړو

② اول ئی دَ عاشوره روژه اوساتله بيائی ورسره يوه دَ ملاوولوحکم ورکړو.

③ اول ئی ويښته سپين پريخوده بيائی دَ خضاب حکم ورکړو

④اول ئی حائضه ښځې نه بالکل بائيکاټ اوکړو بيا ئی دَ جماع نه علاوه دَ اختلاط حکم ورکړو

⑤ اول ئی بيت المقدس طرف ته مونځ اوکړو بيا ئی مخالفت کولوسره بيت الله شريف طرف ته کول شروع کړو.

⑥ اول ئی دَ جنازې دَپاره دَ اودريدو حکم ورکړو بيا ئی دَ يهود په مخالفت کښې ترک کړو.

⑦ اول ئی دَ هفتې او اتوار دَ روژو ساتلو نه منع اوکړه بيانئ دَ يهودو اودَ نصارئ په مخالفت کښې روژه ساتل شروع کړه چه دَهغوی اختردې نو مونږ به روژه ساتو.

⑧ اول ئی دَ جمعې دَ ورځې دَ روژې حکم ورکړو بيا دَ جمعې دَ ورځې روژه منع کړه.

[۴۳۳۶] د ماشوم د نيم سر د خريلو ممانعت

۴۳۳۶-[۸] (١)[١] وَعَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- قَالَ: [٢] «سَمِعْتُ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَنْهَى عَنِ الْقَزَعِ. [٣] قِيلَ لِنَافِعٍ: مَا الْقَزَعُ؟ [٤] قَالَ: يُحْلَقُ بَعْضُ رَأْسِ الصَّبِيِّ [٥] وَيُتْرَكُ الْبَعْضُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [٦] وَأَلْحَقَ بَعْضُهُمُ التَّفْسِيرَ بِالْحَدِيثِ.

ترجمه: [١] او حضرت نافع د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت کوي چه هغه اوويل [٢] چه ما د نبي کريم ﷺ نه واوريدل چه د قزع نه منع فرمايله [٣] د نافع رحمه الله نه پوښتنه وشوه چه قزع څه ته وايي؟ [٤] هغه اوويل چې قزع دي ته وايي چې د هلك د سر بعضې حصه وخريل شي، [٥] او بعضې حصه پريخودل شي (بخاري مسلم) [٦] او بعضې راويانو دا وضاحت د حديث سره يوځاى کړي دي، يعنی د هغه راويانو مطابق د قزع دا معني حضور ﷺ بيان وفرمايله.

حل اللغات: ① الْقَزَعِ: "قال النووی القزع حلق بعض الرأس مطلقاً". دَ سربعضې ويښته پرې کول اوبعضې پريخودل

تسهيلات:

قوله: يُحْلَقُ بَعْضُ رَأْسِ الصَّبِيِّ، وَيُتْرَكُ الْبَعْضُ:

د قزع تعريف: يعنی دَ حديث دَ راوی نه چاپوښتنه اوکړوچه قزع څه څيزدې نو هغوی په جواب کښې دَ قزع تعريف اوکړو په دې کښې راوی قزع ماشوم سره خاص کړې ده. داقيد په وجه دَ رواج دې ځکه چه په عام توګه قزع دَ ماشومانوپه ويښتوکښې کولې شی. ګنی دَ ممانعت په اعتبارسره لکه څنګه چه قزع دَ ماشومانودَپاره مکروه ده هم دغه شان دَ ج لويودَپاره هم مکروه ده.

د قزع يو څو صورتونه: ① دَ قزع بې شميره صورتونه دی. بعضې خلق دَ حج اوعمرې په وخت دَحلق په غرض سره څلورمه حصه دَ سرپه يوه عمره کښې پرې کوی بيا په دويم ځل او دريم ځل داسې کوی. څه ويښته پرې کوی اوڅه پريږدی. دادَ قزع مکروه ترين صورت دې.

② بعضې خلق دَ بدنظر نه دَ بچ کيدودَپاره دَماشومانو په ويښتوکښې کربنې جوړوی. دَ

(١) اخرجه البخاری فی کتاب اللباس/باب القزع (رقم-۵۹۲۰) ومسلم فی کتاب الأشربة/باب تحريم فعل الواصلة والمستوصلة والواشمة والمستوشمة والنامصة والمتنمصة والمتفلجات والمغيرات خلق الله (رقم-۱۱۹ - (۲۱۲۴) وابوداود فی کتاب الترجل/باب فی الذؤابة (رقم-۴۱۹۳) والنسائی فی کتاب الزينة/باب ذکر النهی عن أن يحلق بعض شعر الصبی ويترک بعضه (رقم-۵۲۲۹) وابن ماجه فی کتاب اللباس. باب النهی عن القزع (رقم-۳۶۳۷) واحمد فی المسند: ۴/۲

مخکښې نه شاته او دَ نبی نه گس طرف ته ويښته تراشلوسره کرښې جوړوی. داهم بدترين قزع ده

④ بعضې خلق دَماشومانو دَ سر ويښته تراشلوسره دَتندی نه دَ پورته کېرې پورې ويښته پرېږدی اودې ته چوټيه وائی داهم قزع ده

④ دغه شان انګريزی ويښته ساتل هم په قزع کښې راځی لکه فوجی کټ، سدهيرکټ، سنتوش کټ هيپی وغيره وغيره دَدې دپار ضابطه داده که دَ سرټول ويښته برابر پرې کړې شی نودا قزع نه ده ليکن که بعضې ويښته لونی او بعضې واړه پريخودو سره کټ کولې شی داټول قزع دی کوم چه مکروه دی که لونی کوی نی اوکه واړه کوی نی

⑤ په موجوده زمانه کښې زمونږ په علاقه پيښور وغيره کښې د فوجی کټنګ رواج شروع شوې دې بعضې په کښې بيخی د قزع صورت دې چې نيم سر ئې خريلې وی اونيم ئې د ويښتو سره پريخودې وی. ځوانان په دې مرض کښې زيات مبتلا دی.

[۴۴۲۷] دماشوم دبعضې ويښتو خريل او د بعضې د پريخودلو ممانعت

۴۴۲۷-[۹] (¹) ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- ②«أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- رَأَى صَبِيًّا ③ قَدْ حُلِقَ بَعْضُ رَأْسِهِ وَتُرِكَ بَعْضُهُ، ④ فَنَهَاهُمْ عَنْ ذَلِكَ، ⑤ وَقَالَ: "احْلِقُوا كُلَّهُ أَوِ اتْرُكُوا كُلَّهُ"». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې ② چې [يوه ورځ] رسول الله ﷺ يو هلك وليدلو. ③ چې د هغه سر څه خريل شوي وو او څه پريخودل شوي وو. ④ نو حضور ﷺ د هلك پرورش کونکي د دې نه منع کړل. ⑤ او وې فرمايل چې پوره سرخروئ، يا پوره سر پرېږدئ (مسلم)

تسهيلات:

نوټ: ددې حديث وضاحت دې څخه وړاندې حديث نمبر ۴۴۲۶ په تشريح کښې اوګورئ.

[۴۴۲۸] په نرښځي د نبی کريم ﷺ لعنت

۴۴۲۸-[۱۰] (²) ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: ②«لَعَنَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- الْمُخَنَّثِينَ مِنَ الرِّجَالِ ③ وَالْمُتَرَجِّلَاتِ مِنَ النِّسَاءِ ④ وَقَالَ: "أَخْرِجُوهُمْ مِنْ بُيُوتِكُمْ"». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وايي ② چې رسول الله ﷺ په مخنث (يعني په نرښځی) سړو لعنت ويلي دي. ③ او په هغه ښځو يې هم لعنت ويلي دي، کومې چې د سړو مشابهت

(¹) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الترجل /باب فی الذؤابة (رقم-۴۱۹۵) والنسائی فی کتاب الزينة/باب ذکر النهی عن أن يحلق بعض شعر الصبی ويترک بعضه (رقم-۵۰۴۸)

(²) اخرجه البخاری فی کتاب اللباس/باب إخراج المتشبهين بالنساء من البيوت (رقم-۵۸۸۶) والترمذی فی کتاب الأدب عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی المتشبهات بالرجال من النساء (رقم-۲۷۸۵) واحمد فی المسند:اخرجه البخاری فی/۲۲۵

اختیاروي، [۴] او حضور ﷺ وفرمایل چې مخنثان د خپلو کورونو نه وباسئ (بخاري)

حل اللغات: ① الْمُخَنَّثِينَ: نربنخي ② الْمُتَرَجِّلَاتِ: هغه ښځې چه د سړو مشابهت اختیاروی

تسهیلات:

قوله: لَعَنَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- الْمُخَنَّثِينَ مِنَ الرِّجَالِ:

د مخنث تعريف: مخنث دَ باب تفعیل نه دې اوپه مجرد کښې دَ سمع یسمع نه دَنرمیدو اوَ ماتیدو اوخرابیدو په معنی کښې دې.

دکوموخلقو چه حرکات اوسکنات قول اوفعل دَ ښځوپه شان وی لباس دَ ښځوپه شان جوړوی آواز چال چلن کښې دَ ښځوپه شان انداز لرې دامخنث دې. دې ته هجړه هم وائی

د مخنث دوه قسمونه: ① یو مخنث خلقی طبعی او پیدائشی وی نوپه دې باندې څه شرعي بندیزنشته دې هغه قدرتی آفت کښې راګیردې. معذوره دې اومجبوره دې

② لیکن که یوتیک ټاک سړې دې اوهغه په حرکاتو اوسکناتو کښې دَ ښځوپه شان دَ ژوند طرز اووضع قطع اختیاروی تردې چه جنسی آله بدلوی نودا مجرم دې اوهم په دې قسم والا باندې لعنت لیږلې شوې دې. نکریزې لګول دَ ښځودَپاره مسنون دی اودَسړودَپاره دَ ضرورت نه بغیرمکروه دی.

د سړو سره مشابهت اختیاروکونکو ښځوباندې لعنت: دَمخنث په مقابله کښې په هغه ښځوباندې هم لعنت کړې شوې دې چه دَژوند په طور طریق اوحرکاتو اوسکناتو او اقوالو اوافعالو کښې دَسړو په شان چال چلن خپلوی او داخبره ده چه په رائې ورکولو اوپه علم کښې دَ سړو په شان مشابهت اختیارولوکښې څه قباحت نشته دې

قوله: أَخْرِجُوهُمْ مِنْ بُيُوتِكُمْ:

د هیجړاګانو د زنانو سره د کیدون ممانعت: چونکه دا مخنث دَتعلق په اعتبارسره دَ سړو په حساب کښې راځی په دې وجه اوفرمائیلې شو چه دوی دَ کورونونه اوباسئی دې دَپاره چه ښځوسره یوځانی پاتې نه شی

[۴۳۳۹] لعنتی ښځې او سړی

۴۳۳۹-[۱۱] (۱) [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«لَعَنَ اللّٰهُ الْمُتَشَبِّهِينَ مِنَ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ [۳] وَالْمُتَشَبِّهَاتِ مِنَ النِّسَاءِ بِالرِّجَالِ»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل کوم سړي چې د ښځو مشابهت اختیار وي، او کومي ښځي چې د سړو مشابهت اختیاروي، په هغوئ د الله

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب اللباس/باب: المتشبهون بالنساء، والمتشبهات بالرجال (رقم-۵۸۸۵) والترمذی فی کتاب الأدب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی المتشبهات بالرجال من النساء (رقم-۲۷۸٤)

ﷺ لعنت وي. (بخاري)

حل اللغات: ① اَلْمُتَشَبِّهِيْنَ: ښځو سره مشابهت کونکی سړی، ② اَلْمُتَشَبِّهَات: سړو سره مشابهت کونکی ښځې

تسهيلات: نوټ: ددې حديث د مضمون تشريح دې ځخه وړاندې حديث نمبر (۴۴۲۹) په تشريح کښې تيره شوې ده.

[۴۴۳۰] دانساني ويښتو ځخه د فالدې اخستلو حرمت

۴۴۳۰ - [۱۲] (¹) ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② " «لَعَنَ اللَّهُ الْوَاصِلَةَ، ③ وَالْمُسْتَوْصِلَةَ، ④ وَالْوَاشِمَةَ، ⑤ وَالْمُسْتَوْشِمَةَ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② لعنت ونيلې دې الله تعالى په هغه ښځو کومې چې په خپلو ويښتانو کې د بلې ښځې د ويښتانو جوړ ولګوي (خواه که خپله يې ولګوي او که په بلې ښځې يې ولګوي) ③ او کومه ښځه چې د بلې ښځې په ويښتانو کې د خپلو ويښتانو جوړ لګوي، ④ او کومه ښځه چې ځان ته خالونه وغيره لګوي ⑤ يا بلې ښځې ته يې لګوي (په ستنو وغيره سره) [په دې ټولو د الله ﷺ لعنت دې] (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① اَلْوَاصِلَةَ: خپلو ويښتانو کښې پردی ويښتان لګونکی ښځه، ② اَلْمُسْتَوْصِلَةَ: خپلو ويښتانوکښې د پردی ويښتو لګولو مطالبه کونکې ښځه، ③ اَلْوَاشِمَةَ: خپل بدن کښې خالونه لګونکې ښځه، ④ اَلْمُسْتَوْشِمَةَ: د بلې ښځې نه دخالونه لګولو مطالبه کونکې ښځه.

تسهيلات:

قوله: لَعَنَ اللهُ الْوَاصِلَةَ:

د واصله په تعريف کښې دوه اقوال: د واصله معنى په حل اللغات کښې شوې ده باقي دحديث مطلب دادې چه يوه ښځه دَ خپل حسن زياتولو دَپاره دَ بلې ښځې دَ ويښتو کمسئى اوچوټيه راواخلى اوخپلو ويښتوسره ئې شاملوى دغه ښځې ته واصله وائى اودا کار دَ لعنت سبب دې. علامه طيبى رحمه الله دَ واصله مفهوم داسې بيانوى: "الواصلة التی تصل شعرها بشعر آخر زورا" [الكاشف: ۸/۲۶۸]

② شيخ عبدالحق رحمه الله په اشعة اللمعات کښې ليکلى دى. واصله هغه ښځې ته وائى

¹) اخرجه البخاری فی کتاب اللباس/باب الوصل فی الشعر (رقم-۵۹۳۷) ومسلم فی کتاب الأشربة/باب تحريم فعل الواصلة والمستوصلة والواشمة والمستوشمة والنامصة والمتنمصة والمتفلجات والمغيرات خلق الله (رقم-۱۱۹ - (۲۱۲٤)) وابوداود فی کتاب الترجل /باب فی صلة الشعر(رقم-۴۱۶۸)والترمذی فی کتاب اللباس عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في مواصلة الشعر (رقم-۱۷۵۹) وابن ماجه فی کتاب النکاح/ الواصلة والواشمة (رقم-۱۹۸۷) واحمد في المسند: ۲۱/۲

چه خپلو ويښتوسره دنورو ويښتو لګولوپيوندلګولوسره يوځائې کوي دې دپاره چه دهغې خپل ويښته زيات ګنړ او اوږده شي
ددې تشريح مطابق ښځه يوه ده اودَ خپلو ويښتو دَزياتولو په چکرکښې ده.

قوله: وَالْمُسْتَوْصِلَةَ:

د مستوصله په مفهوم کښې دوه اقوال: ① دادَ باب استفعال نه دې سين اوتاء دَ طلب دپاره دی يعنی چه کومه ښځه دَ نورو ښځونه مطالبه کوی چه زما په سرکښې دا ويښته يوځائې کړئی قاله الطيبی. [الکاشف: ۲۶۸/۸]

② شيخ عبدالحق رحمه الله ليکلی دی چې مستوصله هغه ښځې ته وائی چه دَ يوبلې ښځې نه مطالبه کوی چه زما ويښتوسره دَ نوروويښتو لګولواو پيوندکولوسره يوځائې کړه. [اشعة اللمعات: ۶۱۳/۳]

ددې تشريح مطابق ښځه يوه ده اودَ خپلو ويښتو دَزياتولو په چکرکښې ده.

دحرمت وجوهات: ① دَ بل انسان دَ بدن دَ جزء نه دَ شرعی ضابطې نه بغير فائده اوچتول هم دی کوم چه ناجائز دی

② چه په دې کښې تغيرخلق الله هم دې

③ په دې کښې دروغ او دهوکه هم ده.

په ويښتوکښې دبل څيزيوځائې کولو په حکم کښې دوه اقوال: که چرې دَانسان ويښته ښځه په خپلو ويښتو کښې يوځائې کوی نودا مطلقًا حرام دی. ليکن که دَ ويښتونه علاوه ورئې يا نور څه تارونه يوځائې کوی نودَدې څه حکم دې؟

① که يوه ښځه دَ يوځناور ويښته مثلاً دَ قچر اس دَ لکئی ويښته په خپلو ويښتوکښې شاملوی نودَدې څه حکم دې؟ نوامام مالک رحمه الله اونور اکثرعلماء مطلقًا دَ ويښتويوځائې کولوناجائز ګڼړی ځکه چه دَ حديث ممانعت عام دې هم دغه راجح دی.

② څه علماؤ په بعضې خاص حالاتوکښې دَ ځناور ويښته يوځائې کول جائز ګرځولی دی. نن صبا په بازار کښې دَزرګونو جوړ شوی دَ سر ويښته سره دَ خول اوټوپئی ملاويږی ښځې نی اخلی اودَ لعنت مستحق ګرځی.

قوله: الوَاشِمَةَ:

د واشمه تعريف: وشم دَ بدن خالونوته وائی. دَدې طريقه داده چه ستن يا بل څه تيره څيز بدن کښې ورخښولې شی چه کله زخمی شی او وينه ترې اوبهيږی نو دغه زخم په رانجو يا نيل وغيره اچولوسره دکولې شی کله چه څرمن يوځائې شی زخم تيک شی نولاتدې شنې نښې او خال ښکاری چه دَهميشه دپاره وی. واشمه هغه ښځې ته وائی چه داعمل پخپله

خپل بدن کنبي کوي.

قوله: اَلْمُسْتَوْشِمَةُ:

د مستوشمه تعریف: مستوشمه هغه ښځې ته وائی چه دا عمل پخپله نه کوي په بل چاباندې کوي. دَعبارت ترجمه داسې ده "خانله خال لګونکې او بل له خال لګونکې"

په دې کښې تغیرخلق الله دې په دې وجه حرام دی. علماو لیکلی دی که چرې پلیته ماده دَ ځرمن لاندې خښه پاتې شی نوبیابه په دې سره اودس غسل او مونځ نه صحیح کیږی ځکه چه هغه ځائی پلیت پاتې کیږی. والله اعلم.

[۳۳۳] د الله تعالی په تخلیق کښې بدلون راوستونکو باندې لعنت

۳۳۳ ـ [۱۳] (¹)[۱] «وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲]لَعَنَ اللّٰهُ الْوَاشِمَاتِ،[۳] وَالْمُسْتَوْشِمَاتِ،[۴] وَالْمُتَنَمِّصَاتِ،[۵] وَالْمُتَفَلِّجَاتِ لِلْحُسْنِ،[۶] الْمُغَيِّرَاتِ خَلْقَ اللّٰهِ،[۷] فَجَاءَتْهُ امْرَأَةٌ، فَقَالَتْ:[۸] إِنَّهُ بَلَغَنِي أَنَّكَ لَعَنْتَ كَيْتَ وَكَيْتَ.[۹] فَقَالَ: مَالِي لَا أَلْعَنُ مَنْ لَعَنَ رَسُوْلُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -[۱۰] وَمَنْ هُوَ فِي كِتَابِ اللّٰهِ.

ترجمه: [۱]او حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه وايي[۲] چه خداي ﷻ لعنت فرمايلي دي په خال وهونکو ښځو،[۳] يا بل چاته په خال وهونکو ښځو [۴] ځان ته يا بل چاته د مخ نه په ويښتان ښځو،[۵] د حُسن د زياتولو د پاره په غاښونه سوهان کونکو ښځو، [۶] [په هغه ټولو] چې د الله ﷻ په جوړ شوي څيزونو کې تغير کوي، خداي ﷻ لعنت فرمايلي دي[۷] [هر کله چې د ابن مسعود رضی الله عنه دا روايت ښځو ته ورسيدلو نو] يوه ښځه حضرت ابن مسعود رضی الله عنه ته راغله هغې اوويل [۸] چې ماته دا خبره رارسيدلي ده، چې تاسو په داسې [ښځو] لعنت وايئ،[۹] ابن مسعود رضی الله عنه وفرمايل زما د پاره څه بنديز دي چې زه په داسې لعنت ونه وايم په چا چې رسول الله ﷺ لعنت ويلي دي،[۱۰] او څوک چې په کتاب الله کې ملعونه ګرځول شويدي.

حل اللغات: (۱) اَلْمُتَنَمِّصَاتِ: د مخ نه د ويښتو ويستلو مطالبه کونکې ښځه، (۲) اَلْمُتَفَلِّجَاتِ: غاښونه تراشونکې او نرى کونکې ښځه، (۳) خَلْقَ اللّٰهِ: دالله تعالى پيدا کړى څيزونه،

[۱] فَقَالَتْ: لَقَدْ قَرَأْتُ مَا بَيْنَ اللَّوْحَيْنِ،[۲] فَمَا وَجَدْتُ فِيْهِ مَا تَقُوْلُ.[۳] قَالَ: لَئِنْ كُنْتِ قَرَأْتِيْهِ لَقَدْ وَجَدْتِيْهِ،[۴] أَمَا قَرَأْتِ: ﴿وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا﴾ [الحشر: ۷][۵] قَالَتْ: بَلَى.[۶] قَالَ: فَإِنَّهُ قَدْ نَهَى عَنْهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

¹) اخرجه البخاری فی کتاب تفسير القرآن/باب {وما آتاكم الرسول فخذوه} [الحشر: ۷] (رقم-۴۸۸۶) ومسلم فی کتاب الأشربة/باب تحريم فعل الواصلة والمستوصلة والواشمة والمستوشمة والنامصة والمتنمصة والمتفلجات والمغيرات خلق الله (رقم-۱۲۰ - (۲۱۲۵) وابوداود فی کتاب الترجل /باب فی صلة الشعر(رقم-۴۱۶۹)وابن ماجه فی کتاب النكاح/ الواصلة والواشمة (رقم-۱۹۸۹)واحمد فی المسند: ۴۱۵/۱

ترجمه: [۱] هغې ښځې اوویل ماهم هغه شي ویلي دي څه چې د دوو لوحینو په منځ کې دي [یعني ماهم پوره قرآن کریم ویلي دی] [۲] لیکن په هغې کې ما دا خبره کومه چې تاسو وایئ [په صریح الفاظو کې] نه ده پیدا کړي. [۳] ابن مسعود رضي الله عنه ورته وفرمایل که تا قرآن کریم [په غور او فکر سره] ویلی، نو یقیناً تا به د دې حکم پیدا کړي وي. [۴] آیا تا دا آیت نه دی ویلي ﴿مَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا﴾ (یعني څه چې رسول الله ﷺ درکړیدي هغه قبول کړئ، او عمل ورباندې وکړئ، او د کوم څیز نه چې منع کړي یې د هغې نه منع شئ) [۵] هغې ښځې اوویل چې هو دا آیت خو ماویلي دي. [۶] ابن مسعود رضي الله عنه ورته وفرمایل بس دا هغه شي دي چې حضور ﷺ ځیني منع فرمایلي ده. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ④ اللَّوْحَيْنِ: اي الدفتين " د دوو تختو په مینځ کښې یعنی اول نه تر آخره پورې پوره قرآن.

تسهیلات: قوله: وَالْمُتَنَمِّصَاتِ:

د متنمصات وضاحت: د مُتَفَعِّلَاتٌ په وزن باندې دې په دویم میم باندې شد دې منماص اي المنقاش نوسی ته وائی دَمخ نه واړه ویښته چه په کومې آله سره راویستې شی هغې ته منماص وائی. دغه شان عمل کونکې ښځې ته نامصه وائی دکوم ذکرچه په بل حدیث کښې دې دلته دَمتنمصه ذکردې هغه داسې ښځه ده چه په نورو باندې داکار کوی یعنی دَ ویښتو راویستونکې ښځه.

قوله: الْمُتَفَلِّجَاتِ:

د متفلجات وضاحت: دادَفلج نه دې دَ دوو غاښونو په مینځ کښې فاصله او کهړکئی نه وائی. په جاهلیت کښې دَ ښائست زیاتولودَپاره به ښځو په سوان سره غاښونه رژول دې دَپاره چه غاښونه ښه په طریقه شي یا به ئی په مینځ کښې فاصله کولوسره په غاښونوکښې خائی پریخودلو دې دَپاره چه ښائسته ښکاری. په دې کښې چونکه تغییرخلق الله دې په دې وجه منع او دَ لعنت سبب دې. "انه" یعنی شان دادې

قوله: "وَمَنْ هُوَفِي كِتَابِ اللّٰهِ، اي ومن هوملعون في كتاب الله:

د ښځې د مذکوره قول مطلب: دَ حضرت ابن مسعود رضي الله عنه کلام سره په دغه ښځه باندې اشتباه راغله چه په قرآن کښې چرته ذکر دی په دې وجه ئی اووئیل چه ما پوره قرآن دَاول نه واخله ترآخره پورې وئیلي دي داحکم هلته نشته دي؟

[۳۳۳۲] د خال لګولو ممانعت

۳۳۳۲-[۱۴] (۱) ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ «الْعَيْنُ حَقٌّ" ۳ وَنَهَى عَنِ الْوَشْمِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱ اوحضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ نظر لګيدل حق دي، ۳ او حضور ﷺ د خالونو د وهلو نه منع وفرمايله. (بخاري)

حل اللغات: ① الْعَيْنُ: نظر لګيدل، ② الْوَشْمِ: خال لګول.

تسهيلات:

قوله: الْعَيْنُ حَقٌّ:

د بدنظر لګيدلو کيفيت: اهل سنت فرمائي چه بد نظر يوحقيقت دي داهيڅ وهم نه دي. دَ قرآن اوحديث ډير نصوص په دې باندې دلالت کوی معتزله ته پخپله وهم شوې دې.

دَبدنظر لګيدوطريقه علماؤ داسې بيان کړې ده چه دَ عائن اودَ ناظر قوت واهمه په منظورباندې اثر کوی نوهغه متاثره کيږی يا دَ عائن اودَ ناظر دَ سترګونه باقاعده جراثيم خې اوپه منظور باندې اثر کوی. دَ الله تعالی په مشيت اوحکم سره دَ ناظر په نظر کښې دا اثر پيدا شوې دې.

وشم اوبدنظری په يوځائې بيانولو کښې حکمت: په اهل وشم کښې دَ اکثرخيال داوی چه دَ وشم دَ وجهې بدنظر ختميږی. دَدې په جواب کښې ئی اوفرمائيل چه وشم مه کوئی بد نظر يو حقيقت دې هغه چه کله لګی نو وشم هغه نه شی منع کولې.

[۳۳۳۳] د سر د ويښتو د راغونډولو حکم

۳۳۳۳-[۱۵] (۲) ۱ «وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: ۲ لَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مُلَبِّدًا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابن عمر ﷺ وايي ۲ چه ما رسول الله ﷺ ملبد (په ويښتانو سريښ، ګوند، لګونکي) ليدلي دي. (بخاري)

حل اللغات: ① مُلَبِّدًا: د سر په ويښتو باندې سريش وغيره لګول.

تسهيلات: **قوله:** مُلَبِّدًا:

د مذکوره لفظ وضاحت: دَدې مطلب دادې چه حضرت ابن عمر ﷺ فرمائي چه نبی کريم دَ

---

(۱) اخرجه البخاری فی کتاب الطب/باب: العين حق (رقم-۵۷۴۰) ومسلم فی کتاب السلام/باب الطب والمرض والرقی (رقم-۴۱ - (۲۱۸۷)

(۲) اخرجه البخاری فی کتاب اللباس/باب التلبيد (رقم-۵۹۱۴) ومسلم فی کتاب الحج /باب التلبية وصفتها ووقتها (رقم-۲۱ - (۱۱۸۴) والنسائی فی کتاب مناسک الحج/باب التلبيد عند الإحرام (رقم-۲۶۸۳)واحمد فی المسند: ۱۲۱/۲

حج په موقع باندې ګوندوغيره سره خپل دَ سر وېښته راغونډ کړي وو چه ما اوليدلو. نبی کريم به دَ دوړو نه دَبچ کيدودپاره داسې کړي وی يابل څه مقصد به ئې وو دَ احرام په حالت کښې داسې کول جائز دی ليکن وېښته پټول جائز نه دی.

[۴۳۳۴] سرو دپاره دزعفرانو داستعمالولو ممانعت

۴۳۳۴-[۱۶] ()① وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: ②«نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَنْ يَتَزَعْفَرَ الرَّجُلُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ①او حضرت انس وايي ② چې رسول الله ﷺ د دې نه منع فرمايلې ده چې يو سړې [په خپل بدن يا کپړو] زعفران ومږي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ①يَتَزَعْفَرَ: چه زعفران اولګوی.

تسهيلات:

قوله: أَنْ يَتَزَعْفَرَ الرَّجُلُ:

په بدن يا جامه کښې دزعفرانو داستعمالولو حکم: تزعفردَ زعفران نه جوړشوې دې مطلب دادې چه سړی نه په خپلو کپړوکښې دَ زعفران خوشبوئی استعمالولې شی اونه دَ زعفران خوشبوئی په خپل بدن باندې مږلې شی ځکه چه زعفران مږل بښځوسره مخصوص دی.

اشکال: بعضې صحابه کرامو زعفران استعمال کړې دی يا خلوق ئی استعمال کړې دې کوم چه دَ زعفران دويم نوم دې.

داشکال دوه جوابونه: ① په ډير لږ مقدار کښې به ئی استعمال کړې وی ممانعت دَ کثير مقدار دې.

② کيدې شی هغه دَ ممانعت نه دَمخکښې وخت واقعه وی.

[۴۳۳۵] درنګ داره خوشبو داستعمالولو حکم

۴۳۳۵-[۱۷] ()① «وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا- قَالَتْ: ②كُنْتُ أُطَيِّبُ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِأَطْيَبِ مَا نَجِدُ، ③حَتَّى أَجِدَ وَبِيصَ الطِّيبِ فِي رَأْسِهِ وَلِحْيَتِهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب اللباس/باب النهی عن التزعفر للرجال (رقم-۵۸۴۶) ومسلم فی کتاب الأشربة/باب النهی عن التزعفر للرجال (رقم-۷۷ - (۲۱۰۱) وابوداود فی کتاب الترجل /باب فی الخلوق للرجال (رقم-۴۱۷۹)والترمذی فی کتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب (رقم-۲۵۱۵) کتاب الزينة/باب التزعفر (رقم-۵۲۵۶)

[2]) اخرجه البخاری فی کتاب اللباس/باب الطيب فی الرأس واللحية (رقم-۵۹۲۳) ومسلم فی کتاب الحج /باب الطيب للمحرم عند الإحرام (رقم-۳۸ - (۱۱۸۹) وابوداود فی کتاب المناسک/باب الطيب عند الإحرام (رقم-۱۷۴۵) والترمذی فی کتاب الحج عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الطيب عند الإحلال قبل الزيارة (رقم-۹۱۷) والنسائی فی کتاب مناسک الحج/باب إباحة الطيب عند الإحرام (رقم-۲۶۹۰)وابن ماجه فی کتاب المناسک/باب الطيب عند الإحرام (رقم-۲۹۲۶) واحمد فی المسند:۱۸۶/۶

ترجمه:[۱] او بي بي عائشه ﷞ فرمايي [۲] ما سره چې به کومه بهترينه خوشبو وه نو ما به هغه رسول الله ﷺ پورې لګوله [۳] تر دې چې د هغه خوشبو رونق به ما ته د حضور ﷺ په سر او ږيرې کې په نظر راتلو. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① وَبِيصَ: غوړوالی، چمک.

تسهيلات:

قوله: حَتَّى أَجِدَ وَبِيصَ الطِّيبِ فِي رَأْسِهِ وَلِحْيَتِهِ:

د سرو دپاره په مخ باندې د خوشبو لګولو حکم: په حديث الباب کښې د نبی کريم ﷺ په سر مبارک او ږيرې مبارک باندې د خوشبو لګولو ذکر دې او په مخ مبارک باندې د خوشبو لګولو ذکر نشته، ځکه په مخ باندې خوشبو لګول د ښځو سره خاص دي نو ددې وجهې نه سړی ني تشبه بالنساء په وجه منع کړې شوي دي.

اشکال: د يو حديث د ظاهر نه دا معلوميږي چه سړو دپاره داسې خوشبو استعمالول جائز دي چه د کوم رنګ ظاهر نه وي ليکن د مذکوره حديث نه دا معلوميږي چه نبی کريم ﷺ له به چه کومه خوشبو لګولې کيدله نو د هغې رنګ به ظاهر وو ځکه چه د هغې خوشبو چمک به د نبی کريم ﷺ په سر او ږيره مبارک کښې ښکاره کيدلو؟

داشکال دوه جوابونه: ① په کوم حديث کښې چه سړو لره د رنګ دار خوشبو لګولو نه منع راغلې ده نو دهغې نه مراد هغه خوشبو ده، د کوم په ظاهريدو سره چه د ذيب وزينت نمائش کيږي لکه سور او زيړ رنګ وغيره او کوم رنګ چه داسې نه وي لکه د مشک، عنبر وغيره رنګ نو داسې خوشبو استعمالول جائز دي.

② په حديث کښې د چمک ذکر دې او دا چمک د خوشبو د رنګ نه وو بلکه صرف چمک وو او چمک خو د اوبو هم محسوس کيدې شي.

[۴۳۳۶] د خوشبوداره لرګی د لوګی استعمالول

۴۳۳۶-[۱۸] ([1]) [۱] وَعَنْ نَافِعٍ، قَالَ: [۲] «كَانَ ابْنُ عُمَرَ إِذَا اسْتَجْمَرَ [۳] اسْتَجْمَرَ بِأَلُوَّةٍ غَيْرِ مُطَرَّاةٍ، [۴] وَبِكَافُورٍ يَطْرَحُهُ مَعَ الْأَلُوَّةِ، [۵] ثُمَّ قَالَ: هَكَذَا كَانَ يَسْتَجْمِرُ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت نافع ﷬ وايي [۲] چې حضرت ابن عمر ﷠ چې به د خوشبو لوګي اخستو، [۳] نو يواځې د عود [يو قسم لرګی چې د سوزولو نه پس يې خوشبو شروع کيږي] لوګي به يې اخستلو چې په هغه کې مشک وغيره مخلوط نه وو، [۴] او (کله) د کافورو لوګي به يې اخستو، چې هغه د عود د لرګی سره (يعني دواړه يو ځاي کولو سره به يې په اور کې)

[1]) اخرجه مسلم فی باب استعمال المسک وأنه أطيب الطيب وكراهة رد الريحان والطيب (رقم-۲۱ - (۲۲۵٤) والنسائی فی كتاب الزينة/باب البخور (رقم-۵۱۳۵)

اچول.[۵] او حضرت ابن عمر رضی الله عنه وفرمایل چې رسول الله ﷺ به هم دغه شان لوګي اخستلو، [چې کله خو به يې يواځې د عود لوګي اخستلو، او کله د کافورو او کله به يې دواړه مخلوط کولو سره لوګي اخستو]. (مسلم)

حل اللغات: ① اِسْتَجْمَرَ: په انګيټئ کښې خوشبوئي اچولو سره دَهغې لوګي کول. ② أَلُوَّةِ: اى وهى عود يتبخربه. يعنى الوة عودته وائي. عود يو لرګې دې چه سيزلو سره خوشبودار لوګي کوی. ③ غَيْرِ مُطَرَّاةٍ: بغير د ګډون نه، بغير د مخلوط کولونه. ④ كَافُورٍ: كافور (يوقسم خوشبوئي). ⑤ يَطْرَحُهُ: غورزول به ئې، ګډوډ کول به ئې،

تسهيلات:

قوله: اسْتَجْمَرَ بِأَلُوَّةٍ غَيْرِ مُطَرَّاةٍ:

د أَلُوَّةِ وضاحت: الوة عودته وائي. عوديو اعلى قسم لرګې دې دَ کوم په سيزلو سره چه خوشبوئي حاصلولې شي. په حرمين شريفين کښې په مجمع کښې ياکله په مطاف کښې دننه عرب خلق عودسيزی خلق په منډه منډه خوشبوئي حاصلوی. دې ته "اګر" هم وائي نن صباجماتونوکښې اګربتئ لګولې شي.

قوله: غَيْرِ مُطَرَّاةٍ:

د عود استعمالولو دوه طريقې: ① يعنى عود به کله مشک او عنبر نه بغير سوزولې شو ② کله دې سره کافور يوځائى کولوسره ګډوډ سيزلې شو. يعنى يوځل به ئې يوازې دَ عود لوګي اخستلو په دويم ځل کافور وغيره مشک اوعنبر يوځائى کولو سره ګډوډ لوګي اخستلو.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[٤٤٣٤] د بريتو د کټ کولو مسنونيت

٤٤٣٤—[١٩] (١) [١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا-قَالَ: [٢] «كَانَ النَّبِيُّ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-يَقُصُّ، أَوْ يَأْخُذُ مِنْ شَارِبِهِ، [٣] وَكَانَ إِبْرَاهِيمُ خَلِيلُ الرَّحْمَنِ-صَلَوَاتُ الرَّحْمَنِ عَلَيْهِ-يَفْعَلُهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] حضرت ابن عباس رضی الله عنهما وايي[٢] چه رسول الله ﷺ به د خپلو شونډو وېښتان کمول يا اخستل،[٣] او حضرت ابراهيم علیه السلام چې د الله جل جلاله دوست وو، هغه به هم داسې کول، [يعنى هغه به هم د خپلو شونډو وېښتان تراشل]. (ترمذي)

حل اللغات: ① يَقُصُّ: کمول او اخستل به ئې،

(١) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى قص الشارب (رقم-٢٧٦٠) واحمد فى المسند:١/٣٠١

قوله: يَقُصُّ، أَوْيَأْخُذُمِنْ شَارِبِهِ:

د بریتو کټ کول: مطلب دا دی چه بریتي بلکل کمول يو داسی قدیم سنت دی کوم چه د حضرت ابراهیم علیه السلام او د نورو انبیاء کرامو معمول هم وو او مخکي د لفظ "فطرة" په وضاحت کښي ددې ذکر تير شو.

اشکال: او پاتی شوه دا خبره چه بریتي کمول د نورو انبیاء کرامو سنت دی نو دلته ئی صرف د حضرت ابراهیم علیه السلام ذکر ولې وکړو؟

داشکال جواب: نو ددې تخصیص وجه د حضرت ابراهیم علیه السلام د مخصوص عظمت او د جلالت اظهار دی، يا دا چه ددې سنت ابتداء د حضرت ابراهیم علیه السلام نه شوې ده، وغیره

[۴۴۳۸] د بریتو په نه کټ کولو وعید

۴۴۳۸-[۲۰] (¹) [۱] وَعَنْ زَيْدِبْنِ أَرْقَمَ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُ-أَنَّ رَسُولَ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-قَالَ: [۲] "«مَنْ لَمْ يَأْخُذْمِنْ شَارِبِهِ [۳] فَلَيْسَ مِنَّا»". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت زيد بن ارقم رضي الله عنه نه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړي چې د شونډو وېښتان نه کموي، [۳] هغه زمونږ نه نه دي. (احمد، ترمذي، نسائي)

حل اللغات: ① شَارِبِهِ: د شونډو وېښتان، بريت.

تسهیلات:

قوله: فَلَيْسَ مِنَّا:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: ① يعنى په دې شعبه کښې زمونږ په طريقه نه دې باقى په دين کښې دې.

② زمونږ سره ددهٔ څه تعلق نشته دې دا ئې په توګه دّ اسلوب حکيم اوفرمائيلو چه هغه پريشانه کيدوسره توبه اوباسى. دا تشديد تغليظ اوتهديد اوتوبيخ دې.

[۴۴۳۹] د ږيرې د براېرولو ذکر

۴۴۳۹-[۲۱] (²) [۱] وَعَنْ عَمْرِوبْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-كَانَ يَأْخُذُ مِنْ لِحْيَتِهِ مِنْ عَرْضِهَا وَطُولِهَا». [۳] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت عمرو ابن شعيب د خپل پلار نه او هغه د خپل نيکه نه نقل کوي، [۲] چې رسول الله ﷺ به خپله ږيره مبارکه په عرض او طول کي [يعنى د لاندي نه هم او د ښي

(¹) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى قص (رقم-۲۷۶۱) والنسائى فى كتاب الطهارة/باب قص الشارب (رقم-۱۳) واحمد فى المسند: ۵۱/۱

(²) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الأخذ من اللحية (رقم-۲۷۶۲)

او چپ طرف نه هم] کموله،[۳] ترمذي رحمه الله دا روايت نقل کړي دي او ويلي يي دي چې دا حديث غريب دي.

تسهيلات:

قوله: يَأْخُذُ مِنْ أَطرافِ لِحْيَتِهِ:

د ږيرې د کمولو حد: دې نه مراد هغه غټ شوی ويښته دی چه دَ نورو ويښتو نه زيات شي په کوم سره چه دَږيرې په هوارې کښې فرق راځي په دې وجه دَدې زياتی حصه پرې کولې شي. دَ يوموټی پورې ږيره وره کول جائز دی. لکه څنګه چه حضرت ابن عمر رضي الله عنه کړې وه دې نه کمول جائز نه دی. په ږيره کښې خو اصل حکم دَ إعفاء او دَ لويولودې دَ يوموټی پورې کمول خودَ جواز آخری حد دې لکه صحابی رضي الله عنه دَ آخری حد حد خودلې دې

[۴۴۳۰]سرو دپاره د خلوق خوشبوئي د استعمالولو ممانعت

۴۴۳۰—[۲۲] ()[۱] «وَعَنْ يَعْلَى بْنِ مُرَّةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ-[۲] أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- رَأَى عَلَيْهِ خَلُوقًا، [۳] فَقَالَ: "أَلَكَ امْرَأَةٌ؟" قَالَ: لَا،[۴] قَالَ: "فَاغْسِلْهُ، ثُمَّ اغْسِلْهُ، ثُمَّ اغْسِلْهُ[۵] ثُمَّ لَا تَعُدْ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] او د حضرت يعلي ابن مره رضي الله عنه نه روايت دي[۲] چې ايوه ورځ] رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه [يعنی د يعلي] په کپړو [د زعفران نه مرکب خوشبو] خلوق لګيدلي وليدلو.[۳] نو وي فرمايل چی آيا ته د ښځې والا يې؟ هغه اوويل چې نه،[۴] حضور صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل چی بيا دا ووينځه، بيا يي ووينځه او بيايي ووينځه،[۵] او بيا آئنده هيڅ کله هم دا مه استعمالوه (ترمذي، نسائي)

حل اللغات: ① خَلُوقًا: يو قسم زير رنګ عطر،

تسهيلات: قوله: رَأَى عَلَيْهِ خَلُوقًا:

د خلوق معنی: خلوق دَ يوقسم عطردی کوم چه ښځې استعمالوی دَ زعفران نه دَخلوق عطر جوړيږی. کله چه دَ سړو دَپاره زعفران منع دی نوخلوق هم منع دې.

قوله: أَلَكَ امْرَأَةٌ:

د نبی عليه السلام د تپوس وجه: نبی کريم دا تپوس څکه اوکړو که دَ ښځې والا وی نو کيدې شی چه دَهغې بدن پورې لګيدلې وی کوم چه معاف دی ليکن کله چه نبی کريم ته معلومه شوه چه ده په مستقل توګه باندې استعمال کړی دی نونبی کريم درې ځل اوفرمائيل لاړشه اودا اووينځه بيا راشه بلکه درې ځل ئې اووينځه

---

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی كراهية التزعفر والخلوق للرجالو(رقم-۲۸۱۶) والنسائی فی كتاب الزينة/باب التزعفر. والخلوق (رقم-۵۱۲۱) واحمد فی السند: ۱۷۱/۴

[۴۴۴۱] د زنانه خوشبوئ لګولو په وجه د مونځ نه قبلیدل

۴۴۴۱–[۲۳] ()[۱] وَعَنْ أَبِي مُوسَى -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:[۲] «لَا يَقْبَلُ اللَّهُ صَلَاةَ رَجُلٍ[۳] فِي جَسَدِهِ شَيْءٌ مِنْ خَلُوقٍ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوموسي ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل[۲] خداي ﷻ د هغه سړي مونځ نه قبلوي،[۳] چې د هغه په بدن لږ شان خلوق هم لګيدلي وي (ابوداؤد)

تسهیلات:

قوله: لَا يَقْبَلُ اللَّهُ صَلَاةَ رَجُلٍ فِي جَسَدِهِ شَيْءٌ مِنْ خَلُوقٍ.

دحدیث محمل: یعنی داسړي به مونځ کوی خو دَ ښځودَمشابهت دَ وجهې به نی مونځ نه قبلیږی ځکه چه خلوق دَښځو خوشبوئی ده هغه ده دَ هغوی مشابهت اختیارکړو لیکن ابن ملك فرمائی چه دلته په خلوق استعمالولو باندې دا سخت وعید راغلې دې چه په زجر توبیخ اوتشدید اوتغلیظ باندې محمول دې

[۴۴۴۲] د خلوق په استعمال د ناراضګي اظهار

۴۴۴۲–[۲۴] ()[۱] «وَعَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ:[۲] قَدِمْتُ عَلَى أَهْلِي مِنْ سَفَرٍ[۳] وَقَدْ تَشَقَّقَتْ يَدَايَ،[۴] فَخَلَّقُونِي بِزَعْفَرَانٍ،[۵] فَغَدَوْتُ عَلَى النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ،[۶] فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ وَقَالَ: "اذْهَبْ فَاغْسِلْ هَذَا عَنْكَ"». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه:[۱] او حضرت عمار ابن ياسر ﷺ وايي[۲] چې [يو ځل] زه د سفر نه په واپس راتګ کې کور والو ته په داسې حال کې راورسيدم،[۳] چې زما دواړه لاسونه چاودلي وو،[۴] نو زما کور والو [د علاج په طور] زما په لاسونو هغه خوشبو پوري کړه چې په هغې کې زعفران مخلوط وو،[۵] په سحر چې زه د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شوم، او حضور ﷺ ته مي سلام وکړو[۶] نو زما د سلام جواب يي رانه کړو، بلکي وي فرمايل چې ځه ولاړ شه او دا خوشبو د خپل بدن نه ووينځه (ابوداؤد)

حل اللغات: ① تَشَقَّقَتْ يَدَايَ: چاودلی وو دواړه لاسونه زما، ② فَخَلَّقُونِي: نو خلوق (زیړ رنګ عطر) ئې راله پورې کړل

تسهیلات: **قوله:** فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ.

د سلام جواب نه ورکول: یعنی دَ خلوق استعمالولودَ وجې نبی کریم ماته دَ سلام جواب رانه کړو کیدې شی چه نبی کریم ته دَحضرت عمار ﷺ دَعذر علم نه وو. ګنی هغه خومعذور مجبور وو دَ دوائی په توګه ئی استعمال کړې وو

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب المغازی /باب غزوة الحديبية (رقم-۴۱۷۸) واحمد فی المسند: ۴۰۳/۴
[۲] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الترجل /باب فی الخلوق للرجال (رقم-۴۱۷۸) واحمد فی المسند: ۴۰۳/۴

[۳۳۳۳] د سړو او د ښځو په عطرو نو کښې فرق

۳۳۳۳—[۲۵] ()[۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «طِيبُ الرِّجَالِ مَا ظَهَرَ رِيحُهُ وَخَفِيَ لَوْنُهُ، [۳] وَطِيبُ النِّسَاءِ مَا ظَهَرَ لَوْنُهُ وَخَفِيَ رِيحُهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره رضي الله عنه وايي چه رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] مردانه خوشبو هغه ده چې د هغې بوي خو ظاهر وي، ليکن د هغې رنګ ظاهر نه وي [لکه مشک او عنبر او عطر وغيره] [۳] او زنانه خوشبو هغه ده، چې د هغې رنګ خو ظاهر وي، ليکن د هغې بوي نه خوريږي، [لکه نکريزي او زعفران وغيره]. (ترمذي نسائي)

تسهیلات:

قوله: وَطِيبُ النِّسَاءِ مَا ظَهَرَ لَوْنُهُ وَخَفِيَ رِيحُهُ:

د ښځې او سړي په زينت کښې فرق: ښځه د پردې څيزدې نو دې تقاضا داده چه د دې د بدن خوشبوئی په پردی سړی باندې اونه لګی. البته د کور زينت د ښځې د پاره ضروري دې په دې وجه د ښځې په خوشبوئی کښې زينت زيات وی او خوشبوئی کمه وی او د سړی پرده نه وی په دې وجه دې تيزه خوشبوئی لګوی. ليکن زيبائش او زينت د سړی د شان خلاف دی نو د ده په عطرو کښې خوشبوئی تيزه او زينت کم کيدل پکاردی.

[۳۳۳۴] د نبی کريم ﷺ د خوشبو استعمالولو لوښې

۳۳۳۴—[۲۶] ()[۱] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «كَانَتْ لِرَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - سُكَّةٌ [۳] يَتَطَيَّبُ مِنْهَا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضي الله عنه وايي [۲] چې د رسول الله ﷺ سره سُکَه وه (د يو مرکب خوشبو نوم دې) [۳] حضور ﷺ به د هغې نه خوشبو لګوله (ابوداؤد)

حل اللغات: ① سُكَّةٌ: د عطرو لوښې، د عطرو شيشه.

تسهیلات:

قوله: سُكَّةٌ يَتَطَيَّبُ مِنْهَا:

د سکة په مفهوم کښې دوه اقوال: ① اکثر شارحينو د سکة ترجمه او مفهوم داسې بيان کړې دې چه دا يو مخلوط مرکب عطر دی ليکن دا خبره زړه ته نه لګی ځکه چه د يتطيب منها لفظ دې سره پوره موافق نه دې.

[۱] اخرجه الترمذي في السنن كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في طيب الرجال والنساء (رقم-۲۷۸۷) والنسائي في كتاب الزينة/باب الفصل بين طيب الرجال، وطيب النساء (رقم-۵۱۱۷) واحمد في المسند: ۲/۵۴۱

[۲] اخرجه ابوداود في السنن كتاب الترجل /باب ما جاء في استحباب الطيب (رقم-۴۱۶۲)

۞ ملاعلی قاری رحمه الله علامه جزری رحمه الله د علامه میرك رحمه الله دکلام نه هم معلومیږی چه دا لوښې کیدې شی بهرحال دعطرو دبې مراد اخستل دیر ښه دی بیاکه په هغې کښې دننه عطر مخلوط وی اوکه غیر مخلوط وی هیڅ فرق نه پریوځی

[۴۴۳۵]د نبی کریم ﷺ په کثرت سره په سر کښې تیل لګول

۴۴۳۵-[۲۷] (۱) [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يُكْثِرُ دَهْنَ رَأْسِهِ [۳] وَتَسْرِيحَ لِحْيَتِهِ، [۴] وَيُكْثِرُ الْقِنَاعَ [۵] كَأَنَّ ثَوْبَهُ ثَوْبُ زَيَّاتٍ». رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضی الله عنه وایې چې رسول الله ﷺ به په کثرت سره په خپل سر مبارك کې تیل لګول، [۲] په کثرت سره به یې ږیره مبارکه ګمنزوله، [۴] او اکثره به یې په سر مبارك کپړه ایخودله، [۵] چې داسې به په نظر راتله چې د تیلي کپړه ده (شرح السنه)

حل اللغات: ① دَهْنَ: تیل، ② تَسْرِيحَ: ګمنزول، ③ الْقِنَاعَ: د سر په ویښتو باندې کپړه ایخودل ④ زَيَّاتٍ: د تیل خرڅونکی.

تسهیلات:

قوله: يُكْثِرُ دَهْنَ رَأْسِهِ، وَتَسْرِيحَ لِحْيَتِهِ، وَيُكْثِرُ الْقِنَاعَ، كَأَنَّ ثَوْبَهُ ثَوْبُ زَيَّاتٍ:

اشکال: په کثرت سره ګمنزکولوځخه خو نبی کریم منع فرمائیلې ده دلته د کثرت ذکرولې کړې شوې دې؟

اشکال: دکوم کثرت نه نبی کریم منع فرمائیلې ده هغه په خپل ځائی باندې صحیح دې دلته دکثرت مطلب دادې چه نبی کریم به فی نفسه ګمنز زیاته استعمالوله. مطلب دانه دې چه د ممنوع حده پورې به ئې ګمنز استعمالوله. په سرکښې د ګمنز کولو دپاره لفظ ترجل او په ږیره کښې ګمنزکولودپاره دتسریح لفظ استعمالیږی

قوله: وَيُكْثِرُ الْقِنَاعَ:

دپټکی د حفاظت دپاره د کپړې استعمال: د پټکی وغیره لاندې چه کومه نرمه کپړه استعمالولې شی هغې ته قناع وائی نبی کریم به په سر کښې تیل زیات استعمالول په دې وجه د تیل لګولونه پس به ئې دانرمه کپړه د پټکی لاندې کیخودله دې دپاره چه پټکی پورې تیل اونه لګی

قوله: وَيُكْثِرُ الْقِنَاعَ، كَأَنَّ ثَوْبَهُ ثَوْبُ زَيَّاتٍ:

د تیلی د کپړې سره د تشبیه وضاحت: په ثوبه کښې چه کوم ضمیردې داهم دذغه قناع د ثوب طرف ته راجع دې یعنی کومه نرمه کپړه چه به نبی کریم د پټکی لاندې استعمالوله

[۱] اخرجه البغوی فی شرح السنة رقم الحدیث ۳۱۶۴

هغه کېږه به په تیلوکېښې داسې لوندیدله اوداسې به غوړه وه لکه چه د تیلو خرخونکي سرې کپړې وي د تیلو خرخونکوسرو کپړې هم په تیلوباندې غوړې وي او خاص کرَ هغه په لاس کښې یوه کپړه وي په کومې سره چه هغه لاس صفاکوي هغه په تیلوکښې خوشته وي بهرحال دا ضمیرد نبي کریم په بدن مبارک باندې دَ اغوستې شوو کپړو طرف ته نه راګرځي ځکه چه نبي کریم په نظافت کښې أنظف الناس وو. ملاعلي قاري رحمه الله څه روايات هم نقل کړي دي په کوم کښې چه وضاحت او تصریح سره دا ضمیر هم دې قناع طرف ته راجع دي

[۴۴۳۶] د نبي کريم ﷺ زلفې مبارکې

۴۴۳۶—[۲۸] (¹) [۱] وَعَنْ أُمِّ هَانِئٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا- قَالَتْ: [۲] «قَدِمَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَلَيْنَا بِمَكَّةَ قَدْمَةً، [۳] وَلَهُ أَرْبَعُ غَدَائِرَ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] حضرت ام هاني رضي الله عنها فرمائي [۲] چې یو ځل اد فتح مکه په ورځ] حضور ﷺ زمونږ خوا ته تشریف راوړو، [۳] نو هغه وخت د حضور ﷺ څلور کونځې (زلفې) وې، [دوه ښي طرف ته او دوه چپ طرف ته یعنی په سر مبارک کې یې څلور زلفې وې] (احمد ابوداود ترمذي ابن ماجه)

حل اللغات: ① قَدْمَةً: "اي مرة واحدة" یعنی یو ځلې، ② غَدَائِرَ: دَ غدیرة جمع ده. کونځې (زلفې

تسهیلات:

قوله: قَدِمَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَلَيْنَا بِمَكَّةَ:

د قدوم ځخه مراد: یعنی دَدې راتګ نه دَ فتح مکه راتګ مراد دې. نبي کریم څلور ځل مکې ته تشریف راوړي دي. عمرة القضاء کښې بیا دَ فتح مکه په ورځ بیا دَ طائف په خواکښې دَ جعرانه نه راغلې وو او آخرې ځل حجة الوداع کښې راغلو.

قوله: وَلَهُ أَرْبَعُ غَدَائِرَ:

د غدائرو وضاحت: په اصل کښې چونټې ته وائي لیکن دغه مراد نه ده بلکه مطلب دادې چه دَ حفاظت دَ وجهې دَ نبي کریم ویښته په څلورو حصوکښې تقسیم شوې وو

[۴۴۳۷] د نبي کريم ﷺ په ویښتو کښې لاره ویستل

۴۴۳۷—[۲۹] (²) [۱] «وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا- قَالَتْ: [۲] إِذَا فَرَقْتُ لِرَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- رَأْسَهُ [۳] صَدَعْتُ فَرْقَهُ عَنْ يَافُوخِهِ، [۴] وَأَرْسَلْتُ نَاصِيَتَهُ بَيْنَ عَيْنَيْهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

¹) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الترجل /باب فی الرجل یعقص شعره (رقم-۴۱۹۱) والترمذی فی کتاب اللباس عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب دخول النبی صلی الله علیه وسلم مکة (رقم-۱۷۸۱) وابن ماجه فی کتاب اللباس . باب اتخاذ الجمة والذوائب (رقم-۳۶۳۱) واحمد فی المسند:۳۴۱/۶

²) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الترجل /باب ما جاء فی الفرق (رقم-۴۱۸۹)وابن ماجه فی کتاب اللباس . باب اتخاذ الجمة والذوائب (رقم-۳۶۳۳)

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي كله چې ما به د حضور ﷺ په سر مبارك كښې لاره ويستله، [۲] نو په تالو (د سر په درمياني حصه، ، دا عين د دماغ په پورته سطح وي) د ويښتانو دوه حصې كولو سره به مې سينخه (لاره) ويستله، [۳] او د حضور ﷺ د تند مبارك ويښتان به مې د دواړو سترګو مباركو په منځ كې پريخودل. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① فَرَقْتُ: فرق دَ سرلاري ته وائي اوفرقت يعنى ما لار اوويستله، ② صَدَعْتُ: نو ما تقسيم كړل، دوه حصې مې كړل، ③ يَافُوخه: يافوخ تندى طرف ته د سر مينځنئ حصې ته وائى، ④ نَاصِيَتَهُ: دحضور پاک (ص) د تندى مبارک ويښته،

تسهيلات:

قوله: وَأَرْسَلْتُ نَاصِيَتَهُ بَيْنَ عَيْنَيْهِ:

په سر كښې د لارې ويستلو طريقه: حضرت عائشه رضي الله عنها په سركښې دَ لارې ويستلو صورت دابيانئ چه دَدې يوسر تالوسره وو اودويم سر ئې دَ دواړو سترګو په مينځ كښې دَ تندې دَپاسه وو داخوشو دَ سردَ لارې ويستلو صورت.

د څټوكې طريقه: اوس دَ څټوكې او كمسې دَ ويښتو دَ كيفيت داسې بيان كوي چه دَناصيه نيم ويښته به دَ لارې ښې طرف ته وو او نيم ويښته دَ لارې ګس طرف ته وو. دَحديث هم دغه مفهوم دي ليكن دَ الفاظوتنګى ده پوره وضاحت نشته.

[۴۴۳۸] هروخت د منګز كولو ممانعت

۴۴۳۸—[۳۰] ()[۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مُغَفَّلٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: [۲] «نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-عَنِ التَّرَجُّلِ [۳] إِلَّا غِبًّا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُودَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت عبد الله ابن مغفل رضي الله عنه وايي [۲] چې رسول الله ﷺ د منګز كولو نه منع فرمايلي ده. [۳] خو دا چې يوه ورځ ناغه كولو سره منګز كړل شي (ترمذي، ابوداود نسائي)

حل اللغات: ① التَّرَجُّلِ: ګمنز كول. ② غِبًّا: كله كله، يو ورځ پس

تسهيلات:

قوله: إِلَّا غِبًّا:

دګمنزكولو موده: قاضى عياض رحمه الله فرمائى چه"غب" لفظ دَهرهغه كاردَ پاره استعماليږى كوم كارچه يوه ورځ اوكړې شى اوبله ورځ پريخودې شى. دَ ګمنزې باره كښې هم دغه

() اخرجه ابوداود في السنن كتاب الترجل(رقم-۴۱۵۹) والترمذي في كتاب الأطعمة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في فضل العشاء (رقم-۱۸۵۶) والنسائي في كتاب الزينة/باب الترجل غبا(رقم-۵۰۵۵) واحمد في المسند: ۸۶/۴

مطلب دې چه په سر اوږيره کښې روزانه ګمنزمه کوئی څکه چه مسلمان دَ دې زیب زینت دَپاره نه دې پیدا اونه دا تکلفات دَ هغه دَ ژوند حصه ده چه هروخت خامخاهم په ګمنزې پورې اونخلی. دې نه معلومه شوه چه کوم خلق دَهراودس نه پس ګمنز کوی اودا سنت ګنړی دا غلطه ده.

دښخو دپاره روزانه د ګمنز کولو اجازت: امام غزالی رحمه الله په احیاء العلوم کښې یوحدیث نقل کړې دې چه نبی کریم به روزانه دوه ځل ګمنز کوله. علماؤ لیکلی دی چه دَدې حدیث هیڅ ثبوت نشته دې. البته دَښځوحکم جدا دې. علماؤ لیکلی دی چه ښځې هره ورځ ګمنز کولې شی څکه چه دَهغې خوکار هم دا ګمنز اوکونسی جوړول دی.

[۴۴۳۹] کله کله د خپې ابله خپې د ګرځیدو استحباب

۴۴۳۹-[۳۱] ()[۱] وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ قَالَ: [۲]«قَالَ رَجُلٌ لِفَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ: مَالِي أَرَاكَ شَعِثًا؟[۳] قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- كَانَ يَنْهَانَا عَنْ كَثِيرٍ مِنَ الْإِرْفَاهِ.[۴] قَالَ: مَالِي لَا أَرَى عَلَيْكَ حِذَاءً؟[۵] قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَأْمُرُنَا أَنْ نَحْتَفِيَ أَحْيَانًا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] حضرت عبد الله ابن بریده رضی الله عنه وايي [۲] چې یوه ورځ د حضرت فضاله ابن عبید رضی الله عنه نه یو سړي پوښتنه وکړه چه څه خبره ده چې زه تا بَبر سر [یعنی ستا ویښتان بغیر ګومنز شوي] وینم، [۳] هغه وفرمایل رسول الله ﷺ به د عیش او آرام د زیات څیزونو د اختیارولو نه به مونږ منع کولو (او د منګز او تیلو زیات استعمال هم په دې کې شامل دي) [۴] هغه سړي بیا دا پوښتنه وکړه چې څه خبره ده چې زه ستا په پښو کې پیزار نه وینم؟ [۵] هغه جواب ورکړو چې رسول الله ﷺ به مونږ ته دا حکم راکولو چې کله کله خپې ابلې پښې هم ګرځئ. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① شَعِثًا: ببر سر. ګډ وډ ویښته. ② الْإِرْفَاهِ: عیش او آرام پریخودل ③ حِذَاءً: پیزار.

تسهیلات:

قوله: كَانَ يَنْهَانَا عَنْ كَثِيرٍ مِنَ الْإِرْفَاهِ.

دعیش اوعشرت ژوند څخه ځان ساتل: څیزنو او ګډودو ویښتوته وائی په دې کښې دیره ګمنز نه کولو او تیل نه لګولو او دَ عیش ژوندون پریخودلو علامت وو په دې وجه په جواب کښې "كثيرمن الارفاه" الفاظ راغلی دی دکوم مفهوم چه دَ عیش اوآرام ژوندون دې چه دَ خوراکونودپاسه خوراکونه وی اودَ لباسونودپاسه لباس وی. "الارفاه التنعم ومظاهرة الطعام على الطعام واللباس على اللباس".

قوله: يَأْمُرُنَا أَنْ نَحْتَفِيَ أَحْيَانًا.

---

[۱] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الترجل (رقم - ۴۱۶۰) واحمد فی المسند: ۶/۲۲

د حدیث نه تر لاسه شوې فوائد: برېنډې خپې تګ ته احتفاء وائي په دې سره جفاکشي راځي خپې مضبوطېږي. تواضع او عاجزي راځي او په برېنډې خپو تللو طاقت پیدا کېږي چه د مجبورئې په وخت په کار راځي. بل خاوره سره د خپو تلې لګېدلو سره د ډېرو بیمارئیو نه حفاظت کېږي. أحیانا یعني چه کله کله معمول وي همیشه نه وي.

[۴۳۵۰] د وېښتانو په ښه شان د ساتلو حکم

۴۳۵۰-[۳۲] (١) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② "«مَنْ كَانَ لَهُ شَعْرٌ فَلْيُكْرِمْهُ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهریره ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② کوم سړي چې په سر وېښتان ساتي، هغه ته پکار دي چې خپل وېښتان په ښه شان ساتي. [یعنی هغه دي وېنځي په هغې کې دې تېل لګوي، منګز کوي دي، او د. لیوني سړي په شان هغه دي تس نس نه پرېږدي، ځکه چې نفاست او صفایي او خوش هیئتي یو خوښ او محبوب شي دی] (ابوداؤد)

تسهیلات: قوله: مَنْ كَانَ لَهُ شَعْرٌ فَلْيُكْرِمْهُ.

د وېښتو د حفاظت او ښائست حکم: د وېښتو اکرام دادې چه په دې کښې تېل اولګولې شي په دې کښې ګمنز اوکړې شي دا جوړ او برابر کړې شي. اسلام د ښکلي والي اوتهذیب حکم ورکوي او هرڅیزته د هغې جائزمقام ورکوي او په هرڅیزکښې د کمي زیاتي نه پاك د اعتدال تعلیم ورکوي. په وېښتوکښې داسې هم نه وي چه هروخت سړې د دې په خدمت کښې لګیاوي خوکه وېښته ئې ساتلي وي نو په سړي باندې لازم دی چه د هغې خیال دې هم اوساتي دې د پاره چه په معاشره کښې د اوسیدو قابل شي.

[۴۳۵۱] د نکرېزو او وسمې خضاب لګولو حکم

۴۳۵۱-[۳۳] (٢) ① وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«إِنَّ أَحْسَنَ مَا غُيِّرَ بِهِ الشَّيْبُ ③ الْحِنَّاءُ وَالْكَتَمُ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت ابوذر ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② د کومو څیزونو په ذریعه چې بوډاتوب (یعني د وېښتانو سپینوالي) بدلیدې شي، ③ په هغې کې د ټولو نه بهترین نکرېزې او وسمه دی. (ترمذي ابوداود نسائي)

حل اللغات: ① الْحِنَّاءُ: نکرېزې، ② الْكَتَمُ: یو قسم وابښه دی.

[1]) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الترجل /باب في إصلاح الشعر (رقم-۴۱۶۳)

[2]) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الترجل /باب في الخضاب (رقم-۴۲۰۵)والترمذی فی کتاب اللباس عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء في الخضاب (رقم-۱۷۵۳) والنسائی في کتاب الزينة/باب الخضاب بالحناء والكتم (رقم-۵۰۷۷) واحمد في المسند: ۱۴۷/۵

تسهیلات:

قوله: إِنَّ أَحْسَنَ مَا غُيِّرَ بِهِ الشَّيْبُ الْحِنَّاءُ وَالْكَتَمُ:

د کتم په تعریف کښې دوه اقوال: ① کتم دَ یوقسم وښونوم دې چه وسمې سره ملاوولو کښې دَ خضاب په کار راوستې شی که دا معنی واخستې شی نو په زیر بحث حدیث کښې د حنا اوکتم ملاوولوسره د خضاب لګولوحکم دې. ملاعلی قاری رحمه الله وغیره شارحین فرمائی دَ حدیث په ټولو روایتونو کښې واؤ ذکر دې دا ټول اسانید دَ ظاهریه خلاف باندې حمل کول ګران دی ځکه چه دَ بعضې نورو شارحینو تحقیق دادې چه په دې حدیث کښې واؤ په معنی دَ مع دې اودَ حنا اوکتم یوځائی کولوسره نور رنګ نه جوړیږی بلکه سوریځن تور ته نیزدې رنګ جوړیږی کوم ته چه براؤن هم وئیلې شی.

② دَ بعضې حضراتو وینا ده چه کتم پخپله وسمې ته وائی په دې صورت کښې دحدیث مطلب دا دې چې صرف دَنکریزو یا صرف دَ وسمې جداجدا خضاب اوکړې شی؟

علامه ابن اثیر جزری رحمه الله چه څه په نهایه کښې لیکلی دی دَ هغې نه په ظاهره دا معلومیږی چه په حدیث کښې صرف دَ حنا یعنی نکریزې یا صرف دکتم خضاب کول مراد دی هغوی دَ دلیل په توګه دا وئیلی دی چه که نکریزو سره کتم یوځائی کړې شی نو دې نه توره وسمه راؤخی او دَتورې وسمې استعمالول دَ احادیث صحیحه کثیره دَ وجهې منع دی لهذا دلته په "الحناءوالکتم" کښې واؤ په معنی دَ او دې کوم چه دَ تنویع دَپاره دې اودَ تنویع دَپاره واؤ راځی اوس به دَ حدیث مطلب داشی چه خضاب کونکی ته اختیار ورکړې شوې دې چه هغه په نکریزو باندې خضاب اوکړی یا دَ کتم خضاب استعمال کړی. دَ نکریزو خضاب سور وی اوصرف دکتم خضاب شین وی دَعلامه ابن اثیر رحمه الله داتحقیق خو ډیر ښکلې دې

د مولانا فضل محمد صاحب تحقیق: مولانا فضل محمد صاحب د مشکاة په شرح کښې لیکلی زما په خیال په اصل کښې خبره دلته پیداکیږی چه حضرات شارحینو دَ کتم باره کښې څه متفقه فیصله نه ده کړې بعضې حضراتو کتم ته وسمه وئیلې ده کوم چه دَتور رنګ ده بعضې دا داسې وابنه ګرځولې دی دکوم نه چه شین رنګ پیداکیږی بعضو کتم دَ سور رنګ والا بوټې ګرځولې دې اوس په حدیث کښې لفظ دَ نکریزو سره چه کوم شارح کوم رنګ یوځائی کړې دې هغه هم هغه شان فیصله کړې ده دَملاعلی قاری رحمه الله په خیال کښې دکتم نه پیداکیدونکې رنګ تور وی بیا هغوی یوجامع کلام پیش کړې دې په کوم سره چه دَ ټولو حضراتو په کلام کښې اتفاق راځی هغوی فرمائی چه زیاته صحیح خبره داده چه دکتم او دَ نکریزونه دَ مخلوط خضاب مختلف قسمونه وی که دکتم اجزاء په نکریزو باندې غالب وی یا کتم او نکریزې دواړه برابر وی نوخضاب تور وی کوم چه ناجائز

دي. لکه څنګه چه ابن اثیر په نهایه کښې دا مخلوط تور ګرځولوسره ناجائز ګڼړلې دې او بیا ئې واؤ دَ او تنویع په معنی کښې واخستلو اوکه چرې دَنګریزو اجزاؤ دَ کتم په اجزاء باندې غالب وی نود خضاب رنګ سور راوځی کوم چه جائز دې لکه چه نورو شارحینو حضراتو اخستې دې او واؤ ئې په خپل اصلی معنی باندې ساتلې دې چه په معنی دَ مع دې.

[۴۴۵۴] د تور خضاب د استعمال باره کښې وعید

۴۴۵۲—[۳۴] (۱) ⓵ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ⓶ "«يَكُونُ قَوْمٌ فِي آخِرِ الزَّمَانِ ⓷ يَخْضِبُونَ بِهَذَا السَّوَادِ، كَحَوَاصِلِ الْحَمَامِ، ⓸ لَا يَجِدُونَ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ⓵ او حضرت ابن عباس ﷠ د نبي کریم ﷺ نه نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمایل ⓶ په آخره زمانه کې به داسې خلق پیدا شي چې د کوترې د ججورې په شان د دې تور رنګ په ذریعه به خضاب کوي [یعنی هغوې چې کوم به خضاب استعمالوي، هغه به داسې تور وي، څرنګه چې د بعضو کوترو ججورې تور وي] ،⓷ داسې خلق به د جنت بوي نه مومي. (ابوداؤد، نسائي)

حل اللغات: ① يَخْضِبُونَ: خضاب به کوی، ② حَوَاصِل: دَحوصلة جمع ده ججورې ته وائی. ③ الْحَمَامِ: کوترو،

تسهیلات:

قوله: يَكُونُ قَوْمٌ فِي آخِرِ الزَّمَانِ يَخْضِبُونَ بِهَذَا السَّوَادِ:

د سواد په مراد کښې دوه احتمالات: ① معلومیږی چه دَنبی کریم په زمانه کښې څه خاص توره وسمه وه هم دَهغې طرف ته ئې اشاره کړې ده

② د سواد څخه جنس سواد مراد دې.

قوله: كَحَوَاصِلِ الْحَمَامِ:

د مرغو د ججورو سره تشبیه: دَمرغئی دَ غاړې اوسټ لاندې چه کومه سینه ده هم دغې ته حوصله وائی چرته چه په شروع کښې خوراك جمع کیږی (ججوره). بعضې کوترو کښې داسې وی چه دا حصه توره وی په عامو کښې داسې نه وی. البته تور او سپین ګډوډ رنګ په اکثرو کوتروکښې وی کیدې شی هم دې سره تشبیه وی څکه چه دَ تور رنګ باوجود څه وینبته سپین پاتې کیږی

دبعضې عالمانو غلطی: په دې حدیث کښې دَهغه خلقودَپاره سخت وعیددې چه په ږیره

---

(۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الترجل /باب ما جاء فی خضاب السواد (رقم-۴۲۱۲) والنسائی فی کتاب الزینة /باب الترجل غبا (رقم-۵۰۵۷) واحمد فی المسند: ۲۷۳/۱

كښې توره وسمه لګوی. دغه شان مسئله د بنځود سرد ویښتوهم ده. تعجب دې په هغو علماؤ باندې چه د دې وعید باوجود د توري وسمې ترغیب ورکوی او دعوت ورکوی او د حدیث مطلب دا بیانوی چه سره وسمه جائزنه ده توره وسمه کوئی اودا جرأت هم کوی چه د مسلم شریف روایت "اجتنبواالسواد" جمله صحیح نه ده.

قوله: لَا يَجِدُونَ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ:

د جنت بوئې نه محسوسولو کښې دوه احتمالات: ① که چرې داجائزګڼړی اودعوت ورکوی نود جنت خوشبوئی حرام

② که صرف په دې باندې عمل کوی نو د محشرپه میدان کښې به د جنت خوشبوئی نورو مسلمانانوته رسیږی اودا خلق به ترې محروم وی یادا تشدید اوتهدید اوتغلیظ باندې محمول دی.

[۴۴۵۳] د زیړ خضاب لګولو جواز

۴۴۵۳—[۳۵] (١) ١ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا- ٢ «أَنَّ النَّبِيَّ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-كَانَ يَلْبَسُ النِّعَالَ السِّبْتِيَّةَ، ٣ وَيُصَفِّرُ لِحْيَتَهُ بِالْوَرْسِ وَالزَّعْفَرَانِ، ٤ وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يَفْعَلُ ذٰلِكَ». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: ١ او د حضرت ابن عمر ﷺ نه روایت دې ٢ چې رسول الله ﷺ به دباغت شوی او بغیر د ویښتانو د څمړی څپل (پیزار) اچولو، چی سبتی پیزار به ورته ویل کیدو، ٣ او په خپلې ږیرې مبارکې به یې ورس (یو واښه چې د یمن په علاقه کې کیدل) او په زعفران به په ئې خپله ږیره او سر زیړول ٤ او حضرت ابن عمر ﷺ به هم داسې کول (یعنې مذکوره بالا څپل به یې په پښو کول او مذکوره خضاب به یې لګولو) (نسائي)

حل اللغات: ① النِّعَالَ: څپلې، پیزار، ② السِّبْتِيَّةَ: رنګ شوې څرمن، ③ يُصَفِّرُ: زیړ رنګې کولو به ئې، ④ الْوَرْسِ: یو قسم واښه دی.

تسهیلات:

قوله: وَيُصَفِّرُ لِحْيَتَهُ بِالْوَرْسِ وَالزَّعْفَرَانِ:

یو اشکال اودهغې جواب: د دې حدیث نه دا معلومه شوه چه نبی کریم ﷺ به په خپله ږیره مبارک باندې خضاب لګولو، لیکن کتاب اللباس کښې د حضرت انس ﷺ کوم راویت چه تیر شو د هغې نه دا معلومیږی چه نبی کریم ﷺ به خضاب نه استعمالولو. لهذا د دې دواړو روایتونو په مینځ کښې د مطابقت چه کوم صورت دې هغه هلته تیر شوې دې.

---

(١) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الترجل /باب ما جاء فی خضاب الصفرة (رقم-٤٢١٠) والنسائی فی کتاب الزینة /باب تصفیر اللحیة (رقم-٥٢٤٣) واحمد فی المسند:١١٤/٢

[۳۳۴] د خضاب درې درجې

۴۴۵۳—[۳۶] (¹) ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: ② «مَرَّ عَلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - رَجُلٌ قَدْ خَضَبَ بِالْحِنَّاءِ. ③ فَقَالَ: "مَا أَحْسَنَ هَذَا". ④ قَالَ: فَمَرَّ آخَرُ قَدْ خَضَبَ بِالْحِنَّاءِ وَالْكَتَمِ ⑤ فَقَالَ: "هَذَا أَحْسَنُ مِنْ هَذَا". ⑥ ثُمَّ مَرَّ آخَرُ قَدْ خَضَبَ بِالصُّفْرَةِ. ⑦ فَقَالَ: "هَذَا أَحْسَنُ مِنْ هَذَا كُلِّهِ"». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما وايي ② چه يوه ورځ د نبي کريم ﷺ په مخکې يو سړي تير شو، چې دنکريزو خضاب يي لګولي وو، ③ حضور ﷺ وفرمايل چې د دة خضاب څومره ښه دي، ④ راوي وايي چې بيا يو بل سړی تير شو، چې هغه دنکريزو او د کتم (چې د يو بوټی تخم دی) خضاب کړي وو، چې خالص تور نه وو، ⑤ حضور ﷺ (د دي په ليدو سره) وفرمايل چې دا خضاب د مخکې نه هم ښه دي، ⑥ د دې نه پس يو بل سړي تيرشو چې هغه زيړ خضاب کړي وو، ⑦ حضور ﷺ هغه ليدو سره وفرمايل چې دي د ټولو نه زيات ښه دي (ابوداؤد)

حل اللغات: ① الْحِنَّاءِ: نکريزي، ② الْكَتَمِ: يو قسم واښه دی. ③ الصُّفْرَةِ: زيړ رنګي،

تسهيلات: **قوله:** قَدْ خَضَبَ بِالْحِنَّاءِ وَالْكَتَمِ

نوټ: د دې حديث نه معلوميږي چه په والکتم کښې واؤ دَمع په معنی کښې دې لکه څنګه چې وړاندې د حديث نمبر (۴۴۵۱) په تشريح کښې دا مفهوم راجح ګرځولي شوې دې

[۳۳۵] د خضاب لګولو حکم

۴۴۵۴—[۳۷] (²) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«غَيِّرُوا الشَّيْبَ ③ وَلَا تَشَبَّهُوا بِالْيَهُودِ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايي چه رسول الله ﷺ وفرمايل ② بوډاتوب (يعني د ويښتانو سپينوالي) د خضاب په ذريعه بدل کړئ. ③ او د يهوديانو مشابهت مه اختياروئ (چې خضاب نه کوي) (ترمذي)

۴۴۵۵، ۴۴۵۶—(³) ① وَرَوَاهُ النَّسَائِيُّ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَالزُّبَيْرِ.

ترجمه: ① او نسائي رحمه الله دا روايت د ابن عمر رضی الله عنهما او زبير رضی الله عنه (او په بعضې نسخو کې د ابن زبير رضی الله عنه) نه نقل کړي دي

تسهيلات:

نوټ: د دې حديث وضاحت وړاندې د حديث نمبر (۴۴۲۳) په تشريح کښې تيره شوې ده

¹) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الترجل /باب ما جاء فی خضاب الصفرة (رقم-۴۲۱۱) وابن ماجه فی کتاب اللباس . باب الخضاب بالصفرة (رقم-۳۶۲۷)

²) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب اللباس عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب ما جاء فی (رقم-۱۷۵۲) واحمد فی المسند: ۴۹۹/۲

³) اخرجه النسائی فی السنن کتاب الزينة /باب الإذن بالخضاب (رقم-۵۰۷۳)

[۴۳۵۸] د مسلمان د ویښتو د سپینید و فضیلت

۴۳۵۸—[۳۸] ( ) [۱] وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " [۲] «لَا تَنْتِفُوا الشَّيْبَ ; فَإِنَّهُ نُورُ الْمُسْلِمِ. [۳] مَنْ شَابَ شَيْبَةً فِي الْإِسْلَامِ [۴] كَتَبَ اللهُ لَهُ بِهَا حَسَنَةً، [۵] وَكَفَّرَ عَنْهُ بِهَا خَطِيئَةً، [۶] وَرَفَعَهُ بِهَا دَرَجَةً» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت عمرو ابن شعیب رحمه الله د خپل پلار نه او هغه د خپل نیکه نه نقل کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] سپین ویښتان مه اوکاږئ، ځکه زوړتوب (یعني ویښتان سپینیدل) د مسلمانانو د پاره د نورانیت سبب دي، [۳] کوم سړي چې په حالت د اسلام کې د زوړتوب طرف ته قدم مخکې کوي (یعني هر کله چې د یو مسلمان یو ویښته سپینیږي) [۴] نو د هغه په وجه الله ﷻ د هغه د پاره یوه نیکي لیکي، [۵] او د هغه یوه خطا ختموي، [۶] او د هغه یوه درجه پورته کوي. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① لَاتَنْتِفُوا: مه اوکاږئ، ② كَفَّرَ: اوبه رژوی،

تسهیلات:

قوله: لَاتَنْتِفُوا الشَّيْبَ فَإِنَّهُ نُورُ الْمُسْلِمِ:

د سپینو ویښتو د ویستلو ممانعت: دَ سپینوویښتو دَ راویستلو ممانعت دې ځکه چه دا دَ انوارالهی مظهردې اودَمؤمن وقار اوعزت دې نودَدې زیاتیدل ښه دی راویستل ئی ښه نه دی دَ قیامت په ورځ چه کله تیاره وی دَ دغه سپینوویښتووالا دَ ږیرې ویښته به مصباح تارج اودَ رڼا کار ورکوی

قوله: فَإِنَّهُ نُورُ الْمُسْلِمِ:

د سپینو ویښتو نورانیت: یعنی دا یو وقار دې کوم چه انسانانو لره د ګناهونو او د شهواتو نه د منع کولو په وجه د غرور او تکبر نه مانع دې، کله چه دا کس د ګناهونو نه منع شي او د نیکو اعمالو توفیق ورته ملاو شی نو هم دا نور دې او دۀ ته به په قبر کښې او د قیامت په ورځ نور حاصلیږی "لقوله تعالی یسعی نورهم بین أیدیهم وبأیمانهم" ددې توجیه په رڼا کښې د بدا والی نور نه د قیامت نور مراد دې.

اشکال: چه سپین ویښته د نور سبب دې نو بیا خضاب لګولو ممانعت پکار دې

د اشکال دوه جوابونه: ① خضاب لګولو سره ددې سپین والې پټیږی ختمیږی نه

② د خضاب د لګولو ممانعت د نورو وجوهاتو په بناء دې د کوم تفصیل چه په ماقبل کښې تیر شو،

) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الترجل /باب فی نتف الشیب (رقم-۴۲۰۲) والترمذی فی کتاب الأدب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی النهی عن نتف الشیب (رقم-۲۸۲۱) والنسائی فی س کتاب الزینة/باب النهی عن نتف الشیب (رقم-۵۰۶۸) وابن ماجه فی کتاب الأدب/باب نتف الشیب (رقم-۳۷۲۱)

په ابراهیم علیه السلام د ټولو څخه اول سپین ویښته راښتل: امام مالک د حضرت سعید بن المسیب رحمه الله نه روایت نقل کوي چه د کوم حاصل دا دي چه په بني آدمانو کښې چه ټولو نه مخکې چه په کوم کس باندې د سپین ویښتو په وجه بډاوالې راغلی وو هغه حضرت ابراهیم علیه السلام وو، څکه چه کله دوي په خپله ږیره کښې سپین ویښته ولیدل نو الله تعالی ته ئې عرض وکړو چه اے الله دا څه دي نو الله تعالی ورته په جواب کښې وفرمائیل چه دا نور او وقار دې نو بیا حضرت ابراهیم علیه السلام عرض وکړو "رب زدني وقاراً" چه اے زما رب! زما وقار نور هم زیات کړي، نو ددي نه دا معلومه شوه چه د ویښتو سپین والې د وقار سبب دې، او دي سره حلم، صبر، عفو او اعلی صفات په انسان کښې پیدا کیږي او عزت هم ورسره زیاتیږي.

[۴۴۵۹] سپین ویښته د قیامت په ورځ د رڼا سبب

۴۴۵۹-[۳۹] (¹) [۱] وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مُرَّةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «مَنْ شَابَ شَيْبَةً فِي الْإِسْلَامِ [۳] كَانَتْ لَهُ نُورًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت کعب ابن مره رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمایل [۲] کوم سړي چې د اسلام په حالت کې زوړ (بوډا) شي، [۳] د قیامت په ورځ به د هغه بوډاتوب د نور په صورت کې ښکاره کیږي. (ترمذی نسایي)

تسهیلات:

نوټ: ددې حدیث تشریح د حدیث نمبر (۴۴۵۸) په شرح کښې تیره شوې ده

[۴۴۶۰] د نبی کریم ﷺ د سر مبارک ویښتان

۴۴۶۰-[۴۰] (²) [۱] «وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: [۲] كُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا وَرَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِنْ إِنَاءٍ وَاحِدٍ، [۳] وَكَانَ لَهُ شَعْرٌ فَوْقَ الْجُمَّةِ، وَدُونَ الْوَفْرَةِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي [۲] چې ما او رسول الله ﷺ به په يو لوښي سره لمبيدلو ايعنی د اوبو نه ډك يو لوښي به زمونږ د دواړو په مينځ کې پروت ووا، [۳] او د حضور ﷺ د سر مبارك ويښتان به د جمه نه پورته او د وفره لاندې وو ايعنی هغه وخت د نبی کریم ﷺ ويښتان تر اوږو اوچت او د غوږونو تر نرمی لاندې ووا (ترمذي)

حل اللغات: ① الْجُمَّةِ: د سر ويښته چه اوږو پورې وی ② الْوَفْرَةِ: د سر ويښته چه د غوږونو د نرمو پورې وی

---

¹) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب فضائل الجهاد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء فی فضل من شاب شیبة فی سبیل الله (رقم-۱۶۳٤) والنسائی فی کتاب الجهاد/باب: ثواب من رمی بسهم فی سبیل الله عز وجل (رقم-۳۱٤۲) واحمد فی المسند: ٤/۲۳۶

²) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الترجل /باب ما جاء فی الشعر (رقم-٤۱۸۷) والترمذی فی کتاب اللباس عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الجمة واتخاذ الشعر (رقم-۱۷۵۵) وابن ماجه فی کتاب اللباس، باب اتخاذ الجمة والذوائب (رقم-۳۶۳۵)

تسهيلات:

قوله: مِنْ إِنَاءٍ وَاحِدٍ:

د يو لوښي څخه د غسل کولو په مفهوم کښې ۳ احتمالات: ① دَ شپې په وخت به تياره وه نو په هغه وخت کښې به ئې د يو لوښي څخه غسل کولو.

② ملاعلي قاري رحمه الله فرمائي چه دَ يولوښي نه به ئې په نمبرياندې جدا جدا غسل کولو په يوځائي مرادنه دې

③ په يوځائي به ئې د يو لوښي څخه غسل کولو خو په مينځ کښې به پرده وی لکه چه څادر زورند کړې شي. يوطرف ته سړې اوبل طرف ته ښځه په مينځ کښې لوښي،

د مذکوره تاويلاتو ضرورت: حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي چه ماپه ټول ژوند کښې دَ نبی کريم سترنه دې ليدلې اونبي کريم خود هغوی نه هم زيات حيادار وو.

قوله: لَهُ شَعْرٌ فَوْقَ الْجُمَّةِ:

د نبي عليه السلام د سر د ويښتو د ساتلو درې طريقې: ① په احاديثو کښې دَ نبی کريم دَ سر ويښتودپاره درې الفاظ استعمال شوی دی. اول لفظ جمة په جيم باندې پيښ ميم باندې شد دې. داد ټولو نه اوږده ويښته وی کوم چه اوږو پورې رسيږی

② احاديثو کښې دويم لفظ لِمّة دې لام باندې زير ميم مشدددې دَ متوسط درجې ويښته وی چه اوږو ته نيزدې پورې رسيږی

③ دريم لفظ وفره دې. په واؤ باندې زبر دې فاء ساکن ده اوپه راء باندې زبردې داد ټولو نه وړو ويښتوته وائی چه دَ غوږ دَ نرمې پورې رسيږی. دَدې مجموعې دپاره دَ جلو لفظ ياد ساتل پکاردی يعنی جمه لمه وفره دَ اعلی نه دَ ادنی طرف ته ترقی ده.

[۳۳۳] د سرو د ويښتانو د زيات اوږدولو کراهت

۴۳۳۳—[۴۱] (۱) ① وَعَنِ ابْنِ الْحَنْظَلِيَّةِ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ② قَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "«نِعْمَ الرَّجُلُ خُرَيْمٌ الْأَسَدِيُّ ③ لَوْلَا طُولُ جُمَّتِهِ ④ وَإِسْبَالُ إِزَارِهِ. ⑤ فَبَلَغَ ذَلِكَ خُرَيْمًا، فَأَخَذَ شَفْرَةً ⑥ فَقَطَعَ بِهَا جُمَّتَهُ إِلَى أُذُنَيْهِ ⑦ وَرَفَعَ إِزَارَهُ إِلَى أَنْصَافِ سَاقَيْهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت ابنِ حنظليه رضي الله عنه چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اصحابو نه يو سړي دی، دا روايت کوي ② چې [يوه ورځ] رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل خُريم اسدي ښه سړي دي، ③ خو که د هغه ويښتان اوږده نه وی، ④ او د هغه لنګ زوړند شوی نه وی، ⑤ هر کله چې خريم رضي الله عنه ته د حضور صلى الله عليه وسلم د دې ارشاد علم وشو، نو هغه يوه استره (چاړه) واخسته ⑥ اوخپل ويښتان يې د غوږونو تر نرميو کټ کړل، ⑦ او خپل لنګ يې د نيمی پنډې پورې کړو. (ابوداؤد)

---

[۱] اخرجه ابوداود في السنن كتاب اللباس/باب ما جاء في إسبال الإزار (رقم-۴۰۸۹) واحمد في المسند: ۱۸۰/۴

حل اللغات: ① جُمَّتِهِ: د سر ويښته چه اوږو پورې وی ② إِسْبَالُ : رازوړندول، ③ شُقْرَةٌ: چاړه، تيره اوسپنه، ④ أَنْصَافِ سَاقَيْهِ: تر نيمې پنډئ پورې.

تسهيلات:

قوله: نِعْمَ الرَّجُلُ خُرَيْمٌ الْأَسَدِيُّ:

د اسدی وضاحت: په همزه باندې زبردې سين ساکن دې. دا لفظ په حقيقت کښې ازدی دې اود ازدی نه مراد ازدشنوءة دې. ازد بن غوث د يمن د يوې قبيلې د نيکه نوم دې په قاموس کښې ليکلی دی چه د ازدد لفظ نه د اسدلفظ زيات واضح دې. دمدينې اکثر انصار هم د دې سرې ازد بن غوث يا اسدبن غوث د نسل نه وو د دې لفظ نه قبيله اسد مراد نه ده. نبی کريم دخريم تعريف هم کړې دې اود يونقص نه ئی خبردار هم کړو. هغه نقص زر لرې کړو دتعليم د ورکونکی ورکولوبه څه وائی؟ اود تعليم اخستونکی به څه وائی دهغه ويښته د ضرورت نه زيات اوږده وو؟

په عامو حالاتو کښې د ويښتود نه خريلو افضليت: په حج اوعمره کښې سر خرول افضل دی دې نه علاوه ويښته ساتل افضل دی په دې شرط چه ډول سينګار او ځان خودل مقصودنه وی. مسلمان هروخت مجاهدوی او مجاهد د سر ويښته خرولې نه شی جنګيدل مشکل کيږی.

[۴۳۴۳] د برکت دپاره د ويښتانو ساتل

٤٣٤٣ - [٣٢] (¹) ① وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: ② «كَانَتْ لِي ذُؤَابَةٌ، ③ فَقَالَتْ لِي أُمِّي: لَا أَجُزُّهَا، ④ كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَمُدُّهَا، وَيَأْخُذُهَا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① حضرت انس رضي الله عنه فرمايي ② چې زما په سر اوږده ويښتان وو، ③ زما مور به زه د هغې د کټ کولو نه منع کولم، ④ او وئيل به ئې چې حضور صلى الله عليه وسلم به هغه ويښتان نيول (نو زه به د برکت د حاصلولو د پاره هغه ويښتان دغه شان پريږدم) (ابوداؤد)

حل اللغات: ① ذُؤَابَةٌ: زلفې، ② لَا أَجُزُّهَا: أی لاأقطعها، زه به دا نه پرې کوم.

تسهيلات:

قوله: فَقَالَتْ لِي أُمِّي: لَا أَجُزُّهَا:

د برکت ګڼړلو په غرض د ويښتانو د نه کټ کولودرې واقعات: ① زه به دا نه پرې کوم ځکه چه دنبی کريم مبارک لاس په دې باندې لګيدلې دې نوداد برکت والاويښته دی.

② دغه شان دحضرت حذيفه رضي الله عنه په سرباندې نبی کريم د طائف په موقع باندې لاس مبارک راښکلې وو هغوی ټول عمر دا اوساتل.

---

¹) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الترجل /باب ما جاء فی الرخصة (رقم-٤١٩٦)

④ دَحضرت شیخ الاسلام سید حسین احمدمدنی رحمه الله لاس دَحضرت احمدعلی لاهوری دَيرې په ويښتو باندې لګيدلې وو هغوی تول عمر دَ ډيرې ويښته په قينچې باندې کم نه کړل کله چه به کيناستو ډيره به ئې نامه ته رسيدله داد برکت ويښته وی په اسلام کښې دَ سردَ ويښتو ساتلو ممانعت نشته دې بلکه دَ ويښتونه ساتلو عقيده دَ خوارجو خودلې شوې ده

[۴۴۶۳] د جعفر د بچو ويښتان خرييل

۴۴۶۳–[۳۳] (¹) [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ جَعْفَرٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَمْهَلَ آلَ جَعْفَرٍ ثَلَاثًا، [۳] ثُمَّ أَتَاهُمْ، فَقَالَ: "لَا تَبْكُوا عَلَى أَخِي بَعْدَ الْيَوْمِ". [۴] ثُمَّ قَالَ: "ادْعُوا لِي بَنِي أَخِي" [۵] فَجِيءَ بِنَا كَأَنَّا أَفْرَاخٌ. [۶] فَقَالَ: "ادْعُوا لِي الْحَلَّاقَ" [۷] فَأَمَرَهُ فَحَلَقَ رُءُوسَنَا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] او د حضرت عبد الله ابن جعفر رضي الله عنه نه روايت دې [۲] چې رسول الله ﷺ د حضرت جعفر رضي الله عنه اولاد ته درې ورځې وخت ورکړو [څه وخت چې د حضرت جعفر رضي الله عنه د شهادت خبر راغې، نو حضور ﷺ د هغه کور والو ته دريو ورځو پورې د غم کولو اجازت ورکړو او په دې موده کې حضور ﷺ هغوئ ته تشريف رانه وړو]. بيا حضور ﷺ هغوئ ته د دلاسه او تسلي ورکولو د پاره تشريف راوړو، او ورته يې وفرمايل بس د نن ورځې نه پس زما په ورور جعفر رضي الله عنه مه ژاړئ، [۴] بيا يې وفرمايل چې زما وريرونه (يعني عبد الله او عون او محمد رضي الله عنهم چې د جعفر رضي الله عنه خامن دي) ماته راولئ، [۵] نو مونږ تول د حضور ﷺ په خدمت کې راوستل شو، او هغه وخت مونږ د چرګوتو په شان وو (کم عمره وو) [۶] د دې نه پس حضور ﷺ وفرمايل چې نائي ماته راولئ [هرکله چې هغه راغې]، [۷] نو حضور ﷺ هغه ته زمونږ د ويښتانو د خرئيلو حکم ورکړو نو هغه زمونږ سرونه وخرئيل (ابوداؤد نسائي)

حل اللغات: ① أَمْهَلَ: مهلت ئې ورکړې وو، ② بَنِي أَخِي: وريرونه، ③ كَأَنَّا أَفْرَخٌ: ګويا چه مونږ چرګوتي يو، ④ الْحَلَّاقَ: ويښته خريونکې، نائي.

تسهيلات:

قوله: فَحَلَقَ رُءُوسَنَا:

دحديث شانِ ورود: حضرت جعفر رضي الله عنه دَحضرت علي رضي الله عنه رور اودَنبي کريم دَ محبوب تره خوني وو په غزوه موته کښې شهيد شو دَاسماء بنت عميس خاوندوو دَهغه واړه واړه ماشومان يتيمان پاتې شو دَ يونوم عبدالله دَ بل نوم عون اودَ دريم نوم محمدوو. دَدوی دَ سرونوخرولودَپاره نبي کريم نائي راؤغوښتلو اودَهغوی دَ سرويښته ئې کټ کړل کيدې

¹) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الترجل /باب فی حلق الرأس (رقم-۴۱۹۲) والنسائی فی کتاب الزينة/باب حلق رءوس الصبيان (رقم-۵۲۲۷) واحمد في المسند: ۲۰۴/۱

شي چه د صفائي د وجهې ئې داسې كړې وي معلومه شوه چه وېښته ساتل هم جائزدي او د ضرورت په وخت خرول هم جائز دي ددې حديث نه داهم معلومه شوه چه په مړې باندې د دريو ورځونه زيات ماتم كول جائزنه دي د زړه غم يوخان له څيز دې په دې باندې پابندي نه شي كيدې

مسئله: ملاعلي قاري رحمه الله ليكلي دي چه درې ورځې تيريدونه پس تعزيت كول جائزنه دي

[۳۳] د ښځې د ختنې (سنت) ذكر

٣٣-[٣٣] (١) ① وَعَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ الْأَنْصَارِيَّةِ - رَضِيَ اللهُ عَنْهَا: ② «أَنَّ امْرَأَةً كَانَتْ تَخْتِنُ بِالْمَدِينَةِ، ③ فَقَالَ لَهَا النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تُنْهِكِي، ④ فَإِنَّ ذَلِكَ أَحْظَى لِلْمَرْأَةِ، ⑤ وَأَحَبُّ إِلَى الْبَعْلِ» ". ⑥ رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَقَالَ: هَذَا الْحَدِيثُ ضَعِيفٌ، وَرَاوِيهِ مَجْهُولٌ.

ترجمه: ① او بي بي ام عطيه انصاريه رضي الله عنها وايي ② چه په مدينه كې يوه ښځه وه چې ښځې به يې سنتولې، [ځرنګه چې په هغه زمانه كې د ښځو د سنتولو هم رواج وو]. ③ رسول الله ﷺ [يوه ورځ] هغې ښځې ته وفرمايل چې په كټ كولومبالغه تېنه مه كوه بلكې لږ شان د پاسه نه يې كټ كوه، ④ ځكه چې دا زيات نه كټ كول د ښځې د پاره هم ډېر لذت بخش وي. ⑤ او خاوند د پاره هم ډېر خوښ وي (كه دا زيات كټ شي نو په جماع كې نه ښځې ته لذت حاصليږي نه سړي ته) ⑥ ابوداود دا روايت نقل كړي دي او ويلي يې دي چې دا حديث ضعيف دي او د دې راوي مجهول دي

حل اللغات: ① تَخْتِنُ: ښځې به نې سنتولې، ② أَحْظَى: خوند وركونكې. ③ الْبَعْلِ: خاوند.

تسهيلات:

قوله: لَا تُنْهِكِي، فَإِنَّ ذَلِكَ أَحْظَى لِلْمَرْأَةِ، وَأَحَبُّ إِلَى الْبَعْلِ

په ختنه كښې د مبالغې كولوممانعت: يعني په ختنه كولوكښې مبالغه مه كوئي بلكه ضروري حصه معمولي شان پرې كوئي دا كم پرې كول د طرفينو د جماع په خوند كښې معاون دي

دعربوملكونه چونكه ګرم وود ښځو په خاص اندام كښې به د وازګې په شان غوښه راوتله هغه به پرې كولې سوه هم دغه د جينكوختنه كول وو "اذا جاوز الختان الختان" د حديث نه هم دغه ختنې كاروبار كولوطرف ته اشاره كيږي

د حمزه رضي الله عنه يوه جنګي نعره: داحدپه ميدان كښې حضرت حمزه رضي الله عنه په يوكافرباندې حمله كولو سره اوفرمائيل "ياابن مقطعة البظور" دې د سنت كونكې ښځې خويه

په يخو علاقو كښې د جينكو د ختنې كولو عدم ضرورت: ددې رواياتونه د جينكو د ختنه

(١) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأدب/باب ما جاء في الختان (رقم-٥٢٧١)

كولوثبوت ملاوېږي ليكن داد ګرومولكونومسئله ده. زمونږ په ملك كښې دامسئله بيانول نه دی پكار دَدې دلته څوك ماهرهم نشته دي بل دا نه څه شرعي مامور يا ضروري حكم هم نه دې. په ګرومولكونوكښې شوافع داكاركوی. بس دومره كافي دی هغوی متبهاني او دعوت هم وركوی.

[۴۳۶۵] د ښځو د سر په وېښتا نو د نكريزو خضاب لګولو كراهت

۴۳۶۵-[۳۵]( )[۱] وَعَنْ كَرِيمَةَ بِنْتِ هَمَّامٍ[۲] أَنَّ «امْرَأَةً سَأَلَتْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا- عَنْ خِضَابِ الْحِنَّاءِ.[۳] فَقَالَتْ: لَا بَأْسَ، وَلَكِنِّي أَكْرَهُهُ،[۴] كَانَ حَبِيبِي يَكْرَهُ رِيحَهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] او د بي بي كريمه بنت همام نه روايت دې[۲] چې يوې ښځې د بي بي عائشې ﷺ نه [د سر په وېښتانو] دنكريزو د خضاب كولو باره كې پوښتنه وكړه،[۳] نو هغې ورته وفرمايل اګر كه په دې كې څه حرج نشته، خو زه دا ښه نه ګنړم،[۴] ځكه چې زما محبوب، يعنې حضور ﷺ به د دې بوې نه خوښولو. (ابوداؤد نسائي)

تسهيلات:

قوله: وَلَكِنِّي أَكْرَهُهُ، كَانَ حَبِيبِي يَكْرَهُ رِيحَهُ:

د سر په وېښتو د نكريزو د خضاب لګولو حكم: داد سرد وېښتوخبره وی ګنی په لاسونوباندې نكريزې لګول نبی كريم دَ ښځودَپاره خوښ كړی هم دی اوترغيب ئې هم وركړې دې لكه چه وړاندې راځي. په دې حديث كښې حضرت عائشه ﷺ دَعامو ښځودَ پاره دَ سريه وېښتوكښې نكريزې لګول جائزګرځوی. لهذا كه چرې ښځې دَ سر په وېښتوكښې دَ نكريزو وسمه كول غواړی نودا جائزدی البته توره وسمه جائزنه ده.

[۴۳۶۶] د ښځو په لاسونو د نكريزو د لګولو استحباب

۴۳۶۶-[۳۶]( )[۱] وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا-[۲] «أَنَّ هِنْدًا ابْنَتَ عُتْبَةَ قَالَتْ: يَا نَبِيَّ اللّٰهِ بَايِعْنِي.[۳] فَقَالَ: "لَا أُبَايِعُكِ حَتَّى تُغَيِّرِي كَفَّيْكِ،[۴] فَكَأَنَّهُمَا كَفَّا سَبُعٍ"». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه ﷺ فرمائي[۲] چه د عتبه لور هنده ﷺ [چې كله] دا اوويل چه اې د الله نبي! ﷺ ما بيعت كړه،[۳] نو حضور ﷺ ورته وفرمايل تر څو چې ته خپل دواړه لاسونه (په نكريزو لګولو سره د هغې رنګ) متغير نه كړې، زه ستا نه (زباني) بيعت نه اخلم،[۴] ستا لاسونه (دنكريزو نه بغير) داسې دي لكه د درنده حيوان لاسونه. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① كَفَّيْكِ: خپل تلي يعنې لاسونه، ② سَبُع: درنده حيوان

[۱] اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الترجل /باب فى الخضاب للنساء (رقم-٤١٦٤) والنسائى فى كتاب الزينة/باب كراهية ريح الحناء (رقم-٥٠٩٠) واحمد فى المسند:٦/٢١٠

[۲] اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الترجل /باب فى الخضاب للنساء (رقم-٤١٦٥)

تسهيلات:

قوله: أَنَّ هِنْدًا:

دهند پیژندګلو: هند بنت عتبه دَحضرت ابوسفيان ښځه اودَ حضرت معاويه ﷛ مورده په جنګ احد کښې دَحضرت حمزه ﷛ دَ شهادت اصل محرکه هم دغه وه بيانی دَ فتح مکه په ورځ اسلام راوړلو او په مختلفو غزواتو کښې نی حصه واخسته دابيعت کيدې شی چه دَ بيعت اسلام نه علاوه بيعت وو.

د ښځو دپاره په لاسونو د نکريزو د لګولو استحباب: دَدې حديث نه معلومه شوه چه ښځوله په خپلو لاسونوباندې نکريزې لګول مستحب دی اودا ترک کول مکروه دی ځکه چه په دې سره هم سړو سره يو قسم مشابهت راځی. اسلام کورنې نظام مضبوط ليدل غواړی په دې وجه ښځې له دَ هرقسم ډول سينګار کولو حکم ورکوی

[۴۳۶۷] ښځو دپاره په لاسونو د نکريزو لګولو ترغيب

۴۳۶۷—[۴۷] (¹) ① وَعَنْهَا، قَالَتْ: ②«أَوْمَتِ امْرَأَةٌ مِنْ وَرَاءِ سِتْرٍ، بِيَدِهَا③ كِتَابٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَبَضَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَدَهُ.④ فَقَالَ: " مَا أَدْرِي أَيَدُ رَجُلٍ أَمْ يَدُ امْرَأَةٍ؟ "⑤ قَالَتْ: بَلْ يَدُ امْرَأَةٍ،⑥ قَالَ: "لَوْكُنْتِ امْرَأَةً لَغَيَّرْتِ أَظْفَارَكِ" يَعْنِي بِالْحِنَّاءِ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ①او بي بي عائشه ﷝ وايي②چې يوه ورځ يوې ښځې د پردې د شا نه د خپل لاس په ذريعه اشاره وکړه، چې په هغې کې يوه پرچه وه، ③چې يو سړي رسول الله ﷺ ته ليږلې وه. يعنی هغه ښځې د پردې د شا نه خپل لاس راوېستلو سره پرچه رسول الله ﷺ ته ورکول وغوښتل]،④ ليکن نبي کريم ﷺ خپل لاس مبارك راواپس کړو (يعني هغه پرچه يې وانخستله) او وي فرمايل چې ماته نه ده معلومه چې دا لاس د سړي دی که د ښځې؟⑤ هغه ښځې عرض وکړو چې دا لاس د ښځې دی،⑥ حضور ﷺ ورته وفرمايل که ته ښځه وې (يعنی که تاته د ښځو طور او طريقه راتله) نو د خپلو نوکانو رنګ به دې دنکريزو په ذريعه ضرور بدل کړې وو. (ابوداؤد نسائي)

حل اللغات: ①أَوْمَتْ: اشاره نې اوکړه.

تسهيلات:

قوله: بِيَدِهَا كِتَابٌ:

د کتاب څخه مراد: دا جمله دَ امرأة دَپاره صفت واقع شوې ده يعنی دَهغه ښځې په لاس کښې يوه ليکلې شوې پرچه وه کيدې شی چه څه مسئله نې معلومول غوښتل.

(¹) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الترجل /باب فی الخضاب للنساء (رقم-۴۱۶۶) والنسائی فی کتاب الزينة/باب الخضاب للنساء (رقم-۵۰۸۹) واحمد فی المسند:۶/۲۶۲

قوله: فَقَبَضَ النَّبِيُّ ﷺ:

اشکال: یعنی نبی کریم دَ لاس ورانديې کولو نه پس شاته رابنکلو. دَدې حديث نه ورانديې چه کوم حديث تیرشوي دې دَهغې نه اودَ زیر بحث دواړو احادیثونه داسې معلومیږی چه نبی کریم په بیعت وغیره کښې د ښخوسره لاس ملاوولو حالانکه په ډیرو صحیح اوصریح روایاتوکښې حضرت عائشه رضي الله عنها په سختنی سره نفی کوی

د اشکال دوه جوابونه: ① په مذکوره دواړو احادیثوکښې دا تاویل کولی شی چه نبی کریم اول اراده اوکړه چه په لاس سره بیعت واخلی بیا نبی کریم صرف په ژبې سره بیعت واخستلو

② ښخوسره په لاس باندې کولو مطلب دا دې چې د لستونړې اینغښتلو سره نبی علیه السلام په لاس سره بیعت کړې وو دې دپاره چه ښخوته برکت حاصل شی.

ښځو سره په لاس باندې د بیعت کولو حرمت: نبی کریم دَامت دَ ښخواو سړو دَ پلار په درجه کښې وو لکه چه دَ ابن مسعود رضي الله عنه په قرات کښې دی (النبي أولی بالمؤمنين من أنفسهم وأزواجه أمهاتهم وهوأبوهم) لیکن دَدې باوجود نبی کریم مکمل احتراز کړې دې اودَ پردوښځونه ئې پرده کړې ده اودَ یوې ښځې لاس سره ئې لاس نه دې ملاؤکړې.

[۴۳۶۸] د عذربه وجه د خال لګولو جواز

> ۴۳۶۸—[۳۸] (١) [١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - قَالَ: [٢] «لُعِنَتِ الْوَاصِلَةُ وَالْمُسْتَوْصِلَةُ، [٣] وَالنَّامِصَةُ، وَالْمُتَنَمِّصَةُ، [۴] وَالْوَاشِمَةُ، وَالْمُسْتَوْشِمَةُ مِنْ غَيْرِ دَاءٍ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وفرمایل [٢] ملعونې ګرځول شوي دي هغه ښځې یو خاي کونکي، ځان ته یا بل ته، یعنی په خپلو ویښتانو کې د انسانې ویښتانو جوړ لګونکې خان ته یابل ته، [٣] او د ویښتانو شکونکې خان ته یا بلې ته، [۴] او بغیر د څه مرض نه خال لګونکي خان ته یابل ته، ادا ټولې ښځې ملعونې ګرځول شوي دي. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① الْوَاصِلَةَ: خپلو ویښتانو کښې پردی ویښتان لګونکی ښځه. ② الْمُسْتَوْصِلَةَ: خپلو ویښتانوکښې د پردی ویښتو لګولومطالبه کونکې ښځه. ③ النَّامِصَةُ: خپل ویښتان شوکونکی ښځه. ④ الْمُتَنَمِّصَةُ: دخپلو ویښتانود شوکولو مطالبه کونکې ښځه. ⑤ الْوَاشِمَةَ: خپل بدن کښې خالونه لګونکې ښځه. ⑥ الْمُسْتَوْشِمَةَ: د بلې ښځې نه دخالونه لګولو مطالبه کونکې ښځه.

تسهیلات:

قوله: مِنْ غَيْرِ دَاءٍ: یعنی دا امور دَ مجبوریئ نه په درجه دَ علاج جائزدی ګنې تغییرخلق الله دَ وجې ناجائزدی.

نوټ: دحدیث وضاحت دې څخه ورانديې د حدیث نمبر (۴۴۳۰) په تشریح کښې تیر شوي دې.

---

١) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الترجل /باب فی صلة الشعر (رقم-۴۱۷۰) واحمد فی المسند: ۲۵۱/۱

[۴۳۳۹]په یو قسم سړي او ښځه با ندې د نبی علیه السلام لعنت

۴۳۶۹—[۴۹]()[۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲]«لَعَنَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- الرَّجُلَ يَلْبَسُ لِبْسَةَ الْمَرْأَةِ [۳]وَالْمَرْأَةَ تَلْبَسُ لِبْسَةَ الرَّجُلِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱]او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي[۲] چې رسول الله ﷺ په هغه سړي لعنت ویلي دي چې زنانه لباس اغوندي.[۳] دغه شان په هغې ښځې یې هم لعنت ویلي دي چې مردانه لباس اغوندي (ابوداؤد)

تسهیلات:

قوله: الرَّجُلَ يَلْبَسُ لِبْسَةَ الْمَرْأَةِ:

د ښځو سره د مشابهت حرمت: دَ سړو لباس په جدا رنګ کښې وی او دَ ښځو په جدا رنګ او ډیزائن کښې وی اوس که چرې سړو دَ ښځو والا سوز لب س واچولو نو دا دهغوی دَپاره دَ لعنت سبب دې سړو له دَ ښځو دَ وضع قطع نه ډېره کول پکار دی ګنی دَ الله تعالی دَ رحمت نه به اوځی او دَ لعنت مستحق به جوړشی

قوله: وَالْمَرْأَةَ تَلْبَسُ لِبْسَةَ الرَّجُلِ:

د سړو سره د مشابهت حرمت: ښځو دَ سړو والا مثلاً سپین لب س واچولونو دا دَ هغوی دَپاره دَ لعنت سبب دې دغه شان دَ سړو په شان ټوپئی یا واسکټ دَ ښځو دَپاره جائزنه دې که هغه دَ یونیفار په وجه مجبوره وی یا په شوق اوذوق کښې مخموره وی هغه ښځه ده هغې له دَ مردانه وضع قطع نه ځان ساتل پکار دی

[۴۳۷۰]ښځې دپاره د سړو لباس اچولو با ندې لعنت

۴۳۷۰—[۵۰]()[۱] وَعَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، قَالَ: [۲]«قِيلَ لِعَائِشَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا-: إِنَّ امْرَأَةً تَلْبَسُ النَّعْلَ. [۳] قَالَتْ: لَعَنَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- الرَّجُلَةَ مِنَ النِّسَاءِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱]او حضرت ابن ابوملیکه وایي[۲] چې بي بي عائشه رضی الله عنها ته اووئیلې شو چې یوه ښځه مردانه چپل په پښو کوي.[۳] نو هغې وفرمایل چې رسول الله ﷺ په هغې ښځې لعنت فرمایلي دي کومه چې د سړو مشابهت اختیاروي (ابوداؤد)

تسهیلات:

قوله: الرَّجُلَةَ مِنَ النِّسَاءِ

دعامې ښځې دپاره په وضع قطع کښې د سړو د مشابهت حرمت: رجل مذکر دې رجلة مؤنث دې دې نه مراد هغه ښځه ده چه خبرې اترې رنګ ډهنګ، وضع قطع اوتګ راتګ کښې دَ

---

[۱]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الترجل /باب فی صلة الشعر (رقم-۴۱۷۰) واحمد فی المسند:۱/۲۵۱

[۲]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب اللباس/باب فی لباس النساء (رقم-۴۰۹۹)

سرو په شان مشابهت اختیاروی. دا یوخراب حرکت دې کوم چه دَلعنت سبب دې.
کومه ښځه په علم پوهه اوعقل رائې حکمت هوښیارتوب کښې دَ سرو په شان صفات لري نودغه مشابهت خراب اومذموم نه دې لکه چه ونیلی شوی دی "کانت عائشة رجُلة الرأی" یعنی دَ حضرت عائشه ﷺ رائې اوعقل دَ سرو په شان وو. رجُلة کښې په جیم باندې پیش دې.

[۴۲۷] د نبی علیه السلام د زیب اوزینت څخه بې رغبتی

۴۲۷ــ [۵۱] () [۱] وَعَنْ ثَوْبَانَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِذَا سَافَرَ [۳] كَانَ آخِرُ عَهْدِهِ بِإِنْسَانٍ مِنْ أَهْلِهِ فَاطِمَةَ، [۴] وَأَوَّلُ مَنْ يَدْخُلُ عَلَيْهَا فَاطِمَةَ، [۵] فَقَدِمَ مِنْ غَزَاةٍ وَقَدْ عَلَّقَتْ مِسْحًا أَوْ سِتْرًا عَلَى بَابِهَا، [۶] وَحَلَّتِ الْحَسَنَ وَالْحُسَيْنَ قُلْبَيْنِ مِنْ فِضَّةٍ، [۷] فَقَدِمَ فَلَمْ يَدْخُلْ، [۸] فَظَنَّتْ أَنَّ مَا مَنَعَهُ أَنْ يَدْخُلَ مَا رَأَى، [۹] فَهَتَكَتِ السِّتْرَ، [۱۰] وَفَكَّتِ الْقُلْبَيْنِ عَنِ الصَّبِيَّيْنِ، [۱۱] وَقَطَعَتْهُ مِنْهُمَا،

ترجمه: [۱] او حضرت ثوبان ﷺ وايي [۲] چه رسول الله ﷺ چې به په سفر روانیدو، [۳] نو د خپل اهل وعیال په خلقو کې د ټولو نه آخري وخت به یې بي بي فاطمي ﷺ ته ورکولو. [۴] او کله چې به د سفر نه واپس راتلو ، نو د ټولو نه مخکې به بي بي فاطمي ﷺ ته ورتلو. [یعنی د سفر د پاره د روانیدو په وخت به حضور ﷺ مخکې د نورو اهل بیتو سره الوداعي ملاقات کولو، بیا د ټولو د فارغیدو سره او ټول رخصتولو سره په آخر کې به یې بي بي فاطمي ﷺ ته تشریف راوړو، هغې ته به چې څه وئیل اوریدل وو هغه به یې وئیل او اوریدل، او څه وصیت او نصیحت چې به کول وو، هغه به یې کولو، او هغې ته السلام علیکم ویلو سره به روانیدو، او بیا چې د سفر نه واپس به یې تشریف راوړو، نو د ټولو نه مخکې به بي بي فاطمي ﷺ ته یې تشریف راوړو، او د ټولو نه مخکې به یې د هغې سره ملاقات کولو]. [۵] [یو ځل] حضور ﷺ د جهاد د یو سفر نه واپس راغې ، هغه وخت بي بي فاطمي ﷺ د خپل مکان په دروازه د ټاټ پرده ځوړنده کړې وه [په ظاهره داسې معلومیده، چې هغې هغه پرده د آرائش په خاطر ځوړنده کړې وه، خکه که پرده یې د ضرورت په خاطر ځوړنده کړې وه، نو حضور ﷺ ته به ناګواري نه وه] [۶] او هغې خپلو دواړو خامنو حضرت حسن ﷺ او حضرت حسین ﷺ ته د سپینو زرو دوه کړئ اچولي وې [یعني په هغوئ کې یې هر یوه ته یوه یوه کړه یا دوه دوه کړئ اچولي وې] [۷] هرکله چې حضور ﷺ د خپل معمول مطابق د سفر نه په واپس راتلو کې مخکې د بي بي فاطمي ﷺ د ملاقات د پاره د هغې کور ته تشریف راوړو، او دا ځیزونه یې ولیدل، نو حضور ﷺ د هغې په کور کې داخل نه شو، [۸] بي بي فاطمه ﷺ پوهه شوه چې کوم ځیز حضور ﷺ زما کور ته د راتلو نه منع کړې دي، هغه دا دي کوم چې حضور ﷺ ولیدل [یعنی په دروازه

---

[۱] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الترجل /باب ما جاء فی الانتفاع بالعاج (رقم-۴۲۱۳) واحمد فی المسند:۲۷۵/۵

پرده خوړندول، او د حسن رضي الله عنه حسين رضي الله عنه په لاسونو کې کړي ليدل؛ [۹] بي بي فاطمې رضي الله عنها سمدستي هغه پرده وشلوله، [۱۰] او د دواړو صاحبزادګانو د لاسونو نه يې هغه کړي اوخکلې، [۱۱] او هغه يې ماتې کړلې،

حل اللغات: ① عَلَّقَتْ: دَ تعليق نه دې، يعنى زوړنده کړې وه، ② مَسْحًا: د ټاټ يا د بوجئ کپړه، ③ سِتْرًا: پرده، ④ حَلَّتْ: دَباب تفعيل نه دې، يعنى کالي ئې اچولې وو، ⑤ قُلْبَيْنِ: د چاندئ سپينو زرو دوه بنګړی، کړې، ⑥ فَهَتَكَتْ: اوئې شلوله، ⑦ فَكَّتْ: لرې ئې کړې، اوئې ويستلې،

[۱] فَانْطَلَقَا إِلَى رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَبْكِيَانِ، [۲] فَأَخَذَهُ مِنْهُمَا فَقَالَ: "يَا ثَوْبَانُ! [۳] اذْهَبْ بِهَذَا إِلَى فُلَانٍ، [۴] إِنَّ هَؤُلَاءِ أَهْلِي أَكْرَهُ أَنْ يَأْكُلُوا طَيِّبَاتِهِمْ فِي حَيَاتِهِمُ الدُّنْيَا. [۵] يَا ثَوْبَانُ! اشْتَرِ لِفَاطِمَةَ قِلَادَةً مِنْ عَصَبٍ [۶] وَسِوَارَيْنِ مِنْ عَاجٍ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] بيا هغه دواړه صاحبزادګان ماتې کړی اخستو سره په ژړا حضور ﷺ ته راغلل، [۲] حضور ﷺ کړي د هغه دواړو نه واخستلې، او ماته يې وفرمايل چې اي ثوبانه: (رضي الله عنه) [۳] دا کړی واخله، د فلانی سړی کور والو ته يې ورکړه، [يعنى حضور ﷺ په خپلو رشته دارانو کې د يو سړي نوم اخستو سره وفرمايل، چې د هغه کور والو ته يې ورکړه، ځکه چې هغه محتاج او ضرورتمند وو، دا دواړه واړه زما د اهل بيتو نه دي] ، ځکه زه دا خبره بنه نه ګنم، چې دوئ په دنياوي ژوند کې بهترينه غذا وخوري، [يعنى زما په نز دا خبره غوره نه ده چې زما دا کوشنيان د بهترينو غذاګانو او نفيس پوشاك او اسباب نه لذت او فائده پورته کړی، يا حضور ﷺ د بهترينې غذا نه د عيش وعشرت ژوند اختيارول او د دنيا لذتونه حاصلول مراد واخستل، او حضور ﷺ د دې ارشاد په ذريعه ګويا دا واضحه کړه، چې زه د خپل اهل بيتو په باره کې هغه شی اختياروم چې هغوی په دې دنيا کې د فقر او زهد او د سختي او مشقت ژوند خپل کړي، چې په آخرت کې د هغوئ درجات بلند وي او د هغوئ شمير په هغه خلقو کې نه وي چې د هغوئ په حق کې الله ﷻ فرمايلي دي: أَذْهَبْتُمْ طَيِّبَاتِكُمْ فِي حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا خو دې سره حضور ﷺ د تصور په سترګي د خپل زړه ټکړې بي بي فاطمې رضي الله عنها مات زړه ته هم کتل، په دې وجه د هغې سره د شفقت او محبت اظهار کولو د پاره دا يې هم وفرمايل چې] [۵] اي ثوبانه! (رضي الله عنه) د بي بي فاطمې رضي الله عنها د پاره د عصب (چې دبحري حيوان دپلو وغيره نه غاړګی جوړوي) يو هار واخله، [۶] او د فيل د غاښونو دوه کړي راواخله [چې د فاطمې رضي الله عنها هم دلجوئي وشي د ماشومانو هم، ځکه چې دادوي کړی هم په اصل کښې دبي بي فاطمې وي] (احمد ابوداود)

حل اللغات: ⑧ قِلَادَةً: هار، امېل، ⑨ عَصَبٍ: د يمن يوه کپړه ده يا د سمندرى يوقسم ځناور غاښونه دی، ⑩ سِوَارَيْنِ: دوه بنګړی، کړې، ⑪ عَاجٍ: د هاتى غاښونه.

تسهيلات:

قوله: آخِرُ عَهْدِهِ بِإِنْسَانٍ مِنْ أَهْلِهِ فَاطِمَةُ رضي الله عنها

د نبی علیه السلام د فاطمه رضی الله عنها سره مینه: یعنی نبی کریم چه به کله دَ څه سفر یا جهاد دَپاره تشریف اوړلو نوداهل بیت دَ ټولو ښخوسره دَ الوداعی ملاقات نه پس په آخره کښې به دَ حضرت فاطمه رضی الله عنها سره ملاقات کولوسره په سفر روانیدو او په واپسئی کښې به ئې دَ ټولو نه اول هم دَ حضرت فاطمه رضی الله عنها سره ملاقات کولو داصرف دَښځو معامله بیان کړې شوې ده دَ سړو نه ده.

قوله: فَقَدِمَ فَلَمْ يَدْخُلْ:

د نبی علیه السلام د ناخوښوی په وجه کښې دوه اقوال: ① کیدې شی په دغه پرده باندې د خناورو تصویران وو څکه نبي علیه السلام داخل نشو څکه چې داسې واقعه د حضرت عائشې رضی الله عنها سره هم پیښه شوې وه نو نبی علیه السلام هغه منع کړې وه چې دا پرده اخوه کړه څکه چې په دې کښې د خناورو تصویران دی

② نبی علیه السلام دخپل اهل وعیال دپاره د دنیا زیب او زینت نه خوښولو څکه ئې د ناراضګي اظهار اوکړو او د فاطمې رضی الله عنها کورته داخل نشو

قوله: فَأَخَذَهُ مِنْهُمَا:

د مذکوره جملې په مطلب کښې دوه اقوال: ① یعنی نبی کریم دا منظر اوکتلونودَهغې دواړو په حالت ئې ترس راغلو یعنی په دواړو باندې ئې ترس اوکړویاشفقت اورحمت ئې پرې راغلو دا ترجمه ډیره ښکلې ده

② ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی چه داترجمه مناسب نه ده بلکه ترجمه داده چه نبی کریم دَهغه دواړو نه دغه مات ګوډ بنګړی واخستل اوحضرت ثوبان رضی الله عنه ته ئې ورکړل

قوله: إِنَّ هَؤُلَاءِ أَهْلِي أَكْرَهُ أَنْ يَأْكُلُوا طَيِّبَاتِهِمْ فِي حَيَاتِهِمُ الدُّنْيَا:

د مذکوره جملې په ترکیب کښې دوه احتمالات: ① داجمله دَتعلیل په محل کښې هم کیدې شی نوعبارت به داسې شی أی لأنی أکره أن یأکلوا،

② دادَ استیناف په موقع کښې ده عبارت به داسې شی إن هؤلا أی الحسن والحسین وعلیا وفاطمة أهل بیتی وأکره أن یأکلوا یعنی دا ښکلې څیزونه صدقه کړئی اودا درهم واخلئی دَ بازارنه دَفاطمه دَپاره دَ عصب هار راوړئی دې دَپاره چه دَدې دَزړه ساتنه اوشی اودَ حسنین دَپاره دوه بنګړی دَ هاتهی دَ غاښونو راوړئی دې دَپاره چه دَدوی تسلی اوشی. داسې معلومیږی چه دا بنګړی دَ حضرت فاطمه رضی الله عنها وو هغې حسنین ته اچولی وو.

قوله: اشْتَرِ لِفَاطِمَةَ قِلَادَةً مِنْ عَصْبٍ:

د عصب په تفسیر کښې دوه اقوال: ① بعضې علماء وائی چه دا په یمن کښې جوړیدونکې یو کپړه ده دکومې د څه اجزاؤ نه چه هار جوړولې شی مګر شارحین وائی چه د کپړې نه هار جوړول په خیال کښې نه راځی

② علامه خطابی رحمه الله فرمائی چه ما د یمن والونه اوریدلی دی چه عصب د یو سمندری خناور غابښونو ته وائی دکوم نه چه بهترین سپین هار جوړیږی دې حیوان ته فرس فرعون وائی

قوله: وَسِوَارَيْنِ مِنْ عَاجٍ:

دعاج په تفسیر کښې دوه اقوال: ① د هاتهی د غابښونو نه بنګړی جوړولې شی دا هډوکې دی ددې استعمال د احنافو په نیز جائزدې

② د دې څخه د سمندری شمشتیٔ هډوکی مراد دې چې دهغې څخه جوړ شوې بنګړی ورله واخله

د عاج غوره معنی: په دې دوارو معانیوکښې اوله معنی راجحه ده.دحدیث مقصد دا دې چې نبی کریم د خپل اهل بیت د پاره د دنیا سخت ژوندخوښ کړې دې دې د پ ره چه د آخرت ټول راحتونه او نعمتونه محفوظ پاتې شی او أذهبتم طيباتكم في حياتكم الدنيا د وعید نه بچ شی

[۴۴۷۳] د سرمه (رانجو) لګولو حکم

٤٤٧٣-[٥٢] (١) [١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [٢] «اكْتَحِلُوا بِالْإِثْمِدِ، [٣] فَإِنَّهُ يَجْلُو الْبَصَرَ [٤] وَيُنْبِتُ الشَّعْرَ». [٥] وَزَعَمَ أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- كَانَتْ لَهُ مُكْحُلَةٌ [٦] يَكْتَحِلُ بِهَا كُلَّ لَيْلَةٍ، ثَلَاثَةً فِي هَذِهِ وَثَلَاثَةً فِي هَذِهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] او د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت دې چې نبي کریم ﷺ وفرمایل [٢] اصفهاني سرمه (برابر) لګوئ.[٣] څکه چې هغه سُرمه بینائي روښانه کوي،[٤] او ویښتان. یعنی بانه راخیجوی. اچې د سترګو دښایست او حفاظت ضامن دی] . [٥] [حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وایي چې] د نبي کریم ﷺ سره یوه رنجنونی ارنځرومې] وه.[٦] حضور ﷺ به روزانه د شپې درې خلې په دې سترګه کې او درې خلې په دې سترګه کې رانجه لګول. ایعنی مسلسل درې سلایانی به یې په ښې سترګه کې او درې سیلایانی په ګسه سترګه کې لګولې] (ترمذي)

حل اللغات: ① اكْتَحِلُوا: رانجه لګوئ. ② الإِثْمِدِ: یو قسم رانجه دی. ③ يَجْلُو: تیزوی، روښانه کوی، ④ مُكْحُلَةٌ: رنجرومه، د رانجو کځوړی.

---

(١) اخرجه ابوداود في السنن كتاب اللباس /باب في البياض (رقم-٤٠٦١) والترمذي في كتاب اللباس عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء في(رقم-١٧٥٣)والنسائي في كتاب الزينة /باب الكحل (رقم-٥١١٣) واحمد في المسند:٢٣١/١

تسهیلات:

قوله: اكْتَحِلُوا الإِثْمِدِ:

د اثمد په مصداق کښې دوه اقوال: ① دَ احادیثو په رنړاکښې زیاته صحیح خبره داده چه اثمد یوخاص قسم معدنی رانجوته وائی.

② دَ بعضې حضراتو خیال دې چه اثمد مطلق رانجوته وائی

③ دَ بعضې حضراتو خیال دې چه اثمد یومخصوص قسم اصفهانی رانجه دی چه دَ سترګونه بهیدونکې اوبه بنده وی اودَ سترګودَ زخم دپاره فائده مند دی بلکه دَ سترګو سوزیدل لرې کوی اودَسترګودَرنړا والارګونوته طاقت ورکوی. دَ ورو ماشومانواو بوډاګانو دپاره په خاص توګه فائده مند دی.

د اثمد رانجو دوه فائدې: ① دَ سترګو بانړه اوږده وی په کوم سره چه دَ سترګوحفاظت هم کیږی اوښائست هم پیدا کیږی.

② اثمد رانجه دَ سترګو نظر تیزه وی.

د رانجو لګولو طریقه: دَ رانجولګولو یوه طریقه په دې حدیث کښې ده چه درې سلایانې په یوه سترګه کښې راښکلې شی اودرې په بله سترګه کښې. دَ شپې وخت ئې ښکه منتخب کړې دې چه په دې کښې دَ زیات وخت پورې رانجه په سترګوکښې پاتې کیږی

[۴۴۷۳] دا اثمد رانجو فائدې

۴۴۷۳- [۵۳] (۱) [۱] وَعَنْهُ قَالَ: [۲] «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَكْتَحِلُ قَبْلَ أَنْ يَنَامَ بِالْإِثْمِدِ ثَلَاثًا فِي كُلِّ عَيْنٍ». [۳] قَالَ: وَقَالَ: " «إِنَّ خَيْرَ مَا تَدَاوَيْتُمْ بِهِ: [۴] اللَّدُودُ، وَالسَّعُوطُ، وَالْحِجَامَةُ، وَالْمَشِيُّ. [۵] وَخَيْرَ مَا اكْتَحَلْتُمْ بِهِ الْإِثْمِدُ، [۶] فَإِنَّهُ يَجْلُو الْبَصَرَ، وَيُنْبِتُ الشَّعْرَ [۷] وَإِنَّ خَيْرَ مَا تَحْتَجِمُونَ فِيهِ يَوْمُ سَبْعَ عَشْرَةَ، وَيَوْمُ تِسْعَ عَشْرَةَ، وَيَوْمُ إِحْدَى وَعِشْرِينَ» "

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس رضی الله عنه وایې [۲] چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به د شپې د اوده کیدلو نه مخکې په هره سترګه کې اصفهانی سرمه درې درې سلایانې لګولې، [۳] او ابن عباس رضی الله عنه وایې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل تاسو چې د علاج د پاره کوم څیزونه اختیاروئ، په هغې کې بهترین څیزونه څلور دي. [۴] یو خو لدود، دویم سعوط، دریم حجامة، او څلورم مشي، [۵] په سترګو کې په لګونکو څیزونو کې بهترین شي اصفهاني سرمه ده، چې بینائي روښانه کوي، او د بانو وښتان دیروی، [۷] او د وک ښکر را ښکلو (د وینې اوښکلو) د پاره د میاشتې اوولسم، نورلسم او یویشتم تاریخونه بهترینې ورځې دي.

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الطب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی السعوط وغیره (رقم-۲۰۴۸)

حل اللغات: ① اللَّدُودُ: خوله کښې د اچولو دوائی، ② السَّعُوطُ: پوزه کښې د اچولو دوائی، ③ الْحِجَامَةُ: بدن نه وينه ويستل، ④ الْمَشِيُّ: دستونه راوستونکې دوائی ⑤ الْإِثْمِدُ: يو قسم رانجه دی، ⑥ يَجْلُو: تيزوی، روښانه کوی

① «وَإِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - حَيْثُ عُرِجَ بِهِ، ② مَا مَرَّ عَلَى مَلَإٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ إِلَّا قَالُوا: ③ عَلَيْكَ بِالْحِجَامَةِ». ④ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ① حضرت ابن عباس رضی الله عنهما دا بیان هم وکړو چې کله رسول الله ﷺ معراج ته تشریف یوړو، ② نو د فرشتو یو جماعت داسې نه وو، چې حضور ﷺ پر هغوی نه تیر شوي وي، او هغوی دا نه وي ویلي ③ چې ډك ښکر راخکل (وینه اوخکل) ستاسو د پاره ضروري دي، ④ ترمذي رحمه الله دا روایت نقل کړي دي او ویلي یي دي چې دا حدیث حسن غریب دي

حل اللغات: ⑤ عُرِجَ: پورته اوخيجولې شو، معراج اوکړې شو.

تسهیلات:

قوله: إِنَّ خَيْرَ مَا تَدَاوَيْتُمْ:

بهترينې څلور دوايانې: ① لدود، داهره هغه دوائی ده چه دَ مريض په خله کښې ورڅخولې شی.

② سعوط، دا هغه دوائی ده چه دَ مريض په پوزه کښې ورڅخولې شي.

③ حجامه دَ ستنودَ غاړو په ذريعه ښکر لګولو ته وائی يعنی وينه ويستل.

④ المشی، داهره هغه دست راوستونکې دوائی ته وائی دَ کوم دَ استعمال نه پس چه دستونه جاری کيږی. دَ سړی خيټه روانه شی اوبخپله سړې هم بيت الخلاء طرف ته بار بار منډه وهی. هم په دې وجه دې ته المشی اوونيلې شو.

قوله: وَإِنَّ خَيْرَ مَا تَحْتَجِمُونَ فِيهِ يَوْمُ سَبْعَ عَشْرَةَ:

د ښکر لګولو څوره ورځې: يعنی دَ ښکرلګولو بهترين ايام دَ هرې مياشتې اوولسم، نورلسم او يوويشتم تاريخونه دی. دامعتدل ايام دی په کوموکښې چه په وينه کښې اعتدال وی. کتاب الطب کښې نور وضاحت راځی ان شاء الله.

[۴۳۴۳] سړو دپاره حمامونو ته د تلو اجازت

۴۳۴۳ - [۵۴] (۱) ① وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا: ② «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - نَهَى الرِّجَالَ وَالنِّسَاءَ عَنْ دُخُولِ الْحَمَّامَاتِ، ③ ثُمَّ رَخَّصَ لِلرِّجَالِ أَنْ يَدْخُلُوا بِالْمَيَازِرِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

[1] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الحمام (رقم-۴۰۰۹) والترمذی فی کتاب الأدب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی دخول الحمام (رقم-۲۸۰۲) وابن ماجه فی کتاب الأدب/باب دخول الحمام (رقم-۳۷۴۹) واحمد فی المسند: ۱۳۲/۶

ترجمه: [۱] او د بي بي عائشې رضي الله عنها نه روايت دې [۲] چې رسول الله ﷺ سړي او ښځې حمام ته د تلو نه منع کړي وو ، [۳] بيا وروسته حضور ﷺ سړو ته په دې صورت کې د تلو اجازت ورکړو . چې د هغوئ په بدن دې پرتوګ [يالنګ] وي . (ترمذي، ابوداود)

حل اللغات: ① اَلْحَمَّامَاتِ: دحمام جمع ده، غسل خانې ته وائي. ② اَلْمَيَازِرِ: لنګ يا پرتوګ.

تسهيلات:

قوله: عَنْ دُخُولِ الْحَمَّامَاتِ:

دحديث پس منظر: په هره زمانه کښې دحمام نظام جدا جدا وی پخوانئ زمانه کښې به په يومکان کښې هم په يوځائې د غسل کولوانتظام کيدلو په هغې کښې به ګرمې اوبه وې اوښځو اوسړو به په يوځائې په هغې کښې لامبل. په دې وجه په شروع کښې نبی کريم سړي اوښځې دې ته د تلونه منع کړل بيادې نه پس ئې سړو ته د تلو اجازت ورکړو مګر د ښځويابندی ئې په ځائې اوساتله خکه چه که ښځې سره د دې چه يواځې حمام ته لاړې شي نويا هم ښځې خپل مينځ کښې د يوبل نه پرده نه کوی

قوله: ثُمَّ رَخَّصَ لِلرِّجَالِ أَنْ يَدْخُلُوا بِالْمَيَازِرِ:

لنګ وهلو سره سړو ته حمام ته د تلو اجازت: د سړودپاره په داسې مشترکه حمام کښې د غسل دپاره تللوکښې دا شرط کيخودلې شوچه هغوی دې د نامه نه لاندې ترزنګونوپورې لنګ تړی

د سوئمنګ پول حکم: نن صبا په سوئمنګ پول اونورو د اوبو تالابونو اونهرونوکښې په مشترکه توګه باندې بربنډ غسل کول د پخوانئ زمانې دحمامونو يونوې شکل دې بلکه ددې نه هم زيات بې حيا اود اخلاقوتباهي ده خکه چه دا سوئمنګ پول د غسل دپاره نه بلکه د څه نور مقاصدودپاره تيارولې شي

[۴۴۷۵] ښځې دپاره مشترکه حمامونو ته د داخليدوممانعت

[۵۵] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي الْمَلِيحِ، قَالَ: [۲] «قَدِمَ عَلَى عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - نِسْوَةٌ مِنْ أَهْلِ حِمْصَ. [۳] فَقَالَتْ: مِنْ أَيْنَ أَنْتُنَّ؟ قُلْنَ: مِنَ الشَّامِ [۴] قَالَتْ: فَلَعَلَّكُنَّ مِنَ الْكُورَةِ الَّتِي تَدْخُلُ نِسَاؤُهَا الْحَمَّامَاتِ؟ [۵] قُلْنَ: بَلَى. [۶] قَالَتْ: فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [۷] "لَا تَخْلَعُ امْرَأَةٌ ثِيَابَهَا فِي غَيْرِ بَيْتِ زَوْجِهَا [۸] إِلَّا هَتَكَتِ السِّتْرَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ رَبِّهَا"

ترجمه: [۱] او حضرت ابومليح وايي [۲] چې يو خل د بي بي عائشې رضي الله عنها په خدمت کې (د ملك شام د ښارا حمص څه ښځې راغلې. [۳] بي بي عائشې رضي الله عنها د هغوئ نه پوښتنه وکړه

(١) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الحمام (رقم-٤٠١٠) والترمذي في كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في الاستتار عند الجماع (رقم-٢٨٠٣) وابن ماجه في كتاب الأدب/باب الاطلاء بالنورة (رقم-٣٧٥١) واحمد في المسند: ٢١٧/٦

چې تاسو د کوم ځاي اوسيدونکي يي ؟ هغوئ اوويل چې د ملك شام.[٣] حضرت عائشې رضي الله عنها وفرمايل چې تاسو شايد د هغه ځاي اوسيدونکي يي چې د هغه ځاي ښځې حمام ته ځي؟[٥] هغوئ اوويل چې هو.[٦] بيا بي بي عائشې رضي الله عنها ورته وفرمايل چې ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي[٧] کومه ښځه چې د خاوند د کور نه علاوه بل چيرته کپړې اوباسي، [٨] ګويا هغه ښځې هغه پرده وشلوله کومه چې د هغې او د الله جل جلاله تر مينځ ده

[١] وَفِي رِوَايَةٍ: "فِي غَيْرِ بَيْتِهَا إِلَّا هَتَكَتْ سِتْرَهَا فِيمَا بَيْنَهَا وَبَيْنَ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] او په بل روايت کې د في بيت غير زوجها په ځاي في غيربيتها الفاظ دي (ترمذي، ابوداود)

حل اللغات: ① الْكُورَةِ: د ښار غاړې او د اطرافو علاقې، ② الْحَمَّامَاتِ: د حمام جمع ده غسل خانه، ③ لَاتَخْلَعُ: مه اوباسه. ④ هَتَكَتِ السِّتْرَ: "اي حجاب الحياء وجلباب الأدب، يعنى ښکاره کول دي د حيا او د ادب پردې لره،

تسهيلات:

قوله: إِلَّا هَتَكَتْ سِتْرَهَا فِيمَا بَيْنَهَا وَبَيْنَ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ:

ښځې دپاره په هروخت کښې د پردې اهتمام کول: چه ښځه د الله تعالى د طرف نه د دې پابند ده چه هغه دې پرده اوکړي اوپردې سرې دې دا اونه کتې شي بلکه د ښځې دپاره دا هم مناسب نه دی چه هغه د خاوند نه علاوه په يوخالی ځائی کښې خپل بدن بربنډ کړی

[٤٤٧٦] د زنانو دپاره د بازار غسل خانوته د تلو ممانعت

٤٤٧٦-[٥٦] (¹) [١] وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا-أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-قَالَ: " [٢] «سَتُفْتَحُ لَكُمْ أَرْضُ الْعَجَمِ، [٣] وَسَتَجِدُونَ فِيهَا بُيُوتًا، يُقَالُ لَهَا: الْحَمَّامَاتُ، [٤] فَلَا يَدْخُلَنَّهَا الرِّجَالُ إِلَّا بِالْأُزُرِ، [٥] وَامْنَعُوهَا النِّسَاءَ، [٦] إِلَّا مَرِيضَةً، أَوْ نُفَسَاءَ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] او د حضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما نه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل[٢] ډير نزدې تاسو ته به د عجم په زمکې کې فتحه حاصله شي.[٣] هلته به تاسو داسې کورونه بيامومئ، چې هغې ته به حمام ونيل کيږي.[٤] نو (خبردار) هغې ته دې سړي بغير د لنګ نه نه داخليږي.[٥] او ښځې خو په هغې کې د داخليدو نه بالکل منع کړئ.[٦] خو دا چې يوه ښځه بيماره وي، يا د نفاس په حالت کې وي (ابوداؤد)

حل اللغات: ① بِالْأُزُرِ: سره د لنګ يا پرتوګ نه

تسهيلات:

قوله: وَامْنَعُوهَا النِّسَاءَ، إِلَّا مَرِيضَةً، أَوْنُفَسَاءَ

(¹) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الحمام (رقم-٤٠١١)

ښځو ته بغیره عذر نه حمامونوته د داخلیدو ممانعت: یعنی سړو ته اجازت دی چه هغوی دي ازار بند اوتړی او په حمام کښې دې غسل اوکړی مګر ښځوته دَ ازار بندتړلوسره هم مشترکه حمامونوته دَ تللو اجازت نشته دې ځکه چه دَدوی دَ پوره بدن پرده ده. اوکه څه شرعی عذر وی اویا څه فطری مجبوری وی چه ښځه بیماره وی اودَ حمام په استعمالولوسره علاج کوی یادَنفاس په حالت کښې وی اودَغسل کولوضرورت وی نودا صورتونه مستثنی دی. دَ بچی دَپیداکیدونه پس څلویښت ورځو پورې ښځه په نفاس کښې وی.

[۴۴۷۷] بغیرلنګه حمام ته د داخلیدو ممانعت

۴۴۷۷-[۵۷] (ا) ⓵وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ⓶" «مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يَدْخُلِ الْحَمَّامَ بِغَيْرِ إِزَارٍ، ⓷ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يُدْخِلْ حَلِيلَتَهُ الْحَمَّامَ ⓸وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يَجْلِسْ عَلَى مَائِدَةٍ ⓹تُدَارُ عَلَيْهَا الْخَمْرُ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ⓵او د حضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ⓶کوم سړي چې په خداي جل جلاله او د قیامت په ورځ ایمان لري، هغه دي بغیر د لنګ نه په حمام کې نه داخلیږي، ⓷ او کوم سړي چې په خداي جل جلاله او د قیامت په ورځ ایمان لري، هغه دي خپله ښځه په حمام کې نه داخلوي، ⓸ او کوم سړي چې په خداي جل جلاله او د قیامت په ورځ ایمان لري، هغه دي په هغه دسترخوان نه کیني، ⓹ په کوم چې د شرابو دور چلیږي [څکلي کیږي] (ترمذي، نسائي)

حل اللغات: ① حَلِيلَتَهُ: خپله ښځه، ② مَائِدَةٍ: دسترخوان، ③ تُدَارُ: دور چلیږي، څکلي کیږی، ④ الْخَمْرُ: شراب.

تسهیلات:

قوله: فَلَا يُدْخِلْ حَلِيلَتَهُ الْحَمَّامَ:

د زنانو دپاره خاص حمام ته د داخلیدو حکم: داخبره یادلرئی چه نن صبا دَښځوداسې حمامونه جوړشوی دی چرته چه په یوه وړه غونډې کمره کښې خانله دَ غسل خائی جوړ شوې وی. هلته حمام کښې ښځه بربنډه ورتلې شی ځکه چه هلته نه سړی وی اونه نورې ښځې وی هغه مشترکه حمام نه دې. په حدیث کښې دَمشترکه حمام دَممانعت ذکردې.

(۱) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الأدب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی دخول الحمام (رقم-۲۸۰۱) والنسائی فی کتاب الغسل والتیمم/باب الرخصة فی دخول الحمام (رقم-۴۰۱) واحمد فی المسند: ۳/۳۳۹

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۴۴۷۸] د نبی کریم ﷺ په سر مبارک کښې خضاب نه لګول

۴۴۷۸-[۵۸] ()[۱] عَنْ ثَابِتٍ، قَالَ: [۲] «سُئِلَ أَنَسٌ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- عَنْ خِضَابِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-.[۳] فَقَالَ: لَوْ شِئْتُ أَنْ أَعُدَّ شَمَطَاتٍ كُنَّ فِي رَأْسِهِ ; فَعَلْتُ.[۴] قَالَ: وَلَمْ يَخْتَضِبْ.[۵] زَادَ فِي رِوَايَةٍ: وَقَدِ اخْتَضَبَ أَبُو بَكْرٍ بِالْحِنَّاءِ وَالْكَتَمِ [۶] وَاخْتَضَبَ عُمَرُ بِالْحِنَّاءِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] د حضرت ثابت رضی الله عنه نه روایت دی[۲] چې د حضرت انس ابن مالك رضی الله عنه نه د نبي کريم ﷺ د خضاب کولو یا نه کولو باره کې پوښتنه وشوه.[۳] نو هغه اوویل که ما د حضور ﷺ په سر مبارك کې د سپینو ویښتانو د تعداد شمیر کول غوښتي، نو یقیناً شمیرلي مي شو [یعني د حضور ﷺ په سر مبارك کې څو ویښتان سپین وو، په دي صورت کې حضور ﷺ ته د خضاب کولو څه ضرورت وو، نو] [۴] حضور ﷺ هیڅ کله رنګ نه دي کړي.[۵] په یو روایت کې د حضرت انس رضی الله عنه یا د حضرت انس رضی الله عنه نه ثابت رحمه الله دا عبارت مزید نقل کړو چې حضرت ابوبکر رضی الله عنه دنکریزو او وسمې (رنګ) استعمال کړو، [۶] او حضرت عمر رضی الله عنه صرف دنکریزو رنګ استعمال کړو (بخاري، مسلم)

حل اللغات : ① شَمَطَاتٍ : دَ شمطة جمع ده، "اي بياض شعر الرأس يخالطه سواد" دَ سپینو اوتورو ویښتویوخائی کیدو ته شمطة وائی. ② الْكَتَمِ: یو قسم وابنه،

د حضرت ثابت رحمه الله مختصر تعارف: نوم ثابت کنیت ابوحمید دَ تابعینونه دې امام ذهبی رحمه الله ده ته امام اوحجت فرمائیلي. هغوی عمل پرهیزګاری تقوی اوعبادت په وجه په خپله زمانه کښې ډیر مشهوروو. حضرت انس رضی الله عنه به فرمائیل چه دَهریوخیزچابی وی اوثابت رحمه الله دَخیر چابی ده.(۴)

بکربن عبدالله به فرمائیل چه څوك په دنیاکښې دَ ټولونه لوئی عابدکتل غواړی نوثابت ته دي اوګوری. (۲) همیشه دپاره به ئې روزه نیوله ووکله به ئې هم دَ روژې ناغه نه کوله. (۲) په یوه ورځ او شپه کښې به ئې یوقرآن پاك ختم کولو.(۳) دَحضرت انس رضی الله عنه خاص شاګرد وو. ابن مدائنی فرمائی چه دَ هغوی دَ روایاتو شمیردوه نیم سوه دي ؟(۴)

وفات:۱۲۳ه کښې وفات شو په وفات په وخت کښې دَ هغوی عمر دَ اتیاوَ کالونه پورته وو. (۵) دَ نورو معلوماتو دپاره ① تهذیب التهذیب ۲/۲ ② شذرات الذهب ۱۶۱/۱

---

(۱) اخرجه البخاری فی کتاب اللباس/باب ما یذکر فی الشیب (رقم-۵۸۹۵) ومسلم فی کتاب الفضائل/باب شیبه صلی الله علیه وسلم (رقم-۱۰۰ - (۲۳٤۱) والنسائی فی کتاب الزینة/باب الخضاب بالصفرة (رقم-۵۰۸٦) وابن ماجه فی کتاب اللباس، باب من ترک الخضاب (رقم-۳٦۲۹)

(۲) تذکرة الحفاظ ۱۱۲/۱).(۲) تذکرة الحفاظ ۱۱۲/۱) (۳) تذکرة الحفاظ ۱۱۲/۱).

(٤) تذکرة الحفاظ ۱۱۲/۱) (۵)تذکرة الحفاظ ۱۱۲/۱).

③ تذكرة الحفاظ ۱۱۱/۱

④ طبقات ابن سعد ۳/۷ وغيره اوګورئ.

تسهيلات:

نوټ: دخضاب باره کښې تشريح وړاندې د حديث نمبر (۴۴۲۳) په شرح کښې تيره شوې ده.

[۴۴۲۹] د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما د خضاب استعمال

۴۴۲۹—[۵۹] (١) ⟦١⟧ «وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - ⟦٢⟧ أَنَّهُ كَانَ يُصَفِّرُ لِحْيَتَهُ بِالصُّفْرَةِ ⟦٣⟧ حَتَّى تَمْتَلِئَ ثِيَابُهُ مِنَ الصُّفْرَةِ ⟦٤⟧ فَقِيلَ لَهُ: لِمَ تَصْبُغُ بِالصُّفْرَةِ؟ ⟦٥⟧ قَالَ: إِنِّي رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَصْبُغُ بِهَا، ⟦٦⟧ وَلَمْ يَكُنْ شَيْءٌ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْهَا، ⟦٧⟧ وَقَدْ كَانَ يَصْبُغُ بِهَا ثِيَابَهُ كُلَّهَا، حَتَّى عِمَامَتَهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ⟦١⟧ اود حضرت ابن عمر رضي الله عنهما باره کې روايت دی ⟦٢⟧ چې هغه به په خپله ږيره زيړ خضاب لګولو، ⟦٣⟧ چې د هغې په وجه به د هغه کپړې هم زيړيدې د هغه نه پوښتنه وشوه چې تاسو ولې زيړ خضاب کوئ؟ ⟦٥⟧ وې فرمايل چې ما رسول الله ﷺ په خپله ږيره مبارکه زيړ خضاب کوو باندې ليدلې دې. ⟦٦⟧ او د حضور ﷺ په نزد په ږيره د خضاب کولو د پاره د زيړ رنګ نه زيات خوښ هيڅ شې نه وو، ⟦٧⟧ او ټولې کپړې تر دې چې پټکې به يې هم په زيړ رنګ رنګين کړو. (ابوداؤد نسائي)

حل اللغات: ① يُصَفِّرُ: زيړ رنګې به ئې ورکولو. ② تَمْتَلِئَ: ډکې به شوې، زيړرنګې به شوې

تسهيلات:

قوله: كَانَ يُصَفِّرُ لِحْيَتَهُ بِالصُّفْرَةِ:

دزيړې وسمې نه د ورس په ذريعه وسمه کول مراددی دادزعفران په شان رنګ وی نبی کريم په ويښتو مبارکوکښې دَدې استعمال کړې دې

نوټ: په بعضې رواياتوکښې د نبی عليه السلام د خضاب لګولواثبات دې اوپه بعضو کښې نفی ده ددې تفصيل په حديث نمبر (۴۴۸۰) کښې راروان دې هغې ته انتظار اوکړئ.

قوله: حَتَّى تَمْتَلِئَ ثِيَابُهُ مِنَ الصُّفْرَةِ:

په زيړ رنګ کپړې رنګ کول: قصداً عمداً نبی کريم کپړې اوپټکې کله هم په زيړ رنګ کښې نه دې رنګ کړې لکه چه په دې حديث کښې دی اوکه چرې بغيرد قصد اوارادې څخه ئې پټکې يا قميص په زيړ رنګ کښې لګيدلې وی نوهغه جدا خبره ده.

(١) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب اللباس/باب فی المصبوغ بالصفرة (رقم-٤٠٦٤)والنسائی فی كتاب الزينة/باب الخضاب بالصفرة (رقم-٥٠٨٥)

[۴۴۸۰] دَرسول الله ﷺ مبارک ویښته

۴۴۸۰-[۲۰] ()[1] ۱ وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَوْهَبٍ، قَالَ: ۲ «دَخَلْتُ عَلَى أُمِّ سَلَمَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا - ۳ فَأَخْرَجَتْ إِلَيْنَا شَعْرًا مِنْ شَعْرِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَخْضُوبًا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱ او حضرت عثمان ابن عبد الله ابن موهب وايي ۲ چې يوه ورځ زه د ام المؤمنين بي بي ام سلمه ﷺ په خدمت کې حاضر شوم، ۳ نو هغې مونږ ته د رسول الله ﷺ يو ويښته مبارک راويستلو چې هغه خضاب شوې وو. (بخاري)

حل اللغات: ① مَخْضُوبًا: خضاب شوی وو.

تسهيلات:

قوله: مَخْضُوبًا: يعنى هغه يوويښته خضاب شوې رنګين وو داپه هغه کم خضاب اووسمه باندې محمول دې دکوم په وجه چه دا ويښته رنګين وو يا دعطرياتو په شيشه کښې زيات وخته پورې کيخودوسره ويښته رنګين شوې وو يا رنګين ښکاريدو

اشکال: ددې حديث نه دا معلوميږي چه د نبی کريم ﷺ ويښته مبارکو باندې رنګ لګيدلې وو، حالانکه ماقبل رواياتو کښې ذکر دی چه نبی کريم ﷺ به خضاب نه لګولو؟

داشکال درې جوابونه: ① په کومو رواياتوکښې چه د خضاب اثبات راغلې دي نو هغه په اقل احوالوباندې محمول دې يعنى چه کله نه کله به نبی کريم ﷺ خضاب استعمال کړې وي

② يو روايت به په حقيقت باندې محمول وي او بل روايت به په مجاز باندې محمول وی،

③ نبی کريم ﷺ بغير د ضرورت نه خضاب نه دی استعمال کړی ليکن کله نه کله به نی د سر درد په وجه نکريزی وغيره استعمال کړی وي او په هغه ويښته باندې به د نکريزو رنګ وو

[۴۴۸۱] د نرښځي لره د ښار څخه د ويستلو حکم

۴۴۸۱-[۲۱] ()[2] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: ۲ «أُتِيَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِمُخَنَّثٍ، ۳ قَدْ خَضَبَ يَدَيْهِ وَرِجْلَيْهِ بِالْحِنَّاءِ. ۴ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا بَالُ هٰذَا؟" ۵ قَالُوا: يَتَشَبَّهُ بِالنِّسَاءِ فَأَمَرَ بِهِ فَنُفِيَ إِلَى النَّقِيعِ. ۶ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! أَلَا نَقْتُلُهُ؟ ۷ فَقَالَ: "إِنِّي نُهِيتُ عَنْ قَتْلِ الْمُصَلِّينَ"». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوهريره ﷺ وايي ۲ چې يوه ورځ د رسول الله ﷺ په خدمت کې يو مخنث راوستل شو. ۳ چې هغه د ښځو په شان په خپل لاس پښنو نکريزي لګولي وي، ۴ رسول الله ﷺ د هغه په ليدو سره وفرمايل چې دا ته څه شوي دي؟ ۵ صحابه ؤ ﷺ عرض وکړو چې دا سړي اپه خپل وضع قطع او طور طريقو کې ا د ښځو مشابهت کوي، نو

[1] اخرجه البخاری فی کتاب اللباس /باب ما يذکر فی الشيب (رقم-۵۸۹۷)
[2] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب /باب فی الحکم فی المخنثين (رقم ۴۹۲۸)

حضور ﷺ د هغه د ښار نه د ويستلو حکم وکړو او هغه [د مديني يو ځاي] نقيع ته وليږل شو. [٦] بيا صحابه و ﷺ عرض وکړو يا رسول الله ﷺ آيا مونږ دې مړ نه کړو؟ [يعنې دې فسق او فساد او ګندګي خوروي نو که تاسو ﷺ حکم اوکړئ، نو دې به قتل کړل شي]. [٧] حضور ﷺ وفرمايل چې زه د مونځ ګزارو د قتلولو نه منع کړې شوي يم (ابوداؤد)

حل اللغات: ① مُخَنَّثٍ: زنبخي. ② فَنُفِيَ: نو اوليږلې شو. ③ النَّقِيعِ: د مديني په اطرافو کښې يو ځائې دې

تسهيلات: **قوله**: فَأَمَرَ بِهِ فَنُفِيَ إِلَى النَّقِيعِ:

د ښار نه د ويستلو وجه: مخنث ئې ځکه د ښار نه اوشړلو چه هغه به په تکلف سره ځان د ښځو په شان جوړولو او داسې کول حرام دی

قوله: فَقَالَ: يَارَسُولَ اللهِ! أَلَا تَقْتُلُهُ:

دمخنث د قتل اجازت د نه ورکولو وجه: يعنې صحابه کرامو دا اوګڼړل چه کله ده دومره لوئې جرم کړې دې چه نبي کريم دې د مديني د ښارېږ نه اوويستلو نو ددې تقاضاخو دا ده چه دې قتل کړې شي په دې وجه هغوی د قتل کولو باره کښې سوال اوکړو نونبي کريم منع کړل او وجه ئې دا اوخودله چه دې مسلمان دې مونځ کوی او زه د مونځ کونکو د قتل نه منع کړې شوې يم

[۴۳۸۳] د نارينو دپاره د رنګدارې خوشبوئې د استعمال ممانعت

۴۳۸۳–[۲۲] () [١] وَعَنِ الْوَلِيدِ بْنِ عُقْبَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: [٢] «لَمَّا فَتَحَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- مَكَّةَ، [٣] جَعَلَ أَهْلُ مَكَّةَ يَأْتُونَهُ بِصِبْيَانِهِمْ، [٤] فَيَدْعُو لَهُمْ بِالْبَرَكَةِ، وَيَمْسَحُ رُءُوسَهُمْ، [٥] فَجِيءَ بِي إِلَيْهِ وَأَنَا مُخَلَّقٌ [٦] فَلَمْ يَمَسَّنِي مِنْ أَجْلِ الْخَلُوقِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] او حضرت وليد ابن عقبه ؓ وايي [٢] کوم وخت چې رسول الله ﷺ ته په مکه فتح حاصله شوه [او حضور ﷺ په مکه ښار کې رونق افروز شو. يعنې داخل شوا]. [٣] نو د مکي والو خپل کوشنيان د حضور ﷺ په خدمت کې راوستل شروع کړل. [٤] حضور ﷺ به دهغه کوشنيانو د پاره د برکت دعا کوله. او [په مينه او شفقت سره به يې] د هغوئ په سرونو لاس مبارک راتيروي. [٥] په دې موقع زه هم د حضور ﷺ په خدمت کې راوستل شوم. اليکن زما په بدن د زعفران وغيره نه جوړه خوشبوا خلوق لګيدلي وه. [٦] په دې وجه خلوق آلوده ليدو سره حضور ﷺ پر ما لاس مبارک راتير نه کړو (ابوداؤد)

حل اللغات: ① مُخَلَّقٌ: د خلوق خوشبو پرې لګيدلې وه

تسهيلات: خلوق چونکه ښځوسره مخصوص دې د سړودپاره جائزنه دې په دې وجه نبي کريم لاس اونه لګولو

() اخرجه ابوداود في السنن كتاب الترجل /باب في الخلوق للرجال (رقم-۴۱۸۱) واحمد في المسند: ۳۲/۴

[۴۴۸۳] د ویښتانو حفاظت کول

۴۴۸۳-[۲۳] (۱) [۱] «وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّهُ قَالَ لِرَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] إِنَّ لِي جُمَّةً، أَفَأُرَجِّلُهَا؟ [۳] قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "نَعَمْ، وَأَكْرِمْهَا". [۴] قَالَ: فَكَانَ أَبُو قَتَادَةَ رُبَّمَا دَهَنَهَا فِي الْيَوْمِ مَرَّتَيْنِ [۵] مِنْ أَجْلِ قَوْلِ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (نَعَمْ، وَأَكْرِمْهَا»). رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: [۱] او د حضرت ابوقتاده رضی الله عنه نه روایت دي چې هغه رسول الله ﷺ ته عرض وکړو [۲] چې یا رسول الله ﷺ زما د سر ویښتان تر اوږو پورې دي. آیا زه دا منګز کوم؟ [۳] رسول الله ﷺ ورته وفرمایل چې هو، او د دې تکریم هم کوه. (یعنی تیل وغیره لګولو سره د دې حفاظت کوه). [۴] راوي وایي چه ابوقتاده رضی الله عنه به اکثر په ورځ کې دوه خله خپل ویښتان غوړول. [۵] د رسول الله ﷺ د دې ارشاد په تعمیل کې چې هو او د دې تکریم کوه (مالك).

حل اللغات: ① جُمَّةٌ: د سر ویښته چه تر اوږو پورې وی ② أَفَأُرَجِّلُهَا: آیا زه دا ګمنز کوم؟. ③ دَهَنَهَا: تیل به نې ورکول

تسهیلات: قوله: نَعَمْ، وَأَكْرِمْهَا

د ویښتانو ګمنزول: یعنی د خپلو ویښتو اکرام کونی. ددې جملې نه حضرت ابوقتاده استفاده اوکړه اود ویښتو ئې ښه خیال ساتل شروع کړه تردې چه په ورځ کښې به ئې دوه خل ګمنز کول دا د ښائست دپاره نه وو نه ئې څه ذاتی خواهش وو بلکه دنبی کریم د حکم په تعمیل کښې به ئې داسې کول په دې وجه دا جائز بلکه محمود اوګرخولې شو

[۴۴۸۴] د غیر مسلمو په شان د ویښتانو ساتلو ممانعت

۴۴۸۴-[۲۴] (۲) [۱] وَعَنِ الْحَجَّاجِ بْنِ حَسَّانَ، قَالَ: [۲] دَخَلْنَا عَلَى أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - [۳] فَحَدَّثَتْنِي أُخْتِي الْمُغِيرَةُ، [۴] قَالَتْ: وَأَنْتَ يَوْمَئِذٍ غُلَامٌ، وَلَكَ قَرْنَانِ، أَوْ قُصَّتَانِ، [۵] فَمَسَحَ رَأْسَكَ، وَبَرَّكَ عَلَيْكَ، وَقَالَ: " [۶] احْلِقُوا هَذَيْنِ أَوْ قُصُّوهُمَا، فَإِنَّ هَذَا زِيُّ الْيَهُودِ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت حجاج ابن حسان وایي [۲] چې یوه ورځ مونږ خلق (یعنې زه او زما د کور څه افراد) د حضرت انس ابن مالك رضی الله عنه په خدمت کې حاضر شو. [۳] د هغې ورځې واقعه ماته زما خور بیان کړه، چې د هغې نوم مغیره دي (یعنې هغه وخت زه وړوکي وم. او ماته هغه ورځ د حضرت انس رضی الله عنه په خدمت کې حاضریدل خو په یاد دي. لیکن د هغه حاضري کیفیت او هلته چې کوم احوال پیښ شو. د هغې تفصیل ماته یاد نه دي) [۴] نو زما خور ماته اووئیل چې ته په هغه ورځو کې ماشوم وي. او ستا په سر دوه وودل شوی زلفې وي یا وی وئیل چې قصتان (د تندی دواړه طرف ته) ویښتان وو. [۵] حضرت انس رضی الله عنه ستا

(۱) اخرجه مالک فی الموطا رقم الحدیث ۶ من کتاب الشعر
(۲) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الترجل /باب ما جاء فی الرخصة (رقم-۴۱۹۷)

په سر لاس راتیر کړو، او ستا په حق کې یې د برکت دعا وکړه، او وي فرمایل[۶] چې یا دا دواړه وخروئ، یا یې کټ کړئ، ځکه چې دا د یهودیانو وضع ده، (ابوداؤد)

حل اللغات: ① قَرْنَانِ: دوه وودلې شوې زلفې، دوه کمسۍ، ② قُصَّتَانِ: دَ تندی دواړو طرفو ته د وېښتو غونچې ③زِيُّ الْيَهُوْدِ: د یهودیانو طریقه او وضع

تسهیلات:

قوله: اِحْلِقُوا هٰذَيْنِ أَوْقُصُّوهُمَا؛ فَإِنَّ هٰذَا زِيُّ الْيَهُوْدِ

دحدیث پس منظر: حجاج بن حسان دَخپل وروکوالی قصه بیانوی چه مونږ تول حضرت انس ﷛ کره داخل شو هلته څه اوشو دهغې قصه ما ته خپلې خور اوکړه ځکه چه زه وړوکې ووم داخلیدل راته یاد وو لیکن دَنورو احوالو علم راته نه وو هغه زما خور بیان کړل خورمې اوونیل چه ته هغه وخت وړوکې وې ستاپه سرکښې دَ وېښتو دوه تړلې شوې کمسې وې یا دوه غونچې وې دا شك دَ راوی دې

[۴۴۸۵] د ښځې د سر خریلو حرمت

۴۴۸۵–[۶۵] ()[۱] وَعَنْ عَلِيٍّ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲]«نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنْ تَحْلِقَ الْمَرْأَةُ رَأْسَهَا». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت علي (رض) فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ د دې نه منع فرمايلي ده چې ښځه خپل سر وخروی. (نسائي)

تسهیلات:

قوله: أَنْ تَحْلِقَ الْمَرْأَةُ رَأْسَهَا:

ښځو دپاره د سر د خریلو حرمت: دَ ښځې دَپاره دَ سر دَ وېښتو هم هغه حیثیت دې کوم چه دَ سړودپاره دَ ږیرې دې لکه څنګه چه دَسړو ږیره خرول حرام دی دَ ښځودَپاره دَ سر وېښته خرول حرام دی

د ښځو ږیرې راوتل: حکیم الامت حضرت تهانوی ﷫ لیکلی دی چه په یورپ کښې ښځو سر خرول شروع کړه ډاکټرانو ورسره هم موافقت اوکړو څه موده پس دَدغه ښځو ږیرې راوتل شروع شو بیا ډاکټرانو اوونیل غلطی اوشوه چه دَ فطرت خلاف مو فیصله اوکړه چونکه دَښځود بدن دَ پوره قوت غریزی زور دَ سر په وېښتو باندې پریوځی په کوم سره چه وېښته اوږدیږی اوحرارت خارجیږی نوچه کله ښځود سر وېښته پرې کړل نو بدنی حرارت دمخ طرف ته متوجه شو نوږیرې ئې راؤوتلې

---

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الحج عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی کراهیة الحلق للنساء (رقم-۹۱۴)والنسائی فی کتاب الزینة/باب النهی عن حلق المرأة رأسها (رقم-۵۰۴۹)

[۴۴۸۶] د سر او ږيري د ويښتانو د صفائی خيال ساتل

۴۴۸۶–[۶۶] (¹) [۱] وَعَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي الْمَسْجِدِ، [۳] فَدَخَلَ رَجُلٌ ثَائِرُ الرَّأْسِ وَاللِّحْيَةِ، [۴] فَأَشَارَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِيَدِهِ، [۵] كَأَنَّهُ يَأْمُرُهُ بِإِصْلَاحِ شَعْرِهِ وَلِحْيَتِهِ، [۶] فَفَعَلَ، ثُمَّ رَجَعَ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۷] "أَلَيْسَ هَذَا خَيْرًا مِنْ أَنْ يَأْتِيَ أَحَدُكُمْ [۸] وَهُوَ ثَائِرُ الرَّأْسِ كَأَنَّهُ شَيْطَانٌ» ". رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت عطاء ابن يسار رضی الله عنه وايي [۲] چې يوه ورځ رسول الله ﷺ په مسجد نبوي کې تشريف فرما وو، [۳] يو داسې سړي راغې چې د هغه د سر او ږيري ويښتان ګډوډ او نختي وو، [۴] رسول الله ﷺ د هغه په ليدو سره د هغه سر او ږيري طرف ته په خپل لاس مبارك سره په داسې انداز سره اشاره وکړله، [۵] لکه چې هغه ته دا حکم ورکوي، چې هغه دي د خپل سر او ږيري ويښتان درست کړي، [۶] نو هغه سړي د خپل سر او ږيري ويښتان درست کړل، بيا واپس راغې ، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل [۷] چې آيا دا د دې نه ښه نه ده چې په تاسو کې يو سړي په داسې حالت کې راشي، [۸] چې د هغه د سر ويښتان ںبر وي، او هغه داسې ښکاري لکه چې شيطان وي، [يعنی هغه خپل شکل او صورت داسې جوړ کړي وي، لکه جنّ (پيري) چې ويښتان يي تس نس وي، او په بد هيئت او شکل وصورت کې وي] ، (مالك)

حل اللغات: (۱) ثَائِرُ الرَّأْسِ: خواره واره ويښته، ببر سر.

تسهیلات:

نوټ: د حديث مفهوم آسان دې څه مشکل په کښې نشته.

[۴۴۸۷] د کورآ نګړ (صحن) د صفا ساتلو حکم

۴۴۸۷–[۶۷] (²) [۱] وَعَنِ ابْنِ الْمُسَيَّبِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - سَمِعَ يَقُولُ: [۲] " «إِنَّ اللَّهَ طَيِّبٌ يُحِبُّ الطِّيبَ، [۳] نَظِيفٌ يُحِبُّ النَّظَافَةَ، [۴] كَرِيمٌ يُحِبُّ الْكَرَمَ، [۵] جَوَادٌ يُحِبُّ الْجُودَ، [۶] فَنَظِّفُوا - أُرَاهُ قَالَ - أَفْنِيَتَكُمْ، [۷] وَلَا تَشَبَّهُوا بِالْيَهُودِ» ". [۸] قَالَ: فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِمُهَاجِرِ بْنِ مِسْمَارٍ، [۹] فَقَالَ: حَدَّثَنِيهِ عَامِرُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِثْلَهُ، [۱۰] إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: "نَظِّفُوا أَفْنِيَتَكُمْ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او د حضرت ابن مسيب (تابعي رحمه الله) نه روايت دي، د هغه نه دا واوريدل شو چه [۲] الله تعالی پاك دي، پاکي خوښوي، [۳] الله تعالی ډير پاکيزه دي، پاکيزګی خوښوي، [۴] الله تعالی د کرم والا دي، کرم خوښوي، [۵] الله تعالی ډير سخي او ورکونکي دي، سخاوت او ورکړه خوښوي، [۶] نو تاسو د صفائي خيال ساتئ [حضرت ابن مسيب رحمه الله شاګرد] راوي

¹) اخرجه مالک فی الموطا کتاب الشعر باب إصلاح الشعر (رقم-۷)
²) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الأدب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی النظافة (رقم-۲۷۹۹)

وايي زما گمان دي ابن مسيب رحمه الله دا هم ويلي وو چې خپل (د كور) انگړونه (صحنونه) پاكوئ ايعنى هغه د فَنَظِّفُوا نه پس، أفنيتكم لفظ هم ويلي وو. گويا په دي خاي كې پوره جمله داسې ده چې تاسو خپل انگړونه صفا او پاكيزه ساتئ[۷] او د يهوديانو مشابهت مه اختياروئ (چې د خپل كور صحن او آنگړ د خخلو نه ناپاك او گنده ساتئ)[۸] راوي وايي چې ما د حضرت ابن مسيب رحمه الله دا قول د حضرت مهاجر ابن مسمار تابعي رحمه الله په مخكې ذكر كړو، [۹] نو هغه وفرمايل چې ماته حضرت عامر ابن سعد تابعي رحمه الله او هغه د خپل پلار حضرت سعد ابن ابي وقاص صحابي رضي الله عنه نه او هغه د نبي كريم صلى الله عليه وسلم نه دغه شان حديث نقل كړي دي. [۱۰] ليكن مهاجر رحمه الله چې كوم حديث نقل كړو په هغې كې يې دا نقل كړو، چې تاسو د خپلو كورونو صحن صفا او پاكيزه ساتئ، يعنى د هغه په روايت كې د أَفْنِيَتَكُم لفظ صريحًا ذكر دي، او د ابن مسيب رحمه الله په روايت كې دا لفظ د گمان په درجې كې نقل شوي دي.

حل اللغات: ①طَيِّبٌ: پاک، ②نَظِيفٌ: پاكيزه، ③كَرِيمٌ: كرم كونكې، مهربان. ④جَوَادٌ: سخاوت كونكې، ⑤أَفْنِيَتَكُمْ: دكور صحن يا دَ كورمخې ته گيرچاپيره اطراف.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ اللهَ طَيِّبٌ:

په طهارت، طيب اونظافت كښې فرق: ظاهرى پاكى ته طهارت او باطنى پاكى ته طيب او ظاهرى وباطنى دواړو پاكو ته نظافت وئيل كيږى

مطلب دا دي چه الله تعالى د بنده ظاهرى او باطنى دواړه پاكئ خوښوي نو بنده له پكار دي چه جسم، روح، نفس، لباس، بدن، اخلاق هر خيز پاک او صاف وساتى او عقائد، اقوال، افعال، اخلاق، احوال درست وساتى اودكوم انسان اخلاق چه ښه وى نوهغه كريم وى.

قوله: لَاتَشَبَّهُوا بِالْيَهُودِ:

د يهودو سره د مشابهت علت: يعنى طهارت او صفائى د اهتمام نه كولو په وجه د يهوديانو سره مشابهت مه كوئ (مطلب دا دي چه يهوديانو به د طهارت او صفائى خيال نه ساتلو)

قوله: نَظِّفُوا أَفْنِيَتَكُمْ:

د كورنو د صفائي حكم: د كورونو د صحنونو لره د صفا ساتلو حكم په اصل كښې د كرم او سخا نه كنايه ده چه خپل خان كښې د ميلمستياصفات پيدا كړئ او د كور صفائى ددي وصف د تكميل بهترينه ذريعه ده، ددي وجې د كور د صاف ساتلو حكم كړې دي.

[۴۳۸۸] د بريتو د كمولو مسنونيت

۴۳۸۸-[۶۸] ()[۱] وَعَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، أَنَّهُ سَمِعَ سَعِيدَ بْنَ الْمُسَيَّبِ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- يَقُولُ: [۲] كَانَ إِبْرَاهِيمُ -خَلِيلُ الرَّحْمٰنِ- أَوَّلَ النَّاسِ ضَيَّفَ الضيف، [۳] وَأَوَّلَ النَّاسِ اخْتَتَنَ، [۴] وَأَوَّلَ النَّاسِ قَصَّ شَارِبَهُ، [۵] وَأَوَّلَ النَّاسِ رَأَى الشَّيْبَ، [۶] فَقَالَ: يَارَبِّ: مَا هٰذَا؟ [۷] قَالَ الرَّبُّ -تَبَارَكَ وَتَعَالَى-: وَقَارٌ يَا إِبْرَاهِيمُ. [۸] قَالَ: رَبِّ زِدْنِي وَقَارًا. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: [۱] او د يحيى ابن سعيد رحمه الله نه روايت دي چې هغه د حضرت سعيد بن مسيب رحمه الله نه دا واوريدل [۲] چې حضرت ابراهيم عليه السلام چې د رحمن (الله) دوست وو، د ټولو نه مخكښي انسان دي چې د ميلمه د مهمان نوازي ابتداء يي وكړله، [۳] او د ټولو نه مخكښي انسان دي چې ختنه (سنت) يي وكړه، [۴] او د ټولو نه مخكښي انسان دي چې بريت يي وتراشل (كم كړه) [۵] او د ټولو نه مخكښي انسان دي چې زوړ شو يعنى سپين وېښتان يي وليدل، [۶] [هر كله چې خپل وېښتان يي سپين وليدل] نو عرض يي وكړو چې اي زما پروردګاره! دا څه دي؟ [۷] د پروردګار جواب راغې اي ابراهيمه! دا وقار دي، [يعنى دا د هغه زوړتوب علامت دى، چې په علم ودانش كې د اضافي باعث او د عزت او وقار ذريعه ده، او په دي وجه انسان د لهو ولعب د مشغوليت او د ګناهونو د ارتكاب نه منع وي] ، [۸] نو حضرت ابراهيم عليه السلام عرض وكړو چې اي پروردګاره! دا خو ډير لوي نعمت دي، زما په وقار كې اضافه وكړې. (مالك)

حل اللغات: ① ضَيَّفَ: ميلمستيا او مهمان نوازى ئې كړې ده، ② اخْتَتَنَ: ختنه يعنى سنت ئې كړې دي، ③ وَقَارٌ: عزت، شرافت.

تسهيلات:

قوله: أَوَّلَ النَّاسِ ضَيَّفَ:

څلور اوائلِ ابراهيمى: دا ټول اوائل دَ ابراهيم عليه السلام دى يعنى دَ ټولونه اول هغوى په دې عمل كړې دي يوڅو اوائل ابراهيمى دادى.

أَوَّلَ النَّاسِ ضَيَّفَ، وَأَوَّلَ النَّاسِ اخْتَتَنَ، وَأَوَّلَ النَّاسِ قَصَّ شَارِبَهُ، وَأَوَّلَ النَّاسِ رَأَى الشَّيْبَ

① ميلمستيا وركول ② ختنه كول

③ بريتان كمول ④ سپين وېخته راختل

نور اوائلِ ابراهيمي عليه السلام:

① دَ نامه لاندې وېښته په چاړه پرې كول ② پاجامه اغوستل

③ نوكونه پرې كول ④ سر كښې لار ويستل

() اخرجه مالک في الموطا كتاب صفة النبي صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء في السنة في الفطرة (رقم-۴)

⑤ دَ نکریزو اودَ وسمې لګول
⑥ په منبرباندې خطبه ورکول
⑦ خلقو سره غاړه ملاوول
⑧ ثرید تیارول اوبه خلقو خوړل
⑨ دَالله تعالی په لارکښې جهادکول
⑩ لښکربه پنځو حصوکښې تقسیمول
⑪ دَحج دَاحکامو طریقې خودل
⑫ دَ ږیرې سپینډل
⑬ دَ بیت الله بنیاد کیخودل

[۴] بَابُ التَّصَاوِيرِ

د تصویرانو بیان

خلاصة الباب:

فيه خمسة وعشرون حديثاً مشتملة على خمسة مسائل:

① عدم دخول الملائكة البيت لوجود الكلب والتصاوير: ۱، ۲، ۴، ۱۳، ۲۵.
② محو النبي ﷺ التصاوير كراهةً لها: ۴، ۵، ۱۳.
③ المنع عن اتخاذ الستور فيها تماثيل: ۵، ۶، ۱۳.
④ الزجر والتعذيب بإتخاذ الصور: ۴، ۷، ۸، ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۴، ۱۹، ۲۰، ۲۱.
⑤ الزجر بلعب النرد واللعب بالطيور: ۱۲، ۱۵، ۱۶، ۱۷، ۱۸، ۲۲، ۲۳، ۲۴.

دتصویر لغوی معنی: تصاویر دَ تصویرجمع ده دَیوڅیزصورت جوړولوته تصویروائی

د تصویر صورتونه: ① کله تصویردَمجسمې په صورت کښې وی
② کله تصویربه لاس سره توړلو اوتراشلو په صورت کښې وی
③ کله دَ کیمرې او مشین یا شعاګانوبه صورت کښې وی

د تصویردوه قسمونه اودهریوحکم:

د حکم په اعتبار سره د تصویر دوه قسمونه:

① د ذی روح څیزونو تصویرونه جوړول حرام دی
② د غیرذی روح څیزونو تصویرونه جوړول جائز دی

په مذکوره باب کښې د ذی روح څیزونود تصویرانو بیان: په دې باب کښې چه دَ کومو تصویرونو بیان دې دهغې نه دَ ژوندو څیزونو تصویرونه مراددی ځکه چه شریعت دَ جائز اوناجائز نه بحث کوی اوناجائزتصویرونه هم هغه دی کوم چه دَ ژوندو څیزونوی د غیرجاندار څیزونو تصویرونه په اسلام کښې منع نه دی

د ذی روح څیزونود تصویرد حرمت دوه وجوهات: ① دَحرمت یوه وجه خو دا ده چه دَ ساه والا په تصویر کښې دَالله تعالی دَتخلیق سره مشابهت دې
② دویمه وجه داده چه دَ تصویرونو په لار همیشه شرک راغلې دې او بیابه هم راځی

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۴۳۸۹] د تصوير د جوړولو او ساتلو مسئله

۴۳۸۹–[۱] (۱)① عَنْ أَبِي طَلْحَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② " «لَا تَدْخُلُ الْمَلَائِكَةُ بَيْتًا فِيهِ كَلْبٌ، وَلَا تَصَاوِيرُ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① حضرت ابوطلحه رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل② فرشتي په هغه كور كې نه داخليږي چې په هغې كې تصوير وي. او نه په هغه كې كوركي داخليږي چې په هغې كې سپي وي. (بخاري، مسلم)

د حضرت ابوطلحه زيد مختصر تعارف: نوم: زيد،، كنيت: ابوطلحه، دخاندان نجار شاخ عمروبن سره ئې تعلق لرلو، دپلار نوم: سهل بن الاسود وو، دمور نوم: عباده د جاهليت زمانه كښې دعامو عربو پشان بت پرست او شرابى وو. (۲)

اسلام تقريبا دشلو كالو عمر كښې اسلام كښې داخل شو او واقعه داشان چه دۀ حضرت ام سليم ته د نكاح پيغام اوليږلو خو هغې ورته دا شرط كيخودوچه ته به اسلام قبلوې. اوددې اثر داشو چه ددۀ په زړه د اسلام حقيقت پيدا شو او مسلمان شو.

غزوات: دوى به هميشه حضور نبى اكرم ﷺ سره غزوات كښې شريک وو او هر جنګ كښې به ئې ښه بهادرى اوخودله، اوهم داصحابى وو چه دۀ حضور نبى اكرم ﷺ دپاره قبر كنيستې وو. د حضور نبى اكرم د محبت په وجه د حضور نبى اكرم دوصال نه پس د حضور نبى اكرم ﷺ خانې ئې خالى ليدل برداشت نه كړې شول اوپه دې وجه شام ته ئې تشريف يوړو، او چه كله به پريشانه شو نو بيا راغلو اود قبرمبارک زيارت به ئې اوكړو، او حضرت عمرفاروق رضي الله عنه د امارت معامله حل كولو دپاره يو شپږ تنيزه ډله ټاكلې وه چه په هغې كښې حضرت ابوطلحه رضي الله عنه هم وو.

وفات: ددوى سن وفات كښې اختلاف دې. څينو ۳۱ هجرى اوځينو ۳۲ هجرى خودلې ده، اوځينو خو لا ۵۱ هجرى وئيلې ده. او دا زيات صحيح دى

مرويات: ددوى نه دوه نوى (۹۲) روايات مروى دى

دنورو معلوماتو دپاره اوګورئى ① تهذيب التهذيب ② الاصابة ③ تذكرة الحفاظ ④ بخارى كتاب المغازى وغيره

---

[۱]) اخرجه البخارى فى كتاب اللباس/باب التصاوير (رقم-۵۹۴۹) ومسلم فى كتاب الأشربة/باب لا تدخل الملائكة بيتا فيه كلب ولا صورة (رقم-۸۳ - (۲۱۰۶) والترمذى فى كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء أن الملائكة لا تدخل بيتا فيه صورة ولا كلب (رقم-۲۸۰۴)والنسائى فى كتاب الزينة/باب التصاوير (رقم-۵۳۴۷) وابن ماجه فى كتاب اللباس، باب الصور فى البيت (رقم-۳۶۴۹)

تسهيلات:

قوله الْمَلَائِكَةُ:

د الملائکة څخه مراد: دې نه مراد دَ رحمت فرښتې دی چه کورنوته راځی اودعاګانې کوی اودَ الله تعالی دَ رحمت سبب جوړیږی په کوم سره چه په کورونوکښې برکتونه راځی دَ ملائکه نه دلته هغه فرښتې مرادنه دی کومې چه دَ انسان په حفاظت باندې ماموردی یا دَ عمل نامې په لیکلوباندې ماموردی یا دَروح قبض کونکې فرښتې دی هغه خو په هرحال کښې راځی

قوله: كَلْبٌ:

د کلب څخه په مراد کښې دوه اقوال: ① دې نه مراد شوقیه سپی دی شریعت چه دکومو سپو په کورنوکښې دَ ساتلو اجازت ورکړې دې هغه سپی مراد نه دی مثلاً دَ کور دَ حفاظت سپې یاښکاری سپې یادَرمې اودَ پټی دَحفاظت سپې داسې سپی دلته مرادنه دی ② دَ بعضې حضراتو خیال دې چه په حدیث کښې کوم حکم دې په دې کښې عموم دې چه په کورکښې مطلق سپې ساتل منع دی که هغه شوقیه وی اوکه دَ ضرورت وی په دواړو صورتونوکښې دَ رحمت فرښتې کورته نه راځی (کذاقال النووی)خودا قول شاذ دې

قوله: وَلَا تَصَاوِيرُ:

د مذکوره جملې نحوی ترکیب: داعطف دې دکلب په لفظ باندې اوچونکه دکلب جمله دَ نفی ماتحت ده نودَ لاتصاویر عطف اعادې دَ عامل سره صحیح شوه اصل عبارت داسې شو "لاتدخل الملائکة بیتا فیه کلب ولا تدخل الملائکة بیتا فیه تصاویر" ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی "واعادة لا کإعادة الفعل" یعنی په لاتصاویر کښې دَ لا اعاده داسې ده لکه چه "لاتدخل الملائکة" کښې دَ فعل اعاده اوشوه "فليتدبر فإنه دقيق". لکه چه دَدې حدیث مطلب اودَ مسنداحمد اودَ ترمذی دَ حدیث مطلب هم یودې دَهغې عبارت داسې دې "إن الملائكة لاتدخل بيتا فيه تماثيل أوصورة"

په کورکښې د ذی روح څیزونو د ساتلو حرمت: دَحدیث تعلیم دادې چه دَ ساه والاتصویر جوړول اوپه کورکښې ساتل حرام دی اودا ګناه کبیره ده که دا تصویر په کپړا باندې جوړشوې وی یا په نقود او نوټونو او سکو باندې جوړشوې وی دا خو دَ جوړولو او ویستلو خبره ده باقی چه په کورکښې دَ ساتلو دَ کومې پورې تعلق دې نوکه دَ اعزاز اواحترام په توګه دَ کور په دیوالونو باندې وی یا په پټکی او څادرباندې وی یا په کوټ اوبنیان باندې وی دا ټول حرام دی اوچه کوم تصویرونه معزز اومکرم نه وی بلکه مُهان اوپه پښو باندې پامال کولی شی لکه لاندې خورشوی فرش باندې وی یا په تکیه باندې وی اودَ دې تذلیل کیږی نودا په داسې طریقه باندې په کورکښې کیښودل حرام نه دی

په اخبارونو کښې د تصويرانو حکم: په دې تفصيل سره داخبره په پوهه کښې راځي چه داخباراتو تصاوير کوم چه داهانت په توګه په زمکه باندې پراته وي کيدې شي د دې حرمت به دومره سخت نه وي دماهر علماؤ طرف ته رجوع کول ضروري دي والله اعلم

په نوټونو باندې د تصويرانو حرمت: زمونږ دملک په سرکاري اداروکښې د اعزاز په توګه د باني پاکستان محمدعلي جناح تصويرونه زوړندول حرام دي په دې دفترونوکښې به د رحمت فرښتې نه راځي په نوټونو باندې چه کوم تصويرونه دي دا د ايوب خان دزمانې نه شروع شوی وو د دې ګناه په حکومت باندې ده ځکه چه عام خلق د اعزاز په توګه دا نه ساتي مجبوري ده

[٤٤٩٠]د غيرضروري سپي د وژلو حکم

٤٤٩٠—[٢] ()① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا-عَنْ مَيْمُونَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا: ②«أَنَّ رَسُولَ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-أَصْبَحَ يَوْمًا وَاجِمًا، ③وَقَالَ: "إِنَّ جِبْرَائِيلَ كَانَ وَعَدَنِي أَنْ يَلْقَانِي اللَّيْلَةَ، فَلَمْ يَلْقَنِي، ④أَمَ وَاللهِ مَا أَخْلَفَنِي". ⑤ثُمَّ وَقَعَ فِي نَفْسِهِ جِرْوُ كَلْبٍ تَحْتَ فُسْطَاطٍ لَهُ، ⑥ فَأَمَرَ بِهِ، فَأُخْرِجَ، ⑦ ثُمَّ أَخَذَ بِيَدِهِ مَاءً، فَنَضَحَ مَكَانَهُ، ⑧فَلَمَّا أَمْسَى لَقِيَهُ جِبْرِيلُ.

ترجمه: ① او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د أم المؤمنين بي بي ميموني رضي الله عنها نه نقل کوي ② چې يوه ورځ د سحر په وخت کې رسول الله ﷺ ډير غمجن په نظر راغې، ③ او [د هغه غمجنۍ سبب بيانولو سره بي بي ميموني رضي الله عنها يا بلي بي بي مبارکي ته يا خپل په زړه کې يا د اظهار تعجب او حيرت په طور د خپل ځان سره] حضور ﷺ وفرمايل چې حضرت جبرائيل عليه السلام نن شپه زما سره د راتلو وعده کړې وه، ليکن ماته را نغلې، ④ قسم په خداي د دې نه مخکې داسې هيڅ کله نه دي شوي چې هغه وعده خلافي کړي وي. ⑤ بيا ناڅاپه د حضور ﷺ په ذهن کې د سپي هغه بچي (کوترې) په خيال کې راغې چې د حضور ﷺ د خيمې (يعني يو تخت يا ټاټ وغيره) لاندې پروت وو، انو حضور ﷺ پوهه شو چې حضرت جبرائيل عليه السلام د دې کوترې په وجه ماته رانغلې! ⑥ نو حضور ﷺ د هغه کوترې د ويستلو حکم وکړو هر کله چې هغه کوترې وويستل شو. ⑦ نو حضور ﷺ په خپلو لاسونو کې اوبه واخستې. اوبه هغه ځاي يې اوبه وشيندلې په کوم ځاي چې په هغه کوترې ناست وو. ⑧ بيا چې ماښام شو نو حضرت جبرائيل عليه السلام راغې.

حل اللغات: ①وَاجِمًا: غمجن. خفه. ②أَمَ وَاللهِ: قسم په خدائې. ③مَا أَخْلَفَنِي: وعده خلافي نې راسره نه ده کړې. ④جِرْوُ كَلْبٍ: د سپې وړوکی بچی ته جرو وائی يعنی کُوترې ⑤فُسْطَاطٍ: خيمه، ليکن دلته ترې کټ يا تخت مراد دي ⑥فَنَضَحَ: نو وانې رولې.

() اخرجه مسلم في كتاب الأشربة /باب لا تدخل الملائكة بيتا فيه كلب ولا صورة (رقم-٨٢ - (٢١٠٥) وابوداود في السنن رقم الحديث ٤١٥٧

[۱] فَقَالَ: "لَقَدْ كُنْتَ وَعَدْتَنِي أَنْ تَلْقَانِي الْبَارِحَةَ". [۲] قَالَ: أَجَلْ، وَلَكِنَّا لَا نَدْخُلُ بَيْتًا فِيهِ كَلْبٌ وَلَا صُورَةٌ، [۳] فَأَصْبَحَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَوْمَئِذٍ، فَأَمَرَ بِقَتْلِ الْكِلَابِ [۴] حَتَّى إِنَّهُ يَأْمُرُ بِقَتْلِ كَلْبِ الْحَائِطِ الصَّغِيرِ، [۵] وَيَتْرُكُ كَلْبَ الْحَائِطِ الْكَبِيرِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] حضور ﷺ خني پوښتنه وکړه چې تیره شپه دي زما سره د ملاقات وعده کړي وه او را نغلي؟ [۲] حضرت جبرائیل علیه السلام ورته وفرمايل چې هو، ليکن مونږ په هغه کور کې نه داخليږو چيرته چې سپي يا تصوير وي، [۳] د دې نه پس په دويمه ورځ حضور ﷺ په سحر کې د سپو د وژلو حکم وکړو [۴] تر دې چې د کوشني باغونو د سپو د وژلو يې هم حکم وکړو [۵] او د لوئ لوئ باغاتو د سپيو د پريخودلوحکم يې وکړو (ځکه چې په هغه باغونو کې د حفاظت د پاره د سپو ساتل ضروري وو) (مسلم)

حل اللغات: ⑥ الْبَارِحَةَ: تيره شپه، ⑧ أَجَلْ: آو، ⑨ الْحَائِطِ: لوئي باغ.

تسهيلات:

قوله: فَأَمَرَ بِقَتْلِ الْكِلَابِ:

د سپو د وژلو حکم زمانه: دَعربويه معاشره کښې هم دَ شوقيه سپو دَ ساتلو رواج وو لکه څنګه چه په نوره دنيا کښې وو. دَ اسلام په شروع کښې رسول الله ﷺ دَسپودَ وژلو مطلقاً حکم ورکړي وو کله چه دَ خلقو په زړونوکښې دَ سپو نه نفرت پيدا شو نوبيا نبی کريم دَ ضرورت دَ وجې نه دَ يوځوقسمه سپو دَ ساتلو اجازت ورکړو. په زيربحث حديث کښې هم هغه دَ شروع دَ وخت نقشه ده چه نبی کريم دَعامو سپو دَ وژلو حکم ورکړي وو

اودا خبره ده چه دَ لوئی باغ دَ حفاظت کونکی سپی دَ ضرورت دَ وجې نه ئی اجازت ورکړي وو. داهم دويمه مرحله وه ګنی دَدې نه وړاندې خودَ يوسپی دَ ساتلو اجازت نه وو

په عصرِ حاضر کښې د سپوسره جنسی تعلقات ساتل: دَسپو دَمفاسدو نن صبا اندازه لګيدې شی په مغرب او يورپ کښې په اکثروکورونوکښې ښځې سپی دَ خاوند په درجه کښې ساتی اودهغې نه دَ خاوندکار اخلي. اوس يوځومياشتې وړاندې په هندوستان کښې يوې ښځې ښه په ښکاره توګه سپی سره واده اوکړو اونکاح ئی اوکړه

[۴۳۹] د صليبی اوتصويری ځيزونو ماتول

۴۳۹-[۳] (¹) [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لَمْ يَكُنْ يَتْرُكُ فِي بَيْتِهِ شَيْئًا [۳] فِيهِ تَصَالِيبُ إِلَّا نَقَضَهُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه رضي الله عنها فرمائي [۲] چې رسول الله ﷺ به په خپل کور کې داسې شې نه پريخودو، [۳] چې په هغې کې به دصليب نشان ياتصوير وو، مګر حضور ﷺ به هغه

(¹) اخرجه البخاری فی کتاب اللباس/باب نقض الصور (رقم-۵۹۵۲) وابوداود فی السنن رقم الحديث ۴۱۵۱

ماتولو (بخاري)

حل اللغات: ① تَصَالِيبُ: دَدې مفرد تصليب دې، دَ صليب تصوير جوړول. ليکن دلته مطلق دَ ساه والاتصوير مراد دې ② نَقَضَهُ: ماتولو به ئې

تسهيلات:

قوله: لَمْ يَكُنْ يَتْرُكُ فِي بَيْتِهِ شَيْئًا فِيهِ تَصَالِيبُ إِلَّا نَقَضَهُ

د تصاليب څخه مراد: دَ صليب تصوير جوړول دی کوم چه دَ عيسايانو مقدس علامت دې ليکن دلته دَ تصاليب نه مراد مطلق دَ ساه والاتصويردې کوم چه منع دې نبی کريم که به چرته داسې تصوير ليدلو نوفوری به ئې ماتولو

[۴۳۳] د قيامت په ورځ د تصوير د جوړونکی عذاب

۴۳۳-[۳] (١) ① «وَعَنْهَا، ② أَنَّهَا اشْتَرَتْ نُمْرُقَةً فِيهَا تَصَاوِيرُ، ③ فَلَمَّا رَآهَا رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَامَ عَلَى الْبَابِ، فَلَمْ يَدْخُلْ، ④ فَعَرَفْتُ فِي وَجْهِهِ الْكَرَاهِيَةَ. ⑤ قَالَتْ: فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَتُوبُ إِلَى اللَّهِ وَإِلَى رَسُولِهِ، فَمَاذَا أَذْنَبْتُ؟ ⑥ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "مَا بَالُ هَذِهِ النُّمْرُقَةِ؟ ⑦ " قُلْتُ: اشْتَرَيْتُهَا لَكَ لِتَقْعُدَ عَلَيْهَا، وَتَوَسَّدَهَا!

ترجمه: ① او د بي بي عائشه رضي الله عنها نه روايت دې. ② هغې يو څل داسې تکيه واغستله، چې په هغې کی تصويرونه وو. ③ رسول الله ﷺ د بي بي عائشې رضي الله عنها په حجره کې د داخليدو په وخت چې هغه تکيه وليده، نو په دروازه کې ودريدلو، او حجرې ته دا خل نه شو. ④ بي بي عائشه رضي الله عنها د هغه تصوير داري تکيې په وجه د حضور ﷺ په مخ مبارك د ناګواری په اثراتو پوهه شوه. ⑤ بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي ما عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ زه دَ نافرماني پريخودلو سره د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ د رضا طرف ته متوجه کيږم، ما داسې څه ګناه کړي ده (چې تاسو زما حجرې ته نه داخليږئ)؟ ⑥ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل دا څرنګه تکيه ده؟ او تا د کوم ځاى نه راوړي ده؟ ⑦ بي بي عائشه رضي الله عنها وايي ما په جواب کې اوويل ما دا تکيه ستاسو ﷺ د پاره اخستی ده چې تاسو کله غواړئ په دې تکيه لګولو سره کينئ. او کله چې غواړئ د اوده کيدو په وخت د سرمبارك لاندې يې ايږدئ.

حل اللغات: ① الْكَرَاهِيَةَ: ناخوښی، خفګان. ② أَذْنَبْتُ: آيا ما څه ګناه کړي ده؟ ③ النُّمْرُقَةِ: وړه تکيه، بالخت. ④ تَوَسَّدَهَا: تاسو ورته دده اولګوئ.

① فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "إِنَّ أَصْحَابَ هَذِهِ الصُّوَرِ يُعَذَّبُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، ② وَيُقَالُ لَهُمْ: "أَحْيُوا مَا خَلَقْتُمْ". ③ وَقَالَ: "إِنَّ الْبَيْتَ الَّذِي فِيهِ الصُّورَةُ لَا تَدْخُلُهُ الْمَلَائِكَةُ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[1] اخرجه البخاري في كتاب اللباس/باب من لم يدخل بيتا فيه صورة (رقم-۵۹۶۱) ومسلم في كتاب الأشربة باب لا تدخل الملائكة بيتا فيه كلب ولا صورة (رقم-۹۶ - (۲۱۰۷) واحمد في المسند: ۲۴۶/۶

ترجمه: [۱] رسول الله ﷺ په دي اوريدو سره وفرمايل چي ياد لره ددي تصوير جوړونكو ته به د قيامت په ورځ عذاب وركول كيږي،[۲] او هغوئ ته به وئيل كيږي چې كوم تصويرونه تاسو جوړكړي دي، [په هغې كې ساه واچوئ، او] هغه ژوندي كړئ،[۳] او حضور ﷺ وفرمايل په كوم كور كې چې تصوير وي، په هغې كې فرشتي نه داخليږي (دغه شان د انبياؤ او اولياؤ د پاره هم دا مناسب نه دي چې هغه د تصوير والا كور كې داخل شي)

(بخاري ، مسلم)

حل اللغات: ⑤ الصُّوَرِ: تصويران، ⑥ أَحْيُوا: ژوندى ني كړئ، ساه پكښي واچوئ. ⑦ مَا خَلَقْتُمْ: كوم څه چه تاسو پيدا كړى دى.

تسهيلات:

قوله: أَنَّهَا اشْتَرَتْ نُمْرُقَةً فِيهَا تَصَاوِيرُ:

د نمرقة مصداق: علامه نووى رحمه الله ليكلى دى چه دبعضو علماؤ وينا ده چه دې نه پرده مراد ده [۱]. كه چرې پرده مراد واخستې شى نوبه احاديثو باندې به پوهيدل آسان شى اوداخبره خوثابته شوې ده چه كه تصويرونه دَ كيمرې مشين سره وى اوكه په لاس سره جوړشوې وى ټول ناجائزدى اوكه هغه دَ مجسمې په شكل كښې وى اوكه غيرمجسمې په شكل كښې وى گورئى دلته په پرده باندې چه كوم تصوير وو داخوځه مجسمې نه وې بلكه دنن صبا دَ كاغذ دَ پاڼرو او په كپړوباندې دَ تصويرونو په شان وو.

[۴۴۳] د زيب او زينت دپاره د پردې د زوړندولو حكم

۴۴۳-(۵) ()[۱] وَعَنْهَا [۲] «أَنَّهَا كَانَتِ اتَّخَذَتْ عَلَى سَهْوَةٍ لَهَا سِتْرًا فِيهِ تَمَاثِيلُ [۳] فَهَتَكَهُ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَاتَّخَذَتْ مِنْهُ نُمْرُقَتَيْنِ [۴] فَكَانَتَا فِي الْبَيْتِ، يَجْلِسُ عَلَيْهِمَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي[۲] چي يو ځل هغې په خپلى دونكاچي داسې پرده واچوله، چې په هغې كې تصويرونه وو،[۳] رسول الله ﷺ چې هغه پرده وليده، نو هغه يې كټ كړه. بي بي عائشه رضي الله عنها (د هغه كټ شوې پردې دا مصرف راويستلو چې) د هغې نه يې دوه تكيې جوړې كړې،[۴] هغه دواړه تكيې په كور كې پرتې وې. نبى عليه السلام په هغه دواړو به تكيه گانو كيناستلو (بخارى او مسلم)

حل اللغات: ① سَهْوَةٍ: دونكاچه، په كور كښې لوړ ځاني، ② سِتْرًا: پرده، ③ تَمَاثِيلُ: تصاوير، ④ فَهَتَكَهُ: نو اوني شلوله، ⑤ نُمْرُقَتَيْنِ: دوه بالختونه.

---

[۱]) اخرجه البخارى فى كتاب الإجارة/باب: هل تكسر الدنان التى فيها الخمر، أو تخرق الزقاق. فإن كسر صنما، أو صليبا، أو طنبورا، أو ما لا ينتفع بخشبه (رقم-۲۴۷۹) ومسلم فى كتاب الأشربة/باب لا تدخل الملائكة بيتا فيه كلب ولا صورا (رقم-۹۴ - (۲۱۰۷) والنسائى فى كتاب الزينة/باب التصاوير (رقم-۵۳۵۵)واحمد فى المسند:۱۰۳/۶

تسهیلات:

قوله: أَنَّهَا كَانَتِ اتَّخَذَتْ عَلَى سَهْوَةٍ لَهَا سِتْرًا فِيهِ تَمَاثِيلُ:

د سهوة په مصداق کښې دوه اقوال: ① په کور کښې دننه وړې شان دونکاچه او لوړخانی ته وائی یعنی دَ کیناستو هغه وړوکې شان خانی چرته چه ښځې خپل سامان ایږدی

② په دیوال کښې دننه هغه طاخ ته سهوة وائی کوم چه ښځې دَ خزانې او بکس اودَصندوق په توګه استعمالوی دکوم مخې ته چه پرده زوړنده وی.

قوله: فَهَتَكَهُ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-:

د پردې د شلولو دوه وجوهات: ① نبی کریم هغه پرده اوشلوله یوه وجه خو بې ځایه اسراف او آرائش او زیبائش وو

② دَ ساه والا ناجائز تصویرونه وو.

قوله: فَاتَّخَذَتْ مِنْهُ نُمْرُقَتَيْنِ:

تعارض: دې نه مخکښې هم دَ حضرت عائشه رضی الله عنها حدیث کښې دی چه نبی کریم په تکیه باندې دَ جوړشوی تصویرونودَ وجې نه کورته نه راتلو حالانکه دلته دَ تصویرونووالا دکپړې دوه تکیاګانې کورکښې دَ نبی کریم دَ استعمال دپاره کیخودې شوې وې داتعارض دې دَدې څه جواب دې؟

د تعارض دوه جواب: ① نبی کریم دَ بې ځایه آرائش اوزیبائش او بې ځایه اسراف دَ وجې نه پرده شلولې وه لکه څنګه چه په راتلونکی حدیث نمبر(۴۴۳) کښې تفصیل موجود دې په دې حدیث کښې په هغه پرده باندې دَ ساه والا څیز تصویر نه وو اګرچه په دې باندې دَ تماثیل اطلاق کړې شوې دې دا تاویل کمزورې شان دې دویم جواب کوم چې لیکی شی بنه دې.

② په زیربحث حدیث کښې "هتکه"لفظ راغلې دې چه نبی کریم دغه پرده اوشلوله په دې سره دَ تصویرونو حیثیت ختم شو لهذا تعارض پاتې نه شو

دَدې حدیث نه معلومه شوه چه دَ مجسمې نه علاوه په کپړا یا کاغذ باندې تصویر جوړول هم منع دی.

[۴۴۳]بلا ضرورته د نمائشی پردو حکم

۴۴۳-[۲] ()[۱] وَعَنْهَا [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - خَرَجَ فِي غَزَاةٍ [۳] فَأَخَذْتُ نَمَطًا فَسَتَرْتُهُ عَلَى الْبَابِ [۴] فَلَمَّا قَدِمَ فَرَأَى النَّمَطَ [۵] فَجَذَبَهُ حَتَّى هَتَكَهُ [۶] ثُمَّ قَالَ: " إِنَّ اللَّهَ لَمْ يَأْمُرْنَا أَنْ نَكْسُوَ الْحِجَارَةَ

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب اللباس/باب ما وطئ من التصاویر (رقم-۵۹۵۴) ومسلم فی کتاب الأشربة/باب لا تدخل الملائکة بیتا فیه کلب ولا صورة (رقم-۹۲ - (۲۱۰۷))وابوداود فی السنن رقم الحدیث ۴۱۵۳

وَالطِّينَ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي [۲] چې [يو ځل] رسول الله ﷺ د جهاد د پاره تشريف يوړلو، [۳] نو ما [د حضور ﷺ د تلو نه پس] يوه کپړه حاصله کړه، او د هغې پرده مې په دروازه خوړنده کړه، [۴] حضور ﷺ چې د جهاد نه واپس تشريف راوړو، او هغه پرده يې وليده، [۵] نو هغه يې رابنکلو سره کټ کړه، [۶] او وې فرمايل چې الله ﷻ مونږ ته د دې حکم نه دې راکړې چې مونږ دې خاورو او کانړو ته کپړې واغوندوو. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① نَمَطًا: قيمتي نرمه بستره، ② هَتَكَهُ: اوني شلوله، ③ أَنْ نَكْسُوَ: چه کپړې دې واغوستو، واچوو، ④ الطِّينَ: خاوره، ختّه.

تسهيلات:

قوله: فَرَأَى النَّمَطَ، فَجَذَبَهُ حَتَّى هَتَكَهُ:

د پردې شلولو دوه وجوهات: ① دا پرده غير ضروري آرائشي اوزيبائشي وه په دې وجه نبي کريم اوشلوله. دَ حديث آخرى الفاظ دَدې احتمال تائيد کوى ځکه چه نبي کريم دَ ناخوښئ وجه دا اوخودله چه مونږ الله تعالى دَدې پابندنه يوجوړکړى چه مونږ خاورو او کانړو ته کپړې واغوندو.

② يوښکلي قيمتى قسم نرمې بسترې ته وائى په کيجاوه باندې هم اچولې شى کيدې شى چه داد نمده نه معرب وى. رسول الله ﷺ دا په دې وجه اوشلوله چه په دې باندې دَ اس تصوير جوړشوې وو ګنى په دروازه باندې کپړا اچول اوپرده کول دَ نبي کريم دَ ارشاد تعميل وو.

[۳۴۹۵] د تصوير جوړونکى دپاره وعيد

۳۴۹۵-[۷] (١) [۱] وعنها عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] "«أَشَدُّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ الَّذِينَ [۳] يُضَاهُونَ بِخَلْقِ اللهِ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه رضي الله عنها د رسول الله ﷺ نه نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمايل [۲] د قيامت په ورځ به د ټولو نه زيات عذاب په هغوئ خلقو وي، [۳] چې په تخليق کې د الله ﷻ مشابهت اختيار وي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① يُضَاهُونَ: دَمضاهات نه دي دَمشابهت په معنى کښې دي. ② بِخَلْقِ اللهِ: په پيدا کولو د الله کښې.

(١) اخرجه البخارى فى كتاب تفسير القرآن/باب سورة اقرأ باسم ربك الذى خلق (رقم-٤٩٥٤) ومسلم فى كتاب الأشربة/باب لا تدخل الملائكة بيتا فيه كلب ولا صورة (رقم-٩٢ - ٢١٠٧) والنسائى فى كتاب الزينة/باب التصاوير (رقم-٥٣٥٦) واحمد فى المسند:٣٦/٦

تسهیلات:

قوله: أَشَدُّ النَّاسِ عَذَابًا:

د حکم په اعتبار سره د تصویر د جوړولو درې صورتونه: ① که تصویرکشی صرف دَ زیب زینت او شوق اوذوق په غرض سره وی نودا فسق اوفجور اومعصیت دې سرې به دکبیره ګناه مستحق جوړیږی. بیا داحدیث تشدید، تغلیظ اوتهدید اوتوبیخ باندې محمول وی هغه چا ښه وئیلی

② که چرې تصویر جوړونکې دَ شرك اودَ بتانودَ عبادت په غرض سره تصویر جوړوی نو دا خوکفردې په دې وجه به په قیامت کښې دهٔ ته دَ ټولونه زیات سخت عذاب ورکولې شی

③که دَ بت پرستئی په غرض سره نه وی بلکه دَ تخلیق خداوندی دَ مشابهت په غرض سره ئې جوړوی نوداهم کفردې په دې وجه به ډیر سخت عذاب ورکړې کیږی

دأَشَدُّ النَّاسِ عَذَابًا په مفهوم کښې دوه اقوال: ① ابن ملك رحمه الله فرمائی که چرې دَ مصور فعل هم دَدې عقیدې لاندې وی (چه هغه دَتخلیق خداوندی مشابهت کونکې وی) نوهغه کافرکیږی. په دې صورت کښې به دَ حدیث مطلب داشی چه په دې قبیح کفرباندې به دغه سړی ته دَ نورو کافرانو په نسبت زیات سخت عذاب کیږی. (په دې صورت کښې به دَ الناس نه مراد کافر وی اوکلام به په حقیقت باندې محمول وی)

② که چرې داسې عقیده نه لری نوبیا به دَدغه سړی په حق کښې داحدیث تغلیظ اوتهدید باندې محمول وی الخ (په دې صورت کښې به دَالناس نه مسلمانان مراد وی اوکلام به په زجر. توبیخ. تهدید اوتشدید باندې محمول کولې شی)

د بعضې تصویرونو د مذکوره وعید څخه استثناء: حال دَ تصویرنه دَ ساه والاتصویر مراد دې

① علماء فرمائی چه دَ حدیث دَدې سخت وعید نه هغه تصویرونه خارج دی چه دومره واړه اونری وی چه که هغه په زمکه باندې واچولې شی نوولاړ سړی ته هغه صفا نه ښکاری

② داسې تصویرونه وی کوم سره چه داسې اندامونه نه وی دکوم نه بغیرچه سړې ژوندې نه شی پاتې کیدې لکه چه نیم تصویر وی داسې تصویران دَ مجبورئی دَ وجې نه دَ حج عمرې یا شناختی کارډ وغیره دستاویزاتو دَپاره کیدې شی دابه حرام نه وی

③ داسې واړه تصویرونه اودغه شان هغه تصویرونه چه په توګه دَاکرام نه وی بلکه مُهان وی دَهغې په کورکښې کیخودوسره کیدې شی چه دا وعید نه وی. سره دَدې چه علماء په دې کښې هم احتیاط کوی.

قوله: يُضَاهُونَ:

تصویر جوړول د الله تعالی د تخلیق سره مشابهت: دَمضاهات نه دې کوم چه دَمشابهت په

معنى كنبي دي بعضو نسخوكنبي همزه هم ده هغه
هم يولغت دي صورت جوړول دَ الله تعالى كاردي اودَ الله تعالى صفت دي ﴿يُصَوِّرُكُمْ فِي الْأَرْحَامِ كَيْفَ يَشَاءُ﴾ [آل عمران: ۶] نوچه كوم كس تصوير جوړوي هغه په حقيقت كنبي خپل فعل دَ الله تعالى دَ فعل سره مشابه كولوسره پيش كوي كوم چه لويه گناه ده ددي حديث نه معلومه شوه چه دَ تصويرونو جوړولودممانعت يوه وجه دالله تعالى دَ تخليق سره مشابهت دي

[۴۴۹۶] دالله تعالى د صفت تخليق خپلولو وعيد

۴۴۹۶—[۸] (۱) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: "«قَالَ اللهُ تَعَالَى: وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ ذَهَبَ يَخْلُقُ كَخَلْقِي، فَلْيَخْلُقُوا ذَرَّةً، أَوْ لِيَخْلُقُوا حَبَّةً، أَوْ شَعِيرَةً»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چي ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل الله جل جلاله فرمايي د هغه سړي نه به زيات ظالم څوك وي چي زما د پيدا كولو په شان پيدا كړي. [يعنى څرنگه چي زه صورت جوړوم، هغسي هغه هم صورت جوړوي. اگر كه هغه په حقيقت كي د هغه مادي نه صورت نشي جوړولي. د كومي مادي نه چي د الله جل جلاله جوړ شوي صورتونه دي، بيا هم هغه څه صورت جوړوي او دا گمان كوي چي دا صورت ما جوړ كړي دي. كه تصوير او صورت جوړونكي واقعةً د تخليق دعوي كويا]. نو هغه خو دي د يوكشني ميږي قدر جوړكړي (ساه دي پكي واچوي) يا يوه دا نه خو دي پيدا كړي. يا يوه وربشه خو دي پيدا كولو سره وښايي (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① ذَرَّةً: واړه سره ميږى. ② لِيَخْلُقُوا: پيدا دي كړى. ③ حَبَّةً: دانه (د غنمو وغيره). ④ شَعِيرَةً: اوربشه

تسهيلات:

قوله: وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ ذَهَبَ يَخْلُقُ كَخَلْقِي:

په مصورباندي د اظلم اطلاق: يعنى په تصويرونو جوړولوسره كه دَ الله تعالى دَتخليق مشابهت اختيارول وى نوبياخو ښكاره ميدان ته راشه اويوميږي پيداكړه په هواكنبي الوتونكي يوه ذره پيداكړه يا دَ اوربشو يوه دانه پيداكړه په حديث كنبي دَامر صيغه دَ تعجيزدپاره ده بهرحال دَ ټولي دنيا بادشاهان اوعوام يوځاى كيدو سره يوچهتاكي خاوره نه شي پيداكولي دَ چرگانو چرگورو زره رانيكونكى تصويرانوكنبي مشابهت اختياروى

(۱) اخرجه البخارى فى كتاب تفسير القرآن/باب سورة اقرأ باسم ربك الذى خلق (رقم-۴۹۵۳) ومسلم فى كتاب الأشربة/باب لا تدخل الملائكة بيتا فيه كلب ولا صورة (رقم-۱۰۱ - (۲۱۱۱)) واحمد فى المسند:۲/۲۳۲

ليکن دَ پوره دنيا بادشاهان اوعوام يوځائی کيدوسره دَ چرګې يوه هګئی نه شی پيدا کولې. لړشان خودې يوه هګئی پيدا کولوسره اوبنائی که چرې نه شی کولې نوبيا دَ بل په تخليق کښې بې ځايه جوړتوړ ولې کوی؟ عاجزکيدوباوجود دَ قادر جوړيدو کوشش کول څومره لوئی ظلم دې.

[۴۴۹۷] مصورته دَ ټولو څخه د زيات عذاب

۴۴۹۷-[۹] ()① وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: ②سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: "«أَشَدُّ النَّاسِ عَذَابًا عِنْدَ اللّٰهِ الْمُصَوِّرُونَ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه وايي ② چې ما د رسول الله ﷺ نه دا واوريدل چې د الله تعالیٰ په نزد د سخت ترين عذاب مستوجب (مستحق) مصورين دي (بخاري، مسلم)

تسهيلات:

قوله: الْمُصَوِّرُونَ:

په مصوراونقاش کښې فرق: په اصطلاحي توګه دَ ساه والا تصوير جوړونکی ته مصور وائی دَ غيرساه والا تصوير جوړونکی ته نقاش وائی دلته دَ ساه والا تصوير مراد دې

نوټ: حديث اوتيرشوی حديث نمبر (۴۴۹۶) توضيح اوتشريح هم يو شان ده هلته تفصيل تيرشوې دې.

[۴۴۹۸] د تصويرو نوجوړولو په شمار د عذاب ملاويدل

۴۴۹۸-[۱۰] ()① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: ② "«كُلُّ مُصَوِّرٍ فِي النَّارِ ③ يُجْعَلُ لَهُ بِكُلِّ صُورَةٍ صَوَّرَهَا نَفْسًا ④ فَيُعَذِّبُهُ فِي جَهَنَّمَ»". ⑤ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: فَإِنْ كُنْتَ لَا بُدَّ فَاعِلًا ⑥ فَاصْنَعِ الشَّجَرَ وَمَا لَا رُوحَ فِيهِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې ما د رسول الله ﷺ نه دا واوريدل ② چه هر مصور به په دوزخ کې اچول کيږي، ③ او د هغه د هر جوړ کړي تصوير په بدله کې به يو جسم پيدا کړې شي، ④ چې تصوير جوړونکي ته به په دوزخ کې عذاب ورکوي. ⑤ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وفرمايل که تا ته د تصوير جوړولو ضرورت وي، ⑥ نو د ونو يا يو غير ذي روح تصوير جوړ کړه (بخاري، مسلم)

---

[1] اخرجه البخاری فی کتاب تفسیر القرآن/باب {ما ودعک ربک وما قلی} [الضحی: ۳] (رقم-۴۹۵۰) ومسلم فی کتاب الأشربة/باب لا تدخل الملائکة بیتا فیه کلب ولا صورة (رقم-۹۸ - (۲۱۰۹) والنسائی فی کتاب الزینة/باب ذکر أشد الناس عذابا (رقم-۵۳۶۴) واحمد فی المسند: ۱/۴۲۶

[2] اخرجه البخاری فی کتاب البیوع/باب بیع التصاویر التی لیس فیها روح، وما یکره من ذلک (رقم-۲۲۲۵) ومسلم فی کتاب الأشربة/باب لا تدخل الملائکة بیتا فیه کلب ولا صورة (رقم-۹۹ - (۲۱۱۰) واحمد فی المسند: ۱/۳۰۸

تسهیلات:

قوله: يُجْعَلُ لَهُ بِكُلِّ صُورَةٍ صَوَّرَهَا نَفْسًا:

هر تصویر د عذاب په شکل کښې: یعنې چه څومره تصویرونه د مصور جوړ کړی دي دغه ټولو تصویرانوته به د قیامت په ورځ یو حیواني شکل ورکولې شي او د دوزخ په اورکښې به دغه حیوان د عذاب په شکل کښې په دغه مصور باندې مسلط کولې شي

قوله: فَيُعَذِّبُهُ فِي جَهَنَّمَ:

په ضمیر کښې دوه احتمالات: ① فیعذبه کښې که چرې د مذکر صیغه شي نوضمیر فاعل به لفظ د الله طرف ته راګرځي

② که چرې د مؤنث صیغه فیعذبها شي نوضمیر فاعل به د نفس طرف ته راګرځي بهرحال هر یومصور له سوچ پکاردي چه هغه څومره تصویرونه جوړوی هم دومره به خپل عذاب زیاتوی

[۴۳۴] درې لوئی ګناهونه او په هغې باندې عجیبه سزا

۴۳۴- [۱۱] (۱) وَعَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: (۲) «مَنْ تَحَلَّمَ بِحُلْمٍ لَمْ يَرَهُ كُلِّفَ أَنْ يَعْقِدَ بَيْنَ شَعِيرَتَيْنِ، وَلَنْ يَفْعَلَ، (۳) وَمَنِ اسْتَمَعَ إِلَى حَدِيثِ قَوْمٍ وَهُمْ لَهُ كَارِهُونَ أَوْ يَفِرُّونَ مِنْهُ، (۴) صُبَّ فِي أُذُنَيْهِ الْآنُكُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. (۵) وَمَنْ صَوَّرَ صُورَةً عُذِّبَ (۶) وَكُلِّفَ أَنْ يَنْفُخَ فِيهَا، (۷) وَلَيْسَ بِنَافِخٍ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.[۱]

ترجمه: (۱) او حضرت ابن عباس رضي الله عنه وايي چې ما د رسول الله ﷺ نه دا واوريدل (۲) کوم سړي چې د داسې خوب ليدو دعوې وکړي چې هغه نه وي ليدلي يعني د دروغو خوب بيان کړي (۳) نو هغه به د قيامت په ورځ په دوو وربشو کې په غوټه ورکولو مجبوره کړل شي. چې هغه به يې هيڅ کله نشي کولي. (۴) او کوم سړي چې د خلقو خبرو ته خپل غوږ لګوي. هر کله چې هغه خلق د هغه سړي اوريدل نه خوښوي. او د هغه نه فرار اختياروي. (۴) نو د قيامت په ورځ به د هغه سړي په غوږ کې سيسه (سيکه) اچول کيږي. (۵) او کوم سړي چې تصوير جوړوي. هغه ته به په آخرت کې عذاب ورکول کيږي. (۶) او په دې خبره به مجبوره کړل شي. چې په هغه تصوير کې روح واچوي. (۷) حالانکې هغه به هيڅ کله په کې روح نشي اچولي (بخاري)

حل اللغات: ① تَحَلَّمَ: خوب نې بيان کړو. ② بِحُلْمٍ: داسې خوب. ③ يَعْقِدَ: چه غوټه ورکړی، اونې تړی. ④ شَعِيرَتَيْنِ: دوه اوربشې. ⑤ اسْتَمَعَ: خوږ ایږدی (خبرو آوریدوته) ⑥ يَفِرُّونَ: تختي. تیختـه کوی.

---

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب هجرة النبی صلی الله علیه وسلم وأصحابه إلی المدینة (رقم-۳۹۱۶) والترمذی فی کتاب اللباس عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی المصورین (رقم-۱۷۵۱) وابن ماجه فی کتاب تعبیر الرؤیا/باب من تحلم حلما کاذبا (رقم-۳۹۱۶) واحمد فی المسند: ۱/۳۵۸

⑦ صُبَّ: اچولې به شي ⑧ الآنُكُ: سيسه، سيكه، ⑨ أَنْ يَنْفُخَ: چه پوک پکښې اوکړي، ساه پکښې واچوي

تسهیلات:

قوله: مَنْ تَحَلَّمَ بِحُلُمٍ لَمْ يَرَهُ". كُلِّفَ أَنْ يَعْقِدَ بَيْنَ شَعِيرَتَيْنِ، وَلَنْ يَفْعَلَ:

د دروغو خوب جوړونکی سزا: یعنی داسې خوب ئې بیان کړوچه لیدلې ئې نه ووبلکه دَ دروغونه ئې جوړکړواوبیان ئې کړو نودَ هغه به دا سزا وی چه دَ اوربشو دوؤ دانو به خپل مینځ کښې په غوټه کولوباندې مجبورکولې شی اوغوټه به ورنه کړې شی نوهمیشه به په دغه عذاب کښې راګیرکړې شی. ځکه چه دا تعلیق بالمحال دې

د سزا وجه: دَ دروغوخوب بیانول دَعام دروغ وئیلونه ډیره سخته ګناه ځکه ده چه دَ دروغو په خوب کښې دې په عالم غیب باندې دروغ وائی. بل دا چه خوب خودَ نبوت دَ اجزاؤ نه یوجز دې نولکه دغه سړی دَ نبوت په یوه حصه کښې دروغ اووئیل کوم چه لوئی جرم دې مثلاً داسړې وائی چه ما خوب لیدلې چه ماته دَ ولایت فلانکې درجه راکړې شوې ده یا دَ فلانکی سړی مغفرت شوې دې یا ماحج کړې دې یا ما نبی کریم په خوب کښې لیدلې دې یاماته دَ جنت پروانه ملاؤشوې ده داسې دَ دروغو خوب بیانول دَ عذاب سبب دې.

قوله: وَمَنِ اسْتَمَعَ إِلَى حَدِيثِ قَوْمٍ وَهُمْ لَهُ كَارِهُونَ أَوْيَفِرُّونَ مِنْهُ:

د چا پټ راز د معلومولو سزا: یعنی دَ څه خلقو دَ پټو خبرو دَ اوریدو دَپاره غوږ ایږدی اوخبرې اوریدو سره هغه خوره وی اوفساد خوره وی دا حرام دی خودخپل قوم او ملک اومذهب د حفاظت دپاره که سارنه اوکړې شی نودا په دې وعید کښې نه راځی بلکه هغه په اسلام کښې مطلوب دې ځکه چې په مختلفو غذاګانوکښې نبی علیه السلام د تجسس او جاوسی څخه کار اخستې دې

قوله: وَمَنْ صَوَّرَ صُورَةً عُذِّبَ وَكُلِّفَ أَنْ يَنْفُخَ فِيهَا، وَلَيْسَ بِنَافِخٍ:

په تصویر کښې روح پوک وهلو باندې د مکلف کیدلو سزا: یعنی کوم سړی چه دَ ساه والا تصویرجوړکړو په قیامت کښې به هغه مجبورولې شی چه اوس په دې کښې ساه واچوه هغه سړې به په دې کښې ساه نه شی اچولې نو په دې باندې به هغه ته سزاورکولې کیږی اودا سزابه دَهمیشه دَپاره وی. داهم تعلیق بالمحال دې چه په دې کښې روح واچوه ګنی په عذاب کښې به پروت ئې نوچه کله روح نه شی اچولې نوهم په عذاب کښې به پروت وی.

[۴۵۰۰] د نرد شیر د لوبې کولو مذمت

۴۵۰۰ - [۱۲] ()[۱] وَعَنْ بُرَيْدَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «مَنْ لَعِبَ بِالنَّرْدَشِيرِ[۳] فَكَأَنَّمَا صَبَغَ يَدَهُ فِي لَحْمِ خِنْزِيرٍ وَدَمِهِ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او د حضرت بریده ﷺ نه روایت دې چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] کوم سړې چې د نرد شیر لوبه وکړه، [۳] هغه ګویا د خنزیر په غوښه او وینه کې خپل لاس دوب کړو. (مسلم)

نرد شیر: د کتار د قسم نه یوه لوبه ده.

حل اللغات: ① النَّرْدَشِيرِ: یو قسم لوبه ده. ② صَبَغَ: رنګ ئې کړو. ککړ ئې کړو.

تسهیلات:

قوله: مَنْ لَعِبَ بِالنَّرْدَشِيرِ

په مذکوره باب کښې د نردشیر ذکر کولو وجه: په دې قسم لوبه کښې د تصویرونو استعمال کیږی په دې وجه ئې دا د تصویرونو په باب کښې ذکرکړو. د خنزیر غوښه او وینه حرام کیدوسره د طبیعت د نور نفرت سبب هم دی په دې وجه د نفرت پیدا کولو د پاره د هغې ذکر اوکړې شو.

د نردشیر پیژندګلو: د چوسر د قسم نه یوه لوبه ده. دا لوبه د تولونه اول د فارس بادشاه شاه پور بن اردشیر بن بابك ایجاد کړې وه. کوم سړې چه دا لوبه کوی هغه لکه چه مجوسی رسم ژوندې کول ساتل غواړی په کوم کښې چه ګناه ده. دوئمه یوه لوبه ده کوم ته چه شطرنج وائی د دې تذکره وړاندې راروانه ده.

د نرد شیر او شطرنج په حکم کښې ۲ مذاهب:

① د شوافع په نیزکه وخت نه ضائع کیږی مونځ نه قضا کیږی صرف د ذهنونو تیزولو په نیت سره وی نو دا دواړه لوبې مباح او جائزدی. د امام شافعی رحمه الله یوقول دې شطرنج مکروه دې

② د احنافو په نیزدا دواړه لوبې مکروه تحریمی دی

داول فریق دلیل: هرکله چې دا لوبې د ګناه سبب نه ګرځی بلکه ذهنونه پرې تیزیږی نو په دې کښې څه قباحت دې؟

داول فریق ددلیل جواب: د وعید مخې ته د تشحیذ اذهان هیڅ اهمیت او حیثیت نشته دې.

د دویم فریق دلیل: هغه ټول روایات د دوی مستدلات دی په کومو کښې چې په دې لوبو باندې وعیدونه راغلی دی.

() اخرجه مسلم فی صحیح رقم الحدیث ۱۰/ ۲۲۶۰ وابوداود فی السنن رقم الحدیث ۲۹۳۹

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۴۵۰۱] په پستره د تصوير جوړولو جواز

۴۵۰۱—[۱۳] ()[۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«أَتَانِي جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ قَالَ: [۳] أَتَيْتُكَ الْبَارِحَةَ، فَلَمْ يَمْنَعْنِي أَنْ أَكُونَ دَخَلْتُ [۴] إِلَّا أَنَّهُ كَانَ عَلَى الْبَابِ تَمَاثِيلُ، [۵] وَكَانَ فِي الْبَيْتِ قِرَامُ سِتْرٍ فِيهِ تَمَاثِيلُ، [۶] وَكَانَ فِي الْبَيْتِ كَلْبٌ،

ترجمه: [۱] حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې يوه ورځ رسول الله ﷺ وفرمايل[۲] ماته حضرت جبرائيل عليه السلام راغلي وو، او ونيل يې[۳] زه تيره شپه تاته راغلي وم، ليکن کور ته د راتلو نه يو شي زه منع کړم. هغه دا وو چې[۴] د دروازې په پرده تصويرونه وو، [۵] په دې طور چې په کور کې کومه رنګينه منقشه کپړه وه، د هغې پرده جوړه کړې شوې وه، او په هغې تصويرونه جوړ کړې شوي وو، [۶] او په کور کې سپې هم موجود وو.

حل اللغات: ① الْبَارِحَةَ: تيره شپه، ② تَمَاثِيلُ: بتان، تصاوير، ③ قِرَامُ: نرمه پرده، ④ سِتْرٍ: پرده،

[۱] فَمُرْ بِرَأْسِ التِّمْثَالِ الَّذِي عَلَى بَابِ الْبَيْتِ فَيُقْطَعُ، [۲] فَيَصِيرُ كَهَيْئَةِ الشَّجَرَةِ، [۳] وَمُرْ بِالسِّتْرِ فَلْيُقْطَعْ، [۴] فَلْيُجْعَلْ وِسَادَتَيْنِ مَنْبُوذَتَيْنِ تُوطَآنِ، [۵] وَمُرْ بِالْكَلْبِ فَلْيُخْرَجْ ". [۶] فَفَعَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] نو تاسو د هغه تصويرونو د سرونو د کټ کولو حکم وکړئ، چې د دروازې په پرده دی، او د هغه تصويرونو سرونه دې داسې کټ کړې شي، [۲] چې د هغوئ هيئت او شکل بدل شي، او هغه د ونې په شکل شي، [۳] او بيا د هغه د پردې کټ کولو سره د هغې د دوو تکيه ګانو جوړولو حکم وکړئ، [۴] چې د سهاره اخستو سره د ناستې او تکيه لګولو سره د اوده کيدو په کار کې د راتلو د پاره په کور کې په فرش پرتې وې، او تر پښو لاندې کيږي، [۵] او د سپي هم د کور نه بهر د ويستلو حکم وکړئ، [۶] نو رسول الله ﷺ دغه شان وکړه [ځکه چې حضرت جبرائيل عليه السلام ورته ونيلي وو] (ترمذي ابوداود)

حل اللغات: ⑤ وِسَادَتَيْنِ: دوه تکيه ګانې، دوه بالختونه، ⑥ مَنْبُوذَتَيْنِ: چه پرتې وی، ⑦ تُوطَآنِ: چه پامال کولې شی يعنی استعمالولې شی.

تسهيلات:

قوله: فَمُرْ بِرَأْسِ التِّمْثَالِ الَّذِي عَلَى بَابِ الْبَيْتِ فَيُقْطَعُ:

غير مکروه تصويرونه: ① کوم تصويران چه واړه وی دهغې هم ممانعت نشته دې. د وړوکی تصوير دپاره معيار دادې چه هغه دومره نرې وی چه ولاړ سړې هغه په زمکه باندې کيږدی

---

۱) اخرجه ابوداود في السنن رقم الحديث ۴۱۵۸ والترمذى فى كتاب الأدب عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ/بَابُ مَا جَاءَ أَنَّ الْمَلَائِكَةَ لَا تَدْخُلُ بَيْتًا فِيهِ صُورَةٌ وَلَا كَلْبٌ(رقم_۲۸۰۶)واحمد فى السند ۲/ ۳۰۵

نو دَهغې اندامونه جدا جدا نه معلومیږي.

② په کومو تصویرونوکښې چه هغه اعضاء نه وي دکوم نه بغیرچه انسان ژوندي نه شي پاتې کیدې لکه خیټه نه وي دَ نامه نه لاندې نه وي په دې کښې هم سخت وعید نشته دې.

③ دکوموتصویرونوچه سر کټ شوې وي دَهغې ممانعت نشته دې.

دحکم په اعتبار سره د څلو تصویرونودوه صورتونه: ① که تصویرونه لوئې وي نوفتاوئ قاضي خان کښې لیکلي دي چه که مونځ گذار په داسې حالت کښې مونځ کوي چه تصویرونه دَهغه دَ مصلي مخې ته وي یا پورته په دیوال باندې نبې اوکس طرف ته زوړند وي یا په اغوستلې شوې کپړو باندې وي نو په داسې حالت کښې مونځ مکروه دي.

②که چرې دا تصویران په بستره او فرش باندې دَ مُهان په درجه کښې وي نوراجح قول دادې چه دَ سجدې په ځائې باندې نه وي نومونځ به مکروه نه وي دا تفصیل دَهغه تصویرونو باره کښې دې کوم چه غټ وي په وړو تصویرونوکښې دا کراهت نشته دې.(کذا في فتاوئ الخانية)

قوله: وَمُرْ بِالسِّتْرِ فَلْيُقْطَعْ، فَلْيُجْعَلْ وِسَادَتَيْنِ مَنْبُوذَتَيْنِ تُوطَآنِ:

د سرکټ تصویرحکم: یعنې کله چه دَ دغه تصویرونو سرمات کړې شي یا پرده اوشلولې شي نو بیا به تصویر باقي نه وي لهذا تکیه جوړول جائز شو

[۴۵۰۲] د تصویرجوړونکودپاره د جهنم څخه د څټ راوتل

۴۵۰۲—[۱۴]() [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«يَخْرُجُ عُنُقٌ مِنَ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ [۳] لَهَا عَيْنَانِ تُبْصِرَانِ، [۴] وَأُذُنَانِ تَسْمَعَانِ، [۵] وَلِسَانٌ يَنْطِقُ يَقُولُ: [۶] "إِنِّي وُكِّلْتُ بِثَلَاثَةٍ: [۷] بِكُلِّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ، [۸] وَكُلِّ مَنْ دَعَا مَعَ اللهِ إِلَهًا آخَرَ، [۹] وَبِالْمُصَوِّرِينَ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایې چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] د قیامت په ورځ به د دوزخ نه یوه غاړه (څټ) راوځي [یعنی د اور یوه لمبه د اوږدی غاړی په صورت کې به راوځي [۳] په هغه غاړه کې به کتونکي دوه سترګي وي، [۴] د اوریدلو دوه غوږونه به وي، [۵] و ویونکي ژبه به وي، هغه غاړه به وایي [۶] چې زه په دري قسمه خلقو مسلط کړې شوي یم [یعنی الله ﷻ زه په دي خبره مقرر کړي یم چې زه دري قسمه خلق دوزخ ته راخکلو سره بوخم، او د خلقو په مخکي هغه ذلیل او رسوا کولو سره په عذاب کې مبتلا کرم، په هغوئ کې به یو قسم خو هغه خلق وي] [۷] چې هغه د حق سره د تکبر او عناد سلوک کړي وي (یعني په دنیا کې په هغوئ حق ظاهر شوي وي، خو هغوئ حق قبول کړي نه وي) [۸] په دویم

() اخرجه الترمذي في السنن كتاب صفة جهنم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في صفة النار(رقم-۲۵۷۴) واحمد في المسند:۲/۳۳۶

قسم خلقو کې هر هغه سړي شامل دي چې هغه د الله ﷻ سره بل معبود هم بللي وي ګرځولي وي. ۹ او دريم قسم هغه خلق دي چې هغوئ تصويرونه جوړ کړي دي. (ترمذي)

حل اللغات: ① عُنُقٌ: څټ، ② جَبَّار: ظالم، متکبر، ③ عَنِيد: سرکشه، ضدي،

تسهيلات: قوله: جَبَّارٍ عَنِيدٍ:

د جبار او عنيد په تعريف کښې دوه اقوال: ① د "جبار" نه مراد ظالم او "عنيد" نه مراد ضدي او متکبر دې کوم چه د حق نه اعراض کړې وي،

② په نهايه کښې ذکر دي چه "جبار" سرکش ته وائي او "عنيد" نه مراد هغه کس دې کوم چه د علم باوجود هم د حق نه اعراض کوي.

[۴۵۰۳] د نغارې د استعمال حکم

۴۵۰۳-[۱۵] () ١ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا- عَنْ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ٢ "«إِنَّ اللهَ تَعَالَى حَرَّمَ الْخَمْرَ، وَالْمَيْسِرَ، وَالْكُوبَةَ، ٣ وَقَالَ: كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ". قِيلَ: الْكُوبَةُ الطَّبْلُ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الإِيمَانِ".

ترجمه: ١ او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د رسول الله ﷺ نه نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمايل ٢ بلا شبه الله ﷻ شراب، قمار او نغاره ږغول [د لسانِ نبوت په ذريعه] حرام ګرځولي دي، ٣ او حضور ﷺ وفرمايل هر نشه ور شي حرام دي، او وئيل شوي دي چې (کوبه) طبل ډهول ته وايي. (بيهقي)

حل اللغات: ① الْكُوبَةَ: أي الطَّبْلُ: نغاره يعنى طنبل غږول. ② الطَّبْلُ: طنبل.

تسهيلات: قوله: الْكُوبَةُ

د کوبه په مصداق کښې درې اقوال: ① دې څخه ستار مراد دې

② دې څخه مراد تنبل او دوېرئي ده.

③ دې څخه مراد شپيلئي ده

د غازي د تنبل استثناء: د دې تنبل نه د غازي تنبل مستثنى دې. داحديث کيدې شي چه د نرد د وجې نه دلته ذکر کړې شوي دې په کوم کښې چه تصويرونه وي.

[۴۵۰۴] د بعضې حرامو مشروباتو ممانعت

۴۵۰۴-[۱۶] () ١ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا- ٢ «أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- نَهَى عَنِ الْخَمْرِ، وَالْمَيْسِرِ، وَالْكُوبَةِ، وَالْغُبَيْرَاءِ. ٣ وَالْغُبَيْرَاءُ: شَرَابٌ يَعْمَلُهُ الْحَبَشَةُ مِنَ الذُّرَةِ ٤ يُقَالُ لَهُ: السُّكُرْكَةُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

() اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأشربة باب فى الأوعية (رقم-۳۶۹۶) واحمد فى المسند: ۱/۲۸۹

() اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأشربة باب فى الأوعية (رقم-۳۶۹۶) واحمد فى المسند: ۱/۲۸۹

ترجمه: [۱] او د حضرت ابن عمر ﷺ نه روايت دي[۲] چې رسول الله ﷺ د شراب، قمار، کوبه او غبيرا نه منع کړيده،[۳] او غبيرا يو قسم شراب دي چې د حبشي خلق يې د جوارو نه جوړوي،[۴] او هغه ته سکرک وايي. (احمد، ابوداود)

حل اللغات: ① الْمَيْسِر: جوارى، ② الْكُوبَة: أي الطَّبْل: نغاره يعنى طنبل غړول ③ الْغُبَيْرَاء: د جوارو نه جوړشوى شراب، ④ الذُّرَة: جوار، ⑤ السُّكُرْكَة: دَ غبيرا شرابو دويم نوم سُکرکه دې.

تسهيلات:

نوټ: د حديث مفهوم واضح دې باقي د ګرانو ټکووضاحت په حل اللغات کښې شوې دې

[۳۵۰۵] د نرد لوبې حرمت

۳۵۰۵–[۱۷] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: "[۲] «مَنْ لَعِبَ بِالنَّرْدِ[۳] فَقَدْ عَصَى اللَّهَ وَرَسُولَهُ» " رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او د حضرت ابوموسي اشعري ﷺ نه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړي چې په نرد سره لوبه وکړه،[۳] [په حقيقت کې] هغه د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ نافرماني وکړه (احمد ابوداود)

حل اللغات: ① بِالنَّرْدِ: يو قسم لوبه ده.

تسهيلات: قوله: مَنْ لَعِبَ بِالنَّرْدِ فَقَدْ عَصَى اللَّهَ وَرَسُولَهُ:

د نرد لوبې د حرمت وجه: نرد سره لوبې کول د الله تعالى او هغه د رسول د نافرمانى مرادف دي، ددې وجهې نه که په دې لوبه کښې شرط ولګولې شي نو دا حقيقتًا جوارګري ده او که بغير د شرط نه وي نو بيا هم صورتاً جوارګرى ده، او ددې بيان مخکې تير شو چه نرد سره لوبې کول مطلقًا حرام دي.

[۳۵۰۶] د کونترو د الوزولو حکم

۳۵۰۶–[۱۸] (۲) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- [۲] «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- رَأَى رَجُلًا يَتْبَعُ حَمَامَةً، [۳] فَقَالَ: "شَيْطَانٌ يَتْبَعُ شَيْطَانَةً» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه: [۱] او د حضرت ابوهريره ﷺ نه روايت دي [۲] چې يو خل رسول الله ﷺ يو سړي وليدلو چې کوترو پسې پسې شوى وو ايعني د هغوئ سره يې لهو ولعب کولو، او د هغوئ په الوخولو کې مشغول وو[۳] حضور ﷺ وفرمايل چې دا شيطان دي او په شيطاني پسې شوي دي (احمد، ابوداود، ابن ماجه، بيهقي)

حل اللغات: ① حَمَامَةً: کونتره.

---

[۱] اخرجه ابوداود فى السنن رقم الحديث ٤٩٣٨ وابن ماجة رقم الحديث ٣٧٦٢ ومالک فى الموطا رقم الحديث ٦ من كتاب الرويه

[۲] اخرجه ابوداود فى السنن رقم الحديث ٤٩٤٠ وابن ماجة رقم الحديث ٣٧٦٥ واحمد فى المسند: ٣٤٥/٢

تسهیلات:

قوله: شَيْطَانٌ يَتْبَعُ شَيْطَانَةً:

د کوترو د الوزولو حرمت وجوهات: کوترباز ناجائزده خکه چه په دې کښې ډیرې زیاتې خرابئ دی

① سړې د مونځ نه غافل کیږي،

② په دې سره وخت ضائع کیږي،

③ د الله تعالی د ذکرنه غفلت پیدا کیږي،

④ عام طور کوترې په چتونو باندې خیژي کوم چې د بې پردګئ سبب دې

⑤ بعضې وخت په دې الوزولو کښې شرطونه هم لګولې شي کومه چې جواری ده

⑥ دا انسان د فسق او فجور بنکار شي نو تیک تاک شیطان جوړشي.

کوترې ته د شیطان وئیلو وجه: کوترو ته په دې وجه شیطان وئیلې شوی دې چه هغه د سړی د دغه بربادئ سبب او ذریعه جوړه شوې ده او د دغه ټولو مفاسدو مرکز جوړشو. که یو سړې د نسل زیاتولو په غرض سره کوترې ساتی او د هغې خیال کوی نو جائز دی

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۴۵۰۷] د تصویر جوړولو د پیشې حکم

۴۵۰۷-[۱۹] (۱) ① عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي الْحَسَنِ قَالَ: ② «كُنْتُ عِنْدَ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - إِذْ جَاءَهُ رَجُلٌ، ③ فَقَالَ: يَا ابْنَ عَبَّاسٍ! إِنِّي رَجُلٌ، إِنَّمَا مَعِيشَتِي مِنْ صَنْعَةِ يَدِي، ④ وَإِنِّي أَصْنَعُ هَذِهِ التَّصَاوِيرَ. ⑤ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: لَا أُحَدِّثُكَ إِلَّا مَا سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - سَمِعْتُهُ يَقُولُ: ⑥ "مَنْ صَوَّرَ صُورَةً، فَإِنَّ اللَّهَ مُعَذِّبُهُ ⑦ حَتَّى يَنْفُخَ فِيهِ الرُّوحَ ⑧ وَلَيْسَ بِنَافِخٍ فِيهَا أَبَدًا".

ترجمه: ① او حضرت سعید ابن ابي الحسن تابعي رحمه الله وايي ② چې يوه ورځ زه د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما په خدمت کی حاضروم، ناڅاپه يو سړي هغه ته راغي، ③ او هغه اوويل اې ابن عباسه! زما د معاشي ژوند انحصار زما د لاسونو په محنت او مزدوري دې، ④ چې د هغې په ذريعه زه دا تصويرونه جوړوم (اوس سوال دادې چې زه څه وکړم؟ ځکه چې شريعت دا کسب حرام ګرځولي دی، او په بله پيشه زه نه پوهيږم، چې د هغې په ذريعه د خپلي روزي انتظام وکړم، نو آيا د دې مجبورئ په وجه زما د پاره دا کسب جائز دی که نه؟) ⑤ (ابن عباس رضي الله عنهما چې دا وليدل چې د تصوير کشي کار سره د دې سړي تعلق د سخت نوعيت دې، او شايد زما په منع کولو سره منع نشي نو د هغه په مخکې يې د

---

(۱) اخرجه البخاری فی کتاب البیوع/باب بیع التصاویر التی لیس فیها روح، وما یکره من ذلک (رقم-۲۲۲۵) واحمد فی المسند: ۱/ ۳۶۰

حضورﷺ حديث بيان کړو، ورته يې وفرمايل] چه زه ستا په مخکې د هغه خبرې نه علاوه بله څه خبره نه بيانوم کومه چې ما د رسول اللهﷺ نه اوريدلې ده. [نو ته يې په توجه سره واوره] ما د حضورﷺ نه واوريدل[٦] کوم سړې چې تصوير سازې کوې الله ﷻ به يې په عذاب کې مبتلا کړي،[٧] تر دې چې هغه په هغه تصوير کې روح اوپوکى.[٨] حالانکې هغه په به تصوير کې هيڅ کله روح نشي اچولي،

حل اللغات: ① صَنْعَةِ يَدِي: په لاسونو کار کول، محنت مزدوري.

> [١] فَرَبَا الرَّجُلُ رَبْوَةً شَدِيدَةً، وَاصْفَرَّ وَجْهُهُ، [٢] فَقَالَ: وَيْحَكَ إِنْ أَبَيْتَ [٣] إِلَّا أَنْ تَصْنَعَ فَعَلَيْكَ بِهَذَا الشَّجَرِ [٤] وَكُلِّ شَيْءٍ لَيْسَ فِيهِ رُوحٌ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] هغه سړي [په دې عذاب اوريدو سره] يوه اوږده ساه واخستله، او د هغه مخ د ويرې د وجې زيړ شو.[٢] حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د هغه دا حالت ليدو سره ورته وفرمايل په تا افسوس دې، که ته د تصوير کشئ د کسب نه علاوه د نورو کسبونو د قبلولو نه انکار کوي.[٣] اخکه چې ته په بل کسب نه پوهيږې] نو ته داسې وکړه چې د هغه ونو [٤] او د هغه څيزونو تصويرونه جوړوه کوم چې بې ساه دي (بخاري)

حل اللغات: ② فَرَبَا: نو يوه اوږده ساه ئې واخستله، يو سوړ آسويلې ئې اوکړو. ③ رَبْوَةً شَدِيدَةً: سخت سوړ آسويلې. ④ اصْفَرَّ وَجْهُهُ: زيړ شومخ دهغه. ⑤ وَيْحَكَ: په تا افسوس دې. ⑥ إِنْ أَبَيْتَ: که ته انکار کوې (د نور کار کسب نه).

تسهيلات:

قوله: فَرَبَا الرَّجُلُ رَبْوَةً شَدِيدَةً:

د مذکوره جملې مفهوم: ربا يربو نه دې يعنى يوه اوږده يخه ساه ئى واخستله اودَ الله تعالى دَ ويرې نه ئى رنګ زيړ شو اس چه کله منډه وهى اوسترې کيدوسره اوږده ساه اخلى هغې ته ربا الفرس ربوة وائى

[٣٥٠٨] قبر سره د صاحب قبر د تصوير جوړولو حکم

> ٣٥٠٨-(٢٠)([1]) [١] وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا- قَالَتْ: [٢] «لَمَّا اشْتَكَى النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [٣] ذَكَرَ بَعْضُ نِسَائِهِ كَنِيسَةً يُقَالُ لَهَا: مَارِيَةُ، [٤] وَكَانَتْ أُمُّ سَلَمَةَ وَأُمُّ حَبِيبَةَ أَتَتَا أَرْضَ الْحَبَشَةِ، [٥] فَذَكَرَتَا مِنْ حُسْنِهَا وَتَصَاوِيرَ فِيهَا، [٦] فَرَفَعَ رَأْسَهُ فَقَالَ: [٧] "أُولَئِكَ إِذَا مَاتَ فِيهِمُ الرَّجُلُ الصَّالِحُ [٨] بَنَوْا عَلَى قَبْرِهِ مَسْجِدًا، [٩] ثُمَّ صَوَّرُوا فِيهِ تِلْكَ الصُّوَرَ، [١٠] أُولَئِكَ شِرَارُ خَلْقِ اللَّهِ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او بى بى عائشه رضي الله عنها فرمايې[٢] کوم وخت چې رسول اللهﷺ ناجوړه شو،[٣] نو د

---

[1]) اخرجه البخاري في كتاب المناقب/باب هجرة الحبشة (رقم-٣٨٧٣) ومسلم في كتاب المساجد/باب النهى عن بناء المساجد على القبور واتخاذ الصور فيها والنهى عن اتخاذ القبور مساجد (رقم-١٦ - (٥٢٨) واحمد في المسند:٥١/٦

حضور ﷺ د بعضې بيبيانو نه بعضو د هغه کنيسې ذکر وکړو چې هغې ته يې ماريه ويله [کنيسه د يهودو او نصارئ د عبادت گاه ته وايي چې د کِنِيشَتَ معرب دي، په دې باره کې بي بي عائشه ؓ فرمايي چه د حضور ﷺ په ناروغۍ کې د حضور ﷺ سره ناستې بيبيانې د حضور ﷺ د دلبستګي د پاره په خبرو کې مشغولې وې] ۳ [د حضور ﷺ بيبيانې مبارکې] ام سلمه ؓ او أم حبيبيه ؓ حبشه ته تللې وې [نو هغوئ په ملك حبش کې کنيسه ليدلې وه ځکه چې د هغه ځاې خلق د عيسائيت پيروی کونکی وو] ۵ نو دواړو [يعنی ام سلمه ؓ او أم حبيبيه ؓ] د کنيسه د خوبصورتي او په هغه کې د جوړ شوو تصويرونو ذکر وکړو ۶ حضور ﷺ (د دې په اوريدو سره) خپل سرمبارك راپورته کړو. او وې فرمايل ۷ هغه خلق (يعنې د حبشه والا يا نصارې داسې کوې چې) کله په هغوئ کې څوك نيك او صالح سړې مړې، ۸ نو هغوئ د هغه په قبر عبادت گاه جوړولې (چې هغې ته کنيسه وئيل کيږي) ۹ او په هغه کنيسه کې د خپل نيك او صالح خلقو تصويرونه جوړولې، ۱۰ دغه خلق په حقيقت کې د الله ﷻ بدترين مخلوق دي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① كَنِيسَةٌ: دَ يهوديانو او نصارئ د عبادت خانه، ② مَارِيَةٌ: ددغه کنيسې نوم ماريه وو ③ أَتَتَا: چه تلې وې دواړه،

تسهيلات: قوله: وَتَصَاوِيرَفِيهَا أي ذكرناحسن تصاويرها: دَ گرجي بنائست او په دې کنبې دَتصويرونو بنائست ئی دَتعجب په توګه بيان کړو.

قوله: إِذَامَاتَ فِيهِمُ الرَّجُلُ الصَّالِحُ بَنَوْاعَلَى قَبْرِهِ مَسْجِدًا، ثُمَّ صَوَّرُوافِيهِ تِلْكَ الْقُبُورَ:

د شرک د شروع کيدو تاريخ: يعنی قبرونه به ئی عبادت خانې جوړولې اوبيابه ئی دَهغې په نوم باندې کنيسې جوړولې اوبيابه ئی په دې کنبې دَ هغه صالحينو تصويرونه جوړول اودَ زړه دَتسلئی دَپاره به ئی کيخودل. کله چه به هغه بوډاګان مړه کيدل نو نوی نسل ته به شيطان وئيل چه ستاسو مشرانو به دَدې تصويرونو او نيکانو دَدې مجسمو عبادت کولو نو نوې نسل به دَ بتانو په عبادت کنبې راګيريدو.

لکه څنګه چه دَ حضرت نوح ؑ په زمانه کنبې دَشرك ابتدا هم دغه شان شوې وه معلومه شوه چه دَ تصويرونو په ذريعه دَ شرك شروع هم شوې اوبيا به هم شرك هم په دې لار راځي

قوله: أُولَئِكَ شِرَارُخَلْقِ اللَّهِ:

د بدترينه خلقو هغه د کيدو وجه: يعنی تصويرونه جوړونکی اوبيا قبرونه عبادت خانې جوړونکی بدترين خلق دی ځکه چه پخپله هم ګمراه شوی او نور ئی هم ګمراه کړل

[۳۵۰۹] پنځه قسمه خلقو دپاره سخت ترین عذاب

۳۵۰۹-[۲۱] (¹) ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«إِنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ، مَنْ قَتَلَ نَبِيًّا، ③ أَوْ قَتَلَهُ نَبِيٌّ، ④ أَوْ قَتَلَ أَحَدَ وَالِدَيْهِ، ⑤ وَالْمُصَوِّرُونَ ⑥ وَعَالِمٌ لَمْ يَنْتَفِعْ بِعِلْمِهِ»".

ترجمه: ① او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② د قيامت په ورځ به سخت ترين عذاب په هغه سړي وي، كوم چې نبي قتل كړي. ③ يا په جهاد كې هغه د نبي په لاس قتل كړي شي. ④ يا د مور پلار نه يو قتل كړي. ⑤ او كوم سړي چې تصوير جوړ كړي. ⑥ يا كوم عالم چې د خپل علم نه خلق وانه خلي (يعني خپل علم ضائع كړي او عمل پري اونكړي) په هغوئ به سخت ترين عذاب وي.

تسهیلات:

قوله: إِنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ:

پنځه قسمه خلق په سخت ترين عذاب كښې: په دې حديث كښې د پنځه قسمه خلقو بيان دې چه په قيامت كښې به په ډير سخت عذاب كښې وي

① چاچه يو نبى شهيد كړو.

② څوك چې په جهاد كښې د نبى دلاسه قتل شي

③ كوم بدبخت كښې مور پلار كښې يوقتل كړو.

④ د ساه والا خيزونو تصويرونه جوړونكي

⑤ بې عمله عالم چه د علم حق نه اداكوي

[۳۵۱۰] شطرنج لكه د عجميانو جوارى

۳۵۱۰-[۲۲] (²) ① وَعَنْ عَلِيٍّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ: ② الشِّطْرَنْجُ هُوَ مَيْسِرُ الْأَعَاجِمِ.

ترجمه: ① او د حضرت علي رضي الله عنه نه روايت دې چه هغه به فرمايل ② چه شطرنج د عجمي خلقو (يعني د غير مسلمو قومونو) قمار دى.

تسهیلات:

قوله: الشِّطْرَنْجُ هُوَ مَيْسِرُ الْأَعَاجِمِ.

د شطرنج حرمت: يعنى د عجم او اهل فارس د مجوسيانو جوارى او قماربازى ده لهذا د دغه مجوسيانو مشابهت اختيارول جائزنه دى په دې وجه د هغوى خاص لوبې نرد چوسر

¹) اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ۷۸۸۸

²) اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ۶۵۱۸

او شطرنج سره لوبې کول جائزنه دی.

نوټ:د شطرنج د حکم تفصیل دې ځخه وړاندې د حدیث نمبر(۴۵۰۰) په تسهیل کښې تیر شوې دې

[۴۵۱] د شطرنج لوب غاړی با ندې د ګناهګار اطلاق

۴۵۱-[۲۳](¹)[۱]وَعَنِ ابْنِ شِهَابٍ، أَنَّ أَبَا مُوسَى الْأَشْعَرِيَّ قَالَ: [۲]لَا يَلْعَبُ بِالشَّطْرَنْجِ إِلَّا خَاطِئٌ.

ترجمه: [۱]او د حضرت ابن شهاب رحمه الله نه روایت دې چه حضرت ابو موسي اشعري رضي الله عنه وفرمایل[۲] شطرنج لوبه یواځی هغه سړي کوي چې خطا کار وي.

تسهیلات:

قوله: لَا يَلْعَبُ بِالشَّطْرَنْجِ إِلَّا خَاطِئٌ:

د خاطی ځخه مراد:ددې نه مراد ګناهګار دې دا هم د احنافو مستدل دې چه نرد او شطرنج دواړه حرام دي، جامع صغیر کښې یو روایت نقل دې چه شطرنج لوبه کونکې ملعون دې او کتونکې (یعنی تماشا کولو والا) د خنزیر غوښه خوړونکي په شان دې (مرقات ج۸،ص۳۳۷)

[۴۵۲] د شطرنج د لوبې عدم جواز

۴۵۲-[۲۴](²)[۱]وَعَنْهُ أَنَّهُ سُئِلَ عَنْ لَعِبِ الشَّطْرَنْجِ، [۲]فَقَالَ: هِيَ مِنَ الْبَاطِلِ، وَلَا يُحِبُّ اللهُ الْبَاطِلَ. [۳] رَوَى الْبَيْهَقِيُّ الْأَحَادِيثَ الْأَرْبَعَةَ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: [۱] او د حضرت ابن شهاب رحمه الله نه روایت دې چه د هغه نه د شطرنج باره کې پوښتنه وشوه، نو وي فرمایل[۲] دا یوه باطله لوبه ده، او الله جل جلاله باطل نه خوښوي،[۳] مذکوره بالاځلور واړه روایتونه بیهقي رحمه الله په شعب الایمان کې نقل کړي دي

تسهیلات:

قوله: هِيَ مِنَ الْبَاطِلِ، وَلَا يُحِبُّ اللهُ الْبَاطِلَ:

د شطرنج د حرمت دلائل:

① جامع صغیرکښې یوروایت نقل دې چه شطرنج کونکې ملعون دې

② نساب الاحساب کتاب کښې امام غزالی رحمه الله لیکلی دی چه دَ امام شافعی رحمه الله په نیزشطرنج کول مکروه دی کیدې شی چه دَامام شافعی رحمه الله نه دوه قوله نقل وی په یوکښې مباح اوبل کښې مکروه دې

¹) اخرجه البیهقی فی شعب الایمان رقم الحدیث ۶۵۱۸

²) اخرجه البیهقی فی شعب الایمان رقم الحدیث ۶۵۱۸

③ په هدایه کښې لیکلی دی چه په حدیث کښې دَ وعید دَوجې نه شطرنج او نردشیر لوبه کول مکروه تحریمی دی.

④ درمختار کښې لیکلی دی دَدې قسم ټولې لوبې مکروه دی.

[۳۰۳] دسپي او پیشو د ساتلو په حکم کښې فرق

۴۵۰۳-[۲۵] ()① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ:② «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-يَأْتِي دَارَ قَوْمٍ مِنَ الْأَنْصَارِ،③ وَدُونَهُمْ دَارٌ،④ فَشَقَّ ذٰلِكَ عَلَيْهِمْ،⑤ فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! تَأْتِي دَارَ فُلَانٍ، وَلَا تَأْتِي دَارَنَا. ⑥ فَقَالَ النَّبِيُّ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "لِأَنَّ فِي دَارِكُمْ كَلْبًا.⑦ قَالُوا: إِنَّ فِي دَارِهِمْ سِنَّوْرًا.⑧ فَقَالَ: النَّبِيُّ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "السِّنَّوْرُ سَبُعٌ»". رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهریره ﷺ وایي② چې رسول الله ﷺ به په انصارو کې د بعضې خلقو کور ته تشریف وړو،③ حالانکې د هغه په ګاونډ کې د بل کس کور وو (لیکن حضور ﷺ به هغوئ ته نه ورتلو)④ په هغه خلقو دا خبره ډیره ګرانه (مشکله) تیریدله [چې حضور ﷺ زمونږ د ګاونډي کور ته تشریف راوړي، لیکن زمونږ کره نه راځي]،⑤ نو هغه خلقو عرض وکړو چې یا رسول الله ﷺ تاسو د فلاني کور ته خو تشریف راوړئ، لیکن زمونږ کور ته تشریف نه راوړئ؟ (مونږ څه قصور کړي دي چې زمونږ کور ستاسو ﷺ د تشریف آوري نه محروم دي)⑥ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل [زه ستاسو کور ته ځکه نه درځم] چې تاسو په کورکي سپي ساتلي دي،⑦ هغوئ عرض وکړو [چې یو قسم اعتراض وو په هغه بل انصاري دچاکره چې به رسول اکرم صلي الله علیه وسلم تشریف وړو] چې د هغوئ په کور کې خوهم پیشو ساتل کیږي [اودپشو او د سپي څه فرق دي؟]⑧ نورسول الله ﷺ ورته وفرمایل پشو درنده ده [اودسپي پشان نجس العین نده اوسبب دمنع کیدو د فرشتو د کورونو نه هغه سپي دي نه پشو] (دار قطني)

حل اللغات: ① دُونَهُمْ: هغوی سره نزدې. ② فَشَقَّ: نو ګرانه شوه، سخته شوه. ③ سِنَّوْرًا: پیشو. ④ سَبُعٌ: درنده دي.

تسهیلات:

قوله: يَأْتِي دَارَ قَوْمٍ مِنَ الْأَنْصَارِ، وَدُونَهُمْ دَارٌ، فَشَقَّ ذٰلِكَ عَلَيْهِمْ:

د نبی علیه السلام د بعضې انصارو کورونو ته تشریف اوړل: نبی کریم به دَانصارو بعضو کسانوته تشریف اوړلو په لارکښې به دَ څه نورو انصارو کورونه هم راتلل. دَهغې نه تیریدلوسره دَ رسول الله ﷺ وراندې تلل په هغوی باندې مشکل وو چه نبی کریم مونږ له ولې نه راځی دې دپاره چه مونږ ته هم دا لوئی عزت او اعزاز حاصل شی.

() اخرجه الدارقطنی فی السنن رقم الحدیث ۵ من کتاب الطهارة

قوله: السِّنَّوْرُ سَبُعٌ:

د پيشوه ساتلو جواز: رسول الله ﷺ دغه خلقو ته معذرت اوکړو چه تاسوخلقو په محله کښې سپي ساتلي دي په دې وجه زه ستاسو محلې ته نه راځم هغوی اوونيل چه کوموخلقو له تاسو ورځئ هغه خلقو په کورونوکښې پيشوگان ساتلي دي نبی کريم په جواب کښې اوفرمائيل پيشو درنده دي دَ سپي په شان نه دي سپي خو شيطان دي او شيطان سره دَفرښتو دښمنی ده پيشو شيطان نه دي په دې وجه دا په سپي باندې نه شی قياس کولې

اشکال: دلته په ظاهره د صحابؤ د تپوس سره د نبی عليه ا لسلام د جواب مطابقت نه ښکاری ځکه چې پيشو سبع دي اوسبع درنده ماتونکی ښناور ته وائی که چرته اوکتلې شی نو ماتونکې او څيرونکې ښناور چې په يوځائې کښې وی نو دهغه ځائې ښخه خو ويره پکار ده دا نه چې هلته ورتلل پکار دی.ددې حديث په دې مشکل پسې مې شروحات اولټول خوڅه راته په نظر رانغلو.

داشکال جواب: زما په ذهن کښې يوه خبره راغله هغه دا چې دلته نبی عليه السلام د پيشو په کور کښې ساتلو جواز طرف ته اشاره کړې ده چې په کورکښې مږې وی نو د پيشو په ساتلو سره مږې تختي او کور د مږو د ضرر ښخه محفوظ وی نوهغوی که په کورونو کښې پيشوگانې ساتلی دی دا د هغوی مجبوری ده اوتاسوچې سپې ساتلی دی نو په دې کښې ستاسو مجبوری نه ده ددې وجې سپې په پيشو باندې مه قياس کوئ.دويمه دا چې اصل کښې خبره د فرشتو د راتګ ده جبريل عليه السلام خو ماته وحی راوړی نوکه زه ستاسو په کورونو کښې يم اوجبريل عليه السلام وحی راوړل غواړی نو ستاسوکورنوته تشريف نه راوړی په دې وجه په وحی کښې تاخيرکيدې شی اودهغوی په کورونوکښې که پيشوگانې دی نود پيشوگانو وجود د جبريل عليه السلام د راتلو دپاره رکاوټ اومانع نه دې ځکه د هغوی کورنوته ورځم او ستاسو کورونو ته نه درځم که دا دواړه توجيهات صحيح وی د الله تعالی د طرفه به وی اوکه صحيح نه وی نو زما او د شيطان دطرفه به وی

[۲۳] کِتَابُ الطِّبِّ وَالرُّقٰی

د طبابت او دم چو بیان

خلاصة الباب:

فيه ثمانية وخمسون حديثاً مشتملة على تسع مسائل:

① استعمال الدواء لكل داء: ۱، ۲، ۱۹، ۲۵ ـ

② ذكربعض المعالجات والأودية: ۳، ۴، ۵، ۶، ۷، ۸، ۹، ۱۰ ، ۱۱، ۱۲، ۱۸، ۲۱، ۲۲، ۲۳، ۲۴، ۲۷، ۲۸، ۲۹، ۳۰ ، ۳۱ ، ۵۲، ۵۳، ۵۴، ۵۵، ۵۶، ۵۷۔

③ الرخصة في الرقى الخاصة والعامة: ۱۳ ، ۱۴ ، ۱۵، ۱۶، ۱۷، ۳۵، ۴۳، ۴۴، ۴۵، ۴۶، ۴۷، ۴۸، ۵۱۔

④ منع بعض أنواع الرقى تحريماً او تنزيهاً: ۵، ۳۹، ۴۰، ۴۱، ۴۲۔

⑤ حسن المعاملة مع المرضى: ۲۰۔

⑥ المنع عن بعض أنواع الدواء: ۲۵، ۲۶، ۳۲۔

⑦ مواضع الإحتجام و أيامه: ۲۹، ۳۰، ۳۳، ۳۴، ۳۵، ۳۶، ۳۷: ۳۸، ۵۶، ۵۷، ۵۸۔

⑧ التعوذ من الجن: ۴۸، ۴۹۔

⑨ مدار صحة الجسم على صحة المعدة: ۵۱۔

دَ طب لغوی او اصطلاحی معنی: لفظ طب مثلثة الطاء دي دَ باب ضرب اونصر دواړو نه مستعمل دي دَ کوم معنی چه علاج کول دی اودَ دې اطلاق په جسمانی او روحانی دواړو قسمه علاجونوباندې کیږی. ونیلی شی طب الرجل کله چه جادو پرې کړې شوې وی دارنګ دَ دې استعمال اراده خواهش حال اوشان او عادت دَ پاره هم کیږی په اصطلاح کښې علم طب هغه علم ته ونیلی کیږی په کوم چه دَ بدنی مرضونو د علاج معالجې بیان او د صحت دَ حفاظت تدابیرمذکور وی

درقیه لغوی معنی: الرقیٰ دَ رقیة جمع ده اورقیه دم درها پوکی اومنتر جنتر ته وانی معتزله دَ دم درها قائل نه دی په دې سلسله کښې یوه قصه اوګورئی

د دم درها منکر معتزلی چپ کول: شیخ فضل محمد صاحب په توضیحات کښې لیکلی دی چې مادَ خپلو استاذانونه یوه قصه اوریدلې ده چه یوالله والا سړې وو دَ کوم نوم چه ابوالخیری وو. یوه ورځ هغه یو بیمار دم کولو چه یو روشن خیال معتزلی هلته راغلو او په ابوالخیری باندې ئی اعتراض اوکړو چه اذا ترفض فلاشی یعنی په دې دم سره به څه فائده اوشی داخو صرف یوپوکې دې کله چه تا واچولو نو په هواکښې تحلیل کیدوسره ختمیږی

دَدي څه وجود خوباقي نه دي نوڅه اثربه اوکړي؟
دي الله والا خپل دم اچول بندکړل اودغه معتزلي ته ئې بنه مغلطات اوونيل دَ معتزلي سترګې سرې شوې په غصه سره ئې رګونه راؤوتل اوحالت ئې خراب شو نو ابوالخيری اوونيل څه چل اوشو؟ هغه اوونيل لا پوښتنه هم کوې چه څه چل اوشو دومره کنځلې دې اوکړې چه زما په بدن کښې اور اولګيدلو. ابوالخيری ورته اوونيل چه داکنځلې خو يو پوکې وو اذاترفض فتلاشی هغه اوونيل چه ماته ئې سخت تکليف راؤرسولو الله والا اوونيل چه کله زما په کلام کښې دا تاثيردې نودَالله تعالی په کلام کښې به څومره اثر وی؟
دَطب موضوع : دَ دې فن موضوع انسانی بدن يا ابدان ذی روح دی من حيث الصحة والمرض
دَ علم طب شروع اودَ دې مختصر تاريخ : فن طب الهامی فن دې دَ مختلفو پيغمبرانو عليهم السلام طرف ته دَ دې نسبت کيږی.
① بعضې حضرات فرمائی چه دَ ټولونه اول داعلم حضرت آدم عليه السلام ته ورکړې شوې وو بياهم دَ هغوی په واسطه حضرت شيث عليه السلام ته بيا په بنيادموکښې دَ دې علم اشاعت اوشو مفسرين حضرات دَ قرآن آيت ﴿وَعَلَّمَ اٰدَمَ الْاَسْمَآءَ﴾ په تفسيرکښې فرمائی چه الله تعالی حضرت آدم عليه السلام ته دَ دنيا نافع اومضر څيزونه او دَ هغې خواص اوآثار. د هر ساه لرونکی اودَ هرقوم مزاج او طبائع اودَهغوی آثاروغيره ټول خودلې وو. نودَ ټولونه اول دَ طب دَ فن معلومات حضرت آدم عليه السلام ته خودلې شوې وو اودَ هغوی نه پس دَ هغوی اولاد ته راغلل
② دَ بعضې حضراتو داخيال دې چه دَ دې فن شروع دَ حضرت سليمان عليه السلام نه شوې ده بزار او طبرانی دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت نقل کړې دې چه حضرت سليمان عليه السلام به چه کله مونځ کولو او يو ونه به مخې ته شوه نودَ مونځ نه پس به ئې دَ دغه ونې نه دَ نوم تپوس کولو اودابه ئې هم معلومول چه ته دَ کوم کاردَ پاره پيداکړې شوې ئې نوهغه ونې به خپل خواص خودل کوم چه به هغوی ليکل دغه شان دَ ونو بوټو دَ خواصوعلم اودَ دې فن شروع اوشوه
③ په سديدی کښې دی چه حضرت موسیٰ عليه السلام بيمارشو نوهغه دَ بيمارئی علاج اونه کړوبلکه انکارئی اوکړو نودَ الله تعالی دَ طرف نه ورته آواز راغلو ولې ته داغواړې چه په توکل باندې زماحکمت بيکاره کړې؟ زما نه بغيرڅوک دی چه په عقاقير اوحشائش کښې ئې دا منافع کيخودې دی صحت به نشی درکولې ترکومې چه دې دا دوايانې استعمال کړې نه وی نوموسیٰ عليه السلام علاج اوکړو او روغ شو يهوديانو په دې وجه دَ دې علم ايجاد دَ حضرت موسیٰ عليه السلام طرف ته منسوب کړې دې
④ په تفسيرعزيزی کښې دی چه دَ جالينوس په خيګرکښې درد شو هرقسم علاجونو وغيره سره ئې کوششونه اوکړل خو بنه نه شو په خوب کښې ئې اوکتل چه يو نورانی سړې

هغه ته حکم ورکوی چه دا شریان (دَ گس لاس په شا باندې دَ غتې گوتې او مسواکې گوتې په مینځ کښې یورگ دې) نه وینه اوباسه په دې سره به دې بیماری کښې شفاراشی. جالینوس پاسیدو او هغه سرې ئی او لټولو او فصدئی اوکړو او ښه شو.

دا ټول اقوال صحیح معلومیږی خکه چه داخبره په مسلمات کښې ده چه دَ دې علم د روحانی معاملاتو سره خاص تعلق دې په کوم طبیب کښې چه څومره قدر روحانیت محسوسیږی نوهم هغه هومره دَ هغه تشخیص او تجویز مؤثر معلومیږی لکه چه مشاهده او تجربه هم ده.

د علم طب د ایجاد مختلف دعویداران: ①اهل هند وائی دَ دې شروع برهماجی کړې ده

②اهل چین وائی دَ دوایانودَ استعمال اول رواج ورکونکې رومبې سرې شهنشاه هورنگ ئې دې دَ چا زمانه چه دَ حضرت عیسیٰ علیه السلام نه ۳۲۸۷کاله وړاندې ده بیا دَ ده نه نورو کسانو زده کړه اوکړه

③ بابل والاوائی چه دَ ټولونه وړاندې دَ بابل والادَ دې شروع کړې ده دَخلقو په وړاندې ئې بیمار راوستلو شو او هر سړی به په خپل تجویزسره دَ هغه علاج کولو او په کوم سره چه به فائده کیدله دَ تانبې او چاندئی په تختویاندې به هغه لیکلې کیدل اوهغه به ئی دَ خپل بت په غاړه کښې اچول دغه شان اهل بابل دا ایجاد کړه.

④ عبرانیانو او اسرائیلیانو دَ دې شروع دَحضرت سلیمان علیه السلام طرف ته منسوب کړې ده

⑤ اهل مصر وائی چه پخوانی مصری بادشاه آتهوسس داعلم ایجادکړې دې چه دَحضرت عیسیٰ علیه السلام نه شپږ زره کاله وړاندې بادشاه وویه علم طب باندې هغه یوکتاب هم لیکلې وو

⑥ دَ اهل یونان وینا ده چه دَ دې شروعِ دَ اسقلبوس نه شوې ده اهل یونان ابوالطب وائی د دوی خیال دی چه په ده باندې دا علم دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه الهام شوې وو هغه خپل اولاد ته دا فن زده کړو اودَ هغه خاندان کښې لوئ لوئ حکماء او اطباء پیدا شو بیا فیساغورس چه دَحضرت عیسیٰ علیه السلام نه ۵۸۰ کاله وړاندې پیداشوې وو هم هغه دې فن ته رواج ورکړو خولادې وخت کښې دا فن مدون شوې نه وو

دَعلم طب تدوین : دَ اسقلبوس په شپارسم (۱۲) نسل کښې تقریبًا د حضرت عیسیٰ علیه السلام ۴۲۰ کاله وړاندې حکیم بقراط پیدا شو کوم چه په یونانیانوکښې رومبې سړې وو چاچه دَ نوروعلوموپه شان فن طب باقاعده مرتب کړو او په دې باندې ئی کتابونه اولیکل. دَ بقراط نه پس ارسطاطالیس حکیم شو دَ چا په علمی تحقیقاتواوکوششونو سره چه علم طب کښې ډیره زیاته اضافه اوشوه. دَ دې نه پس دَ حکیم جالینوس دور راغلو چا چه نورو نومورو اطباؤ سره یوځای علم الادویه باندې قابل قدر کتابونه اولیکل.

دَ هغه زماني مشهور اطباء ثاؤفرسطس او ويسقوريدوس برمانيدس او افلاطون وغيره دي دي نه پس دَ يوناني ژبې نه عربي ژبې ته دا وربدل کړې شوې مسلمانانو دَ ترقئی په زمانه کښې په دې علم کښې ډيره ترقي اوشوه او اضافه او ترميم هم اوشو. په دمشق کښې دَ مسيحي او يهودي استاذانو په امداد سره د يوناني طب په تعليم باندې ډير کوششونه اوکړې شو په بغداد کښې دَخليفه هارون الرشيد په زمانه کښې يولوی دارالعلوم قايم کړې شو چه په کلونو پورې چليدلو په دولت امويه او عباسيه کښې د بقراط او د جالينوس وغيره ډيرکتابونه په دې درس گاه کښې په درس کښې داخل وو دَ اسلامي طب عروج دَ ابوبکر محمدبن زکريا رازی ۸۵۰ء نه شروع کيږی کوم چه په بغداد کښې دَ علوم تحصيل اوکړو او علم طب ئې د حکيم ابوالحسن بن زيد طبری صاحب کتاب فردوس الحکمة نه تحصيل اوکړو دَموصوف تصنيفات دَ سلو نه زيات دی په علم طب باندې حاوی کبير ډير ښکلې کتاب دې دَ کوم شهرت چه ترننه پورې قايم دې. دَ رازی نه پس دَ ابوعلی بن سينا دور راغلو نودې فن ته نوره ترقي ملاو شوه. په اسلامي اطباؤ کښې مشهور حکماء ابوالقاسم زهراوی، ابومروان عبدالملک او ابوالوليد محمدبن احمدبن رشد مشهور طبيبان دی هغوی په فلسفه اوطب باندې کتابونه اوليکل چنانچه دَ اسلامي فلسفې دَ هغه د نوم سره خاص تعلق دې. دَ دې نه علاوه نور هم نومورې اطباء تيرشوی دی لکه ابن بيطار، داؤد انطاکی، ابوعلی بن عيسی، علی بن عباس قرشي، سمرقندی او ارزانی او مؤمن وغيره

دَ قرآن اوحديث څخه دَ طب ثبوت: نصراني د هارون الرشيد طبيب بختينوع علی بن حصين بن واقد ته اوونيل چه ستاسو په قرآن کښې دَ طب متعلق هيڅ هم نشته نوهغه جواب ورکړو چه الله تعالى ټول طب دَ قرآن حکيم په دې آيت کښې راجمع کړې دې(كُلُوْا وَاشْرَبُوْا وَلَا تُسْرِفُوْا ۚ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿﴾) هغه بيا اوونيل ستاسو دَ نبی په تعليم کښې دَ طب ذکرنشته نو علی بن حصين په جواب کښې اوفرمائيل رسول الله ﷺ خپل فرمان[۱] المعدة بيت كل داء والحمية رأس كل دواء کښې طب بيان کړې شوې دې. نو بختيشوع اوونيل بيا خو ستاسو نبی دَ جالينوس دَ پاره هيڅ هم نه دی پريخی

داسلامي طب جامعيت: دَ عقلاؤ فيصله ده چه دَ ژوند ضرورتونه او علوم مفيده او فنون نافعه قاطبةً په مذهب اسلام کښې خودلې شوی دی روحانيت، تمدن، اخلاق، صحت بدنی، معاشرت ومعيشت او دَ ښکلې ژوند ټول قوانين په دې کښې موجود دی. اهل ايمان خپل ټول علوم او فنون دَ خپل نبی کريم دَهدايت مطابق جدا جدا مرتب کړی دی اوعلم طب هم دَ دې علوموڅخه يوعلم دې. نن هم چه دَ حفظان صحت متعلق ډاکټرانو کوم

[۱] (دا دَ حضورپاک طرف ته صرف شهرة منسوب دې گنی دا دَ حارث بن کلده قول دې)

اصول قايم کړی دی هغه د اول نه په اسلام کښې موجود دی غرض دا چه هيڅ يو عملی او عملی خوبی او ښکلا نشته کوم چه په اسلام کښې نه وی.

په حقيقت کښې نبی کريم ﷺ امت ته که يوطرف ته دَ شريعت د احکامو تبليغ کړې دې نودې سره سره ئې دَ معاشرت او معيشت آداب هم واضح انداز کښې بيان کړې دې کتب احاديث کښې هيڅ يوکتاب داسې نشته په کوم کښې چه آداب بيان کړې شوې نه وی اودې سره سره دَ بدنی علاج دَ پاره هم رسول الله ﷺ ډير څيزونه او دوايانې بيان کړې دی اوهم دې ته طب نبوی وائی.

د طب دوه قسمونه: ① بدنی طب په دې طب کښې علاج کښې د صحت په حفاظت او په دفع د مرض سره کيږی.

② نفسانی په دې طب کښې علاج د نفس بازالة اخلاق رذيله مهلکه سره وی

د دوايانو دوه قسمونه: ① حسيه، طبعيه بيا به حسيه طبعيه مفرده وی يا مرکبه، رسول الله ﷺ د خپل امت علاج په حسيه طبعيه سره هم مؤثر خودلې دې. کما فی کتاب الطب والرقی.

② روحانيه ربانيه، لکه قران کريم، رسول الله ﷺ د خپل امت علاج په حسيه طبعيه سره هم مؤثر خودلې دې. روحانيه ربانيه هم کما فی قوله ويزکيهم.

د رقې لغوی معنی: الرقی بضم الراء وفتح القاف د (رقية) جمع، منتر ته وائی کوم چه په تبې والااو پيريانو وهلې وغيره باندې وئيلې شی

د رقيه دوه صورتونه اوده هر يو حکم: ① يوه رقيه په آيات قرانی يا اسماء الهی يا ذکر الله باندې مشتمل وی هغه بالاجماع جائز ده، خو د کومو کلماتو معنی چه معلومه وی او هغه د دين او شريعت مخالف هم نه وی نو هغه هم جائز ده

② که رقيه د عجمی لغت په ذريعه يا د داسې الفاظ او کلمات نه وی چه د هغې معنی معلوم نه ده نو هغه ناجائز ده ځکه چه په هغې کښې په کفر باندې مشتمل څه کلمه کيدې شی

اشکال: په بعض رواياتو کښې دی يارسول الله (إنك نهيت عن الرقى) د دې نه (نهى عن الرقى) ثابت ده؟

دااشکال درې جوابونه: ① اول د نهی حکم راغلې دې بيا دا حکم منسوخ شو او اجازت ورکړې شو واستقر الشرع على الاذن.

② يا د کومې رقی معنی چه معلوم نه وی د احتمال کفر د وجې نه په هغې باندې نهی وارد ده کمامر.

③ د نهی حکم د هغه چا دپاره دې کوم چه د رقی کلماتو لره مؤثر بالذات ګنړی لکه چه په جاهليت کښې به داسې کيدل.

د مبداء په اعتبار سره د علمِ طب دوه ذرائع: ① بعض علم طب خو د وحی په ذریعه معلوم شو ② بعضې علم طب په تجربې سره معلوم شو کما روی البزار والطبرانی عن ابن عباس أنه قال إن نبی الله سلیمان کان إذا قام یصلی رأی شجرة ثابتة بین یدیه فیقول سلیمان لها ما اسمك فتقول الشجرة کذا فیقول لأی شئ أنت) یعنی په تا کښې د کوم مرض دوائی ده؟ (فتقول لکذا فان کانت لدواء کتبت) الحدیث

د علاج په جواز اوعدم جواز کښې ۲ مذاهب:

① غلو کونکی صوفیاء د علاج معالجې نه انکار کوی، او وائی چه مرض وغیره هم د الله پاك د قضاء او قدر نه دې د هغې مقابله کولو سره علاج معالجه نه دی کول پکار دی

② د ائمه اربعو بلکه د جمهورو سلفو اود عامة الخلف په نزد علاج کول مستحب دی.

داول فریق دلیل: په روایت کښې دی چه (الذین یدخلون الجنة بغیر حساب لایرقون ولا یسترقون وعلی ربهم یتوکلون) داسې قسم هغه نور احادیث په کوم کښې چه د علاج او رقیه نه کولو د فضیلت ذکر دې د هغه احادیثو مخالف دی چه په هغې کښې د علاج معالجې کولو ذکر دې کقوله لکل داء دواء؟

د اول فریق د دلیل دوه جوابونه: ① دلته د هغه خلقو متعلق دخول جنت بغیر د حساب ذکر دې کوم خلق چه د علاج بالحرام یا د مجهول المعنی رقیه او د کفری رقیه نه پرهیز کولو په حالت کښې مړهٔ شوې دی، لهذا دا د هغه احادیثو خلاف نه دی چه په هغې کښې د علاج بالحلال یا د جائز رقیة ذکر دې هغه خو سنت دی.

② په کومو احادیثو کښې چه د ترك رقیة مدح ده هغه د بیان افضلیت دپاره دې او په کومو احادیثو کښې چه د رقیه او د علاج ذکر دې هغه د بیان جواز دپاره دې فلاتعارض (کما فی شرح مسلم للنووی ۲/۲۱۹ والمرقاة ۸/۳۳۹، والاشعة ۳/۶۳۹)

د دویم فریق دلیل: په حدیث کښې دی عن جابر أنه علیه السلام قال لکل داء دواء فإذا أصیب دواء الداء برأ بإذن الله تعالی رواه مسلم، په قول د بقراط علاج کله بالضدوی اوکله په طبیب باندې د مرض او دوایئ حقیقت پټ پاتې شی په دې وجه د علاج باوجود صحیح طور دوائی اثر نه کوی او د زرګونو علاجونو باوجود شفاء نه ملاویدل د علم بحقیقة المداواة د نیشت والی د وجې دې د دوایئ د نیشت والی د وجې نهٔ وی. هم د دې خبرې طرف ته ئې اشاره اوکړه (فإذا أصیب الخ) بهر حال د علاج کولو مستحب کیدل د دې قسم احادیثو څخه ثابت دی.

دعلاج اوتقدیرپه مینځ کښې عدمِ منافات: په علاج کولو سره د تقدیر مقابله کول نه لازمیږی، بلکه علاج کول هم په تقدیر کښې دی، کما روی الترمذی (انه سئل النبی ﷺ أرأیت أدویة نتداوی بها ورقی نسترقیها هل ترد من قدر الله شیئا قال هی من قدر الله)

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۳۰۳] د هري بيمارۍ د علاج امكان

۴۵۰۴-[۱] (¹) ① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② «مَا أَنْزَلَ اللّٰهُ دَاءً إِلَّا أَنْزَلَ لَهُ شِفَاءً». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① حضرت ابوهريره ﷺ وايي چه رسول الله ﷺ وفرمايل ② الله ﷻ يوه داسې ناروغي نه ده پيدا كړي چې د هغې د پاره يې شفاء نه وي نازله كړي، [يعنى الله ﷻ د هر مرض سره د هغه علاج هم پيدا كړي دي، كه هغه مرض لاحق شي، نو د هغه علاج په ذريعه ورته شفا وركړي]. (بخاري)

حل اللغات: ① دَاءٌ: مرض، بيمارى.

تسهيلات:

قوله: مَا أَنْزَلَ اللّٰهُ دَاءً إِلَّا أَنْزَلَ لَهُ شِفَاءً:

د بيمارۍ څخه د شفاء نه ملاويدو وجه: د حديث الباب حاصل دا دي چه الله تعالى هيڅ يو داسې بيمارى نه ده پيدا كړي چه د هغې د شفاء دپاره ئي دوا نه وى مقرر كړې ليكن ډاكټر يا حكيم چه كله ددي بيمارئى علاج كوي نو بعضى وخت هغه د جوړيدو په ځائي نور هم بيمار شي نو ددي اصل وجه دا چه د هغه مرض اصل دوائى ته د ډاكټر يا د حكيم نسخه نه وى رسيدلې

په زهرو سره شفا ملاويدل: لكه يو واقعه مشهور ده چه يو مريض د ډاكټر نه علاج كولو نو هغه مريض نه جوړيدل نو په دي كښې ډير وخت تير شو او ډاكټر د مريض نه تنګ شو نو هغه ډاكټر مريض ته زهر وركړه چه دا مريض مړ شي نو هغه مريض د مركيدو په ځائى تندرست شو نو ددي نه دا معلومه شوه چه ددې مريض تندرستى په زهرو كښې وه ليكن ډاكټر ددغه مرض علاج ته او نه رسيدو خو چه كله ئى د مركولو دپاره دوائى وركړه نو هغه روغ شو

[۳۰۴] دوائي د علاج ظاهري ذريعه

۴۵۰۵-[۲] (²) ① وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«لِكُلِّ دَاءٍ دَوَاءٌ ③ فَإِذَا أُصِيبَ دَوَاءُ الدَّاءِ ④ بَرَأَ بِإِذْنِ اللّٰهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت جابر ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② د هري ناروغي دوا

(¹) اخرجه البخاري فى كتاب الطب/باب ما أنزل الله داء إلا أنزل له شفاء (رقم-۵۶۷۸) وابن ماجه فى كتاب الطب/باب ما أنزل الله داء، إلا أنزل له (رقم-۳۴۳۹)

(²) اخرجه مسلم فى كتاب السلام/باب لكل داء دواء واستحباب التداوى (رقم-۶۹ - (۲۲۰۴)) واحمد فى المسند: ۳۳۵/۳

شته،[۳] هر کله چې هغه دوا د ناروغي موافق شي،[۴] نو ناروغ د الله ﷻ په حکم (یعني د هغه په مشیت او ارادې) سره ښه شي. (مسلم)

حل اللغات: ① بَرَأَ: شفایاب کیږی.

تسهیلات:

د بیمارۍ دپاره د علاج مسئولیت: دَدې حدیث نه اودَدې نه مخکښې حدیث نه داخبره واضحه معلومیږی چه کله چاته بیماری اولګی نو علاج معالجه اودوائی استعمالول مستحب دی. ځنګه چه بیماری راتلل دَتقدیر الهی تابع دی دغه شان دوائی اودَ مرض ختمیدلو هره جائز ذریعه هم دَتقدیر الهی تابع دی.

په علاج کښې مؤثرِ حقیقی: دَدې حدیث نه دویمه خبره دا ثابتیږی چه دَ دوائی دَاستعمال نه پس اثر اچونکې اوشفاورکونکې دَالله تعالی ذات او دَهغه حکم دې. دوائی خو صرف یوسبب او ذریعه ده مؤثرحقیقی نه دې. هم دغه هغه څیزدې چه دَ هریو علاج او دم درها دَپاره په توګه دَاصل او قاعدې په خیال کښې ساتل ضروری دی چه کومه یوه دوائی یا دم درها مؤثر بالذات ګنړل صحیح نه دی. مؤثر حقیقی خوصرف او صرف دَالله تعالی ذات دې دَهغه دَ طرف نه دوائی وغیره ته مستقل حکم کیږی نوهله دوائی اثر کوی. هم دا نظریه دَعقاندو په کتابونوکښې بیان کړې شوې ده

دخوراک څکاک څخه روسته دالله تعالی مستقل حکم: چه اشاعره اوماتریدیه متکلمین وائی چه دَخوراک څښاک نه پس دَالله تعالی مستقل حکم کیږی چه داخوراک دې دَ خوړونکی خیټه مړه کړی اوابه دې دَ دغه څکونکی په څکلوسره تنده ماته کړی اوکه چرې یوسړې په اورکښې پریوځی نودَ پریوتلونه پس دَالله تعالی دَ طرف څخه حکم کیږی چه دې اوسوزوه ګنی اور اثر نه کوی لکه چه په حضرت ابراهیم علیه السلام باندې اور اثر اونه کړو.

د شفاء ملاویدو عجیبه روایت: ملاعلی قاری رحمه الله په حواله دَحمیدی یو روایت نقل کړې دې دکوم خلاصه چه داده چه کله یوسړې بیمارشی نوالله تعالی یوه فرښته ورلیږی دکومې په لاس کښې چه یوه پرده وی. فرښته دغه پرده دَ بیمار دَ بیمارئی اودوائی په مینځ کښې حائل کوی دَدې نتیجه دا راوځی چه بیمارکومه دوائی هم استعمالوی هغه مرض ته نه لګی (شفا نه حاصلیږی) کله چه دَالله تعالی اراده اوشی چه بیماردې ښه شی نو فرښتې ته حکم کیږی چه دَمرض او دوائی نه پرده اوچته کړه دې نه پس چه کله بیمار دوائی استعمالوی نوالله تعالی دَدغه دوائی په ذریعه شفا ورکوی.

[۲۵۲] په دريو څيزونو كښې د شفاء ثبوت

۴۵۱۳-[۳] (١) ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«الشِّفَاءُ فِي ثَلَاثٍ: ③ فِي شَرْطَةِ مِحْجَمٍ ④ أَوْ شَرْبَةِ عَسَلٍ ⑤ أَوْ كَيَّةٍ بِنَارٍ. ⑥ وَأَنَا أَنْهَى أُمَّتِي عَنِ الْكَيِّ»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت ابن عباس ﷠ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② په دريو څيزونو كې شفاء ده ③ په ښكر لګولو (وينه اوخكلو) كې ④ يا په شات څكلو كې (كه خالص شات وڅكي يا اوبه يو ځاي كولو سره يې وڅكي) ⑤ يا په اور سره په داغلو كې، ⑥ ليكن زه خپل امت د داغلو نه منع كوم. (بخاري)

حل اللغات: ① شَرْطَةِ مِحْجَمٍ: د حجام ښكر لګول، ② عَسَلٍ: شهد، ③ كَيَّةٍ: داغ لګول

تسهيلات:

قوله: شَرْطَةِ مِحْجَمٍ:

د مذكوره لفظونو معنى: شرطه دَ فعلة په وزن باندې نشتر وهلوته وائى مګردلته صرف دَ وهلودَپاره استعمال كړې شوې دې. دَ نشتر مفهوم په دې كښې نشته ځكه چه وړاندې "محجم" لفظ دې دكوم نه چه دَ حجام يعنى دَ نائى دَ اوسپنې هغه آله مراد ده دكوم په ذريعه چه حجام په بدن كښې زخم لګوى اووينه راوباسى.

قوله: أَوْ كَيَّةٍ بِنَارٍ:

په داغ سره علاج كول: دريم څيزكوم كښې چه شفاء ده هغه په اورباندې داغولوكښې ده يعنى داغ لګونكى اوسپنه په اوركښې ګرمه كړه په هغې سره ئې بيمار اوداغلو او په اسپند كښې ئې اور اولګولو داغ ئې وركړو. نن صبا هم دَدې ماهرين داكاركوى اوعلاج كاميابيږى

په احاديثو كښې تعارض: په اور سره داغلوعلاج نه بعضې احاديثوكښې ممانعت راغلې دې لكه چه زيربحث حديث كښې دى. دَ بعضې رواياتونه معلوميږى چه نبى كريم پخپله دَ داغ په عمل سره دَ بعضې صحابه كرامو علاج كړې دې. دَصحابه كرامو په معمولاتوكښې هم دَداغ عمل موندلې شى اوبه دې رواياتوكښې په ظاهره تعارض دې دَدې څه جواب دې؟

جواب: اصل حقيقت داسې دې چه د داغلو عمل دَجائزعلاجونونه يوعلاج دې ليكن دَدې دَ استعمال نه دَمنع كولو څه خارجى وجوهات دى

① نبى كريم دَ زياتې مبالغې او دكيّې فاحش نه منع كړى ده دَ حاجت په اندازه مخكښې

(١) اخرجه البخاري في كتاب الطب/باب: الشفاء في ثلاث (رقم-٥٦٨٠) وابن ماجه في كتاب الأشربة/باب الشرب بالأكف والكرع (رقم-٣٤٣١)

هم اجازت وو اواوس هم دي لهذا په احادیثو کښې هیڅ تعارض نشته دي.

۲ دَ داغلو عمل به عربو مؤثربالذات گنړلو په دې وجه نبی کریم دَدې غلطې عقیدې دَ وجې نه داغ منع کړو مطلق ممانعت نه دي.

۳ نبی کریم په امت باندې دَ شفقت او رحمت په توګه دَ داغلونه امت منع کړې ده چه ترکومې پورې نور علاج ممکن وی دَ داغ طرف ته نه دی راتلل پکار ځکه چه اور سخت خیزدې لیکن چه کله نوره څه آسانه طریقه موجودنه وی نوبیا په مجبورئی کښې معذوری دي.

[۴۵۱۷] دجابر رضی الله عنه پلار داغل

۴۵۱۷-[۳]()[١] وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲]«رُمِيَ أُبَيٌّ يَوْمَ الْأَحْزَابِ عَلَى أَكْحَلِهِ[۳] فَكَوَاهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] او حضرت جابر ﷺ وایي [۲] چې د غزوهٔ احزاب [چې هغې ته غزوه خندق هم وایي] په ورځ د حضرت أُبي بن کعب شاه رګ په غشی ولګیدلی (چې د هغې نه وینه جاري شوه)[۳] نو رسول الله ﷺ هغه او داغلو، [یعنی حضور ﷺ د زخم خله د داغلو حکم وکړو یا په خپل لاس مبارك سره يې او داغلو چې وینه یې بنده شي]، (مسلم)

حل اللغات: ① يَوْمَ الْأَحْزَابِ: غزوه خندق، ② أَكْحَلِهِ: د شاه رګ، ③ فَكَوَاهُ: داغ ئې ورکړو.

تسهیلات:

قوله: رُمِيَ أُبَيٌّ يَوْمَ الْأَحْزَابِ عَلَى أَكْحَلِهِ، فَكَوَاهُ رَسُولُ اللَّهِ.

د رګِ جان په دريِ حصو کښې تقسیم: اکحل دَرګ جان نوم دي

① که چرې دا سټ سره وی نودَدې نوم ابهر وی

② چه مټ ته دا رګ راشی نودَدې نوم اکحل کیږی

③ چه دا رنګ په پټون او پنډئی کښې راشی نودَدې نوم النساء کیږی کوم چه دَعرق النساء په نوم سره مشهوردي.

د حدیث پس منظر: غزوه خندق اوغزوه احزاب هم دَ یوې غزوې دوه نومونه دی په څلورم هجری کښې دا غزوه پیښه شوې وه. لس زره کافرانویوه میاشت دَ مدینې منورې محاصره کړې وه دَدواړو طرفونه لاس په لاس دَ جنګ موقع دَخندق دَ وجې نه راغله البته غشی وریدل په دې کښې ډیره صحابه کرام زخمیان شو حضرت ابی بن کعب ﷺ ته اکحل یعنی دَ مټ په رګ باندې غشي اولګیدو هم په دغه اکحل کښې حضرت سعدبن معاذ ﷺ هم په غشی اولګیدو وینه نه بندیدله نونبی کریم دواړه اوداغل

() اخرجه مسلم فی - کتاب السلام/باب لکل داء دواء واستحباب التداوی (رقم-۷۴ - (۲۲۰۷) واحمد فی المسند:۳۰۳/۳

[۴۵۱۸] د نبی علیه السلام سعد بن معاذ لره داغل

۴۵۱۸-[۵] (¹) [۱] وَعَنْهُ قَالَ: [۲] «رُمِيَ سَعْدُ بْنُ مُعَاذٍ فِي أَكْحَلِهِ، [۳] فَحَسَمَهُ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِيَدِهِ بِمِشْقَصٍ، [۴] ثُمَّ وَرِمَتْ، فَحَسَمَهُ الثَّانِيَةَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر رضي الله عنه وايي [۲] چه د حضرت سعد ابن معاذ رضي الله عنه شاه رګ په غشي ولګيدو اچي په هغې سره وينه جاري شوه [۳] نو رسول الله ﷺ په لاس مبارک سره د غشي د څوکي په ذريعه زخم اوداغلو، [۴] بيا چې د هغه لاس وپړسيدو، نو حضور ﷺ دوباره وداغلو. (مسلم)

حل اللغات: ① أَكْحَلِهِ: د شاه رګ، ② فَحَسَمَهُ: نو داغ ئې ورکړو ③ مِشْقَصٍ: دغشي څوکه، ④ وَرِمَتْ: اوپړسيدو

تسهيلات:

نوټ: د اكحل رنګ باره کښې وضاحت دې څخه وړاندې د حديث نمبر (۴۵۱۷) په تشريح کښې تيرشوي دې.

[۴۵۱۹] د ابی بن کعب داغل

۴۵۱۹-[۶] (²) [۱] وَعَنْهُ قَالَ: [۲] «بَعَثَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِلَى أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ طَبِيبًا، [۳] فَقَطَعَ مِنْهُ عِرْقًا، [۴] ثُمَّ كَوَاهُ عَلَيْهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر رضي الله عنه وايي [۲] چې رسول الله ﷺ ابي ابن کعب رضي الله عنه ته يو طبيب وليږلو، [۳] طبيب د هغه يو رګ کټ کړو [۴] او [زخم يې] اوداغلو. (مسلم)

حل اللغات: ① عِرْقًا: رګ، ② كَوَاهُ: داغ ئې ورکړو

تسهيلات:

قوله: ثُمَّ كَوَاهُ عَلَيْهِ:

په رواياتو کښې تعارض: د حديث نمبر ۴۵۱۷، ۴۵۱۸، ۴۵۱۹ څخه د داغلو جواز معلوميږي اود پورته درې وارو احاديثو څخه دا معلوميږي چه په اور سره داغ لګول جائزنه دي

د داغ لګولو ممانعت روايات: ① په ابوداود کښې يو روايت دې "عن عمران بن حصين أنه قال نهانا النبي صلى الله عليه وسلم عن الكي فابتلينا به" نو د دې حديث نه نهى معلوميږي

¹) اخرجه مسلم فی کتاب السلام/باب لکل داء دواء واستحباب التداوی (رقم-۷۵ - (۲۲۰۸))والترمذی فی کتاب السیر عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی النزول علی الحکم (رقم-۱۵۸۲) واحمد فی المسند:۳۸۶/۳

²) اخرجه مسلم فی کتاب السلام/باب لکل داء دواء واستحباب التداوی (رقم-۷۳ - (۲۲۰۷)) وابوداود فی کتاب الطب/باب فی قطع العرق وموضع الحجم (رقم-۳۸۶٤) وابن ماجه فی کتاب الطب/باب من اکتوی (رقم-۳٤۹۳)واحمد فی المسند:۲٤۱/۲

④ په مسلم شريف كښې هم ددوي نه روايت دي "انه قال كنت اسمع تسليم الملائكة فلما اكتويت حجبت عنه فتبت فرجع الحال" چه فرښتو به ماته سلام كولو نو كله چه ما د داغ لګولو عمل شروع كړو نو فرښتو زمانه حجاب كول شروع كړل ليكن كله چه ما د داغ لګولو عمل ترک كړو نو بيا فرښتو ماته سلام كول شروع كړو.

⑤ په يو بل حديث كښې ذكر دي چه نبي كريم ﷺ اوفرمائيل "إني لأحب الكي"

د تعارض دفع جوابونه: ① نهى والا احاديث په هغه صورت باندې محمول دي چه بغير د مرض نه داغ لګول وى يا مرض خه كولو كښې د داغ لګولو ضرورت نه وي بلكه په دوا وغيره باندې خه كيږي.

② دا ممانعت په هغه صورت باندې محمول دې چه په فاسده عقيده يا شرک خفى كښې د واقع كيدلو خطره وي او كه داسى نه وي نو بيا ممانعت نشته.

③ بعضې حضراتو فرمائيلى دى چه د نبى كريم ﷺ بعضې صحابه كرامو ته د داغ لګولو حكم كول په دې اعتبار سره وو چه د هغه صحابه كرامو زخم ډير خراب شوي وو او د بعضو د اندامونو كټ كيدولو په وجه وينه نه اودريدله او نبى كريم ﷺ ته دا معلومه وه چه داغ لګولو په صورت كښې صحت يقينى دي نو ځكه ئي د داغ لګولو حكم وركړو.

تطبيقى مجبره: افضل دا دي چه د داغ لګولو عمل دې ترک كړې شي او كه د مجبورى په حالت كښې يو حاذق طبيب اووائى چه د مرض علاج هم په داغ لګولو كښې دي نو بيا جائز دى (التعليق الصبيح ج۵، ص۲۱)

[۲۵۲۰] د كلونجي خاصيت

۲۵۲۰ـــ[۷] (۱) ⓵ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: ⓶ "«فِي الْحَبَّةِ السَّوْدَاءِ شِفَاءٌ مِنْ كُلِّ دَاءٍ، إِلَّا السَّامَ» ⓷" قَالَ ابْنُ شِهَابٍ: السَّامُ: الْمَوْتُ. ⓸ وَالْحَبَّةُ السَّوْدَاءُ: الشُّونِيزُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ⓵ او د حضرت ابوهريره ﷺ نه روايت دي چه هغه د رسول الله ﷺ نه اوريدلى دى ⓶ چې توره دانه د سام د ناروغۍ نه علاوه د هري ناروغۍ د پاره شفاء ده، ⓷ ابن شهاب ﷫ بيان وكړو چې د سام نه مرگ مراد دي، ⓸ او د تورې دانې نه كلونجي مراد ده. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① الْحَبَّةِ السَّوْدَاءِ: أي الشُّونِيزُ: د كلونجى تورې دانې ② الشُّونِيزُ: دَ كلونجى دَ بوټى اصل نوم دي. ③ السَّامَ: أي الْمَوْتُ: مرګ

(۱) اخرجه البخاری فی كتاب الطب/باب الحبة السوداء (رقم-۵۶۸۸) ومسلم فی كتاب السلام/باب التداوى بالحبة السوداء (رقم-۸۸ - (۲۲۱۵) والترمذی فی كتاب الطب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الحبة السوداء (رقم-۲۰۴۱)

تسهیلات:

قوله: فِي الْحَبَّةِ السَّوْدَاءِ شِفَاءٌ:

د الحبة السوداء مصداق: دَتورې دانې نه مراد کلونجی ده. دادَ یوبوټی تخم دې دَدې حجم رنګ روغن اوخوند بالکل دَ پیاز دَتخم په شان دې. شبه پیدا کیږی چه هم دغه کلونجی دې لیکن داکلونجی نه دې بلکه کلونجی دَ پنجاب په علاقو کښې پیدا کیږی دا باقاعده کرلې شی دَدې بوټې وړوکې شان وی.

قوله: وَالْحَبَّةُ السَّوْدَاءُ: الشُّونِيزُ.

د کلونجې په شفاء کیدو کښې دوه اقوال: ① دَعلامه طیبی رحمه الله خیال دې چه کلونجی صرف دَهغه مرضونوعلاج دې کوم امراض چه دَ رطوبت اوبلغم څخه پیدا شوی وی ځکه چه دَکلونجی مزاج خشك او ګرم دې. نودَ طبائع مرطوبه بلغمیه دپاره مفید دې عام نه دې

② دَعلامه طیبی رحمه الله نه علاوه ټول شارحین داپه عموم باندې حمل کوی او وائی چه کلونجی واقعی دَ مرګ نه علاوه دَهرې بیمارئی دپاره شفاء ده. لیکن په دې توګه باندې شفاء ده چه نورو دوایانونه سره دا یوځائی کړې شی اودَ کلونجی جز په دې کښې اهم او اعظم وی.

د کلونجې افادیت: علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه په حدیث کښې عموم دې په دې وجه عام معنی اختتل زیات بهتر دی. په کلونجی باندې خلقو مستقل کتابونه لیکلی دی دَبې شمیره بیمارو دپاره دَدې خاص خاص نسخې تجویز کړې شوې دی

[۴۵۱] په شاتو کښې شفاء

۴۵۱—[۸] (۱) ⓵ وَعَنْ أبي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ⓶ «جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: ⓷ إِنَّ أَخِي اسْتَطْلَقَ بَطْنُهُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اسْقِهِ عَسَلًا". ⓸ فَسَقَاهُ، ثُمَّ جَاءَ، فَقَالَ: ⓹ سَقَيْتُهُ فَلَمْ يَزِدْهُ إِلَّا اسْتِطْلَاقًا. ⓺ فَقَالَ لَهُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ. ⓻ ثُمَّ جَاءَ الرَّابِعَةَ، فَقَالَ: "اسْقِهِ عَسَلًا".

ترجمه: ⓵ او حضرت ابو سعید خدري رضی الله عنه وایې ⓶ چه یوه ورځ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې یو سړي حاضر شو، هغه اوویل ⓷ چې زما د وړور نس (خیټه) خرابه شویده، یعنی مسلسل دستونه ورته راځي، حضور صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل عسل (شهد) ورباندی وڅکه، ⓸ هغه سړي لاړلو او په خپل وړور یي عسل (شهد) اوڅکل، [څه وخت وروسته] بیا راغي، او

(۱) اخرجه البخاری فی کتاب الطب/باب الدواء بالعسل وقول الله تعالی: {فیه شفاء للناس} [النحل: ۶۹] (رقم-۵۶۸٤) ومسلم فی کتاب السلام/باب التداوی بسقی العسل (رقم-۹۱ - (۲۲۱۷) والترمذی فی کتاب الطب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الحجامة (رقم-۲۰۵۲) واحمد فی المسند:۳/۱۹

وي ويل ⑤ ما عسل (شهد) ورباندی اوڅکل، ليکن د عسلو (شهد) سره يي دستونه نور زيات شو، ⑥ حضور ﷺ هغه ته دري ځلي دا حکم ورکړو [يعني حضور ﷺ به ورته هر ځل دا فرمايل چې په هغه عسل (شهد) وڅکه، هغه سړي به عسل (شهد) ورباندی څکل بيا به راتلو سره يې وئيل چې ما عسل (شهد) ورباندی اوڅکل خو دستونه يې د مخکې نه هم نور زيات شوا ⑦ تر دي چې هغه په څلورم ځل راغي [او هغه اوويل په دستونو کې زياتي شوي دي] نو حضور ﷺ ورته بيا وفرمايل چې په هغه عسل (شهد) وڅکه.

حل اللغات: ① اسْتَطْلَقَ بَطْنُهُ: نس (خيټه) خرابه شويده، د اسهال بيماری ورته لګيدلی ده.

> ① فَقَالَ: لَقَدْ سَقَيْتُهُ، فَلَمْ يَزِدْهُ إِلَّا اسْتِطْلَاقًا ② فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "صَدَقَ اللهُ، وَكَذَبَ بَطْنُ أَخِيكَ". ③ فَسَقَاهُ، فَبَرَأَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① هغه عرض وکړو چې (يا رسول الله ﷺ) ما عسل (شهد) ورباندی اوڅکل خو عسلو (شهد) يې دستونه نور هم زيات کړي دي، ② بيا ورته حضور ﷺ وفرمايل الله ﷻ خو رښتيا فرمايلي دي، خو ستا د ورور نس (خيټه) دروغجنه ده، ③ آخر هغه سړي په خپل ورور بيا عسل (شهد) اوڅکل (خالص يا د اوبو سره يو ځاي کولو سره يي ورباندی اوڅکل) نو هغه ښه شو (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ② فَبَرَأَ: نو جوړ شو، شفا ياب شو.

تسهيلات:

قوله: اسْقِهِ عَسَلًا:

په شاتو باندې د استطلاق البطن علاج: دَخلقو اوعامو طبيبانو خيال وو چه شات پخپله مسهل دی دَ استطلاق بطن دَ بيماردَپاره مناسب نه دی ليکن نبی کريم هم په شاتو باندې زور ورکولو اودَ اطباؤ ظاهربينی نی رد کوله کله چه علاج اوشو نو طب او اطباؤ ټولو اومنله چه دَ استطلاق بطن اصل علت په کولموکښې يوفاسد ماده وی ترکومې پورې چه هغه ختمه شوې نه وی بيماری به ختميږی نه په شاتوسره دَ دست دَپاسه دست کيدودَ وجې آخرکښې هغه فاسد ماده ختمه شی نوبيا علاج ممکن کيږی په دې حقيقت باندې طبيبان نه پوهيدل حالانکه دا علاج بالمثل دې اودَطبيبانو په نيز دا يومسلم حقيقت دې

په کلونجی او شاتو سره شفا ملاويدل: دَ کلونجی اوشاتو په برکت باندې يقين ساتلوسره هم شفاء حاصليږی صحابه کرامو دَ مختلف مرضونودَپاره شات استعمال کړی دی بلکه په ظاهری بدن باندې شات مږلوسره به نی علاج کولو په زخم باندې دَ شاتو پټئی عجيب الاثر ده په دې شرط چه شات خالص وی خالص شات دې وخت کراچئ کښې ۸۰۰ روپئی کلو دی ۲۰۰۵ء.

[۴۵۲۲] د قسط بحری په ذریعه علاج

۴۵۲۲-[۹] (¹) ① وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«إِنَّ أَمْثَلَ مَا تَدَاوَيْتُمْ بِهِ الْحِجَامَةُ ③ وَالْقُسْطُ الْبَحْرِيُّ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت انس ﷜ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② کوم څیزونه چې تاسو د دوا او علاج په طور اختیاروئ، په هغې کې بهترین شي ښکر لګول (وینه اوخکل) ③ او د بحري قسط استعمالول دي (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① الْحِجَامَةُ: ښکر لګول (وینه ویستل)، ② الْقُسْطُ الْبَحْرِيُّ: دا د یوبوټی نوم دي کوم ته چه کوټ هم وائی دا یو خوشبوداره سمندري لرګي دي اوبطور د علاج هم استعمالیږي

تسهیلات: قوله: وَالْقُسْطُ الْبَحْرِيُّ.

د قسط بحری پیژندګلو: دا د یودوائی (بوټی) نوم دي چه په ځنګلونو کښې وی وړوکي شان بوټي دي د هغې جرړه ده د کشمیر په علاقو کښې ډیر وی خاص کر د کیل او ذواریه په ځنګلونو کښې ډیروی.

د انګریز په زمانه کښې د دې په راویستو باندې سخته پابندی وه. د ۳۰۲ قتل کیس به جوړیدلو د طبیبانو په نیزد قسط بې شمیره فائدې دی. د دې دوه قسمونه دی یوته قسط بحری وائی اودویم ته قسط هندی وائی. دکوم رنګ چه تور سوربخن وی قسط بحری زیات فائده مند دې. په زیربحث حدیث کښې قسط بحری په بهترین دوایانو کښې شمیر کړې شوې دې.

[۴۵۲۳] د ماشومانو په قسط سره د علاج کولو ترغیب

۴۵۲۳-[۱۰] (²) ① وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«لَا تُعَذِّبُوْا صِبْيَانَكُمْ بِالْغَمْزِ مِنَ الْعُذْرَةِ ③ عَلَيْكُمْ بِالْقُسْطِ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت انس ﷜ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② تاسو د خپلو کوشنیانو د حلق ناروغي ته په لاس یا په کپړې سره هغوئ ته تکلیف مه رسوئ، ③ بلکې تاسو ته قسط استعمالول پکار دي (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① الْغَمْزُ: په لاس سره زور کول ② الْعُذْرَةُ: د پینو ځکونکو ماشومانو په تالواو مرئی کښې یوه بیماری پېښتو کښې ورته جبې وائی ③ الْقُسْطُ: یوقسم دوائی

¹) اخرجه البخاری فی کتاب الطب/باب الحجامة من الداء (رقم-۵۶۹۶) ومسلم فی کتاب المساقاة/باب حل أجرة الحجامة (رقم-۶۳ - (۱۵۷۷) واحمد فی المسند:۳/۱۰۷

²) اخرجه البخاری فی کتاب الطب/باب الحجامة من الداء (رقم-۵۶۹۶) ومسلم فی کتاب المساقاة/باب حل أجرة الحجامة (رقم-۶۳ - (۱۵۷۷) واحمد فی المسند:۳/۱۰۷

تسهيلات:

قوله: لَا تُعَذِّبُوا صِبْيَانَكُمْ بِالْغَمْزِ مِنَ الْعُذْرَةِ:

د ماشومانو دخاص بيمارۍ علاج: دَعذره سبب دَ وينې دباؤ وى. دَ ماشومانو مئيندې دَهغه ماشومانو په تالوكښې ګوته وركوى او تالوته زور وركوى په كوم كښې چه دَ پوزې په لار باندې توره وينه راؤځى په دې عمل سره ماشومانوته سخت تكليف كيږى. نبى كريم دَدې په ځائى آسان علاج خودلې دې چه قسط حل كولوسره اوبه حاصل كړئى اودغه اوبه دَ ماشوم په پوزه كښې واچوئى دا اوبه دَجمع شوې وينې ځائى ته رسيږى نووينه اوچيږى او ماشوم ته شفاء حاصله شى

د طبيبانو حيرانتيا: دلته هم طبيبان حيران شوچه قسط سخت ګرم دې اودا بيمارى هم دګرمنى نه پيدا كيږى دَدې دَپاره ئى قسط څنګه تجويزكړو دَدې جواب دا وركړې شو چه دا وينه اودَ دباؤ په اصل كښې دَ بلغم دَ وجې نه كيږى لكه چه دَدې بيمارئى اصل فاسد ماده بلغم دې او قسط سره بلغم ختميږى لهذا دا دَدې بهترين او آسان علاج دې

[۴۵۴۳] د ذات الجنب علاج

۴۵۴۳-[۱۱] ()[۱] وَعَنْ أُمِّ قَيْسٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهَا- قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] "«عَلَى مَا تَدْغَرْنَ أَوْلَادَكُنَّ بِهَذَا الْعِلَاقِ؟[۳] عَلَيْكُنَّ بِهَذَا الْعُودِ الْهِنْدِيِّ؟[۴] فَإِنَّ فِيهِ سَبْعَةَ أَشْفِيَةٍ،[۵] مِنْهَا ذَاتُ الْجَنْبِ [٦] يُسْعَطُ مِنَ الْعُذْرَةِ،[۷] وَيُلَدُّ مِنْ ذَاتِ الْجَنْبِ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او بى بى ام قيس رضي الله عنها فرمائي چې رسول الله ﷺ وفرمايل[۲] تاسو د خپلو كوشنيانو د حلق علاج داسې دباؤ كولو سره ولې كوئ،[۳] بلكه چې تاسو ته د هغوئ علاج د عود هندي يعنى د كوټ په ذريعه كول پكار دي،[۴] څكه چې په عود هندي كې د اوو ناروغيو علاج دي،[۵] چې په هغه كې يوه ذات الجنب دي،[٦] د عذره په صورت كې دي ورته سعوط وكړل شي [يعني د عذره ناروغئ د لرې كولو د پاره عود هندي په اوبو كې حل كولو سره په پوزه كې دي وڅڅول شي][۷] او د ذات الجنب په صورت كې دي لدود وكړل شي [يعني د ذات الجنب د ناروغئ د لرې كولو د پاره عود هندي په اوبو كې حل كولو سره په خله كې دي وڅڅول شي] بخاري، مسلم

حل اللغات: ① تَدْغَرْنَ: دا دَ دغرنه دې زور وركول ② الْعِلَاقِ: زور وركول او نچوړى كول ③ الْعُودِ الْهِنْدِيِّ: دا دَ يوبوټى نوم دې كوم ته چه كوټ هم وائى ④ أَشْفِيَةٍ: د ناروغتيا علاجونه، ⑤ ذَاتُ الْجَنْبِ: په خيټه كښې يو اړخ ته بادى درد، ⑥ يُسْعَطُ: په پوزه كښې دې ورته واچولې شى، ⑦ الْعُذْرَةِ: د ماشومانو د جبې بيمارى، ⑧ يُلَدُّ: په خوله كښې دې ورته دوائى واچولې شى.

[۱] اخرجه البخارى فى كتاب الطب/باب اللدود (رقم-۵۷۱۳)ومسلم فى كتاب السلام/باب التداوى بالعود الهندى وهو الكست (رقم-۸۶ - (۲۲۱۴) واحمد فى المسند:۳۵۵/۶

تسهيلات: قوله: عَلٰى مَا تَدْغَرْنَ أَوْلَادَكُنَّ بِهٰذَا الْعِلَاقِ؟:

په عود هندی سره د علاج کولو ترغیب: په دې کښې په عین باندې دریواړه حرکات راځی دَ نچوړی کولو په معنی کښې دې داهم دَ دغر په معنی کښې دې دباوول او نچوړی کول مراد دی. یعنی تاسو ښځې ولې او په کومه وجه دَخپلو وړو ماشومانو په حلق کښې ګوته اچولو سره تالو دباؤ کوئی اوهغوی په سخت تکلیف کښې اخته کوئی. تاسو عودهندی ولې نه استعمالوئی په کوم کښې چه دَدې بیمارئی نه علاوه دَنورو بیمارو علاج هم دې. عودهندی هم دَدغه قسط اوکوټ نوم دې.

قوله: ذَاتُ الْجَنْبِ:

د ذات الجنب دوه قسمونه: ① یودا چه په سینه کښې دننه دَعضلاتو دَ وجې نه پرسوب راځی دا خطرناك صورت دې اومهلك بیماری ده.

② چه په اړخ کښې باد جمع شی اودرد پیداکیږی. عود هندی او قسط هندی دا دویم قسم ذات الجنب دَپاره مفید دی. ځکه چه عود هندی دَ بادو دَ مرضونو دوائی ده دَ ذات الجنب دَ علاج دَپاره عودهندی په اوبوکښې خوټکولوسره دَ وښکی دَ طرف نه په خله کښې ورڅڅولې شی.

قوله: سَبْعَةُ أَشْفِيَةٍ:

د اووه بیمارو علاج: یعنی دَ اووه بیمارو علاج په قسط کښې دې. دَ دوو ذکر نبی کریم اوکړو اودَ باقی پنځونوم ئې وانخستلو. کیدې شی چه په خلقو کښې دغه بیمارئې مشهورې وې.

د قسط د دوائی نورې فائدې: بل داهم یاد لرئی چه دَ قسط دا دوائی صرف په دغه اووه قسمونوبیمارو علاج کښې منحصرنه دې. نبی کریم تذکره دَ اووه کړې ده دَباقی نفی نه ده

① دَ دماغودَ قوت دَپاره مفیددې.

② قسط دَ خلورمې ورځې دَتبې دَپاره مفید دې.

③ فالج لقوه رعشه یعنی ګوزن دَپاره مفیددې.

④ دَ اندام مخصوصه دَپاره مفید دې.

⑤ دَ مردانه قوت دَپاره مفیددې.

⑥ دَ خیټې دَ چینجودَپاره مفیددې.

⑦ دَ وبائی مرضونودَ پاره مفید دې.

⑧ دَ مخ دَ داغونودَپاره مفید دې.

⑨ دَ بادی بیمارو دَپاره مفیددې. (مظاهرحق)

[۴۵۲۵] په اوبو سره د تبې علاج

۴۵۲۵—[۱۲] (¹) [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا - وَرَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: " [۲] «الْحُمَّى مِنْ فَيْحِ جَهَنَّمَ [۳] فَابْرُدُوهَا بِالْمَاءِ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه رضي الله عنها او حضرت ابن خديج رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه نقل کوي، [۲] چې حضور ﷺ وفرمايل تبه د جهنم بخار دی، [۳] نو تاسو هغه په اوبو سره يخوئ (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① الْحُمَّى: تبه، ② فَيْحِ: تپش، ګرمانش، ③ فَابْرُدُوهَا: نو يخوئ ئې

تسهيلات: قوله: الْحُمَّى مِنْ فَيْحِ جَهَنَّمَ:

په اوبو سره د تبې علاج: يعنې تبه دَ دوزخ دَ اورد ګرمانش يوه نمونه ده. په دې کلام کښې تشبيه بيانول مقصود دی. دَتبې حرارت او تپش دَدوزخ دَ ګرمانش په شان دې. دَدې ګرمانش دَ ختمولودپاره بهترين علاج اوبه دی ځکه چه دَ اوبو په طبيعت کښې يخوالې دې دا يخوالې به دا حرارت ختم کړي.

د تبې دوه قسمونه: ① دَ بعضې تبې دپاره اوبه ډير فائده مندې وی. ما يوځل په سخته تبه کښې غسل اوکړو اوس لا دَ غسل نه فارغ شوې نه وم چه تبه ختمه شوه.

② دَ بعضې تبې دپاره اوبه اوغسل ډير زيات نقصان ورکونکې وی. لهذا دَ دې ارشادنبوی دپاره ضروری دی چه سړې اول دَ دغه تبې تعين اوکړی دَ کوم دپاره چه غسل فائده مند ګرځولې شوې دې. په حجاز مقدس کښې حجازی تبه وه دَ دې دپاره اوبه فائده مندې وې. همې په عامه تبه کښې دَ يخو اوبو پټئی او په بدن باندې واوږه مرل ډيره فائده ورکوی. عام ډاکټران په تيزه تبه کښې دَدې حکم ورکوی اوفائده کيږی.

[۴۵۲۶] د دَم په ذريعه د علاج کولو اجازت

۴۵۲۶—[۱۳] (²) [۱] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «رَخَّصَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي الرُّقْيَةِ [۳] مِنَ الْعَيْنِ وَالْحُمَةِ [۴] وَالنَّمْلَةِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضي الله عنه وايي [۲] چې رسول الله ﷺ د دم درود په ذريعه د علاج کولو اجازت ورکړي دی، [۳] د بد نظر، د چيچلو [۴] او د نمله (وړی وړی دانی دي چې اکثريه ترخ

¹) اخرجه البخاری فی کتاب بدء الخلق/باب صفة النار. وأنها مخلوقة " (رقم-۳۲۶۳) ومسلم فی کتاب السلام/باب لكل داء دواء واستحباب التداوی (رقم-۸۱ - (۲۲۱۰) والترمذی فی کتاب الطب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی تبريد الحمى بالماء (رقم-۲۰۷٤) وابن ماجه فی کتاب الطب/باب الحمى من فيح جهنم. فابردوها بالماء (رقم-۳٤۷۱) واحمد فی المسند: ۵۰/۶

²) اخرجه مسلم فی کتاب السلام/باب استحباب الرقية من العين والنملة والحمة والنظرة (رقم-۵۸ - (۲۱۹۶) والترمذی فی کتاب الطب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الرخصة فی ذلک (رقم-۲۰۵۶) وابن ماجه فی کتاب الطب/باب ما رخص فيه من الرقی (رقم-۳۵۱۶) واحمد فی المسند: ۱۱۸/۳

کښي راخیجي خارش هم ورسره وي او مرداري اوبه هم کوي] (مسلم)

حل اللغات: ① رَخَّصَ: اجازت ئې ورکړې دي ② الرُّقْيَةِ: دم چف کول، ③ العَيْنِ: نظر (بدنظر)، ④ الحُمَةِ: زهر، د لړم ټک ورکول ⑤ النَّمْلَةِ: په بدن نرۍ نرۍ داني، سره مخه،

تسهیلات:

قوله: رَخَّصَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي الرُّقْيَةِ مِنَ الْعَيْنِ:

د ممانعت څخه روسته د دم اجازت: دَاجازت ورکولو په معنی کښې دي. اول دَ دم درها ممانعت ووجه چرته دَ جاهلیت الفاظ په دې کښې رانه شي کله چه داخطره پاتې نه شوه نواجازت ملاؤشو. رخص دَممانعت نه پس اجازت ته وائی

قوله: مِنَ الْعَيْنِ

د بدنظرۍ تاثیر: بد نظرته وائی دَبعضې خلقو په سترګوکښې په قدرتي توګه دَ بدنظر داسې جراثیم وی چه نظرلګیدوسره لاړشی اوپه منظورالیه باندې پریوځی نوهغه متاثر کیږی دبعضو جراثیم ډیر سخت اوتیزوی نودَهغه بدنظر ډیر زیات مضروی

د یناوسدنظربازی: په عربوکښې دَبنواسد خلق په دې کښې مشهوروو په دوی کښې بعضې داسې وو چه په کورکښې به ئی ښځې ته وئیل چه نغری باندې کټوئی کیږده زه اوس غوښه راوړم. دې وینا نه پس به بهر لاړو او یوخناور باندې به ئی نظر ورخښ کړو کتلو به ئی خناور به مړشو خلقو به غوښه جوړوله اوتقسیموله به ئی. په هره علاقه کښې داسې خلق وو

قوله: النَّمْلَةِ

داني ته د نملة وئیلووجه: په اصل کښې میږی ته وائی دلته دَ بدن په اطرافو باندې وړوکو دانوته اووئیلې شو ځکه چه دا داني هم دَمیږو په شان په بدن کښې خوریږی. کله دَپولئی او دَ دانو شکل اختیاروی. راتلونکې حدیث نمبر(۴۵۶۰) کښې دَدې تفصیل موجود دي.

[۴۵۲۷] د بدنظرۍ دپاره دم اچول

۴۵۲۷ -- [۱۴] (¹) [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهَا- قَالَتْ: [۲] «أَمَرَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَنْ نَسْتَرْقِيَ مِنَ الْعَيْنِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي [۲] چه رسول الله ﷺ حکم وکړو چې مونږ د بد نظر د دفع کولو د پاره دم چف کوو، (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① نَسْتَرْقِيَ: مونږ دم چف کوو

تسهیلات: **نوټ**: د دې تشریح تیره شوې ده

¹) اخرجه البخاری فی کتاب الطب/باب رقیة العین (رقم-۵۷۳۸) ومسلم فی کتاب السلام/باب استحباب الرقیة من العین والنملة والحمة والنظرة (رقم-۵۵ - (۲۱۹۵) وابن ماجه فی کتاب الطب/باب من استرقی من العین (رقم-۳۵۱۲) واحمد فی المسند:۶/۶۳

[۳۵۲۸] د بد نظري په وجه په مخ کښې زيړوالې

۳۵۲۸-[۱۵] (¹) [۱] وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا- [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- رَأَى فِي بَيْتِهَا جَارِيَةً [۳] فِي وَجْهِهَا سَفْعَةٌ -تَعْنِي صُفْرَةً- [۴] فَقَالَ: "اسْتَرْقُوا لَهَا، فَإِنَّ بِهَا النَّظْرَةَ"». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او د بي بي ام سلمه رضي الله عنها نه روايت دي [۲] چې يوه ورځ رسول الله ﷺ د هغې په کور کې يوه جنۍ وليده، [۳] چې د هغې مخ زيړ شوي وو، [۴] نو حضور ﷺ وفرمايل په دې دم چف کړئ ځکه چې دې ته بد نظر لګيدلي دي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① سَفْعَةٌ: دَمخ زيړوالې، ② صُفْرَةً: زيړوالې، ③ النَّظْرَةَ: بد نظر.

تسهيلات: قوله: سَفْعَةٌ:

د سفعة په مصداق کښې مختلف اقوال: ① راوی په زيړرنګ سره ترجمه کړې ده.

② د دې ترجمه په علامة الشيطان سره هم کړې شوې ده

③ شيخ عبدالحق رحمه الله دَ مخ په توروالي سره د دې ترجمه کړې ده.

④ ضربة واحدة يعنی دَ شيطان په څپيړه وهلوسره دَدې ترجمه شوې ده.

[۳۵۲۹] د دم درها جواز

۳۵۲۹-[۱۶] (²) [۱] وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] «نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَنِ الرُّقَى، [۳] فَجَاءَ آلُ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! [۴] إِنَّهُ كَانَتْ عِنْدَنَا رُقْيَةٌ نَرْقِي بِهَا مِنَ الْعَقْرَبِ، [۵] وَأَنْتَ نَهَيْتَ عَنِ الرُّقَى، فَعَرَضُوهَا عَلَيْهِ، [۶] فَقَالَ: "مَا أَرَى بِهَا بَأْسًا، [۷] مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يَنْفَعَ أَخَاهُ فَلْيَنْفَعْهُ"». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر رضي الله عنه وايي [۲] چې رسول الله ﷺ د منتر ويلو او د پوکلو نه منع وفرمايلو. [۳] نو د عمرو ابن حزم د خاندان خلق (چې د منترونو په ذريعه به يې دَم چف کولی) حاضر شو. او عرض يې وکړو چې يا رسول الله! ﷺ [۴] زمونږ سره يو منتر دي، چې مونږ يې په لړم چيچلي چف کوو. [۵] اوس تاسو ﷺ د منترو نه منع فرمايلي ده. د دې نه پس هغوئ منتر ويلو سره حضور ﷺ ته واورولو (چې حضور ﷺ د دې منتر د صحيح يا غلط کيدو فيصله وفرمائ) [۶] منتر اوريدو سره حضور ﷺ وفرمايل په دې منتر کې زه هيڅ حرج نه وينم. [۷] په تاسو کې چې کوم سړي خپل ورور ته نفع رسولي شي، نو هغه دې ضرور ورته نفع ورسوي، (که دم چف په ذريعه وي، که په بلې يوې طريقې سره وي. په شرط د دې چې په هغې کې خلاف شرع څه خبره نه وي) (بخاري، مسلم)

¹) اخرجه البخاري فی کتاب الطب/باب رقية العين (رقم-۵۷۳۹) ومسلم فی کتاب السلام/باب استحباب الرقية من العين والنملة والحمة (رقم-۵۹ - (۲۱۹۷)

²) اخرجه مسلم فی کتاب السلام/باب استحباب الرقية من العين والنملة والحمة (رقم-۶۳ - (۲۱۹۹)

حل اللغات: ① الرُّقَى: دم چف، ② الْعَقْرَب: لړم. ③ فَعَرَضُوهَا: نو وراندې ئې كړو، يعنى ورته ئې واورولو.

تسهيلات:

نوټ: وړاندې د دم درها تفصيل تيرشوې دې.

[۴۵۳۰] د دم درها كولو مشروط جواز

۴۵۳۰-[۱۷] ([1]) [۱] وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] «كُنَّا نَرْقِي فِي الْجَاهِلِيَّةِ، [۳] فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ! كَيْفَ تَرَى فِي ذٰلِكَ؟ [۴] فَقَالَ: " اعْرِضُوا عَلَيَّ رُقَاكُمْ، [۵] لَا بَأْسَ بِالرُّقَى مَا لَمْ يَكُنْ فِيهِ شِرْكٌ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت عوف ابن مالك اشجعي ﷺ وايي [۲] چې مونږ به د جاهليت په زمانه كې د دم چف په ذريعه منتر ويلو، [هر كله چې د اسلام زمانه راغله] [۳] نو مونږ عرض وكړو چې يا رسول الله! ﷺ تاسو ﷺ د دې منترو باره كې څه حكم فرمايې؟ [۴] حضور ﷺ وفرمايل تاسو دا منترې ويلو سره ماته واوروئ، [۵] تر څو چې په دې كې شرك نه وي، زه په دې كې څه حرج نه وينم، (مسلم)

حل اللغات: ① اعْرِضُوا: راته وړاندې كړې، وائې ورويئ، ② الرُّقَى: دم دُرها.

تسهيلات:

قوله: مَا لَمْ يَكُنْ فِيهِ شِرْكٌ:

نوټ: د جائزدم تفصيل وړاندې تيرشوې دې.

د آيات شفاء باره كښې واقعه: شيخ عبدالحق محدث دهلوى ﷫ أشعة اللمعات كښې دَدې حديث لاندې يوه قصه ليكلې ده چه شيخ ابوالقاسم قشيرى ﷫ بيان كړې دې چه يوځل زما خوئى ډيرسخت بيمارشو تردې چه مونږ دَهغه دَ ژوند نه نااميده شو. هم په دې دوران كښې ما نبى كريم ﷺ په خوب كښې اوليدلو ماد بچى دَ بيمارئى شكايت اوكړو نبى كريم اوفرمائيل چه ته دَ آيات شفا نه ولې غافل كيږې؟ زه چه كله بيدارشوم نو په قرآن كريم كښې مې دَ شفا آياتونه اولټول چه ټول شپږ ملاؤشو. دا ما په كاغذ باندې اوليكل او وينځلوسره مې په ماشوم باندې اوڅكل ماشوم فورى راپاسيدو لكه چه دَهغه دَخپو بندونه پرانستلې شو. هغه شپږ آياتونه دادى كوم چه دَ نيم آياتونو په شكل كښې دى.

① ﴿وَيَشْفِ صُدُورَ قَوْمٍ مُّؤْمِنِينَ﴾ [سورة التوبه، ۱۴.

② ﴿وَشِفَاءٌ لِّمَا فِي الصُّدُورِ﴾ [سورة يونس، ۵۷]

[1]) اخرجه مسلم فى كتاب السلام/باب لا بأس بالرقى ما لم يكن فيه شرك (رقم-٦٤ - (۲۲۰۰))وابوداود فى كتاب الطب/باب ما جاء فى الرقى (رقم-۳۸۸۶)

③ ﴿يَخْرُجُ مِنْ بُطُوْنِهَا شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ اَلْوَانُهُ فِيْهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ﴾ [سورة نحل،۶۹]

④ ﴿وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ﴾ [سورة بنی اسرائیل،۸۲]

⑤ ﴿وَاِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِيْنِ﴾ [سورة اسقراء،۷۰]

⑥ ﴿قُلْ هُوَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا هُدًى وَّشِفَآءٌ﴾ [سورة حم سجده،۴۴]

[۴۵۳۱] د بد نظری اثر

۴۵۳۱-[۱۸] ()[۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] "«الْعَيْنُ حَقٌّ،[۳] فَلَوْ كَانَ شَيْءٌ سَابَقَ الْقَدَرَ سَبَقَتْهُ الْعَيْنُ،[۴] وَإِذَا اسْتُغْسِلْتُمْ فَاغْسِلُوا»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس ﷠ د رسول الله ﷺ نه نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمايل [۲] بد نظر حق دي [يعني نظر لګيدل يو حقيقت دي][۳] که په تقدير سبقت ورونکي يو شي وو، نو هغه به نظر وي،[۴] او هر کله چې ستاسو نه [د اندامونو] د وينځلو مطالبه وشي، نو تاسو يي وينځئ او هغه اوبه پره مريض توئ کړئ [چې د نظر علاج دی] (مسلم)

حل اللغات: ①سَابَقَ: مخکښې کيدې شو، ②اسْتُغْسِلْتُمْ: د وينځلو مطالبه اوشی ستاسونه.

تسهيلات:

قوله: الْعَيْنُ حَقٌّ.

دبدنظرئ جراثيم: يعنی دَ بدنظرلګيدل يوحقيقت دې داڅه وهم يا توهم نه دي. دَ کتونکو په نظرکښې کله يوڅيز بنه لګی نودَهغې اثر منظوراليه ته رسيږی اوهغه متاثر کيږی. لکه دَ عاين دَ سترګونه دَ وائرس په صورت کښې يومسموم زهريلا ماده اوخی اودَ جراثيم په صورت کښې تللوسره دَمنظوراليه بدن پورې اينخلی اواثرکوی لګه څنګه چه دَ بعضې مارانو په سترګوکښې الله تعالی دا تاثيرکيخودې دې چه هغه دَخپل نظر اونظام په ذريعه سره دَ منظور اليه طرف ته خپل زهر ورمنتقل کوی.

که دَ دغه وائرس او جراثيم مخې ته څه رکاوټ موجودشی نودَهغې اثر منظوراليه ته نه رسی مثلاً منظوراليه سره دَ دفع دَ نظر تعويذ وی ياڅه بل څه وظيفه وی.

د معتزلو مسلک: معتزله وائی چه بد نظرلګيدل څه حقيقت نه لری دا صرف انسانی وهم دې څکه چه په تقدير کښې کوم څه ليکلې شوی دی هم هغه کيږی. دَ بدنظر دخل په تقديرکښې نه شی کيدې. علماء حق فرمائی چه دَمعتزلو خيال غلط دې اودَ نظرلګيدل دَ قرآن نه ثابت دی او په احاديثوکښې دَدې ډير وضاحت دې. باقی دَ بدنظر اوتقدير په مينځ کښې هيڅ تضاد نشته دې بلکه پخپله دابدنظر دَمقدرات الهيۀ نه دې.

[1]) اخرجه مسلم فی کتاب السلام/باب الطب والمرض والرقی (رقم-۴۲ - (۲۱۸۸) والترمذی فی کتاب الطب عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء أن العين حق والغسل لها (رقم-۲۰۶۲)

قوله: فَلَوْكَانَ شَىْءٌ سَابَقَ الْقَدَرِ

بدنظری د تقدیر حصه کیدل: یعنی په دې کائنات کښې چه کوم څه دی هغه دَ تقدیر الهی په دائره کښې دی هیڅ یوڅیزدَ تقدیردَ گرفت نه بهرنه دې. فرض کړه که یوڅیزداسې وې چه هغه دَ تقدیردائره ماته کړی وړاندې وتلې شوې نوهغه به بدنظر وی لیکن دَتقدیر دَ دائرې نه هیڅ څیزبهرنه دې لهذا بدنظر هم دَ تقدیرپه دائره کښې دننه دې.

قوله: وَإِذَا اسْتُغْسِلْتُمْ فَاغْسِلُوا

د بد نظراثر ختمولوپاره د ناظر غسل کول: یعنی که یوسړې داسې دې چه دَهغه نظرلګی اوپه خلقوکښې معروف اومشهوردې اودَهغه نظرچاته اولګیدو نودَ نورو علاجونو نه علاوه پیغمبراسلام یوعلاج داخودلې دې چه دَ عاین نه مطالبه اوکړې شی چه تاسو غسل اوکړئی اوبیا اوبه تپ وغیره کښې محفوظ کړئی او بیائی منظورالیه ته ورکړئی چه په دغه اوبوسره دې غسل اوکړی نوتیك به شی. چنانچه راتلونکی حدیث نمبر(۴۵۳۳) کښې دَدې تفصیلی قصه راځی.

ناظرته د غسل کولوحکم: دَ زیربحث حدیث مطلب هم دغه دې چه کوم سړې دَ نظره شوې دې که هغه دَ نظره کونکی نه مطالبه اوکړی چه ته غسل اوکړه اوبه ماته راکړه نوهغه له زر داسې کول پکاردی او په دې جهالت کښې نه دی راتلل پکار چه په دې کښې زما بې عزتی ده دَاسلام نه وړاندې به دَعربوخلقو هم دغه عمل کولو اسلام هم دا عمل په ځائی اوساتلو په دې کښې به تاثیروی ګنی کم نه کم دا فائده خوبه اوشی چه دَ منظورالیه وهم به لرې شی چه اوس په ماباندې دَ بدنظر اثر پاتې نه شو.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۴۵۳۲] د هرمرض د علاج امکان

۴۵۳۲–[۱۹] (۱)[۱] عَنْ أُسَامَةَ بْنِ شَرِيكٍ قَالَ: [۲]«قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ أَفَنَتَدَاوَى؟[۳] قَالَ: " نَعَمْ، يَا عِبَادَ اللهِ! تَدَاوَوْا؛[۴] فَإِنَّ اللهَ لَمْ يَضَعْ دَاءً إِلَّا وَضَعَ لَهُ شِفَاءً،[۵] غَيْرَ دَاءٍ وَاحِدٍ، الْهَرَمُ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] حضرت اسامه رضی الله عنه ابن شریك وایي[۲] چه بعضي صحابه و رضی الله عنهم عرض وکړو چې یا رسول الله ﷺ آیا مونږ په ناروغی کې دوا او علاج کوو ؟[۳] حضور ﷺ ورته وفرمایل چې هو، اې د الله بنده ګانو! دوا او علاج کوئ،[۴] ځکه چې الله تعالی یوه داسې ناروغي نه ده پیدا کړې چې د هغې د پاره یې شفاء نه وي ایښې،[۵] علاوه د یوې ناروغۍ نه چې هغه

(۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الطب/باب فی الرجل یتداوی (رقم-۳۸۵۵) والترمذی فی کتاب الطب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الدواء والحث علیه (رقم-۲۰۳۸)وابن ماجه فی کتاب الطب/باب ما أنزل الله داء. إلا أنزل له (رقم-۳۴۳۶) واحمد فی المسند: ۴/ ۲۷۸

زورتوب [بوډاتوب] دي (احمد، ترمذي، ابوداود)

حل اللغات: ①الْهَرَمُ: زوړتوب، بوډا والي.

تسهيلات:

قوله: أَفَنَتَدَاوَى:

د صحابه کرامو تپوس کول: آیا مونږ دوائی استعمال کړو صحابه کرامو سوال څکه اوکړو چه کیدې شي چه دا دوائی استعمالول دَ تقدیر الهٰی منافی وی یا دَاعلی توکل خلاف وی. نبی کریم په جواب کښې اوفرمائیل علاج کونی داد الله تعالی دَ طرف نه دي. الله تعالی دَهرې بیمارئی دَ پاره دوائی نازل کړې ده. داپخپله دَتقدیریوه حصه ده او بوډاوالې داسې مرض دې چه دَدې هیڅ علاج نشته دې.

[۴۵۳۳] په مريض په زوره د خوراک او څکاک کولو ممانعت

٤٥٣٣-[٢٠] ()① وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② " «لَا تُكْرِهُوا مَرْضَاكُمْ عَلَى الطَّعَامِ③ فَإِنَّ اللَّهَ يُطْعِمُهُمْ وَيَسْقِيهِمْ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ④ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ① او حضرت عقبه ابن عامر رضي الله عنه وايي رسول الله ﷺ وفرمايل② چه په خپلو مريضانو په زبردستي مه خورئ، [مه څکئ] ③ څکه چې الله جل جلاله په هغوئ خوري او څکي. (ترمذي، ابن ماجه)④ او ترمذي رحمه الله ويلي دي چې دا حديث غريب دي.

حل اللغات: ①لَاتُكْرِهُوا: زور زبردستی مه کوئ.

تسهيلات:

قوله: لَاتُكْرِهُوا مَرْضَاكُمْ عَلَى الطَّعَامِ:

ناجوړه په خوراک کولو د مجبوره کولو ممانعت: دَ انسانی ژوندَ باقی پاتې کیدو دَپاره صرف خوراك نه دې داخو دَ ظاهری اسبابو نه يو سبب دې. الله تعالی که اوغواړی نو په څه غیبی ذریعه انسان ژوندې ساتلې شی. مثلاً مریض دې هغه که ظاهری خوراك نه شی کولې نو هغه مجبورکونی مه الله تعالی دَ هغه دَ بقاء غیبی انتظام فرمائیلې دې. هغه داسې چه دَ بیمار دَ بدن رطوبت ویلې کیږی اودَبیمارد خوراك په ځائی کار ورکوی نوالله تعالی په هغه باندې دَ غیب نه خوراك څښناك کوی. تاسو هغه مجبوره کونی مه التـه به نقصان اوکړنی.

① اخرجه الترمذي في السنن كتاب الطب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء لا تكرهوا مرضاكم على الطعام والشراب (رقم-٢٠٤٠) وابن ماجه في كتاب الطب/باب لا تكرهوا المريض على الطعام (رقم-٣٤٤٤)

[۴۵۳۴] د سري مخې په داغلو سره علاج کول

۴۵۳۴-[۲۱] (¹) ① وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- ②«أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- كَوَى أَسْعَدَ بْنَ زُرَارَةَ مِنَ الشَّوْكَةِ». ③ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ① او حضرت انس رضي الله عنه وايي ② چې رسول الله ﷺ د سعد ابن زراره رضي الله عنه په بدن د سُرخ باده (ناروغۍ د علاج) د پاره داغ ورکړو. ③ دا روايت ترمذي رحمه الله نقل کړي دي او ويلي يې دي چې دا حديث غريب دي.

حل اللغات: ① كَوَى: داغ اولګولو، ② الشَّوْكَة: وهي حمرة تعلو الوجه والجسد: سره مخه چه مخ او بدن ورسره سور شي.

تسهيلات:

قوله: مِنَ الشَّوْكَةِ:

د شوکة مفهوم: (مرقات) يعني شوکه دَ هغه سرخئ نوم دي چه په مخ او بدن باندې حاوي کيږي. دې ته اطباء سرخ باده يعني سره مخه وائي. دَ بدن دَ يو ځائي نه شروع کيږي بيا پوره بدن کښې دا بيماري خوريږي. دې ته سره مخه وائي کيدې شي په پښتو کښې دې ته لمبه هم وائي. سخته بيماري ده.

[۴۵۳۵] په قسط بحري اوزيتون سره د ذات الجنب علاج

۴۵۳۵-[۲۲] (²) ① وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: ②«أَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَنْ نَتَدَاوَى مِنْ ذَاتِ الْجَنْبِ ③ بِالْقُسْطِ الْبَحْرِيِّ وَالزَّيْتِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت زيد ابن ارقم رضي الله عنه وايي ② چې رسول الله ﷺ مونږ ته هدايت وفرمايلو چې مونږ دې د ذات الجنب په ناروغۍ کې علاج کوو ③ د قسطِ بحري او د زيتونو د تيلو په ذريعه. (ترمذي)

حل اللغات: ① ذَاتِ الْجَنْبِ: په خيټه کښې يو اړخ ته بادی درد، ② الْقُسْطِ الْبَحْرِيِّ: دا دَ يوبوټی نوم دې کوم ته چه کوټ هم وائي. ③ الزَّيْت: د زيتونو تيل.

نوټ: د قسط البحری تشريح دې څخه وړاندې د حديث نمبر (۴۵۲۲) په شرح کښې تيره شوې ده.

---

¹) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب الطب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الرخصة فى ذلک (رقم-۲۰۵۰)

²) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب الطب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى دواء ذات الجنب (رقم-۲۰۷۹) واحمد فى المسند: ۴/۳۶۹

[۴۵۳۶] د ذات الجنب بيمارۍ دپاره د زيتون تيل تجويز كول

۴۵۳۶-[۲۳] ()[۱] وَعَنْهُ، قَالَ: [۲] «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَنْعَتُ الزَّيْتَ وَالْوَرْسَ مِنْ ذَاتِ الْجَنْبِ» .رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت زيد ابن ارقم رضي الله عنه وايي [۲] چې رسول الله ﷺ به د ذات الجنب د علاج د پاره د زيتون د تيلو او د ورس تعريف كولو. (ترمذي)

حل اللغات: ① يَنْعَتُ: تعريف به ئې كولو، ② الْوَرْسَ: يوقسم سور يا زيړ رنګ وابنه دی.

تسهيلات: يَنْعَتُ...وَالْوَرْسَ مِنْ ذَاتِ الْجَنْبِ:

ه ورس پيژندګلو: دا يوقسم وابنه دی دَ كوم رنګ چه سور او زيړ وی دَدې ريشې يعنی رګونه دَ زعفران په شان وی په ډيرو دوايانو كښې استعماليږی.

[۴۵۳۷] په جلاب سره علاج كول

۴۵۳۷-[۲۴] ()[۱] وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ عُمَيْسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - سَأَلَهَا: " بِمَ تَسْتَمْشِينَ؟ " [۳] قَالَتْ: بِالشُّبْرُمِ [۴] قَالَ: " حَارٌّ جَارٌّ " [۵] قَالَتْ: ثُمَّ اسْتَمْشَيْتُ بِالسَّنَا [۶] فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَوْ أَنَّ شَيْئًا كَانَ فِيهِ الشِّفَاءُ مِنَ الْمَوْتِ؟ لَكَانَ فِي السَّنَا» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] او د بي بي اسماء بنت عميس رضي الله عنها نه روايت دی [۲] چې رسول الله ﷺ د هغی نه پوښتنه وكړه چې تاسو د كوم څيز نه جلاب (مسهل) اخلئ؟ [۳] هغی اوويل د شبرم نه، [۴] حضور ﷺ ورته وفرمايل شبرم خو ګرم دي ګرم، [۵] بي بي اسماء رضي الله عنها فرمائي بيا ما د سناء نه جلاب واخستلو، [۶] رسول الله ﷺ وفرمايل كه په څه څيز كې د مرګ نه شفاء وی، [يعنی د مرګ علاج په څه دوا كې وی] نو هغه به سناء وی، (ترمذي، ابن ماجه) او ترمذي رحمه الله ويلي دي چه دا حديث حسن غريب دي.

حل اللغات: ① تَسْتَمْشِينَ: تاسو جلاب كوئ، ② الشُّبْرُمِ: يوقسم وابنه دی، دهغې دانې مراد دی ③ حَارٌّ جَارٌّ: ګرم دی ګرم، ④ السَّنَا: يوقسم بوټې دي دهغې پاڼې مراد دی

تسهيلات:

قوله: أَسْمَاءَ بِنْتِ عُمَيْسٍ:

دحضرت اسماء بنت عميس تعارف: دَحضرت جعفرطيار رضي الله عنه بی بی محترمه ده دَ ده دَ شهادت نه پس دَ حضرت صديق رضي الله عنه په نكاح كښې راغلې وه

[1]) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب الطب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی دواء ذات الجنب (رقم-۲۰۷۸) وابن ماجه فی كتاب الطب/باب دواء ذات الجنب (رقم-۳۴۶۷) واحمد فی المسند: ۳۷۲/٤

[2]) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب الطب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی السنا (رقم-۲۰۸۱) وابن ماجه فی كتاب الطب/باب دواء المشی (رقم-۳۴۶۱)

قوله: قَالَتْ: بِالشُّبْرُمِ:

د شبرم پیژندګلو: دا دَ وښو نوم دې دَ دغه بوټی داني مراد دی. په دې کښې وړې وړې داني وی چه دَمسورو برابر وی. په دې دانوسره دستونه راخی دې له په اوبوکښې جوش ورکولې شی اوبیا دغه اوبه څکلې شی په کوم سره چه جلاب کیږی.

قوله: قَالَ: "حَارٌجَارٌ":

د شبرم ګرموالي: دا لفظ دَ تاکید په توګه مکرر راوړلې شوې دې. بعضې نسخوکښې دَ حار نه پس جار جیم سره دې هغه صرف د وزن جوړولودَپاره دَ الفاظ مهمله نه دې لکه کتع بتع یا اوبه موبه. طبیبان وائی چه شبرم دَ څلورمې درجې دَ ګرمو دوایانوڅخه دې ډیرزیات دستونه راولی په دې وجه په دې کښې احتیاط شرط دې.

قوله: فِي السَّنَا:

د سنا پیژندګلو: قصر سره دې بعضو مدسره هم لوستلې دې. یوبوټې دې دَهغې پانړوته سنا وائی دَ نکریزودَ پانړو په شان وی. دَدې ښه قسم سنا مکی دې دا اوږه کوی اوبیا نی استعمالوی سخت تریخ دې. دا په درجه اول کښې ګرم دې معتدل دې.

د سنا فوائد: په سنا کښې دَ هیڅ قسم نقصان خطره نه وی.

① صفراء پرې کوی.

② دَ بلغم اسهال اوتنقیه دَپاره فائده ورکوی.

③ دَ زړه کورته طاقت ورکوی.

④ دَ سودائی وسوسې لرې کوی.

[۴۵۳۸] په حرامو څیزونو د علاج کولو ممانعت

۴۵۳۸–[۲۵] ()[1] وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [2] "«إِنَّ اللهَ أَنْزَلَ الدَّاءَ وَالدَّوَاءَ [3] وَجَعَلَ لِكُلِّ دَاءٍ دَوَاءً، فَتَدَاوَوْا [4] وَلَا تَدَاوَوْا بِحَرَامٍ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [1] او حضرت ابودرداء رضی الله عنه وایې چی رسول الله ﷺ وفرمایل [2] الله جل جلاله ناروغی هم رالیږلې ده او دوا هم، [3] او د هرې ناروغۍ د پاره یې دوا مقرره کړیده، نو تاسو په دوا سره د ناروغۍ علاج کوئ، [4] لیکن په حرام شي سره دوا او علاج مه کوئ. (ابوداؤد)

تسهیلات:

قوله: وَلَا تَدَاوَوْا بِحَرَامٍ.

په حرامو څیزونو کښې عدم شفاء: دَحرام څیزنه مراد دَ خنزیر اجزاء او شراب وغیره څیزونه دی. دَ میلو غوښې دَ ازمری وغیره مردارو ځناورو اجزاؤ سره علاج کول حرام دی. په ډیرو

() اخرجه ابوداود في السنن كتاب الطب/باب في الأدوية المكروهة (رقم-۳۸۷۴)

احاديثو كښې په حرام څيزونو سره علاج كول منع كړې شوى دى لكه چه په دې كښې هډو شفانشته دې نو استعمال ئې فضول دې

په حرامو څيزونو د شفاء د نشتوالى دلائل: ① يو صحابى حضرت طارق جعفى رضي الله عنه دَنبى كريم نه دَ شرابو په ذريعه دَعلاج اجازت اوغوښتلو نونبى كريم اوفرمائيل چه شراب دوائى نه ده بلكه درد او مرض دې

② يوحديث كښې نبى كريم دَهغه مريضانودَ شفانه كيدو دَپاره بددعا اوغوښتله چه په حرامو څيزونو سره علاج كوى. فرمائى "من تداوى بالحرام فلاشفاه الله"

③دَحضرت ابن مسعود رضي الله عنه په يوروايت كښې دى چه الله تعالى كوم څيزونه حرام كړى دى په هغې كښې ئې ستاسودَپاره شفاهم نه ده كيخودې. [اشعة اللمعات: ۳/۶۴۹]

په حرامودعلاج كولو د رخصت صورت: ملاعلى قارى رحمه الله وغيره شارحينوليكلى دى كه يوحاذق ماهر اوديندار اوپرهيزګار طبيب يوبيمار ته اووائى چه ستا علاج دَ شرابو نه علاوه په بل څه دوائى كښې نشته دې نوبيادَ علاج په توګه دَ دې استعمال به جائزوى داخبره په خپل ځائى صحيح ده ليكن دَ دې متحقق كيدل محال دى مثلاً ټول طبيبان په دې باندې څنګه متفق كيدې شى چه دَدې مرض علاج دَ شرابونه علاوه بل هيڅ څيزكښې نشته دې دغه شان دَ حاذق اوماهر طبيب وجود هم ډير نادر دې لكه چه دې قيدونوسره دَ شرابو دَ استعمال جواز تعليق بالمحال دې

[۴۵۳۹] د حرامو دوائى استعمال څخه ممانعت

۴۵۳۹-[۲۶] (١) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: ② «نَهَى رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَنِ الدَّوَاءِ الْخَبِيثِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي② چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د خبيثي دوا نه منعه فرمايلي ده (احمد، ابوداود، ترمذي، ابن ماجه)

حل اللغات: ① الْخَبِيثِ: حرامه يا ترخه.

تسهيلات:

قوله: نَهَى رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَنِ الدَّوَاءِ الْخَبِيثِ:

د دواء الخبيث په مفهوم كښې دوه اقوال: ① دې نه مراد حرامه دوائى ده دكومې تفصيل چه پورته ليكلې شوې دې

---

(١) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الطب/باب فى الأدوية المكروهة (رقم-٣٨٧٠) والترمذى فى كتاب الطب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فيمن قتل نفسه بسم أو غيره (رقم-٢٠٤٥) وابن ماجه فى كتاب الطب/باب النهى عن الدواء الخبيث (رقم-٣٤٥٩) واحمد فى المسند:٢/٣٠٥

⑦ دې څخه مراد هغه دوائي ده دکوم نه چه طبيعت نفرت کوي. طبيبانو ليکلی دی چه دکومې دوائي نه طبيعت نفرت کوي په هغې کښې عموماً علاج اوشفاء نه وی. په دې صورت کښې به دا نهی په کراهت باندې محمول وی

[۴۵۳۰] د سر او پښو د درد علاج

۴۵۳۰-[۲۷] (١) [١] وَعَنْ سَلْمَى خَادِمَةِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَتْ: [٢] «مَا كَانَ أَحَدٌ يَشْتَكِي إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَجَعًا فِي رَأْسِهِ [٣] إِلَّا قَالَ: "احْتَجِمْ" [٤] وَلَا وَجَعًا فِي رِجْلَيْهِ إِلَّا قَالَ: "اخْتَضِبْهُمَا"». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [١] او بي بي سلمىٰ رضي الله عنها چې د نبي کريم ﷺ خادمه وه، وايي [٢] هر کله چې به چا نبي کريم ﷺ ته د سر د داسې ناروغۍ شکايت کولو، اچې د هغې تعلق به د وينې د زياتوب او د باؤ سره وو [٣] نو حضور ﷺ به فرمايل (د وينې اوخکلو د پاره) ښکر ولګوه، [٤] او کوم سړي چې به د پښو د درد شکايت کولو (يعني داسې درد چې د ګرمۍ د حرارت په بناء به وو) نو حضور ﷺ به فرمايل په پښو نکريزې ولګوه. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① وَجَعًا: درد، ② اخْتَضِبْهُمَا: نکريزې ورکړه دواړو (خپو) ته.

تسهيلات: قوله: وَلَا وَجَعًا فِي رِجْلَيْهِ إِلَّا قَالَ: "اخْتَضِبْهُمَا":

د خضاب لګولو څخه مراد: دې وسمې لګولونه مراد نکريزې لګول دی يعنی په کوم ځائی کښې چه خپو يا سرباندې درد وی په هغه ځائی باندې نکريزې خوشتې کړې شی او اولګولې شی نودرد ختميږي. سرو له ېکاردی چه په نوکونوباندې نکريزې نه لګوی دې د پاره چه ښځوسره مشابهت رانه شی

[۴۵۳۱] په زخم باندې د نکريزو لګول

۴۵۳۱-[۲۸] (٢) [١] وَعَنْهَا، قَالَتْ: [٢] «مَا كَانَ يَكُونُ بِرَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قُرْحَةٌ وَلَا نَكْبَةٌ [٣] إِلَّا أَمَرَنِي أَنْ أَضَعَ عَلَيْهَا الْحِنَّاءَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] او بي بي سلمىٰ رضي الله عنها فرمائې [٢] چې د رسول الله ﷺ د بدن په يوه حصه چې به څه زخم راغې (که هغه د توري، چړې يا د څه داسې څيز د کټ کيدلو په صورت کې به وو) يا په کاڼي، ازغي سره حضور ﷺ زخمي شو، [٣] نو ماته به يې حکم راکولو، چې په هغه زخم نکريزې ولګوم. (ترمذي)

حل اللغات: ① قُرْحَةٌ: د بدن پولۍ او دانې، ② نَكْبَةٌ: زخم،

(١) اخرجه ابوداود فی السنن رقم الحديث ۳۸۵۸ واحمد فی المسند ۶/ ۴۶۲
(٢) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب الطب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی التداوی بالحناء (رقم-۲۰۵۴) وابن ماجه فی كتاب الطب/باب الحناء (رقم-۳۵۰۲)

تسهيلات: قوله: إِلَّا أَمَرَنِي أَنْ أَضَعَ عَلَيْهَا الْحِنَّاءَ

په زخم تكريزې لګول: دَ بدن پولو اودانوته ونيلې شي اودَ چاړه چاقوپه زخم باندې هم دَدې اطلاق كيږي دواړه معانې اخستې شي ليكن دَ پولو معنى به زياته بهتر وي دې دَپاره چه په حديث كښې عموم راشي خكه چه دَ زخم ذكر روستو پخپله موجود دې.

قوله: مَا كَانَ يَكُونُ بِرَسُولِ اللهِ قُرْحَةٌ وَلَا نَكْبَةٌ:

په نكبة اوقرحة كښې فرق: مطلق زخم ته هم وائي ليكن كه دَ قرحة نه زخم مراد اخستلو په صورت كښې فرق كول مقصود وي نونكبة به په كاڼړي ياپړې كونكى وغيره زخم باندې حمل كولې شي.

[۴۵۴۲] دښكر دلګولو مسنونيت

۴۵۴۲–[۲۹] (۱) ① وَعَنْ أَبِي كَبْشَةَ الْأَنْمَارِيِّ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: ② «أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ يَحْتَجِمُ عَلَى هَامَتِهِ، وَبَيْنَ كَتِفَيْهِ، ③ وَهُوَ يَقُولُ: "مَنْ أَهْرَاقَ مِنْ هَذِهِ الدِّمَاءِ، ④ فَلَا يَضُرُّهُ أَنْ لَا يَتَدَاوَى بِشَيْءٍ لِشَيْءٍ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او حضرت ابوكبشه انمازي رضي الله عنه وايي ② چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به په خپل سر مبارك او د دواړو اوږو تر مينځ ښكر لګولو، ③ او فرمايل به يې چې كوم سړي د دې وينې نه څه اوباسي، ④ او بيا هغه د يو ناروغۍ علاج ونه كړي، نو هغه ته به هيڅ نقصان او ضرر نه رسيږي (ابوداؤد، ابن ماجه)

حل اللغات: ① هَامَتِهِ: سر، كوپړئ، ② أَهْرَاقَ: تويه ني كړه، اوني بهيوله، ③ بِشَيْءٍ لِشَيْءٍ: يعنى په هيڅ څيز سره،

د عمر بن سعد مختصر تعارف: ده په نوم كښې ډير اختلاف دې بعضې عمر اوبعضو عمرو بن سعد او بعضي مسلم هم ونيلې دې. دا غلام وو اوپيغمبر صلى الله عليه وسلم دې آزاد كړې وو. (۳) په غزوه بدر أحد او نورو غزواتوكښې شريك شوې وو. (۴)

وفات: ۲۲ جمادى الثانى ۱۳ هـ سه شنبه دَحضرت عمر رضي الله عنه په دورخلافت كښې وفات شو.

مرويات: دَ هغه نه يوڅو روايتونه نقل دي چه دَ هغې پوره شميرخودلونه اسماء الرجال والا عاجزدى.

تسهيلات: قوله: مَنْ أَهْرَاقَ:

د اهراق معنى: په زيات مقداركښې وينه غورزولودَپاره دا لفظ استعماليږي يعنى دَښكر راښكلونه پس به دَ بل څه علاج ضرورت نه پيښيږي.

(۱) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الطب/باب فى موضع الحجامة (رقم-۳۸۵۹) وابن ماجه فى كتاب الطب/باب موضع الحجامة (رقم-۳۴۸۴)

[۴۵۴۳] د بريښ دپاره د ښکر لګول

۴۵۴۳—[۳۰] (¹) [۱] وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- احْتَجَمَ عَلَى وَرِكِهِ [۳] مِنْ وَثْءٍ كَانَ بِهِ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر ﷛ وايي [۲] چې رسول الله ﷺ پر خپل ورون ښکر ولګولو، [۳] ځکه چې د حضور ﷺ په پښې مبارکې کې بريښ راغلي وو. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① وَرِكِهِ: ورون، پتون، ② وَثْءٍ: بريښ، بادي درد،

تسهيلات: **قوله:** مِنْ وَثْءٍ

د وثء دوه معانې: ملاعلي قاري ﷫ اوعلامه طيبي ﷫ ليکي چه دا لفظ دَ واؤ په زبر دَ ثاء په سکون او آخر کښې همزې سره دي.

① دَخپې هډوکي ختلو ته وائي.

② غوښه کښې زخم لګيدو ته وائي.

[۴۵۴۴] دَ فرشتو د طرفه د ښکر لګولو تاکيد

۴۵۴۴—[۳۱] (²) [۱] وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] «حَدَّثَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَنْ لَيْلَةِ أُسْرِيَ بِهِ: [۳] أَنَّهُ لَمْ يَمُرَّ عَلَى مَلَإٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ إِلَّا أَمَرُوهُ: [۴] "مُرْ أُمَّتَكَ بِالْحِجَامَةِ"». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، [۵] وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن مسعود ﷛ وايي [۲] چې رسول الله ﷺ د معراج دشپې واقعاتو بيانولو کښې دا هم اووئيل، [۳] چې حضور ﷺ د ملائکو په کوم جماعت تير شو هغوئ (د الله ﷻ د طرف نه) دا حکم واورولو، [۴] چې خپل امت ته (د ويني د اوخکلو د پاره) د ښکر لګولو حکم ورکړه (ترمذي، ابن ماجه) [۵] او ترمذي ﷫ ويلي دي چې دا حديث حسن غريب دي

تسهيلات: **قوله:** مُرْ أُمَّتَكَ بِالْحِجَامَةِ:

د ښکرو اهميت وجه: په دې حديث سره دَ ښکرلګولو دَاهميت اندازه کيږي. دَدې دَاهميت وجه داده چه امراض دموی دَ فساد دَ وينې نه پيداکيږي ځکه چه فساددَوينې دَټولو مرضونو جرړه ده کوم ته چه امراض دموی وائی دَ وينې دَ فشار او فساد سره بلډپريشر پيدا کيږي په کوم سره چه شوګر کيږي. اوشوګر يوقسم مرګ دې دَ امراض دموی دَ ټولو نه لوئی علاج وينه ويستل دی کوم ته چه حجامه وائی

¹) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الطب/باب متى تستحب الحجامة (رقم-۳۸۶۳) والنسائي في كتاب مناسك الحج/باب حجامة المحرم من علة تكون به (رقم-۲۸۴۸) وابن ماجه في كتاب الطب/باب موضع الحجامة (رقم-۳۴۸۵)
²) اخرجه الترمذي في السنن كتاب الطب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في الحجامة (رقم-۲۰۵۲)

۵ امت په مصداق کښې دوه اقوال: ① دَامت څخه مراد صرف عرب دی. ځکه چه دَهغوی دَپاره په خاص توګه فائده ورکونکې دې اودا ځکه چه دَهغوی ملك ډیر سخت ګرم دې. عام مفهوم اخستل زیات واضح دی.

② دامت څخه مراد پوره امت دې چاته چه دَ دې علاج ضرورت پیښ شی داعام مفهوم دې کفارو اغیارو دَ مسلمانانونه دَهغوی دَعلاج طریقه په زور واخستله اوس هغوی داڅیزونه دَ نافع په ځائی مضر ګرځوی اومسلمانان حکمرانان صرف ګوری.

[۴۵۰۵] د چیندخې څخه د دوائی جوړولو ممانعت

۴۵۰۵-[۳۲] ()[۱] وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عُثْمَانَ: [۲] «إِنَّ طَبِيبًا سَأَلَ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ ضِفْدَعٍ يَجْعَلُهَا فِي دَوَاءٍ، [۳] فَنَهَاهُ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ قَتْلِهَا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او د حضرت عبد الرحمن ابن عثمان ﷺ نه روایت دې [۲] چې یو طبیب د حضور ﷺ نه د چندخې په دوا کې د شاملولو باره کې پوښتنه وکړه (چې آیا دا درست دي که نه؟) [۳] نو رسول الله ﷺ هغه د چندخې د وژلو نه منع کړو. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① ضِفْدَع: چیندخ.

تسهیلات:

قوله: عَنْ ضِفْدَعٍ يَجْعَلُهَا فِي دَوَاءٍ

طبیب دَنبی کریم نه سوال ځکه اوکړو چه دَدې نه وړاندې دَ طبیبانودا دستور وو چه په دوائی کښې به ئې چیندخه شاملوله. په اسلامی نقطه نظرسره طبیب سوال اوکړو نبی کریم دَ چیندخې وژلو اودا په دوائی کښې شاملولونه منع اوفرمائیله.

د چیندخې څخه دوائی جوړولو ده ممانعت وجه: یعنی نبی کریم دَ چیندخې دَ وژلو ممانعت په دې باندې ترس خوړلو یا دَ دې دَتقدس دَ وجې نه نه دې فرمائیلې بلکه نبی کریم دَدې دَ وژلونه منع ځکه فرمائیلې ده چه په چیندخې کښې دَ دې دَنجاست اوکراهت طبع په بنیادباندې علاج نشته دې. (مرقات)

دنبی علیه السلام معجزه: حافظ فضل محمد صاحب مدظله العالی لیکلی دی زما په خیال کښې دا حدیث دَ نبوت دَعلاماتو نه یوعلامت او معجزه ده ځکه چه په پوره دنیاکښې میډیکل تجربات هم په چیندخو باندې کیږی په کروړونو چیندخې بې مقصده وژلې شی. نبی کریم منع اوفرمائیله چه په دې کښې فائده کمه اونقصان زیات وو نجس هم وه اوطبیعت ترې نفرت هم کوی.

[۱]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الطب/باب فی الأدوية المكروهة (رقم-۳۸۷۱)والنسائی فی کتاب الصید والذبائح/باب الضفدع (رقم-۴۳۵۵)واحمد فی المسند: ۴۵۳/۳

[۴۵۳۶] د نبي كريم ﷺ د ښپې په رګونو كښې ښكر لګول

۴۵۳۶—[۳۳] (¹) [۱] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَحْتَجِمُ فِي الْأَخْدَعَيْنِ وَالْكَاهِلِ». [۳] رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَزَادَ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ. وَكَانَ يَحْتَجِمُ لِسَبْعَ عَشْرَةَ، وَتِسْعَ عَشْرَةَ، وَإِحْدَى وَعِشْرِينَ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس ﷺ وايي [۲] چې رسول الله ﷺ به د غاړې په دواړو رګونو كې، د اوږو په مينځ كې ښكر لګولو (وينه اوخكله) [۳] ابوداؤد، ترمذي رحمه الله او ابن ماجه رحمه الله دا عبارت هم نقل كړي دي چې حضور ﷺ به په اوولسم، نولسم او يويشتم تاريخ ښكر لګولو.

حل اللغات: ① الْأَخْدَعَيْنِ: د غاړې يعنې څټ دواړه رګونه، ② الْكَاهِلِ: دَ اوږو دَمينځ حصې ته كاهل وائي. بلكه دَ سټ لاندې شاته په شپږو مهرو باندې مشتمل پوره حصې ته كاهل وئيلى شي.

تسهيلات:

نوټ: دحديث مفهوم آسان دي.اود ګرانوټكو معانى په حل اللغات كښې ذكرشوى دى

[۴۵۳۷] په مخصوص ورځو كښې د ښكر لګولو حكم

۴۵۳۷—[۳۴] (²) [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ يَسْتَحِبُّ الْحِجَامَةَ لِسَبْعَ عَشْرَةَ، وَتِسْعَ عَشْرَةَ وَإِحْدَى وَعِشْرِينَ». رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس ﷺ فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ به په اوولسم، نوولسم، او يويشتم تاريخ ښكر لګول (وينه يې اوخكل) خوښول. شرح السنة.

تسهيلات:

قوله: كَانَ يَسْتَحِبُّ الْحِجَامَةَ لِسَبْعَ عَشْرَةَ:

د ښكر لګولو تاريخونه: يعنې په كومو تاريخونو كې ښكر لګول پكار دى، حديث الباب كې ذكر دى چه نبى كريم ﷺ وفرمائيل چه كوم كس د مياشتى په اولسم او نورلسم او يو يشتم تاريخ باندې ښكر ولګولو نو په دې كښې د هر قسم بيمارى شفاء ده.

په مذكوره تاريخونو كښې د ښكر لګولو وجه: علماء كرامو ليكلى دى چه په دې كې حكمت دا دې چه د مياشت په شروع كې د سرى وينه په جوش كښې وى او په اخر كښې بلكل كمه يا كمزوره شى، لهذا د مينځ والاحصه ډيره مناسب ده، امام بخارى رحمه الله هم په كتاب

¹) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الطب/باب فى موضع الحجامة (رقم-٣٨٦٠) والترمذى فى كتاب الطب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الحجامة (رقم-٢٠٥١) وابن ماجه فى كتاب الطب/باب موضع الحجامة (رقم-٣٤٨٣) واحمد فى المسند:١١٩/٣

²) اخرجه البغوى فى شرح السنة رقم الحديث ٣٢٢٥

الطب کې د حجامت (ښکر لګولو) متعلق مختلف ابواب قائم کړی دی او یو ترجمه دا هم ده "أی ساعة یحتجم" او په هغې ئی کښې دا مرفوع حدیث ذکر کړې دې "احتجم النبی صلی الله علیه وسلم وهو صائم" او یو روایت ئی تعلیقا "احتجم ابو موسٰی لیلاً" ذکر کړې دې، په بخاری کې د اوقاتو د تعیین والا روایت نشته، البته په سنن ابو داود او ابن ماجه کښې روایات شته، او په فیض الباری کې دی "لعل البخاری یشیر إلی حدیث عند ابی داود فیه تفصیل الأیام للاحتجام الخ "الأبواب والتراجم"

[۳۵۳۸] د حجامت مخصوص ورځې

۳۵۳۸ــ[۳۵]()[۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- عَنْ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] "«مَنِ احْتَجَمَ لِسَبْعَ عَشْرَةَ، وَتِسْعَ عَشْرَةَ، وَإِحْدَى وَعِشْرِينَ [۳] كَانَ شِفَاءً لَهُ مِنْ كُلِّ دَاءٍ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره ﷺ د رسول الله ﷺ نه نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمایل [۲] کوم سړي چې په اوولسم، نوولسم او یویشتم تاریخ ښکر لګوی (وینه اوکاږي) [۳] هغه ته د هري ناروغي نه شفاء ملاویږي. (ابوداؤد)

تسهیلات:

نوټ: د حدیث تشریح دې څخه وراندې حدیث نمبر (۴۵۴۷) په تسهیل کښې اوګوری.

[۳۵۳۹] د سه شنبه په ورځ د ښکر لګولو ممانعت

۳۵۳۹ــ[۳۶]()[۱] وَعَنْ كَبْشَةَ بِنْتِ أَبِي بَكْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: [۲] «أَنَّ أَبَاهَا كَانَ يَنْهى أَهْلَهُ عَنِ الْحِجَامَةِ يَوْمَ الثُّلَاثَاءِ [۳] وَيَزْعُمُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَنَّ يَوْمَ الثُّلَاثَاءِ يَوْمُ الدَّمِ [۴] وَفِيهِ سَاعَةٌ لَا يَرْقَأُ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او د بي بي کبشه ﷺ بنت ابي بکره نه روایت دي [۲] چې د هغی پلار به خپل کور والا د نهي (سي شنبي) په ورځ د ښکر د لګولو (د ويني د اوخکلو) نه منع کول، [۳] او د رسول الله ﷺ نه به یې نقل کول، چې د نهي ورځ د ويني د غلبي ورځ ده، [۴] او په دي ورځ کې یو داسي ساعت راځي چې په هغې کې وینه نه بندیږي، انو په دي ورځ د ويني د اوخکلو په صورت کې دا کیدي شي که هغه ساعت راشي او وینه بنده نشي نو د هغې سره هلاکت هم واقع کیدي شي! (ابوداؤد)

حل اللغات: ① يَوْمَ الثُّلَاثَاءِ: دسه شنبې ورځ، د نهي ورځ، (منګل).

تسهیلات:

قوله: أَنَّ أَبَاهَا كَانَ يَنْهى أَهْلَهُ عَنِ الْحِجَامَةِ يَوْمَ الثُّلَاثَاءِ:

---

[1]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الطب باب متی تستحب الحجامة (رقم-۳۸۶۱)
[2]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الطب باب متی تستحب الحجامة (رقم-۳۸۶۲)

د سه شنبه په ورځ د ښکر لګولو ممانعت وجه: په دې حديث کښې د نهې په ورځ د وينې ويستلو نه منع کړې شوې ده اووجه ئې داخودلې ده چه په دې کښې يووخت دې په کوم کښې چه کله چرې وينه اوويستلې شوه نوکله به بنده نه شي سرې به مرشي اوکيدې شي چه د حضرت آدم عليه السلام دخوئى هابيل وينه قابيل هم په دې ورځ ويستلې وه لهذا دا د وينوتويولوورځ ده. د يزعم لفظ د شك دپاره استعماليږى نوداحديث دمرفوع په ځائې موقوف کيدې شي.

[۴۵۵۰] د چهارشنبه هفتې په ورځ د ښکر لګولو ممانعت

۴۵۵۰–[۳۷] ()[۱] وَعَنِ الزُّهْرِيِّ مُرْسَلًا، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «مَنِ احْتَجَمَ يَوْمَ الْأَرْبِعَاءِ، أَوْ يَوْمَ السَّبْتِ، [۳] فَأَصَابَهُ وَضَحٌ، [۴] فَلَا يَلُومَنَّ إِلَّا نَفْسَهُ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ، [۵] وَقَالَ: وَقَدْ أُسْنِدَ وَلَا يَصِحُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت زهري تابعي رحمه الله د رسول الله ﷺ نه بطريق ارسال نقل کوي، چه حضور ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړي چې د خالي په ورځ يا د چهار شنبې په ورځ ښکر لګوي (وينه اوباسي) [۳] او بيا هغه ته د کوړ (برګي) مرض ولګيږي، [۴] نو هغه دې خپل خان ملامت کړي. (ابوداؤد احمد) [۵] او ابوداود رحمه الله ويلي دي چې دا حديث (په يو روايت کې) مسندا بيان شوي دي (يعني هغه روايت په راويانو د اعتبار سره متصل دي خو هغه اسناد صحيح نه دي).

حل اللغات: ① يَوْمَ الْأَرْبِعَاءِ: د چارشنبې ورځ (بدھ). ② وَضَحٌ: کوړ، برګي مرض، (برص).

تسهيلات:

قوله: مَنِ احْتَجَمَ يَوْمَ الْأَرْبِعَاءِ، أَوْ يَوْمَ السَّبْتِ، فَأَصَابَهُ وَضَحٌ:

په مذکوره ورځو کښې د ښکر لګولو نقصان: په دې حديث کښې د هفتې او چارشنبې په ورځ د وينې ويستلو نه منع کړې شوې ده. وَضَحٌ دا د رڼا اووضاحت نه اخستې شوې دې مراد دادې چه په دې ورځوکښې به وينه دومره زياته پريوځى چه سړې به د برګى په مرض کښې راګيرشي وضح برګى مرض ته وائې يعنى د بدن سپينيدل.

قوله: فَلَا يَلُومَنَّ إِلَّا نَفْسَهُ.

په سنت د عمل نه کولکى نقصان: يعنى په يوقانون اوشرعى ضابطه باندې الزام مه لګوئى شريعت خودهغې رهنمائى فرمائيلې ده کله چه هغه په دې باندې عمل اونه کړو نواوس دې خپل ځان ملامت کړى.

---

[۱] اخرجه البغوى فى شرح السنة

[۴۵۵۱] د چهارشنبه یا هفتې په ورځ د ښکر لګولو ممانعت

۴۵۵۱ - [۳۸] ()[1] وَعَنْهُ مُرْسَلًا، قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [2] ((مَنِ احْتَجَمَ أَوِ اطَّلٰى يَوْمَ السَّبْتِ أَوِ الْأَرْبِعَاءِ [3] فَلَا يَلُوْمَنَّ إِلَّا نَفْسَهُ فِي الْوَضَحِ)). رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ"

ترجمه: [1] او حضرت زهري رحمه الله بطریق ارسال وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل[2] کوم سړي چې د خالي یا چهار شنبې په ورځ ښکر لګوي (وینه اوکاږي) یا د خپل بدن په یو عضو پلستر لګوي،[3] نو هغه دې په کوړ [برګی] مرض کې په مبتلا کیدو خپل ځان ملامت کړي (شرح السنة)

حل اللغات: ① اطّلٰی: پلستر اولګوی، ② الْوَضَح: کوړ، برګي مرض، (برص)

تسهیلات:

نوټ: ددې حدیث د مضمون وضاحت دې څخه وړاندې د حدیث نمبر (۴۵۵۰) په تسهیل کښې تیرشوې دې.

[۴۵۵۲] د تعویذ حکم

۴۵۵۲ - [۳۹] ()[1] وَعَنْ زَيْنَبَ امْرَأَةِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - [2] ((أَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ رَأٰى فِيْ عُنُقِيْ خَيْطًا، فَقَالَ: مَا هٰذَا؟ [3] فَقُلْتُ: خَيْطٌ رُقِيَ لِيْ فِيْهِ [4] قَالَتْ: فَأَخَذَهُ فَقَطَعَهُ، ثُمَّ قَالَ: [4] أَنْتُمْ آلَ عَبْدِ اللّٰهِ لَأَغْنِيَاءُ عَنِ الشِّرْكِ، [5] سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُوْلُ: "إِنَّ الرُّقٰى وَالتَّمَائِمَ وَالتِّوَلَةَ شِرْكٌ" [6] فَقُلْتُ: لِمَ تَقُوْلُ هٰكَذَا؟ لَقَدْ كَانَتْ عَيْنِيْ تَقْذِفُ [7] وَكُنْتُ أَخْتَلِفُ إِلٰى فُلَانٍ الْيَهُوْدِيِّ، [8] فَإِذَا رَقَاهَا سَكَنَتْ،

ترجمه: [1] او د حضرت عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه ښځه بي بي زینب رضی الله عنها فرمائي[2] چه یوه ورځ حضرت عبد الله زما په غاړه کې تار پروت ولیدلو، نو پوښتنه یې وکړه چې دا څه دي؟ [3] ماورته اوویل چې دا تار دی، په دې زما د پاره منتر وئیل شوي دي (یعني د منترونو په ذریعه د دې تار کښې اچولو سره ما په خپله غاړه کې اچولي دي)[4] بي بي زینب رضی الله عنها فرمائي (د دې په اوریدو سره) حضرت عبد الله هغه تار زما د غاړې نه وخکلو، او هغه یې ټکړې ټکړې کړو، بیا یې اوویل[5] چې اي د عبد الله کور والو! تاسو د شرک نه بې پروا یې [5]. ما د رسول الله ﷺ نه دا اوریدلي دي چې بلا شبه منتر، تعویذونه او ټوټکي (جادو، طلسم، د دورِ جاهلیت شیان) شرک دي،[6] ما ورته اوویل ته دا خبره څرنګه کوئ (یعني تاسو ګویا د منتر نه پرهیز او د توکل د اختیارولو تلقین کوئ، حالانکه ماته د منتر نه ډیره فائده شویده) زما سترګې د درد نه اوبه ویستلې،[7] زه به فلاني یهودي ته تلم راتلم، [8] هغه منتر ویلو سره چې کله سترګه راله دم کړه، نو آرام ورته راغې .

(۱) اخرجه البغوی فی شرح السنة رقم الحديث ۳۲۳۵
(۲) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الطب/باب فی تعلیق التمائم (رقم-۳۸۸۳) وابن ماجه فی کتاب الطب/باب تعلیق التمائم (رقم-۳۵۳۰)

[۱] فَقَالَ عَبْدُ اللهِ: إِنَّمَا ذٰلِكِ عَمَلُ الشَّيْطَانِ [۲] كَانَ يَنْخَسُهَا بِيَدِهِ [۳] فَإِذَا رُقِيَ كَفَّ عَنْهَا [۴] إِنَّمَا كَانَ يَكْفِيكِ أَنْ تَقُولِي كَمَا كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [۵] "أَذْهِبِ الْبَاسَ، رَبَّ النَّاسِ وَاشْفِ أَنْتَ الشَّافِي، لَا شِفَاءَ إِلَّا شِفَاؤُكَ، شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَمًا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] حضرت عبد الله رضي الله عنه اوويل چې (دا ستا ناداني او غفلت دي) او هغه درد او د هغې بنه کيدل د منتر په سبب نه وو، بلکې (په حقيقت کې) هغه د شيطان کار وو. [۲] شيطان ستا سترګې ته زور ورکولو (چې د هغې نه تاته درد محسوسيدو) بيا چې منتر اوويل شو، [او هغه د شيطان کار وو، نو] شيطان تکليف ورکول پريخودل. [۳] ستا د پاره هغه دعا بالکل کافي وه کومه چې رسول الله ﷺ به ويله، چې [۵] أَذْهِبِ الْبَاسَ رَبَّ النَّاسِ وَاشْفِ أَنْتَ الشَّافِي لَا شِفَاءَ إِلَّا شِفَاءُكَ شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَمًا. يعنى اي د خلقو پروردګاره! ته زمونږ ناروغئ لرې کړې، او شفاء راته راکړې (ځکه چې) شفاء ورکونکې ته يې، ستا د شفاء نه علاوه شفاء نشته، داسې شفاء چې ناروغئ باقي پرې نه ږدي. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① خَيْطًا: تار، ② رُقًى: دم درها، ③ لَأَغْنِيَاءُ: ويزاره، بې پرواه، ④ التَّمَائِمَ: دتميمة جمع ده دانو مرو (او کنجکو) ته وائي. ⑤ التِّوَلَةُ: د جادو تويتكې ⑥ تَقْذِفُ: د سترګې درد لکه چه څه پکښې غورزيدلي وي، ياد درد په وجه ئې اوبه غورزولې، ⑦ أَخْتَلِفُ: تلم راتلم به، ⑧ يَنْخَسُهَا: زور ورکوی، دباوهی ئې، ⑨ كُفَّ: بند به شو، ⑩ لَا يُغَادِرُ: چه پرې نږدی، ⑪ سَقَمًا: بيمارى.

تسهيلات: **قوله:** الرُّقَى:

د حرام دم درها مصداق: يعنى هغه دم درها په کوم کښې چه دَ يوبت شيطان يا فرعون يا هامان نوم وى يا څه شرکيه کلمه وى يادکوم معنى چه معلومه نه وى داسې دم درهاکول منع دى.

قوله: وَالتَّمَائِمَ

د تعويذونو دوه قسمونه: ① په کومو تعويذونو کښې چه دَالله تعالى نوم وى ادعيه ماثوره وى صالح وظائف وى هغه جائز دى.

② هغه دم درها په کوم کښې چه دَ يوبت شيطان يا فرعون يا هامان نوم وى يا څه شرکيه کلمه وى يادکوم معنى چه معلومه نه وى داسې دم درهاکول منع دى. دا فرق پيژندل ډير ضرورى دى. شرکى تعويذونه منع دى اوشرعى تعويذات جائز دى.

د ممانعت مصداق: عربوبه څه هډوکى اومهرې وغيره واخستل اودَهغې هاربه ئې جوړولو او بيا به ئې دَ ماشومانو په غاړه يا خپه کښې ترلو دَهغوى خيال وو چه په دې سره به دَ بدنظر وغيره نه بچ کيږى. دَ تمائم اصل حقيقت هم دغه دې. بيا په دې کښې وسعت پيدا شو او دَدې اطلاق په عام تعويذونوباندې کيدل شروع شو.

قوله: وَالتِّوَلَةَ:

د تولة وضاحت: په تاء باندې زیرديٍ واؤ اولام باندې زبردې دَجادو توټکي ته وائي. چه په تارباندې دَ جادوځه توټکې اولولی دې سره بنځه په سړی اوسړی په بنځه باندې عاشق جوړولی شی کوم ته چه په پښتوکښې کوډې وائی په دې کښې عمومًا دَ جادو اودَ شرك عمل کیږی داټول ناجائزدی په دې وجه نبی کریم فرمائیلی دی داټول شرك دې یعنی بې شکه منتر مرئی دانې اوټوټکې شرك دې.

د بعضو غلقو غلطه تشریح: بعضې ګمراه خلق دَدې حدیث دَ الفاظو صحیح تشریح نه کوی اوعوامو ته وائی چه مطلق تعویذونه منع دی حالانکه دَهغوی دا ویناکول غلط دی. دَ تعویذونو جوړول ثابت دی البته داکاروبارجوړول غلط انداز اختیارول غلط دی نو دَ غلطو خلقو غلط کارته دې غلط اووئیلې شی نه چه مطلق تعویذ ته دې غلط اووئیلې شی

قوله: عَمَلُ الشَّيْطَانِ:

د شیطانی عمل وضاحت: یعنی دَ شیطان یوه منظم منصوبه وی هغه دَعقائدو اواعمال خرابولودَپاره داسازش کوی. چه اول ئی په ځه ځائی باندې زورکړی بیمارئی کړی نوچه کله انسان ناجائز دم درهاکوی یا په مزارباندې حاضری کولوسره ځادرې غوړوی اویادَغیرالله په نوم باندې نذر اونیاز او حلاله کوی نوشیطان دَهغه ځائی نه ګوته اوچتوی نوسړې تیك شی اودَهغه عقیده په دغه غلطو منترونواو توټکوباندې پخه شی.

قوله: يُنَفِّسُهَا:

د نفس مفهوم: یعنی دباووی اووهی ئی. کف: یعنی دا یهودی ملحدچه کله دم کوی نوشیطان هغه ځائی پریږدی. بیمار ګنړې چه دا کمال دَ یهودی دَ منتردې. تاسوله پکاردی چه دَ نبوی ارشاداتومطابق داوظائف لولئی.

[۴۵۵۳] نشره د شیطان کار دې

۴۵۵۳-[۳۰] (١) [١] وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: [٢] «سُئِلَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَنِ النُّشْرَةِ فَقَالَ: [٣] "هُوَ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ"». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] او حضرت جابر ﷺ وايي [٢] چې د رسول اللهﷺ نه د نشره باره کې پوښتنه وشوه، نو وي فرمايل [٣] چې دا شيطاني كار دي. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① النُّشْرَةِ: یو سفلی علم دې چه پیریان وغیره پرې دفع کولې شی. په قاموس کی دي چې نشره رقیه یعنی منتر دی، د دی په ذریعه به یې د مجنون او مریض علاج کولی، دا د زمانهٔ جاهلیت د عملیاتو نه یو عمل دی، چې د بتانو او د شیطانانو په نومونو او د هغوئ نه به په اعانت مشتمل وو.

(١) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الطب/باب فی النشرة (رقم-۳۸۶۸) واحمد فی المسند: ۳/۲۹٤

تسهیلات:

قوله: النُّشْرَةِ

د نشرة په تعریف کښې دوه اقوال: ① علامه طیبی رحمه الله لیکی چه نشره یو رقیه اومنتردې دکوم په ذریعه چه دَمجنون دَجنون علاج کولې شی. اودې ته نشره په دې وجه وائی چه جنات دامرض دَمجنون نه واخلی اواخوادیخوا ئې خوروی

② دایوقسم سفلی عمل دې چه دَ غیب عالم(دَ پیریانوسایه) دَ دفع کولودَپاره کولې شی.

قوله: هُوَمِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ:

په حدیث کښې د نشرة په مراد کښې دوه اقوال: ① په حدیث کښې چه دکوم نشره ذکر دې داسې معلومیږی چه دې نه دَجادوعمل مراددې.

② دَدې ځخه دَتعویذونواو منترو جنترو عمل هم مراد کیدې شی خو په دې صورت کښې به دَتعویذونو اودم درها نه دَ جاهلیت شرکیه تعویذونه مراد وی اوغلط دم درهابه مرادوی ځکه چه جائزتعویذونه جائزدی.

[۴۵۵۴] د دې څیزونو باره کښې د نبی علیه السلام لاپرواهی

۴۵۵۴–[۳۱] (۱) ۱ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ۲ "«مَا أُبَالِي مَا أَتَيْتُ ۳ إِنْ أَنَا شَرِبْتُ تِرْيَاقًا ۴ أَوْ تَعَلَّقْتُ تَمِيمَةً ۵ أَوْ قُلْتُ الشِّعْرَ مِنْ قِبَلِ نَفْسِي». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: ۱ او حضرت عبد الله ابن عمر رضی الله عنهما وایي چې ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل ۲ چه زه د هر عمل نه لاپروایم، ۳ که زه تریاق (زهر مهره، د زهر اثر لرې کولو دارو) اوڅکم، ۴ یا په غاړه کې منکه (تمیمه) واچوم، ۵ یا د خپل زړه نه او په خپل قصد او ارادې سره شعر ولیکم (یعني خپله اشعار جوړ کړم) ابوداؤد.

حل اللغات: ① تِرْيَاقًا: زهر مهره، د زهرو د اثر لرې کولو دارو، ② تَعَلَّقْتُ: رازورند کرم، ③ تَمِيمَةً: دانو مرو (او کنجکو) ته وائی.

تسهیلات: قوله: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ

د عبدالله ځخه مراد: دلته دکاتب په غلطئی سره دَمشکوة په نسخوکښې عبدالله بن عمر لیکلې شوې دې داعبدالله بن عمرو بن العاص دې عبدالله بن عمربن خطاب نه دې.

قوله: مَا أُبَالِي مَا أَتَيْتُ إِنْ أَنَا شَرِبْتُ تِرْيَاقًا الخ

دحدیث پس منظر: په هغه زمانه کښې به په تریاق کښې شراب یادَمار غوښه شاملولې شوه اوبیابه دَزهرو علاج کیدلو که چرې دا ناجائزڅیزونه په تریاق کښې نه وی نوفی نفسه

---

(۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الطب/باب فی النشرة (رقم-۳۸۶۹) واحمد فی المسند: ۱۶۷/۲

تریاق خودَ یوجائز مرکب نوم دې کوم چه ممنوع نه دې. دغه شان که شرکیه غوټې نه وی صالح تعویذونه وی نو دَ امت دَپاره هغه هم منع نه دی اوشعرخوصرف دَنبی کریم دَپاره منع وو.

دحدیث مفهوم: دَحدیث مطلب دادې که چرته زه دَدغه دریوارو څیزونوارتکاب اوکړم نوبیازما هیڅ پرواه نشته دې چه زه دَځه جائز یاناجائز ارتکاب اوکړم بیاخویه دَ هر یو نامشروع کار ارتکاب هم جائز شي. که چرې دَدغه ناجائزڅیزونو ارتکاب زه اوکړم کله چه زه دَ دې ناجائز ارتکاب نه کوم نودَدغه دریوارو څیزونو به هم نه کوم

درې ناجائز کارونه: ①یوناجائزخودَ تریاق استعمال دې کله چه په دې کښې دَشرابو یا مار غوښه شامل کړې شوی وی نودازمادَپاره اوزمادَامت دَټولو دَپاره حرام دی

② یا زه شرکیه غوټې اومرئی په غاړه کښې زوړندکړم نودا شرکیه غوټې زمادَپاره هم اوزمادَ ټول امت دَپاره هم حرام دی.

③ یازه شعر اووایم دازمادَپاره حرام دی البته زمادَامت دَپاره حرام نه دی خکه چه شعر یوکلام دې. حسنه حسن وقبیحه قبیح. لیکن دَنبوت دَشان سره دا منافی دی چه زه شعرونه وایم شاعر جوړشم اوشعر جوړکړم اودَبل یوشعر نیم وئیل هغه منع نه دی.

[۵۵۵۳] د داغ لګولو او دم درها کولو حکم

۵۵۵۳—[۳۲] ()[۱] وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«مَنِ اكْتَوَى[۳] أَوِاسْتَرْقَى،[۴] فَقَدْ بَرِءَ مِنَ التَّوَكُّلِ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او حضرت مغیره ابن شعبه رضی الله عنه وایي چی رسول الله ﷺ وفرمایل[۲] کوم سړي چې داغ ولګوي،[۳] یا منتر چف کړی،[۴] نو هغه د توکل نه بري شو. (احمد، ترمذي، ابن ماجه)

حل اللغات: ①اکْتَوَى: داغ اولګوی، ②اسْتَرْقَى: دم درها کوی، ③بَرِءَ: ویزاره شو.

تسهیلات:

قوله: أَوِاسْتَرْقَى، فَقَدْ بَرِءَ مِنَ التَّوَكُّلِ:

د دم درها په جواز او عدم جواز کښې روایات:

دَعدمِ جواز روایات: ①: روایت مغیرة بن شعبة رضی الله عنه ذکردې په دې باب کښې

② حدیث ابن مسعود رضی الله عنه اخرجه ابوداؤدوفیه ان الرقی والتمائم والتولة شرك (الحدیث)

③ حدیث ابن عباس رضی الله عنهما اخرجه الترمذی ۶۷/۲ هم الذین یکتوون ولایسترقون ولا یتطیرون وعلی ربهم یتوکلون. (الحدیث)

---

[۱]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الطب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی کراهیة التعلیق (رقم-۲۰۵۵) وابن ماجة رقم الحدیث ۳۴۸۹واحمد فی المسند: ۲۴۹/۴

۳ حدیث عمران بن حصین رضی الله عنه اخرجه الطحاوی دا روایت حضرت ابن عباس رضی الله عنهما د روایت په معنی دې.

د جواز روایات: ① حدیث انس رضی الله عنه په دې باب کښې ذکر دې.

② حدیث بریدة رضی الله عنه اخرجه مسلم وابن ماجه لفظه لارقیة الامن عین اوحمة.

③ حدیث عمران بن حصین رضی الله عنه اخرجه الترمذي في الباب.

④ حدیث جابر رضی الله عنه اخرجه مسلم لفظه نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم عن الرقی فجاء آل عمرو بن حزم فقال یا رسول الله انه کانت عندنا رقیة نرقی بها من العقرب وانت نهیت عن الرقی فعرضوها علیه فقال ما اري بها بأساً من استطاع منکم أن ینفع اخاه فلینفعه.

⑤ حدیث عائشة رضی الله عنها اخرجه الشیخان قالت امر النبي صلی الله علیه وسلم ان یسترقی من العین.

⑥ حدیث عائشة رضی الله عنها اخرجه الشیخان قال رخص رسول الله صلی الله علیه وسلم الرقیة من کل ذي حمة.

⑦ حدیث طلق بن علی رضی الله عنه اخرجه الطحاوي قال کنت مع النبی صلی الله علیه وسلم فلدغتنی عقرب فجعل یمسحها ویرقیة.

⑧ حدیث عمرو بن حزم رضی الله عنه اخرجه ابن ماجه لفظه عرضت او اعرضت النهشة من الحیة علی رسول الله صلی الله علیه وسلم فأمر بها.

⑨ حدیث ابی خزامة عن ابیه اخرجه الترمذي في الباب لاترد الرقی والدواء من قدر الله شیئاً.

⑩ حدیث ابی سعید الخدري رضی الله عنه في الباب الآتي.

⑪ حدیث اسماء بنت عمیس في الباب الآتي بعده.

د مذکوره روایاتو په مینځ کښې تطبیق:

① د عدم جواز د روایاتو محمل هغه عجمی الفاظ دی د کوم معنې چه معلومې نه وی ځکه چه په هغې کښې د کفر اندیښنه ده او د جواز د روایاتو محمل هغه ادعیه دی کوم چه ماثور او منقول دی.

② عدم جواز د هغه خلقو په حق کښې دې څوک چه رقیه مؤثر بالذات ګڼړی. کما کانت الجاهلیة تزعمه او روایات د جواز محمل هغه صورت دې چه دم درها صرف د اسبابو په درجه کښې ګڼړی لکه څنګه چه په طب کښې دارو د علاج معالجه دپاره وی.

③ علامه توربشتی رحمه الله فرمائیلی دی چه اول عدم جواز وو بیا منسوخ شو اجازت اوشو. واستقر الشرع علی الاذن نودا تول روایتونو د جواز د آثار د سلفو نه هم مستفاده کیږی. دې نه علاوه د ابواب الدعوات د روایتونو نه اجازت معلومیږی.

④ حضرت ګنګوهی رحمه الله فرمائی فقد برء من التوکل مطلب دادې چه بغیر د ضرورت نه داغونه لګول دم درها پوک وهلو باندې یقین کونکې د توکل د اعلی مقام او درمیانه مقام نه بری

او خلاص دې بلکه دَ دې ښکته درجه ورته هم حاصله نه ده. خوکه په مجبورئی کښې ئې داغ اولګولو یا په شرعی حدودوکښې اوسيدلو سره دم درها اوکړه نودَ توکل ښکته درجه ده ته حاصله ده. دا ځکه چه ده دا څيزونه دَ اسبابو په توګه اختيارکړل اودا ئې مؤثر بالذات اونه ګڼړل.

[۴۵۵۶] د تعويذ باره کښې د عبدالله بن حکيم عقيده

۴۵۵۶—[۴۳] (۱) ⑴ وَعَنْ عِيسَى بْنِ حَمْزَةَ قَالَ: ⑵ «دَخَلْتُ عَلَى عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُكَيْمٍ وَبِهِ حُمْرَةٌ ⑶ فَقُلْتُ: أَلَا تُعَلِّقُ تَمِيمَةً؟ ⑷ فَقَالَ: نَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنْ ذٰلِكَ ⑸ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ تَعَلَّقَ شَيْئًا وُكِلَ إِلَيْهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ⑴ او حضرت عيسى ابن حمزه رضی الله عنه وايي ⑵ چې يوه ورځ زه عبد الله بن عکيم رضی الله عنه ته ورغلم نو ومې ليدل چې د هغه بدن د سرفي په ناروغۍ کې مبتلا وو، ⑶ ما ورته اوويل تاسو تعويذ ولي نه اچوئ، ⑷ هغه اوويل چې زه د دې کار نه د الله جل جلاله پناه غوارم، ⑸ ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي کوم سړي چې څه شي زوړندوی، يا يې تړي، نو هغه شي ته حواله کول کيږي. (ابوداؤد)

حل اللغات: ⓵ حُمْرَةٌ: سور والې ⓶ تُعَلِّقُ: رازړوندوې، ⓷ وُكِلَ: حواله کولې او سپارلې شی

تسهيلات:

قوله: وَبِهِ حُمْرَةٌ:

دحديث مفهوم: د "ه" ضمير مرجع عبدالله دی او باء د الصاق دپاره ده، مطلب دا شو چه ددوی مخ او جسم د سرخی طرف ته مائل وو نو ما ورته اوئيل چه تاسو تعويذ ولی نه اچوئ نو دوی د الله تعالى نه پناه اوښستله چه دا د شرک يو قسم دې يا دوی د تعويذ اچولو نه د الله پناه راوغوښتله ځکه چه دوی په مقام د توکل او رضا باندی فائز وو او دوی تعويذ اچول د مرتبه توکل منافي اوګڼړل اګرچه د نورو دپاره جائز دی.

د حديث حاصل دا شو چه کوم خلق دا څيزونه مؤثر بالذات ګڼړی نو دوی د الله تعالى د مدد او اعانت نه محروميږی او دوی ته شفاء نه حاصليږی، ځکه چه د الله تعالى د مرضی نه علاوه هيڅ يو څيز نه فائده ورکوی او نه نقصان ورکوي نو دحديث مقصد د تفويض او توکل طرف ته راغب کول دی.

نوټ: دتعويذ باره کښې تفصيل وراندې د حديث نمبر (۴۳۹۷) په تسهيل کښې تيرشوې دې هغې ته رجوع اوکړئ.

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن كتاب الطب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى كراهية التعليق (رقم-۲۰۷۲) واحمد فى المسند: ۳۱۰/۴

[۴۵۵۷] د دَم كولو د اثر ذكر

۴۵۵۷ــ[۳۳] (۱) ① وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: " ② «لَا رُقْيَةَ إِلَّا مِنْ عَيْنٍ أَوْ حُمَةٍ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او د حضرت عمران ابن حصين رضي الله عنهما نه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② منتر [يعنى د دَم چف اثر] خو بس په نظر يا د زهر دار حيوان (لکه د لړم وغيره) په چيچلو كې وي (احمد، ترمذي، ابوداود)

حل اللغات: ① عَيْنٍ: بد نظر، ② حُمَةٍ: د زهريله حيوان يعنى مار لړم تک ته وائى

۴۵۵۸ــ(۲) ① وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ، عَنْ بُرَيْدَةَ.

ترجمه: ① او ابن ماجه رحمه الله دا روايت د حضرت بريده رضي الله عنه نه نقل كړي دي

تسهيلات:

قوله: - لَا رُقْيَةَ إِلَّا مِنْ عَيْنٍ أَوْ حُمَةٍ:

د دوو بيمارو دپاره دم درها كول: يعنى دم درها ډير فائده وركونكې اوبهتر دَ دې دوو قسم بيمارانو دپاره دى.

① خوک چه دَ نظره شوې وى ② خوک چه لړم چيچلې وى. دې نه علاوه دَ نورو مرضونو سقمونو دپاره هم فائده وركونكې دى. دلته حصر مقصود نه دې خكه چه په نورو احاديثو كښې دَ نورو مرضونو دپاره دم درها كول راغلى دى.

دګنګوهى تحقيق: حضرت ګنګوهى رحمه الله فرمائى دَ دې معنى داده چه مناسب نه دى چه سړې اضطراراً رقيه اوكړى خو په دې دوارو مرضونو كښې يعنى په حالت دَ اضطرار يعنى بې قرارنې په دې دوارو مرضونو كښې دم درها كول او دې نه علاوه په نورو مرضونو كښې رقيه كول بهتر دى خو ظاهره ده چه په نورو احاديثوكښې دَ نورو مرضونونه هم رقيه كول راغلى دى نودَ نورو مرضونو دپاره هم رقيه جائز ده.

[۴۵۵۹] د دوو څيزونو دپاره د دم درها كول

۴۵۵۹ــ[۳۵] (۳) ① وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② " «لَا رُقْيَةَ إِلَّا مِنْ عَيْنٍ أَوْ حُمَةٍ أَوْ دَمٍ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت انس رضي الله عنه وايي چه رسول الله ﷺ وفرمايل ② منتر خو بس په نظر يا د

[۱] اخرجه ابوداود فى السنن رقم الحديث ۳۸۸۴ والترمذى فى كتاب الطب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الرخصة فى ذلک (رقم-۲۰۵۷) واحمد فى المسند: ۴/۴۳۶

[۲] اخرجه ابن ماجه فى السنن كتاب الطب/باب ما رخص فيه من الرقى (رقم-۳۵۱۳)

[۳] اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الطب/باب ما جاء فى الرقى (رقم-۳۸۸۹)

زهرجن شي په چیچلو او په وینه اثر کوي. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① دَمٍ: دې نه مراد پوزې وینه ده.

تسهیلات: نوټ: دحدیث دمفهوم وضاحت دې څخه وړاندې د حدیث نمبر(۴۵۵۸) په تسهیل کښې تیرشوې دې.

[۴۵۶۰] دتیز نظرسره دتقدیر بدلیدو ویره

۴۵۶۰-[۲۶] (¹) ①وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ عُمَيْسٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهَا- قَالَتْ: ②«يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ وَلَدَ جَعْفَرٍ تُسْرِعُ إِلَيْهِمُ الْعَيْنُ، ③ أَفَأَسْتَرْقِي لَهُمْ؟ قَالَ: " نَعَمْ ④ فَإِنَّهُ لَوْ كَانَ شَيْءٌ سَابِقَ الْقَدَرِ لَسَبَقَتْهُ الْعَيْنُ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او د بي بي اسماء بنت عمیس رضی الله عنها نه روایت دي، چه هغې عرض وکړو ② چې یا رسول الله! ﷺ د جعفر طیار رضی الله عنه اولاد (خوبصورته او خوب سیرته دي، په دي وجه هغوی) ته نظر ډیر زر لګی، ③ نو آیا زه د هغوئ د پاره دم وکړم؟ حضور ﷺ ورته وفرمایل چې هو، ④ که څه شي تقدیر باندې سبقت وړې، نو هغه به نظر وو [یعني د نظر اثر یقیناً یو سخت ترین شي دي، نو د دې دفعیه د پاره دم کول جائز دي] احمد ترمذي ابن ماجه

حل اللغات: ① تُسْرِعُ: ډیر زر لګی، ② الْعَيْنُ: نظر، ③ أَفَأَسْتَرْقِي: آیا دم اوکړم؟ ④ سَابِقَ الْقَدَرِ: د تقدیر نه مخکښې کیدې شو.

تسهیلات:

قوله: إِنَّ وَلَدَ جَعْفَرٍ تُسْرِعُ إِلَيْهِمُ الْعَيْنُ، أَفَأَسْتَرْقِي لَهُمْ؟

دحدیث مفهوم: دَ حضرت جعفر رضی الله عنه اولاد ډیر ښائسته وو په کومو چه به بد نظر ډیر اثر کولو. نو حضرت اسماء رضی الله عنها دَ حضوراکرم ﷺ نه معلومه کړه چه په دوی باندې دم وغیره پوک وهلې شم که نه؟ نو حضوراکرم ﷺ اوفرمائیل چه بد نظر خو ډیر اثر کونکې دې دَ کوم چه ډیر زر اثر کیږی دَ الله تعالی تقدیر او قضا همیشه غالب وی که په دې باندې څه څیز غالب راتلو نو بد نظر داسې دې چه په هر څیز به غالب راتلو ولې دَ الله تعالی په تقدیر باندې هیڅ څیز غالب نشی راتلې نو په دې وجه بد نظر په دې باندې غالب نشی راتلې

قوله: -تُسْرِعُ:

په بنه صفت لیدو سره د نظر لګیدل، دَ تاء په ضمه دَ راء په کسره او تاء په فتحه هم ضبط کړې شوې دې په معنی دَ تعجل یعنی دَ هغه ماشومانو دَ صوری حسن په کمال او دمعنوی حسن په کمال باندې بد نظر په هغوی باندې زر اثر کوی

(¹) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الطب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الرقیة من العین (رقم-۲۰۵۹) وابن ماجه فی کتاب الطب/باب من استرقی من العین (رقم-۳۵۱۰)

د اهل سنت والجماعت عقیده:- اهل سنت والجماعة فرمائی چه په هر شی کښې دَ الله تعالی ذات مؤثر دې بغیردَ هغه دَ حکم نه هیڅ اثر نه کیږی خو دَ بد نظر اثر په حکم دَ الله تعالی ډیر زر کیږی.

دَ بد نظرتاثیر:- بعض علماؤ بیان فرمائیلې دی چه عائن (دَ چا چه نظر لګی) دَ نظر نه زهرژن اثر د معیون (څوک چه دَ نظره شی) بدن ته رسی اودَ دې په وجه معیون بیمار کیږی. دَ عائن دا نظر استعجابی کیږی. بعض وخت یوښکلی څیز ته په استعجابی نظر سره اوکتلې شی نو زر په هغې کښې نقص پیدا شی. یوسړی یوه ډیره ښکلې شیشه اولیدله او وئی وئیل چه څومره ښکلې ده دَ دې اوبه څومره صفا او مزیدارې دی نو زر په هغې کښې چاؤدې راغلو. دغه شان دَ واصلینو کاملینو او عارفینو دَ نظر اثر ډیرو وختونوکښې کافر مؤمن جوړکړی فاسق او فاجر صالح او نیک جوړکړی. شپه ورځ دَ دې مشاهده کیږی.

[۲۵۳]د نمله دم درها

٢٥٣-[٤٢] (١) ۞ وَعَنِ الشِّفَاءِ بِنْتِ عَبْدِ اللَّهِ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا- قَالَتْ: ۞«دَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَأَنَا عِنْدَ حَفْصَةَ، ۞فَقَالَ: أَلَا تُعَلِّمِينَ هَذِهِ رُقْيَةَ النَّمْلَةِ ۞كَمَا عَلَّمْتِيهَا الْكِتَابَةَ» "رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۞ او بي بي شفاء بنت عبدالله رضي الله عنها وايي۞ چې يوه ورځ زه دام المؤمنين بي بي حفصي رضي الله عنها سره ناسته وم، چې رسول الله ﷺ تشريف راوړو، ۞ او زما په ليدو سره يې وفرمايل آيا ته حفصي رضي الله عنها ته د نمله (يعنى د هغه تكليفجنو دانو چې په ترخ كښې راخيجي) منتر نه ښايې؟ ۞ څرنګه چې تا هغې ته ليكل ښودلي دي. (ابوداؤد)

حل اللغات : ① النَّمْلَةِ: داني پولې، (دا داسې خاربښ كوى لكه چه ميږى پرې ګرځى څكه ورته نمله وائى.)

تسهيلات:

قوله: رُقْيَةَ النَّمْلَةِ:

دحديث پس منظر: نمله هغه پولوته وائى چه دَانسان په پوښتو باندې راؤځى او ډير تكليف وركوى. كوم سړي چه په دغه پولوكښې راګيرشى هغه ته داسې محسوسيږى لكه چه دَهغه په بدن باندې ميږى ګرځى كيدې شى چه هم په دې وجه دغه پولوته نمله (ميږى) وئيلى كيږى. حضرت شفاء به په مكه مكرمه كښې دَدغه نمله دَ لرې كولودَپاره يو منتر لوستلو او دم درها به ئې كوله. كله چه حضرت شفاء اسلام قبول كړو اوهجرت كولو سره مدينې ته راغله نوخپل دامنترئې نبى كريم ته وړاندې كړو نبى كريم دَدې اجازت وركړو

۱) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الطب/باب ما جاء فى الرقى (رقم-۳۸۸۷) واحمد فى المسند: ۳۷۲/۶

قوله: أَلَا تُعَلِّمِينَ هٰذِهِ رُقْيَةَ النَّمْلَةِ كَمَا عَلَّمْتِيهَا الْكِتَابَةَ:

حفصه ته د رقیه ښودلو ترغیب: اوبیانی اوفرمانیل چه څنګه تاحفصه ته خط اوکتابت اوخودل دامنتردې هغې ته ولې اونه خودلو؟

دَ نبی کریم اشاره دَهغه منترطرف ته وه چه دَعربو ښځو به یوڅوکلمات په وخت دَدم درها ونیلی هغه کلمات دادی

العروس تنتعل وتختضب وتکتحل وکل شئ تفتعل غیر انها لاتعصی الرجل

یعنی ناوې به څپلنی اچوی نکریزې او رانجه به لګوی هرڅه به کوی لیکن دَخاوند نافرمانی به نه کوی. نبی کریم په خاص توګه دَحضرت حفصه رضي الله عنها دَ پاره دَدې منتر خودلو حکم ځکه اوکړو چه په دې کښې لاتعصی الرجل الفاظ دی په دې کښې په حضرت حفصه رضي الله عنها باندې تعریض دې چه هغې په واقعه دَ شرب عسل کښې دَنبی کریم راز ښکاره کړې وو کومه چه نافرمانی وه اووفاداره ښځه دَخاوند نافرمانی نه کوی

قوله: كَمَا عَلَّمْتِيهَا الْكِتَابَةَ:

اشکال: څنګه چه تاحفصه ته خط خودلې وو. په یوحدیث کښې دی لاتعلموهن الکتابة ښځوته خط مه ښایئی په دې دواړو احادیثوکښې تعارض دې؟

داشکال درې جوابونه: ① په شروع کښې اجازت وو روستودَښځودَ پاره دَ فساد زمان په وجه ممانعت راغلو لکه څنګه چه په شروع کښې جمات ته تلل اودَ جمع دَمونځ اجازت وو مګر اوس نشته دې.

② دَخط اوکتابت ممانعت روستو راغلې دې داقصه مخکیننی ده لهذا دَخط خودلو حکم منسوخ شوې دې

③ په خط اوکتابت کښې ازواج مطهرات ته په خاص توګه اجازت وو باقی دَعامو ښځو دَپاره ممانعت وو

[۴۵۱۳] د نظر لګیدو یوه واقعه

۴۵۱۳-[۳۸] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ بْنِ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «رَأَى عَامِرُ بْنُ رَبِيعَةَ سَهْلَ بْنَ حُنَيْفٍ يَغْتَسِلُ، فَقَالَ: [۳] وَاللهِ مَا رَأَيْتُ كَالْيَوْمِ [۴] وَلَا جِلْدَ مُخَبَّأَةٍ. [۵] قَالَ: فَلُبِطَ سَهْلٌ [۶] فَأُتِيَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقِيلَ لَهُ: يَا رَسُولَ اللهِ! [۷] هَلْ لَكَ فِي سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ؟ وَاللهِ مَا يَرْفَعُ رَأْسَهُ. [۸] قَالَ: "هَلْ تَتَّهِمُونَ لَهُ أَحَدًا".

ترجمه: [۱] او حضرت ابو امامه ابن سهل ابن حنیف وایي. [۲] چه یوه ورځ عامر ابن ربیعه رضي الله عنه (زما پلار) سهل ابن حنیف رضي الله عنه په لمبیدو ولیدو، نو هغه اوویل [۳] قسم په خداي (د

[۱]) اخرجه مالک فی الموطا کتاب العین/باب الوضوء من العین (رقم-۲) وابن ماجه فی کتاب الطب/باب من استرقی من العین (رقم-۳۵۱۱)

سهل د بدن او د هغه د رنګ او ډول به څه وايې) ما خو د نن ورځ په شان (داسې خوبصورته بدن هيڅ کله) نه دي ليدلي.[۴] او د پرده نشيني ښځي (خوبصورته ښځي) چمړه هم (د سهل رضی الله عنه په شان نازکه او خوش رنګه) مې نه ده ليدلې.[۵] ابوامامه رضی الله عنه وايي چه د عامر رضی الله عنه دا وئيل وو چې داسې محسوسه شوه لکه چې سهل رضی الله عنه وغورځول شو. [يعنی هغه ته د عامر رضی الله عنه داسې بد نظر ولګيدلو، چې بيهوشه کيدو سره وغورځيدوا].[۶] هغه پورته کولو سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې راوستل شو، او عرض وشو چې يارسول الله صلی الله علیه وسلم [۷] تاسو د سهل رضی الله عنه د علاج د پاره څه تجويز کوئ؟ قسم په خداي دي خو د سر پورته کولو هم قدرت نه لري.[۸] حضور صلی الله علیه وسلم د سهل رضی الله عنه حالت ليدو سره وفرمايل چې آيا د چا باره کې ستاسو خيال دې، چې هغه د نظره کړې دې؟

حل اللغات : ① جِلْدَ: خرمن. ② مُخَبَّأَةٍ: په پرده کښې ناسته جينۍ. ③ فَلُبِطَ : پرمخې راپريوتلو. ④ تَتَّهِمُونَ: تاسو تهمت لګوئ، ګمان کوئ.

[۱] فَقَالُوا: نَتَّهِمُ عَامِرَ بْنَ رَبِيعَةَ. [۲] قَالَ: فَدَعَا رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَامِرًا [۳] فَتَغَلَّظَ عَلَيْهِ، وَقَالَ: [۴] "عَلَامَ يَقْتُلُ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ؟ [۵] أَلَا بَرَّكْتَ؟ اغْتَسِلْ لَهُ). [۶] فَغَسَلَ لَهُ عَامِرٌ وَجْهَهُ وَيَدَيْهِ وَمِرْفَقَيْهِ [۷] وَرُكْبَتَيْهِ وَأَطْرَافَ رِجْلَيْهِ وَدَاخِلَةَ إِزَارِهِ فِي قَدَحٍ [۸] ثُمَّ صُبَّ عَلَيْهِ [۹] فَرَاحَ مَعَ النَّاسِ لَيْسَ بِهِ بَأْسٌ». رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ"

ترجمه: [۱] خلقو عرض وکړو چې هو، د عامر ابن ربيعه رضی الله عنه باره کې زمونږ ګمان دې چې هغه د نظره کړې دې.[۲] راوي وايي چه په دې اوريدو سره رسول الله صلی الله علیه وسلم عامر رضی الله عنه را وغوښتو.[۳] سخته زورنه يې ورکړله، او ورته وې فرمايل[۴] چې په تاسو کې څوک ولې د خپل ورور په وژلو پسې لګی.[۵] تا سهل رضی الله عنه ته د برکت دعا ولې ونه کړه [يعنی که ستا په نظر کې د سهل رضی الله عنه بدن او رنګ وغيره ښه ښکاره شوي وو، نو تا دا الفاظ ولې ونه ويل؟ بَارَكَ اللّٰهُ عَلَيْكَ چې په هغه ستا د نظر اثر نه کيدو. بيا حضور صلی الله علیه وسلم عامر رضی الله عنه ته حکم ورکړو چې] ته د سهل رضی الله عنه د پاره خپل اعضاء و وينځه، او هغه اوبه په هغه واچوه.[۶] نو عامر رضی الله عنه په يو لوښي کې خپل مخ، لاس، څنګلي،[۷] ګونډۍ، د دواړو پښو اطراف او لاندې د نامه بدن (يعني ستر) او ارخونه وينځل،[۸] او بيا هغه اوبه (چې عامر رضی الله عنه وربانديې ټول اعضاء وينځلي وو) په سهل رضی الله عنه واچولی شو (د دې اثر دا شو چې)[۹] سهل رضی الله عنه سمدستي ښه شو. اوبه اودريدو سره دخلقوسره داسې روان شوګويا چې په هغه هډو څه شوي نه وو (شرح السنه)

حل اللغات : ⑤ فَتَغَلَّظَ: نو غصه شو ورته، اوني رټلو. ⑥ بَرَّكْتَ: چه د برکت دعا دې کړې وې. بارك الله عليك به دې وئيلې وو ⑦ وَدَاخِلَةَ إِزَارِهِ: او لنګ کښې دننه ځائي. ⑧ قَدَحٍ: غټه پيالۍ. کاسه. ⑨ صُبَّ: واړولی شوي.

۴۵۶۳-[۱] وَرَوَاهُ مَالِكٌ. وَفِي رِوَايَتِهِ قَالَ: "[۲] «إِنَّ الْعَيْنَ حَقٌّ. [۳] تَوَضَّأْ لَهُ"، فَتَوَضَّأَ لَهُ».

ترجمه: [۱] او امام مالک هم دا روایت نقل کړې دې او د امام مالک رحمه الله په یو روایت کې دا منقول دي چې حضور ﷺ (د نظره کونکي ته) وفرمایل [۲] چې بد نظر حق دي، [۲] ته د نظر وهلي د پاره اودس وکړه، نو هغه د نظر وهلي د پاره اودس وکړو

تسهیلات: قوله: قوله: وَلَا جِلْدَ مُخَبَّأَةٍ

د مذکوره جملې مفهوم: یعني عامرد َسهل متعلق اوونیل چه دَده څرمن خوداسې نرمه نازکه اوښائسته ده چه ترننه پورې مې داسې ښائسته څیزنه دې لیدلې بلکه په پرده کښې دَ ناستې جینئی څرمن هم داسې ښکلې نه ده لیدلې.

قوله: فَلُبِطَ

د فلبط په معنی کښې دوه احتمالات: ① ملاعلی قاری رحمه الله داصیغه دَ ضرب او نصر نه مجهول صیغه ګرځولې ده لکه چه داسې محسوس شوه چه سهل پړمخې په زمکه راغورزولې شوې وی

② علامه طیبی رحمه الله داصیغه دَ باب تفعیل نه دَمعروف صیغه اخستې ده اوسهل دَدې فاعل دې لبط پړمخې په زمکه راپریوتو په معنی کښې دې [الکاشف: ۸/۳۳۲]

قوله: اغْتَسِلْ لَهُ

د ناظر په ذریعه د منظور علاج: یعنی اوس دَخپلو اندامونودَ وینځلو اوبه ده له ورکړه علماؤ لیکلی دی چه عاین اوناظر دې غرغرې او اودس اوکړی خپې اودَ زنګونونو اونامه لاندې علاقه دې اووینځي او په یولوښی کښې دې اوبه راجمع کړی اوبیا دې دَ نظره شوی سړې دَ شا دَ طرف نه په هغه باندې راواچوی دادَشریعت حکم دې جائز او نافع دې دَ چا په پوهه کښې راځی که نه راځی په دې کښې خپل عقل ته دخل ورکول بې فائدې دی.

حکومت وخت دپاره د ناظر په کور کښې بندول: قاضی عیاض مالکی رحمه الله لیکلی کوم سړې چه دَنظره کولوکښې مشهور وی نودَهغه نه خان ساتل پکاردی اودَ هغه مخې ته نه راتلل او احتیاط کول لازم دې او په حاکم باندې لازم دی چه داسې سړې دې دَخلقو سره یوځائی کیدو نه منع کړی اودې پابندجوړکړی چه صرف کور کښې دې اوسیږی بهردَ وتلوکوشش دې نه کوی. که غریب وی نودَهغه دَ خوراك څښاك انتظام دې دَبیت المال نه اوکړی مګر ده له دې دَبهر راتلو اجازت نه ورکوی.

په ناظرباندې د منظوردپاره د غسل کولووجوب: علامه مازری رحمه الله فرمائی چه دَناظر غسل کول اواوبه منظور الیه ته ورکول په هغه باندې واجب دی لهذا که هغه دَدې نه انکارکوی نوهغه به مجبورکولې شی بلکه قیدکولې به شی یومړکیږی بل ورته دَاندامونودَوینځلو اوبه نه ورکوی داکوم انصاف دې؟

[۳۵۳] د بد نظر څخه پناه غوښتل

۴۵۱۳-[۴۹] (۱) ①وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: ②«كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَتَعَوَّذُ مِنَ الْجَانِّ وَعَيْنِ الْإِنْسَانِ، ③حَتّٰى نَزَلَتِ الْمُعَوِّذَتَانِ، ④فَلَمَّا نَزَلَتْ أَخَذَ بِهِمَا وَتَرَكَ مَا سِوَاهُمَا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، ⑤وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ① او حضرت ابو سعيد خدري ﷺ وايي② چې رسول الله ﷺ به د جناتو او انسانانو د بد نظر نه پناه غوښتله، ③ تر دې چې معوذتان [يعنى سورة قل أعوذ برب الفلق او سورة قل أعوذ برب الناس] نازل شو، ④ نو حضور ﷺ به د دې دواړو په ذريعه دعا غوښتله، او د دې نه علاوه د نورو څيزونو سره پناه غوښتل يې پرېښودل (ترمذي ابن ماجه) ⑤ او ترمذي ﷫ ويلي دي چې دا حديث حسن غريب دي.

حل اللغات: ① يَتَعَوَّذُ: پناه به ئې غوښتله، ② الْجَانِّ: د جناتو نه. ③ عَيْنِ: بدنظر.

تسهيلات:

قوله: يَتَعَوَّذُ:

د حفاظت دپاره د معوذتينو لوستل: د حديث الباب حاصل دا دې چه نبى كريم ﷺ به د نظر بد ختمولو دپاره د معوذتين د نزول نه مخكې مختلف دعاګانې وئيلې. كله چه د معوذتين نزول وشو نو بيا نبى كريم ﷺ د نورې دعاګانې ډيرې وئيل ترک كړل او زيات به ئې معوذتين سره د نظر بد علاج كولو.

[۳۵۴] د مغربون ذكر

۴۵۱۵-[۵۰] (۲) ①وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا- قَالَتْ: ②«قَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "هَلْ رُئِيَ فِيكُمُ الْمُغَرِّبُونَ؟" ③قُلْتُ: وَمَا الْمُغَرِّبُونَ؟ ④قَالَ: "الَّذِينَ يَشْتَرِكُ فِيهِمُ الْجِنُّ"». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ. ⑤وَذُكِرَ حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ: "خَيْرُ مَا تَدَاوَيْتُمْ" فِي "بَابِ التَّرَجُّلِ".

ترجمه: ① او بي بي عائشه ﷺ فرمايي ② چې يوه ورځ رسول الله ﷺ ماته وفرمايل په تاسو كې دننه (يعني په انسانانو كې) مُغَرِّبُونَ ښكاره شوي دي، ③ ما عرض وكړو چې مغربون څوك دي؟ ④ حضور ﷺ وفرمايل مغربون هغه خلق دي چې د هغوئ سره جنات (يعني شياطين) شريكيږي (ابوداؤد) ⑤ او د حضرت ابن عباس روايت خَيْرَ مَا تَدَاوَيْتُمْ الخ په باب التَرَجُّل كې نقل شوي دي.

---

(۱) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الطب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الرقية بالمعوذتين (رقم-۲۰۵۸) والنسائى فى كتاب الاستعاذة/باب الاستعاذة من عين الجان (رقم-۵۴۹۴) وابن ماجه فى كتاب الطب/باب من استرقى من العين (رقم-۳۵۱۱)

(۲) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأدب/باب فى الصبى يولد فيؤذن فى أذنه (رقم-۵۱۰۷)

حل اللغات: ① رُئِيَ: ښکاره شوی دی. ② الْمُغَرِّبُونَ: اَیِ الَّذِیْنَ يَشْتَرِكُ فِيهِمُ الْجِنُّ: یعنی چاسره چه شیطان شریکیږي زناکار انسانان یا بدکاره جنات مراد دی

تسهيلات:

قوله: هَلْ رُئِيَ فِيكُمُ الْمُغَرِّبُونَ؟:

د استفهام نوعیت: یعنی آیا په انسانانوکښې مغربون ښکاري؟ دلته استفهام دَ تنبیه او استیقاظ دَپاره دې اوهل په معنی دَقددې المغربون دَباب تفعیل نه دَاسم فاعل صیغه ده دَلرې کولو او لرې کیدو په معنی کښې راځی

قوله: قُلْتُ: وَمَا الْمُغَرِّبُونَ؟:

د عائشې رضی الله عنها استفسار: دَدې مفهوم په تعین کښې چونکه اشتباه وه په دې وجه حضرت عائشه رضی الله عنها پوښتنه اوکړه ومالمغربون یعنی داخلق څوك دی دَدوی حقیقت څه دې دکوم جنس او کومې طبقې سره دَدوی تعلق دې؟

قوله: الَّذِیْنَ يَشْتَرِكُ فِيهِمُ الْجِنُّ

د مغربون پیژندګلو: نبی کریم په جواب کښې اوفرمائیل چه مغربون هغه طبقه اوخلق دی چاسره چه دَ جناتو اشتراك عمل دې.

د اشتراکِ عمل په مفهوم کښې مختلف اقوال: ① دمغربون نه مراد زناکار سړی اوزناکارې ښځې دی چه دَزنا په ذریعه حسب اونسب غیبولوسره خرابوی. بل بعیدنسب خپل نسب کښې شاملوی یا خپل قریب نسب دَ بل بعیدنسب کښې شاملوی اودا ټول کار دَ شیطان په اشتراك عمل سره کیږی په زناباندې تیارول دَ شیطان عمل او دَهغه کاردې لکه [سورة النور: ۲۱] ﴿يَأْمُرُهُمْ بِالْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ﴾ لیکن الله تعالی فرمائی ﴿وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنٰى إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَسَاءَ سَبِيلًا﴾ [سورۀ بنی اسرائیل: ۳۲]

② دَمغربو ترجمه لرې کیدل او لریوالې دې اودَدې لفظ یومفهوم او مطلب دادې چه مغربون هغه خلق دی چه دَجماع په وخت دَالله تعالی دَذکرنه لرې وی یعنی دَجماع شروع کولونه اول بسم الله نه وائی اودا دعانه کوی اللهم جنبنا الشیطان وجنب الشیطان ما رزقتنا کله چه دا خلق خپل ځان دَالله تعالی دَذکر نه اودَدې دعانه لرې ساتی نوشیطان رانیزدې کیږی او دَ جماع کونکی سړی ذکرسره خپل ذکررانغاړی او په جماع کښې دې سړی سره شریك شی. دَدې په تنیجه کښې چه کوم اولاد پیداکیږی هغه دَخیر اونیکئی نه لرې وی اودَ شیطان په هغه باندې قابو راځی کوم ته چه بعضې توق مار خلق وائی داهلك بې بسم الله پیدا شوې دې.

شارحین حضرات لیکی چه نن صبادَنوی نسل دَ ورانیدو یوه لویه ذریعه هم دا کوتاهی ده.

قرآن عظیم کښې ﴿وَشَارِكْهُمْ فِي الْأَمْوَالِ وَالْأَوْلَادِ﴾ اسورة بنی اسرائیل:۱۲۴ آیت کښې هم دې حقیقت طرف ته اشاره کړې شوې ده

③ مغربون اودې داشتراك عمل بل مفهوم دادې چه په انسانانوکښې دکاهنانواو نجومیانوهغه طبقه ده دچاچه بعضې شیطانانوسره نیغ په نیغه تعلقات وی چنانچه شیطانان دآسمان نه خبر راوړی دوی ته ئې ورکوی اودا جوګیان خلق دا په عامو انسانانو کښې خوروی اودروغ وغیره ورسره ملاؤکړې خپل کاروبار روښانه کوی اوچلوی ئې رومبې مفهوم ډیرواضح دې

④ مغربون اودې سره داشتراك عمل بل مفهوم دادې چه دې نه مراد د جناتو هغه سړی دی د چاچه د انسانانو ښځوسره ناجائزتعلقات قائم وی اوهغوی دې ښځوسره زنکوی اودهغې په نتیجه کښې دهغوی اولاد پیداکیږی دغه شان جنات انسانانوسره شریك شو انسان چه کله دخپل دین نه لرې شی نو جن په هغه باندې سور شی خکه چه دحفظت هغه باړختم شی اودحفاظت قلعه ماته شی

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۴۵۲۶]په انسانی بدن کښې د معدې اهمیت

۴۵۲۶-[۵۱] ()[1] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [2] "«الْمِعْدَةُ حَوْضُ الْبَدَنِ،[3] وَالْعُرُوقُ إِلَيْهَا وَارِدَةٌ،[4] فَإِذَا صَحَّتِ الْمِعْدَةُ[5] صَدَرَتِ الْعُرُوقُ بِالصِّحَّةِ،[6] وَإِذَا فَسَدَتِ الْمِعْدَةُ[7] صَدَرَتِ الْعُرُوقُ بِالسَّقَمِ» "رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ.

ترجمه: [1] حضرت ابوهریره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل[2] د سړي معده د بدن حوض دي.[3] او د نس (خيټې) رګونه (چې د بدن د اعضاؤ سره وابسته دي) د معدې طرف ته (د اوبو څکونکي په شان راځي)[4] هر کله چې معده درسته وي.[5] نو دا رګونه د معدې نه د صحت بخش رطوباتو سره (د بدن د اعضاؤ طرف ته) ځي (چې په هغې سره بدن ته صحت او طاقت حاصليږي)[6] او هر کله چې معده خرابه شي.[7] نو دا رګونه د فاسدو رطوباتوسره (د اعضاؤ طرف ته ځي) چې په هغې سره بدن ته ناروغي او ضعف لاحق کيږي

حل اللغات: ① اَلْمِعْدَةُ: معده. ② حَوْضُ: تالاب، کنده. ③ اَلْعُرُوقُ: رګونه. ④ صَدَرَتِ: ځي روان شي (شروع کړي).

تسهیلات:

قوله: اَلْمِعْدَةُ حَوْضُ الْبَدَنِ

د معدې د حوض سره تشبیه: يعنی دانسان د بدن او دده د معدې په مينځ کښې چه کوم

() اخرجه البیهقی فی شعب الایمان رقم الحدیث ۵۷۹۶

نسبت اورشته اوتعلق دې هغه هم هغه نسبت دې کوم چه د اوبواو د حوض اود ونې او د فصل په مينځ کښې وی نوځنګه چه د اوبواوتالاب په غاړه ولاړه ونه د خپلو جرړو په ذريعه د اوبونه دخپلې بقادپاره حياتياتی رطوبات حاصلوی دغه شان انسانی بدن دمختلف رګونوپه ذريعه دخپلې معدې نه دصحت او طاقت رطوبات حاصلوی. نوکه په حوض کښې اوبه صفا اود صحت دپاره برابر وی بيا هغه د ونې د تازګئی سبب جوړيږی اوکه اوبه ترخې او دصحت دپاره مضروی نوهغه د ونې د اوچيدو او د تباهئی سبب جوړيږی. داخود دې حديث مفهوم اومطلب دې. وړاندې دنظام هضم متعلق څه ليکل غواړم دې دپاره چه پوره وضاحت اوشی

[۴۵۱۷]د لړم چيچلې علاج

۴۵۱۷-[۵۲]()[۱] وَعَنْ عَلِيٍّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲]«بَيْنَا رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ذَاتَ لَيْلَةٍ يُصَلِّي، فَوَضَعَ يَدَهُ عَلَى الْأَرْضِ، [۳]فَلَدَغَتْهُ عَقْرَبٌ، [۴]فَنَاوَلَهَا رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِنَعْلِهِ فَقَتَلَهَا. فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ: [۵]"لَعَنَ اللّٰهُ الْعَقْرَبَ، مَا تَدَعُ مُصَلِّيًا وَلَا غَيْرَهُ -[۶] [۶] أَوْنَبِيًّا وَغَيْرَهُ" -[۷]ثُمَّ دَعَا بِمِلْحٍ وَمَاءٍ، فَجَعَلَهُ فِي إِنَاءٍ، [۸]جَعَلَ يَصُبُّهُ عَلَى أُصْبُعِهِ حَيْثُ لَدَغَتْهُ [۹]وَيَمْسَحُهَا وَيُعَوِّذُهَا بِالْمُعَوِّذَتَيْنِ». رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ"

ترجمه: [۱] او حضرت علي ﷛ فرمايي [۲] چې يو ځل د شپې رسول الله ﷺ د مانځه کولو په وخت کې خپل لاس په زمکه ايښي وو، [۳] چې د لاس پرګوته لړم وچيچلو، [۴] حضور ﷺ د خپل پيزار (څپلی) په ذريعه هغه لړم مړ کړو، او کوم وخت چې د مانځه نه فارغه شو نو وي فرمايل [۵] په لړم دې د الله ﷻ لعنت وي، نه مونځ ګذار پريږدي نه غير مونځ ګذار، [۶] يا دا يې وفرمايل چې نه نبي پريږدي نه غير نبي، [۷] د دې نه پس حضور ﷺ مالګه او اوبه را وغوښتلې. دواړه يې په يو لوښي کې حل کړل، [۸] بيا حضور ﷺ هغه شې (چې په لوښي کې وو يعنی اوبه او مالګه) د ګوتې په هغه حصه اچول چيرته چې لړم چيچلې وو [۹] او ګوته به يې مږله. او قل أعوذ برب الفلق او قل أعوذ برب الناس يې ورباندې ويل، [دا دواړه روايتونه بيهقي ﷫ په شعب الايمان کې نقل کړي دي.]

حل اللغات: ① فَلَدَغَتْهُ: نو اونې چيچلو، ② عَقْرَبٌ: لړم، ③ فَنَاوَلَهَا: نو اونې وهله ④ بِنَعْلِهِ: په خپل پيزار سره.

تسهيلات:

قوله: مَا تَدَعُ مُصَلِّيًا وَلَا غَيْرَهُ:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: ① لړم اذيت او تکليف ورکولو نه نه منع کيږی

() اخرجه البيهقی فی شعب الايمان رقم الحديث ۲۵۷۵

په حالت د مونځ کښې که نبي وي او که ولي وي

③ دا لړم تک ورکول نه پریږدي که د مونځ په حالت کښې وي او که د مونځ نه غیر حالت کښې وي دا جمله د لعنت د مستحق کیدو علت دې ابن ماجه کښې یو روایت د حضرت عائشه رضي الله عنها په حوالې سره نقل دې "لعن الله العقرب ماتدع المصلی وغیر المصلی اقتلوها فی الحل والحرم" لړم باندې دې د الله تعالی لعنت وي چه دا مونځ کونکې او غیر مونځ کونکی بغیر د تک ورکولو نه نه پریږدی لهذا تاسو لړم لره په حل یا حرم کښې چرته هم اوګورئ نو قتل ئې کړئ

[٤٥٦٨] د نبی کریم ﷺ د ویښته مبارک برکت

٤٥٦٨ـ[٥٣] ()[١] وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَوْهَبٍ، قَالَ: [٢] أَرْسَلَنِي أَهْلِي إِلَى أُمِّ سَلَمَةَ بِقَدَحٍ مِنْ مَاءٍ، [٣] وَكَانَ إِذَا أَصَابَ الْإِنْسَانَ عَيْنٌ [٤] أَوْشَيْءٌ بَعَثَ إِلَيْهَا مِخْضَبَهُ [٥] فَأَخْرَجَتْ مِنْ شَعْرِ رَسُولِ اللّٰهِ ـ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ـ [٦] وَكَانَتْ تُمْسِكُهُ فِي جُلْجُلٍ مِنْ فِضَّةٍ، [٧] فَخَضْخَضَتْهُ لَهُ، فَشَرِبَ مِنْهُ، [٨] قَالَ: فَاطَّلَعْتُ فِي الْجُلْجُلِ [٩] فَرَأَيْتُ شَعَرَاتٍ حَمْرَاءَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] او حضرت عثمان ابن عبد الله ابن موهب وایي [٢] چې یوه ورځ زما کور والو زه د اوبو یوه پیاله راکولو سره أم المؤمنین بي بي ام سلمه رضي الله عنها ته ولیږلم، [٣] معمول دا وو چې کله به چاته بد نظر ولګیدو، [٤] یا به څه ناروغي وه، نو بي بي ام سلمه رضي الله عنها ته به یې یوه پیاله لیږله. [٥] ام سلمه رضي الله عنها به د حضور ﷺ ویښته مبارك راوخکلو [٦] چې د سپینو په یو لوښي کې به یې ایښی وو، [٧] او هغه ویښته مبارك به یې په اوبو کې اچولو سره حرکت ورکولو، او بیا په مریض به یې هغه اوبه څکلې [چې د هغې د برکته به ورته الله جل جلاله شفاء ورکوله] [٨] راوي وایي چې ما د سپینو زرو په هغه لوښي کې وکتل، [٩] نو ماته د حضور ﷺ څو سره ویښتان په نظر را غلل. (بخاري)

حل اللغات: ① مِخْضَبَ: د اوبو ټب، خانګ. ② جُلْجُلٍ: جرس، ټلئ (دلته ترې د ټلئ په شان ډبې مراد دي) ③ فَخَضْخَضَتْهُ: نو خوزولو به ئې.

تسهیلات:

قوله: وَكَانَ إِذَا أَصَابَ الْإِنْسَانَ عَيْنٌ أَوْشَيْءٌ بَعَثَ إِلَيْهَا مِخْضَبَهُ:

د نبي علیه السلام په ویښتانو شفا حاصلول: یعنی هغه وخت معمول دا وو چه څوك به بیمارشونو هغه به خپل لوښي ام سلمه رضي الله عنها کره لیږلو اوحضرت ام سلمه رضي الله عنها سره دَ رسول الله ﷺ ویښته مبارك دَچاندئی په یوه نلئی کښې پراته وو حضرت ام سلمه رضي الله عنها به دَهغه ویښتونه یو یا زیات ویښته راویستل دَ هغه کس دَ پیالئی په اوبوکښې به ئی خوزول دي

(١) اخرجه البخاری فی کتاب اللباس/باب ما یذکر فی الشیب(رقم-٥٨٩٦)

دپاره چه دَ ویښتو مبارکو برکت په اوبو کښې راشي هغه سړی به دَ خپلې پیالئی دغه مبارك اوبه اختسې اوتلو به اوپه خپل بیمارباندې به ئې دَ شفاء په غرض سره څکلې.

قوله: وَكَانَتْ تُمْسِكُهُ فِي جُلْجُلٍ مِنْ فِضَّةٍ:

د جلجل څخه مراد: یعنی دغه ویښته حضرت ام سلمه رضي الله عنها دَ چاندئی په یوډبی اونلکه کښې محفوظ ساتلې وو. جلجل سره دَدې چه جرس اوټلئی ته وائی لیکن دلته دَ ټلئی په شان ډبې مراد دې چه دَچاندئی نه جوړوو اودَدې مقصد دَپاره دَ چاندئی استعمال جائز وو لکه څنګه چه کعبې ته ریښم وراغوستلې شی اوسره زر پرې لګولې شی.

قوله: فَخَضْخَضَتْهُ:

په ضمیر کښې دوه احتمالات: ① ملاعلی قاری رحمه الله دلته دا ضمیر دَ جلجل طرف ته راجع کړې دې. هغه فرمائی "اي حركت الجلجل في الماء" ډبې به ئې په اوبوکښې کیخودلو سره خوزولو. شیخ عبدالحق رحمه الله په أشعة اللمعات کښې صراحت سره لیکلی دی چه حضرت ام سلمه رضي الله عنها به ویښته مبارك دَهغه سړی دَ اوبو په لوښی کښې اچولواو حرکت به ئې ورکولو دې دَپاره چه په هغې کښې برکت راشی.

② مضمضته په شان لفظاً اومعنیً دې. یعنی حضرت ام سلمه رضي الله عنها به دَ نبی کریم ویښته دَ هغه سړی دَ لوښی په اوبوکښې خوزولو دې دَپاره چه په اوبوکښې برکت راشی. دامطلب زیات واضح دې څکه چه دې نه مخکښې حدیث کښې تصریح موجود ده چه ام سلمه رضي الله عنها به ویښته راویستل چه دَ چاندئی په ډبی کښې ئې کیخودې وو.

[۲۵۳] د پوڅکی (خریړی) خواص

٣٥٥٩ -[٥٣] (¹) ⌈١⌉ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - ⌈٢⌉ «أَنَّ نَاسًا مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالُوا لِرَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ⌈٣⌉ الْكَمْأَةُ جُدَرِيُّ الْأَرْضِ؟ ⌈٤⌉ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْكَمْأَةُ مِنَ الْمَنِّ، ⌈٥⌉ وَمَاؤُهَا شِفَاءٌ لِلْعَيْنِ، ⌈٦⌉ وَالْعَجْوَةُ مِنَ الْجَنَّةِ، ⌈٧⌉ وَهِيَ شِفَاءٌ مِنَ السُّمِّ".

ترجمه: ⌈١⌉ او د حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دې ⌈٢⌉ چې د رسول الله ﷺ په صحابه و رضي الله عنهم کې څو حضراتو عرض وکړو چې یا رسول الله! ﷺ ⌈٣⌉ پوڅکی [خریړې] د زمکې چیچك دي؟ ⌈٤⌉ رسول الله ﷺ وفرمایل چې نه، بلکې پوڅکی [خریړې] د من د قسم نه دي، ⌈٥⌉ او د دې اوبه د سترګو د پاره شفاء ده ⌈٦⌉ او عجوه (چې د کجورو د ټولو نه نفیس او ښه قسم دي) د جنت خرما ده، ⌈٧⌉ او په دې کې د زهرو نه د شفاء خاصیت دي،

حل اللغات: ① الْكَمْأَةُ: پوڅکی، خریړې، کهنمبی، ② جُدَرِيُّ: دانې، پولې، ③ الْمَنّ: مرزان، ④ الْعَجْوَةُ: د مدینې اعلی ښه کجورې، ⑤ السُّمّ: زهر،

(¹) وابن ماجه في كتاب الطب/باب الكمأة والعجوة (رقم-٣٤٥٥) واحمد في المسند:٢/٥١١

۱ قَالَ أَبُوهُرَيْرَةَ: فَأَخَذْتُ ثَلَاثَةَ أَكْمُؤٍ أَوْ خَمْسًا أَوْ سَبْعًا ۲ فَعَصَرْتُهُنَّ، وَجَعَلْتُ مَاءَهُنَّ فِي قَارُورَةٍ، ۳ وَكَحَلْتُ بِهِ جَارِيَةً لِي عَمْشَاءَ، فَبَرَأَتْ». ۴ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ.

ترجمه: ۱ حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چه د حضور ﷺ دا ارشاد اوريدو سره مادري يا پنځه يا اووه پوڅکی (خريړي) واخستل، ۲ هغه مي نچوړ کړل (يعني ټکولو سره د هغه عرق مي وويستل) او د هغي د عرق نه مي يوه شيشه ډکه کړله، ۳ بيا ما هغه اوبه خپلي يوي وينځي (چي سترګي يي بريښيدلي يعنى شب کوري) په سترګو کي واچولي. نو هغه ښه شوه، ۴ دا روايت ترمذي رحمه الله نقل کړي دي او ويلي يي دي چي دا حديث حسن دي.

حل اللغات: ۹ فَعَصَرْتُهُنَّ: نو نچوړی مي کړل، ۵ قَارُورَةٍ: شيشه، ۸ عَمْشَاءَ: شب کوري. چه د شپي ني نظر نه لګی، يا سترګي ني بريښی.

تسهيلات:

نوټ: ددي حديث د مختلفو الفاظو وضاحت د حديث نمبر (۴۱۸۴) په تسهيل کښي تيرشوي دي

[۴۵۷۰] د شاتو خاصيت

۴۵۷۰-[۵۵] (¹) ۱ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲۲ «مَنْ لَعِقَ الْعَسَلَ ثَلَاثَ غَدَوَاتٍ فِي كُلِّ شَهْرٍ ۳ لَمْ يُصِبْهُ عَظِيمٌ مِنَ الْبَلَاءِ».

ترجمه: ۱ او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل ۲۲ کوم سړي چي په هره مياشت کي دري ورځي د سحر په وخت کي عسل (شات) څټي، ۳ نو هغه به په څه لوي مصيبت کي نه مبتلاء کيږي

حل اللغات: ۱ لَعِقَ: څټی، ۲ غَدَوَاتٍ: د غدوة جمع ده، سحر وخت.

تسهيلات:

قوله: مَنْ لَعِقَ الْعَسَلَ ثَلَاثَ غَدَوَاتٍ فِي كُلِّ شَهْرٍ لَمْ يُصِبْهُ عَظِيمٌ مِنَ الْبَلَاءِ

هره مياشت دري ورځي د شاتو استعمال: په حديث کښي دهري مياشت دري ورځي خودلي دی بيا که هغه هري دري ورځي وی ليکن دَ شروع مياشتي دري ورځي مقرر کړي شی نود نظم اوضبط په اعتبارسره به بهتروی البته په نهره څټلوته دَغدوات په لفظ سره اشاره کيدي شی لهذا په نهره باندي اوبوکښي ملاوول اوڅکل پکاردی يادي هسي اوڅټی مګر شرط دادي چه شات خالص وی دَ فارم نه وی نه دَچينونه جوړکړي شوی وی

د شاتو بعضي طبی فائدي:

۱ طبيبان ليکی چه په نهره باندي شات څکل يا څټل بلغم ختموی

¹) اخرجه ابن ماجه في السنن كتاب الطب/باب العسل (رقم-۳۴۵۰) والبيهقي في شعب الايمان رقم الحديث ۵۰۳۰

② معده صفا کوی
③ دمعدې لزوجت او فضلات لرې کوی
④ معده په اعتدال سره گرمه ساتی
⑤ د بدن غوټې کولاووی
⑥ د بدن استرخاء اوهرقسم بادونه ختموی
⑦ متیازې حیض او د ښځو پیښی جاری کوی
⑦ دمثانې اوگردو کانړی ماتوی
⑧ د بدن ردی مادې خارجوی [اشعة اللمعات:۳/۶۵۹]

[۴۵۷۱]دَشفاء دوه لوئی ذرائع

۴۵۷۱–[۵۶] (¹)[۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[۲]«عَلَيْكُمْ بِالشِّفَاءَيْنِ: [۳] الْعَسَلِ وَالْقُرْآنِ» ".[۴] رَوَاهُمَا ابْنُ مَاجَهْ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.[۵] وَقَالَ: وَالصَّحِيحُ أَنَّ الْأَخِيرَ مَوْقُوفٌ عَلَى ابْنِ مَسْعُوْدٍ.

ترجمه:[۱] او حضرت عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه وایي چی رسول الله ﷺ وفرمایل[۲] شفاء ورکونکي دوه څیزونه په خان لازم کړئ،[۳] یوخو عسل (شهد) دویم قرآن، دا دواړه روایتونه ابن ماجه رحمه الله او بیهقي رحمه الله په شعب الایمان کې نقل کړي دي،[۵] او بیهقي رحمه الله ویلي دي چه صحیح دا دي چې دویم حدیث یعنی علیکم بالشفائین مرفوع (د حضور ﷺ ارشاد) نه دي، بلکي په ابن مسعود رضی الله عنه موقوف دي، یعنی د هغه خپل قول دي.

تسهیلات:

قوله: عَلَيْكُمْ بِالشِّفَاءَيْنِ:

د قرآن نه په شاتو سره او قرآن سره دشفاء ثبوت: یعنی د ظاهری بیمارو نه ظاهری وباطنی شفاء یا دینی او دنیاوی بلاوگانو (مصائبو) نه شفاء شهد او قرآن دي
① د شهد متعلق ارشاد دې "فیه شفاء للناس"
② د قرآن کریم متعلق ارشاد دې "وشفاء لما فی الصدور"
نومطلب دا شوچه بیمارونه د شفاء دپاره شهد هم استعمالوی او قرآنی آیاتونوسره دم هم کوئ

[۴۵۷۲]بی ضرورته د ښکر لګولو نقصان

۴۵۷۲–[۵۷] (²)[۱] وَعَنْ أَبِي كَبْشَةَ الْأَنْمَارِيِّ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ -[۲] «أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - احْتَجَمَ عَلَى هَامَتِهِ مِنَ الشَّاةِ الْمَسْمُومَةِ.[۳] قَالَ مَعْمَرٌ: فَاحْتَجَمْتُ أَنَا مِنْ غَيْرِ سُمٍّ كَذٰلِكَ فِي يَافُوخِي،[۴] فَذَهَبَ

¹) اخرجه ابن ماجه فی السنن کتاب الطب/باب العسل (رقم-۳۴۵۲) والبیهقی فی شعب الایمان رقم الحدیث ۲۵۸۱
²) رواه رزین

حُسْنُ الْحِفْظِ عَنِّي، ۵ حَتَّى كُنْتُ أُلَقَّنُ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ فِي الصَّلَاةِ». رَوَاهُ رَزِيْنٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابو کبشه انماري رضي الله عنه وايي ۲ چې رسول الله ﷺ د هغه ناروغۍ په سبب چې د بزي (چیلۍ) زهرجنې غوښې خوړلو په وجه ورته لاحق شوي وه، ښکر ولګولو (وینه يې اوخکله) ۳ دحدیث راوي د معمر رحمه الله بیان دي چې ما د یو زهرجن شي د خوړلو نه بغیر دغه شان په سر ښکر ولګولو، ۴ نو زه د خپلي حافظي د خوبۍ نه محروم شوم. ۵ تر دي چې ماته به په مانځه کې د الحمد د زده کولو ضرورت پیښېدو (رزین)

حل اللغات : ① هَامَتِهِ : په کپرئ خپله کښې. ② الشَّاةِ : چیلۍ، بزه. ③ الْمَسْمُومَةِ: زهریله. زهر ګډشوی. ④ فَاحْتَجَمْتُ: نو ما حجامه اوکړه. ⑤ سُمٍّ: زهریله. تریخ. ⑥ يَافُوخِي: یافوخ تندی طرف ته تالو دپاسه د سر مینځنۍ حصې ته وائي. ⑦ حُسْنُ الْحِفْظِ : ښه بهترینې حافظه. ⑧ أُلَقَّنُ: تلقین به راته کولې شو.

تسهیلات:

قوله: فَاحْتَجَمْتُ أَنَا مِنْ غَيْرِ سُمٍّ كَذٰلِكَ فِي يَافُوخِي.

بلا ضرورته د ښکر لګولو ممانعت: یعنی دَ ضرورت څخه بغیر یاتجربې نه بغیر دَ سر په تالو باندې ښکر اولګولې شی نودې سره دَحافظې قوت ختمیږی. دې نه معلومه شوه چه دَ ضرورت څخه بغیر نه اپریشن کول پکاردی اونه وینه ویستل پکاردی. که ضرورت هم وی بیا هم دَتجربه کار په نګرانئی کښې کول پکاردی. وئیلی شی نیم حکیم خطره دَ ځان او نیم ملا خطره دَ ایمان.

[۴۵۷۳] د ښکر لګولو ورځې

۴۵۷۳-[۵۸] (¹) ۱ وَعَنْ نَافِعٍ، قَالَ: قَالَ ابْنُ عُمَرَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا: ۲ «يَا نَافِعُ! يَنْبُغُ بِي الدَّمُ، فَأْتِنِي بِحَجَّامٍ ۳ وَاجْعَلْهُ شَابًّا، وَلَا تَجْعَلْهُ شَيْخًا وَلَا صَبِيًّا. ۴ قَالَ: وَقَالَ ابْنُ عُمَرَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ۵ "الْحِجَامَةُ عَلَى الرِّيقِ أَمْثَلُ ۶ وَهِيَ تَزِيدُ فِي الْعَقْلِ، ۷ وَتَزِيدُ فِي الْحِفْظِ، ۸ وَتَزِيدُ الْحَافِظَ حِفْظًا، ۹ فَمَنْ كَانَ مُحْتَجِمًا فَيَوْمَ الْخَمِيسِ عَلَى اسْمِ اللّٰهِ تَعَالَى،

ترجمه: ۱ او حضرت نافع رحمه الله وايي چې یوه ورځ حضرت ابن عمر رضي الله عنه وفرمایل ۲ اي نافع! زما په بدن کې وینه جوش وهي. لږ ښکر لګوونکي (وینه کښونکي) راوله. ۳ لیکن ځلمي سړي راوله. بوډا یا کوشنی مه راوله ځکه چې طاقتور سړي به یې په ښه شان راکاږي ۴ نافع رحمه الله وايي چه د دې نه پس حضرت ابن عمر رضي الله عنه وفرمایل چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلي دي ۵ چې ښکر لګول (وینه اوخکل) په نهاره خیټه زیات ښه دي، ۶ په دې سره په عقل کې زیاتوب کیږي، ۷ د کوم سړي چې حافظه نه وي، د هغه حافظه تیزیږي، ۸ او د چا

¹) اخرجه ابن ماجه في السنن كتاب الطب/باب في أي الأيام يحتجم (رقم-۳۴۸۷)

حافظه چې تیزه وي، په هغې کې اضافه کیږي،۹ نو کوم سړي چې ښکر لګول (وینه اوخکل)غواړي،هغه دې د الله ﷻ نوم اخستوسره د زیارت (جمعرات) په ورځ وینه اوباسي،

حل اللغات: ① بَنَنَه: جوش وهی، ② شَابًّا: خلمې، خوان، ③ شَیْخًا: بوډا، ④ الرزق: په نهره، ⑤ أَمْثَلُ: ډیرښه دی، فائده مند دی، ⑥ يَوْمَ الْخَمِيس: د زیارت ورځ، پنجشنبه (جمعرات)،

> ۱ وَاجْتَنِبُوا الْحِجَامَةَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَيَوْمَ السَّبْتِ وَيَوْمَ الْأَحَدِ، ۲ فَاحْتَجِمُوا يَوْمَ الِاثْنَيْنِ وَيَوْمَ الثُّلَاثَاءِ، ۳ وَاجْتَنِبُوا الْحِجَامَةَ يَوْمَ الْأَرْبِعَاءِ، ۴ فَإِنَّهُ الْيَوْمُ الَّذِي أُصِيبَ بِهِ أَيُّوبُ فِي الْبَلَاءِ. ۵ وَمَا يَبْدُو جُذَامٌ وَلَا بَرَصٌ إِلَّا فِي يَوْمِ الْأَرْبِعَاءِ أَوْ لَيْلَةِ الْأَرْبِعَاءِ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ۱ او په جمعه، خالي او اتوار په ورځ د ښکر لګولو نه پرهیز کوئ.۲ بیا د سه شنبه او نهي په ورځ ښکر لګوئ،۳ او د چهار شنبې په ورځ د وینې اوخکلو نه پرهیز کوئ، ۴ ځکه چې د چهار شنبې ورځ هغه ورځ ده چې په هغې کې حضرت ایوب علیه السلام په بلا (ناروغی) کې مبتلا شوی وو،۵ او د جذام یا کوړ (برګي کیدو) ناروغي د چهار شنبې په ورځ یا د چهارشنبې په شپه ظاهریږي. (ابن ماجه)

حل اللغات: ⑦ يَوْمَ الْأَرْبِعَاءِ: د چارشنبې ورځ (بدھ) ⑧ الْبَلَاءِ: آزمائش، مرض. ⑨ يَبْدُو: ښکاره کیږي. ⑩ جُذَامٌ: یو مرض دې چه اندامونه ورسره رجیږي. ⑪ بَرَصٌ: برګي مرض

تسهیلات:

قوله: الثُّلَاثَاءِ

په حدیثونو کښې تعارض: په حدیث نمبر(۴۵۴۹) کښې ذکردی چه دنهې په ورځ ښکر مه لګوئ اودلته په حدیث کښې ددې ورځې اجازت هم دې داتضاد دې؟

دتعارض دوه جوابونه: ① فضیلت اواجازت دهغه نهې د ورځې باره کښې دې چه د هرې میاشتې په اولسم تاریخ باندې راشی د هرې نهې د ورځې فضیلت اواجازت نشته دې

② دحضرت کبشه کوم حدیث چه تیرشوې دې په هغې باندې کلام دې

[۴۵۶۳] د میاشتې په اوولسم تاریخ د ښکر لګولو فائده

> ۴۵۶۳ – [۵۹] (۱) ۱ وَعَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " ۲ «الْحِجَامَةُ يَوْمَ الثُّلَاثَاءِ لِسَبْعَ عَشْرَةَ مِنَ الشَّهْرِ دَوَاءٌ لِدَاءِ السَّنَةِ» ". ۳ رَوَاهُ حَرْبُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ الْكِرْمَانِيُّ صَاحِبُ أَحْمَدَ وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ بِذَاكَ، هَكَذَا فِي "الْمُنْتَقَى"

ترجمه: ۱ او حضرت معقل ابن یسار رضی الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل۲ د سې شنبې په ورځ په اوولسم تاریخ وینه اوخکل (ښکر لګول) د یوکال د ناروغیو علاج دي.۳ دا روایت حرب ابن اسماعیل کرماني رحمه الله نقل کړي دي چې د امام احمد بن حنبل رحمه الله

(۱) رواه رزین

مصاحب [ملگری] دي، او د روايت اسناد داسې (قوي) نه دي چې اعتماد وربانديې وشي. د ابن جارود رحمه الله په كتاب، منتقی كې هم داسې منقول دي.

۴۵۷۵- (۱) وَرَوَى رَزِينٌ نَحْوَهُ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ.

ترجمه: (۱) او دغه شان روايت رزين رحمه الله هم د ابوهريره رضی الله عنه نه نقل كړي دي.

تسهيلات: نوټ: دحديث شرح ددې څخه وړاندې د حديث نمبر (۴۵۷۳) په تسهيل كښې ذكر شوې دې

[۱] بَابُ الفَألِ وَالطِيَرَة

د فال او بدفالۍ بيان

خلاصة الباب:

فيه ستة عشر حديثاً مشتملة على أربعة مسائل:

① النهي عن الطيرة: ۱، ۲، ۷، ۸، ۹، ۱۱، ۱۳.

② الرخصة في الفال: ۱، ۷، ۱۲، ۱۳، ۱۶.

③ النهي عن اعتقاد تعدى المرض إلى الآخر: ۲، ۳، ۴، ۵، ۱۱.

④ استعمال الأسباب للتداوي: ۲، ۶، ۱۴، ۱۵.

د فال لغوي معنی: لفظ فال په همزې سره هم مستعمل دې او بغير د همزې نه هم كثير الاستعمال دې په نهايه كښې دی چه فال په خير او شر دواړو كښې مستعمل دې

د طيره لغوي معنی: طيرة په كسرې د طاء او په فتحې د ياء سره صرف په شر كښې مستعمل دې پس فال ته عام طور وئيلې شی نيك فال او بد فال وفي القاموس الفأل ضد الطيرة في غالب الاستعمال.

دفال او طيره په مينځ كښې فرق: ①د فال اكثر استعمال په خير كښې دې لكه چه يو مريض د صحت نه د نااميدئ په حالت كښې د چانه واورى ياسالم، يا واجد، نو د دې نه دې د صحت او نيك فال واخلى او طيره د اصل وضع په اعتبار سره په شر كښې مستعمل ده، فال مختص بالخير كيدو باوجود كله كله په شر كښې هم استعماليږی والطيرة لا يستعمل إلا في الشر.

② د نهايه نه فهميږی چه د اصل وضع په اعتبار سره فال د طيره نه اعم دې چه فال په خير او شر دواړو كښې مستعمل دې او طيره صرف په شر كښې او بعض وخت په استعمال كښې ترادف وی ③ د احاديثو نه فهميږی چه طيره د فال نه اعم ده (كما في ظاهر قوله عليه

(۱) رواه رزين

السلام لا طيرة وخيرها الفال ﴾د دې فال او طيرة په وزن باندې د دې دواړو د مصدرونو نه علاوه بل يو مصدر مستعمل نه دې نيك فال اختيارول محمود او سنت دې رسول الله ﷺ به د انسان يا د خائې د نوم نه نيك فال نيولو، او طيره يعني بدفالي اخستل منهى عنه او مذموم دي كما في حديث ابن عباس ﴿كان النبي ﷺ يتفاول ولا يتطير وكان يحب الاسم الحسن﴾ يعني ښه نوم به رسول الله ﷺ خوښولو او كه د چا نوم په بد وو نو هغه به ئې بدلولو او ښه نوم به ئې پرې كيخودلو دا هم يو قسم تفاول دې ځكه چه د ښه نوم نه د ښه كار د صدور اميد كولې شي دا خبره نه ده چه ښه نوم مؤثر بالذات وى

د تطيره وجه تسميه:د تطير وجه تسميه دا ده چه اهل عرب به د څه كار دپاره كه په سفر كښې د تلو اراده كوله نو مارغة به ئې شړلو سره والوزولو كه هغه به ښى طرف ته والوتلو نو هغه سفر به ئې مبارك ګڼړلو او نيك فال به ئې ترې اخستلو. او كه هغه به ګس طرف ته والوتلو نو سفر به ئې سپيرة ګڼړلو او سفر به ئې نه كولو.

دفال د غوره والى او تطير د مذموم والى وجه: فال د غوره كيدو او د تطير د مذموم كيدو نكته دا ده چه فال كوم چه د اكثر استعمال په اعتبار سره د نيكئ په اميدوارئ كښې استعماليږى د الله پاك د دربار نه په هر حال كښې د خير، فضل او د رحمت اميد ساتل غوره دې په دې وجه نيك فال هم غوره دې اګر چه كله خطاء شي او په غلطئ كښې پريوځي او طيره كوم چه د اصل وضع په اعتبار سره په شر كښې مستعمل دې هغه مذموم دې ځكه چه د الله پاك نه نااميده كيدل عقلا او شرعا مذموم دي

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۴۵۲۶]په شريعت كښې د بدفالى نفى

[۱]-۴۵۲۶ (۱) ① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: "② «لَا طِيَرَةَ، وَخَيْرُهَا الْفَأْلُ" ③ قَالُوا: وَمَا الْفَأْلُ؟ ④ قَالَ: (الْكَلِمَةُ الصَّالِحَةُ يَسْمَعُهَا أَحَدُكُمْ)». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چه ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل ② چه بدفالي بي حقيقته شي دي. د دې نه ښه خو فال دي. ③ صحابه ؤ رضي الله عنهم عرض وكړو يا رسول الله! ﷺ او فال څه شي دي؟ ④ حضور ﷺ وفرمايل هغه ښه كلمه چې په تاسو كښې يي يو كس د چا نه واوري او د هغې نه د خپل مراد توقع پيدا كړي. بخاري. مسلم.

حل اللغات: ① طِيَرَةَ: بد فالي. بدشكوني. ② الْفَأْلُ: چه دچانه څه ښه خبره واورى او دهغې نه ښه اميد اوتوقع پيدا شي

---

(۱) اخرجه البخاري في كتاب الطب/باب الطيرة (رقم-۵۷۵۴)ومسلم في صحيح رقم الحديث ۱۱۰/ ۲۲۲۳ واحمد في المسند: ۲۶۶/۲

تسهیلات:

قوله: لَا طِيَرَةَ:

دطیره د نفی مطلب: یعنی دَ بدشګونتی اوبدفالئی هیڅ حقیقت نشته دې. دَ نفع نقصان حقیقی مالك دَ الله تعالی ذات دې. دَ نقصان په لرې کولوکښې دَ بدفالئی هیڅ عمل دخل نشته دې. لهذا دَدې طرف ته نسبت کول اوداحقیقی ګنړل شرك دې. دَ بدفالئی دَ ذکر نه پس نبی کریم دَ نیك فال تعریف فرمائیلې دې او فرمائی "وخیرهاالفال" یعنی دَ دې بدشګونتی نه خو بهتر فال دې.

قوله: وَخَيْرُهَا الْفَالُ:

اشکال: نبی کریم دَ فال باره کښې اوفرمائیل چه دا دَ طیرة نه ډیر ښه دې. دې نه معلومیږی چه په طیره کښې هم څه نا څه ښه شته دې اوحال دادې چه په طیره کښې هیڅ ښه نشته دې؟

داشکال جواب: دلته دَ خیر لفظ دَ اسم تفضیل په معنی کښې نه دې استعمال شوې بلکه په خپله اصل فعلی معنی کښې استعمال شوې دې لکه "ألصيف أحرمن الشتاء" دلته په شتاء کښې دَ حرارت اوګرمائښ تصور نه دې چه دَ صیف حرارت دَدې نه زیات وی بلکه دومره خودل دی چه دَ ګرمئ موسم ګرم وی. دغه شان دَ "وهوأهون" صیغه دَ هین په معنی کښې ده

[۴۵۷۴] د مرض بل ته د لیږدو مسئله

۴۵۷۴ــ[۲] ()[۱] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«لَا عَدْوَى [۳] وَلَا طِيَرَةَ [۴] وَلَا هَامَةَ وَلَا صَفَرَ [۵] وَفِرَّ مِنَ الْمَجْذُومِ [۶] كَمَا تَفِرُّ مِنَ الْأَسَدِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره رضي الله عنه وايي چه رسول الله ﷺ اوفرمایل [۲] د ناروغي یو بل ته لګیدل، [۳] بدشګوني (بدفالي) [۴] هامه، او صفر [دا ټول څیزونه بې حقیقته دي]، [۵] البته تاسو د جذامي نه داسې تښتئ، [۶] لکه څرنګه چې د زمري نه تښتئ. (بخاري)

حل اللغات: ① عَدْوَى: یوه بیماری بل ته لګیدل. ② طِيَرَةَ: بدفالی، بد شګونی. ③ هَامَةَ: د سر کپری. (خو دلته ترې ګونګې مارغه نه بدفالی اخستل مراد دی). ④ صَفَرَ: د صفر میاشت سپیره ګنړل ⑤ فِرَّ: تختئ، تیښته کوئ. ⑥ الْمَجْذُومِ: چاته چه د جذام مرض لګیدلې وی، دا داسې مرض دې چه اندامونه ورسره رجیږی. ⑦ الْأَسَدِ: زمري.

تسهیلات:

قوله: لَا يُعْدِي شَيْءٌ شَيْئًا:

---

(۱) اخرجه البخاری فی کتاب الطب/باب الجذام (رقم-۵۷۰۷) واحمد فی المسند:۲/۴۴۳

دعدم عدوی مفهوم:دا دَ اعدی نه ماخوذ دې دَ کوم معنی چه دَ چامرض وغیره بل ته لګیدل هم دَ دې نه عدوی اسم دې یعنی مرض فی نفسه دَ بل طرف ته متعدی نه وی لکه څنګه چه دَ جاهلیت دَ خلقو ګمان وو هم الله تعالی ئې بیمار جوړوی او بیماری ختموی

د طبیبانوپه نیزاووه قسمه امراض متعدی ګیدل:دَعامو طبیبانو خیال دې چه اوه قسم داسې بیمارئی دی چه دَ یونه بل ته لګی اوهغه دادی:

① ننکې ② جذام ③ دانې پولنی ④ خارښ ⑤ رمد یعنی دَ سترګو خوګیدل ⑥ دَ خلې ګنده بوئی ⑦ وبائی مرضونه.

دَ طبیبانو خبره اودَهغوی تجربات په خپل ځائی لیکن دَ احادیث مقدسه او دَ شریعت تعلیم دادې چه دَ یونه وتل او بل ته دَ بیمارئی لګیدو عقیده لرل اوداګنړل چه صرف هم دَدې بیمار دَ وجې نه ماته دا بیماری لګیدلې ده. وهم پرستی ده

قوله: وَلَاطِيَرَةَ:دَدې تشریح دې نه مخکښې حدیث نمبر(۴۵۷۶) په تسهیل کښې شوې ده.

قوله: وَلَاهَـامَةَ-

د هامه په مفهوم کښې مختلف اقوال:دَ عربی لغت په اعتبارسره هامه دَ سر کهوپړئی ته وائی لیکن دلته دَدې لفظ مختلف مفهومونه بیان کړې شوی دی

①دَ هامه نه مراد ګونګې دې. دَعربو عقیده وه چه کله یوسړې څوك قتل کړی نودَمقتول دَ کهوپړئی اوسر نه دَ ګونګی په شان یوه مرغئی راپیداکیږی دا ګونګې چغې وهی چه په ما باندې اوبه اوڅکئی یعنی انتقام واخلئ ترکومې چه دَ مقتول وارثانو قصاص اوبدله نه وی اخستې دا مرغئی فریاد کوی دَ جاهلیت عربو شاعرانو داعقیده په خپلو شعرونوکښې ښه رابنکاره کړې ده

② دَهامه او بوم او بومه نه هم دغه متعارف ګونګې مراد دې دَ ګونګی متعلق دَ عربو خیال وو چه دا چرته هم راشی اودَ چا په کور مکان وغیره باندې کینی نوهغه ځائی وران اوتباه بربادیږی لکه چه دَ ګونګی مقام ویران وجاړ مقام دې

دَعربونه علاوه دَعجم بعضو وهم پرستو جاهلوخلقو هم دَ ګونګی متعلق هم دغه خیال لرلې دې شریعت دغه اوهام مسترد کړی دی

③ دَ هامه نه مراد هغه مرغئی ده چه دَمړی دَ کهوپړئی نه پیداکیږی د جاهلیت په زمانه کښې دَ عربو داعقیده وه چه سړې مړکیږی نودَهغه دَ کهوپړئی نه یوه مرغئی پیداکیږی هغه دَمړی کورته راځی کوم چه دَ دغه کور دَ پاره دَ سپیره توب علامت وی. اسلام دا عقیده رد کړه چه داسې قصه صحیح نه ده داخو وهم دې

قوله: وَلَاصَفَرَ:

د صفر په مفهوم کښې درې اقوال: ① محمد بن راشد وئیلی دی چه دَ صفر نه دَ محرم نه پس میاشت مراد ده کومه چه دَ جاهلیت خلقو دَ بلاګانو او مصیبتونو دَ نازلیدلو میاشت ګنړلو سره سپیره ګرله. اولکه چه زمونږ په دې زمانه کښې هم دَ صفر میاشت دَ واده ښادئی دَ پاره سپیره ګنړی. نبی کریم ﷺ ولاصفر فرمائیلوسره دا عقیده باطل اوګرځوله

② اهل عربو به وهم کولو چه دَ سړی په خیټه کښې یو مار دې کوم چه دَ اولګې په وخت کښې چیچل کوی په کوم سره چه سړی ته تکلیف رسی. نووی رحمه الله فرمائیلی په ګمان دَ عربو صفر په خیټه کښې دننه یو قسم چینجې دې کوم چه دَ اولګې وخت کښې چیچل کوی اوکله دَ انسان په بدن کښې درد پیدا کولو سره هلاک کوی هم

③ دَ ولاصفر نه نسئ رد کول مراد دی یعنی محرم روستو کولو سره دَ صفر میاشت محرم ګرځولو سره میاشت دَ حرام کښې شمیرل. کما فی تفسیر قوله تعالی انما النسئ زیادة فی الکفر. دَ جاهلیت دا ټولې عقیدې باطل کولو سره اوفرمائیل ولاصفر.

قوله: وَفِرَّ مِنَ الْمَجْذُومِ:

دجذام پیژندګلو: جذام یوه خطرناکه بیماری ده په کوم سره چه اندامونه غیرمتوزان او سره پرې کیږی

دجذامی څخه د پرهیزنه کولوروایت: ① عَنْ جَابِرٍ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُ-«أَنَّ رَسُولَ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-أَخَذَ بِيَدِ مَجْذُومٍ فَوَضَعَهَا مَعَهُ فِي الْقَصْعَةِ، وَقَالَ: "كُلْ ثِقَةً بِاللهِ، وَتَوَكُّلًا عَلَيْهِ"». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

یعنی نبی کریم دَ جذام والا سړې دَ لاس نه اونیولو اوځان سره ئې دَ خوراك دَپاره کینولو اوونې فرمائیل په الله تعالی باندې یقین لره او توکل باندې خوراك کوه.

دجذامی څخه د ځان ساتلوروایات: ① وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الشَّرِيدِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: «كَانَ فِي وَفْدِ ثَقِيفٍ رَجُلٌ مَجْذُومٌ، فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّا قَدْ بَايَعْنَاكَ فَارْجِعْ"». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

یعنی یوخل دَجذام والا سړی دَ نبی کریم نه دَ بیعت اخستلو اراده اوکړه نبی کریم پیغام وراولیږلوچه واپس لاړشه مونږ بیعت اوکړو

② دغه شان په زیر بحث حدیث کښې دی چه دَ جذام والاسړی نه داسې تختئی لکه څنګه چه تاسو ازمرې خطرناك ګنړنی او ترینه تختئی.

په روایاتوکښې تعارض: دَزیربحث حدیث په دواړو جملوکښې هم تعارض دې خکه چه په یوکښې دی "لاعدوی" یعنی بیماری یونه بل ته نه اوړی او هم په دې کښې دی چه دَ جذام سړی نه تختئی نودَدې تعارضاتو څه جواب دې؟

د تعارض څلور جوابونه: ① دَ جذام والانه دَ تختیدو حکم دَظاهری اسبابو په بنیاد باندې

دي دَحقیقت په اعتبارسره نه دي. دَدې تفصیل دادې چه دَ جذام والا سړی په دې بیمارئی کښې یوبوئې وی په عام اختلاط سره هغه بوئی په بل باندې اثرکوی اوبل ته بیماری لګی. دااثر صرف دَ ظاهری اسبابو دَحده پورې وی په حقیقت کښې بیماری دَ الله تعالی په حکم سره راځی. نودَ مجذوم سره دَ عدم اختلاط حکم صرف دَ حفظان صحت دَ اصولو لاندې دې. دَ عدوی او اوریدو راوړیدو دَ اصول لاندې نه دې.
④دَ جذامی سړی متعلق کوم احادیث او احترازات او اجتناب دې هغه "سداً للذرائع" دی مطلب دادې چه په حقیقت کښې بیماری هم الله تعالی راولی لیکن دَخلقو وهم او وسوسه وی اوشك ئی وی چه کیدې شی دا بیماری دَ دغه بیمار سره دَ یوځائی کیدو اولګیدو دَ وجې نه راغلی وی. دغه شان به دَ خلقو عقیدې خرابې شی. نوخلق په دې غلطئی کښې دَ پریوتلونه دَ بچ کولودَ پاره اوفرمائیلې شو ګنی اصل حکم هم هغه دې چه بیماری دَ الله تعالی په حکم سره راځی اودَ یونه بل لګیدو هیڅ حیثیت اوځه حقیقت نشته دې. داخودَ "لاعدوی" سره تعارض دفع شو.
③"لاعدوی" دَعام حکم نه صرف دَ جذام بیماری مستثنی ګرځولې شوې ده چه په دې کښې تجاوز دې باقی کښې نشته دې.
④ باقی نبی کریم ته چونکه کامل یقین وو او په الله تعالی باندې ئی مکمل باور وو اودَ حقیقی علت صحیح معرفت ورته وو په دې وجه ئی دَ جذام والا سړې خان سره کینولو اوخوراك ئی پرې اوخوړلو او نور خلق ئی اوویرول.
د کرونا وائرس کال :په کال ۲۰۱۹ کښې د چین په یوښار کوهان کښې د کرونا وائرس په نوم باندې یوه وبا خوره شوه. دا یوه متعدی بیماری وه چې د یوځخه به بل ته لګیدله هغوی هلته خلق په کورنوکښې محصور کړل اواحتیاطی تدابیر ئې اوکړو نو په دې بیماری، باندې ئې د زرګونو خلقو د هلاکت څخه روسته څخه حده پورې قابو راوستل خو په ۲۰۲۰ کښې نوره دنیاّ کښې هم دا وبا خوره شوه او ټوله دنیاّ ئې اوجړقوله. په لکونو خلق ددې وبا په بیماری، بیماران شول او په لکونوخلق هلاک شو دا وفا د دووه سونو څخه زیاتو ملکونو کښې خوره شوه او د لاک ډاؤن په نوم باندې ددې وبا څخه متاثره هر ملک خپلو عوامو ته په کورنو کښې د اوسیدو تاکید اوکړو. حکومتی او غیرحکومتی ټولې ادارې بندې کړې شوې امتحانات ملتوی کړې شو.د کال ۲۰۲۰ په ۲۱ مارچ په پاکستان کښې د وفاق المدارس د طرفه په ټول ملک کښې امتحان شروع کیدونکې وو هغه هم ملتوی کړې شو.په دیارلسم مارچ ټولې تعلیمی ادارې بندې کړې شوې او دوه درې ورځې پس وریسې مکمل لاک ډاون یعنی ،،ټول کاروبارونه بند،، کړې شول.صرف د خوراکی موادو دوکانونو ته محدود اجازت وو او د ټولو څخه د خفګان خبره دا ده چې حرمین شریفین د

رمضان ښخه وړاندې هم بند کړې شو او اوس رمضان المبارک کښې هم لږ غونډې خلق په حرمينو کښې مونځونه کوی هغه حرمين چې په رمضان کښې به په کښې د خپې کيخودو ځائې نه وو اوس خالی پراته دی. په عمرو باندې پابندی ده او د سعودی د مذهبی امورو وزيرد ټولې دنيا اسلامی ملکونوته خطونه اوليږل چې تاسو د ۲۰۲۰ د حج تيآريانې فی الحال موقوف کړی په پنځلسم رمضان به تاسو ته نوې خبرې درکولې شی خوهغه پنځلسم رمضان هم تيرشو دويم تاريخ ئې د رمضان آخری ورځې ورکړی دی چې د رمضان په آخرکښې به تاسو ته خبردرکولې شی چې د حج دپاره تيآرې شروع کړئ که نه ؟ او د ورځی اخترښخه روسته ئې اعلان اوکړو چې په دې کال ۲۰۲۰ کښې به صرف د سعودی خلق حج کوی او هغه هم صرف لس ذره کسانو ته اجازت دې د سعودی ښخه ما سوا د نورې دنيا حاجيان دا ځل حج ته نشی راتلې د سعودی عرب او مصر وغيره ملکونوکښې جماتونو کښې په مونځونو پابندی ده په پاکستان کښې هم د احتياطی تدبيرونو خپلولو په شرط د ډير سوچ اوفکرښخه روسته اجازت ورکړې شو. غرض دا چې دا وبا داسې ده چې ټوله دنيآ ترې متاثره ده. اوس په رمضان کښې د پاکستانی خلقو د غريبئ او لاچارئ د وجې د کاروبارونو شروع کولو مشروط اجازت ورکړې شو او د ۳۱ مئ پورې د سرکاری دفترونود چټئ اعلان شوې دې. د امتحانانو نه منعقد کيدو په وجه حکومت پاکستان په اوله مرحله د اتمه صنف پورې ټول طالبان بغيرد امتحان ورکولو ښخه پاس کړل او اوس څو ورځې وړاندې ئې دا اعلان هم اوکړو چې د نهم لسم او يولسم اودولسم طالبان هم د امتحان ښخه بغير پاس دی معلومه نه ده چې مخکې به څه کيږی الله تعالی دې دا وبا د پاکستان اوټولو اسلامی ملکونوښخه بالخصوص او د ټولې دنيآ ښخه بالعموم پورته کړی او مونږ ته دې حفاظت نصيب کړی دنن ورځې آج آخبار د خبر مطابق په ټوله دنيا کښې د کرونا وائرس ښخه د متاثره کسانو شمير(۵۱۲۷۴۳۱) دې په دې کښې (۳۳۰۹۴۶) کسان مړشوی دی او (۲۰۴۴۱۵۳) کسانو ته شفا ملاؤ شوې ده اوپه پاکستان کښې د کرونا متاثرينو شمار(۴۸۰۹۱) دې په دې کښې (۱۰۱۷) کسان مړشوی دی او(۱۴۱۵۵) کسانو ته شفاء ملاؤ شوې ده

[۴۵۷۸] د متعدی بيمارې نفی

۴۵۷۸—[۳] (۱) وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«لَا عَدْوَى وَلَا هَامَةَ وَلَا صَفَرَ" [۳] فَقَالَ أَعرابيٌّ: يَا رَسُولَ اللهِ! [۴] فَمَا بَالُ الإِبِلِ تَكُونُ فِي الرَّمْلِ لَكَأَنَّهَا الظِّبَاءُ [۵] فَيُخَالِطُهَا الْبَعِيرُ الْأَجْرَبُ فَيُجْرِبُهَا؟ [۶] فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "فَمَنْ أَعْدَى الْأَوَّلَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب الطب /باب لا هامة (رقم-۵۷۷۰) ومسلم فی ۱۰۱ - (۲۲۲۰) واحمد فی المسند: ۲/۲۶۷

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] د یوي ناروغۍ د یو نه بل ته [الوتلو سره] لګیدل، هامه او صفر [د دې ټولو څه حقیقت نشته]، [۳] یو اعرابي [باندېچي (کلیوال)] چې د خپلي ناقصي مشاهدي او تجربي په بناء خارښ (کاه) یي متعدي ناروغي ګڼله، د حضور ﷺ دا ارشاد ګرامي اوریدو سره هغه] عرض وکړو چې یا رسول الله ﷺ [۴] نو بیا د هغه اوښانو باره کې به څه وئیل کیږي، چې (د خپلي تندرستۍ او د چمړې د صفایي او پاکي په اعتبار سره) د هوسۍ په شان په ریګستان (صفا ماحول) کې زغلي ګرځي، [۵] لیکن کله چې یو خارښي اوښ د هغې سره یو ځای شي، نو هغه نور اوښان هم خارښي کړي؟ [۶] حضور ﷺ ورته وفرمایل (ښه دا راته اووایه) چې هغه مخکني اوښ چا خارښي جوړ کړو؟ [یعنی د خارښ د پیدا کیدو د پاره دا ضروري نه ده، چې هغه د چا نه الوتو سره ولګي، بلکه څرنګه چې د هغه تندرست اوښانو سره یو ځای کیدونکي د خارښ والا په اوښ کې د خارښ پیدا کیدل په تقدیر الهي سره وي، دغه شان نور اوښان هم خارښي کیدل، د حکم الهي لاندي او د نظام قدرت مطابق وي] (بخاري)

حل اللغات: ① الرَّمْلِ: شړه، ریګستان، ② الظِّبَاءُ: دَ ظبی جمع ده هوسۍ ته وائی. ③ الْأَجْرَبُ: خارښی اوښ، ④ فَيُجْرِبُهَا: نوهغه هم خارښ والاجوړ کړی، ⑤ أَعْدَى: دخارښ بیماری پرې راوستې ده.

تسهیلات:

قوله: فَيُجْرِبُهَا:

خارښ د یوځنه بل ته منتقل کیدل: یعنی دغه ټولو صحت مندو اوښانو لره یوخارښ والا اوښ خارښ والاجوړوی نودا دَ یونه بل ته دَ لګیدو اثر دې اودَ یودَ بیمارئی بل ته تجاوز اومتعدی کیدو دلیل دې.

قوله: فَمَنْ أَعْدَى الْأَوَّلَ:

دبیمارۍ متعدی کیدو نفی: یعنی دَ ټولو نه مخکښې چه په کوم یواوښ باندې دَ خارښ بیماری راغلې ده هغه چا راوستې ده؟ ښکاره خبره ده چه هغه دَ الله تعالی په حکم اودَ هغه په قدرت سره راغلې ده په دې وجه دَ اوریدو راوریدو اودَبیمارئی تجاوز اومتعدی کیدو عقیده غلطه ده دابې حقیقت او بې اصل خبره ده.

د بحث خلاصه: ددَې قسم احادیثو خلاصه داده چه دَ شارع ﷺ نظریه حقیقی علت او حقیقی سبب باندې وی. انبیاء کرام دَ ظاهری اسبابو په ځائی دَاصل حقیقت خبره دَ تعلیم په توګه پیش کوی اوعامو خلقو او طبیبانو اوتجربه کارو خلقو نظر په ظاهری اسبابو باندې وی. په دې وجه هغوی دَ ظاهری سبب طرف ته نسبت کوی لکه چه په شروع کښې لیکلې شوی دی.

[۳۵۷۹] دغلورو څيزونو نفي

۳۵۷۹—[۴] (۱) [۱] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " [۲] «لَا عَدْوَى وَلَا هَامَةَ وَلَا نَوْءَ وَلَا صَفَرَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره ﷛ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د يو نه بل ته ناروغي لګيدل، هامه، نوء، او د صفر هيڅ حقيقت نشته. (مسلم)

حل اللغات: ① نَوْءَ: دَ نوء جمع أنواء ده يو ستوري يا برج مراد دي. ② صَفَرَ: د صفر مياشت.

تسهيلات

قوله: وَلَا نَوْءَ

د نوء په مفهوم کښې دوه اقوال: ① په نهايه کښې ليکلى دى چه دَنوء جمع انواء ده دَ کوم معنى چه دَقمر اوسپوږمئى دَهغه منازلو ده کوم ته چه نچهتر وائى. دَ قمر او سپوږمۍ اته ويش منازل دى دکوم طرف ته چه په قرآن عظيم الشان کښې اشاره ده ﴿ وَالْقَمَرَ قَدَّرْنٰهُ مَنَازِلَ ﴾ [سورة يس:۳۹]

اهل جاهليت به بارانونه هم دې منازل او نچهترونوطرف ته منسوب کول اودامنازل اونچهترونه به ئې دَ باران دَپاره مؤثرحقيقي ګڼړل. چنانچه په جاهليت کښې دَعربوخيال وو چه سپوږمئى يا يوستورې ترکومې په دغه منازلو کښې دې فلانکى منزل ته راکوزيږى نوباران کيږى. داعقيده شريعت شرك اوګرځوله.

دَعجم خلق هم بعضې بارانونه هم دې قسم ستورو طرف ته منسوب کوى مثلاً کله چه سهيل ستورې راخيژى نووائى چه داد سهيل باران دې يادادَ سهيلئى باران دې داد ګپ باران دې دا دَ ګپ رئين باران دې. داټول شرکيه عقائد دى.

② دادَ يوستورى راښتل دى اودَبل ډوبيدل دى. اوپه موسم ربيع کښې دا بدلون راځى دَعربو عقيده وه چه ددې ستورو په راښتلو او ډوبيدلو سره بارانونه کيږى. شريعت دا مسترد کړل اوونى خودل چه باران دَالله تعالى په حکم باندې کيږى په ستورو سره نه کيږى.

[۳۵۸۰] د غول نفي

۳۵۸۰—[۵] (۲) [۱] وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [۲] " «لَا عَدْوَى وَلَا صَفَرَ وَلَا غُولَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

[۱] اخرجه مسلم في كتاب السلام/باب لا عدوى، ولا طيرة، ولا هامة، ولا صفر، ولا نوء، ولا غول، ولا يورد ممرض على مصح (رقم-۱۰۶ - (۲۲۲۰)

[۲] اخرجه مسلم في كتاب السلام/باب لا عدوى، ولا طيرة، ولا هامة، ولا صفر، ولا نوء، ولا غول، ولا يورد ممرض على مصح (رقم-۱۰۷ - (۲۲۲۲) وابوداود في السنن رقم الحديث ۳۹۱۳ واحمد في المسند: ۳/۳۱۲

ترجمه: [۱] او حضرت جابر ﷺ وايي چي ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل [۲] چه د يو نه بل ته ناروغي لګيدل، صفر او د غول هيڅ حقيقت نشته «مسلم»

حل اللغات: ① غُولَ: دَ غول جمع اغوال اوغيلان دي، دا دَ جناتو اوشياطينو يوجنس اوقسم دي كوم ته چه بلا واني

تسهيلات:

نوټ: د عدوى اوصفر د نفي وضاحت وړاندې تيرشوي دي هغې ته رجوع اوكړئ

قوله: وَلَا غُولَ

دغول تعارف: دَغول اصل حقيقت چړيل دي كوم ته چه پښتو كښې ږج يعنى شيشكه واني. دادَ جناتو يوقسم دي چه شكل او صورت بدلوى او خلق ويروى دي نه چه څوك اوويريدلو هغه مړكيږي

د غول مختلف شكلونه بدلول:

① دا چړيل كله دَاس په شكل راشي نوڅه ساعت پس دَ سپي په شكل كښي راښكاره شى
② څه وخت پس دَ ويرونكي چړيل په شان دَ ښځې په شكل كښي راځى
③ څه وخت پس دَ يولوئى ديو په شكل كښي راشي.
④ كله دَچرګې اوبچو په شكل كښې كړك كړك كونكې راځى

كتونكې ويريږى خوچه څوك اوويريدلو هغه مړشو اوكه څوك اونه ويريږى نو دا هيڅ هم نه شى كولې

دغول باره كښې غلطه عقيده: دَعربوخيال وو چه په ځنګلاتوكښې داقسم جنات اوشيطانان دى چه خپل رنګ روغن اوشكل اوصورت بدلوى اوخلق هلاك كوى اودَ لارونه ئى اړوى نبى كريم دَهغوى دا عقيده ردكړه چه دَالله تعالى دَ حكم نه بغيرغول اوشياطين هيڅ نه شى كولي تاسو دَدې بې حقيقت خطرې نه خطره مه محسوسوئى اودَدوى دَ مشرانونه پناه مه غواړئى

دغول د ضرر نفى: نبى كريم هم دې حقيقت طرف ته اشاره اوكړه چه دَهلاك كولوطاقت دَدې په لاس كښې نشته دې غول اوچړيل صرف ويرول كوى نونبى كريم دَ لاغول فرمائيلو سره دَغول دَ وجودنفى نه ده كړې بلكه دَغول دَدغه كرتبونو او ضررونواونقصاناتونفى ئى كړې ده چه ويريږئى مه دې سره هيڅ نقصان نه كيږى اونه په دې كښې داسې څه طاقت شته چه څوك دَلارې نه واړوى. كوم خلق چه صحرائى اوقبائلى نظام باندې نه پوهيږى هغه دَدې حديث په مفهوم باندې په آسانئى سره نه شى پوهيدلې.

[۴۵۸۸] د جذامي سره بيعت نه كول

۴۵۸۸—[۶] (¹) [۱] وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الشَّرِيدِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: [۲] «كَانَ فِي وَفْدِ ثَقِيفٍ رَجُلٌ مَجْذُومٌ، [۳] فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۴] "إِنَّا قَدْ بَايَعْنَاكَ فَارْجِعْ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت عمرو بن شريد د خپل پلار نه نقل كوي چې هغه بيان وكړو [۲] چه د بني ثقيف د خلقو كوم وفد چې د رسالت دربار ته راغلي وو، په هغې كې يو جذامي هم وو [هر كله چې هغه جذامي د بيعت د پاره د حضور ﷺ په خدمت كې د حاضريدو اراده وكړه] [۳] نو نبي كريم ﷺ هغه ته يو سړي اوليږلو او ورته يې اوويل [۴] چې مونږ (ستا لاس په خپل لاس كې د اخستو نه بغير) ستا نه زباني بيعت اخستې دې، نو ته لاړ شه [گويا حضور ﷺ هغه مخې ته راونه غوښتو چې د مجلس حاضرينو ته كراهت محسوس نشي] مسلم.

حل اللغات: ① ثَقِيف: بنو ثقيف يوه قبيله ده، ② مَجْذُومٌ: چاته چه د جذام مرض وي.

تسهيلات:

نوټ: په حديث الباب كښې د جذامي سره د بيعت نه كولو ذكر دې دې ښخه معلوميږي چې جذام د يو ښخه بل ته متعدى كيږي. اود بعضې احاديثو ښخه د متعدى كيدو نفى راغلي ده ددې تفصيل وړاندې د حديث نمبر (۴۵۷۷) په شرح كښې تيره شوې ده هغې ته رجوع اوكړئ.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۴۵۸۹] د نيك فال نيولو ثبوت

۴۵۸۹—[۷] (²) [۱] عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا- قَالَ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَتَفَاءَلُ [۳] وَلَا يَتَطَيَّرُ، [۴] وَكَانَ يُحِبُّ الِاسْمَ الْحَسَنَ». رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ".

ترجمه: [۱] حضرت ابن عباس ﷠ فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ به ښه فال اخستو، [۳] او بدفال به يې نه اخستو، [۴] او حضور ﷺ به د ښو نومونو په ذريعه فال اخستل خوښول (شرح السنه)

حل اللغات: ① يَتَفَاءَلُ: ښه فال به ئې اخستلو، ② لَا يَتَطَيَّرُ: بدفال به ئې نه اخستلو.

تسهيلات:

قوله: وَكَانَ يُحِبُّ الِاسْمَ الْحَسَنَ:

د حديث مفهوم: ددې مفهوم مخالف دا دې چه نبى كريم ﷺ به بد نوم نه خوښولو او ددې

¹) اخرجه مسلم فى صحيح ۱۲۶/ ۲۲۳۱ والنسائى فى كتاب البيعة/باب بيعة من به عاهة (رقم-۴۱۸۲) وابن ماجه فى كتاب الطب/باب الجذام (رقم-۳۵۴۴) واحمد فى المسند: ۳۸۹/۴

²) اخرجه احمد فى المسند: ۲۵۷/۱

نه به ئې بد فالي نيولي حالانکه داسې نه ده او په "ولايتطير" کښې عموم دې او نبی کریم ﷺ به بد نوم په خه نوم سره بدلولو، ددې نه د امام طيبی رحمه الله دهغه قول ضعف هم معلوميږي، چه دا د نبی کریم ﷺ د تفاول بیان دې، چونکه نبی کریم ﷺ به ددې نه تجاوز نه کولو او په دې باندې د حضرت انس ﷺ او د حضرت بریره ﷺ حدیث دلالت کوی لکه کوم چه مخکښې راغې

[۴۵۸۳] شیطانی اعمال

۴۵۸۳-[۸] ()[۱] وَعَنْ قَطَنِ بْنِ قَبِيصَةَ عَنْ أَبِيهِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲]«الْعِيَافَةُ وَالطَّرْقُ وَالطِّيَرَةُ مِنَ الْجِبْتِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت قطن ابن قبیصه د خپل پلار نه نقل کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د عيافه، طرق او شګون بد (بدفال اخستل) دا ټول څيزونه د جبت نه دي (ابوداؤد)

حل اللغات: ① الْعِيَافَةُ: د مرغئ د الوتلو د سمت او آواز وغیره نه ښه او بدفال اخستلو فن ته عيافه وائی. ② الطَّرْقُ: ښاورې ويشتلو سره ښه او بدفال اخستلو ته وائی. ③ الطِّيَرَةُ: بدفالی. ④ الْجِبْتِ: جادو او کهانت، یا دا چه شیطانی کارونه دی.

تسهيلات:

قوله: الْعِيَافَةُ.

دعيافت صورت: عيافه په عربوکښې يوفن ګڼړلې شو اوپه دې سره دفال ویستلو یوعام رواج وو. ددې به دا صورت وو چه يوسړی به یوه مرغئی شړله او الوزوله به ئې یابه هغه پخپله والوتله نودې سړی به کتل چه دغه مرغئی نوم څه دې ددې آواز څنګه دې او کوم طرف ته په کوم انداز سره الوزی ددې ټولو څيزونو نه به عربو فال ویستلو زیات به ئې دمرغئی په نوم او دهغې په آوازسره فال ویستلو

دعيافت مثالونه:

① د الوتونکې مرغئی نوم که چرې عقاب وو نودهغې نه به ئې دعقوبت بدفالی اخستله
② که چرې غراب يعنی کارغه به وونودې نه به ئې دغريب الوطن اود سفربدفالی ويستله.
③ که چرې نوم به ئې ملاچرګك وو نوددې نه به ئې هدايت او لارخودنه مراد اخستله.

په عيافة اوطيره کښې فرق: په عيافه اوطيره کښې دومره فرق دې چه طيره عام ده که هغه مرغئی وه که څناور یا انسان وی ددې نه بدفالی اخستلوته طيره وائی. ليکن عيافه دمرغو نومونو او آوازونوسره خاص ده. نن صباهم دغه شان وهمی خلق موجود دی چه په دې مرض کښې اخته دی.

---

[۱]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الطب/باب فی الخط وزجر الطير (رقم-۳۹۰۷) واحمد فی المسند: ۴۷۷/۳

قوله: الطَّرْقُ

د طرق په مفهوم کښې دوه اقوال: ① دعربوخلقو به په شګه وغيره باندې مختلف هندسي ليکلې دغه شان به ئې کرښې راښکلې او زائچې به ئې جوړولې اودې نه به ئې خپل مطلب ويستلو لکه څنګه چه علم رمل اوجفروی دا هم شريعت منع کړی دی.

② طرق کاڼړی ويشتونکوته وائی په عربوکښې دَ فال ويستلو يوداصورت هم ووهغه خلقو به دَخپل مطلب معلومولودپاره په هواکښې کاڼړی ويشتل اوخاوره يا ايره وغيره به ئې شيندله کوم طرف ته چه به خاوره اوايره ډيره والوتله دې خلقوبه هم دغه طرف ته سفرکولو بل طرف به ئې سپيره ګڼړلو. زمونږ طرف ته به يو ښکاری سړی په يوه وړه شان تهيلئی کښې ايره ساتله اوبيابه ئې په ګوته باندې داپه مينځ کښې وهله کوم طرف ته چه به زياته ايره تلله هغه سړې به هم هغه طرف ته ښکارله تللو. شريعت دامنع کړل چه وهم پرستی ده.

قوله: الْجِبْتِ:

دجبت په مفهوم کښې دوه اقوال: ①دَ جبت نه مراد شيطان دې نودَحديث مطلب به داشي چه داټول کارونه شيطانی دی. شيطان دا خوښوی اوخلق دَدې طرف ته تياروی.

② لفظ دَ جبت نه يا جادو اوکهانت مراددې نومطلب به داشي چه دَمرغو په تيريدو سره اودَهغوی په آواز او نومونو سره کاڼړی غورزولو سره او خاورې شيندلوسره بدشګونی نيول اودې سره فال ويستل يا رمل او زائچه په ذريعه حالات معلومول ټول په ټول دَ جادو اوکهانت په حکم کښې دی کوم چه دَشرک کارونه دی.

[۴۵۸۳] په بدفالی د شرک اطلاق

> ۴۵۸۳-[۹] (¹)[۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: " [۲] «الطِّيَرَةُ شِرْكٌ» قَالَهُ ثَلَاثًا " [۳] وَمَا مِنَّا إِلَّا، وَلَكِنَّ اللّٰهَ يُذْهِبُهُ بِالتَّوَكُّلِ» ". رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، [۴] وَقَالَ: سَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيْلَ يَقُوْلُ: كَانَ سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ يَقُوْلُ فِي هَذَا الْحَدِيْثِ: [۵] «وَمَا مِنَّا إِلَّا، وَلَكِنَّ اللّٰهَ يُذْهِبُهُ بِالتَّوَكُّلِ». هَذَا عِنْدِي قَوْلُ ابْنِ مَسْعُوْدٍ.

ترجمه: [۱] اوحضرت عبد الله ابن مسعود ﷺ د رسول الله ﷺ نه نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمايل[۲] چه بدفالي اخستل شرك دي، حضور ﷺ (د زيات نه د زيات اهميت د ظاهرولو د پاره) دا خبره دري خله وفرمايله (چي خلق د دي نه پرهيز وکړي)[۳] او په مونږ کې چې کوم

(¹) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الطب/باب فی الطيرة (رقم-۳۹۱۰) والترمذی فی كتاب السير عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الطيرة (رقم-۱۶۱۴) وابن ماجه فی كتاب الطب/باب من كان يعجبه الفال ويكره الطيرة (رقم-۳۵۳۸) واحمد فی المسند: ۴۳۸/۱

سري داسې وي اچې د هغه په زړه کې کله د بدشګونۍ (بدفالۍ) په ذريعه تردد او خلجان پيدا کيږي] نو الله ﷻ هغه په هغې باندې د باور او اعتماد کولو نه منع کوي. [يعنى دا د ايمان تقاضه ده چې د څه کار او سفر د قصد او ارادې په وخت څه شې ظاهر شي چې د هغې سره بتقضايي بشريت په زړه او دماغ کې څه وهم او تردد پيدا شي، نو په هغه وهم او تردد قطعًا باور او اعتماد ندي کول پکار، بلکې په الله ﷻ د توکل او يقين ساتلو سره هغه کار دې وکړي، يا په هغه سفر دې لاړ شي] (ابوداؤد ترمذي)۞ او ترمذي رحمه الله وايي چه ما د امام بخاري رحمه الله نه واوريدل، فرمايل يې چې زما استاد او شيخ حضرت سليمان ابن حرب رحمه الله د دې حديث باره کې فرمايل چې د حديث دا عبارت ۞ اِلَّا،وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يُذْهِبُهُ بِالتَّوَكُّلِ زما په نزد د ابن مسعود رضي الله عنه قول دى (نه چې د حضور ﷺ ارشاد دى).

حل اللغات: ① اَلطِّيَرَةُ: بدفالى، بد شګونى.

تسهيلات:

قوله: اَلطِّيَرَةُ شِرْكٌ:

بدفالی ته د شرک وئیلو وجه: که دَ بدشګونئى څوك پخه عقيده لرى اوبدشګونى قطعى او يقينى امر ګڼړى نوداشرك جلى دې کوم چه حرام دې اوکه چرې دَعام عادت مطابق دَ دستور او رواج په توګه بدشګونى کوى نودا شرك خفى دې. دَ شرك خفى مطلب به داشى چه دا دَمشرکانو په طريقو اودَهغوى په عادتونوکښې دې.

قوله: وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يُذْهِبُهُ بِالتَّوَكُّلِ:

په الله باندې توکل کول: يعنى دَ وهم پرستئى نه دَ بچ کيدو علاج دادې چه سړې په هره معامله کښې په الله تعالى باندې يقين اوساتى اوشکوك او شبهات مستردکړى اوداعقيده اوساتى چه په کائنات کښې چه کوم څه تغير اوتصرف کيږى هغه صرف اوصرف دَ الله تعالى په قدرت کښې دې. ايام،اوقات اوانسانانو اودَهغوى دَ حالاتو سره دَدې هيڅ تعلق نشته. زمونږ نظام دَالله تعالى په کارونوباندې اثرانداز نه دى بلکه دَالله تعالى نظام زمونږ په کارونو باندې اثرانداز دې.

دامام ترمذی د قول مطلب: دَ دې روايت په آخره کښې امام ترمذى رحمه الله فرمائى چه مادَ امام بخارى رحمه الله نه اوريدلى دى هغوى فرمائيل چه "ومامنا" دَآخره پورې داکلام دَ ابن مسعود رضي الله عنه خپل کلام دې مرفوع حديث نه دې.

....

[٤٥٨٥] د نبی کریم ﷺ د جذامي سره طعام خوړل

٤٥٨٥-[١٠] (١) [١] وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - [٢] «أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَخَذَ بِيَدِ مَجْذُومٍ [٣] فَوَضَعَهَا مَعَهُ فِي الْقَصْعَةِ [٤] وَقَالَ: "كُلْ ثِقَةً بِاللهِ [٥] وَتَوَكُّلًا عَلَيْهِ» ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] او د حضرت جابر رضی الله عنه نه روايت دي [٢] چې يوه ورځ رسول الله ﷺ د يو جذامي لاس اونيولو [٣] او هغه يې د طعام په پيالۍ کې د ځان سره شريك کړو، [٤] او وې فرمايل چې خوره، زما په الله ﷻ اعتماد او باور دي، [٥] او زه د هغه په ذات توکل کوم. (ابن ماجه)

حل اللغات: ① مَجْذُومٍ: چاته چه د جذام مرض لګيدلي وی، دا داسې مرض دي چه اندامونه ورسره رجيری ② الْقَصْعَةِ: کاسه، ③ ثِقَةً: اعتماد، ايمان،

تسهيلات:

نوټ: د دې حديث وضاحت وړاندې د حديث نمبر (٤٥٧٧) په شرح کښې تيرشوې دې.

[٤٥٨٦] د بدفالی نفی

٤٥٨٦-[١١] (٢) [١] وَعَنْ سَعْدِ بْنِ مَالِكٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [٢] "«لَا هَامَةَ وَلَا عَدْوَى وَلَا طِيَرَةَ. [٣] وَإِنْ تَكُنِ الطِّيَرَةُ فِي شَيْءٍ [٤] فَفِي الدَّارِ، وَالْفَرَسِ وَالْمَرْأَةِ» " رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] او د حضرت سعد ابن مالك رضی الله عنه نه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] نه هامه څه شي دي، نه د يو نه بل ته ناروغي لګيدل څه حقيقت لري، [٣] او نه په بدشګون (بد فال) کې څه حقيقت شته، [که په څه څيز کې بدفالي وی] [٤] نو په کور کې، په آس کې او په ښځه کې به وي (ابوداؤد)

حل اللغات: ① هَامَةَ: د سر کپری، (خو دلته تري ګونګې مارغه نه بدفالی اخستل مراد دی) ② عَدْوَى: يوه بيماری بل ته لګيدل، ③ طِيَرَةَ: بدفالی، بدشګونی، ④ الْفَرَسِ: اس.

تسهيلات:

قوله: وَإِنْ تَكُنِ الطِّيَرَةُ فِي شَيْءٍ فَفِي الدَّارِ، وَالْفَرَسِ وَالْمَرْأَةِ:

فَفِي الدَّارِ

په رواياتو کښې تعارض: بعضې احاديثو کښې مطلقًا دَ هرقسم څيزنه بدشګونی نهی او ممانعت ذکردې اوپه زيربحث حديث او دغه شان په بعضې احاديثو کښې دَاس کور او ښځې وغيره اوبعضې څيزونو کښې نحوست ثبوت راغلې دې دا ښکاره تعارض دې.

دتعارض درې جوابونه: ① حضرت ابوهريره رضی الله عنه راوی دَحديث پخپله بيان کړی ده هغوی

---

[١] اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الطب/باب فى الطيرة (رقم-٣٩٢٥) والترمذى فى كتاب الأطعمة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الأكل مع المجذوم (رقم-١٨١٧) وابن ماجه فى كتاب الطب/باب الجذام (رقم-٣٥٤٢)

[٢] اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الطب/باب فى الطيرة (رقم-٣٩٢١) واحمد فى المسند:١٨١/١

فرمائی چه په کورکښې دَنحوست مطلب دادې چه هغه تنګ وی په اس کښې نحوست دادې چه دې سرکش وی او په ښځه کښې نحوست دادې چه بدزبان اوبداخلاقه وی.

۞په زیربحث حدیث کښې دَنبی کریم کلام دَ فرض اوشرط په توګه دې چه فرض کړه که دَ دنیاپه یوځیزکښې نحوست وې نو په دې دریوځیزونوکښې به وې لیکن دَنحوست عقیده لرل صحیح نه دی لهذا په دې دریوارو ځیزونوکښې هم نحوست نشته دې قاضی عیاض ﷫ هم دغه توجیه کړې ده که چرې په یوځیزکښې نحوست وې نو په دې دریوځیزونوکښې دَدې موقع محل او امکان وو لیکن چه کله په دې کښې نشته دې نو په هیڅ ځیزکښې نشته دې

۞ دَ ظاهری اسبابو په اعتبارسره دَدې دریوارو ځیزونو نحوست دَعام احادیثونه مستثنی ګرځولې شوې دې چه په طبعی توګه په دې ځیزونوکښې دَ نحوست دخل دې مؤثرحقیقی خوصرف دَالله تعالی ذات دې.

[۴۵۸۶]د نیک فالی په توګه ښه نومونو خوښول

۴۵۸۶—[۱۲] (١)[١] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - [٢]«أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ يُعْجِبُهُ إِذَا خَرَجَ لِحَاجَةٍ[٣]أَنْ يَسْمَعَ: يَارَاشِدُ، يَانَجِيحُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه:[١] او د حضرت انس ﷛ نه روایت دې[٢] چې رسول الله ﷺ چې به د څه کار د پاره بهر وتلو، نو دابه ورته ښه معلومیده[٣] چې د چا د ژبې نه دا واوري چې اې راشد، اې نجیح ایعنی د څه کار د پاره د تلو په وخت داسې نوم او الفاظ اوریدل نیک فال دې۱ ،ترمذي،

حل اللغات: ①يُعْجِبُهُ: ښه به ورته معلومیده، ②رَاشِدُ: نیک بخت، په نیغه لار، ③نَجِيحُ: کامیاب.

تسهیلات: كَانَ يُعْجِبُهُ إِذَا خَرَجَ لِحَاجَةٍ أَنْ يَسْمَعَ: يَارَاشِدُ، يَانَجِيحُ

په ښه نوم سره ښه فال نیول: ددې وجه هم هغه ده کومه چه منقول ده چه نبی کریم ﷺ به ښه فال خوښولو او طیره به ئې نه خوښوله، څنګه چه په "الجامع" کښې ابن ماجه په روایت د حضرت ابو هریره ﷛ او حاکم په روایت د حضرت عائشه رضی الله عنها منقول دی

[۴۵۸۸]په نوم سره فال نیول

۴۵۸۸—[۱۳] (٢)[١] وَعَنْ بُرَيْدَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: [٢]«أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ لَا يَتَطَيَّرُ مِنْ شَيْءٍ[٣] فَإِذَا بَعَثَ عَامِلًا سَأَلَ عَنِ اسْمِهِ[٤] فَإِذَا أَعْجَبَهُ اسْمُهُ فَرِحَ بِهِ[٥] وَرُئِيَ بِشْرُ ذَلِكَ فِي وَجْهِهِ.[٦] وَإِنْ كَرِهَ اسْمَهُ رُئِيَ كَرَاهِيَةُ ذَلِكَ فِي وَجْهِهِ.[٧] وَإِذَا دَخَلَ قَرْيَةً سَأَلَ عَنِ اسْمِهَا[٨] فَإِنْ أَعْجَبَهُ اسْمُهَا فَرِحَ بِهِ[٩] وَرُئِيَ بِشْرُ ذَلِكَ فِي وَجْهِهِ[١٠] وَإِنْ كَرِهَ اسْمَهَا[١١] رُئِيَ كَرَاهَةُ ذَلِكَ فِي وَجْهِهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

---

(١) اخرجه الترمذی فی السنن رقم الحدیث ۱۶۱۶

(٢) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الطب /باب فی الطیرة (رقم- ۳۹۲۰) واحمد فی السند: ۵/ ۳۴۷

ترجمه: [۱] او د حضرت بریده ﷺ نه روایت دي [۲] چې رسول الله ﷺ به د یو څیز نه بدفال نه اخستلو. [۳] او هر کله چې یو عامل (کارکن) به یې د یو کار د پاره لیږلو، نو د هغه د نوم به یې پوښتنه کوله. [۴] که د هغه نوم به ښه معلومیدلو، نو حضور ﷺ پرې خوشحاله شو. [۵] او د حضور ﷺ خوشحالي به د مخ مبارك نه ظاهریدله. [۶] او که د هغه نوم به ورته بد معلوم شو، نو د هغه سره به یې د مخ مبارك نه نا ګواري (ناخوښي) ظاهریدله [تر دې چې حضور ﷺ به د هغه نوم د یو ښه نوم سره بدلولو] [۷] دغه شان چې حضور ﷺ به په یو کلي کې داخلیدو، نو د هغه د نوم به یې پوښتنه کوله. [۸] که د هغه نوم به ورته ښه معلوم شو، نو د هغه سره به خوشحالیدو. [۹] او خوشحالي به یې د مخ مبارك نه ظاهریدله. [۱۰] او که د هغه نوم به ورته بد معلوم شو. [۱۱] نو نا ګواري (ناخوښي) به یې د مخ مبارك نه ظاهریدله (ابوداؤد)

حل اللغات: ① عَامِلًا: کارکونکي، زکات عشر وغیره راټولونکي. ② رُئِيَ: ښکاریدل به. ③ بِشْرُ: خوشحالي، آثار د خوشحالۍ.

تسهیلات:

قوله: فَإِذَا بَعَثَ عَامِلًا سَأَلَ عَنِ اسْمِهِ:

دعامل په ښه نوم سره خوشحالیدل: یعني کله چه به رسول الله ﷺ یو عامل چرته لیږلو نو د هغه د لیږلو نه مخکښې به ئې د هغه نوم تپوسلو، که د هغه نوم به ښه وو نو په دې باندې به رسول الله ﷺ خوشحالیدو او هغه خوشحالی به د هغوی د مخ مبارک نه ښکاره کیده (دا خو نیک فالی شوه) او که د رسول الله ﷺ به د هغوی نوم خوښ نه شو نو دا ناخوښی به د هغوی په مخ مبارک باندې ښکاره کیده، دا په ظاهره بدفالی ده) خو شارحینو د دې مطلب دالیکلې دې چه دا اثر د بدفالۍ د وجې نه وو بلکه د نیک فالۍ د حاصلیدو دا اثر وو

[۴۵۸۹] دکور سپیره والې

٤٥٨٩ — [۱۳] (۱) [۱] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّا كُنَّا فِي دَارٍ [۳] كَثِيرٍ فِيهَا عَدَدُنَا وَأَمْوَالُنَا، [۴] فَتَحَوَّلْنَا إِلَى دَارٍ قَلَّ فِيهَا عَدَدُنَا وَأَمْوَالُنَا، [۵] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "ذَرُوهَا ذَمِيمَةً». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او د حضرت انس ﷺ وايي [۲] چې يوه ورځ په بارګاه رسالت کې يو سړي عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ! مخکې مونږ په يو کور کې وسيدو. [۳] چې په هغې کې زمونږ د افرادو تعداد هم زيات وو، او زمونږ سره مال هم ډير وو. [۴] بيا مونږ يو دويم کور ته منتقل شو، نو په هغې کې زمونږ د سړو تعداد هم کم شو، اوزمونږ مال هم لږ پاتې شو. [۵]

---

(۱) أخرجه ابوداود في السنن كتاب الطب/باب في الطيرة (رقم-٣٩٢٤)

رسول الله ﷺ (د دي په اوریدو سره ورته) وفرمایل هغه کور پریږدئ، کوم چې خراب [بد] دی. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① تَحَوَّلْنَا: منتقل شو مونږ، ② ذَرُوهَا: پریږدئ دغه (کور)، ③ ذَمِيمَةٌ: خراب.

تسهیلات:

قوله: ذَرُوهَا ذَمِيمَةً یعنی تاته چه کله دا مکان خراب ښکاری نو پریږده ئې.

اشکال: خو سوال دې چه نبی کریم دَمکان نحوست څنګه اومنلو حال دا دې چه نبی کریم په الطیرة شرك کښې دَدې نفی فرمائیلې ده؟

داشکال دوه جوابونه: ① علامه خطابی رحمه الله فرمائیلی دی چه نبی کریم کله اوکتل چه دَدې خلقو دا وهم پیدا شوې دې چه دَدې کور په وجه زمونږ په مالونو او کسانوکښې کمې راغلې دې اومونږ دَدې مکان دَ وجې نه نقصان اوچتوو نونبی کریم هغوی ته دَمکان پریخودو حکم ورکړو دې دَپاره چه دَهغوی عقیده خرابه نه شی اودا وهم وړاندې تلو سره دَ هغوی دَ عقائدو حصه جوړه نه شی. په دې وجه نبی کریم په دې کښې مصلحت اوګنړلو چه دَهغوی دَوهم جرړه پرې کړی اودوی دَدې وهم په چاپیرچل کښې انختو اومخفی شرك کښې دَ راګیریدو نه بچ کړې شی نودَمکان پریخودو ئې ورته اووئیل دا دَ اسلوب حکیم په توګه وو.

② دَنحوست باره کښې دکومو دریو څیزونو استثنٰی کړې شوې ده په هغې کښې کورهم دې هم دَدې طرف ته اشاره ده.

[۴۵۹۰] د خرابي آب وهوا د پریخودلو حکم

۴۵۹۰—[۱۵] (١) [١] وَعَنْ يَحْيَى بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بَحِيرٍ، قَالَ: [٢] أَخْبَرَنِي مَنْ سَمِعَ فَرْوَةَ بْنَ مُسَيْكٍ يَقُولُ: [٣] «قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! عِنْدَنَا أَرْضٌ يُقَالُ لَهَا أَبْيَنُ، [٤] وَهِيَ أَرْضُ رِيفِنَا وَمِيرَتِنَا، [٥] وَإِنَّ وَبَاءَهَا شَدِيدٌ، [٦] فَقَالَ: "دَعْهَا عَنْكَ فَإِنَّ مِنَ الْقَرَفِ التَّلَفَ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [١] او حضرت یحیٰی ابن عبد الله ابن بَحیر وایي [٢] چه ماته هغه سړي بیان اوکړو چې هغه د حضرت فروه رضي الله عنه ابن مسیك نه دا روایت اوریدلي وو چه ، فروه رضي الله عنه اوویل [٣] چې ما عرض وکړو یا رسول الله ﷺ زمونږ سره یوه زمکه ده، چې هغه ته أَبْيَنُ وئیل کیږي، [٤] او هغه زمونږ د زراعت او غلې زمکه ده [یعني هغه غله منډي ده، چیرته چې د تجارت د پاره د نورو ځایونو نه غله راوړلو سره جمع کول کیږي، او نورو ښارونو ته لیږل کیږي] [٥] لیکن د دې زمکې وبا سخته ده [یعني هلته وبائي امراض زیات دي] [٦] د دې اوریدو سره حضور ﷺ ورته وفرمایل چې داپریږدئ [یعني هلته اوسیدل او تګ راتګ

(١) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الطب/باب في الطيرة (رقم-٣٩٢٣) واحمد في المسند ٣/ ٤٥١

پريږدئ، ځکه چې هغه د طاعون خپلي آبادئ په حکم کې ده] او د وبا [بيمارئ] ځاى ته نژديکيدل د هلاکت او د نقصان باعث وي. (ابوداود)

حل اللغات: ① أبين: ددغه زمکې نوم دې، ② رِيفُنَا: رِيف زراعت اوزميندارئ ته وائي. ③ وَمِيرَتُنَا: ميرة غلې ته وائي ④ وَبَاؤُهَا: وبائي مرضونه مراد دى. ⑤ القَرَف: قَرف نژديوالى ته وائي خو دلته ترې وبائى مرض مراد دې. ⑥ التَّلَف: هلاکت.

تسهيلات:

قوله: دَعْهَا عَنْكَ فَإِنَّ مِنَ الْقَرَفِ التَّلَفَ:

د مذکوره جملې مطلب: مطلب دادې چه وبائى مرضونوته نيزدې کيدل او راتللو سره هلاکت واقع کيږى لهذا تاسو دغه زمکه پريږدئ بل ځائى ته لاړشئ.

اشکال: دَ وبائي مرضونو دَ ځائى دَ تيختې نه نبى کريم منع فرمائيلې ده په ډيرو صحيح احاديثو کښې دَدې ثبوت موجود دې او په دې حديث کښې نبى عليه السلام دغه خلقو ته دَ وبائى زمکې نه دَتختيدو اجازت څنګه ورکړو؟

داشکال دوه جوابونه: ① نبى کريم دغه خلقوته دَځائى بدلولو حکم دَهغوى دَعقيدې دَ حفاظت په بنياد ورکړې وو ځکه چه دَهغوى وهم شوې ووچه کيدې شى داځائى دَهغوى دَپاره موافق نه وى اودَدې په وجه آفات زمونږ طرف ته متوجه دى. ممکن وه چه دَهغوى دا وهم دَهغوى په عقيده کښې بدل شوې وې اودَبدشګونئى په بده عقيده کښې راګيرشوې وې دَدې دَ بندولو په غرض نبى عليه السلام دَمصلحت لاندې هغوى ته دَ تللو حکم ورکړو

② علامه طيبى رحمه الله فرمائى نبى کريم په عدوىٰ او دَ مرض يونه بل ته دَ لګيدو عقيده باندې دَعمل کولو اجازت نه دې ورکړې دا دَ اجازت دَعدوىٰ په نقطه نظر سره وو بلکه دَاصول طب مطابق دَصحت دَ حفاظت بنياد باندې حکم وو ځکه چه دَ دغه ځائى آب وهوا دَخلقو دَ طبائع مطابق نه وه لکه چه دَدې حديث تعلق دَ وبائى مرضونوسره نه دې بلکه دَ حفظ ماتقدم په بنيادباندې دَ صحت دَحفاظت سره دَدې تعلق دې. دَدغه علاقې آب وهوا ستاسو موافق نه ده نودا علاقه پريخودو سره لاړشئ.

غلط استدلال: دَدې حديث نه دااستدلال کول صحيح نه دى چه دَ وبادَځائى نه تختيدل جائزدى مسئله داده چه په يو ځائى کښې دَ وباخوريدونه وړاندې دغه ځائى پريخودل جائز دى. دَ وباء خوريدو نه پس دَمرګ دَ ويرې نه تختيدل جائزنه دى. اودَ شريعت داهم حکم دې چه دَبهر نه راتلونکې دَپاره دَ وبائى مرضونو علاقه کښې داخليدل منع دى. دَ سيلاب طوفان اور اوزلزلې نه تختيدل اومحفوظ مقام ته تلل جائزدى دا په وبائى زمکه باندې نه شى قياس کولې [الکاشف، ۸/۳۵۲]

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۵۹] د مکروه څیز په پېښېدو مسنون دعا

۴۵۸۹-[۱۲] ()[۱] عَنْ عُرْوَةَ بْنِ عَامِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: [۲] «ذُكِرَتِ الطِّيَرَةُ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۳] فَقَالَ: " أَحْسَنُهَا الفَأْلُ [۴] وَلَا تَرُدُّ مُسْلِمًا [۵] فَإِذَا رَأَى أَحَدُكُمْ مَا يَكْرَهُ فَلْيَقُلْ: [۶] اللَّهُمَّ لَا يَأْتِي بِالْحَسَنَاتِ إِلَّا أَنْتَ، [۷] وَلَا يَدْفَعُ السَّيِّئَاتِ إِلَّا أَنْتَ، [۸] وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ» ". رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] حضرت عروه ابن عامر (تابعي رحمه الله) وايي[۲] چې يوه ورځ د رسول الله ﷺ په مخکې د بد شګونۍ (بدفالۍ) ذکر وشو، [۳] نو حضور ﷺ وفرمايل د دې بهترين صورت ښه فال دی، [۴] او (ياد لرئ) يو مسلمان دې بدشګون (د هغه د مقصد او ارادې نه) منع نه کړي، [يعنی يو مسلمان ته دا مناسب نه دي چې هغه د يو کار کولو اراده وکړي، او بيا يو شي بد شګوني ګڼلو سره د هغه کار نه منع شي] ، [۵] او هر کله چې په تاسو کې يو سړي داسې شي ووينې چې هغه يې نه خوښوي (يعني داسې شي چې د هغه په ذريعه بد شګونی اغستلې کيدې شي، او په زړه او دماغ کې وهم او خلجان پيداکوي) نو هغه ته پکار دي چې دا دعا اووائي [۶] اللَّهُمَّ لَا يَأْتِي بِالْحَسَنَاتِ إِلَّا أَنْتَ وَلَا يَدْفَعُ السَّيِّئَاتِ إِلَّا أَنْتَ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ. اې الله! د نيکو او بدو راوستونکي يواځې ته يې[۷] او يواځې ته بدي او خرابي لرې کونکي يې. [۸] او د بدئ نه مخ ګرځونکي او د نيکي طرف ته د راتلو توفيق او طاقت د الله ﷻ د طرف نه دي. دا روايت ابوداود رحمه الله بطريقِ ارسال نقل کړي دي.

حل اللغات: ① اَلْفَأْلُ: ښه فال. ② وَلَاتَرُدُّ: منع دې نه کړي.

تسهيلات:

قوله: اللَّهُمَّ لَا يَأْتِي بِالْحَسَنَاتِ إِلَّا أَنْتَ:

د وهم د لرې کولو مسنون دعا: په دې حديث کښې د وهم او فکر ختمولو يو طريقه بيان شوی ده چه مذکوره دعا وائي اللهم لايأتي بالحسنات الاانت ولا يدفع السيئات الاانت ولاحول ولاقوة الابالله.

---

[۱] اخرجه ابوداود في السنن كتاب الطب/باب في الطيرة (رقم-۳۹۱۹)

[۲] بَابُ الْكِهَانَةِ

د فال كتنې بيان

خلاصة الباب:

فيه ثلاثة عشر حديثاً مشتملة على أربع مسائل:

① النهي عن الإتيان إلى الكهان والعراف: ۱، ۴، ۸.

② حقيقة الكهانة ۲، ۳، ۹، ۱۰.

③ النهي عن قول مطرنا بنوء كذا: ۵، ۶، ۱۱، ۱۳.

④ الزجر بتعلم علم النجوم والكهانة: ۷، ۱۲.

د كهانة لغوي تحقيق: كرماني رحمه الله فرمائي چه (كهانة) د كاف په فتحې او كسرې دواړو سره صحيح دي په صراح كښې دی چه كاهن فال ويونكی ته وائي، په قاموس كښې دی چه كهانت په فتح د كاف سره د فال وئيلو كاروبار ته وائي.

دكاهن تعريف: د كاهن جمع كهان او كهنة دواړه راځي، علامه طيبي رحمه الله فرمائي چه كاهن هغه كس دې كوم چه د مستقبل متعلق د حوادثو او د نورو واقعاتو خبر وركوي. او د خبايا او د اسرار د معرفت دعوی اوكړي.

دكاهنانو قسمونه:

① په عرب كښې كاهن خلق وو د بعض كاهنانو به جنات تابع وو هغه جناتو به د اسمان نه په غلا خبرونه راوړل او دې كاهنانو ته به ئې بيانول. لكه چه په احاديثو كښې راځي چه د رسول الله ﷺ د مبعوث كيدو نه پس د اسمان حفاظت اوكړې شو.

د كهانت حقيقت دا دې چه د بعض خلقو د روحونو د جناتو او شياطينو د ارواح خبيثه سره مناسبت وی په دې وجه د جناتو نه د كواذبو او مضلاتو استفاده كوي،

② بعض خلق د اقوالو، افعالو او احوالو د مقدماتو، اسبابو او علاماتو په بناء باندې تعارف او شناخت حاصلوی دې خلقو ته عراف وئيلې شی او كله د كاهن اطلاق په عراف او نجومی باندې هم كيږی،

دكهانت حكم: فعل د كهانت حرام دې په دې باندې مال اخستل هم حرام دی، اخستلو والا او وركولو والا دواړه گناهگار دی (الاشعة ۳/ ۶۷۰)

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲۵۴۳] د نبی علیه السلام څخه درې تپوسونه

۴۵۹۳ — [۱] ( )[۱] عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ الْحَكَمِ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! أُمُورًا كُنَّا نَصْنَعُهَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ، [۳] كُنَّا نَأْتِي الْكُهَّانَ. [۴] قَالَ: "فَلَا تَأْتُوا الْكُهَّانَ". [۵] قَالَ: قُلْتُ: كُنَّا نَتَطَيَّرُ. [۶] قَالَ: "ذٰلِكَ شَيْءٌ يَجِدُهُ أَحَدُكُمْ فِي نَفْسِهِ، [۷] فَلَا يَصُدَّنَّكُمْ". [۸] قَالَ، قُلْتُ: وَمِنَّا رِجَالٌ يَخُطُّونَ. [۹] قَالَ: "كَانَ نَبِيٌّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ يَخُطُّ، [۱۰] فَمَنْ وَافَقَ خَطَّهُ فَذَاكَ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] حضرت معاویه ابن حکم ؓ وايي [۲] چې ما عرض وکړو يا رسول الله! ﷺ داسې څو څيزونه دي چې مونږ به په زمانه د جاهليت کې کول، [۳] د هغې نه يوخو دا دي، چې مونږ به کاهنانو ته ورتلو، [او د هغوئ نه به مو د غيبو د خبرو پوښتنه کوله]. [۴] حضور ﷺ وفرمايل اوس تاسو کاهنانو ته مه ورځئ، [۵] حضرت معاويه ؓ وايي چې ما عرض وکړو چې يا رسول الله! ﷺ يو شي دا هم دي چې مونږ به شګون بدکولو. [۶] حضور ﷺ وفرمايل دا يو داسې څيز دي چې په تاسو کې يې څوك په خپل زړه کې محسوس کولي شي [۷] ليکن دا [يعني په زړه کې د داسې څيزونو خيال راتلل] تاسو دې د څه کار نه منع نه کړي [يعني که په تاسو کې يو سړي بتقضائي بشريت د شګون بد خيال هم راولي، نو د هغه نه متاثر کيدو سره د خپل قصد او ارادې نه دې نه منع کيږي ځکه چې بد شګوني د وهم محضه نه زيات هيڅ حقيقت نه لري]، [۸] حضرت معاويه ؓ وايي چه ما عرض وکړو چې يا رسول الله! ﷺ يو شي دا هم دي چې په مونږ کې څه خلق کرښې او خطوط کاږي، [۹] حضور ﷺ وفرمايل په انبياؤ کې يو نبي تير شوي دي چې [د الله ﷻ په حکم سره يا د خپل علم لدُني په ذريعه به] يې کرښې او خطونه اوخکل، [۱۰] نو د چا د خط (کرښې) چې د هغه سره موافق وي، هغه به مباح وي (ګني ناجائز) (مسلم)

حل اللغات: ① اَلْكُهَّانَ: پالکر، د غيبو دخبرو دعوه کونکي، ② يَخُطُّوْنَ: کرښې اوخطونه راکاږي.

حضرت معاويه بن الحكم مختصر تعارف: نوم معاويه دَپلار نوم حکم بنوسليم کښې اوسيدلو. دَ هجرت نه پس مسلمان شو په کال کښې اختلاف دې اودَ خپل تعليم تفصيلي واقعه په پورتنی حديث کښې پخپله ارشاد فرمائی.

مرويات: دَ هغوی نه ۱۳ احاديث نقل دی.

تسهيلات:

قوله: وَمِنَّا رِجَالٌ يَخُطُّوْنَ

---

(۱) اخرجه مسلم فی كتاب السلام/باب تحريم الكهانة وإتيان الكهان (رقم-۱۲۱ - (۵۳۷) والنسائی فی كتاب السهو/باب الكلام فی الصلاة (رقم-۱۲۱۸) واحمد فی المسند: ۴۴۷/۵

د یخطون څخه مراد: یعنی کرښې به ئې راښکلې او څه زائچې به ئې جوړولې داد علم رمل او جفر طرف ته اشاره ده دَ خطونو او زائچودَ حساب په ذریعه خلقوبه دَ راتلونکی وخت متعلق معلومات حاصلول.

قوله: كَانَ نَبِيٌّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ يَخُطُّ:

دنبی په مصداق کښې دوه اقوال: ① دَدې نبی حضرت دانیال علیه السلام مراد دې.
② د دې څخه حضرت ادریس علیه السلام مراد دې

د نبی علیه السلام محتاط جواب: دوی ته الله تعالی دَمعجزې په توګه دَ رمل اوجفر داعلم ورکړې وو چونکه دَرمل اوجفر دَدې علم نسبت دَیونبی طرف ته ووپه دې وجه نبی کریم په ډیر حکیمانه انداز سره امت دَدې علم نه منع کړو اودَ مخکینی نبی په دغه عمل ئې اعتراض هم اونه کړو اوونی فرمائیل چه یونبی به داسې عمل کولو لیکن هغه خو مامون محفوظ اومعصوم وو او دَمعجزې په توګه به ئې داسې کول په دې وجه دَهغه عمل صحیح وو

قوله: فَمَنْ وَافَقَ خَطَّهُ فَذَاكَ:

د رمل دعلم حکم: اوس که چرې ستاسو دغه عمل دَ دغه نبی دَعمل سره بالکل موافق شی نوصحیح به وی اوکه چرې موافق نه شو نو صحیح به نه وی. اوس تاسو پخپله فیصله اوکړئی چه کله تاسو ته معلومه نه ده چه ستاسو عمل دَ هغه نبی دَعمل موافق دې یا نه دې نوچه تاسو دا فیصله نه شې کولې نوبیابه دَ دغه عمل هیڅ حیثیت پاتې نه شی. لهذا تاسو دَدې نه ځان اوساتئی ځکه چه داعلم اوس دَدنیا نه اوچت شوې دې. په داسې حکیمانه جواب سره نبی کریم دَدې عمل نه منع هم اوکړه او په یونبی باندې ئې اعتراض هم اونه کړو.

[۳۵۳] د کاهن د خبرې د رشتیا کیدو وجه

۴۵۹۳–[۲] ()① وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهَا - قَالَتْ: ②«سَأَلَ أُنَاسٌ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنِ الْكُهَّانِ③ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّهُمْ لَيْسُوا بِشَيْءٍ. ④ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ، فَإِنَّهُمْ يُحَدِّثُونَ أَحْيَانًا بِالشَّيْءِ يَكُونُ حَقًّا. ⑤ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: تِلْكَ الْكَلِمَةُ مِنَ الْحَقِّ، يَخْطَفُهَا الْجِنِّيُّ⑥ فَيَقُرُّهَا فِي أُذُنِ وَلِيِّهِ⑦ قَرَّ الدَّجَاجَةِ⑧ فَيَخْلِطُونَ فِيهَا أَكْثَرَ مِنْ مِائَةِ كَذْبَةٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او د بي بي عائشه رضی الله عنها نه روایت دي② چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د کاهنانو باره کې پوښتنه وشوه [چې د هغوئ په ښودل شوو خبرو اعتماد کیدې شي که نه؟]③ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوئ ته وفرمایل چې هغوی هیڅ نه دي [یعني هغوی چې د کومو خبرو دعوې کوي، هغه بې بنیاده دی، نو د هغوئ په ښودل شوو خبرو اعتماد او بهروسه مه کوئ]④

() اخرجه البخاری فی کتاب الأدب/باب قول الرجل للشيء: لیس بشيء. وهو ينوي أنه ليس بحق (رقم-۶۲۱۳) ومسلم فی کتاب السلام/باب تحريم الكهانة وإتيان الكهان(رقم-۱۲۳ - (۲۲۲۸) واحمد فی المسند:۸۷/۶

خلقو عرض وکړو یا رسول الله! ﷺ بعضې وخت هغوی داسې خبره وښايي یا داسې خبر ورکوي، چې ربښتیا وي؟[۵] رسول الله ﷺ وفرمایل هغه خبره حقه وي، کومه چې جن (یعني شیطان) راوتښتوي،[۶] او د خپل دوست کاهنان په غوږ کې یې داسې اچوي،[۷] څرنګه چې چرګ بل چرګ د دانې اخستو د پاره رابلي،[۸] بیا هغه کاهن په هغه خبره کې د سلو نه زیات دروغ خبرې یو ځاي کوي (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① يَخْطَفُهَا: راتختوی ئې، ② الْجِنِّيُّ: جن، شیطان، ③ فَيَقُرُّهَا: پس اچوی ئې، رابلی ئې. ④ قَرَّ: د چرګې کړک کړک کول ⑤ الدَّجَاجَةِ: چرګه، ⑥ فَيَخْلِطُونَ: ګډوډ کوی، یوځای کوی

تسهيلات:

قوله: تِلْكَ الْكَلِمَةُ مِنَ الْحَقِّ يَخْطَفُهَا الْجِنِّيُّ:

د کاهنانو خبرې د رشتیا کیدو وجه: نبی کریم حضرت عائشه رضی الله عنها ته اوخودل چه د کاهنانو کومه یوه نیمه خبره صحیح ثابتیږي دَدې اصل حقیقت دادې چه آسمانونوته دَالله تعالی یوحکم راځي دَ آسمان نه لاندې فرښتې په اوریخوکښې یوبل سره دَدغه حکم متعلق خبرې اترې کوی دَ جناتو نه سرکش غونډې شیطانان دَ آسمان نه لاندې په اوریخوکښې پټ ورځی اودَ فرښتونه یوه نیمه خبره اوریدوسره زمکې ته راوړي.

قوله: فَيَقُرُّهَا فِي أُذُنِ وَلِيِّهِ:

کاهن ته د غیبو خبر ورکول: دَ چرګې کړک کړک آوازدپاره قَرَّ الدَّجَاجَةِ استعمالیږی یعنی چرګه چه بله چرګه دَ دانو طرف ته رابلي او کړک کړک آواز کوی دغه شان دا جن دَ خپل دوست کاهن اوجوګی په غوږونوکښې دَپورته خبره وراچوی اوهغوی دې سره سل دروغ یوځانی کړی اوبیانی خوروی.

[۴۵۴۳] یورښتیاوسره سل دروغ یوځاني کول

۴۵۴۳-[۳] (1)[۱] وَعَنْهَا قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [۲]«إِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَنْزِلُ فِي الْعَنَانِ - وَهُوَ السَّحَابُ - [۳] فَتَذْكُرُ الْأَمْرَ قُضِيَ فِي السَّمَاءِ [۴] فَتَسْتَرِقُ الشَّيَاطِينُ السَّمْعَ [۵] فَتَسْمَعُهُ فَتُوحِيهِ إِلَى الْكُهَّانِ، [۶] فَيَكْذِبُونَ مَعَهَا مِائَةَ كَذْبَةٍ مِنْ عِنْدِ أَنْفُسِهِمْ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه:[۱] او بي بي عائشه رضی الله عنها وايي چه ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل[۲] چې د فرښتو يو جماعت په وريځ کې راځکته کيږي،[۳] او په خپلو کې د هغه خبرو او د هغه امورو تذکره کوي، کوم چې په آسمان کې (د الله ﷻ په نزد) مقدر شوي وي (او په دنيا کې واقع کيدونکي وي)[۴] نو شيطانان په غلا سره د هغه خبرو د اوريدو د پاره غوږ ورته ايږدي،[۵] او هر کله چې هغه خبره واوري، نو کاهنانو ته يې رسوي،[۶] او هغه کاهنان د شياطينو نه

(1) اخرجه البخاری فی کتاب بدء الخلق /باب ذکر الملائکة (رقم-۳۲۱۰)

په اوریدلي خبره کې د خپل طرف نه سل دروغ یو ځای کوي (بخاري)

حل اللغات: ① اَلْعَنَانِ: وریځ، ② اَلسَّحَابُ: وریځ، ③ تَسْتَرِقُ: په غلا سره غوږ ایخودل ④ فَتُوحِیهِ: نو رسوی ئي

تسهیلات

قوله: فَتَسْتَرِقُ الشَّيَاطِينُ السَّمْعَ فَتَسْمَعُهُ فَتُوحِيهِ إِلَى الْكُهَّانِ:

د آسمان خبرې غلا کول: د آدم ﷺ دپیداکیدو په وخت چې ابلیس ملعون په آسمانونو کښې وو . او آدم ﷺ او حوا علیهما السلام لره دهوکه کول وغیره دهغه وخت واقعات دی چې آدم ﷺ زمکې ته نه وو راکوز شوي . تر دغې وخت پورې د پیریانو او شیطانانو په آسمانونو کښې داخلیدل منع نه وو کله چې آدم ﷺ زمکې ته راکوز شو او شیطان هم د آسمانونو څخه راؤبکلې شو نو هله د دوئ داخلیدل په آسمانونو کښې بند شو سورة جن کښې چې داسې راغلی دی : ﴿وَأَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَاعِدَ لِلسَّمْعِ ۖ فَمَن يَسْتَمِعِ الْآنَ يَجِدْ لَهُ شِهَابًا رَّصَدًا﴾[۱] نو دې څخه دامعلومیږی چې د نبی اکرم ﷺ د پیغمبر کیدو څخه وړاندې پورې به شیطانانو د آسمانونو هغه خبرې آؤریدلې چې فرښتو بهٔ هلته خپل مینځ کښې کولې دې څخه دا لازمی طور نه ثابتیږی چې آسمانونو کښې په داخلیدو به ئې دغه خبرې آؤریدلې بلکه د ﴿نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَاعِدَ الخ﴾ څخه دا مطلب راخیږی چې په آسمانی فضا کښې بهٔ هلته د غلو پشان کیناستل چرته به چې وریځې وې او آؤریدلې بهٔ ئې ددې الفاظو څخه پخپله هم داسې بنکاری چې د نبی اکرم ﷺ د پیغمبر کیدو څخه وړاندې هم د پیریانو او شیطانانو داخله په آسمانونو کښې بنده وه ، مگر آسمانی فضا ته په رسیدو به ئې په غلا څه آؤریدل، د پیغمبرکیدو څخه روستو ئې د وحی دحفاظت زیات انتظام دااوشو چې شیطانان ددغې غلا کولو څخه هم د شهاب ثاقب په ذریعه ایسار کړې شو.

اشکال اودهغې جواب: چې آسمان څخه بنکته به شیطانانو د فرښتو خبرې په څه شان آؤریدلې شوې ؟، نو دا څه ناممکنه خکه نه ده کیدې شی چې د آسمانونو د اجرام د خبرو آوازونه اوریدلو دپاره نشی مانع کیدلې اودا هم کیدې شی چې څه وخت فرښتې د آسمانونو بنکته هم خپل مینځ کښې خبرې کوی نو شیطانان به ئې په غلا باندې د آؤریدو څخه روستو هلته نه تښتې دحدیث الباب څخه هم ددې تائید کیږی چې فرښتې کله خو د آسمان څخه لاندې وریځو ته رابنکته کیږی او آسمانی خبر خپل مینځ کښې کوی شیطانانو به هلته په پټه دا خبرې آؤریدلې چې هغه هم د شهاب ثاقب په ذریعه بندې کړې شوې.

---

[۱] ترجمه:- او موږ به د آوریدلو دپاره د آسمان په موقعو کښې کیناستو نو څوک چې اوس هم آوریدل غواړی نو خپل ځان دپاره یو تیاره شغله موی.

[۴۵۹۵] نجومیانو او کاهنانو ته د ورتګ نقصان

۴۵۹۵-[۴] ()[۱] وَعَنْ حَفْصَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«مَنْ أَتَى عَرَّافًا [۳] فَسَأَلَهُ عَنْ شَيْءٍ [۴] لَمْ تُقْبَلْ لَهُ صَلَاةُ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او بي بي حفصه رضي الله عنها فرمائي چي رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] کوم سړي چي کاهن یا نجومي ته ورشي، [۳] او د هغه نه پوښتنه وکړي (یعني د غیب خبري ورنه وپوښتي) [۴] نو د هغه څلوېښت ورځي او شپي مونځونه نه قبلیږي. (مسلم)

حل اللغات: ① عَرَّافًا: نجومی، کاهن.

تسهیلات:

قوله: لَمْ تُقْبَلْ لَهُ صَلَاةُ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً:

څلوېښت ورځي مونځ نه قبلیدل: یعني دَ شپي ورځي فرض مونځونه به ئې نه قبلیږي یا دَ تهجد مونځ به ئې نه قبلیږي. دا سزا دَهغه سړي ده چه دَنجومي تصدیق ئې اوکړو دا څومره دَ لوئې محرومتیا خبره ده چه انسان دَ خپل اهم عبادت مونځ نه محروم شي او دا جرم څومره سخت دي چه څلوېښتو ورځو پوري دَدي اثر باقي پاتي وي. حالانکه نجومي سره څه یقیني علم نه وي بلکه ټوله دهوکه ده.

نجومي دخپل کوره ناخبره: شیخ سعدي بابا په ګلستان کښي یوه قصه لیکلي ده چه دیونجومي ښځي سره دَهغه په کورکښي یوپردي سړي اخته وو خوندئې پري اخستلو او نجومي نیزدي بازارکښي خلقوته دَ آسمان خبري خودلي. په دي باندي شیخ سعدي بابا اوونیل:

براوج فلک چه دانی چیست چوں نه دانی که در سرائے تو کیست

یعني ته به دَ آسمان دَاوچتوالی کومي خبري معلومي کړي چه تاته دا هم پته نه ده چه ستا په کورکښي څه کیږي؟

[۴۵۹۶] ستورو ته د باران کولو نسبت کول

۴۵۹۶-[۵] ()[۱] وَعَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «صَلَّى لَنَا رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - صَلَاةَ الصُّبْحِ بِالْحُدَيْبِيَةِ [۳] عَلَى أَثَرِ سَمَاءٍ كَانَتْ مِنَ اللَّيْلِ، [۴] فَلَمَّا انْصَرَفَ أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ [۵] فَقَالَ: "هَلْ تَدْرُونَ مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ؟" [۶] قَالُوا: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. [۷] قَالَ: "قَالَ: أَصْبَحَ مِنْ عِبَادِي مُؤْمِنٌ بِي وَكَافِرٌ،

---

[1] اخرجه مسلم فی کتاب السلام/باب تحریم الکهانة واتیان الکهان(رقم-۱۲۵ - (۲۲۳۰) واحمد فی المسند: ۶۸/٤

[2] اخرجه البخاری فی کتاب صلاة الجماعة والإمامة/باب یستقبل الإمام الناس إذا سلم (رقم-۸٤۶) ومسلم فی کتاب الإیمان/باب بیان کفر من قال: مطرنا بالنوء (رقم-۱۲۵ - (۷۱) والنسائی فی کتاب الاستسقاء/باب کراهیة الاستمطار بالکوکب (رقم-۱۵۲۵) ومالک فی الموطا کتاب الاستسقاء/باب الاستمطار بالنجوم (رقم-٤)واحمد فی المسند: ۱۱۷/٤

ترجمه: [۱] او حضرت زید ابن خالد جهني ﷺ وايي [۲] چې رسول الله ﷺ په مقام حديبيه کې مونځ ته د سحر مونځ راکړو، [۳] او په شپه کې باران شوي وو، [۴] کوم وخت چې حضور ﷺ د مانځه نه فارغه شو، نو زمونږ طرف ته متوجه شو، [۵] او وې فرمايل چې آيا تاسو پوهيږئ؟ چې ستاسو پروردګار دا وخت څه فرمايلي دي؟ (يعني حضور ﷺ ارشاد وکړو چې اوس په ما وحي نازله شوي ده) [۶] صحابه و ﷺ عرض وکړو چه الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ ښه پوهيږي، [۷] حضور ﷺ وفرمايل الله ﷻ فرمايلي دي چه زما بنده ګانو نن په داسې حال کې صبا کړو چې بعضو خو په ما ايمان راوړو، او بعضو کفر وکړو.

حل اللغات: ① أَثَرِ سَمَاءٍ: باران.

[۱] فَأَمَّا مَنْ قَالَ: مُطِرْنَا بِفَضْلِ اللّٰهِ وَرَحْمَتِهِ، [۲] فَذٰلِكَ مُؤْمِنٌ بِي كَافِرٌ بِالْكَوْكَبِ، [۳] وَأَمَّا مَنْ قَالَ: مُطِرْنَا بِنَوْءِ كَذَا وَكَذَا [۴] فَذٰلِكَ كَافِرٌ بِي مُؤْمِنٌ بِالْكَوْكَبِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] کوم سړي چې دا اوويل چې په مونږ د الله په فضل وکرم سره باران شوي دي، [۲] نو هغه په ما ايمان راوړو، او ستورو نه يې کفر وکړو (يعني د ستورو د اثر منکر دي) [۳] او کوم سړي چې دا اوويل چې د فلاني ستوري راختنو او د فلاني ستوري د غروب کيدو په وجه په مونږ باران شوي دي، [۴] نو هغه زما سره کفر وکړو، او په ستورو يې ايمان راوړو. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ② مُطِرْنَا: باران اوشو په مونږه، ③ نَوْءِ: ستوري.

تسهیلات:

قوله: مُطِرْنَا بِنَوْءِ كَذَا وَكَذَا فَذٰلِكَ كَافِرٌ بِي مُؤْمِنٌ بِالْكَوْكَبِ:

ستورى ته د باران کولو د نسبت دوه صورتونه: ① که چرې يوسړې په باران ورولوکښې يوستورى يعنى کمل سبب اومؤثر حقيقى ګڼړى نودا سړې کافرکيږى

② که چرې د ده عقيده داده چه باران خوصرف هم الله تعالى راوروى دا ستورى ظاهرى اسباب دى نودا کفرنه دې مګر داعقيده لرل هم مکروه دى. د حديث الفاظونه مطلق حرمت معلوميږى.

[۴۵۹۶] د باران په کيدو د بعضې خلقو کافر کيدل

۴۵۹۶-[۲] (¹) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] «مَا أَنْزَلَ اللّٰهُ مِنَ السَّمَاءِ مِنْ بَرَكَةٍ [۳] إِلَّا أَصْبَحَ فَرِيقٌ مِنَ النَّاسِ بِهَا كَافِرِينَ [۴] يُنْزِلُ اللّٰهُ الْغَيْثَ، [۵] فَيَقُولُونَ: بِكَوْكَبِ كَذَا وَكَذَا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

¹) اخرجه مسلم فى كتاب الايمان/باب بيان كفر من قال: مطرنا بالنوء (رقم-۱۲۶ - (۷۲) والنسائى فى كتاب الاستسقاء/باب كراهية الاستمطار بالكوكب (رقم-۱۵۲۴) واحمد فى المسند: ۲/۳۶۲

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] کله چې الله ﷻ د آسمان نه څه برکت نازلوي، [۳] نو د انسانانو څه نا څه جماعت د هغې په ذریعه په کفر کې مبتلا کیږي. [یعنی څه ناڅه خلق ضروروداسې وي چې دابرکت د الله ﷻ طرف ته د منسوب کولو په ځاي نورو ذرائع او د اسبابو طرف ته یې منسوب کوي [۴] لکه الله ﷻ چې باران وروي، [۵] نو بعضې خلق دا وايي چې د فلانې ستوري د اثر نه باران شوې دې. (مسلم)

حل اللغات: ① اَلْغَيْثُ: باران

تسهیلات:

قوله: مَا أَنْزَلَ اللهُ مِنَ السَّمَاءِ مِنْ بَرَكَةٍ:

دبرکة څخه مراد: په حدیث کښې د برکت نه مراد باران دې، او په دې کښې دویم احتمال دا هم دې چه د برکت نه عام یعنی هر قسمه برکت مراد دې.

نوټ: د حدیث الباب وضاحت دې څخه وړاندې د حدیث نمبر (۴۵۹۴) په شرح کښې تیرشوې دې.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۴۵۹۸] د علم نجوم د حاصلولو حکم

۴۵۹۸—[۷] (۱) [۱] عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "[۲] «مَنِ اقْتَبَسَ عِلْمًا مِنَ النُّجُومِ [۳] اقْتَبَسَ شُعْبَةً مِنَ السِّحْرِ [۴] زَادَ مَا زَادَ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُودَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] حضرت ابن عباس ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] کوم سړي چې د علم نجوم یوه حصه زده کوي، [۳] نو ګویا هغه د علم سحر یوه حصه زده کوي، [۴] دغه شان هغه دومره زیات د سحر علم زده کوي، څومره زیات چې علم نجوم زده کوي. (ابوداؤد احمد، ابن ماجه)

حل اللغات: ① اِقْتَبَسَ: راواخلی، زده کړی، ② زَادَ مَا زَادَ: څومره چه زیات کړی.

تسهیلات:

قوله: مَنِ اقْتَبَسَ عِلْمًا مِنَ النُّجُومِ اقْتَبَسَ شُعْبَةً مِنَ السِّحْرِ

دعلمِ نجوم د سحر سره د تشبیه وجه: د علم نجوم د سحر سره تشبیه ورکول د ذلت د اظهار دپاره دی چه علم نجوم د جادو په شان یو بد څیز دې، او څنګه چه جادو کفر یا کفر ته نزدی دې نو هم دغه شان علم نجوم هم کفر یا کفر ته نزدی دې لهذا د جادو په شان علم نجوم نه هم د ځان ساتلو حکم دې.

[۱]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الطب/ باب فی الکاهن (رقم-۳۹۰۵) وابن ماجه فی کتاب الأدب/باب تعلم النجوم (رقم-۳۷۲۶) واحمد فی المسند، ۱/۳۱۱

[۳۵۹۹] د کاهنانو خبرو لره د رښتیا ګڼړلو وعید

۳۵۹۹—[۸] (¹) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "[۲] «مَنْ أَتَى كَاهِنًا فَصَدَّقَهُ بِمَا يَقُولُ، [۳] أَوْ أَتَى امْرَأَتَهُ حَائِضًا، [۴] أَوْ أَتَى امْرَأَتَهُ فِي دُبُرِهَا [۵] فَقَدْ بَرِءَ مِمَّا أُنْزِلَ عَلَى مُحَمَّدٍ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړي چې کاهن ته ورشي، او د هغه وئيلی خبري ربنتيا وګڼي، [۳] يا کوم سړي چې د حيض په حالت کې د خپلي ښځي سره هم بستري اوکړي، [۴] يا کوم سړي چې د خپلي ښځي سره د وروسته د طرف نه بدفعلي کوي، [۵] نو هغه د هغه شي يعني د قرآن سنت او د شريعت نه، بيزاره شو، کوم چې په حضرت محمد ﷺ نازل شوي دي (احمد ابوداود)

تسهيلات:

قوله: فَقَدْ بَرِءَ مِمَّا أُنْزِلَ عَلَى مُحَمَّدٍ

د کاهن د خبري دتصديق دوه صورتونه: ① که چرې د نجومی تصديق نی هم اوکړو اودا حرام کارئی جلال هم اوګڼړلو نو په دې صورت کښې دا سړی واقعةً کافر شو

② که چرې دې سړی دې کارته حلال اونه وئيل بلکه دمعصيت په درجه کښې نی ګناه اوکړه نوبيا به دا حديث تشديد وتهديد اوتوبيخ وتغليظ باندې حمل وی

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۶۰۰] د کاهنانو د غيبو خبر ورکولو وجه

۳۶۰۰—[۹] (²) [۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- أَنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: "[۲] «إِذَا قَضَى اللّٰهُ الْأَمْرَ فِي السَّمَاءِ [۳] ضَرَبَتِ الْمَلَائِكَةُ بِأَجْنِحَتِهَا خُضْعَانًا لِقَوْلِهِ، [۴] كَأَنَّهُ سِلْسِلَةٌ عَلَى صَفْوَانٍ، [۵] فَإِذَا فُزِّعَ عَنْ قُلُوبِهِمْ [۶] قَالُوا: مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ؟ [۷] قَالُوا لِلَّذِي قَالَ: الْحَقَّ [۸] وَهُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيرُ.

ترجمه: [۱] د حضرت ابوهريره نه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۱] کوم وخت چې خداي ﷻ په آسمان کې د څه شي حکم جاري کوي [۳] نو فرشتي د خداي ﷻ فرمان اوريدو سره خوف او عاجزي سره خپل وزر وهل شروع کړي (يعني فرشتي د حکم الهي د هيبت او عظمت د ويرې نه د مرغانو په شان خپل وزرونه خوروي او رپيږي) [۴] او د خداي

(¹) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الطب/باب فی الكاهن (رقم-۳۹۰٤) والترمذی فی کتاب الطهارة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی کراهية إتيان الحائض (رقم-۱۳۵) واحمد فی المسند: ۲/۴۰۸

(²) اخرجه البخاری فی کتاب تفسير القرآن/باب ﴿حتى إذا فزع عن قلوبهم قالوا [ص:۱۲۲]: ماذا قال ربكم؟ قالوا: الحق وهو العلي الكبير﴾ (رقم-۴۸۰۰) والترمذی فی کتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة سبأ (رقم-۳۲۲۳) وابن ماجه فی کتاب فی الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فيما أنكرت الجهمية (رقم-۱۹۶)

ﷻ فرمان يعنى د هغه د كلام اواز گويا د هغه زنځير د اواز په شان شي چې هغه صاف كاڼي باندې راتيرول كيږي۵ بيا د فرشتو د زړونو نه چې خوف لرې شي ٦ نو لاندې فرشتې مقربو فرشتو نه پوښتنه كوي چې ستاسو پروردگار څه حكم جاري كړې دې؟۷ مقربې فرشتې ورته هغه حكم ښايي كوم چې پروردگار جاري كړې دې [يا مقربې فرشتې پوښتنه كونكو فرشتو ته وايي چې زمونږ پروردگار څه فرمايلي دي هغه حق دې]۸ او د خداي ﷻ ذات بلند قدر او بلنده مرتبې والادې

حل اللغات : ① ضَرَبَتْ: وهل او خوزول شروع كړې. ② خضعانًا : دَ عاجزنى او ويرې په وجه د متو حركت كول ③ سِلْسِلَةٌ: زنځير. ④ صَفْوَانٍ: مضبوط كمر، كاڼړي. ⑤ فُزِّعَ: د فرښتود زړونونه ويره لرې شي. ⑨ مُسْتَرِقُو: په غلا نې په پټه آورې.

۱ فَيَسْمَعُهَا مُسْتَرِقُو السَّمْعِ ۲ وَمُسْتَرِقُو السَّمْعِ هَكَذَا ۳ بَعْضُهُ فَوْقَ بَعْضٍ " ۴ وَوَصَفَ سُفْيَانُ بِكَفِّهِ فَحَرَّفَهَا، ۵ وَبَدَّدَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ " فَيَسْمَعُ الْكَلِمَةَ فَيُلْقِيهَا إِلَى مَنْ تَحْتَهُ ۶ ثُمَّ يُلْقِيهَا الآخَرُ إِلَى مَنْ تَحْتَهُ ۷ حَتَّى يُلْقِيَهَا عَلَى لِسَانِ السَّاحِرِ أَوِ الْكَاهِنِ. ۸ فَرُبَّمَا أَدْرَكَ الشِّهَابُ قَبْلَ أَنْ يُلْقِيَهَا ۹ وَرُبَّمَا أَلْقَاهَا قَبْلَ أَنْ يُدْرِكَهُ ۱۰ فَيَكْذِبُ مَعَهَا مِائَةَ كَذْبَةٍ. ۱۱ فَيُقَالُ: أَلَيْسَ قَدْ قَالَ لَنَا يَوْمَ كَذَا وَكَذَا: كَذَا وَكَذَا؟ ۱۲ فَيُصَدَّقُ بِتِلْكَ الْكَلِمَةِ الَّتِي سُمِعَتْ مِنَ السَّمَاءِ» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱ نو دا خبرې [چې د فرشتو په مينځ کې كيږي] په غلا سره اوريدونكې جنات او شياطين يې اورې ۲ او سفيان په غلا سره داوريدونكو هيئت د خپل لاس [د گوتو] په ذريعه بيان كړو ، ۳ چنانچه حضرت سفيان خپل لاس ككولو سره د گوتو په مينځ كښې فرق ته اوكړو ۴ اوسفيان په خپل ورغوى (لاس) سره دهغې كيفيت بيان كړلو ۵ او وې وئيل چې [هغه جنات او شياطين د آسمان نه زمكې پورې داسې سلسله وار لاندې باندې ولاړ وي او] پورته والا جنّ د فرشتو خبره په غلا غُلطئ اوريدو سره خپل لاندې والا جن ته رسوي ۶ او هغوئ يې خپل لاندې والا جن ته رسوي ۷ تردې چې آخري جن [كوم چې د ټولو نه لاندې وي] هغه خبره ساحر يا د كاهن ژبې ته رسوي [اخوا د هغه جناتو او شياطينو وهلو او تښتولو د پاره د آسمان نه شغلې ويشتل كيږي]۸ نو كله خو دا شغلې د ساحر يا كاهن پورې هغه خبره رسولو نه مخكې غلا غُلطئ سره اوريدونكې جنّ راونيسي ۹ او كله داسې كيږي چې هغه جن د هغه شغلې رسيدو نه مخكې ساحر يا كاهن ته هغه خبره ورسوي [او هركله چې هغه ساحر يا كاهن ته هغه خبره ورسوي] ۱۰ نو هغه پكښې سل دروغ خبرې شاملې كړي [او د خلقو مخكې د هغه دروغ خبرو په منځ كې هغه خبره هم بيانوي چې هغه ته د جناتو او شياطينو په ذريعه رسيږي نو هركله چې يوسړي هغه كاهن د هغه د دروغ خبرو په ذريعه دروغ جن كوي] ۱۱ [يعنى دا وايي چې هغه فلاني فلاني خبره كړي وه هغه دروغ ثابت شويده نو [د هغه گمراه خلقو د طرف نه چې د كاهن خبرې ريښتيا گڼي د

دروغجن کونکي مخکې دا وايي چې آيا دا حقيقت نه دي او آيا ته نه پوهيږي چې هغه کاهن فلاني فلاني ورځ مونږ ته فلاني خبره کړي وه! ⑫ او دغه شان د هغه کاهن د رښتيا ويلو تصديق د هغه خبرې نه کيږي چې هغه ته د جناتو په ذريعه د آسمان نه رسيدلي وه (بخاري)

حل اللغات: ⑦ لَحَرَفَهَا: نو دهغې هيئت ئې بيان کړو، ⑧ بَدَّدَ: جدائی او فراخی ئې راوستله، ⑨ الشِّهَابُ: د اورشغله، سکروټه،

تسهيلات:

قوله: وَوَصَفَ سُفْيَانُ بِكَفِّهِ لَحَرَفَهَا، وَبَدَّدَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ:

د غيبي د غلا کولو کيفيت بيان: يعنی سفيان ثوری رحمه الله د شيطانانو پورته دختو کيفيت اوخودلو چه هغوی لاس کوګ کړو اوګوتې ئې بنکته پورته کيخودې او په مينځ کښې ئې فرق اوکړو

نوټ: د حديث د مضمون وضاحت وړاندې د حديث نمبر (۴۵۹۳) په تسهيل کښې تيرشوې دي

[۴۶۰۰] د شهاب ثاقب حقيقت

۴۶۰۰ - [۱۰] (۱) ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: ② «أَخْبَرَنِي رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِنَ الْأَنْصَارِ: ③ أَنَّهُمْ بَيْنَا هُمْ جُلُوسٌ لَيْلَةً مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ④ رُمِيَ بِنَجْمٍ وَاسْتَنَارَ، ⑤ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ⑥ "مَا كُنْتُمْ تَقُولُونَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ إِذَا رُمِيَ بِمِثْلِ هٰذَا؟ ⑦" قَالُوا: اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، ⑧ كُنَّا نَقُولُ: وُلِدَ اللَّيْلَةَ رَجُلٌ عَظِيمٌ، ⑨ وَمَاتَ رَجُلٌ عَظِيمٌ.

ترجمه: ① او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما وايي ② چه د رسول الله ﷺ د انصاري صحابه رضی الله عنهم نه يو صحابي ماته بيان وکړو ③ چې يو وخت د شپې په وخت څه صحابه رضی الله عنهم د رسول الله ﷺ سره ناست وو ④ چې يو ستوري مات شو، او د هغې تيزه رڼا خوره شوه ⑤ ربه دي ليدو سره، رسول الله ﷺ صحابه رضی الله عنهم ته وفرمايل ⑥ تاسو به د جاهليت په زمانه کې داشان ستوري ماتيدو ته څه ويل؟ ⑦ هغوی عرض وکړو حقيقت حال خو الله او د هغه رسول ښه پيژني ⑧ مونږ خوبه دا ونيل چې نن شپه يو لوي سړي پيدا شوي دي ⑨ [او کله به مو دا ونيل چې] نن شپه يو لوي سړي مړ شوي دي [يعنی مونږ به داشان ستوري ماتيدل د څه لوي او اهمي واقعي علامه ګڼل].

حل اللغات: ① اسْتَنَارَ: رڼا ئې خوره شوه

---

(۱) اخرجه مسلم في كتاب السلام/باب تحريم الكهانة وإتيان الكهان (رقم-١٢٤ - (٢٢٢٩) والترمذي في كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة سبأ (رقم-٣٢٢٤) واحمد في المسند: ٢١٨/١

[۱] فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "فَإِنَّهَا لَا يُرْمَى بِهَا لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهِ،[۲] وَلٰكِنْ رَبُّنَا تَبَارَكَ اسْمُهُ إِذَا قَضَى أَمْرًا [۳] سَبَّحَ حَمَلَةُ الْعَرْشِ،[۴] ثُمَّ سَبَّحَ أَهْلُ السَّمَاءِ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ،[۵] حَتّٰى يَبْلُغَ التَّسْبِيحُ أَهْلَ هٰذِهِ السَّمَاءِ الدُّنْيَا،[۶] ثُمَّ قَالَ الَّذِينَ يَلُونَ حَمَلَةَ الْعَرْشِ لِحَمَلَةِ الْعَرْشِ: [۷] مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ؟

ترجمه: [۱] رسول الله ﷺ وفرمایل ستوري نه د چا په مرګ ماتیږي او نه د چا په پیدائش [۲] بلکې حقیقت حال دادي چې زمونږ رب چې د هغه نوم بابرکت دي هرکله چې یوحکم جاري کوي[۳] نو د عرشِ الهي پورته کونکي فرشتي تسبیح [یعنی دسبحان الله سبحان الله ورد کول] شروع کړي [۴] بیا د هغوی د تسبیح اواز اوریدو سره د آسمان فرشتي تسبیح کول شروع کوي کومې چې عرش پورته کونکي فرشتوته نزدې دي [۵] تردي چې د هغوئ اواز د یو دویم آسمان نه د دنیا آسمان باندې اوسیدونکو فرشتو ته ورسیږي[۶] بیا هغه فرشتي چې عرش پورته کونکو فرشتو ته نزدې وي، عرش پورته کونکو فرشتو نه پوښتنه کوي[۷] چه ستاسو پروردګار څه فرمایلي دي؟

حل اللغات: ② سَبَّحَ: تسبیح ونیل شروع کړی. ③ حَمَلَةُ الْعَرْشِ: د عرش پورته کونکي فرشتي. ④ يَلُونَ: چه نزدې دی.

[۱] فَيُخْبِرُونَهُمْ مَا قَالَ [۲] فَيَسْتَخْبِرُ بَعْضُ أَهْلِ السَّمَاوَاتِ بَعْضًا [۳] حَتّٰى يَبْلُغَ هٰذِهِ السَّمَاءَ الدُّنْيَا،[۴] فَيَخْطَفُ الْجِنُّ السَّمْعَ،[۵] فَيَقْذِفُونَ إِلٰى أَوْلِيَائِهِمْ،[۶] وَيُرْمَوْنَ،[۷] فَمَا جَاءُوا بِهِ عَلٰى وَجْهِهِ فَهُوَ حَقٌّ،[۸] وَلٰكِنَّهُمْ يَقْرِفُونَ فِيهِ[۹] وَيَزِيدُونَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] هغه فرشتي هغوئ ته هغه خبره ښایي کومه چې پروردګار فرمایلي وي[۲] بیا هغه خبره هغوئ نه نوري فرشتي پوښتنه کوي او د هغوئ نه نوري فرشتي[۳] تردي چې دا سلسله د دنیا آسمان باندې اوسیدونکو ته رسیږي[۴] بیا د هغوئ نه اوریدلي خبره جنات راوتښتوي [یعنی هغوئ غوږ لګولو سره د داسې خبرو منتظر وي او هرکله چې هغوئ په غلا غُلطئ څه خبره واوري] [۵] نو د هغه ځای نه یي خپلو دوستانو یعنی کاهنانو ته رسوي [۶] نو د دې جنات وهلو د پاره ستوري ویشتل کیږي . [نو د دې ستورو د ویشتلو سبب دادي ، نه هغه د کوم چه تاسو اعتقاد لرئ یعنی د چا مرګ یا پیدائش وغیره] [۷] دغه شان کاهن که هغه خبره چې آسمان نه اوریدل شوي وي [او د جناتو په ذریعه هغه ته رسیدلي وي هغسې یعنی] په هغې کې د څه تصرف او کمي پیشي څخه بغیر بیان کړي نو هغه یقیناً صحیح ثابتیږي[۸] لیکن هغه [کاهن داسې نه کوي بلکه] په هغې کې د دروغو خبري شاملوي [۹] او د یوي خبري نه ډیري خبري جوړ وي (مسلم)

حل اللغات: ⑤ فَيَخْطَفُ: نو راتښتوی ئې. ⑥ فَيَقْذِفُونَ: نو غورځوی ئې، رسوی ئې. ⑦ وَيُرْمَوْنَ: نو دوی ویشتلي کیږی. ⑧ عَلٰى وَجْهِهِ: هم هغسې څنګه ئې چه اوریدلي وی. ⑨ يَقْرِفُونَ: دروغ پکښې شاملوی.

تسهيلات:

قوله: مَا كُنْتُمْ تَقُولُونَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ إِذَا رُمِيَ بِمِثْلِ هَذَا؟:

دنبی علیه السلام دتپوس مقصد نبی کریم ﷺ ته د جاهلیت امورو متعلق علم وو لهذا د نبی کریم ﷺ صحابه کرامو نه سوال کول د پوهې دپاره نه وو بلکه ددی دپاره وو چه که هغوی د زمانه جاهلیت د اعتقاد مطابق جواب ورکړی نو چه نبی کریم ﷺ د هغوی غلطو عقائدو ازاله وکړی.

[۳۶۰۲] د ستورو د پیدائش مقاصد

۳۶۰۲ـ[۱۱] (¹) [۱] وَعَنْ قَتَادَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] خَلَقَ اللَّهُ تَعَالَى هَذِهِ النُّجُومَ لِثَلَاثٍ: [۳] جَعَلَهَا زِينَةً لِلسَّمَاءِ، [۴] وَرُجُومًا لِلشَّيَاطِينِ، [۵] وَعَلَامَاتٍ يُهْتَدَى بِهَا، [۶] فَمَنْ قَالَ فِيهَا بِغَيْرِ ذَلِكَ [۷] أَخْطَأَ وَأَضَاعَ نَصِيبَهُ [۸] وَتَكَلَّفَ مَا لَا يَعْلَمُ. [۹] رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ تَعْلِيقًا - [۱۰] وَفِي رِوَايَةِ رَزِينٍ: (وَتَكَلَّفَ مَا لَا يَعْنِيهِ [۱۱] وَمَا لَا عِلْمَ لَهُ بِهِ، [۱۲] وَمَا عَجَزَ عَنْ عِلْمِهِ الْأَنْبِيَاءُ وَالْمَلَائِكَةُ).

ترجمه: [۱] او حضرت قتاده رحمه الله وايي [۲] چه خداي ﷻ ستوري د دريو خبرو د پاره پيدا کړي دي [۳] يو خو دا چې هغه يې د آسمانونو زينت جوړ کړي دي [۴] او دويم د شياطينو او جناتو وهلو د پاره [۵] او دريم علاماتو د پاره چې خلق د هغې په ذريعه [ځنګل او درياب کې] خپله لار معلومه کړي شي [۶] نو کوم سړي چې دې ستورو کې د دې دريو خبرو نه علاوه بل څه غرض بيان کړو [۷] نو هغه خطاء وکړه او خپله حصه يې ضائع کړله [۸] او بيا په هغه شي کې يې تکليف وکړو چې په هغې هغه نه پوهيږي [يعني د آسمان څيزونو باره کې چې کوم حقوق دي د هغې علم د قرآن او سنت نه علاوه بلې څه ذريعې سره حاصلول ممکن نه دي او هرکله چې قرآن او په سنت کې د ستورو غرض دې دريو خبرو نه علاوه نور هيڅ نه دي بيان شوی نو مذکوره خبرو نه علاوه بل څه غرض بيانول د داسې خبرې بيانول دي چې د هغې معلومول متصور نه دي] [۹] دا روايت بخاري رحمه الله بغير د سند نه نقل کړي دي [۱۰] او د رزين روايت کې دا الفاظ دي چې هغه د هغه شي تکلف وکړو چې هغه ته هيڅ فائده نه رسوي [۱۱] او په هغه شي کې تکلف وکړو [يعني په هغه شي د پوهيدو دعوې يې وکړه] چې د هغه هغه ته علم نشته [۱۲] او په هغه شي کې يې تکليف وکړو چې د هغه د علم نه انبياء او فرشتې عاجزه دي.

[۱] وَعَنِ الرَّبِيعِ مِثْلُهُ [۲] وَزَادَ: وَاللَّهِ مَا جَعَلَ اللَّهُ فِي نَجْمٍ حَيَاةَ أَحَدٍ وَلَا رِزْقَهُ وَلَا مَوْتَهُ [۳] وَإِنَّمَا يَفْتَرُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ [۴] وَيَتَعَلَّلُونَ بِالنُّجُومِ.

ترجمه: [۱] او ربيع نه هم ددې پشان روايت دی او په هغې کښې يې دا هم ورسره زيات کړی دی

¹) اخرجه البخاری تعليقا فی کتاب بدء الخلق/باب فی النجوم

[۲] چې قسم په الله چې الله تعالی په دې ستوروکې نه دچا ژوندايښې دې نه د چا رزق او نه د چا مرګ[۳] د دې نه ماسوا نور هيڅ نه دې چې کاهن د خداې ﷻ باره کې دروغ افتراء ګاني کوي [۴] او د ستورو راختل او ډوبيدل د څه واقعې او حادثې علت ګرځوي

حل اللغات: ① رُجُومًا: و يشتونکی، ② يُهْتَدَي: لار پرې معلوموی، ③ أَضَاعَ: ضايع ئې کړو.

تسهيلات:

قوله: خَلَقَ اللّٰهُ تَعَالٰى هٰذِهِ النُّجُومَ لِثَلَاثٍ:

دشهابِ ثاقب پيژندګلو: دَ شهاب ثاقب باره کښې دَ بعضې علماؤ خيال دې چه داعام ستورى نه دى بلکه دَ جناتو دَ ويشتلو دَپاره مستقل شغلې اوراکتې دى په ظاهره دادَ آسمان ستورى ښکارى اواګرچه داهم ستورى دى ليکن په آسمان کښې مرکوز ستورى نه دى. والله اعلم

د آسمانی ستورو دتخليق درې مقاصد: ① دَ دنيا دَ آسمان دَ ښائست دَپاره دى څکه چه آسمان دَ انسانانودَپاره په منزله دَ چهت دې او په چهت کښې خلق دَ رڼا او ښائست کولودَپاره مختلف څيزونه لګوى. الله تعالى په خپل جوړشوى چهت کښې دَ ښائست او رڼا دَپاره نمر او سپوږمئى او ستورى لګولى دى ﴿وَلَقَدْ زَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيحَ وَجَعَلْنٰهَا رُجُومًا لِّلشَّيٰطِينِ﴾ [سورة ملک:۵]

② دَ ستورو لګولودويم مقصد دَ شيطانانو ويشتل دى کوم چه پورته څيزى په هغوى باندې شغله پريوځى.

③ دَ ستورو دَ پيدا کولودريم مقصد دَ دنيا دَ خلقو لارخودنه ده که سمندر وى که دشت وى که بيابان وى اوکه صحرا په دې ايتمى دورکښې هم انسان دَ ستورونه رهنمائى حاصلوى اودې نه بې پرواه کيدې نه شى.

[۳-۳] دکاهن حکم

۳-۴۳ - [۱۲] (۱) [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[۲] «مَنِ اقْتَبَسَ بَابًا مِنْ عِلْمِ النُّجُومِ [۳] لِغَيْرِ مَا ذَكَرَ اللّٰهُ [۴] فَقَدِ اقْتَبَسَ شُعْبَةً مِنَ السِّحْرِ [۵] الْمُنَجِّمُ كَاهِنٌ، [۶] وَالْكَاهِنُ سَاحِرٌ، [۷] وَالسَّاحِرُ كَافِرٌ» ". رَوَاهُ رَزِينٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړي چې د علم نجوم څه حصه زده کړله[۳] او د زده کولو غرض اد هغه دريو څيزونو نه[۱] علاوه څه بل شي سره متعلق وي اکوم چې خداې ﷻ په قرآن کريم کې ذکر فرمايلي دي او د هغې بيان په حديث کې تير شوا[۴] نو هغه بلاشبه د سحر د علم يوه حصه زده کړله . [حالانکه چې د

(۱) رواه رزين

سحر علم یو خراب علم دي ځکه چې د دې بعضې قسمونه فسق کې دا خل دي او بعضې قسم موجب کفر دي] ⑤ او [یا د لري] منجم (د نجوم په علم پوهیدونکي) د کاهن په حکم کې دي [ځکه چې د کاهن په شان منجم هم د بعضې علاماتو په ذریعه د غیب خبر ورکوي] ⑥ اوکاهن د ساحر حکم لري [ځکه چې کاهن هم د خرابو خبرو ارتکاب کوي او خلقوته نقصان رسوي] ⑦ او ساحر [کوم سړي چې سحر وکړي او د هغې د جائز کیدو اعتقاد لري نو هغه] کافر کیږي [دغه شان منجم او کاهن هم د خپلې بد اعتقادۍ په بناء کافر کیږي]. (رزین)

حل اللغات: ① اُقْتَبَسَ: زده کړی، ② اَلْمُنَجِّمُ: نجوموی، د ستورو علم لرونکي،

تسهیلات:

قوله: اَلْمُنَجِّمُ كَاهِنٌ:

نجومی ته د کاهن وئیلو وجه: نجومی ځکه کاهن اوګرځولې شو چه دواړه دَ یوجنس خلق دی یومیدان دې اوهم یوکاردې ځکه چه نجومی هم دکاهن په شان دَ غیب په خبروکښې اولته اوسیده خبرې جوړوی اوبیانی بیانوی.

قوله: وَالْكَاهِنُ سَاحِرٌ:

کاهن باندې د ساحر د اطلاق وجه: اوکاهن ته په دې وجه ساحر اووئیلې شوچه کوم نقصان انسانانوته جادوګر رسوی هم هغه نقصان کاهن هموررسوی. لهذا ضرر اونقصان دَدواړو یوشان دې نوکاهن ساحر دې اووالساحرکافر یعنی جادوګر کافر دې.

[۳۶۰۵] ستورولره د مؤثر حقیقی ګنړلو حکم

۳۶۰۵—[۱۳] ([1]) ① وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "② «لَوْ أَمْسَكَ اللهُ الْقَطْرَ عَنْ عِبَادِهِ خَمْسَ سِنِينَ، ثُمَّ أَرْسَلَهُ ③ لَأَصْبَحَتْ طَائِفَةٌ مِنَ النَّاسِ كَافِرِينَ، يَقُولُونَ: ④ سُقِينَا بِنَوْءِ الْمِجْدَحِ»". رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت ابوسعید ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② که خدای ﷻ (مثلاً) پنځه کاله پورې خپل بندګان د باران نه محروم وساتي او بیا باران وورو ③ نو د خلقو یو جماعت (چې نجوم باندې اعتقاد لري) په دې صورت کې به هم کفر کولو سره دا وایي ④ چې مجدح [یعنی د قمر د منزل] په سبب په مونږ باران شوي دي (نسائي)

حل اللغات: ① أَمْسَكَ: بند اوساتی، ② اَلْقَطْرَ: باران، ③ لَأَصْبَحَتْ: نو اوبه ګرځی، ④ بِنَوْءِ الْمِجْدَحِ: د قمر د منزل په سبب،

[1]) اخرجه النسائی فی السنن رقم الحدیث ۱۵۲۶

تسهيلات:

قوله: سُقِينَا بِنَوْءِ الْمِجْدَحِ

دمجدح پيژندګلو: مجدح دَميم په كسرې سره دې جيم ساكن دې په دال باندې زبردې دَ سپوږمئى دَمنازلو نه دَ يو منزل نوم دې.

دجاهليت دغلطې عقيدې د باطلوالى دليل: دَ جاهليت په زمانه كښې دَ عربوخيال وو چه په دې منزل كښې كله سپوږمئى داخليږى نو ښه بارانونه كيږى. نبى كريم داعقيده باطله اوګرځوله اودَ دليل په توګه ئى اشاره اوفرمائيله چه مثلاً پنځه كاله چه باران بند شوې وو نومجدح منزل چرته وو هغه باران ولې اونه ورولو. كه چرې باران مجدح منزل ورولو نو دا موجود وو اوباران نه وو. اوس چه الله تعالى باران راؤورولو نوخلقو دَمجدح طرف ته نسبت اوكړودا ډيره دَ افسوس خبره ده.

[۲۴] كِتَابُ الرُّؤْيَا

دَخوبونوبيان

خلاصة الباب:

فيه عشرون حديثاً مشتملة على ثمانى مسائل:

① فضيلة الرؤيا الصالحة: ۱ ،۲، ۶، ۸، ۱۵.

② رؤية النبي ﷺ في النوم: ۳، ۴، ۵.

③أقسام الرؤيا : ۶، ۸.

④آداب الرؤيا: ۶، ۹.

⑤ حكم الرؤياء المكروهة: ۶، ۷.

⑥ أوقات صدق الرؤيا: ۸، ۲۰.

⑦ تعبير بعض الرؤيا الخاصة: ۸، ۱۰ ،۱۱، ۱۲، ۱۳ ، ۱۴ ، ۱۶، ۱۷، ۱۸.

⑧ الزجر ببيان الرؤيا الكاذبة: ۱۹.

د رؤيا په تعريف كښې اقوال: ① واحدى فرمائى په اصل كښې دامصدر دې لكه يسرى بيا دا دَ اسم په ځاى باندې استعماليدل شروع شو. امام راغب فرمائى الرؤية بالهاء ادراك المرأ بحاسة البصر يعنى په سترګو سره كتلو باندې دَ دې اطلاق كيږى دغه شان دَ مايدرك بالتخيل دَ پاره هم استعماليږى مثلاً ارى ان زيدًا مسافرًا. دې نه علاوه تفكر نظرى اودَ رائې په معنى كښې هم راځى.

② علامه قرطبي رحمه الله وائی چه بعض علماؤ فرمائیلی دی چه رؤیا په معنی دَ رؤیة هم په قرآن کریم کښې وارد دې قال تعالی ﴿وَمَا جَعَلْنَا الرُّءْيَا الَّتِيْٓ اَرَيْنٰكَ اِلَّا فِتْنَةً لِّلنَّاسِ﴾ څکه چه دلته دَ رؤیا نه مراد هغه عجائبات دی چه دَ معراج په شپه حضورپاک ﷺ خودلې شوی وو او جمهور فرمائی دَ معراج دَ شپې وقوع یقظةً شوې دی وهوالقول الاصح

په رؤیا او رؤیة کښې فرق: رؤیا او رؤیة دواړه مصادر دی. د دوه حروف تانیث په ذریعه په دواړو کښې فرق اوکړې شو، یعنی په رویة کښې تاء تانیث راوړلو سره او په رؤیا کښې الف تانیث راوړلو سره فرق اوکړې شو رؤیا د حرف راء نه پس په همزې سره مشهور دې او کله د تخفیف دپاره همزه په واؤ سره بدل کړې شی صاحب الکشف فرمائی چه رؤیة په سترګو سره لیدل دی، بقال رأی رؤیة په سترګو لیدل. او رؤیا بغیر د تنوین نه په خوب کښې لیدل (مقدمة فتح الملهم ٧٣. والبیضاوی ٢/٢٦٣)

دَ خوب حقیقت: په تفسیر مظهری کښې قاضی ثناء الله پانی پتی فرمائی دَ خوب حقیقت دادې چه انسانی نفس دَ خوب په وخت کښې یا د بې هوشئی په سبب دَ ظاهری بدن دَ تدبیرنه اوزګار شی نوهغه ته دَ هغه دَ خیالی قوت دَ لارې نه څه صورتونه ښکاری هم دَ دې نوم خوب دې.

د خوب درې قسمونه: ① کله سړې په خوب کښې هم هغه صورتونه وینی کوم چه دَ بیدارئی په حالت کښې ګوری دې ته حدیث النفس وائی.

② کله شیطان څه صورتونه او واقعات دَ ده په ذهن کښې اچوی کله خوشحاله کونکې او کله ویرونکې دیته تسویل الشیطان وائی دا دواړه قسمونه باطل دی دَ کوم چه هیڅ اصلیت اوحقیقت نشته دې اونه دَ دې څه واقعی تعبیر کیدیشی.

③ دَ الله تعالی دَ طرف نه یوقسم الهام دې چه خپل بنده خبردار کوی اویا دَ زیری ورکولو دَ پاره کولې شی الله تعالی دَ خپل غیب دَ خزانونه دَ بنده په زړه او دماغ کښې اچوی داخوب صحیح او حقیقت دې په حدیث شریف کښې دی دَ مؤمن خوب یو کلام دې په کوم کښې چه هغه خپل رب سره دَ خبرو اترو شرف حاصلوی (طبرانی)

دَ خوب باره کښې دَ صوفیاؤ قول: صوفیاء حضرات فرمائی په عالم کښې چه څومره څیزونه په وجود کښې راتلونکی دی دَ دې په وجود کښې دَ راتلونه وړاندې هرڅیز په یوخاص شکل کښې عالم مثالی کښې وی او په دې عالم مثال کښې چه څنګه جواهر او حقائق ثابته صورتونه او شکلونه وی دغه شان دَ معانی او اعراضو هم خاص شکلونه وی په خوب کښې چه کله انسانی نفس دَ ظاهر بدن دَ تدبیرنه فارغ شی نوبعض وخت دَ هغه تعلق عالم مثال سره کیږی اوهلته چه دَ کائنات کوم شکلونه دی هغه ده ته ښکاری اوبیادا شکلونه ده ته دَ عالم غیب نه ښکاری. اوبعض وخت په دې کښې څه غوارض داسې پیدا

کيږي چه اصل حقيقت سره څه باطل خيالات يوځاى کيږي او هم په دې وجه تعبير کونکو ته دَ دې په تعبيرپوهيدل گران شي او بعض وخت هغه دَ ټولو عوارضو نه پاک اوصفا وى نوهم دغه اصل حقيقت وى خو په دې کښې بعض دَ بنه تعبير کولو محتاج وى ځکه چه په دې حقيقت واقعه واضح نه وى كه په داسې صورت کښې هم تعبيرغلط شي نوواقعه مختلف کيږى دَ دې دَ پاره به صرف هغه خوب صحيح او الهام دَ الله تعالى دَ طرف نه اوحقيقت ثابته وى کوم چه دَ الله تعالى دَ طرف نه وى او په دې کښې څه عوارض هم شامل نه وى او تعبيرئى هم صحيح ورکړې شوې وى دَ پيغمبرانو عليهم السلام ټول خوبونه به هم داسې وو هم په دې وجه دَ هغوى خوب ته دَ وحى درجه ورکړې شوې ده دَ عامو مسلمانانو په خوبونوکښې هرقسم احتمال کيدې شى په دې وجه هغه دَ چادَ پاره حجت او دليل کيدې نه شي دَ دوى په خوبونوکښې بعض وخت طبعى او نفسانى صورتونو گډوډوالې وى او بعض وخت دَ گناهونو ظلمت او خرابوالې په صحيح خوب باندې راخور شى او هغه ناقابل اعتماد جوړکړى او بعض وخت صحيح تعبير په سوچ او پوهه کښې نه راځى

داهل سنت والجماعت په نيزدخوب حقيقت: دَ جمهورو اهل سنت والجماعة په نيز خوبونه تصورات دى کوم چه الله تعالى دَ بنده په زړه کښې پيدا کوى کله دَ فرښتې په واسطه او کله دَ شيطان په واسطه علامه طيبى رحمه الله فرمائيلى دى دَ خوبونوحقيقت دادې چه الله تعالى دَ خوب ليدونکى په زړه کښې علوم او پوهه پيدا کوى څنګه چه کله الله تعالى دَ بنده په زړه کښې بيدارئى کښې علوم راپيداکوى اودَ نائم په زړه کښې دَ داسې علومو راپيداکول دَ نورو امورو علامت وى چه وړاندې تګ سره عارض کيږى او هم هغه دَ دې تعبير کيږى لکه چه اوريځ دَ باران علامت دې دغه شان دَ نائم په زړه کښې دَ علومو پيداکيدل دَ نورو امورو علامت دې

خوب دطبيبانوپه نظرکښې: دَ طبيبانو خيال دې چه دَ سړى په مزاج کښې چه کله دَ کوم خلط غلبه وى هم دَهغې په مناسبت سره په خيالونو کښې راځى لکه چه دَ چا مزاج بلغمى دې نو اوبه اودَ هغې سره تعلق لرونکى څيزونه درياب سمندر په اوبو باندې پورې وتل وغيره به گورى او په چا کښې چه دننه دَ صفراء غلبه ده نوهغه به اُور اودَ دې متعلق څيزونه گورى يا به په هوا کښې الوتل وغيره وينى. على هذاخلط الدم والسوداء

خوب د فلسفيانوپه نظرکښې: فلاسفه وائى چه کوم واقعات په عالم راپيداکيږى دَ هغې مثال صورت دَ فوتو په شکل کښې په عالم بالا کښې نقش دې دَ نفس وړاندې دَ دې نه يوڅيز راځى نودا منعکس کيږى دَ خوب دَ حقيقت باره کښې نور هم ډير اقوال دى خو په هغې باندې څه برهان قائم نه دې بلکه محض تخيلات دى

دخوب دتعبيراصول: دَ ابن سيرين رحمه الله طرف ته منسوب کتاب الرؤيا په شروع کښې دغه

اصول طرف ته اشاره کړې شوې ده دهغې خلاصه داده.

① چه دعربی لغت نه استفاده اوکړی اودهغې په امدادسره تعبیر اوویستلې شی. هم دغه وجه ده چه د خوب تعبیرېه داسې سړی باندې ویستل پکاردی چه دخوب لیدونکی خیرخواه هم وی اوتعبیرویستلو او د قواعدو ماهرهم وی

② چه دقرآن پاک یوآیت یا د حدیث الفاظو ته اوکتلې شی اودهغې په رڼاکښې تعبیراوویستلې شی

③ چه دشریعت د قواعدو او ضوابطو لاندې د شریعت په رڼاکښې دخوب تعبیر اولټولې شی اوبیا تعبیراوویستلې شی.

دخوب شرعی حیثیت: دخوب شرعی حیثیت دادې چه دانبیاءکرامو خوب دوحی خفی درجه لری اود نورو صالحانو خوب که دشریعت څه ضابطې سره نه ټکراوېږی نوداسې خوبونه د تسلئی سبب وی. دې سره څه شرعی ضابطه نه جوړېږی. په احادیثو کښې رښتونی خوبونه مبشرات سره یادکړې شوی دی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۳۶۰۶] د نیک مسلمان د خوب رښتینوالی

۳۶۰۶-[۱] (¹) ① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "② «لَمْ يَبْقَ مِنَ النُّبُوَّةِ إِلَّا الْمُبَشِّرَاتُ" ③ قَالُوا: وَمَا الْمُبَشِّرَاتُ؟ ④ قَالَ: "الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایې چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② د نبوت د آثارو نه (اوس) هیڅ نه دې پاتې شوې علاوه د مبشراتو نه ③ صحابه و رضی الله عنهم عرض وکړو (یا رسول الله) د مبشراتو نه څه مراد دې؟ ④ حضور ﷺ ورته وفرمایل ښه خوب. (بخاري)

حل اللغات: ① الْمُبَشِّرَاتُ: زیری.

۳۶۰۷-(²) ① وَزَادَ مَالِكٌ بِرِوَايَةِ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ: "② «يَرَاهَا الرَّجُلُ الْمُسْلِمُ أَوْ تُرَى لَهُ»".

ترجمه: ① او امام مالك رحمه الله په هغه روایت کې چې هغوی د حضرت عطاء ابن یسار رحمه الله نه نقل کړي دي دا الفاظ هم نقل کړي دي [هغه ښه خوب] چې مسلمان یې خان د پاره ویني یا د هغه باره کې یې بل سړي ویني.

تسهیلات:

قوله: لَمْ يَبْقَ مِنَ النُّبُوَّةِ إِلَّا الْمُبَشِّرَاتُ:

---

¹) اخرجه البخاری فی کتاب التعبیر /باب المبشرات (رقم-۶۹۹۰) وابوداود فی السنن رقم الحدیث ۵۰۱۷

²) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الرؤیا عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب قوله لهم البشری فی الحیاة الدنیا (رقم-۲۲۷۳) ومالک فی الموطا کتاب الرؤیا/باب ما جاء فی الرؤیا (رقم-۳)

دمبشرات څخه مراد: داد بشارت نه دي زيری ته وائی يعنی دَ نبوت دروازه اوس بنده شوي ده دَ نبی آخرالزمان نه پس بل څوك نبی راتلونكي نشته. لهذا دَ آسمانی وحی نزول ختم شوي دي. اوس دَ خوب په شكل كښې صرف بشارتونه پاتې دی.

په خوبونو ده مبشرات د اطلاق وجه: په خوب كښې چونكه غالب عنصردَ بشارت وی په دې وجه دَ غلبې په توګه دا غالب حيثيت مطلقاً مبشرات ګرځولې شوی دی ګنی بعضې خوبونه رښتياوی. ليكن په هغې كښې دَ بشارت په ځائی نذارت وی يعنی دَ غم خبر وی. هم په دې وجه بعضو علماؤ وئيلی دی چه دلته دَمبشرات نه مراد مطلق خبر مراد دې. كه هغه په بشارت باندې مشتمل وی اوكه په نذارت باندې مشتمل وی.

[۴۳۰۸] د ښه خوب د نبوت حصه کيدل

۴۳۰۸—[۲] ()[۱] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ وَأَرْبَعِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضي الله عنه وايي چی رسول الله ﷺ وفرمايل[۲] ښه خوب د نبوت په شپږ څلويښت (۴۶) حصو كې يوه حصه ده . (بخاري ، مسلم)

تسهيلات:

قوله: جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ" يعنی رښتونی خوب دَ نبوت دَ څلويښتمه حصه وی.

د نبوت د جزء کيدو په باره کښې مختلف روايات: په دې روايت كښې دَ ۴۶ عدد ذكر دې. دَ دې نه علاوه نورو رواياتو كښې مختلف شمير ذكر دې. ۴۴، ۴۵، ۴۷، ۴۹، ۵۰، ۷۰، ۷۶، ۲۴، ۷۲، ۴۲، ۲۵، ۲۶، ۴۰. حافظ ابن حجر رحمه الله دا ټول ذكر كړی دی.

د اجزاؤ د تعداد په اختلاف کښې تاويل: قرطبی رحمه الله فرمائی دَ اجزاء دَ تعدد دا اختلاف دَ خوب ليدونكو دَ مختلفو حالاتو په وجه دې. په امانت صدق او نيتونوكښې خلق مختلف وی نودَ هغوی په خوبونو كښې دَ اجزاء اختلاف دې.

خوب د نبوت د جزء کيدو په مفهوم کښې اقوال: ① په تفسير مظهری كښې دَ دې توجيه دابيان كړې شوې ده چه په رسول الله ﷺ باندې دَ نبوت دَوحی سلسله درويش كاله جاری وه. په دې كښې رومبو شپږو مياشتو كښې دَ الله تعالی وحی دَ خوبونو په شكل كښې راتله باقی پنځه څلويښت ششماهی جبرائيل امين دَ الله تعالی پيغام دَ انسان په شكل كښې راوړلو دغه شان رښتونی خوبونه دَ وحی نبوت شپږ څلويښتمه حصه شوه او په كومو روايتونوكښې چه كم و بيش مذكوردی په هغې كښې خويا تقريبی كلام كړې شوې دې يا

[۱]) اخرجه البخاری فی كتاب التعبير /باب رؤيا الصالحين (رقم-۶۹۸۳) ومسلم فی كتاب الرؤيا (رقم-۷ - (۲۲۶۴) ومالك فی الموطا كتاب الرؤيا/باب ما جاء فی الرؤيا (رقم-۱)

هغه سنداً ساقط دی.

② علامه قرطبی رحمه الله فرمائی دَ نبوت دَ جز نه مراد دادې چه په خوب کښې انسان بعض وخت داسې یوځیز ګوری کوم چه دَهغه په قدرت کښې نه وی مثلاً دې ګوری چه په آسمان باندې الوزی یا دَ غیب نه داسې ځیز اوګوری دَ کوم حاصلول چه دَهغه په قدرت کښې نه وی نودَ هغې ذریعه بغیر دَ امداداو الهام دَ الله تعالی نه نور هیڅ هم نشی کیدې کومه چه اصل خاصه دَ نبوت ده په دې وجه ئې دې ته دَ نبوت جزء اوونیل

③ بعض اهل علم فرمائیلی دی چه دَ جزء نه جزء منطقی مراد نه دې چه هغه کل سره وی بلکه دَ دې معنی داده چه نیک خوبونه دَ لواحق نبوت او صفاتو دَ انبیاء کرامو نه دی اودَ انبیاء کرامو صفاتوسره غیرنبی هم متصف کیدیشی نولکه نیکو خوبونو ته ئې جزء وئیلو سره دَ دې تعریف او اوچته درجه بیان کول مقصود دی چه دا دَ نبوت یوه حصه ده.

④ بعض حضرات فرمائی دَ روایت مطلب دادې چه رښتوني خوب د علم نبوت د اجزاء نه دې نه چه دَ نبوت نه دې ځکه چه علم نبوت باقی دې او نبوت متجزی نه دې اودا منصب ختم شوې هم دې اوس څوک نبی راتلونکې نشته.

⑤ بعض علماء کرام فرمائی دلته دَ نبوت اصطلاحی معنی مراد نه ده معنی اعلام مراد ده. اوس به معنی شی رؤیا خبر صادق دې دَ الله تعالی دَ طرف نه لکه څنګه چه نبوت نباء صادق دې دَ الله تعالی دَ طرف نه نو رؤیا صالحه مثل نبوت دی دَ خبرصادق کیدلو په اعتبارسره.

⑥ ملاعلی قاری او نور شراح فرمائی بهتر دا دی چه اووئیلې شی په حدیث کښې خوب لیدلوته اجزاء نبوت وئیلې شوې دې او اجزاء نبوت هم انبیاء کرام علیهم السلام پیژنی مونږ ته معلوم نه دی مجملاً هم دومره معلومیدل کافی دی چه ښه خوب زیرې دې

تنبیه: دلته خلق غلط شوی دی چه دَ نبوت د جزء په دنیا کښې باقی پاتې کیدل او جاری کیدل ئې دَ نبوت باقی او جاری پاتې کیدل ګنړلی دی کوم چه دَ قرآن کریم دَ قطعیه نصوص او بې شمیره احادیثو صحیحه نه خلاف دی بلکه دَ اجماع امت نه هم خلاف دی ځکه چه عقیده دَختم نبوت اجماعی مسئله ده او دا اونه ګنړئی چه دَ یوځیز یو جزء موجود کیدو سره د اصل ځیز وجود لازم راځی. که دَ یوسړی یونوک دې یا یوویښته چرته موجود دې نو یوانسان دا وئیلې شی چه دلته هغه سړې موجود دې؟ که دَ مشین دَ ټولو پرزونه ځاسره یوه پرزه موجود وی نو ولې دې ته دَ ټول مشین موجود کیدل وئیلی شی؟

[۳۶۰۹] د نبی کریم ﷺ په خوب کښې لیدل

۳۶۰۹-[۳]([1]) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] «مَنْ رَآنِي فِي الْمَنَامِ فَقَدْ رَآنِي [۳] فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لَا يَتَمَثَّلُ فِي صُورَتِي». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او د حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] کوم سړي چې زه په خوب کې ولیدم هغه په حقیقت کې زه ولیدم [۳] ځکه چې شیطان ځما په صورت نشي جوړیدي (بخاري ، مسلم)

حل اللغات: ① لَا يَتَمَثَّلُ: په مثل نه شي جوړیدي، صورت نه شي جوړولي.

تسهیلات:

قوله: مَنْ رَآنِي فِي الْمَنَامِ فَقَدْ رَآنِي:

په مذکور جمله کښې بلاغی نکته: علامه طیبی رحمه الله فرمائی من موصوله متضمن بمعنی الشرط دي دلته دَ شرط او جزا په مینځ کښې اتحاد معلومیږی کوم چه دَ کمال مبالغه دَ پاره کیږی ((ای من رآنی فی المنام فقد رآنی حقیقةً علی کماله بلا شبهة ولا ارتیاب ویدل علیه حدیث ابی قتادة رضي الله عنه انه علیه السلام قال من رانی فقد رانی الحق والحق ههنا مصدر مؤکد یعنی فقد رانی رویة الحق والاظهر ان المراد بالحق ههنا الصدق ای فقد صدقت رؤیاه فانه قد رانی لا غیری.))

دمذکوره جملې په توضیح کښې نهه اقوال: ① بعض حضراتو فرمائیلی دی چه داعام نه دې بلکه دامراد دې چه په خاص هیئت خاص حلیه او شکل وصورت کښې ئې رسول الله ﷺ اولیدو نو حضور ﷺ لیدل به ورته ونیلی شي ګنی نه

② بعضې حضراتو نوره هم تنګی کړې ده فرمائی چه رسول الله ﷺ په کوم مخصوص صورت کښې دَ دنیانه رحلت فرمائیلې دې اودَ دغه آخری عمر په مخصوص صورت کښې ئې اووینی نوفقد رانی ګنی نه تردې پورې چه دَ وفات په وخت کښې دَ رسول الله ﷺ په سر او ږیره مبارکه کښې دَ سپینو ویښتو څومره تعداد وو هم دومره اووینی نو فقد رانی ګنی نه دې وجې نه چه ابن سیرین رحمه الله ته چا خپل خوب بیان کړو کوم چه به دَ حضور پاک ﷺ په مخصوص حلیه باندې نه وونوفرمائیل به ئې اذهب مارأیتَ النبیَّ صلی الله علیه وسلم

③ بعض حضرات فرمائی چه دَ عمر شریف په کوم وخت کښې چه په کوم یو صورت کښې رسول الله ﷺ په خوب کښې اووینی بس کتل به شمیر وی که دَ ځوانئی په صورت کښې وی یا دَ کهولت او یا آخری عمر په حالت کښې وی بهرحال هغه به دَ رسول الله ﷺ لیدل

---

[1] اخرجه البخاری فی کتاب العلم/باب إثم من کذب علی النبی صلی الله علیه وسلم (رقم-۱۱۰) ومسلم فی کتاب الرؤیا/باب قول النبی علیه الصلاة والسلام من رآنی فی المنام فقد رآنی (رقم-۱۰ - (۲۲۶۶) وابن ماجه فی کتاب تعبیر الرؤیا/بباب رؤیة النبی صلی الله علیه وسلم فی المنام (رقم-۳۹۰۱) واحمد فی المسند:۴۱۱/۲

وی کما فی الروایة لانی اری فی کل صورة.

④علامه مازری رحمه الله فرمائی چه حضور پاک ﷺ په معروف مشهور اومخصوص صورت کښې اووینی یا دَ دې نه په علاوه صورت کښې بهرحال هغه به هم حضور ﷺ لیدلې وی فرق صرف دادې چه که په مخصوص او معهوده صورت کښې نی اولیدو نو هغه حقیقی رؤیا دې اوکه په دویم صورت باندې ا وکتلونو تاویل رؤیا دې لکه چه امام ابوحنیفه رحمه الله په خوب کښې دَ حضورپاک ﷺ مختلف مبارک هډوکی راجمع کول لیدلې وو نو ابن سیرین تعبیر ورکړو چه تاسو به دَ نبی کریم ﷺ دَ احادیثو دَمعانی جامع یئی. دَ کومو احادیثو په باره کښې چه دَ صحابه کرامو او تابعینو په مینځ کښې اختلاف دې بیا تاسو به امام المسلمین یئی نو هم داسې اوشو.

⑤نووی رحمه الله فرمائی په کوم صورت چه هم حضور مبارک ﷺ اووینی هغه به هم حضور مبارک ﷺ لیدلې وی او البته دَ دین او ایمان دَ نقص په اعتبارسره مختلف صورتونه کیدیشی. چاکه حضورپاک ﷺ په ښه صورت کښې په خوب کښې اولیدلو نوهغه دَ کمال دین اوایمان علامت دې اوچاچه دَدې خلاف اولیدلو نودا دَ کتونکی دَ دین او ایمان دَنقص طرف ته اشاره ده دې دَ پاره چه هغه دَ خپل دین او ایمان علاج اوکړې شی. نبی کریم ﷺ په خوب کښې لیدل یوکسوټی او پیمانه ده په کوم سره چه سړې خپل باطنی حالات معلومولې شی کامل الایمان نوره ترقی هم کولې شی او ناقص الایمان خپله اصلاح کولې شی.

⑥ابن باقلانی رحمه الله فرمائی فقد رآنی معنی رؤیاه صحیحه لیست باضغاث ولامن تسویلات الشیطان دَ روایت الفاظ فقد رأی الحق سره دَ دې تائید کیږی اودَ روایت الفاظ فقد رأی الحق دی.

⑦دَ دې معنی من رآنی فی المنام سیرانی ده که لیدونکی صحابی وی نودَ دغه صحابی دَ پاره بشارت به وی چه دَ هغه په لرې اوسیدو باندې هم کله چه هغه رسول الله ﷺ په خوب کښې اولیدلو نو دیر زربه هغه ته زیارت یقظةً هم نصیب شی. په بل روایت کښې سیرانی فی الیقظة په صراحت سره واقع دې په دې قول سره دَ رسول الله ﷺ دا ارشاد مبارک به صحابه کرامو رضی الله عنهم سره مخصوص وی. که غیر صحابی لیدلې دې نوبیا دَ دې مطلب دادې چه ده ته به په آخرت کښې خاص زیارت نصیب کیږی په کوم کښې چه به لیدونکی ته حضور ﷺ سره قرب حاصل وی او نبی کریم ﷺ به دَ هغه سفارش کوی.

⑧دَ دې معنی دَ تشبیه په توګه ده چه داسې لیدونکی ته به په مدینه منوره کښې روضة الاقدس باندې دَ حاضرئی توفیق حاصلیږی.

⑨ فقد رآنی نه معنی رؤیا مراد ده یعنی داسې سړی ته بشارت او زیرې دې چه هغه به دَ

رسول الله ﷺ په طریقه باندې وی اودَ حضورپاک ﷺ اتباع به ورته نصیب وی جمهور علماء فرمائی چه روایت په خپل ظاهر باندې دې چاچه رسول الله ﷺ په خوب کښې اولیدلو هغه هم رسول الله ﷺ لیدلې دې اوس که هغه زیارت دَ حلیه معهوده نه علاوه کړې وی نودا دَ لیدونکی دَ احوالو په اعتبارسره دې شراح فرمائی دَ دې مثال دَ آئینې په شان دې دَ کوم رنګ چه آئینه وی هم هغه شان شکل به په کښې ښکاری دَ کتونکی چه کوم قسم احوال وی هم هغه شان صفاتو سره به زیارت کیږی

دنبی علیه السلام د لیدو دوه صورتونه: ① صوفیاء کرام فرمائی چې بعضو ته الله تعالی دومره قوت ورکوی چه هغوی بعینه دَ رسول الله ﷺ دَ ذات اقدس مبارک زیارت کوی
② بعضې کسانو ته دَ آئینې په شان مثالی زیارت نصیب کیږی حقیقی صورت ورته نصیب نشی.

اشکال: دَ رسول الله ﷺ زیارت هم په یووخت کښې په مختلفو ښارونوکښې مختلفو ملکونوکښې مختلفو خلقوته کیږی نو حضور ﷺ هم په یووخت باندې کوم کوم ځای ته تشریف اوړلې شی؟

د اشکال جواب: دَ رسول الله ﷺ مثال دَ آفتات اومهتاب یعنی نمر او سپوږمئی دې نمر په خپل ځای باندې قایم دې خو په مختلفو ملکونوکښې مختلف خلق ګوری دغه شان که رسول الله ﷺمختلفو ځایونوته تشریف یونه سی نوبیا نی هم مختلف مقاماتوکښې مختلف خلق په یووخت دَ زیارت شرف حاصلولې شی نو هیڅ اشکال نشته

قوله: فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لَا يَتَمَثَّلُ بِي:

د شیطان په نبوی شکل کښې عدم تمثل: یعنی شیطان تمثل نه شی کولې اوخپل ځان دَ حضوراکرم ﷺ په شکل کښې نه شی خودلې یعنی لکه څنګه چه دَ بیدارئی په صورت کښې شیطان دَ نبی کریم ﷺ په شکل چاته نشی راتلې هم دغه شان دَ خوب په حالت کښې هم چاله نشی راتلې اودا معجزه د رسول الله ﷺ سره خاص ده.

یوه نکته څیره اودهغې توجیهات: محققین حضرات فرمائی چه شیطان دَ الله تعالی په شکل کښې تمثل کولو سره دَ چا په زړه کښې دا وسوسه اچولې شی چه زه الله یم خودَ حضور ﷺ تمثل کولو سره وسوسه نشی اچولې او اهل علم دَ دې مختلف وجوهات بیان کړی دی:

① حضوراکرم ﷺمنبع دَهدایت او مظهردَ رشد دې او شیطان مظهر ضلالت دې نو په هدایت اوضلالت کښې تضاددې بیاځنګه تمثل کولې شی اودَالله تعالی دَپاره صفت هدایت سره سره صفت اضلال هم ثابت دې بلکه هغه خو دَ ټولو متضاد صفاتو جامع دې لهذاشیطان چه مظهرضلالت دې نوهغه په صفت اضلال کښې دَالله تعالی تمثل کولې شی

④ دَ مخلوق دَ طرف نه دَ الوهيت دعوى كول ښكاره بطلان دي دَ محل اشتباه نه كيدلو په وجه دَ الوهيت دَ دعوى نه پس كه دَ هغه نه خوارق صدور هم اوشي نوبيا هم هغه باطل دي نوكه شيطان دَ الله تعالى تمثل كولو سره چاله راغلو او صدور خوارق هم اوكړى نودا دَ صريح البطلان كيدلو په وجه به چاته هم شك نه وى نو په دې وجه تمثل بارى تعالى كولې شى او دَ شيطان دَ نبوت دعوى كولو كښې اشتباه ده ځكه چه نبى انسان وى كما قال تعالى قل انما انا بشر مثلكم يوحى الى نوكه اوس شيطان هم انسانى شكل اختيار كړى او دَ نبوت دعوى اوكړى نودا دَ اشتباه محل دې په دې وجه الله تعالى هغه ته دا قدرت ورنه كړو چه هغه دې دَ حضورﷺ تمثل اوكړيشى دې دَپاره چه دَ نبوت منصب محفوظ پاتې شى او په حق او باطل كښې اشتباه نه وى.

[۳۱۰] د نبى عليه السلام په خوب كښې ليدل

۴۶۱۰-[۴] (۱) ① وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«مَنْ رَآنِي فَقَدْ رَأَى الْحَقَّ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① حضرت ابوقتاده ﷺ وايي چې رسول اللهﷺ وفرمايل ② چا چې زه په خوب كې وليدم هغه حق وليدلو يعنى د هغه خوب رښتني دي چې هغه زه وليدلم (بخاري، مسلم)

تسهيلات: قوله: مَنْ رَآنِي فَقَدْ رَأَى الْحَقَّ:

دنبى عيه السلام د ليدلو حقانيت: يعنى دغه سړى هم زه ليدلي يم داحق دى دروغ نه دى په دې باره كښې دَ دروغ خيالي او شيطان دخل نه شى كيدې. دا اعزاز دَ نبى كريم دَ خصائصو نه دې كوم چه دَ اعجاز نبوى حصه ده. هرسړې نبى كريم دَخپل عمل په آئينه كښې ګورى

[۳۱۱] د نبى كريم په خوب كښې دَليدلو فضيلت

۴۶۱۱-(۵) (۲) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«مَنْ رَآنِي فِي الْمَنَامِ فَسَيَرَانِي فِي الْيَقَظَةِ، ③ وَلَا يَتَمَثَّلُ الشَّيْطَانُ بِي»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول اللهﷺ وفرمايل ② كوم سړي چې زه په خوب كې وليدم هغه به زر ما د بيدارئ په عالم كې هم ووينې ③ او شيطان ځما په صورت نشي جوړيدي (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① الْيَقَظَةِ: بيدارى.

[1] اخرجه البخاري فى كتاب التعبير /باب من رأى النبى صلى الله عليه وسلم فى المنام (رقم-۶۹۹۶) ومسلم فى كتاب الرؤيا /باب قول النبى عليه الصلاة والسلام من رآنى فى المنام فقد رآنى (رقم-۱۱ - (۲۲۶۷)) واحمد فى المسند:۵/۳۰۶

[2] اخرجه البخاري فى كتاب التعبير /باب من رأى النبى صلى الله عليه وسلم فى المنام (رقم-۶۹۹۳) ومسلم فى كتاب الرؤيا /باب قول النبى عليه الصلاة والسلام من رآنى فى المنام فقد رآنى (رقم-۱۱ - (۲۲۶۶))

تسهیلات:

قوله: فَسَيَرَانِي فِي الْيَقَظَةِ:

د يقظة په مصداق كښې دوه احتمالات: يعنى كوم سړى چه زه په خوب كښې اوليدلم هغه سړى به ډير زر ما په بيدارئى كښې اووينى.

① يعنى كوم سړي ما په خوب كښې اوګورى هغه به ما په عالم آخرت كښې په بيدارئى كښې وينى لكه چه دَدغه سړى انجام به ښه وى اودَ ايمان سره به دَ دنيا نه اوچتيږى رخصت كيږى به.

② يعنى زما په زمانه كښې چرته يو سړي ما په خوب كښې وينى هغه به ماسره ملاقات كوى او مابه په بيدارئى كښې اووينى. په دې صورت كښې دَدې حديث تعلق دَنبى كريم دَ حيات طيبه سره دې.

[۳۳] د ښه او خراب خوب ببا نولو اسلامى طريقه

۳۳-[۲] ()① وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "②«الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ مِنَ اللهِ، ③وَالْحُلْمُ مِنَ الشَّيْطَانِ، ④فَإِذَا رَأَى أَحَدُكُمْ مَا يُحِبُّ ⑤فَلَا يُحَدِّثُ بِهِ إِلَّا مَنْ يُحِبُّ، ⑥ وَإِذَا رَأَى مَا يَكْرَهُ ⑦فَلْيَتَعَوَّذْ بِاللهِ مِنْ شَرِّهَا وَمِنْ شَرِّ الشَّيْطَانِ، ⑧وَلْيَتْفُلْ ثَلَاثًا، ⑨وَلَا يُحَدِّثْ بِهَا أَحَدًا، ⑩فَإِنَّهَا لَنْ تَضُرَّهُ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابوقتاده رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل② ښه خوب د خداي ﷻ د طرف نه دي③ او خراب خوب د شيطان د طرف نه دي④ لهذا په تاسو کې چې کوم سړي داسې خوب ويني چې په هغې سره هغه خوشحاله شي ⑤ نو پکار دي چې هغه خوب صرف د هغه سړي په مخکې بيان کړي چې هغه يې دوست او همدرد ګڼي [لکه علماء او صلحاء او اقرباء او په هغه خوب باندې دې د خداي ﷻ شکر اداء کړي او د هغه حمد او تعريف دې وکړي څرنګه چې د بخاري او مسلم په يو بل روايت کې منقول دي]⑥ او هرکله چې داسې خوب ويني چې هغه نه خوښوي ⑦ نو پکار دي چې د هغه خوب د خرابۍ او د شيطان د شر نه د خداي ﷻ پناه وغواړي⑧ او د شيطان د لرې کولو په قصد دې درې ځلې (چپ طرف ته) توکي⑨ او هغه خوب دې د چا په مخکې نه بيانوي (که دوست وي يا دښمن) ⑩ نو هغه خوب به هغه ته نقصان نه رسوي . (بخاري ، مسلم)

حل اللغات: ① الْحُلْمُ: خراب خوب، ② وَلْيَتْفُلْ: او دې توکی،

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب بدء الخلق/باب صفة إبليس وجنوده (رقم-۳۲۹۲) ومسلم فی کتاب (رقم-٤ - (۲۲۶۱) والترمذی فی کتاب الرؤيا عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب إذا رأى فی المنام ما يكره ما يصنع (رقم-۲۲۷۷) وابن ماجه فی کتاب تعبير الرؤيا/بباب من رأى رؤيا يكرهها (رقم-۳۹۰۹) ومالک فی الموطا کتاب الرؤيا/باب ما جاء فی الرؤيا (رقم-٤)

تسهیلات:

قوله: الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ مِنَ اللّٰهِ، وَالْحُلُمُ مِنَ الشَّيْطَانِ:

دخوب دوه قسمونه: ① دَ ښه خوب ليدلو سره دَالله تعالى دَ طرف نه بنده ته يو بشارت اوزيري حاصليږي په كوم چه بنده دَ الله تعالى شكراداكوي. نوالله تعالى خوشحاليږي په دي اعتباردا خوب دَ رحمان دَ طرف نه دي.

② په خراب خوب سره سړي غمګين او پريشان كيږي اوپه قسم قسم وسوسوكښي راګيريږي په كوم سره چه شيطان ډيرخوشحاليږي په دي وجه وئيلى شوى دى چه داسي خوبونه دَ شيطان دَ طرف نه وى يعنى شيطان په دي خوشحاليږي.

قوله: فَإِذَا رَأَى أَحَدُكُمْ مَا يُحِبُّ فَلَا يُحَدِّثْ بِهِ إِلَّا مَنْ يُحِبُّ:

دخراب خوب ليدلوآداب: ① چي يوكس خراب او شيطاني خوب اووينى نوشريعت د هغه دپاره څه آداب بيان كړي دى.يوادب په دي زيربحث حديث كښي دي او دري په راروان حديث نمبر (۴۶۱۳) كښي راروان دى.

① دَداسي خوب دَي د چا په مخكښي تذكره نه كوي.

② كس طرف ته دي توكاني اوتوكى دي دَپاره چه شيطان ذليل شى او اوتختي.

③ د خراب خوب په ليدو دي اعوذ بالله اووائي

④ چي په كوم اړخ اوده وى هغه اړخ دي بدل كړي.

[۳۳] د خراب خوب د ليدو دري آداب

۴۶۱۳- [۷] (١)[١] وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[٢]«إِذَا رَأَى أَحَدُكُمُ الرُّؤْيَا يَكْرَهُهَا[٣] فَلْيَبْصُقْ عَنْ يَسَارِهِ ثَلَاثًا[٤] وَلْيَسْتَعِذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ ثَلَاثًا[٥] وَلْيَتَحَوَّلْ عَنْ جَنْبِهِ الَّذِي كَانَ عَلَيْهِ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] اوحضرت جابر ﷺ وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل[٢] هركله چي په تاسو كي څوك داسي خوب ووينى چي هغه نه خوښوي[٣] نو هغه ته پكار دي چي چَپ طرف ته دري ځلي توكي[۴] او دري ځلي دشيطان نه د الله پناه وغواړي[۵] او خپل اړخ دي بدل كړل په كوم چي هغه خوب د ليدو وخت اوده شوي وو. (مسلم)

حل اللغات: ① فَلْيَبْصُقْ: اودي توكى، ② وَلْيَتَحَوَّلْ: حالت دي بدل كړي.

[١]) اخرجه مسلم فى كتاب الرؤيا (رقم-۵ - (۲۲۶۲) وابن ماجه فى كتاب تعبير الرؤيا/بباب من رأى رؤيا يكرهها (رقم-۳۹۰۸) اخرجه البخارى فى كتاب التعبير/باب القيد فى المنام (رقم-۷۰۱۷) ومسلم فى كتاب الرؤيا (رقم-۶ - (۲۲۶۳) والترمذى فى كتاب الرؤيا عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب فى تأويل الرؤيا ما يستحب منها وما يكره (رقم-۲۲۸۰) وابن ماجه فى كتاب تعبير الرؤيا/بباب الرؤيا ثلاث (رقم-۳۹۰۶) واحمد فى المسند:۲/۲۶۹

تسهيلات:

قوله: فَلْيَبْصُقْ عَنْ يَسَارِهِ ثَلَاثًا:

د يبصق او يتفل په مينځ كښې فرق: په حديث الباب كښې د "يبصق" الفاظ ذكر دى حالانكه په اولنى حديث كښې لفظ د "يتفل" مذكور دې، د معنى په اعتبار سره دواړ الفاظ په ظاهر يو شان دى ليكن په دواړو كښې لږ شان فرق دې،

تفل د خلې نه توكانړى راوبښكلو ته وائى. او د "بصق" معنى د خلې د دننه حصى نه توكانړى راوبښكل چه په هغى كښې د حلق توكانړى هم شامل وى. او توكانړو ته بصاق، بزاق دواړه ونيل كيږى.

د توكلو دوړي مراتب: ددې نه دا معلومه شوه چه د توكلو په سلسله كښې اولنى درجه د "بصق" ده بيا وريسى د "تفل" ده او د تفل نه بعد نفث دې او د نفث معنى دا ده چه شونډى په توكانړو سره لوندول يا پوک وهل.

[۳۳] د خوبونو اقسام

۳۳—[۸] ( )[۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«إِذَا اقْتَرَبَ الزَّمَانُ لَمْ يَكَدْ يَكْذِبُ رُؤْيَا الْمُؤْمِنِ، [۳] وَرُؤْيَا الْمُؤْمِنِ جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ وَأَرْبَعِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ، [۴] وَمَا كَانَ مِنَ النُّبُوَّةِ، فَإِنَّهُ لَا يَكْذِبُ. [۵] قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ سِيرِينَ: وَأَنَا أَقُولُ: الرُّؤْيَا ثَلَاثٌ: [۵] حَدِيثُ النَّفْسِ، [۶] وَتَخْوِيفُ الشَّيْطَانِ، [۷] وَبُشْرَى مِنَ اللَّهِ، [۸] فَمَنْ رَأَى شَيْئًا يَكْرَهُهُ فَلَا يَقُصَّهُ عَلَى أَحَدٍ، [۹] وَلْيَقُمْ فَلْيُصَلِّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چى رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] كوم وخت چې زمانه نزدې شي نو د مؤمن خوب به دروغ نه وي [۳] او د مؤمن خوب د نبوت د شپږ څلويښت د اجزاؤ نه يوجز دې [۴] او كوم څيز چې د نبوت د اجزاؤ نه وي هغه دروغ نه وي [۵] او محمد ابن سيرين رحمه الله [چې يوجليل القدر تابعي او د فنِ تعبير خواب امام دې] فرمايي چه زه [د حضور ﷺ نه د منقول احاديثو په رڼا كې] دا وايم چې خوب په دري قسمه دې [۵] يو خو د نفس خيال [۶] دويم د شيطان هيرول [۷] دريم د الله د طرف نه بشارت ، [۸] كوم سړي چې خراب خوب (يعني هيرونكي) خوب ووينى نو هغه دې د چا مخكې نه بيانوي [۹] او داسې دې وكړي چې خوب ليدو نه پس دې پاځي او نفل مونځ دې وكړي [چې د مونځ د بركت او نورانيت په سبب د هغه زړه ته اطمنان نصيب شي او د خوب د خرابۍ چې كوم وهم او وسوسه په زړه كې پيدا شويده هغه ختمه شي].

حل اللغات: ① لَمْ يَكَدْ: نه به وى، ② حَدِيثُ النَّفْسِ: د نفس خيال، ③ تَخْوِيفُ: ويرول، ④ بُشْرَى: زيرى،

قَالَ: وَكَانَ يَكْرَهُ الْغُلَّ فِي النَّوْمِ، وَيُعْجِبُهُمُ الْقَيْدُ. وَيُقَالُ: الْقَيْدُ ثَبَاتٌ فِي الدِّينِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

( ) اخرجه البخاري في كتاب التعبير/باب القيد في المنام (رقم-۷۰۱۷) ومسلم في كتاب الرؤيا (رقم-۴ - (۲۲۶۱))

ترجمه: [۱] او ابن سیرین رحمه الله فرمایي چې رسول الله ﷺ به په خوب کې طوق لیدل نه خوښول او قید لیدل به یې خوښول د خوب د تعبیر ماهر علماء وایي چې د قید مطلب په دین قائم اوسیدل دي داپوره روایت چې د حضور ﷺ ارشاد او د ابن سیرین رحمه الله په قول مشتمل دي بخاري او مسلم نقل کړي دي (لیکن د روایت د آخري جز باره کې دواړو ته تردد دي)

حل اللغات: ⑤الغُلّ :طوق، تیزندئ، غاړه کښې رسئ. ⑥القَیْدُ: خپو کښې بیړئ،زنځیر.

تسهیلات:

قوله: إِذَا اقْتَرَبَ الزَّمَانُ:

د اقتراب الزمان په مفهوم کښې درې اقوال: ① صاحب الفائق فرمائی دې نه آخری زمانه مراد ده چه قرب قیامت به وی. کما فی روایة انه علیه السلام قال فی آخر الزمان لاتکاد رؤیا المؤمن تکذب. په اقتراب سره ئې ځکه تعبیر اوفرمائیلو چه شئ قلیل اوقصیر کیږی نودَ دې اطراف او اړخونه نیزدې نیزدې کیږی. بیا آخری زمانه کومه یوه مراد ده؟ بعض فرمائی خروج مهدی زمانه ځکه چه هغه وخت به عدل اوانصاف قایم وی هغه وخت به دَ خوشحالئی وخت وی زمانه به قلیل یعنی مختصر معلومیږی لکه دَ دې په مقابله کښې دَ پریشانو وخت قلیل هم کثیر یعنی اوږد معلومیږی. دَ بعضو خیال دې چه دا به هغه زمانه وی چه کوم وخت حضرت عیسی علیه السلام دجال قتل کړی او خلقو سره شی هغه وخت به هم دَ عدل او انصاف وخت وی. بعضو وئیلی دی چه آخری زمانه به هغه وی چه کله مسلمان په ډیر خراب حالت کښې وی چه نه به اعوان او انصار وی اونه به ئې دِ ځه قسم امداد کولې شی نو په داسې وخت کښې به دوی ته ریښتونی خوبونه ښکاری دې دَ پاره چه دَ دوی امداد اوکړې شی اودوی ته په ریښتونو خوبونو سره لاړخودنه اوشی.

② هغه زمانه اوهغه وخت مراد دې کوم وخت چه شپه او ورځ دواړه برابر شی هغه وخت دَ انسان مزاج صحیح او معتدل وی نو په دې وجه به ئې هم په خوبونو کښې ګډوډوالې نه وی بلکه خوبونه به ئې ریښتونی وی.

③ هغه زمانه مراد ده په کومه کښې چه کال دَ میاشتو په شان، میاشتې دَ هفتو په شان، او هفتې دَ ورځو په شان او دغه شان ورځ دَ یوې ګهړئی په شان نیزدې نیزدې شی. کما فی روایة انه قال یتقارب الزمان حتی تکون السنة الخ.

[۴۶۱۵] په خوب کښې د طوق لیدل نه خوښول

۴۶۱۵-()[۱] قَالَ الْبُخَارِيُّ: رَوَاهُ قَتَادَةُ وَيُونُسُ وَهُشَيْمٌ وَأَبُو هِلَالٍ عَنِ ابْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ.[۲] وَقَالَ يُونُسُ: لَا أَحْسَبُهُ إِلَّا عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي الْقَيْدِ.[۳] وَقَالَ مُسْلِمٌ: لَا أَدْرِي هُوَ فِي الْحَدِيثِ أَمْ قَالَهُ ابْنُ سِيرِينَ؟[۴] وَفِي رِوَايَةٍ نَحْوُهُ،[۵] وَأَدْرَجَ فِي الْحَدِيثِ قَوْلَهُ: "وَأَكْرَهُ الْغُلَّ." إِلَى تَمَامِ الْكَلَامِ

ترجمه: [۱] چنانچه امام بخاري رحمه الله وايي دا حديث (يعني پوره روايت يا صرف هغه جزو چې په هغې کې د قيد ذکر دی) قتاده رحمه الله، يونس رحمه الله، هشيم رحمه الله او ابوهلال رحمه الله د محمد ابن سيرين نه او هغوئ د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه (ابتدايي جزو بطريق مرفوع او آخري جزو بطريق موقوف) نقل کړي دي [۲] او يونس ويلي دي چه خما ګمان دي چې د حديث هغه جزو چې په هغې کې [ابن سيرين] د قيد ذکر کړي دي [يعنی دا الفاظ يعجبهم القيد والقيد ثبات في الدين د حضرت ابوهريره رضي الله عنه قول نه دي بلکې] د نبي کريم صلى الله عليه وسلم ارشاد دي [ګويا د بخاري ددې قول مطلب دا شو چې ابن سيرين رحمه الله د نقل کونکي يو راوي يونس رحمه الله مطابق د روايت هغې جزو چې په هغه کې د طوق ذکر دي د حضرت ابوهريره رضي الله عنه يا د ابن سيرين رحمه الله خپل قول دي البته هغه جزو چې هغې کې د قيد ذکر دي د حضرت ابوهريره رضي الله عنه يا د ابن سيرين رحمه الله خپل قول نه دي بلکې حديث مرفوع يعنی د حضور صلى الله عليه وسلم ارشاد دي چې د حضور صلى الله عليه وسلم نه ابوهريره رضي الله عنه او د ابوهريره رضي الله عنه نه محمد ابن سيرين رحمه الله نقل کړي دي][۳] او امام مسلم چې ابن سيرين رحمه الله نه روايت نقل کوي دا وايي چې ماته معلومه نه ده چې هغه جز چې په هغې کې د قيد الفاظ دي د حضور صلى الله عليه وسلم د حديث الفاظ دي يا د ابن سيرين رحمه الله خپل قول دي [۴] د مسلم يوبل روايت کې دغه شان الفاظ دي [۵] او مسلم داهم ويلي دي چې حضرت ابوهريره رضي الله عنه يا محمد ابن سيرين رحمه الله په حديث کې ادراج کړي دي په دې طور چې هغوئ اوويل زه طوق ليدل ښه نه ګنم الخ [ګويا د مسلم د قول مطلب دا دي چې د حديث پوره آخري جزو چې د طوق او قيد په ذکر مشتمل دي د حضور صلى الله عليه وسلم ارشاد نه دي بلکې د حضرت ابوهريره رضي الله عنه يا د محمد ابن سيرين رحمه الله خپل قول دي او د بخاري او مسلم ددې اقوالو په رڼا کې قال وکان يکره الخ د ضميرونو حقيقت حال هم منکشف کيږي چې دا ضميرونه چا طرف ته راجع کول پکار دي].

حل اللغات: ① أَحْسَبُهُ: خما ګمان دې، ② الْقَيْدِ: خپو کښې بيړئ، زنځير ③ الْغُلَّ: تيزندئ، غاړه کښې رسئ، طوق.

تسهيلات:

قوله: وَأُحِبُّ الْقَيْدَ فِي النَّوْمِ وَأَكْرَهُ الْغُلَّ:

---

[۱] اخرجه البخاري في كتاب التعبير/باب القيد في المنام (رقم-۷۰۱۷) ومسلم في كتاب الرؤيا (رقم-٤ - (۲۲۶۱)

د قید د خوښولو او د طوق د بدګڼلو وجه: غل په ضمه د غین سره په معنی د طوق، په خوب کښې په سټ کښې دننه طوق په دې وجه بد ګڼرلې شو چه دا د دوزخیانو علامت دې. کما قال تعالی ﴿إِذِ الْأَغْلَالُ فِي أَعْنَاقِهِمْ﴾ او په خپو کښې بیړنی په دې وجه خوښوی چه په خپه کښې بیړنی د رامنع کولو د پاره وی یعنی د ګناه نه منع کیدل چه په دین د ثابت کیدو علامت او هغه مطلوب او مقصود دې.

[۳۳۳] شیطانی خوب چاته نه بیانول

۳۳۳۳-[۹] (۱) ۱ وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ۲ «جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: ۳ رَأَيْتُ فِي الْمَنَامِ كَأَنَّ رَأْسِي قُطِعَ. ۴ قَالَ: فَضَحِكَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَقَالَ: ۵ " إِذَا لَعِبَ الشَّيْطَانُ بِأَحَدِكُمْ فِي مَنَامِهِ ۶ فَلَا يُحَدِّثْ بِهِ النَّاسَ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت جابر رضي الله عنه وايي ۲ چه يوه ورځ د نبي كريم ﷺ په خدمت كې يوياندچې (كليوال) حاضر شو او عرض يې وكړو ۳ چې (يا رسول الله) ماخوب ليدلي دي چې ګويا خما سر پرې كړې شوي دي ۴ جابر رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ داخوب اوريدو سره وخندل او وې فرمايل ۵ هركله چې په تاسو كې د يوسړي په خوب كې هغه سره شيطان تماشه (لوبې) وكړي ۶ نو هغه خوب دې د خلقو په مخكې نه بيانوي. (مسلم)

تسهیلات:

قوله: إِذَا لَعِبَ الشَّيْطَانُ بِأَحَدِكُمْ فِي مَنَامِهِ فَلَا يُحَدِّثْ بِهِ النَّاسَ:

د شیطانی خوب نه بیانول: یعنی شیطان انسان ته ویرونکی خوبونه ښائی او دې لوبې توقې او د خلقو د پاره ئې تماشه جوړوی. په دې وجه نبی کریم خپل امت ته دا تعلیم ورکړو چه د شیطان د دې قسم ویریونکو خوبونو اثر مه اخلئی او مه دې ته اهمیت ورکوئی چه د دې د تعبیر د پاره به سړوهلې ګرځئی دا مهمل خوب دې د دې چاته اظهار مه کوئی.

[۳۳۴] د نبی کریم ﷺ یوخوب

۳۳۳۴-[۱۰] (۲) ۱ وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - " ۲ «رَأَيْتُ ذَاتَ لَيْلَةٍ فِيمَا يَرَى النَّائِمُ ۳ كَأَنَّا فِي دَارِ عُقْبَةَ بْنِ رَافِعٍ ۴ فَأُتِينَا بِرُطَبٍ مِنْ رُطَبِ ابْنِ طَابٍ ۵ فَأَوَّلْتُ أَنَّ الرِّفْعَةَ لَنَا فِي الدُّنْيَا ۶ وَالْعَاقِبَةَ فِي الْآخِرَةِ ۷ وَأَنَّ دِينَنَا قَدْ طَابَ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت انس رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ مايوه شپه هغه خيزونو كې چې په هغې كې خوب ليدونكي ويني (يعني په خوب كې) مې وليدل ۳ چې ګويا زه او

[۱] اخرجه مسلم فی کتاب الرؤیا/باب لا یخبر بتلعب الشیطان به فی المنام (رقم-۱۶ - (۲۲۶۸) وابن ماجه فی کتاب تعبیر الرؤیا/باب من لعب به الشیطان فی منامه فلا یحدث به الناس (رقم-۳۹۱۲) واحمد فی المسند:۳/۳۵۰

[۲] اخرجه مسلم فی کتاب الرؤیا/باب رؤیا النبی صلی الله علیه وسلم(رقم-۱۸ - (۲۲۷۰)

خما صحابه رضی الله عنهم د عقبه ابن رافع رضی الله عنه په کورکي ناست یو[۴] او خما مخې ته تازه خرما راوړل شوي چې هغې ته رطب ابن طاب وايي[۵] نو ما د دې خوب دا تعبیر وخکلو چې زمونږ د پاره دنیا رفعت او سربلندي ده[۶] او په آخرت کې نیك عاقبت [یعنی د نبي جزاء انعام دی][۷] او دا چه زمونږ دین ښه دی . (مسلم)

حل اللغات: ① رُطَبٌ: تازه کجوري، ② ابنِ طَابٍ: د کجورو یوقسم یا نوم دي، ③ الرِّفْعَةَ: بلندی، اوچتوالي، ④ وَالْعَاقِبَةَ: ښه انجام، ښه بدله، ⑤ طَابَ: ډیر ښه.

تسهیلات:

قوله: فَأَوَّلْتُ أَنَّ الرِّفْعَةَ لَنَا

دعربی لغت په بنیاد سره د دري الفاظو تعبیرویستل: په زیربحث حدیث کښې نبی کریم دَ دریو نومونوپه لغت سره تعبیرویستلې دي.

① عقبه لفظ سره نبی کریم عاقبت او دآخری انجام دَ ښیګړې تعبیرویستې دي

② دَ رافع لفظ سره نبی کریم دَ دنیا او آخرت دَ اوچتوالی تعبیر راویستې دي

③ دَطاب دَ لفظ نه دَ دین اسلام دَ طیب او ښه کیدو تعبیرنی ویستې دي.

[۳۶۸] د هجرت متعلق د نبی کریم ﷺ خوب

۳۶۸-[۲]() [۱] وَعَنْ أَبِي مُوسَى -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: "[۲] «رَأَيْتُ فِي الْمَنَامِ أَنِّي أُهَاجِرُ مِنْ مَكَّةَ إِلَى أَرْضٍ بِهَا نَخْلٌ، [۳] فَذَهَبَ وَهَلِي إِلَى أَنَّهَا الْيَمَامَةُ أَوْ هَجَرُ [۴] فَإِذَا هِيَ الْمَدِينَةُ يَثْرِبُ. [۵] وَرَأَيْتُ فِي رُؤْيَايَ هَذِهِ: [۶] أَنِّي هَزَزْتُ سَيْفًا، فَانْقَطَعَ صَدْرُهُ، [۷] فَإِذَا هُوَ مَا أُصِيبَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ أُحُدٍ. [۸] ثُمَّ هَزَزْتُهُ أُخْرَى فَعَادَ أَحْسَنَ مَا كَانَ، [۹] فَإِذَا هُوَ مَا جَاءَ اللَّهُ بِهِ مِنَ الْفَتْحِ وَاجْتِمَاعِ الْمُؤْمِنِينَ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوموسی اشعري رضی الله عنه د نبي کریم ﷺ نه نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمایل[۲] د هجرت نه مخکې په مکه کې یوه ورځ ما دا خوب ولیدلو چې زه د مکې نه هجرت کولو سره یوي داسې زمکې طرف ته روان یم چې په هغې کې د کجورو وني دي[۳] د دې خوب په تعبیر کې خما داخیال وو چې هغه ښار (چیرته چې زه په هجرت ځم) یمامه به وي یا هجر [۴] لیکن په حقیقت کې هغه مدینه وختله چې د هغې پخواني نوم یثرب دی[۵] ما خپل په دې خوب کې داهم ولیدل[۶] چې ماخپله توره وخوزوله نو هغه د پورته نه ماته شوه[۷] نو د توري ماتیدو تعبیر په جنګ احد کې د هغه پریشانو او مصائبو صورت کې ظاهر شو کوم چې مسلمانانو ته پیښ شو [چې په ابتداء کې په ظاهره مسلمانانو ته شکست وشو، د حضور ﷺ غاښ مبارك شهید شو، ډیر مسلمانان شهیدان شول او ډیر

() اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب علامات النبوة فی الإسلام (رقم-۳۶۲۲) ومسلم فی کتاب الرؤیا/باب رؤیا النبی صلی الله علیه وسلم (رقم-۲۰ - (۲۲۷۲) وابن ماجه فی کتاب تعبیر الرؤیا/باب تعبیر الرؤیا (رقم-۳۹۲۱)

زخمي شول[۸] بیا ما په خوب کې توره په دویم خل وخوزوله نو هغه توره نه صرف روغه شوه بلکه د هغې نه ښه شوه[۹] نو د تورې د روغیدو تعبیر د مکې د فتح یا د حدیبې د صلح په وخت د خدای ﷻ د طرف نه د عطا کیدونکي فتح او د مسلمانانو د اجتماعیت صورت کې ښکاره شو (بخاري ، مسلم)

حل اللغات: ① أُهَاجِرُ: زه هجرت کوم. ② وَهْلِي: خیال زما ، گمان زما ، ③ هَجَرُ: د يو مقام نوم دې، ④ يَثْرِبُ: دَمدينې منورې پخوانې نوم دې. ⑤ هَزَزْتُ: ما اوخوزوله (توره).

تسهيلات:

قوله: فَذَهَبَ وَهْلِي إِلَى أَنَّهَا الْيَمَامَةُ أَوْ هَجَرُ:

د يمامه او هجر پيژندگلو: پخوانئ زمانه کښې يمامه ډیره ښنه اوآباده علاقه اودَ حجاز په ښارونوکښې يومرکزی ښار وو. هجر هم ډير ښين او آباد وو. په دې دواړو ښاريوکښې دَ کهجورو ډیرزيات باغونه وو. دَ نبی کريم خيال هم دغه طرف ته لاړو چه کيدې شی په خوب کښې هم دَدې طرف ته دَ هجرت اشاره کيږی. نن صبا يمامه دَ سعودی عرب دارالخلافه رياض په خواکې يوورو کې شان کلې پاتې دې اودَهجر هم دغه حالت دې.

قوله: فَإِذَا هِيَ الْمَدِينَةُ يَثْرِبُ:

د مدينې پخوانې نوم: دَمدينې منورې پخوانې نوم يثرب وو نبی کريم دا بدل کړو اومدينه ئې کيخودو. په مدينه کښې دَ کهجورو ډيرزيات باغونه وو په دې وجه دَدې نوم نخله هم دې. دَمدينې منورې اسلامی نومونه تقريباً سل دی کوم چې په كتاب الحج کښې ذکرشوی دی.

قوله: وَرَأَيْتُ فِي رُؤْيَايَ هَذِهِ: أَنِّي هَزَزْتُ سَيْفًا:

د خوب په زمانه کښې دوه احتمالات: ① دا دَ يوبل خوب بيان دې کوم چه دَهجرت نه پس رسول الله ﷺ ليدلې وو لکه څنگه چه دَ نورو رواياتونه معلوميږی.

② دا هم ممکن ده چه دَ خوب داحصه ئې هم دَ هجرت نه مخکښې ليدلې وی کوم چه دَدې حديث دَ ظاهرنه معلوميږی سره دَدې چه بعيد ښکاری.

قوله: هَزَزْتُهُ:

د تورې په ماتيدو او بيا روغيدو کښې دوه تعبيرونه: ① توره خوزولوته وائی. دَتورې ماتيدل لکه چه دَماتی طرف ته اشاره وه. اوبيا يوځائی کيدل دَمسلمانانو بيا را جمع کيدلو اودَ فتح حاصلولوطرف ته اشاره وه.

② دَ تورې دوباره جوړيدل راتلونکې فتوحاتو مثلاً فتح مکه صلح حديبيه اوفتح خيبر طرف ته اشاره وه.

[۳۳] په دوو دروغژنو پيغمبرانو سره د يو خوب تعبير

۳۳-[۱۲] (۱) ۞ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۞ ((بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ أُتِيتُ بِخَزَائِنِ الْأَرْضِ، ۞ فَوُضِعَ فِي كَفَّيَّ سِوَارَانِ مِنْ ذَهَبٍ، فَكَبُرَا عَلَيَّ، ۞ فَأُوحِيَ إِلَيَّ أَنِ انْفُخْهُمَا، ۞ فَنَفَخْتُهُمَا، فَذَهَبَا، ۞ فَأَوَّلْتُهُمَا الْكَذَّابَيْنِ اللَّذَيْنِ أَنَا بَيْنَهُمَا: ۞ صَاحِبُ صَنْعَاءَ وَصَاحِبُ الْيَمَامَةِ)) ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: ۞ او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۞ يوه ورځ زه اوده وم چې په خوب کې د زمکي خزاني ځما مخې ته راوستل شوي ۞ بيا ځما په لاس د سرو زرو (سوني) دوه کړئ کيخودل شوی چې په ما مشکلي شوی [يعني د سرو د پاره د سرو زرو د حراميدو په وجه د هغه کړو ځما په لاسونو کې کيدل ماته ناګوار شول] د دې نه پس په ماباندې وحي راغله يعنی په خوب کې بطور الهام ځما په زړه کې خداي تعالی دا خبره واچوله چې دې کړو ته پوکل ورکړه ۞ ماچې پوکل ورکړه نو هغه کړئ والوتلې ۞ ما د دې دوو کړو نه د هغه دوو دروغجنو باره کې تعبير واخستلو چې باعتبار مسکن اوعلاقه زه د هغوئ په منځ کې يم ۞ يعنی يوخو يمامه والا او دويم صنعا والا (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① كَفَّيَّ: زما په تلی کښې (يعنی لاس کښې)، ② سِوَارَانِ: دوه بنګړی، کړې، ③ فَكَبُرَا: نو مشکلې شوې په ما، ④ صَاحِبَ صَنْعَاءَ: دصنعاء والا يعنی د يمن کذاب اسود عنسی، ⑤ صَاحِبَ الْيَمَامَةِ: د يمامه والا يعنی مسيلمه کذاب.

۞ وَفِي رِوَايَةٍ: " ((يُقَالُ لِأَحَدِهِمَا مُسَيْلِمَةُ صَاحِبُ الْيَمَامَةِ، ۞ وَالْعَنْسِيُّ صَاحِبُ صَنْعَاءَ)) ۞ " لَمْ أَجِدْ هَذِهِ الرِّوَايَةَ فِي "الصَّحِيحَيْنِ"، ۞ وَذَكَرَهَا صَاحِبُ "الْجَامِعِ" عَنِ التِّرْمِذِيِّ.

ترجمه: ۞ او په يو روايت کې [چې ترمذي نقل کړي دي داسې] دي چې حضور ﷺ د هغه دوو دروغجنو وضاحت داسې وفرمايلو چې په هغوئ کې يو ته مسيلمه وئيل کيږي ۞ او دويم عنسي دي چې د صنعاء اوسيدونکي دی ۞ صاحب مشکوة وايي چې ما دا روايت په بخاري او مسلم کښ اونه موندلو ۞ او دا صاحب جامع الاصول د ترمذي نه نقل کړي دي .

تسهيلات:

قوله: فَكَبُرَا عَلَيَّ، فَأُوحِيَ إِلَيَّ أَنِ انْفُخْهُمَا، فَنَفَخْتُهُمَا، فَذَهَبَا:

د نبی علیه السلام د پریشانئ وجه: قرطبی رحمه الله فرمائي، چه هغوی ته بنګړی په لاسونو کښې د کیدلو د وجه غم ځکه اوشو چه دا دواړه د سرو زرو وو کوم چه په سړو باندې حرام دی او غیرمحل کښې دی ګویا چه دا باطل څیز د هغوی په لاسونو کښې ځکه ښکاره

---

(۱) اخرجه البخاری فی کتاب المغازی/باب وفد بنی حنیفة، وحدیث ثمامة بن [ص:۱۷۰] أثال (رقم-۴۳۷۴) ومسلم فی کتاب الرؤیا/باب رؤیا النبی صلی الله علیه وسلم (رقم-۲۲ - (۲۲۷۴) والترمذی فی کتاب الرؤیا عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی رؤیا النبی صلی الله علیه وسلم المیزان والدلو (رقم-۲۲۹۲) وابن ماجه فی کتاب تعبیر الرؤیا/باب تعبیر الرؤیا (رقم-۳۹۲۲) واحمد فی المسند: ۳۱۹/۲

شوي دي اهل علم فرمائي په لاس كښې كيدل لكه په لاس باندې دَ قبضه كيدو مترادف دی چه دوو باطل څيزونو لاسونه دَ دين دَ اشاعت نه رابند كړی دی.

قوله: فَأُوحِيَ إِلَيَّ أَنِ انْفُخْهُمَا، فَنَفَخْتُهُمَا، فَذَهَبَا:

د وحی په مفهوم كښې دوه اقوال: ① دې څخه مراد خو الهام دې كوم چې الله تعالى د خپل نيک بنده په زړه كښې اچوی.

② دڅخه مراد دَ فرښتې په ذريعه دَ الله تعالى حكم دې قاله القرطبي.

قوله: أَنْفُخْهُمَا:

د مذكوره لفظ په تركيب كښې دوه اقوال: ① ان مفسره دې او دَ اوحی تفسير دې

② طيبي رحمه الله فرمائي چه ان ناصبه دې او حرف جر محذوف دې ای بأن انفخهما.

قوله: فَنَفَخْتُهُمَا فَطَارَا:

په نفخ سره يوه باريكه اشاره: پس ما پوكې اووهلو نودواړه والوتل حافظ فرمائي رسول الله ﷺ دَ دې دواړو بنګړو په وجه غمګين شوې وو نو الله تعالى دَ پوكى وهلو حكم وركړو وئى فرمائيل چه دَ دې به دومره خاص طاقت نه وی چه په تاسو به غالب راشي بلكه په معمولي كوشش سره به دغه دواړه ختم شی او دَ پوكى غوندې معمولي څيز سره هغه دواړه والوتل نو ته مه خفه كيږه په لفظ نفخ وطيران سره دَ هغې دَ عدم شوكت او عدم غلبه طرف ته اشاره اوفرمائيله.

قوله: فَأَوَّلْتُهُمَا كَاذِبَيْنِ:

په دوو دروغژنو سره د بنګړو تعبير: رسول الله ﷺ دَ بنګړو دَ سرو زرو كيدو نه او دې كتلو سره چه په غيرمحل كښې دی اوګڼړل چه هغه كاذب به راځی كوم چه په باطل وی بيا دَ ذهب معنى دَ فناكيدلو ده. دَ دې نه ئې دا هم اخذ كړل چه هغه به ختم شی او دَ نفخ نه حضورپاک ﷺ معلومه كړه چه دَ دې غلبه به نه وی بلكه كمزورې به وی چه په پوكى به هم والوزی

قوله: صَاحِبَ صَنْعَاءَ:

د صاحب صنعاء مصداق: دااسود عنسی دې كوم چه دَ مقام صنعاء اوسيدونكې وو هغه هم دَ نبوت دعوى كړې وه دَ حضورپاک ﷺ په حكم سره په مرض الوفات كښې فيروز ديلمی رضي الله عنه هغه قتل كړو نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل فازفيروز رضي الله عنه.

قوله: وَصَاحِبَ الْيَمَامَةِ:

د صاحب اليمامه مصداق: دَ خای نوم دې هغه دَ نبوت دعوى اوكړه او دَ يمامه اوسيدونكو خلقو دَ هغه تصديق هم اوكړو مگر دَ حضورپاک ﷺ په حيات مبارک كښې هغه ته غلبه

اونه شوه دَحضرت ابوبکر رضی الله عنه په زمانه کښې حضرت وحشی بن حرب رضی الله عنه هغه قتل کړو قال ابوبکر رضی الله عنه له قتلت خیرالناس فی الجاهلیة وشرالناس فی الاسلام. وحشی رضی الله عنه سید الشهداء حضرت حمزه رضی الله عنه په زمانه دَ کفر کښې قتل کړې وو.

[۴۳۲۰] د چینې تعبیر د عمل په جاری والی سره

۴۳۲۰ـ[۱۳] (۱)[۱] «وَعَنْ أُمِّ الْعَلَاءِ الْأَنْصَارِيَّةِ، قَالَتْ: [۲] رَأَيْتُ لِعُثْمَانَ بْنِ مَظْعُونٍ فِي النَّوْمِ عَيْنًا تَجْرِي، [۳] فَقَصَصْتُهَا عَلَى رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۴] فَقَالَ: "ذٰلِكِ عَمَلُهُ يُجْرَى لَهُ"». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او بی بی ام العلاء انصاریه رضی الله عنها فرمائی[۲] چه ما په خوب کې ولیدل چې عثمان ابن مظعون رضی الله عنه د پاره د اوبو یوه چینه جاري ده[۳] کوم وخت چې دا خوب ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مخکې بیان کړو [۴] نو حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل دا د هغه د عمل ثواب دي چې د هغه د پاره جاري ساتلې شوې دې. (بخاري)

تسهیلات:

قوله: رَأَيْتُ لِعُثْمَانَ بْنِ مَظْعُونٍ فِي النَّوْمِ عَيْنًا تَجْرِي:

دچینې تعبیر د عمل په دوام سره: دَعین نه مراد سترګه نه ده بلکه دې نه دَ اوبو چینه مراد ده حضرت عثمان بن مظعون رضی الله عنه دَ یوشان والا صحابی دې اودَ رسول الله صلی الله علیه وسلم رضاعی رور او دَهغوی محبوب وو. په مدینه منوره کښې هغه رومبې سړې دې چه په بقیع الغرقد کښې دفن کړې شوې دې. دَ چینې جاری کیدل دَهغه دَ عمل مسلسل جاری پاتې کیدو طرف ته اشاره ده. چونکه دا صحابی مرابط وو اودَ مرابط عمل همیشه جاری وی په دې وجه دَهغه عمل داسې ښکاره شو

[۴۳۲۱] د نبی علیه السلام اوږد خوب لیدل

۴۳۲۱ـ[۱۴] (۲)[۱] عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا صَلَّى أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ، [۳] فَقَالَ: "مَنْ رَأَى مِنْكُمُ اللَّيْلَةَ رُؤْيَا" [۴] قَالَ: فَإِنْ رَأَى أَحَدٌ قَصَّهَا، [۵] فَيَقُولُ مَا شَاءَ اللهُ. فَسَأَلَنَا يَوْمًا [۶] فَقَالَ: "هَلْ رَأَى مِنْكُمْ أَحَدٌ رُؤْيَا؟" [۷] قُلْنَا: لَا. [۸] قَالَ: "لَكِنِّي رَأَيْتُ اللَّيْلَةَ رَجُلَيْنِ أَتَيَانِي، [۹] فَأَخَذَا بِيَدَيَّ، [۱۰] فَأَخْرَجَانِي إِلَى أَرْضٍ مُقَدَّسَةٍ،

ترجمه: [۱] او حضرت سمره ابن جندب رضی الله عنه وایي[۲] چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا معمول وو چې د سحر د مانځه نه به فارغه شو نو خپل مخ مبارك به یې زمونږ طرف ته متوجه کړو[۳] او پوښتنه به یې کوله چه نن شپه په تاسو کې چا خوب لیدلې دې؟[۴] حضرت سمره رضی الله عنه وایي که په مونږ کې به چا خوب لیدلې وو نو هغه به یې بیان کړو[۵] او حضور صلی الله علیه وسلم به د هغې

(۱) اخرجه البخاری فی کتاب التعبیر/باب العین الجاریة فی المنام (رقم-۷۰۱۸)
(۲) اخرجه البخاری فی کتاب الجنائز/باب ما قیل فی أولاد المشرکین (رقم-۱۳۸۶) واحمد فی المسند:۱۴/۵

تعبير وركولو كوم چې به ورته خداي ﷻ الهام فرمايلو (د خپل معمول مطابق) يوه ورځ حضور ﷺ زمونږ نه هم هغه پوښتنه وکړه [٦] او وي فرمايل آيا په تاسو کې يوسړي خوب ليدلي دي؟ [٧] مونږ عرض وکړو نه، [٨] حضور ﷺ وفرمايل ليکن نن شپه ما خوب ليدلي دي او هغه داچې دوه سړي ماته راغلل [٩] او خما دواړه لاسونه يې اونيول [١٠] او زه يې مقدس سر زمين [ملك شام] طرف ته بوتلم

[١] فَإِذَا رَجُلٌ جَالِسٌ [٢] وَرَجُلٌ قَائِمٌ بِيَدِهِ كَلُّوبٌ مِنْ حَدِيدٍ، [٣] يُدْخِلُهُ فِي شِدْقِهِ، فَيَشُقُّهُ [۴] حَتَّى يَبْلُغَ قَفَاهُ، ثُمَّ يَفْعَلُ بِشِدْقِهِ الْآخَرِ مِثْلَ ذَلِكَ، وَيَلْتَئِمُ شِدْقُهُ هَذَا، [٥] فَيَعُودُ فَيَصْنَعُ مِثْلَهُ. [٦] قُلْتُ: مَا هَذَا؟ قَالَا: انْطَلِقْ، [٧] فَانْطَلَقْنَا، حَتَّى أَتَيْنَا عَلَى رَجُلٍ مُضْطَجِعٍ عَلَى قَفَاهُ، [٨] وَرَجُلٌ قَائِمٌ عَلَى رَأْسِهِ بِفِهْرٍ، أَوْ صَخْرَةٍ [٩] يَشْدَخُ بِهَا رَأْسَهُ، [١٠] فَإِذَا ضَرَبَهُ تَدَهْدَهَ الْحَجَرُ، [١١] فَانْطَلَقَ إِلَيْهِ لِيَأْخُذَهُ، [١٢] فَلَا يَرْجِعُ إِلَى هَذَا حَتَّى يَلْتَئِمَ رَأْسُهُ، [١٣] وَعَادَ رَأْسُهُ كَمَا كَانَ، [١۴] فَعَادَ إِلَيْهِ فَضَرَبَهُ،

ترجمه: [١] يوځاي ته رسيدو سره زه ګورم چې يوسړي ناست دي [٢] او د يوبل سړي په لاس کې د اوسپنې کونډه (کنډه) نيولي ولاړ دي [٣] او بيا هغه کُنډه د ناست سړي وښکې کښ وراچوی او هغه څيروي [۴] تردي چې هغه ترڅټ پورې څيري کړي [٥] بيا هغه د بل وښکی سره دغه شان کوي (يعني هغه ترڅټ پورې څيروي) هرکله چې هغه وښکې خپل اصلي حالت باندې راشي [٥] نو بيا د مخکې په شان هغه عمل کوي [يعنی هغه وښکې څيروي او هرکله چې هغه وښکې درست شی نو بيايي څيروي غرض داچې بار بار دا عمل کوي (او دا عمل جاري وي)] [٦] حضور ﷺ فرمايي چه په دي ليدو سره ما هغه دواړو سړو نه پوښتنه وکړه (چې زه يې دخان سره راوستلي وم) چې داڅه کيږي؟ هغه دواړو اوويل زمونږ سره راځه [يعني داپوښتنه مه کوه چې څه کيږي) بلکي مخکې ځئ اوس لاډير عجائبات کتل دي د دې تعبير به درته پخپله معلوم شی] نو مونږ په مخکې روان وو تردي چې يو داسې ځاي ته راغلو چې هلته يو سړي (چې شايي په زمکه لګولي وه) پروت وو [٨] او يو بل سړي د هغه دسر سره دومره غټ کاڼي اخستي ولاړ وو چې د هغه نه لاس ډکيږي [٩] او هغه سره يې د هغه پروت سړي سر چختاڼ کوي [١٠] هغه چې به سر په کاڼي ويشتلو نو کاڼي به سرميده کولو سره لرې ورغړيدو [١١] بيابه هغه دوباره د ويشتلو په غرض هغه کاڼي پورته کولو د پاره ورتلو [١٢] او چې واپس به راتلو نو د هغه د رارسيدو نه مخکې به د هغه سړي سر يوځائې شوي وو [١٣] اوسره به ئې هغه شان شو څنګه چې به مخکې وو [١۴] او بيا به هغه په کاڼي ويشتلو [او دغه شان دا سلسله جاري وه چې د هغه سر به درست کيدو او هغه به يې په کاڼي ويشتلو].

حل اللغات: ① كَلُّوبٌ: دَ اوسپنې سيخ، کُنډه، ② شِدْقِهِ: کلئی، وښکې (يعنی د خولې ښی اوکس طرف). ③ فَيَشُقُّهُ: نو سيرې ئې کړو، ④ قَفَاهُ: څټ دهغه، ⑤ مُضْطَجِعٍ: ملاست وو، ⑥ قَفَاهُ: دڅټ په

طرف، ⑥ يلفز: لوتي کانړي، غټ ګټ، ⑧ صخرة: غټ کانړي، ⑨ يَشْدَخُ: چقنړي کولو ني (سر)، ⑩ تَدَهْدَهَ: را ارغړولو ني هغه (کانړي). ⑪ يَلْتَهِمَ: د التئام نه دَ يوځائي کيدو په معنی کښې دي،

[۱] فَقُلْتُ: مَا هٰذَا؟ قَالَا: انْطَلِقْ، [۲] فَانْطَلَقْنَا، حَتّٰى أَتَيْنَا إِلٰى ثَقْبٍ مِثْلِ التَّنُّورِ [۳] أَعْلَاهُ ضَيِّقٌ وَأَسْفَلُهُ وَاسِعٌ، [۴] تَتَوَقَّدُ تَحْتَهُ نَارٌ، [۵] فَإِذَا ارْتَفَعَتِ ارْتَفَعُوا [۶] حَتّٰى كَادَ أَنْ يَخْرُجُوا مِنْهَا، [۷] وَإِذَا خَمَدَتْ رَجَعُوا فِيهَا، [۸] وَفِيهَا رِجَالٌ وَنِسَاءٌ عُرَاةٌ. [۹] فَقُلْتُ: مَا هٰذَا؟ قَالَا: انْطَلِقْ. [۱۰] فَانْطَلَقْنَا، حَتّٰى أَتَيْنَا عَلٰى نَهَرٍ مِنْ دَمٍ، [۱۱] فِيهِ رَجُلٌ قَائِمٌ عَلٰى وَسْطِ النَّهَرِ، [۱۲] وَعَلٰى شَطِّ النَّهَرِ رَجُلٌ بَيْنَ يَدَيْهِ حِجَارَةٌ، [۱۳] فَأَقْبَلَ الرَّجُلُ الَّذِي فِي النَّهَرِ، [۱۴] فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَخْرُجَ رَمَى الرَّجُلُ بِحَجَرٍ فِي فِيهِ، [۱۵] فَرَدَّهُ حَيْثُ كَانَ، [۱۶] فَجَعَلَ كُلَّمَا جَاءَ لِيَخْرُجَ رَمٰى فِي فِيهِ بِحَجَرٍ فَيَرْجِعُ كَمَا كَانَ،

توجمه: [۱] په دي ليدو سره ما پوښتنه ورنه وکړه داڅه کيږي؟ هغه دواړو جواب راکړو مخکښې راځئ [۲] نو مونږ مخکښې لاړو تردي چې يو داسې کندي ته ورسيدو چې د تنور په شان وه [۳] چه د هغې د پاسه حصه تنګه وه او لاندي حصه يې فراخه وه [۴] او په هغې کې دننه اور لمبې وهلې [۵] اور چې به پورته طرف ته راوختو نو څه خلق چې په اور کې به دننه وو شغلو سره به پورته راتلل [٦] تردي چې هغوی به د کندي نه وتلو ته نزدې شو [۷] او هرکله چې د شغلې زور به کم شو نو هغه ټول به بيا دننه طرف ته ولاړل [۸] ما وليدل چې په هغه اور کې څو سړي او څو ښځې وې او ټول بربنډ وو [۹] په دي ليدو سره ما پوښتنه وکړه داڅه کيږي؟ نو هغه دواړو راته اوويل مخکښې ورځه [۱۰] نو مونږ مخکښې لاړو تردي چې يوداسې نهر ته ورسيدو چې د اوبو په ځاي د وينو نه ډک وو [۱۱] د نهر په منځ کې يو سړي ولاړ وو [۱۲] او يو بل سړي د هغې په غاړه وو چې د هغه مخې ته کاڼي پراته وه [۱۳] هغه سړي چې د نهر په منځ کې وو [۱۴] چې غاړې ته به راغلواو بهرته راوتل به يې غوښتل نو کوم سړي چې په غاړه ولاړ وو هغه به يې په مخ په کاڼي ويشتلو [۱۵] چې د هغې سره به هغه خپل ځاي ته واپس لاړلو [۱٦] او بيا دغه شان داسلسله جاري وه چې په نهرکې دننه سړي به بهرته د راوتلو اراده کوله نو په غاړه ولاړسړي به په کاڼي په مخ ويشتلو او هغه به يې خپل ځاي ته واپس رسولو.

حل اللغات: ③ ثقب: کنده، تنور. ③ خمدت: اُور به مړشو، سوړ به شو، ③ عُرَاةٌ: بربنډ، ⑭ شَطِّ: غاړه،

[۱] فَقُلْتُ: مَا هٰذَا؟ قَالَا: انْطَلِقْ، [۲] فَانْطَلَقْنَا، حَتّٰى انْتَهَيْنَا إِلٰى رَوْضَةٍ خَضْرَاءَ [۳] فِيهَا شَجَرَةٌ عَظِيمَةٌ، [۴] وَفِي أَصْلِهَا شَيْخٌ وَصِبْيَانٌ، [۵] وَإِذَا رَجُلٌ قَرِيبٌ مِنَ الشَّجَرَةِ [٦] بَيْنَ يَدَيْهِ نَارٌ يُوقِدُهَا، [۷] فَصَعِدَا بِيَ الشَّجَرَةَ، [۸] فَأَدْخَلَانِي دَارًا وَسْطَ الشَّجَرَةِ، لَمْ أَرَ قَطُّ أَحْسَنَ مِنْهَا، [۹] فِيهَا رِجَالٌ شُيُوخٌ وَشَبَابٌ وَنِسَاءٌ وَصِبْيَانٌ، [۱۰] ثُمَّ أَخْرَجَانِي مِنْهَا، [۱۱] فَصَعِدَا بِيَ الشَّجَرَةَ، [۱۲] فَأَدْخَلَانِي دَارًا هِيَ أَحْسَنُ وَأَفْضَلُ مِنْهَا، [۱۳] فِيهَا شُيُوخٌ وَشَبَابٌ، [۱۴] فَقُلْتُ لَهُمَا: إِنَّكُمَا قَدْ طَوَّفْتُمَانِي اللَّيْلَةَ، [۱۵] فَأَخْبِرَانِي عَمَّا رَأَيْتُ.

توجمه: [۱] په دي ليدو سره ما پوښتنه وکړه داڅه کيږي؟ نو هغه دواړو راته اوويل مخکښې ورځه [۲] نو مونږ مخکښې لاړو تردي چې يو سرسبز او شاداب باغ ته ورسيدو [۳] هغه باغ کې يوه لويه ونه وه [۴] او د هغې دتنې سره يو بوډا سړي او څه هلکان ناست وو [۵] بيا ګورم چې

هغه ونې سره يوبل سړي هم دي [٦] چې د هغه مخې ته اور بليږي او هغه يې ګرموي او تيزوي [٧] بيا هغه دواړو زه خان سره اخستو سره هغه ونې ته وختل [٨] او زه يې يوداسې كوركي داخل كړم چې د هغه ونې بالكل په منځ كې وو او هغه كور دومره ښائسته وو چې ما د هغې نه ښه كور چيرته نه وو ليدلي [٩] په هغه كوركي څه خوانان، بوډاګان سړي وو څه ښځې او څه بچې وو [١٠] د دې نه پس هغه دواړو زه د هغه كور نه ويستلم [١١] او د ونې سرته يې بوتلم [١٢] او زه يې په يو داسې كوركي داخل كړم چې د مخكنې كور نه هم ښه او افضل وو [١٣] په هغې كې هم بوډاګان او ځلمي سړي موجود وو [١۴] اوس ما هغه دواړو ته اوويل نن شپه تاسوزه ښه وګرځولم [١٥] ليكن ما چې څه ليدلي دي دهغې دحقيقت نه خو ما آګاه كړئ:

حل اللغات: ⑯ رَوْضَةٍ خَضْرَاءَ: سرسبز باغ، ⑰ أَصْلِهَا : د ونې تنه، ⑱ طَوَّفْتُمَانِي : تاسو دواړو زه ښه اوګرځولم

[١] قَالَا: نَعَمْ، [٢] أَمَّا الرَّجُلُ الَّذِي رَأَيْتَهُ يُشَقُّ شِدْقُهُ فَكَذَّابٌ، [٣] يُحَدِّثُ بِالْكَذْبَةِ فَتُحْمَلُ عَنْهُ حَتَّى تَبْلُغَ الْآفَاقَ [۴] فَيُصْنَعُ بِهِ مَا تَرَى إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ، [٥] وَالَّذِي رَأَيْتَهُ يُشْدَخُ رَأْسُهُ [٦] فَرَجُلٌ عَلَّمَهُ اللهُ الْقُرْآنَ فَنَامَ عَنْهُ بِاللَّيْلِ [٧] وَلَمْ يَعْمَلْ بِمَا فِيهِ بِالنَّهَارِ، [٨] يُفْعَلُ بِهِ مَا رَأَيْتَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ، [٩] وَالَّذِي رَأَيْتَهُ فِي الثَّقْبِ فَهُمُ الزُّنَاةُ، [١٠] وَالَّذِي رَأَيْتَهُ فِي النَّهَرِ آكِلُ الرِّبَا. [١١] وَالشَّيْخُ الَّذِي رَأَيْتَهُ فِي أَصْلِ الشَّجَرَةِ إِبْرَاهِيمُ. [١٢] وَالصِّبْيَانُ حَوْلَهُ فَأَوْلَادُ النَّاسِ، [١٣] وَالَّذِي يُوقِدُ النَّارَ مَالِكٌ خَازِنُ النَّارِ. [١۴] وَالدَّارُ الْأُولَى الَّتِي دَخَلْتَ دَارُ عَامَّةِ الْمُؤْمِنِينَ.

ترجمه: [١] هغه دواړو اوويل ښه ده مونږ تاسو ﷺ ته ښايو (بيا هغه دواړو بيان كول شروع كړل) [٢] چې كوم سړي تاسو وليدلو چې د هغه وښكې شلولې شي هغه داسې سړي دي چې دروغجن دي [٣] دروغ وايي او د هغه دروغ خبري نقل او بيانيږي چې په دنيا كې څلور طرف ته خوريږي (چې په هغې سره خلق ګمراه كيږي) [۴] نو هغه سره هغه سلوك كيږي كوم چې تاسو ﷺ وليدلو او د هغه سلسله به ترقيامته پورې جاري وي [٥] او كوم سړي چې تاسو ﷺ وليدلو چې د هغه سرميده كول كيږي، [٦] هغه داسې سړي دي چې هغه ته خداي ﷻ قرآن ښودلي وو (يعنى هغه ته يې د قرآني علومو زده كولو توفيق وركړي وو ليكن هغه (سړي د قرآن نه بې نيازه كيدو سره) د شپې به اوده وو [٧] او د ورځې به يې د قرآن مطابق عمل نه كولو [٨] نو هغه سره هغه سلوك كيږي كوم چې تاسو ﷺ وليدلو او د هغه سلسله به ترقيامته پورې جاري وي [٩] او كوم خلق چې تاسو ﷺ تنور كې ليدلي دي هغه زنا كار دي [١٠] او كوم سړي چې تاسو ﷺ په نهر كې وليدل هغه سود خواره دي (دې ټولو ته د خپل عمل سزا وركول كيږي چې ترقيامته پورې به دغه شان جاري وي) [١١] او كوم بوډا سړي چې تاسو ﷺ د ونې بيخ سره ناست ليدلي دي هغه حضرت ابراهيم عليه السلام وو [١٢] او د هغه سره چې كوم بچې دي هغه د خلقو اولاد دي [١٣] او كوم سړي چې د ونې نه په څه فاصله اور تيزوي هغه د دوزخ داروغه دي [١۴] او د ونې د پاسه مخكنې كور چې په هغې كې

تاسو ﷺ داخل شوي وئ هغه جنت د عامو مؤمنانو مكان دي

حل اللغات: ⑭ الْآفَاقَ: اطراف د دنيا ، ⑮ خَازِنٌ: داروغه.

[١] وَأَمَّا هٰذِهِ الدَّارُ فَدَارُ الشُّهَدَاءِ. [٢] وَأَنَا جِبْرِيلُ وَهٰذَا مِيكَائِيلُ [٣] فَارْفَعْ رَأْسَكَ، فَرَفَعْتُ رَأْسِي، فَإِذَا فَوْقِي مِثْلُ السَّحَابِ - [٤] وَفِي رِوَايَةٍ: مِثْلُ الرَّبَابَةِ الْبَيْضَاءِ [٥] قَالَا: ذٰلِكَ مَنْزِلُكَ. [٦] قُلْتُ: دَعَانِي أَدْخُلْ مَنْزِلِي. [٧] قَالَا: إِنَّهُ بَقِيَ لَكَ عُمُرٌ لَمْ تَسْتَكْمِلْهُ [٨] فَلَوِ اسْتَكْمَلْتَهُ أَتَيْتَ مَنْزِلَكَ» " رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ. [٩] وَذُكِرَ حَدِيثُ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ فِي رُؤْيَا النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي الْمَدِينَةِ فِي "بَابِ حَرَمِ الْمَدِينَةِ".

ترجمه: [١] او دا كور چې د مخكښي كور د پاسه واقع دي د شهداؤ مكان دي [٢] او زه جبرائيل علیه السلام يم او داچي زماسره دي ميكائيل علیه السلام دي [٣] او لږ تاسو ﷺ سرپورته كړئ حضور ﷺ فرمايي چې ماخپل سر پورته كړو نو ګورم چې خما د پاسه ډيري بلندئ كې د وريځ په شان څه شي دي [٤] اوپه يو روايت كښې دی پشان د سپينې وريځې پشان وه [٥] هغه دواړو اوويل [د وريځي په شان داشي چې تاسو ﷺ وينئ دراصل] په جنت كې ستاسو ﷺ مكان دي [٦] ما اوويل بيا تاسو خلق ما پريږدئ چې زه خپل مكان ته لاړشم [٧] هغه دواړو اوويل اوس لا ستاسو ﷺ عمر باقي دي چې تاسو ﷺ نه دي پوره كړي [٨] كله چې تاسو ﷺ خپل عمر پوره كړئ نو خپل مكان ته به لاړ شئ (بخاري) [٩] اود حضرت عبد الله ابن عمر رضي الله عنه هغه روايت چې په مدينه كې د رسول الله ﷺ خوب ليدو سره متعلق دي هغه د حرم مدينه باب كې نقل كړې شوي دي.

تسهيلات:

قوله: فَأَخْرَجَانِي:

تنبيه: د مذكوره حديث دَ نبى كريم په خوب كښې څو معراجونه شوى دى دا معراج هم دَدغې نه يودې. ليكن دَ ليلة الاسراء والا معراج دَ خوب واقعه نه ده بلكه هغه په جسد عنصري سره دَ بيدارئې په حالت كښې شوې دې.

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ

[۳۶۲۲] خپل خير خواه ته خوب بيا نول

۳۶۲۲–[۱۵] ([1]) [١] عَنْ أَبِي رَزِينٍ الْعُقَيْلِيِّ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] " «رُؤْيَا الْمُؤْمِنِ جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ وَأَرْبَعِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ [٣] وَهِيَ عَلَى رِجْلِ طَائِرٍ مَا لَمْ يُحَدِّثْ بِهَا [٤] فَإِذَا حَدَّثَ بِهَا وَقَعَتْ ". [٥] وَأَحْسِبُهُ قَالَ: " لَا تُحَدِّثْ إِلَّا حَبِيبًا أَوْ لَبِيبًا» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. [٦] وَفِي رِوَايَةِ أَبِي دَاوُدَ، قَالَ: "

[1]) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأدب/باب ما جاء فى الرؤيا (رقم-۵۰۲۰)والترمذى فى كتاب الرؤيا عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ما جاء فى تعبير الرؤيا (رقم-۲۲۷۸)وابن ماجه فى كتاب تعبير الرؤيا/باب الرؤيا إذا عبرت وقعت، فلا يقصها إلا على واد (رقم-۳۹۱۴)

«الرُّؤْيَا عَلٰى رِجْلِ طَائِرٍ مَا لَمْ تُعَبَّرْ، [۷] فَإِذَا عُبِرَتْ وَقَعَتْ". [۸] وَأَحْسِبُهُ قَالَ: " وَلَا تَقُصَّهَا إِلَّا عَلٰى وَادٍّ أَوْ ذِي رَأْيٍ»".

ترجمه: [۱] حضرت ابورزين عقيلي رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د مؤمن خوب د نبوت شپږ خلويښتو حصو كې يوه حصه ده [۳] او خوب چې ترڅو پورې بيان نه كړې شي هغه د مارغه (پرندې) په پښو وي [۴] او هركله چې هغه د چا مخكې بيان كړې شي نو هغه واقع كيږي [۵] (راوي وايي) خما خيال دې چې حضور ﷺ دا هم وفرمايل چې د دانا او دوست نه علاوه د بل چا په مخكې خوب مه بيانوه (ترمذي) [۶] او د ابوداود په روايت كې داسې دي د خوب تعبير چې ترڅوپورې بيان نه شي هغه د مارغه په پښو وي [۷] او هركله چې د هغې تعبير بيان كړې شي نو هغه تعبير واقع كيږي [۸] او خما خيال دې چې حضور ﷺ دا هم وفرمايل چې د دوست او عقلمند نه علاوه د بل چا په مخكې خوب مه بيانوه.

حل اللغات: ① طَائِرٍ: مارغه، ② لَبِيبًا: هوښيار ملګرې، ③ عُبِرَتْ: تعبيربيان كړې شي.

تسهيلات:

قوله: عَلٰى رِجْلِ طَائِرٍ:

د مذكوره جملې په مفهوم كښې دوه اقوال: ① دَ عدم قرار په اعتبارسره تشبيه مقصود ده يعنى لكه څنګه چه يوڅيز دَ مرغئى په خپه باندې كيخودې شوى وى كوم چه په معمولى حركت كولو سره پريوتلې شى هم دغه شان دَ خوب تعبيرهم وى كله هم چه دَ دې څه تعبير اوكړې شى زر به هغه واقع كيږى اوهم دغه تعبير به متيقن كيږى.

② حضرت ګنګوهى رحمه الله فرمائى دَ دې مطلب دادې چه كله يوسړې خوب وينى نودَهغه په زړه كښې قرار نه وى بلكه مختلف تعبيرونه دَ هغه په زړه كښې څى راځى لكه څنګه چه رجل طائر باندې څه څيز كيخودې شى نو هغې ته قرار نه وى. حتى چه اول كوم سړې تعبير وركوى نو بيا هم هغه دَ ده په زړه كښې راسخ كيږى او دَ هغه په نيز هم هغه تعبير متعين كيږى اوس كه دې نه پس بل څوك بل تعبيروركوى نو رومبې به ختميږى نه دَ وقعت او سقطت هم دغه مطلب دې.

قوله: إِلَّا لَبِيبًا أَوْحَبِيبًا:

عاقل اودوست ته د خوب بيانول: بعض رواياتوكښې الاعلى عالم اوناصح او بعضو كښې ذى رأى واد واقع دې مراد دادې چه خوب خو يا عقل مند يا عالم او دَ رائې خاوند ته ذكر كړئى او يا محبت كونكى خيرخواه ته ځكه چه عقل مند او محبت كونكى به دَ عقل او محبت په وجه ښه تعبير بيان كړى اوچه كوم اول تعبير وى هم هغه به واقع كيږى اوكه دغه سړې جاهل يا بغض لرونكې وى نوداسې تعبير به دركړى چه غم او خفګان به وى نو بيا به هم دغه تعبير واقع كيږى.

[۳۳۳] د ورقه ابن نوفل متعلق د نبي عليه السلام خوب ليدل

۴۶۲۳-[۱۲] ()[۱] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: [۲]«سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ وَرَقَةَ [۳] فَقَالَتْ لَهُ خَدِيجَةُ: إِنَّهُ كَانَ قَدْ صَدَّقَكَ [۴] وَلَكِنْ مَاتَ قَبْلَ أَنْ تَظْهَرَ، [۵] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أُرِيتُهُ فِي الْمَنَامِ، وَعَلَيْهِ ثِيَابٌ بِيضٌ، [۶] وَلَوْ كَانَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ كَانَ عَلَيْهِ لِبَاسٌ غَيْرُ ذَلِكَ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه رضي الله عنها فرمائي[۲] چې يو وخت د نبي كريم ﷺ نه د ورقه ابن نوفل باره كې پوښتنه وشوه (چې هغه مؤمن وو او كه نه؟)[۳] او بي بي خديجې رضي الله عنها د حضور ﷺ مخكې بيان وكړو چې ورقه ابن نوفل به ستاسو تصديق كولو[۴] ليكن ستاسو د نبوت ظاهريدو نه مخكې مړ شوي دي[۵] حضور ﷺ وفرمايل ماته په خوب كې ورقه ابن نوفل داسې حالت كې ښودل شوي دي چې په هغه سپينې كپړې وې[۶] كه هغه دوزخي وې نو د هغه په جسم به بل قسم كپړې واې. (احمد وترمذي)

تسهيلات:

قوله: إِنَّهُ كَانَ قَدْ صَدَّقَكَ، وَلَكِنْ مَاتَ قَبْلَ أَنْ تَظْهَرَ:

دخديجه رضي الله عنها د تپوس مقصد: د حديث الباب حاصل دا دې چه كله د نبي كريم ﷺ نه د ورقه بن نوفل په باره كښې سوال وكړې شو نو حضرت خديجه رضي الله عنها د نبي كريم ﷺ د جواب وركولو نه مخكې د خپل تره خوې حالت بيان كړو ليكن داسې طريقه ئې اختيار كړه چه د ورقه بن نوفل حقيقت هم واضح شي او د نبوت د مرتبې د ادب خيال هم وساتلې شي، نو دوى وفرمائيل چه هغوى ستاسو تصديق كولو يعنى هغوى ستاسو تصديق كولو سره فرمائيلي وو چه كومه فرښته چه تاسو ليدلې ده نو دې فرښتې به د الله تعالى د طرف نه انبياء كرامو ته وحي راوړله او ستاسو نه مخكې حضرت موسى عليه السلام او حضرت عيسى عليه السلام ته ئې هم وحي راوړله او تاسو د الله تعالى پيغمبر ئې او كه زه ستاسو د ظهور اوغلبه (يعني د نبوت ملاويدلو) په وخت كښې ژوندې وم نو زه به ضرور ستاسو مدد كوم او تاسو ته به طاقت رسوم، نو حضرت خديجه رضي الله عنها يو طرف ته ايمان ثابتول غوښتل او بل طرف ته ئې دا ثابت كړل چه هغه د نبي كريم ﷺ د اعلان نبوت نه مخكې وفات شوې وو

قوله: أُرِيتُهُ فِي الْمَنَامِ، وَعَلَيْهِ ثِيَابٌ بِيضٌ:

د سپينو جامو تعبير په جنتي كيدو سره: نبي كريم ﷺ د مذكوره ارشاد په ذريعه دا ثابت

---

[۱] اخرجه الترمذي في السنن كتاب الرؤيا عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في رؤيا النبي صلى الله عليه وسلم الميزان والدلو (رقم-۲۲۸۸) واحمد في المسند:۶/۶۵

کړل چه هغه جنتی وو، لهذا دا حدیث د حضرت ورقه بن نوفل په خاتمه بالخير باندې دلالت کوی، نو ددې نه دا معلومه شوه چه مړي په خوب کښې سپین لباس کښې لیدل د مړی د جنتی کیدلو علامت دی

[۳۳۳] د نبی کریم ﷺ په تندي مبارك د سجدې كولو خوب ليدل

> ۳۳۳-[۱۷] ( ) ۱ وَعَنِ ابْنِ خُزَيْمَةَ بْنِ ثَابِتٍ، «عَنْ عَمِّهِ أَبِي خُزَيْمَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ- ۲ أَنَّهُ رَأَى فِيمَا يَرَى النَّائِمُ، أَنَّهُ سَجَدَ عَلَى جَبْهَةِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ۳ فَأَخْبَرَهُ، فَاضْطَجَعَ لَهُ وَقَالَ: ۴ "صَدِّقْ رُؤْيَاكَ" فَسَجَدَ عَلَى جَبْهَتِهِ». رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ". ۵ وَسَنَذْكُرُ حَدِيثَ أَبِي بَكْرَةَ: كَأَنَّ مِيزَانًا نَزَلَ مِنَ السَّمَاءِ. فِي بَابِ: "مَنَاقِبِ أَبِي بَكْرٍ، وَعُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا-"

ترجمه: ۱ او حضرت خزیمه ابن ثابت د خپل تره حضرت ابو خزیمه رضي الله عنه نه نقل کوي ۲ چه هغه داسې حالت کې چې په هغې کې اوده سړيويني (يعني په خوب کې يې وليدل) چې هغه د نبي کريم ﷺ پر تندي مبارك سجده کريده ۳ بيا هغه داخوب د حضور ﷺ په مخکې بيان کې نو حضور ﷺ (هغه خوب اوريدو سره) د ابو خزيمه رضي الله عنه د خاطره پريوتلو (چي هغه تندي مبارك باندې سجده وکړي) او وي فرمايل ۴ خپل خوب رښتيا کړه يعنى د خپل خوب مطابق عمل وکړه نو هغه دحضور ﷺ پر تندي مبارك سجده وکړه (شرح السنه ۵ او د حضرت ابوبکره رضي الله عنه دا روايت كَأَنَّ مِيزَانًا نَزَلَ مِنَ السَّمَآءِ به مناقب ابوبکر رضي الله عنه و يا عمر رضي الله عنه کې نقل کړې شي

حل اللغات: ① فَاضْطَجَعَ: پس پريوتلو (په سجده باندې)

تسهيلات:

قوله: صَدِّقْ رُؤْيَاكَ" فَسَجَدَ عَلَى جَبْهَتِهِ

په خوب باندې د عمل کولو کوشش کول: يعنى ابوخزيمه رضي الله عنه خوب اوليدلو چه هغه په خوب کښې دَ نبى کريم په تندى مبارك باندې سجده لګوى سحر هغه دا خوب نبى کريم ته بيان کړونو نبى کريم سملاستو او وئى فرمائيل خپل خوب دې رښتياکړه اوزما په تندى باندې سجده اولګوه دَدې حديث نه دامعلومه شوه چه په يوخوب باندې په بيدارئى کښې ترکومې عمل کول ممکن وى نوخوب ليدونکى له په هغې باندې عمل کول پکاردى خاص کر چه کله دَ عباداتو معامله وى چه په خوب کښې په يوخاص جمات کښې مونځ کړې يا په خاص ورځ ئى روژه ساتلې ده يادَ خاص بزرګ زيارت ئى کړې دې نو په بيدارئى کښې په دې افعالو باندې عمل کول پکاردى

( ) اخرجه احمد فى المسند: ۲۱۵/۵

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٤٦٢٥] د عالم برزخ متعلق د نبی کریم علیه السلام یو خوب

۴۶۲۵-[۱۸] (¹)[۱] عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِمَّا يُكْثِرُ أَنْ يَقُولَ لِأَصْحَابِهِ: [۳] "هَلْ رَأَى أَحَدٌ مِنْكُمْ مِنْ رُؤْيَا؟ [۴] "فَيَقُصُّ عَلَيْهِ مَنْ شَاءَ اللّٰهُ أَنْ يَقُصَّ، [۵] وَإِنَّهُ قَالَ لَنَا ذَاتَ غَدَاةٍ: " [۶] إِنَّهُ أَتَانِي اللَّيْلَةَ آتِيَانِ، [۷] وَإِنَّهُمَا ابْتَعَثَانِي، وَإِنَّهُمَا قَالَا لِي [۸]: انْطَلِقْ، وَإِنِّي انْطَلَقْتُ مَعَهُمَا. [۹] وَذَكَرَ مِثْلَ الْحَدِيثِ الْمَذْكُورِ فِي الْفَصْلِ الْأَوَّلِ بِطُولِهِ، [۱۰] وَفِيهِ زِيَادَةٌ لَيْسَتْ فِي الْحَدِيثِ الْمَذْكُورِ،

ترجمه: [۱] حضرت سمره ابن جندب رضی الله عنه وايي [۲] چې رسول الله ﷺ به اکثر خپلو صحابه رضی الله عنهم نه دا پوښتنه کوله [۳] چې آيا په تاسو کې چا څه خوب ليدلي دي؟ [۴] نو خداي ﷻ چې به چاته څه خوب ښودل وغوښتل او هغه به خوب وليدلو نو هغه به خپل خوب حضور ﷺ ته بیانولو [۵] يوه ورځ حضور ﷺ زمونږ مخکې بيان وکړو [۶] چه نن شپه ماخوب وليدلو چې دوه سړي ماته راغلل [۷] هغوئ څه راپاڅولم راته يې وويل [۸] زمونږ سره راځه نو زه د هغوئ سره روان شوم [۹] ددې نه پس د حديث راوي سمره رضی الله عنه هغه طويل (اوږد) حديث بيان کړو چې د دې خوب سره متعلق په اول فصل کې تير شوي دي [۱۰] ليکن په دې حديث کې د مخکني فصل والاحديث نه څه زياتې خبري دي

[۱] وَهِيَ قَوْلُهُ: " فَأَتَيْنَا عَلَى رَوْضَةٍ مُعْتِمَةٍ، [۲] فِيهَا مِنْ كُلِّ نَوْرِ الرَّبِيعِ، [۳] وَإِذَا بَيْنَ ظَهْرَيِ الرَّوْضَةِ رَجُلٌ طَوِيلٌ، [۴] لَا أَكَادُ أَرَى رَأْسَهُ طُولًا فِي السَّمَاءِ، [۵] وَإِذَا حَوْلَ الرَّجُلِ مِنْ أَكْثَرِ وِلْدَانٍ مَا رَأَيْتُهُمْ قَطُّ. [۶] قُلْتُ لَهُمَا: مَا هَذَا، مَا هَؤُلَاءِ؟ [۷] " قَالَ: " قَالَا لِيَ: انْطَلِقْ [۸] فَانْطَلَقْنَا، فَانْتَهَيْنَا إِلَى رَوْضَةٍ عَظِيمَةٍ [۹] لَمْ أَرَ رَوْضَةً قَطُّ أَعْظَمَ مِنْهَا، وَلَا أَحْسَنَ ". [۱۰] قَالَ: " قَالَا لِيَ: ارْقَ فِيهَا ". [۱۱] قَالَ: " فَارْتَقَيْنَا فِيهَا، [۱۲] فَانْتَهَيْنَا إِلَى مَدِينَةٍ مَبْنِيَّةٍ بِلَبِنٍ ذَهَبٍ، وَلَبِنٍ فِضَّةٍ،

ترجمه: [۱] او هغه دادي چې حضور ﷺ وفرمايل نومونږ يو ګڼ (ګونږ) باغ ته ورسيدلو [۲] چې هلته د ونو د کثرت او په هغې کې د سرسبزئ او شادابئ د زيات والي په وجه تياره خوره شوي وه په باغ کې هرطرف ته بهار او بهار وو او د هرقسم غوټې خلاصې شوي وي [۳] بيا ناڅاپه ګورم چې د باغ منځ کې يو سړي ولاړ دي هغه ډير اوږد وو [۴] چه د هغه سر هم ماته په نظر نه راتلو څکه چې د هغه اوږدوالي د آسمان سره خبرې کولې [۵] بيا ماته دا هم په نظر راغلل چې د هغه نه ګير چاپيره ډير هلکان وه چې ماهيڅ کله نه وو ليدلي [۶] ما هغه دواړو سړو نه پوښتنه وکړه دا اوږد سړي څوک دي او دا هلکان څوک دي؟ [۷] حضور ﷺ وفرمايل چه هغه دواړو خما د خبرې د جواب راکولو په ځاي ماته اوويل مخکې ځي [۸] مونږ مخې ته روان وو او يوډير لوي باغ ته ورسيدو [۹] چې د هغې نه لوي او د هغې نه ښه

¹) اخرجه البخاري فی کتاب التعبیر /باب تعبیر الرؤیا بعد صلاة الصبح (رقم-۷۰۴۷) واحمد فی المسند: ۹/۵

باغ ماهیخ کله نه وو لیدلي[۱۰] حضور ﷺ وفرمایل هلته رسیدو سره هغه دوارو سړو ماته اوویل چې باغ ته دننه ورشئ[۱۱] ایا هغه ونو باندې وخیژئ! نو مونږ وختو [۱۲] او یو داسې ښارته نژدې ورسیدو چې د سروزرو او سپینوزرو د خښتو نه تعمیر شوي وو

حل اللغات: ① مُغْتَمَّة: ګڼر. ګور ړجه د وونو د ګڼروالی په وجه پکښې تیاره وه، ② نَوْرُ الرَّبِيعِ: نور د ګلونو غوټۍ ته وائي، ربیع سپرلی ته وائي یعنی د بهار ښائست ③ ارْقَ: اوخیژه، ④ مَبْنِيَّة: جوړه شوې وه، ⑤ بِلَبِنِ ذَهَبٍ: د سرو زرو په خښتو،

[۱] فَأَتَيْنَا بَابَ الْمَدِينَةِ، فَاسْتَفْتَحْنَا، فَفُتِحَ لَنَا،[۲] فَدَخَلْنَاهَا، فَتَلَقَّانَا فِيهَا رِجَالٌ،[۳] شَطْرٌ مِنْ خَلْقِهِمْ كَأَحْسَنِ مَا أَنْتَ رَاءٍ،[۴] وَشَطْرٌ مِنْهُمْ كَأَقْبَحِ مَا أَنْتَ رَاءٍ".[۵] قَالَ: "قَالَا لَهُمْ: اذْهَبُوا، فَقَعُوا فِي ذَلِكَ النَّهْرِ".[۶] قَالَ: "وَإِذَا نَهْرٌ مُعْتَرِضٌ يَجْرِي[۷] كَأَنَّ مَاءَهُ الْمَحْضُ فِي الْبَيَاضِ،[۸] فَذَهَبُوا، فَوَقَعُوا فِيهِ،[۹] ثُمَّ رَجَعُوا إِلَيْنَا قَدْ ذَهَبَ ذَلِكَ السُّوءُ عَنْهُمْ،[۱۰] فَصَارُوا فِي أَحْسَنِ صُورَةٍ".

ترجمه: [۱] بیا مونږ د هغه ښار دروازې ته راغلو نومونږ دد دروازې خلاصولو مطالبه اوکړه نودروازه زمونږ دپاره خلاصه کړې شوه [۲] مونږ دننه داخل شو او په هغه ښار کې داسې سړو سره یوخاې شو[۳] چې په هغې کې د هر یو د بدن نیمه حصه دومره ښائسته وه چې ته یې ګورې[۴] او نیمه حصه د هغه نه بدتره او انتهایي خرابه وه[۵] حضور ﷺ وفرمایل هغه دوارو چې زه یې د ځان سره بوتلې وم هغه ټولو ته اوویل ځئ په دې نهر کې غوټه ووهئ[۶] حضور ﷺ فرمایي هرکله چې هغه دوارو داخبره وکړه نو زه وینم چې هلته عرضاً یونهر بهیږي[۷] چې د هغې اوبه خالصې د شیدو په شان سپینې دي[۸] نو هغه خلق نهر ته ورغلل په هغې کې وروغورزیدل[۹] بیا چې هغوئ غوټه وهلو سره مونږ ته واپس راغلل نو د هغوئ دجسم خرابي لرې شوې وه[۱۰] او دهغوئ پوره جسم بهترین شکل او صورت کې بدل شوي وو

حل اللغات: ⑥ شَطْرٌ: حصه، نیمه حصه، ⑦ أَقْبَحِ: ډیره خرابه، ⑧ فَقَعُوا: غوټه اووهئ، ورغوېه شئ، ⑨ مُعْتَرِضٌ: په پلنوالي، ⑩ الْمَحْضُ: خالص.

[۱] وَذَكَرَ فِي تَفْسِيرِ هَذِهِ الزِّيَادَةِ:[۲] "وَأَمَّا الرَّجُلُ الطَّوِيلُ الَّذِي فِي الرَّوْضَةِ فَإِنَّهُ إِبْرَاهِيمُ،[۳] وَأَمَّا الْوِلْدَانُ الَّذِينَ حَوْلَهُ فَكُلُّ مَوْلُودٍ مَاتَ عَلَى الْفِطْرَةِ".[۴] قَالَ: فَقَالَ بَعْضُ الْمُسْلِمِينَ: يَا رَسُولَ اللهِ! وَأَوْلَادُ الْمُشْرِكِينَ؟[۵] فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَأَوْلَادُ الْمُشْرِكِينَ،[۶] وَأَمَّا الْقَوْمُ الَّذِينَ كَانُوا شَطْرٌ مِنْهُمْ حَسَنٌ، وَشَطْرٌ مِنْهُمْ قَبِيحٌ،[۷] فَإِنَّهُمْ قَوْمٌ قَدْ خَلَطُوا عَمَلًا صَالِحًا وَآخَرَ سَيِّئًا.[۸] تَجَاوَزَ اللهُ عَنْهُمْ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] د دې نه پس حضور ﷺ د حدیث د هغه زیاتو الفاظو په وضاحت کې وفرمایل چې [۲] هغه اوږد سړي کوم چې په باغ کې وو حضرت ابراهیم علیه السلام وو[۳] او د هغوئ نه چاپیره چې کوم هلکان وه هغه داسې بچي وو کوم چې په فطرت باندې مړ شوي وو [یعنی کوم بچي چې په کوچنې عمر کې نابالغه مړه شي هغوئ د حضرت ابراهیم علیه السلام سره وو[۴] راوي وایي چه بعضې صحابه رضي الله عنهم د حضور ﷺ نه پوښتنه وکړه چې یارسول الله! او د مشرکانو

بچي؟ ⑤ حضور ﷺ وفرمايل د مشركانو نابالغه بچي هم حضرت ابراهيم علیه السلام سره وو ⑥ او هغه خلق چې د هغوئ نيم جسم ښه اونيم جسم خراب وو ⑦ هغه داسې خلق وو چې د هغوئ اعمال گډوډ وو چې هغوئ څه عمل ښه کړي وو او څه خراب ⑧ بيا خداي ﷻ هغوئ معاف کړل (بخاري)

تسهيلات:

نوټ: په ترجمه کښې د اضافي قيوداتو په وجه د حديث مطلب واضح دې په دې باندې بس والې اوکړئ.

[۳۳۶] د دروغو خوب د بيا نولو مذمت

۴۶۳۳-[۱۹] (¹) ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ② "«مِنْ أَفْرَى الْفِرَى ③ أَنْ يُرِيَ الرَّجُلُ عَيْنَيْهِ مَا لَمْ تَرَيَا»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① او د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما نه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② په لوي بهتانونو کې يو لوئ بهتان دا هم دي ③ چې يو سړي خپلو سترگو سره هغه شي وښايي کوم چې په حقيقت کې د هغه سترگو نه وي ليدلي. (بخاري)

حل اللغات: ① أَفْرَى الْفِرَى: دَ تولو نه لوئی دروغ.

تسهيلات:

قوله: أَفْرَى الْفِرَى أَنْ يُرِيَ الرَّجُلُ عَيْنَيْهِ مَا لَمْ تَرَيَا:

د دروغو خوب د بيانولو گناه: يعنې دَ تولو نه لوئی دروغ دادی چه سړې په سترگو باندې هغه څيز اوښائی چه په سترگونی نه وی ليدلی يعنی دَ دروغو خوب بيانول دَ لويو بهتانونو نه يو بهتان دې. دَدې وجه داده چه دَ خوب تعلق وحی سره دې او نظام وحی او نظام غيب باندې بهتان لگول او دروغ تړل دَ عامو دروغو په شان نه دی بلکه ډير سخت دی.

[۳۳۷] د کوم وخت خوب زيات رښتيا وي

۴۶۳۴-[۲۰] (²) ① وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-، قَالَ: ② "«أَصْدَقُ الرُّؤْيَا بِالْأَسْحَارِ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت ابوسعيد خدري رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه روايت کوي چې حضور ﷺ وفرمايل ② د سحر وخت [يعنی قبل الصلاة] خوب زيات رښتيا وي (ترمذي، دارمي)

حل اللغات: ① الْأَسْحَار: دَ شپې آخرى حصه. پيشمنې.

(¹) اخرجه البخاری فی کتاب التعبير /باب من کذب فی حلمه (رقم-۷۰۴۳) واحمد فی المسند: ۹۶/۲

(²) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الرؤيا عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب قوله لهم البشرى فی الحياة الدنيا (رقم-۲۲۷۴) والدارمی فی السنن رقم الحديث ۲۱۴۶ واحمد فی المسند: ۲۹/۳

تسهیلات:

قوله: أَصْدَقُ الرُّؤْيَا بِالْأَسْحَارِ:

دپیشمنی په وخت کښې د خوب د ریښتیا کیدو وجه: دَ شپې آخری حصه کومه چه دَ سحر نه لږه شان وړاندې وی دغه وخت کښې خوب عموماً ریښتونې وی دَ دې وجه دا وی چه دغه وخت کښې معده دَ بخاراتو نه خالی وی قوت فکریه مجتمع وی او په شهوانی قوت کښې سکون وی بیا دَ ملائکو دَ نزول وخت هم وی.

ده جلد اختتام: الحمد لله د رمضان المبارک یوکم دیرشتمه شپه ده او د شپې پوره لس بجې دی. چې ددې جلد د تکمیل څخه فارغ شوم الله تعالی دې د رمضان د دې مبارکو شپو په خاطر ورته مقبولیت ورکړی او زر تر زره دې د نورو جلدونو د تکمیل توفیق راکړی آمین

[۲۵] كِتَابُ الْآدَابِ

دَ آدابو بیان

دادب لغوی تحقیق: ادب په فتح د الف او دال سره د یوڅیز د حد رعایت کولوته وائی، او ادب په سکون د دال سره جمع کول او رابللوته وائی.

دادب په اصطلاحی تعریف کښې اقوال: ① په اصطلاح کښې د ادب مصداق خصائل حمیده دی.څکه چه دا داعی الی الخیر وی ومنه قول علی رضی الله عنه فعاثر بادابها. یعنی د هر ښار په خصائل حمیده باندې ژوند تیروی.

② علامه طیبی فرمائی چه ادب هر هغه ریاضت محموده ته وائی چه په هغې کښې د کسب فضیلت دپاره مشقت برداشت کړې شی،

③ دقول او فعل استعمالولو ته ادب وائی قاله السیوطی رحمه الله.

④ په حسناتو باندې استقامت او د سیئاتو څخه اعراض ته ادب وائی.

⑤ د خپلو مشرانو تعظیم کول ادب دې.اوپه کشرانوشفقت ته ادب وائی.

⑥ چا وئیلی دی ادب د مأدبة څخه ماخوذ دې اومأدبة طعام ته دعوت ورکولو ته وائی.

(المرقاة ۹/۴۵، والاشعة ۴/۲)

دکتاب الادب موضوعات: کتاب الادب د خپلې موضوع په اعتبار سره یو جامع کتاب دې، حضرات محدثین په کتاب الادب کښې یا موضوعات بیانوی

① د سلام اوخبرو اکلام
② د خوراک څکاک آداب.
③ دخوب آداب.
④ د زیارت او ملاقات آداب.
⑤ د تعلق اوعدم تعلق آداب.
⑥ د خوشحالئ او د خفگان آداب.

[۱] بَابُ السَّلَامِ

دَ سلام بیان

خلاصة الباب:-

فيه تسعة وثلاثون حديثاً مشتملة على ثلاث عشرة مسائل:

① من يستحق السلام: ۱، ۵، ۶، ۷، ۱۲، ۳۵، ۳۶، ۳۷.

② جواب السلام: ۱، ۱۳، من توابع : ۱۳، ۱۴، ۱۵، ۱۷، ۳۴، ۳۵ .

③ فضيلة تعميم السلام وفوائده: ۲، ۳، ۴، ۱۶، ۲۳.

④ السلام على غير المسلم: ۸، ۹، ۱۰ ، ۱۱.

⑤ ثواب السلام بزيادة الكلمات: ۱۷، ۱۸.

⑥ فضيلة من بدأ بالسلام: ۱۹، ۳۹.

⑦ السلام وجوابه على سبيل الكفاية: ۲۱.

⑧ النهي عن السلام على طريق غير الإسلام : ۲۲، ۲۷.

⑨ سنية السلام وقت دخول البيت والخروج منه: ۲۴، ۲۵، ۳۳.

⑩ السلام قبل الكلام: ۳۶.

⑪ السلام على الغائب: ۲۸.

⑫ آداب الكتابة: ۲۹، ۳۰، ۳۱، ۳۲.

⑬ الزجر لمن لا يسلم على المسلم: ۳۸.

سلام د اسلام په ابتداء کښې: دَاسلام په ابتدائی دورکښې دَ سلام شروع اوشوه هغه وخت چونکه په مسلمان او غیر مسلمان کښې دَ پیژندګلو ضرورت وو نو یومسلمان به بل مسلمان ته وئیل السلام علیکم یعنی زمادَطرف نه به تاته څه تکلیف نه رسی هغه به جواب کښې وئیل وعلیکم السلام یعنی زمادَ طرف نه به هم تاته څه تکلیف نه وی لکه چه په شروع کښې سلام دَ کوډ نمبر په توګه استعمال کړې شو

دسلام مفهوم: بیا شریعت داعام کړو اودَمسلمانانودَپاره ئې مشروع کړو اوس دَ سلام پوره مفهوم داسې دې چه السلام علیکم ویونکې بل ته وائی چه الله تعالی دې تا په دنیا او آخرت کښې دَهرقسم ظاهری او باطنی مصیبتونو نه محفوظ اوساتی جواب ورکونکی هم وعلیکم السلام ونیلوسره هم دغه مفهوم اداکوی اوس دَدواړو طرفونه یوبل ته دَ سلامتیا ضمانت هم ورکړې شو اودعاهم اوشوه

دسلام حکم: سلام کول سنت دی لیکن دَدې جواب ورکول واجب دی سره دَدې نه چه دَدې واجب نه دا سنت افضل دی. [المرقات، ۸/۳۱۲]

فاسق فاجرته په سلام کولوکښې ړومبې والې نه دی کول پکار اودَهغه دَسلام جواب ورکول واجب دی. هم دغه شان دَغیرمسلم معامله ده چه دَهغه دَ سلام جواب ورکول پکاردی مگر په سلام کښې ړومبې والې نه دی کول پکار.

د سلام اچولو څو اصول: بیا دَ سلام څه اصول دی.

① په گاډی کښې سورسری لره په پیدل سلام کول پکار دی.

② کمو خلقو له دَ زیاتو خلقو نه په سلام کښې ړومبې والې کول پکاردی

③ ولاړو خلقولره په ناستوخلقوته سلام اچول پکار دی.

④ کشرانوله په مشرانوته سلام اچول پکاردی

⑤ هرراتلونکی لره دَمقامی مجلس په ناستو خلقو سلام کول پکار دی.

په چا سلام چې سلام نشی اچولې: ①کوم خلق چه په خوراك کولوکښې مشغول وی هغوی ته سلام نه دی کول پکار خکه چه سلام کونکې دَ خپل سلام دَ جواب په انتظاروی اوکیدې شی چه خوراك کونکی دَ روټئی خوړلودَوجې نه په سلام کښې سستی اوکړی نودا سرې به خفه شی.

② غټې او ورې متیازې یا په څه بنکاره گناه کښې ککرسری ته سلام نه دی کول پکار.

③ اوکه دَ سلام کونکې اوکې وی نوهغه سلام کولې شی دَده دَ سلام مطلب به داشی لکه چه دې هغوی سره په خوراك کښې شریکیدل غواړی.

④ دغه شان په تلاوت ذکراذکار یا مطالعه یاتکرارکښې مشغول سری ته سلام نه دی اچول پکار.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۴۶۲۸] د فریښتو حضرت آدم علیه السلام ته سلام کول

۴۶۲۸—[۱] ()[۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«خَلَقَ اللهُ آدَمَ عَلَى صُورَتِهِ، [۳] طُولُهُ سِتُّونَ ذِرَاعًا، [۴] فَلَمَّا خَلَقَهُ قَالَ: اذْهَبْ فَسَلِّمْ عَلَى أُولَئِكَ النَّفَرِ، [۵] وَهُمْ نَفَرٌ مِنَ الْمَلَائِكَةِ جُلُوسٌ، [۶] فَاسْتَمِعْ مَا يُحَيُّونَكَ، فَإِنَّهَا تَحِيَّتُكَ وَتَحِيَّةُ ذُرِّيَّتِكَ، [۷] فَذَهَبَ، فَقَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ. فَقَالُوا: السَّلَامُ عَلَيْكَ وَرَحْمَةُ اللهِ [۸]" قَالَ: فَزَادُوهُ "وَرَحْمَةُ اللهِ". [۹] قَالَ: "فَكُلُّ مَنْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَلَى صُورَةِ آدَمَ وَطُولُهُ سِتُّونَ ذِرَاعًا، [۱۰] فَلَمْ يَزَلِ الْخَلْقُ يَنْقُصُ بَعْدَهُ حَتَّى الْآنَ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب الاستئذان/باب بدء السلام (رقم-۶۲۲۷) ومسلم فی کتاب الجنة وصفة نعیمها وأهلها/باب یدخل الجنة أقوام أفئدتهم مثل أفئدة الطیر (رقم-۲۸ - (۲۸۴۱) واحمد فی المسند:۲/۳۱۵

ترجمه: [۱] حضرت ابوهریره ﷛ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] خداي ﷻ آدم ﷤ په خپل صورت جوړکړي [۳] د هغوئ اوږدوالي شپیته گزه وو [۴] خداي ﷻ چې هغه جوړکړي نو ورته یې وفرمایل لاړشه او دي جماعت ته سلام وکړه [۵] او هغه جماعت د فرشتو وو چې هلته ناست وو [۶] بیا واوره چې هغوئ تاته څه جواب درکوي هغه ستا او ستا د اولاد جواب دي [۷] حضور ﷺ فرمایي آدم ﷤ د دې حکم خداوندي تعمیل کې د فرشتو هغه جماعت ته ورغلی ورته یې اوویل اَلسَّلَامُ عَلَیْکُمْ فرشتو جواب ورکړو اَلسَّلَامُ عَلَیْکَ وَرَحْمَةُ اللهِ یعنی په تادي د الله سلامتیا او رحمت وي [۸] حضور ﷺ وفرمایل (گویا) د آدم ﷤ د سلام جواب کې ورحمة الله لفظ فرشتو زیات کې [۹] بیا حضور ﷺ وفرمایل بس کوم سړي چې په جنت کې دا خلیږي هغه به د آدم ﷤ په صورت وي په دي طور چې د هغه اوږدوالي به شپیته گزه وي [یعنی جنت ته تلونکي به د حضرت آدم ﷤ د قد مذکوره بلندي او د هغوئ حسن وجمال سره هلته داخلیږي] [۱۰] بیا د حضرت آدم ﷤ نه پس د خلقو ساخت برابر کمیدي تردي چې موجوده مقدار ته ورسیدي. (بخاري ، مسلم)

حل اللغات: - ① يُحَيُّوْنَكَ: تحیه (سلام) پیش کوی تاته ② تَحِيَّةٌ: پیشکشی، سلام.

تسهیلات:

قوله: خَلَقَ اللهُ آدَمَ عَلٰى صُوْرَتِهٖ:

دمذکوره جملې په مفهوم کښې علماؤ اقوال: یعنی الله تعالی حضرت آدم ﷤ په خپل صورت باندې جوړکړو. په دې حدیث دَ پوهیدلودَ پاره یوڅو اقوال دی.

① د "صورته" څخه مراد دَ الله تعالی هغه ښه صفات دی په کومو صفاتوچه الله تعالی حضرت آدم ﷤ پیداکړو لکه "حي، عالم، کریم، بصیر، متکلم" لکه چه انسان دَ الله تعالی دَ صفاتو مظهردي. په دې توجیه کښې دَ "بصورته" ضمیر دَالله عالی طرف ته راګرځی اودَ صورت نه به صفت مراد وی.

② دا حدیث دَ متشابهاتو نه دې لهذا دَهیڅ تاویل ضرورت نشته دې بلکه دَ سلف صالحینو په طرز باندې به دا ونیلی شی "مایلیق بشانه" یعنی کوم چه دَ الله تعالی دَ شان سره مناسب وی مونږ هم هغه منو.

③ الله تعالی حضرت آدم ﷤ دَ صورت اومجسمې په شکل کښې پیدا کړو یعنی مرحله وار ئی پیدا کړې نه دې چه اول نطفه وی؛ بیا مضغه وی بیا عظام بیا لحم وی او بیا تخلیق وی داسې نه دی شوی بلکه دَ شروع نه ئی مکمل صورت وو. دَ هغوی قد ۶۰ گزه وو ﴿فَتَبٰرَكَ اللهُ اَحْسَنُ الْخٰلِقِيْنَ﴾ دې نه پس انسان کمیدو اوس دوه دوه نیم گزه پاتې شو. بیاچه کله انسانان په جنت کښې داخلیږی نوشپیته گزه به پوره وی. بهرحال حضرت آدم ﷤ فرښتوته

سلام اوکړو فرښتو جواب ورکړو اوهم دغه طريقه په آولاد آدم کښې راغله کومه چه دې وخت کښې صرف مسلمانانوسره ده.باقی انسان وحوش وطيور کښې شامل شو.ياد لرئې چه شرعی گز کم و زيات دوه ليشت وی.[المرقات، ۸/۴۱۳-۴۲]

③ حضرت آدم علیه السلام الله تعالی هم دَ حضرت آدم علیه السلام په صورت باندې پيداکړې دې يعنی په کوم صورت نی چه حضرت آدم علیه السلام جوړکړو دغه هم دَحضرت آدم علیه السلام قسمت کښې وو آدم علیه السلام خپل مثال پخپله وو دَ بل چا دَ صورت نمونه نه وو.لکه څنګه چه يوماشوم نه دَ پلار په شکل وی اونه دَ مور په شکل کښې وی.نومئيندې وائی دا په خپل شکل باندې پيدا شوې دې.دَدې تاويل په رڼا کښې "بصورته" کښې ضمير دَ حضرت آدم علیه السلام طرف ته راګرځی اومطلب به هم هغه وی چه آدم علیه السلام خپل مثال په خپله وو.

[٤٦٢٩] په هرچا باندې د سلام اچولو ترغيب

۴۶۲۹-[۲] ()[۱] وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا-[۲] «أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-أَيُّ الْإِسْلَامِ خَيْرٌ؟[۳] قَالَ: "تُطْعِمُ الطَّعَامَ،[۴] وَتَقْرَأُ السَّلَامَ عَلَى مَنْ عَرَفْتَ وَمَنْ لَمْ تَعْرِفْ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[۱] او د حضرت عبد الله ابن عمرو رضی الله عنهما نه روايت دې [۲] چې يو سړي د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه چې د اهل اسلام کوم خصلت ښه دې؟[۳] حضور صلی الله علیه وسلم ورته وفرمايل طعام خوړل[۴] او هراشناسا او ناشنا ساته سلام کول .(بخاري مسلم)

تسهيلات:

دحديث د بعضې جملووضاحت:

① أَيُّ الْإِسْلَامِ:

دلته مضاف محذوف دې يعنی "أی آداب الإسلام" د اسلام کوم آداب افضل دی؟ اسلام نه د اسلام آداب مراد دی.

قوله: خَيْرٌ: خير صيغه د اسم تفضيل ده يعنی اسلام کوم آداب د ثواب او نفعې په اعتبار سره غوره او افضل دی؟

قوله: تُطْعِمُ الطَّعَامَ:

اشکال: په حديث کښې که د "تطعم الطعام" په شان "تسلم السلام" ئې وئيلې وې نو په کلام کښې به برابری وې، نو د "تقرئ السلام" وئيلو څه وجه ده؟

() اخرجه البخاری فی کتاب الاستئذان/باب السلام للمعرفة وغير المعرفة (رقم-۶۲۳۶) ومسلم فی کتاب الإيمان/باب بيان تفاضل الإسلام. وأی أموره أفضل (رقم-۶۳ - (۳۹) والنسائی فی کتاب الإيمان وشرائعه/باب أی الإسلام خير(رقم-۵۰۰۰) وابن ماجه فی کتاب الأطعمة/باب إطعام الطعام (رقم-۳۲۵۳) واحمد فی المسند:۲/۱۶۹

۵اشکال جوابونه: ① دا انداز اختیارولو کښې د عموم طرف ته اشاره کول مقصود دی، چه په ژبې سره سلام کول وی یا د لیکلو په ذریعه سلام وی نو هر یو ته شامل دې

② د لته إطعام الطعام وإفشاء السلام نې نه دې ونیلی. نو ددی وجه دا ده چه ددې عادتونو متعلق به د هغه خلقو نه پوښتنه کیږی کوم چه ددی اهل وی یعنی کوم چه د روټی خورولو طاقت لری نو د هغه نه به د اطعم طعام متعلق پوښتنه کیږی او کوم چه د سلام کولو لائق وو نو هغوی نه به د سلام متعلق پوښتنه کیږی (التعلیق ایضاً)

نوټ: "أي الإسلام أفضل" متعلق تفصیل په کتاب الایمان کښې بیان شوې دې

قوله «وَتَقْرَأُ السَّلَامَ عَلَى مَنْ عَرَفْتَ وَمَنْ لَمْ تَعْرِفْ»:

په هرچا باندې د سلام اچولو حکم: یعنی هغه کس ته هم سلام کوه کوم چه ته پیژنې نو دی سلام ته سلام مواجهت ونیلې کیږی او هغه کس ته هم سلام کوه کوم چه ته نه پیژنې ددې وجهې نه په حدیث شریف کښې ذکر دی چه په قرب قیامت کښې به سلام صرف پیژند گلو خلقو ته کیږی

[۴٦٢۰-] د یومسلمان په بل مسلمان شپږ حقونه

٤٦٣۰-[۳] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " [۲] «لِلْمُؤْمِنِ عَلَى الْمُؤْمِنِ سِتُّ خِصَالٍ: [۳] يَعُودُهُ إِذَا مَرِضَ، [۴] وَيَشْهَدُهُ إِذَا مَاتَ، [۵] وَيُجِيبُهُ إِذَا دَعَاهُ، [٦] وَيُسَلِّمُ عَلَيْهِ إِذَا لَقِيَهُ، [۷] وَيُشَمِّتُهُ إِذَا عَطَسَ، [۸] وَيَنْصَحُ لَهُ إِذَا غَابَ أَوْ شَهِدَ» [۹] " لَمْ أَجِدْهُ فِي "الصَّحِيحَيْنِ "، وَلَا فِي كِتَابِ الْحُمَيْدِيِّ، وَلَكِنْ ذَكَرَهُ صَاحِبُ "الْجَامِعِ "بِرِوَايَةِ النَّسَائِيِّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] په مسلمان د مسلمان شپږ حقونه دي [۳] یو خو دادي چې کله یو مسلمان ناجوړه شي نو دویم مسلمان دي د هغه پوښتنه کوي [۴] دویم دا چې هرکله یو مسلمان وفات شي نو بل مسلمان دي د هغه د جنازې په مونځ کې شریك شي [۵] دریم داچي کله یو مسلمان طعام د پاره وبلل شي نو بلل شوی مسلمان دي د هغه دعوت قبول کړي ,په شرط د دې چې څه شرعي عذر مانع نه وي لکه هغه دعوت کې باجي سرودونه وغیره وي یا هغه دعوت د اظهار فخر او ریا کاري دپاره وي ؛[٦] څلورم داچي کله د یو مسلمان سره یوځاي شي نو هغه ته دي سلام وکړي [۷] پنځم داچي کله یومسلمان وترچی (او الحمد لله اووائي) نو د هغه جواب دي ورکړي ایعنی یرحمك الله دي ورته اووائي که الحمد الله ونه وایي نو هغه د جواب مستحق نه دي[۸] او شپږم دا چې یومسلمان دي په هرحالت کې د بل مسلمان خیرخواهي کوي که هغه حاضر وي یاغائب [۹] د مشکوة مؤلف وایي ما دا حدیث نه خو صحیحین بخاري او مسلم کې پیدا کړي دي او نه د حمیدي په کتاب کې البته دا صاحب جامع الاصول نقل کړي دي

---

[۱]) اخرجه مسلم فی کتاب السلام/باب من حق المسلم للمسلم رد السلام (رقم) ۵ - (۲۱٦۲(

حل اللغات :- ① خِصَالٍ: صفتونه، خوبیانې، ② تَعُودُهُ: عیادت او بیمار پرسی ئې کوی، ③ تَشْهَدُهُ: حاضریږی ورته (یعنی جنازه ئې کوی)، ④ تُشَمِّتُهُ: د فرنجي کونکی دالحمد لله جواب ورکوی، ⑤ عَطَسَ: چه فرنجي (انتوشې) اوکړی.

تسهیلات:

قوله: لِلْمُؤْمِنِ عَلَى الْمُؤْمِنِ سِتُّ خِصَالٍ:

① دَ بیمار تپوس کول ② جنازه کول ③ دعوت قبلول ④ دَ ملاقات په وخت سلام کول ⑤ په انتروشی باندې جواب ورکول ⑥ په هرحال کښې دَهغه خیرخواهی کول.

قوله: لَمْ أَجِدْهُ فِي "الصَّحِيحَيْنِ"،

په صاحب مصابیح باندې تعریض: په دې سره د صاحب مشکوة مقصد په صاحب مصابیح باندې اعتراض کول دی، چه هغه په اول فصل کښې داسې احادیث ذکر کړی دې چه په بخاری او مسلم کښې نشته خو تواضعاً او ادباً ئې دا هم اوفرمائیل چه دا زما غلطی ده چه ما ته هلته ملاو نه شو مګر که ما تلاش او جستجو کړې وې نو ما ته به ملاو شوې وې.

[٤٦٢١] دتعلق او دوستي قائمولو بهترینه ذریعه سلام دی

[٣]-٤٦٣١ ( )[١] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[٢] «لَا تَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّى تُؤْمِنُوا، [٣] وَلَا تُؤْمِنُوا حَتَّى تَحَابُّوا، [٤] أَوَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى شَيْءٍ إِذَا فَعَلْتُمُوهُ تَحَابَبْتُمْ؟ [٥] أَفْشُوا السَّلَامَ بَيْنَكُمْ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوهریره ﷛ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] تاسو چې ترڅو پورې ایمان رانه وړې په جنت کې نشي داخلیدې [٣] او ستاسو ایمان هغه وخته پورې کامل کیدې نشي خوپورې چې تاسو د الله د رضا او خوشنودې د پاره خپلو کې تعلق او دوستي قائمه نه کړې [٤] او حضور ﷺ وفرمایل آیا زه تاسو ته یوه داسې ذریعه ونه ښایم چې هغه تاسو اختیارکې نوپه خپلو کې به د دوستي تعلق قائم شي [٥] او هغه ذریعه داده چې تاسو خپلو کې د سلام چلن عام کړئ یعنی آشنا او نا آشنا ټولو ته سلام کوئ. (مسلم)

تسهیلات:

قوله: حَتَّى تَحَابُّوا، أَوَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى شَيْءٍ،

په سلام سره د محبت زیاتیدل: د سلام فائده او ددې د مشروعیت سبب هم دا دې چه د خلقو په مینځ کښې د محبت پیدا کولو هم دا خوئ دې په کوم چه الله تعالی راضی کیږي او سلام خورول

---

[١]) اخرجه مسلم فی کتاب الإیمان/باب بیان أنه لا یدخل الجنة إلا المؤمنون، وأن محبة المؤمنین من الإیمان، وأن إفشاء السلام سببا لحصولها (رقم-٩٣ - (٥٤) والترمذی فی کتاب الأمثال عن رسول الله صلى الله علیه وسلم/باب ما جاء فی مثل المؤمن القاری للقرآن وغیر القاری(رقم-٢٨٦٦) وابن ماجه فی کتاب الأدب/باب إفشاء السلام(رقم-٣٦٩٢)

یو داسې آله ده کوم چه محبت پیدا کوي، هم دغه شان لاس ملاوول، لاس ښکلول، ماشومانو لویو ته سلام کول،

[٤٦٣٢] په کوم مسلمان به په کوم مسلمان سلام اچوي؟

۴۶۳۲-[۵] ()[۱] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[۲] «يُسَلِّمُ الرَّاكِبُ عَلَى الْمَاشِي، [۳] وَالْمَاشِي عَلَى الْقَاعِدِ، [۴] وَالْقَلِيلُ عَلَى الْكَثِيرِ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] کوم سړي چې په سورلي وي هغه دي پیاده تلونکي ته سلام وکړي [۳] پیاده تلونکي دي ناست ته سلام کوي [۴] او لږ سړي دي ډیر تعداد والا سړو ته سلام کوي (بخاري ، مسلم)

حل اللغات: - ① الرَّاكِبُ: په سورلۍ باندې ناست کس، ② الْمَاشِي: پیدل تلونکې،

تسهیلات:

قوله: الرَّاكِبُ عَلَى الْمَاشِي،

د سور په پیدل باندې سلام اچول:

په حدیث کښې دی چې سور به په پیدل سلام اچوي، دا حکم د تواضع او د انکساری طرف ته د راغب کولو دپاره دې ځکه چه کوم کس سورلی باندې وي هغه لره په پیدل تللو والا باندی فوقیت حاصل دې لهذا که سورلی والا سلام کښې مخکی والې وکړی نو هغه ته به تواضع حاصل شی،

قوله: وَالْقَلِيلُ عَلَى الْكَثِيرِ

د کمو خلقو په زیاتو خلقو سلام اچول: هم دغه شان دا مسئله ده چه کم تعداد والا دې ډیر تعداد والو ته په سلام کولو کښې مخکی والې وکړی، او هم دغه شان که څوک یو مجلس ته لاړ شی او د مجلس بعضې خلقو ته سلام وکړی نو دا مکروه دې، ځکه چه د سلام مقصد موانست او موافقت دې او بعضې خلق خاص کول دا عداوت او نفرت پیدا کوي.

[٤٦٣٣] د کشر په مشر سلام اچول

۴۶۳۳-[۶] ()[۱] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[۲] «يُسَلِّمُ الصَّغِيرُ عَلَى الْكَبِيرِ، [۳] وَالْمَارُّ عَلَى الْقَاعِدِ، [۴] وَالْقَلِيلُ عَلَى الْكَثِيرِ» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

---

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب الاستئذان/باب تسلیم الراکب علی الماشی (رقم-۶۲۳۲) ومسلم فی کتاب السلام/باب یسلم الراکب علی الماشی والقلیل علی الکثیر (رقم-۱ - (۲۱۶۰) والترمذی فی کتاب الاستئذان والآداب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی تسلیم الراکب علی الماشی (رقم-۲۷۰۳) ومالک فی الموطا کتاب السلامة /باب العمل فی السلام (رقم-۱)

[۲]) اخرجه البخاری فی کتاب الاستئذان/باب تسلیم القلیل علی الکثیر (رقم-۶۲۳۱) والترمذی فی کتاب الاستئذان والآداب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی تسلیم الراکب علی (رقم-۲۷۰۴) واحمد فی المسند: ۲/۳۱٤

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره ﷛ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] سلام دې کوي کوچني لوي ته. [۳] تيريدونکي دې ناست ته. [۴] او کم تعداد والا دې زيات تعداد والا ته (بخاري)

حل اللغات: - ① اَلْمَارُّ: تيريدونکي، تلونکي،

تسهيلات:

قوله: وَالْمَارُّ عَلَى الْقَاعِدِ:

د تيريدونکي په ناست سلام اچول: دا حکم د ملاقات په باره کښې دې چه کله دوه کسان ملاقات کوي ليکن که يو کس د بل کس خوا له خي نو د بهر طرف نه راتلونکي د سلام وکړی بيا که هغه ورروکې وی او که غټ وی او دا به د راتللو اطلاع او اجازت شي.

[۴۶۳۴] د نبي عليه السلام په ماشوما نو سلام اچول

۴۶۳۴ـ[۷] ()[۱] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَرَّ عَلَى غِلْمَانٍ، فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس ﷛ وايي [۲] يو وخت رسول الله ﷺ په څه ماشومانو هلکانو باندې تير شو نو حضور ﷺ هغوئ ته سلام وکړو (بخاري ـ مسلم)

تسهيلات:

قوله: مَرَّ عَلَى غِلْمَانٍ، فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ:

په ماشومانو د سلام اچولو مسنونيت: اګرچه په اصولي توګه ماشومانوله پکاردی چه هغوی مشرانوته په سلام کولوکښې رومبيوالې اوکړی ليکن حضورپاک دَ تواضع اودَ شفقت په توګه اول ماشومانوته سلام کړې دې دَ کوم نه چه دَ جواز پته لګی.بله داخبره چه ماشومان زيات هم وو په دې وجه حضورپاک هغوی ته سلام اوکړو.بل حضورپاک په لار تيريدونکي هم وو په دې وجه ئې ورته سلام اوکړو بل ماشومانوته دَسلام تعليم ورکول وو.

[۴۶۳۵] په غير مسلم د سلام اچولو حکم

۴۶۳۵ـ[۸] ()[۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ: [۲] "«لَا تَبْدَءُوا الْيَهُودَ وَلَا النَّصَارَى بِالسَّلَامِ، [۳] وَإِذَا لَقِيتُمْ أَحَدَهُمْ فِي طَرِيقٍ فَاضْطَرُّوهُ إِلَى أَضْيَقِهِ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

[۱] اخرجه البخاری فی صحیحه رقم الحدیث ۶۲۳۱ ومسلم فی کتاب السلام/باب استحباب السلام علی الصبیان (رقم-۱۵ - (۲۱۶۸) والترمذی فی کتاب الاستئذان والآداب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی التسلیم علی الصبیان (رقم-۲۶۹۶) وابن ماجه فی کتاب الأدب/باب دخول الحمام (رقم-۳۷۵۰)

[۲] اخرجه مسلم فی کتاب السلام/باب النهی عن ابتداء أهل الکتاب بالسلام وکیف یرد علیهم (رقم-۱۳ - (۲۱۶۷) والترمذی فی کتاب الاستئذان والآداب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی التسلیم علی أهل الذمة (رقم-۲۷۰۰) واحمد فی المسند:۲/۲۶۶

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] یهودیانو او عیسائیانو ته سلام کولو کې مخکې والي مه کوئ [۳] او هرکله چې د هغوئ سره په لار کې یو ځای شئ نو هغوئ په تنګ ترینه لاره تلو باندې مجبوره کئ. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① فَاضْطَرُّوهُ: نو مجبوره ئې کړئ، ② أَضْيَقِهِ: په تنګه لار،

تسهیلات:

قوله: لَاتَبْدَءُوا الْيَهُودَ وَلَا النَّصَارَى بِالسَّلَامِ:

غیر مسلم ته د سلام کولو څلور صورتونه: ① په عامو حالاتو کښې غیر مسلم ته په سلام کښې رومبې والې کول حرام دی

② د سختې مجبورۍ په غیرمسلمه په سلام کښې رومبې والې کول جائز دی.

③ که په ناخبرئ کښې کافرته سلام اوکړې شی نو داسې واپس کول پکاردی استرجعت سلامي زه خپل سلام واپس کول غواړم.

④ که چرې غیرمسلم په شروع کښې سلام اوکړی نوصرف په وعلیکم سره جواب ورکول جائزدی.

⑤ مبتدع ته هم په ابتداء کښې سلام نه دی کول پکار اوکه مجبوری وی نوصحیح دې.

قوله: وَإِذَا لَقِيتُمْ أَحَدَهُمْ فِي طَرِيقٍ فَاضْطَرُّوهُ إِلَى أَضْيَقِهِ:

اهل کتاب تنګې لارې ته د کولو حکم: په دې حدیث کښې یوحکم داهم بیان کړې شوې دې چه که چرې یو یهودی یا عیسائی تاته په لارکښې ملاؤشی نوهغه په تنګه لاره باندې په تللو مجبورکړه دَمسئلې وضاحت داسې دې چه که دَ اهل کتاب نه څوک ذمی وی نوهغه ته په کولاؤ لارباندې دَتللو حق نشته دې دغه شان که یومسلمان او اهل کتاب په یوه لار روان دی اولاردَ مسلمانانودپاره تنګه پریوځی نو یهودو اونصاریٰ ته په کولاؤ لار باندې دَتللو حق نشته دې لهذا هغوی ته به په تنګه لار دَ تللو حکم ورکولې شی که هغه په دې باندې عمل نه کوی نو دیکه ورکولوسره به مجبورکولې شی.

[۴۶۳۶] د یهودیانو خباثت

۴۶۳۶–[۹] ()[۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] " «إِذَا سَلَّمَ عَلَيْكُمُ الْيَهُودُ، [۳] فَإِنَّمَا يَقُولُ أَحَدُهُمْ: السَّامُ عَلَيْكُمْ. فَقُلْ: وَعَلَيْكَ» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عمر رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] هرکله چې یهود

[1] اخرجه البخاری فی کتاب الاستئذان/باب: کیف یرد علی أهل الذمة السلام (رقم-۶۲۵۷) ومسلم فی کتاب السلام/باب النهی عن ابتداء أهل الکتاب بالسلام وکیف یرد علیهم (رقم-۸ - (۲۱۶۴)) ومالک فی الموطا کتاب السلامة/باب ما جاء فی السلام علی الیهودی والنصرانی (رقم-۳) واحمد فی المسند:۲/۹

تاسو ته سلام کوي [۳] نو د دې نه علاوه نور هيڅ نه دي چې هغه خلق داسې وايي اَلسَّامُ عَلَيْكَ يعنی په تا دې مرګ راشي نو تاسو د هغوئ په جواب کې داسې وايئ ، وعليك يعنی په تا دې مرګ راشي .(بخاري ، مسلم)

حل اللغات: - ① السَّامُ: مرګ، يو قسم مرض.

تسهيلات:

قوله: فَإِنَّمَا يَقُولُ أَحَدُهُمُ: السَّامُ عَلَيْكُمْ. فَقُلْ: وَعَلَيْكَ:

يهودو ته د سلام جواب ورکولو طريقه: د يهودو د شرارت او د خباثت اندازه د دې نه لږی چه دوی به مسلمانان د سلام کولو په وخت کښې هم نه معاف کول بلکه هغه وخت به ئې هم بد دعا کوله او کله چه يهودو به صحابه کرامو ته السام عليکم وئيل نو صحابه کرامو ته به ډير تکليف وو نو نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چه تاسو د هغوې په جواب کښې وعليکم وائی، يعنی څومره چه هغوی تاسو ته بد وائی نو تاسو د هغوی نه ډير بد مه وائی بلکه څومره چه تاسو ته بد وائی نو د هغې په انداز تاسو هم بد وائی يعنی تجاوز مه کوئ.

[٤٦٣٧] اهل کتابو ته د سلام جواب ورکولو طريقه

٤٦٣٧-[١٠] [١] ( ) وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [٢] "«إِذَا سَلَّمَ عَلَيْكُمْ أَهْلُ الْكِتَابِ فَقُولُوا: وَعَلَيْكُمْ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او حضرت انس ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] هر کله چې اهل کتاب يعنی يهود او نصاري تاسو ته سلام وکړئ نو تاسو د هغوئ په جواب کې اووايئ وَعَلَيكُم .(بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: فَقُولُوا: إِذَا سَلَّمَ عَلَيْكُمْ أَهْلُ الْكِتَابِ فَقُولُوا: وَعَلَيْكُمْ:

مسلمانانو سره د يهوديانو دشمنی: دَيهودودَ شرارت اوخباثت اندازه دَدې نه لګيدلې شی چه دا خبيث يومسلمان لره دَ ملاقات په وخت کښې هم نه معاف کوی بلکه دَ سلام په صورت کښې دَ دعاپه ځائی بددعاکوی.کله چه به ئې صحابه کرامو ته سلام کولو نودَ السلام عليکم په ځائی به ئې ژبه تاوله السام عليکم به ئې وئيلو دکوم ترجمه چه مرګ او هلاکت دې په دې وجه حضورپاك اوفرمائيل تاسو هغوی ته په جواب کښې وعليکم واينی يعنی چه دا مرګ او هلاکت دې په تاسو وی.

---

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الاستئذان/باب: کيف يرد علی أهل الذمة السلام (رقم-٦٢٥٨) ومسلم فی کتاب السلام/باب النهی عن ابتداء أهل الکتاب بالسلام وکيف يرد عليهم (رقم-٦ - (٢١٦٣)) وابن ماجه فی کتاب الأدب/باب رد السلام علی أهل الذمة (رقم-٣٦٩٧) واحمد فی المسند: ٩٩/٣

دوه قسمه روايات: ① بعضې رواياتوکښې صرف عليکم لفظ دې هغه زيات بهتر دې ځکه چه په وعليکم کښې دتشريك خطره ده ځکه چه مطلب داکيدې شی چه زمونږ مرګ اوهلاکت سره دې په تاسو باندې هم مرګ اوهلاکت وی.

② په کومو روايتونوکښې چه وعليکم دې په هغې کښې به واؤ دَ استئناف په معنی کښې اخستې شی دَ کوم مطلب چه به دا وی چه مرګ اوهلاکت دې صرف هم په تاسو وی. "اې وعليکم ماتستحقون" بهرحال دواړه الفاظ جائز دی. [المرقات، ۴۲۲/۸-۴۲۱]

[۴۶۲۸] د نبی عليه السلام صبراوتحمل

۴۶۳۸-[۱] ( ) [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا- قَالَتْ: [۲] «اسْتَأْذَنَ رَهْطٌ مِنَ الْيَهُودِ عَلَى النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-، فَقَالُوا: السَّامُ عَلَيْكُمْ. [۲] فَقُلْتُ: بَلْ عَلَيْكُمُ السَّامُ وَاللَّعْنَةُ [۳] فَقَالَ: "يَا عَائِشَةُ! إِنَّ اللَّهَ رَفِيقٌ يُحِبُّ الرِّفْقَ فِي الْأَمْرِ كُلِّهِ". [۴] قُلْتُ: أَوَلَمْ تَسْمَعْ مَا قَالُوا" قَالَ: "قَدْ قُلْتُ: وَعَلَيْكُمْ» ". [۵] وَفِي رِوَايَةٍ: " عَلَيْكُمْ " وَلَمْ يَذْكُرِ الْوَاوَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.-

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي [۲] چې يوه ورځ د يهوديانو يو جماعت د حضور ﷺ په خدمت کې د حاضريدو اجازت وغوښتل هغوئ ته اجازت ورکول شوه او کوم وخت چې هغوئ راغلل نو هغوئ اوويل السَّامُ عليکم (په تاسو دې مرګ راشي) [۲] نو ما اوويل بلکې په تاسو دې مرګ راشي او په تاسو دې لعنت وي [۳] حضور ﷺ وفرمايل اې عائشې! خداې تعالیٰ محبت او نرمي کونکې دې او محبت او نرمي خوښوي [۴] ما عرض وکړو آيا تاسو ﷺ وانه وريدل هغوئ د سلام په ځاې څه لفظ ويلي دي حضور ﷺ وفرمايل بيشکه ما اوريدلي دي او ما دهغوئ په جواب کې ويلي دي چې وعليکم او په [۵] يو روايت کې دالفظ عَلَيْكُمْ دي يعنی د واو ذکر نشته. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① رَهْطٌ: جماعت، ډله، ② السَّامُ: مرګ، ③ رَفِيقٌ: محبت، نرمي،

[۱] وَفِي رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيِّ. قَالَتْ: «إِنَّ الْيَهُودَ أَتَوُا النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَقَالُوا: السَّامُ عَلَيْكَ [۲] قَالَ: " وَعَلَيْكُمْ " فَقَالَتْ عَائِشَةُ: السَّامُ عَلَيْكُمْ، وَلَعَنَكُمُ اللَّهُ، وَغَضِبَ عَلَيْكُمْ [۳] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: " مَهْلًا يَا عَائِشَةُ! عَلَيْكِ بِالرِّفْقِ، [۴] وَإِيَّاكِ وَالْعُنْفَ وَالْفُحْشَ ". [۵] قَالَتْ: أَوَلَمْ تَسْمَعْ مَا قَالُوا؟ [۶] قَالَ: " أَوَلَمْ تَسْمَعِي مَا قُلْتُ، [۷] رَدَدْتُ عَلَيْهِمْ، فَيُسْتَجَابُ لِي فِيهِمْ، وَلَا يُسْتَجَابُ لَهُمْ فِيَّ» ". [۸]- وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ قَالَ: " «لَا تَكُونِي فَاحِشَةً، [۹] فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْفُحْشَ وَالتَّفَحُّشَ» ".

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الدعوات/باب قول النبی صلی الله عليه وسلم: «يستجاب لنا فی اليهود، ولا يستجاب لهم فينا» (رقم-۶۴۰۱) ومسلم فی کتاب السلام/باب النهی عن ابتداء أهل الکتاب بالسلام وکيف يرد عليهم (رقم-۱۰ - (۲۱۶۵) والترمذی فی کتاب الاستئذان والآداب عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی التسليم علی أهل الذمة (رقم-۲۷۰۱) وابن ماجه فی کتاب الأدب/باب الرفق (رقم-۳۶۸۹)

ترجمه: [۱] او د بخاري په يو روايت کې داسې دي چې بي بي عائشې رضي الله عنها وفرمايل يوه ورځ ځو يهوديان رسول الله ﷺ ته راغلل او هغوئ (د السلام عليکم) ويلو په ځاي دا اوويل چې السام عليکم [۲] حضور ﷺ ورته په جواب کې وفرمايل وعليکم بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي د يهوديانو دا بد تميزي ز ما برداشت نه شوه او ماورته په جواب کې اوويل په تاسو دي مرګ راشي او په تاسو دي د الله تعالى لعنت وي او په تاسو دي د الله غضب وي [۳] حضور ﷺ ځما د ژبې نه دا الفاظ په اوريدو سره وفرمايل اې عائشې رضي الله عنها منع شه تاته نرمي اختيارول پکار دي [۴] او سخت ګويي او فحش خبرو نه پرهيز پکار دي [۵] بي بي عائشه رضي الله عنها اوويل آيا تاسو ﷺ وانه وريدل چې هغوئ څه لفظ ويلي دي [۶] حضور ﷺ ورته وفرمايل او تاوانه وريدل چې هغوئ څه ويلي دي [۷] ما د هغه جواب ورکړي دي (تاته دي معلومه وي چې) د هغوئ په حق کې ځما دعا يا بد دعا خو قبليږي ليکن ځما په حق کې د هغوئ دعا يا بد دعا نه قبليږي [۸] او د مسلم په يو روايت کې داسې دي چې حضور ﷺ وفرمايل اې عائشې رضي الله عنها ! ته فحش خبري کونکي مه جوړيږه [۹] ځکه چې خداي ﷻ فحش خبري او په تکلف فحش خبري جوړول نه خوښوي.

حل اللغات: -③مَهْلًا: منع شه، مه کوه، ⑤إِيَّاكِ: ځان اوساته، ⑥الْعُنْفَ: سخت کلامي، ⑦الْفُحْشَ: پوچه وينا ،نامناسبه خبرې، ⑧فَاحِشَةً: بدې ناروا خبرې کونکې، بدګويه،

تسهيلات:

قوله: فَقَالُوا: السَّامُ عَلَيْكُمْ:

نبی علیه السلام ته د یهودو خبرې کول: دَيهودو عداوت اوخباثت تردې حده پورې زيات شوې وو چه حضورپاك ته به ئې هم په سلام کولوکښې دَ بددعا کولوکوشش کولو "السام عليكم" به ئې ونيلو دَ کوم معنى چه داوه چه په تادې مرګ اوهلاکت راشى.حضورپاك به اوريدل او پوهيدلو به ليکن صرف په وعليکم به ئې جواب ورکولو.

قوله: مَهْلًا يَا عَائِشَةُ! عَلَيْكِ بِالرِّفْقِ:

عائشې رضی الله عنها ته د نرمۍ کولوحکم: يوځل حضرت عائشه رضي الله عنها واوريده نو بنه جواب ئې ورکړو په کوم چه حضورپاك اوفرمائيل اې عائشه نرمى الله تعالى خوښوى ته دَ نرمئى نه کارواخله.حضرت عائشه رضي الله عنها اوفرمائيل چه آيا تاسو دَدې يهوديانوخبره نه اورئى چه په سلام کښې بددعاکوى؟ حضورپاك اوفرمائيل زه ئې اورم اوجواب هم ورکوم دَهغوى بددعا زما په حق کښې نه قبليږى اوزما بددعا دَهغوى په حق کښې قبليږى.په دې حديث کښې دَ حضورپاك دَ حکم اوصبر اوبرداشت لويه نمونه موجود ده.[المرقات، ۸/۲۸۲]

[٤٦٣٩] د مسلم او غیر مسلم مخلوط مجلس کې د سلام کولو طریقه

۴۶۳۹-[۱۲] (۱) [۱] وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: [۲] «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَرَّ بِمَجْلِسٍ [۳] فِيهِ أَخْلَاطٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُشْرِكِينَ عَبَدَةِ الْأَوْثَانِ، وَالْيَهُودِ، [۴] فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت اسامه ابن زید ﷺ وایي [۲] چې یوه ورځ رسول اللهﷺ په یو مجلس باندې تیر شو [۳] چې په هغه کې مسلمانان او مشرکیني په خپلو کې ناست وه او په مشرکینو کې بت پرست هم وو او یهودیان هم [۴] نو حضورﷺ (د مسلمانانو اراده کولو سره) مجلس والاوو ته سلام واچوي (بخاري . مسلم)

حل اللغات: - ① أَخْلَاطٌ: ګډ وډ . ② الْأَوْثَانِ: بتان.

تسهیلات:

قوله: مَرَّ بِمَجْلِسٍ فِيهِ أَخْلَاطٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ... وَالْيَهُودِ، فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ:

د مسلم او غیر مسلم په ګډ مجلس باندې سلام اچول: که چرې انسان یو داسې اجتماع ته لاړشي یا هلته تیریږي په کوم کښې چه مسلمانان او کافران او هرقسم خلق وی یا داسې مجلس سره تیرشی په کوم کښې چه څه اهل سنت وی اوڅه بدعتی څه عادل وی اوڅه ظالمان نو په داسې صورت کښې دَ سلام کولو طریقه داده چه کله انسان سلام کوی نو په دې ګنره کښې دې دَ مسلمانانو دَ سلام اراده اوکړی اوهغه چه کوم دَ اهل سنت نه وی اوعادل وی.نبی کریم ﷺ خو په مذکوره حدیث کښې دَ سلام الفاظ عام استعمال کړی دی لیکن دې سره ئی صرف دَاهل اسلام اراده کړې ده په دې سره حقیقت کښې امت ته درس ورکول مقصودوو [تحفة الاحوذی ۷ ۴۰۰ عارضة الاحوذی]

[٤٦٤٠] لارې ته د هغې حقونه ورکول

۴۶۴۰-[۱۳] (۲) [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: " [۲] «إِيَّاكُمْ وَالْجُلُوسَ بِالطُّرُقَاتِ ". فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! [۳] مَا لَنَا مِنْ مَجَالِسِنَا بُدٌّ نَتَحَدَّثُ فِيهَا. [۴] قَالَ: " فَإِذَا أَبَيْتُمْ إِلَّا الْمَجْلِسَ فَأَعْطُوا الطَّرِيقَ حَقَّهُ [۵] " قَالُوا: وَمَا حَقُّ الطَّرِيقِ يَا رَسُولَ اللّٰهِ؟ [۶] قَالَ: " غَضُّ الْبَصَرِ، وَكَفُّ الْأَذَى، وَرَدُّ السَّلَامِ، [۷] وَالْأَمْرُ بِالْمَعْرُوفِ، وَالنَّهْيُ عَنِ الْمُنْكَرِ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

---

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب الاستئذان/باب التسلیم فی مجلس فیه أخلاط من المسلمین والمشرکین (رقم-٦٢٥٤) ومسلم فی کتاب الجهاد والسیر/باب فی دعاء النبی صلی الله علیه وسلم إلی الله. وصبره علی أذی المنافقین (رقم-١١٦ - (١٧٩٨) والترمذی فی کتاب الاستئذان والآداب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی التسلیم علی أهل الذمة (رقم-٢٧٠٢)واحمد فی المسند:٢٠٣/٥

[۲] اخرجه البخاری فی کتاب الاستئذان/بابقول الله تعالی: ﴿یا أیها الذین آمنوا لا تدخلوا بیوتا غیر بیوتکم حتی تستأنسوا. وتسلموا علی أهلها. ذلکم خیر لکم لعلکم تذکرون.... (رقم-٦٢٢٩) ومسلم فی کتاب الأشربة/باب النهی عن الجلوس فی الطرقات وإعطاء الطریق حقه (رقم-١١٤ - (٢١٢١)

ترجمه: [۱] او حضرت ابوسعید خدري د رسول الله ﷺ نه نقل کوي حضور ﷺ وفرمایل [۲] تاسو په لارو کې د ناستې نه پرهیز کوئ (په دې اوریدو سره) بعضې صحابه وُ ﷺ عرض وکړو چې یا رسول الله! [۳] زمونږ د پاره په لارو کې د ناستې نه علاوه بله څه چاره نشته چې هلته مونږ خبرې کوو [یعنې په لارو کې ناستې نه پرهیز کول زمونږ د پاره ممکن نه دي زمونږ سره څه داسې ځاې نشته چې هلته مونږ خپل مجلس کوو ځکه مونږ چې څو سړي یوځاې شو نوهلته په لار کې کینو او د خپل دیني او دنیاوي امورو باره کې خپلو کې رایې مشورې او مذاکرات کوو د یو بل حالت د ریافت کوو که څوك ناجوړه شي نو د هغه د پاره علاج معالجه تجویز کوو که په خپلو کې څه رنجش او عناد وي نو صلح صفایي کوو او د خپلو معاملاتو فیصله کولو تدبیر باندې غور کوو] [۴] حضور ﷺ وفرمایل هرکله چې تاسو د مجبورې په بناء د ناستې نه علاوه دویم صورت نه انکار کوئ نو بیا د لارې حق اداء کوئ [یعنی که داسې صورت وي چې په لار کې د ناستې نه پرهیز کول ستاسو د پاره ممکن نه وي او تاسو ته په داسې ځاې کې کینا ستل وي کوم چې په لار باندې واقع وي نو د لارې حق اداء کوئ] [۵] صحابه وُ ﷺ عرض وکړو یا رسول الله! د لارې حق څه دې؟ [۶] حضور ﷺ وفرمایل د سترګې بندول یعنی حرام ښیزونو باندې نظر نه اچول چاته تکلیف رسولو نه منع کیدل [یعنی لار تنګول یا چا تیریدونکو ته تکلیف نه رسول] د سلام جواب ورکول [۷] او خلقوته د ښو خبرو حکم ورکول او خرابو نه منع کول. (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① اَلطُّرُقَاتِ: د طرق جمع ده، لاره. ② بُدٌّ: ضروری، لاچاری. ③ أَبَيْتُمْ: انکار کوئ تاسو. ④ غَضُّ الْبَصَرِ: نظر ښکته ساتل. ⑤ وَكَفُّ الْأَذَى: تکلیف نه رسول.

تسهیلات: **قوله:** إِيَّاكُمْ وَالْجُلُوسَ بِالطُّرُقَاتِ:

بلا ضرورته په لارکښې د کیناستوحکم: د دې حدیث نه معلومه شوه چه په لارو کوڅواو چوترو باندې کیناستل او په خلقو پسې آوازونه کول او ګپ لګول منع دی.

قوله: غَضُّ الْبَصَرِ، وَكَفُّ الْأَذَى، وَرَدُّ السَّلَامِ، وَالْأَمْرُ بِالْمَعْرُوفِ، وَالنَّهْيُ عَنِ الْمُنْكَرِ

دلارې کیناستوحقوق: که دَ څه مجبورئ دَ وجې په لاره کښې کیناستل ضروری وی نود لاندینی خبرو خیال ساتل پکار دی.

① د نظرحفاظت کول.
② چاته تکلیف نه رسول.
③ د سلام کونکی د سلام جواب ورکول.
④ ورک شوی ته لار ښودل.
⑤ امربالمعروف او نهی عن المنکر کول

[٤٦٤١] ورک شوی ته لار ښودل

٤٦٤١—[١٤] ()[١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي هَذِهِ الْقِصَّةِ قَالَ: "[٢] «وَإِرْشَادُ السَّبِيلِ» ".[٣] رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ عَقِيبَ حَدِيثِ الْخُدْرِيِّ هَكَذَا.

ترجمه:[١] او حضرت ابوهریره رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه د هغه مضمون په سلسله کې کوم چې په پورته حدیث کې ذکر شوي دي نقل کوي او حضور ﷺ دا هم وفرمایل [٢] چې د کوم سړي نه لار خطا شي یا کوم سړي چې لار نه پیژني هغه ته لار ښودل هم یو حق دي [٣] دا روایت ابوداود د حضرت ابوسعید خدري رضي الله عنه د روایت نه پس داسې نقل کړې دي څرنګه چې صاحب مصابیح او د هغوئ اتباع کې صاحب مشکوة دلته نقل کړي دي

حل اللغات: - ① وَإِرْشَادُ السَّبِيلِ: او ښودل (سیدها کول) د لارې.

نوټ: د دې حدیث وضاحت وړاندې حدیث نمبر (۴۶۴۲) کښې تیرشو

[٤٦٤٢] د مظلوم فریاد رسی کول

٤٦٤٢—[١٥] ()[١] وَعَنْ عُمَرَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي هَذِهِ الْقِصَّةِ قَالَ: "[٢] «وَتُغِيثُوا الْمَلْهُوفَ، وَتَهْدُوا الضَّالَّ» ".[٣] رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ عَقِيبَ حَدِيثِ أَبِي هُرَيْرَةَ هَكَذَا، وَلَمْ أَجِدْهُمَا فِي الصَّحِيحَيْنِ".

ترجمه:[١] او حضرت عمر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه د هغه مضمون په سلسله کې نقل کوي چې حضور ﷺ دا هم وفرمایل [٢] چې (یو حق دا هم دي چې) د مظلوم فریاد رسي وشي او لار خطا ته لار وخودل شي [٣] دا روایت حضرت ابوداود رحمه الله د حضرت ابوهریره رضي الله عنه د روایت نه پس دغه شان نقل کړي دي او ما دا دواړه حدیثونه صحیحینو یعنی بخاري او مسلم کې نه دي پیدا کړي.

حل اللغات: - ① وَتُغِيثُوا: فریاد رسي اوشي، ② الْمَلْهُوفَ: مصیبت وهلې. مظلوم. فریاد کونکې. ③ وَتَهْدُوا: او لار اوښودلې شي. ④ الضَّالَّ: لاره ورکه شوی ته.

تسهیلات:

قوله: وَتُغِيثُوا الْمَلْهُوفَ:

مصیبت زده سره مدد کول: مصیبت وهلې فریادکونکی ته وائی د دوی امداد کول په لاره کښې د کیناستو په حقوق کښې یو حق دي.

قوله: وَلَمْ أَجِدْهُمَا فِي "الصَّحِيحَيْنِ:

---

[١]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب فی الجلوس فی الطرقات (رقم-٤٨١٦)

[٢]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب فی الجلوس فی الطرقات (رقم-٤٨١٧)

په صحیحینو کښې ددوارو خبرو نه موندل: د صاحب د مشکاة فرمائی چې دا دواړه خبرې په صحیحینو کښې ماته ملاؤ نشوې.

په عدم وجدان کښې دوه تاویلونه: ① د امام بغوی رحمه الله د صنیع نه معلومیږي چه دا دواړه روایات به د حضرت ابو هریره ﷛ او حضرت عمر ﷛ د صحیحینو وی، چنانچه صاحب مشکوة دا دواړه په صحیحینو کښې تلاش کړی دی لیکن کامیابی ورته نه ده ملاو شوې،

② دا دوړاه احادیث أصالة نه دي بلکه تتمیم او تکمیل دپاره ذکر کړې شوې دي لهذا په صحیحینو کښې ددې موجود یدل ضروری نه دی. (التعلیق الصبیح ج۵، ص۱۰۳) (مرقات ج۹، ص۵۳)

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۴۶۴۲] د اسلامي معاشرې شپږ اصول

۴۶۴۳–[۱۲] (۱) [۱] عَنْ عَلِيٍّ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لِلْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ سِتٌّ بِالْمَعْرُوفِ: [۲] يُسَلِّمُ عَلَيْهِ إِذَا لَقِيَهُ، وَيُجِيبُهُ إِذَا دَعَاهُ، [۳] وَيُشَمِّتُهُ إِذَا عَطَسَ، وَيَعُودُهُ إِذَا مَرِضَ، [۴] وَيَتْبَعُ جِنَازَتَهُ إِذَا مَاتَ، وَيُحِبُّ لَهُ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت علي ﷛ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل په مسلمان باندې د مسلمان شپږ حقوق دي چې حُسنِ سلوک (او د خداي ﷻ دخوشنودي) سره متعلق دي [۲] هرکله چې يو مسلمان د بل سره يوځاي شئ نو هغه ته سلام کوئ هرکله چې يو مسلمان دِي طعام د پاره يا بل څه غرض د پاره راوبلي نو هغه قبول کړي [۳] او هرکله چې يو مسلمان وترچي نو په هغه يرحمك الله اووائي او هرکله چې يو مسلمان ناجوړه شي نو د هغه پوښتنه کوي [۴] او هرکله چې يو مسلمان وفات شي نو د هغه د جنازې سره ځي او مسلمان د پاره هغه شي خوښوي کوم چې ځان د پاره يې خوښوئ. (ترمذي دارمي)

حل اللغات: - ① اَلْمَعْرُوف: د دستور مطابق. ② عَطَسَ: فرنجې، انتوشي. ③ يَتْبَعُ: ځي يعني جنازه کښې شرکت کوی.

تسهیلات:

قوله: بِالْمَعْرُوفِ

د معروف نه مراد: شارحين حضرات ليکی چه په بالمعروف کښې دَباء متعلق محذوف دي اصل عبارت داسې دي "للمسلم على المسلم خصال ستة متلبسة بالمعروف" يعنی دا شپږ خصلتونه په معروف او ښه طريقه پوره کول پکاردی دَ دستور مطابق دَ دې حق اداکول پکاردی امر

(۱) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی تشمیت العاطس (رقم-۲۷۳۶) وابن ماجه فی کتاب الجنائز/باب ما جاء فی عيادة المريض (رقم-۱۴۳۳) واحمد فی المسند: ۶۸/۲

بالمعروف اونهی عن المنکر مراد نه دي کوم شپږ خصلتونه چه دَدستور موافق ، ښه سلوك او په ښه طريقه سره پوره کول پکار دی هغه دادی

د مسلمان شپږ حقوق: ① مسلمان سره دَملاقات په وخت سلام کول

② د مسلمان دعوت قبلول

③ په يرحمك الله سره د مسلمان دَ اټهوشی جواب ورکول

④ دَ بيمار دَتپوس دَپاره هغه له ورتلل

⑤ د مسلمان په مرګ باندې دَهغه جنازه کول

⑥ د مسلمان د جنازې سره تلل

اشکال اودهغې جواب: مذکوره خصائل پنځه دی اوحکم دَ شپږو دې؟ دَدې جواب شيخ عبدالحق رحمه الله دا ورکړې دې چه جنازې سره تلل دادَ جنازې نه پس شوی دی لهذا دَ جنازې کولو ذکر په ضمن کښې راغلې دې په مستقل توګه باندې ذکرنه دې کړې شوې

[٤٦٤٤] دسلام په جواب کښې د مسنون زيادت ثواب

٤٦٤٣-[١٧] (١) [١] وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - [٢] «أَنَّ رَجُلًا جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ، فَرَدَّ عَلَيْهِ، ثُمَّ جَلَسَ. [٣] فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "عَشْرٌ". [٤] ثُمَّ جَاءَ آخَرُ فَقَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ، فَرَدَّ عَلَيْهِ، [٥] فَجَلَسَ، فَقَالَ: "عِشْرُونَ". [٦] ثُمَّ جَاءَ آخَرُ فَقَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، فَرَدَّ عَلَيْهِ، فَجَلَسَ فَقَالَ: "ثَلَاثُونَ"» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه : [١] او حضرت عمران ابن حصين رضي الله عنه وايي [٢] چې يوه ورځ د رسول الله ﷺ مجلس ته يو سړي راغلواو هغه اوويل السلام عليكم حضور ﷺ د هغه د سلام جواب ورکړو بيا هغه سړي کيناستو [٣] رسول الله ﷺ وفرمايل د دې سړي د پاره لس نيکي وليکل شوی [٤] بيا يو بل سړي راغلواو هغه اوويل السلام عليكم ورحمة الله حضور ﷺ د هغه د سلام جواب هم ورکړو [٥] او کوم وخت چې هغه کيناستو نو حضور ﷺ وفرمايل ده ده دپاره شل نيکي وليکل شوی [٦] د دې نه پس يوبل سړي راغلواو هغه اوويل السلام عليكم ورحمة الله وبركاته حضور ﷺ د هغه د سلام جواب هم ورکړو او هغه کيناستو نو حضور ﷺ وفرمايل د ده د پاره ديرش نيکي وليکل شوي (ترمذي ابوداود)

تسهيلات:

قوله: فَقَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ، فَرَدَّ عَلَيْهِ:

---

(١) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الأدب/باب كيف السلام؟ (رقم-٥١٩٥) والترمذی فی كتاب الاستئذان والآداب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما ذكر فی فضل السلام (رقم-٢٦٨٩) واحمد فی المسند: ٤/٤٣٩ ، ٤/٤٤٠

د سلام د جواب په الفاظو کښې زیادت کول: که یوسړي په دې الفاظو سره سلام اوکړي السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته نوده د پاره دیرش نیکئی لیکلې کیږی داالفاظ د صحیح حدیث څخه ثابت دي

د سلام په جواب کښې د مغفرته او رضوانه د زیادت حکم: بعضې روایاتوکښې د دې نه زیات ومغفرته او بعضې کښې ورضوانه الفاظ هم راځي. خوداحادیث ضعیف دی او په فضائل اعمال کښې خو په ضعیف حدیث باندې هم عمل کولې شي خود حضرت عبدالله بن عباس او حضرت عمر فاروق ﷺ نه دا تصریح نقل ده چه سلام وبرکاته په لفظ باندې ختمیږی په دې وجه په سلام کښې دَلفظ وبرکاته باندې اضافه کولونه اجتناب کول پکاردی ځکه چه د دې نه زیاتی کلماتو سره سلام کول مسنون نه دی سره ددې که جوازشته.تحفة الاحوذی۷/۳۸۴ معارف القرآن ۲/۵۰۴

[٤٦٤٥]د سلام په جواب کښې د مغفرته حکم

٤٦٣٥-[١٨] () [١] وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِمَعْنَاهُ، فَزَادَ، [٢] «ثُمَّ أَتَى آخَرُ فَقَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ وَمَغْفِرَتُهُ، [٣] فَقَالَ: " أَرْبَعُونَ " وَقَالَ: " هَكَذَا تَكُونُ الْفَضَائِلُ» ". رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه : [١] او حضرت معاذ ابن انس ﷺ هم د رسول الله ﷺ نه د پورته حدیث معنی روایت نقل کړي دي چې په هغه کې معاذ ﷺ دا الفاظ مزید نقل کړي دي [٢] بیا یوبل سړي یعنی څلورم سړي راغلواو هغه اوویل السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ومغفرته [٣] حضور ﷺ د هغه د سلام جواب ورکړو او وې فرمایل د ده د پاره څلویښت نیکي ولیکل شوی او دایې وفرمایل دغه شان په ثواب کې اضافه کیږي یعنی سلام کونکي چې څومره الفاظ زیاتوي هغه قدري د هغه په ثواب کې زیاتوب کیږي (ابوداؤد)

تسهیلات:

قوله: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ:

د سلام په جواب کښې د جمعې صیغه استعمالول: د حدیث الباب حاصل دا دې چه د سلام کولو په سلسله کښې که مخاطب یو هم وی بیا به هم د جمع صیغه استعمالیږی السلام علیکم او په جواب ورکولو کښې به هم د جمع صیغه استعمالیږی

د سلام اچولو درجات: د سلام ادنی درجه السلام علیکم یا السلام علیك ده او د جواب ادنی درجه وعلیکم السلام ده، علماء کرامو لیکلی دی چه د اهل اسلام په جواب کښې صرف وعلیکم وئیل، کافی نه دی امام ابوالحسن واحدی رحمه الله فرمائی چه سلام نکره لکه

[١] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب کیف السلام؟ (رقم-۵۱۹۶)

سلام علیکم یا معرف باللام لکه السلام علیکم ونیلو کښې اختیار دې امام نووی رحمه الله فرمائی چه معرف باللام ونیل اولی دی هم دا مشهور دې (مرقات ج۹، ص۵۵)

[٤٦٤٦] په سلام کې د مخکې کیدو فضیلت

٤٦٣٦—[١٩] (¹) [١] وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] "«إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِاللّٰهِ مَنْ بَدَأَ بِالسَّلَامِ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] او حضرت ابو امامه رضی الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] په خلقو کې الله ته نزدې هغه دې چې په سلام کې مخکې شي (احمد ترمذي ابو داود)

تسهیلات:

قوله: إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِاللّٰهِ مَنْ بَدَأَ بِالسَّلَامِ:

په سلام کښې د وړاندې والی فضیلت: دَ دې حدیث نه معلومه شوه چه کوم سړي په سلام کښې ړومبې والې کوی هغه ته دَ الله تعالی په نیزخاص نزدیوالې او قرب حاصلیږی او په یو بل حدیث کښې دی داسې سړې دَ تکبرنه خلاصیږی په هغه کښې عاجزی انکساری او تواضع پیدا کیږی په دې وجه په سلام کښې دَ ړومبی والی عادت پیدا کول پکار دی دې دَ پاره چه انسان ته دا فضیلت حاصل شي [التحفة الاحوذی ۳۹۲/۷ مرقاة ۴۷۰/۸]

[٤٦٤٧] پردو ښځوته دَ سلام کولو حکم

٤٦٣٧—[٢٠] (²) [١] وَعَنْ جَرِيرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: [٢] «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَرَّ عَلَى نِسْوَةٍ فَسَلَّمَ عَلَيْهِنَّ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [١] او د حضرت جریر رضی الله عنه نه روایت دي [٢] چې [یو وخت] رسول الله ﷺ د ښځو په خوا کې تیر شو نو حضور ﷺ هغوئ ته سلام وکړو. خودا د رسول علیه السلام سره خاص دي دعامو خلقو دپاره مکروه دي (احمد)

تسهیلات:

قوله: فَسَلَّمَ عَلَيْهِنَّ

نامحرمه ښځوته د سلام اچولو حکم: یعنی حضورپاك ښځوته سلام اوکړو په دې حدیث کښې دا تفصیل نشته دې چه ښځې بوډئې وې که ځوانې وې اوکه ګډې وډې وې ځنګه چه هم وې خو ښځوته سلام کول دَحضورپاك دَ خصوصیاتو نه یو خصوصیت وو حضورپاك دَ

(¹) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الأدب/باب فی فضل من بدأ السلام (رقم-٥١٩٧) والترمذی فی كتاب الاستئذان والآداب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی فضل الذی يبدأ بالسلام (رقم-٢٦٩٤) واحمد فی المسند: ٢٥٤/٥

(²) اخرجه احمد فی المسند: ٢٥٤/٥

امت د پلار په حکم کښې دي په دي وجه دامت ښځې د حضورپاك لونړه دی اود حضورپاك نه علاوه بل چا مسلمان يا پيرفقير دپاره جائزنه دی چه هغه دې ښځوته سلام اوکړی **نامحرمه ځوانې ښځې ته د سلام کولو حرمت:** البته كه ښځه بالكل بوډئى وى نوهغې ته سلام كول جائزدى ځوانې ښځې ته د پردى سرى سلام كول مكروه تحريمى دى ځكه چه دا د فتنې كولاويدو سبب اودروازه ده

[٤٦٤٨] د سلام سنت كفايه كيدل

٤٦٣٨-[٢١] () [١] وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [٢] يُجْزِءُ عَنِ الْجَمَاعَةِ إِذَا مَرُّوا أَنْ يُسَلِّمَ أَحَدُهُمْ، [٣] وَيُجْزِءُ عَنِ الْجُلُوسِ أَنْ يَرُدَّ أَحَدُهُمْ. رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي " شُعَبِ الْإِيمَانِ " مَرْفُوعًا. وَرَوَى أَبُو دَاوُدَ وَقَالَ: رَفَعَهُ الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، وَهُوَ شَيْخُ أَبِي دَاوُدَ.

ترجمه: [١] اود حضرت علي ابن ابي طالب كرم الله وجهه نه منقول دي هغوئ وفرمايل [٢] هركله چې څه خلق تيريږي نو په هغوئ كې د چا يو سلام كول به د ټولو د طرفه كافي وي [٣] دغه شان كوم خلق چې ناست وي په هغوئ كې د يو سړي جواب وركول به د هغه ټولو دطرفه كافي وي دا روايت بيهقي په شعب الايمان كې بطريق مرفوع نقل كړي دي يعني د بيهقي د روايت مطابق دا د حضور ﷺ ارشاد ګرامي دي، نه چې د حضرت علي ﷺ قول دي او ابوداود دا روايت (بطريق موقوف) نقل كړي دي او هغوئ (د خپل سند بيانولو نه پس) ويلي دي چې دا روايت حسن ابن علي مرفوع بيان كړي دي او دا حسن ابن علي امام حسن ابن علي ابن ابي طالب نه دي بلكې هغه حسن رحمه الله دي چې د ابوداود استاد او شيخ دي حاصل داچې دا روايت خو بيهقي رحمه الله مرفوع نقل كړي دي او ابوداود هم د حسن ابن علي سند سره مرفوع نقل كړي دي ليكن دويم سند سره يې موقوف نقل كړي دي

تسهيلات:

قوله: يُجْزِءُ عَنِ الْجَمَاعَةِ إِذَا مَرُّوا أَنْ يُسَلِّمَ أَحَدُهُمْ:

په روانو كسانو كښې د يو كس د سلام كفايت:

كه يوه ډله په بله ډله يا څو كسانو باندې تيرشي او په دغه روانه ډله كښې يو كس هم سلام واچوى نو د پوره ډلې غاړه خلاصه شوه ځكه چې سلام سنت كفايه دي د يو كس په اچولو سره د ټولو ذمه فارغيږي

قوله: وَيُجْزِءُ عَنِ الْجُلُوسِ أَنْ يَرُدَّ أَحَدُهُمْ:

د يو كس جواب دجماعت دپاره كافي كيدل: په كومه ډله چې سلام واچولې شو نو كه په هغوى كښې يو كس هم د سلام جواب وركړو نو د ټولو غاړه خلاصه شوه.

---

(١) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأدب/باب ما جاء في رد الواحد عن الجماعة (رقم-٥٢١٠)

[٤٦٤٩] په ګوتو سره د سلام کولو ممانعت

۴۶۴۹-[۲۲] ()[١] وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ- أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [٢] قَالَ: " «لَيْسَ مِنَّا مَنْ تَشَبَّهَ بِغَيْرِنَا، [٣] لَا تَشَبَّهُوا بِالْيَهُودِ وَلَا بِالنَّصَارَى، [٤] فَإِنَّ تَسْلِيمَ الْيَهُودِ الْإِشَارَةُ بِالْأَصَابِعِ، وَتَسْلِيمَ النَّصَارَى الْإِشَارَةُ بِالْأَكُفِّ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: إِسْنَادُهُ ضَعِيفٌ.

ترجمه: [١] او حضرت عمرو بن شعیب د خپل پلار حضرت شعیب نه او هغه د خپل نیکه حضرت عبد الله ابن عمرو رضي الله عنهما نه روایت کوي [٢] چې رسول الله ﷺ وفرمایل کوم سړي چې زمونږ د غیرو سره مشابهت کوي یعنی زمونږ د امت د خلقو برعکس د نورو مذهبونو د خلقو په طریقه عمل کوي هغه زمونږ نه نه دي [٣] تاسو مه یهودو سره مشابهت کوئ او مه د عیسائیانو سره [٤] د یهودیانو سلام کول د ګوتو په ذریعه د اشاري کولو په صورت کې کیږي او د عسائیانو سلام کول د ورغوو د اشاري په ذریعه په صورت کې وي ترمذي دا روایت نقل کړي دي او ویلي یي دي چې د دې اسناد ضعیف دي

تسهيلات:

قوله: فَإِنَّ تَسْلِيمَ الْيَهُودِ الْإِشَارَةُ بِالْأَصَابِعِ:

په اشاره سره د سلام کولو د ممانعت وجه: چونکه سلام کول دَ ټولو انبیاء کرامو سنت دی او اسلام چه کوم سلام پیش کوی دادَ انبیاء کرامو طریقه ده لیکن یهودو اونصاریٰ دَ پیغمبرانو طریقه پریخوده اودَخپل طرف نه ئی دَ سلام طریقې جوړې کړې یهود نابهبود دَ ګوتو په اشارو سره سلام کوی او نصاریٰ دَ لاس په تلی سره سلام کول اختیارکړل دکوم شکل چه دَ سلوټ دې دَ سلام لفظ دَ هیڅا په نیز نشته دې په دې وجه مسلمانانوته حکم ورکړې شو چه هغوی دې د لاس په ځائی په ژبه سره السلام علیکم الفاظو سره سلام کوی صرف لاس خوزولو سره دې سلام نه کوی.

په اشاره سره د سلام کولو د جواز صورت: که یوسړې لرې وی اوهغه ته آواز نه رسی نو لاس سره سلام کول جائز دی لیکن دَدې دَپاره شرط دادې چه په ژبه دې دَ سلام الفاظ هم اداکړی

د ناجائزه سلام بعضې نور صورتونه:

① په سلام کښې لاسونویوځائی ترلوباندې اکتفا کول.
② ملا ټیټولو سره سلام کول
③ صرف سر ښکته کولوسره سلام کول

---

[١] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الاستئذان والآداب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی کراهیة إشارة الید بالسلام (رقم-٢٦٩٥) واحمد فی المسند:٢/٤٩٩

قوله: إِسْنَادُهُ ضَعِيفٌ"

د سند ضعف: عمرو بن شعیب طریقه ضعیف ده لیکن نور طرق صحیح دی. [المرقات: ۸/۴۳۱]

[۴۶۵۰] په هر نوی ملاقات باندې سلام کول پکاردی

۴۶۵۰-[۲۳] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] "«إِذَا لَقِيَ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ، فَلْيُسَلِّمْ عَلَيْهِ، [۳] فَإِنْ حَالَتْ بَيْنَهُمَا شَجَرَةٌ، أَوْ جِدَارٌ، أَوْ حَجَرٌ، ثُمَّ لَقِيَهُ، فَلْيُسَلِّمْ عَلَيْهِ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او د حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم [۲] وفرمایل په تاسو کې چې څوك د خپل مسلمان ورور سره ملاقات کوي نو پکار دي چې مخکې دي هغه ته سلام اووائي [۳] او د دې نه پس که د دوارو په منځ کې څه ونه یا دیوال (یا لوې) کاڼي حائل شي او بیا هغه سره ملاقات وشي نو هغه ته دي دوباره سلام وکړي (ابوداؤد)

تسهیلات:

قوله: فَإِنْ حَالَتْ بَيْنَهُمَا شَجَرَةٌ أَوْ جِدَارٌ الخ

په هرملاقات کښې د سلام مسنونیت: په هرملاقات باندې یومسلمان له بل مسلمان ته سلام کول مسنون دی که دَ دوی دوارو جدائی دَ څه لږ وخت دَپاره ولې نه وی بس لږ شان غیبیدو نه پس په ملاقات کولو باندې سلام کول پکاردی مثلاً که په مینځ کښې یودیوال یا ونه هم راشی بیا هم په ملاقات باندې سلام کول مسنون دی.

نوټ: په دې سره داخبره واضحه شوه چه کوم خلق مخامخ ناست دی اوبیا پاسی اوسلام شروع کوی دامناسب نه دی لکه دَ مونځونونه پس یا دَاخترونونه پس اودَ رخصت په وخت سلام جائز اومسنون دي [المرقات: ۸/۴۳۲]

[٤٦٥١] په کورکښې دَ داخلیدو یا دَ وتلو په وخت سلام کولی

۴۶۵۱-[۲۴] (۲) [۱] وَعَنْ قَتَادَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] "«إِذَا دَخَلْتُمْ بَيْتًا فَسَلِّمُوا عَلَى أَهْلِهِ، [۳] وَإِذَا خَرَجْتُمْ فَأَوْدِعُوا أَهْلَهُ بِسَلَامٍ» " رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ" مُرْسَلًا.

ترجمه: [۱] او حضرت قتاده رضي الله عنه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل [۲] هرکله چې تاسو کورته ننوځئ نو خپل کوروالاوو ته سلام کوئ [۳] او هرکله چې د کور نه را ووځئ نو خپل کوروالا د سلام په ذریعه رخصت کې دا روایت بیهقي رحمه الله په شعب الایمان کې بطور ارسال نقل کړي دي

(۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب فی الرجل یفارق الرجل ثم یلقاه أیسلم علیه؟ (رقم-۵۲۰۰)

(۲) كذا فی جامع معمربن رشد باب التسليم اذا خرج من بيت (۱۰/ ۳۸۹)

تسهيلات: قوله: إِذَا دَخَلْتُمْ بَيْتًا فَسَلِّمُوا عَلَى أَهْلِهِ

خپل کور والا ته د سلام کولو ترغيب: يعنى په کورکښې دَ داخليدو په وخت اوهم دغه شان دَ وتلو په وخت خپل کوروالوته سلام کوئى دَ داخليدو په وخت سلام دَ امن اوامان دعا ده اودَ رخصت په وخت سلام دَ ديانت او دَ امانت دعا ده ليکن ښځې ته دَ سلام کولونه مخکښې پوهه کول پکاردى چه داسې سلام کول سنت طريقه ده که چرې داسې اونه کړى نوخطره ده چه ښځه به ئى داخيال کوى چه نن خو صاحب ماته سلام اوکړو صبابه سجده کوى [المرقات: ۸/۴۳۳]

قوله: وَإِذَا خَرَجْتُمْ فَأَوْدِعُوا أَهْلَهُ بِسَلَامٍ

د وداع په مفهوم کښې دوه اقوال: ① يعنى کوروالوته الوداعى سلام کولوسره دَ کورنه بهر خه دَدې مطلب په رنړاکښې داصيغه به دَ وداع نه وى چه دَرخصت کولوپه معنى کښې ده ② شيخ عبدالحق ﷫ ليکلى دى اودعوا دَ ايداع نه دې کوم چه دَ امانت ساتلو په معنى کښې دې لکه چه دا سرې دَخپل سلام په ذريعه خپل بال بچ اوخپل مال په خپل کورکښې دَ امانت په توګه ايږدى او څې دامطلب بعيد دې [اشعة اللمعات]

[۴۶۵۲] په کوروالا باندې د سلام اچولو فائده

۴۶۵۲-[۲۵]()[۱] وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] "«يَا بُنَيَّ! إِذَا دَخَلْتَ عَلَى أَهْلِكَ فَسَلِّمْ [۳] يَكُونُ بَرَكَةً عَلَيْكَ وَعَلَى أَهْلِ بَيْتِكَ»" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او د حضرت انس ﷛ نه روايت دې چې رسول الله ﷺ ماته وفرمايل [۲] اې خويه: هرکله چې ته خپل کور والاوو سره يوځاى کيږې نو سلام ورته کوه [۳] هغه سلام به په تاباندې او ستا کوروالاوو باندې د خير او برکت د نزول باعث کيږي (ترمذي)

تسهيلات: قوله: يَكُونُ بَرَكَةً:

په سلام اچولو کښې برکت: دا جمله مستانفه ده، د علت معنى لره متضمن ده "أي فإنه يكون أي السلام" په يو د نسخه کښې رواه الترمذى نه بعد "هذا حديث حسن غريب" الفاظ هم ذکر دى

[۴۶۵۳] اول سلام بيا کلام

۴۶۵۳-[۲۶]()[۱] وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] "«السَّلَامُ قَبْلَ الْكَلَامِ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ مُنْكَرٌ.

---

[1] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الاستئذان والآداب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى التسليم إذا دخل بيته (رقم-۲۶۹۸)

[2] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الاستئذان والآداب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى السلام قبل الكلام (رقم-۲۶۹۹)

ترجمه: [۱] او حضرت جابر رضی الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] سلام د کلام نه مخکې دي یعنی د ملاقات په وخت مخکې سلام کول پکار دي او د دې نه پس خبره اتره کول پکار دي د سلام کولو نه مخکې خبرې اترې شروع کول بنه نه دي ترمذي دا روایت نقل کړي دي او ویلي یې دي چې دا حدیث منکر دي

تسهیلات:

قوله السَّلَامُ قَبْلَ الْكَلَامِ

د خبرو مخکې وړاندې سلام اچول: دَ سلام چه کوم مقصد په شروع کښې لیکلې شوي دي دَهغې په رنړا کښې دَ دوو کسانو په ملاقات کښې دَ تولو نه مخکښې دَ سلام لفظ کیدل پکار دي دي دپاره چه دَ طرفینو دَ سلامتیا ضمانت ورکړې شي دې نه پس نورې خبرې اترې شروع کول پکاردی الحمد لله زمونږ د صوبه خیبر پختونخوا د تړیفک په آدابو کښې اوس دا خبره هم کولی شی ,,اول سلام بیا کلام,,

د بعضې خلقو خلاف سنت عمل: بعضې خلق اول خبرې کوی اوبیا سلام کوی دا صحیح نه دی لکه چه ریډیو پاکستان کښې دَ خبرونو شروع داسې کوی دا ریډیوپاکستان دې السلام علیکم دغه شان بعضې قومونه خوش آمدید . مرحبا اواهلاً وسهلاً او پخیر راغلې الفاظ استعمالوی بیا سلام کوی دا صحیح نه دی ځکه چه دَ حدیث تعلیم دادې چه اول دې سلام وی اوبیا دې کلام وی

[۳۶۳] په سلام کښې دَ جنسیت قدیمه اوجدیده تقلید ناجائز دي

۳۶۳۰-[۲۷] (۱) [۱] وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- قَالَ: [۲] كُنَّا فِي الْجَاهِلِيَّةِ نَقُولُ: أَنْعَمَ اللّٰهُ بِكَ عَيْنًا، وَأَنْعِمْ صَبَاحًا. [۳] فَلَمَّا كَانَ الْإِسْلَامُ نُهِينَا عَنْ ذٰلِكَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

ترجمه: [۱] او حضرت عمران ابن حصین رضی الله عنه وایي [۲] مونږ خلقو به د جاهلیت په زمانه کې د ملاقات په وخت دا وئیل انعم الله بك عینًا وانعم صباحًا یعنی الله دي ستا په وجه زمونږ سترګي یخي کړي او ته دي هر سهار په نعمتونو کې داخل شي [۳] بیا چې د اسلام زمانه راغله نو مونږ د دې ویلو نه منع شو. (ابوداؤد)

تسهیلات:

قوله أَنْعَمَ اللّٰهُ بِكَ عَيْنًا:

د جاهلیت د دور دسلام دوه قسمه کلمات: ① دَ اسلام نه وړاندې به دَجاهلیت خلقو دَملاقات په وخت دَمختلفو وختونودپاره څه کلمات وئیل په هغې کښې یوه کلمه انعم الله بك عیناً وه ② اودویمه کلمه أنعم صباحاً وه په دواړو کښې دَخوشحالئی اوتازګئی دعا وه .

---

(۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب فی الرجل یقول: فلان یقرئک السلام (رقم-۵۲۳۱)

د انعم الله بک په مفهوم کښې دوه اقوال

① په بک کښې کلمه د باء د سببیت دپاره شی نوپه دې صورت کښې معنی دا کیدې شی چې الله تعالی دې ستا په وجه ستا د دوستانو او خپلو سترګې تروتازه او روښانه لری یا د مخاطب د خوشحالۍ څخه کناه ده چې ته دې خوشحاله اوسیږې اوستا یاران دوستان دې تا خوشحاله وینی

② چې په بک کښې کلمه د باء زیاتی وی او د دې څخه تاکید تعدیه مراد شی په دې صورت کښې به دا جمله د دې مفهوم حامله وی چې الله تعالی دې تا ته د هغه څیز کتل په لاس درکړی چې د هغې په لیدلو ته خوشحاله کیږې او ته ئې خوښوې او د هغې طلب کوې

قوله: أَنْعَمَ اللّٰهُ:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: ① دا دامر صیغه ده مطلب دا دې چې ستا صحبتونه دې ستا دپاره د خوشحالۍ سبب اوګرځی.

② د صبا په وخت کښې دې ته تروتازه او خوشحاله اوسیږې دا هم د خوشحالۍ څخه کنایه ده اود صبا وخت ئې خکه مخصوص کړل چې هرکله د صبا په وخت کښې څخه مصیبت راشی نو توله ورځې بیا انسان پریشانه اوبدحاله وی.

[۴۶۵۵] غائبانه سلام اودهغې جواب

۴۶۵۵—[۲۸] ()[1] [۱] وَعَنْ غَالِبٍ - رَحِمَهُ اللّٰهُ - قَالَ: «إِنَّا لَجُلُوسٌ بِبَابِ الْحَسَنِ الْبَصْرِيِّ، [۲] إِذْ جَاءَ رَجُلٌ [۳] فَقَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ جَدِّي، قَالَ: بَعَثَنِي أَبِي إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: "ائْتِهِ فَأَقْرِئْهُ السَّلَامَ". [۴] قَالَ: فَأَتَيْتُهُ، فَقُلْتُ: أَبِي يُقْرِئُكَ السَّلَامَ [۵] فَقَالَ: "عَلَيْكَ وَعَلَى أَبِيكَ السَّلَامُ"». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت غالب رحمه الله وایې چې یوه ورځ مونږ د حضرت حسن بصري رحمه الله په دروازه ناست وو [۲] چې ناڅاپه یوسړي راغلو [۳] او بیان یې وکړو چې ما ته څما پلار او ... ته د هغه پلار یعنی څما نیکه بیان وکړو چې څما پلار زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې لیږلم او راته اوویل چې ته حضور ﷺ ته ورشه او د حضور ﷺ په خدمت کې سلام عرض کړه [۴] څما نیکه بیان وکړو چې د خپل پلار په حکم زه د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شوم او عرض مې وکړو چې څما پلار تاسو ﷺ ته سلام عرض کړی دې [۵] حضور ﷺ په دې اوریدو سره وفرمایل په تا او ستا په پلار دې سلامتیا وي (ابوداؤد)

[1]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب باب فی الرجل یقول: أنعم الله بک عینا (رقم-۵۲۲۷) واحمد فی المسند: ۵/ ۳۶۶

تسهيلات:

قوله عَلَيْكَ وَعَلَى أَبِيكَ السَّلَامُ:

دغائب كس د سلام جواب وركولو طريقه:كه يوسرې دَ لرې نه دَچادَپاره چاله سلام راوړي او هغه ته نې ورانديې كړى نودَهغې جواب څنګه وركول پكاردى.دَدې تعليم په دې حديث كښې وركړې شوې دې چه دَهغې په جواب كښې دې وعليك وعليه السلام يادَهغه سرى نوم اخستو سره وعليك وعلى ابيك السلام دې اووائى.دغه شان اسلام دَ سلام راوړونكې او سلام راليږونكى دواړه دَ سلام په جواب كښې شريك كړل

[۳۶۵۲] په خطونوكښې دَسلام ليكلو طريقه

۳۶۵۲-[۲۹]()[۱]وَعَنْ أَبِي الْعَلَاءِ بْنِ الْحَضْرَمِيِّ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-[۲]«أَنَّ الْعَلَاءَ الْحَضْرَمِيَّ كَانَ عَامِلَ رَسُولِ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-[۳]وَكَانَ إِذَا كَتَبَ إِلَيْهِ، بَدَأَ بِنَفْسِهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱]او حضرت ابو العلاء حضرمي ﷺ وايي [۲]چې علاء حضرمي ﷺ د رسول الله ﷺ د طرف نه عامل مقرر وو [۳]هغه چې به حضور ﷺ ته خط ليكي نو د خپل طرف نه به يې شروع كوله (ابو داؤد)

دراوى حديث مختصرتعارف:حضرمى نسبت دې دَحضرموت طرف ته اوحضرموت دَ يمن يو مشهوربناردې.حضرت العلاالحضرمى هم دې بنارطرف ته منسوب دې.داجليل القدر صحابى دې حضورپاك دې دَ بحرين ګورنر مقرركړې وو.بيادَ صديق اكبر ﷺ اوحضرت عمر ﷺ په دوركښې هم ګورنر پاتې دې او مجاهدوو.دَدوى په لاس باندې لوئى كرامات ښكاره شوى دى.دَمشكوة په نسخوكښې عن ابى العلا الحضرمى الفاظ دى بعضې نسخوكښې عن ابن العلاء الحضرمى ان العلا الحضرمى الفاظ راغلى دى.هم دغه واضح اوقابل فهم دى

تسهيلات:

قوله :وَكَانَ إِذَا كَتَبَ إِلَيْهِ، بَدَأَ بِنَفْسِهِ:

په خط ليكلو كښې د نبوى طريقې اتباع:دخپل طرف څخه د شروع كولومطلب دا دې چې حضرت علاء حضرمى به د خط شروع په دې الفاظو سره كوله ((من العلاء الحضرمى الى رسول الله السلام عليكم ورحمة الله وبركاته)) اود دې څخه روسته به مضمون وو د خط دا طريقه حضرت علاء حضرمى رضى الله عنه د نبى عليه السلام په اتباع كښې اختيار كړې وه ځكه چې د نبى عليه السلام خطوط به هم په دې طريقه باندې وو او ددې څخه روسته به سلام وو.

() اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأدب/باب فيمن يبدأ بنفسه فى الكتاب (رقم-۵۱۳۴)

دحديث ترجمة الباب سره تعلق: په ظاهره دا حديث د دې باب سره تعلق نه ساتي خو دا حديث د سلام د مقدمې حيثيت لري ددې وجې دا په دې باب کښې بيان کړې شو

[٣٥٤٧] په ليکلو شوي خط باندې دخاورې شيندلووجه

٣٥٤٧-[٣٠] (١) [١] وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللّٰه عَنْهُ - أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [٢] "«إِذَا كَتَبَ أَحَدُكُمْ كِتَابًا فَلْيُتَرِّبْهُ، [٣] فَإِنَّهُ أَنْجَحُ لِلْحَاجَةِ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ مُنْكَرٌ...

ترجمه: [١] او د حضرت جابر رضي الله عنه نه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] هرکله چې په تاسو کې يو سړي چاته خط وليکي نو پکار دي چې خط ليکلو وروسته په هغه خاوره واچوي يا خاوره ننستو سره يې وشنډي [٣] ځکه چې دا شي د حاجت پوره کيدو د پاره ډيرپکار راځي ترمذي رحمه الله دا روايت نقل کړي دي او ويلي يې دي چې دا حديث منکردي

حل اللغات :- ① فَلْيُتَرِّبْهُ: نو خاوره دې پرې واچوي. په خاورو دې ککړ کړي. ② أَنْجَحُ: ډير پکار راځي حاجت پوره کونکي.

تسهيلات:

قوله: فَلْيُتَرِّبْهُ

په خط باندې د خاورې په اچولوکښې حکمتونه: ① په خوانئي زمانه کښې به قلم دوات سره خط ليکلې کيدو دَ قلم سياهي به دَ خط ليکلونه پس لمده وه که چرې خط به راغونډولې شو نوليکلې شوي خط به ورانيدو په دې وجه دَ خط ټکی اوچولوډپاره خلقو به په هغې باندې نرئی دوړه اچوله حضورپاك هم ددې څيز تعليم ورکړې دي چه دغه شان کونئ نوستاسو حاجت به ډير زر پوره کيږي دَحديث دا مطلب ډير واضح دې اودَ پوهې په اعتبارسره بالکل آسان دې

② شارح مشکاة مظهر ليکلی دی چې په خط باندې خاورې اچولوکښې ي قسم اشاره ده چې انسان ستا خط به باقی پاتې شی او ستا لاسونه به خاورو سره خاورې شی لکه څنګه چې يو شاعر ونيلی دی

ومامن كاتب الاسيبلی ويبقى الدهر ماكتبت يداه

③ دا خط دَ ليکلونه پس په خاوره کيږده او وايه چه دَدې په مضمون کښې کوم درخواست دې دَدې حاجت او ضرورت پوره کونکې صرف دَالله تعالی ذات دې دا خط هيڅ نه شی کولې داخوصرف يوه ذريعه ده چه استعمال کړې شوه بهرحال علماؤ داحديث منکر ګرځولې دې.

[١] اخرجه الترمذي في السنن كتاب الاستئذان والآداب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في تتريب الكتاب (رقم-٢٧١٣) وابن ماجه في كتاب الأدب/باب تتريب الكتاب (رقم-٣٧٧٤)

[٣٦٥٨] په غوږ کښې د قلم کيخودل

٣٦٥٨–[٣١] (١) [١] وَعَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: «دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٢] وَبَيْنَ يَدَيْهِ كَاتِبٌ، [٣] فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: "ضَعِ الْقَلَمَ عَلَى أُذُنِكَ: فَإِنَّهُ أَذْكَرُ لِلْمَآلِ"». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَفِي إِسْنَادِهِ ضَعْفٌ.

ترجمه: [١] او حضرت زيد ابن ثابت ﷺ وايي زه يوه ورځ د نبي كريم ﷺ په خدمت كې حاضر شوم [٢] هغه وخت د حضور ﷺ مخكې يو خط نوست ناست وو [٣] ما د حضور ﷺ نه ليكونكي ته دا فرمايل واوريدل چې قلم خپل غوږ باندې كيږده ځكه چې دا شي مطلب ډيرښه ياد راولي امام ترمذي دا روايت نقل كړي دي او وېلي يې دي چې دا حديث غريب دي او د دې په سند كې ضعف دي.

تسهيلات:

قوله: فَإِنَّهُ أَذْكَرُ لِلْمَآلِ:

د مذكوره جملې په مفهوم كښې دوه اقوال: ① ددې جملې د مفهوم علم صرف شارع ته دې مونږ ته ددې مفهوم اومطلب په ظاهره نه ښكاري.

② بعضې علماء كرامو ددې تاويل او توجيه بيان كړې ده. يحيى رحمه الله ليكلى دى چه قلم يو لحاظ سره د ژبې حكم لرى لكه وئيل كيږى چه "القلم احد اللسانين" او ژبه د زړه او د هن ترجمان وى لهذا قلم په غوګ باندې ايږدل ګويا ژبه په غوګ باندې ايږدلو مترادف دى ځكه چه ژبه. قلم. زړه او ذهن نږدې شي او د سړى ذهن كولاو شي نو بيا د قلم په ذريعې سره ليكل شروع كړى.

قوله: وَفِي إِسْنَادِهِ ضَعْفٌ:

په سند كښې د ضعف بيان: په دى سند كښې ضعف دې. او ددى مطلب دا دې چه دا روايت متن يا سند په اعتبار سره غريب دې او د خپلو بعضې ضعيف راويانو په سبب ضعيف دې ليكن ددى د صحيح كيدلو تائيد ابن عساكر او ترمذى شريف كښې زيد بن ثابت نه په طريقه د مرفوع منقول دې "ضع القلم على اذنك فانه اذكر" الخ

[٣٦٥٩] دَ ضرورت دَ وجې نه دَ غير مسلمو ژبه زده كول جائز دى

٣٦٥٩–[٣٢] (٢) [١] وَعَنْهُ، قَالَ: «أَمَرَنِي رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٢] أَنْ أَتَعَلَّمَ السُّرْيَانِيَّةَ، [٣] وَفِي رِوَايَةٍ: إِنَّهُ أَمَرَنِي أَنْ أَتَعَلَّمَ كِتَابَ يَهُودَ، [٤] وَقَالَ: " إِنِّي مَا آمَنُ يَهُودَ عَلَى كِتَابٍ ". [٥] قَالَ: فَمَا مَرَّ بِي نِصْفُ شَهْرٍ حَتَّى تَعَلَّمْتُ، [٦] فَكَانَ إِذَا كَتَبَ إِلَى يَهُودَ كَتَبْتُ، وَإِذَا كَتَبُوا إِلَيْهِ قَرَأْتُ لَهُ كِتَابَهُمْ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

---

[1] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الاستئذان والآداب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٢٧١٤)

[2] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الاستئذان والآداب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى تعليم السريانية (رقم-٢٧١٥)

ترجمه: [۱] او حضرت زید ابن ثابت ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ ماته دا حکم وکړو [۲] چې زه سریاني ژبه زده کړم او [۳] په یو روایت کې داسې دي چې حضور ﷺ ماته حکم وکړو چې زه د یهودیانو نه خط وکتابت زده کړم [۴] او حضور ﷺ وفرمایل د خط وکتابت معامله کې خما په یهودیانو اطمینان نشته [۵] زید ابن ثابت ﷺ وایي د حضور ﷺ د دي حکم نه پس نیمه میاشت هم نه وه تیره شوي چې ما د یهودیانو ژبه او خط وکتابت زده کړل [۶] حضور ﷺ چې به کله یهودیانو ته څه خط لیکي نو هغه به مالیکي او یهودیانو چې به څه خط حضور ﷺ ته رالیږي نو هغه به دحضور ﷺ په خدمت کې ما وئیلو .(ترمذي)

تسهیلات:

قوله: أَنْ أَتَعَلَّمَ السُّرْيَانِيَّةَ:

د سریانې ژبې زده کولو وجه: تورات په عبراني ژبه کښې نازل شوې وو لیکن یهودو به عبراني اوسریانی دواړه استعمالولې اودا دواړه ژبې نیزدې نیزدې وې حضورپاك چه بعضې وخت خط لیکلو نو په سریانی ژبه کښې به ضرورت وو یا په سریانی ژبه کښې لیکلې شوې خط چه به راتللو نوحضورپاك به دَدې په لوستلو او دَدې لیکلو دواړو کښې دَ یهودیانونه استفاده کوله لیکن په یهودو باندې اعتماد او اعتبار نه وو دا احتمال به وو چه هغوی دَ څه په ځائی باندې نور څه اولیکی په دې وجه حضور پاك حضرت زید ﷺ ته حکم ورکړو چه ته په سریانی اودَ یهودو ژبه کښې لیکل زده کړه دَهغه په ذهن باندې دې هم شاباش وی چه په نیمه میاشت پنځلس ورځو نه هم په کمه موده کښې هغه دا ژبه زده کړه او په هغې کښې ئی لیکل شروع کړه.دَدې حدیث نه معلومه شوه چه په مسلم معاشره کښې دَهرقسم کسانو وجود ضرورت دې دې دَپاره چه مسلمانان په یوه شعبه کښې هم غیرمسلمو ته محتاج نه وی.

د انګریزۍ د زده کړې ضرورت: په موجوده وخت کښې انګریزۍ ژبې بین الاقوامی مقام حاصل کړې دې چې کله هم بین الاقوامی کانفرنس وغیره وی نوانګریزۍ ژبه کښې خبرې کولې شی بل د انټرنټ زمانه ده یوغیرمسلم په انټرنټ باندې داسلام خلاف یا د نبی علیه السلام په شان کښې ګستاخی کوی نوچې عالم ته انګریزی ورځی هغه به ئې جواب اوکړی دا منم چې زمونږ په ملک کښې ډیرخلق داسې شته چې په انګریزۍ پوهیږی خوهغه د عالم پشان جواب نشی ورکولې ددې وجې زما دا درخواست دې چې په مدارسو کښې دې د اسلام د دفاع په غرض د انګریزۍ د زده کړې پیرډ مقررکړې شی بله خبره دا هم ده چې نن صبا خلقو په انګر یزۍ ایمان راوړې دې چې عالم په یومجلس کښې په انګریزۍ کښې خپله مدعا پیش کولی شی نوعوام ترې زیات متاثره کیږی.دغه شان که د ژوند په ضروریاتو نظرواچولی شی نو زمونږ په ملک کښې دوایانې دی که نور د ضرورت څیزونه

دی اکثر په انګرېزی کښې دی بل طرف ته دویم نمبر دوایانې اونورڅیزونه هم په ډېرمقدار کښې په بازارونو کښې خرڅېږی چې څوک په انګرېزی پوهېږی کم ازکم د جعلی څیزونو تمیز به څه اندازه باندې کولی شي.

[۳۳۰] دَملاقات او دَرخصت په وخت سلام کول

> ۴۶۶۰-[۳۳] () [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-، عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] قَالَ: "«إِذَا انْتَهَى أَحَدُكُمْ إِلَى مَجْلِسٍ، فَلْيُسَلِّمْ، [۳] فَإِنْ بَدَا لَهُ أَنْ يَجْلِسَ فَلْيَجْلِسْ، [۴] ثُمَّ إِذَا قَامَ، فَلْيُسَلِّمْ فَلَيْسَتِ الْأُولَى بِأَحَقَّ مِنَ الْآخِرَةِ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه روایت کوي [۲] چې حضور ﷺ وفرمایل هرکله چې په تاسو کې یو سړي مجلس ته ورسي نو مخکې دي سلام اووائي [۳] بیا که هغه کینا ستل غواړي نو کښېني دي نې [۴] او هرکله چې مجلس نه تلو د پاره اودرېږی نو هغه وخت دي هم سلام وکړي ځکه چې مخکني سلام د دویم سلام نه زیات ښه نه دي .(ترمذي ابوداود)

تسهیلات:

قوله: إِذَا انْتَهَى أَحَدُكُمْ إِلَى مَجْلِسٍ، فَلْيُسَلِّمْ:

مجلس ته د داخلېدو په وخت کښې سلام : حدیث الباب کښې ذکر دی چه مسلمان ته حکم دې چه تللو او راتللو په وخت کښې د سلام کوی او دا روایت شرح السنة ذکر کړې دې او د ابو جری روایت په باب فضل الصدقة کښې نقل کړې دې، اولنې سلام او مفارقت والاسلام دواړه برحق دی ځکه چه کله کوم کس د مجلس نه خاموشی سره راواپس شی نو مجلس والاخلق کله نه کله په پریشانی کښې واقع شی، نو ددې نه دا معلومه شوه چه الوداعی سلام د ابتدائی سلام نه اولی او بهتر دې.

قوله: فَلَيْسَتِ الْأُولَى بِأَحَقَّ مِنَ الْآخِرَةِ:

د الوداعی سلام حکم: امام نووی رحمه الله فرمائی چه ددې حدیث ظاهر په دې خبره دلالت کوی چه کله کوم کس د مجلس نه واپس کېدلو اراده وکړی نو مجلس والا خلقو ته دی سلام کوی او مجلس والاخلقو باندی سلام جواب ورکول واجب دی. ابو سعید متولی فرمائی چه سلام مفارقت جواب ورکول واجب نه دی بلکه دا یو دعا ده لیکن شاشی په دې باندی رد کړې دې چه څرنګه سلام لقاء جواب واجب دې نو هم دغه شان د سلام مفارقت جواب هم واجب دې. (مرقات ج۹، ص ۹۳)

() اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب فی السلام إذا قام من المجلس (رقم-۵۲۰۸) والترمذی فی کتاب الاستئذان والآداب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی التسلیم عند القیام وعند القعود (رقم-۲۷۰۶) واحمد فی المسند:۲/۲۳۰

[۳۳۱] په لارکښې د ناستې حق اداکول

۴۶۳۱ -[۳۴] (۱) [۱] وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «لَا خَيْرَ فِي جُلُوسٍ فِي الطُّرُقَاتِ، [۳] إِلَّا لِمَنْ هَدَى السَّبِيلَ، وَرَدَّ التَّحِيَّةَ، وَغَضَّ الْبَصَرَ، وَأَعَانَ عَلَى الْحُمُولَةِ» " رَوَاهُ فِي " شَرْحِ السُّنَّةِ ". وَذَكَرَ حَدِيثَ أَبِي جُرَيٍّ فِي " بَابِ فَضْلِ الصَّدَقَةِ ".

ترجمه: [۱] او د حضرت ابوهریره ﷺ نه روایت دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] په لارو کې ناسته څه ښه کار نه دي [۳] هو کوم سړي چې لار خطاء یا ړوند سړي ته لار وښايي د سلام جواب ورکوي د حرام څیزونو لیدو نه سترګې بندې ساتي او د هغه سړي مدد کوي چې بوج يې پورته کړې وي نو د داسې سړي په لار باندې ناسته کښې څه حرج نشته (شرح السنة) او د ابي جري ﷺ روایت باب فضل الصدقة کې تیر شوي دي

حل اللغات: - ① الطُّرُقَاتِ: لارې. ② هَدَي السَّبِيلَ: لاره خودل. ③ التَّحِيَّةَ: سلام. پیشکشی. ④ غَضَّ الْبَصَرَ: نظر ښکته ساتل. ⑤ أَعَانَ: مدد کوی. ⑥ الْحُمُولَةِ: بار (بوج) اوچتونکی.

تسهیلات:

قوله: وَأَعَانَ عَلَى الْحُمُولَةِ:

بار اوچتونکی سره مدد کول: داهغه خناور ته وائی په کوم چه بوج اوړلې شي مطلب داچه په لارکښې دکیناستو حق هغه سړی ته حاصل دې چه هغه داکارهم اوکړی چه یومجبورسړی سره امداداوکړی دهغه په سورلئی باندې دهغه سامان بار کړی که چرې داسې نه شي کولې نوفضول دې په لارکښې نه کیني [المرقات: ۸/۴۴۱]

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۳۲] دسلام شروع او حضرت آدم علیه السلام

۴۶۳۲ -[۳۵] (۲) [۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] " «لَمَّا خَلَقَ اللهُ آدَمَ وَنَفَخَ فِيهِ الرُّوحَ عَطَسَ، [۳] فَقَالَ: الْحَمْدُ لِلّٰهِ، فَحَمِدَ اللهَ بِإِذْنِهِ، [۴] فَقَالَ لَهُ رَبُّهُ: يَرْحَمُكَ اللهُ يَا آدَمُ! اذْهَبْ إِلَى أُولَئِكَ الْمَلَائِكَةِ إِلَى مَلَإٍ مِنْهُمْ جُلُوسٍ، [۵] فَقُلْ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ، فَقَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ. قَالُوا: عَلَيْكَ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ. [۶] ثُمَّ رَجَعَ إِلَى رَبِّهِ، فَقَالَ: إِنَّ هَذِهِ تَحِيَّتُكَ وَتَحِيَّةُ بَنِيكَ بَيْنَهُمْ. [۷] فَقَالَ لَهُ اللهُ وَيَدَاهُ مَقْبُوضَتَانِ: اخْتَرْ أَيَّتَهُمَا شِئْتَ. [۸] فَقَالَ: اخْتَرْتُ يَمِينَ رَبِّي وَكِلْتَا يَدَيْ رَبِّي يَمِينٌ مُبَارَكَةٌ، ثُمَّ بَسَطَهَا، فَإِذَا فِيهَا آدَمُ وَذُرِّيَّتُهُ، [۹] فَقَالَ: أَيْ رَبِّ! مَا هَؤُلَاءِ؟ قَالَ: هَؤُلَاءِ ذُرِّيَّتُكَ، [۱۰] فَإِذَا كُلُّ إِنْسَانٍ مَكْتُوبٌ عُمْرُهُ بَيْنَ عَيْنَيْهِ، [۱۱] فَإِذَا فِيهِمْ رَجُلٌ أَضْوَؤُهُمْ - أَوْ مِنْ أَضْوَئِهِمْ - [۱۲] قَالَ: يَا رَبِّ! مَنْ هَذَا؟ قَالَ: هَذَا ابْنُكَ دَاوُدُ وَقَدْ كَتَبْتُ لَهُ عُمْرَهُ أَرْبَعِينَ سَنَةً. [۱۳] قَالَ: يَا رَبِّ زِدْ فِي عُمْرِهِ. قَالَ: ذَلِكَ الَّذِي كَتَبْتُ لَهُ. [۱۴] قَالَ: أَيْ رَبِّ! فَإِنِّي قَدْ

[۱] اخرجه البغوی فی شرح السنة رقم الحدیث ۳۳۳۹

[۲] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب تفسیر القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب (رقم-۳۳۶۸)

جَعَلْتُ لَهُ مِنْ عُمْرِي سِتِّينَ سَنَةً. قَالَ: أَنْتَ وَذَاكَ. [۱۵] قَالَ: ثُمَّ سَكَنَ الْجَنَّةَ مَا شَاءَ اللهُ، ثُمَّ أُهْبِطَ مِنْهَا]، [۱۶] وَكَانَ آدَمُ يَعُدُّ لِنَفْسِهِ، فَأَتَاهُ مَلَكُ الْمَوْتِ، فَقَالَ لَهُ آدَمُ: قَدْ عَجَّلْتَ، قَدْ كُتِبَ لِي أَلْفُ سَنَةٍ. [۱۷] قَالَ: بَلَى، وَلَكِنَّكَ جَعَلْتَ لِابْنِكَ دَاوُدَ سِتِّينَ سَنَةً، [۱۸] فَجَحَدَ فَجَحَدَتْ ذُرِّيَّتُهُ، وَنَسِيَ فَنَسِيَتْ ذُرِّيَّتُهُ" [۱۹] قَالَ: "فَمِنْ يَوْمَئِذٍ أُمِرَ بِالْكِتَابِ وَالشُّهُودِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم [۲] وفرمايل خداي جل جلاله چې حضرت آدم عليه السلام جوړكي او د هغه په جسم كې يې روح پوك وهلو نو هغوئ ته انتوشي راغلو [۳] نو هغوئ الحمد لله اوويل دغه شان هغوئ د الله جل جلاله توفيق او اجازت سره د الله حمد اووئيلو [۴] خداي جل جلاله د هغوئ د حمد په جواب كې ورته وفرمايل يرحمك الله يعنى په تادې د خداي جل جلاله رحمت نازل وي بيا يې ورته وفرمايل اې آدم عليه السلام د فرشتو دې جماعت ته ورشه كوم چې هلته ناستي دي، [۵] او ورته اووئيلو السلام عليكم نو حضرت آدم عليه السلام هغه فرشتو ته ورغلي او هغوئ ته يې سلام واچوي فرشتو ورته په جواب كې اوويل عليك السلام ورحمة الله [۶] د دې نه پس حضرت آدم عليه السلام خپل پروردگار ته راغلو يعنى خپل ځاي ته واپس راغلوچيرته چې پروردگار ورسره كلام كړي وو خداي جل جلاله ورته وفرمايل چې دا يعنى السلام عليكم ورحمة الله ستا او ستا د اولاد دعا ده چې په خپلو كې به يې يوبل ته كوئ [۷] بيا خداي جل جلاله ورته وفرمايل په داسې حال كې چې د هغه دواړه لاسونه بند وه چې په دې دواړو لاسونو كې كوم يو غواړئ خوښ يې كې حضرت آدم عليه السلام اوويل ما د خپل پروردگار ښي لاس خوښ كې [۸] او ځما د پروردگا دواړه لاسونه ښي او بابركته دي بيا خداي جل جلاله هغه لاس خلاص كې نو حضرت آدم عليه السلام څه وليدل چې په هغه كې آدم او د آدم عليه السلام د اولاد صورتونه وه يعنى حضرت آدم عليه السلام په عالم غيب كې خپل او د خپل ټول اولاد صورتونه وليدل [۹] هغه پوښتنه وكړه پروردگاره داڅوك دي؟ پروردگار ورته وفرمايل دا ستا اولاد دي [۱۰] حضرت آدم عليه السلام داهم وليدل چې د هرمسلمان عمر د هغه د دواړو سترګو په منځ كې ليكلي دي [۱۱] بيا د هغه نظر په يوداسې انسان ولګيدي چې د ټولو نه زيات روښانه وو يا په هغوئ كې د روشن ترين خلقو نه يو وو [۱۲] حضرت آدم عليه السلام د هغه په ليدو سره پوښتنه وكړه اې ځما پروردګاره! داڅوك دي پروردګار وفرمايل دا ستا ځوي داود عليه السلام دي او ما د ده عمر څلويښت كاله ليكلي دي [۱۳] حضرت آدم عليه السلام عرض وكړو پروردګاره! د ده عمر څه نور زيات كړي پروردګار وفرمايل دا هغه شي دي چې د ده په حق كې ماليكلي دي [۱۴] حضرت آدم عليه السلام عرض وكړو پروردګاره كه د ده عمر ليكل شوي دي نو زه د خپل عمر نه ده ته شپيته كاله وركوم پروردګار وفرمايل ته پوه شه او ستا كار پوه شه يعنى دې معامله كې ته مختار يې [۱۵] رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي د دې نه پس حضرت آدم عليه السلام په جنت كې وو ترڅوپورې چې

ارته په منظوره وه بیا هغه د جنت نه زمکي ته را خکته شو [۱۶] او حضرت آدم علیه السلام د خپل عمر کلونه شمیرل نردي چې د هغه عمر نهه سوه څلوېښت ۹۴۰ کاله شو نو د مرګ فرشته روح قبض کولو د پاره هغه ته راغله حضرت آدم علیه السلام ورته اوویل تا تلوار وکړه څما عمر خو زر کاله مقرر شوي دي [۱۷] فرشتي اوویل داصحیح ده لیکن تاسو د خپل عمر شپیته کاله خپل څوي داود علیه السلام ته ورکړي دي [۱۸] حضرت آدم علیه السلام د دې نه انکار وکړو او د هغه اولاد هم انکار کوي او حضرت آدم علیه السلام هغه ممانعت هیر کړي وو (چې د حق تعالی د طرف نه د مشهورې وني د میوي خوړلو متعلق وو او د هغه اولاد هم هیر کړي) [۱۹] حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل د هغه ورځي نه د لیکلو او شاهد جوړولو حکم وشو، یعنی دغه ورکړه او دعمر بخشش دآدم علیه السلام نه هیر وو څکه منکر هم شو نو اولاد کی هم دا عادت راغی چی خبره ورنه هیره شی ، اوبیا ورباندی منکر هم وی [دلته یوه ضروری خبره دعقیدی ده هغه دا چی هر کله چی دالله دپاره ید یا د عین لفظ راشی نو په لاس او یاپه سترګه تعبیر غلط دی ، په هغوئ الفاظو به تعبیر کول کیږي چی په شریعت کې راغلی وی دالله جل جلاله صفات دی ، جارحه اندامونه ندی څکه دا اندامونه حادث دی اوالله جل جلاله اوصفات یی قدیم دی ، څکه علی قاری هروی فرمایی ید خدادست خدا نیست] (ترمذي)

حل اللغات :- ① عَطَسَ: چه پرنجې اوکړی، ② تَحِيَّةٌ: سلام، ③ مَقْبُوضَتَانِ: بند وو. ④ أَضْوَأُهُمْ: زیات روښانه وو په هغوی کښې، ⑤ يَعُدُّ: شمیرل ئې،

تسهیلات:

قوله : فَإِذَا فِيهِمْ رَجُلٌ أَضْوَأُهُمْ - أَوْمِنْ أَضْوَئِهِمْ:

د داؤد علیه السلام په څوښولو کښې دوه اقوال: ① دَ حضرت آدم علیه السلام داؤد علیه السلام ته متوجه کیدل هغه دزړه رغبت اومناسبت وی چه په دواړو کښې دَ خلافت ارضی دَ وجې نه وو څکه الله تعالی دَحضرت آدم علیه السلام نه پس دَ نبوت سلسله جدا اوساتله او خلافت ئې جدا اوساتلو په حضرت داؤد علیه السلام کښې الله تعالی بیادا سلسله راجمع کړه دغه شان دې نه پس هم نبوت سره دَ خلافت منصب یوځائی کړې شو

② دَ ټولو نه زیات پرقیدونکې او روښانه وو داد حضرت داؤد علیه السلام جزئی فضیلت وو

قوله : سِتِّينَ سَنَةً:

اشکال: دلته دَ شپیتوکالو ورکولو خبره ده خو په مشکوة باب الایمان بالقدر حدیث نمبر ۱۱۸ کښې دَ څلوېښتوکالو ذکر راغلې دې

داشکال څلور جوابونه: ① مذکوره حدیث پاك او ددې عدد صحیح دې او جلد دویم کښې چرته د یو راوی څخه سهو شوې ده هغه څلوېښت دَ شپیتو په ځائې او شپیته دَ څلوېښتو په ځائې بیان کړل

④ آدم علیه السلام اول شل كاله عمر وركړې وو اوبيا ني څلويښت كاله وركړو نو شپيته پوره شو
⑤ كومو راوياتوته چې د څلويښت علم وو نوهغوى څلويښت ذكر كړى دى او كومو ته چې د شپيتو علم وو نو هغوى شپيته ذكر كړى دى.
⑥ د څلويښتو كالو حديث د اول دشپيتو كالو د روايت څخه راجح دې

[۲۳۳] ښځوته د سلام كولو حكم

٤٦٣٣—[٣٦] () ١ وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: «مَرَّ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فِي نِسْوَةٍ، ٢ فَسَلَّمَ عَلَيْنَا». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَه، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ١ او بي بي اسماء بنت يزيد رضي الله عنها وايي چې يوه ورځ رسول الله ﷺ په مونږ ښځو تير شو هركله چې مونږ څه ښځې ناستې وو ٢ نو حضور ﷺ مونږ ټولو موجودو ښځو ته سلام واچوئ (ابوداؤد ابن ماجه دارمي)

تسهيلات:

قوله: مَرَّ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فِي نِسْوَةٍ،

د مذكوره جملې تركيب: حال دې او تقديرى عبارت دغه شان دې "حال كوننا مع جماعة كثيرة من النساء". امام طيبى رحمه فرمائى چه "في نسوة" تعلق فاعل سره نه دې او لازم دا دې چه نبى ك يم ﷺ ښځو سره د ښځو په يو جماعت باندې تير شو، بلكه دا د جار مجرور متعلق دې او ددې بيان دا دې چه د نبى كريم ﷺ دا جمله د عربو دې قبيلې نه ده "في البيضة عشرون رطلا من حديد" دا نفس مقدار دې ظرف نه دې

په زنانو د سلام په اچولو كښې دوه اقوال: په حديث الباب كښې د رسول الله ﷺ د زنانو په يو جماعت باندې سلام كول ذكر دى. په بذل كښې د ابن الملك نه نقل دى چه دا د رسول الله ﷺ خصوصيت دې ځكه چه هغوى د فتنې د ويرې نه محفوظ وو او د بل سړى د پاره پردئ ښځې ته سلام كول مكروه دى مگر دا چه هغه بوډئ وى چه د هغې نه د فتنې خطره نه وى.

② ډيرو علماء كرامو دې ته جائز وئيلې دى د هر يو بل ته سلام كول. ملا علي قارى فرمائى چه صحيح هم دا ده چه سلام كول په پردئ زنانه باندې مكروه دى نو چه هر كله مكروه دى نو مسلِّم به هم د جواب مستحق نه وى

[١] اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأدب/باب فى السلام على النساء (رقم-٥٢٠٤) وابن ماجه فى كتاب الأدب/باب السلام على الصبيان والنساء (رقم-٣٧٠١)

[۳۳۳] دَ سلام دَ ثواب دَ حاصلولو دَپاره دَبازار چکر وهل

۴۶۳۳-[۳۷] (۱) [۱] وَعَنِ الطُّفَيْلِ بْنِ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- : أَنَّهُ كَانَ يَأْتِي ابْنَ عُمَرَ فَيَغْدُو مَعَهُ إِلَى السُّوقِ. [۲] قَالَ: فَإِذَا غَدَوْنَا إِلَى السُّوقِ، لَمْ يَمُرَّ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ عَلَى سَقَّاطٍ وَلَا عَلَى صَاحِبِ بَيْعَةٍ، وَلَا مِسْكِينٍ، وَلَا عَلَى أَحَدٍ إِلَّا سَلَّمَ عَلَيْهِ. [۳] قَالَ الطُّفَيْلُ: فَجِئْتُ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُمَرَ يَوْمًا، فَاسْتَتْبَعَنِي إِلَى السُّوقِ، [۴] فَقُلْتُ لَهُ: وَمَا تَصْنَعُ فِي السُّوقِ وَأَنْتَ لَا تَقِفُ عَلَى الْبَيْعِ وَلَا تَسْأَلُ عَنِ السِّلَعِ وَلَا تَسُومُ بِهَا، وَلَا تَجْلِسُ فِي مَجَالِسِ السُّوقِ؟ [۵] فَاجْلِسْ بِنَا هَاهُنَا نَتَحَدَّثُ. [۶] قَالَ: فَقَالَ لِي عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ: يَا أَبَا بَطْنٍ! -قَالَ: وَكَانَ الطُّفَيْلُ ذَا بَطْنٍ- [۷] إِنَّمَا نَغْدُو مِنْ أَجْلِ السَّلَامِ، نُسَلِّمُ عَلَى مَنْ لَقِينَاهُ. رَوَاهُ مَالِكٌ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ"

ترجمه: [۱] او د حضرت طفيل ابن ابي ابن كعب رضي الله عنه نه روايت دي چې هغه به د حضرت عبد الله ابن عمر رضي الله عنهما په خدمت کې حاضريدي او بيا دسهار په وخت کې چې د هغه سره به بازار ته تلو [۲] حضرت طفيل وايي كله چې به مونږ د سهار په وخت کې بازار ته تلو نو حضرت عبد الله ابن عمر رضي الله عنهما چې به کوم سقاطي (کوم چې ردي څيزونه خرڅوي) کوم خرڅونکي کوم مسکيني او کوم سړي باندې تيريدي نو هغه ته به يې سلام اچوي [۳] حضرت طفيل وايي يوه ورځ د معمول مطابق زه حضرت عبد الله ابن عمر رضي الله عنهما ته راغلم او هغه د ځان سره بازار ته بوتلم [۴] نو ماهغوئ ته اوويل چې تاسو بازار ته تلو سره څه کوئ نه خو تاسو د څه خريد وفروخت په ځاي دريږي او نه د څه خرڅونکي شي باره کې پوښتنه کوئ نه خو څه سودا کوئ او نه د بازار څه مجلس کې شريکيږئ [۵] نو بازار ته د تلو نه خو دا ښه ده چې تاسو زمونږ سره دلته کينئ چې څه خبري وکړو [۶] حضرت طفيل رحمه الله وايي حضرت عبد الله رضي الله عنه دا اوريدو سره ماته اوويل اي خيټي وره د راوي بيان دي چې د طفيل رحمه الله خيټه لويه وه [۷] آيا ته پوهيږي چې مونږ خريد وفروخت کولو يا څه بل غرض د پاره بازار ته ځو نه بلکې مونږ خو صرف د سلام کولو په غرض سره ځو او هرسړي ته سلام کوو چې زمونږ سره يوځاي شي او دغه شان مونږ بازار ته تلو سره ثواب حاصلوو (مالك بيهقي)

حل اللغات: - ① يَغْدُو: سحروختي به تلل. ② سَقَّاطٍ: كباړ مال خرڅونکي. ③ فَاسْتَتْبَعَنِي: زه ئې ځان سره کړم ④ لَاتَقِفُ: ته نه اودريږې. ⑤ السِّلَعِ: نرخ، ريټ معلومول. ⑥ وَلَاتَسُومُ: اونه څه سودا کوې. ⑦ أَبَابَطْنٍ!: د خيټې پلار يعني اې خيټو.

تسهيلات:

قوله: يَا أَبَا بَطْنٍ!

داپو بطن په وئيلوکښې دوه اقوال: ① يعني اې خيټي والا دَ علم زيات شوقين سړی ته

[۱] اخرجه مالک فی الموطا کتاب السلامة /باب جامع السلام (رقم-۶) والبیهقی فی شعب الایمان رقم الحدیث ۸۷۹۰

ابوبطن وائی کیدي شی چه دَدې وجې نه نی هغه ته ابوبطن وئیلې وی په دې کښې منافات نشته حضرت علی رضی الله عنه ته هم دَعلم دَ کثرت دَ وجې نه شیخ بطین وائی.

② دکوم سړی چه خیټه غټه وی هغه ته ابوبطن وائی لکه څنګه چه دلته وئیلی شوی دی.

[۳۶۶۵] په سلام کښې بخل کونکي لوئی بخیل دې

٤٦٦٥—[٣٨] ()[١] وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: «أَتَى رَجُلٌ النَّبِيَّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [٢] فَقَالَ: لِفُلَانٍ فِي حَائِطِي عَذْقٌ، وَأَنَّهُ قَدْ آذَانِي مَكَانُ عَذْقِهِ، [٣] فَأَرْسَلَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- "أَنْ بِعْنِي عَذْقَكَ" قَالَ: لَا. قَالَ: "فَهَبْ لِي". قَالَ: لَا. [٤] قَالَ: "فَبِعْنِيهِ بِعَذْقٍ فِي الْجَنَّةِ". فَقَالَ: لَا. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "مَا رَأَيْتُ الَّذِي هُوَ أَبْخَلُ مِنْكَ إِلَّا الَّذِي يَبْخَلُ بِالسَّلَامِ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: [١] او حضرت جابر رضی الله عنه وايي يو سړي د نبي كريم صلی الله علیه وسلم په خدمت كې حاضرېدو سره عرض وكړو [٢] چې (يا رسول الله) ځما په فلاني باغ كې د فلاني سړي د خرما وُنه ده او صورت حال داد ي چې د هغه وني په وجه ماته تكليف رسيږي ځكه چې هغه سړي د خپلي وني په وجه وخت بې وخته ځما باغ ته راځي [٣] رسول الله صلی الله علیه وسلم يو سړي هغه پسې وليږلو كوم وخت چې هغه راغلونو حضور صلی الله علیه وسلم ورته وفرمايل ته د خپلي خرما وُنه په ما خرڅه كړه هغه اوويل زه يې نه خرڅوم [٤] حضور صلی الله علیه وسلم ورته وفرمايل كه د دې وني خرڅولو كې تاته څه عارمحسوسيږي نو ځما په نوم يې هبه كړه هغه اوويل زه هبه هم نه كوم حضور صلی الله علیه وسلم ورته وفرمايل ښه دي ته دا وُنه ځما په لاس د كجورو د داسې وني په عوض كې خرڅه كړه چې تاته به په جنت كې حاصليږي هغه اوويل زه يې داسې هم نه خرڅوم حضور صلی الله علیه وسلم ورته وفرمايل ما ستا نه زيات بخيل هيڅ سړي نه دي ليدلي علاوه د هغه سړي نه چې په سلام كې بخل كوي يعني د سلام په معامله كې كوتاهي كونكي سړي ستا نه هم زيات بخيل دي چې هغه دومره ذره كار كولو سره هم زيات ثواب حاصلول نه غواړي (احمد بيهقي)

حل اللغات: - ① حَائِطِي: حائط باغ ته وائی ② عَذْقٌ: دكهجوري ونه.

تسهيلات:

قوله: هُوَ أَبْخَلُ مِنْكَ إِلَّا الَّذِي يَبْخَلُ بِالسَّلَامِ:

دابخل كيدو وجه: په سلام كښې څه خرچ كيږي نه دَ ژبي يوڅو كلمات دی دكومې فائده چه ډيره زياته ده په دې كښې بخل كونكې واقعی لوئی بخيل دې

[١]) اخرجه احمد فى المسند: ٣٢٨/٣ والبيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ٨٧٧١

قوله: فَيُعْنِيهِ بِعَذْقٍ فِي الْجَنَّةِ:

د مذكوره كس كم علمي: دَ دغه سړي عجيبه حالت ووچه حضورپاك دَهغه نه ونې اخستل غوښتل هغه انكار اوكړو. بيا حضورپاك دَ عطيه په توګه اوغوښتلې هغه بيا انكاراوكړو بيا حضورپاك هغه ته په جنت كښې دَ كهجورو دَ ونو وركولو وعده اوفرمائيله هغه بيا انكاراوكړو حضورپاك اوفرمائيل دې سړی نه په دنيا كښې لوئی بخيل بل هيڅ څوك نشته دې او په سلام كښې چه څوك بخل اوكړی هغه دَده نه هم زيات بخيل دې. دَدغه سړی په طبيعت كښې سختی وه راجع دادی چه مسلمان ووبس وخلق الانسان ضعيفا. [المرقات، ۸/۴۴۹]

[۳۳۳] په سلام كښې رومبې والې كونكې دَتكبر نه پاك دې

۳۳۳— [۳۹] ()[۱] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-، [۲] قَالَ: "«الْبَادِئُ بِالسَّلَامِ بَرِيءٌ مِنَ الْكِبْرِ»". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: [۱] او حضرت عبد الله ابن مسعود ﷺ د رسول الله ﷺ نه روايت كوي چې حضور ﷺ وفرمايل [۲] په سلام كې مخكې كيدونكي د تكبر نه پاك دي. (بيهقي)

تسهيلات:

قوله: الْبَادِئُ بِالسَّلَامِ بَرِيءٌ مِنَ الْكِبْرِ:

د بادئ بالسلام په مصداق كښې دوه اقوال: ① دې څخه مراد هغه دوه كسان دی چه دَ يوبل نه خفه وی او په ملاقات كښې يوكس په سلام كښې رومبې والې اوكړو اوخبرې ئې كولاؤكړې نودَهغه ټول ګناهونه هم معاف كيږی اودا دَتكبرنه هم خالی دې.

② دَ دوو ملګرو په لاركښې دَ ملاويدوپه وخت چه كوم سړې رومبې والې كوی هغه مراددې چه په هغه كښې څه تكبر نه وی. دا مفهوم زيات عام دې.

---

(۱) اخرجه البيهقی فی شعب الايمان رقم الحديث ۸۷۸۷

[۲] بَابُ الاِسْتِئْذَانِ

دَاجازت اخستلو بیان

خلاصة الباب:-

فیه عشرة أحادیث مشتملة علی خمسة مسائل:

① لابد من التسلیم مرارا عندا الإستیذان: ۱، ۷، ۱۰.

② الرجوع حین عدم الإذن: ۲، ۳، ۶ ، ۹.

③ الزجر عن بعض طرق الأذان: ۳.

④ لا بد من الإستیذان للدخول عموما: ۴، ۵، ۸.

⑤ لا یستقبل الباب وقت الإستیذان: ۷.

د استیذان لغوی معنی: ① استیذان په معنی د اباحت هم راځی. لکه چه ونیلې شی ﴿ أذن له فی الشیٔ أباحه له ﴾ (القاموس) دلته دواړه معنې مناسب دی، دا معنی هم مناسب ده څکه دخول فی البیت اباحت او اجازت هم غواړی

② استئذان إذن طلب کول، اذن په معنی د علم راځی لکه ﴿ أذن بالشئ ای علم ﴾ دا معنی هم مناسب ده څکه چه یو کس د چا د کور په دروازه باندې اودریږی او اجازت غواړی نو هغه پیژندل غواړی چه په کور کښې څوك شته یا نه،

د سلام او استیذان په تقدم کښې اقوال: ① افضل دا ده چه سلام او استئذان لره جمع کړی شی اختلاف په دې کښې دې چه سلام به مقدم کوی که استئذان؟

② ماوردی فرمائی چه که د اجازت طلب کونکی نظر که د کور په خاوند باندې کور ته د داخلیدو نه مخکښې پریوتلو نو سلام دې مقدم کړی گنې استئذان دې مقدم کړی خو دا قول د حدیث ﴿ السلام قبل الکلام ﴾ خلاف دې

③ د جمهورو په نزد صحیح دا ده چه سلام دې په استئذان باندې مقدم کړی او اوائی دې ﴿ السلام علیکم أأدخل ﴾ (المرقاة ۶۹/۹، والأشعة ۱۸/۴)

دکورپه څخه د اجازت نه ملاویدو حکم: که دکور مالك په کورکښې موجوددې اوهغه اوونیل چه روره زه مصروف یم واپس لاړشه نودغه راتلونکی سړی له پکاردی چه واپس لاړشی. چونکه استیذان دَ اجازت غوښتلو په معنی کښې دې نودکور مالك ته دا اختیار حاصل دې چه اجازت ورکړی یا اجازت نه ورکوی. دَ راتلونکی سړی څه جبری حق نشته دې بلکه دَ راتلونکی سړی دَپاره دا بهتر اطهر او پاکیزه طریقه ده چه دَ شکایت او عداوت

نه بغير واپس لاړشي دَ قرآن پاك اعلان دې ﴿هُوَ أَزْكَى لَكُمْ﴾ سبحان الله اسلام څه پاكيزه نظام دې [سورة نور: ۲۸]

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۳۶۶۷] په درې ځل سلام باندې که اجازت ملاؤ نه شو نو واپس لاړشه

۳۶۶۷-[۱] () [۱] عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: أَتَانَا أَبُو مُوسَى، [۲] قَالَ: «إِنَّ عُمَرَ أَرْسَلَ إِلَيَّ أَنْ آتِيَهُ، فَأَتَيْتُ بَابَهُ، فَسَلَّمْتُ ثَلَاثًا، [۳] فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ، فَرَجَعْتُ. فَقَالَ: مَا مَنَعَكَ أَنْ تَأْتِيَنَا؟ [۴] فَقُلْتُ: إِنِّي أَتَيْتُ فَسَلَّمْتُ عَلَى بَابِكَ ثَلَاثًا فَلَمْ تَرُدُّوا فَرَجَعْتُ، [۵] وَقَدْ قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا اسْتَأْذَنَ أَحَدُكُمْ ثَلَاثًا فَلَمْ يُؤْذَنْ لَهُ، فَلْيَرْجِعْ". [۶] فَقَالَ عُمَرُ: أَقِمْ عَلَيْهِ الْبَيِّنَةَ. [۷] قَالَ أَبُو سَعِيدٍ: فَقُمْتُ مَعَهُ، فَذَهَبْتُ إِلَى عُمَرَ، فَشَهِدْتُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

توجمه: [۱] حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه وايي چې يوه ورځ ابوموسي اشعري رضي الله عنه مونږ ته راغلو [۲] او هغه اوويل حضرت عمر رضي الله عنه يو سړي راليږلو سره زه غوښتي وم (حسب طلب) زه چې د هغوئ دروازي ته ورسيدم (او دننه د ورتلو اجازت طلب كولو د پاره) دري ځلي مي سلام وكړو [۳] خو ماته د سلام جواب رانغلي نو زه واپس راغلم بيا وروسته چې ملاقات وشو نو حضرت عمر رضي الله عنه زما نه پوښتنه وكړه ماته په راتلو كې ته څه شي منع كړي وي [۴] ما اوويل زه تاسو ته راغلي وم په دروازه ودريدو سره دري ځلي مي سلام واچوئ ليكن تاسو جواب رانه كې او نه ستاسو خادم جواب راكي نو زه واپس راغلم [۵] ځكه چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي هركله چې تاسو كې خوك دچا كورته ورشي او دروازي باندې ودريدو سره دري ځلي اجازت طلب كړي او هغه ته اجازت حاصل نشي نو پكار دي چې واپس لاړ شي [۶] حضرت عمر رضي الله عنه په دي اوريدو سره وفرمايل د دې حديث شاهد راوله يعني د دې حديث صحيح كيدو باندې شاهد پيش كړه چې دا د حضور ﷺ ارشاد گرامي دي [۷] ابوسعيد خدري رضي الله عنه وايي زه ابوموسي رضي الله عنه سره دتلو د پاره ودريدم او حضرت عمر رضي الله عنه ته ورتلو سره مي شاهدي وركړه. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: -① أَقِمْ: قائم كړه. ② الْبَيِّنَةَ: گواه.

تسهيلات:

قوله: مَا مَنَعَكَ يعني ته ما راغوښتي وې نوكوم يو څيزته ماله دَراتلونه منع كړې؟ [المرقات: ۴۵۱/۸]

[۱]) اخرجه البخاري في كتاب الاستئذان/باب التسليم والاستئذان ثلاثا (رقم-۶۲۴۵) ومسلم في كتاب الآداب/باب الاستئذان (رقم-۳۳ - (۲۱۵۳) والترمذي في كتاب الاستئذان والآداب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في الاستئذان ثلاثة (رقم-۲۶۹۰) وابن ماجه في كتاب الأدب/باب الاستئذان (رقم-۳۷۰۶)

قوله: أَقِمْ عَلَيْهِ الْبَيِّنَةَ" یعنی کوم حدیث چه تا بیان کړو اوس په دې باندې گواه پیش کړه چه دا واقعی دَ حضورپاك حدیث دې که نه؟

حضرت عمر ﷛ چه اوکتل چه خلق په کثرت سره احادیث بیانوی نوهغوی په حدیث بیانولو کښې دَ احتیاط په وجه دا قانون جوړکړې وو چه کوم سړې حدیث بیانوی په هغه باندې به لازم وی چه کم نه کم یوسړې په هغې باندې گواه پیش کړی چه هغه کوم څه بیان کړه هغه واقعی مرفوع حدیث دې یا نه دې؟ په شروع کښې داسې نه وو روستو دَ احتیاط په توګه قانون جوړکړې شو. دَدې مطلب دانه دې چه خبر واحد قابل اعتبارنه دې خبرواحد خو به بیاهم خبر واحدوی دادَ حضرت عمر﷛ دَ طرف نه احتیاط وو چه دروغژن خلق غلطو احادیثو دَ ځان نه دَ جوړولو جرأت اونه کړې شی. [المرقات: ۴۵۱/۸]

قوله: فَقُلْتُ: إِنِّي" اصل عبارت داسې دې "فقلت منعنی لأنی" دادَ حضرت عمر﷛ دَ سوال "مامنعك" جواب دې.

قوله: قَالَ أَبُوسَعِيدٍ" تفصیلی روایت کښې داسې ذکردی چه حضرت ابوموسٰی اشعری ﷛ دَ پریشانتی په حالت کښې دَ صحابه کرامو دې مجلس ته اورسیدو چرته چه ابی بن کعب﷛ ناست وو.دې حضراتو دَ توقو په توګه حضرت ابوموسٰی اشعری ﷛ نور هم اوویرولو.حضرت ابوموسٰی ﷛ اوفرمائیل ګورئی رونړو زه پریشان یم زما امداد اوکړئی چاچه داحدیث اوریدلی وی هغه ماسره لاړشئی.حضرت ابی بن کعب ﷛ اوفرمائیل چه مونږ دَدې مجلس نه دَ ټولو نه وړوکې صحابی تاسره لیږو دې دَپاره چه دې قصې ته زیات اهمیت حاصل نه شی.په مجلس کښې دَ ټولو نه وړوکې حضرت ابوسعید خدری ﷛ ناست وو هغه ابوموسٰی ﷛ سره لاړو او ګواهی ئې ورکړه چه واقعی دا حدیث مرفوع دې.دې نه پس حضرت ابی بن کعب﷛ حضرت عمر﷛ ته اوفرمائیل ته دَ حضورپاك دَ صحابه دَ پاره دَعذاب او تکلیف سبب مه جوړیږه.حضرت عمر ﷛ اوفرمائیل سبحان الله زه عذاب نه جوړیدل غواړم زه خو صرف دا غواړم چه خلق دَحدیث په بیانولو کښې دَ احتیاط نه کارواخلی.. درې ځل سلام کولوکښې رومبې سلام دَ تعارف دَپاره وی دویم سلام دَ اجازت دَپاره او دریم سلام دَ واپس تلو دَپاره وی. [المرقات: ۴۵۲/۸]

[۳۶۶۸] دَحضرت ابن مسعود ﷛ رسول الله ﷺ سره لیږدیکت

۳۶۶۸ – [۲] ()[۱] «وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ لِيَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "إِذْنُكَ عَلَيَّ أَنْ تَرْفَعَ الْحِجَابَ وَأَنْ تَسْمَعَ سِوَادِي حَتَّى أَنْهَاكَ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

[1] اخرجه مسلم فی کتاب السلام/باب جواز جعل الإذن رفع حجاب أو نحوه من العلامات (رقم-۱۶ - (۲۱۶۹) وابن ماجه فی کتاب الأدب/باب الاستئذان (رقم-۳۷۰۹) واحمد فی المسند: ۳۸۸/۱

ترجمه: [١] او حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ ماته [٢] وفرمايل ځما د طرف نه تاته دا اجازت ده چې ته پرده پورته کړه او ځما خبري واوره تردې چې زه تا منع نه کړم (مسلم)

حل اللغات: -① الْحِجَابَ: پرده، ② سِوَادِي: اى سراري يعنى پټې خبرې.

تسهيلات: **قوله**: أَنْ تَرْفَعَ الْحِجَابَ:

يعنى دَ کورد دروازو پرده اوچته کړه اوزما خبره واوره [المرقات،٨/٣٥٢]

قوله: سِوَادِي: داسې پټې خبرې چه دهغې دکولو په وخت يوبدن بل بدن سره اولګى دې دپاره چه نور څوك ئې وانورى.دحضورپاك دَ کور په دروازه باندې دَ بورئې پرده وه حضرت ابن مسعود رضي الله عنه ته داخصوصيت حاصل وو چه صرف پرده اوچته کړې او دننه لاړشى.اوکه دَ پردې اوچتولونه پس حضورپاك دَ داخليدونه منع کړې وى نوبيا به اجازت نه وى ګنى صرف پرده اوچتول اجازت وو.په دې سره دَحضرت ابن مسعود رضي الله عنه اوچت شان او دَ قرب نبوى پوره پته لګى.عامو نوو صحابه کرامو به خيال کولوچه حضرت ابن مسعود رضي الله عنه دَ حضورپاك دَ کورد افرادونه يوفرد دې.اوداخبره دَ ياد ساتلوده چه دَحضرت ابن مسعود رضي الله عنه دا تګ راتګ دَ بيتك دَ حده پورې وو.دَ ازواج مطهراتو نه پرده خولازم وه دَ کور بې پردګى کله هم نه ده شوې.[المرقات:٨/٣٥٢]

[٣٣٣] خپله پيژندګلو په غيرمبهم الفاظوکښې کول پکاردى

٣٣٣-[٣]()[١]«وَعَنْ جَابِرٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-[٢]فِي دَيْنٍ كَانَ عَلَى أَبِي،فَدَقَقْتُ الْبَابَ،فَقَالَ: "مَنْ ذَا؟" فَقُلْتُ: أَنَا.فَقَالَ: "أَنَا! أَنَا!"[٣]"كَأَنَّهُ كَرِهَهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او حضرت جابر رضي الله عنه وايي چې يوه ورځ د يوقرض په معامله کې چې ځما په پلار وو زه د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضرشوم [٢] نو (د خپل راتګ اطلاع ورکولو د پاره) دروازه مي وټکوله حضور ﷺ دننه نه پوښتنه وکړه څوك دي ما اوويل زه يم حضور ﷺ په دې اوريدو سره وفرمايل زه يم زه يم (د دې څه مطلب) [٣] ګويا حضور ﷺ ځما داسې جواب ورکول بد وګڼلو (بخاري ، مسلم)

حل اللغات: -① فَدَقَقْتُ: نو ما اوټکوله.

تسهيلات:

قوله: فِي دَيْنٍ

دَ حضرت جابر رضي الله عنه پلار په جنګ احد کښې شهيد شوې وو ليکن دَ اتو لونړونه علاوه ئې په

---

[١]) اخرجه البخارى فى كتاب الاستئذان/باب إذا قال: من ذا؟ فقال: أنا (رقم-٦٢٥٠) ومسلم فى كتاب الآداب/باب كراهة قول المستأذن أنا إذا قيل من هذا (رقم-٣٩ - (٢١٥٥) والترمذى فى كتاب الاستئذان والآداب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى التسليم قبل الاستئذان (رقم-٢٧١١(

خپل خان پسې ډيرزيات قرض هم پريخودې وو حضرت جابر رضي الله عنه به په دې سلسله کښې ډيرزيات پريشان وو حضورپاك هغه په قرض کښې ډير تعاون هم اوکړو هم ددې قرض په سلسله کښې حضرت جابر رضي الله عنه د حضورپاك دروازې له راغلې وو چه قرض غوښتونکوسره څه خبره اوکړې شي چه هغوی لږه نرمي اوکړي او ياد قرض د اداکولوڅه صورت جوړشي چنانچه د حضورپاك په برکت سره دغه قرض خلاص شو او په لږو شان کهجورو کښې برکت راغلو.

قوله: "مَنْ ذَا؟" په دې لفظ سره حضورپاك د آواز ورکونکی تعين اوفرق کولواراده کړې وه مخې ته حضرت جابر رضي الله عنه "أنا" لفظ استعمال کړوپه کوم سره چه نه تعين اوشو اونه فرق حاصل شو په دې باندې حضورپاك نکير اوفرمائيلو چه "أنا" "أنا" څه خيزدې په صف الفاظوکښې خپل نوم اوښايه دې دپاره چه ابهام لرې شي د "انا" لفظ استعمالولوسره خو ابهام تردغه وخت پورې پاتې دې نو بيا ددې په وئيلوسره څه فائده اوشوه؟

حضورپاك به د حضرت جابر رضي الله عنه آواز پيژندلې وی مګر د امت د تعليم دپاره ئې نکير اوفرمائيلو .بعضې علماء وائی چه صرف په درواز ټکولوسره حضورپاك خفه شو ځکه چه د اجازت دپاره خو په اسلام کښې سلام او استيذان مقرردې

په دې حديث سره هغه خلقو ته هم تعليم ملاوېږی چه ټيلی فون کولوسره خبرې شروع کړی اوخپل نوم نه ښائی لکه دهغوی داخيال وی چه د هغه آواز به د دنيا ټول خلق پيژنی داخام خيالی ده په صفا الفاظوکښې وئيل پکاردی چه زه معروف شاه يم اود قطر نه خبرې کوم په لفظ انا اناکښې که چرې د حضورپاك نکير او خفګان داسې واخستې شی چه حضورپاك اوفرمائيل زه هم زه يم يعنی په زه سره خو څه تعارف نه شی حاصليدې نوددې مطلب هم امکان دې سره ددې چه ما چرته ليکلې شوې نه دې ليدلې [المرقات: ۴۵۲/۸]

[۳۶۷۰] قاصدسره د راتلوپه وخت د بيا غوښتلو اجازت ضرورت نشته دې

۳۶۷۰—[۳] ([1]) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: «دَخَلْتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-، [۲] فَوَجَدَ لَبَنًا فِي قَدَحٍ. [۳] فَقَالَ: "أَبَا هِرٍّ! الْحَقْ بِأَهْلِ الصُّفَّةِ فَادْعُهُمْ إِلَيَّ" [۴] فَأَتَيْتُهُمْ فَدَعَوْتُهُمْ، فَأَقْبَلُوا، فَاسْتَأْذَنُوا، فَأُذِنَ لَهُمْ، فَدَخَلُوا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې يوه ورځ زه د رسول الله ﷺ سره د حضور ﷺ په کورکې داخل شوم [۲] نو حضور ﷺ په کور کې د شيدو يوه پياله پيدا کړه [۳] حضور ﷺ ماته وفرمايل ابوهريره رضي الله عنه! اهل صفه ته ورشه او هغوئ ماته راوله [۴] زه د هغوئ پسې بلنې د پاره ورغلم کوم وخت چې هغه خلق راغلل نو په دروازه انتظار کيدو

[1] اخرجه البخاري في كتاب الاستئذان/باب إذا دعي الرجل فجاء هل يستأذن (رقم-۶۲۴۶)

سره دننه د راتلو اجازت يې وغوښتل حضور ﷺ هغوئ ته اجازت ورکړه نو هغوئ دننه راغلل (بخاري ، مسلم)

حل اللغات:- ①لَبَنًا: پئ (شودې) ، ②قَدَح: پيالئ.

تسهيلات:

قوله: بِأَهْلِ الصُّفَّةِ

حضرت ابوهريره رضی الله عنه په مسجدنبوی کښې دَ حضورپاك دَ مدرسې دَ صفه طالب علم وو په صفه کښې به کله ۸۰ طالبان اوسيدل اوکله به څلورو سوو ته رسيدل اوکله به کم شو دَ ضرورت په وخت به دَ جهاد دَپاره تيار اوسيدل لکه چه دا قطعهٔ منتظره مجاهدينو وو چه په جهادی مدرسه کښې ئې سبق حاصلولو حضرت ابوهريره رضی الله عنه هم دَدوی نه يو وو پخپله اوګې وو دَ پيئوپياله راغله خوشحال شو چه زه به ئې اوڅکم.مګر ابوهريره رضی الله عنه ته حکم اوشو چه ټول راؤغواړه.قاصد سره راغلو دکور خواکې دَ دننه داخليدلودَپاره بيا اجازت اوغوښتلو.کيدې شي چه دا ئې دَ دې وجې نه غوښتې وی چه داخلق به ناوخته راغلی وی يا دَ ډيرې حياء دَ وجې نه ئې دروازې سره دوباره اجازت اوغوښتو کوم چه يو استحبابی امر دې.په حديث نمبر(۴۶۷۲) کښې وضاحت دې [المرقات: ۸/۴۵۴]

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۴۶۷۸] سلام کولوسره اجازت غواړه

۴۶۷۸-[۵] ()[١] «عَنْ كَلَدَةَ بْنِ حَنْبَلٍ: أَنَّ صَفْوَانَ بْنَ أُمَيَّةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- بَعَثَ بِلَبَنٍ أَوْجَدَايَةٍ وَضَغَابِيسَ إِلَى النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-،[٢] وَالنَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِأَعْلَى الْوَادِي،[٣] قَالَ: فَدَخَلْتُ عَلَيْهِ وَلَمْ أُسَلِّمْ وَلَمْ أَسْتَأْذِنْ،[۴] فَقَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ارْجِعْ، فَقُلْ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ أَأَدْخُلُ؟» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١]حضرت کلدة ابن حنبل رضی الله عنه فرمايي چې صفوان ابن اميه څما په لاس باندې د رسول اکرم ﷺ د پاره شو ده د هوسي بچي او بادرنګ وليږل [٢]په دغه وخت کې رسول الله ﷺ د مکه په پورته غاړه باندې (چې معلي ورته وايي) تشريف فرماوو [٣]حضرت کلده رحمه الله وايي چې زه هم دغه شان د حضور ﷺ په خدمت کې ولاړم نه خو ما قيامګاه ته داخليدلو نه مخکې سلام واچوي او نه مې د دننه د راتلو اجازت وغوښتل [۴]د دې وجې نه رسول الله ﷺ ماته وفرمايل چې واپس لاړشه او هلته اووئيلو چې السلام عليکم آيا

[1]) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأدب/باب كيف الاستئذان (رقم-۵۱۷۶)والترمذى فى كتاب الاستئذان والآداب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى التسليم قبل الاستئذان (رقم-۲۷۱۰) واحمد فى المسند:۳/۴۱۴

زه دننه راتلې شم؟ (ترمذي ابوداود)

حل اللغات: - ① جَدَايَة: دَ هوسۍ یا چیلۍ وړوکی بچې چه دَ شپږو میاشتو وی ② وَضَغَابِيس: دَ ضغبوس جمع ده بادرنګ ته وائی ③ أَعْلَى الْوَادِي: دَمکې مکرمې اوچتې حصې کوم ته چه المعلاة وائی.

تسهيلات:

قوله: ارْجِعْ

یعنې دَ اجازت دَپاره دغه سړی سلام اونه کړو حضورپاك هغه دَتعليم اوتنبيه په توګه هغه ته دَ واپس تلو حکم اوکړو اوبيا ئی دَ سلام کولواو دَ راتلوسره حکم ورکړو. دکوم نه چه معلومیږی چه دَ اجازت اخستو دَپاره سلام کول ضروری امر دې. [المرقات: ۴۵۵/۸]

[۳۶۷۲] دبلونکي سره راتلونکي د پاره د اجازت ضرورت نشته

۴۶۷۲- [۶] (١) [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [٢] "«إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ فَجَاءَ مَعَ الرَّسُولِ، [٣] فَإِنَّ ذَلِكَ لَهُ إِذْنٌ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ. وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ، «قَالَ: "رَسُولُ الرَّجُلِ إِلَى الرَّجُلِ إِذْنُهُ»"

ترجمه: [١] او د حضرت ابوهريره ﷺ نه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] چې کله په تاسو کې يو شخص وبلل شي او دي د هغه شخص سره لاړ شي چې څوك په ده پسې تللي وو [٣] نو د هغه سره د ده راتلل بس اجازت ده (ابوداؤد) او د ابوداود په يو بل روايت کې داسې دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل د يوشخص بل شخص لره د بللو د پاره استاذي ليږل هم د هغه د طرف نه اجازت ده.

تسهيلات:

د حديث الباب حاصل دا دې چه قاصد سره راتلونکې ميلمه ته ددې خبرې ضرورت نشته چه هغه دې دراوزی سره اودريږی او اجازت دې اوغواړی بلکه هغه دې کورته د قاصد سره داخل شی وغيره

[۳۶۷۳] دَاجازت په وخت دَ دروازې نه اخوااودريدل پکاردي

۴۶۷۳- [۷] (٢) [١] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ بُسْرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا أَتَى بَابَ قَوْمٍ [٢] لَمْ يَسْتَقْبِلِ الْبَابَ مِنْ تِلْقَاءِ وَجْهِهِ، وَلَكِنْ مِنْ رُكْنِهِ الْأَيْمَنِ أَوِ الْأَيْسَرِ [٣] فَيَقُولُ: "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ، السَّلَامُ عَلَيْكُمْ" [۴] وَذَلِكَ أَنَّ الدُّورَ لَمْ يَكُنْ يَوْمَئِذٍ عَلَيْهَا سُتُورٌ». [۵] رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ. وَذُكِرَ حَدِيثُ أَنَسٍ، «قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ: "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ»" فِي "بَابِ الضِّيَافَةِ".

[1] اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الأدب/باب فی الرجل يدعی أيكون ذلك إذنه (رقم-۵۱۹۰) واحمد فی المسند: ۵۳۳/۲

[2] اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الأدب/باب كم مرة يسلم الرجل فی الاستئذان (رقم-۵۱۸۶) واحمد فی المسند: ۱۹۰/۴

ترجمه: [۱] او حضرت عبد الله ابن بسر ﷺ وايي رسول الله ﷺ چې به د چا کورته ورتلو د پاره د هغه دروازې ته ورسيدي [۲] نو دروازې طرف ته مخ کړې به نه دريدلو چې په کوروالاوو يې نظر پرې نه وځي بلکې ښي يا چپه جانب ته به دريدلو [۳] او بيابه يې اجازت غوښتلو د پاره فرمايل السلام عليکم السلام عليکم او د دروازې مخکې د نه ودريدو [۴] وجه داوه چې هغه زمانه کې به دروازه پردې نه وې (ابوداؤد) [۵] او د انس ﷺ دا روايت قال ﷺ السلام عليکم ورحمة الله باب الضيافة کې نقل شوي دي

حل اللغات: - ① رُكْنِهِ الْأَيْمَنِ: ښى طرف. ② الدُّورَ: د دار جمع ده. کورونه. ③ سُتُورٌ: د ستر جمع ده. پردې

تسهيلات:

قوله: لَمْ يَسْتَقْبِلِ الْبَابَ

يعنى دروازې ته مخامخ نه دى اودريدل پکارځکه چه کله دروازه کولاؤشى نوداسې به کورکښې دننه نظر پريوتلې شى بلکه ښى اوګس طرف ته اودريدل پکاردى لکه څنګه چه د تبليغ والا اوټيوشن والا کوى مفسد قسم خلق ليدلې شوى دى چه بالکل په مينځ کښې اودريږى اودننه دکتلو کوشش کوى.ددې حديث د آخرى الفاظونه معلوميږى چه داسلام په ابتدائى دورکښې به د مسلمانانو په دروازو کښې پردې نه وى اوروستو بيا پردې راغلې لهذا که د نظر دننه پريوتلو خطره نه وى نوبيامخامخ اودريدل به هم منع نه وى دممانعت اصل علت خو نظر دننه پريوتل دى البته تفس سنت باندې دعمل کولو په غرض مخې ته اودريدل به مناسب نه وى [المرقات: ۸/۴۵۶]

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۶۳] که په کورکښې مورهم وى بياهم اجازت غوښتل پکاردى

٤٦٤٣-[٨] (¹) [۱] عَنْ عَطَاءٍ، «أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -، فَقَالَ: أَسْتَأْذِنُ عَلَى أُمِّي؟ [۲] فَقَالَ: " نَعَمْ " فَقَالَ الرَّجُلُ: إِنِّي مَعَهَا فِي الْبَيْتِ. فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " اسْتَأْذِنْ عَلَيْهَا " [۳] فَقَالَ الرَّجُلُ: إِنِّي خَادِمُهَا، فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اسْتَأْذِنْ عَلَيْهَا، [۴] أَتُحِبُّ أَنْ تَرَاهَا عُرْيَانَةً؟ " قَالَ: لَا. قَالَ: " فَاسْتَأْذِنْ عَلَيْهَا» ". رَوَاهُ مَالِكٌ مُرْسَلًا.

ترجمه: [۱] حضرت عطاء ابن يسار ﷺ وايي يو سړي د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړه چې آيا زه مورته په ورتلو کې هم اجازت طلب کړم [۲] حضور ﷺ ورته وفرمايل هو (ځکه چې کيدي شي چې څه وخت د هغه د جسم اعضاء خلاص وي چې خوي ته ليدل يې هم جائز نه دي) هغه اوويل زه د هغه سره تنها وسيږم (يعني زه او ځما مور دواړه په يوکور کې

¹) اخرجه مالک فى الموطا کتاب الاستئذان باب الاستئذان (رقم-۱(

اوسیږو په دي صورت کې ماته د اجازت طلب کولو څه ضرورت دي ګویا هغه سړي ګمان وکړو چې اجازت حاصلول هغه سړي ته مشروع دي چې بیګانه وي او کله کله څې راځي، حضور ﷺ ورته وفرمایل هرکله چې ته په یو کور کې داخلیدل غواړي یا په یو کور کې هغه جدا یوه کمره کې وي او هغه ته ورتلل غواړي نو اجازت حاصلولو سره ورځه [۳] هغه اوویل زه د خپلي مور خادم یم یعنی زه د هغه نګراني او خدمت د پاره ورته ځم راځم نو آیا د شرعي قواعدو مطابق دفع حرج د پاره هروار د اجازت طلب پابندي زما نه لري کیدي شي حضور ﷺ ورته وفرمایل بهر صورت اجازت حاصلولو سره هغه ته ورځه اګر که اجازت غاړه تازه کولو یا د پښو کشار او بلند اواز سره د خبرو کولو په صورت کې وي [۴] آیا ته دا خوښوي چې خپله مور بربنډه ووینې؟ یعنی ته بغیر اجازت حاصلولو ناڅاپه هغه ته ورسي نو آیا ممکنه نه ده چې هغه وخت په څه وجه بربنډه ناسته وي او ستا نظر په هغه پریوځي هغه سړي اوویل چې هیڅ کله نه نو حضور ﷺ ورته وفرمایل بیا ته اجازت حاصلولو سره هغه ته ورځه دا روایت امام مالک رحمه الله بطریق ارسال نقل کړي دي

حل اللغات: - ① عُرْیَانَةً: بربنډه.

تسهیلات:

قوله: فَاسْتَأْذِنْ

یعنی په کورکښې ښځې اکثر په داسې حالت کښې ناستې وی په کوم کښې چه یوکس هم دا نه خوښوی چه په هغوی باندې نظر پریوځی لهذا په هرصورت کښې اجازت غوښتلو سره دننه تلل پکاردی. دَاجازت صورت داهم دې چه دَ سلام نه علاوه دَداخلیدو په وخت سړې په اخ تَوخ کولوسره یا دروازه ټکولوسره لاړشی دې دَپاره چه دننه ښځوته دَ راتلونکی اندازه اوشی په حدیث کښې دَموزکردې مرادهغه ټولې ښځې دی چه دَ محارمو دَ قبیلې نه دی اوکه په کورکښې صرف ښځه وی نو دَداسې اجازت ضرورت نشته دې [المرقات: ۸/۴۵۷]

[۳۸۹] حضرت علی رضی الله عنه ته دَاجازت یوصورت

دا-۳۶ [۹] (۱) [۱] «وَعَنْ عَلِيٍّ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: كَانَ لِي مِنْ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- مَدْخَلٌ بِاللَّيْلِ، وَمَدْخَلٌ بِالنَّهَارِ، [۲] فَكُنْتُ إِذَا دَخَلْتُ بِاللَّيْلِ، تَنَحْنَحَ لِي». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت علي رضی الله عنه وايي زه به رسول الله ﷺ ته د شپي هم او د ورځي هم تلم راتلم [۲] کله چې به زه د شپې حاضریدم نو حضور ﷺ به ماته دا اجازت راکولو د پاره غاړه تازه کوله (نسائي)

حل اللغات: - ① مَدْخَلٌ: ځائې ته ورتلل ② تَنَحْنَحَ: غاړه به ئې تازه کوله.

---

(۱) اخرجه النسائي في كتاب السهو التنحنح في الصلاة ۱۲۱۱ وابن ماجه في كتاب الأدب/باب الاستئذان (رقم ۳۷۰۸)

تسهيلات:

قوله: تَنَحْنَحَ لِي

دَحديث نه داخبره واضحه شوه چه حضرت على رضی الله عنه ته دَ شپې په وخت دَحضورپاك په كوركښې دَ داخليدو دَپاره داسې اجازت وو چه حضورپاك به غاړه تازه كوله دې سره دا امر معلوم نه شو چه دَ ورځې دَ اجازت دَ پاره كوم علامت مقرروو ممكن دى چه دَ ورځې دَ اجازت دَپاره دَحضرت على رضی الله عنه غاړه تازه كول دَ اجازت علامت وو لكه چه عام طريقه هم دغه شان وى.

اوس دلته يوسوال پيداكيږى هغه داسې چه بعضې رواياتوكښې راغلى دى چه دَ حضورپاك غاړه تازه كول دَ عدم اجازت دليل وو په دې وجه حضرت على رضی الله عنه فرمانى چه كله به حضورپاك غاړه تازه كوله نوزه به واپس لاړم؟ دَدې سوال جواب دادې چه ممكن دى دَحضورپاك غاړه تازه كول دَ اجازت اوعدم اجازت دواړو علامت وو خو بيا به دَ خارجى قرينې نه معلوميدله چه دا دَ اجازت علامت دې اودا دَ عدم اجازت علامت دې. [المرقات: ۸/۴۵۷]

[۴۶۷۶] سلام نه كونكې ته ځان ته د راتلو اجازت مه وركوئ

۴۶۷۶-[۱۰]() [۱] وَعَنْ جَابِرٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-أَنَّ النَّبِيَّ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-قَالَ: [۲] "«لَا تَأْذَنُوا لِمَنْ لَمْ يَبْدَأْ بِالسَّلَامِ» "رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: [۱] او د حضرت جابر رضی الله عنه نه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] كوم سړي چې د سلام نه شروع ونه كړي هغه ته ځان ته د راتلو اجازت مه وركوئ (بيهقي)

تسهيلات:

د حديث الباب حاصل دا دي چه كوم كس تاسو ته بغير د سلام كولو نه راشى نو تاسو ئې ځان سره مه پريږدئ بلكه تاسو ورته اووائې چه واپس لاړ شه او اول سلام وكړه بيا اجازت اوغواړه او دننه راشه. ځنګه چه بعضې وخت كښې استاذ خپل شاګرد ته او پلار خپل اولاد ته د تربيت وركولو په وخت كښې وائى چه بچى واپس لاړ شه او د دروازې نه بهر سلام وكړه بيا دننه راشه

() اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ۸۸۱۶

[۳] بَابُ الْمُصَافَحَةِ وَالْمُعَانَقَةِ

د مصافحې او معانقې بيان

خلاصة الباب:-

فيه ثمانية عشر حديثاً مشتملة على ثلاث مسائل:

① المصافحة وفضيلتها: ۱، ۳، ۴، ۵، ۷، ۱۸۔
② حکم التقبيل والمعانقة ثبوتاً ونفياً: ۲، ۴، ۶، ۷، ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۱۴، ۱۵، ۱۶۔
③ الترحيب للقادم: ۸۔

د معانقې تعريف: سړ سره سړ ملاوولو ته معانقه وائي

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۴۶۷۷] مصافحه ثابته ده

۴۶۷۷-[۱] (۱) [۱] عَنْ قَتَادَةَ، قَالَ: قُلْتُ لِأَنَسٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ [۲]: أَكَانَتِ الْمُصَافَحَةُ فِي أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-؟ قَالَ: نَعَمْ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت قتاده تابعي رحمه الله وايي ما د حضرت انس رضي الله عنه نه پوښتنه وکړه [۲] چې آيا د رسول الله ﷺ صحابه رضي الله عنهم (خپل دملاقات په وخت شلام نه پس) مصافحه کوله هغه وفرمايل هو

تسهيلات:

حضرت قتاده تابعي فرماني چه ما د حضرت انس رضي الله عنه نه پوښتنه وکړه چه د نبي کريم ﷺ صحابه کرامو به د ملاقات په وخت کښې مصافحه کوله؟ نو دوي جواب کښې اونيل چه او

قوله: أَكَانَتِ الْمُصَافَحَةُ فِي أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، جار مجرور متعلق محذوف دي کوم چه د کان خبر جوړيږي، أي ثابتة وموجودة فيهم حال ملاقاتهم بعد السلام

[۴۶۷۸] ماشوم ښکلول مستحب دي

۴۶۷۸-[۲] (۲) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: «قَبَّلَ رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-الْحَسَنَ بْنَ عَلِيٍّ وَعِنْدَهُ الْأَقْرَعُ بْنُ حَابِسٍ [۲] فَقَالَ الْأَقْرَعُ: إِنَّ لِي عَشَرَةً مِنَ الْوَلَدِ مَا قَبَّلْتُ مِنْهُمْ أَحَدًا، [۳] فَنَظَرَ إِلَيْهِ

---

[1]) اخرجه البخارى فى كتاب الاستئذان/باب المصافحة (رقم-۶۲۶۳) والترمذى فى كتاب الاستئذان والآداب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى المصافحة (رقم-۲۷۲۹)

[2]) اخرجه البخارى فى كتاب الأدب/باب رحمة الولد وتقبيله ومعانقته (رقم-۵۹۹۷) ومسلم فى كتاب الفضائل/باب رحمته صلى الله عليه وسلم الصبيان والعيال وتواضعه وفضل ذلک (رقم-۶۵ - (۲۳۱۸) والترمذى فى كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى رحمة الولد (رقم-۱۹۱۱) واحمد فى المسند: ۲/۲۴۱

رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -، ثُمَّ قَالَ: "مَنْ لَا يَرْحَمُ لَا يُرْحَمُ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره ﷺ وايي يو وخت رسول الله ﷺ د حسن ابن علي ﷺ نه مچي (پپه) واخستله نو يو صحابي اقرع ابن حابس ﷺ چې هغه وخت د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر وو [۲] هغه اوويل چې خما لس بچي دي او ما په هغوئ کې د هيچا نه مچي (پپه) نه ده اخستي [۳] رسول الله ﷺ (دا اوريدو سره) هغه طرف ته وکتل او وي فرمايل کوم سړي چې رحم نه کوي په هغه رحم نه کيږي يعنې کوم سړي چې خپل اولاد يا د خداي په مخلوق باندې لطف او شفقت نه کوي په هغه د الله رحمت او شفقت نه کيږي (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① قَبَّلَ: ښکل ئې کړو. مچي (پپه) ئې واخستله

تسهيلات:

قوله: فَنَظَرَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أي نظر تعجب أو نظر غضب" يا به د تعجب په نظر سره ئې کتلي وی يا به ئې د ناخوښئ په نظر سره کتلي وی. ثم قال من لم يرحم لا يرحم امام طيبی رحمه الله فرمائي چه "من" موصوله دې يا "من" شرطيه دې يا اول يرحم مشاكلة د رحمت په معنى واغستلې شى نو معنى به دا شى "من لم يشفق على الأولاد لا يرحمه الله تعالى" (مرقات ج۹، ص۷۵)

ددې حديث په بناء باندې امام نووی رحمه الله فرمائي چه "تقبيل الرجل عد ولده الصغير واجب" چه پلار لره د خپل ماشوم بچي مخ ښکلول واجب دی او د مخ اطرافو باندې محبت کولې شی يعنې سر يا تندې ښکل کړی.

هم دغه شان د خپلوانو او د ملګرو ماشومان هم ښکلول جائز دی او که ښکلول د شهوت په وجه وی نو بيا حرام دی. (مرقات ج۹، ص۷۵)

[۱] وَسَنَذْكُرُ حَدِيثَ أَبِي هُرَيْرَةَ: "أَثَمَّ لُكَعُ" فِي "بَابِ مَنَاقِبِ أَهْلِ بَيْتِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَعَلَيْهِمْ أَجْمَعِينَ" إِنْ شَاءَ تَعَالَى. [۲] وَذَكَرَ حَدِيثَ أُمِّ هَانِئٍ فِي "بَابِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: [۱] وزر ده چې مونږ به د ابوهريره رضى الله عنه حديث ,,اثم لكع،، په باب مناقب اهل بيت النبى صلى الله عليه وسلم کښې ذکرکړو انشاء الله [۲] ود ام هانى حديث ئې په باب الايمان کښې ذکرکړې دې

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۴۶۷۹] دمصافحې فضيلت

۴۶۷۹ - [۳] ( ) [۱] عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«مَا مِنْ

[1]) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأدب/باب فى المصافحة (رقم-۵۲۱۲) والترمذى فى كتاب الاستئذان والآداب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى المصافحة (رقم-۲۷۲۷) وابن ماجه فى كتاب الأدب/باب المصافحة (رقم-۳۷۰۳) واحمد فى المسند: ۲۸۹/۴

مُسْلِمَيْنِ يَلْتَقِيَانِ فَيَتَصَافَحَانِ، إِلَّا غُفِرَ لَهُمَا قَبْلَ أَنْ يَتَفَرَّقَا» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ. [۳] وَفِي رِوَايَةِ أَبِي دَاوُدَ، قَالَ: "«إِذَا الْتَقَى الْمُسْلِمَانِ فَتَصَافَحَا، وَحَمِدَا اللَّهَ وَاسْتَغْفَرَاهُ، غُفِرَ لَهُمَا» ".

ترجمه: [۱] حضرت براء ابن عازب ﷛ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] هركله چې دوه مسلمانان يوځاي كيږي او خپل منځ كې د يو بل سره مصافحه (جوړتازه كوي) نو د هغوئ دواړو د جدا كيدو نه مخكې خداي ﷻ هغوئ بخښي (احمد ترمذي ابن ماجه) [۳] او د ابوداود په روايت كې داسې دي چې حضور ﷺ وفرمايل هركله چې دوه مسلمانان يوځاي شي او د يو بل سره مصافحه وكړي د خداي ﷻ حمد اووائي او بخښنه وغواړي نو هغه دواړه بخښل كيږي.

[۳۸۰] دَ سلام په وخت ټيټيدل منع دي

۳۶۸۰-[۴] (۱) [۱] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! الرَّجُلُ مِنَّا يَلْقَى أَخَاهُ أَوْ صَدِيقَهُ، أَيَنْحَنِي لَهُ؟ قَالَ: "لَا". [۳] قَالَ: أَفَيَلْتَزِمُهُ وَيُقَبِّلُهُ؟ قَالَ: "لَا" [۴] قَالَ: أَفَيَأْخُذُ بِيَدِهِ وَيُصَافِحُهُ؟ قَالَ: "نَعَمْ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس ﷛ وايي [۲] يو سړي عرض وكړو چې يا رسول الله! په مونږ كې چې څوك خپل مسلمان ورور يا دوست سره ملاقات كوي نو آيا هغه ورته خكته شي حضور ﷺ وفرمايل نه [۳] هغه سړي اوويل آيا د هغه سره غاړه يوځاي كړي او هغه ته مچي (پېه) وركړي حضور ﷺ وفرمايل نه هغه [۴] اوويل آيا د هغه لاس خپل په لاس كې اخستو سره هغه سره مصافحه وكړي حضور ﷺ وفرمايل هو. (ترمذي)

حل اللغات: - ① أَيَنْحَنِي: آيا ورخكته شي؟ ② أَفَيَلْتَزِمُهُ: آيا غاړه وركړي؟ ③ يُقَبِّلُهُ: ښكل ئې كړي

تسهيلات:

قوله: قَالَ: "لَا".

يعنې دَ سلام په وخت ټيټيدل منع دي دې سره دَ بدعت او شرك دروازه كولاويدې شي په دې حديث كښې چه څنګه دَ سلام په وخت ټيټيدل منع ګرځولې شوي دي دغه شان په دې كښې يوبل پورې اينختل اوغاړې وركول هم منع ګرځولې شوي دي اولاس وغيره ښكلول هم منع ګرځولې شوي دي.

فقهاؤ ليكلي دي چه كه دَ لاس ښكلول دَ دنيا په غرض سره وي نودا په اتفاق سره مكروه تحريمي دي ليكن دَ والدينو استاذانو يا مشائخو اهل الله لاس ښكلې كړې شي نودا جائز دي مګر دَ دنيادار لاس وغيره دَدنيا په غرض سره ښكلول جائز نه دي.لهذا دَ ممانعت

(۱) اخرجه الترمذي في السنن كتاب الاستئذان والآداب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في المصافحة (رقم-۲۷۲۸) وابن ماجه في كتاب الأدب/باب المصافحة (رقم-۳۷۰۲)

صورت هم دَدې ممنوع صورتونوسره دي. [المرقات، ۸/۳۶۲]

[۳۷۸] دَسلام پوره طريقه

۴۶۷۸—[۵] ()[۱] وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] "«تَمَامُ عِيَادَةِ الْمَرِيضِ أَنْ يَضَعَ أَحَدُكُمْ يَدَهُ عَلَى جَبْهَتِهِ، أَوْ عَلَى يَدِهِ، فَيَسْأَلَهُ: كَيْفَ هُوَ؟ [۳] وَتَمَامُ تَحِيَّاتِكُمْ بَيْنَكُمُ الْمُصَافَحَةُ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَضَعَّفَهُ.

ترجمه: [۱] او د حضرت ابو امامه ﷛ نه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د مريض پوره عيادت (پوښتنه) داده چې په تاسو کې څوک خپل لاس د هغه په تندي يا د هغه په لاس کيږدي او بيا پوښتنه وکړي چې د هغه څه حال دي [۳] او ستاسو پوره سلام چې تاسو يي خپلو کې کوئ مصافحه ده يعنى کله چې تاسو سلام کوئ نو مصافحه هم کوئ چې سلام پوره او کامل شي دا روايت احمد او ترمذي نقل کړي دي او دي ته يي ضعيف ويلي دي.

تسهيلات:

قوله: وَتَمَامُ تَحِيَّاتِكُمْ بَيْنَكُمُ الْمُصَافَحَةُ،

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: ① دواړه امور په خپل ځائی کښې کمال ادنی درجه لري.خو که په دواړو باندې عمل وکړې شي نو د کمال درجه به حاصل شي. (مرقات ج۹،ص۷۶)

② د زياتي، نقصان، او تکلفونو صفا او معتدل طريقه دا ده چه سلام ومصافحه باندې اکتفا کوی او زيادت مه کوئ ځکه چه په تکلف کښې به واقع شيئ.

[۳۷۳] دَسفر نه په راتلو سره معانقه اوتقبيل جائز دي

۴۶۷۳—[۶] ()[۱] وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهَا- قَالَتْ: «قَدِمَ زَيْدُ بْنُ حَارِثَةَ الْمَدِينَةَ وَرَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي بَيْتِي، [۲] فَأَتَاهُ فَقَرَعَ الْبَابَ، فَقَامَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللهِ عُرْيَانًا يَجُرُّ ثَوْبَهُ، [۳] وَاللهِ مَا رَأَيْتُهُ عُرْيَانًا قَبْلَهُ وَلَا بَعْدَهُ، فَاعْتَنَقَهُ وَقَبَّلَهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه ﷝ فرمايي يو وخت زيد ابن حارثه ﷛ چې مشهور صحابي دي او حضور ﷺ خوي جوړ کړي وو ديوي غزا يا سفر نه راتلو سره مديني ته راورسيدي هغه وخت حضور ﷺ ځما په کورکي تشريف فرماوو [۲] زيد ﷛ د حضور ﷺ په خدمت کې حاضريدو د پاره ځما کورته راغلواو دروازه يي وټکوله رسول الله ﷺ لڅ (ښکاره)

---

[۱]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الاستئذان والآداب عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی المصافحة (رقم-۲۷۳۱)واحمد فی المسند:۵/۲۶۰

[۲]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الاستئذان والآداب عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی المعانقة والقبلة (رقم-۲۷۳۲)

بدن خپله کپړه يعني څادر رانښکلو سره زيد رضي الله عنه سره يوځاي کيدو د پاره بهر تشريف يوړي (يعني هغه وخت د حضور ﷺ په بدن مبارك د لنګ نه علاوه بله څه کپړه نه وه او حضور ﷺ په هغه حالت کې دروازي ته تشريف يوړي) [۳] په خداي مې دي قسم وي د دې نه مخکې او د دې نه پس ماهيڅ کله حضور ﷺ لڅ (ښکاره بدن) نه دي ليدلي يعني داسې هيڅ کله نه دي شوي چې حضور ﷺ د چا د استقبال په خير راغلي په وخت داسې اظهارِ شوق او ارزو کړي وي ، او د هغه د ليدو د پاره په بربنډ بدن يې بهر ته تشريف وړي وي بهرحال حضور ﷺ حضرت زيد رضي الله عنه غاړي سره ولګوي او مچ يې کې

حل اللغات: - ① قَرَعَ: اوني ټکوله (دروازه)، ② عُرْيَانًا: بربنډ (يعني لنګ نه علاوه نې په بدن بله کپړه نه وه)، ③ جَرَّ: رانښکلو نې. ④ فَاعْتَنَقَهُ: غاړه نې ورکړه. ⑤ قَبَّلَهُ: ښکل نې کړو

تسهيلات:

قوله: فَاعْتَنَقَهُ

د معانقې د جواز دلائل: ① يعني حضورپاك حضرت زيد بن حارثه رضي الله عنه سره غاړه ملاؤ کړه.دَدې حديث نه دَ معانقې او دَ تقبيل ثبوت ملاويږي.

② په مشکاة کښې دَحضرت جعفر رضي الله عنه حديث نمبر(۴۶۸۶) نه هم دَمعانقې او دَ تقبيل ثبوت ملاويږي.فقهاؤ هم دا قول اختيارکړې دې چه دا جائز دې.چرته چه دَممانعت روايت دې هغه په هغه تقبيل باندې محمول دې چه دَ دنياپه غرض سره وي.[المرقات: ۴۶۳/۸]

[۳۸۳] د معانقه جواز

۳۸۳-[۷] (¹) [۱] وَعَنْ أَيُّوبَ بْنِ بُشَيْرٍ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ عَنَزَةَ، أَنَّهُ قَالَ: قُلْتُ لِأَبِي ذَرٍّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: [۲] «هَلْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُصَافِحُكُمْ إِذَا لَقِيتُمُوهُ؟ [۳] قَالَ: مَا لَقِيتُهُ قَطُّ إِلَّا صَافَحَنِي، [۴] وَبَعَثَ إِلَيَّ ذَاتَ يَوْمٍ وَلَمْ أَكُنْ فِي أَهْلِي، [۵] فَلَمَّا جِئْتُ أُخْبِرْتُ، فَأَتَيْتُهُ وَهُوَ عَلَى سَرِيرٍ، فَالْتَزَمَنِي، فَكَانَتْ تِلْكَ أَجْوَدَ وَأَجْوَدَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] و حضرت ايوب ابن بشير د بنو عنزه يو سړي نه روايت دې هغه بيان وکړو چې ما د حضرت ابوذر رضي الله عنه نه پوښتنه وکړه [۲] تاسو خلقو چې به رسول الله ﷺ سره ملاقات کوي نو آيا حضور ﷺ به ستاسو سره مصافحه هم کوله [۳] حضرت ابوذر رضي الله عنه وفرمايل ماچې کله حضور ﷺ سره ملاقات کړي دي نو حضور ﷺ زماسره مصافحه کړيده [۴] د يوې ورځې واقعه ده چې حضور ﷺ زما بللو د پاره ماته يو سړي راوليږلو هغه وخت زه خپل کورکې موجود نه وم [۵] کوم وخت چې زه کورته راغلم نو ماته د دې اطلاع راکول شوه نو زه د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شوم او حضور ﷺ هغه وخت په يو تخت

¹) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأدب/باب في المعانقة (رقم - ٥٢١٤)

تشریف فرماوو حضور ﷺ زماسره غاړیه ملاؤکړه او دا غاړه ملاوول(د حصول لطف وسرور او برکت د اعتبار نه د مصافحي په نسبت) ښه وو ډیر زیات ښه .(ابوداؤد)

حل اللغات: - ① أَجْوَدَ: ډیر زیات ښه.

تسهیلات:

قوله: وَهُوَعَلٰى سَرِيْرٍ

د سریرپه مصداق کښې دوه اقوال: ① د بعضې عالمانو په نیز د سریرنه مراد کټ دې کوم چه به د مدینې خلقو د کجهورو د شاخونو نه جوړولو، دې دپاره چه په دې سره د مضر حشراتو نه بچ شي ② ابن الملک رحمه الله فرمائي چه دلته سرير د ملک او د نعمت نه تعبير کړې شوې دې ګویا چه سریرنه مراد ملک نبوت او ددې انعامات دی، او

[۳۷۳] دَحضرت عکرمه ﷺ په راتګ باندې معانقه

۳۷۳-[۸] ()[۱] «وَعَنْ عِكْرِمَةَ بْنِ أَبِي جَهْلٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] يَوْمَ جِئْتُهُ: "مَرْحَبًا بِالرَّاكِبِ الْمُهَاجِرِ"». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت عکرمه ﷺ ابن ابي جهل وايي د مکي د فتحي نه پس په هغه ورځ چې زه داسلام قبلولو د پاره د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شوم [۲] نو حضور ﷺ خمالیدو سره وفرمايل الله او رسول طرف ته یا دار الحرب نه دار الاسلام طرف ته هجرت کونکي سوار ته دې خوش آمدید په خیرراغلي وي .(ترمذي)

حل اللغات: - ① مَرْحَبًا: خوش آمدید ، پخير راغلی.

تسهیلات:

قوله: مَرْحَبًا بِالرَّاكِبِ الْمُهَاجِرِ:

د مذکوره جملې پس منظر: دَ فتح مکې په موقع باندې عکرمه بن ابی جهل دَ مسلمانانو په مقابله کښې راغلې وو مګر دَ حضرت خالدبن ولید ﷺ په لاس باندې ماتې خوړلو نه پس دَ یمن طرف ته اوتختیدو .دَهغه بی بی مسلمانه شوې وه هغې دَ هغه دپاره دَ رسول الله ﷺ نه امان اوغوښتلو.دا راتګ هم دَ هغه موقع دې چه حضورپاك په توګه دَ تلطف هغه "الراکب" او "المهاجر" په نوم سره یاد کړو خکه چه په اوښ باندې سور راروان وو اودکفر نه دَ اسلام طرف ته هجرت کولوسره راتلو.په تفصیلی روایت کښې دَ معانقې ذکر دې

[1]) اخرجه الترمذي في السنن كتاب الاستئذان والآداب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في مرحبا (رقم-۲۷۳۵)

[۴۶۸۵] دَ يوسرى حضور پاک لره دَ ښکلولو يوه عجيبه قصه

۴۶۸۵—[۹] () [۱] «وَعَنْ أُسَيْدِ بْنِ حُضَيْرٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ -قَالَ: [۲] بَيْنَمَا هُوَ يُحَدِّثُ الْقَوْمَ- وَكَانَ فِيهِ مُزَاحٌ- بَيْنَا يُضْحِكُهُمْ [۳] فَطَعَنَهُ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي خَاصِرَتِهِ بِعُودٍ، [۴] فَقَالَ: أَصْبِرْنِي. قَالَ: "اَصْطَبِرْ" قَالَ: إِنَّ عَلَيْكَ قَمِيصًا وَلَيْسَ عَلَيَّ قَمِيصٌ، [۵] فَرَفَعَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَنْ قَمِيصِهِ، فَاحْتَضَنَهُ وَجَعَلَ يُقَبِّلُ كَشْحَهُ، [۶] قَالَ: إِنَّمَا أَرَدْتُ هٰذَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت اسيد ابن حضير ﷺ چې د انصارو نه وو د هغه باره کې راوي وايي [۲] يوه ورځ هغه وخت هرکله چې اسيد خلقو سره خبرې کولې او د هغه په مزاج کې چې کومه خوش طبعي او ظرافت وو د هغه لاندې خلق يې خندول [۳] نو رسول الله ﷺ (د توقو په طورد هغه په اړخ کې په يولرګي سره جټکه ورکړله هغه حضور ﷺ ته اوويل ماته د دې جټکې راکولو بدله راکړئ [۴] حضور ﷺ ورته وفرمايل واخله (زما نه بدله واخله) هغه اوويل ستاسو په جسم کپړه ده او ځما په جسم کپړه نه وه که زه په کپړې د پاسه جټکه درکړم نو بدله به پوره نشي [۵] رسول الله ﷺ په دې اوريدو سره خپل قميص پورته کې اسيد د حضور ﷺ د اړخ سره ومښتى او په اړخ يې مچې (ښکلولو) ورکول شروع کړل [۶] او وئيل يې يا رسول الله! ماصرف دا غوښتل يعنى بدن مبارک مچول مې غوښتل (ابوداؤد).

حل اللغات:- ① مُزَاحٌ: توقې، خوش طبعى، ② فَطَعَنَهُ: لرګى (چوکه) سره ئې ديکه ورکړه. ③ خَاصِرَتِهِ: په اړخ کښې (په تشى کښې) ④ بِعُودٍ: لرګې (لښته، چُوکه)، ⑤ أَصْبِرْنِي: زما دپاره صبراوکړئ (چه زه درنه بدله واخلم). ⑥ فَاحْتَضَنَهُ: راغاړه ئې باسلو ځانته، ⑦ يُقَبِّلُ: ښکلولو ئې، ⑧ كَشْحَ: ډډې. اړخونه.

د راوي مختصر تعارف:

حضرت اسيد بن حضير: د حديث راوى نوم حضرت اسيد ايوبى د پلار نوم ئې حضير کنيت ئې ابوعتيک، خاندان ئې اشهل دې داسيد پلار د اوس قبيلې سردار وو د جاهليت په زمانه کښې به تول جنګونه د دوى په سردارئ کښې کيدل.

د دوى د اسلام راوړلو واقعه دا ده د بيعت عقبه نه پس نبى کريم ﷺ حضرت مصعب بن عمير ﷺ مدينې منورې ته د اشاعت اسلام دپاره راوليږلو چه خلقو ته اسلامى تعليمات اوښائى حضرت مصعب د اسعد بن زراره ﷺ په کور کښې قيام اوکړو يو ځل حضرت مصعب ﷺ خلقو ته په باغ کښې تعليم ورکولو سعد بن معاذ ﷺ اسيد ﷺ ته اووئيل چه مصعب ﷺ د تعليم ورکولو نه منع کړه سعد بن معاذ لانړلو خو ده پخپله نيزه واخستله او په باغ کښې داسلام د داعى د دعوت سلسله ختمولو په اراده سره روان شو

[۱] اخرجه ابوداود فى السنن کتاب الأدب/باب فى قبلة الجسد (رقم-۵۲۲۴)

چه د دوی دا حالت ئې وليدلو نو اسعد بن زراره ﷺ مصعب ﷺ ته اووئیل دا د قوم سردار دې زمونږ خواته راغی دې به نه مسلمانوې اسید ﷺ مصعب ﷺ ته اووئیل تا زما د قوم خلق بیوقوفه جوړ کړی دی د دې ځائې نه لاړه شی.

حضرت مصعب ﷺ ورته اوفرمائیل تاسو زما خبره واورئ که زما خبره مو خوښه شوه نو ټیک ده اوکه خوښه مو نشوه نو تاسو څه حکم وی هغه شان به کیږی حضرت اسید ﷺ ورته اووئیل تا دانصاف خبره اوکړه رشتیا چه د چا خبره ما نه وی اوریدلې نو خامخا د انکار کول څه دعقل خبره خو نه ده ددې نه پس حضرت مصعب ﷺ د قرآن پاک څه آیاتونه تلاوت کړل د قرآن پاک اوریدل وو چه قرآن خپل اعجازی تاثر اوخودلو او د قرآن په اوریدو سره د اسید ﷺ د زړه دنیا بدله شوه هغه زړه چه د اسلام د دشمنئ اور په کښې بل شوې وو د اسلام په شمع د روښانه کیدو منتظر شو هغه قدمونه چه داسلام د باغ ګلونو شوکولو دپاره روان شوی وو په هغې کښې داسلام دمضبوطولو اراده پیدا شوې حضرت اسید ﷺ ورته اوفرمائیل تاسو په کومه طریقه خلق په خپل دین کښې داخلوئ ددې نه پس دحضرت مصعب ﷺ په لاس باندې ددوی ایمان راوړلو۔ الله اکبر

په غزواتو کښې شرکت: دجنګ بدر په شرکت کښې د مؤرخینو اختلاف دې باقی په نورو ټولو غزاګانو کښې دنبی کریم ﷺ سره شریک شوې وو په غزوه حنین کښې د اوس قبیلې جنډه د دوی په لاس کښې وه [۱] د بیت المقدس په فتح کښې په ۱۲ هجری کښې دحضرت عمر ﷺ سره شام ته تلې وو ډیر رشتیا وینا به ئې کوله چه څه به ئې په زړه وو هغه به ئې په خوله وو د دې وجې حضرت عمر ﷺ دوی سره ډیره مینه کوله نبی کریم ﷺ یو ځل اوفرمائیل ((نعم الرجل اسید بن حضیر))یعنی حضرت اسید ډیر ښه سړې دې

حضرت عائشه ﷺ فرمائی چه حضرت اسید ﷺ د صحابه کرامو ﷺ په غوره افرادو کښې شامل وو دوی نه ۱۸ روایات منقول دی پورتنې حدیث په بخاری اومسلم دواړو کښې دې په بخاری کښې یو حدیث بل هم دې د دوی وفات په شعبان ۲۰ هجری کښې شوې دې حضرت عمر ﷺ ئې د جنازې مونځ کړې وو.

تسهیلات:

قوله: رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ

د رجل مصداق: په مصابیح کښې دَ رجل لفظ مجروردې چه دَاسیدبن حضیر ﷺ صفت دې.په دې سره دا وهم پیدا کیږی چه دَحضورپاك نه دَبدلې اخستلو کومه واقعه ذکرده دادَ انصارو نوموړې دَ شان والاصحابی اسیدبن حضیر ﷺ ده لیکن دَمزاح دا انداز دَهغه دَ

[۱] طبقات ابن سعد (۱۰۸ حصه مغازی) -

شان خلاف دي لهذا دا واقعه د بل سړی ده دچا په طبیعت کښې چه مزاح وو او هغه هم دَ انصارو نه وو دَهغه قصه مشهور صحابی حضرت اسیدبن حضیر رضی الله عنه بیان کړې ده دَدې خبرې تائید دَ جامع الاصول دَ روایت نه هم کیږی چرته چه لفظ رجلا دې نوعبارت داسې دې "عن اسیدبن حضیر قال إن رجلا من الأنصار کان فیه مزاح" بهرحال صحیح او راجح هم دغه دې چه حضرت اسید بن حضیر رضی الله عنه دَدې حدیث راوی دې اوقصه دَ بلې واقعې او دَ بل سړی ده [المرقات، ۸/۳۶۵]

قوله: وَجَعَلَ يُقَبِّلُ كَشْحَهُ:

دصحابي د نبي عليه السلام سره مينه: اسید بن حضیر رضی الله عنه فرمائی چه یو انصاری سړی د خلقو سره خبرې کولې چه د هغه په طبیعت کښې مزاح وو هغه خلق په خپلو خبرو باندې خندول چه په هغې باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم په یو چوکه سره د هغه ملا اوهله نو هغه اووې ما پریږدئ چه زه ستاسو نه بدل او قصاص واخلم نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل بدله واخله. هغه اووې چه ستاسو په بدن باندې خو قمیص دې او زما په بدن باندې قمیص نشته په دې باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل قمیص اوچت کړو، هغه سړی د رسول الله صلی الله علیه وسلم پورې ځان اولګولو او دهغوی صلی الله علیه وسلم شا ئې خکل کړه او وې وئیل یا رسول الله صلی الله علیه وسلم زما مقصد خو دا وو

[۳۶۸۶] په تندی باندې د ښکلولو ثبوت

> ۳۶۸۶—[۱۰] () [۱] وَعَنِ الشَّعْبِيِّ: «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - تَلَقَّى جَعْفَرَ بْنَ أَبِي طَالِبٍ، فَالْتَزَمَهُ وَقَبَّلَ مَا بَيْنَ عَيْنَيْهِ». [۲] رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ" مُرْسَلًا. وَفِي بَعْضِ نُسَخِ "الْمَصَابِيحِ": وَفِي "شَرْحِ السُّنَّةِ" عَنِ الْبَيَاضِيِّ مُتَّصِلًا.

ترجمه: [۱] او حضرت شعبي تابعي رحمه الله وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت جعفر بن ابي طالب رضی الله عنه سره یوځاي شو نو هغه سره غاړه په غاړې شو او د هغه سترګو په منځ کې یې مچي (پپه) ورکړله [۲] دا روایت ابوداود او شعب الایمان کې بیهقي بطریق ارسال نقل کړي دي هرکله چې د مصابیح بعضې نسخو او په شرح السنه کې دا روایت بیاضي نه بطریق اتصال نقل شوي دي.

حل اللغات: - ① فَالْتَزَمَهُ: نو یوځائې شو ورسره، ② قَبَّلَ: ښکل ئې کړو.

تسهيلات:

قوله: جَعْفَرَ بْنَ أَبِي طَالِبٍ:

حضرت جعفرطیار رضی الله عنه اول دَ مکې نه حبشې ته هجرت اوکړو بیائی دَهغه ځائی نه مدینې ته هجرت اوکړو په زیربحث حدیث کښې هم دغه دَ حبشې نه مدینې طرف ته دَ هجرت

[1] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب فی قبلة ما بین العینین (رقم-۵۲۲۰)

ذكردي دحضورپاك چه حضرت جعفر رضي الله عنه سره دملاقات كوم ذكردې هغه هم ددې موقع دي قبل بن عيينه دې نه د تندى ښكلول ثابتيږي. [المرقات: ۸/۴۶۸]

قوله: وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ" "مُرْسَلًا":

د روايت ارسال: دې حضراتو دا روايت په طريقه دارسال نقل كړې دې ليكن په شرح السنة كښې د بياضي په حواله سره داحديث متصل ذكر كړې دې. بياضي د بياضه بن عامر طرف ته منسوب دې دمطلق بياضي ذكر چه چرته وى هلته عبدالله بن جابر رضي الله عنه انصارى مراد دې. [المرقات: ۸/۴۶۶]

[۴۶۸۷] د جعفر په راتلو باندې د نبى عليه السلام خوشحالى

۴۶۸۷-[۱۱] ([1]) [۱] «وَعَنْ جَعْفَرِ بْنِ أَبِي طَالِبٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - فِي قِصَّةِ رُجُوعِهِ مِنْ أَرْضِ الْحَبَشَةِ، قَالَ [۲]: فَخَرَجْنَا حَتَّى أَتَيْنَا الْمَدِينَةَ، فَتَلَقَّانِي رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَاعْتَنَقَنِي، [۳] ثُمَّ قَالَ: "مَا أَدْرِي: أَنَا بِفَتْحِ خَيْبَرَ أَفْرَحُ، أَمْ بِقُدُومِ جَعْفَرٍ؟" وَوَافَقَ ذَلِكَ فَتْحَ خَيْبَرَ». رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ".

ترجمه: [۱] او حضرت جعفر ابن ابي طالب رضي الله عنه د حبشې د زمكې نه د واپسئ د واقعې په بيانولو كې وايي [۲] چې مونږ حبشه نه راروان شو او مديني ته رسيدو سره د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضر شو او د حضور ﷺ سره مو ملاقات وكړو حضور ﷺ زه غاړه باسلم [۳] او وي فرمايل زه نشم ويلي چې زه د خيبر فتح كيدو په وجه زيات خوشحاله يم يا د جعفر رضي الله عنه د راتګ په وجه او اتفاقي حضرت جعفر رضي الله عنه په هغه ورځ راغلي وو په كومه ورځ چې خير فتح شوي وو. (شرح السنه)

حل اللغات: - ① فَاعْتَنَقَنِي: نو ماته ئې غاړه راكړه، ② أَفْرَحُ: زيات خوشحاله يم.

تسهيلات:

قوله: فِي قِصَّةِ رُجُوعِهِ مِنْ أَرْضِ الْحَبَشَةِ:

د حديث پس منظر: يعنى كله چه جعفر بن ابى طالب رضي الله عنه د حبشې د هجرة كولو نه پس په واپسئ باندې مديني ته حاضر شو نو رسول الله ﷺ د هغه استقبال اوفرمائيلو او هغه وخت ئې ورسره معانقه اوفرمائيله او د هغوى تندې ئې هم ښكل كړو.

د معانقې په حكم كښې مذاهب:

امام نووى رحمه الله دمعانقې په باره كښې د علماء كرامو اختلاف دې

① د قادم من السفر دپاره معانقې ته امام مالك رحمه الله مكروه وئيلې دى

② سفيان بن عيينة وغيره مستحب ورته مستحب وئيلى دى.

دمعانقې عدم جوازه دلائل: ① د انس رضي الله عنه په روايت كښې دى. (قال رجل : يا رسول الله

[1]) اخرجه البغوى فى شرح السنة رقم الحديث ۳۳۲۷

الرجل منا يلقي اخاه أو صديقه اينحني له؟ قال لا قال أفيلتزمه ويقبله؟ قال لا قال أفيأخذ بيده ويصافحه؟ قال نعم، رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن ﴾

② په ابن ماجه كښي د انس رضي الله عنه حديث مرفوع داسې دې ﴿ ايعانق بعضنا بعضا قال لا، ولكن تصافحوا ﴾ يعنى د رسول الله ﷺ نه تپوس اوكړې شو چه په مونږ كښي دې بعض بعضو سره معانقه كوى؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل نه! خو مصافحه كوئ د انس رضي الله عنه دا حديث دكوم تخريج چه امام ترمذى او امام ابن ماجه كړې دې دمعانقې په كراهت باندې دال دې.

د معانقې د جواز دلائل: ① د عائشې رضي الله عنها روايت دې : قالت : قدم زيد بن حارثة المدينة ورسول الله صلى الله عليه وسلم في بيتي فأتاه فقرع الباب فقام إليه رسول الله صلى الله عليه وسلم عريانا يجر ثوبه والله ما رأيته عريانا قبله ولا بعده فاعتنقه وقبله قال أبو عيسى هذا حديث حسن غريب لانعرفه من حديث الزهري إلا من هذا الوجه،

② عَنْ جَعْفَرِ بْنِ أَبِي طَالِبٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - فِي قِصَّةِ رُجُوعِهِ مِنْ أَرْضِ الْحَبَشَةِ، قَالَ: فَخَرَجْنَا حَتَّى أَتَيْنَا الْمَدِينَةَ، فَتَلَقَّانِي رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَاعْتَنَقَنِي، ثُمَّ قَالَ: "مَا أَدْرِي: أَنَا بِفَتْحِ خَيْبَرَ أَفْرَحُ، أَمْ بِقُدُومِ جَعْفَرٍ؟" وَوَافَقَ ذَلِكَ فَتْحَ خَيْبَرَ». (١)

③ عَنِ الشَّعْبِيِّ: «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - تَلَقَّى جَعْفَرَ بْنَ أَبِي طَالِبٍ، فَالْتَزَمَهُ وَقَبَّلَ مَا بَيْنَ عَيْنَيْهِ». (٢)

خلاصه دا چه د احنافو په دې كښي دواړه اقوال دى خو اصح د جواز دې په شرط د عدم الفتنة او امام مالك رحمه الله على القول الاشهر د دې د كراهت قائل دې او د شوافعو په اصح قول كښي للقادم من السفر دپاره مستحب ده.

[۳۸۸] د نبى عليه السلام پښې او لاسونه ښكلول

—۳۸۸ [۱۲] (٣) ① «وَعَنْ زَارِعٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - وَكَانَ فِي وَفْدِ عَبْدِ الْقَيْسِ، ② قَالَ: لَمَّا قَدِمْنَا الْمَدِينَةَ فَجَعَلْنَا نَتَبَادَرُ مِنْ رَوَاحِلِنَا فَنُقَبِّلُ يَدَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَرِجْلَهُ»، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت زارع رضي الله عنه چې د عبد القيس په وفد كې شامل وو ② دى وايي مونږ چې مديني ته ورسيدلو نو خپلو سورلو نه په تلوار تلوار خكته كيدلو او بارګاه نبوت كې حاضر شو نو مونږ د رسول الله ﷺ لاسونه او پښې مچ كړلي (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① نَتَبَادَرُ: جلتي مو كوله. ② فَنُقَبِّلُ: نو مونږ ښكلول.

(١) اخرجه البغوى فى شرح السنة رقم الحديث ٣٣٢٧
(٢) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأدب/باب فى قبلة ما بين العينين (رقم-٥٢٢٠)
(٣) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأدب/باب فى قبلة الرجل (رقم-٥٢٢٥)

تسهیلات:

قوله: فَنُقَبِّلُ يَدَ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَرِجْلَهُ:

د حدیث پس منظر: ام ابان د خپل نیکه زارع نه روایت کوی کوم چه په وفد د عبدالقیس کښې وو هغه فرمائی چه کله مونږ مدینې طیبې ته راورسیدو نو مونږ زر زر د خپلو سورلو نه کوزیدو سره د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضریدلو، د هغوی لاسونه او خپې مو خکلول خو منذر اشج تیزی اونکړه تر دې چه هغه اول د خپلو کپړو پنډوکی ته راغلو خپلې دواړه کپړې ئې بدلې کړې او بیا د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو رسول الله ﷺ د هغوی دا ادا لیدلو سره اوفرمائیل: «إِنَّ فِيكَ خَلَّتَيْنِ يُحِبُّهُمَا اللهُ الْحِلْمُ وَالْأَنَاةُ». قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَنَا أَتَخَلَّقُ بِهِمَا أَمِ اللهُ جَبَلَنِي عَلَيْهِمَا قَالَ «بَلِ اللهُ جَبَلَكَ عَلَيْهِمَا». قَالَ الْحَمْدُ لِلهِ الَّذِي جَبَلَنِي عَلَى خَلَّتَيْنِ يُحِبُّهُمَا اللهُ وَرَسُولُهُ» چه په تا کښې دوه عادتونه داسې دی کوم چه الله پاک خوښوی یو حلم او دویم وقار، هغوی عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ دا دوه خصلتونه ما خپله اختیار کړې دی او که الله پاک زما په خلقت کښې ایخودلې دی؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل الله پاک ته پیدا کړې هم په دې خصلتونو ئې، په دې باندې هغه اووې چه ټول تعریفونه د هغه الله پاک دپاره دی چا چه زه په داسې دوه خصلتونو باندې پیدا کړم کوم چه الله تعالی او د هغه رسول ﷺ خوښوی.

د نبی علیه السلام سره محبت: په عون المعبود کښې د لمعات نه نقل کړی دی چه دا وفد د عبدالقیس کوم چه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شوې وو مدینې طیبې ته رسیدو سره د خپلو سورلو نه د زیارت نبوی په شوق کښې په تیزئ سره د خپلو سورلو نه کوز شو او ډیر په تیزئ سره د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو، رسول الله ﷺ د هغوی د دې جذباتو مشاهده فرمائیله او د دې وفد چه کوم مشر وو اشج هغه اول کوزیدو سره خپلې قیام ګاه ته لاړو او هلته تلو سره ئې غسل اوکړو او صفا جامې ئې واغوستلې د دې نه پس مسجد نبوی ﷺ ته داخل شو او هلته ئې دوه رکعته ادا کړل او دعاء ئې اوغوښتله او بیا د رسول الله ﷺ په خدمت کښې ډیر په خشوع وخضوع او سکون اووقار سره حاضر شو په دې باندې رسول الله ﷺ د هغه په باره کښې هغه ارشاد اوفرمائیلو کوم چه پورته په حدیث کښې تیر شو

د تندی اولاسونو ښکلولو جواز: یعنی مونږ دَ سورلونه راکوزشو اوحضورپاك له راغلو اودَحضورپاك لاسونه اوخپې مو ښکل کړې. دَ لاس یا تندی ښکلولوکښې هیڅ څه خاص مسئله نشته دې ځکه چه دَاهل دین تندې اولاسونه ښکلول دَاحادیثونه ثابت دی. که څه دنیاوی غرض نه وی نو په دغه ښکلولوکښې څه کلام نشته دې.

د خپوه ښکلولو دوه صورتونه:

① که یوکس په اوچت پالنګ یا مقام باندې وی او یوسړې دهغه خپې ښکلوی اودسجدې صورت نه جوړیږی نو دا صورت جائز دې

② که په خپو ښکلولو کښې تیتیدل کیږی په کوم سره چه د سجدې صورت پیدا کیږی نو په دې کښې اختلاف دې.

په دویم صورت کښې دوه اقوال: ① د احنافو څه علماء دا جائز ګڼړی اوداد سجده تعظیمی نه جداګڼړی او وائی چه په دې کښې نه د عبادت سجده ده او نه د تعظیم سجده ده داصرف داحترام او اکرام یوصورت دې. عمدة الفقه کښې حضرت مولانا مفتی محمدشفیع رحمه الله اواحسن الفتاویٰ کښې مفتی رشیداحمدرحمه الله داجائز لیکلی دی حضرت مفتی محمد شفیع رحمه الله خودې د ثابتولو اود دلائل پیش کولو لوئی کوشش کړې دې زیر بحث حدیث دغه حضراتو لوئی دلیل دې

② عام فقهاء خپې ښکلول جائزنه ګڼړی اوزیربحث حدیث د پیغمبرعليه السلام په خصوصیت باندې حمل کوی او خپې ښکلول ښه نه ګڼړی.

[۳۶۸۹] دفاطمه رضي الله عنها د خپل والد صاحب لاس ښکلول

۳۶۸۹ – [۱۳] (¹) [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهَا - قَالَتْ: «مَا رَأَيْتُ أَحَدًا كَانَ أَشْبَهَ سَمْتًا وَهَدْيًا وَدَلًّا. [۲] وَفِي رِوَايَةٍ: حَدِيثًا وَكَلَامًا بِرَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِنْ فَاطِمَةَ، [۳] كَانَتْ إِذَا دَخَلَتْ عَلَيْهِ، قَامَ إِلَيْهَا، فَأَخَذَ بِيَدِهَا فَقَبَّلَهَا وَأَجْلَسَهَا فِي مَجْلِسِهِ، [۴] وَكَانَ إِذَا دَخَلَ عَلَيْهَا، قَامَتْ إِلَيْهِ، فَأَخَذَتْ بِيَدِهِ فَقَبَّلَتْهُ وَأَجْلَسَتْهُ فِي مَجْلِسِهَا». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] و بي بي عائشه رضي الله عنها وايي ما په طور طريقه عادات او روش او نيک خصلت [۲] و په يو روايت کې دي چې خبرو اترو اوکلام کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم مشابهت د بي بي فاطمي رضي الله عنها نه زيات په بل چا کې نه دي ليدلي (يعني بي بي فاطمه رضي الله عنها په دي امورو کې د حضور صلى الله عليه وسلم زياته مشابه وه) [۳] بي بي عائشه رضي الله عنها د بي بي فاطمي رضي الله عنها باره کې دي بيان کولو نه پس هغه محبت او تعلق خاطر بيانوي چې د بي بي فاطمي رضي الله عنها او حضور صلى الله عليه وسلم يو بل سره وو او د هغه په وجه د دواړو په منځ کې کمال مشابهت ښکاره کيدي بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي کله چې به بي بي فاطمه رضي الله عنها د حضور صلى الله عليه وسلم په خدمت کې حاضريده نو حضور صلى الله عليه وسلم به ودريدلو هغه طرف ته به متوجه کيدي بيا به يي د هغه لاس په خپل لاس کې اخستي او هغه ته به يي مُچي (ښکلول) وركوله (يعني د هغه د دواړو سترګو په منځ کې

(¹) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب ما جاء فی القيام (رقم-۵۲۱۷) والترمذی فی کتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی فضل فاطمة رضی الله عنها (رقم-۳۸۷۲)

تندي به يي خكلوي، او بيابه يي د خپل ناستي په ځاي کينوله (يعني خپل ځاي به يي د هغه د پاره پريخودي) [۲] دغه شان حضور ﷺ چې به بي بي فاطمي رضي الله عنها کره تشريف يوورې نو هغه به د حضور ﷺ په ليدو سره ودريدله د حضور ﷺ لاس مبارك به يي خپل په لاس کې واخستي بيابه يي حضور ﷺ ته مچي (ښپه) ورکوله (يعني د حضور ﷺ لاس مبارك به يي مچوي يا څه بل ځاي ته به يي مچي (ښپه) ورکوله) او په خپل ځاي به يي کينوي (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① أَشْبَهَ: زيات مشابه، ② سَمْتًا: طورطريقې، ③ وَهَدْيًا: عادتونه او طريقې، ④ وَدَلًّا: چال چلن (په دې الفاظوکښې ترادف هم دې اومعمولی تغاير هم)

تسهيلات:

قوله: فَأَخَذَتْ بِيَدِهِ فَقَبَّلَتْهُ وَأَجْلَسَتْهُ فِي مَجْلِسِهَا:

د موريلار د لاس ښکلولو ثبوت: دحضرت فاطمه رضي الله عنها دعمل نه معلوميږی چه لاس ښکلول جائزدی په دې کښې هيڅ کلام نشته دې چه دَ والدينو لاس ښکلول جائزهم دی اواولاد له په دې باندې عمل کول هم پکار دی. موريلار که دَ شفقت په توګه دخپل اولاد لاس ښکل کړی نو دا هم جائزدی.

د عالمانوه لاس ښکولو استحباب: امام نووی رحمه الله فرمائی چه د اهل علم و فضل دپاره قيام مستحب دې او د احاديثو نه ثابت دې او صراحة په دې کښې هيڅ حديث صحيح نشته.
او دغه شان علامه شامی هم د دې د استحباب تصريح کړې ده، علماء فرمائی چه تعظيما اودريدل د اهل فضل دپاره مکروه نه دی بلکه مکروه د قيام محبت دې يعنی چه د کوم سړی دپاره قيام کولې شی هغه خپله د خپل ځان دپاره قيام خوښ کړی.

[۳۴۹۰] دحضرت صديق اکبر رضي الله عنه عمل

۳۴۹۰-[۱۳] ()[۱] وَعَنِ الْبَرَاءِ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: دَخَلْتُ مَعَ أَبِي بَكْرٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- أَوَّلَ مَا قَدِمَ الْمَدِينَةَ، [۲] فَإِذَا عَائِشَةُ ابْنَتُهُ مُضْطَجِعَةٌ، قَدْ أَصَابَهَا حُمَّى، [۳] فَأَتَاهَا أَبُو بَكْرٍ، فَقَالَ: كَيْفَ أَنْتِ يَا بُنَيَّةُ؟ وَقَبَّلَ خَدَّهَا. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت براء رضي الله عنه وايي يو ځل زه د يوي غزا نه حضرت ابوبکر رضي الله عنه سره مديني نه د هغوئ کورته لاړم [۲] نو ګورم چې د هغوئ لور بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها پرته ده او په تبه کې مبتلا ده [۳] نو حضرت ابوبکر رضي الله عنه هغه ته راغلو او پوښتنه يي وکړه څما لوري ستا طبيعت څرنګه دي او هغوئ د شفقت او محبت يا برعايت سنت د هغې مخې ته مچي (ښپه) ورکړله (ابوداؤد)

[۱] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/ کتاب الأدب/باب فی قبلة الخد (رقم-۵۲۲۲)

حل اللغات: - ① مُضْطَجِعَةٌ: ملاسته وه، ② ثُمَّ: تبه، ③ خَدَّهَا: مخ دهغې.

تسهیلات:

قوله: وَقَبَّلَ خَدَّهَا:

د لورہ ښکلولو جواز: د بذل المجهود په حاشیه کښې دی وفی الفتح ۳۲۸/۱۰ یجوز التقبیل الولد الصغیر فی کل عضو منه وکذا الکبیر عند الاکثر مالم یکن عورة وکان ﷺ یقبل فاطمة رضی الله عنها وکذا ابوبکر ابنته عائشة اهـ وبسطت انواع القبلة فی الشامی ۲۴۲/۵.

یعنی د ماشوم بچی هراندام ښکلول جائز دی اودغه شان داکثرو عالمانو پّه نیز د بالغ هم ،خویه دې شرط چې عورت نه وی ځکه چې نبی علیه السلام به بی بی فاطمه رضی الله عنها ښکلوله اودغه شان به ابوبکررضی الله عنه خپله لور عائشه رضی الله عنها ښکلوله اوبه شامی کښې ئې د ښکلولو قسمونه په تفصیل سره بیان کړی دی.

[۳۴۹] اولاد دَ ریحان دَ ګل په شان دي

۳۴۹-[۱۵] (۱) ١ وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - أَنَّ «النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أُتِيَ بِصَبِيٍّ فَقَبَّلَهُ، ٢ فَقَالَ: "أَمَا إِنَّهُمْ مَبْخَلَةٌ مَجْبَنَةٌ، ٣ وَإِنَّهُمْ لَمِنْ رَيْحَانِ اللَّهِ»". رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ"

ترجمه: ١ او بي بي عائشه رضی الله عنها وايي چې يوه ورځ د رسول الله ﷺ په خدمت کې يو بچي راوستل شو حضور ﷺ هغه مچ کې ٢ او وي فرمايل پوهه شئ چې دا اولاد د بخل باعث او د بزدلي سبب دي ٣ ليکن په دي کې هيڅ شك نشته چې اولاد د الله عطا کړده نعمت او رزق هم دي. (شرح السنة)

حل اللغات: - ① مَبْخَلَةٌ: بخل توب، ② مَجْبَنَةٌ: بزدل توب، ③ رَيْحَانِ: خوشبودار ګل.

تسهیلات:

قوله: أَمَا إِنَّهُمْ مَبْخَلَةٌ:

اولاد او بخل: اولادَ بخل ذریعه ده.دَدې مطلب دادې چه کله دَ سړی اولادنه وی نوهغه لاس کولاؤساتی هغه سره دَ څه څیز پرواه نه وی په کولاؤ مټ خرچ کوی خوچه کله دَ چرګودَبچو په شان اولاد پیداشی نوبیا سړې سوچ کوی چه اوس دَ دغه بچودَ پالنې دَپاره پیسه بچ کول اوساتل ضروری دی.دغه شان سړې بخیل شی او په کولاؤ مټ په خپل ذات باندې خرچ نه کوی.[المرقات،۴۶۹/۸]

(۱) اخرجه البغوی فی شرح السنة رقم الحدیث ۳۴۴۸

قوله: مَجْبَنَةٌ، وَإِنَّهُمْ:

اولاد او بزدلی: دَسړی چه کله اولاد نه وی نوهغه په پتو سترګو دَ جنګ میدان ته وردانګی نه دَهغه دَخپل ځان فکروی اونه خپل فکروی خوکه اولاد وی نودا سړې د یرپه احتیاط سره ژوند تیروی اووائی چه روره زما واړه واړه بچی دې زه جنګیدل نه غواړم دغه شان هغه بزدل شی.[المرقات:۸/۴۶۹]

قوله: رَيْحَانِ اللهِ:

په اولاد د ګل د اطلاق وجه: یعنی دَ خوشبودار ګل په شان دا واړه ماشومان ګرځی راګرځی عام طور موریلار بچی پوزې سره لګوی او بوئی کوی ئی.دَ ریحان نه رزق هم مراد اخستې شی یعنی دا دَ الله تعالی دَ طرف نه رزق دې.[المرقات:۸/۴۷۰]

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۴۳] حسنینو څخه د نبی علیه السلام محبت

۳۴۳—[۱۶]()[۱]عَنْ يَعْلَى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ-قَالَ:«إِنَّ حَسَنًا وَحُسَيْنًا-رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا-اسْتَبَقَا إِلَى رَسُولِ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-[۲]فَضَمَّهُمَا إِلَيْهِ،[۳]وَقَالَ:"إِنَّ الْوَلَدَ مَبْخَلَةٌ مَجْبَنَةٌ»".رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [۱]حضرت یعلی ﷺ وایي چې یوه ورځ حضرت حسن ﷺ او حسین ﷺ د یوځای نه په منډه (څغستا) حضور ﷺ ته راغلل [۲]نو حضور ﷺ دواړه غاړې سره ولګولې [۳]و وې فرمایل بچي د بخل سبب دي او د بزدلي باعث دي.(احمد)

حل اللغات:- ① اسْتَبَقَا: په منډه راغلل، ② فَضَمَّهُمَا: نزدې ئې کړل ځان سره، ③ مَبْخَلَةٌ: بخل توب، ④ مَجْبَنَةٌ: بزدل توب.

تسهیلات:

قوله: فَضَمَّهُمَا إِلَيْهِ:

د ماشومانو څخه مینه کول: علماؤ لیکلی دی ، چی دلته دمذکوره الفاظو نه د بچو سره دشفقت اومحبت او دتعریف اظهار مقصود دی، هرکله چی په وروستنی حدیث کی ددې الفاظو په ذریعه دبچو دبدی او کراهت اظهار شوی دی.

[۳۴۴] دې عملونه اود هغې نتائج

۳۴۴—[۱۷]()[۱]وَعَنْ عَطَاءٍ الْخُرَاسَانِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-قَالَ[۲]:«تَصَافَحُوا يَذْهَبِ الْغِلُّ،[۳]وَتَهَادَوْا تَحَابُّوا وَتَذْهَبِ الشَّحْنَاءُ».رَوَاهُ مَالِكٌ مُرْسَلًا.

[1]) اخرجه ابن ماجه فی کتاب الأدب/باب بر الوالد، والإحسان إلی البنات (رقم-۳۶۶۶) واحمد فی المسند:۴/۱۷۲

[2]) اخرجه مالک فی الموطا کتاب حسن الخلق/باب ما جاء فی المهاجرة (رقم-۱۶)

ترجمه: [۱] او د حضرت عطاء خراساني رحمه الله نه روایت دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] په خپلو کې د یو بل سره مصافحه کوئ چې په دي سره بغض او کینیه ځي، [۳] او په خپلو کې یو بل ته هدیه او تحفه لیږئ چې په دي سره محبت زیاتیږي او دښمني ختمیږي امام مالک رحمه الله دا روایت بطریق د ارسال نقل کړي دي.

حل اللغات: - ① الغِلّ: بغض او کینه، ② تَهَادَوْا: یو بل ته هدیه (تحفه) ورکوئ. ③ الشَّحْنَاءُ: په زړه کنبې دننه کینه یعنی دښمنی،

تسهیلات:

قوله: وَتَهَادَوْا تَحَابُّوا وَتَذْهَبِ الشَّحْنَاءُ:

د هدیه ورکولو دوه فائدې: ① د هدیه اوډالې ورکولو دا فائده ده چې په خپل مینځ کنبې مینه محبت پیدا کیږی

② دغه شان که په زړه کنبې څخه کینه او بغض یا عداوت وی نو هغه ختمیږی.

[۳۴۳] په مصافحې کولو سره د ګناه رژیدل

[۴۸] ―۳۴۳ (۱) [۱] وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«مَنْ صَلَّى أَرْبَعًا قَبْلَ الْهَاجِرَةِ، فَكَأَنَّمَا صَلَّاهُنَّ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ، [۳] وَالْمُسْلِمَانِ إِذَا تَصَافَحَا لَمْ يَبْقَ ذَنْبٌ إِلَّا سَقَطَ» ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: [۱] او د حضرت براء ابن عازب رضی الله عنه نه روایت دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] کوم سړي چې ماسپښین (غرمي) نه مخکې څلور رکعاته مونځ وکړو هغه ګویا دا څلور رکعاته په شب قدر کې وکړل [۳] او دوه مسلمانان چې په خپلو کې مصافحه کوي نو د دوارو په منځ کې څه ګناه باقي نه پاتې کیږي بلکې رژیږي دا روایت بیهقي په شعب الایمان کې نقل کړي دي.

حل اللغات: - ① قَبْلَ الْهَاجِرَةِ: د غرمې نه مخکښې، ② سَقَطَ: غورزیږی، رجیږی. ③ ذَنْبٌ، ذنب ګناه ته وائی بعضې عالمان وائی دلته تری مراد بغض او کینه ده

تسهیلات:

د حدیث د بعضې جملو وضاحت: ① مَنْ صَلَّى أَرْبَعًا "أي صلوة الضحى" یعنی د مونځ نه مراد د چاشت مونځ دي.

② قَبْلَ الْهَاجِرَةِ "أي قبل نصف النهار" د نیمې ورځ نه مخکې یعنی کله چه د نمر تیز والې خور شي.

قوله: فَكَأَنَّمَا صَلَّاهُنَّ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ

(۱) اخرجه البیهقی فی شعب الایمان رقم الحدیث ۸۹۵۵

د مذکوره ثواب وجه: دا ده چه ده به د لیله القدر په شپه کښې د مونځ کولو برابر ثواب ملاوشی، ځکه چه دا په سخته گرمی کښې سخت مشقت برداشت کړو او د چاشت مونځ ئې ادا کړو حالانکه په دې وخت کښې خلق دنیوی ضروریاتو کښې مصروف وی.

[۴]بَابُ الْقِيَامِ

تعظیماً د اودریدو بیان

خلاصة الباب:-

فيه اثنا عشر حديثاً مشتملة على سبع مسائل:

① الرخصة في القيام: ١.

② النهي عن الجلوس في مكان مخصوص للغير: ٢، ٣، ٧.

③ عدم القيام لأحد والنهي عنه: ٣، ٥، ۶، ٧.

④ استحباب ترك علامة للراجع إلى المجلس: ٨.

⑤ النهي عن الجلوس بين الإثنين: ٩، ١٠.

⑥ استحباب القيام مع من يريد الذهاب من المجلس: ١١.

⑦ الفسح للجائي إلى المجلس: ٢، ١٢.

د قیام څخه مراد: قیام د اودریدو په معنی کښې دې لیکن دلته د مطلق اودریدو خبره نه ده بلکه د یوراتلونکی په وړاندې د تعظیم د پاره احتراماً د اودریدلو بیان دې.

د چا د استقبال دپاره د اودریدو په حکم کښې (۲) مذاهب:

د چا د تعظیم او احترام د پاره اودریدو کښې د احادیثو ،روایاتو او واقعاتو په مینځ کښې د تعارض په وجه د علماؤ په مینځ کښې اختلاف راغلې دې

① دابن الحاج وغیره په نیز د یوسړی په راتګ باندې د احترام اواکرام په توګه باندې اودریدل جائزنه دی.

② د چا د پاره احتراماً اودریدل جائز دی.

داول ډلې دلائل: ① عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: «لَمْ يَكُنْ شَخْصٌ أَحَبَّ إِلَيْهِمْ مِنْ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -، وَكَانُوا إِذَا رَأَوْهُ لَمْ يَقُومُوا، لِمَا يَعْلَمُونَ مِنْ كَرَاهِيَتِهِ لِذَلِكَ». (۱)

② عَنْ مُعَاوِيَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " «مَنْ سَرَّهُ

(۱) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى كراهية قيام الرجل للرجل (رقم- ۲۷۵٤)

أَنْ يَتَمَثَّلَ لَهُ الرِّجَالُ قِيَامًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ»"(¹)

② عَنْ أَبِي أُمَامَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مُتَّكِئًا عَلَى عَصًا، فَقُمْنَا لَهُ فَقَالَ: "لَا تَقُومُوا كَمَا يَقُومُ الْأَعَاجِمُ يُعَظِّمُ بَعْضُهُمْ بَعْضًا»"(²)

استدلال: په دې احاديثو كښې د چا د تعظيم دپاره په اودريدو كښې سخت وعيدونه دي او دا د اعاجم كفارو اغيارو طريقه گرځولو سره منع كړې شوې ده.

د اول فريق د دلائلو جواب: د نهى عن القيام احاديث د دې وجې راغلي دي چې نبى عليه السلام د عجميانو په طرز باندې د قيام نه منع فرمائيلې ده اوهغه يقينًا منع دى خكه چه په دې كښې لوئى سړې په مجلس كښې ناست وى تركومې چه هغه ناست وى باقى خلق د هغه په تعظيم كښې ولاړوى بلكه هغوى د اودريدو پابند وى هغوى په خپله مرضئى سره كيناستې نه شي. اومجلس وديره به دا غوښتل بلكه حكم به نى وركولو. د داسې قيام په حرمت اوبدعت كيدوكښې څه شك دې؟ داخود تولو په نيزحرام دى. خوكه د يوصاحب فضل اوبزرگ سړى د پاره محض د احترام اودينى محبت په بنياد باندې اودريږى اوهغه عالم فاضل سړې دغه قيام خوښوى هم نه نود جمهور علماؤ په دې باندې اتفاق دې چه داسې اودريدل جائزدى.

د دويم فريق دلائل: ① عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: «لَمَّا نَزَلَتْ بَنُو قُرَيْظَةَ عَلَى حُكْمِ سَعْدٍ، بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِلَيْهِ، وَكَانَ قَرِيبًا مِنْهُ، فَجَاءَ عَلَى حِمَارٍ، فَلَمَّا دَنَا مِنَ الْمَسْجِدِ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لِلْأَنْصَارِ: " قُومُوا إِلَى سَيِّدِكُمْ»"(³)

كوم علماء چه دې قيام ته جائز وائى هغوى د حضرت سعد رضي الله عنه د حديث نمبر (۴۶۹۵) نه استدلال كوى

په دې حديث كښې د "قوموالى سيدكم" الفاظ راغلى دى. د دې څخه اودريدل ثابتيږى.

② عَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: «مَا رَأَيْتُ أَحَدًا كَانَ أَشْبَهَ سَمْتًا وَهَدْيًا وَدَلًّا. وَفِي رِوَايَةٍ: حَدِيثًا وَكَلَامًا بِرَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِنْ فَاطِمَةَ، كَانَتْ إِذَا دَخَلَتْ عَلَيْهِ

¹) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأدب/باب فى قيام الرجل للرجل (رقم-۵۲۲۹) والترمذى فى كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى كراهية قيام الرجل للرجل (رقم-۲۷۵۵)واحمد فى المسند: ۴/۱۰۰

²) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأدب/باب فى قيام الرجل للرجل (رقم-۵۲۳۰) وابن ماجه فى كتاب الدعاء /باب دعاء رسول الله صلى الله عليه وسلم (رقم-۳۸۳۶)

³) اخرجه البخارى فى كتاب المغازى/باب مرجع النبى صلى الله عليه وسلم من الأحزاب، ومخرجه إلى بنى قريظة ومحاصرته إياهم (رقم-۴۱۲۱) ومسلم فى كتاب الجهاد والسير/باب جواز قتال من نقض العهد، وجواز إنزال أهل الحصن على حكم حاكم عدل أهل للحكم (رقم-۶۴ - (۱۷۶۸))واحمد فى المسند: ۳/۷۱

قَامَ إِلَيْهَا.(¹)

③ دَحضرت عکرمه ﷛ په راتگ باندې حضورپاك اودریدلې وو

④ دَحضرت عدی ﷛ په راتگ باندې حضورپاك اودریدلې وو

دهویم فریق د دلائلو جواب: دَحضرت سعد ﷛ واقعه دَهغه په مجبورئی باندې حمل کوی چه هغه زخمی وو دَ خپلې سورلئی نه پخپله نه شو کوزیدې په دې وجه حضورپاك اوفرمائیل "قوموالی سیدکم" یعنی دَ ده دَامداد دَپاره اودریږئی که دَاحترام اوتعظیم خبره وې نو حضورپاك به "قوموالسیدکم" فرمائیل.باقی دَحضرت عکرمه ﷛ اوحضرت عدی ﷛ روایات سخت ضعیف دی.

النصائح خیره: ① علامه طیبی ﷫ اومحی السنة لیکلی دی چه صلحاؤ علماؤ اوبزرگانواولیاء کرامودَپاره دَ دینی محبت په بنیادباندې اودریدل جائزدی.[الکاشف:۹/۴۹]

② مطالب المؤمنین: دَ قنیه په حوالې سره نقل کړی دی چه کوم سړې پخپله قیام غواړی نودَغه خان خوښئی دَ وجې نه دَهغه دَپاره قیام مکروه دې لیکن چه کوم سړې صاحب احترام وی اوهغه قیام غواړی هم نه نودَهغه دَپاره به اودریدل مکروه نه وی.

③ قاضی عیاض مالکی ﷫ لیکی چه په احادیثوکښې دَممنوعه قیام نه هغه قیام مرادې چه عجمی خلقو به کولو چه دَ ناست سړی په احترام کښې به څه خلق تر آخره پورې ولاړ وو اوهغوی به دَدې پابندوو دا مکروه اوممنوع دې.[المرقات:۸/۴۷۴]

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[٤٦٩٥] دَحضرت سعد ﷛ دَپاره دَمجلس والوپاسیدل

[١] (²) [١] عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: «لَمَّا نَزَلَتْ بَنُو قُرَيْظَةَ عَلَى حُكْمِ سَعْدٍ، [٢] بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِلَيْهِ، وَكَانَ قَرِيبًا مِنْهُ، [٣] فَجَاءَ عَلَى حِمَارٍ، فَلَمَّا دَنَا مِنَ الْمَسْجِدِ، [٤] قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لِلْأَنْصَارِ: "قُومُوا إِلَى سَيِّدِكُمْ"». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [٥] وَمَعْنَى الْحَدِيثِ بِطُولِهِ فِي "بَابِ حُكْمِ الْإِسَرَاءِ".

ترجمه: [١] حضرت ابوسعید خدري ﷛ وايي کوم وخت چې بنو قریظه د حضرت سعد ﷛ حکم او ثالث جوړیدو باندې را خکته شو [٢] نو رسول الله ﷺ یو سړي حضور ﷺ په

¹) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب ما جاء فی القیام (رقم-۵۲۱۷) والترمذی فی کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی فضل فاطمة رضی الله عنها (رقم-۳۸۷۲)

²) اخرجه البخاری فی کتاب المغازی/باب مرجع النبی صلی الله علیه وسلم من الأحزاب، ومخرجه إلی بنی قریظة ومحاصرته إیاهم (رقم-۴۱۲۱) ومسلم فی کتاب الجهاد والسیر/باب جواز قتال من نقض العهد، وجواز إنزال أهل الحصن علی حکم حاکم عدل أهل للحکم (رقم-۶۴ - (۱۷۶۸))واحمد فی المسند: ۷۱/۳

سعد رضي الله عنه پسي ولیږلو چې هغه راولي او هغه په راتلو سره د بنو قریظه مطالبه فیصله کړي ، هغه وخت حضرت سعد رضي الله عنه د حضور ﷺ قیامګاه ته نزدې تشریف فرماوو [۳] هغه په خرباندې سوریدو سره راغلواو کوم وخت چې مسجد ته نزدې را ورسیدي [۴] نو رسول الله ﷺ «د هغه په لیدو سره» وفرمایل اې انصارو! تاسو خپل سردار د پاره ودریږئ «بخاري ، مسلم» [۵] او دا حدیث په پوره تفصیل سره د قیدیانو په باب کې تیر شوي دي.

[۳۳۳] څوک دَهغه دَ ځائی نه پاسول او پخپله د کیناستلو حرمت

٤٤٤٤-[۲] (١) [١] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [٢] " «لَا يُقِيمُ الرَّجُلُ الرَّجُلَ مِنْ مَجْلِسِهِ ثُمَّ يَجْلِسُ فِيهِ، [٣] وَلٰكِنْ تَفَسَّحُوا وَتَوَسَّعُوا» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او حضرت ابن عمر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمایل [٢] داسې کول نه دي پکار چې یو سړي په کوم ځاي کې ناست وي بل سړي یې د هغه ځاي نه ولاړولو سره خپله هلته کیني [٣] البته د ناستې ځاي خلاص ساتئ او راتلونکي ته ځاي ورکوئ چې د چا د اودریدو حاجت پاتې نشي. «بخاري ، مسلم»

حل اللغات:- ① تَفَسَّحُوا: فراخې راولئ، ② تَوَسَّعُوا: ځائې و رکړئ یوبل له.

تسهیلات:

قوله: وَلٰكِنْ تَفَسَّحُوا وَتَوَسَّعُوا:

تقدیری عبارت: بعضې حضراتو فرمائیلي دي چه د "ولكن تفسحوا وتوسعوا" اصل عبارت داسې دي "ولكن ليقل تفسحوا وتوسعوا" په دې صورت کښې به ترجمه دا شي چه دهٔ له دا وئیل پکار وو چه کولاو کینئ او راتلونکی خلقو ته ځائې ورکړئ. (مرقات ج۹، ص۸۴)

د مذکوره جملې مفهوم: دا تاکید دي "ومعناه لا تتضاموا بل يقرب بعضكم من بعض ليتسع المجلس" چه بالکل جوخت او یوځی مه کینئ بلکه یو بل ته نیزدی نیزدی شئ چه مجلس کښې وسعت پیدا شي او نورو خلقو ته هم د ناستې ځائې ملاو شي. لقوله تعالی: يآيها الذين أمنوا اذا قيل لكم تفسحوا في المجالس فافسحوا يفسح الله لكم. (مجادله: ۱۱)

د بل چا د پاسولو او خپله دهغه په ځائې کښې د کیناستلو حکم: امام نووی رحمه الله فرمائی چه په حدیث کښې مذکوره ممانعت د نهی تحریمی په توګه دې چه د کوم مطلب دا دې چه کوم کس جمعه یا اخترونو کښې مخکې راشي او کینې نو ددې ځائې حقدار هم دغه کس دې او بل کس له ددې پاخول حرام دی

---

(١) اخرجه البخارى فى كتاب الاستئذان/باب: لا يقيم الرجل الرجل من مجلسه (رقم-٦٢٦٩) ومسلم فى كتاب السلام/باب تحريم إقامة الإنسان من موضعه المباح الذى سبق إليه(رقم-٢٨ - (٢١٧٧)والترمذى فى كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب كراهية أن يقام الرجل من مجلسه ثم يجلس فيه (رقم-٢٧٤٩) واحمد فى المسند:١٧/٢

استثنائی صورت: بعضی حضراتو ددې ممانعت نه یو څو مواقع مستثنی کړی دی په هغې کښې بعضې دا دی.

کوم کس چه په مسجد کښې یو خاص ځائی کښې کینی او فتوی ورکوی یا د قرآن تعلیم ورکوی نو په داسی صورت کښې هغه کس ددې ځائی ډیر حقدار دې. ملا علی قاری رحمه الله فرمائی چه دا خبره محل غور ده ځکه چه په حدیث مبارک کښې راځی چه کوم کس په مسجد کښې ځان دپاره یو ځائی خاص کوی نو په دې کښې د ریا کاری شبه ده کوم چه د اخلاص منافی ده. (مرقات ج۹، ص۱۷۴)

[۳۹۷] دَمجلس نه دَ څه وخت دَپاره دَ پاسیدو نکی دَ ځائی حکم

۳۹۷۰-[۳] ()[۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: "[۲] «مَنْ قَامَ مِنْ مَجْلِسِهِ ثُمَّ رَجَعَ إِلَيْهِ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه:[۱] او د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] کوم سړي چې د خپل ځای نه اودریدو سره لاړ شي او بیا هغه ځایٔ ته واپس را شي نو د هغه ځاي زیات حقدار به هغه وي. (مسلم)

تسهیلات:

قوله: ثُمَّ رَجَعَ إِلَيْهِ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ:

په خپل ځائې د واپس کیناستو په حکم کښې دوه صورتونه:① که یوسړي دَ مجلس نه دَڅه وخت دَپاره پاسیدو لاړو که هغه په خپل ځائی باندې خپله څه نښه کیخوده یا زر واپس شو نو داسړي دَخپل ځائی دَ ټولونه زیات مستحق اوحقدار دې

② که داسړي دَ ډیروخت پورې رانغلواودهغه په ځائی باندې بل څوك کیناستو نواوس دَهغه حق باقی پاتې نه شو. دغه شان که یوسړی ځائی ګیر کړو او په هغې باندې ئې څادر وغیره کیخودوخود اوږدوخت دَپاره دَ هغه ځائی نه غیب پاتې شو نوبیابه هم دَهغه دغه ځائی دَهغه دَ لاس نه اوځی سره دَدې چه هغه نښه کیخودې وه.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۳۹۸] د نبی علیه السلام دَخپل ځان دَپاره د اودریدو بد ګڼڼل

۳۹۸-[۴] ()[۱] عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: «لَمْ يَكُنْ شَخْصٌ أَحَبَّ إِلَيْهِمْ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] وَكَانُوا إِذَا رَأَوْهُ لَمْ يَقُومُوا، لِمَا يَعْلَمُونَ مِنْ كَرَاهِيَتِهِ لِذَلِكَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا

[1] اخرجه مسلم فی کتاب السلام/باب تحریم إقامة الإنسان من موضعه المباح الذی سبق إلیه(رقم) ۲۷ - (۲۱۷۷) والترمذی فی کتاب الأدب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء إذا قام الرجل من مجلسه ثم رجع إلیه فهو أحق به (رقم-۲۷۵۱) وابن ماجه فی کتاب الأدب/باب من قام عن مجلس فرجع فهو أحق به (رقم-۳۷۱۷)

[2] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الأدب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی کراهية قيام الرجل للرجل (رقم-۲۷۵٤)

حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

ترجمه: [۱] حضرت انس رضي الله عنه وايي د صحابه رضي الله عنهم په نز د رسول الله ﷺ نه زيات محبوب او عزيز هيڅ بل سړي نه وو [۲] ليكن (د دې محبت او تعلق باوجود) صحابه رضي الله عنهم چې به د حضور ﷺ ليدې نو پاڅيدل به نه ځكه چې هغوئ پوهيدل چې حضور ﷺ دا پاڅيدل نه خوښوي دا روايت ترمذي نقل كړې دې او ويلي يي دي چې دا حديث صحيح دې

تسهيلات:

قوله: لِمَا يَعْلَمُونَ مِنْ كَرَاهِيَتِهِ لِذٰلِكَ:

د نبى عليه السلام د بد گڼلو دوه وجوهات: ① د نبى عليه السلام د اودريدو بد گڼل د "سدالذرائع" د قبيلې څه وو. كه چرې حضورپاك دې قيام ته رواج وركړې وې نومعلومه نه ده چه خبره به دچرته نه چرته رسيدلې وه.

② د نبى عليه السلام دخپل ځان دپاره قيام خوښ نه كړو داد حضورپاك كمال انكسارى اوتوضع وه

خلاصه دا چې مختلف اوقاتو اومقاماتو اومختلف حالاتو ته به كتلې كيږى چه په كومو صورتونو كښې دقيام ممانعت دې او په كومو صورتونوكښې اباحت دې تفصيل وړاندې تيرشوې دې.

[۳۳] خلق خپلې مخې ته د اودرولو باره كښې وعيد

۳۳—[۵] ()[۱] وَعَنْ مُعَاوِيَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "[۲] «مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَتَمَثَّلَ لَهُ الرِّجَالُ قِيَامًا [۳] فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ» " رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت معاويه رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] كوم سړي چې دا خبره خوښوي چې خلق د هغه مخې ته سيدها ولاړ وي [۳] نو هغه ته پكار دي چې هغه د خپلې ناستې ځاى په دوزخ كې تيار كړي .(ترمذي ابوداود)

حل اللغات:- ① سَرَّهُ: خوښوى ئې، ② يَتَمَثَّلَ: بتان شى يعنى نيغ اودريږى، ③ مَقْعَدَهُ: د ناستې ځائې،

تسهيلات:

قوله: فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ:

په جهنم كښې د ځائې جوړلو په مفهوم كښې دوه اقوال: ① يعنى كوم سړې چه د خپل ځان دپاره دا خوښوى چه خلق د هغه مخكښې د تصوير په شكل باندې اودريږى نو هغه دې

---

[1] اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأدب/باب فى قيام الرجل للرجل (رقم-٥٢٢٩) والترمذى فى كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى كراهية قيام الرجل للرجل (رقم-٢٧٥٥)واحمد فى المسند: ١٠٠/٤

خپله استوګنه په جهنم کښې جوړه کړي يعنى هغه دې دا اوګڼي چه د هغه استوګنه په جهنم کښې ده،

⑦ يعنى هغه جهنم ته په خپله استوګنه کښې داخل شو، په يو حديث کښې دا دي چه الله پاک د هر چا دپاره دوه دوه استوګنې جوړې کړې دي يو په جنت کښې او يو په دوزخ کښې، که هغه سړې دنيا ته د راتلو نه پس مسلمان وي يا کافر جوړ شي، په کفارو باندې د حجت قائمولو دپاره چه هسې نه هغوى داسې اوائي چه يا الله تا زمونږ د شروع نه په جنت کښې څه حصه نه وه کيخودله.

[۲۷۰] د نبى عليه السلام خپل ځان دپاره د اودريدو صحابؤ له منع کول

۲۷۰۳ - [۶] ()[۱] وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: «خَرَجَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مُتَّكِئًا عَلَى عَصًا،[۲] فَقُمْنَا لَهُ[۳] فَقَالَ: "لَا تَقُومُوا كَمَا يَقُومُ الْأَعَاجِمُ يُعَظِّمُ بَعْضُهُمْ بَعْضًا"». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه:[۱] او حضرت ابو امامه ﷺ وايي چې يوه ورځ رسول الله ﷺ عصاء مبارکه باندې سهاره کولو سره بهر تشريف راوړو[۲] نو مونږ د حضور ﷺ په احترام کې ودريدو [۳] حضور ﷺ وفرمايل تاسو خلق داسې مه دريږئ څرنګه چې عجمي خلق دريږي چې په هغوئ کې بعضې د بعضو تعظيم کوي .(ابوداؤد)

تسهيلات:

قوله: لَا تَقُومُوا كَمَا يَقُومُ الْأَعَاجِمُ يُعَظِّمُ بَعْضُهُمْ بَعْضًا:

د چا د تعظيم دپاره د قيام د عدم جواز دليل: دا حديث د قول اول مستدل دې چه د عجمي خلقو دا طريقه وه چه کله به ئې يو سردار يا لوئې کس اوليدلو نو اودريدل به او بيا به د هغه مخې ته د ادب په توګه لاس ترلې ولاړ وو. او دلته د حديث نه د مطلقًا قيام ممنوع کيدل ثابتيږي بلکه هغه قيام ممنوع دې کوم چه د شان وشوکت د اظهار او د تکبر دپاره وي يا نبى کريم ﷺ د دې وجهې نه منع کړې وي چه کيدې شي چه صحابه کرام د نبى کريم ﷺ په مخکې بلکل نيغ ولاړ وو په کوم کښې چه د زمانه جاهليت سره مشابهت وي ځکه ئې منع وفرمائيله.

[۲۷۱] د ابوبکره د بل په خالي کښې د کيناستو څخه انکار

۲۷۰۴ - [۷] ()[۱] وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي الْحَسَنِ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: [۲] جَاءَنَا أَبُو بَكْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فِي شَهَادَةٍ، [۳] فَقَامَ لَهُ رَجُلٌ مِنْ مَجْلِسِهِ، فَأَبَى أَنْ يَجْلِسَ فِيهِ[۴] وَقَالَ: إِنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - نَهَى عَنْ ذَا،[۵] وَنَهَى النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنْ يَمْسَحَ الرَّجُلُ يَدَهُ بِثَوْبِ مَنْ لَمْ يَكْسُهُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

---

[۱] اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأدب/باب فى قيام الرجل للرجل (رقم-۵۲۳۰) وابن ماجه فى كتاب الدعاء/باب دعاء رسول الله صلى الله عليه وسلم (رقم-۳۸۳۶)

[۲] اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأدب/باب فى الرجل يقوم للرجل من مجلسه (رقم-۴۸۲۷) واحمد فى المسند:۵/۴۴

ترجمه: [۱] او حضرت سعید ابن ابي الحسن رحمه الله چي يو جليل القدر او ثقه تابعي او د حضرت حسن بصري رحمه الله ورور دي دی وايي [۲] يوه ورځ حضرت ابوبكره صحابي مونږ ته يوه داسي مقدمه کښ شاهدی د پاره تشريف راورو (چي په هغه کښ شاهد وو) [۳] يو سړي د هغه په احترام کښ خپل ځاي پريخودي ودريدلو (چي هغه په هغه ځاي کيني) ليکن هغه هلته دناستي نه انکار وکړو [۴] او وي فرمايل رسول الله ﷺ د دې نه منع فرمايلي ده يعنی حضور ﷺ په هغه ځاي ناستي نه منع فرمايلي ده چيرته چي يو سړي د مخکښ نه ناست وي او عارضي طور سره هغه ځاي نه ولاړ شوي وي [۵] او حضور ﷺ د دې نه هم منع فرمايلي ده چي يو سړي د داسي سړي کپړي سره خپل لاس پاك کړي چي هغه ورته کپړه نه ده اغوستي يعنی دبل په مال کښ بي اجازته تصرف وکړي. (ابوداؤد)

تسهیلات:

قوله: فَأَبَى أَنْ يَجْلِسَ فِيهِ:

دابوبکره دانکار وجه: حضرت ابوبکره رضی الله عنه ځکه انکاراوکړو چه کيدې شی چه هغه سړي د زړه نه خوشحاله نه وو صرف دَ رعايت دَ وجې نه اودريدو اوځائی ئی پريخودو يا حضرت ابوبکر رضی الله عنه دَ تقویٰ او دَ احتياط په بنيادباندې داسې اوکړل يابه څه بل څه عارضی وجه وی ځکه چه دادَ عدالت اومحکمه عدالت ماحول وو. [المرقات، ۸/۴۷۷]

[۴۷۰۲] مجلس ته د واپس راتللو په صورت کښي د نښي کيخودل

۴۷۰۲—[۸] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا جَلَسَ وَجَلَسْنَا حَوْلَهُ [۲] فَقَامَ، فَأَرَادَ الرُّجُوعَ، نَزَعَ نَعْلَهُ أَوْ بَعْضَ مَا يَكُونُ عَلَيْهِ، [۳] فَيَعْرِفُ ذَلِكَ أَصْحَابُهُ فَيَثْبُتُونَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابودرداء رضی الله عنه وايي رسول الله ﷺ چي به تشريف راوړو مونږ به خيني چاپيره کينستو [۲] او بيابه حضور ﷺ د واپس راتلو ارادي سره (کورته تلو د پاره) پاڅيدلو نو خپل ځاي باندې به يې څپلی کيخودلي او خپې آبلې پښي به تلی يا په خپل بدن باندې به يې څه شي وولکه پټو وغيره هغه به يې په هغه ځاي پريخودي [۳] په دې سره به د حضور ﷺ صحابه رضی الله عنهم پوهه شول چي حضور ﷺ به بيا مجلس ته راځي نو هغوئ به په خپل خپل ځاي ناست وه (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① نَزَعَ: اوئي باسله. ② فَيَثْبُتُونَ: په خپل ځائي ناست پاتي کيدل

(۱) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأدب/باب إذا قام الرجل من مجلس ثم رجع (رقم-۴۸۵۴)

تسهیلات:

قوله: وَجَلَسْنَا حَوْلَهُ:

د حوله څخه مراد: ددې نه مراد د نبی کریم ﷺ نبی طرف، گس طرف ته او مخامخ کیناستل مراد دی، د نبی کریم ﷺ ورستو کیناستل مراد نه دی څکه چه په دې صورت کښې د حلقې په مینځ کښې کیناستل لازمیږی او ددې نه ممانعت راغلې دې.

قوله: نَزَعَ نَعْلَهُ:

د خپه ابله گرځیدو حکم: امام طیبی رحمه الله فرمائی چه ددې نه دا معلومیږی چه نبی کریم ﷺ به خپې ابله گرځیدلو او صحابه کرامو ته به ئی هم بنپې ابله گرځیدلو حکم ورکولو. ملا علی قاری رحمه الله فرمائی چه په دې کښې هیڅ بعد نشته چه نبی کریم ﷺ خپې ابله د نورو خلقو کورنو ته هم تلو. (مرقات)

[۴۷۰۳] دَدوو کسانو په مینځ کښې د کیناستو ممانعت

۴۷۰۳-[۹] ()[1] ۱ وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- عَنْ رَسُولِ اللَّهِ- صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: " ۲ «لَا يَحِلُّ لِرَجُلٍ أَنْ يُفَرِّقَ بَيْنَ اثْنَيْنِ إِلَّا بِإِذْنِهِمَا» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ او حضرت عبد الله ابن عمرو رضی الله عنهما د رسول الله ﷺ نه نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمایل ۲ د هیڅ سړي د پاره دا حلال نه دي چې د دوو ناستو سړو په منځ کې د هغوئ د اجازي نه بغیر جدایي واچوي. (ترمذي ابوداود)

تسهیلات:

قوله: أَنْ يُفَرِّقَ بَيْنَ اثْنَيْنِ إِلَّا بِإِذْنِهِمَا:

د تفریق په مفهوم کښې دوه اقوال: ① بعضې علماؤ دَ تفریق نه دَ دوو سړو په مینځ کښې نفاق او تفرقه پیداکول مراد اخستې دی. بیا خوبه مطلب ډیرواضح شی. راتلونکی حدیث کښې دی که چرې دا دواړه ملگری اجازت ورکوی نوبیا دَ چا په مینځ کښې دَ چا کیناستل جائز دی. بهرحال دَدې قسم احادیثو تعلق دَ ازدحام حالت سره دې.

② چې دوه ملگری په خپل مینځ کښې ناست دی په دې کښې. دریم سړې راشی او دَهغوی په مینځ کښې ورننوځی کینی اوپه دواړو کښې جدائی اوکړی دامنع ده. څکه چه ممکن ده چه هغوی دواړه خپل مینځ کښې څه ضروری خبره کوی یا هسې هغوی ویریږی یا بل څه ترجیحی وجه موجود وی. که داسې څه مجبوری نه وی نوبیا په داسې کیناستوکښې څه بدیت نشته دې.

[1]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب فی الرجل یجلس بین الرجلین بغیر إذنهما (رقم-۴۸۴۵) والترمذی فی السنن رقم الحدیث ۲۷۵۲ واحمد فی المسند ۲/ ۲۱۳

[۴۷۰۴] د دوو کسانو په مينځ کښې د کيناستو څخه ممانعت

۴۷۰۴-[۱۰] (¹) [۱] وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ [۲] أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: " «لَا تَجْلِسْ بَيْنَ رَجُلَيْنِ إِلَّا بِإِذْنِهِمَا» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت عمرو ابن شعيب رحمه الله د خپل پلار نه او هغه نيکه دادا نه نقل کوي [۲] چې رسول الله ﷺ وفرمايل د مخکې نه ناست د دوو سړو په منځ کې مه کينه خو دا چې د هغوئ اجازت حاصله شي. (ابو داؤد)

تسهيلات:

نوټ: د دې حديث پشان مضمون وړاندې حديث نمبر ۴۷۰۳ کښې تيرشوشرح ئې هم هلته اوګوره.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۴۷۰۵] د مجلس په ختميدو د قيام جواز

۴۷۰۵-[۱۱] (²) [۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَجْلِسُ مَعَنَا فِي الْمَسْجِدِ يُحَدِّثُنَا [۲] فَإِذَا قَامَ قُمْنَا قِيَامًا حَتَّى نَرَاهُ قَدْ دَخَلَ بَعْضَ بُيُوتِ أَزْوَاجِهِ».

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ به زمونږ سره مسجد کې ناست وو خبرې يې کولو [۲] بيا چې مجلس نه به ولاړ شو نو مونږ به هم ودريدو او ډير وخته پورې به ولاړ وو تردې چې مونږ به وليدی چې حضور ﷺ خپلو بيبيانو مبارکو کې د يوې بي بي مبارکې کورته تشريف يووړې.

تسهيلات: قوله: قُمْنَا قِيَامًا

د مجلس څخه په فراغت او دريدل: د دې قيام تعلق هغه قيام سره نه دې د کوم ممانعت چه راغلې دې بلکه دلته قيام د دې د پاره اوکړې شو چه مجلس ختم شو. لهذا اوس د کيناستو څه مقصد نه وو نو د تللو د پاره اودريدل. ليکن د قيام په حالت کښې به صحابه کرامو څه انتظار کولو خکه چه کيدې شي چه حضور پاک بيا مجلس ته راشي يا هغوی ته بل څه ضرورت راپيښيږي په دې وجه به صحابه کرامو لږ انتظار کولو. [المرقات، ۸/۳۷۹]

[۴۷۰۶] مجلس ته د راتلونکي سړي خاطر مدارات کول

۴۷۰۶-[۱۲] (³) [۱] وَعَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْخَطَّابِ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «دَخَلَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ قَاعِدٌ [۳] فَتَزَحْزَحَ لَهُ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ الرَّجُلُ: يَا رَسُولَ

¹) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأدب/باب فى ال رجل يجلس بين الرجلين بغير إذنهما (رقم-٤٨٤٤)
²) اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ٨٩٣٠
³) اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ٨٩٣٣

اللّٰهِ! إِنَّ فِي الْمَكَانِ سَعَةً [۴] فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - "إِنَّ لِلْمُسْلِمِ لَحَقًّا إِذَا رَآهُ أَخُوهُ أَنْ يَتَزَحْزَحَ لَهُ»". رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه: [۱] او حضرت واثله ابن خطاب رضی الله عنه وايي [۲] يوه ورځ د رسول الله ﷺ په خدمت کې يو سړي حاضر شو هرکله چې رسول الله ﷺ مسجد کې تشريف فرماوو [۳] رسول الله ﷺ هغه سړي ته ځاي ورکولو د پاره خپل ځاي نه حرکت وکړو او يو طرف ته شو هغه سړي عرض وکړو يارسول الله! په مکان کې د ناستي ځاي کافي فراخه او کشاده دي (زه به چيرته کينم تاسو ﷺ زما د پاره د خپل ځاي نه د ښوريدو زحمت مکوئ) [۴] رسول الله ﷺ ورته وفرمايل دا د مسلمان حق دي چې هرکله هغه يو مسلمان ورور مجلس ته يا هغه ته راتلونکې ويني نو د ځاي د فراخي او تنګي نه قطع نظر کولو سره هغه د پاره خپل ځاي پريږدي او يو طرف ته وښوري (يعني د راتلونکي د پاره د خپل ځاي نه حرکت کول او ښوريدل دراصل د هغه اکرام او اعزازدی ، اويو مسلمان خپل دويم مسلمان ورورباندی دهغه اکرام او اعزاز په ځای کولو ورباندی حق لری) دا دواړه روايتونه بيهقي رحمه الله په شعب الايمان کې نقل کړي دي .

حل اللغات: - ① فَتَزَحْزَحَ: لږ شان اوخوزيدو (دخپل ځائي نه).

تسهيلات:

قوله: يَتَزَحْزَحَ:

مجلس ته د راتلونکي کس قدر کول: يعنی دَ راتلونکی سړی دَپاره حضورپاك دَخپل ځائی نه لږ شان اوخوزيدو هغه سړی اووئيل يارسول الله ځائی شته تاسو مه خوزيږئی. په دې باندې حضورپاك ارشاد اوفرمائيلو چه دَ يونوی راتلونکی مسلمان داحق دې چه دَ مجلس رونړه دَهغه په کتو سره لږ شان اوخوزيږی په دې کښې يوخو ښه تهذيب دې بل دا چه دَهغه سړی مجلس ته په راتلوباندې اهميت ورکول دی په کوم سره چه به هغه ډيرخوشحال شی چه دغه خلقو زما راتګ بوج اونه ګڼړلو بلکه ماته ئی اهميت راکړو دې سره مينه زياتيږی. [المرقات: ۸/۴۸۰]

[۵] بَابُ الْجُلُوسِ وَالنَّوْمِ وَالْمَشْيِ

دَ کیناستو سملاستو او تلو بیان

خلاصة الباب:-

فيه اربعة وعشرون حديثاً مشتملة على سبع مسائل:

① هيئات جلوس النبي ﷺ: ۱، ۷، ۸، ۹.

② هيئات إضطجاع النبي ﷺ و موضع الإضطجاع: ۲، ۶، ۱۰، ۱۱.

③ النهي عن بعض الإضطجاع: ۳، ۴، ۱۲، ۱۳، ۲۳، ۲۴.

④ الزجر على بعض أقسام المشي: ۵، ۲۰، ۲۱.

⑤ النهي عن النوم في بعض الأمكنة: ۱۴، ۱۵.

⑥ النهي عن بعض أقسام الجلوس: ۱۶، ۱۸، ۱۹.

⑦ أفضيلة بعض المجالس: ۱۷، ۲۲.

د عنوان مناسبت ترتیب: دلته په ذکر شوی ترتیب سره د دې درې څیزونو ذکر د اکثر عادت موافق دې څکه چه انسان د خوراك وغیره طرف ته پاڅی او ورځی

دنوم تعریف: په اعصابوچې کومه استرخاء راځی ددې استرخاء اعصاب په وجه چه په قوت دراکه کښې چې کوم فترة او ضعف راشی هغې ته نوم وائی. (كما فى الاشعة ۳۳/۴)

د اسلام ښکلې ژوند: اسلام چونکه کامل مکمل بلکه اکمل ضابطه حیات دې په دې وجه دې دَ انسانی ژوندون دَ هرې شعبې کفالت کوی. هم په دې سلسله کښې اسلام خپلو منونکو ته دَ اوده کیدو پاسیدو تلو راتلو اوناستې ولاړې طریقه ښائی که یو سړې په معاشرتی ژوند کښې راتلونکودې څیزونو کښې دَ شریعت نه رهنمائی نه حاصلوی نولامحاله دَنورو قومونو په تقلید کولو کښې به ورکیدوسره ګمراه شی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۴۷۰۶] داحتباء په صورت کښې د کیناستو جواز

۴۷۰۶-[۱] (۱) [۱] عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا-قَالَ: [۲] «رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ بِفِنَاءِ الْكَعْبَةِ مُحْتَبِيًا بِيَدَيْهِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت ابن عمر رضي الله عنهما وایې [۲] چې ما رسول الله ﷺ د خانه کعبې په صحن کې د خپلو لاسونو په ذریعه په پښو ناست لیدلي دي. (بخاري)

---

[۱] اخرجه البخاري فى كتاب الاستئذان/بباب الاحتباء باليد، وهو القرفصاء (رقم-۶۲۷۲)

حل اللغات: - ① فِنَاء: صحن. ② مُحْتَبِيًا: راتول کيناستل چه زنګنونه ولاړوی او لاسونه ئې دخپو نه راتاؤ کړی وی.

تسهيلات: قوله: مُحْتَبِيًا.

د احتباء تعريف: چه دَ سړی مقعد په زمکه باندې وی او زنګونونه ئی ولاړوی مخ سره نيزدې وی اودواړه لاسونه يا څه پټئی يا څادر دَ زنګونونونه راتاؤ کړې دی کيناستوته احتباء وائی. په حديث کښې صرف دَ دوؤ لاسونوسره دَ احتباء ذکرکړې شوې دې ليکن دَ احتباء صورت عام دې که هغه په لاسونوسره وی اوکه په کپړې سره وی.

د احتباء دوه صورتونه اودهريو حکم: ① که چرته چاسره پرتوګ او پاجامه وی نو په دې صورت کښې ستر پرده نه ښکاره کيږی او احتباء جائزيا مستحب ده.

② که چا سره پرتوګ اوپاجامه نه وی بلکه دَ احرام دوه څادرې وی يا لنګ وی او په دې کښې سړې دَ احتباء په شکل کښې کينی نو په دې کښې ستر ښکاره کيږی. لهذا په داسې انداز سره کيناستل منع دی.

[۴۷۰۸] [۴۷۰۸] په استلقاء سره د ناست جواز

۴۷۰۸ - [۲] ([1]) ① وَعَنْ عَبَّادِ بْنِ تَمِيمٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنْ عَمِّهِ قَالَ: ② «رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي الْمَسْجِدِ مُسْتَلْقِيًا وَاضِعًا إِحْدَى قَدَمَيْهِ عَلَى الْأُخْرَى». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت عباده ابن تميم تابعي رحمه الله خپل تره (حضرت عبد الله ابن زيد انصاري صحابي رضي الله عنه) نه روايت کوي ② هغه اوويل ما يوه ورځ رسول الله ﷺ په مسجد کې داسې سم پروت وليدلو چې دحضور ﷺ يوه پښه په بلې پښې پرته وه. (بخاري ، مسلم)

حل اللغات: - ① مُسْتَلْقِيًا: نيغ څملاستل.

قوله: مُحْتَبِيًا بِيَدَيْهِ:

د احتباء تعريف: چه دَ سړی مقعد په زمکه باندې وی او زنګونونه ئی ولاړوی مخ سره نيزدې وی اودواړه لاسونه يا څه پټئی يا څادر دَ زنګونونونه راتاؤ کړې دی کيناستوته احتباء وائی. په حديث کښې صرف دَ دوؤ لاسونوسره دَ احتباء ذکرکړې شوې دې ليکن دَ احتباء صورت عام دې که هغه په لاسونوسره وی اوکه په کپړې سره وی.

د احتباء دوه صورتونه اودهريو حکم: ① که چرته چاسره پرتوګ او پاجامه وی نو په دې صورت کښې ستر پرده نه ښکاره کيږی او احتباء جائزيا مستحب ده.

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الاستئذان/باب الاستلقاء (رقم-۶۲۸۷) ومسلم فی کتاب الأشربة/باب فی إباحة الاستلقاء ووضع إحدی الرجلين علی الأخری (رقم-۷۵ - (۲۱۰۰) وابوداود فی کتاب الأدب/باب فی الرجل يضع إحدی رجليه علی الأخری (رقم-۴۸۶۶)

④ که چا سره پرتوګ اوپاجامه نه وی بلکه دَ احرام دوه څادرې وی یا لنګ وی او په دې کښې سرې دَ احتباء په شکل کښې کینی نو په دې کښې ستر ښکاره کیږی.لهذا په داسې انداز سره کیناستل منع دی

[۴۷۹] خپه په خپه کیخودو سره د نیغې سملاستو ممانعت

۴۷۹-[۳] (١) ١ وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: ٢ «نَهَى رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَنْ يَرْفَعَ الرَّجُلُ إِحْدَى رِجْلَيْهِ عَلَى الْأُخْرَى ٣ وَهُوَ مُسْتَلْقٍ عَلَى ظَهْرِهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ او حضرت جابر ﷜ وايي ٢ چې رسول الله ﷺ وفرمايل په تاسو کې دې يو سړي داسې نه پريوځي چې يوه پښه درولو سره په هغه دويمه پښه کيږدي ٣ په داسې حال کې چې هغه ستوني ستغ وي .(مسلم)

حل اللغات:- ① مُسْتَلْقٍ عَلَى ظَهْرِهِ: په ملا باندې نيغ څملاستل.

تسهيلات:

قوله: أَنْ يَرْفَعَ الرَّجُلُ إِحْدَى رِجْلَيْهِ عَلَى الْأُخْرَى:

د مذکوره ناستې کيفيت اوحکم: د مذکوره ناستې کيفيت داسې دې چه يوسړې ستونی ستغ سملی يوه خپه اودروی اود هغې په زنګون باندې بله خپه کیږدی په کوم سره چه دَ لاندې پوره علاقه ښکاری.که سړې په احرام کښې وی که په ازاربند کښې وی نوداسې کول منع دی خوکه دغه سړی پرتوګ اچولې وی یا دَ ستر انتظام شوې وی نوبیا داسې سملاستل جائزدی.

دممانعت وجه: حديث کښې په يوخاص طريقه سره دَ سملاستونه منع کړې شوې ده خکه چه په دې کښې ستربښکاره کيږي.

[۴۸۰] داستلقاء څخه ممانعت

۴۸۰-[۴] (٢) ١ وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: "٢ «لَا يَسْتَلْقِيَنَّ أَحَدُكُمْ ثُمَّ يَضَعُ إِحْدَى رِجْلَيْهِ عَلَى الْأُخْرَى»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ د حضرت جابر ﷜ نه روايت دې چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ چې په تاسو کې دې څوك داسې ستوني ستغ نه پريوځي چې يوه پښه ودروي او دويمه پښه باندې کيږدي .مسلم

حل اللغات:- ① لَا يَسْتَلْقِيَنَّ: نيغ دې نه څملی.

---

[1]) اخرجه مسلم فی كتاب الأشربة/باب اشتمال الصماء والاحتباء فی ثوب واحد(رقم-٧٠ - (٢٠٩٩) ومسلم فی كتاب السنة/باب ما يدل على ترك الكلام فی الفتنة (رقم-٤٦٦٥) واحمد فی المسند: ٢٩٩/٣

[2]) اخرجه مسلم فی كتاب الأشربة/باب اشتمال الصماء والاحتباء فی ثوب واحد(رقم-٧٠ - (٢٠٩٩)

تسهيلات:

قوله: لَا يَسْتَلْقِيَنَّ أَحَدُكُمْ ثُمَّ يَضَعُ إِحْدَى رِجْلَيْهِ عَلَى الْأُخْرَى:

اشكال: په دې حديث کښې او په ماقبل د عباد بن تميم حديث نمبر ۴۷۰۸ کښې د مستلقيا اجازت معلوميږي او د حضرت جابر ﷺ د حديث نمبر ۴۷۰۹ او ۴۷۱۰ دواړو حديثونو نه نهي معلوميږي؟

د اشکال دوه جوابونه: ① نبي کريم ﷺ به د ضرورت په بناء کړې وي چه نبي کريم ﷺ ډير ستړې وو نو آرام او راحت دپاره به ئې داسې کړې وي، نو ددې نه دا خبره معلومه شوه چه نبي کريم ﷺ به په وقار تواضع سره د پرلت په حالت کښې کيناستلو.

② د استلقاء دوه صورتونه دي، يو صورت چه په هغې کښې د کشف عورت خطره وي او دويم صورت چه په هغې کښې د کشف عورت خطره نه وي لهذا د حضرت تميم روايت په هغه صورت باندې محمول دې کوم صورت کښې چه کشف عورت نه وي او مذکوره حديث په هغه صورت باندې محمول دې کوم کښې چه د کشف عورت ويره وي لهذا په دواړو رواياتو کښې هيڅ تعارض نشته

[۴۷۱۱] په تکبر سره د تګ کونکی انجام

۴۷۱۱-[۵] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[۲] «بَيْنَمَا رَجُلٌ يَتَبَخْتَرُ فِي بُرْدَيْنِ وَقَدْ أَعْجَبَتْهُ نَفْسُهُ [۳] خُسِفَ بِهِ الْأَرْضُ، فَهُوَ يَتَجَلْجَلُ فِيهَا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] يو سړي دوه کرښيز کپړو کې ملبوس کبر او غرور سره روان وو او هغه هغه کپړي دومره نفيسي او برتر ګڼلي چې د هغه نفس هغه غرور او خود بيني کې مبتلا کړي وو [۳] د هغه انجام دا شوچې زمکي هغه سړي غرق کې نو هغه به دقيامته پورې دغه شان په زمکه کې غرقيدونکي خي.

حل اللغات: - ① يَتَبَخْتَرُ: فخر او غرور سره روان وو. ② بُرْدَيْنِ: دوه څادرونه، ③ خُسِفَ: په زمکه کښې غرق شو، ④ يَتَجَلْجَلُ: کنده په کنده به غرقيدو سره روان وی.

تسهيلات: قوله: بَيْنَمَا رَجُلٌ يَتَبَخْتَرُ فِي بُرْدَيْنِ:

د رجل په مصداق کښې دوه اقوال: ① علامه نووي او نور شارحين وائی چې دا د اسلام نه مخکښې د يودور د يوسړی قصه ده چې په تکبر سره تلو نو الله تعالی په زمکه کښې ورخخ کړلو. ② څه عالمان فرمائی ددې رجل څخه مراد قارون دي.

(۱) اخرجه البخاري في كتاب اللباس /باب من جر ثوبه من الخيلاء (رقم-۵۷۸۹) ومسلم في كتاب الأشربة /باب تحريم التبختر في المشي مع إعجابه بثيابه (رقم-۴۹ - (۲۰۸۸)

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۴۷۳] په تکیه (بالښ) باندې د ډډې لګولو سنتيت

۴۷۳۔[٦] () [١] عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: [٢] «رَأَيْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مُتَّكِئًا عَلَى وِسَادَةٍ عَلَى يَسَارِهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] حضرت جابر ابن سمره ﷺ وايي [٢] چې ما رسول الله ﷺ داسې تکيه لګولې ناست ليدلې دې چې هغه تکيه بالښت د حضور ﷺ چپ طرف ته ايښودل شوې وو (ترمذي)

تسهيلات:

قوله: مُتَّكِئًا عَلَى وِسَادَةٍ عَلَى يَسَارِهِ:

د بالښ (تکيه) د استعمال سنتيت: ددې حديث نه دا معلوميږي چه د تکيه ته ډډه لګول او کيناستل سنت دی او دا هم معلومه شوه چه نبی کريم ﷺ به تکيه خوښوله او څنګه چه نبی کريم ﷺ د خوشبو متعلق اوفرمائيل چه د خوشبو هديه قبلولو نه انکار مه کوئ هم دغه شان ئې د تکيه متعلق اوفرمائيل چه کوم کس تاسو ته تکيه درکوی نو تاسو د هغې د قبلولو نه انکار مه کوئ.

[۴۷۴] د لاسونو راتاوولو سره د کيناستو حکم

۴۷۴۔[۷] () [١] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [٢] «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا جَلَسَ فِي الْمَسْجِدِ احْتَبَى بِيَدَيْهِ». رَوَاهُ رَزِينٌ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوسعيد خدري ﷺ وايي [٢] رسول الله ﷺ چې به په مسجد کې کينا ستو نو دواړه زنګنونه به يې ودرول او په پنډيو باندې دواړه لاسونو سره به يې حلقه ترل (رزين)

حل اللغات: - ① احْتَبَى: راتول کيناستل چه زنګنونه ولاړوی او لاسونه ئې دخپو نه راتاو کړی وی.

تسهيلات:

قوله: إِذَا جَلَسَ فِي الْمَسْجِدِ احْتَبَى بِيَدَيْهِ:

د احتباء باليد کيفيت: د خپو په سر کيناستل دا دی چه دواړه زنګونانه اودرولې شی دواړه لاسونه د خپو نه راتاو کړی حلقه جوړه کړی او د کوناتو په سر کينی. اکثر وختونو کښې د خپو په سر کيناستلو په ځائې د لاسونو کپړه لنګ يا پټکې سره هم کيږی په دې کښې تواضع هم ده او راحت هم دې، حديث شريف کښې راغلی دی چه د خپو په سر کيناستل د

---

[1] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب اللباس/باب فی الفرش (رقم-۴۱۴۳) والترمذی فی السنن رقم الحديث ۲۷۷۰.
[2] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب فی جلوس الرجل (رقم-۴۸۴۶)

عربو دیوالونه دی.

۵ احتباء او قرفصاء په لغوی فرق کښې دوه اقوال: ① بعض وائی چه د دې دواړو په مینځ کښې عموم خصوص مطلق دې ځکه چه قرفصاء د دواړو کوناتو په ذمکه کیخودلو سره کیږی او احتباء عام ده چه په دې کښې کوناتی په زمکه باندې وی او که نه.

② احتباء او قرفصاء دواړه یو ځیز دې،

[۴۷۳] د قرفصاء په صورت کښې د کیناستلو حکم

۴۷۳—[۸] ()[١] وَعَنْ قَيْلَةَ بِنْتِ مَخْرَمَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا- أَنَّهَا «رَأَتْ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي الْمَسْجِدِ وَهُوَ قَاعِدٌ الْقُرْفُصَاءَ. [٢] قَالَتْ: فَلَمَّا رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- الْمُتَخَشِّعَ أُرْعِدْتُ مِنَ الْفَرَقِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] او بي بي قیله بنت مخرمه رضي الله عنها نه روایت دي هغه رسول الله ﷺ په مسجد کې په هیئت قرفصاء ناست ولیدلو [٢] بي بي قیله رضي الله عنها وایي هرکله چې ما رسول الله ﷺ داسې (انتهایي عاجزي انکساري خشوع وخضوع او استغراق او د کسرنفسې په حالت کې) ناست ولیدلو نو زه د هیبت نه په رپیدو شوم. (ابو داؤد)

د راوي مختصر تعارف:

حضرت قیله بنت مخرمه رضي الله عنها: نوم قیله دَ مخرمه لور ده. دَ قبیله بنو تمیم سره ئې تعلق لرلو. دَ هغې نه دَ علیه لونړه صفیه او وجیهه روایت کوی. دا دواړه دَ هغې دَ پلار هم راوایانې دی. دَ دې نه نور روایتونه هم نقل دی. دا هم دَسنن راویه ده په بخاری اومسلم کښې دَدې نه څه روایت نقل نه دي.

حل اللغات: - ① الْقُرْفُصَاءَ: دَ قعدې په شکل کښې لاس تړلی کیناستل، ② الْمُتَخَشِّعَ: خضوع خضوع سره کیناستل، ③ أُرْعِدْتُ: په رپیدو شوم، ④ الْفَرَقِ: د هیبت نه.

تسهیلات:

قوله: الْقُرْفُصَاءَ:

- **د قرفصاء تعریف:** دا په داسې طرز باندې کیناستل دی چه مثلاً یوسړې دَ قعدې په شکل کښې کینی اوزنګونونه په زمکه باندې کیږدی اوخپې شاته کړی بیا ښې لاس په ګس او ګس لاس په ښی ترخ کښې ورکړی اوخپله خیټه په پتونو او زنګونونو باندې راتیته کړی اوسرزمکې ته نیزدې کړی

د قرفصاء کیناستلو په اختیارولو وجه: دا قرفصاء کیناستل دی په دې کښې عاجزی تواضع اوانکساری ده په دې وجه حضورپاك دا استعمالول. [المرقات: ۸/۴۸۴]

[١] اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأدب/باب في جلوس الرجل (رقم-٤٨٤٧)

قوله: الْمُتَخَشِّعَ

دنبی علیه السلام رعب: یعنی خشوع خضوع اوډ انکسارئی داصورت کله چه ما اوکتلو نوزه اوړچیدلم حضوړپاك ته الله تعالی رعب اودبدبه ورکړې وه په دې وجه حضوړپاك چه څومره تواضع اختیارکړه هم هغه هومره دّ حضوړپاك رعب زیات شو په دې وجه دغه ښځه اوویریدله اُرعدت زه اوړچیدلم

د طبرانی روایت: په بذل کښې لیکی چه دا روایت په طبرانی کښې بطوله دې چه د هغې په اخیر کښې دا دی چه قیله ﷞ فرمائی چه کوم سړې ما سره خوا کښې ناست وو هغه زما په باره کښې رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ (ارعدت المسکینة) چه دا مسکینه زنانه خو ریږدی نو په دې باندې رسول الله ﷺ زما طرف ته د کتلو نه بغیر په خپل لاس مبارک سره تسلی راکولو سره اوفرمائیل ((یا مسکینة علیك السکینة...))د رسول الله ﷺ په دې فرمائیلو باندې الله پاك زما نه هغه ویره لرې کړه

[۳۰۷] دّسحردّ مانځه څخه پس دّ څاښت پورې په خپل مجلس کښې ناسته

۴۷۰۳-[۹] ([1]) [۱] وَعَنْ جَابِرِبْنِ سَمُرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: [۲] «كَانَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِذَا صَلَّى الْفَجْرَ تَرَبَّعَ فِي مَجْلِسِهِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ حَسْنَاءَ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر ابن سمره ﷟ وایي [۲] رسول الله ﷺ چې به د سهار مونځ وکړو نو چارزانو به کیناستو او نمر به ښه شان روښانه کیدو پورې به دغه شان ناست وو (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① تَرَبَّعَ: پرلت به کیناستلو . ② حَسْنَاءَ: روښانه.

تسهیلات:

قوله: إِذَا صَلَّى الْفَجْرَ تَرَبَّعَ فِي مَجْلِسِهِ

د پرلتې وهلو مسنونیت: یعنی حضوړپاك به پرلت اووهلو او کیناستویه او دّ نمردّ راختو انتظاربه نی کولو دکوم نه چه دا ثابته شوه چه په مکروه وخت کښې مونځ کول جائزنه دی دلته دا خبره هم ثابته شوه چه دین اسلام ژوندې اوتازه مذهب دې په کوم کښې چه دّحضوړپاك دّ کیناستو کیفیت هم الحمدلله محفوظ دې [المرقات:۸/۲۴۸۵]

جلدنهم ۹

[1]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب فی الرجل یجلس متربعا (رقم-۴۸۵۰) ومسلم فی کتاب المساجد/باب فضل الجلوس فی مصلاه بعد الصبح، وفضل المساجد (رقم-۲۸۷ - (۶۷۰)

[٤٧١٦] د رسول الله ﷺ د شپې وخت کښې د ډیرې اچولو طریقه

۴۷۱۶—[۱۰] (١) [١] وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- : أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- «كَانَ إِذَا عَرَّسَ بِلَيْلٍ اضْطَجَعَ عَلَى شِقِّهِ الْأَيْمَنِ، [٢] وَإِذَا عَرَّسَ قُبَيْلَ الصُّبْحِ نَصَبَ ذِرَاعَهُ وَوَضَعَ رَأْسَهُ عَلَى كَفِّهِ». رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ".

ترجمه: [١] او حضرت ابوقتاده رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ به د سفر په دوران کې آرام کوي او اوده کیدو د پاره په یو ځاي کې د شپې خکته کیدی نو ښي اړخ باندې به پریوتلو [٢] او کله چې به سهار ته نزدې خکته کیدي نو دغه شان به پریوتلو چې خپل یولاس به یې درولو سره د هغه په ورغوي به یې سر مبارك کیخو دي (شرح السنه)

حل اللغات: - ① عَرَّسَ: آرام د پاره پړاؤ اچول (دمه کول)، ② شِقِّهِ: په اړخ، ③ نَصَبَ: اودرولو به ئې، ④ ذِرَاعَهُ: خپل لاس

تسهیلات:

قوله: كَانَ إِذَا عَرَّسَ بِلَيْلٍ اضْطَجَعَ عَلَى شِقِّهِ الْأَيْمَنِ:

په سفر کښې د نبی علیه السلام د اوده کیدو دوه طریقې: ① دَدې حدیث مطلب دادې چه په سفرکښې به حضورپاك دَ شپې په وخت چرته ډیره اچوله اودَ شپې څه حصه به باقی پاتې وه نوحضورپاك به په ښی اړخ باندې اوده کیدلو لکه څنګه چه په حضرکښې دَحضورپاك عادت مبارك وو

② که بعضې نورو روایاتوڅخه معلومیږی که دَشپې اکثرحصه به تیره شوې وه اودَصبح صادق وخت به بالکل نیزدې وو نوحضورپاك به په اړخ نه سملاستو بلکه ښي لاس او مټ به نی اودرولو اودَدې په تلی باندې به نی سرمبارك کیخودو اولږ آرام به نی کولو.

د دویمې طریقې په اختیارولوکښې حکمت: دَدې وجه داوه چه صبح صادق به نیزدې وو نوحضورپاك به دَ ژور خوب دَ اوده کیدونه دَ بچ کیدو کوشش کولو دې دَ پاره چه دَ سحرمونځ فوت نه شی په دې وجه به نی په تلی باندې سر کیخودو اودَ لږ آرام او خوب کولوکوشش به نی کولو.

[۴۷۱۷] قبلې طرف ته د پښو نه غزول

۴۷۱۷—[۱۱] (٢) وَعَنْ بَعْضِ آلِ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَ: «كَانَ فِرَاشُ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- نَحْوًا مِمَّا يُوضَعُ فِي قَبْرِهِ، [٢] وَكَانَ الْمَسْجِدُ عِنْدَ رَأْسِهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

[1] اخرجه مسلم فی کتاب المساجد/باب قضاء الصلاة الفائتة، واستحباب تعجیل قضائها (رقم) ٣١٣ - (٦٨٣) والبغوی فی شرح السنة رقم الحدیث ٣٣٥٩ واحمد فی المسند: ٣٠٩/٥

[2] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب رقم الحدیث ٥٠٤٤

ترجمه: [١] او د بي بي ام سلمه ﷺ دخاندان يوكس وايي د رسول الله ﷺ بستره چې په هغه به حضور ﷺ آرام كوي د هغه كپړي په شان وه كومه چې د حضور ﷺ قبر شريف كې ايخودل شوي وه [٢] او مسجد به د حضور ﷺ سرمبارك ته نزدې وو. (ابوداؤد)

حل اللغات: -① فِرَاشُ : بستره، ② نَحْوًا: په مثل، په شان،

تسهيلات:

قوله : نَحْوًامِمَّا يُوضَعُ فِي قَبْرِهِ

د مذكوره په مفهوم كښې دوه اقوال: ① زيربحث حديث په ظاهر كښې مطلب دا دې چه په حجره شريفه كښې چه په كوم بستره باندې رسول الله ﷺ آرام فرمائيلو د هغې حالت داسې وو لكه څنګه چه انسان په قبر كښې كيخودلې شي او دا خبره ټولو ته معلومه ده چه مړى لره په قبر كښې په ښى طرف باندې د قبلې په طرف باندې سملولې شي. معلومه شوه چه رسول الله ﷺ به د اودهٔ كيدو په وخت هم دا صورت اختيارولو. لهذا د دې حديث نه د قبلې په طرف باندې خوب كول ثابت شو،

② په دې حديث كښې دابيان كول مقصود دى چه حضورپاك به دَ خان لاندې دَخورولودَپاره دومره مختصر كپړه استعمالوله څومره كپړه چه دَحضورپاك په قبرمبارك كښې خوره كړې شوې وه چه بالكل مختصروه.

اشكال: داكپړه په قبركښې ولې خوره كړې شوې وه اوچاخوره كړې وه؟

داشكال جواب: نبى عليه السلام به په مرض وفات كښې لاندې دَخورولودَپاره يوڅادر استعمالولو كوم چه صحابه كرامو ليدلې وو. د حضورپاك غلام شقران دغه څادر پټ اوچت كړو اوپه قبركښې ئې خوركړو چه هسې نه دَ حضورپاك نه پس داڅوك استعمال نه كړى ليكن صحابه كرامو دا اوليدلو اودَقبرنه ئې رااوويستلو.

په حجره مباركه كښې د نبى عليه السلام د اوده كيدوكيفيت: مسجد نبوى د رسول الله ﷺ د حجرې شريفې نه غربى طرف كښې دې لهذا معلومه شوه چه د استراحت په وخت د رسول الله ﷺ سر په غربى طرف كښې او قدمونه مبارک په شرقى طرف كښې كيدل او په ښى طرف باندې د ملاستې ثبوت په احاديث شهيره كښې دې او د دې ملاستې نه پس په ښى طرف كښې د جنوب طرف دې د جنوب په طرف كښې د اهل مدينه قبله ده، او هم دا هيئت د ملاستې د انسان په قبر كښې وى. فاغتنم وتشكر .

....

[۴۷۸] په خیټه اوپرمخې سملاستلو کراهت

۴۷۸-[۱۲] ()[۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: «رَأَى رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - رَجُلًا مُضْطَجِعًا عَلَى بَطْنِهِ[۲] فَقَالَ: "إِنَّ هَذِهِ ضِجْعَةٌ لَا يُحِبُّهَا اللّٰهُ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه:[۱] او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وايي چې يوه ورځ رسول الله ﷺ يوسړي پرمخې (يعني د نس (خيټې) په طرف) پروت وليدلو[۲] نو حضور ﷺ هغه ته وفرمايل داسې پريوتل د خداي جل جلاله په نزد ناخوښه دي (ترمذي)

حل اللغات: - ① مُضْطَجِعًا: ملاست وو، ② ضِجْعَةٌ: خملاستل.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ هَذِهِ ضِجْعَةٌ لَا يُحِبُّهَا اللّٰهُ:

دَ اوده کيدو څلور طريقې دي: ① دَ اهل نارده داخلق په خيټه پرمخې اوده کيږي په دې حديث کښې دغه شان سملاستل منع کړې شوی دی ځکه چه په دوزخ کښې به دوزخيان داسې وی.

② په کس طرف باندې سملاستل دی دا طريقه دَ آرام طلبو دَ پاره ډيره ښه ده په دې کښې زړه ښکته دباؤ شی نو ښه په غفلت سره خوب ورځي.

③ په ښی طرف سملاستل دی. دادَ عبادت کونکو طريقه ده په دې کښې زړه زوړندوی نوخوب نی کچه وی دَ عبادت دَپاره پاسيدل آسان وی.

④ ستونی ستغ سملاستل دادَ اهل اعتبارطريقه ده چه دَ آسمان نظام ته کتلوسره عبرت حاصلوی.

[۴۷۹] د پرمخې سملاستو کراهت

۴۷۹-[۱۳] ()[۱] وَعَنْ يَعِيشَ بْنِ طِخْفَةَ بْنِ قَيْسٍ الْغِفَارِيِّ، عَنْ أَبِيهِ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ الصُّفَّةِ - قَالَ[۲] «بَيْنَمَا أَنَا مُضْطَجِعٌ مِنَ السَّحَرِ عَلَى بَطْنِي[۳] إِذَا رَجُلٌ يُحَرِّكُنِي بِرِجْلِهِ فَقَالَ: إِنَّ هَذِهِ ضِجْعَةٌ يَبْغَضُهَا اللّٰهُ، [۴] فَنَظَرْتُ فَإِذَا هُوَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ» -. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه:[۱] او حضرت يعيش ابن طخفه ابن قيس غفاري خپل پلار (حضرت طخفة رضی الله عنه نه چې اصحاب صُفّه نه وو) نقل کوي[۲] چې هغه (يعني حضرت طخفه رضی الله عنه) بيان وکړو چې يوه ورځ زه د سيني د درد په وجه پرمخې پريوتلی وم[۳] ناڅاپه ما محسوس کړه چې

[1] اخرجه الترمذی فی کتاب الأدب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی کراهیة الاضطجاع علی البطن (رقم-۲۷۶۸) واحمد فی المسند:۲/۳۰٤

[2] اخرجه ابو داود فی السنن کتاب الأدب/باب فی الرجل ینبطح علی بطنه (رقم-۵۰٤۰) وابن ماجه فی کتاب الأدب/باب النهی عن الاضطجاع علی الوجه (رقم-۳۷۲۳) واحمد فی المسند:۳/٤۳۰

یو سړي ما په خپلي پښي سره ښوروي او بیا ما واوریدل چې هغه سړي وایي د پریوتلو دا طریقه خداي ﷻ ته سخته ناخوښه ده [۴] بیاچي مانظر پورته کې نو ګورم چې هغه رسول الله ﷺ دي (ابوداؤد ، ابن ماجه)

د راوي مختصر تعارف:

حضرت یعیش بن طخفة الغفاری ؓ: نوم یعیش دَ پلار نوم طخفة وو دَ قبیله غفار سره نی تعلق وو دَشام اوسیدونکې وو.حافظ ابن حجر ؒ فرمائی دَ ده نه صرف هم دا یو روایت نقل دې اودَ هغه دا روایت په بخاری اومسلم کښې نشته صرف په سنن اربعه ابوداؤد ابن ماجه دا روایت نقل کړې دې.

حل اللغات:- ① مُضْطَجِعٌ: ملاست ووم، ② ضِجْعَةٌ: خملاستل،

تسهیلات:

قوله: إِنَّ هَذِهِ ضِجْعَةٌ يَبْغَضُهَا اللّٰهُ:

دحدیث پس منظر: یعیش بن طخفه فرمائی چه زما پلار یعنی طخفه بن قیس د اصحاب صفه ؓ نه وو (کوم چه به اکثر اوږی وو لکه چه وړاندې هم په دې قصه کښې دی) رسول الله ﷺ اوفرمائیل یعنی مونږ اصحاب صفه ته چه راځئ ماسره د عائشې ؓ د کور طرف ته، مونږ ټول هغوی سره روان شو، رسول الله ﷺ کور ته رسیدو سره عائشې ؓ ته اوفرمائیل په مونږ باندې څه اوخوروه هغې لږه شان دلیا راوړه، مونږ ټولو اوخوړه بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه عائشې! نور څه راباندې اوخوروه نو دې ځل ئې مالیده راوړه، د کهجورو، ستوانو، پنیر او غوړو مجموعه، خو هغه هم لږ شان وه د قطاة مرغئ برابر، کوم چه مونږ اوخوړله، بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه اې عائشه اوس راباندې څه اوڅکوه نو هغې د پیو یو لویه پیاله راوړله کومه چه مونږ ټولو اوڅکله، رسول الله ﷺ اوفرمائیل عائشې! نور هم راباندې اوڅکوه، دې ځل هغې یو وړه پیاله کښې راوړل کوم چه مونږ ټولو اوڅکل، په اخیر کښې رسول الله ﷺ اوفرمائیل که ستاسو زړه غواړی نو اودهٔ شئ او که غواړئ نو مسجد ته لاړ شئ، وړاندې هغوی فرمائی چه زه د شپې په آخر کښې اولته ملاست اوم ناڅاپه زه چا په خپه باندې اوخوزولم په دې وینا چه د ملاستې دا طریقه د الله پاک ناخوښه ده ما چه کله پورته اوکتل نو هغه رسول الله ﷺ وو.

قوله: بَيْنَا أَنَا مُضْطَجِعٌ مِنَ السَّحَرِ عَلَى بَطْنِي:

د سحر دوه معانی: ① سَحَر کوم چه په معنی د اخر اللیل دې هغه په فتحتین سره دې ② سحرکوم چه په معنی د الرئة دې نو هغه دوه طریقو سره ضبط کړې شوې دې سَحَر، سَحْر ....پس په مرقاة کښې دی: من السحر بفتحین وفی نسخة بسکون الثانی، وهو الرئة اهـ

د من السحر په مفهوم کښې دوه اقوال: ① (من السحر) که څخه معنی مراد شی نود حدیث مطلب دا شو چې د شپې په آخری حصه کښې نبی علیه السلام زه اوړقولوم.

② که د سحرڅخه دوه معنی مراد شی نوبیا دحدیث مطلب داشو چې د کولمو د درد د وجې نه، دا گویا هغوی د خپل اولته سملاستو وجه بیان کړه چه چونکه په خېټه کښې ئې درد وو په دې وجه اولته ملاست وو، ملا علی قاری رحمه الله دا معنی بیان کړې اوخوښه کړې ده.

د نبی علیه السلام د منع کولودرې وجوهات: ① نبی کریم ﷺ ته ددوي د عذر علم وو خو بیا ئي هم منع کړلو دا د تقوی په بنیاد وو

② نبی کریم ﷺ دوی ته په ښپو سره اشاره څکه اوکړه چه کیدې شی چه نبی کریم ﷺ ته ددوي د عذر علم نه وو

③ د نبی علیه السلام به منع کولو کښې دا خودل مقصود دی چه د سینی درد علاج دپاره دغه شان سملاستل صحیح نه دی بلکه بله طریقه دې اختیار کړې شی مثلاً التحیات په شکل کښې دې کیناستلې شی او سینه دې د گونډو سره ملاو کړې شی وغیره

[۴۷۲۰] دَ چاردیوارئي یا پردې څخه بغیرپه چت باندې د سملاستو ممانعت

۴۷۲۰—[۱۴] ()[۱] وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ شَيْبَانَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «مَنْ بَاتَ عَلَى ظَهْرِ بَيْتٍ لَيْسَ عَلَيْهِ حِجَابٌ - [۳] وَفِي رِوَايَةٍ: حِجَارٌ - فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ الذِّمَّةُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ. وَفِي "مَعَالِمِ السُّنَنِ" لِلْخَطَّابِي "حِجًى".

ترجمه: [۱] او حضرت علي ابن شیبان رضی الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] کوم سړي چې د شپې داسې چت باندې اوده کیږي چې په هغه پرده نه وي [۳] او په یو روایت کې داسې دي چې د هغه چاپیره (ضرر دفع کونکی والا څه شي نه وي) نو دهغه نه ذمه ولاړه (ابوداؤد) او د خطابي کتاب معالم السنن کې د لفظ حجاب په ځاي د حجي لفظ دي.

حل اللغات: - ① بَاتَ: شپه تیره کړی، ② ظَهْر: چهت، بام. ③ حِجَابٌ: پرده، چاردیواری، ④ حِجَارٌ: کانړي (چه پرده جوړه شي). ⑤ حِجًى: پرده، رکاوټ.

تسهیلات:

قوله: لَيْسَ عَلَيْهِ حِجَابٌ:

د الفاظو اختلاف: ① په حدیث کښې یولفظ حجاب دي چه دَ پردې په معنی کښې دي

---

[1] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب//باب فی النوم علی سطح غیر محجر (رقم-۵۰۴۱) واحمد فی المسند: ۷۹/۵

④ په حدیث کښې یو لفظ حجار دې چه دَ کاڼړی په معنی کښې دې
⑤ په حدیث کښې یو لفظ حجیٰ دې چه دَعقل اورکاوټ په معنی کښې دې.
ه حدیث مطلب: مطلب داچه په کوم چت باندې چاردیواری یا بلنی یا پرده نه وی اوڅوک په دې باندې دَ شپې اوده کیږی نوداسې نه دی کول پکارځکه چه کیدې شی داسرې په خوب کښې ارخ بدلولوسره دَ چت نه پریوځی اولاتدې تکرې تکرې او مرشی. [المرقات: ۸/۴۸۷]

قوله: فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ الذِّمَّةُ:

د برائت ذمه په مفهوم کښې دوه اقوال: ① یعنی کوم سړې چه په یو داسې چهت باندې اودهٔ شی چه د هغې په غاړو باندې پرده نه وی، وړوکې شان دیوال. نو زه د هغه خلقو نه بری الذمه یم، که د هغه چهت نه هغه سړې راپریوځی او مړ شی نو د هغې به څوک ذمه دار وی هغه راغورځیدونکې به خپله مستحق د ملامتې وی. لهذا د یو کور په داسې چهت باندې اودهٔ کیدل نه دی پکار چه ناڅاپی انسان راپاسی او د بې خیالئ نه د پورته نه اوغورځیږی،

② په فتح الودود کښې د دې شرح هم دا لیکلې ده چه د هغه خون بها به د چا نه هم نه شی اخستلې او په لمعات کښې د براءت ذمه معنی دا لیکلې ده چه د الله پاک د طرف نه چه کوم د بندګانو حفاظت وی هغه به د هغه سره نه وی، او د هغه د دې بې احتیاطئ او د خوب دآدابو د خلاف ورزئ په وجه باندې.

[۴۷۲۸] بغیر دیواله چت باندې د سملاستو ممانعت

۴۷۲۸-[۱۵] (۱) ① وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ② «نَهَى رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنْ يَنَامَ الرَّجُلُ عَلَى سَطْحٍ لَيْسَ بِمَحْجُورٍ عَلَيْهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت جابر رضی الله عنه وایې ② چې رسول الله ﷺ کوټه باندې اوده کیدو نه منع فرمایلې ده چې په هغه د پردې دیوال نه وې (ترمذي)

حل اللغات: - ① بِمَحْجُورٍ: د پردې دیوال.

تسهیلات:

نوټ: ددې حدیث مضمون په حدیث نمبر ۴۷۲۰ کښې هم تیرشوې دې تسهیل ئې هلته اوګورئ.

(۱) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الأدب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الفصاحة والبیان (رقم-۲۸۵٤)

[۴۷۳] د حلقې په مینځ کښې د کیناستو حرمت

۴۷۲–(۱۶) (¹) [۱] وَعَنْ حُذَيْفَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «مَلْعُونٌ عَلَى لِسَانِ مُحَمَّدٍ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَنْ قَعَدَ وَسْطَ الْحَلْقَةِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت حذیفه ﷜ وايي [۲] د حضرت محمد ﷺ د ژبي مبارکي په ذریعه هغه سړي ملعون (لعنتي) گرځول شوي دي کوم چې د حلقې په منځ کې کيني. (ترمذي ابوداود)

حل اللغات: -① وَسْطَ الْحَلْقَةِ: د حلقې او مجلس په مینځ کښې.

تسهیلات:

قوله: مَنْ قَعَدَ وَسْطَ الْحَلْقَةِ:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې درې اقوال: ① چه یوسړې بې حیاء او بدتهذیب وی سره د خلقو دمجلس په مینځ کښې راځی او کینی اوتوقې مسخرې کوی د بیزوگانوپه شان حرکتونه کوی اوخلق خنده وی په ده باندې لعنت کړې شوې دې دامطلب ډیر واضح دې.

② چې په یومجلس کښې خلق ناست وی یوسړې د بهر نه راشی په مجلس کښې ځائی نشته دې مگر داسړې دخلقو په ستونو باندې اوختوسره په ټوپونو راشی او د حلقې په مینځ کښې کښی دامنع دی ده له په غاړه چرته کیناستل پکاروو.

③ چې یوه حلقه ده په هغې کښې خلق ناست دی اویول سره مخامخ خبرې کوی. یوسړې راشی او دهغوی په مینځ کښې کینی اودهغوی په مینځ کښې حائل جوړشی په کوم سره چه خلقوته تکلیف رسیږی ځکه چه دهغوی په مینځ کښې پرده راشی نودا ځکه منع دی.

[المرقات، ۴۸۹/۸-۴۸۸]

[۴۷۴] په مجلسونوکښې د فراخه والی فضیلت

۴۷۳–(۱۷) (²) [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[۲] «خَيْرُ الْمَجَالِسِ أَوْسَعُهَا»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوسعید خدري ﷜ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] بهترين مجلس هغه دي چې خلاص او په فراخه ځاي کې ولگول شي. (ابوداؤد)

تسهیلات:

قوله: خَيْرُ الْمَجَالِسِ أَوْسَعُهَا:

د حدیث مطلب: مطلب دادې چه وعظ اونصیحت اود دوستانو حلقه او محفل وی یابل څه

---

¹) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب فی الجلوس وسط الحلقة (رقم-۴۸۲۶) والترمذی فی کتاب الأدب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی کراهیة القعود وسط الحلقة (رقم-۲۷۵۳)

²) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب فی سعة المجلس (رقم-۴۸۲۰) واحمد فی المسند: ۱۸/۳

مباح تقریب وی نودَ دې مجلس اونشت په داسې خائی کښې کيدل پکاردی چه ارت وی چاته تنګی نه وی. دا امرارشادی دې اودَپاره دَ رهنمائی دې اودَمسلمانانوتهذيب دَ ژوندې ساتلو تعليم دې.

[۴۷۴۳] په مجلس کښې د نزدې کيناستو ترغيب

۴۷۴۳–[۱۸] () [۱] وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: «جَاءَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَأَصْحَابُهُ جُلُوسٌ، [۲] فَقَالَ: "مَالِي أَرَاكُمْ عِزِينَ»؟". رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر ابن سمره ﷜ وايي چې يوه ورځ رسول الله ﷺ د کور نه دوتلو سره تشريف راوړو کله چې مسجدِ نبوي کې د حضور ﷺ صحابه ﷡ (اخوا ديخوا) ناست وو [۲] هغوئ په دغه شان ليدو سره حضور ﷺ ورته وفرمايل څه خبره ده چې زه تاسو متفرق او منتشر (يعني تس نس) ناست وينم. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① عِزِينَ: عزين جمع د عزه ده، متفرق، منتشر.

تسهيلات:

قوله: عِزِينَ:

دحديث پس منظر: په ظاهره به دا حضرات د رسول الله ﷺ په انتظار کښې ناست وو لهذا بغير د څه مصلحت او حاجت نه رسول الله ﷺ بيل بيل مجلسونو کښې ناسته خوښه او نه فرمائيله. ټول يو مجلس جوړ کړئ چه معلومه شي چه ټول د يو مقصد دپاره ناست دی، او په ظاهر کښې د اتفاق صورت محسوس شي.

د متفرق کيناستو د ممانعت وجه: دَخلقو ګنړې ته وائی دلته جدا جدا جماعتونه مراددی. حضورپاك امت ته دا تعليم ورکړې دې چه اتحاد اواتفاق، مينه اويووالي تقاضا داده چه کله په يونشست کښې کيناستل وی نو په يوځائی کيننئ دَ جدا جدا کيناستوسره وحشت بې اتفاقئ کښې اضافه کيږی. حالانکه چه دَمسلمانانوصفت په قرآن کښې ﴿كَأَنَّهُمْ بُنْيَانٌ مَّرْصُوصٌ﴾ [سورة صف: ۴] مذکور دې لهذاحضورپاك اوفرمائيل چه ځان ځانله تکړو او ډلوکښې دکيناستو په ځائی يوځائی کيننئ.

() اخرجه مسلم في كتاب الصلاة/باب الأمر بالسكون في الصلاة، والنهي عن الإشارة باليد، ورفعها عند السلام، وإتمام الصفوف الأول والتراص فيها والأمر بالاجتماع (رقم-۱۱۹ - (۴۳۰) وابوداود فی كتاب الأدب/باب فی التحلق (رقم-۴۸۲۳) واحمد فی المسند: ۹۳/۵

[۴۷۲۵] نيم په نمر او نيم په سيورى د كيناستو ممانعت

۴۷۲۵—[۱۹] ()[۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] " «إِذَا كَانَ أَحَدُكُمْ فِي الْفَيْءِ فَقَلَصَ عَنْهُ الظِّلُّ، [۳] فَصَارَ بَعْضُهُ فِي الشَّمْسِ، وَبَعْضُهُ فِي الظِّلِّ، فَلْيَقُمْ» " رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل[۲] هركله چې په تاسو كې يو سړي په سايه (سورې) كې ناست وي ، او بيا دهغه سايه (سورې) ختميږي [۳] په دې طور چې د هغه سايه (سورې) په ځاي د نمر راتلو په وجه د هغه د جسم څه حصه په نمر كې او څه حصه په سايه (سورې) كې وي نو هغه ته پكار دي چې د هغه ځاي نه لاړ شي او په داسې ځاي كې كيني چې په پوره طور سره په سايه (سورې) كې وي يا پوره طور سره په نمر كې ځكه چې كله يوسړي په داسې ځاي كې ناست يا پروت وي چې څه حصه يې په نمر كې وي او څه حصه په سايه (سورې) كې نو د هغه په جسم يووقت كې د دوو متضاد خيزونو اثر انداز كيدو په وجه د هغه مزاج هم د فساد او اختلال ښكار كيږي. (ابو داؤد)

حل اللغات:- ① الْفَيْءِ: سايه ، سورې. ② فَقَلَصَ: ختميږى،

تسهيلات:

قوله: فَصَارَ بَعْضُهُ فِي الشَّمْسِ، وَبَعْضُهُ فِي الظِّلِّ، فَلْيَقُمْ:

نيم په نمر او نيم په سيورى د ناستې ممانعت: چه د ناستې په وخت د انسان څه حصه په نمر وى او څه په سورى كښې، د دې نه منع كولې شى، كه د مخكښې نه نمر ته ناست دې او بيا د نمر په ښكته كيدو او وخت تيريدلو سره د بدن څه حصه په نمر كښې پاتې شوه او څه په سورى كښې، هم دغه شان كه د مخكښې نه په سورى كښې ناست دې او بيا روستو دغه شان اوشى نو د هغه ځائې نه پاسيدو سره ځائې بدلول پكار دى.

[۴۷۲۶] نمر او سيورې ته د ناستې كراهت

۴۷۲۶—()[۱] وَفِي "شَرْحِ السُّنَّةِ" عَنْهُ قَالَ: [۲] " «إِذَا كَانَ أَحَدُكُمْ فِي الْفَيْءِ فَقَلَصَ عَنْهُ فَلْيَقُمْ، فَإِنَّهُ مَجْلِسُ الشَّيْطَانِ» ". هَكَذَا رَوَاهُ مَعْمَرٌ مَوْقُوفًا.

ترجمه:[۱] او په شرح السنه كې د حضرت ابوهريره ﷺ نه روايت دى[۲] چې حضرت ابوهريره ﷺ وفرمايل په تاسو كې چې كوم سړي په سايه (سورې) كې ناست وي او بيا

[۱] اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأدب/باب فى الجلوس بين الظل والشمس (رقم-۴۸۲۱) وابن ماجه فى كتاب الأدب/باب الجلوس بين الظل والشمس (رقم-۳۷۲۲) واحمد فى المسند: ۳۸۳/۲

[۲] اخرجه البغوى فى شرح السنة رقم الحديث ۳۳۳۵

هغه سايه (سورې) ختميرې نو هغه ته پکار دي چې د هغه ځاي نه لاړ شي ځکه چې داسې ځاي چې څه په سايه (سورې) کې وي او څه په نمر کې وی هغه د شيطان د ناستې ځاي دي دغه شان ځرنګه چې شرح السنه کې دي معمر رحمه الله هم دا روايت د حضرت ابوهريره رضی الله عنه نه بطريق موقوف نقل کړي دي.

حل اللغات:- ① الفَيْءُ: سايه، سورې. ② قَلَّصَ: ختميږي.

تسهيلات:

قوله: فَإِنَّهُ مَجْلِسُ الشَّيْطَانِ:

دشيطان مجلس کيدو په مفهوم کښې دوه اقوال: ① شيطان په داسې ځائې کښې کيناستو سره خوشحاليږي په کوم ځائې کښې چه په کيناستو باندې انسان ته تکليف وی اودَهغه صحت خرابيږي ځکه چه نيم بدن ګرميدو سره وينه منډې وهی اونيم بدن به ئې يخ اوکلك وی په دې سره دَبدن په صحت باندې اثر پريوځی اوشيطان هم دغه غواړی او هم په دې سره خوشحاليږی.

② دا حديث په حقيقت محمول دي چې واقعي شيطان داسې ځائې کښې کينی کوم ځائې کښې څخه نمر وی او څخه سيورې وی.

[۴۷۲۷] په لاره کښې د زنانو د تګ حصه

> ۴۷۲۷-[۲۰] () [۱] وَعَنْ أَبِي أُسَيْدٍ الْأَنْصَارِيِّ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- [۲] أَنَّهُ «سَمِعَ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ وَهُوَ خَارِجٌ مِنَ الْمَسْجِدِ، [۳] فَاخْتَلَطَ الرِّجَالُ مَعَ النِّسَاءِ فِي الطَّرِيقِ، [۴] فَقَالَ لِلنِّسَاءِ: "اسْتَأْخِرْنَ فَإِنَّهُ لَيْسَ لَكُنَّ أَنْ تَحْقُقْنَ الطَّرِيقَ، [۵] عَلَيْكُنَّ بِحَافَاتِ الطَّرِيقِ» ". [۶] فَكَانَتِ الْمَرْأَةُ تَلْصَقُ بِالْجِدَارِ حَتَّى إِنَّ ثَوْبَهَا لَيَتَعَلَّقُ بِالْجِدَارِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: [۱] او د حضرت ابو اسيد انصاري رضی الله عنه نه روايت دي [۲] چې هغه يوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه هغه وخت چې حضور صلی الله علیه وسلم د مسجد نه ووتي (خلقوته ديني هدايات او شرعي احکامو مسائل) بيانول اوريدل [۳] بيا په لار کې سړي او ښځې سره يوځاي شول يعنی سړي او ښځې مخلوط کيدو سره په لارکي روان شول په دې ليدو سره [۴] حضور صلی الله علیه وسلم ښځوته وفرمايل چې تاسو سړو پسې وروسته ځئ او هغوئ جدا اوسئ ځکه چې تاسو د پاره دا مناسب نه دي چې تاسو دي د لار په منځ کې ځئ [۵] بلکې ستاسو د پاره ضروري ده چې تاسو د لارې په غاړه ځئ [۶] نو ښځو د حضور صلی الله علیه وسلم په دې حکم داسې عمل وکړو چې هغوئ به په لاره تلې نو ديوالونو سره لګيدلې به تلې تردې چې بعضې وقتونو کې به د هغوی کپړه ديوال سره ونښتلې. (ابوداؤد بيهقي)

() اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب فی مشی النساء مع الرجال فی الطريق (رقم-۵۲۷۲)

حل اللغات: - ① فَاخْتَلَطَ: گډ وډ شول، یوځاې شول، ② اسْتَأْخِرْنَ: تاسو روسته شئ، ③ تَحْقُقْنَ: په منځ منځ کښې تلل، ④ بِحَافَاتِ: په غاړه غاړه کښې تلل، ⑤ تَلْصَقُ: دیوالونو سره لګیدلې به تلې

تسهیلات:

قوله: اسْتَأْخِرْنَ فَإِنَّهُ لَيْسَ لَكُنَّ أَنْ تَحْقُقْنَ الطَّرِيقَ:

زنانوته په لاره د تګ باره کښې دوه هدایات: ① ابواسید انصاری ﷛ فرمائي چه ما د رسول الله ﷺ نه چه کله هغوی د مسجد نه وتل او حال دا چه په لاره کښې سړی د ښځو سره مخلوط شو دا واوریدل زنانو ته خطاب کولو سره چه د سړو نه شاته اوسئ

② دویم هدایت ئې ورته دا اوفرمائیلو چه ستاسو دپاره دا مناسب نه ده چه په طاق الطریق کښې ځئ یعنی د لارې په مینځ کښې، ستاسو دپاره ضروری ده چه د لارو په غاړه باندې ځئ، راوی وائی چه د رسول الله ﷺ د هدایت نه پس ما هره یوه زنانه اولیده چه هغه به دیوال سره جخته تلله تر دې چه جامې به ئې دیوال سره لګیدلې

[۴۷۲۸] د سړودپاره د ښځو په مینځ کښې د تلو حرمت

۴۷۲۸—[۲۱] (¹) [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا: أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] نَهَى أَنْ يَمْشِيَ - يَعْنِي الرَّجُلَ - بَيْنَ الْمَرْأَتَيْنِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: او د حضرت ابن عمر ﷛ نه روایت دې [۲] چې رسول الله ﷺ د دوو ښځو په منځ کې د تلو نه منع فرمایلې ده یعنی سړې ته .(ابوداؤد)

تسهیلات:

قوله: أَنْ يَمْشِيَ - يَعْنِي الرَّجُلَ - بَيْنَ الْمَرْأَتَيْنِ:

ددوو ښځوپه مینځ کښې د تګ حرمت: یعنی دَ دووښځو په مینځ کښې دَ یوسړی تګ منع دې ځکه چه دا بې شرمی هم ده او په فتنه کښې دَ پریوتلوخطره هم ده اودیر لوئی قباحت هم دې چه سړې دَ پردو ښځو په جهرمټ کښې تاویدوسره روان وی او په فتنه کښې اخته کیږی.دغه شان یوې ښځې سره ځان له تګ کول هم منع دی اودیرو ښځوسره تلل هم منع دی په کوم کښې چه ناجائز اختلاط وی.[المرقات،۸/۴۹۱]

¹) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب فی مشی النساء مع الرجال فی الطریق(رقم-۵۲۷۳)

[۴۷۲۹] دمجلس په خالي ځائي کښې کيناستل

۴۷۲۹-[۲۲] (۱) ۱ وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- قَالَ: ۲ «كُنَّا إِذَا أَتَيْنَا النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ۳ جَلَسَ أَحَدُنَا حَيْثُ يَنْتَهِي». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ. ۴ وَذُكِرَ حَدِيثَا عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو فِي "بَابِ الْقِيَامِ". ۵ وَسَنَذْكُرُ حَدِيثَ عَلِيٍّ وَأَبِي هُرَيْرَةَ فِي "بَابِ أَسْمَاءِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَصِفَاتِهِ" إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالَى.

ترجمه: ۱ او حضرت جابر ابن سمره ﷺ وايي ۲ کوم وخت چې به مونږ د حضور ﷺ په مجلس کې حاضر شو ۳ نو په مونږ کې چې به کوم سړي يو ځاي وليدلو او په آخرکي به کوم ځاي خالي وو نو هلته به کينا ستو (ابوداؤد) ۴ او د عبد الله ابن عمرو ﷺ دواړه حديثونه يعنى يو خو لايحل للرجل الخ او دويم چې د دې نه پس دي (ولايجلس بين رجلين الخ) باب القيام کې نقل شوي دي ۵ او د حضرت علي ﷺ او حضرت ابوهريره ﷺ دواړه روايتونه به مونږ انشاء الله باب اسماء النبي ﷺ وصفاته کې نقل کوو چې په هغه کې يوخو (کان رسول الله ﷺ اذا مشى تكفأ) الخ او دوهم (مارأيت شيئًا احسن من رسول الله ﷺ) الخ دى.

تسهيلات:

قوله: جَلَسَ أَحَدُنَا حَيْثُ يَنْتَهِي:

په مجلس کښې د کيناستود محل دوه صورتونه: ① سړي چرته چه مجلس ختميږى هغه له هم هلته کيناستل پکار دى، او د خلقو په ستونو باندې اوختلو سره ورله وړاندې تلل نه دى پکار.

② که د مجلس په وړاندې حصه کښې خالى ځائې وى نو بيا بيله خبره ده، هلته که خلاف مصلحت نه وى نو وړاندې تلل پکار دى.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۴۷۳۰] دکيناستويوه ممنوع طريقه

۴۷۳۰-[۲۳] (۲) ۱ عَنْ عَمْرِو بْنِ الشَّرِيدِ، عَنْ أَبِيهِ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: ۲ «مَرَّ بِي رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَأَنَا جَالِسٌ هٰكَذَا وَقَدْ وَضَعْتُ يَدِي الْيُسْرَى خَلْفَ ظَهْرِي وَاتَّكَأْتُ عَلَى أَلْيَةِ يَدِي. ۳ قَالَ: "

[1] اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأدب/باب فى التحلق (رقم-۴۸۲۵) والترمذى فى السنن كتاب الاستئذان والآداب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۲۷۲۵) واحمد فى المسند: ۹۱/۵

[2] اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأدب/باب فى الجلسة المكروهة (رقم-۴۸۴۸) واحمد فى المسند: ۳۸۸/۴

أَتَقْعُدُ قِعْدَةَ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ؟»". رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] حضرت عمرو ابن شريد تابعي رحمه الله د خپل پلار حضرت شريد ثقفي صحابي رضي الله عنه نه روايت کوي هغه اوويل يوه ورځ رسول الله ﷺ په ما تيريدي هرکله چې زه داسې ناست وم چې ځما چپ لاس ځما د شا وروسته وو [۲] او د بتي ګوتي د بيخ په غوښه مې سهاره اخستي وه [۳] حضور ﷺ (په داسې ليدو سره) راته وفرمايل آيا ته په هغه هيئت ناست يې په کوم هيئت چې هغه خلق کيني چې په هغوئ د خداي غضب نازل شوي دي .(ابوداؤد)

حل اللغات: - ① مَرَّ: تيريدو، ② اَلْكَاثُ: ما تکيه لګولې وه، ③ أَلْيَةِ: د تلى د بيخ غوښه، ④ قِعْدَةَ :کيناستل، ⑤ الْمَغْضُوبِ: په چا چه غضب نازل شوې دې يعنى يهود.

تسهيلات:

قوله: أَتَقْعُدُ قِعْدَةَ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ:

د مغضوب عليهم مصداق: د مغضوب عليه څخه مراد يهوديان دى ځکه چه په هغوى باندې دَالله تعالى غضب نازل شوې دې.اوس که دوې نيك وى اوکه بد دَالله تعالى دَ غضب نه وتلې نه شى.په سورت فاتحه کښې هم ﴿غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ﴾ دَالفاظونه هم يهوديان مراددى.په کوم طرزباندې دکيناستونه چه حضورپاك منع کړې ده

د مذکوره ناستې د ممانعت دوه وجوهات: ① دا متکبرانه انداز دې.اوپخپله داسې کيناستل يوعجيبه دکارتون شکل هم دې.ځکه چه په دې سرې خپل ګس لاس په شاباندې شاته ايږدى اودَ ښى لاس دَ غټې ګوتې بيخ کښې چه کومه راؤچته شوې غوښه ده په هغې باندې اېږ لګولوسره کينى په دې عجيبه شکل سره کيناستونه منع فرمائيلې شوې ده
② په داسې ناسته کښې د يهوديانوسره مشابهت دې اوپه نورو نصوصو کښې راغلى دى چې د يهوديانو د مشابهت مه اختياروى.

[۴۷۳۱] په پرمخې سملاستو باندې وعيد

٤٧٣١-[٢٣] (١) [۱] وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: «مَرَّبِيَ النَّبِيُّ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] وَأَنَا مُضْطَجِعٌ عَلَى بَطْنِي [۳] فَرَكَضَنِي بِرِجْلِهِ [۴] وَقَالَ: "يَاجُنْدُبُ! إِنَّمَا هِيَ ضِجْعَةُ أَهْلِ النَّارِ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوذر رضي الله عنه وايي چې يوه ورځ رسول الله ﷺ په ما تيريدي [۲] هرکله

[۱] اخرجه ابن ماجه فى السنن كتاب الأدب/باب النهى عن الاضطجاع على الوجه (رقم-٣٧٢٤)

چې زه د نس (خيټه) په طرف اړولي پروت وم [٣] حضور ﷺ په داليدو سره خپلې پښې سره زه وخوزولم [٤] او وې فرمايل جندب ﷺ! تاته معلوميدل پکار دي چې داسې پريوتل د دوزخيانو طريقه ده. (ابن ماجه)

حل اللغات:- ① مُضْطَجِعٌ: نيغ څملاستل، ② فَرَكَضَنِي: نو اوني خوزولم، ③ ضِجْعَةٌ: څملاستل، پريوتل.

تسهيلات:

قوله: إِنَّمَا هِيَ ضِجْعَةُ أَهْلِ النَّارِ

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: ① دا چه فساقو اوفجارو اودکافرانو دوزخيانو په دنياکښې هم دغه عادت دې چه هغوی په خيټه باندې پرمخې اوده کيږي.

② چه کافران کله دوزخ کښې اچولې شی هغوی به پرمخې پريوتلي پراته وی نودَدوزخيانو هيئت په دوزخ کښې به هم داسې وی په دې وجه يومسلمان له دا هيئت اختيارول نه دی پکار. دامطلب زيات واضح دې.

الحمد لله نن د جمعې په سحر لس منټه کم يوولس بجې څلور ستمبر ۲۰۲۰ باندې د تسهيلات د دې جلد د نظرثانی څخه فارغ شوم الله تعالی دې په خپل دربار کښې قبول کړی.آمين

(الحمد لله ! نهم جلد ختم شو)